

POHA
Ketabton.com
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ارمغان خوشحال

POHA

سرہ د مقدمے د

میاں سید رسول رسا

پوهه

یونیورسټي بک ایجنسی
خیبر بازار
پیښور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د ټولو حقوقو د ناشر په حق کښ محفوظ دی

POHA

د کتاب نوم ——— ارمغانِ خوشحال

مقدمه ——— سید رسول رسا

د چاپ کال ——— اول ځل: ۱۹۶۷ء

دویم ځل: ۲۰۰۱ء

تعداد ——— یونزر (۱۰۰۰)

خورونکی ——— یونیورسټي بک ایجنسی خیبر بازار پیښور

چاپ ځای ——— ماسټر پریس محله جنګی پیښور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترون

سرا یولن هاوړل او سرا ولف کیږو

ته

چاچه د خوشحال خان خټک منتخب کلام

د انګریزی شعر په جامه کښې ننني دُنیا ته

څرګند کړو ۔

رسا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پیش لفظ

د نوښار د ادبی جرګے د انتظام د لاندے په ۱۹۳۸ء کښے د خوشحال خان بابا په مزار، په اول ځل یوه جلسه، او مشاعره شوے وه. په دے غونډه کښے ما د خوشحال خان په شخصیت، د هغهٔ په فلسفهٔ حیات، او د هغهٔ په شاعرئ یوه لنډه شان مقاله لوستے وه- د دے مقالے ځنے اقتباسات په دے اوسنی مضمون کښے ځائے په ځائے ورکړے شوی دی-

دا هغه زمانه وه چه د فیرنګیانو شهنشاهیت ښهٔ په زور کښے ؤو. او د فیرنګیانو د شهنشاهیت د سوری د لاندے هندوانو د متحده هندوستان په اساس د مهاتما ګاندهی د قیادت د لاندے، نهٔ یوازے د هندو شهنشاهیت دپاره مزکه تیاره وله، بلکه د عدم تشدد، د فلسفهٔ حیات په نوم هغوئ لکه د یونان د "کوسلندانِ قدیم" په شان د مسلمان قوم د خوئ بوئ بدلولو کوشش هم کولو. او شیرانوته ئے دا تعلیم ورکولو چه د ګډے شروند د شیر د ژوند نه غوره او افضل دے حالانکه روستو واقعاتو دا ثابته کړه چه د عدم تشدد د فلسفے لوئے قائد مهاتما ګاندهی خپله فلسفه، د هندو قوم د حیات دپاره ضروری او مفیده نهٔ ګنړله، او هندو قوم ئے د دے فلسفے په عملی کولو مجبورول نهٔ غوښتل- دا صرف د فیرنګیانو د شهنشاهیت د لرے کولو، او د هندو شهنشاهیت د قائمولو دپاره د هغهٔ سیاسی اوکلتوری شاطرانه چال ؤو- د آزادئ نه پس چه د هندو قوم اولنئ جګړه د مسلمان قوم سره په کشمیر راغله نو د عدم تشدد، د فلسفهٔ حیات نوی قائد مهاتما ګاندهی خپله فتوی ورکړه چه په کشمیر کښے هندوانو ته د مسلمانانو خلاف زور استعمالول ضروری دی-

زمونږ په ادبی مشاهیرو کښے، د هغه وخته سړه خوشحال خان صرف یوه د ے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هسے تیرہ شوے وہ چہ دَ هغهٔ افکار او شاعری مونږ دَ انګریز قوم دَ شهنشاهیت او دَ هندو قوم دَ سیاسی او کلتوری چالبازو خلاف په کامیابۍ سره استعمالولے شول. چنانچه ما په خپله مقاله کښے دَ خوشحال خان مردانه او اسلامی فلسفهٔ حیات، دَ مهاتما دَ عدم تشدد دَ زنانه فلسفهٔ حیات په ضد کښے دَ "پښتو او پښتون" دَ عنوان دَ لاندِ په اختصار سره بیان کړه. او دَ انګریزی شهنشاهیت او دَ راتلونکی هند و شهنشاهیت دَ مخالفت په خیال، دَ هغهٔ په سیاسی افکارو هم یوه لنډه شان تبصره اوکړه. او ورسره ورسره م دَ هغهٔ دَ شاعرۍ په عظمت، جامعیّت او تنوع هم بحث اوکړو.

دا زما په خوشحال خان په نثر کښے اولنے مضمون وُو. او دا هغه وخت لیکلے شوے اوچاپ شوے وُو، چه دَ فیرنګیانو شهنشاهیت ښهٔ په زور کښے وُو. او دَ برصغیر دَ آزادۍ جنګ روان وُو. دَ آزادۍ جنګ په آخر کښے په کامیابۍ سره ختم شو. خو دَ مهاتما کاندهی دَ متحدهٔ هندوستان او متحده قومیت، سیاسی او کلتوری شاطرانه چال ناکامیابه شو. دَ هغهٔ په مقابله کښے یو بل مردِ مجاهد راپاخید وچه دَ قائد اعظم محمد علی جناح په نامهٔ مشهور دے. او دَ پاکستان دَ اسلامی جمهوریت معمار او بلار دے. هغه دَ کاندهی سیاست او فلسفه، دَ هندوستان دَ مسلمان ملت دپاره سم قاتل او ګنډل او په آخر کښے ئے دَ زبردست انګریزی شهنشاهیت واکدارانو او دَ چلباز هندو سیاست لیډران په دے مجبوره کړل چه آزاد هند په دوه برخو کښے اوویشی. یوه برخه دَ هندو، هندوستان شوه او بله برخه دَ هندوستان دَ مسلمان ملت خانته یو آزاد او خود مختاره پاکستان شو.

حقیقت کښے دَ پاکستان اسلامی ریاست، دَ هغ زبردست تاریخی کشمکش ماحاصل دے چه په برصغیر کښے دَ هندومت او دَ اسلام ترمینځه څهٔ کم وزیات زر کاله روان وُو. او په آخر کښے دَ هند دَ مسلمان ملت په فتح تمام شو، یعنی پاکستان جوړ شو. چه دَ هند دَ مسلمانانو یو مشترکه آزاد، جمهوری اسلامی مملکت دے. او دَ برصغیر دَ هر اصل اونسل دَ مسلمانانو ورکښے مساوی حیثیت او مساوی برخه ده. څوک ورکښے بادشاه او رعیت نشته. په دے کښے بنګالے، سندهے، پنجابے، بلوچ، پښتون او مهاجر په یوشان مساوی حقوق او مساوی حیثیت لری. او دَ مسلمانانو دَ ورورولۍ او اخوت یوه ژوندۍ نمونه او ژوندے مثال دے.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پاکستان د جوړید ونه پس څنې پښتو لیکونکو په خوشحال خان محققانه او جامع کتابونه لیکلی دی چه په دوئ کښے د دوست محمد خان کامل، خوشحال خان خټک او د میر عبدالصمد خان، خوشحال او اقبال کافی شهرت حاصل کړے دے. خو څنے داسے پښتانه لیکوال هم شته، چه هغوئ د انګریزی شهنشاهیت په زمانه کښے د خوشحال خان نوم قدرے هم په خوله نه اخستو. خواوس د خپلو خود غرضانه او غلط سیاسی اغراضو د پاره خوشحال خان په رنګ رنګ ستائی. او نه یوازے د هغهٔ اشعار او افکار د پاکستان د آزاد اسلامی جمهوری ریاست په خلاف استعمالوی - بلکه د هغهٔ اسلامی تعلیمات او شاعری خلقونه په غلطه طریقه وړاندے کوی. او هغه محض په طور د یو نسلی علمبردار او امام پیش کوی. او د څهٔ مخصوص حالاتو په بناچه هغهٔ د مغلو د نسلی شهنشاهیت خلاف کومه مجاهده کړے ده. هغه تاریخی کشمکش، هغوئ اوس عمدًا د خوشحال خان په نوم، د پاکستان د جمهوری اسلامی سلطنت خلاف د نسلی پروپیګنډے په سلسله کښے استعمالوی - او دغه شان د پښتنو د ګمراه کولو کوشش کوی - او پښتانه د خپل وطن او مملکت یعنی پاکستان خلاف د خپلو ذاتی او خود غرضانه سیاسی اغراضو د پاره او د روڼ او جنګول غواړی -

په دے وجه ما ضروری او ګټړله چه د خوشحال خان په شاعرئ بیا څهٔ اولیکم او د خوشحال خان د مغلو سره کشمکش او د هغهٔ تاریخی او ادبی شخصیت او د هغهٔ تعلیمات، افکار، شاعری او فلسفهٔ حیات په صحیح طریقه لوستونکو ته وړاندے کړم -

زهٔ د خپل دوست میاں فضل مولیٰ صاحب، مالک د یونیورسټی بک ایجنسی شکریه ادا کوم چه هغوئ د "ارمغان خوشحال" د مقدمے، ترتیب او شرحے دپاره ما ته اووئیل - او ما ته ئے دا موقع راکړه چه د خوشحال خان شخصیت او شاعری یو ځل بیا شانقینو ته پیش کړم -

سید رسول رسا
۳/ ریس کورس کارنر
پشاور کینټ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَخوشحال خان شخصیت او شاعری

دَخوشحال علاقه، دَخوشحال زمانه او دَهغے زمانے

تاریخی پس منظر

دَخوشحال خان خټک دَاوسید وخاُنے یوه داسے علاقه ده چه دَوسطِ ایشیا اودَ وسطِ ایشیا دَخواؤ شا علاقونه چه دَهندو پاکستان په نیم قاره دَ زمانهٔ قدیم نه کوم حمله کونکی راتلل نو هم په دغه علاقه به تیریدل او هم دغه ځے لار وه - دَخیبر نه تر اټکه پورے چه کومه علاقه پرته ده دا دَ هند و پاکستان دَ براعظمګی دروازه ده. او په دے وجه دے علاقے، اودَ دے علاقے خلقو، دَهندوستان څخه چه دَ ایشیا په تاریخ جوړولو کښے اهم کارکړے دے. دَ وسطِ ایشیا نه آریَه په دے لار هندوستان ته راغلی دی - دَ وسطِ ایشیا اودَ وسطِ ایشیا دَخواؤ شا دَ علاقے نور قومونه لکه کوشانیان، تورانیان، ایرانیان، هُن اومنګول وغیره هم په دے لار تیر شوی دی - دَ دُنیا لوئے لوئے فاتحان لکه سکندر، محمودِ غزنوی، شهاب الدین غوری، چنګیز خان، تیمور لنګ، بابر، نادرشاه افشار او احمدشاه ابدالی وغیره هم په دے لار هند ته تلی دی -

دَدے وجه داوه چه دَ هندوستان دُپاره دَ هماليه غر په شمال او شمال مشرق کښے دَ یو قدرتی فصیل کار ورکولو - او په هماليه راتیریدل دَ پخوانو حمله کونکو دپاره تقریبًا ناممکن وُو. صرف دَ هندوستان په شمال مغرب کښے خو داسے قدرتی درے وے چه په دغه درو هندوستان ته راتلل آسان وُو - او حمله کوونکو به هم دغه درے استعمالولے - اودَ سندھ، پنجاب اوګنګا زرخیزے میدانی علاقے به ځے په خپل تسلط کښے راوستے او حکومت به ځے پرے کولو - هندوستان دَ سرو زرو مرغئ وه - اوهرچا به غوښتل چه دا مرغئ په خپله قبضه کښے راولی. اودَ هندوستان دَ زرخیز وطن دَ زرعی او معدنی خزانو مالک شی -

دَ مغلو دَ زمانے نه وړاندے په هندوستان، په سوونو کاله دَ پښتنو حکومت تیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شوے وُو۔ او دا حکومت صرف د پښتنو یوے لوئے قبیلے او دھغے قبیلے مختلف شاخونو کړے دے۔ غوریان، خلجیان او لودیان ټول غلجیان وُو۔ بلکه په بابر پسے چه څهٔ لږه موده سوریا څو کوم حکومت کړے دے، داهم غلجیان وُو۔ په هند څهٔ چه په ایران هم چه د پښتنو څهٔ لږه موده حکومت پاتے شوے دے نو هغه هم هوتکو کړے دے چه د غلجیانو یو شاخ دے۔ د دے علاوه د غزنویانو د پاړه هم په هر میدان کښے توره غلجیانو کړے ده۔

خوشحال خان خټک د دهلی د بادشاهانو یوه ورکوټے تاریخچه په یوه قصیده کښے داسے ورکړے ده۔ د دے قصیدے اولنے شعر دا دے:-

د دهلی د شهر بنهٔ شان وشوکت وُو
لور په لور ئے کښلے کښلے عمارت وُو

په دے قصیده کښے خوشحال وائی چه بابر هم د پښتنو په برکت د دهلی تخت اونیوُو۔ یو طرف ته خو د بابر په فوځ کښے د پښتانهٔ شامل وُو او بل طرف ته بابر د پښتنو د تربورولیٔ اوجګړو نه فائده واخسته۔ دولت خان لودی ئے د ځان سره کړو او د هغهٔ په امداد ئے ابراهیم لودی ته د پانی پت په میدان کښے شکست ورکړو۔ دا جنګ په تاریخ کښے د پانی پت د اول جنګ په نامهٔ یادیږی چه په کال ۱۵۲۷ء کښے شوے دے۔ ابراهیم لودی خپله هم په دے جنګ کښے قتل شو۔ او د غه شان بابر په هند د پښتنو حکومت خاتمه اوکړه۔ او د مغلو حکومت ئے قائم کړو۔

مغل د وسطِ ایشیا خلق وُو۔ او د مغلو حکومت د پاړه دا لازمی وه چه د خپل وطن سره قومی رابطه اوساتی۔ ځکه چه دوئ ته د وطن د اعتباری لښکرو او فوځیانو هر وخت ضرورت وُو۔ او دوئ ته دا کومک او دا امداد هله رسیدے شو چه د هندوستان او خراسان ترمینځه بادشاهی لار ئے خلاصه ساتلے اوپه دے لار ئے مکمل تسلط وے۔ دا لار د زمانهٔ قدیم نه د اټک په خواؤ شا کښے تیریدله۔ د لنډی او د اباسین د مقام اتصال نه لږ په بره په ژمی کښے په اباسین تیریدل آسان دی۔ په دے وجه د شمال مغرب نه چه د هندوستان د فتح کولو د پاره به فاتحان راتلل نو هغوئ به په ژمی کښے اټک ته ځان رسولو۔ او د اټک په خواوشا کښے به د اباسین نه پورے وتل او د هندوستان په لوړی به تلل۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مغل شهنشاه اکبر چه په اول ځل اټک ته راغے او دا اټک په اهمیت پوهه شو نو دلته ئے ډیوے مضبوطے قلا د جوړ ولو حکم ورکړو چه تراوسه پورے محکمه ولاړه ده - او د اکبر بادشاه د قلا په نوم یاد یږی -

د اټک د خواؤ شا علاقه هغه اهمه علاقه ده چرته چه خوشحال خان خټک اوسید و - او خوشحال خان خټک چه په کومه زمانه کښے اوسید و، د هغے زمانے یو مختصر تاریخی پس منظر په لنډو کښے ما د تمهید په طور ځکه بیان کړو چه لوستونکو ته د مغلو او د پښتنو د تاریخی کشمکش متعلق څهٔ لږ ډیر معلومات د اول نه حاصل شی - او د دے معلوماتو په رڼا کښے د خوشحال خان خټک د تاریخی کردار او شخصیت صحیح جائزه واخلی -

د خوشحال خان خټک خاندان

د کوهاټ ضلع د خټکو کور دے - یعنی د خټکو لویه حصه په کوهاټ پرته ده - په کوهاټ کښے د خټکو دوه لوئے شاخونه دی - یو بولاق او بل تری - د خوشحال خټک د غور نیکهٔ نوم اکوړے ؤو - دے تری خټک ؤو - د ملک اکوړی په زمانه کښے هم د خټکو لویه حصه په کوهاټ پرته وه - خو ملک اکوړے خپله د کوهاټ نه راغلو او د اټک په خواؤشا کښے په کوهاټ پرته وه - د هغے بادشاهی لاړ په غاړه آباد شو، کومه چه د اټک نه په نوښار پیښور ته تلے ده - او اوس په جرنیلی سړک یاد یږی - دا سے معلومیږی چه په هغه زمانه کښے هم د نوښار او اټک ترمینځه خټک آباد ؤو - او د دے خټکو اوهغه خټکو کوم چه د ملک اکوړی سره د کوهاټ نه راغلی ؤو، اکوړے مشر شو - ملک اکوړی د سرائے په نوم د مغلو د بادشاهی سړک په غاړه یوکلے آباد کړو، چه ترننه پورے آباد دے - او د سرائے اکوړی په نوم مشهور دے - خوشحال خان په بندی خانه کښے د خپل غور نیکهٔ د کلی، یعنی د سرائے اکوړی تعریف داسے کوی :-

رحمت په اکوړی چه ئے اونیوڅائے د سرائے
چه بنهٔ فهم ئے وکړے باور وکړه ځائے دے ځائے
الخ . . . . . .

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اکبر بادشاه چه په دویم حمل د روه د کوهستانی علاقے په لوری راغلو نو دهغهٔ جرنیل مال سنګهه او نورو معتمدینو ورسره د ملک اکوړی پیژندګلوی اوکړه۔ ملک اکوړے د کوهاټ د ټیری نه راغلے وُو۔ مان سنګهه بادشاه ته اووئیل چه دا ملک په دے علاقه کښے یو بارسوخه سړے دے۔ اوکړ بادشاه سلامت دهٔ ته دا ټک او پیښور ترمینځه د بادشاهی سړک حفاظت حواله کړی نو دا کار به دے په ښه طریقه سرته اورسوی په دے ډاډمانه کښے یوسفزو به دا ټک په بادشاهی لاره چپاوونه وهل او قافلے به ځے لوټلے۔ او په سړک امن نه وُو۔ بادشاه ته اووئیلے شول چه چونکه د ملک اکوړی او د هغهٔ د قبیلے د یوسفزو سره عداوت دے په دے وجه د خپل ذاتی او قبائیلی اغراضو سرته د رسولو دپاره به هم ملک اکوړے په اخلاص سره د سړک حفاظت کوی۔ بادشاه او منله او ملک اکوړی ته ځے د نوښار او ټک ترمینځه علاقه په طور د جاګیر ورکړه۔ د دے نه علاوه ملک اکوړی ته په بادشاهی لاره د محصول ټولولو حق هم ورکړے شو۔ په تاریخ کښے د ملک اکوړی د شهرت سره په اول حمل د ختک قبیلے نوم هم یاد شو۔ کنی تراوسه پورے دا قبیله دومره په ګمنامئ کښے پرته وه چه بابر په بابرنامه کښے د پښتنو د ټولولو یو قبیلو ذکر کړے دے خو ختک ئے ورکښے نهٔ دی یاد کړی۔

د ملک اکوړی د څوئے نوم یحیٰی خان وُو او د یحیٰی خان څوئے شهباز خان وُو۔ او خوشحال خان د شهباز خان څوئے وُو۔ خوشحال خان خپل پلار او نیکونه په یوه قصیده کښے داسے ستائیلی دی:۔

پلار م شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وُو ۔۔۔ زړهٔ ئے د زمری په توره تیروُو تر رستمه
تهنګ ولاړ په شرعه تلے کار وُو په ریښتیا کښے ۔۔۔ خط سواد ئے نهٔ وُو نوردانا وُو له فهمه
څوبه نیکهٔ ستایم یحیٰی خان جنت ځائے شه ۔۔۔ روغ لکه یوسف وُو درست تر سره تر قدمه
بل سړے کهٔ سوروُے دے پیاده سره به سم وُو ۔۔۔ قد قامت ئے هومره د مړانے چار پرے تمه

بل نیکهٔ څم ملک اکوړ چه په ختک کښے
دهٔ راوړه دا بخره د لویئ مقدمه

د یوسفزو او ختکو ترمینځه د قبائیلی جنګونو بنیاد

داسے معلومیږی چه د ملک اکوړی نه ورانړ د ختکو څوک سرنهٔ وُو۔ ملک اکوړی چه سرائے آباد کړو۔ او په دے علاقه کښے میشته شونو د ختکو یو تورزن او مدبر مشر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پیدا شو۔ دَ ختکو خپله علاقه اوچوبه اوغړئیزه ده۔ دوئ ته ضرورت وُو، او دَ دوئ خواهش دُوچه دَ سیند نه پورے دَ مندړو او یوسفزو نه څۀ مزکه رالاندِ کړی. اوهلته آباد شی. دَدے دپاره دَ یوسفزو او دَ ختکو ترمینځه به همیشه خونړی قبائیلی جنګونه کیدل۔

ملک اکبر ته چه بادشاهی حمایت حاصل شو نو داجنګونه نورهم تیز شول۔ یوخوا مغلو داغو ښتل چه پښتانه سره خپلو کښے په جنګ کړی نو دوئ به ورنه خلاص شی۔ دَدے غرض دپاره دوئ دَ خپلو زړو دښمنانو یعنی یوسفزو خلاف ختک استعمالول شروع کړل اوبل خوا ختکو بادشاهی حمایت دَ یوسفزو سره په قبائیلی جنګونو کښے غنیمت اوګڼلو او دغه شان دَ یوسفزو او دَ ختکو ترمینځه سخته پریوته۔

دَ بابر دَ زمانے راسے، بلکه دَ هغۀ نه وړاندِ هم په پښتنو کښے دَ مغلو قدیمی دښمنان یوسفزی وُو۔ او په ټولو پښتنو کښے دَ یوسفزو قبیله ډیره سرتیزه، آزادی پسند او بهادره مشهوره وه۔ په هند کښے دَ مغلو دَ حکومت بانی مبانی ظهیرالدین بابر په یوسفزو خپلے تنږئ شلولے وے خو دَ دوئ په مطیع کولو کښے نه وُو کامیاب شوے۔ او اوس دَ هغۀ دَ نمسی مغل اعظم شهنشاه جلال الدین اکبر چه دَ هند په تخت ۱۵۵۶ء نه تر ۱۶۰۵ء پورے حکومت کړے دے دَ اقتدار زمانه وه۔ او هغه دا اراده کړے وه چه کوم کار دَ هغۀ پلار نیکۀ نه، نه وُو شوے، هغه سرته اورسئ۔ یعنی یوسفزی خپل رعیت کړی۔ او دَ یوسف زو آزادی سلب کړی۔ اکبر په اول څل اتک ته خپل ناسکه ورور مرزا حکیم چه دَ کابل ګورنر وُو۔ او دَ اکبر نه باغی شوے وُو، په تعاقب کښے په ۱۵۸۱ء کښے راغلے وُو۔

دا دَ جون میاشت وه۔ او دَ جون جولائی په میاشت کښے یوخواته کۀ دَ اتک شا وُخواته علاقه ګرم تنور شی نو بل خواته اباسین هم ښۀ اوخیژی او پورے وتل پرے ګران شی۔ دَ اکبر فوځونه پنځوس ورځے په اتک معطل شول۔ اکبر دَ اتک په اهمیت پوه شو او بیربل ته ئے اوویل چه دلته یوه مضبوطه قلا تعمیر کړه۔

اکبر په اول څل په دے سفر کښے خیبر هم اولیدو او په خیبر کښے په اول څل ارت، خوشحال سړک ئے هم جوړ کړو۔

دَ اکبر جرنیل مان سنګهه دَ مرزا حکیم او دَ هغۀ دَ تړۀ فریدون فوځونو ته دَ کابل سره نزدے دوه ځله شکست ورکړو۔ او اکبر په ۹ اګست کال ۱۵۸۱ء کښے دَ خپل نیکۀ بابر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړهٔ ور تیری ښار کښے داخل شو - خوخهٔ لږه موده پس خپله د کابل نه راستون شو. او د کابل تخت نے خپلے خور بخت النساء ته حواله کړوا وهغے بیا خپل ورمرزا حکیم ته دوباره اوسپارلو -

په پیښور کښے د روشنیانو تحریک او مغل

د کابل نه په واپسئ کښے اکبر ته په اټک یوه کچه خوله پے مخ خلے پیش کړے شو. د دے خلمی عمر په دے وخت کښے صرف څوارلس کاله وُو. اکبر ته اووئیلے شول چه د خلے د مغلو د تاج او تخت خطرناک دښمن دے - او په بادشاهی علاقه کښے امن خرابوی. خو اکبر د خلے معاف کړو. اود بند نه ے آزاد کړو.

داخلے د روشنیه تحریک د بانی میانی بایزید انصاری پنځم خوئے جلال الدین وُوچه پښتنو کښے په جلاله مشهور دے. بایزید انصاری څوک وُو؟ دهٔ په پښتنو کښے کوم مذهبی تحریک چلولے دے؟ او دهٔ د مغلو خلاف د آزادئ کوم جنګونه کړی دی؟

د دے سوالونو د جواب دپاره د روشنیه تحریک یو مختصر بیان به دلته ے خایه کړے وی. بایزید انصاری د مشرقی پنجاب په جالندهر نوم ښار کښے په سنه ۱۵۲۵ء کښے پیدا شوے وُو. د دهٔ مور پلار د کانی گروم ووچه د محسود و په علاقه کښے یولوئے اومشهور کهے دے. د بایزید د پلار نوم عبدالله وُو. د بایزید د پیدائش نه ورسته د دهٔ مور پلار کانی گروم ته واپس راغلل. او بایزید خپله کانی گروم کښے لوئے شو. کانی گروم کښے تراوسه زیاته آبادی د اور مړوده. او تراوسه د کانی گروم، اورمړ اور مړی ژبه وائی.

د بایزید پلار به خانته انصاری نهٔ وے خو بایزید د خپل خاندان د وینے سړے وُوچه خان نے په انصاری مشهور کړو. شاید دا په دے وجه چه خلقو کښے خپل عزت او وقار نرینات کړی چه کنی د دوئ خاندان د عربو نه راغلے دے. او دوئ د مدینے د مشهور انصارو اولاد دے. له دے قسمه واقعات په مسلمانانو کښے عام دی. د هرے علاقے مسلمانان کوشش کوی چه په خهٔ چل د عربو سره خپله رشته اوجنګوی. خکه چه عالم اسلام کښے د عربو د مشهورو خاندانونو او قبیلو ډیر قدر دے. چونکه هر سړے به خپل ماحول او معاشره کښے عزت او قدر غواړی نو ډیر هوښیار خلق زر خان په سید شو قریشیانو، فاروقیانو، صدیقیانو او میان کانو وغیره مشهور کړی. او خپله شجره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بدله کړی - په افغانستان کښے د نورستانیانو پورهٔ قبیله، چه اول په کافرو مشهوره وه اوس ځان ته قریش وائی.

خیر دا جمله معترضه وه خو معلومیږی داچه بایزید انصاری کهٔ پښتون نهٔ وُو نو شاید چه اورمړ خو ضرور وُو - او په اورمړو کښے د بنهٔ خاندان نه وُو - او انصاری خطاب ئے ځان ته ځکه غوره کړو چه په خلقو کښے ئے لږ قدر او عزت زیات شی لکه پښتون چه لږ مور شی نو بیا ځان د مغلو په خطاب "خان" مشهور کړی - ځکه چه خان د پښتون په مقابله کښے د عزت تکے دے - د بایزید روشنیه تحریک د هغهٔ خپل پلار عبدالله هم خوښ نهٔ کړو - او د پلار او د خوئے خپلو کښے سخت جنګ اوشو - چه په دے جنګ کښے بایزید سخت زخمی شو - او خهٔ موده پس ئے خپل وطن پریښود و - او لښکرهار کښے ئے د مهمندو سرهٔ پناه واخسته - روشنیه تحریک د مهمندونه سره د خلیلو او د هشتنګر په محمد زو کښے خور شو -

په ابتدا کښے روشنیه تحریک په یوسفزو کښے هم زور نیولے وُو خو دلته د پیر بابا مرید انو د بایزید سخت مخالفت شروع کړو - د بایزید په مقابله کښے اخون درویزه بابا اودریدو - بایزید ئے د پیر روشن په خُاے په پیرتاریک مشهور کړو - او په یوسفزو کښے ئے تقریبًا د بایزید تحریک ختم کړو - بایزید اوس د تیراه مخه اوکړه - تیراه کښے بایزید پیرزر او نیولو - آفریدی، بنګش، اورکزی، خلیل او مهمند د بایزید د جنډے لاندے جمع شول - او دے مذهبی تحریک اوس سیاسی شکل اختیار کړو - بایزید د پښتنو په علاقه کښے د مغلو د شهنشاهیت ختمولو دپاره آواز اوچت کړو - او د پښتنو څو قبیلے د بایزید هم خیال شولے - اکبر خپله هم په هندوستان کښے د یونوی مذهب علمبردار وُو چه دا مذهب د مسلمانانو په نزد د الحاد دویم نوم وُو - خو اکبر به ورته دین الٰهی وے - او بایزید چه په خپلو عقائدو کښے یوه نوے لار ایستے وه - او د دهٔ دا نوے مذهبی تحریک هم عام مسلمانانو بنهٔ ګڼلو، د اکبر په مقابله کښے اودریدو - او د مغلو مقابلے ته تیار شو - د کابل د ګورنر د مرزا حکیم تره فریدون بایزید ګرفتار کړو او په هغهٔ ئے د مرتد الزام اولګولو - خو بایزید د خپلے نوے عقیدے نه انکاری شو او د زړے مسلمانئ اقرار ئے اوکړو - فریدون هغه پریښود - شاید چه په دے وجه چه قبائیلو کښے بغاوت اونشی - خو بایزید چه تیراه ته واپس شو نو په مغلوئے اعلانیه چپاوونه شروع کړل او په کامیابئ سره - خو آخر په

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ننګرهار کښے د اوسنی جلال آباد سره نزدے د مغل سره یو خونړی جنګ کښے قتل شو۔ په دے جنګ کښے د مغلو جرنیل محسن خان وُو۔ او په دے جنګ کښے د روشنیه قبائلو ډیر نقصان شوے وُو۔ خو دا په حقیقت کښے د شیرشاه سُوري د بابري مغلو خلاف د پښتنو په خپل وطن کښے اولنے جنګ وُو۔ بایزید او د بایزید د جانشینو تر دوو پیړیو پورے د پښتنو په علاقه غرق اثر پاتے شوے دے۔ بایزید او د هغه جانشین۔ د پښتنو د یوځو قبیلو منلی شوی مشران پاتے شوی دی۔ او دوئ د امنی په پیړه مړه شوی او حکمت عملی سره کړے ده۔ بایزید او د بایزید خاندان همیشه د مغلو مخالفت کړے دے او په پښتنو کښے ئے د مغلو د شهنشاهیت خلاف د آزادئ روح برقرار ساتلے دے۔

د بایزید د نوے عقیدے او د روشنیه تحریک روح روان د وحدت الوجود مسئله وه چه موجد ئے د سپین محی الدین ثانی وُو چه په العربی مشهور دے۔ او هغه د خیال د افلاطون د نظریهٔ امثال نه اخذ کړے وُو۔ خو دا مسئله حقیقت کښے د نظریهٔ امثال نقل نهٔ وُو البته یو نوے شکل ئے ضرور وُو۔ د وحدت الوجود مسئله د عجمی تصوف بنیاد دے۔ چه د مسلمانانو په زړهٔ او دماغ ئے د ژوند په خانے جمود خور کړے دے۔

بایزید د وحدت الوجود په مسئله کښے تصرف اوکړو او د دے مسئلے سره ئے د بدهه د انتقال روح یا تناسخ مسئله گډه کړه۔ او خان ئے خالقو ته مصیر اله پیش کړو۔

خپلو مریدانو ته به ئے تلقین کولو چه گوموخلقو ته خدا د نوی او صحیح تعلیم تو سړنا نهٔ ده حاصله، هغه گمراهان دی۔ د هغوئ قتل روا دے۔ او جائز دے مال غنیمت دے۔ لوتل ئے پکار دی۔ شاید چه په دے وجه او څهٔ د مغلو نه د نفرت په وجه خپل قبائل د بایزید مریدان شول او په مغلو ئے تاتار جوړ کړو۔

د بایزید مشهور تصنیف خیرالبیان دے چه اوس ئے پښتو کښے محبت پکوی عجیبه خبره ده چه خوشحال خان خټک د بایزید د عقائدو یا د بایزید د تحریک په پیړه یا مخالفت کښے له هیڅ قسمه، جامع تنقید یا تحسین په نظم یا په نثر کښے نهٔ دے پریښے۔ حالانکه بایزید د خوشحال خان زمانے ته پیر نږدے وُو۔ او په سیمه کښے هم خوشحال خان هم خیال وُو۔ خو خوشحال خان د بایزید د [illegible]

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دے شعر نه ئے معلومیږی ـــه

نړۀ د درویزه غوندِ ایمان بنائیم و دۀ ته
دے د پیر روښان غوندِ د کفر که تلقین

د بایزید د وفات نه پس په یوسفزو کښے د هغۀ د اولاد خلاف د نفرت جذبه تردے حده خوره شوه چه د حمزه ملک د سرداری د لاندِ د توپئ کلی سره نزدے د روشنیانو اویوسفزو سخت جنګ اوشو۔ روشنیانو شکست اوخوړو ۔ د بایزید درے څامن شیخ عمر، خیرالدین او نورالدین قتل شول او جلاله په جنګ کښے بدبد زخمی شو۔ یوسفزو ژوندے اونیولو خود هغۀ د کم عمرئ لحاظ ئے اوکړو۔ قتل ئے نکړو۔ البته د اکبر بادشاه په حضور کښے ئے لاس نیولے پیش کړو اولکه څنګه چه مونږ وړاندِ عرض کړے دے، اکبر هغه معاف کړو او آزاد ئے کړو ۔ اکبر بادشاه چه په کال ۱۵۸۶ء کښے دوباره اټک ته راغے نو بیربل د اټک قلا تیاره کړے وه ۔ دلته هغه ډیره شو اوخبرشوچه مان سنګهه د مرزا حکیم څامن مطیع کړل۔ مرزا حکیم خپله په کال ۱۵۸۵ء کښے وفات شوے وُو ۔ خود مرزا حکیم تړۀ فریدون ئے د مطیع کولو نه پس نظربند کړو۔ او بیا څۀ موده پس ئے مکے ته اولیږلو ۔ خو اکبرچه داخل حقیقت کښے د کشمیر د فتح کولو په خاطر راغلے وُو هغۀ ته معلومه شوه چه کشمیراوکابل فتح کول خو آسان دی ځکه چه دا دواړه ځایونه هغۀ فتح کړل ولے د پښتنو سرحدی قبائل فتح کول ګران کار دے ۔ په خیبر کښے قبائیل د اکبر د فوځونو په مقابله کښے جلاله اودرولے وُو ۔ هغه جلاله چه اکبرمعاف کړے وُو ۔ د جلاله په لښکر کښے آفریدی، مهمند او خلیل شامل وُو۔

د بایزید اولاد د اکبر او د ډهانګیر هغه ټولے منصوبے ګډے وډے کړے کومے چه دوئ وخت په وخت د قبائیلو د مطیع کولو د پاره کړے وے ۔ او قبائیل ئے د مغلو د پنجے نه آزاد اوساتل ۔ اکبرچه د اټک په قلا ډیره وُو نو د څنے قبائیلی مشرانو یوه جرګه ورته راغله چه ورکښے خلیل مهمند وغیره شامل وُو ۔ او ورته ئے د یوسفزو اومندنړو خلاف شکایت اوکړو ۔ چه دوئ بادشاهی لاره لوټی ۔ او بدنامه ئے مونږ ته راځی ۔ ترڅو پورے چه د یوسفزو کوشمالی اونشی، په بادشاهی لاره هیڅرے امن نه شی قائمیدے۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شاید چه داجرګه د اکبر په وینا راغلے وه ځکه چه یوسفزو ته سزا ورکول د اول سرنه د هغه پروګرام کښے شامل وُو۔ او هغه په یوسفزو د حملے دپاره د محض یوه بانه ښکاره۔

اکبر د زین خان، بیربل او حکیم ابوالفتح په مشرئ کښے چه د یوسفزو ډکوښمالئ دپاره کوم بادشاهی لښکر اولیږلو او ددے لښکر چه څه حال شو هغه یوه اهمه تاریخی واقعه ده۔ د بونیر د ډکر سره نزدے په کړپه کښے بادشاهی فوځ یوسفزو داسے راګیر کړو چه د مغلو اته زره فوځ تباه شو۔ بیربل په جنګ کښے قتل شو۔ او حکیم ابوالفتح او زین خان په مشکله، دوه پینے خپلے۔ دوه پردئ په تیښته ځان خلاص کړو۔ او د وهلی زپلی فوځ سره اتک ته راوو تل۔ او بادشاه ئے د شکست نه خبر کړو۔ دا د مغلو د یوسفزو په علاقه کښے یو تاریخی شکست دے۔ ددے شکست په وجه د یوسفزو په علاقه کښے د مغلو توے منصوبے نیمګړے پاتے شوے۔

اکبر پخه اراده کړے وه چه یوسفزو ته او جلاله ته سزا ورکړی۔ د یوسفزو خوئے نور هیڅ وران نه کړے شول۔ البته په سمه کښے ئے یو خو تلا کانے جوړے کړے او په جلاله پسے ئے ډیرے حملے او کړے خو هغه ئے بندی نه کړے شو۔۔۔ وئیلے شی چه په کال ۹۹۲ھ کښے بادشاهی فوځ نو خوارلس زره تاریکیان اونیول۔ جلاله خپله غزنی طرف ته وتښتیدو او د غزنی په بنارئے حمله اوکړه۔ او بنارئے اولوټلو او د یرمال ورته په کوتو ورغلو خو د هغه چه دا مال په غلا راایستو نو په هزاره دارے مارو باندے پیښ شو او د هغوئ سره په جنګ کښے په یوه ګولئ اولګیدو او مړ شو۔ خو د رد شنیانو د مغلو خلاف تحریک د جلاله د مرګ نه پس هم جاری وُو۔ او د مغل شهنشاه جهانګیر دپاره دردِ سر وُو۔

د اکبر بادشاه د یوسفزو خلاف په جنګونو کښے ختکو نه دا فائده اورسیده چه ملک اکوړی او د هغه جانشینو د مندنړو او یوسفزو کانی علاقه لاندے کړه۔ او د کابل د غرونو خواؤشا د سوات په سرحد د ختکو د پرګلی آباد شول۔ دا علاقه د بائیزو په نامه مشهوره ده۔ او د یوسفزو او د مندنړو د علاقے په مقام اتصال پرته ده، او مندنړ د یوسفزو نه بیلوی۔

د خوشحال خان تر زمانے پورے د مغلو سره چه د یوسفزو، مندنړو او د پښتنو نورو قبیلو کوم جنګونه کړی دی په دے جنګونو کښے څنګ هیشه د مغلو په برخه جنګیږلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دی۔ او د یوسفزو خلاف په جنګونو کښے د خوشحال خان غورنیکهٔ اکوړے ، نیکهٔ یحیٰی خان او پلار شهباز خان په قول د خوشحال خان درے واړه شهیدان شوی دی۔ خوشحال خان وائی ؎

پلار نیکهٔ م شهیدان وګورته تللی
پُښت په پُښت م هنر دادے آل په آل

د یوسفزو سره جنګونه خوشحال خان ته په میراث کښے پاتے شوی وُو۔ د خوشحال خان خاندان د مغلو د لاسه جوړ وُو۔ او پلار په نیکهٔ د مغلو جاګیرداران راغلی وُو ۔ د مغلو سره وفاداری او د یوسفزو سره دښمنی هغهٔ ته په سر رشته کښے پاتے وه ۔

څنګه چه وړاندِ ذکر شوے دے د خوشحال خان غورنیکهٔ ملک اکوړے چه د ټیری نه اټک ته راغلے وُو ۔ د کوهاټ د څتکو د تری څانګے نه وُو ۔ د مغل شهنشاه اکبر جاګیردار وُو او د بادشاه سره ئے د شپاړسمے صدئ په روستئ نیمائی کښے ملاقات شوے وُو هغه وخت چه اکبر په ۱۵۵۶ء کښے په دویم ځل په اټک دیره شوے وُو ۔

ملک اکوړے د مغلو وفادار او د یوسفزو دښمن وُو۔ داسے معلومیږی چه تر څو اکبر ژوندے وُو ملک اکوړے هم ژوندے وُو ۔ اکبر په ۱۶۰۵ء کښے وفات شو او هغهٔ پسے د هغهٔ خوئے مغل شهنشاه نورالدین جهانګیر په تخت کښینا ستو ۔ د کال ۱۶۰۵ء نه یعنی د اکبر د مرګ نه تر ۱۶۰۷ء پورے یعنی د اورنګ زیب د مرګه پورے تقریباً څهٔ دیاسه سل کاله کیږی ۔ په دے زمانه کښے یوخوا د مغلو بادشاهان جهانګیر، شاهجهان او اورنګزیب برسرِ اقتدار وُو او بل خوا ته د خوشحال خان نیکهٔ یحیٰی خان ، پلار شهباز خان او خوشحال خان خپله د خټک قبیلے مشران وُو۔ د خوشحال خان پلار نیکهٔ لکه د خوشحال خان د غور نیکهٔ په شان د مغلو وفادار او د یوسفزو دښمنان وُو ۔ او خوشحال خان خپله هم د بند نه وړاندِ د مغلو وفادار وُو او د یوسفزو دښمن ۔ خو د بند نه روستو هغه د مغلو دښمن او د یوسفزو سره د دروغے خواهان او دهغوئ نه د امداد طلبګار وُو ۔

خوشحال خان د جهانګیر بادشاه په زمانه کښے په کال ۱۶۱۳ء کښے په سرائے اکوړی کښے زیربیدلے وُو ۔ خوشحال خان لا د دیارلسو کالو هلک وُو چه د خپل پلار شهباز خان سره ئے د یوسفزو خلاف په یوجنګ کښے شمولیت اوکړو ۔ په دے جنګ کښے د یوسفزو مشر بهاکو خان وُو۔ دا جنګ د سرائے اکوړی نه پنځه میله لرے د جهانګیری کلی کښے شوے وُو۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دے جنګ کښے ختګو ماته کړے وه۔

په کال ۱۹۴۰ء کښے شهباز خان په یوسفزو بیا حمله اوکړه۔ په دے جنګ کښے هم خوشحال خان د ډلړ سره وُو۔ داجنګ د تورو ما یارو سره نږدے شوے وُو۔ په دے جنګ کښے شهباز خان سخت زخمی شو۔ خوشحال خان هم زخمی شو۔ ختګو ماتے اوکړه۔ اوشهباز خان د پنځوسو کالو په عمر کښے په ۱۶۳۳ء کښے وفات شو۔

خوشحال خان چونکه د ډلړ مشر ځوئے وُو نو د ډلړ د وفات نه پس د خپلے قبیلے په صلاح او مشورې سره، د ختګو سردار او مشر شو۔ هغه اول کار دا اوکړو چه په یوسفزو ئے د ډلړ د بدل اخستو په خاطر حمله اوکړه۔ د تورو ما یارو په خوا کښے د ختګو او یوسفزو ترمینځه سخت جنګ اوشو۔ په دے جنګ کښے ختګو برے بیا موندو۔ او یوسفزو ماتے اوکړه۔ خوشحال خان د خپل پلار بدل واخستو او یوسفزو ته ئے سخت نقصان اورسولو۔

د ډلړ د وفات نه پس خوشحال خان قام مشر کړے وُو خو اوس په کال ۱۶۴۱ء شاه جهان بادشاه هم د یو فرمانِ شاهی په ذریعه خوشحال خان د ختګ قوم سردار او منلو۔ او د بادشاهی سړک حفاظت ئے ورته اوسپارلو۔

خوشحال خان او شاهجهان

د جهانګیر په زمانه کښے خوشحال خان هلک وُو۔ چه جهانګیر وفات شو نو د خوشحال خان عمر ایله څوارلس کاله وُو۔ په دے وجه د جهانګیر متعلق چه خوشحال خان څه وئیلی دی هغه شاید چه د خپل پلار نه ئے آوریدلی دی۔ د جهانګیر سره د خوشحال خان خپله هیڅ معامله نه ده راغلے۔ د هغه د جهانګیر سره له هیڅ قسمه تعلقات نه وُو۔ خو د خلقو نه چه ئے څه خبرے آوریدلے وے د هغے په حواله وائی چه د جهانګیر په زمانه کښے هند جنت وُو۔ لکه چه وائی ؎

بیاله پسه جهانګیر د اکبر ځو یه
چه د ده په دور هند لکه جنت وُو

خو شاهجهان، خوشحال خان خپله پیژندلو۔ د شاهجهان سړه د هغه ملاقاتونه شوی وُو۔ او د شاهجهان په پیروجنګو نو کښے هغه خپله حصه اخستے وه او د مظفر د طرفه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د مغلو د مخالفو سره جنګیدلے وو - او بادشاهی خدمات ئے ډیر په اخلاص سره کړی وُو. هغه شاهجهان ته قدردان وائی - او د شاهجهان ډیر مدّاح دے - لکه چه وائی ؎

د هغه دور بادشاه وُو　　قدردان شاهجهان
د ښه خائے و ما راکړو　　پرے اوس شومه حکمران

شاهجهان چه خوشحال خان د ختګو سردار اومنلو، نو خوشحال خان دهلی ته لاړو او د اصالت خان او امانت خان په ذریعه چه شاهی دربار کښے مخور امیران وُو. خپل خدمات ئے بادشاه ته پیش کړل. په دغه ورځو کښے د کانګړے راجه جګت سنګهه د بادشاه نه باغی شوے وُو. بادشاه جګت سنګهه ته د سزا ورکولو دپاره د خپل کشر ځوئے مراد بخش د کمان د لاندے یو قوی فوج اولیږلو.

په تاراګړهه د حملے کولو دپاره مراد بخش، د دربار دوه معتمد امیران یعنی بهادر خان او اصالت خان مقرر کړل. خوشحال خان د دوئ سره د قلا په تسخیر کښے حصه واخسته او بښه په بهادرئ سره ئے جنګ اوکړو. قلعه فتح شوه - او خوشحال خان ته د خپلو خدماتو په عوض کښے شاهی خلعت عطا کړے شو - او جاګیر ئے هم زیات شو.

په کال ۱۶۴۵ء کښے چه د بلخ او بدخشان مهم شروع شو - او شهزاده مراد بخش چه د یولوئ فوج سره د بدخشان د مهم سرکولو دپاره بادشاهه را اولیږلو نو خوشحال خان هم په دے مهم کښے شامل شو - اولکه د تاراګړهه د محاذ ئے د بهادر خان او اصالت خان په مشرئ کښے د ستائینے وړ خدمتونه اوکړل.

په کال ۱۶۴۹ء کښے چه شاهجهان بادشاه خپله د قندهار د مهم سرته د رسولو دپاره په اټک راپورے وتو او کابل ته تلو نو خوشحال خان ئے استقبال اوکړو - او چه بادشاه کابل ته اورسیدو نو خوشحال خان ئے په دربار کښے حاضر شو - او د یوسفزو د کشالے ذکر ئے ورسره اوکړو - بادشاه د یوسفزو د ملک انتظام خوشحال خان ته اوسپارلو او د لنډی سیند پورے غاړه قطب طرف ته د یوسفزو په علاقه کښے یوخوکلی ئے خوشحال خان ته په جاګیر کښے ورکړل.

یوسفزی په دے جاګیر ډیر خفه شول او خپل مشر بهاکو خان ئے دهلی ته اولیږلو چه د بادشاه په دربار کښے پیش شی - او خپل فریاد اوکړی - بهاکو خان چه دهلی ته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اورسیدو نو د شاهجهان د مشرځوئ دارا شکوه حمایت ورته حاصل شو. او هغه خپل پلار شاه جهان ته خواست اوکړو چه یوسفزی او بخښنیٔ او ورپسے ئے زیاته کړه چه د خوشحال خان نه دِ د یوسفزو د کلو جاګیر واخستے شی. او بهاکو خان ته دِ ورکړے شی. شاه جهان د دارا شکوه خبره اومنله. د یوسفزو د علاقے جاګیرئے د خوشحال خان نه واخستو، او بهاکو خان ته ئے ورکړو.

دا د مغلو په دربار کښے د یوسفزو. د خټکو خلاف اولنیٔ کامیابی وه. حقیقت دا دے چه د خوشحال خان خاندان د مغلو حمایت څکه کولو چه دوئ د خټکو سرداران اومشران وُو. او د خټکو د یوسفزو سره قبائیلی جګړے چه مونږ ئے د لنډی سیند پورے غاړه، د یوسفزو په علاقه قبضه کول وُو، د ابتدا نه را روانے وے. د یوسفزو د مغلوسره د بابر د زمانے راسے جګړے کیدلے خود اکبر په زمانه کښے چه دا جګړے تیزے شوے نو خټکو د یوسفزو په مقابله کښے بادشاهی پشتی کتله، چه یوسفزی د بادشاهی زور په ذریعه اووهی او د سیند پورے علاقه کښے ځان ته ځائے اومزکه پیدا کړی. د خوشحال خان غوږ نیکه ملک اکوړے په دے پالیسئ کښے کامیاب شوے وُو. او د اکبر بادشاه حمایت ورته حاصل شوے وُو. د اکبر فوځونو چه د غړهٔ د یوسفزو د لاسه بد بد شکست اوخوړلو او په دے جنګ کښے بیربل قتل شو. نو اکبر د سے یوسفزو نه د سزا ورکولو ارادهٔ اوکړه. او خټکو د بادشاه د دے رویے نه فائده واخسته او د لنډی سیند قطب طرف ته په سمه کښے ئے خپل کلی آباد کړل چه اوس دا علاقه د بانډو په نوم یادیږی. د دے په وجه د خټکو او یوسفزو بین القبائیلی جګړے لا ښے تیزے شوے. او د دوئ دښمنی پخه شوه. چه دا دښمنی پوره سل کاله پاتے شوه. یعنی د اکبر د زمانے نه د اورنګ زیب تر زمانے پورے. او دے دښمنیٔ هله ارخ واړولو چه د خوشحال خان د مغل بادشاه اورنګ زیب سره پس له بندهٔ پریوته. د خټکو او یوسفزو په دے جګړو کښے لکه څنګه چه معلومه ده، د مغلو دا پالیسی وه چه خټک د خپلو دښمنانو یوسفزو خلاف د خپلو بادشاهی مفادو دپاره استعمال کړی. او د خټکو دا پالیسی وه چه د مغلو طاقت او اثر رسوخ، د خپلو دښمنانو یوسفزو خلاف د خپلو قبائیلی مفادو په حمایت کښے حاصل کړی. د اکبر نه تر اورنګ زیب پورے د مغلو او د خټکو، د یوسفزو خلاف یوه پره وه. څکه چه یوسفزی د دواړو دښمنان وُو. او د دښمن دښمنان اکثر خپلو کښے دوستان وی. په دے وجه د اکبر نه تر اورنګ زیب پورے په پښتنو کښے د

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مغلو خلاف چه کومه ډله جنګیدله، دَدے قیادت دَ یوسفزو په لاس کښے وُو - او په پښتنو کښے دَ مغلو په پره کښے چه کومه ډله جنګیدله دَدے مشران ختک وُو - دَ خوشحال خان غور نیکهٔ، نیکهٔ او پلار درے واړه دَ یوسفزو سره په جنګونو کښے مړهٔ شوی دی - نوله دے کبله دَ خوشحال خان دَ یوسفزو سرهٔ تاریخی دښمنی وه او یوسفزو دَ مغلو حکومت ته سرنهٔ کښیښنو. خودَ شاه جهان په زمانه کښے لکه دَ بهاکو خان او دَ داراشکوه دَ ملاقات نه چه ظاهره وه، یوسفزی مجبور شول چه خپله پالیسی بدله کړی - یوسفزو دَ ختکو سرهٔ خوخپل عداوت بحال اوساتلو خو کوشش ئے اوکړو چه دَ مغلو سرهٔ صلح اوکړی - او په دے صلح کښے دا مصلحت وُو چه دَ ختکو دَ قبضے نه خپله علاقه بچ کړی -

دا سے معلومیږی چه مغلو هم په دے زمانه کښے یوسفزو طرفته خپله رویّه څهٔ لږه ډیره بدله کړه - او داراشکوه خیال اوکړو چه دښمن کهٔ په کوهه مری نو په زهر وے څهٔ ته وژنے - کهٔ یوسفزی بغیر دَ جنګ نه، دَ ختکو دَ ویرے تسلیم کیږی، او دَ مغلو متابعت کوی نو دَ یوسفزو دا رویه دَ مغلو دَ شهنشاهیت په نفع تمامیږی - په دے وجه هغهٔ په بهاکو خان احسان اوکړو - دَ خوشحال خان دَ یوسف زو دعلاقے جاګیرے ختم کړو او دا ئے دَ یوسفزو مشر بهاکو خان ته ورکړو - ځکه چه دَ داراشکوه خیال وُو چه ختک خو هسے هم دَ مغلو په جیب کښے دی - یوسفزی رضاکول پکار دی - او دا سے معلومیږی چه خوشحال خان هم په دے خبره څهٔ بداونهٔ منل - هغهٔ دَ شاه جهان خدمت هم هغه شان په راستئ کولو خو په زړهٔ کښے دَ داراشکوه دښمن شو -

خوشحال خان چه دَ جهانګیر او دَ شاه جهان په صفت نهٔ مړیږی نو دَ دے دا مطلب نهٔ دے چه کوندِ دَ جهانګیر او شاه جهان په زمانه کښے دَ مغلو رویّه، پښتنو طرف ته په مجموعی حیثیت بدله شوے وه - یا دَ پښتنو په رویّه کښے من حیث القوم او ملّت، مغلو طرف ته څهٔ فرق راغلے وُو - دَ دواړو قومونو تاریخی دښمنی بحال وه - صرف دَ مغلو زور وُو - او پښتانهٔ نفاق او خانه جنګیا نو کمزورئ کړی وُو - په دے وجه دَ مغلو حکومت ئے نهٔ شواړوُلے - البته چه کله ناکله موقع به ورته په لاس ورغله نو دَ مغلو خبر به ئے واخستو - خوشحال خان دَ جهانګیر او دَ شاه جهان ځکه تعریف کوی چه دوئ دَ خوشحال خان دَ کورنئ او قبیلے سرهٔ ښهٔ سلوک کولو - او دَ یوسفزو په مقابله کښے به ئے دَ ختکو پره کوله - په دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وجه خوشحال خان دَدوئ نه خوشحال وُو۔

خوشحال خان او اورنگ زیب!

په کال ۱۶۵۷ء کښے شاه جهان نا روغه شو۔ اودَ سلطنت دکار روزګار نه پاتے شو۔ دَبادشاه دَعلالت په وجه دهغهٔ په ځامنو کښے دَ تخت نشینئ دپاره جنګونه شروع شول۔ داجنګونه په کال ۱۶۵۸ء کښے ښهٔ تیز شول۔ مشر شهزاده دارا شکوه او شهزاده شجاع ځان ځان ته دَ تخت اوتاج حاصلولو دپارهٔ جنګیدل۔ او اورنګ زیب او کشر شهزاده مراد بخش سره ملګری وُو۔ دَشاه جهان ټول سلطنت په دے جنګونو کښے برخے برخے شو۔ هرځائے پرے جنبے جوړے شوے خو آخر دَ شهزاده کانو په دے جنګونو کښے اورنګ زیب کامیاب شو۔

اورنګ زیب خپل پلار شاه جهان چه دَمشر ځوئے دارا شکوه طرفدار وُو، دَ آګرے په قلا کښے نظربند کړو۔ دارا شکوه او مراد بخش ئے اووژل۔ او شجاع ئے داسے وړک کړو چه هیڅ پته ئے اونهٔ لګیده چه څهٔ شو۔

دَ اورنګ زیب دپارهٔ اوس میدان صفا وُو۔ هغه بادشاه شو اودَ عالمګیر لقب ئے اختیار کړو۔ دا کال ۱۶۵۹ء وُو۔

دَ تخت نشینئ دَجنګونو په دوران کښے دَ یوسفزو مشر بهاکو خان، دَ شهزاده دارا شکوه ملګرے وُو۔ دارا شکوه خوشحال هم خپل هم خیال کول غوښتل۔ خو خوشحال خان اونهٔ منله۔ اودَ بهاکو خان لښکر چه دَدارا شکوه دَ استقبال دپارهٔ دَ اباسین په غاړه جمع شوے وُو په هغهٔ ئے حمله اوکړه اوهغه ئے تس نس کړو۔ دغه شان شهزاده دارا شکوه دَ یوسفزو په علاقه کښے په پناه اخستلو کښے کامیاب نهٔ شو۔ دَ تخت نشینئ په جنګونو کښے چه خوشحال خان دَ اورنګ زیب کوم خدمات حاصل کړی وُو۔ دَدغے خدماتو په بنا اورنګ زیب چه دَ مغلو دَ تاج اوتخت مالک شو اودَ دهلی په تخت کیناستو نو خوشحال خان ته ئے لکه دَ خپل پلار شاه جهان په شان دَ خټکو سرداری اودَ بادشاهی لاړے حفاظت او سپارلو او یو ځل بیا خوشحال خان دَ یوسفزو په مقابله کښے دَ مغل بادشاه منظور نظر شو۔

په دے زمانه کښے مهابت خان دَ کابل دَصوبے ګورنر وُو۔ او پیښور دَ [illegible]

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ګورنرئ د لاندِ وُو ۔ دا هغه مهابت خان دے چه په پیښور ښارکښے د دهٔ یادګار د مهابت خان جماعت دے ۔ اودے د علی مردان خان ځوئے وُوچه د صفویانو په دربارکښے مشهور امیروُو اودصفویانوله طرفه د قندهارګورنر وُوخوصفویانوسره ئے ټکی اوکړه اوقندهارئے شاهجهان ته حواله کړو ۔

خوشحال خان د مهابت خان منظورِ نظروُو ۔ خوپه کال ۱۶۶۱ء کښے مهابت خان دکّن ته بدل کړے شواودهغهٔ په ځائے سیدامیر د کابل صوبه دارمقررشو ۔ په پیښورکښے د سیدامیر نائب عبدالرحیم وُو ۔ ددے تبدیلو سره د خوشحال خان د تقدیرستورے هم ګردش کښے راغے ، داسے معلومیږی چه د سیدامیراوعبدالرحیم ، د ختکو اودیوسفزو په جګړوکښے د داراشکوه پالیسی خوښه وه اودختکو په مقابله کښے دیوسفزوامداد ته آماده شول ۔ اود بهاکوخان مرسته ئے اوکړه ۔

د اورنګ په تخت نشینئ پسے نږدیوشاهی فرمان جاری شو ۔ دا فرمان د راهدارئ د محصول د معافئ دپارهٔ وُو ۔ اود سرحدی علاقونه علاوه په درست مملکت حاوی وُو ۔ خو په سرحدی علاقوکښے د مخصوصوحالاتوپه بنا د ددے فرمان نفاذ نهٔ وُو شوے ۔ عبدالرحیم د سیدامیرپه صلاح اود بادشاه په اجازت اوس ددے فرمان د نفاذ اجازت د سرحدی علاقودپارهٔ هم واخستو ۔ او د پلار د نیکهٔ د وخته چه خوشحال خان ته په اتک د راهدارئ د محصول اخستوکوم اجازت مغل بادشاهانو ورکړے وُو هغه منسوخ شو ۔ اودغه شان د خوشحال خان په وقاراوآمدنئ کښے فرق راغلو ۔ د خوشحال خان په دے حکم نږدهٔ دیر خفه شو ۔ خوپه خولهٔ ئے هیڅ اونهٔ وئیل ۔ اوهم هغه شان ئے د مغل بادشاه خدمت په راستئ کولو ۔ خوداحکم په حقیقت کښے د یوسازش نتیجه وه ۔ چه په دے کښے د خوشحال خان د خپل خاندان څنے افراد هم شامل وُو ۔ او دا د خوشحال خان د ګرفتارئ دپاره یوه بهانه وه ۔

بهاکوخان چه په کومه ورځ په دهلی کښے داراشکوه سره کتلی وُو د هغ ورځے نه د دهلی په دربارکښے د خوشحال خان وقارکم شوے وُو ۔ اود مغلو په ذمه وارو افسرانو کښے داخیال پیداشوے وُوچه ختکو دیره موده د شاهی طاقت نه استفاده اوکړه او د شاهی طاقت په زورئے د خپلو دښمنانو یوسفزونه مزکه هم لاندِ کړه اوهغوئ ئے ذلیل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم کړل - اوبله داچه ختکو حقیقت کښے خپل دښمنان بادشاهی دښمنان ګرځولی دی - او ناحق ئے مغل او یوسفزی خپلو کښے اچولی دی - اودوئ په قلار ناست دی مزے کوی - پکار دهچه مغل بادشاهان دا پالیسی بدله کړی - اوددغه قبائیلو سره دوستانه تعلقات جوړکړی کوم چه دختکو نه زیات زوردار دی - اودمغلو تاج اوتخت دپاره زیات خطرناک دی - که دختکو په ځائے دغه قبائیل حکومت خپل کړی نو دا دحکومت دپاره زیاته فائده منده خبره ده - داسے معلومیږی چه سید امیر او عبدالرحیم هم ددغه ټولی دافسران نه وُو -

سید امیر چه دعبدالرحیم په وینا دبادشاه نه دا اجازت واخستو چه دراهدائی دمحصول دممانعت دپاره د سختے پالیسئ نه کار اخستل پکار دی - اوکوم سردارانو چه ددے پالیسئ مخالفت کوی هغوئ سره سخت سلوک کول ضروری دی نوخوشحال پسے په ۱۶۶۴ء کښے حکم اولیږ لوچه پیښور ته راشه اوما سره اووینه - خوشحال خان دحکم تعمیل اوکړو - پیښور ته راغلو اوهلته مغل ګورنر ګرفتار کړو - او په هتکړو اوبیړو کښے ئے دهلی ته روان کړو - په دے وخت کښے دخوشحال خان عمر یونیځوس کاله وُو -

خوشحال خان دراجپوتانے دجے پور نه سره نزدے درنتهنبور په قلا کښے قریبًا دوه نیم کاله قید تیرکړو - اوبیا آګرے ته راوستے شو - اوهلته آزادکړے شو - اوبیا دآګرے نه دهلی ته راغلو، خووطن ته دراتلو اجازت ورته نه وُو - اوډیلی کښے هم یو قسم ته بندی وُوچه خانه نشین ورته وائی -

خوشحال خان داټول واقعات دیوا وزد ترکیب، بند، ذوالقافیتین په شکل کښے په تفصیل سره لیکلی دی - داترکیب بند دے بیت نه شروع کیږی -

څهٔ دبدوخوب وُوچه رم اولید و سحر
ستړګے رنړے کړے نا قرار شوم په بستر

په دے ترکیب بند کښے خوشحال دخپلو نیولو واقعه، دهلی ته دبوتلو قصه اوپه قید کښے دمصیبتونو، غمونواو سختو واقعات په تفصیل سره بیان کړی دی - دے نه علاوه خوشحال خان چه دپیښور نه تر دهلی پورے دبادشاهی لارے کومے نښانے، یعنی دکلو اودځایونونومونه ورکړی دی - دهغے نه معلومیږی چه دا بادشاهی لار په هغه زمانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کښے هم تقریباً دغه وه، کومه چه نن ورځ په جرنیلی سړک یا دیږی. دَدے ترکیب بند نه علاوه دَهندَ قید په دوران کښے خوشحال خان نور هم ډیر نظمونه، غزلونه، قطعات او قصیدے لیکلی دی. په دے شعرونو کښے په وطن پسے ارمان، دَخپلو مصیبتونو حال، دَدوستانو او خپلوانو په فراق کښے ستایئنے او دَمغلونه دَنفرت اظهار بیا موندے شی. او داسے معلومیږی چه خوشحال خان دَ قید په دوران کښے، دَمغلو دَمخالفت او دَمغلونه دَ انتقام اخستو اراده پخه کړے وه. دا لاندے اشعار دَ نمونے په طور ملاحظه کړئ.

پس له بنده دے دا عزم — دَخوشحال دَخاطر جزم
یا نیولے مخ مکے ته — یا مغلو سره رزم
یا یو کُنج دَ غرهٔ نیولے
نمونځ، روژه دَ لوستو بزم

خوشحال خان دَ اورنګ زیب خلاف چه کوم اشعار لیکلی دی، دا اشعار هم شاید چه دَ قید و بند دَ ورځو یادګار دے. تقریباً په شلو نظمونو، غزلونو، قطعاتو او قصیدو وغیره کښے خوشحال خان، اورنګ زیب ته په شاعرانه طرز کښے بد رد وئیلی دی. او دَ زړهٔ بړاس ئے ویستے دے. دَدے اشعارو دا نمونے دَ لوستودی :-

تفاوت دَ خپل پردی وربانډِ نشته — کهٔ ئے کورے اورنګ زیب بادشاه کمراه دے
دَ اورنګ بادشاه په دور آرام نشته — چا وئیل چه جهان ځائے دَ آرام ګاه دے
لکه مخ دپاسه تور سیاه لیدهٔ شی — اندرون ئے هغه هسے تور سیاه دے
کهٔ ئے نیت وته ئے کورے یو یزید دے
کهٔ طاعت وته ئے کورے اهل الله دے

رامعلوم شو دَ اورنګ عدل و انصاف — دَدهٔ بنه مسلمانی بنهٔ اعتکاف
سکه ورونړه وار په وار واړه وژلی — بیا رپه بند کښے اچولے په مصاف
کهٔ هزار ځله څوک سر وهی په مزکه — یا په صوم ترشمعئ ورولی ناف
خو دِ نیت دَ بنهٔ عمل سره جوړنهٔ شی — عبادت، طاعت درے واړه دی خلاف
چه دَ ژبے لاریوه دَ زړهٔ ئے بله — په چاړهٔ ئے شو ځیګر شګاف شګاف
مار دَ تن دپاسه بنهٔ بنائسته روغ دے — ولے ننه اندرون لری ناصاف

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مړنے په کړده ډیر وئیل ئے لږ وی د نامردو لږ عمل وی ډیرنے لاف

که دلے دخوشحال لاس په ځام نشته
د قیامت په ورځ ئے خدائے مکړه معاف

سید امیر تراوه کال پورے د کابل د صوبے، صوبه دار پاتے شو. خو په ډ دوران کښے د دے علاقے امن ورځ تر ورځ خرابیدو. او په مغلو به ځائے په ځائے چپاوونه کیدل.

دخوشحال خان په هند کښے د نظربندئ په دوران کښے په کال ۱۰۷۰ کښے یوسفزی بیا باغی شول. مغلو دا بغاوت په څومیاشتو کښے ختم کړو. خو بادشاه غوښتل چه یوداسے سړے د کابل صوبه دار مقرر کړی، چه په حالاتو قابو بیاموی. بادشاه په دے حقله خپله دخوشحال خان نه صلاح واخسته او آخر په کال ۱۰۶۸ کښے بادشاه سید امیر لرے کړو. او دهغه په ځائے ئے مهابت خان په دویم ځل د کابل صوبه دار مقرر کړو.

مهابت خان دخوشحال خان دپاره هم سفارش اوکړو چه په وطن ډ آزاد شی. بادشاه د مهابت خان سفارش اومنلو او خوشحال خان یوځل بیا وطن ته د مهابت خان سره راغے. خود قید نه پس چه کوم خوشحال خان وطن ته راغلے وُو، دا هغه خوشحال خان نه وُو کوم چه د مغلو د قید نه اول موټر لیدلے وُو. په دے خوشحال خان او هغه خوشحال خان کښے د مزکے او د آسمان فرق دے. د قید نه پس خوشحال خان هغه مشهور، معروف، غیرتی ننګیالے پښتون سردار او لیډر دے چه پښتانه ئے په صفت نه مړیږی. او د پښتون په تاریخ کښے ئے ځان ته یو مستقل ځائے پیدا کړے دے.

مهابت خان چه په دویم ځل د کابل صوبه دار مقرر کړے شو نو بادشاه هغه ته اووئیل چه د یوسفزو د علاقے خاطرخواه انتظام او بندوبست وکړه. مهابت خان په دے سلسله کښے خوشحال خان، د یوسفزو خلاف حسبِ معمول استعمال غوښتل. او ورته ئے اووئیل چه هزاری منصب او د یوسفزو سرداری د خله خود بوسفزو په علاقه کښے په لنګر کوټ کښے چه بادشاه کومه قلاجوړول غواړی، د هغے په جوړولو کښے، بادشاهی فوځونو سره تعاون او امداد اوکړه. خوخوشحال خان لنګر اوکړه او مهابت خان ته ئے مشوره ورکړه چه دا قلاجوړول پکار نه دی. خوشحال خان مهابت خان ته صفه ووئیله چه ځما د قید په دوران کښے بادشاه حکم کړے وُو چه ځما بال بچے دهم بندی کړے شی او ځما ټول

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

طورِ دهلی ته اولیږلے شی. اوځما بال پچ ته چه پته اولګیده چه بادشاه هغوی دهلی ته لیږی، نوخپله علاقه ئے پریښوده اودیوسفزو په علاقه کښے ئے پناه واخسته. اوسره دَ دښمنئ یوسفزو هغوته پناه ورکړه. اودیر په قدر اوعزت ئے اوساتل. زهٔ دَیوسفزو دا احسان نهٔ شم هیروے. مهابت خان پوهه شوچه داهغه خوشحال خان نهٔ دے. کوم چه دَقید نه وراندِ دَ مغلوخدمتګار اوتابعدار وو. نودَخوشحال خان دَامداد نه ئے طمع قطع شوه اودَخوشحال خان دَامداد نه بغیر ئے دلنګرکوټ قلاجوړه کړه. خوشحال خان په دغه حقله وائی: ـه

لنګرکوټ مغلو ساز کړو　　زهٔ په ننګ بیا دَ افغان شوم
که یوسف وزکهٔ مندړ وُو　　زهٔ دَدواړو نګهبان شوم

مهابت خان داځل پیړه مودهٔ دَ کابل صوبه دار پاتے نشو. دوه کاله پس یعنی په ۱۰۶۲ھ کښے بدل شو. اودَهغهٔ په ځائے دَ کابل کورنر محمد امین خان مقرر شو. محمد امین خان دَدے نه وړاندِ دَ کابل کورنر پاتے شوے وُو. محمد امین دَمیر جمله خوئے وُو. میر جمله په دکن کښے دَګولکنډے اوسید ونکے وُو. اودَلعلو نوسوداګر وُو. اودیر مالدار اوامیر سړے وُو. محمد امین خان دَاورنګ زیب معتمد اومنظورِ نظر وُو. دَاورنګ زیب خیال وُو چه محمد امین خان به دَپښتنو شورش رفع دفع کړی. او په دے خیال، بادشاه هغه دَ کابل صوبه دار مقرر کړو. محمد امین خان دیانتدار، خو مغروره او بدخویه سړے وُو. اوهیڅا جرأت نهٔ شوکولے چه دَهغهٔ دَ رائے مخالفت اوکړی.

دَقید نه پس خوشحال خان مغلوته په زړه زړه کښے یشیدلو. خولاتر اوسه ئے څه عملی قدم دَ مغلوخلاف نهٔ وُو اخستے. البته دَمغلودَ ملازمت نه لاس په سر شوے وُو.

دَخیبر جنګ اوخوشحال خان، ایمل خان اودریا خان

دَمغلودَ کابل صوبه دار په اوړی کښے کابل کښے اوسیدو اوپه ژمی کښے به پیښور ته راکوزیدو. دا کال ۱۰۶۳ھ وُو. دَپسرلی موسم وُو. او دَروه کوهستانونه دَپسرلی په زیړو سرو ګلونو ګلزار وُو. دَمغلولوئے کورنر محمد امین خان دَ معمول وخت نه لږ وړاندِ. دَاوړی تیرولو دپاره دَ کابل په طرف روان شو.

قصه داوه چه په کنړ کښے یوځو مغلو سپاهیانو دیوے صافئ جینئ سره چیړلی وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صافیانو په دے جینئ غیرت اوکړو او درے مغل سپاهیان ئے اووژل. د مغلو د کوټې حاکم حسین بیګ د صافیانو ملکان را اوغوښتل، او ورته ئے مطالبه اوکړه. چه د مقتولانو قاتلان سرکار ته حواله کړئ. ملکانو انکار اوکړو. اوس د خواوشا د نورو قبیلو ملکانانو ته حسین بیګ اووے چه صافیانو ته سزا ورکړئ. او د دوئ کلی او کور ونه اوسیزئ او لوټ ئے کړئ. د خواوشا د قبیلو ملکانانو، د خپلو جاګیرونو په خاطر. په ناخوالئ د مغلو د امداد دپاره لښکر جمع کړو. خو په پته ئے صافیانو ته خبر ورکړو چه تاسو د پښتو او نرانو کار کړے دے، په یو پښتنه ښځه موغیرت خوړلے دے. زمونږ زړه تاسو سره دے. مونږ د مغلو په پره کښے د مجبورئ نه لښکر جمع کړے دے.

حسین بیګ په صافیانو حمله اوکړه خو شکست ئے اوخوړو. او د دے واقعے په وجه د خواوشا ټول قبائیل د صافیانو په پره کښے او د مغلو خلاف جنګ ته تیار شول.

حسین بیګ د دے واقعے نه محمد امین خان خبر کړو. محمد امین خان ډیر سخت شو او د تاوه، د وخت نه اول، د اوړی تیرولو دپاره کابل ته روان شو. خیال ئے د اوو چه په لاره به د صافیانو خبر هم واخلی. او داسے سزا به ورکړی چه د نورو پښتنو دپاره به مثال شی. او درست پښتون قوم به پرے اوویریږی.

محمد امین خان د یولوئ لښکر سره، چه په دے لښکر کښے د نورو پښتنو نه علاوه د اورکزو ملکانان، خوشحال خان خټک او د مهمند مستجاب خان ارباب هم شامل وُو. د خیبر په طرف روان شو.

صافیان هم د محمد امین خان دا ارادے نه خبر شوی وُو. هغوئ د مهمند و آفریدو او شینواړو نه د پښتو او د پښتون په نوم امداد اوغوښتو. هغوئ ټول د پښتون د ننګ په نوم راپاسیدل. او مغلوته ئے خیبر اونیولو. د پښتنو د دے سنګر به څلورمشری دوه مشهورو ملکانانو ایمل خان او دریاخان کوله. دا هغه ایمل خان او دریاخان دی چه خوشحال خان ئے په صفت نه مړیږی. او په دیوان کښے د دوئ د مړانے، شجاعت ننګ ریښتو نے دوستئ او پښتونولئ بیا بیا ذکر کوی. د مغلو د صوبه دار محمد امین خان لښکر چه جمرود ته اورسید و نو ورته پته اولګیده چه قبائیلو ورته خبر ورے دے. هغوئ د پښتنو مشرانو نه صلاح واخسته چه څه کول پکار دی. خوشحال خان ورته وویل چه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نړۀ پښتنو سرۀ د جنګ کولو صلاح نۀ ورکوم. خو محمد امین خان ورته پیغور ورکړو چه په قید کښے وے نو مابه د خلاصی دپارۀ سفارشونه ډ کول. نو اوس ته څما مقابله کښے د پښتنو سرۀ همدردی لرے. محمد امین خان چه د خوشحال خان خټک نه نا اُمیده شو نو د مهمند مستجاب خان ارباب ئے سرۀ د یوے جرګے قبائیلو ته اولیږلو چه ورته اووائے چه لارۀ پریږدی. ګنی نتیجه به ئے د قبائیلو په حق کښے بنه نۀ وی. قبائیلو دا دپکه او دا جرګه اونۀ منله. او محمد امین خان لښکر ته حکم ورکړو چه په نړو لار اوکړئ او قبائیلو ته سزا ورکړئ. د محمد امین خان لښکر ترعلی مسجده، په خیر خیریت اورسید و او تر لوارګی پورے ورته څۀ لویه واقعه پیښه نۀ شوه. خو چه لوارګی نه لښکر لنډی خانے طرف ته روان شو، نو د لوارګی اولنډی خانے ترمینځه په تنګئ کښے پښتنو قبائیلو د مغلو فوځ راګیر کړو. سړک ئے ورته د اول نه بند کړے وُو. او سړک کښے ئے ورته لوئے لوئے ډبرے او تیږے غورزولے وے. اوکندے ئے کنستے وے. دا هغه ځائے دے چه دلته شنوارو او افریدو په ۱۹۳۶ء کښے پنډت نهرو هم راګیر کړے وُو.

محمد امین خان لښکر ته حکم ورکړو چه د جنګ دپارۀ صف آرائی اوکړئ. هاتیان د لښکر وراندے شول او حمله ئے اوکړه. پښتنو پرے د غرۀ نه د کانړو باران اوورولو. د مغلو لښکر ډیر وارخطا شو. او ډیر خلق ورکښے مړۀ شول. مغل لښکر پستنه شو. او قبائیل تورے په لاس د غرۀ نه راکوز شول او لاس په لاس جنګ شروع شو. جنګ توله ورځ جاری وُو. خو مغلو څان ته لارۀ اونۀ کړے شوه.

اوس محمد امین خان ته چا صلاح ورکړه چه یوه بله لار هم شته په هغے به د لښکر پورے وتل آسان وی. دا لار د تاترے د ولے سرۀ نزدے تیرۀ شویده. او په دے وجه په دغه لار دا او بوځۀ کمے نشته. محمد امین خان دا صلاح اومنله، خو دا په حقیقت کښے چل وُو. د محمد امین خان مات کړو لښکر چه د تاترے په لار روان شو، نو لاښۀ په جال کښے گیر شو. او پښتنو قبائیلو تباه کړو.

محمد امین خان خپله په یوه بله لار یو معتمد قبائیلی را اویستو. او پیښور ته ئے را اورسولو. وئیلے شی چه د خیبر په جنګ کښے د مغل کلهم لښکر تباه شو. خو صرف محمد امین خان او د هغۀ څلور ملګری د دے جنګ نه ژوندی پاتے شو. دا د مغل فوځ مکمل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شکست وُو . اودَ پښتنو مکمله فتح . دَخیبر جنګ د مغلو ملاماته کړه . د مغلو لښکر ، خزانه ، اسونه ، هاتیان ، هرڅهٔ تباه شول . اودَ پښتنولاس ته راغلل . نورخو نور . خپله د محمد امین خان بنځه ، مور ، خور او لور پښتنو اوتښتولې . اودَ محمد امین خان سرهٔ چه په منګرتیا کښے نور مغل افسران وُو . دَ هغوئ زنانه هم پښتنو ته په لاس ورغلې . مغلوته دَ صافئ جینئ بے عزتی کرانه پریوته . او مغل ایله اوس دَ پښتنو دَ غیرت دَ جذبے نه خبر شول . خو وخت تیر وُو . چه څهٔ کید ونکی وُو . هغه شوی وُو .

څهٔ موده پس دَ محمد امین خان لور ، خور او مور په ډیر وپو خلاص شوے خودَ محمد امین خان بنځه دَ شرم نه واپس راغله . او باقی ټول عمرئ دَ دُنیا نه کنارهٔ کشی اختیار کړه . او هم په دغه کښے وفات شوه .

دَ خوشحال خان دَ اندازے مطابق ، دَ خیبر په جنګ کښے دَ مغلو څلویښت زره فوځ تباه شوے وُو . چه په دے کښے دَ محمد امین خان څوئ مرزا عبدالله او دَ خورخاوند مرزا سلطان کربلائی هم شامل وُو . خوشحال خان وائی ؎

اول جنګ دَلوړے شادَ تاترے وُو
چه څلویښت زره مغل شول تار په تار

خویندے لونړه ئے په بند دَ پښتنو شوے
اس ، اُوښان ، هاتیان اُلجه قطار قطار

دلته دا سوال پیدا کیږی چه خوشحال خان خپله دَ خیبر په عظیم جنګ کښے څهٔ کول ، آیا هغه دَ مغلو طرفدار وُو که دَ پښتنو ؟ یا غیر جانبدار پاتے شوے دے ؟

سَر اولف کیرو په خپل مشهور تصنیف "پښتانهٔ" کښے لیکی ، چه صحیح سور دا نهٔ معلومیږی چه خوشحال خان په دے جنګ کښے څهٔ کړی دی . خو اغلب ګمان دا دے چه هغه دَ مغل لښکر سره صرف ترجمروده لاړ دے . او بیا واپس شوے دے .

کیرو دَ "خوشحال دَ نظمونو" په نوم چه کوم کتاب لیکلے دے . دَ دے کتاب په دیباچه کښے لیکی چه خوشحال خان دَ خیبر په جنګ کښے چه کومه قصیده لیکلے ده ، دَ دے قصیدے نه معلومیږی چه خوشحال خان دَ پښتنو په دے عظیمه فتح نه صرف خوشحالی شکاره کړے ده بلکه ورسره ورسره پښتانهٔ ئے دَ راتلونکی مصیبتونو نه هم خبردار کړی دی او دَ محمد امین خان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تباهی او بدبختی ئے هم په دردناکه طریقه ستائیلے ده ۔

کیرو په دے کتاب کښے بیا وائی چه دا نهٔ معلومیږی چه خوشحال خپله په دے جنګ کښے څهٔ کړی دی ۔ خو خوشحال خان د خیبر فتح ، د خپل کمان او د خپلو دوه افرید و یارانو یعنی ایمل خان او دریاخان د کمان د لاندِ د مغلو خلاف د پښتنو تولو کښے لویه او اولنۍ فتح ګڼړی ۔

کیرو دا هم وائی چه د ایمل خان نوم د افرید و په زړونو کښے تر اوسه ژوندے دے ۔ او د افرید و په علاقه کښے د ایمل خان په نوم ډیر څایونه یادیږی ۔ خو د ایمل خان په تولو کښے بنهٔ یادګار د کوهاټ د درے په څله کښے د ایمل چبوتره نوم څائے دے چه د ایمل خان نوم د افرید و په علاقه کښے ژوندے ساتی ۔

خو دوست محمد خان کامل دا نهٔ منی ۔ دوست محمد خان کامل لیکی چه "په دے جنګ کښے خوشحال خان د پښتنو په مقابله کښے د خپل یو محسن له خاطرهٔ شامل شوے وُو ۔ او چه شامل شو نو بنهٔ په کلکه ئے جنګ او کړو کنی د هغهٔ همدردی خو د پښتنو سره وه ۔ او دائے غوښته چه دا جنګ اونشی ۔

او بیا لیکی چه "مغلو او بادشاهی فوځ کښے چه کوم پښتانهٔ وُو هغو کښے خوشحال خان هم بنهٔ کوشش د مغلو د پاره اوکړو ، خو پښتنو فتح بیا مونده ۔ او بادشاهی لښکر ماتے اوکړه ۔ محمد امین خان د یوخو پښتنو چه د ارانو سره د علی مسجد په لار پیښور ته راغلے او نور لښکر چه خوشحال خان هم پکښے وُو د تاترے په لار واپس شو ۔"

دوست محمد خان دا هم لیکی چه "د دے جنګ نه زر پس خوشحال یوه قصیده لیکلے وه چه مطلع ئے دا وه او په قصیده و کښے د "ر" په پتئ کښے درج ده ۔

چه دانا تر نادان لاوژنی بهتر
مګر نهٔ دے دا ژوندون څهٔ معتبر

په دے قصیده کښے یو طرف ته د محمد امین خان او د هغهٔ د اهل و عیال په تباهئ باندِ په ډیره دردناکه طریقه افسوس شوے دے او ورسره د پښتنو د فتحے ذکر هم کوی او پښتنو ته تنبیه او خبردارے هم ورکوی چه هسے نه چه غافل شئ ۔ خوشحال خان ته کهٔ د محمد امین خان په بربادئ افسوس وُو نو ورسره د مغلو په تباهئ د اورنګ زیب وقار ته په صدمے او د

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتون په کامیابئ خوشحالی هم وه۔ اودغه خوشحالی دَدے قصیدے اودځنے نورو اشعار و (چه ددے واقعے ذکر یکښے شوے دے) دَلب و لهجے نه هم ښکاره ده۔

په دے باره کښے زه خپله نه دَسر اولف کیرو دَرائے سره اتفاق کوم اونه دَ دوست محمد خان کامل دَرائے سره۔ دَ دوست محمد خان کامل د "خوشحال خان خټک" دَلوستونه پس سړے مجبوره وی چه په دغه زمانه کښے دَمغلونه دَ آزادئ حاصلولو دپاره چه دَپښتنو او مغلو ترمینځه کوم کشمکش تیر شوے دے اوکوم جنګونه شوی دی چه دے جنګونو کښے دَپښتون دَ آزادئ دَ تحریک مشر دَخوشحال خان په ځائے ایمل خان اوګنړی۔

په دے کښے شک نشته چه دَ مغلو دَ قید او بند نه وړاندے چه کوم خوشحال خان مونږ وینو هغه دَ مغلو یوجاګیردار، طرفدار، نمک خوار او وفادار نواب دے۔ لکه چه دَ فیرنګیانو په زمانه کښے هم دیر پښتانه نوابان اوخان بهادران موجود وُو۔ او دغے نواب خوشحال خان دَ مغلو دپاره پښتنو سره جنګونه کول۔ خو قید نه پس چه کوم خوشحال خان مونږ ته ښکاری هغه بیل سړے دے۔ هغه یو غیرتی پښتون ښکاریے دے چه دَپښتنو په ننګ دَ مغلو خلاف کمربسته ولاړ دے، اودَپښتنو دَ اتفاق او اتحاد دپاره کوشان او سرګردان دے۔ او پښتانه دَ مغلو خلاف په دے جذبه جنګوی چه دَ مغلو دَ غلامئ نه ځان خلاص کړی۔

داسے معلومیږی چه دوست محمد خان کامل دَ قید وبند نه پس دَ نوی کردار خوشحال خان سم نه دے پیژندلے۔ اودغه شان هغه دَ خوشحال خان په صحیح کردار پیښ کولو کښے څه لږه دیره غلطی ضرور کوی۔ کامل صاحب په خپل کتاب "خوشحال خان خټک" کښے دَ خیبر دَ جنګ عنوان "ایمل کی شورش" ایښے دے۔ او په دے خبره ئے دیر زور ورکړے دے چه دا ایمل افریدے نه وُو مهمند وُو۔ او یو پیدائشی جرنیل وُو۔ او دَ خیبر جنګ دَ ایمل خان دَ کمان دَ لاندے شوے دے۔ او خوشحال خان خټک ئے په دے جنګ کښے هم دَ مغلو طرفدار بنائیلے دے۔ داسے طرفدار چه دَ مغل او پښتون په دے تاریخی جنګ کښے هم، خوشحال خان دَ پښتون په مقابله کښے، دَ مغل په پره کښے ولاړ دے۔ او بنهٔ دَ زړهٔ دَ اخلاصه۔

په هټول کتاب کښے کامل صاحب، صرف دَ ایمل خان کردار په داسے طریقه پیښ کوی چه دَ سړی پرے سودا وشی۔ چه دَ مغلو په مقابله کښے دَ پښتون ولی او وُجُب وهنی دَ جذبے په خاطر صرف ایمل خان را اوچت شوے وُو۔ او بنهٔ په نړه دَ مغلو مقابلے نه اودریدے وُو۔ او په

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دے ټوله جګړه کښے خوشحال خان محض یوه جملهٔ معترضه وه چه کله نا کله به ئے د مغلو په مقابله کښے د پښتنو طرفداری اوکړه ـ ګنی په حیثیت مجموعی ئے د پښتنو خلاف، د مغل دپاره هر جائز اوناجائز صرف په دے خیال کړے دے چه هغهٔ ته اود هغهٔ خاندان ته اود هغهٔ قبیلے ته یکښے څهٔ ذاتی مفاد حاصل شی ـ اوچه د مغلو نه د ذاتیاتو په بناء، د قید و بند نه پس متنفرشو ـ نو بیا هم د خیبر په جنګ کښے ئے د محسن محمد امین خان طرفداری، د پښتنو په مقابله کښے بنهٔ په نړه اوکړه ـ خو ایمل شکست ورکړ ـ اوجنګ ئے بائیلو ـ اوچارو ناچار د مغلو سړه خوشحال خان هم د میدان نه اوتښتید و ـ

کامل صاحب شاید چه د خوشحال خان له دے قسمه کردار په دے خیال پیش کوی چه د اورنګ زیب عالمګیر په مقابله کښے ولاړ وُو ـ او اورنګ زیب عالمګیر یو مُسلمان بادشاه وُو، نو هسے نه چه په خوشحال خان څوک بد اووائی ـ چه د مُسلمان بادشاه او بیا د هغهٔ مُسلمان بادشاه مخالفت ئے وکړو کوم چه د هند و پوخ دښمن وُو ـ او په هندوستان کښے ئے د صحیح اسلامی تعلیماتو احیاء غوښته ـ او د چاد پالیسئ په پره کښے چه علامه شبلی د "عهدِ عالمګیری" په نوم یو غټ کتاب هم لیکلے دے ـ

شاید چه په دے وجه کامل صاحب کوشش کوی چه د خوشحال خان د مغلو خلاف د جنګونو په حقله د جواز څهٔ صورت پیدا کړی ـ او دا ثابته کړی چه خوشحال خان خود عالمګیر خاندانی تابعدار او خدمتګار وُو ـ او په مغلو ئے هیڅ بدنهٔ وُو پیرزو ـ خو مغلو چه ورباندِ بلاوجه څو څو کرته ظلمونه اوکړل نو مجبوره شوچه د اورنګ زیب عالمګیر او د مغلو خلاف اودریږی ـ ګنی د مغلو خلاف په قامی جذبه کښے جنګونه صرف ایمل خان کړی دی ـ

کامل صاحب ته دا هم معلومه ده چه پیرو نامتو مؤرخینو اومستند و تاریخدانو ایمل خان آفریدے یاد کړے دے ـ خو کامل صاحب دا کوشش کوی چه ثابته کړی چه ایمل خان مهمند وُو ـ

حُما په خیال دا نقطه هډو دومره اهمیت نه لری چه سړے پرے سرخوږ کړی چه ایمل خان مهمند یا آفریدے وُو ـ حُکه چه دا نقطه په حیثیت مجموعی، نهٔ د پښتون قوم څهٔ لاینحله مسئله حل کولے شی اونهٔ د خوشحال خان ختک په تاریخی شخصیت څهٔ اثر یا رنړا غورزولے شی ـ کهٔ ایمل خان مهمند وُو، یا آفریدے خو ظاهره ده چه د مغلو مخالفت ئے بنهٔ په نړه کړے دے ـ او خوشحال خان ختک د ایمل خان او دریاخان د دے قامی خدمت پیره پیره ستائنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کړے دہ ۔ او تعریف ئے کړے دے ۔

بهرحال زهٔ کامل صاحب سړه اتفاق کوم چه ایمل خان مهمند وُو ۔ ځکه چه خوشحال خان ختک خپله دوه ځایه هغهٔ ته مهمند وئیلے دے ۔ هغه دوه ځایونه دا دی :۔

د ایمل فتور آغاز شو د مهمندو هم عنان شوم

افریدیو، شنوارو، زړهٔ په اُلجه بنهٔ کړو ایمل خان مهمند په ننګ په اُلجه دواړه

د خوشحال ختک په بخره خو یو ننګ دے

تر نظر پورے ئے هیڅ ده دُنیا واړه

خوشحال خان یو بل ځائے کښے د خیبر د جنګ په حقله وائی ؎

دویم د محرم ورځ د شنبے کال د غفج نهٔ غشی وُو، نه تورے چه مغلو اوکړو ۱۳۵۳ هجری

شنوارو ۔ افریدیو ۔ د ډے کے خوارو مهمند و

روپئ په خروار یوړے، هران واړه په پنج

او داهم وائی ؎

څهٔ شنواری، څهٔ مهمند، څهٔ افریدی وُو

چه ئے مات کړو د صوبے واړه لښکر

او د دے قصیدے خاتمه په دے بیت کوی ؎

مستجاب مهمند که چرګه د مغل ده

زهٔ خوشحال ختک خو بازیم ځائے م غر

که چرے خوشحال خان په دے جنګ کښے ونښتیا، د زړهٔ د اخلاصه، د پښتون خلاف د مغل په پره کښے جنګ کړے وے، او بیا دا جنګ ئے بائیللے وے نو شاید چه اول خو به ئے په دے موضوع هډو قصیده نهٔ وه لیکلے ۔ ځکه چه د دے جنګ بائیلات لکه څومره چه د محمد امین خان دپاره شرم وُو، دغسے د خوشحال خان دپاره هم شرم وُو ۔ دواړو شکست خوړلے وُو ۔ او کهٔ نه، قصیدهٔ ئے خامخا لیکله نو د خوشحال خان ختک نه دا اُمید کیدے شی چه په قصیده کښے به ئے ذکر کړے وے چه جنګ م د مغل دپاره، د پښتون خلاف، د یو محسن په خاطر بنهٔ په نره اوکړو خو ماتے م اوکړه ۔ او شکست م اوخوړو ۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوماتہ داسے معلومیږی چہ یہ دے جنګ کښے خوشحال خان د سیاست نہ کار اخستے دے۔ د قید وبند نہ پس، هغہ مغلوتہ یہ زړہ ښہ زړہ کښے خو تکید و۔ اوچہ د لنګر کوټ د قلا یہ بارہ کښے خپل دوست او محسن مهابت خان ورتہ د تعاون د پارہ اووے نو خوشحال خان ورتہ صفا انکار اوکړو۔

کہ خوشحال خان خپل محسن مهابت خان تہ صفا انکار کولے شو نو هغہ خپل محسن امین خان تہ هم صفا ویلے شول چہ د پښتنو خلاف، د مغلو د پارہ جنګ ونہ شم کولے۔ خو هغہ داسے اونہ کړل نو یہ دے کښے مصلحت وُو۔ خوشحال خان یہ ظاهرہ د مغلو سرہ شو خو پټ راز باز ئے د پښتنو سرہ وُو۔ او دغہ وجہ دہ چہ د پښتنو یہ فتح هغہ د خوشحالئ اظهار کړے دے او خپلہ فتح ئے کنړلے دہ۔ او قصیدہ ئے پرے لیکلے دہ۔ او ویلی ئے دی چہ زہ صرف یہ دے جنګ کښے د پښتون یہ ننګ ولاړ وُم۔ او محض د پښتون یہ ننګ م دا کار کړے دے۔ او ایمل خان د ننګ او لجہ دواړہ د پارہ جنګ کړے دے۔

یہ قصیدہ کښے خوشحال خان، مستجاب مهمند تہ، چہ د زړہ نہ د مغلو سرہ وُو، بد ویلی دی۔ هغہ وائی چہ مستجاب مهمند خو د مغلو چرګہ وہ۔ او ورسرہ ځان تہ باز وائی۔

یہ قصیدہ کښے خوشحال خان دا نہ وائی چہ دا جنګ محض د ایمل خان مهمند پہ مشرئ کښے شوے وُو۔ بلکہ هغہ یہ یو بل ځائے کښے، ایمل خان او دریاخان دواړہ یوشان ستائی۔

اوس کہ مونږ د کامل صاحب او منوچہ یہ دے جنګ کښے لکہ د مستجاب مهمند پہ شان، خوشحال خان هم پټ او آشکارہ، د پښتنو خلاف د مغلو ملګرے وُو، او بیا داسے کلک ملګرے چہ یہ قول د کامل صاحب "یہ بادشاهی لښکر کښے چہ کوم پښتانہ شامل وُو۔ د خوشحال خان نہ علاوہ، نور د تولو د جنګ نہ کنارہ کشی کولہ۔ صرف خوشحال خان او د هغہ سړو، د زړہ د اخلاصہ د مغلو یہ پرہ کښے جنګ کولو۔ خو هیڅ ئے ترے جوړہ نہ کړہ"۔ نو پس د شکست نہ یہ خوشحال خان یہ کومہ ځلہ ځان ستائیلو او ځان تہ بہ ئے باز وے۔ او د کامل صاحب د خیبر د معرکے هیرہ، ایمل خان متعلق بہ ئے وے ویل چہ هغہ د ننګ او د لجہ یہ خاطر دا جنګ کړے وُو او صرف خوشحال خان د پښتون د ننګ یہ خاطر یہ دے جنګ کښے شامل وُو۔ حقیقت دا معلومیږی چہ د خیبر یہ جنګ کښے د پښتنو پټ جرنیل، خوشحال خان خپلہ وُو۔ او ایمل خان او دریاخان د دے جنګ ظاهري مشران وُو۔ خوشحال خان تہ دے زور نہ ورکوی چہ ایمل خان او دریاخان آفریدی وُو، یا مهمند، خو د دوئی د ملګرتیا، مړانے، شجاعت او بہئ ځوانتوب تعریف ضرور کوی۔

د خوشحال خان هغہ مشهورہ قصیدہ چہ سرلے د دے مصرعے نہ شروع کیږی ہے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیاله کومه را پیدا شو دا بهار

مونږ ته د ایمل خان او دریاخان په حقله دا دوه یادګار شعرونه په ګوته کوی ـ

ایمل خان دریاخان دواړه مړګ ئے مړ وے
هیڅ تقصیر دواړو اونکړو وار په وار
د خیبر درې ئے سره کړله په وینو
په کړاو په ئے هم سره وان کړو د هندو کار

په دے پورتنئ قصیده کښے، خوشحال خان چه د پښتنو د مغلو خلاف کوم شپږ د بری او فتحے جنګونه ستائیلی دی، په دے فهرست کښے د خیبر جنګ اول راځی. او په دے فتح هغه فخر کړے دے. که دا چرته د هغه، د مغلو په پره کښے، او د پښتو خلاف، چه په قول د کامل صاحب صرف ایمل خان ئے قیادت کولو، خپل شکست ؤو. نو دا جنګ به هغه بیا بیا په فخریه څه ته ستائیلو. او د ایمل خان بے ئے دومره تعریفونه څه ته کول، خو حقیقت ها نه ؤو ـ

پاتے شو دا دلیل چه په جمرود کښے، خوشحال خان خپل محسن، محمد امین خان ته صلاح ورکړه چه پښتنو سره جنګ یا سختی نه ده پکار. دا غریب خلق دی. خو چه هغه ورته پیغور ورکړو نو خوشحال خان د زړه د اخلاصه، د پښتنو خلاف او د مغلو په پره کښے جنګ ته تیار شو. او د دوستئ حق ئے ادا کړو. نو دا دلیل ما ته کمزورے بنکاری.

معلومیږی دا چه خوشحال خان چه محمد امین خان ته په روغ نیتئ صلاح ورکړه. او د مغلو د جنګ نه ئے منع کړو. او محمد امین خان د هغه خبره او نه منله، بلکه بد ئے پرے او کنړل نو دا د خوشحال خان د پند نه پس محمد امین خان ته د شکو پند ورکړو. او د پښتنو قبائیلو سره ئے د مغلو د تباهئ دپاره سازش اوکړو، او بښه کامیاب سازش. د انګریزئ مثل دے چه په جنګ او مینه کښے هرڅه روا دی. د قید نه پس د مغلو سره د خوشحال خان پت جنګ شروع شوے ؤو. او خوشحال خان د پښتنو د بری او فتح دپاره عزم کړے ؤو. د خیبر جنګ د خوشحال خان د تدبر او سیاسی حکمت عملئ نتیجه وه. مغلو خلاف اولنئ فتح وه. او دا فتح د هغه د تدبر او سیاسی حکمت عملئ نتیجه وه.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اسلام - د مغلو شهنشاهیت، خوشحال خان او پښتانه

دلته یوه بله مسئله هم حل کول غواړی - او هغه دا چه د خوشحال خان د پاره د مغلو د شهنشاه اورنګ زیب عالمګیر، چه مُسلمان بادشاه وُو مخالفت جائز وُو او کړ نه. نو دا یوه باریکه نقطه ده - او دا نقطه لږ وضاحت غواړی -

اسلام د شهنشاهیت، بادشاهت او سرمایه دارانه اوجاګیردارانه نظام د لرے کولو د پاره راغلے وُو - اسلام اصل نسل ته هیڅ وقعت نه ورکولو - په اسلام کښے هر مُسلمان د بل مسلمان سره ورور دے - اسلام کښے د شرافت معیار، اصل او نسل، مال او دولت نه وُو - بلکه تقوٰی او اخلاق وُو - اسلام یو اخلاقی نظام دُنیا ته راوړے وُو چه بنیاد ئے توحید وُو - د قیصر او کسرٰی شهنشاهیت اسلام دړے وړے اوړے وُو - او سرمایه دار ته اسلام د مرګ پیغام وُو - خو د خلفائے راشدین نه پس چه کوم اسلامی سلطنتونه جوړ شول هغوئ لکه د قیصر او کسرٰی په شان بیا شهنشاهیت قائم کړو - او هم په هغه اصولو سره روان شول - په کومو سرمایه دارانه اصولو چه د قیصر او کسرٰی حکومتونه چلیدل، دا په حقیقت کښے د اسلامی طرز د حکومت مخالفت وُو - او اسلام چه د معاشرے د پاره کوم اصول وضع کړی وُو - د هغے اصولو، د اسلام په نوم او د خدائے تعالیٰ په نوم په جارماتول وُو - سپین ته تور وئیل وُو او تور ته سپین - ورځ ته شپه وئیل وُو او شپے ته ورځ -

د دے مختصر تمهید په رنړا کښے اوس مونږ د مغلو د شهنشاهیت او د مغلو د حکومت او د مغلو د پښتنو سره کشمکش او د جنګونو جائزه اخلو -

د مغلو نه وړاندے په هند کښے پښتنو خپل بادشاهت او شهنشاهیت قائم کړے وُو - مونږ دا نه وایو چه په هند کښے د پښتنو شهنشاهیت یا بادشاهت په اسلامی اصولو چلید و - یعنی په هغه اسلامی اصولو، په کومو چه د خلیفه عمرؓ اسلامی خلافت قائم وُو - خو دومره قدرے خبره ضرور وه چه د هند د پښتنو بادشاهانو په زمانه کښے اسلام په هند کښے په سُرعت سره خوریدو - او د هغوئ په زمانه کښے، یا په زور یا په رضا هندوان په یو درز مُسلمانیدل - او هغوئ اسلام د هندومت ضد کنړلو - اسلام توحید وُو، او هندومت شرک وُو - او هغوئ هیڅرے دا کوشش نه وُو کړے چه د اسلام او کفر ترمینځه محض د خپلو سیاسی اغراضو په خاطر صلح او کړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اوَ دواړو مذهبونونه یومشترک مذهب جوړ کړی اودهندوانو راجپوتو سره د سیاسی اغراضود پاره داسے خوښه کړی چه رشتے ورسره اوکړی. او حکومت کښے هغوئ حصه دار او برخے خورکړی. اوباقی مُسلمانان دهغوئ په زور غلام اوتابع اوساتی.

خو مغلوچه د پښتنو شهنشاهیت په هند کښے ختم کړو او بابرچه مغل وُو. ابراهیم لودهی ته چه پښتون وُو، د پانی پت په اولنی جنګ کښے شکست ورکړو. نو د پښتنو د نسلی شهنشاهیت په ځائے په هند کښے د مغلونسلی شهنشاهیت قائم شو. په دے کښے د مُسلمان او د غیر مُسلمان سوال نهٔ وُو. پښتانهٔ اومغل دواړه مُسلمانان وُو. خودد واړو بادشاهی او ملوکانه اغراض بیل وُو. پښتنو په هند خپله بادشاهی غوښتله اومغلوخپله. اوپه دے وجه دواړه نسلونه د یوبل سره برسرپیکار وُو. په دے کشمکش کښے د اسلامی او غیر اسلامی سلطنت سوال نهٔ پیدا کیدو. دا د دوه مُسلمانانو قومونو د هند د بادشاهت حاصلولو دپاره د ډیر وجنګ وُو. اوپه دے وجه یادواړه په حق وُو یا دواړه په ناحقه. یا دواړه ناجائزاو ناروا کول یا دواړو کول. نهٔ د پښتنو شهنشاهیت د حضرت عمرؓ خلافت وُو اونهٔ د مغلو شهنشاهیت د حضرت عمرؓ د خلافت نمونه وه.

البته مغلوچه د پښتنو نه حکومت واخستونو محض د خپلو ملوکانه اغراضود حاصلولو دپاره اودخپل حکومت د پخولو دپاره ئے د اسلام اوکفر سره خپلوکښے صلح اوکړه اود اسلام اود کفر نه ئے یومشترکه دین جوړکړو چه اکبر یه ورته دینِ الهی وے. اوداخالص الحاد وُو.

د مغلوحکومت بحیثیت مجموعی پښتُو اودشرابو دلداره وُو. اوهغوئ چه په هند کښے د کوم نوی ثقافت بنیاد کیښودو، دا اسلامی ثقافت نهٔ وُو. بلکه د اسلام او د کفر امتزاج وُو. د مغل مُسلمان او د هندو راجپوت د مشترکه ثقافتونو یو معجونِ مرکب وُو.

د مغلو په زمانه کښے هندوانو ته موقع په لاس ورغله چه د حاکم قوم خوئ بوئ او اخلاق بدل کړی اوپه خپل خوئ بوئ او اخلاقونے راواړوی. پښتنوچه د مغلو د شهنشاهیت مخالفت کولو نوهغوئ په دے کښے حق په جانب وُو. ځکه چه مغل ته هندو راجپوت د مُسلمان پښتون نه زیات نزدیک وُو د هندو راجپوت سره د مغل د ویني رشته اوخپلولی وه. اومغل بادشاه به اکثر د پښتون مُسلمان د کوشالئ دپاره یا بیربل را اولیږلو، یا مان سنګھ اویاچوتهٔ مهاراجه جسونت سنګھ یا راجه رام سنګھ.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتانه، خوشحال خان او د مغل شهنشاه عالمګیر سره کشمکش

د پورتنۍ بحث په رڼا کښے به اوس موږ د خوشحال خان او د عالمګیر د کشمکش جائزه واخلو۔ خوشحال خان د عالمګیر یو جاګیردار او منصب دار ؤو۔ او ښځه یې راستئ د هغهٔ خدمت کولو۔

لکه چه وائی ؎

لکه زهٔ ؤم په راستئ په دو راستئ کښے
د مغل په خدمت نهٔ ؤو بل افغان

خو د اورنګ زیب نه پس هم دغه جاګیردار او منصبدار خوشحال خان د اورنګ زیب د ذات او د اورنګ زیب د شهنشاهیت سخت دښمن شو۔ ځکه چه دهٔ ته معلومه شوه چه د مغل په شهنشاهیت کښے د پښتون مسلمان هیڅ عزت۔ هیڅ وقار او هیڅ قدر نشته۔ مغل، پښتون محض یو مړے او غلام ګڼی۔ او هیڅوړے مغل پښتون ته د ځان سره یو حیثیت نهٔ ورکوی۔ هغه پوهه شو چه پښتون که د مغل دپاره هرڅهٔ اوکړی خو د مغل په نظر کښے د پښتون نه هیڅوړے مغل نهٔ شی جوړیدے۔ لکه چه وائی ؎

که هزار کاندِ پښتون مغل به نهٔ شی
بویه داچه د زړهٔ اوباسی دا خیال

اوبیا وائی ؎

اورئ پورے په منصب په نوکرئ شه
چه تر فهم و تر نظر د مغل کک یم

د اورنګ زیب عالمګیر متعلق چه د قید په دوران کښے او پس له قیده خوشحال خان کومه رائے قائمه کړے وه هغه د دے اشعارو نه واضحه ده ؎

څهٔ یوازے په ما نهٔ ده که ژوندے وی
اورنګ شاه بادشاه به ډیر کاندی پائمال
دهٔ په لاس د بخت نصر ظلم واخست
زهٔ د دهٔ د لاسه بند لکه دانیال
حق ناحق ئے چه څوک راشی په منګل کښے
خواروی ئے غم ئے نهٔ وی ، د وبال
چه په پلار باندِ ئے نهٔ ده صرفه کړے
په نور چا ئے څهٔ صرفه، څهٔ ئے اشکال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ښځتیا وایم دا هسې بادشاه نهٔ وی
واړه کارئ د رهزن دے، د دار وال
یو په ظلم، یو په مکر نور څوک نشته
کهٔ حجاج وی کهٔ یزید وی د دهٔ سیال
دهغهٔ بادشاه به نمونځ دَغاړې طوق شی
چه دے نهٔ لری د عدل اعتدال
نهٔ انصاف شته، نهٔ تمیز، نهٔ نور د عدل
په دربارئ تاریکی ده، غول و غال
په دورات د دے بادشاه هو ښیاد هغه دئ
چه وطن که په فرنګ یه پرتګال
په خوشحال باندې خو وار دے دا دے راغے
خدائ دِ درست جهان ساتی د دئ جیپال
په یو بل ځائ کښے د اورنګ زیب متعلق وائی ـــه
د بادشاه د بدنیتئ کمے نشته!!!
په بدنیت ئ آزار واخست د خپل پلار
څکه اوس د چا باور وربانډ نهٔ شی
هم بدنیت دے هم بدقول هم مکار
بله هیڅ لیدله نهٔ شی په دامینځ کښے
یا مغل د مینځ ورک یا پښتون خوار

د خوشحال خان د دے پورتنو اشعارو نه معلومیږی چه اورنګ زیب یو خدا ترس، منصف عادل، صاف زړهٔ او سپیڅلی او سپین څلے مسلمان بادشاه نهٔ ؤو. بلکه هغه یو داسے مسلمان ؤو چه د بادشاهئ حاصلولو د پاره ئ خپل پلار قید کړے او خپل روټره ئ وژلی ؤو. او د مذهب په ظاهر یا تو یعنی په مونځ روژه ئ د خلقو د غلولو د پاره مخ سپین کړے ؤو. خو لکه کیږو چه وائی په حقیقت کښے دهغهٔ زړهٔ د مذهبی منافقت نه ډک ؤو. یعنی هغهٔ مذهب د خپل ملوکانه اغراضو د حاصلولو د پاره یو آلهٔ کار جوړ کړے ؤو. د خوشحال خان تر نزده د مذهب د پردے په شا د اورنګ زیب اصلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کردار، دَیو ظالم او ناترسه غاصب انسان وُو. چه هر عمل ئے دَ شر نه ډک وُو.

مونږ به دَ خوشحال خان دے رائے ته ډیر وقعت نه وُو ورکړے. ځکه چه مونږ ته معلومه ده چه دَ خوشحال خان دَ اورنګ زیب عالمګیر سره ورانه شوے وه او په دے وجه شاید چه دَ خوشحال خان دا رائے په ذاتیاتو مبنی وی. خودَ خوشحال نه علاوه زمونږ درویش او صوفی شاعر عبدالرحمان بابا هم چه خوشحال خان پسے نزدے تیر شوے دے، دَهغے وخت دَ مغلو حاکمانو دَ لاسه دا سے سر تکوی ـه

په سبب دَ ظالمانو حاکمانو ∴ کوراوکوراو پیښور درے واړه یو دی

نو دَے نه معلومیږی چه دَ خوشحال خان په رائے کښے ضرور څه صداقت شته.

خبره دا ده چه عام خلق دَ مذهب دَ روح نه نا واقف وی. او هغوئ دَ مذهب په ظاهریاتو او رسوماتو پسے ځی. نوکه یو سړے ظاهری شان و شوکت دَ یو مذهبی سړی جوړ کړی نو باطنی عمل که ئے هر څه وی، خو په خلقو کښے په ښه سړی او په مسلمان سړی مشهور شی. دَ اورنګ زیب عالمګیر دَ ښے مسلمانئ چرچه هم په دے وجه شوے وه چه هغه خپل ظاهری شان و شوکت دَ ښه مسلمان جوړ کړو نو خلقو دَ هغه ټولے ګناهانے معاف کړے. ځکه چه شرعه هم ظاهر کوری او خلق هم ظاهر کوری. خو حقیقت څه بل شان وُو.

دَ خوشحال خان په زمانه کښے دَ پښتنو او دَ مغلو جهګړو ډیر زور نیولے وُو. او خوشحال خان چه دے قامی جنګ کښے دَ مغلو نه راواړید و او دَ پښتنو په ننګ ئے توره اوتړله. نو هغه په دے کښے حق بجانب وُو. دَ خوشحال خان خیال وُو چه مغل پښتنو ته دَ حقارت په نظر کوری. او پښتون خپل سیال نه ګڼری بلکه خپل مرئے او غلام ئے ګڼری. په دے وجه پښتون ته پکار دی چه مغل دَ خپل وطن نه اوباسی او دَ مغل دَ غلامئ نه ځان خلاص کړی.

اول خولکه چه ما ذکر کړے دے شهنشاهیت او بادشاهت دَ اسلام په ضد کښے ولاړ وُو، په دے وجه هغه خلق چه دَ مسلمان بادشاه په نوم دَ اورنګ زیب دَ ملوکیت پره کوی. هغه دَ یو غیر اسلامی سیاسی نظام پشتی کوی. مُسلمان او بادشاه په حقیقت کښے اجتماع ضدین دی. بادشاهت دَ مسلمان دپاره ناروا دے. په اسلام کښے صرف خلافت روا دے او دا خلافت دَ یو منتخب شوی امیر پکار دے. او دَ امیر انتخاب به هم صرف صاحب الرائے مسلمانان کوی چه تقوی او اسلامی اخلاقی ژوند کښے ثانی نه لری. خو خود غرضه خلقو ورو ورو دَ اسلام دَ سیاسی نظام نه بادشاهت او ملوکیت جوړ کړو. او هغه هم موروثی ملوکیت، چه په اسلام کښے سروپ ناروا دے. او بیا دا ناروا ملوکیت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ئے دَ اسلام جزو او گرځولو۔ او دَ مُسلمان بادشاه کلمه دا سے عام شوه چه دا د مُسلمان دپاره د ایمان جزو شو۔ او څوک چه دَ مُسلمان بادشاه دَ خرافاتو نه پاک حکومت نه منی۔ د هغهٔ قتل روا کښلے شی۔ په مُسلمانانو کښے دا ذهنیت حقیقت کښے دَ مُسلمانانو دَ زوال سبب گرځیدلے دے۔ او مُسلمان ملت ئے ذلیل کړے دے۔

خوشحال خان خپله هم دَ قید و بند نه وړاندِ هم له دے قسمه مُسلمان بادشاه تابع وُو۔ او د دا سے مُسلمانانو بادشاهانو دَ ملوکیت مثے وے۔ کهٔ هغهٔ په ژوند کښے څهٔ غلطی کړے وه نو هغه ئے د قید و بند نه وړاندِ کړے ده۔ چه د یو غیر اسلامی شهنشاهیت دَ نا روا سیاسی نظام پُښتی ئے کوله۔ دَ قید و بند نه روستو چه په هغهٔ کښے یو نوے احساس او نوے شعور پیدا شوے دے۔ دا دَ ستائنے وه دے۔ دَ دے نوی سیاسی شعور په برکت هغهٔ دَ مغلو دَ نا روا نسلی شهنشاهیت چه دَ مُسلمان بادشاه دَ پردے دَ لاندِ دَ حیوانی ظلم او زور دویم نوم وُو خلقو ته عریان او بنائیلو۔ او خلق دَ مغلو په شهنشاهی منافقت پوهه شول۔ او دَ مغلو دَ زور ظلم نه ئے دَ ځان خلاصولو دپاره مردانه کوششونه شروع کړل۔ خوشحال خان دَ اورنگ زیب دَ نسلی شهنشاهیت متعلق وائی ؎

اطاعت دَ اولو الامر حُکه نهٔ کړم
خلیفه دَ زمانے په زړه کافر دے

پښتون مُسلمان به دَ مغل مُسلمان دَ اسلامی رورولئ او اخوت هله خیال ساتلو۔ کهٔ چرے دَ اسلام دَ اصولو او تعلیماتو مطابق، مغل مُسلمان، پښتون مُسلمان ته دَ ځان سره یو شان اسلامی حیثیت او اقتصادی حیثیت ورکړے دے۔ خو معلومه ده چه دَ مغلو شهنشاهیت خهٔ نورے تقاضے وے او داچه نور هرخهٔ وے خو اسلامی نهٔ وے۔ خوشحال خان دَ مغلو دَ شهنشاهیت په اصولو جوړ، تش په نوم

ketabton.com - The Digital Library

دَخوشحال خان خیال وُوچه دَمغل هیڅ حق نشته چه دَپښتون په وطن دِ قابض وی ۔ او پښتون دِپه زور ظلم مړئے اوغلام ساتی ۔ خوشحال خان مغل دَ پښتون دَ وطن نه ایستل غوښتل ، اوپه آخری عمر کښے دا دَ هغهٔ یوه عقیده جوړه شوے وه لکه چه وائی ؎

دا نادره عقیده لکه څما ده

لا عجب کهٔ بل پیدا هسے افغان شی

دَ نمونے په طور دلته دَ خوشحال خان څنے هغه اشعار وړکوم ۔ دَ کومونه چه دَ خوشحال خان دَ دے نادرے عقیدے وضاحت کیږی ۔ یعنی په دے لاندِ اشعارو کښے هغهٔ دَ مغلو او دَ اورنګ زیب نه دَ نفرت اظهار کړے دے ۔ دَ پښتنو بے اتفاقی ئے ستاسِلے ده ۔ اوپه خپل ننګ ئے فخر کړے دے ۔

چه مغل و ته م اوتړله تورهٔ درست پښتون مِ وعالم وته ښکاره کړو
څتک کله په شماره په حساب یاد وُو څتک ما دَ اولسونو په شماره کړو

اتفاق په پښتنو کښے پیدا نهٔ شو
کښی ما به دَ مغل گریوان پاره کړو

قدیمی دَ پښتنو جهل وخرتوب وُو اوس په طمع دَ حرص دردمی له میانه
کهٔ ر پښتیا وایم شیرشاه داهسے نهٔ وُو
لکه مونږ ه یو پیدا له کوهستانه

لا تر اوسه ئے مازغهٔ په قرار نهٔ دی چا چه ما سره وهلے سر په سنګ دے
لا په خوب کښے په لوزه پریوزی له کټه چه دَ چا تر غوږ څماد تورے شرنګ دے
کهٔ په دا دورم مِ کورے هغه زهٔ یم چه مِ داغ په خاطر اینے دَ اورنګ دے
درست جهان مِ و مغل وته خیبر کړو څنے په څنے پښتانهٔ وته قلنګ دے

څنے زهٔ لوئے دعوی لرم په زړهٔ کښے
ولے څهٔ کړم چه پښتون وایره بے ننګ دے

کهٔ مِ عمر په شماره تر شپیتهٔ تیر دے لا په کار کښے دَ سورئ هسے اُزبک یم
دَ افغان په ننګ مِ اوتړله تورهٔ
ننګیالے دَ زمانے خوشحال ختک یم

هره چار دَ پښتانهٔ تر مغل بنه ده اتفاق ورځنه نهٔ شته ډیرا رمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بهلول او د شیرشاه خبرے آوړم — چه په هند کښے پښتانه وو بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ ځے بادشاهی وه — چه په دوی پورے درست خلق وو حیران
یا هغه پښتانه نور وو داځه نور شول — یا د خدائے دے اوس داهے شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومی!
زوهخوشحال به دوباره شی په دا خوان

ومغل وته چه کورم، هغه هے مغل نشته — د توړے وارے تیر دے اوس ورپاتے یو قلم دے
پښتون په زړونیسی په فریب په تیتالونو — په مائے اثر نه شی لا په ما د خدائے کرم دے
نه مچ یم نه قارغه یم چه په کړو مړو کرځم — یا بازیم یا شاهین یم په خپل شکار زړه خرم دے
که ماغوندِ نورهم وے په دے کار به پیر خوشحال وُم — چه ماغوندِ څوک نشته څکه پروت را باندِ غم دے

ایمل خان دریاخان دواړه په ښه رنګ تیر شول په ننګ کښے
د دواړو په فراق کښے، خُما تل آه و ماتم دے!

پښتانه لکه مکس ورباندِ کرځی — ورته ایښے د مغل د حلوا تال دے
نورے واړه تکیے وار په وار خوړے شوے — اوس په مینځ کښے یو کوم د ذوالجلال دے

ایمل خان دریاخان دواړه خوردبین لاهل
اوس خو پاتے ومغل ته یوخوشحال دے

اورنګ زیب را ته یو کال وشو چه پروت دے — په صورت حیران، پریشان په زړه افګار
کال په کال امرایان دی چه پریوځی — چه طوفان شوے لښکرے کوم ئے شمار
خزانے د هندوستان دی راخوړے شوے — سره مُهران دی ننوزی په کُهسار
پښتانه چه نورځه فکر کا نا بود دی — بے له تورے خلاصے نشته په بل کار
ترمغلو پښتانه په تورہ ښه دی — که په پوهه پښتانه وے څه هوښیار
اولسونه چه سند وبله، اوکه — بادشاهان ورته سجود کاندی اختیار
زړه تنها پکښے په غم د نام ونګ یم — یوسف زئ فراغت په کښت و کار
آفریدی، محمند، شنواری کوره څه کا — د مغلو لښکر پروت په ننګرهار
په لښکر لښکر نارے شوم ورته ستړے — دا کا زړه را ته نه مهیرک وائی نه څوک
مړک خُما په پوهه بهتر تردا څوندونه دے — د عزت سره چه نه وی زیست روزګار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

همیشه به په جهان کښے ژوندے نۀ دی
د خوشحال ختک به پاتے شی ر وزگار

ومغل و ته به هسے کار بنکاره کړم — چه راضی راڅخه روح د فرید خان شی
اورنګ زیب بادشاه زړۀ ډک په لاهور راغے — کوره کاندۀ به ځوک وران ځوک آوبان شی
په جهان د ننګیالی دی دا دوه کاره — یا به اوخوری ککړی یا به کامران شی
د مزریو مړ نتوب په لښکر نۀ دے — مټے ئے هر کله یوازے په خپل ځان شی

آزادی تر بادشاهئ لا تیری کا
چه د بل د حکم لاندے شی زندان شی

پښتانۀ واړه بدخوئ دی — کور په کور کاندے غوږ زئ
یوچه سرکاندی په پورته — بل ئے اووهی مغز ئ
هغه زیست چه د عزت له مخه نۀ وی — چه ئے کا په هغه زیست پورے هک پک یم
په خپل نام ونګ چه راشم لیونے شم — خبردار کله په سود وزیان د لک یم
هر پښتون چه د مغلو نوکری کا — که د زده د هغے واړو بهترک یم
چه منصب د مغل خوړ ملک ژوم — چه منصب د مغل نشته اوس ملک یم
د فرمان د پروانے حکم ئے نشته — شکر دا چه په خپل حکم په خپل وک یم
نه م کار په خاص وعام نه په دیوات شته — نۀ په در ولاړ د هر یوۀ مردک یم
آزادی ده په ساده سپینه جامه کښے — خلاص له غمه د زربفت او د میلک یم
د وښو جوړے هسے راته ښے شوے! — وائے ناست په محلونو د آهک یم

که اوګړه د بتوشته په شلمبو سپینه
د مغلو پلاؤ پاتے د پیر پرے ډک یم

۱- پښتانۀ په عقل پوهه چه ناکس دی — کوته سپی د قصابانو د جوس دی
۲- بادشاهئ د مغل په زړو باټیله — د مغل د منصبونو په هوس دی
۳- اوښ له باره په خپل کور کښے ور غلے — په اولجه د اوښ د غاړے د جرس دی
۴- د نفرین لائق په نام سړے بنی دی
له اوله که دا نور درپسے پس دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

علامه اقبالؒ په "جاوید نامه" کښے د پښتون د خوئ بوئ د بیان په سلسله کښے د خوشحال خان خټک په پورتنو اشعارو کښے د د ریم نمر شعر ترجمه کړے ده ؎

اشترے یابد اگر افغانِ حُر با یراق و ساز و با انبارِ دُر
ہمّتِ دونش ازاں انبارِ دُر
میشود خوشنود با زنگِ شُتر

دا وه مغل او اورنګ زیب طرف ته د خوشحال خان خټک رویه. او هغه دا رویه پس له تجربے او د مغل سره د زیست روزګار اختیار کړے وه. هغه مغل بنه پیژندلے وو. او هغه پښتون هم بنه پیژندو. د مغل سره د هغه د پلار نیکه له وخته معامله وه. او په معامله ګے پیژندلے وو. او د پښتون د فطرت نه خو هغه خود واقف وُو چه خپله پښتون وُو. او شپه او ورځ په پښتنو کښے اوسید و. او د ورسره ګے کار روزګار، جنګ جګړے، جرګے او مرکے وے. ځکه خو علامه اقبالؒ خوشحال خان ته شاعرِ افغان شناس وائی. او صحیح وائی. ځکه چه خوشحال خان که پښتون نه پیژندلو نو بیا هډو پښتون تر اوسه چا پیژندلے نه دے.

خوشحال خان به د مغل د مذهب او اسلامی رورولی لحاظ هله ساتلو، که چرے مغل په اصلی معنو کښے د اسلام په بنیادی اصولو عمل کولے. یعنی د اچه هر مسلمان د بل مُسلمان رور دے. او د بل مُسلمان برابر دے. او د اسلامی رورولی تشه د خوے رورولی نه ده. بلکه د اسلامی رورولی د یو شان سیاسی او اقتصادی حیثیت ده. په دے رورولی کښے ټول مُسلمانان یو شان دی. نه پکښے څوک مغل شته، نه افغان. نه ترک شته نه ایرانے. نه عرب شته، نه عجم. نه پکښے څوک بادشاه شته نه فقیر. اسلامی رورولی ټولو مسلمانانو ته د یو والی او عالمګیر اخوت سبق درکوی. او ټول مُسلمانان د توحید د حفاظت او اشاعت دپاره په یو صف کښے اودروی. لکه علامه اقبالؒ چه وائی ؎

ایک ہوں مسلم حرم کے پاسبانی کے لئے
نیل کے ساحل سے لے کر تا بخاکِ کاشغر

د اسلام د بے نظیره رورولی او برابرئ مثال دا دے، که د غلام د سورلی وارثی نو هیڅ پرواه نشته، که د ټول عجم شاهان، امیران او نوابان د قیصر او کسرٰی سره د اسلام د خلیفه په انتظار کښے ولاړ وی. څلونه به د خپلے سورلی د وار مطابق د سور غلام د اوښ مُهار نیوے او د قیصر عظیم الشان شاهنشاهی دربار ته یې یا ده تلل فخر ګڼړی. او ټولے دُنیا ته به د اسلام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

علمبردار سبق ورکوی چه د اسلام د ساده خود ذی شان تمدن د کامیابئ راز د مسلمانانو د برابرئ او مساواتو او دورولئ او اخوت په اصول کښے تړلے پروت دے۔ اسلام کښے د انسان انسانی حیثیت یو دے۔ اسلام د وقارِ آدم او د تکمیلِ اخلاق دپاره راغلے دے۔

په پورتنی مثال کښے مونږ په اسلام کښے د حیثیت د برابرئ ذکر اوکړو۔ اوس په اسلام کښے د معاشی او اقتصادی برابرئ مثال هم واورئ۔ د مُسلمانانو خلیفه د یمنی څادرونو نه جوړه نوے جُبّه اغوستے ده۔ دا څادرونه مُسلمانانو ته په مالِ غنیمت کښے راغلی دی۔ اوپه ممبرولاړ دے۔ مُسلمانانو ته وعظ او نصیحت کوی۔ په دے کښے د جمعے نه یو مسلمان پاسی اوخلیفه ته د ټولو مُسلمانانو په وړاندے وائی۔ مونږ نه ستا حکم منو، نه ستا وعظ آوړو۔ خلیفه ورته په حیرت کښے ټپوس کوی چه ولے؟ مُسلمان ورته وائی ځکه چه تا د مُسلمانانو په مال غنیمت کښے خیانت کړے دے۔ یعنی څادرونه چه راغلی وُو نوستاهم یوڅادر رسیدلے وُو۔ اوتهٔ د نورو نه په قد کښے لوئے هم ئے۔ نو د نورو مُسلمانانو ورته جُبه جوړه نه شوه۔ اوستا ورته جُبه جوړه شوه۔ دا ځکه چه تا خیانت کړے دے۔ اوځان ته دِ دیو په ځائے دوه څادرونه په ویش کښے بیل کړی دی۔ خلیفه خپل ځوئے ته مخ اړوی، چه جواب ورکړه۔ د خلیفه ځوئے مُسلمان ته وائی چه خلیفه خیانت نه دے کړے۔ خو خلیفه چه د جُبے جوړولو اراده اوکړه۔ ما ورته خپل څادر ورکړو۔ او دغه شان یو د خلیفه خپل څادر شو او یو ځما۔ نو د دواړو څادرونو نه د خلیفه جُبه جوړه شوه۔

داحال وُو د اسلام د عالمګیر اخوت او مساوات۔ اوس د دے په رنړا کښے اوګورئ چه د مغلو شهنشاهیت څه څیز وُو۔ آیا دا اسلامی وُو که غیر اسلامی۔

اسلام د شاه اوګدا تمیز ورک کړے وُو او محمود او ایازئے په یوصف کښے اودرولی وُو۔ غریب او مالدار ته ئے یو شان حیثیت ورکړے وُو۔

د اسلامی ژوند د اصولو مطابق د حیثیت او شرافت معیار تقوٰی ده۔ په اسلام کښے چه څوک زیات تقوٰی دار دے۔ اخلاقی ژوند تیروی۔ هغه مالدار دے۔ هغه لوئے سړے دے۔ هغه خطاب یافته دے۔ هغه کرسی نشین دے۔ هغه خدائے پاک ته نزدے دے۔ هغه ته خدائے پاک حیثیت ورکړے دے۔ اسلامی حیثیت په مال او عهده نه دے۔ اسلامی ژوند په آرام او آسائش نه دے۔ اسلامی حیثیت د مادی کناره کشی نه بنائی۔ د دُنیا د کاروبار تلقین ورکوی خو په داسے طریقه چه "دِل به یار، دست

ketabton.com - The Digital Library

به کار".

خلیفه حضرت عمرؓ د اسلام د دے فلسفهٔ حیات په عمل سره دُنیا ته سبق ورکولو. او خوشحال خان خټک، د خپل هم مذهب مغل، د مذهبی قومیت حکه خیال نه ساتلو چه مغل د اسلام په بنیادی اصولو هیڅرے عمل پیرا نه وُو. مغلو لکه د نن ورځے د مالدارو مُسلمانانو په شان، مذهب پمطورد یو رائج رواج او مقبول فیشن قبول کړے وُو، خو حقیقت کښے هغوئ مذهب د خپل کار ایستلو او ملوکانه اغراضو او دُنیاوی مادی حیثیت، او آرام او آسائش د پاره یو آله کار جوړ کړے وُو. مغل هیڅرے پښتون مُسلمان ته د یو مذهبی رور په سترګه نه کتل. او نه ئے د مغل په سترګه ورته کتل. بلکه مغلو پښتانهٔ خپل مریان او غلامان کښل. د مغلو په اسلامی حکومت کښے د اسلامی رشتے او خپلولئ په سبب مغل مُسلمان هیڅرے پښتون مُسلمان ته یو شان سیاسی حیثیت، مذهبی حیثیت، قومی حیثیت او اقتصادی حیثیت نه ورکولو.

پښتون مُسلمان د مغل مُسلمان لکه د غیر مُسلمانانو په شان یو ذلیل او محکوم رعیت وُو. مغل د خپلے اسلامی مذهبی عقیدے هیڅرے په عملی، دُنیاوی ژوند کښے پابند نه وُو. مغل لکه د نن ورځ د مُسلمانانو، تش په نوم مُسلمان خو وُو. لیکن په عملی ژوند کښے مغل صرف په هغے اسلامی اصولو پابند عمل پیرا وُو، کوم اصول چه د هغهٔ د بادشاهئ او ذاتی اغراضو د مفاد د موافق وُو. هغه اسلام مغل نه منلو کوم چه د هغهٔ د دُنیاوی او شاهی مفاد و موافق نه وُو.

مغل مُسلمان ته هغه هِند وبیربل، مان سنګھ او جسونت سنګھ پیر نزدے وُو کوم چه د پښتون مُسلمان د کوشمالئ د پاره به د هندوستان نه راروان شول او د پښتون په سر به سوار شول. او د پښتون ټول وطن به ئے تباه برباد اولتاړ کړو. د غه د مغل مُسلمانی وه او د غه ئے عمل.

د عربو اسلامی حکومت بیشکه چه په پرومبی دور کښے یعنی د خلفائے راشدین په زمانه کښے اعتقاداً او عملاً د اسلامی اصولو او تعلیماتو پابند وُو. او د د ے د پاره په حقیقی طور اسلامی حکومت وُو. د عربو اسلامی حکومت په د ے دور کښے، تر عربی نسل یا قوم پورے محدود نه وُو. بلکه د عربو قومیت هغه عالمګیر مذهبی قومیت وُو چه د هغ عظیم الشان قومیت ممبر جوړید و د پاره د عرب نسل شرط نه وُو. خو صرف اسلام راوړل واحد شرط وُو. نو بیا هغه کهٔ د هر ملک وُو. هر څه رنګ به ئے وُو. د هر نسل نه به وُو. پس هغه ټول امتیازونه د مینځ نه اوړتو. هر عجمی به عربی شواو د اسلام د لوئے مذهبی قومیت فرد به شو. د هغهٔ به اسلامی حیثیت قائم شو. هغه به د اسلام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په عالمګیره رورولۍ کښے شامل شو. او په اسلامی حکومت کښے به ئے لکه د نورو مُسلمانانو په شان مساوی حصه او منلے شوه. دا سے حصه اوداسے حیثیت، څرنګه چه به د وخت د خلیفه وُو.

د عربو د عالمګیر تمدن د کامیابئ هم دغه راز وُو چه د ټولو مُسلمانانو مشترکه قومیت اسلام وُو. یعنی مذهبی قومیت یا لویه انسانی برادری او خپلولی.

نسلی یا وطنی قومیت عربونه پیژندلو. په مُسلمان عرب او په مُسلمان عجم کښے هیڅ فرق نه وُو. په اسلامی حکومت کښے به د دواړو یو شان حیثیت وُو. دواړه به په یو شان د حصے دعویداران وُو. په اصل او نسل فخر، عربو د مُسلمانانو د مشترکه قومیت دپاره یو لعنت ګڼلو. د اسلامی حکومت حفاظت په هر مُسلمان فرض وُو. ځکه چه هر مُسلمان د هغے حکومت مالک وُو. د هر مُسلمان په هغے کښے یو شان اسلامی او سیاسی حیثیت وُو.

د عربو په اسلامی حکومت کښے یو مُسلمان د بل مُسلمان مرئے او غلام نه وُو. بلکه هر مُسلمان د بل مُسلمان برابر حیثیت لرلو. هر مُسلمان د بل مُسلمان رور وُو. مُسلمانی لکه د ننه ورځ په شان د مُسلمانئ په نوم د یوبل سره دهوکه نه وه. او د ذاتی مفاد و د حصول دپاره یو وه آله نه وه. بلکه مُسلمانی یو الهی او روحانی مذهب وُو. یوه روحانی رورولی وه. یوه اسلامی برابری وه. یوه بے مثاله دینداری وه. یوه بے نظیره تقوٰی وه. د خود غرضئ او د خود غرضه دنیاوی مالدار و خلقو دپاره د غریبو په مړئ چا ډه نه وه. د قرآن پاک پیغام د حق پیغام وُو. د غریبو د خوارو او د نادارو مددګار وُو. او د ظالمانو سرمایه دارو په سر یو مهارت وُو. د خواجه دپاره مرګ وُو. لکه علامه اقبال چه په جاوید نامه کښے ملت روسیه ته د سید جمال الدین افغانی په خولهٔ پیغام ورکوی سه

چیست قرآن، خواجه را پیغام مرګ
دست گیر بندهٔ بے ساز و برګ

او د دے دپاره هر مُسلمان د اسلام سپاهی وُو. او سپاهی هم د کوم جلیل القدر شان؟ که مړ شوے وے نو شهید وُو. که ژوندے اوسیدے نو غازی. پس په دین دُنیا جنتی وُو.

د اسلام د سپاهی یا غازی دا بے مثاله اعتقاد د مُسلمانانو د دُنیا د ډیرے لوئے حصے په دومره لږه مودہ کښے د فتح کولو راز وُو. د یو داسے فوځ طاقت ته څوک ټینګیدے شو؟ څوک چه د ژوند نه په مرګ زیات خوشحال وُو. او د چا په ژوند کښے چه لوئے خواهش په اسلامی جنګ یا غزا کښے مرګ حاصلول وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د مغلو اسلامی حکومت هیڅ په دے رنګ کښے نه وُو. هغه یوقامی. نسلی. ملکی یا ذاتی حکومت وُوچه د هغے ټول مفاد د مغل قوم ترځلقے پورے محدود وُو. د پښتون مُسلمان په هغے کښے هیڅ حصه نه وه. پښتون مُسلمان د مغل مُسلمان یوادنیٰ رعیت او محکوم قوم وُو او مغلو به محکوم قوم ونوته که هغه مُسلمانان وُو او که غیر مُسلمانان د حقارت په نظر کتل. او خپل غلامان او مریان به ئے ګڼل. د دے د پاره خوشحال خان حق بجانب وُوچه د مغلو د شهنشاهیت نه ئے بغاوت اوکړو. او پښتانه ئے د مغلو د غلامئ نه خلاصول. په دے جنګ کښے یوخواته پښتانه وُو. هغه هم برخے برخے. تار پیتار او منتشر. څه د مغلو سره ملګری وُو او څه د مغلو خلاف. او بل خواته مغل او د هغوئ ملګری هندوان راجپوت وُو. خوشحال خان په داسے حالاتو کښے د مغلو د زبردست شهنشاهیت مقابلے ته ولاړ وُو. او ښه په نره ئے د مغلو مقابله کوله. اګرچه په خپل ژوند کښے هغه په دے مقصد کښے کامیاب نه شوچه مغل ئے د خپل ملک نه بهر شړلے وے. او دا ناکامی هغه خپله هم په خپلو اشعارو کښے خوخو کرته ستائیلے ده. خو د مغلو نسلی شهنشاهیت هغه داسے کمزورے کړو چه د مغلو د شهنشاهیت نوره پوخ محل په نړیدو شو. او د مغلو او د پښتنو د دے تاریخی کشمکش نه دُنیا داسبق زده کړو چه هر بادشاه یا هر حکومت چه پښتنو طرف ته د مغلو پالیسی، یا د اورنګ زیب عالمګیر پالیسی اختیار کړی. یعنی داچه پښتانه خپل مریان ګڼړی، او د مریانو سلوک ورسره کوی. پښتانه به داسے حکومت یا داسے بادشاه ته هیڅ وفادار نه وی.

د خیبر د شکست نه پس:-

د خیبر شکست د محمد امین خان ملامات کړه. او د هغه لوئی په خپل سر مات شوه. په خیبر پسے د مغلو دویم لوئے شکست په کندهاب وُو. کندهاب د شبقدر نه قبلے طرف ته د هندو په علاقه کښے پروت دے. د کندهاب جنګ په کال ۱۶۷۳ء کښے شوے وُو. په دے جنګ کښے د پښتنو د لښکر مشر ایمل خان وُو. او د مغلو د فوځ کمان د شجاعت خان او جسونت سنګھ په لاس کښے وُو داجنګ خوشحال خان په خپله مشهوره قصیده "بیاله کومه را پیدا شو دا بهار" کښے په یو بیت کښے داسے ستائیلے دے ـه

بیاله پسته جسونت سنګھ، شجاعت خان وُو
چه ایمل ئے په کندهاب ویوست د مار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دے جنګ کښے د مغلو د فوځ سرلښکر شجاعت خان قتل شو۔ او مهاراجه جسونت سنګھ په تیښته ځان خلاص کړو۔ د ګندهاب د جنګ نه وړاندے په دوآبه او په نوښار هم جنګونه شوی وُو او په دے جنګونو کښے هم مغلو شکست خوړلے وُو۔ دا جنګونه په پورته ذکر شوے قصیده کښے خوشحال خان داسے ستایلی دی :-

دویم جنګ میرحسینی په دوابه کښے چه ئے اوتکیدهٔ سر لکه د مار
بیاله پسه د نوښار د کوټ جنګ وُو
چه م اوکیښ تر مغلو خپل خمار

د مغلو د نوښار په قلا خوشحال خان او ایمل خان په شریکه حمله کړے وه او فتح کړے ئے وه۔ خلورم جنګ د مغلو سره په کال ۱۶۷۳ء کښے په خاپښ شوے وُو۔ خاپښ دره، د غرهٔ د مهمندو په علاقه کښے، د شبقدر نه قطب قبلے طرف ته پرته ده۔ دا جنګ خوشحال خان داسے ستائی :-

شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دوابه
چه ایمل کړل په خاپښ کښے تار په تار

د خاپښ په جنګ کښے هم د پښتنو د لښکر مشر ایمل خان وُو۔ او دلته هم د مغلو فوځ شکست اوخوړو۔

د مهابت خان په دریم ځل د کابل صوبے صوبه دار مقرر ېدل

د خیبر په شکست پسے زر اورنګ زیب عالمګیر، محمد امین خان د کابل د صوبیدارئ نه لرے کړو۔ او د هغهٔ په ځائے په دریم ځل مهابت خان د کابل د صوبے صوبه دار مقرر کړو۔ د اورنګ زیب عالمګیر اوس پوخ یقین راغلے وُو چه د سرحدی علاقے قبائیل بغیر د مهابت خان نه نور څوک نهٔ شی سمولے۔

د اورنګ زیب عالمګیر خپله حسن ابدال ته راتلل۔

په خیبر، ګندهاب او خاپښ کښے چه مغل فوځونو د پښتنو د لاسه پرله پسے شکستونه اوخوړل، نو د دے شکستونو په وجه اورنګ زیب عالمګیر ډیر پریشان شو۔ هغهٔ فیصله اوکړه چه خپله د سرحدی علاقو د قبائیلو د ګوشمالئ د پاره راشی۔ چنانچه په کال ۱۶۷۴ء کښے اورنګ زیب خپله راغلو او د سرحدی علاقے د جنګونو د نګرانئ کارئ په خپل لاس کښے واخستو۔ هغهٔ د خپل غټ نیکهٔ اکبر په لار روان شو۔ په حسن ابدال پریوتو او د پښتنو د مطیع کولو کارئ شروع کړو۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مهابت خان او خوشحال خان

مهابت خان چه په دریم خل د کابل صوبه دار مقرر شو نو بیائے خوشحال خان ته د مغلو سره د تعاون او ملګرتیا اووے. خو خوشحال خان د قید نه پس. هغه خوشحال خان نه وو. کوم خوشحال خان چه هغهٔ د قید و بند نه وړاندې پیژندو. خوشحال خان خپل دوست مهابت خان ته اووے چه د مغلونه زړهٔ ستړے ناستیم. او د پښتنو خلاف د مغلو هیڅ پروه نه شم کولے ـه

که خوشحال پنځ هزارۍ که، مه ئے وینه
د مغل د نوکرئ دے اغیږے

خوشحال خان اوس د مغلو خلاف پټ آشکاره جنګیدلو. او د پښتنو په ننګ او دریدلے وو. د خیبر د معرکے هغه پټ جرنیل وو. په نوښارے د ایمل خان سره د مغلو خلاف په جار حمله کړے وه. په کندهاب او خاپبن کښے همدردی او صلاح مشورهٔ لے د ایمل سره وه. اوس د مغلو د منصب او جاګیر دم په خوشحال خان نهٔ چلیدو. خوشحال خان اوس د خټکو سرداری خپل مشر څوئے اشرف خان ته اوسپارله. هغه اوس په جار د مغلو نه یاغی وو. او خپل ژوندے لکه د یو وطن دوست پښتون سردار اولیډر تیرول شروع کړل. مهابت خان چه پوهه شو چه خوشحال خان د مغلونه باغی دے نو د سیاست نه ئے کار واخستو. په خپل کور کښے ئے ورله خپل څوئے بهرام دښمن کړو. بهرام د خوشحال خان دریم څوئے وو او د خوشحال خان نه په دے خفه وو چه هغهٔ د خټکو سرداری اشرف خان ته ولے حواله کړے ده.

خوشحال خان او بهرام خان

بهرام خان د خوشحال خان هغه ناخلف څوئے دے چه په خپل کلیات کښے د سر نه خوشحال خان ځائے په ځائے ډیر سر تکولے دے. او ډیر بد ردئے ورته وئیلی دی. په یوځائے کښے خوشحال خان وائی:- بهرام هغه خنزیر دے :: چه لائق دے د ټهنګ

یو بل ځائے کښے بهرام ته داسے وائی ـه

تا هُنر د سرداریٔ نه زده بهرامه — سرداری د په خپل دود کړه بدنامه
هم تمامے خیلخانے لره بلا شوے — هم خپل ځان لره بلا شوے بد فرجامه
تا طاهر د کم عقلئ په جڑ کو مړ کړو — او فارغ شوے د ځان لره له مقدمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تاخپل ځان لره دَمرګ رخنه پیدا کړه — خیلخانه دِ په بدخوئ کړه بے آرامه
په داهسے بدخوینۍ بے بخته نهٔ ئے — چه لانهٔ ئے دَخونی هاتی تر ژامه
مشر رور دِ په زندان کړتهٔ خانی کړے — داخانی دِ شه په ځان پورے حرامه
چه خانئ ته دِ هوس دَزړهٔ په زور کړو — لاځائی وه ستا دَزړهٔ اندیښنه خامه

نوردِ نوم ځما دَځویو په شمار مهٔ شه
دَخوشحال خټک وینا په دا تمامه

وائی چه خوشحال خان دَ بهرام متعلق دا وصیت کړے ؤو چه پس له مرګه کهٔ بهرام ځما دَ اولاد په لاس گیر شی نو په تورهٔ دِ نے دوه توټے کړی - نیم دِ ځما دَ قبر سرته اوسیږی. او نیم دَ قبر پښو ته -

خوشحال خان په ډیرځایه بهرام او دَ هغهٔ ملګرو مغلو ته شکستونه ورکړل. خو دَ بهرام په سازش سره په کال ۱۰۶۸ هـ کښے اشرف خان دَ مغلو په لاس بندی شو او دَ بیجاپور (دکن) په قلا کښے لس کاله بندی پاتے شو. او هم هلته وفات شو. اشرف خان هم لکه دَخپل پلار شاعر ؤو. صاحبِ دیوان دے او هجری تخلص لری. دَ اشرف خان په بندی کیدو پسے دَ خټکو سرداری مغلو بهرام ته اوښښله. دَ بهرام او دَ هغهٔ دَځوئ مکرم خان دَلاسه خوشحال خان ترخپله مرګه ډیر په عذاب پاتے شوے دے.

خوشحال خان او بنګش

قبائیلو کښے دَخوشحال خان کهٔ یو طرف ته جنګونه دَ یوسفزو سره پاتے شوی دی نو بل خواته دَ بنګښو سره هم دَخوشحال خان ډیر خونړی جنګونه شوی دی. دَ یوسفزو سره دَخوشحال خان او دَخوشحال خان دَ خیلخانے دَجنګونو ذکر مونږ کړے دے. دلته په اختصار سره دَخوشحال خان دَ بنګښو سره دَجنګونو ذکر کوُو.

شیر محمد خان بنګښ چه دَ بنګښو سردار ؤو. هغهٔ دَ تری. بولاق محال سودا دَمغلو دَمقامی حاکم مرزا مغل سره اوکړه. دا کال ۱۰۶۲ هـ ؤو - چونکه په دے محال دَخوشحال خان دَکورنئ قدیمی دعوٰی وه، او چونکه دَ دے محال خلقو هم غوښتل چه دا محال دَخوشحال خان دَکورنئ سره پاتے شی نو خوشحال خان خپل تورهٔ خادی خان دَ دے محال دَسرکولو دپاره اولیږلو -

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ تری بولاق عالمو ورسرہ ملا تړاوکړو - او دَ بنګښو سره په هنګو جنګ اوشو - بنګښو ماتے اوکړه. خوځهٔ مودہ پس دَ بنګښو سردار شیر محمد بیا جنګ ته تیار شو. دا کال ۱۶۵۳ء وو. خوشحال خان دَدے جنګ دپارہ خپل مشر خوئے اشرف خان او خپل مشر ترهٔ بهادر خان اولیږلو. په دے جنګ کښے هم بنګښو ماتے اوکړه او ختکو جنګ اوګټلو.

په دے جنګ پسے دریم جنګ دَ ختکو او بنګښو ترمینځه دَ عورزیو ټول سره اوشو - دَدے جنګ مشر، دَ خوشحال خان ترهٔ خادی خان وُو. دا څل ختکو دَ بنګښو یو قوی لښکر مات کړو. دیر بنګښ ئے اووژل او دیر مال ورته په ګوتو ورغلو. په دے پسے مشهور جنګ چه دَ خوشحال خان او دَ بنګښو دَ سردار شیر محمد چه دَ مغلو طرفدار وُو، ترمینځه شوے دے. دا دَ ګنبت جنګ دے. دا هغه وخت وُو چه اورنګ زیب عالمګیر په حسن ابدال پروت وُو. کال ۱۶۷۶ء وُو. په دے جنګ کښے خوشحال خان خپله او دَ هغهٔ حوئے عبدالقادر خان زخمی شوے وُو. او ختکو دَ بنګښو دَ لاسه شکست خوړلے وُو. دَدے جنګ حال خوشحال خان په دردناکو اشعارو کښے بیان کړے دے چه اول شعر ئے دا دے ؎

دَ بنګښ په تورہ مات نه یم با ور کړه
دَ ګنبت په جنګ م ماتے آسمانی وه

دَ ګنبت په جنګ پسے دَ ختکو او بنګښو ترمینځه نیصله کن جنګ په پدوه اوشو - دا کال ۱۶۸۰ء وُو - په دے جنګ کښے ختکو بنګښو ته شکست فاش ورکړو - دیر بنګښ قتل شول. او ختکو ته دیر مال په لاس ورغلو - دَدے جنګ حال خوشحال خان په هغه مشهوره قصیده کښے بیان کړے دے چه دَدے شعر نه شروع کیږی ؎

څو وا نخلی له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا، نه خواړه کا. نه آرام

دا قصیده دَ بیانیه او رزمیه شاعرئ یو شاهکار دے.

دَ خوشحال خان دَ بنګښو او دَ یوسفزو سره چه کوم جنګونه شوی دی، په دے کښے فرق دا وُو چه یوسف زی دَ مغلو خلاف وُو - او چه خوشحال خان په کومه زمانه کښے دَ یوسفزو سره جنګونه کول نو خوشحال خان دَ مغلو په طرف وُو - او دَ مغلو منصبدار وُو.

دَ بنګښو سره دَ جنګونو کیفیت بل وُو - دَ بنګښو سره چه دَ خوشحال خان کوم آخری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دوه جنګونه په کښت او ډوډه کړی دی، دَدے جنګونو په زمانه کښے خوشحال خان دَ مغلو مخالف وُو او بنګښ دَ مغلو په طرف وُو۔

دَاورنګ زیب عالمګیر دَ زور او دَ زرو پالیسی

اورنګ زیب عالمګیر لکه څنګه چه معلومه ده، اول دَ پښتنو خلاف دَ زور مظاهره اوکړه خوچه په خیبر، کندهاب او خاپښ مغلو پرله پسے شکستونه اوخوړل۔ نو اورنګ زیب خپله راغلو او په حسن ابدال پریوتو۔ او په پښتنو کښے ئے دَ نفاق خوړولو په غرض نږ رخوارهٔ کړل۔ معلومه خبره ده چه دَ پښتون خوار خو غیرتی قوم، په آله آسانه نږ ورته سرنهٔ ټیټوی، خونږ رو ته دَ ټینګ نهٔ دی۔ اورنګ زیب چه زر راخوارهٔ کړل نو خوشحال خان پوهشو چه اوس به کامیاب شی۔ خوشحال خان په چغه اووے ؎

خزانے دَ هندوستان دی راخوړے شوے
سرهٔ مُهران دی شونږی په کُهسار

خوار پښتون حسبِ عادت زر قبول کړل او بادشاهی ئے دَ مغلو په نږ رو بائیله۔ اورنګ زیب په عارضی طور تر یوه حده په خپل مقصد کښے کامیاب شو۔

دَ خوشحال خان آخری عمر

دَ خوشحال خان آخری عمر دَ غمونو او مصیبتونو یو داستان دے۔ یو خوا دَ هغهٔ په خپل خاندان کښے دَ هغهٔ د بنمنان پیدا شول۔ خپل حُوئے بهرام ئے د بنمن شو۔ بل خوا مغل دَ هغهٔ نه خفه وُو۔ او هغه دَ مغلو دَ ستړګو اغزے وُو۔ هغهٔ کوشش کولو چه دَ پښتنو نه یو قوم جوړ کړی۔ او دَ پښتنو مختلفو قبیلو کښے اتفاق پیدا کړی۔ او په یو مرکز ئے راجمع کړی۔ او دَ مغلو سره ئے اوجنګوی۔ خو پښتانهٔ دَ مغلو، زرو، منصبونو، جاګیرونو۔ خطابونو او انعامونو دا سے بے خونده کړی وُو چه دَ خوشحال خان دَ ملی آزادی سندرے ئے نهٔ آوریدے۔ په دے حقله خوشحال خان خپله ناکامیابی دا سے ستائی ؎

کهٔ هرخوئے سمهوم را نهٔ سمیږی
چه کاږهٔ دی دَ بد بختو وږ بونږ و نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان د یوسفزو د علاقے دورہ اوکړہ. اوکوشش ئے اوکړو چہ د سمے یوسفزی د مغلوخلاف د خان سرہ ملګری کړی. خو هلته ئے هم څه کامیابی بیا نه موندہ.

د سوات په سفر کښے چه خوشحال خان د سوات او د سواتیا نو متعلق کوم اشعار وئیلی دی داهم د دلچسپئ نه خالی نه دی. د مثال په طور دا اشعار اولولئ ـه

دوه کاره دی په سوات کښے که خفی دی که جلی
مخزن د درویزه دے یا دفتر د شیخ ملی

اوبیا وائی ـه

که ژوندے شی افلاطون په سوات کښے وُنسی سکون
اکونړیو ته بیان کا کتابونه د فنون!
هدایه کفایه دواړه په پښتو کاندِ مونږون
دوئ به وائی چه دا څه دی
مخزن بنهٔ دے د اخون

خوشحال خان چه د یوسفزو د امداد نه نا اُمیده شو، نو د یوسفزوئے په یرید وئیلی دی. خود انصاف تقاضا دا ده چه د یوسفزو خلاف خوشحال خان د مغلو دپاره په یرغه کړی وُو. او اوس چه د خوشحال خان زړهٔ د مغلونه بد شوے وُو نو د هغهٔ نه هیر وُوچه د یوسفزو سرهٔ هغهٔ د مغلو په خاطر څومره بد کړی دی. خو هغهٔ او هغ جنګ د پښتون د ننګ جنګ کنړلو. او د سوات او د سمے یوسفزی ئے راپاړُول چه د هغهٔ سرهٔ د مغلو خلاف ملا تړاو کړی.

آفریدو هغهٔ ته په یرامداد ورکړے وُو. د دریاخان او ایمل خان په مشرئ کښے آفریدو د خوشحال خان سرهٔ د مغلو خلاف بنهٔ کومک کړے وُو. او ترمړکه پورے ورسره تهینګ ولاړ وُو. خو په یوسفزو کښے هغه ناکامیابه شو. او د دے ناکامیابئ تاریخی پس منظر موږ ته معلوم دے.

اول خټک د مغلو منظورِ نظر وُو. او چه یوسفزو د مغلو سرهٔ جنګونه کول نو د مغلو په امداد سرهٔ خټکو، د یوسفزو په یره علاقه لاندِ کړے وه. خو اوس په خټکو راغله. او خټک د مغلو مقابلے ته اودریدل. نو که ئ یوسفزو د هغوئ امداد نهٔ کولو، نو یوسفزی په دے کښے حق بجانب وُو. خود اسے معلومیږی چه خوشحال خان دا تاریخی پس منظر نهٔ لیدو. او یوسفزو ته ئے بد سړه وے. حالانکه هغهٔ چه د یوسفزو سرهٔ څه کړی وُو. د هغے په دنرا کښے هغهٔ ته پکار وُوچه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په یوسفزو ئے بد نۀ وئیلے ۔ خوډ خوشحال خان په نظر کښے یوسفزی ځکه بد وُو چه یو خوډ هغۀ پلار په نیکۀ دښمنان راغلی وُو او بله داچه ډ مغلو خلاف ئے ډهغۀ سره ملا تړنۀ کولو۔

لکه چه وائی ؎

کۀ سودا ده ۔ کۀ خوینبی کۀ نوکری ده
نور پښتون دے له مغلو نه ویزار

په دا دوړچه کو ټونه پکښے سازشول
یوسفزئ تر دا دواړو دی مردار

کشمیری به هم داهسے رنګه نۀ وی
چه نر ښځے ډ مغلو خدمتګار

اوبیا وائی ؎

ډ مغل په طباخ ډیر یوسف مندړدی لکه وزی مچ ډیر یږی درنګ تر درنګ
کۀ کعبه ۔ کۀ قبله ده ۔ خو ښکه ده په پیسه پسے به در ومی تر فرسنګ
کۀ پیسه ډ ملنګئ په لباس مومی
مصلے به ډ ګیدړ کا پسے لنګ

یوبل ځائے کښے وائی ؎

زۀ تنها پکښے په غم ډ نام و ننګ یم
یوسفزئ فراغت په کښت و کار

خو سره ډډے تاریخی دښمنئ بیا هم چه خوشحال خان ډ سوات نه واپس شو ۔ نو یوسفزو لښکر راټول کړو ۔ اوډ خوشحال خان ملګری شول ۔ شهباز کړهے سره ئے ، ډ مغلوډ لښکر سره جنګ اوکړو ۔ اوډ مغلو لښکر ته ئے شکست ورکړو ۔

دغه شان ځلئے په ځلئے ډ مغلو او پښتنو جنګونه لګیدلی وُو ۔ کله پښتانۀ بر ، مغل لر ۔ او کله مغل بر ، پښتانۀ لر ۔ دوۀ غرونه سره په جنګ ورغلی وُو ۔ او یوبل ته ئے ډ غرے ورکولے ۔ لکه خوشحال خان چه وائی ؎

سره ورغلل دوۀ غرونه یو مغل دویم پښتون

خو اورنګ زیب ډ زور او زر و په برکت ډ پښتنو په مقابله کښے کامیاب شو ۔ ډ خیبر درۀ ئے ډ مغلوډ آمد و رفت دپاره خلاصه کړه ۔ او په کال ۱۶۶۷ء کښے اورنګ زیب ډ حسن ابدال نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

واپس دهلی ته ستون شو۔

په دے دوران کښے د پښتنو په علاقه کښے قحط او خشک سالئ هم زور اوکړو۔ مرضونه او وبا کانے هم شروع شوے۔ او او بڼ د جنګ پښتانه اوزیل۔ او خوشحال ئے هم ستړے کړو۔ خوشحال خان بیا هم همت نه بائیلو۔ هغه د مغل په مقابله کښے د پښتون په ننګ ولاړ وو۔ او په دے ننګ کښے کئ یو طرف ته هغه د مغلو مقابله کوله نو بل خواته د خپلے قبیلے او خاندان د ځنے بد بختو افراد و مقابله ئے هم په غاړه وه۔

د خوشحال خان د ژوند په ډیر دوستو خو کالو کښے بهرام د زړه د اخلاصه کوشش کولو چه خپل پلار بندی کړی۔ او مغلو ته ئے حواله کړی۔ او په دے غرض هغه یو څل خپل څوئے مکرم خان اولیږلو چه نیکه ګرفتار کړی۔ او په زولنو کښے ئے بندی راولی۔ خوشحال خان چه خبر شو نو په ضعیفئ او پیرئ کښے هم لکه د زمری جنګ ته تیار شو۔ او خپل نمسی ته ئے د مقابلے دعوت ورکړو۔ خو هغه کښے د ومره همت نه وُوچه سپین ګیری شیر ببر ته ئے لاس اچولے وے۔ مکرم خان نا کامیا به پلار ته واپس راغلو۔ بهرام خان څوئے ته غصه شو۔ ډیر بد ردئ ورته اووئیل او حکم ئے ورته ورکړو۔ چه فوراً خوشحال خان مړیا ژوندے اونیسه۔ مکرم خان د نیکه د نیولو دپاره دوباره لاړو۔ او بهرام د پیښور د مغلو د ګورنر نه امداد اوغوښتو چه بوډا شیر مور اګیر کړے دے۔ سړی را اولیږه چه ګرفتار ئے کړو۔ خوشحال خان چه د دے واقعاتو نه خبر شو نو شپه په شپه د آفریدو علاقے ته واوړیدو۔ او د مغلو د بند نه ئے ځان خلاص کړو۔

د دے واقع نه پس، خوشحال خان څه لږه موده نور هم ژوندے وُوخوله دے نه پس ئے په ژوند نه د اکوړی لیدل نصیب نه شو۔

آخر د شپږ اویاؤ کالو په عمر کښے یعنی په کال ۱۶۸۹ء کښے د آفریدو په علاقه کښے وفات شو۔ او د ے غیرتی پښتون سردار د مرګ په وخت کښے خپلو خپلوانو ته دا وصیت پریښود وچه حتماً قبر دا سے ځائے کښے جوړ کړئ چه د مغلو د آسونو د ګردونو نه په امان وی۔ علامه اقبال د خوشحال خان دا وصیت په "بالِ جبریل" کښے دا سے نظم کړے دے:۔

قبائل ہوں ملت کی وحدت میں گم — کہ ہو نام افغانیوں کا بلند
محبت مجھے ان جوانوں سے ہے — ستاروں پہ جو ڈالتے ہیں کمند
مغل سے کسی طرح کمتر نہیں — اکھتان کا یہ بچہ ارجمند

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کہوں تجھ سے اے ہمنشین دل کی بات وہ مدفن ہے خوشحال خان کو پسند
اُڑا کر نہ لائے جہاں باد کوہ
مغل شہسواروں کی گردِ سمند

دَ اورنگ زیب عالمگیر وفات اودَ مغلو زوال

په کال ۱۷۰۷ء کښے اورنگ زیب عالمگیر وفات شو - اودَ اورنگ زیب دَ وفات سره دَ مغلو دَ حکومت ستورے هم په ډوبیدو شو - دَ خوشحال خان نمسے اودَ اشرف خان څوئ افضل خان چه دَ تاریخ مرصّع مصنّف دے لیکی چه دَ اورنگ زیب دَ حکومت په آخرینو لسو کالو کښے دَ کوهاټ او بنو علاقه تقریباً دَ مغلونه یاغی وه - دا دَ خوشحال خان دَ تورے اودَ قلم برکت وُو چه دَ پښتنو په علاقه کښے ئے دَ مغلونه دومره نفرت پیدا کړ چه پښتنو دا ارادہ اوکړه چه دَ مغلونه ځان آزاد کړی - دَ اورنگ زیب عالمگیر دَ وفات نه لږه موده پس دَ کابل ولایت یا صوبه تقریباً دَ مغلو دَ کرفت نه آزاده شوے وه - یعنی هسے تش په نوم دَ مغلو دَ حکومت دَ لاندے وه - اوپه کال ۱۷۳۹ء کښے چه نادرشاه افشار په هند حمله اوکړه نو هغهٔ دَ قبائیلو عداوت دَ دهلی تخت ته منسوب کړو - حالانکه حقیقی واقعات دا وُو چه خوشحال خان خټک چه دَ آزادئ کوم تخم کرلے وُو، دَ هغے په وجه دَ پښتنو علاقه دَ مغلو دَ غلامئ نه پیره پخوا آزاده شوے وه - کهٔ چرے اورنگ زیب دَ پښتنو سره اودَ پښتنو دَ مشر خوشحال خان سره خپل تعلقات بنهٔ ساتلے وے نو یقیناً چه پښتانهٔ به دَ مغلو دَ حکومت دَ استحکام دپاره همیشه کمرکس، تیار ولاړ وُو او غیر مسلمو به دَ مغلو حکومت هیڅرے نهٔ وے کمزورے کړے - خودَ اورنگ زیب غلطے پالیسئ پښتانهٔ دَ مغلو دَ سلطنت دښمنان کړل - اونتیجهٔ دا اوخته چه نادرشاه افشار چه په هندوستان حمله اوکړه نو دَ دهٔ لږه پیره مقابله پښتنو قبائیلو اوکړه - کنی باقی تر دهلی خو میدان صاف وُو - کهٔ چرے پښتانهٔ په دے موقع دَ مغلو نه خوشحاله وے - اودَ مغلو دَ حکومت په شا دَ زړهٔ نه ولاړ وے نو نادرشاه افشار به هیڅرے تر دهلی نهٔ وُو رسیدلے - دَ هغهٔ ټول طاقت به دَ پښتنو په علاقه کښے ختم شوے وُو - اودَ مغلو هندوستان به دَ هغهٔ دَ حملے نه بچ پاتے شوے وُو - خو پښتنو سره ورانه دَ مغلو تاریخی غلطی وه - چه دَ مغلو په نقصان تمامه شوه -

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتو، پښتون او خوشحال خان

د خوشحال خان د ژوند په حالاتو او د خوشحال خان د مغلو سره په کشمکش مونږ څه لږه ډیره رڼا واچوله - د دے نه به لوستونکو خوشحال خان په حیثیت د یوسړي پیژندلے وی خو د خوشحال خان په حیثیت د یو پښتون یا نمونه، پښتون یا نګیالے. پښتون یا نګیال پیژندلو د پاره مونږ ضرور ګنړو چه په پښتو او پښتون بحث اوکړو. او د دے الفاظو چه د پښتون په معاشره کښے څه مفهوم دے. د هغه مفهوم تحلیل او تجزیه اوکړو -

د پښتو کلمه ذو معنیٰ ده - پښتو پښتانۂ خپلے ژبے ته وائی. او پښتو پښتانۂ خپل ملی سیرت ته وائی - د دُنیا په هیڅ قوم کښے ملی ژبه د ملّی سیرت په معنیٰ کښے نۂ استعمالیږی - دا امتیازی خصوصیت صرف د پښتو په کلمه کښے دے - یعنی فارسی وان دا نۂ وائی چه تاکښے فارسی شته یا نشته - یا عرب دا نۂ وائی چه تاکښے عربی شته یا نشته - یا انګریزان دا نۂ وائی چه تاکښے انګریزی شته یا نشته - خو صرف پښتانۂ وائی چه تاکښے پښتو شته یا نشته -

پښتو یوه ډیره پُرمعنیٰ او جامع کلمه ده - او دا د پښتون قوم د حیات په هر اړخ جاری ده - پښتو د پښتنو د ملی ژوند، عزت، شرافت، نوروالی، غیرت او حمیت یو داسے معیار دے چه پښتانۂ په دے تله پښتون تلی - او کوم پښتون چه د پښتونه پریوزی نو د پښتنو د نظر نه هم پریوزی - د پښتون په پښتو کښے که ئ یو خواته ننګ، مړانه، شجاعت، میلمستیا، بدل، سخاوت، غیرت، عفو، استقلال، سخت کوشی، عزم، د ارادے پختګی، پت، پخه ملګرتیا، پخه دوستی، ساده ګی، صاف ګوئی، حق ګوئی، بے باکی، ایثار او قربانی او سیالی وغیره ښه صفات موجود دی، نو بل خواته ورکښے فضول دود، دستور، او رواجونه، بے ځایه اوبے موجبه ضد، په ذات پات بے ځایه غرور او تکبر، یوګوند د نورو سره جاهلیت، جهل، تربورولی او پخه دښمنی - کسب ګر او هنرمند او غیر پښتانۂ ته په سپک نظر ګڼل - بے ځایه خرڅونه، بے ځایه انفرادیت اوبے موجبه انتها پسندی وغیره هم شامل دی -

د پښتون پښتو د اسلام قبلولو نه وړاندے هم د پښتون قوم یوه ضابطۂ حیات یا وه - او د اسلام قبولولو نه پس هم د پښتون پښتو قائمه ده -

اسلام د پښتون په پښتو ضرور خپل رنګ خیژولے دے خو بیخے لے خپله کړے نۂ ده - یعنی مونږ دا نۂ شو ویلے چه پښتو د اسلامی اخلاقو مجموعے ته وائی - یا کنی پښتو او اسلام یو څیز دے - د پښتون په پښتو کښے تر اوسه دا سے اجزاء شته چه هغه د اسلامی، اخلاقی ژوند سره سمے نۂ خوری -

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتانهٔ خپله وائی چه پښتو نیم کفر دے - اوپښتانهٔ نیم قرآن منی اونیم نهٔ منی - یعنی دخپل مطلب قرآن منی، یعنی هغه قرآن منی چه د پښتو سره سمون خوری - اوهغه قرآن نهٔ منی چه پښتو سره سمون نهٔ خوری - یعنی پښتانهٔ رواج منی او شریعت نهٔ منی - او رواج حُکه منی چه رواج په نسبت د شریعت د دوئ پښتو ته نزدیات نزدے دے -

نومعلومه داشوه چه د پښتون دا پښتو په خُنے خوبیانوا وصفتونو کښے اسلامی ده - اوپه خُنے خامیانو کښے غیر اسلامی ده - یعنی د اسلام د اثر دلاندے د پښتون پښتو خُنے اسلامی اخلاق منلی دی - یا دهغے سرے توارد شوے دے - اوپه دے وجه اسلام ته رانزدے شوے ده - یابه دا اووایو چه اسلامی اخلاق د دے قوم مزاج ته نزدے وُو - په دے وجه چه اسلام رغلو نودوئ په ایړ قبول کړو - اود قوم نه قوم مُسلمان شو - اومُسلمانی او اسلام د پښتون او پښتو یو جزو اوگرځید و - خو داصرف رواجی اسلام دے - هغه ظاهری اسلام چه کوم پښتنو کښے رائج دے - اوکوم چه پښتانهٔ حقیقی اسلام گنړی - خوزهٔ پښتو او اسلام هم معنیٰ الفاظ نهٔ گنړم - په دواړو کښے پیر فرق دے - پښتو د پښتون قوم د ملی خوبیانو او خُنے خو بو نو او دود دستور ونو د مجموعے نوم دے - یعنی دا د پښتون ملی سیرت دے - او اسلام د یو مکمل اخلاقی نظام د ضوابطو نوم دے - چه د انظام د بنیاد مود دین دُنیا د نجات دپاره د الله پاک د یو مکمل دین په شکل کښے د خپل محبوب او آخری پیغمبر حضرت محمد صلے الله علیه وسلم په ذریعه رالیږلے دے - او دا د بنیادم دپاره یو رحمت دے - او د خلاصی لار ده -

نو موږ د دوړ خُنے لیکونکی البته کوشش کوی چه دا دواړه لفظونه هم معنیٰ اوگرځوی او اسلام ته پښتو او وائی - اوپښتو ته اسلام - دا نهٔ کوشش دے - او تعمیری کوشش دے - خو په شرط د دے چه پښتانهٔ د پښتنو په نوم د اسلام اخلاقی نظام خپل کړی - اوپه هغے عمل اوکړی - خو په دے کښے دا ویره هم شته چه هسے نه چه پښتانهٔ خپل رواجی پښتو اسلام اوگنړی - او دا اسلام د مکمل اخلاقی نظام نه محرومه پاتے شی -

دلته یوه بله نکته هم د وضاحت غواړی او هغه دا چه نو موږ د دوړ خُنے پوهان وائی چه پښتون او مُسلمان هم معنیٰ لفظونه دی - یعنی چه پښتون وی نو خامخا به مُسلمان وی - دا خبره ترڅهٔ حده رښتیا ده حُکه چه رواجی مُسلمانی د پښتون مُسلمان د پښتو یو جزو لاینفک گرځیدلے دے - پښتون من حیث القوم مُسلمان شوے دے - او دا امتیاز صرف پښتون قوم ته حاصل دے چه د قوم نه قوم مُسلمان شوے دے - خپله عربو کښے هم من حیث القوم دا امتیاز نشته - عربو کښے هم عیسایان او

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یهودیان وغیره شته خو پښتون کلهم مُسلمان دے۔ اود پښتون قوم ژبه هم بیخی د مُسلمانو ژبه دہ۔ اودَدے ژبے دَ نظم او نثر لیکونکی هم، صرف پښتانهٔ مُسلمانان تیر شوی دی۔ اوس هم پښتانهٔ مُسلمانان دی۔ غیر مسلمو دَدے ژبے په نثر او نظم کښے هیڅ کار نهٔ دے کړے۔

نو په دے اعتبار سرهٔ کهٔ پښتو کښے څوک مذهب بدل کړی۔ دَمثال په طور عیسائی شی نو هغه دَ پښتو دَ میدان نه اوغورزیږی۔ او پښتانهٔ ئے هډو پښتون نهٔ ګڼړی۔ اګرچه نسلاً هغه بیا هم پښتون وی۔ او ژبهٔ ئے هم پښتو وی۔ خو چونکه مذهبًا مُسلمان نهٔ وی په دے وجه په پښتون قوم کښے هغه خپل وقار بائیلی۔ اودَ پښتو دَ ملی برادرئ نه تقریبًا خارج شی۔

عن کهٔ په مُسلمانئ کښے دَ څهٔ خاص فرقے مُسلمان شی نو بیا د پښتو دَ برادرئ نه۔ نهٔ وځی۔ پښتانهٔ ئے پښتون ګڼړی خو په سپک نظر ورته ګوری۔ اکثر پښتانهٔ سنیان او حنفی مذهب دی۔ او دَ پښتو دَ عزت هم دغه معیار دے۔ چه پښتون دِ مُسلمان وی۔ او سُنی دِ وی۔ خو په پښتو کښے اهل تشیّع او احمدیان هم شته۔ او دوئ پښتو کښے د پښتو په شان اوسی۔ او پښتانهٔ ئے غیر پښتانهٔ نهٔ ګڼړی۔ البته سنیان پښتانهٔ ورته په درنه سترګه نهٔ ګوری۔ خو دا مذهبی فرق هرڅهٔ شته۔ دا فرق صرف دَ پښتون تر معاشرے پورے نهٔ دے محدود۔ په مُسلمانانو کښے هرڅهٔ یوه مذهبی فرقه ده مذهبی فرقے تر دَ حقارت او نفرت په نظر ګوری۔ دا محض مذهبی تنګ نظری ده۔

په دے خو مونږ متفق شو چه پښتون وی اودَ پښتو په برادرئ او معاشرهٔ کښے شامل پښتون وی نو هغه به مذهبًا خامخا مُسلمان وی۔ خو دَ پښتون کلمه په یوه بله معنیٰ کښے هم پښتانهٔ استعمالوی۔ په دے معنیٰ کښے پښتون دَ پښتو په ځائے استعمالیږی۔

مونږ وړاندے ذکر کړے دے چه پښتو دَ پښتو دَ ملی سیرت اودَ ملی کردار نوم دے۔ دا کردار چه پښتون په هرچا کښے اووینی کهٔ هغه پښتون وی، کهٔ غیر پښتون۔ کهٔ مُسلمان وی کهٔ غیر مُسلمان نو پښتانهٔ پښتانهٔ وائی چه ډیر پښتون سړے دے۔ یعنی دَ پښتون دَ ملی سیرت یا پښتو حامل دے۔ لکه چه پښتانهٔ وائی دا پښتون انګریز دے۔ دَدے دا مطلب نهٔ وی چه کنی دا انګریز مُسلمان دے۔ انګریز خو نهٔ دَ نسلاً پښتون دے او نه عقیدتًا مُسلمان دے۔ خو دَدے دا مطلب وی چه په دے انګریز کښے دَ پښتون ملی او طبیعی کردار بیا موندے شی۔ یعنی په خوئ بوئ کښے دَ یو نمونه پښتون کردار لری۔

په خپلو کښے هم پښتانهٔ وائی چه فلانے ډیر پښتون سړے دے۔ دَدے دا مطلب نهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه فلانے ډیر ښه مُسلمان سړے دے۔ بلکه دَدے مطلب داوی چه په دے سړی کښے پښتو پرته ده۔ کردارئ دَ نمونه پښتون دے۔ اودَ پښتو په لاړو چارو روان دے۔

دَدے نه دا واضحه شوه چه پښتانهٔ دَ پښتون اوپښتو الفاظ صرف دَ اسلام اودَ مُسلمانئ په معنو کښے نهٔ استعمالوی۔ بلکه دا دوئ دَ خپل مخصوص ملی کردار دپاره استعمالوی۔ چه ځنے خبرے ورکښے اسلامی دی ځنے غیر اسلامی۔ یعنی نسلاً چه کوم سړے پښتون دے۔ یعنی دَ پښتون سړی په کور کښے پیدا شوے دے، دَ هغے پښتون په کورکښے، چه دَ پښتنو په معاشره کښے سیال دے۔ نو هغه به خامخا مُسلمان وی۔ خو ضرور دی نهٔ ده چه هر پښتون چه مُسلمان وی نو هغه دِ پښتون هم وی۔ یعنی دَ پښتو په لاړو چارو دِ روان وی اودَ یو نمونه پښتون خوئ بوئ اوکردار دِ لری۔ په دے لحاظ، پښتون اومُسلمان هم معنیٰ لفظونه نهٔ دی۔ په دے کښے فرق دے۔ یعنی داچه هر پښتون مُسلمان دے۔ خو نهٔ هر مُسلمان پښتون دے۔ اونهٔ هر پښتون، پښتون دے۔

دَدے نقطے به مزید وضاحت دا سے اوکړو چه یو غیر مُسلم ایرانے، عرب وغیره جوړیدے شی خو هغه پښتون نهٔ شی جوړیدے۔ ځکه چه پښتون به غیر مُسلم نهٔ وی۔ خامخا به مُسلمان وی۔ البته یو غیر مُسلم پښتون عرب، پښتون ایرانے، پښتون انګریز وغیره جوړے شی۔ خو په شرط دَ دے چه په هغهٔ کښے یو نمونه پښتون کردار موجود وی۔

په یو نمونه پښتون کښے علاوه دَ پښتو دَ نورو خوبیانو اوخاصیانو نه دَدے خو صفتونو موجودګی لازمی ده۔ یعنی داچه میلمه دوست دِ وی۔ تورزن دِ وی۔ د پښتون دَ ننګ محافظ دِ وی۔ دَ حمیت خاوند دِ وی۔ اودَ غیرت پاسبان دِ وی۔ او یوخ دوست اوپوخ ملګرے دِ وی۔ اودَ پخے اوقوی ارادے مالک دِ وی۔ اوژبه دِ ئے پښتو وی۔ اودَ پښتونوَ دَ یو شریف خاندان او مستند قبیلے سره دِ تعلق لری۔ اوس نمونه پښتون اودَ نمونه پښتون پښتو به پریږدو۔ اودَ یو عام پښتون دَ کردار تجزیه به اوکړو۔ د پښتون کردار اجتماع ضدّین دے۔ په پښتون کښے خوبئ هم ډیرے دی او خامیانے هم ډیرے لری۔ پښتون خوار دے اوپیسے ډیرے په سختئ، محنت اومشقت کښے۔ پښتون دَ خوارئ قیمتئ نه دومره ویږی چه د پښتون په علیک سلیک اوکړه بڼه کښے هم چه یو ورته وائی "ستړے مشے" نو بل ورته دُعا اوکړی "خوار مشے"، خو سره دَدے چه پښتون په پښتو کښے راشی نو دا په سخته کټلے پیسے دا سے په بے دریغئ سره والوزوی چه سړے ورته حیران پاتے شی دَ بنادئ۔ غمئ دود دستور نه ئے اوکورئ، د فضول اوبے ځایه خرچ یوه مثالی نمونه ده۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ډکه خولۀ به اووائی، چه پیسے څۀ وی. پیسے خو د ځوان د لاس خیرے دے.

پښتون زمینداری، کوډ، چاړی او د سرمنډوړی د عزت کارکنړی. خو کسب، هنر، تجارت او سوداګرۍ ته په سپک نظر ګوری.

پښتون بهادر، تور زن دے. په مړانه او شجاعت فخر کوی. پښتون ته د ږن وئیل لوئے کنځل دی. دا کنځل پښتون هیڅرے نشی برداشت کولے. او د ږن او ویر یدونکی ته په سپک نظر ګوری. پښتون پیدا شوے ننګیالے، جنګیالے او توریالے دے. بنۀ لښکری دے. خو بنۀ سپاهی نۀ دے. پښتون ضابطۀ نۀ منی. او د ضابطے ترسیرے لاندے آزاد دول غواړی. پښتون بنۀ فاتح دے. خو بنۀ منظم نۀ دے. لښکرے او کړی. ملکونه فتح کړی. خو چه انتظام ته خبره راشی نو بیا ورکښے نۀ دے. چه انتظام ورته په غاړه شی نو دے هرڅۀ په ځائے پریږدی. او خپلو عزونو ته واپس لاړ شی. چه څۀ ورته په لوټ مار کښے په لاس ورغلی وی. هغه اوخوری او کله په یوه ټوکه ناست ټپے وائی او کله په بله ټوکه.

پښتون غصه ناک او تند مزاج دے. پښتون جذباتی دے. چه په قهر کښے راشی په نۀ څۀ خبره مړک او کړی او خپل ځان، مال حال او خاندان تباه کړی. پښتون خپله بے عزتی نۀ شی برداشت کولے. په خپل عزت او د خاندان په عزت هرڅۀ بائیللو ته تیار دے.

پښتون په بدل ژوند دے. پښتون خپل بدل هیڅرے نۀ پریږدی. وائی چه د پښتو کانړے په اوبو کښے نۀ ورستیږی. پښتون غیور او حسور دے. د بنځے په عزت او عصمت همیشه قتلونه او مرګونه کوی.

پښتون د رسم و رواج پابند دے. په عزیزولئ کښے لاندے راتللو نۀ خوښوی. د ورور تربور سره سیالی کوی، چه په هر قیمت وی. پښتون جمهوریت پسند دے. ځان د بل پښتون او د ورور عزیز همیشه برابرکنړی. کۀ خپله د یرخواروی. او ورور عزیز د قوم قبیلے او د خاندان افراد د یر مضبوط او مالدار وی، خو دے ورته ځان هیڅرے لاندے نۀ کنړی. ځکه د ورور عزیز د ملاتړ ئے برابرکنړی. خپلے قضیئے، تنازعے او جګړے په جرګه فیصله کوی. پښتون د ے ته ورته په پره جنبه یوهیږی. او پره جنبه ئے ژوند دے.

پښتون نه ورچلوی، او په زور یوهیږی. او چه زور پرے راشی نو سر هم ورته کیږدی. لکه چه وائی، پښتون د دب مسلمان دے. پښتون په سندره او موسیقئ مئین دے خو دم ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بدے شی۔ اودَ پښتون په معاشره کښے د م بے عزته بنیادم کنړے شی۔

پښتون کښے انفرادیت دے۔ په اتحاد او اتفاق کار نه شی کولے۔ خان خان ته ئے ډزوی۔ دَ پښتون امتیازی نخښه بے اتفاقی ده۔ هر پښتون خان ته سیر وائی۔ چتا کئ ورکښے هیڅوک نشته۔ اوهم دغه دَ پښتون دَ بد بختئ سبب دے۔ خو دَدے دا مطلب نه دے چه کنی پښتون مشر کشر نه پیژنی۔ پښتون دَ بل پښتون سره حسد او ضد کوی۔ پښتانه دَ یوبل پښے را کاږی۔ او دَ یوبل په کمی خوښ دی۔ دَ دور تر بور غورزول خپل فخر کنړی۔ پښتون انتها پسند دے۔ درمیانه روی نلری۔ یا یو کار ښه کول غواړی۔ یا ئے نه کول غواړی۔

پښتون تر بور یعنی خپل دَ ترهٔ زوئ دښمن کنړی۔ او تر بور ولی دَ دښمنئ دویم نوم دے۔ دَ پښتون عمومًا دَ ور تر بور سره په جګړو کښے تیر یږی۔ خاندانی جګړے دَ پښتون امتیازی نښه ده۔ پښتون چه وهے نو ور تر بور ورته اولمسوه۔ په ور تر بورئ اوده۔

پښتون کښے ضد، جهل او تکبر دے۔ چه په څهٔ خبره او نښلی که صحیح وی که غلط که ږه وی که وړه خو سر ته ئے رسوی۔ پښتون په اصل نسل او پښتو ډیر فخر کوی۔ تر دے پورے چه کلی کښے دوه پښتانه اوسی نو هر یو به وائی چه دا بل دهوبی، نداف، جولا او کسب ګر دے۔ او زهٔ اصیل پښتون یم۔

دَ پښتون مذهب خوښ دے خو ملا جوړیدل ورته عار بنکاری۔ ملا په پښتون کښے سپک دے۔ پښتون دَ مُسلمانئ هغه برخه منی یعنی عمل پرے کوی چه دَدهٔ دَ پښتو سره ئے سمون خوړے دے۔ او هغه برخه ئے نه منی یعنی عمل پرے نه کوی کومه چه دَ پښتو سره برابر نه ده۔ او خپله وائی چه پښتو نیم کفر دے۔ خو بیا هم په پښتو ټینګ دے۔ پښتون شهوتی دے خو حیادار دے۔ دَ نفس او دَ شهوت په کار تفخر نه کوی۔ بلکه دا یو سپک کار ګڼی۔ او پټ په پټه ئے کوی۔ دَ شهوت نمود او نمائش ورته شوم او عار بنکاری۔

پښتون پوخ دوست او کلک دښمن دے۔ په دوستئ او دښمنئ کښے هڅهٔ روا ګڼی۔ پښتون منافق نه دے۔ چه څهٔ ئے په زړهٔ وی هغه ئے په خولهٔ وی۔ دَ زړهٔ جذبات یعنی نفرت یا محبت پټولے نه شی۔

پښتون ساده او صاف ګو دے۔ خو حق ګو نه دے۔ په پره جنبه او دوستئ دښمنئ کښے همیشه دَ ناحقے ګواهی او شاهدی کوی۔ او په دروغو قسمونو خوړلو ته هم تیار شی۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په پښتنو کښے هره قبیله خان نه قام وائی - د پښتون د مشترکه قومیت تصور نه شته - هره قبیله د بلے قبیلے سره په جنګ وی - اوهر خاندان ، بل خاندان ته لاندے وے وی - پښتون د مشر لحاظ - او د سپینو و پښتو او سپینے ږیرے عزت کوی - پښتون د عمر په لحاظ د حفظ مراتب قائل دے مشکل پیژنی - اوکشران د مشرانو عزت کوی - او مخ ته ورته نه راځی -

پښتون سخی خو بنوی او په بخیل بد وائی - پښتون کښے خان او سردار هغه دے چه یو خواته ګټل ، بخښل او خوږول کوی - او بل خواته ټول پرانستل ، مړانه او تورزنی کوی -

پښتون خپل دښمن غورزول غواړی ، چه په هر چل وی - د دښمن د غورزولو دپاره هر فریب ، هره حیله او مکر روا ګڼی - او د کمینه نه کمینه کار کولو ته تیار شی -

پښتون جاه پرست او دولت پرست دے - پښتون خود غرضه او خود پرست دے - خو مطلبی نه دے - یعنی دوستی محض د مطلب دپاره نه کوی - پښتون سخت کوش او خواری کش دے - تن آسانے نه دے -

پښتون سوال کول ذلت ګڼی - او سوال کرته په بدنظر ګوری - خو خیرات او صدقه ورکولو کښے مړے دے - پښتون پیر پرست او مزار پرست دے - د پیرانو ، سیدانو ، میانګانو ، او بابا ګانو معتقد دے - پښتون توهم پرست دے - د توهماتو نه ویریږی - او توهمات منی -

پښتون د تعویذ ، کوډو ، منتر ، جادو قائل دے - پښتون د خپل عزت اوږے دے ، چه په پسته خوله ورسره خبرے کوے او په درنه سترګه ورته ګوری نو په خوږه خوږه کښے هرڅه کار ترے اخستے شے - خو سخت کلام سړی ته برندیږی - او کنځل اوے عزتی نشی برداشت کولے -

پښتون غیر پښتون ته په سپک نظر ګوری او په پښتنو کښے هم چه کوم سړے د پښتو د میزانه پرے وزی ، هغه سپک شی - پښتون په بنځه لاس نه اوچتوی - بنځے سره جنګ کول عار ګڼی - پښتون سره چه زور ، ظلم او بے انصافی او شی نو په ډیره کښے لے ساتی - او چه وارځ راشی نو بدل ضرور اخلی -

پښتون عفوه او درګذر هم کوی - خو د ننواتی په شکل کښے که ګوره نه د څرګ مرګے په شکل کښے ورشے نو د لوے نه لوے جرم به درته او بخښی -

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتون میلمه دوست او دوډی مار دے. پښتون په اولاد مئین دے خودَ خلقو مخکښے ورسره مینه عار کښی. او اولاد په ډیر عیب کښے ساتی.

پښتون په ښځه مئین دے. او د ښځے په عزت خپل سر ورکوی. خودَ ښځے نمائش ورته مرګ دے. پښتون وائی چه د ښځے دپاره یا کور دے اویا گور دے. البته په ښځے کار کول اوسخت کار کول خپل حق ګڼی. ښځه په زمینداری کښے ورسره امداد کوی. لرګی او وابنه پرے راوړی. او مال پرے څروی.

پښتون د مال ډیر اډے دے. او د مال حاصلولو دپاره هرڅه ته تیار شی یعنی حرام، رشوت، بډے، دروغ، غلا، داړه، فریب، ټګی او قتل وغیره.

پښتون د علم ډیر شوق نه لری. او په خپل قدیمی جهالت کښے خوښ دے. دا د خپل کلتور یوجزو ګڼی که علم حاصل هم کړی خودَ جهالت خویونه نه پریږدی.

پښتون د کپړو په نمائش نه دے خوښ. ساده، خړه پړه جامه، دا سے جامه، چه د جسم اندامونه په بنه شان پټوی، د پښتون خوښه ده.

پښتون لولنګړے. کفایت شعار نه دے. چه څه ګټی هغه څټی. د صبا غم نه کوی. پښتون ځان په نفساتی معیار تلی او بل په اخلاقی معیار. د بل په ستر که کښے خسنړے ورته شاه تیر بنکاری. او په خپله ستر که کښے شاه تیر خسنړے.

پښتون د مذهب د ظاهر یاتو پابند دے. خودَ مذهب د روح نه ناواقف دے. د پښتون جمعداری او په بل حکم چلول ډیر خوښ وی. خو حکم منل ورته بنه نه بنکاری. په دے وجه بنه افسر دے. خو بنه ماتحت نه دے.

پښتون د نشو شوقین دے. خو نشئی سړے ئے خوښ نه وی. پښتون چه غبر پښتون ته ډیرلوئے عزت او خطاب ورکوی، نو وائی چه دا ډیر پښتون سړے دے. یعنی ایله د ځان سره ئے سم کړی.

پښتون د ننګ بنده دے. په پښتو، بیت او ننګ چه او د ډیری نوسرا د مال دواړه پرے دا ډ کړی. د پښتون په کلچر یا ثقافت کښے په حیثیت مجموعی د بنی اسرائیلو او عربو اثر ضرور شته. خو خالص اسرائیلی کلچر یا عربی مدنیت هم نه دے. دا د دوئ د خپل وطنی کلچر یا پښتو او د عربو د اسرائیلی ثقافت یو معجون مرکب دے.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتون د عهدے اود مال اوږے دے - په خطا بونو، منصبونو او جاګیرونو مئین دے.
د دے دپاره هره نارا وا کوی - هم ځان په بل خرڅوی - هم قام او دین او ایمان خرڅوی -
پښتون سنګدل دے - په ظلم نه شرمیږی خو په زړه چه ئے کله کله راشی نو رحم هم
کوی - پښتون جهان ګرد او جهان ګشت دے - خو په وطن هم ډیر مئین دے - په درست جهان
کښے او ګرځی خو زړه ئے په وطن کښے وی - بل وطن کښے تل د خپل وطن ارمان کوی - او چه
موقعه بیا مومی نو د مړک نه وړاندے خپل وطن ته ځان رسوی -
پښتون آزادی پسند دے - او په خپله آزادئ تل فخر کوی - پښتون لور، خورتہ په
خپل مال او جائداد کښے برخه نه ورکوی - او د وادۂ په وخت کښے په لور، خور پیسے هم اخلی -
د پښتو او پښتون د دے تجزیے او تحلیل نه پس اوس به مونږ د خوشحال خان خټک د
شخصیت جائزه واخلو - او د هغه د شخصیت په مختلفو اړخونو به بحث اوکړو -

خوشحال خان په حیثیت د یو پښتون سردار

د خوشحال خان د شخصیت د مختلفو اړخونو د مطالعے نه ظاهره ده چه هغه یو نمونه
ننګیالے پښتون سردار ؤو - او د پښتنو د سردارئے په نازک خو مشکل هنر نه پوهیدلو -
د هغه په کردار کښے د پښتون قوم خوبئ او خامئ دواړه بیا موندے شی - خو خوبئ ورکښے د
خامیانو په نسبت ډیرے دی - او دا خوبئ صرف په یو ډیر اوچت انسان کښے په نظر راځی - د
خوشحال خان پیژندل په حقیقت کښے د پښتون پیژندل دی - او نه صرف د پښتون پیژندل
دی بلکه د یو پښتون خان یا سردار پیژندل دی - او نه صرف د یو پښتون خان یا سردار
پیژندل دی، بلکه د یو ننګیالی پښتون خان یا سردار پیژندل دی -
د خوشحال خان په کردار کښے مونږ ته لویه خامی دا ښکاری چه هغه د پلار د مړک نه
پس لکه د پلار نیکه په شان په حیثیت د خټکو د سردار، د مغلو منصبدار او جاګیردار شو - او د
مغلو دپاره ئے خپل هم قوم یوسفزو سره جنګونه کول - مونږ دا منو چه دا د هغه د کردار کمزورے
اړخ دے خو دا حقیقت کښے د هغه کمزوری نه ده - دا د هغے قوم کمزوری ده - یعنی د پښتون قوم
کمزوری ده - د کوم قوم چه خوشحال خان نمائنده دے - د پښتنو په تاریخ کښے، او د پښتنو په
معاشره کښے به څومره پښتانه تیر شوی وی - او یا به ژوندی وی - چه هغوئ ته به عهده منصب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جاګیر، انعام اومال په لاس ورځی۔ اوهغوئ به ورنه د قام په خاطر مخ واړه وی۔ اویا د دُنیاوی مفادو په خاطر به د قام مړئ پرے نکړی۔

بله داچه د خوشحال خان په زمانه کښے د مشترکه قومیت تصوّر هډو وُو نه۔ هرے قبیلے به خُان ته قام وے۔ لکه چه اوس هم هره قبیله خُان ته قام وائی۔ اویه بین القبائلی جګړو کښے هرے قبیلے به دا کوشش کولوچه په هرچل چه وی، خپله دښمنه قبیله اووهی۔ اومړانه اوهمّت ښهٔ خُوانتوب اولوئی په دے کښے وه چه قبائیلی جنګونو کښے خپله قبیله اوچته کړی۔ او دښمنه قبیله اوغورزوی۔ نوخوشحال خان کهٔ هم دا کوشش کولوچه خټک ئے د یوسفزو په مقابله کښے اوچتول۔ عن کهٔ د مغلو په امداد سره وُو نو دا په حقیقت کښے د هغے قوم کمزوری وه۔ د کوم قوم چه خوشحال خان سردار وُو۔ خوشحال خان شاید چه د مغلو خدمت هم خُکه په راستئ کولوچه هغهٔ خپل خیال کښے خپله قبیله په یوسفزو اوچتوله۔ اودا د هغه وخته سره، دومره بے مناسبه کار نهٔ وُو۔ لکه چه وائی ؎

زهٔ د یوسفزئ په خُان زهر وُم قاتل؛
بل مقصود م نهٔ وُو، په خدمت کښے د مغل

بله داچه یوطرف ته خوخوشحال خان د مغلو په پره کښے د یوسفزو سره جنګونه کول، چه د مغلو دښمنان وُو۔ اوبل خواته خوشحال خان د مغلو د مرضئ خلاف د بنګښو سره جنګونه کول چه د مغلو طرفدار وُو۔ نو دے نه معلومیږی چه د هغهٔ بین القبائلی جنګونه دومره د مغلو په خاطر نهٔ وُو لکه څومره چه د خپلے قبیلے یعنی د ختکو د برتری اولوئے والی په خاطر وُو۔ اویه دے حیثیت د خپلے قبیلے د سردار، هغهٔ دا جنګونه لکه د یو نمونه پښتون په شان ښهٔ په جرأت سره کړی دی۔ او په دے جنګونو کښے ئے دښمړانه او بهادری ښائیلے ده۔ لکه څنګه چه یو پښتون سردار ته پکار وه۔

د مشترکه قومیت تصور د خوشحال خان نه وړاندے، دا سے معلومیږی چه په دومړه منظمه اوښه طریقه هډو بل پښتون پیش کړے نهٔ دے۔ اوخوشحال خان خپله هم دے نتیجے ته پس له تلخو تجربو نه رسیدلے وُو۔ د مشترکه قومیت تصور، قومی، یا ملی پښتو ده۔ او دا څیز د پښتون په فطرت کښے نشته۔ د دے څیز د پیدا کولو کوشش، په پښتون کښے خوشحال خان په اول ځل کړے دے۔ اوهغه هم په دے کښے نا کامیاب شوے دے۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پښتون د پښتوارتقائی مدارج دادی چه اول هر پښتون دخپل ژوند ون د حفاظت اوعزت خیال ساتی - اوخپل ژوند د پښتنو په معاشره کښے د پښتنوپه لاروچلو تیرؤل غواړی - که ډیر پوهه اواصیل پښتون وی نوهغه د خان سره د خپل خاندان د حفاظت اوعزت خیال هم ساتی - اودائے خواهش وی چه د هغهٔ خاندان دهم په پښتو کښے چا لاندے نهٔ شی - اوچه ډیراوچت ،پوهه اوشریف پښتون خان یا سردار وی نوهغه بیا د خواهش لری چه د هغهٔ قبیله دهم د پښتو په لاروچارو کښے د نورو قبیلو نه وچته وی - اوبا عزته ژوند تیروی - اود قبیلے حفاظت اوعزت لکه د خپل خان اوخاندان په شان خیال ساتی اوعزت کړی .

د خوشحال خان خټک په زمانه کښے د پښتو اوچت نصب العین هم ترډغے پورے وؤ - او په دغه معیارهغه د اول سرنه ،یونمونه پښتون سردار وؤ .

د پښتو دریمه ارتقائی درجه یعنی داچه اصیل اونګیالے پښتون به د خپل خان ، خاندان او قبیلے د حفاظت اوعزت سره د پښتون قوم بحیثیت مجموعی د حفاظت اوعزت خیال د نورو قومونو په مقابله کښے غوره کړی - اود دے ملی پښتو دپاره به خپل خان ، خاندان اوقبیله قربانوی - دا تصور د خوشحال خان د زمانے په پښتون کښے نهٔ وؤ - هغهٔ په اول ځل د کوشش اوکړوچه دا مفکوره پښتون ته وړاندے کړی - اود دے مفکورے دپارهٔ ے جد وجهد شروع کړو - خوچونکه داخیز د پښتون په سودا یا تواوفطرت کښے نهٔ وؤ - د دے دپاره هغه په دے کوشش کښے پاتے راغلو - د قید نه سره پوهه چه کوم خوشحال خان وینو - داخوشحال خان د هغ خامئ نه پاک دے د کوے خامئ چه مونږ ذکر کړے دے - یعنی هغهٔ د مغل منصب پرینښو اود پښتون په ننګ داسے کلک اودرید وچه ترمرګه پورے ے دغه د خپل ژوند مرام او مقصد اوګرځولو - داخوشحال خان د ډیرو اوچتو خوبیانوا وصفتونو مالک دے - اودائه صرف د پښتون د یوے قبیلے سردار دے بلکه د کلهم پښتون قوم یولیډر ردے - اولیډر هم داسے لیډر نکه نږدیه په مغربی قومونو کښے د لیډرئ تصور دے - داخوشحال خان پیدا شوے خو د مشرق په ناپوهه کهستانی وطن کښے دے خو د قومیت سبق ے د مغربنه ډیر ډه کړے دے - اود قومی پښتو علمبردار دے .

د سرداریٔ چه په اشعارو کښے خوشحال خان کوم تصور پیش کوی د دے تصور او

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدے خوبیانو نمونہ دَخوشحال خان خټل ذات وُو۔

خوشحال خان وائی ـــہ

چہ کټل، خورڑل، بخښل کہ خان هغہ
چہ تورہ لری دَتورے څوان هغہ

دَخوشحال خان دَسرداری ژوند هم دغہ څیزوُو ۔ پہ دے شعرچہ څومرہ دَ خوشحال خان خپلہ عمل وُو، بل یو پښتون پرے عمل نۂ دے کړے۔ خوشحال خان دَ سرداری پہ حقلہ ډیرځۂ وئیلی دی۔ اوتش وئیلی ئے نۂ دی بلکہ عمل ئے هم پرے کړے دے۔ دا لاندینی اشعار اولولئ ـــہ

خانی کار دَهرچا نۂ دَ هغۂ دے چہ صرفہ ئے نۂ پہ زړوی نۂ پہ سر
یکبارہ ئے پہ نظر کښے شرم ننګ وی
دَدُنیا پہ سوداوزیان نۂ وی خبر

سردار هغہ دے چہ شرم ننګ لری مدام دَشرم تورہ تر څنګ لری
صرفہ پہ زرنۂ کہ، صرفہ پہ سرنۂ کہ
چہ دښمنان لہ هغو جنګ لری

چہ مئین پہ وسلہ نۂ وی مرد دِ نۂ وائی وځان تہ
لاس دِ سرۂ کړی سترګے تورے
ځان دِ وجوړوی څوان تہ
یا تکیہ دَ یوۂ خدائے دہ یا دَ تورے
پہ جرګو مرکو نۂ شی کار تمام

چہ صرفہ کاندِ پہ سر یا صرفہ کاندِ پہ زر
نۂ بہ خان نۂ بہ سلطان شی نۂ بہ خپل کاندی کشور

چہ پہ ځان مړنے نۂ وی
مړ نتوب نۂ کا لښکر
دَمزړیو مړنتوب پہ لښکر نۂ وی
مټ ئے هر کلہ یوازے پہ خپل ځان شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پښتون سردار دپاره د مړانې اوشجاعت نه علاوه سخاوت هم ضروری دے۔ او خوشحال خان دومره بنهٔ ځوان وُوچه سره د دے دومره لوے خانئ اوسرداری، هیڅ ے زکوٰة پرے فرض نشوے نهٔ وُو۔ د هغهٔ د سخاوت دروازه لکه د حاتم د هرچا دپاره هر وخت خلاصه وه۔ خوشحال خان وائی ؎

کهٔ کنجونه د قارون درته انبار شی　　په هر لوری ئے غورزوه په سخاوت

د خوشحال خان په دے خپله ویناخپله په مکمل طور عمل وُو۔ او عمل ئے هم په دے رنګ :۔

کهٔ حاتم غوندِ کرم کړے د مهرانو
د یوے د مړئ په چا مهٔ بړده منت

خوشحال خان په خپل مال کښے د هر غریب پښتون حصه کنړله۔ او دسترخوان ئے د هرچا دپاره غوړیدے پروت وُو۔ انغړے به ئے سړیدو ته نهٔ پریښو۔ دیګ به ئے هر وخت باندِ وُو۔ اولنګر به ئے جاری وُو۔ اوچه وفات شو نو حال ئے دا وُو۔ لکه چه خپله ئے دُعا غوښتے وه ؎

چه کالی ئے پاتے نهٔ شی مرده شوئے ته
خدا یه ورکړے وخوشحال هسے رحلت

ژوند ئے داسے پاک وُوچه د هغے زمانے مشهور ولی پیر شیخ رحمکار یعنی کاکا صاحب علیه الرحمة وصیت کړے وُوچه چونکه په دے زمانه کښے په شریعت محکم سړے، د خوشحال خان خټک نه بغیر بل څوک نشی کیدے۔ د دے دپاره کهٔ چرے ممکنه وی نو ماته د هغه غسل ورکړی او قبر ته م د هم هغه کوز کړی۔

د همت ئے دا حال وُوچه په پیرئ او ضعیفئ کښے چه بهرام خپل ځوئے مکرم خان د نیکهٔ د ګرفتارئ دپاره اولیږلو نو د هٔ توپک په غاړه کړو او د مکرم خان سړو ته ئے د مقابلے دعوت ورکړو، خو د هغوئ همت اونهٔ شو۔ او واپس لاړل۔ خوشحال خان وائی ؎

کهٔ آسمان د د مزرئ په خولهٔ کښے ورکړی
د مزرئ په خولهٔ کښے مهٔ پریږده همت

د خوشحال خان خپل همت هم د دے شعر ژوندے تصویر وُو۔ دا وه د خوشحال خان خټک سرداری، خومره بنهٔ ځوان وُو، خومره نمونه خان وُو۔ خومره لوے وطن دوست وُو۔ خومره لوے بهادر وُو۔ خومره لوے لیډر وُو۔ خومره بے مثله سخی وُو۔ خومره [illegible]

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

میلمه دوست وُو۔ خومره لوئے عالم وُو۔ خومره بنهٔ شاعر وُو۔ اوخومره پاک مُسلمان وُو۔ دَخوشحال خان خټک کردار، دَیوتورِیالی، ننګیالی، جنګیالی، فرهنګیالی اوغیرت مند، سخی، شریف اواصیل پښتون خان دے۔ داسے خان اوسردار چه په پښتنوکښے بل داسے اوچت نهونه سردار تراوسه نهٔ دے پیدا شوے۔

خپله وائی ؎

۱ نهٔ به خُما غوندِ بل ننګیالے راشی
نهٔ به خُما غوندِ بل جنګیالے راشی

۲ خټک لا پریږده په درست افغان کښے
عجب کهٔ هسے فرهنګیالے راشی

خوشحال خان په حیثیت دَکردار اودَګفتار دَغازی :۔

خوشحال خان په حیثیت دَیو مردِ شمشیرزن اودَکردار دَغازی مونږ څهٔ لږ ډیر اوپیژندو۔ خوشحال خان دَدیارلسوکالو په عمرکښے تورے تړلاس کړو۔ او دَپلار سره دَ جهانګیری په جنګ کښے په اول ځل شامل شو۔ اوداتوره دَهغهٔ دَلاس نه هله اوغورزیدهٔ چه دَشپږ اویاڅ کالو په عمرکښے دَآفریدو په علاقه کښے وفات شو۔ یعنی صرف ملک الموت دامجازلرلوچه دَپښتون دَدے بے نظیره مردِ شمشیرزن دَلاسه تورہ اوغورزوی۔ او دَ آرام په خوبے اودهٔ کړی۔ دَبل چاڅهٔ مجال وُوچه دَخوشحال خان په شان توریالے ئے دَتورے دَکارنه اړولے وے۔ تورہ دَهغهٔ ژوند وُو۔ تورہ دَهغهٔ ننګ وُو۔ اوهغه پیدا شوے تورے تهٔ وُو۔ خپل حال خپله داسے ستائی ؎

په آبا وپه اجداد خان وسردار یم — کارنامے لرم دَجنګ ودَجدال!
کهٔ برے کهٔ هزیمت واړه لیدلی — خوئ خصلت لرم دَقتل دَ قتال
پلار نیکهٔ مِ شهیدان وُکورته تلی — پشتاپشت مِ هُنردادے آل په آل
کهٔ دَجنګ دَپرهارونو درته وا یم — چه له دردہ به مِ تن وُونکه نال
یو پرهار به مِ لاروغ په وجود نهٔ وُو — بل پرهار به مِ په تن شوی پاته چال

چه قضا دَسړی نهٔ وی سړے نهٔ مړی
کهٔ ئے درست صورت په غشو شی غربال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

او یو بل ځای کښے وائی ؎

بخرهٔ د تیغ راکړه په اصل کښے پښتون یم
پلاس په نیکۍ نهٔ یم، بے دولته، بے حشمه

خوخوشحال خان تش د تورے خاوند نهٔ وُو. هغه د قلم خاوند هم وُو یعنی د کفتار غازی هم وُو. اود پښتون قوم یولوئے مفکر، معلّم. فلاسفر اوشاعر هم تیر شوے دے۔ ډاکټر اقبال په جاوید نامه کښے د خوشحال خان پیژندګلو داسے کوی۔

خوش سرود آن شاعرِ افغان شناس — آنچه بیند، باز گوید، بے هراس
آن حکیم ملّتِ افغانیاں — آن طبیبِ علّتِ افغانیاں
رازِ قومے دید و بے کا نه گفت
حرفِ حق با شوخئ رندانه گفت

په دے کښے هیڅ شک نشته چه خوشحال خان لکه څنګه چه علامه اقبال وائی، افغان شناس وُو. حکیم ملت وُو. اود ملت افغانیه، د علّتونو طبیب وُو. د هغهٔ کلیات او نور تصنیفونه ګواهی ورکوی چه لکه هغهٔ چه پښتون قوم پیژندلے وُو، داسے بل هیچا نهٔ دے پیژندلے. لکه چه د هغهٔ د تورے شرنګا اوخړپاچه دښمن به په خوب کښے هم واوُړیدهٔ، نو په لږه به د کټ نه پریوتو. داسے د بل پښتون توره به په مشکله پیدا شی. خپله وائی ؎

لا په خوب کښے په لږه پریوزی له کټ نه
چه د چا ترغوږ د تورے شرنګ دے

د غه شان د هغهٔ په قلم کښے هم لکه اقبال چه د نطشے په حقله وائی، د سند، غرزا، ډزا او غږهار وُو. ډیر ښه وردار قلم ئے لرلو۔

د رنځ کلکش غریوے تندر است

او خوشحال خان پخپله وائی ؎

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړو
د خبرو ملک م فتح په سمند کړو
.....الخ

او په یوه بله لویه قصیده کښے هغهٔ د خپل پیدائشی شاعرانه فطرت د

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شعروشاعرئ اودَ شاعر سړی اودَ خپلے شاعرئ یواوږد بیان نظم کړے دے چه سر ئے دَدے شعر نه شروع کیږی ـه

زهٔ دَ شعر په کار هیڅ نهٔ یم خوشحال
ولے خدائے م کړو په غاړه دا مقال

دَخوشحال خان ژوندار او پښتون قلم لکه دَهغهٔ دَ پښتنے ټورے په شان هم غوڅه کوی. اوهم مرهم دے. هغه چه دَ پښتنو په خوئ بوئ او دَ پښتنو په عاداتو، خصلتونو اودَ مختلفو قبیلو دَ نرا و بنځو متعلق څهٔ وئیلی دی، هغه صرف یوافغان شناس شاعر وئیلے شی. اگرچه هغهٔ ربنتیا وئیلی دی، خو ربنتیا تراخهٔ وی. په دے وجه په خلقو بد لگی. دَ مثال په طور دا لاندِ شعر ونه اولولئ ـه

چه دَ سړوه په ملک کښے بنهٔ پښتون یا دیږی

نن مهمند، بنگښ، ورک زی، آفریدی دی
دَ مهمند و سپی بهتر دی تر بنگښه
کهٔ هزار ځله مهمند بد تر ترسپی دی
چوهړی دَ افریدیو ورک زئ!
آفریدی کهٔ همه واړه چوهړی دی
هرچه بنهٔ دَ پښتو نخواه دی حال ئے دا دے
هغو بدو تهٔ ځوک وائی سړی دی
له ژوندیو پښتنو بنیګړه نهٔ شته
هرچه بنهٔ وُو هغه گل دَگور بندی دی

دَخپلو ختګو متعلق وائی :-

دَختګو سپی بهتر تر یوسفزو دی
کهٔ ختګ دی هم په خوئ ترسپی بیکار
په زرګونو راته لاف گراوس یو نشته آشنائی دَ هرچا بنه ده بے ختګه
مروّت، یاری ترے مهٔ غواړه خوشحاله
هر سړے چه او بهٔ او څښی له ا ټکه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه یوهم د زړهٔ ساتونې پکښې نشته

توبه، توبه د ختکو د اولسه

د ختکو نه م هومره زړهٔ ناخوښ دے — چه توبه د هغی ختک له نامه
د نعمت په قدر هیڅ خبردار نهٔ دی — نوم ختک به م خلاص نهٔ وی له انعامه
د وفا په ځائے همه واړه جفا ده — چه به ماته رسیده له خپله قامه

ختک واړه د دودام دی، که ئے ګورے
څوک به څهٔ غواړی خپلوی له ددو دامه

د پښتنو متعلق وائی ـه

پښتانهٔ که آدم زاد دی — په خویونو کښې هُنا د دی
نهٔ حکمت لری نهٔ عقل — خوښ هر کوره په فساد دی
یو د بل په کمی ناست دی — ځکه تل په بلا یاد دی

دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بندی نهٔ دی آزاد دی

او یو بل ځائے کښې وائی ـه

د عفریت ډے که د دیودے، که د ددے — د آدم له نسله نهٔ ګنړم افغان
که هر څو ورته د پند خبرے وائے
د پلار پندے هم بسهٔ نهٔ لګی په ځان

د خوشحال خان تصانیف

د پښتو ژبے د نثر او نظم دواړو بابا آدم خوشحال خان ختک دے - لکه خپله چه وائی ـه — که د نظم، که د نثر، که د خط دے

په پښتو ټر به م حق دے بے حسابه
نهٔ پخوا پکښې کتاب وُو نهٔ ځط وُو
دا دی ما پکښې تصنیف کړل څوکتابه

خوشحال خان د نظم او نثر د ډیرو کتابونو مصنّف دے چه د ځنو نومونه وکښے -

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دی :۔ ۱۔ کلیات خوشحال خان ۔ ۲۔ دستارنامه ۳۔ فضل نامه ۴۔ بازنامه ۵۔ سوات نامه ۶۔ زنځیری ۷۔ بیاض ۸۔ هدایه ۹۔ آئینه ۱۰۔ فراق نامه ۱۱۔ فرضنامه ۱۲۔ طبّ منظوم

دَخوشحال خان په ټولو تصانیفو کښے چه کوم مونږ ته رارسیدلی دی، اوموجود دی، په نظم کښے دَخوشحال خان کلّیات یواهم کتاب دے۔ دانهٔ یوازے په اهمیت کښے دَ پښتوَ نظم بائیبل دے۔ بلکه دَمضامینو په تنوّع۔ وسعت اوهمه گیرئ کښے هم دَپښتو شاهنامه ده۔ بغیر دَدے کتاب دَلوستونه دَپښتون دَفطرت په گوناگون، رنگارنگ او قسما قسم پیچیده ساده گئ پوهیدل گران کار دے۔ اولکه څنگه چه مونږ وړاندِ وئیلی دی، دَپښتون دَ پیژندلو دپاره، دَخوشحال خان کلّیات لوستل ضروری دی۔

دَخوشحال خان په کلیات کښے دَانسانی فطرت بالعموم اودَپښتون دَفطرت بالخصوص ډیره غزقه مطالعه اومشاهده ده۔ اودَمضامینو ورکښے دومره فراوانی ده چه دَپښتو په ادب کښے څهٔ چه دَدُنیا په ادب کښے، دَنظم له دے قسمه دیوانونه ډیرکم دی۔

دَنظم دَ تیکنیک دَ نقطهٔ نگاه نه هم دَخوشحال خان کلیات په پښتو ادب کښے، یو یگانه دُر دے۔ او ډیرا صناف لری۔ مثلاً غزل، رباعی، قطعه، قصیده، مخمس، مسدس، معشر، ترکیب بند، مربّع۔ مثنوی او ترجیع بند وغیره۔

لکه چه دَفارسئ دَادب بهترینه سرمایه دَفردوسی شاهنامه ده، دغه شان دَ پښتو په ادب کښے، دَهرلحاظ نه لوړ اواوچت ادبی اوفنی شاهکار، دَخوشحال خان دیوان دے۔ گهٔ دَپښتوَ ادب ټوله سرمایه یوخوا کړے اودَخوشحال خان کلیات بل خوا، نوبیا به هم دَخوشحال خان دیوان پرے درومند وی۔

دَخوشحال خان په کلیات کښے مفید، اخلاقی، ادبی، علمی، تاریخی، نفسیاتی او معاشرتی معلومات بیاموندے شی۔ دا کلیات په حقیقت کښے دَپښتون دَفطرت دَهرا پخ یوه پوره انسائیکلو پیډیا ده۔ دَتاریخی جنگونو حالات په دے کښے دی۔ دَدهلی دَ بنار مختصرخومنظوم تاریخ په دے کښے درج دے دَحکمت! غلاق خبرے، دَموعظت اوسیاست خبرے دَپښتون دَ تهذیب اوتمدّن، دَننگ مړانے اوغیرت خبرے په دے کښے دی۔ دَ نظامِ حکومت اودَ سرداریٔ دَفن او هنر په خبرو دا دیوان بنایسته دے۔ دَعقائدو،

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرقو، اودَ مذهب فلسفه دا کتاب لری۔ دَ پښتنو دَ نړۍ څو، دَ قبیلو اوخیلونو کردار په دے کښے منظوم پروت دے۔ دَ انسانی فطرت او نفسیاتو توضیحات اوتشریحات دا دیوان په ګوته کوی۔ دَ عشق و محبت دَ نازک اونفیس راز، رموز نړم دا دیوان ډک بنکاری۔ دَ مناظرِ قدرت، حسین بیانونه په دے کلیات کښے درج دی۔ قندِ فارسی په دے کتاب کښے بیاموندے شی۔ دَ مرکّب نظمونو یعنی فارسۍ، پښتو، پښتنو هندی مصالحدار، عجیبه اوخوندناک شعرونه په دے کښے درج دی۔ دَ تصوّف نازکے مسئلے په دے دیوان کښے حل شوی دی۔ غرض دا چه دیوان څهٔ دے یوجامِ جهان نما دے۔ اودَ دے ادبی جهان په شا دَ خوشحال خان عجیبه کردار سړے هر وخت اوپه هرشعر کښے محسوسوی۔ کله سړے دَ روه دَ کوهستانونو دا ډے مثله ننګیال لکه دَ شیرِ ببر په شان په قهر اوغرمبا دینی اوکله لکه دَ شیراز دَ بلبلِ هزارداستان په شان په شیرینو اوزړهٔ سوانو غزلو، بدلو کویان اومشغول بنکاری۔ کله لکه دَ طوفانی او موجزن سمندر په شان په غرهار اوشور کښے اوچتیږی او راخلاصیږی۔ اوکله لکه دَ رباب دَ لطیفو اوخوږو نغمو په شان په شیرین ګفتار مشغول معلومیږی۔

دَ کلیّات نه علاوه دَ خوشحال خان "دستارنامه" دَ پښتون په قدیم اوجدید نثر دواړو کښے یو ډیر اوچت کتاب دے۔ دَ دے کتاب نثر، لکه دَ خوشحال خان دَ نظم په شان معیاری دے۔ اونمونه نثر دے۔ تراوسه پورے ځما په خیال په پښتو ژبه کښے دَ دے نه بنهٔ نثر چا نهٔ دے لیکلے۔

دَ خوشحال خان شخصیت کښے دَ توږے اودَ قلم داسے حسین امتزاج دے۔ او داسے بنکلے ملګرتیائے دے چه ګمان نهٔ کړم چه دَ دُنیا په ادب کښے له دے قسمه ادبی شخصیت بل پیدا شی۔ دلته شاعر جرنیل دے۔ اوډیر دَ اوچتے پائے جرنیل۔ اوجرنیل شاعر دے۔ اوډیر لوړ شاعر دے۔ دَ یو داسے شخصیت پیدا کیدل ډیره ګرانه خبره ده۔

کهٔ ے ګورے نوخوشحال خان په میدانِ جنګ کښے پخپله رستم دے۔ په کمالِ شجاعت اودلاوریٔ سره دَ فنونِ جنګ په هر پهلو اوهر اړخ کښے، خپله بهادری، شجاعت اوښکنځ بنائی۔ اوس به تیراندازوی۔ اوس به دَ خدنګ اوتفنګ کارته وراندے وی۔ اوس به ګوښه غورزوی۔ اوس به شمشیرزن اوباتور شهسواروی۔ توره به ے په لاس وی۔ دَ مغلو دَ فوځ صفونو کښے به ے دَ قتل اومقاتلے بازار ګرم کړے وی اوچه بیا ے ګورے نو دَ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دے شاه زوره بهادر، جنګی سپاهی سردار خوشحال خان نه به، یونادر او صاحب کمال شاعر جوړشوے وی۔ دَخپلو جنګی کارنامو واقعه نګاری به دا سے په تفصیل، ادبیّت اوشاعرانه خوبصورتئ سره بیا نوی، چه ته به وائے چه کنی دَزوړ یونان هومردے۔ یا دَ ایران فردوسی، یا دَانګلستان بائرن دے۔ دَخپل رستمئ خان رستمی واقعات په هغه دلاویزه رزمیّه شعرونو کښے بیان کړی دی چه فردوسی ورته کوته په خوله حیران اودریږی فردوسی چه دَعربو ایران ته دَراتلو اودَزمانے دَګردش نه دَفریاد، خپل نوشته جذبات رالیږوونکی بیان ته فکراوکړئ۔

زشیر شترخوان او سوسمار عرب را بجائے رسیداست کار
که تخت کیان راکنند آرزو تفو برتو، اے چرخ گردان تفو

اوبیا دَخوشحال خان د مغلودَ پښتون وطن ته دَراتلو، اودَزمانے دَګردش نه، دَفریاد کولو بیان اولولی نو په زړه کښے لږ شرمنده شان شی ـه

رابنکاره شوے کج فهمئ دَجهان دَجهان دَکج فهمئ الامان!
داهم ځائے دَتعجب دے کهٔ ئے وینے په باز ونوچه غوټے دهی زاغان
داهم ځائے دَتعجب دے کهٔ ئے وینے چه مغل کاندی بازئ په افغان
داهم ځائے دَتعجب دے کهٔ ئے وینے چه کیدړ په واز دوړک اُوړی شیران
داهم ځائے دَتعجب دَحیرانئ دے
چه لښکرے په خوشحال کړه بهرام خان

کهٔ ئے ګورے نو یوساعت پس جنګی خوشحال خان دَهومرا و فردوسی خواپریږدی۔ دَحافظ او خیام سره دَفارس په ګلګونه میخانه کښے کښینی، شومه دم شوی وی۔ چُپه چُپیا وی۔ دَشیراز شنهٔ باغونه او چمنونه وی۔ دَسپوږمئ شپه وی۔ اوماه جبین هم. یوخوبرو او خوشرو، ساقی ورله سره شراب په شنه پیالئ کښے نیولی وی۔ او خوشحال خان ورته په مستانه او رندانه آواز کښے دَعشق او محبت غزلے اوبدلے وائی ـه

راله نیسی جانانه، دَشرابو پیمانه
دَشرابو پیمانه، راله نیسی جانانه

دَچنګ رباب زمزمهٔ راکښونکو نغمو محفل ګرم کړے وی۔ هرطرف ته مئے وی، میخانے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وی، روئے نگاروی. سبزه زار وی اوجوئبار وی، خوشحالی وی - بے هوشی وی، مستی وی شاعر وساقی ملگرے وی - اودَ واعظ نه بیزار - اوورته په ډکه خولهٔ وائی:-

مست یم مے پرست یم رندی کړمه، کړمه، کړمه!
واوُره محتسبه! بادهٔ خورمه، خورمه، خورمه

لاردَ محبت وه، تل به روغ سلامت نهٔ وم
زهٔ چه په داهسے لارے تلمه، تلمه، تلمه

..... الخ

اوبیا وائی ـه

زهٔ خوشرابی یم شیخه څهٔ راسره جنګ کړے
برخے ازلی دی، کاش که مادُخان په رنګ کړے

..... الخ

او واعظ ته په رندانه محفل کښے دَدین لاره داسے بنائی ـه

په څهٔ شان ئے دواړه زلفے کج په کج کړے
یکباره ئے دَعالم مینے په چج کړے

..... الخ

اوګورئ په مستانه اورندانه انداز کښے ساقی ته څهٔ رنګ په خوند، خوند خبرے کوی:-

آشفته دِ دَ جمال یم همیشه دِ په داخیال یم
نورو مینو ته مِ شاکړه مَثین ستا په زلف وخال یم

..... الخ

اوبیا وائی ـه

په څهٔ چل ئے ځائے نیولے ستا ترځنګ دے؟
دَ رقیب خبره مهٔ منه بد رنګ دے

..... الخ

یوساعت پس چه په خود کښے راشی - اودَ مستانه اورندانه شرابونشه ئے کوزه شی نودَ شیراز دَخوب داسے مکمله نقشه را کاږی، چه هیڅوک داګمان نهٔ شی کولے چه کنی خوشحال خان دَ روه دَ کوهستان یوجنګی سردار دے - اوتول عمر ئے دَجنګ جګړو سره کاردے. بلکه دَ سړی داخیال پیداشی چه دَ ایران یو عیش پسند، دَ شراب او کباب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ولدادہ، خوش کلام شاعر دے۔ اوتول عمرئ د فارس د رنگینے شعر و شاعرئ په شغل کښے تیرشوے دے۔ کۀ د مناظرِ فطرت د مشاهدو باریک بین اوشاهد باز خوشحال ته فکر اوکړئ نو وائی به چه تول عمرئ د انکلستان په پُرفضا سبزه زار ونو کښے تیر کړے دے۔ د انګریز شاعر "ورډزورتھ" سره هم پیاله وهم نواله اوسیدلے دے۔ دواړه یوشان لوئے شوی دی۔ یوشان ئے تربیت اخستے دے۔ اویوشان د قدرت د نندارو دلدادہ دی ؎

چه موسم م د ګلونو د ګلزار شی　　نرم نرم ترشح په مرغزار شی
د هغۀ له بخته څوک برابری که　　چه په هسے وخت ئے سیر په ګلزار شی... الخ

اوکۀ د علم اخلاق نه واقف، د تصوف په رموزو پوهه، او د مذهبیاتو او ادبیاتو ماهر صوفی خوشحال خان موپه نظر راشی نو وائے به چه د مولانائے روم صاحبؒ شاګردی ئے کړے ده اود ؎ "بشنو از نے چون حکایت مے کند ∴ وز جدائیہا شکایت مے کند" په راز پوهه دے۔ د عشق د فلسفے رازئے په یو رباعی کښے داسے ستایلے دے ؎

چا په وخت د ځنکدن ووے مجنون ته　　وخت نازک دے په زړۀ یاد ولره خدائے
دۀ وے زړۀ م د لیلیٰ د مینے پُر دے
پکښے نشته دے د نورو یاد و ځائے

اویلئے د شیخ سعدی صاحبؒ سره سبق وئیلے دے۔ د هغۀ جماعتی پاتے شوے دے۔ دواړه ویوځائے سیاحت کړے دے۔ اودواړه د علم اخلاق سبق د یو اُستاذ نه زده کړے دے۔ فرق صرف دومره دے چه سعدی صاحبؒ خپله خولۀ په ایران کښے پرانسته اوخوشحال ختک د پښتون په کوهستانی وطن کښے دارنګ کویان شو ؎

غصب ملوک لره دروغ مُلا لره　　بُخل غنی لره فحش نساء لره
داخلور توکه هر کوره بد دی
فکر چه راغے په زړۀ کښے مالره

غرض داچه خوشحال خان یو داسے بے نظیره صاحبِ سیف، او صاحبِ قلم شاعر تیر شوے دے چه په خپل دیوان کښے ئے د هر رنګ د انسانی جذباتو ترجمانی عموماً او د جنګ جدل د قومی حمیّت، عزت، غیرت او ننګ د نادر بیانا تو خصوصاً یوه مکمله، بے نظیره نقشه پیش کړے ده۔ او د خپلو جنګی، رزمیه جذباتو اظهار خوئے په داسے زور دار و الفاظو کښے کړے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په آ و رید وئے تراوسه پورے د هر پښتون څومنه زیږ زیږ شی۔

خوشحال خان په حیثیت د یو مُسلمان

خوشحال خان خټک په مذهبی عقائدو کښے سوچه او پوخ مُسلمان دے۔ په اهل سنّت والجماعت کښے حنفی المذهب وُو۔ په یوه قصیده کښے د خپلو مذهبی عقائدو متعلق دے وائی

پُشت په پُشت راغلے مُسلمان محمّدیؐ یم — چار د چار یارانو سره وایه منم سمه
درست په دا پوهیږم چه څلور مذهبه حقّ دی — نږهٔ د حنفی مذهب دعوی لرم محکمه
مینه ئے په زړه کښے د علماؤ راکړه دیره — مینه ئے د دورد شیخانو راکړه کمه
نهٔ خراباتی، نهٔ قمارباز، نهٔ زناکار یم
نهٔ قاضی مفتی چه ئے نظر په خو درمه

د خوشحال خان د اشعارو نه معلومیږی چه په هغهٔ کښے حُبّ رسولؐ پیروُو۔ او د اهل بیتو سرهٔ ئے هم پیر عقیدت وُو۔ او وړاندے مئین وُو۔ د خوشحال خان د لاندنیو اشعارو نه د هغهٔ د عشق رسولؐ اندازه ولګوئ ے

د خدائے عرفان م اوشو په عرفان د محمّدؐ
پاک دے محمّدؐ، پاک دے سبحان د محمّدؐ ..... الخ

خوشحال خان د حضرت علی کرم الله وجهه سره هم پیر عقیدت لرلو۔ او د اهل سنّت د امامانو نه علاوه د اثنا عشره، دولس وړاندے امامانو ئے هم د هدایت او احترام مستحق ګڼلے۔ د حضرت علیؓ په تعریف کښے د خوشحال خان دا لاندینی اشعار د لوستو دی ے

کهٔ پکار دِ وه د خدائے پیژند ګلی
پیروی د محمّدؐ کړه د علیؓ
..... الخ

خوشحال خان په هغے مُسلمانانو بد وائی څوک چه د حضرت علیؓ مخالفت کوی۔ یا د حضرت عمرؓ۔ د خوشحال خټک په عقیده د خلفائے اربعه قدر، عزت او احترام د مُسلمان د مذهبی عقائدو جزو لاینفک دے۔ او څوک چه په دوئ کښے د هر یو قدح کوی، د هغهٔ په مُسلمانئ کښے خلل دے۔ خوشحال خان د مُسلمانانو د فرقو او تنازعو نه اوچت وُو۔ او پیر یو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

متوازن او راسخ مُسلمان وُو. هغه دَ عقیدے اظهار داسے کوی. ؎

چه په سب دَ ابوبکرؓ اودَ عُمر دی
چه په خولهٔ کلمه لولی هم کافر دی

الخ .....

رسول کریم صلی الله علیه وسلم دَ حضرت ابوبکر صدیقؓ اودَ حضرت عمرؓ متعلق به وے چه په دے دواړو کښے دَ نبوّت جوهر دے. اودَ حضرت ابوبکر صدیقؓ متعلق به ئے فرمائیل چه نړۀ او ابوبکرؓ دواړه په مثال دَ اَس زغل دَ اَسونو یُو. نړۀ مخکښے شوم او ابوبکر په ما ایمان راوُړو. کهٔ هغه مخکښے شوے وے نوما به پرے ایمان راوړے وُو. او دَ حضرت علی کرم الله وجههٗ متعلق به ئے فرمائیل چه نړۀ دَ علم بنار یم اوعلیؓ ئے دروازه ده. دَ علم باطن خاوندان وائی چه ولایت بغیر دَ حضرت علیؓ دَ مهر نه، نهٔ تصدیق کیږی. دَ خوشحال خان چه دَ حضرت علیؓ اودَ هغهٔ دَ آل او اولاد اودَ اصحابو سره کوم محبت وُو. دَ لاندِ اشعارو نه ظاهر دے ؎

انبیاء تر محمدؐ پورے معلوم دی
لکه ستوری تر آفتاب پورے معدوم دی

الخ .....

دلته شاید چه څوک دا سوال اوکړی، چه خوشحال خان، چه دومره بنهٔ مُسلمان وُو نودَ مغلو سره ئے جګړے ولے کولے. اوبیا دَ مُسلمان بادشاه اورنګ زیب عالمګیر سره ئے ولے داسے پخه دښمنی وه.

دَدے سوال جواب ما وړاندِ ورکړے دے. خودلته بیا په اختصار سره عرض کوم چه دَ اسلام لوئے اتحادی، مذهبی قومیت چه دَ مُسلمانانو نودَ خود غرضو، بد عملو، نفاق اوخپلوکښے دَ جنګ جګړو وجه درے وړے لاړه. نودَ مُسلمانانو، دَ نسل، نسل، ځان ځان ته حکومتونو اوبادشاهئ غرض دے. ځان ځانئ کښے پښتنو هم کوشش اوکړو چه ځان ته حکومت اوبادشاهی جوړه کړی. اوپه دے کوشش کښے پښتانهٔ کامیاب شول. اوپه هند کښے ئے خپل نسلی شهنشاهیت قائم کړو. خومغلو مُسلمانانو نودَ پښتنو مُسلمانانو نوداشهنشاهیت ختم کړو. اوخپل نسلی شهنشاهیت ئے ځان ته قائم کړو. چه دا اسلامی حکومت نهٔ وُو.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بلکه یوه نسلی، مغلی بادشاهی وه - اودے بادشاهۍ لکه د ایران د صفوی یا نورو شاهانو پښتنۍ نۀ صرف خپل غلامان جوړول غوښتل بلکه ښځې د پښتون نسل ته ورکول غوښتل .

د خوشحال خان د مغلو خلاف آواز او چتول او د هغوئ مخالفت کول په حقیقت کښے د مغلو د نسلی شهنشاهیت د جابرانه او ظالمانه رویے ردِ عمل وُو - او خوشحال خان، لکه څنګه چه کیرو وائی اورنګ زیب عالمګیر هم محض یو منافق، ظالم، جابر مغل شهنشاه ګڼلو چه د پښتنو نوغے ئے ایستل غوښتل - او په دے وجه د هغے مخالفت

. . . . خوشحال خان سره واګڼلو . د اورنګ زیب متعلق خوشحال خان خټک وائی ـ

د دے دور شیخان د پردی لور په لور اورنګ زیب بادشاه د دوا د ډوډۍ نۀ ښور
په هغه چا ئے قلم ساز کا قرآن کښے په هغه چا ئے شاه رګ پرے کا د زور
په رکوع کښے تسبیحان د پلار د مرګ کا
په سجود کښے زوری خپله مشره خور

په دے کښے شک نشته چه اورنګ زیب سره د خوشحال خان ذاتی دښمنی هم وه اورنګ زیب خوشحال خان او ۀ کاله په هند کښے اسیر او جلاوطن ساتلے وُو - او هغه هم بے قصوره - لکه خپله چه وائی ـ

په ناحق د اورنګ زیب په بند بند ئے خدائے خبر دے په تهمت او په بهتان
زۀ په ځان کښے ګناه نۀ وینم په خدائیګو ولے نور خلق خبرے کا شان شان
د ګناه م سر نۀ دے معلومه
مګر خپل هُنر د ځان وینم تاوان

خو د اورنګ زیب د پلار بندی کول او د رونړو، د تخت حاصلولو او تینګولو په خاطر وژل یو حقیقت دے - او خوشحال خان، د اورنګ زیب د نورو عیبونو سره سره، دا حقیقت بیا بیا ستائی - او په دے وجه د اورنګ زیب مخالفت ثواب ګڼری . نو ځما خیال دے، که ځوک په دے وجه خوشحال خان ته بد وائی . یا بنۀ مُسلمان ورته نۀ وائی، نو هغه به په کومه خولۀ اورنګ زیب ته بنۀ مُسلمان او وائی .

خوشحال خان د مذهب په ظاهر یا تو او رسوماتو نۀ خطا کیږد . هغه د مذهب روح ته کتل - او په دے وجه هغه اورنګ زیب بنۀ پیژندلو - او په اورنګ زیب ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بدوے۔ خوشحال خان د مذهب متعلق وائی ـه

نړۀ خود نړۀ درد غواړم په هر یوۀ مذهب کښے
ستازده د اچلونه، چه نقلونه رنګارنګ کړے

د خوشحال خان اخلاق او عادات

خوشحال خان د اوچتو اخلاقو پښتون سردار وُو۔ په میلمستیا، مروّت، سخاوت کښے ئے خپله ثانی نۀ لرله۔ په ورکړه کښے مشهور وُو۔ او لکه د هغے وخت د پښتنو خانانو نو په شان د ښکار په ډیر شوقی وُو۔ او د باز په ښکار په ډیر مئین وُو۔ اسونه، بازونه، او ښکاری سپی د خوشحال خان په ډیر خوښ وُو۔ او په ډیر په شوق به ئے پالل۔

د بازونو د مرضونو، د بازونو د علاج، د بازونو د عادتونو او ښکار نه بښۀ واقف وُو۔ د خوشحال خان مشهور تصنیف باز نامه موږ ته بښائی چه هغه د بازونو په علم کښے هم یکتا وُو۔

د باز ښکار، د خوشحال خان په شاعرئ عرق اثر غورزولے وُو۔ د هغۀ په شاعرئ کښے د مردانه پرندو او ښکاری مرغانو لکه باز، شاهین، عقاب وغیره ډیر ذکر دے۔ او د دے پرندو د ښکار، او خوئ بوئ نه هغه چه کوم شاعرانه استعارات او تشبیهات اخذ کړی دی هغه د پښتو د شاعرئ یوه قابلِ قدر سرمایه ده۔

خوشحال خان خپله یو تورزن، جنګی سردار وُو۔ مړانه، شجاعت، تورزنی د هغۀ په وینه کښے اخښلی راغلی وُو۔ هغه په فنونِ جنګ کښے ماهر وُو۔ او لکه د بازونو د ښکار په شان د جنګ مشاهده او تجربه د هغۀ ذاتی وه۔ هغۀ خپله جنګونه کړی وُو۔ او جنګونه ئے لیدلی وُو۔ او په دے وجه د هغۀ په شاعرئ د جنګونو، د قتل قتال او خون خرابے یوهکاره اثر دے۔ هغۀ د دے مشاهدے او تجربے نه هم ډیر ښکلی شاعرانه استعارات او تشبیهات پیدا کړی دی۔

خوشحال خان پیدائشے شاعر، عاشق مزاج او حسن پرست وُو۔ خو عیاش او باش نۀ وُو۔ خپله وائی چه نۀ خراباتی یم۔ نۀ قمارباز یم، نۀ زناکار یم۔ او دا صحیح وائی۔ په هغۀ کښے له هیڅ قسمه بد عادت نۀ وُو۔ البته جنسی جذبات ئے فراوان او قوی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وُو۔ اوجنسی هیجان ئے پیرُوو۔ خوله دے قسمه خواهشاتو د تسکین دپاره ئے ناروا، حرام اوناجائز نهٔ کول۔ یعنی د زنانه ئے ځان ساتلے دے۔ البته ودونه ئے پیرکړی وُو۔ دَخپلو جذباتو اومشاهدو ذکرئے په کلیات کښے پهٔ بیاکئ سره کړے دے۔ دا هم دَهغهٔ په صاف گوئیُ اوحق گوئیُ دلالت کوی۔

خوشحال خان عالم وُو، اوعلم دوست وُو، اوعالمانو سره ئے ناسته پاسته خوښه وه۔ دَهغه زمانے په عربیُ اوفارسیُ کښے چه څهٔ مروّج علمونه وُو، دا سے معلومیږی چه د دغه علوموئے غرقه مطالعه کړے وه۔ په فارسیُ ژبه ئے بنهٔ قابو وُو۔ اوپه فارسیُ کښے ئے هم شاعری کوله۔ اوپه کوم کثرت اوصحیح طریقه چه هغهٔ په خپل نظم اونثر کښے د عربیُ د الفاظو اولغتونو استعمال کړے دے، دَهغ نه معلومیږی چه په عربیُ ژبه ئے هم عبور وُو۔ د کلام نه ئے معلومیږی چه د قرآن پاک د تعلیماتو نه بنهٔ خبر وُو۔ اود دینی علوموپه زده کولو کښے ئے هم بنه دلچسپی اخستے وه۔ په پښتو کښے ئے د اسلامی فقهٔ مشهور کتاب «هدایه» ترجمه کړے دے۔ په یوبل کتاب فضل نامه کښے ئے فقهی اومذهبی مسائل راجمع کړی دی۔ اود وړوکی بحر مثنوی کښے ئے نظم کړی دی۔

جنگ۔ توره۔ باز، کتاب اوقلم ئے په ژوند کښے پسندیده مشاغل وُو۔ او په آخری عمر کښے خوصرف قلم اوکتاب ئے شغل وُو۔ لکه چه وائی ؎

چه مې یار دے، یا قلم دے، یا کتاب دے
اوس دے یارئ پاتے په ابصار شوم

بنکلی مخ ته د تینگے نه وُو۔ لکه چه وائی ؎

څهٔ له راته وائے چه په بنکلیو نظر مهٔ کړهٔ ستړے چه پیدا دی خو دیدار لره کنه

اوسرو دئے پیرخوښ وُو۔ لکه چه وائی ؎

دَخوشحال د خوشحالئ وخت هم دا دے
چه رباب سرښیده جوړ سره غږیږی

د قوی اراده انسان وُو۔ اود پښتون د ننگ د مقدسے جذبے ژوندے مثال وُو۔ خپله ننگیالے وُو۔ اود ننگیالو، شاه څلمو پیرقدردان وُو۔ د تورو خرپا، شرنگا اوپرقائے خوښه وه۔ او نیزے په غاړه چه شوانانو به آسونه په تړپولو کړل،

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نودَدۀ زړۀ به هم په ګډیدو شو. وینه به ئے ګرمه شوه. په سیلئ به سور شو. توره په لاس نیزه په غاړه به جنګ ته روان شو.

چه څوپورے د مغلو منصبدار وُو، نوښۀ په راستئ ئے د مغلو خدمت کولو. او چه د مغلو سره ئے ورانه شوه نو بیا تر مرګه مرګه ئے ورسره روغه او نشوه. او مغلوته ئے سرتیټ نۀ کړو. یعنی یو بنۀ دوست او پوخ دښمن وُو.

خان سیاستدان او مدبّر هم وُو. او د خپل بنۀ تدبّر او سیاست نه به ئے په موقع، موقع بنۀ کار اخستو. خوشحال خان متدیّن وُو. د صوم وصلوٰة پابند، او په شرعه محکم ولاړ وُو. په عقائد وکښے سوچه مُسلمان وُو. طبیعت کښے ئے د خانئ سختی او دُرشتی وه. خو د زور او ظلم نه ئے خان ساتلو. او همیشه به ئے د خوارو، بیسټمندو امداد کولو. پیدائشی جرنیل او تجربه کار حاکم وُو. د سردارئ او د حاکمئ په هُنر بنۀ پوهیدو. د خپل اولس سره خپل تعلقات به ئے دوستانه او مشفقانه وُو. خو د خپل مټ د لاندې به ئے ساتل. خورډل، خورل او بخښل ئے د ژوند اصول وُو. د طبابت او حکمت په کار هم بنۀ حاوی وُو. د حفظانِ صحت د اصولو نه واقف وُو. د صحت البدن په نوم ئے پوره رساله هم لیکلے وه.

یو شفیق خو بارُعبه پلار وُو. ځامنوته ئے همیشه د ننګ، د تورزنئ او شجاعت تعلیم او تربیت ورکولو. د اشعارونه ئے سړے اندازه لګولے شی چه یو بنۀ مینه ناک خاوند هم وُو. په خبرو کښے ئے سنجیدګی او متانت وُو. خو د ظرافت نه به ئے هم کار اخستو.

په ژوند کښے د جد وجهد او سخت کوشئ قائل وُو. او د زمری، باز او شاهین ژوند ئے ځان ته نمونه ګرځولے وُو. او هم په دغه ئے عمل وُو.

خان صاف ګو وُو، حق ګو وُو او د حق پرستومل وُو. یعنی سپینه به ئے کوله. سپینه به ئے وئیله. او په زړۀ سپین خلق ئے خوښ وُو.

په پیرئ کښے ئے هم ځوان زړۀ لرلو او په ظریفانه خبرو او اشعارو به ئے نړۀ خوشحال ساتلو. لکه چه وائی ـــ

خوشحال ختک که زوړ شو ـــ عیب ئے کوم دے ګیدی خرو
د آسمان په دَور نوړی ـــ بوئ د مښکو د عنبرو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ډیر کاله پرے ستیرشی! بوئ لا بنهٔ شی د اګرو
چا پرے ګوته اینښے نهٔ ده د زړو والی په ګوهرو
په هر بازار چه ورشی
قدر نهٔ ځی د سرو زرو

د خوشحال خان د اخلاقو، عاداتو، کارنامو او تصانیفو د لوستو نه پس سړے ګمان کوی چه ګنی د روه د غرونو، دا سپین کټه شهباز بشر نهٔ وُو، بلکه فوق البشر وُو.

د خوشحال خان اولاد

خان ډیر کثیر الاولاد بنیادم وُو. محمد نواز ختک د ښاغلی پښتون په دیباچه کښے لیکی چه خوشحال خان ختک د درے دیرشو لونړو او اوهٔ پنځوس ځامنو پلار وُو. په دوئ کښے پینځهٔ څلویښت اولادے لوئے شوی او کمال ته رسید لی وُو.

د یو روایت مطابق د خوشحال خان ختک د شپیتو نه زیات خوتش ځامن وُو. او دیرش ئے لونړه وے. د ځامنو د تعداد او خوئ بوئ په حقله خوشحال خان ډیر څهٔ ځائے په ځائے په خپل کلیات کښے وئیلی دی. لکه چه وائی ؎

اتهٔ ویشت لرم خویه نشته یو د بل په رنګ
اشرف م لائق خوئے دے دریغه نهٔ وے په خوئ پرنګ
صدر د نورځهٔ نهٔ دے خوئے غواړی په پالنګ
بهرام هغه خنزیر دے چه لائق دے د تفنګ
خانان هغه شاهین دے چه ئے سرهٔ په وینو چنګ
باز په لاس د عظیم کار دے یا مزرے دے یا پلنګ
نظام د ریښمین رومال دے پورے غوټه موتے بنګ
یحیی خالد دا دواړه بوالعجب لری فرهنګ
په واړه وکښے آزاد دے هم د روغے هم د جنګ
بخت ناک هغه ځلمے دے نشته بل د دهٔ په رنګ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مآلو جلو دا دواړه ژک ژوندی په مزکه ړنګ
نور غشے اغزین دے
سر اغزے دے یا خدنګ

او د خپلو لونړو متعلق په کلیات کښے داسے وائی ؎

هرڅوک پلار د لونړو مړ شه په ډیر غم شی مبتلا
څوچه لونړه وی په کور کښے په کور وی هومره بلا
څما په کور کښے دیرش دی کهٔ تر دیرش دی ډیرے لا
کهٔ به غم وُوهم دَدے وُو راسره صبا ، بیګاه
هم پخپله خدائے وادهٔ کړے
چه له سرا به شوم جُدا

خوشحال خان خټک په خپل دیوان کښے د خپلو څامنو او بالخصوص د بهرام د لاسه ډیر سر ټکولے دے . او ډیر بد ردے ورته وئیلی دی . خو د نظام په مړک ئے ډیره دردناکه مرثیه د قصیدے په شکل کښے لیکلے ده . دا زما سیزونکے مرثیه دَدے شعر نه شروع کیږی ؎

څهٔ داغونه ږدے په زړهٔ باند فلکه
چه نظام د له ما بیل کړهٔ خوائے ډکه

پوهه ..... الخ

او په دے مرثیه کښے چه خوشحال خان په کوم اند از سره د پښتون د ننګ او ورسره د خپل ننګ او قومی جذبے اظهار کړے دے ، دا ډهغے خلقو په مخ څیړه ده . څوک چه د خوشحال خان په عظیم ، ننګیالی شخصیت کښے څهٔ کمے وینی . یا محسوسوی . کاشکے څوان د پښتانه په ننګ کښے مړوے نهٔ چه کورلره سروان شوله توشکه
چه د قام په ننګ کښے ومړ هغه څوبیه
په عالم کښے د خپل پلار غاړه کا لکه

او کورئ د خوشحال خان خلیلے څوئے د شپږ و اوهٔ ویشتو کالو په عمر کښے وفات شوے دے . او پلار ته کهٔ د دے نیازبین او څوانی مړک څوئے په مړک څهٔ ارمان ورځی . نو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه داچه په کټ پوزی ولے مړشو۔ د پښتون په ننګ کښے ولے مړنۀ شو۔ او په ارمان کښے وائی ؎ کاشکے خوان د پښتانۀ .....

نظیری صرف دومره قدرے وئیلی وُو چه ؎

کسے کہ کُشتہ نہ شد از قبیلۀ ما نیست

او اقبال د نظیری دا مصرعه په دے شاندارہ طریقه اوستائیله ؎

بہ ملکِ جم نہ دہم ، مصرعۀ نظیری را

کسے کہ کُشتہ نہ شد از قبیلۀ ما نیست

کۀ اقبال د خوشحال خان خټک د مرثیے دا اشعار، چه د خپل نیازبین خوئے په مرګ ئے وئیلی دی۔ آوریدلے وے۔ نو ګورئ چه د قاموئ او پښتو نولئ دا نایاب دُر به ئے په کوم قیمت اخستے وے۔ او په کوم اوچت شاعرانه رنګ کښے به ئے ستائیلے وے۔

د خوشحال خان خټک د دے ابیاتو نه په بنۀ شان معلومیږی چه د هغۀ په زړۀ او دماغ او روح صرف یوه مقدّسه او پاکه جذبه غالبه وه۔ او هغه د پښتون د ننګ جذبه وه۔ هغۀ هم د دغه جذبے د لاندِ د اولنګ زیب د مغلی حکومت مقابله کړے ده۔ په دے باب کښے نورځیزونه فروعی وُو۔ چه معنوی تګ ورکښے هم دغه د پښتون د ننګ خبره وه۔

په یوه بله قصیده کښے، د خپلو خامنو د لاسه داسے فریاد کوی ؎

یا د خپل اولاد د لاسه شاهجهان زړه

یا خوشحال دے، په فریاد په نارۀ سر

او بیا وائی ؎

ناخلف م حواله کړۀ په تقدیر — نصیحت ورباندِ نۀ کاندی تاثیر

بد فرزند د خدائے دهیڅا ییدا مکړه — په خصلت ئے پلار په خان وی مور په ویر

دریغه یو پکښے شهباز شوے یا خوشحال شوے — شل پنځۀ لرم همه صغیر کبیر

مشران ئے د شړئ ګنده پشم — کشران دی په مثال اومۀ حریر

نالائق خو یه دومره پیدا مۀ شه — دا لابنۀ کۀ څنے او زیری خنزیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یولائق څوئ ترزروځویو بنهٔ دے
دپیر بهٔ څهٔ که څوک چه نهٔ وی دلپذیر

یوه بله قصیده کښے وائی ؎

چه م اولیدهٔ دَخپلو څویو کار — څویه واړه جگړخون دی دَخپل پلار
خوځما کړه نړوڼی دی دپیر څویه — دَ نورچانهٔ دی پیدا په دا دیار
موافق م په خور منځ یوځویه نشته — همگی واړه دَخپل غرض دی یار

نورترډا دپاسه شکر کړه خوشحاله
چه له ټانه خپل بابا نهٔ وُو آزار

په یوه قطعه کښے داسے وائی ؎

کوښے کوښے څماځان لره بلا شول — چه پیدا دی همگی څماله څانه
که پنځوس دی که شپیتهٔ دی داغ دَ زړهٔ دی
یوځو لا پکښے آفت شول تر دا میانه

په بله قطعه کښے داسے وائی ؎

وعالم ته خوشحال ز وړځویهٔ ځوانان دی
دَ زاړهٔ بلاپه سر دَ دیو ځوانانو !
پلارئ درسته ورځ په بنکار وځی اَسونه
په پالکئ کښے ځی په رنگ دَ رنځورانو

که په شمار په حساب دیرشوته نزدے دی
همه واړه دی په شمار دَ نامردانو

دَخوشحال خان ختک په ځامنو کښے مشهور دا لاندینی دی :-

اشرف خان - سعادت خان - بهرام خان - عابد خان - عبد القادر خان - صدر خان - گوهر خان - سکندر خان - او نظام خان - په دوئ کښے لکه دَ پلار په شان بنهٔ شاعران دا دی :- اشرف خان - عبد القادر خان - سکندر خان - صدر خان - گوهر خان -

او په دوئ کښے لکه دَ پلار په شان تورزن عابد خان وُو - دَ روړه په جنگ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عابد خان ډیره مړانه ښائیلې وه. اشرف خان هجری د خوشحال خان په ژوند وخت کښے. تولو کښے مشر ؤو. پلار په خپل ژوند د ځپلو کو سرداری حوالہ کړے وه. خو مغلو اونیولو. لس کاله د بیجاپور په قلا کښے بندی ؤو. اوهم هلته وفات شو. د ده ځوئے افضل خان د پښتنو تاریخ لیکلے دے چه په تاریخ مرصع مشهور دے.

عبدالقادر خان خټک هم د پښتو ژبے ډیر لوئے شاعر تیر شوے دے. صاحب دیوان دے او د سعدیؒ گلستان او د جامی یوسف زلیخائے پښتو کړی دی.

د خوشحال خان خټک په لونړو کښے بی بی حلیمه، شاعرهٔ او فاضله وه.

خوشحال او اقبالؒ

میر عبدالصمد خان آفریدی چه د خوشحال او اقبالؒ په نوم یو جامع کتاب لیکلے دے. په دے کتاب کښے څنے خبرے هغه ډیرے د کار لیکلی دی. او په دے وجه دا یو ډیر قابلِ قدر کتاب دے. ځما د عبدالصمد خان د څنے نظریات سره مکمل اتفاق دے. خود هغهٔ د څنے نورو نظریو سره زهٔ متفق نه یم. زهٔ دلته په هغه تولو خبرو بحث نهٔ شم کولے، کوم چه میر صاحب په خپل قابلِ قدر کتاب کښے په تفصیل سره لیکلی دی. البته د "خوشحال خان او اقبالؒ" د فلسفهٔ حیات، د هغوئ د تصور د انسان، د هغوئ مشترکه تعلیمات او پیغام. او د ډاکټر اقبال چه د خوشحال خان خټک سره کوم عقیدت ؤو. د دے موضوعاتو په سلسله کښے، په اختصار سره خپلهٔ عرض کول غواړم.

ځما په خیال د خوشحال خان د فلسفهٔ حیات مرکز او محور "پښتو" وه. او د ډاکټر اقبال د فلسفهٔ حیات محور او مرکز "خودی" وه. خوشحال خان لکه د اقبال په شان یو منظمه فلسفهٔ حیات نه لرله خو د پښتون په اسلامی معاشره کښے چه د برگزیده او اعلیٰ ژوند د تیرولو دپاره د هغهٔ په ذهن کښے کوم مقتدر اقدار ځائے شوی ؤو. او د هغے اقدارو نه چه د هغهٔ په ذهن کښے کومه فلسفهٔ حیات جوړه شوے وه. هغهٔ په خپلو اشعارو کښے د دغے اقدارو بیا بیا ذکر کوی. او د دغے اقدارو مداح دے. او خپل قوم ته دغه پیغام ورهاندے کوی.

چونکه په اسلامی ملکونو کښے هر څومره لوئے مفکرین، فلسفیان او شاعران چه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تیرشوی دی، دَدوئ دَ شاعرانه الهام سرچشمه دَاسلام دَمقدس دین تعلیمات وُو۔ دَ دے دپارهٔ دَ دوئ په شاعرانه تعلیماتو اوپیغاماتو کښے مشترک اقدار پیردی۔ اودامستند اسلامی اقداردی۔ یعنی دَاسلام دَ فلسفهٔ اخلاق اقدار دی۔

دَ دے نه علاوه، دَخوشحال خان چه څهٔ مطالعه وه، هغه دَعربئ اوفارسئ تر کتابونو پورے محدوده وه۔ او په عربئ اوفارسئ کښے لوئے مفکرین، شعراء اوادیبان اکثرمُسلمانان تیرشوی دی۔ په دے وجه دَخوشحال خان دَ تصنیفاتو ادبی پس منظر هم دَ مُسلمانانو عالمانو اومصنفینو دَکتابونونه جوړشوے وُو۔ خو عجیبه خبره ده چه هغه لکه دَاقبال په شان دَ عجمی فلسفے اوشاعرئ دَجمودی روح دَ اثر نه بچ پاتے شوے دے۔ اودَهغهٔ دَشاعرئ طرز، رنگ اوانداز عجمی نهٔ دے، بلکه عربی دے۔ یا دَعربی طرزافغانی دے۔ علامه اقبال دَخوشحال خان خټک دَ شاعرئ متعلق فرمائی:۔

"دَخوشحال خان په شاعرئ کښے دَ ابتدائی عربو دَ شاعرئ روح کارفرمادے۔ چه مونږ دَ هغهٔ دَ شاعرئ مطالعه کوُو نودَ هغهٔ په شاعرئ کښے دَ بیان سادگی اوحق گوئی په واضحه شکل په نظر راځی۔ اودَ هغهٔ په شاعرئ کښے دعربو دَ شاعرئ په شان، دَ آزادئ، اودَجنگ سره دَمینے اظهار بیامونږے شی۔ اودَ ژوند په حقله دَهغهٔ دَ نقطهٔ نظر او تنقید رنگ هم، دَعربو په رنگ کښے رنگ دے۔"

اقبال وړاندے لیکی:۔

"دَخوشحال خان خټک دَ شاعرئ نمونے زهٔ دَ راورتی دَخوشحال خان دَ نظمونو دَ لفظی ترجمے نه پیش کوم۔ دَدے ترجمونه به، دپښتو دَدے عظیم شاعر دَ پُرجوشه حُب الوطنئ، دَهغهٔ دَ ارمانونو اوخواهشاتو، اودَهغهٔ دَانسانی فطرت دَ غرتے مطالعے علم قارئینوته اوشی۔ په دے کښے څهٔ شک نشته چه خوشحال خان دَاورنگ زیب خلاف څهٔ ترخ خبرے هم کړی دی۔ خو دا دَ اورنگ زیب خلاف دَ یوداسے دښمن خیالات دی چه هغه ئے په هند کښے اوهٔ کاله قید ساتلے وُو۔ او هند دَخوشحال خان دپاره یو داسے ملک وُوچه دَ دے ملک متعلق هغه خپله وائی ؎

چه سړے اوبهٔ دَغرهٔ نشته په هند کښے
ترے توبه کهٔ واړه ډک وی له نعیمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

قارئین ته به معلومه وی چه په نثر کښے علامه اقبال، سوائے د خوشحال خان نه، بل د یو شاعر په تعریف کښے څه نۀ دی لیکلی. او د خوشحال خان د شعر و شاعرئ اندازه هغۀ صرف د خوشحال خان د سلو ترجمه شوی نظمونو نه اخستے وه. او هغه هم په انګریزئ ژبه کښے لفظی ترجمه وه. او په ډیره بے خونده ترجمه وه. او مترجم کپتن راورټی، لکه د نورو مستشرقینو په شان د خوشحال خان د کلیات نه هغه نظمونه منتخب کړی وو. کوم چه هغۀ د مغلو سره د جنګ وجدل په سلسله کښے لیکلی دی. او یا د منظر کشئ او رومان ومحبت سره تعلق لری. کۀ چرے علامه اقبال د خوشحال خان خټک شاعری په پښتو کښے مطالعه کړے وے او د ټول کلیات مطالعه ئے کړے وے، او د خوشحال خان هغه اخلاقی، نفسیاتی، معاشرتی، ادبی او د علم وحکمت نه ډکه شاعری ئے لوستے وے، کومه چه د انسان د فطرت په هر اړخ رنړا غورزوی نو کورے چه بیا به ئے لاد خوشحال خان په تعریف او صفت کښے څۀ لیکل. حقیقت دا دے چه د اقبال خپل ادبی، شاعرانه او فلسفیانه مزاج، خوشحال خان ته دومره نزدے وُو چه هغۀ د لږ څۀ نه. د خوشحال خان د شاعرئ او شخصیت اندازه واخسته. او د هغۀ مدّاح شو. او دا ئے غوښتل چه د برصغیر مُسلمانان د خوشحال خان د افکارو او تعلیما تو نه مستفید شی. ځکه چه هغۀ د خوشحال خان په شاعرئ کښے د ژوند او حیات پیغام لیدو. او د هغۀ خپلو خیالاتو ته د خوشحال خان شاعری نزدے وه. خو د دے دا مطلب نۀ دے لکه څنګه چه ځمونږ د دور ځنې پوهان لیکی، چه د خوشحال خان "پښتو" د اقبال "خودی" ده. او په دواړو کښے هیڅ فرق نشته دے. مونږ د "پښتو" د کلمے تشریح په وضاحت سره کړے ده. د "پښتو" اوچت او بښۀ اړخ شجاعت، مړانه، سخاوت، میلمستیا، غیرت، همت، الوالعزمی، استقلال او د ارادے پختګی وغیره اسلامی صفات دی. خو په "پښتو" کښے ځنې غیر اسلامی عناصر هم شته. برخلاف د دے د اقبال "خودی" د یو مکمل اخلاقی نظام د لاندے د فرد او د ملّت د تربیت نوم دے. مونږ دلته د اقبال د خودئ او بیخودئ په فلسفه مختصر شان بحث کوو. چه لوستونکوته دا فرق واضحه شی.

د خودئ کلمه، د خودسرئ او غرور په معنو کښے مستعمل ده. خو اقبال دا کلمه د شخصیت د اسلامی اخلاقی تربیت په معنو کښے استعمال کړه. یعنی اقبال خودی، د خو، شناسئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اوخدائے شناسئی په معنو کښے استعمالوی۔ او د شخصیت تربیت د تَخَلَّقُوا بالاخلاق الله د اصول مطابق کول غواړی چه دا د توحید فلسفه ده۔ توحید محض تریوخیاله۔ یایواعتقاده، یایونظریئے پورے محدود نه دے۔ د توحید بے انتها برکات دی چه مدعائے تکمیل بشریت دے۔ اونائب حق جوړیدل دی۔

فقراء وائی چه فکر او ذکر د قلب وظیفه ده، عشق د روح وظیفه ده۔ او عرفان د سِرّ وظیفه ده۔ د توحید په اصولو او تعلیماتو د مؤمن فقیر تربیت او د هغهٔ د شخصیت یا د خودی نشو ونما هم په دغه درے تدریجی مدارجو کیږی، چه غایت ئے نیابت یا عرفان دے۔

اوله مرحله په دے لړۍ کښے د مکمل اطاعت ده۔ یعنی د شریعت مکمله پابندی او د هرے لوئے وړے ګناه نه ځان ساتل۔ دویمه مرحله، د ضبط نفس او / طریقت ده۔ په دے مرحله کښے بنیادم به د امراضِ قلب یا د سفلی خودئ نه ځان ساتی۔ رذیل اوحیوانی خواهشات به وژنی او په زړۀ کښے به روحانی او ربّانی او تخلیقی او مطهّر خواهشات پیدا کوی۔ او دریمه مرحله د نیابت، حقیقت یا د خدائے شناسئی یا د عرفان ده۔

ډاکټر اقبال د خودئ د فلسفے د تشکیل دپاره د مغرب او مشرق د فلسفیانو، عالمانو، صوفیانو او شاعرانو د افکارو نه استفاده کړے ده۔ او د خودئ ارتقائی مدارج ئے قائم کړی دی۔ او د خودئ په فلسفه ئے ځان پوهه کړے دے۔ د خودئ د تربیت په سلسله کښے اوله مرحله د ځان د پیژندلو ده۔ په دے حقله په مغربی فلسفیانو کښے اقبال د فشټے د ایغو یا ایګو یا د خودئ د نظریئے نه متاثر شوے دے۔ او د خودئ د ارتقائی نشو ونما قائل شوے دے۔ هغهٔ د ایګو ترجمه خودی اوکړه۔ او خود به معنیٰ ئے ځان، او خودی د ځان متعیّن کولو یا پیژندلو په معنو کښے ئے استعمالول شروع کړل۔

د خودئ د پیژندلو په سلسله کښے اول سوال دا پیدا کیږی چه دا «زهٔ» یا ځان د بنیادم څهٔ څیزدے؟ دویم سوال دادے چه دا ځان پیژندل څهٔ دی؟ او دریم دا چه دا «زهٔ» یا «ځان» ته ارتقائی نشو ونما ورکول څهٔ څیزدے؟

د دے درے واړو سوالونو جواب بنیادم هله بیا مومی چه په خپل شخصیت کښے د عمل یووالے پیدا کړی، یعنی د توحید په لاره روان شی۔ په ځان کښے د عمل یو والے څهٔ څیزدے۔ نو دا د خپل شخصیت د توحید د اصولو او تعلیماتو مطابق بنا کول یا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تعمیر کول دی. دا د شخصیت د ظاهر او باطن تعمیر دے. او د مُسلمان دپاره دغه تعمیر دغه عمل، یعنی د توحید په اصولو، یعنی د قرآنِ پاک په تعلیماتو عمل کول اخلاقی عمل دے او اخلاقی ژوند دے. او اخلاقی ژوند د مُسلمان اخلاقی پوهه یا د روح پوهه زیاتوی. د نتشے د فوق البشر د خیال نه، اقبال د انسانِ کامل خیال اخذ کړے دے. نتشے د اطاعت او ضبطِ نفس دوه مدارج د انسان د ارتقائی نشوونما دپاره مقرر کړی دی. خو د دے نه وړاندِ هغهٔ سره څهٔ مثبته فلسفهٔ حیات نهٔ وه. دلته هغه او نښتو. او حیوانی طاقت حاصلولۓ د بنیادم دپارهٔ د فوق البشر په شکل کښے د ارتقا انتها او کړځولو. نتشے نهٔ د خدائے قائل ؤو، نهٔ د موجوده بنیادم د خیر او شر او د عُقبیٰ او آخرت. د هغهٔ قلب د مومن ؤو خو دماغ ۓ کافر. یعنی هغهٔ په خپل جذباتِ قلب او افکار دماغ کښے تمیز نهٔ شو کولے.

اقبال د توحید په فلسفه پوهیدلو. هغهٔ د قرآن پاک د تعلیماتو په رڼا کښے. د انسانی روح په ارتقائی مدارجو کښے د قربتِ الٰهی یا نیابتِ الٰهی مقام آخری او حتمی مقرر کړو. او د خپلے ټولے شاعرئ مغزۓ نیابت الٰهی او کړځولو. د نتشے د فوق البشر انتها د چنګیزخان او د هلاکو په شان د حیوانی طاقت مجسمه جوړیدل دی. خو د اقبال د نائبِ حق یا مردِ مومن انتها او منتها د رسول اکرم صلعم اوچت او مقدس شخصیت دے.

د "پارون" نه پیر وړاندِ "رومی" د ارتقا خیال پیش کړے دے. د پارون د ارتقا خو صرف د انسان پر موجوده شکل پورے محدوده ده. د رومی ارتقا، د جمادات نه شروع کیږی نباتات ته رسی. او د نباتات نه حیوانات ته. او د حیوانات نه انسان ته رسی. د انسان نه تر فرشتو. او د فرشتو نه وړاندِ د روح ارتقا. او د روح د ارتقائی مدارجو معراج ذاتِ پاک او واحد دے.

محی الدین ثانی چه مشهور په العربی دے، هم د انسانی روح د ارتقائی مدارجو ذکر کوی. او د روح په نشوونما بحث کوی. او الجبلی هم د انسانِ کامل تصور چه پیش کوی، نو د روح په ارتقا زور ورکوی. خو د اقبال د خودیٔ ارتقائی مدارج د متقدمینو په دے سلسله کښے، همه کاوُش په یوه منظمه او مکمله طریقه پیش کول دی. د اقبال خودی د ځان پیژندلو، یعنی د خپلو قوتونو نه آګاهی، یا سیرِ جان نه شروع کیږی. او سیرِ جهان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په لوری ځی - اول ځان قابو کول دی اوبیا په اطاعت او ضبطِ نفس سره - چه ځان د فتح کړو نو بیا د جهان تسخیر دے - یعنی جهان آگاه به جوړیږے - ماهرِ نفسیات، د خود آگاه، جهان آگاه او خدا آگاه درے مدارج په خپله ژبه کښے داسے بیانوی - چه اول شعورِ ساده دے - بیا شعورِ ذات دے - او بیا شعورِ کائنات - شعور ساده د غفلت ژوند دے - شعورِ ذات خود آگاهی ده - یا د بیداریٔ ژوند دے - او شعورِ کائنات، ژوند بیا موندل، یا په ژوند حاوی کیدل دی - د حقیقتِ اشیاء علمِ آخری علم دے - او دا د علم انتها ده -

صوفیاء، لکه څنګه چه ما وړاندِ ذکر کړے دے، دا درے مدارج داسے بنائی - ذکر او فکر د قلب وظیفه ده، عشق د روح وظیفه ده او عرفان د سرّ وظیفه ده - برګسان وائی چه بنیادم کښے درے بنیادی خیزونه دی - اول غریزه، یا شعورِ ساده دے - دویم عقل او دریم عشق یا وجدان - عقل ته په شعورِ ساده فوقیت دے - او عشق یا وجدان ته په عقل -

اقبال د خودیٔ د فلسفے په تشکیل کښے، په مشرقی صوفیاؤ کښے، پیر امداد د رومی نه اخستے دے - او په مغربی مفکّرینو کښے د نټشے او برګسان نه، خو د اقبال د خودیٔ فلسفه په حقیقت کښے د قرآنی تعلیماتو فلسفه ده چه بنیاد ئے توحید دے - او اسلامی، اخلاقی نظام پیش کوی - او د مومن د روحانی او اخلاقی تربیت لاربنائی -

د بیخودیٔ معنیٰ بے هوشی، مدهوشی یا لیونتوب دے - خو اقبال لکه د خودیٔ په شان د بیخودیٔ تکے هم په یوه نوے معنیٰ کښے استعمالوی - د اقبال تر نزده بیخودی دا ده، چه سړے د معاشرے په خاطر، یا د خدمتِ خلق په خاطر د خود غرضیٔ، او د ځان د منفعت ژوند پریږدی - یعنی خپله انفرادی خودی، په ملی خودیٔ کښے مدغم کړی -

د اقبال خیال دے چه د انفرادی خودیٔ د نشو ونما او تربیت دپاره معاشره پکار ده، یوه داسے صالحه معاشره چه انفرادی خودی ورکښے تربیت بیاموی - او دا اسلامی معاشره ده -

د مُسلمان د خودیٔ تربیت به هله کیږی چه د خپلے خودیٔ د تربیت سره سره د معاشرے تربیت هم کوی - او دغه شان اسلامی معاشره به ورځ تر ورځه په اخلاقی ژوند کښے ترقی کوی - د ملّت اجتماعی ژوند به د ترقیٔ په لور روان وی - او د ملّت ملی سیرت به،

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په اسلامی اخلاقی څرونډ کښے خپل معراج ته رسی۔

د اقبال ترټولو زده په معاشره کښے د فرد منفرد حیثیت به قائم وی۔ قطرې به دریاب کښے ځان نه فنا کوی۔ بلکه قطره به په حیثیت د یوے مرغلرے قائمه اوجاودان وی۔ اود ټول دریاب د ښائست باعث به وی۔ د انفرادی شخصیت ختمول اسلام کښے نشته۔ بلکه اسلام کښے د شخصیت قائمول څرونډ دے۔ اقبال دے قائل هم نه دے چه د الله پاک په ذات کښے د مومن ذات د مدغم اوفناشی۔ بلکه اقبال وائی چه د صالح مومن شخصیت ته فنا نشته۔ صالح مومن به د باری تعالیٰ په آغوش شفقت کښے تل ترتله ژوندے وی۔ او ځان ته یومنفرد شخصیت به لری۔ د قطرے عزت دادے، چه په ځان کښے قائمه وی۔ د قطرے عزت دا نه دے چه په سمندر کښے فناشی۔

د اقبال شاعری او د اقبال د خودئ فلسفه په حقیقت کښے د قرآن پاک د تعلیماتو یا د توحید د تعلیماتو او اصولو او اخلاقی نظام یوه شاعرانه او ادبی شرحه ده۔

د خوشحال خان شاعری له دے قسمه هیڅ جامع او منظمه اسلامی فلسفهٔ حیات نه لری۔ د خوشحال په شاعرئ کښے ځائے په ځائے اسلامی تعلیمات بیامونږ شی۔ او د اسلامی اخلاقو، د اسلامی مشاهیرو، او د اسلامی فلسفهٔ حیات ستائنه کوی۔ خو په حقیقت کښے د خوشحال خان د شاعرئ امتیازی ځنبه داده چه دا د پښتو او د پښتون د صفاتو او ژوند شارحه ده۔ د دے نه علاوه د خوشحال خان په شاعرئ کښے د انسانی فطرت غرقه مطالعه ده۔ خوشحال خان به صرف افغان شناس ؤو بلکه انسان شناس هم ؤو۔

اقبال خپل اکثر خیالات او افکار د مغرب او مشرق د مفکرینو، صوفیاؤ، عالمانو، فلسفیانو او شاعرانو د کلام نه اخذ کړی دی۔ او د هرچا نه ئے څکه کړے ده۔ مثلاً نطشے په عقل د فضیلت خیال ئے د رومی نه، د انسانی روح د ارتقائی مدارج خیال ئے د ابن العربی نه، الجیلی او رومی نه، د سختئ او سخت کوشئ او د فوق البشر یا انسانِ کامل خیال ئے د نطشے نه د حرکت او تغیر خیال ئے د برګسان نه، او د مردانه پرنږدو لکه باز، شاهین، عقاب، د همت، جرأت او مردانګئ خیال ئے د خوشحال خان او نطشے نه۔ خو سره د دے د اقبال خپل فکر او تخیّل ډیر اوچت ؤو۔ او هغه چه د هرڅائے نه څهٔ خیال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

او فکر اخستے دے، په هغے کښے ئے قابلِ قدر اضافه کړے ده۔ او یو داسے نوے انداز او نوے شاعرانه او ادبی جدت او لذت ئے ورکښے پیدا کړے دے، چه داسے نۀ بنکاری، چه گوندے هغۀ زاړۀ شراب په نوے پیاله کښے پیش کوی۔ بلکه داسے معلومیږی چه هغه نوی شراب په نوے پیاله کښے پیش کوی۔ او دَ هغۀ ټول خیالات او افکار طبعزاد دی۔ دَبل چا نه ئے هیڅ نۀ دی اخذ کړی۔

اقبال چه په کومه دلاویزه، ادبی او شاعرانه رنګ کښے اسلامی تعلیمات، زمونږ دَ زمانے مغرب زده مُسلمانانو ته پیش کړی دی، دَ دے په برکت په هغوئ کښے څۀ نه څۀ اسلامی روح بیدار شوے دے۔ او دَ اسلام دَ تعلیماتو احیاء شوے ده۔ او دا بیشکه چه یو ډیر قابلِ قدر خدمت دے۔ مُسلمان ملت دَ ډاکټر اقبال دا گران قدر خدمات هیڅ کله نۀ شی هیروے۔ هغه یوازے دَ برِصغیر دَ مسلمانانو مقبول او مشهور شاعر نۀ دے بلکه هغه شاعرِ اسلام دے۔ دَ هغۀ شاعری دَ ټولے دُنیا دَ مُسلمانانو دَ اتحاد، اتفاق او ترقئ پیغام دے۔

اقبال دَ خوشحال خان خټک نه تقریباً درے سوه کاله روستو پیدا شوے دے۔ او په ډیرۀ موده ئے دَ مشرق او مغرب په کالجونو او یونیورسټو کښے سبق ایزده کړے او سبق بنودلے دے۔ په دے وجه دَ اقبال دَ علم وسعت ته خوشحال خان خټک نۀ رسی۔

دَ خوشحال خان خټک ټول علم دَ هغه زمانے ترمکتبونو، یا دَ چا ملاسره په جماعت یا په کور کښے ترڅو کتابونو لوستو پورے محدود وُو۔ خو خوشحال خان پیدا شوے جینس یا نابغه وُو۔ هغۀ ته دَ کالجونو او یونیورسټو دَ علم ضرورت نۀ وُو۔ هغۀ ته په اقبال دا فوقیت دے چه هغه یوازے دَ ګفتار غازی نۀ دے بلکه دَ کردار غازی هم دے۔ دَ هغۀ ټول عمر په جنګونو او قتل وقتال او قید ونو بند ونو او دَ کور او دَ بهر خانه جنګیانو کښے تیر شوے دے۔ او څرونده هغۀ ته دَ تالیف او تصنیف یا دَ لوستلو اولیکلو دَ کار دپاره ډیر کم فرصت ورکړے دے۔ خو سره دَ دے هغه دیو ضخیم کلیات خاوند دے۔ اونۀ یوازے شاعر دے، بلکه حکیم دے، فلسفی دے، سیاستدان دے۔ ماهر نفسیات او جنسیات دے۔ قانون دان دے، حاکم دے، بنکاری دے، لیډر دے۔ سپاهی دے، جرنیل دے، عالمِ دین دے۔ مترجم دے۔ او دَ درځنو کتابونو مصنف دے۔ او هر یو کتاب ئے تقریباً په نوی موضوع او په نوی مضمون لیکلے دے۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان خټک خپل شاعرانه افکار او خیالات د خپل ژوند د تجربو او مشاهداتو نه اخذ کړی دی. هغه د انسانی فطرت بالعموم او د پښتون د ژوند بالخصوص یو ډیر لوئے ترجمان او مُفسّر دے. او د باز و شاهین د بنکارنه چه څومره شاعرانه او ادبی مضامین او تشبیهات او استعارات هغهٔ ایستی دی، دا ټول د هغهٔ په ذاتی تجربه او مشاهده مبنی دی. شاید چه د اقبال نه سوا بل یو شاعر هم د دے مضمون نه د دومره تشبیهات او استعارات نهٔ دی اخذ کړی.

خوشحال خان په حیثیت د یو شاعر ډیر لوئے شاعر تیر شوے دے. البته اقبال په حیثیت د یو فلسفی شاعر او د اسلام د فلسفهٔ حیات د مفسر او ترجمان ډیر لوئے مفکر دے. او په دے کښے د خوشحال خان او د اقبال هیڅ مقابله نشی کیدے.

د خوشحال خان په شان همه ګیر او همه دان شخصیت پیدا کول ګران دی. دا هغه شخصیت دے چه په پیړو پیړو کښے هم نهٔ پیدا کیږی.

عجیبه خبره ده چه د اقبال او خوشحال خان په شاعرانه افکارو کښے دومره زیات توارد دے چه میر عبدالصمد خان د دے شاعرانه توارد په برکت د دوئ په پیغام او تعلیماتو یو ضخیم کتاب لیکلے دے. او دا ئے ثابته کړیده چه د پاکستان د دے دواړه ولوی شاعرانو بنیادی تعلیمات یو دی. او هغه اسلامی دی. او دا غلط فهمی ئے لرے کړے ده چه د پښتنو دا عظیم شاعر محض نسل پرست وُو. او ټوله شاعری ئے محض د نسلی عظمت دپاره کړے ده.

میر عبدالصمد خان په دعوٰی سره وائی. او خُما و رسره اتفاق دے چه د پښتو څه دا عظیم شاعر پاک او اوچت مُسلمان وُو. او د پاکستان شاعر وُو. او لکه د اقبال په شان د مُسلمان ملّت رهنما وُو. او د دے خبرے ثبوت د هغهٔ خپل خیالات او افکار دی.

د خوشحال خان خټک نسلی شاعری او د اورنګ زیب مخالفت، محض یو وخت تیز وُو. او د هغے د جواز دپاره موبږ په تفصیل سره وضاحت کړے دے، خو د هغهٔ د شاعرئ عظمت په دے کښے دے چه هغه د انسانی فطرت نبّاض وُو. او د هغهٔ فلسفهٔ حیات مردانه ده. او د ژوند د مردانه اقدار و تبلیغ کوی. او په دے صفتونو کښے د اقبال او خوشحال په شاعرئ کښے ډیر نزدیکت دے.

اوس به موبږ د خوشحال او اقبال د څُنه هغه موضوعاتو ذکر او کړو کوم چه د دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دواړه ولویو شاعرانو په شاعرئ کښے مشترک دی۔

د اقبال شاهین او د خوشحال شاهین

د اقبال شاهین د مردِ مومن د اخلاقی ژوند، او اخلاقی خوئ بوئ اوصفاتو نمونه ده۔ د مردِ مومن د اوچت کردار د بیانولو دپاره، هغه د باز، شاهین، شهباز او عقاب صفتونه اوخوئ بوئ په کوته کړی دی۔ خوشحال هم د دے مردانه پرندو صفات، یعنی مړانه، جرأت، بلند پروازی، همت او پاکیزه فطرت، د اوچت او اعلیٰ کردار او شخصیت د انسان د خوئ بوئ اوخوبیانو بیانولو دپاره استعمال کړی دی۔

د دواړو لویو شاعرانو شاهین، د اوچت انسان د صفتونو او مردانه خوبیانو مظهر دے۔ یعنی شاهین د پرندو او مارغانو د دُنیا قلندر دے۔ او قلندرانه خوبئ لری۔ او مردِ خدا یا اوچت اخلاقی انسان د بنیادمو د دُنیا شاهین دے۔

استعارات او تشبیهات چه د شاهین او باز د خوئ بوئ نه اقبال او خوشحال اخستی دی په هغے کښے فرق صرف دا دے چه خوشحال خپله بنکاری وُو او هغهٔ د خپلے مشاهدے او تجربے په بنا د باز او شاهین د مردانه، قلندرانه، درویشانه او مجاهدانه خوبیانو نه خبر وُو۔ او د اقبال په دے سلسله کښے خپله مشاهده او تجربه نهٔ وه۔ خو هغهٔ د خوشحال خان او نتشے په شاعرئ کښے د دے پرندو د مردانه صفاتو د ذکر اذکار نه متأثر شوے دے۔ او هغهٔ ته چه د مردِ مؤمن د مردانه کردار، د شاعرانه تشریح ضرورت پیښ شوے دے نو هغهٔ باز او شاهین طرف ته رجوع کړے ده۔ او د دے پرندو د خوئ او بوئ نه ئے اوچت شاعرانه مضامین پیدا کړی دی۔

فلسفهٔ ستیز او سخت کوشی

په اقبال او خوشحال دواړو کښے د سخت کوشئ او ستیز او جدّ وجهد په فلسفه زور دے۔ او دواړه د سخت کوشئ او جفاکشئ صفات اوعادتونه د ژوند نخبنه او د ژوندی اوسیدو دپاره لابُد او لازمی کنړی۔

د اقبال مخاطبه، تن آسانی، تباه شوی، منتشر، پست او پریوتی مُسلمان قوم طرف

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ته وه ـ اودَ هغهٔ ترنزده داتباهی په مُسلمانانو کښے دَ عجمی تصوّف، دَبیکاره اوجمودی فلسفے دَ قبلولو په وجه راغلے وه ـ اوداد وحدة الوجود دَ مسئلے براهِ راست نتیجه وه ـ په مُسلمانانو هغه وخت راغلے ؤو کوم چه په عیسائی قوم یو وخت کښے تیرشوے ؤو ـ په یوه زمانه کښے عیسایان داسے بے عمله اوتن آسانه شوی ؤوچه په دے بهٔ بحثونه کول چه عیسی علیه السلام خمیره سره وتی خوړله اوکهٔ نهٔ پتیره ـ اوپه دے بحث کښے داسے بوخت ؤوچه په قسطنطنیه کښے دَ ټول یورپ لوئے لوئے عیسایان پادریان جمع شوی ؤو ـ اوفوځونه او بادشاهان هم جمع شوی ؤو ـ اودَ پادریانو بحثونه آوریدلو ـ په دے کښے چاورته اووے چه دَمُسلمانانو فوځونه راغلل اوساعت کړئ نه به دَبنار نه چاپیره شی ـ مقابلے ته تیار شئ. خو پادریانو ورته جواب ورکړو چه دَدښمن مقابله ضروری نهٔ ده ـ خوداضروری ده چه فیصله اوشی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام به خمیره څو ډئ خوړله اوکهٔ پتیره ـ په دے کښے دَمُسلمانانو فوځونه راغلل اوبے ډزه ډوزه ئے بنار واخستو ـ اوپادریانئے سره دَ فوځونو بندی کړل ـ

په عیسائی دُنیا کښے دَدے ذهنیت خلاف په اول ځل ډیر په شدت سره نتشے آواز اوچت کړو ـ اوعیسائی دُنیائے دَمرګ دَخوب نه رااولړزوله ـ نتشے خپله لامذهبه ؤو ـ خدائے پاک ئے نهٔ منلو ـ اوعیسیٰ علیه السلام ته ئے بُزدل، بے بنے اوبے عمله وے ـ او دَ مسیحیت خلاف ئے سخت جهاد کړے دے خو عیسائی دُنیائے دَسخت کوشئ او دَستیزدَ عمل خواته راواړوله ـ اقبال دَ نتشے متعلق وائی:-

آنکه بر طرز حرم بُت خانه ساخت
قلب او مومن دماغش کافر است

اقبال چه یورپ ته لاړ و نودَ یورپ په دُنیا دَ نتشے اوبرګسان افکار خواړهٔ ؤو ـ اقبال دَدے دواړو لویو فلسفیانو دَخیالاتو اوافکارونه ډیر متأثر شو ـ اوهغهٔ چه دَدُنیائے اسلام جائزه واخسته نودے نتیجے ته اورسید وچه دَمُسلمانانو دَجمود او مرګ علاج دَدے چه مخ ئے دَژوند جفاکشئ او سخت کوشئ طرف ته شی ـ اودَژوند دَبے ثباته جدوجهد نه خان تیارکړی ـ

هغه وخت دَ نتشے دَ فلسفے دَاثر لاندِ دَ یورپ دانعره وه چه دَ خطرے اودَ جنګ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وجهد ژوند تیرول پکاردی۔ اقبال داخیالات جذب کړل اومُسلمانانو ته ئے هم دغه سبق ورکول شروع کړل ۔ ؎

به دریا غلط و با موجش درآویز
حیاتِ جاودان اندرستیز است

دَخوشحال خان خطاب پُښتنے معاشرے ته وُو۔ پښتانهٔ بے عمله اوتن آسانی خو نهٔ وُو۔ بے اتفاقه اوخوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وُو۔ اودَ سیاسی نقطهٔ نظر نه وربا ندِ ادبار اوجمود خور وُو۔ خوشحال خان په هغوئ کښے دَ سیاسی شعور، ننگ، مړانے، جرأت، بهادرئ، همت، حمیت، پت، قومی غیرت، پښتو اوآزادئ تبلیغ شروع کړو۔ اوپه پښتنو کښے ئے دَ اتفاق پیدا کولو اودَ ملی ننگ را بیدارولو کوشش اوکړو۔

خوشحال دَ اقبال اودَ یورپ دَ سخت کوشئ اودَ ستیز دَ علمبردارانو مفکرینو نه په سوونو کاله وړاندِ تیرشوے وُو۔ هغهٔ دَحیات دا فلسفه دَ پښتنو دَ مخصوص ماحول نه جذب کړے وه۔ دا فلسفه په حقیقت کښے دَ پُښتنے معاشرے دَ امروزه ژوند جزولاینفک دے۔ اوداخیزدَ پښتون قوم په رګ و ریشه کښے اخښلے راغلے دے۔ پښتون بغیردَ جفاکشئ، سخت کوشئ اودَ خطرے ژوندهم وشروندے پائیدلے نهٔ شی۔ دَ پښتون قوم دَ مخصوص ماحول داتقاضاده چه پښتون به دَ جدوجهد، خطراومړانے ژوند تیروی۔ خودَ مغلو دَ زبردست شهنشاهیت دَ اثر لاندِ دَ پښتنو دَ ملی ننگ جذبه، څهٔ لږه ډیره سړه شوے وه۔ اوخوشحال خان په پښتنو کښے دَ ژوند گرمی اوحرارت بیارالمرزوُل غوښتل، اودَ پښتون په قومی حمیّت اوغیرت کښے ئے ساه اچوله۔

اقبال چه کوم مُسلمان مخاطب کولو، داکهٔ یو طرف ته دَ عجمی تصوّف، جمودی فلسفے زپلے وُو نوبل خواته دَ یورپینو اقوامو زبردست شهنشاهیت هم زپلے اوتباه کړے وُو۔ په نولسمه صدئ کښے دَ یورپینو اقوامو دا پالیسی وه چه مُسلمان ملّت برخے برخے اوتار په تار کړی۔ اودَ هغوئ نه دَ پان اسلامزم اودَ اسلام دَ عالمګیراوبین الاقوامی اخوت، برادرئ او رورولئ جذبه اوباسی۔ اودے په ځائے په هغوئ کښے نسلی قومیت پیدا کړی۔ اودَ نسلی قومیت په شراوفتنه ئے دَ یوبل نه جدا کړی۔

اقبال کوشش کولوچه په تباه شُده، بے اتفاقه اومفلوک الحال مُسلمان ملّت کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اسلامی اخلاق بیا راژوندی کړی۔ اوهغوئ کښے د اسلام د عالمګیر اُخوّت جذبه راولړوی۔ اوهغوئ کښے د پان اسلامزم هغه زوړ سیاسی شعور بیا را بیدار کړی۔ کوم چه هغوئ د یورپ د سیاست د اثر لاندِ هیر کړے وُو۔

د اسلامی اخلاقی ژوند د احیاء په سلسله کښے هغهٔ د ستیز، جد وجهد او د سخت کوشئ په ژوند زور ورکړو۔ او مُسلمانانو ته ئے همت، شجاعت، حمیّت، غیرت او اسلامی فقر وراندِ کړل۔ او د ے اقدار و د خپلولو دپاره ئے زبردست جهاد اوکړو۔ او مُسلمانانو ته ئے سبق ورکړو چه یوموټے شئ۔ متفق او متحد شئ او د توحید د حفاظت او اشاعت دپاره لکه د ے چه مُسلمانانو په شان ملا اوتړئ۔ اقبال د شهنشاهیت، سرمایه دارانه او جاګیردارانه نظام خلاف هم سخت جهاد اوکړو۔ او مُسلمانانو ته ئے اووے چه دا د غیر اسلامی طرزِ حکومت شاطرانه چالونه دی۔ د د ے نظام نه خان اوساتئ۔ اسلام کښے دین، سیاست د ے، او سیاست دین۔ دین چه د سیاست نه جدا شی نو چنګیزی پاتے شی۔ او سرمایه دارانه نظام د چنګیزئ مختلف شکلونه دی۔ هغهٔ غریب، خوار، نادار مُسلمان، یعنی مزدور او زمیندار ته په چغه اووے چه د د ے لعنت او ظلم نه خان خلاص کړئ۔ اسلام کښے شهنشاهیت او سرمایه داری نشته۔

هغهٔ د وطنیت مخالفت هم اوکړو۔ او په زوردار الفاظو کښے ئے مُسلمانان خبردار کړل چه نسلی او وطنی قومیت غیر اسلامی د ے۔ دا د مُسلمانانو د برخے برخے کولو دپاره یورپ یوه حربه را ایستی ده۔ او مُسلمان وطنونه او قومونه ئے په قصد په د ے بلا اخته کړی دی۔

په خوشحال خان او اقبال کښے رجائیّت

خوشحال خان خټک د پر مُصیبتونه، تکلیفونه، سختئ، کړاوونه، ناکامئ او ناکامیابئ لیدلے وے۔ خوشاعرئ کښے ئے رجائیت زیات او قنوطیت کم د ے۔ چه په قهرشی نو نګه د زمری او غرمبیرئ۔ هرچا ته بد رد اووائ۔ خو لکه د ښځو د غم او ویر، ژړا او سندرے نه کوی۔ زیات نه زیات خپلے خپلخانے ته، یعنی خپلو خامنو ته او خپلو وطنیانو ته د غیرت، پښتو، ننګ او پت پیغورونه ورکړی۔ او د بے همتئ، نفاق او د جمود د نشو خوب نه ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د رابیدارولو کوشش اوکړی. په پښتو کښے د خوشحال خان د شاعرئ نه ښیاته د رجائیت شاعری بله نشته.

د اقبال نه چارچاپیره د قنوطیت ماحول لکه د یوخول په شان چاپیره وُو. او د شاعرئ او د ادب په کوم ماحول کښے چه هغهٔ سترګے غړولے وے. هغه ټول د قنوطیت نه لبریز وُو.

د ولی دکنی نه واخله ترمیر، میر درد، غالب، داغ او حالی پورے د اردو ټوله شاعری د غم ساندے وے. د درد اوښکے وے. د جمود او مرګ ساړهٔ ساړهٔ اسویلی وُو. د بنځو انګولا او ژړا وه خو د ژوند تاندهٔ او پیرازه پلوشے ورکښے نهٔ وے. په دے ټول غم انګیز ماحول کښے حالی څهٔ لږ ډیر د ژوند آواز اوچت کړے وُو. خو د هغهٔ مسدّس هم حقیقت کښے یوه اوږده مرثیه ده چه د پخوا نو مُسلمانانو لوئی او شان ژاړی. او د اوسنو مُسلمانانو په جمود، مرګ، ادبار او بے همتئ د غم اوښکے تویوی.

د اقبال شاعری د قنوطیت په دے فرسوده او مرګ آلود ماحول کښے، په حقیقی معنو کښے د ژوند چغه ده. د رجائیت آواز دے.

اقبال په دے کښے د خوشحال خان همنوا بنکاری. د اقبال شاعری لکه د خوشحال د شاعرئ په شان د ژوند نه ډکه ده. اقبال مُسلمان ملت ته د اسلام ژوندئ فلسفهٔ حیات وړاندِ کړه. او په دے وجه د اقبال په شاعرئ کښے لکه د غالب د شاعرئ په شان شو پنځارن نهٔ ځلیږی، بلکه د هغهٔ په شاعرئ کښے، خوشحال ځلیږی او غږ مبیږی.

د خوشحال او اقبال په شاعرئ کښے آرزو، جُستجو او مُدّعا

ژوند د اُمید دویم نوم دے. پښتانهٔ وائی چه ژوند په اُمید خوړے شی. په ژوند کښے د رجائیت او تعمیری اُمید قائم ساتلو د پاره بلند خیالی، اوچته مُدعا، او د لوړو آرمانونو او خواهشاتو نه ډک زړهٔ پکار دے. چه مدعا او مقصد، هدف او مرام اُوچت وی. چه عزائم بلند وی. چه طریقِ عمل اوچت او اعلیٰ وی، نو نتائج او حصول به ځے ارومرو اوچت وی. د نظر او خیال بلندی، د مدّعا لوړوالے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خیال کښے زوردے بلندخیاله په بلندمقام به اوسی

څهٔ علاج دَ پست خیالئ کړه. ثریا نظر پیدا کړه

چه مدعا او مطلب اُوچت وی، نو دیوه داسے مدّعا په حاصلولو، خو رُلو او کامیابولو کښے طالب به هر وخت بوخت وی. هسے او رُوبه ترقی او مخ په وړاندِ به روان وی. کهٔ اوچته آرزو، کهٔ اوچته مدعا. او کهٔ اوچت ارمان نهٔ وی. نو اوچت عمل به هم نهٔ وی. دَ هر اوچت عمل دپاره دَ بنیادم په زړهٔ کښے تاند او اُوچت ارمان اوخواهش ضروری دے. چه آرزو اُوچته وی، دَهغے کامیابی مَدِ نظر وی. نو بنیادم دَ ناکامیانو، بائلاتو او مخالفتونو پرواه نهٔ کوی. خو همیشه نظر د مدّعا په کامیابۍ ساتی. او دغه شان نا اُمیدی ئے شروند کښے نهٔ راځی.

دَ اقبال اوچته مدعا، دَ اسلام دَ زړو حجازی شان سره دوباره پیدا کول وُو. او پریوتی مُسلمان قوم ته دعوتِ عمل وُو. اقبال داخپله اوچته مدعا داسے ستائی ے

نگاہِ عشق دلِ زندہ کی تلاش میں ہے
شکارِ مردہ سزاوارِ شاہباز نہیں

او خوشحال خان خټک داخپل اوچت مقصد داسے ستائی ے

لکه باز په لوئے لوئے بنکارځما نظر دے
نه چه گرځی گونګټ نیسی بادخورک یم

دَ خوشحال خان اوچته آرزو او لوړ ارمان، دَ مغل مقابله کښے، دَ پښتون راواچتول وُو. او پښتون ته سره دوباره دَ هند حکومت ورپه لاس کول وُو. او په پښتون دَ مغلو دَ شهنشاهیت نه خلاصول وُو. او دَدے اوچتے مدعا دَ حصول دپاره هغهٔ تورمرکه کلکه ملا تړلے وه. او تر مرکه ئے دَ مغلو سره جنګ جاری ساتلے دے. او دا لوړ مقصد په زړهٔ کښے ګورته آرمانی لاړ دے. دغه شان اقبال هم، دَ مُسلمان ملّت دَ زړو حجازی شان، دَ سره دوباره راوستو، آرزو او جستجو کښے درست عمر تیر کړے دے. او دَ مُسلمانانو یخوانے کردار او شان ئے ډیر ستائیلے دے. او هم دغه اوچت ارمان په زړهٔ کښے دَ دُنیا نه رخصت شوے دے.

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خوشحال خان او اقبال کښے حق گوئی، او بیباکی

د ډاکټر اقبال یو شعر دے ؎

آئین جوان مردان حق گوئی و بیباکی
اللہ کے شیروں کو آتی نہیں روباہی

خوشحال خان خټک د ډاکټر اقبال دَدے شعر یوه ژوندئ نمونه وه۔ دَ هغهٔ حق گوئی او بیباکی دَ هغهٔ دَ کلیّات نه واضحه ده۔ او دَ هغهٔ جوانمردی دَ هغهٔ دَ کردار نه ظاهره ده۔ دَ خوشحال خان خپل کردار دَ شیر او شاهین دے۔ او دَ هغهٔ شاعری دَ شیر او شاهین دَ کردار ترجمانه ده۔ دَ خوشحال خان په شاعرئ کښے چه څومره حق گوئی او بیباکی ده، گمان نکړم چه د بل یو شاعر په شاعرئ کښے داصفت په دے شدت سره بیاموندے شی۔ دغه شان څمونږ په زمانه کښے دَ ډاکټر اقبال شاعری دَ حق گوئی او بیباکئ یوه داسے نادره نمونه ده، چه دَ خوشحال خان نه علاوه، بل دَ یو شاعر په شاعرئ کښے، داصفت دومره په شدت سره نه شی بیاموندے۔

دَ خوشحال ننګیال او دَ اقبال مردِ مومن

دَ مثالی او دَ آئیډیل انسان تصوّر د پیرو مفکرینو پیش کړے دے۔ په مغرب کښے دَ نټشے دَ فوق البشر تصوّر په دے باره کښے شهرت لری۔ خو چونکه نټشے دَ اسلام دَ توحید دَ فلسفے نه ناخبره وُ۔ په دے وجه دَ نټشے مثالی انسان کښے خامئ پاتے شوی دی۔ هغه انسانِ کامل نه دے۔ دَ نطشے فوق البشر، دَ حیوانی طاقت او ابلیسی عقل یو قوی هیکل دیو دے۔ خو دَ عشق نه عاری دے۔ چونکه دَ مکمّل انسان دپاره مکمّل جسم، مکمل عقل یا مکمل دماغ او مکمل عشق یا مکمل قلب ضروری دی، دَ دے دپاره دَ نټشے فوق البشر نامکمل پاتے شوے دے۔

دَ مکمل جسم، مکمل عقل او مکمل عشق، مکمل او حسین امتزاج به مکمل یا آئیډیل بنیادم وی۔ خو دا آئیډیل به هیشه آئیډیل وی۔ دا عملی کیدے نشی۔ افلاطون په خپل خیالی ریاست یا ری پبلک کښے دَ خپل تصوّر مکمل حاکم، دَ فلاسفر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کنګ یا فلسفی بادشاه په شکل کښے پیش کړے دے. خو فلسفی بادشاه کښے هم د عشق د عنصر کمے دے.

الجبلی "انسانِ کامل" نومی کتاب لیکلے دے. او په دے کتاب کښے صفۀ د کامل انسان تصوّر پیش کړے دے. د الجبلی کامل انسان، د اسلامی تعلیمات تو په رڼا کښے لیکلے شوے دے. په دے وجه د اقبال، انسانِ کامل ته په څو صفتونو کښے ډیر نزدے دے. خودلے واضحه تصوّر نۀ لری. لکه څنګه چه اقبال د مردِ مومن تصور په وضاحت سره پیش کړے دے.

د خوشحال خان خټک د ننګیال تصوّر هم، چونکه د اسلامی تعلیمات تو په رڼا کښے جوړ شوے دے، په دے وجه د اقبال انسانِ کامل، یا مردِ مومن ته نزدے دے. د خوشحال خان خټک ننګیال د مردِ مومن په هم صفتونو موصوف دے. خو بحیثیت مجموعی، د ننګ جذبه پرے غالبه ده. او په دے وجه د خوشحال ننګیال د ننګ د صفت یوه مقتدر ترینه او مثالی نمونه ده.

د خوشحال خان د ننګیال په تصوّر د پوهیدو نه اول ضروری ده چه سړے د مردِ مومن، مردِ حُر او مردِ قلندر په تصوّر پوه شی.

مردِ مومن د اسلامی فلسفۀ حیات نمونه یا مثالی انسان دے. او د اسلامی فلسفۀ حیات مغز او بُنیادی خیال د توحید دے.

توحید څۀ څیزدے؟ دا صرف په یو خدائے تعالیٰ اعتقاد نۀ دے بلکه دا د باریتعالیٰ عزّاسمۀ صفات په قلب کښے جذب کول او پیدا کول دی. او د تَخَلَّقُوْا بِاَخْلَاقِ اللّٰه په فلسفه عمل کول دی. او دغه شان د اللّٰه پاک سره صفاتی مشابهت پیدا کول دی. د توحید لاره په حقیقت کښے د عشقِ الٰهی لاره ده. او حاصل ئے د مومن فقیر کردار او شخصیت دے. د توحید د خیال نه بل بلند خیال ناممکن دے. او همدغه شان د مومن فقیر د کردار او شخصیت نه بل بلند کردار او شخصیت ناممکن دے.

کوم بنیادم چه د توحید په لاره روان شی نو هغۀ کښے د مردِ مومن صفات ودۀ کوی او دا صفات د کښے د رڅ تر رڅه محکم کیږی. او څلۀ نیسی. دا صفات په

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حقیقت کښے الٰہی صفات دی۔ دَ مردِ مومن مکمل شکل دَ رسولِ پاکؐ خپل شخصیت دے۔ هرمُسلمان ته پکار دی چه دَ رسولِ پاکؐ اخلاقی ژوند خپل کړی۔ او دَ رسولِ پاکؐ صفات ځان کښے پیدا کړی۔

دَ اقبال دَ مردِ مومن هم دغه تصوّر دے۔ او هغه په مردِ مومن کښے هم دغه صفات ګوری۔ او هم دغه صفات ورکښے پیدا کول غواړی۔ په دے وجه دَ اقبال مردِ مومن، مردِ آزاد، مردِ قلندر، مردِ کامل، او بندهٔ مولا صفات، لکه دَ نتشے په شان محض یوخیالی انسان نهٔ دے بلکه هغه یو عملی انسان دے۔ اسلام داسے بنیادم پیدا کړی دی۔ او همیشه به ئے پیدا کوی۔ علامه اقبال مردِ مومن داسے ستائی ؎

ہے تجھے اللہ کا، بندۂ مومن کا ہاتھ — غالب و کار آفریں، کارکُشا، کارساز
خاکی و نوری نہاد بندۂ مولا صفات — ہر دو جہاں سے غنی، اُس کا دل بے نیاز
اُسکی امیدیں قلیل، اس کے مقاصد جلیل — اس کی ادا دل فریب، اس کی نگہ دلنواز
نرم دم گفتگو، گرم دم جستجو!
رزم ہو یا بزم ہو پاک دل و پاکباز

اوخو شحال خپل ننګیال داسے ستائی :-

مرد هغه چه همت ناک، برکت ناک — دَ عالمه سره خوږ په زیست وژواک
مخ ئے مخ قول ئے قول عهد ئے عهد — نهٔ دروغ نهٔ ئے فریب نهٔ تش تپاک
لږ وئیل ډیر ئے کول په خاموشی کښے — دَ غنچے غوندِ خولهٔ پوره سینه چاک
چه خبره دَ پستئ دَ بلندئ شی — په لوینی لکه آسمان په پستئ خاک
په تمکین کښے لکه سرو، په پستئ کښے — په هرلور ځانګے زنګورے لکه تاک
لکه ګل شګفته روئے، تازه باغ کښے
همیشه دَ بنو بلبلو پرے بلغاک

او ګورئ چه دَ خوشحال ننګیال، دَ اقبال مردِ مومن ته څومره نزدو دے۔ او دا په دے چه دواړو دَ خپل تصوّر انسان، دَ قرآنِ پاک دَ تعلیماتو او دَ توحید دَ فلسفے نه اخذ کړے دے۔ او په خپل خپل رنګ کښے ئے رنګ کړے دے۔

...

...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان خټک او پاکستان

ځمونږ د دور د پښتوژبې ځنې لیکوونکی د پاکستان جوړید ونه پس د خوشحال خان اشعارا و د خوشحال خان شخصیت په داسې رنګ کښې پیش کوی لکه چه خوشحال خان ته معلومه وه چه د هغهٔ د مرګ نه تقریبًا درې سوه کاله روسته به د هندوستان د هر نسل ګلهم مسلمانان په شریکه د هندوانو او فیرنګیانو د متفقه طاقت، د مخالفت باوجود. ځان ته یو خود مختار، آزاد، جمهوری، اسلامی مملکت د پاکستان په نوم جوړوی - او د دغې پاکستان به خوشحال خان هیڅ بے هیڅه دښمن وی.

ځما په خیال کهٔ نن خوشحال خان ژوندے وے نو هغه به اولنے سړے وے چه د خپلې تورے او قلم په ذریعه به، د پاکستان خدمت او حفاظت ته کمرکس ولاړ وے - لکه چه د هغهٔ وطنیان پښتانهٔ نن پاکستان خپل آزاد، جمهوری، اسلامی ریاست ګڼی - او د پاکستان دپارهٔ خپل مال اوسر داؤ کولو ته هروخت تیار دی - او د هغې عملی ثبوت دادے چه د پاکستان د جوړید و سره، چه د پاکستان د هندوانو سره په کشمیر جګړه راغله، نو د پاکستان دا شمشیر زنه مټے د پاکستان په کار راغلے - او د کشمیر د غزا دپارهٔ پښتانهٔ سر په تلی میدان ته راوویستل او خپل مال اوسرئے په کشمیر کښے د پاکستان دپاره داؤ کړل - او کهٔ صباته خدا نخواسته بیاهم په کشمیر یا په څهٔ بلے ملّی تنازعے د پاکستان د کوم بیرونی طاقت سره مقابله راغله نو پښتانهٔ به د پاکستان د حفاظت او سالمیّت دپاره د هرڅانه وړاندې جنګ ته روان وی - او دا ځکه چه پاکستان د پښتنو خپل ریاست او خپل وطن دے. او د دے وطن ساتل هر پښتون خپل فرض او خپله ملّی وظیفه ګڼی -

پاکستان په حقیقت کښے د خوشحال خان خټک د خوبونو تعبیر دے - او خوشحال خان خټک کهٔ د مغلو د نسلی شهنشاهیت په ورانولو کښے کامیاب شوے دے - نو هغهٔ په هندوستان کښے د مسلمانانو یو داسے ریاست قائم کړے وُو، په کوم اصولو چه نن پاکستان قائم شوے دے - یعنی یو داسے ریاست چه په هغې کښے د هرنسل د مُسلمان به یوشان برخه وے - او د ټولو مُسلمانانو به ورکښے یوشان حقوق او یوشان حیثیت وے - هغهٔ چه د مغلو د نسلی شهنشاهیت مخالفت کولو نو د هغې وجه دا وه چه هغهٔ محسوسوله چه په مغلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شهنشاهیت کښے د هر مُسلمان نه یوشان برخه ده اونهٔ ئے یوشان حیثیت دے۔ اوداهغهٔ ته غیر اسلامی فعل بنکاریدو۔ اودَ هغهٔ خیال ؤو، خیال څهٔ چه حقیقت ؤوچه د پښتون نه هیڅ مغل نهٔ شی جوړیدے۔ یعنی مغل پښتون ته هیڅ د څان سره سم حیثیت او برخه په حکومت کښے نهٔ ورکوی۔ اونهٔ ورسره د انصاف اودَ انسانیت سلوک کوی۔

خوشحال خان وائی ؎

کهٔ هزار کاندِ پښتون مغل به نشی بویه داچه د زړهٔ اوباسی داخیال

اودَ اورنګ زیب عالمګیر دَ بے انصافئ متعلق لیکی :-

په ناحق د اورنګ زیب په بند بندی یم خدائے خبر دے په تهمت اوبه بهتان

زړهٔ په څان کښے ګناه نهٔ وینم خدائے یودے ولے نور خلق خبرے کا شان شان

د ګناه م سر رشته معلومه نهٔ ده مګر خپل هُنر د څان وینم تاوان

بادشاهانو سره ترس د زړهٔ باندے دے مروّت غوږ رسی، عدل و احسان

څوک به چا لره په داد، په فریاد ورشی

چه په ظلم راضی مند شول، بادشاهان

د دے نه صفا معلومیږی چه هغهٔ د مغلو اودَ مغلی اورنګ زیب هیڅ بے هیڅه دښمن نهٔ ؤو۔ اونهٔ ئے په دے خیال دښمن ؤوچه مغل، مغل دی۔ او د دے دپاره د دوئ مخالفت ضروری دے۔ هغه د مغلو د حکومت څکه مخالف شوچه هغهٔ ته معلومه شوه چه مغلی حکومت اسلامی حکومت نهٔ دے۔ دا محض یو نسلی شهنشاهیت دے چه د مغل نسل د فائدے لپاره قائم دے۔ او په زور ظلم او په بے انصافئ چلی۔ او بغیر د مغلونه د نورو مسلمانانو ورکښے هیڅ نشته۔ کهٔ چرے د پاکستان په شان د مغلو په حکومت کښے د ټولو مُسلمانانو یوشان حیثیت او یوشان برخه وے۔ او په انصاف اوجمهوریت قائم وے نوخوشحال خان به ئے هیڅرے مخالفت نهٔ وے کړے۔ بلکه هغهٔ به د یو داسے اسلامی حکومت د سالمیّت او حفاظت دپاره هر وخت ملاتړ لے تیار ولاړ وے۔ کوم خلق چه د پاکستان د جوړیدو نه پس، خوشحال خان په حیثیت د یو نسلی هیرو، په دے خیال پیش کوی چه د هغهٔ د شخصیت او اشعارو په ذریعه د پاکستان سالمیّت ته نقصان اورسئ اودَ پاکستان د آزاد، اسلامی جمهوری ریاست دننه، نسلی فرقے او

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نسلی جګړے پیدا کړی او په دے چل ول پاکستان کمزورے کړی او بیائے ختم کړی.
نوداخلق نۀ یوازے د پاکستان سرۀ غداری کوی بلکه د خوشحال خان سرہ هم غداری
اوظلم کوی. اود هغۀ اسلامی تعلیمات په غلط رنګ خلقوته پیش کوی. په پاکستان
کښے د مغل، افغان، پنجابی، بلوچی او بنګالی وغیره، یعنی د ټولو مسلمانانو مساوی
حقوق دی. او یو شان حیثیت لری. اوهم دغه د خوشحال خان تعلیمات وُو.

عجیبه خبره خو دا ده چه کوم وخت د مغلو د شهنشاهیت ختمید و پسے دویم
لوئے شهنشاهیت په دے وطن د فیرنګیانو راغلو، او دا وطن فیرنګیانو اونیونو. نو
دغه وخت وُوچه د فیرنګیا نو د غیرملکی او غیرمذهبی شهنشاهیت خلاف. د
خوشحال خان شخصیت او د هغۀ اشعار استعمال شوے دے. خو په دغه وخت کښے
نه مونږ هغه سړے نه چه اوس ئے خوشحال د خپلو سیاسی اغراضو، سرته د رسولو
دپاره په پیړئ نیولے دے. هغه وخت د خوشحال خان په باره کښے دا سے خاموشه وُو،
چه تا به وے چه ګنی مارچو کړی دی او په خولۀ تیک دی. خو اوس د پاکستان
د جمهوری اسلامی حکومت خلاف، خوشحال خان په غلط رنګ کښے دُنیا ته پیش
کوی. او د خوشحال خان غوندِ پاک اوپوخ مُسلمان نه ئے محض یو تنګ نظرے نسلی
هیرو جوړ کړے دے. او هغه اشعار چه هغۀ د مغلو د نسلی شهنشاهیت خلاف په
تیره شوے زمانه کښے د مخصوص حالاتو په بنا وئیلی وُو. او د هغه وخته سره ئے
جوازلرلو. هغه نن د پاکستان د اسلامی حکومت خلاف، بے ځایه په غلط رنګ کښے
استعمالوی، چه د موجوده حالاتو اوزمانے سره، د دغے اشعارو هیڅ مناسبت نشته.
خوشحال خان په دے رنګ کښے پیش کول محض د خوشحال خان سپکول دی. او هغه
د اوچت شاعرانه مقام نه لاندِ راغورزول دی.

د عصرِ حاضر د روح جُدا تقاضے دی. زمونږ په زمانه کښے او د خوشحال خان
په زمانه کښے د آسمان او د مزکے فرق دے. موجوده زمانه د نسلی بادشاهئ او
نسلی شهنشاهیت نه ده. په موجوده زمانه کښے د بنیادم دوه غټ دښمنان دی.
یو ایټم بم او دویم نسلی شهنشاهیت. د بادشاهانو زمانه لاړه. او س د عام خلقو
د وقار زمانه ده. په دے زمانه کښے وړے وړے نسلی بادشاهئ جوړول، یا خانئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جوړول د بنی نوع انسان توهین دے۔ دا د وقارِ آدم زمانه ده۔ اصل نسل په دے زمانه کښے هیڅ معنیٰ نه لری۔ هر بنیادم، که هغه توردے اوکه سپین۔ که هغه مغل دے اوکه افغان، د بل برابردے۔ او د بل په شان دے۔ د نسل او وینے په وجه ئے په یوبل فوقیت نشته، چه د هر نسل نه وی۔ نن ورځ هر بنیادم باوقاره، اخلاقی، معاشی، روحانی او کلتوری ژوند غواړی۔ او د نورو سره ئے سم غواړی۔ او په دے څوک نه غولیږی چه د خپل نسل یو بنیادم دِ بادشاه کړی۔ او د دُنیا هرڅهٔ دِ د بادشاه دپاره مخصوص کړی۔ او نور خلق دِ ذلیل، د خواړئ، نیستئ او څناورو په شان، ژوند په دے خیال تیروی چه د دوئ د نسل یو سړے بادشاه دے او هغه د بادشاهئ ژوند تیروی۔ د نسل په نوم څهٔ چه د غلط او رواجی مذهب په نوم هم د تیرو تلو زمانه لاړه۔ په هره زمانه کښے اقدار بدلیږی۔ زمونږ د زمانے، د نوی اقدارو نوے مطالبات او نوی تقاضے دی۔ دا د جمهوریت زمانه ده۔ او یوازے د سیاسی جمهوریت زمانه هم نهٔ ده۔ دا فی الحقیقت د اقتصادی جمهوریت او آزادئ زمانه ده۔ په دے زمانه کښے محض سیاسی آزادی هم څهٔ څیز نهٔ دے۔ که سیاسی آزادئ سره اقتصادی آزادی نهٔ وی نو داسے سیاسی آزادی نن ورځ چلبازی کنډے شی۔ او د غلامئ دویم نوم دے۔ کوم خلق چه په دے زمانه کښے خوشحال خان په دے خیال بوس بوس کوی، چه د خوشحال خان په نوم به د پخوانئ زمانے په شان وړے وړے نسلی خانئ او بادشاهئ جوړے کړی۔ او د دے عصر بیدار پښتانهٔ نه د ذاتی اغراضو او مفادو په خاطر، د نسلی خانئ او بادشاهئ دپاره استعمال کړی۔ نو دا تهتو دِ په سویره اوتړی۔ هغه زمانه لاړه، هغه تیره هیره زمانه واپس نهٔ راځی۔

وقتِ شعر و شاعری، بگذشت و رفت

خوشحال خان د پاکستان شاعر

د ډاکټر اقبال متعلق همیشه وئیلے شی چه هغه د پاکستان شاعر دے۔ بے شکه چه ډاکټر اقبال د پاکستان شاعر دے۔ څهٔ خو په دے وجه چه هغهٔ د پاکستان تصور پیش کړے وُو۔ او څهٔ په دے وجه هم چه د هغهٔ تعلیمات، د پاکستان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ ریاست بنیادی اصول دی۔ او دا تعلیمات دَ قرآنِ پاک او دَ اسلام دَ بنیادی خیال۔ توحید نه اخذ شوی دی۔ خوشحال خان خټک ته هم مونږ دَ پاکستان شاعر وئیلے شو۔ څۀ خو په دے وجه چه هغه دَ پاکستان په خاوره کښے پروت دے۔ او پاکستان دَ هغۀ وطن دے۔ او څۀ په دے وجه چه دَ پاکستان دَ برصغیر دَ مُسلمانانو هغۀ واحد اسلامی ریاست دے، دَ کوم قسم ریاست چه خوشحال خان خټک، په خپله زمانه کښے دَ برّصغیر، دَ مُسلمانانو دَ پاره غوښتلو۔ او څۀ په دے وجه هم چه دَ خوشحال خان خټک تعلیمات لکه دَ ډاکټر اقبال په شان دَ اسلامی فلسفۀ حیات ترجمان دی۔ دَ مغلوسره دَ کشمکش په سلسله کښے چه کوم اشعار هغۀ وئیلی دی۔ کۀ هغه ورنه یوطرف ته کړو نو په باقی افکارو او خیالاتو کښے دَ خوشحال خان خټک شاعری دَ ډاکټر اقبال شاعری ته ډیره نزدے ده۔

دَ پاکستان په خاوره کښے چه کوم پخوانی یا اوسنی شاعران، ادیبان، بزرگان، فلسفیان او عالمان تیرشوی دی، یا موجود دی، دا ټول بالخصوص، او په باقی عالمِ اسلام کښے چه کوم پخوانی یا اوسنی مُسلمانان شاعران، ادیبان، فلسفیان، بزرگان او عالمان تیرشوی دی یا موجود دی، دا ټول بالعموم، زمونږ دَ ثقافتی، ادبی، کلتوری ژوند قیمتی سرمایه وه۔ او دوئ زمونږ علمی، ادبی او ثقافتی مشاهیر دی۔ په دوئ کښے په مغربی پاکستان کښے خوشحال خان خټک یو ممتاز حیثیت لری۔

خوشحال خان خټک لکه دَ ډاکټر اقبال په شان دَ پاکستان شاعر دے او دَ هغۀ اسلامی تعلیمات عام کول پکار دی۔ ځکه چه دَ هغۀ بلند افکار او خیالات دَ پاکستان دَ آزادئ، سالمیت او حفاظت دپاره کۀ په صحیح طریقه پیش کړے شی، نو ډیر مفید ثابتیدے شی۔

دَ خوشحال خان خټک شاعری او دَ خوشحال خان دَ شاعرئ مقام

ادبی پس منظر:۔ دَ خوشحال خان خټک دَ نثر او نظم نه معلومیږی چه هغه دَ عربئ او فارسئ بنۀ عالم وُو۔ او دَ علمِ دین نه هم بنۀ واقف وُو۔ هغه دَ پښتو دَ شاعرئ په هغه دور کښے پیدا شوے وُو چه پښتو دَ فارسئ دَ شاعرئ رنګ قبول کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وُو۔ اودَ فارسئ دَ ادب دَ پښتو په ادب کانی اثر غورزیدلے وُو۔ پښتو دَ دے جوګه وه چه یولوئ شاعر، ادیب ورکښے دَ خپلو اُوچتو افکارو اوخیالاتو اظهار اوکړے شی۔

مرزاخان انصاری، دَ خوشحال خان خټک نه وړاندِ په پښتو کښے دَ اوچتے پائے غزل گو شاعر تیرشوے دے۔ خودَهغهٔ په شاعرئ مذهبی رنګ غالب وُو۔ اودَ بایزید انصاری دَتصوف دَ نظریاتو وړاندِ غرق اثر وُو۔

دَخوشحال خان خټک په زمانه کښے فارسی بادشاهی ژبه وه۔ یعنی نهٔ صرف دَ مغلو دَدربار اوحکومت ژبه وه، بلکه دَعلم اوشعر و شاعرئ ژبه هم وه۔ هرچاپه کوشش کولوچه دَمغلوشاهی دربار ته دَرسیدلو دپاره دَفارسئ په لیک اولوست کښے قابلیت پیدا کړی او په شعروشاعرئ کښے دَ شهرت حاصلولو دپاره خو په فارسئ کښے شعروئیل ډیرضروری وُو۔

خوشحال خان خټک دَ زمانے دَ ضرورت مطابق په فارسئ کښے اعلیٰ قابلیت حاصل کړے وُو۔ اوپه فارسئ کښے ئے شاعری هم کوله۔ خوخوشحال خان نه محسوسه کړه، چه شعروشاعری بغیر دَ خپلے ژبے نه په بله ژبه کښے عبث کار دے۔

دَ پښتو دَ شاعرئ اول دور دَ هجری سن په حساب سره تراوے صدئ پورے رارسی۔ په دے دورکښے دَ پښتو شاعری په خالصه یا سُوچه پښتو ژبه کښے وه۔ او دَعربئ اوفارسئ دَ الفاظو ورکښے ډیرکم استعمال دے۔

دَ پښتو دَ شاعرئ دویم دور دَ ۱۰۰۰ هجری نه شروع کیږی۔ په دے دورکښے دَ پښتو په شاعرئ، دَعربی اوفارسی شاعری پوره پوره حاوی شوے وه۔ دَعربئ اوفارسئ علوم او افکار، پښتو شاعرو خپلول شروع شوی وُو۔

هم په دے زمانه کښے، دَ پښتو په شاعرئ کښے دَ تصوف رواج هم اوشو۔ او پښتنو شاعرانو دَفارسئ دَ مشهورو صوفیانو شاعرانو نقل شروع کړو۔ دَ پښتو دَ شاعرئ په دے دورکښے ډیرلوئے لوئے شاعران پیدا شول۔ دا دَ پښتو دَ شاعرئ سره زرے زمانه وه۔ په دے دورکښے دَ پښتنو شاعری خپل معراج ته اورسیده۔

اخون درویزهؒ، بایزید انصاری، مرزاخان انصاری، خوشحال خان خټک، عبدالرحمان بابا اوعبدالحمید مهمند وغیره قول دَدے دور یادګار دے۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دے دورکښے علاوه د نورو نه ، د پښتو ادب دوه عظیم شاعران یعنی خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا پیدا شوی دی - او د دے دواړو شاعرانو کلام نه صرف د ادب اصلی سرمایه ده - که یوکوهِ نور دے نو بل دریائے نور دے - دا دواړه لعلونه د پښتو د ادبی تاج زینت دی -

که ایران او د ایران شاعرئ سعدیؒ او حافظ پیدا کړی دی - که په انګریزئ کښے شکسپیئر او ملټن دی - که په اټلی کښے ورجل او ډینټے نړۍ پیدا کړی دی - که یونان په هومر فخر کوی نو مونږ هم په دے که خوله وئیلے شو چه زمونږ په ادب کښے هم څوک شته . چه مونږ ئے په احترام سره نومونه اخلو او زمونږ د ادب ځلاندی ستوری دی - دا یو خوشحال خان خټک او بل عبدالرحمان بابا دے -

ځما په خیال د خوشحال خان خټک نه وړاندے چه په پښتو کښے هر څومره شاعران او ادیبان تیر شوی دی ، د هغوئ مثال د خوشحال خان خټک په وړاندے د هغه ستوره دے چه نمر را وخیژی او ټول د نظر نه فنا شی - په حقیقی معنو کښے خوشحال خان خټک د پښتو د شاعرئ بابا آدم دے - د پښتو په شاعرئ کښے نه د خوشحال خان نه وړاندے او نه د خوشحال نه روستو د خوشحال خان هومره لوئے شاعر پیدا شوے دے - خوشحال خان زمونږ د ادب نمر دے - خوشحال خان زمونږ هومر دے - خوشحال خان زمونږ ملټن دے - خوشحال خان زمونږ ډینټے دے - خوشحال خان زمونږ کوټے دے - خوشحال زمونږ فردوسی دے - خوشحال خان زمونږ سعدیؒ دے - خوشحال خان زمونږ تیکور دے - خوشحال خان زمونږ اقبالؒ دے - د خوشحال خان د شاعرئ د عظمت او جامعیت نه انکار د نمر د رڼا نه انکار کول دی -

د خوشحال خان په شاعرئ د تربیت او د ماحول اثر

خوشحال خان خټک د یوخان په کور کښے پیدا شوے وو چه د خټکو د قبیلے سردار وو - د ورکوتوالی نه ئے د خانئ لاړے چارے په کور کښے لیدلے کتلے وے - او د هغه حساس پښتون دماغ د خانئ او د سرداریٔ ماحول په ښه شان جذب کړے وو - د دیارلس کالونه ئے په جنګونو شروع او کړه او ټول عمر ئے په جنګونو کښے تیر شو - او مرګ ئے هم د خپل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کورکلی نه لرے په آفرید و کښے اوشو۔

خوشحال خان خټک ته په ورکوتوالی کښے بلاګانے اومصیبتونه ورترغاړه شوی ؤو، خودَ ژوند اوریشه ئے وه، بچ شو۔ دَ اتوکالوپه عمرکښے دَ څیږدَ لاندِ ناست ؤو چه کانړے پرے راپریوتو، تندے ئے سخت زخمی شو۔ اوهٔ اتهٔ ورځے حالت ډیرخراب ؤو خو آخرالله پاک ورته شفا ورکړه۔

ډوبے وادهٔ ئے دَ اتلسو کالوپه عمرکښے اوشو۔ دَجنج په ورځ تبے اوینولو۔ دولس ورځے ناجوړه ؤو۔ آخر په دولسمه ورځ ئے تبه اوشلیده، او شفایاب شو۔ دَدے نه معلومیږی چه قدرت هغه دَورکوتوالی نه دَمصیبتونو اوتکلیفونو دَ ژوند سره خپله بلد ولو۔ او دَ ژوند دَجفاکشئ اوسخت کوشئ دیارهٔ ئے تیار ولو۔ دَ هغهٔ په شاعرئ، دَ هغهٔ دَ مخصوص تربیت اوقسمت غرق اثر دے۔ چونکه هغه دَ ورکوتوالی نه بلاګانوته لاندِ وتے ؤو او یا بلاګانے ورته ترغاړه شوے وے۔ په دے وجه په شاعرئ کښے ئے په مړانه، په همت او جفاکشئ ډیرزور ورکړے دے۔ هغه جفاکشی ژوند کښږی۔ اودَ ژوند دَ مصیبتونو سره مردانه وار مقابله، دَ مردانه ژوند یو لازمی جز وګڼږی۔ دَ مثال په طور لاندینی اشعار ئے اولولئ ؎

که په زړ رنګه خوبئ آراسته وی
چه ځلمے په بلا برنهٔ وی هم هیڅ
په جهان کښے که ځوان دی هم هغه دی
چه وسخته و ته ونیسی ځانونه
واړه نړونه فراغت دی په بنادئ کښے
چه په غم کښے مردانه شی نړهٔ هغه

اوس به دَخوشحال خان خټک دَ پیدائش دَجغرافیائی ماحول جائزه واخلو۔ ځکه چه دَماحول اثر دَ ګرد ونواح دَ فضا او آب و هوا اثر، دَ تربیت اثراودَ ژوندون دَ واقعاتو اثر دَ هرشاعر په کلام باندِ خپل نمایان اثر غورزوی۔ دَخوشحال خان شاعری هم دَدے اثراتو نه خالی نهٔ ده۔

خوشحال خان خټک په سرائے اکوړی کښے پیدا شوے ؤو۔ دَ سرائے اکوړی کلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د لنډې سیند جنوبي غاړې ته پروت دے۔ دا تقریباً د یوسفزو او د ختکو د علاقے مقام اتصال دے۔ سرائے کلے د هغهٔ غورنیکهٔ ملک اکوړی د اکبر بادشاه په زمانه کښے آباد کړے وُو۔ او دا د خراسان او هندوستان د بادشاهی لارے په څنډه پروت دے۔ اکوړی ته اتک په څومیله کښے پروت دے۔ او دا اتک سره نزدے اباسین اولنبے سره یوخائے کیږی د سرائے سویلی غاړے ته د ختکو بنجرے میرے او سور اباکنجی پهن اوچ غرونه دی۔ خو د سیند پورے غاړه ورته د یوسف زو آباده او سرسبزه علاقه پرته ده۔

د خوشحال خان ختک په شاعرئ د دے مخصوص جغرافیائی ماحول غرق ترشکاری د هغهٔ شاعرانه دماغ د دے ماحول نه دیر شاعرانه مضامین ایستی دی۔ په قید او بند کښے چه هغهٔ ته کوم وطن یا دیږی۔ هغه هم دغه سرائے، دغه اباسین۔ دغه لنډے سیند دغه اتک۔ دغه د ختکو اوچ غرونه او په دغه اوچو غرونو کښے د پلوسو بوټی او د پلوسو د بوټو ګلونه، دغه خیرآباد او میرکلان، د ختکو کلی، او هم په دے کلو او اوچ وطن په هوا او اوبو پسے هغه په بندی خانه کښے ارمان کوی۔ په دے سلسله کښے د خوشحال خان لاندینی اشعار د نمونے په طور اولولئ۔

که ګذر په خیرآباد اوکړے نسیمه!
یادِ ګشت وشی د سرائے د سیند په سیمه

په بار بار سلام ځما ورته عرض کړه
ورسره ځما د لوریه څو تسلیمه

..... الخ

یوبل ځائے کښے وائی ؎

ګل شوے د خوږے د بنړ پلوسے خوشحاله ولے بے ګشته اوسے
ګشت د ګلونو، بنکار د باز ونو ګړه
چه کورته دیرے غوښے یوسے

د خوشحال خان ختک کړوسے کاظم خان شیدا هم په رامپور (هند) کښے مسافر ناست د وطن پلوسے داسے یادوی:

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ګلونه اوکړل د سروه پلوسے کهٔ دا پیام م نسیمه یوسے
خوشبو په تاده د وطن سیمه
دا م دُعا شی چه تازه اوسے

دَشعروشاعرئ نظریه، اوشعردَخوشحال خان په نظرکښے

دلته دَشعروشاعرئ په نظریاتو بحث کول به غیرضروری وی خودَخوشحال خان خټک په شاعرئ دَپوهیدلودپاره کهٔ یولنډ شان بحث په دے موضوع اوکړے شی نوبے ځایه به نهٔ وی۔

لکه څنګه چه ادب دَفنون لطیفه یوقسم دے، دغه شان شاعری، دَادب یوقسم دے۔ اودَادب تعریف داسے شوے دے چه دَادبی الفاظو په وسیله دَخپلو احساساتو اوجذباتو او ادراکاتو په داسے طرز کښے اظهاراوشی چه دَآورید ونکی یالوستونکی په زړهٔ کښے هم هغه شان احساسات رااولړزوی څنګه چه دَلیکلو په وخت کښے دَادیب په زړهٔ کښے راالړزیدلی وُو۔ یعنی ادب محض دَجذباتو، احساساتو، افکارو او روحی حالاتو، دَادبی الفاظو په ذریعه اظهارنهٔ دے بلکه دَیوذهن نه بل ذهن ته انتقال اوابلاغ هم پکښے ملحوظ اوشرط دے۔ کهٔ ادیب په دے انتقال اوابلاغ کښے پاتے راشی نومحض اظهار دَهغهٔ مقام په ادب کښے نشی قائمولے۔ دَهغهٔ دَاظهار مفهوم لکه څنګه چه وئیلے شی په بطنِ شاعرکښے پاتے شی۔ دَادبی اظهار دپارهٔ دَادبی کلماتو انتخاب اودَ بلاغت او فصاحت دَمراعاتو په رنړا کښے۔ دَادبی کلماتو بشکلے ترکیب او بناسته استعمال هم څنے نقادان ضروری ګڼی۔ دَژوند هرارښخ دَادب دپارهٔ موزون مضمون کیدے شی۔ خوپه شرط دَدے، کهٔ څوک ئے په ادبی رنګ کښے پیش کړے شی۔

دَادب دوه لوئے قسمونه دی۔ یعنی یوادبِ محض اوبل ادب مخلوط۔ ادبِ محض هغے ادب ته وئیلے شی چه ادب دَادب په خاطروی۔ یعنی دَلطیفواونفیسوجذباتواو احساساتوادبی اظهار اوابلاغ محض دَادب په خاطرشوے وی۔ دَاحساس دَ ادبی اظهاراوانتقال څهٔ بل مقصد یابله غایه نهٔ وی لکه عاشقانه غزلے اوبدلے۔ او هغه نثرچه جذباتی رنګ ورکښے دَمعنوی خوبیانوپه نسبت زیات وی۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ادبِ محض هم بے کاره څیز نه دے، بلکه یو قوی افادی اړخ لری - اوهغه دا چه په دے ذریعه ادیبان د انسانی، جذباتی مفاهمت اوهمدردئ رشته خوروی - اوبنیاد مو کښے د جذباتی څرونديوولے پیدا کوی - او دغه شان د انسانی همدردئ په خورولو او عام کولو کښے ادیب امداد کوی - او د انسان د فطرت شناسئ په علم کښے اضافه کوی -

مخلوط ادب دے ته وائی چه لیکونکے کوم تاریخی، علمی، اجتماعی اوسائینسی مضمون په ادبی پیرایه کښے اولیکی - یعنی په داسے طرز کښے ئے اولیکی چه د معنوی رنګ په نسبت جذباتی رنګ په مضمون کښے غالب راشی - داسے ادب ته، ادب د سبق په خاطر یا د څرونديه خاطر هم وئیلے شی - دلته ادب محض واسطه ده - غایه نه ده - لکه چه په ادبِ محض کښے ادب غایه ده واسطه نه ده -

خو په ادیب اوشاعر کښے یا ادب او وعظ کښے غټ فرق دا دے چه د ادیب د پوهولو او اظهار طریقه لطیفه اونفیسه وی - اوطبیعت ورته خپله رجوع کوی - او په خوشحالئ ئے قبلوی - اود واعظ د پوهولو طریقه درنه اوبارِ خاطر وی - طبیعت ئے نه منی او ورنه فرار کوی - اود هغے وجه دا وی چه د واعظ خطبه ادبی اظهار نه لری - او په وعظ کښے معنوی اود سبق رنګ د جذباتو مقابله کښے غالب وی - لکه څنګه چه په ادب کښے د جذباتو رنګ د معنوی رنګ په مقابله کښے غالب وی -

شاعری، لکه څنګه چه ما وړاندے ذکر کړے دے، د ادب یو قسم دے - او د ادب د تعریف د لاندے راځی - د شعر پیر تعریف نه شوی دی خو لکه د ادب په شان د شعر صحیح تعریف هم دا دے چه انسان د خپلو احساساتو، جذباتو او عواطفو اظهار په داسے رنګ کښے اوکړی چه د آورید ونکی یا لوستونکی احساسات هم په هغه شان راوپاروی - لکه څنګه چه د شاعر د شاعرانه تجربے او مشاهدے په وخت کښے رالږزیدلی وُو - که په داسے کلام کښے وزن او قافیه وی نو هم شعر دے، که نه وی نو هم شعر دے -

لکه د ادب په شان، شاعری هم په دوه قسمه ده - یوه شاعری د ادب په خاطر او بله شاعری د سبق، څرونديا اصلاح په خاطر - لکه د ادب په شان د شاعرئ دواړه قسمونه د کار څیزدے - او دواړه افادی اړخونه لری - د خوشحالئ

ketabton.com - The Digital Library

ختک شاعری د شاعرئ په دے دواړه لویو برخو یا قسمونو حاوی ده ۔ اوموږ به دهغهٔ د شاعرئ عظمت اوجامعیت د شاعرئ ددے دوه لویو قسمونو په تله تلو ۔ اوجاج به ئے اخلو ۔ په حقیقت کښے دهغهٔ شاعری په دے دواړه لویو قسمونو کښے د کمال جامعیّت اوعظمت لری ۔

شاعری خپله د خوشحال خان په نظر کښے څهٔ څیز دے

نودا د هغهٔ د خپلے خولے نه واوړئ :۔

لکه غشی لره بویه تیر انداز　　هسے شعر لره بویه سحرساز
همیشه د زړهٔ په لاس تله د وزن　　نزیات وکم د وزن یوتورے غماز
. . . . . الخ

اوپه یوه قصیده کښے خوشحال خان د خپلے شاعرئ حال بالخصوص او د شعروشاعرئ حال بالعموم په ډیر وضاحت سره بیان کړے دے ۔ په دے قصیده کښے خوشحال خان څنګ وائی چه د هغهٔ شعر آمد دے ، آورنهٔ دے ۔ یعنی دا چه هغه پیدا شوے شاعر دے او شاعری ئے په سرشت کښے د ازل نه لیکلی راغلے ده ۔ لکه چه خپله وائی ۔

طبیعت مِ عطائی ، نهٔ د تحصیل دے　　کهٔ خبریم د املا په استعمال
نهٔ په فکرنهٔ په ذکر رابرخیر شی　　نه کهٔ نه لکه ووړے د بشکال

تفکر د شاعرئ لږمون شین کهٔ
د غلیم دِ په نصیب شی دا اشغال

اوپه شاعرچه د شعر چیپه راشی هغه داسے بیا نوی :۔

سرهوا لکه تپ ژن هسے وئیږی　　د خپل خان سره خولهٔ پټه څواب سوال
خلق ښخ په خوب اودهٔ وی دے بے خوبه　　د پالنګ د پاسه خوب وی پر محال
پټ په پټه وبله آوړی ترصباحه　　د ښهٔ لفظ د ښهٔ مضمون په اتصال
چه د شعر فکر ورشو په مجلس کښے　　نور عالم خندا هوس کا ۔ دے ملال
چه د شعر فکر ورشی په نماڼهٔ کښے　　د اَعُوذ ذال بدل کا ند په دال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د شعر فکر ورشی په خوابدۀ کښے سپینے وریژے په مزه شی ورته کال
کله کله ئے مخ پټ شی په ډیر فکر چه په ډډ د لیونتوب شی احتمال
دا همه د خپلے پوهے نتیجه ده
چه شاعرله فکره نۀ وی فارغ بال

د دے اشعارو په خوند هغه څوک پوهیږی، په چا چه خپله کله کله دا چپے تیریږی د شاعرانه تجربے ډیر ښکلے بیان دے۔

خوشحال خان خټک د شاعرانه تجرباتو د جنونی چپو نه سرهم پتکوی او وائی:

کا شکے زۀ بے ژبے کونگ وے شاعر نۀ وے
تر دا هسے کویابئ بنۀ وُم لال

په دے شعر کښے خوشحال خان خټک ډیو بل حقیقت اظهار هم اوکړو۔ هسے خو د هر بنیادم جذبات یا شاعرانه جذبات په خاص حالا تو کښے راالړزیږی او راپاریږی. خو عام خلق د خپلو جذباتو او احساساتو شاعرانه یا ادبی اظهار نۀ شی کولے۔ او په دے وجه کونگیان شاعران وی۔ خو کوم خلق چه د خپلو احساساتو او جذباتو شاعرانه یا ادبی اظهار کولے شی هغه ناطق یا گویان شاعران وی۔

خوشحال خان خټک هم وائی چه کاشکے زۀ هم کونگ شاعر وے او د گویا یئ د زحمت نه خلاص وے۔

خوشحال خان خټک په دے قصیده کښے شاعرئ ته حیض الرّجال هم وئیلی دی او بدلے نۀ دی وئیلی حکه چه د شاعرانه فکر او تجربے مثال د حیض رے۔ اگرچه دا یوه مکروه تشبیه ده۔ خو د حقیقت نه ډکه مناسب تشبیه ده ؎

دا خبره بده نۀ ده چا وئیلے!
په تحقیق چه شعر حیض دے د رجال

د خوشحال خان خټک شاعری د تفخّر او تعالی نه هم خالی نۀ ده۔ څنگه چه هغۀ په خپل کلیات کښے ځائے په ځائے په خپله پښتو او ننگ فخر کوی۔ د غه شان هغه په خپله شاعرئ هم فخر کوی۔ چونکه په هغه زمانه کښے نمونه ادب او شاعری په فارسئ کښے وه په دے وجه پښتنو شاعرانو به د خپلے شاعرئ موازنه د فارسئ د

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شاعرئ سره کوله - خوشحال خان خټک وائی ؎

چه خوشحال خټک ئ وائی په پښتو ژبه خبرے
په فارسی ژبه به نۀ وی کۀ پوه ییږے سخن هسے

اوبیا په یوبل ځائ کښے، په قصیده کښے خپله داسے اقرار کوی ؎

په فارسئ ژبه کۀ نور ترما بهتر دی
په پښتو ژبه م مۀ غ ا ه مثال

د شاعرئ ژبه، او د خوشحال خان د شاعرئ ژبه او محاوره

د شاعرئ د ژبے متعلق په انګریزی ادب کښے، د دوه لویو شاعرانو یعنی د کالرج او ورډزورتھ ترمینځه دلچسپه مباحثه تیره شوے ده۔

د کالرج خیال وُو چه شاعرانه تجربه، عامیانه تجربه نۀ ده۔ دا یوه فوق العاده آفاقی او الهامی تجربه ده۔ په دے وجه د شعر ژبه هم عامیانه ژبه نۀ شی کیدے۔ بلکه شعر ته مخصوصه الهامی ژبه پکار ده چه د علمے ژبے نه ممتازه وی۔

ورډزورتھ د دۀ سره اتفاق اونۀ کړو۔ د هغۀ خیال وُو چه د شعر تجربه بے شکه چه الهامی او آفاقی وه خو د دے الهامی او فوق العاده تجربے د اثر د لاندے چه الهامی جذبات په شدّت سره راولږزیږی نو هغه وخت دا سے تجربه په الفاظو کښے بندوُل کران دی۔ دغه تجربه د هغۀ وخت سره د انسان په زړۀ یونۀ هیریدونکے نقش پریږدی۔ او جذبات چه ساړۀ شی او په قلار شی نو شاعر دغه جذبات، په سړه سینه، په قلار وخت کښے، په ارام، په عامیانه، شائسته ژبه کښے اوتړی۔ چه په عاموخلقو د اوریدو یا لوستو سره اثر اوکړی۔ په مثال کښے ورډزورتھ د خپلے شاعرئ ژبه پیش کړه۔ هغۀ اووے چه ځما شاعرانه تجربه الهامی او آفاقی وی۔ خوځما د شاعرئ ژبه عامیانه ده۔

کالرج پرے اعتراض اوکړو، وے تۀ چه څۀ ته عامیانه ژبه وائے، هغه نسبتًا عام فهمه ضرور ده خو عامیانه نۀ ده۔ عام سړے نه دا سے ژبه وئیلے شی اونۀ ئے لیکلے شی دا سے ژبه صرف یو شاعر لیکلے شی۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حقیقت دادے چه د شعرد ژبے ، د شعرد عناصرو او اصلی اجزاؤ په باب کښے
ډیر اختلاف دے . څوک چه په شعر کښے وزن یا بحر، ردیف او قافیه ډیر مهم بولی .
څوک ادبی صنعتونه او محسانات د شعر روح او ماحصل گڼری . او څوک شعر ځنی صنائع
او بدائع چه څنے لفظی دی او څنے معنوی ، د شعر سرمایه حسابوی . او د شعر قدر و قیمت
او خوبئ په دغه تله تلی . د دوئ ترنزده ، بنهٔ شعر هغه دے چه کوم معنوی صنعت لری .
لکه صنعتِ طباق - صنعتِ مقابله - صنعتِ عکس او صنعتِ رجوع وغیره . او یا هغه
شعر بنهٔ بولی چه ورکښے د صنعی صنائعو نه کار اخستے شوے وی . لکه قلب ، اشتقاق .
ذوالقافیتین او متلونه وغیره - خو داتول محض د شعر رخت او زیور . لباس او کالی
دی . د شعر ناوے بلند ، آفاقی ، تخیّل او اوچت شاعرانه خیال دے . او هم دغه په شعر
کښے بنیادی څیز دے . چه شاعرانه خیال د شاعر گوتوته راشی ، نو د دے خیال ، د دے دلبر ، د دے پری او پیکر
اظهار کهٔ په بناسته او ادبی الفاظو کښے اوشی . یعنی کهٔ پیکر ته کالی او رخت وزیور
بنکلی واچولے شی نو بناسته ئے یو په دوه شی . کاظم خان شیدا وائی ؎

مضمون د شعر لکه پیکر دے　　بناسته الفاظ ئے رخت وزیور دے

ورله ضرورد ی دا دواړه څیزه
پیکر کهٔ هرڅو دلربا تر دے

د خوشحال خان خټک په شاعرئ کښے دا دواړه توکه ، یعنی پیکری خیال او د
پیکری خیال شاعرانه او دلربانه اظهار په کثرت سره بیا موندے شی . د هغهٔ دیوان
له هر قسمه افکارو ، خیالاتو ، مضامینو او شاعرانه صفتونو او محاسناتو یوه داسے
بنکلے کلدسته ده چه په پښتو ادب کښے د دے ثانی نهٔ شی بیا موندے . د مثال په طور
دا شعرونه او گورئ :

په بل ځائے م پیرزونهٔ د یار غمه　　تهٔ حما د زړهٔ د مات کودی ریحانے

ستا په زلفو کښے م خوار خاطر بنادنهٔ شو
د مومن په کفرستان کښے څهٔ حرمت وی
که او ژغوری کبلئ په مرغزار کښے　　د خوارهٔ وربل ترسیوری ستړے

ketabton.com - The Digital Library

د خوشحال خان خټک د شعر ژبه، ساده خو الهامی او ادبی ژبه ده. عام ژبه ته نزدو، خو عام ژبه نه ده. د هغه په دیوان کښے د پښتنو د هرے طبقے او هرے قبیلے د مخصوصو الفاظو استعمال شوے دے. او په دے وجه د هغه د شعر ژبه، عالمگیر وسعت لری. خو په حیثیت مجموعی په محاوره کښے د خټکو ژبه ده.

د خوشحال خان شاعرانه مضامین

د شاعرانه مضامینو په تولنه کښے لکه پیر محمد کاکړ چه وائی، خوشحال خان یو بحر مواج دے. میړ دا د رتبې سړے نه وے چه د شاعرانه مضامینو په تنوع کښے خوشحال خان د مشرق په نسبت، د مغرب شاعرانو ته نزدے دے. د هغه د شاعرئ دیاره د انسانی ژوند هر اړخ یو موزون مضمون دے. ځکه چه هغه ځے په قادر الکلامئ سره په شاعرانه او ادبی رنګ کښے پیش کولے شی. په دے صنعت کښے د پښتو په ادب کښے یکتا دے.

خوشحال خان خټک ته الله پاک یو پیړ زرخیز او مضمون خیز شاعرانه دماغ او قلب ورکړے دے. د هغه قلب او دماغ د شاعرانه تنوع نه لبریز دے. هغه یو بنکلے او جمالی دماغ او قلب لری. چه د ژوند واقعاتو او د ماحول اثرات و ورکښے جلال هم پیدا کړے دے. دا سے قلب او دماغ لکه چه څنګه خوشحال خان خټک لرلو. یو جلیل القدر شاعر ته پیدائشی عطیه ورکیدے شی. دا په تربیت او کسب جلا بیا مومی. خو تربیت یا کسب دا سے دماغ پیدا کولے نشی. ځکه خو وائی چه شاعران څوک جوړولے نشی. شاعران پیدا شوی شاعران وی. دا یو عطیه او بخشش دے.

یو بنهٔ شاعر د بلند قوتِ تخیّل خاوند وی. د هغه حسن بینونکو ته، په غرونو، څنګلونو کښے، په کلونو او کلزارونو کښے، په شنو چمنونو، او د شنو د ونو په بڼو کښے، د سیند و نواو ولو د اوبو په روانئ کښے او د شفق او افق په لاله زارونو کښے، د صحرا د ماهتابی شپے په چپه چپیا کښے، د عشق او حُسن د بناپیرو، دلاویز، رنګین او حسین وطنونه او کورونه بنکاری. هغه د حسن د پریانو، بناپیرو بنکلے وطن، سره د خپل همه صفتونو په یو دلربا او دلکش رنګ کښے وینی. یو عام سړے د شاعر په مقابله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کښے د شاعر په دے زړۀ راکښونکی حسین او دلربا منظرونو کښے ډیرکم سړو مانی کیفیت محسوسوی. دا مخصوص احساس د شاعر برخه ده - او دا صرف د شاعرد شاعرانه تخیل کرشمه ده - چه هغۀ ته د معمول په امروزه قدرتی منظرونو کښے هغه څۀ بنکاری چه بل څوک ئے نۀ وینی - دا حقیقت دے چه شاعرته په هریو قدرتی منظر کښے د خپل جمالی دماغ او قلب د اندرونی بناست یوه حسینه نندارہ او آئینه په نظر راځی - د کائنات د جمال د نورانی تماشے لیدو ته د احساس اوجذب نه لبریز څیرۀ پکار دے - او هغه د شاعر څیرۀ دے -

منطقی د عقل په همسا د حقیقت جمال لټوی - لیکن د شاعر د تیز قوت احساس د ذکاوت او د خیال د رفعت صحیح ترجمان هغه آسمانی او وجدانی کیفیت دے - څۀ ترجمه د اکبر اقبال ضربِ کلیم وائی - او دے ورته په عقل ډیره ترجیح ورکړی - دا د انسان په قلب کښے د حُبّ یا د عشق جذبه ده - او دا د روح وظیفه ده -

شاعر سړه د کلیمؑ همساوی، هغه نبّاض قدرت وی - او دے د پیړۀ فلسفی، منطقی، فلسفی او سائنسدان دۀ ته لاندے - او دے اشرف، افضل او ممتاز وی - د شاعر تیز عقابی نظر د قدرت د حقیقت بربنډه او عُریان تماشه وینی - د فلسفی په دماغ د استدلال د پردو حجاب پروت وی - فلسفی د څیزونو تلاش کوی - خو شاعر څیزونه پیژنی شاعر څیزونه وینی، د شاعر نظر لګی، هغۀ ته څیزونه بنکاری -

د فلسفی د پیژندلو طریقه بے ربطه او بے نظمه، منتشر حقیقتونو کښے ربط او نظم پیدا کول دی - او په دے چل حقیقت الحقائق ته ځان رسول دی - او دا د هر څوک په تیارۀ کښے دُوسه وی - خو شاعر د کائنات روستے حقیقت په خپل پهلو او غیږ کښے نزدے وینی - شاعر ته لکه د فلسفی د لټون او تلاش ضرورت نۀ وی - کاظم خان شیدا د شاعر دا اُوچته مرتبه د خپل دیوان په یو مبی شعر کښے داسے له خدایه غواړی ـ

الٰهی د محبت درد و فغان سړا !
په معصوم کنار د نمرغوندے جانان سړا

د حسن و عشق د حقیقت الحقائق د پرده نشین، بے نقابه او بے حجابه نندارۀ چه شاعر اوویني نو هغه ئے نور د خلقو ته هم بښیل غواړی - لیکن د شاعر د بښیلو طریقه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فلسفیانه اواستدلالی نۀ دہ، وجدانی دہ۔ یعنی شاعری د وجدان دویم نوم دے۔ دشاعر عقابی سر وح چه د وجدان د چپے د اثر لاندے د عرش بام ته اوخیژی نو هغه د لامکان او لامکان د وطن، د مکانی او زمانی نقشے اظهار پریږدی او کوی چه یو خاص آفاقی رفعت خولی، خو په ظاهر د عام خلقو د روزمرہ، رنګین دلاویزه، عام فهمه الفاظو یو شسته آسمانی تجربا تو اوجذبا تو اظهار او د نمود جامه ترمینی اوګرځی۔ عاشقانه شاعری چه د جانان د خط اوخال، مئے، نغمے اوچنګ ونے او ترنګ تنګ مضمون پورے محدوده شی۔ نو هم ځان ته یو افادی پهلو لری۔ خو د کم شاعر یا وړوکی شاعر په لاس کښے، په ځائے دے چه د آسمانی، وجدانی او مسرت انګیز جذبا تو سرچینه شی، د مادی او هیجانی او نفسانی خواهشاتو د تسکین اولذت سبب اوګرځی۔ اوله دے قسمه شاعری د اخلاقی کمزورئ سبب شی۔ او د ناپوهه خلقو د پاره مخرب الاخلاق ثابته شی۔ انسانی، فولادی رګ وریشه کمزورے کړی۔ اوسړے د ژوند د سخت حقیقت د برداشت کولو نه ستړے پټول شروع کړی۔

د خوشحال خان خټک شاعری سره د صاف ګوئی او د هجوو، هزل، د انسان د بصیرت د پاره مدد او معاون دہ۔ ځکه چه د هغهٔ په هزلیا توکښے هم د انسان د نفسیاتی جنسی او سفلی اړخ یوه غرقه مطالعه ده چه بنیادم ورنه سبق اخستے شی۔ او د خپلے سفلی خودئ، تجزیه، تحلیل او اصلاح کولے شی۔ او د هغهٔ صوفیانه کلام یا شاعری بحیثیت مجموعی د عشق او حُسن، هغه دلاویز، پاک اوصاف بیان دے چه د بنیادم د وجدان تسکین کوی۔ او بنیادم ته د ژوند د جمالی اړخ یوه حسینه نندارہ په ګوته کوی۔ د ژوند د رګ او ریشے د مضبوطولو د پاره د هغهٔ د سخت کوشئ او جفاکشئ، شاعری او اخلاقی شاعری لوستل پکار دی۔ او د جدّ وجهد او ځوانمردئ اونګ د جذبے په تحریک کښے د راوستو د پاره د هغهٔ د رزمیه او وطنی شاعرئ نه استفاده کول پکار دی۔ چه نن هم لکه د هومر او فردوسی د شاعرئ په شان د هغهٔ رزمیه قصیدے او پُرجوشه او ولوله انګیزے غزلے اوبدلے۔ نړۀ ړپونکی، وینه تودوونکی، زړۀ ګرموونکی او جذبات رالهڑوونکی وی۔ د خوشحال خان خټک د جنګی اشعارو، استعاراتو او تشبیهاتو په آوریدو سره، نن هم د هر پښتون څرمن زیږه زیږه شی۔ او وینټه ئے ببر شی۔

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان خټک دخپلې رزمیه شاعرئ متعلق وائی :-

ځما شربه نه ده اور ده
ګذارونه د توپک کا

د هغه د شاعرئ شاعرانه لب ولهجه څنګه چه د یوجنګی سردار اوشاعر نه اُمید کیدے شی، مردانه اوتحکّمانه ده. د هغه جنګ جویانه او د ننګ نه پک خیالات د هغه د ژوند تیرولو په حق کښے نظریه او د هغه شاعرانه مرصّعات او محاسنات ټول مردانه دی. او بنیادم د ژوند د جهاد دپاره تیاروی. او د ژوند زړک وریشه د ډیر کښے مضبوطوی. ځما په خیال په ټولو پښتنو شاعرانو کښے صرف د خوشحال خان خټک دیوان، علاوه د نورو خوبیانونه د پښتنو د وطنی رنګ د شاعرئ بشکلی آئینه ده. ځکه چه د خوشحال خان په کلّیات کښے د پښتون د ساده ژوندون تیز او جنګیالی فطرت او ملکی حالت پوره او مکمله نقشه ده. د هغه په دیوان کښے د پښتون د سخت ژوند د تیرولو په کور کور کښے د مُشت ګریوانئ په کلی کلی کښے د ډیرو جنبو په قبیله قبیله کښے د جنګ جګړو او د مارکټایئ په خیل خیل کښے د ملکئ اوخانئ د زور زیاتی او ظلمونو، د تړلو پرانستلو او د رُعب قائمولو، د مغلو سره د پښتون د جګړو، د پښتون د علاقے د بیلو بیلو تپو او حصو او قبیلو، د خلقو د خوئ بوئ، د بود وباش، د ځوانمردئ، د میلمستیا، او نور تمدن او تهذیب معیار، د پښتنو د مختلفو قبیلو او علاقو د جینګو او بنځو بیان او د پښتون په حیثیتِ مجموعی د اخلاقو معیار، جنګی خوئ، ننګ او مړانه، سیاسی او اولسی حالت، حُبّ الوطنی، دلاورئ، شجاعت، د زړورتوب او زرخواهش، د پښتون د جمل او بُغض، حسد او کینه، احمقی او خرتوب، د خپلو جنګونو پُرجوش بیانات، خپلخانګی حالات، د خپل زوزاد ذکر مذکور، د خپل ځوئ بهرام خان د ناخلفئ نه سر ټکول، د خپل وخت د مشهور تاریخی یا جنګی قصو ذکر مذکور. د ډهلی د دربار مختصر منظوم تاریخ، د قحط سالو او وباګانو او د نورو آفتونو ذکر، ځانګے په ځانګے د طب، حکمت، راموز مملکت، صحت البدن او فلسفے خبرے. د شعرو شاعرئ متعلق نظریات او خیالات، د علمِ اخلاق بیانات، د خپل مذهبی عقائدو بیان، حمد، نعت او مناقب، هجو وهزل، د موسمونو بشکلی شاعرانه بیانات، د قدرتی نظارو د غرقه شاعرانه مطالعه،

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَبانړ ونودَ تربیت اودَ بنکارخبرے، دَعشق ومحبت غزلیات، رباعیات او قطعات، په رنګارنګ مضامینو ورداړے قصیدے. په تاریخ ګویئ وغیره کښے شاعرانه زورښئیل، دَپښتوشړے دَترقئ په حقله ابیات، دَپښتون تهذیب دَخورولو کوشش، دَنوکرئ او منصبدارئ بدوئیل، دَ پښتون قوم دَمغلودَغلامئ نه دَآزادولو کوشش، په خپل ننګ، سرداریٔ اوشاعرئ فخریه اشعار، خپل حال په قید ونو او مسافروکښے، په قید وبند کښے، په وطن پسے ارمان، دَزمانے دَګردش نه ژړا اوفریاد، دَ اورنګ زیب دَعالمګیر سره دَ اوښ فتنه ساتل اودَ هغے بار بار ذکرکول. پښتون ته دَ قومیت تعلیم ورکول، صوفیانه کلام کښے خپل ښورښئیل اودَ نورو پیرو مضامینو شاعرانه او ادبی ذکر مذکور بیامونږے شی. عرض داچه دَمضامینو دَتنوّع په لحاظ سره، دَخوشحال خان دیوان یو بحرِ ذخّار دے. اوبحرِ مواج دے. اودَ انسان دَ ژوند دَهر احساس ترجمان اودَهرے مشاهدے شاهد دے. دَ پښتو ژبے حدائے مکړه کهٔ توله ادبی ذخیره ضائع شی، او یودَخوشحال خان دیوان بچ پاتے شی نو بیا هم ځما په خیال، دَخوشحال خان ختک کلیات په دے بیعه مونږ ته ګران نهٔ پریوځی.

اوکهٔ چرے نن هم پښتون دَخپل نمونه ادب یوه بهترینه کلدسته اوشاهکارینه تحفه یوغیرقوم ته پیش کول غواړی، نوځما په ذهن کښے دَخوشحال خان ختک دَکلیات نه بغیر بل کتاب نهٔ راځی.

دَخوشحال خان وطنی اورزمیّه شاعری :-

دَخوشحال خان ختک په وطنی اورزمیّه شاعرئ مونږ په ضمنی طور، په دے مضمون کښے دومره څهٔ اووے چه بیادَ دغے موضوع تکرار اودَخوشحال خان ختک دَ شاعرئ دَدے برخے نهونے ورکول غیرضروری ګڼړم. خوپه حیثیتِ مجموعی کهٔ مونږ ووایو، چه دَخوشحال خان وطنیت شاعری ده. اوشاعرئ وطنیت دے. نوځهٔ پیر بے ځایه به نهٔ وی. ځکه چه هغه دَخپلے همه ګیرے اوعالمګیرے شاعرئ زور دَ وطنیت په شاعرئ کښے ښائیلے دے. دَهغهٔ په روح کښے دَ شاعرئ فن اودَ وطنیت جذبه داسے پیرلی شوی دی چه جدا کول ئے ګران دی. خودَدے دامطلب نهٔ دے چه دَهغهٔ دَ وطنیت دَشاعرئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نه علاوه نورې شاعرۍ وقعت نه لري. دغه شاعري د انسان د فطرت په حيثيت مجموعي ترجماني کوي او دغه په افغان فطرت کښې، د اسلام تعليمات دا سې اخښلي شوي دي چې حقيقت کښې دغه وطني شاعري هم يوګونه دغه د اسلامي فطرت يوه ټوټه وه. خو دا ټوټه يا برخه ئې د نور فطرت په مقابله کښې لږه زياته نمايان او ښکاره ده. په دې وجه ځنې خلق يا قصدًا يا په غلطۍ هغه ته محض د نسلي شاعرۍ علمبرداروائي. خو دا تجربه څنګه چې مونږ وړاندې په تفصيل سره ذکر کړې دي، صحيح نه ده. د پير عبدالصمد خان د خوشحال او اقبال د جامع او حقيقت افروز کتاب لوستونه پس، خوشحال خان ته محض د نسلي شاعرۍ امام وئيل، د حقيقت نه سترګې پټول دي. هغه د اسې ښه اسلامي شاعر دے لکه چې هغه ښه وطني شاعر دے. د اقبال خپله شاعري هم په ابتدا کښې د وطنيت د جذبې علمبردار وه. او بيا روسته د اسلام په رنګ کښې رنګ شوے وه.

عجمي تصوّف او د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې حقيقت او مجاز

افلاطون د يوناني تصوّف بابا دے. د افلاطون نظريهٔ امثال او د حُسن محض نظريه د عجمي تصوّف بنياد ګڼلے شي. اګرچه په ظاهره د وحدت الوجود مسئله د عجمي تصوّف روح بنکاري.

د افلاطون خيال دُو چې کومه دُنيا مونږ ته په نظر راځي، دا حقيقت نه دے. حقيقي دُنيا بله ده. هغه د عالمِ امثال دُنيا ده. نه مونږ دُنيا، لکه څنګه چې مونږ ته بنکاري دا د حقيقي دُنيا محض يو سويره ده. يا د حقيقي دُنيا يو عکس دے.

هغه د دُنيا د څيزونو مثال دا سې ورکړے دے چې لکه يو سړے د يو لوے غار په خوله کښې ناست وي. غار طرف ته ئې مخ کړے وي او دُنيا ته ئې شاوي. د غار د خولے په وړاندې خو د بُنياد م په شا قسما قسم مخلوقات تيريږي او د دے مخلوقاتو مخامخ د غار دننه سويرے پريوزي. د غار په خوله کښې ناست سړی ته د مخلوقاتو صرف سويرے بنکاري خو حقيقي مخلوقات ورته نه بنکاري. ځکه چې مخلوقاتو ته د هغه شاده. او غار ته ئې مخ دے. لکه د ننه زمانے مثال به دا وي چې سينما هال کښې يو سړے ناست وي. د سينما په

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پرده هغه تصویرونه وینی کوم چه د سینما په شا د پټ مشین نه راوزی او د عکس په شکل کښے په پرده پریوزی۔ یا ډیره صحیح تشبیه به دا وی چه لکه د سویرو په ډرامه کښے ایکټران کوم چه په ډرامه کښے اداکاری کوی، هغۀ ته نۀ بنکاری خو د هغوئ د اداکارئ یا ایکټنګ سویره په پرده پریوزی۔ او تماشګیر صرف د ایکټنګ یا د اداکارئ سویره په پرده وینی۔

د افلاطون د حُسنِ محض نظریه دا وه چه د جمالِ حقیقی بنکلا اول بنیادم ته په یوحسین مخ کښے خپله جلوه اوښئ او بیا دغه جمال بنیادم ته په هرمخ کښے بنکاری۔ او بیا ټول کائنات ورته په دغه نُور منوّر بنکاری۔ د افلاطون د حسنِ محض نظریه په دے شعر کښے بنده ده ؎

اول خوښ م د یار حُسن، بیا م خوښ همه حسین وُو!
اوس په داسے ځائے مقیم یم چه م خوښ دے خیال د حُسن

یعنی د بنیادم روح چه د عشق د جذبے په برکت د لطافت یو اوچت مقام حاصل کړی نو بیا لکه د سحر خیز عقاب غوندے، د حسن په هغه بسیطه فِضا کښے چورلندی خوری، چرته چه د کائنات، د خالق د ازلی حُسن لازوال نمود، بے نقابه بنکاری۔ دا د افلاطونی دُنیا د حسنِ محض د نظریے هغه روستے حقیقت دے۔ هغه روستئ درجه ده۔ کوم ځائے چه سړے د دُنیا او مافیها نه بے خبره وی۔ د حُسنِ ازل له نوره معموره، جلوه گاه کښے ناست غرقه تماشه کوی۔ دا هغه حسین او نګارین منظر دے۔ چرته چه حُسن فی نفسه، د وجود له قیده آزاد یو نورانی نمود حاصل کړی۔ دا یو داسے حالت وی چرته چه سړے د حُسن د خیال شیدائی وی۔ د څۀ خاص حسین څیز سره حُبّ نۀ لری۔ په هرڅۀ مئین وی۔ او د هرڅۀ نه بے نیازوی۔ صوفیاء دے ته د حضور شغل یا مقام وائی۔

عبدالقادر خان خټک د حقیقت او مجاز دا رشته په یو شعر کښے داسے ستائیلے ده:

؎ خو خبرنۀ دے وګړے له دے رازه
کنی بیل حقیقت نۀ دے له مجازه

د وحدت الوجود د خیال بابا د سپین محی الدین العربی دے۔ د تصوّف د دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مسئلے خلاصه مطلب دادے چه په عالم کښے په ښکارندو اولکونو مختلف څیزونه په نظر راځی۔ داظاهری کثرت په حقیقت کښے وحدتِ محض دے۔ یا د وحدتِ محض مختلف شکلونه یا رنګونه دی۔ په تولو څیزونو کښے هغه "یو" هغه "احد" جاری او ساری دے اوپه هرڅیز کښے، د هغهٔ حسن دے۔ یا هغه دے، بل څهٔ څیز نشته۔ موجودات او ممکنات واړه په وحدت کښے د کثرت اوپه کثرت کښے د وحدت کرشمه ده۔ چونکه د وحدۃ الوجود د فلسفے نه چه صوفیاؤ کومه نتیجه اخذ کړے وه، هغه داده۔ چه دُنیا او ما فیها هیڅ وقعت نهٔ لری۔ ځکه چه د دُنیا هیڅ څیز حقیقی نهٔ دے۔ دَدے دپاره د دُنیا په څیزونو کښے زړهٔ لګول عبث کار دے۔ د وحدت الوجود فلسفه، د عجمی تصوف بنیاد ی خیال اوګرځیدو۔ اود دے فلسفے د اثر لاندِ په عالم اسلام جمود خورشو۔ خود شاعرئ دپاره چونکه دا مضمون ډیر موزون اورنګین وُو، په دے وجه د تصوّف دا بنیادی خیال د عجمی شاعرئ نشه شوه۔ اود عجمی تصوّف او عجمی شاعرئ د اثر لاندِ چه څومره ملکونه راغلل، هغو تولو داخیال قبول کړو۔ اود هغوئ په شاعرئ کښے داخیال داخل شو۔

د وحدت الوجود د فلسفے نه چه کومه نتیجه صوفیاؤ ایستے ده، داهم هغه د افلاطون خیال دے چه د موجوداتو دُنیا حقیقی نهٔ ده۔ اود افلاطون د حسنِ محض نظریه په عجمی تصوّف کښے داسے داخله شوه چه د عجمی شاعرئ روح شو۔ او په عجمی شاعرئ کښے ئے خوند، رنګینی، لطافت، نزاکت اویو روحانی حرارت او ګرمی پیدا کړل۔ اود عجم د شاعرئ معیار ئے اوچت کړو۔

په تصوّف کښے د وحدت الوجود د مسئلے اصطلاح په هندوستان کښے مجدّد الف ثانیؒ کړے ده۔ هغوئ اوفرمائیل چه دا په حقیقی تصوّف کښے یومقام دے۔ اوپکار ده چه سالک د دے مقام نه اوځی۔ که سالک په دے مقام کښے اونښتو نو لار ترے خطا شوه او په بلو بلو سرشو۔ په اسلامی تصوّف کښے د دُنیا ژوند، د آخرت دپاره یوه بارهٔ ده۔ یوه توښه ده۔ دا بیکاره ژوند نهٔ دے۔ دُنیا حقیقی ده اوښه ده، لکه رحمان باباچه وائی ؎

بنه ده بنه ده دا دُنیا
چه توښه ده د عقبیٰ

دُنیا پریښودل راهبی ده۔ اسلامی تصوّف کښے دُنیا پریښودل نشته۔ مُسلمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

به دُنیاوی ژوند د اسلام د اصولو او تعلیماتو مطابق تیروی۔ او نظر به ځ هر وخت په خدائے تعالیٰ وی۔ یعنی " دست به کار، دِل به یار " په اصول به عمل کوی۔ کهٔ مُسلمان دُنیا پریږدی نو د اسلامی تصوّف د نقطهٔ نگاه نه، دا غیر اسلامی څیز دے۔

خو په شاعرئ کښے د حقیقت او مجاز د الفاظو سرچشمه تصوّف دے۔ شاعری د جذباتو د اظهار نوم دے۔ او د تصوّف په برکت په جذباتو کښے پاکوالے او شدّت پیدا شو۔ او چونکه د تصوف خمیر عشقِ حقیقی یا عشقِ الٰهی دے او عشقِ حقیقی بیخی د یو پاک جوش اولوئے مطهرے او مقدسے جذبے نوم دے۔ چه داجذبه په بنیادم کښے اُوچت اخلاقی او روحانی ژوند او پوهه پیدا کوی۔ په دے وجه چه شاعرئ کښے د تصوّف مضمون ځائے اونیولو نو د عشقِ مجازی خبرو هم خوند پیدا کړو۔ او په عجمی شعر کښے په حیثیتِ مجموعی یو ژوندے ادبی روح اوځلیدو۔ او د اهلِ دل او اهلِ هوس، دواړو په اشعارو کښے تاثیر پیدا شو۔ او د عجم په شاعرئ کښے د یونوی باب اضافه اوشوه۔ لکه څنگه چه وړاندِ ذکر شوے دے۔ د خوشحال خان په زمانه کښے د پښتو شاعرئ کښے هم تصوّف داخل شوے وُو۔ او اگرچه خوشحال خان خپله صوفی مشرب سړے نهٔ وُو۔ هغه یو فعال وُو۔ یو جنگی سردار وُو۔ او شپه او ورځ ئے د جنگ سره سروکار وُو۔ خو د هغهٔ د صوفیانه کلام د لوستونه داسے معلومیږی چه هغه د تصوف د باریکا تو نه خبر وُو۔ او شاید د هغے وجه دا وه چه هغهٔ د خپل وخت د عالمانو او صوفیاؤ سره ناسته پاسته کوله۔ او د هغوئ د صحبت او افکارو د هغهٔ په خیالاتو اثر کوُو۔ ځکه خو د هغهٔ په شاعرئ کښے د رزم او بزم سره سره د تصوف رنگ هم ځلیږی۔ او هغهٔ چه په کوم تصوف عمل کړے وُو۔ هغه عجمی نهٔ وُو بلکه اسلامی وُو۔ یعنی په لاسو پښوئے دُنیاوی کار کولو۔ په لاس کښے ئے توره وه۔ خو په زړهٔ کښے ئے د خدائے تعالیٰ خوف وُو۔ او زړهٔ ئے مُسلمان وُو۔ البته د هغهٔ په شاعرئ کښے عجمی تصوف اثر کړے وُو۔ او څنے اشعار هغهٔ د وحدت الوجود د مسئلے د اثر لاندِ وئیلی دی۔ لکه د مثال په طور دا اشعار اوگورئ :۔

په هرځهٔ کښے نندارهٔ د هغے مخ کړم
چه له ډیرے پیدا ئیئ نه ناپدید شو

خوشحال خان په یو بل شعر کښے وائی ؎

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د درویش په نړۍ کښے درست کتاب مرقوم دے
که په خولۍ د عربو لغت نۀ نړ دہ

د دے شعر نه معلومیږی چه هغۀ د اسلامی تعلیماتو او اسلامی تصوف روح په بنۀ شان جذب کړے ؤو۔ حضرت علی کرم الله وجهه چه د اسلامی تصوف بابا دے خپل خوئے حسنؓ ته وائی چه اے خویه تۀ په حقیقت کښے ام الکتاب ئے۔ هرڅۀ چه دی په تا کښے دی۔ د تانه بهرڅۀ نشته۔ اسلامی فقیر خپله د لا الله مظهر شی او په خپل قلب کښے کتاب جذب کړی۔ خوشحال خان خټک په پورته شعر کښے، د اسلامی فقر دے طرف ته اشارۀ کړے ده۔

د اسلامی فقیر د توکّل د ژوند په باره کښے د خوشحال خان هغه غزل چه ورکښے دا شعر درج دے۔ ډیر قابلِ تحسین دے۔

که لږه ده که ډیره، واړه اوشمیره په تیزه!
په خوئ د پیغمبرشه که شته شته که نشته نشته

اسلامی تصوف د ظاهر او باطن تعمیر دے۔ او د ظاهر او باطن تعمیر۔ صرف د توحید په اصولو کیدے شی۔ د توحید د بحر لامبوزن، اوشنا ور، په صراطِ مستقیم روان وی۔ د موحد نظر د باقی دُنیا نه مایوس شوے وی۔ او صرف په یو ذاتِ واحد او احدۀ نظر وی۔ د عشق د تګ د یو داسے لار وی۔ دماغی حالت او روحی کیفیت خوشحال خان داسے بیانوی۔

هر تشنه چه د وحدت په سیند سیراب شۀ
نور همه جهان و دۀ و ته سراب شۀ

او په یو رباعی کښے عارفان داسے ستائی ؎

عارفان د سر په ستر کو کوتے کیږدی
د خپل نړۍ په ستر کو کوری تماشا کا
دا عالم لکه طفلان ورته بنکاریږی
د طفلانو په بازئ پورے خندا کا

د بنیادم دا لیونتوب چه خپل عقل، اختیار او اراده په خپله خوښه او رضا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا دَ الله پاک دَ عقلِ کل، اختیار، ارادے تابع کړو، اودَ الله پاک په رنګ کښے رنګ شی اودَ الله پاک عاشق اودیوانه شی، دا یو داسے مبارک فعل دے چه دَ هر عاقل اوفرزانه دَ فعل نه افضل دے۔ یو داسے دیوانه، داسے مجنون او داسے لیونی ته لیونے وئیل هم لیونتوب دے۔ خوشحال خان خټک دا مطلب په یو شعر کښے په اختصار سره داسے بیانوی ۔ ؎

عاقلانو څخه څو رنګه حکمت دے
لیونیو یو دَ عقل حکمت نۀ زده

په دے شعر کښے خوشحال خان خټک په ابلیسئ، زیرکئ یا شیطانی عقل باندِ، په عجیبه شاعرانه طرز کښے طنز کړے دے۔ وائی چه دَ عشق لیونی، هغه عقل نۀ لری، کوم خرد، دانش یا عقل چه دَ دُنیا اوښی عاقلان لری اوهغوئ دے عقل ته حکمت او دانائی وائی۔ خوشحال خان خټک یو بل ځائے کښے وائی ؎

دَ عشق کار په لیونتوب دے نورڅۀ نۀ دے
راشه واړه نۀ په عقل، نۀ شعور

عارف دَ عشقِ الٰهی په اور کښے تل عمر سوزی اوهم په دغه اور کښے لکه دَ سمندر په شان، نۀ صرف پائی بلکه ګلعذار هم وی۔ او په دغه اور کښے لذت هم بیاموی۔ عشق هغه سوز دے، هغه اور دے، چه دَ دوزخ اورهم ترینه امان غوښتے دے۔ دا اور په هر اور غالب دے۔ چه خالق اور پیدا کړو نو اور ترے تپوس اوکړو چه زۀ دِ ولے پیدا کړم؟ ورته اووئیلے شول چه تۀ ذریعه دَ عذاب ساز شوے ئے۔ اور اووئیل چه ماته به په څۀ عذاب راکیدے شی؟ ورته اووئیلے شول چه په نارِ کبرئ۔ دَ خپلو عاشقانو دَ زړونو په اور۔ خوشحال خان خټک وائی ؎

دَ دوزخ لمبے به کار په عاشق نۀ کا
چه ئے تاؤ دَ دروند دے په دا دال

په یو بل ځائے کښے، په یوه ربا عی کښے دَ عاشقانو یا عارفانو قلبی کیفیت خوشحال خان خټک داسے بیانوی ؎

جهان کۀ واړه سره سور اور شی — ګمان او مۀ کړه چه عارف نور شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کہٗ سمندر غوندِ پہ اورکښے کار نۂ کہ
عارف ئے منہ گنړہ، مخ دِئے تورشی

دا وہ دَ خوشحال خان خټک دَحقیقت شاعری، یا دَ صوفیانہ کلام نمونہ۔ اوس دَخوشحال خان خټک دَ عاشقانہ کلام یا دَ مجاز دَ شاعرئ نمونہ اوګورئ۔ خوشحال خان خپلہ پہ شاعرئ کښے دَحقیقت او مجاز رشتہ داسے ستائی ۔

پہ تور آس دَحقیقت ناوے سورہ کہ پہ سپین مخ پلوٗ نیولے دَ مجاز
سل جلوے، سل کرشمے، سل مکیزونہ
پہ نظر کښے ئے بنکارہ دَ ستړګو ناز

دَخوشحال خان خٹنے عاشقانہ کلام دَ تصوف سرہ داسے پیرلے دے چہ پہ مجاز کښے ھم لوستونکے، دَحقیقی عشق کومی محسوسوی۔ عاشقانہ غزلیات چہ دَخوشحال خان خټک دِیر زوردار دی۔ او ځان تہ یو امتیازی نوے رنګ لری۔ دَمثال پہ طور دَ خوشحال خان دا غزل اولوئ:۔

پہ ځان او پہ جهان کښے ما دوہ څیزہ دی اوکښلی
پہ ځان کښے دوارہ ستړګے پہ جهان کښے وارہ کښلی
. . . . . الخ

او بیا دا خوندناک غزل اولوئ:۔

تورہ چہ تیریږی خو ګذارلرہ کنہ
زلفے چہ ولول شی خوخپل یارلرہ کنہ
. . . . . الخ

لاندِ درج شوے مسلسل غزل چہ خوشحال خان خټک، دَ آدم خیلو آفریدیو پہ تعریف کښے لیکلے دے۔ دَ هغہٗ دَ مجازی شاعرئ بنکلے نمونہ دہ۔

آدم خیلے آفریدئ دی سرے او سپینے
پکښے شتہ دی بنائستہ پہ رنګ رنګینے
. . . . . الخ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال خان په حیثیت د یو غزل ګو شاعر

خوشحال خان خټک د پښتو په غزل کښے ساه واچوله - اود غزل لمن ئے د هر قسم مضمون د اظهار دپاره مونړونه او تیاره کړه - د هغهٔ په خپلو غزلونو کښے نهٔ صرف د عاشقانه احساساتو، خیالاتو او جذباتو اظهار دے - بلکه هغه غزل د هر قسم مضمون دپاره په کامیابئ سره استعمالوی - تصوف، فلسفه، اخلاق، پند و نصائح، حکمت، وطنیت، حسن وعشق وغیره د هغهٔ د غزلونو مضامین دی - هغهٔ لکه د فارسئ د نورو اصنافو په شان د پښتو د غزل بابا دے - هغهٔ د غزل تنګه اومحدوده لمن وسیع کړه - او غزل ته ئے په خپله شاعرئ کښے یو اوچت مقام ورکړو - د هغهٔ په غزل کښے د مضامینو دومره تنوع ده چه هغه محض د غزل په ذریعه د خپل زړهٔ او دماغ د هر فکر او هر احساس په مکمل طور اظهار کولے شی - او کړے ئے دے - هغهٔ د فارسئ غزل داسے پښتون کړو، او د پښتو مزاج ته ئے داسے نزدے کړو چه سړے وائی چه دا صنف د پښتو په شاعرئ کښے خارجی اثر نهٔ دے - بلکه خالئ دے - کومه روانی، سلاست، انفرادیت او د معنیٰ او د الفاظو رنګینی چه د خوشحال خان په غزل کښے ده، د بل پښتون شاعر په غزل کښے نهٔ شی بیاموندے - د هغهٔ په غزل کښے تخیّلی او واقعی حقائق دومره په ښه طریقه پیرلی شوی دی چه د فارسئ د قادرالکلام او اوچتو شاعرانو سره مقابله کوی - د هغهٔ په غزلو کښے نادر تشبیهات او استعارات چه د خپل ژوند د ذاتی تجربے او د ماحول د وطنی مشاهدے نه اخذ شوی دی، په کثرت سره بیاموندے شی - د مضامینو بلندی هم، د هغهٔ په غزل کښے معراج ته رسیدلے ده - که خوشحال خان د غزل نه علاوه، اوږد نورهیڅ هم نهٔ وے وئیلے نو بیا هم د پښتو په شاعرئ کښے به هغهٔ ته یو داسے اوچت مقام حاصل ؤو چه د بل پښتون شاعر رسائی به ورته ګرانه وه - دا لاندے شعرونه په مختلفو مضامینو، د هغهٔ د غزلونو نه پیش کوو، چه د هغهٔ د غزل رفعت، تنوّع او جامعیت لوستونکو ته معلوم او ثابت شی ؎

د خوشحال قدر که اوس په هیڅا نشته
پس له مړګه به ئے یاد کړه د پیر عالم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جهان یو کتور ے شوزه په مثل د میږی یم حیران پکښے جار ؤوزم لاس و پښے پکښے وهمه

د ُنیا وته چه ګورم، کار و بار ته د ؤګړی
د اوس کیو تماشے دی زه ئے هم ورسره کړمه

... ...

لکه څوک چه خوارهٔ شهد اوخوری، خوښ شی
هسے خوښ د شکرلبو په کنځل یم

د جمال خوبی دِ زیاته تر آفتاب دی د نظر دپاره نوم دریاند ماه بردم
که م چرے لاس د واک درسره سیږی
په سپین مخ به دِ د غابن نخښے سیاه بردم

که نیولے زرکه باز پریږدی له چنګله زه به هم له لاسه پریږدم شوخ وشنګه

... ...

هرناوک چه د قضا له شسته خیژی زمانه د خوشحال زهٔ ورته آماج که

... ...

زهٔ م ستا په زلفو بند شو، تا کباب کړو
څوک شهباز هم د کباب دپاره نیسی

نورے واړه تکئے وار په وار خورے شوے
د خوشحال ختک تکیه په یوهٔ خدائے ده

د ختک د ننګ جرګه نشته خوشحاله
راوتلی دی له کومو نسبونو

که دِ زهٔ دے چه م مینه د ونکارد شی
راشه ونیسه و مخ ته آئینه

سرد دِ درومی، مال دِ درومی، پت دِ ننهٔ ځی
د سړی د چارے کل خوبئ په پت دی

په بنادئ کښے دِ ئے شکر سړے کاندی
په غمونو کښے د صبر چار فرحت ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دروغ ترخولے اوباسی کله خولهٔ ده
چه ریښتیا ترخولے اوباسی خولهٔ هغه

چه له دوسته له دښمنه ښهٔ سلوک کا
دَهغوسړیو ښه زندګانی ده !

دَمنت دارو کهٔ مرم پکار م نهٔ دی
کهٔ علاج لره م راشی مسیحا هم

دَهغهٔ قدر لرم ترے به ځار یږم !!!
چه په غم کښے چاره جوئے دَبیچاره دے

طالبانځ دَجمال لکه حاجیان دی
چه کعبے لره ورځی په لارو لارو

هوښیارانو څخه د یرے اندیښنے دی
چه ملنګ دَمصلّے هغه انسان کهٔ

دَخانئ دَتورے کار نشته په عشق کښے
معشوقے وته مړئے اوسه خوشحاله

پښتنے جُونه م اولیدے په ستر کو
چه څوک تُرکے دَخطا ستائی خطا دی

زهٔ حیران یم په داخلقو نهٔ پوهیږم
تږی مری، ولاړ ترحلقه په دریا کښے

دا هم ظلم دے کهٔ کورے
چه بے مئیو ځی پسرلے

چه سړے له غمه خلاص کهٔ
هغه څهٔ دے قناعت دے

نفس وماته حق ناحق کا، ناحق حق کا
تل دَدهٔ ترفرمودہ پورے لاچار یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ چه ستا وبخ ته ګورم
زهٔ م نهٔ کیږی ګلزار ته
ونورچا وته وران مهٔ وایه خوشحاله چه په قول وعهد وران شوران هغه
چه ئ تهٔ په کیدهٔ اوخورے حبطه شی
د مجلس سره چه خورشی خوان هغه
کهٔ په اصل پښتنه د هندوستان ئ
دا د ظلم خوئ د زده کړو له مغلو
چرګ د خپل چرګ والے کا کهٔ ئ رضا ده
چه له بازه بازی کا، د دهٔ قضا ده
ځما اوښکے د توکل په جوش پیدا دی
لکه اورچه له کبابه نم اخراج کا
واړه زړونه فراغت وی خوشحالئ کښے چه په غم کښے مردانه شی زړهٔ هغه
چه په عشق سره ژوندی دی هغه نڼ مری
چه بے عشقه ژوندی ګرځی، مړهٔ هغه
ډیرے مینے آشنائی څهٔ پکار نهٔ دی
یوهٔ زړهٔ لره یوه آشنائی بس ده
عاشق یو لکه لیوهٔ په شمال پائی
بل په غټو ستر ګو خوب کا لکه سویه
له اړله ئ رند رند، زاهد زاهد کړو
زهٔ به ډکے پیالے اخلم تهٔ تسبیح کړه

د عالم ډیرے خبرے لور په لور تورے لښکرے
زهٔ م نهٔ خوږی له ځایه غرخوهسے وی کنه

نشته بانګ د مؤذن په درست تیراه
مګر واوړے بانګ د چرګ په سحر ګاه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په زړۀ ئے د وحدت دیوه شوه یله
تجلّی به ئے له مخه څې ، آفتاب شه

تورے تورے زلفے کبود خال لکه کوتره
راشه که ئے کورے پرے بندی یوځۀ شهباز دے

پُښتنے جونه دِ زلفے باد ته نیسی
چه شمال ئے بوئی راوړی په زښتهبور کښے

د تتوؤ نه همه تبوګی زیږی
که ایغرئے د عرب یا د عراق دے

چه د خلقو نیک خواهی لرے په زړۀ کښے
مبارک شه بادشاهی لرے په زړۀ کښے

غم ئے بے حکمته نه دے پیدا کړے
د نامرد د مرد په مینځ کښے غم محک دے

د خوشحال کلام شیرین دے تر نباتو
چه په خوندئے خبر نۀ دے ورته کروت دے

د راحت په وخت د یار تجربه نۀ شی
چه محنت درسره واخلی یار دِ دے

جنتی زلفے ئے پاس په سینه څانګی
یمانی بارخوئے ګل غوندِ نها شی

لکه باد کله ئے مخ کله ئے شا ده
بیهوده غرور د هرچا په دولت شی

که صورت وته دِ ګورم په صورت کښے یوحیوان ئے
که معنو وته دِ ګورم شهزاده د کل جهان ئے

ماخوشحال چه په پښتو شعر بیان کړو
د پښتو ژبه به اوس په آب وتاب شی

... ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که چرکان غوټه دار دی
بیا هم باز وته لاچار دی

آفرین دې وې ویلو شه خوشحاله
په بیا ډیر باندې عجب شعر رنګین وې

د خوشحال سره چه کښینی یو څو کاله
دا د غړۍ خټک به واړه شاعران شي

د خوشحال خان خټک اخلاقی او فلسفیانه شاعری

د خوشحال خان شاعری لکه څنګه چه مونږ وړاندې ذکر اوکړو د وطنیت سره د تصوّف ځے هم څۀ نه څۀ رنګ قبول کړے دے۔ او چونکه تصوف د فارسۍ د شاعرۍ یوجزو لاینفک ګرځیدلے دے، په دے وجه د پښتو په شاعرۍ چه د تصوّف رنګ د فارسۍ د شاعرۍ د اثر د لاندې اوخته۔ نو د خان سره ځے د تصوّف نورنو زما هر ډول په فارسۍ کښے د صوفیانه شاعرۍ د ترقی یولوے سبب دا ؤوچه د پښتو نه د تصوّف سره اخلاقی مسائل هم شامل شوی ؤو۔ چونکه د تصوّف او د اخلاقو خپلو کښے غرق اونۀ شلیدونکے تعلق دے۔ او اخلاق د تصوّف یوجزو ګرځیدے ؤو۔ احیاء العلوم د اخلاقو د فن دقیق اسرار عام کړی وو۔ او محقّق طوسی په اخلاقو ناصری کښے، د ارسطو فلسفیانه اخلاق په بنۀ شان ادا کړی ؤو، نو په دے سبب د فارسۍ په شاعرۍ کښے د اخلاقو کافی سرمایه جمع شوے وه۔ او د اخلاقو دا سرمایه د فارسۍ شاعرۍ د تصوّف په برخه کښے راغلی وه۔ نو په فارسی شاعرۍ کښے د تصوّف او د اخلاقو سره سره په شپږمه صدۍ کښے د فلسفے هم عام رواج اوشو۔ او په مذهبی ډله کښے هم د فلسفے کتابونه داسے مقبول شول چه په درسی نصاب کښے شامل شول۔ او نتیجه ځے داشوه چه د فارسۍ د شاعرانو په کلام کښے تصوّف، فلسفه او اخلاق درے واړه رائج شول چونکه د تصوّف او د اخلاقو ډیرے مسئلے، د فلسفیانه افکارو سره خلط ملط شی۔ لکه وجودِ باری، وحدتِ وجود، جبر و اختیار، حقیقتِ روح وغیره۔ له دے کبله په دے مسئلو کښے د فلسفے نه کار اخستل ضروری شول۔ نتیجه ځے داشوه چه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د اخلاقو او فلسفې په زور، د تصوّف لمنه نوره هم وسیع، دقیقه او عمیقه شوه۔

خوشحال خان خټک چونکه تصوّف په خپلې شاعرئ کښے، د فارسئ د شاعرئ د اثر لاندِ قبول کړے وُو۔ په دے وجه په فارسی شاعرئ کښے چه د تصوف کوم شکل وُو، هغه د خوشحال خان خټک پښتو شاعرئ کښے هم شامل شو۔ یعنی د تصوف سرهٔ اخلاق او فلسفه هم ر اغلل او عدل د تدبیر او رموزِ مملکت هم د هغهٔ د شاعرئ جزو اوګرځید ل۔ اګرچه عدل و تدبیر په حقیقت کښے د سیاست جزو دے۔ خو چونکه د سیاست د اخلاقو سره هم قوی رشته ده نو خوشحال خان رموزِ مملکت هم په خپلې اخلاقی شاعرئ کښے شامل کړل۔ او دغه شان د هغهٔ شاعرئ کښے د جامعیت او همه ګیرئ صفت نور هم زیات شو۔ خو داخبره موږ ته هیروول نهٔ دی پکار چه د خوشحال خان په شاعرئ کښے د فارسئ د شاعرئ مذکوره اجزاء په اصلی شکل کښے پاتے نهٔ شول۔ هغهٔ دا ټول علمونه د خپل پښتون طبیعت په زور د پښتو په رنګ کښے رنګ کړل او پښتانهٔ ئے کړل او د پښتنو د طبیعت او مزاج مطابق او موافق ئے اوګرځول۔ او دغه شان د هغهٔ اخلاقی او فلسفیانه شاعرئ د پښتون د تکمیلِ اخلاق دپاره ډیره مفید ه شوه ځکه چه دا د پښتون د استعدادی تربیت او طبیعت او مزاج موافقه ده۔ او د عجمی تصوف په نسبت اسلامی تصوف ته نزدے ده۔

مړانه، پت۔ ننګ، همّت، جدوجهد، سخت کوشی، اُمید، عملِ پیهم، مسلسل کوشش او د باز شهباز او د شاهین عادات او خوئ بوئ، د هغهٔ د اخلاقی او فلسفیانه شاعرئ اجزاء دی۔ د دے نه علاوه عدل، حکمت، احسان، اخلاص، عشق، قناعت، تواضع، سخاوت، میلمستیا، شکر، توبه، مناجات، حمد و ثناء، همدردی، قول او عهد، حسنِ سلوک، عفوه، خود اعتمادی، توکّل، حق ګوئی او بیباکی، عزم، صبر او شکر، محنت او ریښتیا وغیره، د هغهٔ د اخلاقی شاعرئ سرمایه ده۔ چه دا ټول اسلامی صفات او اسلامی اخلاق دی۔

خوشحال خان خټک دا مضامین، په ساده خوئ شاعرانه طرز کښے نظم کړی دی۔ که له دے قسمه اخلاقی مضامین په ادبی او شاعرانه طرز کښے ادا نهٔ شی نو محض خشکه فلسفه یا د واعظ خُطبه پاتے شی۔ خوشحال خان خټک لکه څنګه چه د یو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لوئے عظیم شاعر نه اُمید کیدے شی، داخشک مضامین په دلچسپه ادبی اوشاعرانه طرز کښے اوتړل، چه په لوستونکی دَ آوریدلو سره اثر کوی۔ دلته دَ خوشحال خان خټک دَ اخلاقی شاعرئ دَ نمونے ورکولو ضرورت نۀ کنړم۔ ځکه چه دَ مضمون په دوران کښے ځائے په ځائے دَ هغۀ دَ اخلاقی شاعرئ ډیرے نمونے راغلی دی۔

خوشحال خان دَ فطرت شاعر

خوشحال خان خټک په فطرت نګاریٔ کښے هم یواُوچت مقام لری۔ خوشحال خان دَ حسن بنده وُو۔ په حُسن مئین وُو۔ ځکه دا حُسن دَ بنیادم په مخ کښے وُو، یا دَ فطرت په مخکښے، دَ خوشحال خان دَ حسن بین نظر نه۔ هیڅ نۀ شوتلے۔ هغۀ دَ خپلے حسن پرستئ ترجمانی په یو شعر کښے داسے کوی ؎

دَ بنکلیو دَ جمال په نندارہ کښے م خدائے بیاموند
لږ نۀ دی له مجازه، حقیقت ته رسید لی

خوشحال خان خټک هغه سرسبزه شاداب، ګلګون اوحسین دماغ اوحسن بینے ستړے لرلے، چه صرف یواوچت شاعر ته پیدائشی بخښش اوعطیه ورکیدے شی۔

حسن دَ کائنات په رګ اوریشه کښے چارچاپیره منتشر پروت دے۔ دَ خوشحال خان خټک په شان دَ اُوچت شاعر حسن بینے ستړے لکه دَ مقناطیس، دَ منتشر حسن ذرّات راټولوی۔ جمع کوی ئے۔ اودَ نظم په شکل کښے یوحسین ترتیب ورکوی۔

زمونږ۔ چارچاپیره یو بنکلے کائنات پروت دے، غرونه، ځنګلونه، سیندونه، شین آسمان او په شین آسمان کښے نمر سپوږمئ، اودَ ستورو محفلونه ټول بنائسته دی۔ شنۀ چمنونه، رواں رودونه، ګلزارونه، مرغزارونه خومره دلکش بنائست لری۔ رنګ رنګ مارغان اودَ مارغانو بنکلے نغمے اوآوازونه، په قسم قسم اونے۔ په سل قسمه رنګین ګلونه واړه حسین دی۔ دَ موسمونو تبدیلئ اودَ هر موسم ځان ځان نه خوښ اوبنائست، په آسمان کښے مستے وریځے اودَ دے وریځو نه دَ خوندبارانونه، په غرونو سپینے پیغلے واوړے، په چمنونو اوګلزارونو کښے خرامان، خرامان نسیم۔ داټولے داسے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړهٔ راکښونکے ننداړے دی چه د شاعر حقیقت بین او حسن بین دماغ ورکښے د ښائست یو جهان وینی۔ شاعر د ماحول د بے زبانه، خاموش خو حسین نیچر، د پوشیده رازونو، د طلسمی ژبے نه واقف وی۔ او هغه د قدرت عجیبه نوشت ټکی ولاړ ولے شی۔ شاعر د کائنات د حقیقت غوښتنۍ مزکه په خپل تیز عقابی نظر شلولے شی۔ او د قدرت د حسین څرونډ کرمه او بنکلے تماشه بے نقابه او بے حجابه لیدے شی۔

د قدرت د عناصرو رنګین مناظر هر وخت د یوے کرے سینما په شان په رنګ رنګ او په قسم قسم بنکلے ننداړے سازوی۔ خو هغه بنیادم ته په خوند پوهیږی چه لکه د شاعر غوندِ حسن بین وی۔ او ژور نظرۍ لګی۔

خوشحال خان خټک شاعر ؤو۔ او یولوئے شاعر ؤو۔ او حُسن بین شاعر ؤو۔ د هغهٔ کلیات کښے د فطرت نګاړۍ داسے بنکلے نمونے شته دے چه سړے ئے په جرأت سره د انګریزۍ ژبے د فطرت نګار شاعرانو ورځ ورتهٔ د اشعارو په مقابله کښے پیش کولے شی۔

د خوشحال خان خټک د فطرت نګاړۍ د شاعرۍ نمونه په دے لاندینو دوو نظمونو کښے اوګورئ۔ یو نظم په "پسرلی" دے او بل په "منی" یا خزان۔

پسرلے

چه موسم مې د ګلونو د ګلزار شی! نرم نرم ترشح په مرغزار شی!
د هغهٔ له بخته څوک برابری که چه په هسے وخت ئے سیر په ګلزار شی

..... الخ

خزان

چه تحویل شی د میزان توغ څرګند کا زمستان
توغ ئے څهٔ د سهیل ستورے چه بنکاره شی په آسمان
د غارمهٔ په رنځ رنځور وی بیا تندرست شی د اجهان

..... الخ

قندِ فارسی

د خوشحال خان خټک د کلیات یوه برخه د فارسۍ د شاعرۍ ده۔ هغه خپله وائی چه په فارسۍ کښے خما نه بهتر او غوره شاعران موندے شی۔ خو په پښتو کښے خما سیال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نشته - د هغهٔ د فارسۍ د کلام نه معلومیږی چه د هغهٔ په زمانه کښے ،چه کوم قسم فارسی د مغلو په هندی دربار کښے رائجه وه په دغه فارسۍ خوشحال خان خټک په بنهٔ شان خاوی وُو. خود هغهٔ د فارسۍ د کلام مقابله کهٔ مونږ د هغهٔ د پښتو کلام سره اوکړو نو مونږ ته به داحقیقت په بنهٔ شان واضحه شی چه کوم خلق چه شاعری د مورنۍ ژبے نه په بله ژبه کښے کوی، هغوئ بیشکه چه غلطی کوی. د شاعر شاعری صرف په مورنۍ ژبه کښے کمال ته رسیدے شی. ځکه چه شاعرئ کښے لکه د خیال په شان ژبے ته هم ډیر وقعت حاصل دے. او شاعر چه پردئ ژبه د خپل خیال د اظهار د پاره استعمالوی، نو بعینه د هغے دامثال دے، لکه سړے چه خپل خوښ اونیازبین څوئے عمدا میرے مورته په دے خیال حواله کړی چه دا به ئے لکه د خپلے مور په مینه او محبت ساتی. او دغه شان ځان ته خپله دهوکه ورکړی. نو د شاعرانه او ادبی اظهار د پاره، پردئ ژبه هم، شاعر هیڅرے په هغه قادر الکلامئ اوشیرینئ سره نهٔ شی استعمالولے لکه چه خټکه د خپلے ژبے استعمال کولے شی.

بنه ده چه خوشحال خان خټک فارسی صرف د ژبے د ذائقے بدلولو د پاره استعمال کړے ده اوځهٔ لږ غزلونه او نظمونه ئے په فارسۍ کښے وئیلی دی. او د خپلے اصلی او اُوچتے شاعرئ د پاره ئے مورنۍ ژبه پښتو استعمال کړے ده. کهٔ خدائے مکړه هغهٔ د خپلے شاعرئ د پاره د پښتو په ځائے فارسی ژبه کړے وے نو ډیره لویه غلطی به ئے کړے وه. او د هغهٔ د شاعرئ حیثیت به د شهباز په ځائے د یو تیس پاتے شوے وے. او دا دُر اوګوهر به سنګریزے جوړے شوے وے.

مونږ د هغهٔ د فارسۍ کلام د دے جوګه نهٔ ګڼړو چه په تفخر سره ئے لوستونکو ته پیش کړو. په خپل ځائے بنهٔ دے، خود فارسۍ د اُستاذانو شاعرانو په مقابله کښے ځهٔ خاص حیثیت نهٔ لری.

د خوشحال خان خټک د شاعرئ فکر و فن

د خوشحال خان خټک د شاعرئ په فکر و فن مونږ په دے طویل مضمون کښے ځئے په ځائے بحث کړے دے. دلته صرف په اختصار سره په دے موضوع ځهٔ لیکل مناسب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وی۔ د تفصیل ضرورت نشته۔

د خوشحال خان خټک د فکر سنګ بنیاد د ننګ او ننګیال فلسفه ده۔ د ننګ او ننګیال وضاحت مونږ په تفصیل سره کړے دے۔ ننګ د نمونه یا مثالی پښتون د اخلاقی او غیرتی ژوند ردہ ده۔ او ننګیال هغه نمونه یا مثالی پښتون ته وائی چه د هغهٔ په اوچت اخلاقی ژوند د ننګ جذبه حاوی وی۔ یا ننګ د هغهٔ د اخلاقی ژوند محور او مرکز وی۔ د ننګیال په خودئ کښے د پښتون د پښتو، سفلی خودی یا د جهل او ناجائز ضد نه وتی عادتونه او خویونه، نهٔ دی شامل۔ د هغهٔ خودی، صرف د پښتون د ارفع خودئ، یا اوچت اسلامی اخلاقی ژوند مظهر دے۔ یعنی ننګیال یو نمونه یا مثالی شریف پښتون مسلمان ته وائی۔ او د اخلاقی اقدارو یو داسے مثالی انسان دے چه په حیثیت مجموعی په مقابله د نورو اخلاقی صفتونو د هغهٔ په شخصیت، ننګ، مړانه، همت او شجاعت نړیات حاوی وی۔

خوشحال خان خټک په خپلو اشعارو کښے د یو داسے مثالی پښتون بیا بیا ذکر کوی او د هغهٔ صفتونه او ننګ په رنګ رنګ ستائی۔ یو داسے انسان د هغهٔ د وطنی، اخلاقی او فلسفیانه شاعرئ ماحصل دے او هغه په خپل ځان کښے او په خپل شخصیت کښے د پښتون د ننګیال د تصوّر یو خړشان تصویر وینی۔ په دے وجه هغه خپل ځان د خپلے زمانے د نورو پښتونه غوره او وړ یات قابلِ عزت ګڼړی۔ له دے قسمه تعالی او تفخّر د هغهٔ د شاعرئ یوه امتیازی نخښه ده۔ اوس به د خوشحال خان خټک د شاعرئ په فن یو لنډ شان بحث اوکړو۔ د هغهٔ د کلّیات نه ظاهره ده چه هغهٔ د پښتو د عوامی شاعرئ مقبول اوزانج فن ته هیڅ وقعت نهٔ دے ورکړے۔ یعنی هغهٔ ټپے، لوبے، ټکئ، نیمکئ، چاربیتے او بدلے وغیره نهٔ دی وئیلی۔ د هغهٔ د شاعرئ د فن تنسته بُوده د فارسئ د شاعرئ ده۔ شاید د دے وجه داوی چه د هغهٔ په زمانه کښے د فارسئ شاعری نمونه شاعری وه۔ او د فارسئ په طرز کښے شاعری کول د عزت خیز ؤو۔ او لویو او شریفو خلقو د خپلے شاعرئ دپاره د فارسئ د شاعرئ طرز او طور طریقے خوښے کړے وے۔ او د هغے په مقابله کښے د پښتو د عوامی شاعرئ فن او طرز سپک ؤو۔ دا صرف د عامیانه او ناخواندہ کلی والو شاعرانو دپاره مخصوص ؤو۔ چه پښتانهٔ ورته اخونان وائی۔ او په سپک نظر ورته ګوری۔

خوشحال خان خټک د خپلے شاعرئ د فن متعلق په یوه لویه قصیده کښے په تفصیل سره بحث کړے دے۔ هغه وائی چه څمانه د راندے د پښتو شاعری بے خونده وه۔ نهٔ پکښے وزن ؤو، نهٔ بحر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ډو او دعوی لری چه په پښتو شاعرئ کښے صرف هغه ډزې په نظر اوپه ډیر تلاش او محنت یوځو بحرونه راپیدا کړل او پښتو شاعری ئے په اوزانو برابره کړه - د متقدمینو متعلق وائی چه د هغوئ په شاعرئ کښے هم میزان نه ډوا وے وزنه وه - خوشحال خان خټک وائی چه دا خوزه یم چه په پښتو کښے بے مثاله قصیدے لیکم - د دلبرو د زلف وخال، ستړکو او سروخو په تعریفونو کښے غزلونه وایم - اوځما رباعیات، قطعات او مثنویانے همه ډر اوګوهردی - او بیا وائی چه په پښتو کښے ما د شاعرئ اهتمام اوکړو - کنی د پښتو شاعری ځانه وړاندے جامده وه - او د هیڅا سیاله نه وه - د وزن، تقطیع، او عروض نه بے خبره وه - په غزل کښے ئے نه مقطع، نه مطلع، نه صنعت. نه تشبیه، نه مثال، نه استعاره خوچه الله پاک ته د پښتو د شاعرئ د ترقئ او آبیارئ خیال راغلو نوزه ئے شاعر کړم - اوس ځانه سره وستوچه په پښتو کښے څوک شاعری کوی. نو هغه به ځانه په شعر وشاعرئ کښے ښه وی.

خوشحال خان خټک شاعری د مدحو وئیلو ذریعه نه ګڼری - هغه په هغوشاعرانو ډیر بدوائی چه دانعام او اکرام په لالچ د بادشاهانو او امیرانو په دربار کښے حاضریږی. او د هغوئ مدحیه قصیدے وائی.

خوشحال خان خټک ورپسے زیاته کړے ده چه شاعری د هرفاسق او فاجر کار نه دے. او نه دا د هرا وږ ستړکی کنګال او قلاش د وس خبره ده - شعر کوئ خو یا د سالک کار دے، یا د مالک او یا د دیو درد مند عاشق کار دے. او یا د ابدال - هغه وائی چه د هغه شاعر په ژبه پولئ او خیژه چه د شاعرئ د ډر اوګوهر د دنیا د مال اوزر په خاطر پیری او پلوری. او بیا وائی چه شاعری خو یا د بادشاهانو کار دے، یا د هزل ګویانو - د شاعرئ عیبونه خو نور یات دی - خو فن شاعری اقبال مند ده - د شعر په ذریعه د حسن، بادشاه او د کمال، یاد پاتے کیدے شی - د شاعرئ په ذریعه په دانایئ، علم او حکمت کښے اضافه کیږی خو په شرط د دے چه د شعر استعمال په ځائے وی - چه د شعر تنسته بوده صحیح وی - نو بیا د شعر نه کله اطلس جوړشی کله شال - او بیا وائی چه شاعر د نورو خلقو نه مختلف قلبی کیفیت لری - هغه هروخت د افکارو په تخلیق کښے مشغول وی.

د شعر وشاعرئ متعلق، د خوشحال خان خټک پورتنی افکار، په هغه قصیدے کښے دی چه سرئ دا دے :-

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ د شعر په کال هیڅ نهٔ یم خوشحال
ولے خدائے م کړهٔ په غاړه دا مقال

په قصیده کښے هغه خپله اقرار کوی چه د هغهٔ د شاعرئ تیکنیک او فن د فارسئ نقل دے اود شعرو شاعرئ دپاړهٔ حد ونه هم مقرر کړی دی یعنی داچه د شعر استعمال څنګه کول پکار دی؟ په کومو مضامینو قلم استعمالول بنهٔ دی او په کومو بد ؟

حقیقت دا دے چه خوشحال خان خټک د فارسئ د شاعرئ تیکنیک اخستے دے . خو دا تیکنیک ئے خپل کړے دے . اود پښتو ژبے مزاج او استعداد ته ئے برابر کړے دے . خو نقل کښے ئے داسے ساه اوداسے ژوند پیدا کړے دے چه د اصل نه سړی ته زیات مرغوب اوښکلے بنکاری ـ

داخهٔ شعر نهٔ دے چه خوشحال خټک بیان کړو
واړه لعل ودُر دی، د بیان په تار پیټلی

میاں سید رسول رسا
نمبر ۲۰ - ریس کورس کارډنز
پشاور کینټ

نوټ:- د دے مقالے په لیکلو کښے علاوه د نورو پیرو کتابونو، چه په خوشحال خان او د هغهٔ په شاعرئ لیکلے شوی دی، ما د دے لاندے کتابونه پیرامداد اخستے دے :-

۱- پښتانهٔ ("دی پتھانز") - مصنف : سر اولف کیرو
۲- د خوشحال خان نظمونه - مصنفین : هاول او کیرو
۳- تاریخ مرصّع مصنف : افضل خان خټک
۴- د پښتو کرائمر مصنف : راورټی
۵- د خوشحال خان د نظمونو ترجمه مصنف : بیډلف
۶- د افغانانو د نولسمے صدئ شاعری - مصنف : راورټی
۷- خوشحال او اقبال مصنف : میر عبد الصمد خان
۸- خوشحال خان خټک مصنف : دوست محمد خان کامل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د عنوانا تو

فهرست

اول توک

قصیدے

۱- پاک الله ته ۱
۲- د رسولِ پاکؐ په صفت کښے ۲
۳- د رسولِ پاکؐ په صفت کښے ۳
۴- په تعریف کښے د خپل شعر ۴
۵- شعرحیض الرّجال دے ۵
۶- شعرحیض الرّجال دے ۶
۷- د ډوډے جنګ ۱۲
۸- د پښتون نه ګِله او د مغل سره پتنه ۱۳
۹- په خیبر کښے د مغل شکست ۱۷
۱۰- د اورنګ زیب نه فریاد ۱۹
۱۱- د اورنګ زیب نه شکایت او د خپلے مړانے ستائنه ۲۰
۱۲- د مغل په بند کښے د ارمانی زړهٔ فریاد ۲۳
۱۳- مغل د پاره خدمتونه او د مغل په خوشحال ظلمونه ۲۶
۱۴- په قندهار جنګ او نتیجه ئے قحط سالی او نحوست ۲۷
۱۵- د فلک ستمونه او د پښتون د بے وفایئ نه فریادونه ۲۹
۱۶- مشران او ځان ستائیل او خیلخانے نه فریاد ۳۰
۱۷- د خپلے مړانے ستائینه او ځان ته داډ کیرنه ۳۰

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱۸- دَخپلوځامنونه فریاد	۳۸
۱۹- دَخپل ناخلف ځوئ بهرام نه سرتکول	۴۱
۲۰- دَخپلوځامنونه بیزاری	۴۲
۲۱- بهرام ته	۴۳
۲۲- دَدُنیا حال	۴۵
۲۳- دانا او نادان	۵۰
۲۴- دَغواص دَ کال وبا	۵۰
۲۵- دَدُنیا بے وفائی	۵۲
۲۶- په خوئ بوئ دَ اصل اودَکم اصل	۵۳
۲۷- په تعریف دَ شرعے شریفے	۵۴
۲۸- پند و نصائح	۵۵
۲۹- دَحکمت اودَصحت خبرے	۵۶
۳۰- دَ بوس وکنار رموز اواسرار	۵۹
۳۱- صرف اصیله بښځه اصیل اولاد راوړی	۶۰
۳۲- دَ نظام په وفات	۶۱
۳۳- دَدُنیا بے ثباتی او بے وفائی	۶۲
۳۴- دَخپلے عقیدے، مشرانو اومیرانے په باب کښے	۶۴
۳۵- خپل حال	۶۷
۳۶- دَ شپے اودَ ورځے مباحثه	۶۸
۳۷- دَخپلوکناهونو نه توبه کار اودَخپلے عقیدے اقرار	۷۰
۳۸- دَ بهارنندارې اودَ خپلے خود دارئ اظهار	۷۱
۳۹- ژمی ته هرکلے	۷۲
۴۰- دَاُستاذ دَخولے پند ونه	۷۴
۴۱- دَ دهلی دَ بنار مختصر تاریخ او بیان	۷۶
۴۲- لنډئ بازنامه	۷۸

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۴۳- پاکه ربه تاته سوال دے ۱۰

۴۴- په دُنیا پورے نړۀ مهٔ تړه ۱۱

۴۵- خپل یار ته ۱۳

۴۶- نصیحت ۱۴

۴۷- خورے ورے ملغلرے ۱۶

۴۸- دَکوک شاستر یوباب ۱۸

۴۹- دَ بهار منظرونه ۲۰

۵۰- دَهجران نا اُمیدئ کښے ۲۳

۵۱- دَمعشوقے په صفت کښے ۲۴

۵۲- دَروغ صورت ستائنه اوپه هند کښے دَخپل قید حال ۲۵

۵۳- لعل او دُر په تار پیئلی ۲۶

۵۴- دَمملکت او دَمعاشرے رموز ۲۷

۵۵- دَشهاد وصال ارمان ۱۰۰

۵۶- دَدیرشو بیتونو بازنامه ۱۰۱

۵۷- دَکاسیرئ په بارہ کښے ۱۰۲

۵۸- لارے دی بے شمارۀ هردیار لرہ وردرُومی ۱۰۴

۵۹- لیونے خو یو خوشحال دے۔ ۱۰۵

دویم توک،

رُباعیانے ۱۰۷

دریم توک،

غزلے ۳۰۹

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څلورم توک

قطعات اومتفرقات

	۶۷۳
۱- مسدس	۷۵۶
۲- ترکیب بند	۷۵۷
۳- ترجیع بند	۷۵۹
۴- مخمس	۷۶۱
۵- ترکیب بند ذوالقافیتین	۷۶۳
۶- مربع	۷۷۲
۷- معشر	۷۷۳
۸- مسدّس	۷۷۴
۹- مخمس	۷۷۶
۱۰- مربع	۷۷۹
۱۱- قطعات	۷۸۰
۱۲- مثنوی	۷۸۱

پنځم توک

فارسی کلام

۷۸۵

شپږم توک

فضل نامه

۸۰۱

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱- صفت د پاک رسول ﷺ	۸۰۳
۲- بیان د چار یارؓ	۸۰۴
۳- ذکر اسامی د امامانو	۸۰۵
۴- ذکر تالیف د کتاب	۸۰۵
۵- باب د معرفت د پیغمبرانو	۸۰۶
۶- فصل- ذکر د معرفت	۸۰۶
۷- فصل- ایمان راوړنه په حشر	۸۰۶
۸- باب- خلق درے ګروه پیدا دے	۸۰۷
۹- فصل- ذکر د پُلِ صراط د ګذر	۸۰۸
۱۰- فصل- د بعثت یعنی پس د مرګه ژوندون	۸۱۰
۱۱- فصل- د دوزخ او د دوزخیانو	۸۱۰
۱۲- فصل- تعریف د جنتونو د جنت د نعمتونو	۸۱۱
۱۳- دریم باب- ذکر عبادت و معرفت چه سړه لازم و ملزوم دی-	۸۱۳
۱۴- فصل- د اهلِ کبائرو او کبیره ګناهونه چه څو دی	۸۱۳
۱۵- فصل- ذکر د خیر او د شر	۸۱۵
۱۶- فصل- ذکر د ګناه او په ګناه باندِ توبه	۸۱۶
۱۷- تعریف د اخلاص د طاعت نه د ریا د عبادت	۸۱۷
۱۸- فصل- صفت د علم او د علم د فضیلت	۸۱۷
۱۹- فصل- اثبات د نبوّت	۸۱۹
۲۰- فصل- فضائل د رسول ﷺ د اصحابو او خلاف په مراتبو د دوئ	۸۲۰
۲۱- فصل- تعریف د امام اعظمؒ او د هغۀ د مذهب	۸۲۱
۲۲- څلورم باب- ذکر د طهارت او د فرض واجب او سنت	۸۲۲
۲۳- فصل- ذکر علامت د بلاغت	۸۲۳
۲۴- فصل- د فرض د واجب د سنت د ادبونو	۸۲۴
۲۵- فصل- ادب د خلاچه چارچوبۀ یا صحرا لره تلۀ کا	۸۲۴

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۲۶- پنځم باب - ذکر د وضو د هره کاره	۸۲۶
۲۷- فصل - فرائض د وضو	۸۲۷
۲۸- فصل - ذکر د وضو د سنتونو	۸۲۷
۲۹- فصل - د اودس د مکروهات	۸۲۷
۳۰- فصل - د وضو د دعوات	۸۲۷
۳۱- فصل - د اتومسئلو د وضو د نمانځه په کار	۸۳۰
۳۲- فصل - ذکر د تیمم	۸۳۱
۳۳- فصل - په موزه مسح کول	۸۳۲
۳۴- فصل - لس څیزه سنت د ابراهیم ؑ پیغمبر	۸۳۲
۳۵- فصل - ذکر د نارینه د عورتنی د ادبو	۸۳۳
۳۶- فصل - د غسل په څو نوعه	۸۳۳
۳۷- فصل - صفت د غسل	۸۳۴
۳۸- فصل - ذکر د څلورو پاکیو	۸۳۷
۳۹- شپږم باب - ذکر د مانځه د دهر باب	۸۴۰
۴۰- فصل - د نمانځه د نیت	۸۴۱
۴۱- فصل - د نمانځه د فرضو	۸۴۲
۴۲- فصل - د نمانځه د واجباتو	۸۴۲
۴۳- فصل - د نمانځه د سنتونو	۸۴۳
۴۴- فصل - د نمانځه د ادبونو	۸۴۴
۴۵- فصل - د نمانځه د مکروهات	۸۴۴
۴۶- فصل - فرق د مردانو د زنانو	۸۴۵
۴۷- فصل - د هغه فعل چه خلل د نمانځه لری	۸۴۶
۴۸- فصل - د نمانځه د پاره شناخت د قبلې	۸۴۷
۴۹- فصل - ذکر د سجده سهوه	۸۴۸
۵۰- فصل - ذکر د نمانځه د موافقت یعنی ختونه	۸۴۸

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۵۱- فصل ۸۳۹

۵۲- فصل- په دادرے وخته چه نمونځ پکښے سوانډ دے ۸۳۹

۵۳- فصل- درے وخته چه نفل نمونځ نه کیږی ۸۳۹

۵۴- فصل- ذکر د اذان د اقامت ۸۵۰

۵۵- فصل- ذکر د امام چه حق اوی ۸۵۰

۵۶- فصل- ذکر د نمانځه د قرأت ۸۵۱

۵۷- فصل- ذکر د قضا نمونځونو ۸۵۲

۵۸- فصل- چه په نمانځه کښے اودس ماتیږی ۸۵۳

۵۹- فصل- د بیمار د نمانځه ۸۵۴

۶۰- فصل- د سجدهٔ تلاوت ۸۵۴

۶۱- فصل- د جُمع د نمانځه ۸۵۴

۶۲- فصل- د عید د نمانځه ۸۵۵

۶۳- فصل- ذکر د کسوف وخسوف د نمانځه ۸۵۸

۶۴- فصل- د استسقاء د نمانځه ۸۵۶

۶۵- فصل- د تراویح د نمانځه ۸۵۷

۶۶- فصل- د نفل د نمانځه ۸۵۷

۶۷- فصل- ذکر د نفل د نمونځونو ۸۵۸

۶۸- فصل- د نفل نمانځه وختونه ۸۵۹

۶۹- فصل- د شپے د نمونځونو فضیلت ۸۶۹

۷۰- فصل- ثواب د نمانځه چه بنهٔ ئے ادا کا ۸۶۰

۷۱- فصل- عذاب عقوبت د تارک نماز ۸۶۰

۷۲- فصل- ثواب د جماعت اود تکبیر اولی ۸۶۰

۷۳- فصل- عذاب عقوبت د تنها گذار ۸۶۰

۷۴- فصل- اُوم باب- ذکر د زکوٰة د عشر د هر باب ۸۶۳

۷۵- فصل- شرطونه د زکوٰة

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۷۶- فصل د زکوٰۃ ۸۶۳

۷۷- فصل- ذکر د زکوٰۃ ۸۶۳

۷۸- فصل- زکوٰۃ د اوښانو ۸۶۵

۷۹- فصل- زکوٰۃ د غواؤ ۸۶۶

۸۰- فصل- زکوٰۃ د پسونو د بزو ۸۶۶

۸۱- فصل- عُشر د خراج ۸۶۷

۸۲- فصل- ذکر د هغوچه د زکوٰۃ مستحق دی ۸۶۹

۸۳- فصل- ذکر د هغو د ثواب چه زکوٰۃ ښه اوباسی ۸۷۰

۸۴- فصل- ذکر د هغو د عذاب چه زکوٰۃ نه ورکوی ۸۷۰

۸۵- اتم باب- ذکر د روژه د هغه بابه ۸۷۱

۸۶- فصل- روژه د کفارت ۸۷۲

۸۷- فصل- ذکر د هغوچه خوراک پرے رغیږی ۸۷۳

۸۸- فصل- چه د روژو د کفارت غاړه خلاصیږی ۸۷۴

۸۹- فصل- ذکر د نذر د روژے د نیت ۸۷۴

۹۰- فصل- ۸۷۴

۹۱- فصل د روژے د ثواب ۸۷۵

۹۲- فصل- د روژے د اعتکاف ۸۷۶

۹۳- فصل- د عید فطر سرسایه وغیره ۸۷۶

۹۴- فصل- ذکر د مال چه حج پرے فرض کیږی ۸۷۷

۹۵- فصل- د عید د قربانئ ۸۷۸

۹۶- فصل- ذکر د کشتار یعنی د مذبوح ۸۷۹

۹۷- فصل- ذکر د بنکار د جواز ۸۸۰

۹۸- نهم باب- ذکر د جهاد وغزا ثواب د غازیانو وشهیدانو ۸۸۱

۹۹- فصل- ذکر د شهیدانو چه دوه رنګه وی ۸۸۲

۱۰۰- فصل- ذکر د مُرده د غُسل. ۸۸۳

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱۰۱- فصل- دَجنازے دَ نمانځه ثواب	۸۸۳
۱۰۲- فصل	۸۸۵
۱۰۳- فصل- ثواب دَصبر په مصیبت کښے	۸۸۶
۱۰۴- فصل- عذاب چه په مرده پسے جزع فزع کوی	۸۸۷
۱۰۵- فصل- عذاب دَهغه ښځو چه په مرده باندِ ویرکوی	۸۸۸
۱۰۶- فصل- دَکفر دَکلمات	۸۸۸
۱۰۷- کلمات دَ کفر دَ زور دَمخه نور مکروه کارونه	
۱۰۸- لسم باب- ذکر دَ کفارتونو په څو نوعه	۸۹۴
۱۰۹- فصل- کفارت دَ ایلاء	۸۹۵
۱۱۰- یوولسم باب- ذکر دَ نکاح دَ استبراء	۸۹۶
۱۱۱- فصل- ذکر دَ نکاح دَ ایجاب قبول وغیره	۸۹۷
۱۱۲- فصل- دَ محارمو چه نکاح ئے نه رغیږی	۹۰۰
۱۱۳- فصل- دایه چه په پیو محارمے دی	۹۰۱
۱۱۴- فصل- ذکر دَ طلاق	۹۰۳
۱۱۵- فصل- ذکر دَ طلاق دَ نکاح	۹۰۶
۱۱۶- فصل- دَ طلاق دَ حلالے	۹۰۷
۱۱۷- فصل- لقطه چه څوک بیامومی	۹۰۷
۱۱۸- فصل- ذکر دَ بیع وشراء	۹۰۸
۱۱۹- فصل- دَ حلال- دَ حرام- دَ بیع	۹۰۹
۱۲۰- فصل- دَ ګواهی دَ شاهدی	۹۱۰
۱۲۱- فصل- ذکر دَ ایمان دَ شپږ وحصارونو	۹۱۰
۱۲۲- فصل- ادب دَ طعام دَ خوراک	۹۱۱
۱۲۳- فصل- ادب دَ اوبو دَ څښلو	۹۱۲
۱۲۴- فصل- دَ خلال	۹۱۳
۱۲۵- فصل- دَ مهمان دَ ادبونو	۹۱۳

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱۲۶- فصل د مهمانی د ثواب	۹۱۵
۱۲۷- فصل- آداب له کوره واتهٔ په چرته تلهٔ	۹۱۷
۱۲۸- فصل- آداب د نماستی	۹۱۸
۱۲۹- فصل- جواب د ونژی د عطسی	۹۱۹
۱۳۰- فصل- ادب د سلام	۹۲۰
۱۳۱- فصل- وجوب د کسب	۹۲۱
۱۳۲- فصل- مذکور د صحبت د ادبونو	۹۲۳
۱۳۳- فصل- آداب د عورتے د میرهٔ د زیست روزگار کښے	۹۲۴
۱۳۴- فصل- تعریف د عورتینے	۹۲۵
۱۳۵- فصل- تعریف د حمام	۹۲۸
۱۳۶- فصل- ذکر د ادویات	۹۲۹
۱۳۷- فصل- د ستړکو د دارو	۹۳۰
۱۳۸- ایضاً	۹۳۱
۱۳۹- ایضاً	۹۳۱
۱۴۰- دارو د ستړکو د کدورت	۹۳۱
۱۴۱- فصل- دارو د ستړکو د نزول چه آب مروارید ئے بولی	۹۳۲
۱۴۲- فصل- دارو د نزول یعنی آب مروارید	۹۳۲
۱۴۳- دارو د یرقات	۹۳۳
۱۴۴- علاج د پشک	۹۳۳
۱۴۵- دارو د کنده دانے	۹۳۳
۱۴۶- دارو د توخی	۹۳۴
۱۴۷- ایضاً	۹۳۴
۱۴۸- نورهم	۹۳۴
۱۴۹- دارو د استسقاء	۹۳۴
۱۵۰- دارو د نهٔ چرولو	۹۳۵

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ک

۱۵۱- بل رنګ	۹۳۵
۱۵۲- دارو د قوتِ باه	۹۳۶
۱۵۳- دارو د قوتِ باه مباشرت	۹۳۶
۱۵۴- دا هم د قوتِ باه دارو دی	۹۳۶
۱۵۵- معجونِ نبیؐ	۹۳۷
۱۵۶- علاج د مرد بسته	۹۳۷
۱۵۷- دارو د بواسیر	۹۳۸
۱۵۸- دارو د نفس د خلط د هر خلط واشتها او د یرو ل د رنګ بنهٔ کیدل	۹۳۸
۱۵۹- د نفس خوبی دارو	۹۳۹
۱۶۰- ایضًا	۹۳۹
۱۶۱- دارو دیګر	۹۳۹
۱۶۲- فائده	۹۴۰
۱۶۳- جلاب	۹۴۰
۱۶۴- دارو د جاوئی د تبے	۹۴۰
۱۶۵- دا دارو هم مسهل دی یعنی جلاب	۹۴۰
۱۶۶- د وجود د باد دارو	۹۴۱
۱۶۷- دارو د بادلقوه	۹۴۲
۱۶۸- دارو د باد لقوه	۹۴۲
۱۶۹- دارو د خفته باد	۹۴۲
۱۷۰- فائده د سپیلنو	۹۴۲
۱۷۱- دارو د بول بسته	۹۴۲
۱۷۲- دارو د سنګ مثانے	۹۴۳
۱۷۳- دارو د پرمیو د زحمت	۹۴۳
۱۷۴- ایضًا	۹۴۳
۱۷۵- دارو	۹۴۳

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱۷۶- علاج د دردِ سر ۹۴۳

۱۷۷- فصل- فائدہ د وینے وہنکلو ۹۴۴

۱۷۸- فصل- ذکر د عورت د حمل ۹۴۵

۱۷۹- فصل- حق د خدائے پاک په بنده ۹۴۶

۱۸۰- فصل- حق د خویش و اقربا ۹۴۷

۱۸۱- فصل- حق د یتیمانو ۹۴۸

۱۸۲- فصل- حق د درویشانو ۹۴۸

۱۸۳- فصل- حق د همسایه کانو ۹۴۹

۱۸۴- فصل- حق د مرد په عورت ۹۴۹

۱۸۵- فصل- حق د عورتے په خپل میړه ۹۵۲

۱۸۶- فصل- حق د بندګانو په خپل څښتن ۹۵۳

۱۸۷- فصل- حق د شاګرد په اُستاذ باندِ ۹۵۴

۱۸۸- فصل- حق د پیر اُستاذ په مرید په شاګردانو باندِ ۹۵۴

۱۸۹- فصل- حق د فرزند په پلار ۹۵۵

۱۹۰- فصل- ثواب د قرآن چه فرزندے لولی ۹۵۶

۱۹۱- څوارلسم باب- ذکر خوارج د باغی ذمی د خراج وغیره ۹۵۷

۱۹۲- فصل- ذکر د جزیه د غنیمت ۹۵۸

۱۹۳- فصل- د خراج ۹۵۸

۱۹۴- فصل- حکم د مرتد ۹۵۹

۱۹۵- فصل- ذکر د مورث د فلاکت دے ۹۵۹

۱۹۶- فصل- ذکر د ایام منحوسه ۹۶۱

۱۹۷- فصل- ذکر د رجال الغیب ۹۶۱

۱۹۸- فصل- فالنامه مصحف ۹۶۲

۱۹۹- پنځلسم باب- ذکر د تسابیح د حاجت د نمانځه ۹۶۵

۲۰۰- فصل د حاجت د نمانځه ۹۶۷

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۲۰۱- فصل- د نمونځ د شبِ برات ۹۶۷
۲۰۲- فصل - نمونځ د سه ۹۶۷
۲۰۳- فصل - د نمونځ د اختر په شپه ۹۶۸
۲۰۴- فصل - د لوئے اختر په شپه ۹۶۸
۲۰۵- فصل - نمونځ د جُمعے په ورځ ۹۶۸
۲۰۶- نمونځ د شنبے په ورځ ۹۶۹
۲۰۷- نمونځ د یکشنبے په ورځ ۹۶۹
۲۰۸- نمونځ د دوشنبے په ورځ ۹۶۹
۲۰۹- نمونځ د سه شنبے په ورځ ۹۶۹
۲۱۰- نمونځ د چارشنبے په ورځ ۹۷۰
۲۱۱- نمونځ د پنجشنبے په ورځ ۹۷۰
۲۱۲- نور نومونه د باری تعالیٰ ۹۷۰
۲۱۳- خاتمه - شکرانه - د کتاب څو بیتونه ۹۷۱

اُوم ټوک

بازنامه

۹۷۳
۱- سرومبے فصل په بیان د پیژندګلوئ د باز کښے ۹۷۵
۲- دویم فصل په بیان د رنګ د باز کښے ۹۷۶
۳- دریم فصل په بیان د اشیان د باز کښے ۹۷۶
۴- څلورم فصل په بیان د ترناک باز کښے ۹۷۷
۵- پنځم فصل په بیان د بندونو د باز کښے ۹۷۸
۶- شپږم فصل په بیان د پیژندلو د پیخال د باز کښے ۹۷۸
۷- اُوم فصل په بیان د نوی باز کښے ۹۷۸
۸- اتم فصل په بیان د آموخته کولو د باز کښے ۹۷۹
۹- نهم فصل په بیان د آموخته کولو د باز په بنکار د مرغابئ ۹۸۰

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۱۰- نسم فصل په بیان د بنکارکولو د نورو مرغانو په بازباندِ	۹۸۱
۱۱- یوولسم فصل په تشویق د بازونو د بنکارکښے د غزل په طرز	۹۸۲
۱۲- دولسم فصل په بیان د تعریف د جُرہ کښے	۹۸۲
۱۳- دیارلسم فصل په بیان د بنکار د بانے	۹۸۳
۱۴- څوارلسم فصل په بیان د نیولو اوساتلو د نوی باز کښے	۹۸۴
۱۵- پنځلسم فصل په غزل سرہ په بیان د صافولو د باز کښے	۹۸۵
۱۶- شپاړسم فصل په بیان د مهرہ ورکولو باز لره	۹۸۶
۱۷- اُوولسم فصل په بیان د رااېستلو د باز له کریزہ	۹۸۷
۱۸- اتلسم فصل په بیان د کښینولو د بازونو په کریز	۹۸۸
۱۹- نولسم فصل په بیان د دارو کولو د باز په سبب د خط په کریز کښے	۹۸۹
۲۰- شلم فصل په بیان د رااېستلو د باز له کریزہ	۹۹۰
۲۱- یوویشتم فصل په بیان د بتوله کولو د باز او د بانے	۹۹۱
۲۲- دوه ویشتم فصل په بیان د څورب کولو د ډنگر باز کښے	۹۹۱
۲۳- دریشتم فصل په بیان د طعمه کښے چه د کوم ځنا ورښه دہ	۹۹۳
۲۴- څلیریشتم فصل په بیان د آبدارے د غوښے ورکولو	۹۹۳
۲۵- پنځویشتم فصل په صحیح تعریف او تشویق د میرشکارئ په طرز د غزل	۹۹۴
۲۶- شپږ ویشتم فصل په بیان د بنکار د شاهین کښے	۹۹۵
۲۷- اُوه ویشتم فصل په بیان د ستکشئ د چرغ کښے	۹۹۶
۲۸- اته ویشتم فصل په بیان د رنگونو د مارغانو کښے	۹۹۸
۲۹- نهه ویشتم فصل په بیان د رنگونو د چرغ کښے	۹۹۸
۳۰- دیرشم فصل په بیان د تیارولو د چرغ کښے	۹۹۹
۳۱- یودیرشم فصل په بیان د اصل په بارئ کښے	۱۰۰۰
۳۲- دوه دیرشم فصل په بیان د جفت کیدلو د غیر جنس کښے	۱۰۰۱
۳۳- دریے دیرشم فصل په بیان د رااویستلو د بچو له هانه	۱۰۰۱
۳۴- څلور دیرشم فصل په بیان د ابتدا د میرشکارئ کښے	۱۰۰۲

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۳۵- پنځه دیرشم فصل په بیان د خلط د باز په سبب د غوښې ۱۰۰۳
۳۶- شپږ دیرشم فصل په بیان د رحمت د قیل قورت او دمه کښې ۱۰۰۵
۳۷- اوۀ دیرشم فصل په بیان د چینجی د باز کښې ۱۰۰۵
۳۸- اتهٔ دیرشم فصل په بیان د توخی د دومی ۱۰۰۵
۳۹- نهۀ دیرشم فصل په بیان د علاج د سپږو د باز کښې ۱۰۰۷
۴۰- څلویښتم فصل په بیان د عقلی د باز کښې ۱۰۰۷
۴۱- یوځلویښتم فصل په بیان د پردے د سترګو د باز کښې ۱۰۰۷
۴۲- دوه څلویښتم فصل په بیان د خشکئ د باز کښې ۱۰۰۸
۴۳- درے څلویښتم فصل په بیان د علاج د باز کښې چه اوچے غوښے ئے خوړلے وی ۱۰۰۸
۴۴- څلور څلویښتم فصل په علاج د سستئ د باز کښې ۱۰۰۹
۴۵- پنځه څلویښتم فصل په علاج د سرګردان د باز کښې ۱۰۰۹
۴۶- شپږ څلویښتم فصل په بیان د علاج د بادو د باز کښې ۱۰۱۰
۴۷- اوۀ څلویښتم فصل په بیان د متفرقا تو کښې ۱۰۱۰
۴۸- متفرقه ۱۰۱۱
۴۹- متفرقه ۱۰۱۱
۵۰- متفرقه ۱۰۱۱
۵۱- متفرقه ۱۰۱۱
۵۲- متفرقه ۱۰۱۱
۵۳- متفرقه ۱۰۱۲
۵۴- دغه رنګه ۱۰۱۲
۵۵- متفرقه ۱۰۱۳
۵۶- د باز د تاؤ دارد ۱۰۱۲
۵۷- متفرقه ۱۰۱۳
۵۸- متفرقه ۱۰۱۳

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۵۹- ایضًا	۱۰۱۳
۶۰- ایضًا	۱۰۱۳
۶۱- ایضًا	۱۰۱۳
۶۲- متفرقه	۱۰۱۴
۶۳- ایضًا	۱۰۱۴
۶۴- متفرقه	۱۰۱۵

اتم توک

سوات نامه	۱۰۱۷
۱- دا دَخان کلان قصیده ده په احوال دَ جنگ جدل چه له مغل له مخالفته وو-	۱۰۲۲
۲- فصل	۱۰۲۵
۳- فصل	۱۰۲۷
۴- فصل	۱۰۳۲

POHA
پوهه

کتابت: غلام لطیف "چپړی" ۱۹۹۸- ستمبر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اول ټوک

POHA



قصیدے

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پاک الله ته

زهٔ مدد غواړم له تا نه اے یوه خدایه احده
که مدد دِ راسره وی چاربه نهٔ شی ځما بده
زهٔ عاجز مرئیے دستایم تا به ستایم ستا په فضل
ستا ثنا صفت به وایم څو نه توان لرم بے حده
ستا ثنا ده تر حد تیره د بیابان تر شګو ډیره
هسے څوک دے چه خیرش د دیو شګو له عد ده
نهٔ ته زوړے نهٔ ته ځوان ئے لکه وے هسے یکسان ئے
لکه وے هسے به وینه له ازله تر ابده
مزکه سبع سمٰوات ده واړه کونه کائنات ته
واړه تا کوښی پیدا کړل بے د نور و له مدد ده
دا همه واړه ملکونه تا زوول له کاف و نونه
هم والدئے د ملکونو هم منکرئے له ولد ه
که سپید دے که سیاه دے په وحدت دستا گواه دے
ته محیط له هره څیزه له سفید و له اسود ه
دستا کار واړه خوبئ دے په خوبئ او په نیکئ دے
دا و مونږ وته رسیږی کله نیکه کله بده
دا شامت ځمونږ ه خپل دے چه موکار هسے مشکل دے
که نه ته څهٔ هسے نهٔ ئے چه خپل ور ته ے له ردہ
هرچه نهٔ دِ ژوند په نغوته تا لبّیک ووے هغو ته
چه په یا صنم و یل کښے داغلط دی یا صمد ه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ پوښتنه کړے له حاله چه ئے حال ښه ؤ وتر قاله
د بلالؓ اشهد قبول شهٔ د دیو نور وله اشهده

د خوشحال ویل اومهٔ دی لائق ستا د صفت نهٔ دی
ستا په فضل به پخیږی دا اومهٔ ویل احده

د رسول پاکؐ په صفت کښے

د خدائے عرفان م وشو په عرفان د محمدؐ
پاک دے محمد پاک دے سبحان د محمدؐ

راشه نظر وکړه په طٰهٰ په یٰسین باندِ
خدائے دے صفت کړے په قرآن د محمدؐ

د هیرخلق پیدا دی انبیاءؑ کهٔ اولیاءؒ دی
نشته په خلقت کښے بل په شان د محمدؐ

د هیرخلق کهٔ یو کړے انس وجنس د واړه جهانه
لا تر وارهٔ وبهٔ دے کوښے څان د محمدؐ

شط د رودِ نیل کهٔ د موسیٰ په حکم وشو
شق د قمر وشو په فرمان د محمدؐ

خوان خورد موسیٰؑ مَنّ وسلویٰ یولک وکړی
انس وجن مړ پرے تل په خوان د محمدؐ

دورد ناقوس کهٔ یوځ ووخته وو فانی شو
تل به تر قیامته وی آذان د محمدؐ

نهٔ دی قسیس رهبان قائم په خیل دین و مذهب کښے
نهٔ زر قسیس رهبان نه یو سلمانؓ د محمدؐ

یولک څلیریشت زره زیات وکم پیغمبران دی
کل واړه مدام دی ثنا خوان د محمدؐ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پیک ئے جبرئیل د رفرف جلب نیولے
پاس ئے چه معراج ؤو په آسمان د محمدؐ

څۀ دے دا آسمان ولاړ بے ستنے بے شهتیره
دے یو مختصر هلک ایوان د محمدؐ

داجهان هغه جهان کۀ دواړه سره یو کړے
لاتر دانه لوئے دے بل جهان د محمدؐ

واړه جنتونه پکښے خو رنګ نعمتونه
څۀ دے درته وایم یو بوستان د محمدؐ

څۀ دی دوزخونه پکښے هومره عذابونه
جوړ دے د دښمنو ته یو زندان د محمدؐ

ورځ چه د قیامت وی مرسلان به په هیبت وی
هورته به جولان وی په میدان د محمدؐ

خواست به نورځوک نۀ کا د خسته ؤ عاصیانو
خواست به محمدؐ کا خاندان د محمدؐ

سل صلوٰة تل له ما په آل تقی نقی شه
سل درودونه تل په چار یاران د محمدؐ

لاس دی لګولی ما خوشحال په دواړه کونه
غم اندوه مِ نشته په دامان د محمدؐ

د رسولِ پاکؐ په صِفت کښے

انبیاءؑ ترمحمدؐ پورے معلوم دی
لکه ستوری ترآفتاب پورے معدوم دی

مرتبۀ ئے ترآسمانه ده بلنده
د براق ئے د آسمان دیاسه سلوم دی

کۀ تورات دے کۀ انجیل ئے کۀ زبور دے
داهمه د دۀ په نام سره مرقوم دی

محمدؐ ئے د غبرا خلقه بولی
کروبی ئے ذاکران د احمد نوم دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په طفیل ئے پیدا شوی دوه جهانه
په ماز اغ ئے و نظروته مذموم دی

په معجزئے د قمر کمر دوه نیم کړ
په اعجاز کښے که پولاد وچاته موم دی

چه د عرش ئے په نعلینو بډائی شوه
چه د پښو ئے خاورے نه شول هغه شوم دی

یکتنهائے د جهان مهم آغاز کړ
د دښمنو فکرئے نه وُوچه هجوم دی

بادشاهان ئے واړه خان کنړی مړیُونه
که د چین دی که د هند دی که د روم دی

په افلاس کښے به د جهل خوار وزار شی
چه د شرع له دولته ئے محروم دی

سرکشته د ضلالت په ته کښے کړئی
چه د بښنه ئے د خسرانو یا د زخم دی

هر اصحاب ئے لکه ستورے د هُدیٰ دے
د هُدیٰ د لار بښیون کاندِ نجوم دی

که خلاف ئے د اصحاب په منځ کښے وشی
د مفهوم و کار هغوزده چه مفهوم دی

چه په جنګ کښے د علیؓ له لوري یه ومړل
په هغو باندِ کواهی له چه مرحوم دی

په یزید باندِ لعنت شه په اعوان ئے
چه په تیغ ئے د نبیؐ نمسی مظلوم دی

د امت ئے برګزین دی اثنا عشر
په بزرګ کښے د همه جهان مخدوم دی

د خوشحال خټک د حشر له هغو شی
چه دوستدار د پنجتن پاک یا رده معصوم دی

په تعریف کښے د خپل شعر

په پښتو شعر چه ما علم بلند کړ
د خبرو ملک م فتح په سمند کړ

مدعی د تورے شپے اور اورکے ډو
د سهیل غوندِ م خان باندِ شرکند کړ

راز د زړهٔ ننه ساتهٔ نهٔ شی په زړهٔ کښے
په ساتهٔ کښے ئے استاذ و ماته پند کړ

یو په حال او په ماضی کښے هسے نهٔ و ه
چه بشکاره ئے د خبرو راته خوند کړ

د میرزا دیوان م و ماندهٔ په کوډی
مسخره م ارزانی خویشکے ز مند کړ

که دولت ډوکهٔ واصل ډوکهٔ دا نور ډو
په خبرو م د هر یوهٔ ریشخند کړ

قتلے م ورته سازے کړے د قند و
د اور بشو په ډوډیو چه چاشخوند کړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لعل و دُرِم ورته وپیپل د نظم
د مشکنړو بنجاره ِم مستمند کړ

هر کلام ِم وارِدات دی یا الهام دے
چه مونږ ون ِم په تقطیع د بحر بند کړ

په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کښے
عذوبت ِم د خبرے چند در چند کړ

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنیٰ ِم د شیراز او د خجند کړ

د بوستان ونے ِم وا ِړه پیوندی دی
حقیقت ِم د مجاز سره پیوند کړ

نهٔ اندوه د مدح وذم نهٔ هغه کس یم
چه د زړهٔ په زور ِم شعر چا پسند کړ

په پارسئ ژبه ِم هم ژبه ګویا ده
په پښتو ژبه ِم خلق بهره مند کړ

د جاهل په بخړه تش سر شور ول وی
آفرین ِم په خبرو دانشمند کړ

یا به درست په حسد ډک یا به جاهل وی
چا چه زړهٔ په داخبرو ناخورسند کړ

جاهلان لکه قارغهٔ کندګی خوا ړهٔ دی
شنو طوطیانو به د زړهٔ مِهر په قند کړ

نهٔ ِم سود نهٔ ِم مقصود شته په دا کار کښے
محبت ځما په غاړه دا کمند کړ

کهٔ نور سود له شعره نهٔ لرم دا بس دے
چه حاسد ِم د حسد په اور سپند کړ

چا ځما مړوند ټینګ نهٔ کړ په دا کار کښے
ما د هر سړی نه خلاص په زور مړوند کړ

هم ِد نارد ے هم ِد سخ کهٔ فهم وکړے
زړهٔ چه تا د شاعرئ کار پسند کړ

سخ ِد داچه سخندان د زمانے شوے
زار ِد داچه ِد په فکر زړهٔ نژند کړ

تر قیامته به یاد یږی په جهان کښے
هر سړے چه خدائے په فضل ارجمند کړ

عشقه تهٔ تر اورنګ زیب بادشاه بهتر ئے
چه خوشحال ِد په عالم کښے سربلند کړ

شعر حیض الرّجال دے

زړهٔ د شعر په کار هیڅ نهٔ یم خوشحال
ولے خدائے ِم کړهٔ په غاړه دا مقال

نهٔ په فکر نهٔ په ذکر را برسیر شی
ناګهانه لکه وورے د پشکال

رنګ ځما د شعر هیڅ سره سازنهٔ دے
لکه سپے را پسے ګرځی په دنبال

بنکاړی سپے چه د نخیر په بنکار کښے بنهٔ شی
له خوبنئ ے په مخ مږی روئِمال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ د شعر وئیل هرڅو د صفت وی
بیا په شعر کښے پیدا شی انفعال

داخبره بده نهٔ ده چا و ئیلے
په تحقیق چه شعر حیض دے د رجال

په جهان ترشاعرئ بد څهٔ نشته
خدائے اخته مکړه سړے په دا جنجال

تفکر د شاعرئ لرمون شین کا
د غلیم دِ په نصیب شی دا اشغال

یوئے ښهٔ له واړه خلقو نه جدا شی
بل اخته وی د خپل فکر په نکال

بل د هیچا ناخوندہ په جهان نهٔ وړی
بل د هرسړی د خوئ وی بدسګال

بل کهٔ هرڅو د ژکوهر پییئ په شعر
عیب جوئے ئے جاسوسی کا د افعال

هرشاعرئے په وئیلو کښ منډے کا
کهٔ په شعر کښے ته من ئے دے مثقال

بل په هسے شان دروغ پکښے وئیل شی
چه پخپله دروغژن شی دم در حال

د یار مخ د لالهٔ ګل سره نسبت کا
د لاله د یار له مخه څهٔ مثال

د هوسئ د نافے وینے نابودے
برابری کا د یار له خط و خال

د یار قد له سرو ونے سره سم کا
سرو ونه ده په باغ کښے نونهال

د معشوقے تورے سترګے غمزه ګرے
په غزل کا لکه سترګے د غزال

سرهوا لکه تبژن هسے وئیږی
د خپل ځان سره خولهٔ پټه ځواب سوال

خلق خوښ په خوب اودهٔ وی دے بے خوبه
د پالنګ دپاسه خوب وی پرے محال

پټ په پټ وبله اوړی ترصباحه
د بنهٔ لفظ د بنهٔ مضمون په اتصال

چه د شعر فکر ورشی په مجلس کښے
نور عالم خندا هوس کا دے ملال

چه د شعر فکر ورشی په نمانځهٔ کښے
د اَعُوْذُ ذال بدل کاندی په دال

چه د شعر فکر ورشی په خوارهٔ کښے
سپینے وریژے په مزه شی ورته ګال

کله کله ئے مخ پټ شی په دیر فکر
چه په دهٔ د لیونتوب شی احتمال

داهمه د خپلے پوهے نتیجه ده
چه شاعر له فکره نهٔ وی فارغبال

فلاکت د شاعرئ سره مل دے
کهٔ شاعر سړے لری جاه و جلال

د دُنیا په مال ئے هیڅ نهٔ وی وتنه
راشه وګوره دا مال او دا منال

سمرقند او بخاراځهٔ هغه ذهٔ یم
چه جهان بخښم د کښلی مخ په خال

ماداڅو توکه چه ولیدل د شعر
هئے توبه! د شاعرئ له افعال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کشکه زهٔ بے ژبه کونک وے شاعرنهٔ وے
ترداهسے کویایئ بنهٔ وُم لال

کهٔ ربنتیا وایم چه غورم پرے وکړ
شعرکاردے د ملوک یا د هزال

کهٔ د شعرمذمت عیبونه ډیر دی
دا هُنر د شعربنهٔ لری اقبال

د رکوهر یا د لولئ یا د بی بی دی
بنهٔ قماش یا د بادشاه یا د رذال

چه د شعر په سبب سره یادیږی
کهٔ حَسَن دے کهٔ خسرو دے کهٔ کمال

د دوزخ لمبے به کار په عاشق نهٔ کا
چه ئے تاؤ د دروغے دے په دا دال

دانائی علم وحکمت پکښے زیاتیږی
څوک چه بنهٔ وکا د شعرا ستعمال

د خبرو تنستے چه واو دے شی
څوک اطلس وودی په شعرځنے شال

د هرحرئے په شمار واړهٔ حرفونه
په تقطیع سره ئے جمع افضال

د صفت کښلے تکئ پکښے روغے
د تجنیس او د ترجیع اود اشکال

په عروض کښے کارستان وکا حیران شے
د خبرو ناوی کښینوی تمثال

کرامت دے یا اعجاز دے یا جادو دے
چه په شعر را پیدا شی له قوال

په هربیت ئے هسے رنګ شولے ورپاځی
لکه زیږی په ډیر درد سره اطفال

د شاعر وئیل اوبو سره نسبت کا
بنورے تلخے اوبهٔ یا خوږے زلال

شعرکار د هرفاسق د فاجر نهٔ دے
نهٔ د هریوهٔ وږ ستړکی د ګنګال

شعرکار یا د سالک یا د مالک دے
د عاشق دے د دردمن دے د ابدال

د هغهٔ شاعردانے وشه په ژبه
چه د شعر دُر دانے پلوری په مال

چه د شعرو شاعرئ مذکور وشو
څهٔ خو غوږ باسه ځما په حسبِ حال

قصیدے لرم غزا له هره بابه
په حکمت په نصیحت کښے ما لا مال

په تعریف د دلبرانو غزلونه
په صفت د ستړکو وروځو زلفو خال

رباعی ده کهٔ قطعه کهٔ مثنوی ده
همکی واړه کوهر دی در و لال

په فارسئ ژبه کهٔ نورترما بهتر دی
په پښتو ژبه م مهٔ غواړه مثال

طبیعت م عطائی نهٔ د تحصیل دے
کهٔ خبریم د املا په استعمال

یوساعت به م په درس شل م په بنکار وو
کله بنکار پریښوم د کسب د کمال

د جهان تحصیل به کل واړه ځما وو
کهٔ اخته نهٔ وے د بنکار په اشتغال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

غابښ وتلی ښیره سپینه لاتراوسه
بازپه لاس کړځم په غرونو په جبال

بند وبست د پښتو شعر ما پیدا کړ
ګنډه شعر د پښتو وُو غیر سال

نهٔ ئے وزن نهٔ تقطیع نهٔ ئے عروض وُو
دوه مصراعے ئُے د خفیف بحر دوه طال

د غزل نه ئے مطلع نه ئے مقطع وه
نه ئے صفت نهٔ ئے تشبیه نهٔ ئے مثال

مګر زهٔ ئے چه ګویا په شاعرئ کړم
پښتانهٔ ئے پوهول ایزد تعال

په دا بند وبست به نور ترما بهتر شی
پس له ماچه کا د شعر قیل و قال

نن ځما ځویه یوځو دی برخوردار شه
چه په دا هُنر کښے نهٔ لری همال

کهٔ د شعر وئیل عیب یا هُنر دے
د بنهٔ مخ له محبته ئے دے حال

محبت د هما ئے سیوره ده کهٔ څهٔ دے
کهٔ کیمیا دے زرکوی سنګ وه لعل

د عاشق له ژکه وبهوی وینے
چه جرّاح د معشوقے وهی قیفال

زهٔ چه خوښ د کښلی مخ د مینے نهٔ وی
پکښے مات شه د تیرهٔ توبری سفال

عاشقان چه په بنهٔ مخ کا هومره مینه
مګر خدائے وینی د کښلیو په جمال

ګلستان ځما د مینے شګفته شو
پرے وهی شیدا بلبله پرو بال

ګلدستے ئے لورپه لور په ملک خورے شوے
ترکابله ترکشمیره تر بنګال

هر مضمون ته چه د زهٔ توجه وکړم
طبیعت ئے راکوی په استعمال

شبستان م د ابکار معنو ځائے دے
تی ئے نومونه په غدُو په آصال

د الهام غُند خبروی چه رادرومی
چه ځما په زهٔ نزول کا لایزال

درست دیوان م لکه باغ د علم ګنج دے
پکښے هر رنګه ګلونه هر نهال

د دیوان م کهٔ بیت بیت سره حساب کړے
ترځلویښت نه زره به تیرشی په سرکال

په غزل په رباعی م زهٔ مئین دے
چه مداح یم د دلبرو د جمال

په هجران کښے ئے بلبل غوندِ فریاد کړم
کهٔ ئے نهٔ مومم ګلونه د وصال

چه به مالیدل په ستړګو هغه لاړل
مخ ئے زهٔ په تصوّر وینم په خیال

د هغو دلبرو پښے شوے تورے خاورے
چه په پښوئ ژرنګیدل راته خلخال

د څړیو به ئے بزغ لکه ږباب وُو
په آواز به ئے دِما وُو وجد و حال

په دیدن به ئے له دردہ رغیدل وُو
جدائی ئے لکه درد وُو د اسهال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ خوانئ په وخت بنهٔ سره جوړیږی
ډیرے جونه یو خلے سره همسال

کهٔ یو دم ئے جدائی وبله اوشی
زړهٔ ئے بیا وی وَ وصال دتهٔ کشال

په نوبت نوبت زم ولیدے دلبرے
یادَ توره ویښتو عشق ډو یادَ خال

اوس دا نوے بناشسته کهٔ هرځو یار کړم
دَ خوانانو څهٔ پروا په پیرِ زال

کهٔ بوسه ورځنے غواړم ورنزدے شم
په خندا خندام غوخ کا په ناخوال

دهغهٔ یاری په کار نهٔ ده دَ کښلیو
چه په مخ باندِ ئے نهٔ وینے توروال

چه دَ کار وبارهٔ ووزی په زوړوالی
کوم صفت دَ هغه خړهٔ کا خر دلال

زوړ کهٔ سپینه ږیره تورد په خضاب کا
خوانے نښځ وته خان کا خوان رجال

نهٔ دَ سپینے زیرے عیب په خضاب څی
نهٔ دَ تیز عیب پټیږی په سعال

دَ سړی دَ عمر کار راته بنکاره شو
کله بدر کله سلخ کله هلال

په خوانئ کښے هرکار په سړی زیب کا
په پیرئ کښے زشتی لری هر خیال

دَ زړهٔ نه زړهٔ دَ خوانے نښځے خوږین دے
کهٔ ساتی ئے په نعمت او په نوال

دَ خوانئ وخته کهٔ بیا راتلے په بیرته
ما به څار کړ ترخپل خان واړه اموال

ما وے کوره لابه کله زړهٔ زړیږم
پیرۍ مخے ته راتله په استقبال

داهم بنهٔ چه م پرے سود دخاطر کیږی
چه تا زړه دلبره وینم په دا کال

په بوسه دَ شکر لبو زوړ خوا نیږی
داخبره تجربه ده دَ خوشحال

بازدَ خپله بنکاره نهٔ وزی چه زوړ شی
تو زړهٔ مزری څاریږه خوان شغال

چه دلبرے ظاهر بینے شوے بدکار دے
دَ انصاف رانجهٔ ئے وشوے په کمال

عاشقان په سپین ویښتهٔ کله زهیږی
لا په کور کښے به ئے هم نهٔ شی احوال

دَ ایمان سلامتی دَ هغه کس ده
چه بنهٔ مخ وینی په وخت دَ ارتحال

چه دَ کښلیو دَ جمال برکت ډیر دے
مخ ئے څکه مبارک نیسی په قال

په محشر به مینه وهمه دَ دل سنگو
کهٔ به دا درنیږی تله دَ اعمال

زړهٔ مدّاح دَ هیڅا نهٔ یم بے دَ کښلیو
دَ نور څا په صفت نهٔ لرم یو قال

زړهٔ څهٔ خدائے په کښلی مخ باندِ مئین دے
کوره احسن القصص په استدلال

نهٔ م طمع له چا ده چه مدح کوئے شوے
نهٔ م چا سره لباس شته نهٔ تیتال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ له هجوے له غندنے درته وایم
فردوسی لری څوبیته له محمـوده
چه دَ دور شهنشاه دَ ذم لائق شو
ماهم هیڅ تقصیر په ذم دَ چا ونهٔ کړ
کهٔ محمود بنده زاده وُ ودَ خپل پلار وُو
چه په رنګ په خوئ خصلت دَ بابانهٔ وی
درست عالم په خوئ خصلت دَ خپل بادشاه وی
کهٔ له خپله حقیقته درته وایم
په آباؤ په اجداد خان و سردار یم
کهٔ برے کهٔ هزیمت وایه لیدلی
پلار نیکهٔ م شهیدان وکور ته تللی
کهٔ به ډیر په هزیمت راځمه توئے شول
لکه وُم په خپل همت بیا به هغه وُم
کهٔ دَ جنګ دَ پرهار ونو درته وایم
یو پرهار م به لاروغ په وجودنهٔ وُو
چه قضا دَ سړی نهٔ وی سړے نهٔ مری
قدردان څما دَ کار شاهِ جهان وُو
چه نیک خواه بدخواه همه ورته یکسان دی
چه دَدهٔ دَ بادشاهئ دَور وشو
په دوران ئے درست جهان سړه کړو وشو
چه په خپل بابا ئے نهٔ ده صرف کړے
چه دَ بنو سړیو قدر باندِ نشته
لکه دے څما زوال وته ناظر دے
دا همه څما دَ تورے صدقـه ده
نن به درست دَهند وستان دولت دَدوئ وُو

فردوسی م په دا کار کښے نهٔ دے سیال
زهٔ لرم دَ اورنګ زیب دَ ذم جوال
دَ غندنے کنړه هر یواق سقال
دَ اورنګ بادشاه په غاړه دا وبال
په زړونه کښے خونهٔ وُو دَ بل آل
هغه څوبه دَ بل آل لری مآل
لکه دے وی دَ عالم وی دا خصال
زهٔ څائی یم دَ مغل نمک حلال
کارنامے لرم دَ جنګ او دَ جدال
خوئ خصلت لرم دَ قتل دَ قتال
پښتا پښت م هُنر دا دے آل په آل
وراندِ روستو په یمین او په شمال
په بل جنګ کښے ونصرت ته په آمال
چه له دردهٔ م به تن وُو لکه نال
بل پرهار م به په تن شو یا په وبال
کهٔ ئے درست صورت په غشیو شی غربال
دَ اورنګ بادشاه بنکاره دے خو دا حوال
نهٔ تمیز نهٔ ئے دَ عدل اعتدال
په دوران ئے لوړ په لوړ دے اختلال
تهٔ به وائے زمانه شوه دَ دجّال
دَ جفائے په دا نور و څهٔ اهمال
څکه زهٔ ورځنے کړځم په جبال
زهٔ لا نهٔ غواړم دَدهٔ هسے زوال
پښتانهٔ چه پرکنے خوری سیور غال
پښتانهٔ کهٔ کم همت نهٔ وے جُهال

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یکانه ځوانان کهٔ زر له ما سره وے
نورځما وُو په پنجاب باندِ یرغال

کهٔ هرځوئے سازوُم رانهٔ سازیږی
پښتانهٔ دی د تیږیو کانړیو دیوال

هومره قام هومره عالم سردارئے هسے
سرګردان ګرځه په تیښته دا منوال

دَدانا سردار دَ تیښتے شرم نشته
چه علاج کا دَ غلیم دَ استیصال

چه په مرګ دِ غلیم سخ کا هسے مهٔ مره
وسردار و ته هم دا دے استقلال

تراویاؤ کالونو تیر شو ځما عُمر
زړهٔ هغه دے تن پیرئ کړپائمال

لکه ما به له مغل و هلے تُورے
دریغه دریغه په ځوانئ وے دا حال

نوے میاشت ده محرم غصه ئے کال دے
په غلیم ِم غصه وریژه دا کال

خدایه هومره مهلت ورکړے په دُنیا کښے
چه کا بڑه کار ونه سم کاندی خوشحال

شعر حیض الرِّجال دے

په ځان او په جهان کښے ما دوه څیزه دی وکښلی
په ځان کښے دواړه ستړګے په جهان کښے واړه کښلی

دَ زلفو په هوائے بیخودی ځما نصیب شوه
له ځانه له جهانه تل بیخود دی مار خوړلی

دَکښلیو په جمال په نندارهٔ کښے ماخدائے بیاموند
لږ نهٔ دی له مجازه حقیقت ته رسیدلی

بنهٔ مخ و ته چه ګورم په دوه ستړګو نهٔ مړیږم
دَ تن ویښتهٔ ِم واړه وازے ستړګے دی ختلی

سیه دل دَمحبت له سوزه سازه خبر نهٔ شول
په کار دَ پتنګانو مچان نهٔ دی پوهیدلی

دَهغهٔ خونی له تیغه دَخلاصئ فکر ومهٔ کړه
چه دے له ناترسئ زړهٔ وکابڑی دَ وژلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ خدائے ملامتونه کوښې کوښې تهمتونه
په عشق کښے دَ وګړی ماڅه لږ نۀ دی زغملی

بنۀ مخ په مثال د ګل شوزۀ ځما لکه بلبل شو
شیدا بلبله هرچرته چه ګل دے هوړے یلی

مدد وکړه دَ وینو دَ ژړا په وخت اے دِله
نور اوښکے پاتے نۀ شوے چه ډیر ډیرم دی ژړلی

دَ شعرڅۀ ثنا کوم چه دے حیض الرّجال دے
بد کړکاچه له دۀ نه ډیر ډیر یانونه رسیدلی

کۀ شعرته نظر کړے په خپل اصل کښے بدنۀ دے
بد داچه څوک په شعر کښے ویل کا نا پسند لی

چه چا دے شعر کړے بے میزانه بے عروضه
دا هیڅ شاعری نۀ ده یوخوسپی دی تمیدلی

پارسی شعرم هم نږده سلیقه لرم دَ وا ړو
پښتو شعرم خوښ شو هر څوک خپل ګنړی ښاغلی

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کښے
پښتو ویل م عین تر پارسۍ دی رسولی

پښتو ژبه مشکله دَ دے بحر مونده نۀ شی
هم مالره یوخو بحره په ډیر مبسود راغلی

له چا نه په پښتو کښے ما میزان لیدلے نۀ دے
میرزا په دا زبان کۀ ویل کړی دی تللی

مخزن م دَ اخوند چه تمامی په نظر کښیوت
په دۀ کښے نۀ عروض شته نۀ بحر ماموندلی

دانا به پرے پوهیږی دَ ناپوهو کار پرے نشته
دا دُرچه دَ بیان په تار خوشحال ختک پیئلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کذاب دے کۀ دا شعر لکه دۀ پښتو بیان کړ
کۀ هسے ویل اوس شی یا پخوا دی چا ویلی

دَ شعر په ویلو ډیر خوښ نۀ یم ولے څۀ کړم
چه زړۀ مې بے اختیاره کله کله وسته زغلی

په شل کاله کښے دیګ ځما دَ شعر په اوربار شو
په دا دورم پوخ کړچه شپیتۀ کاله مې تللی

حاسد مې کۀ په شعر له حسده ګوته کښیږدی
چه دے مومی له شعره واړه دۀ وته بخښلی

دَ شعر په ویل کښے کۀ مقصود لری هم دا دے
په دا بهانه مې ګوندِ چرے یادکا نا زړولی

په تورکسوۀ کښے پټه رنګینه معنیٰ وګورۀ
زړ شو یو مې سرۀ زړ له تورو شکو دی ایستلی

دوه بحرۀ دوه مطلع لری کۀ دا قصیدۀ ګورے
زړ یو انتیا کالونه په صفر کښے ما وئیلی

دَ دوډے جنګ

خو وانخلی له غلیمه انتقام
مرد نۀ خوب کا نۀ خوراک کا نۀ آرام

چه دَ ننګ او دَ ناموس اندوهۀ نۀ وی
دَ هغۀ سړی به نۀ وی احترام

کۀ همت او حمیّت غیرت پکښے وی
تر څښتنه به بهتر ګنړی غلام

په ورځ ورځ پرے قدم بردی وربانډِ خیژی
په یوه ځله څوک نۀ خیژی په بام

په طلب کښے کۀ سستی نۀ وی باور کړه
دَ ژوندون اوبۀ به بیاموے په کام

واړه ورځے سرۀ نۀ دی برابرے
کله درد کله دارو کاندی ایّام

دَ مردئ دَ نامردئ ترمینځ میل نۀ دے
تفاوت ئے په ذړه دے یا په ګام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دَ بل ترلاسه ورغے دَ بل شو
مرد به خپل لری دَ خپل فکر نرمام

چه په ذات ئے پلار نیکهٔ تورے وهلے
پرے جوړیږی کار دَ تورے دَ صمصام

دَ کنبت غصه مِ اووته له دِلـه
خدائے چه راکړه په ډوډه دَ فتحے کام

چه په مخ ئے فتح درومی عابدخان دے
په هرځائے دَ خپل بابا کا تازه نام

خدائے ئے عمر دَ خپل پلار کړه کام اونام هم
په غلیم دِ ئے لاس براوسی مدام

غلیمان دِ ترے حذر خوری که پوهیږی
تیره تیغ ئے اژدها دے خون آشام

چه داهسے تورزن رورئے خدائے پیدا کړ
پرے دِ فخر کا همه سړی نړه مُدام

دَ لښکرو کا رخهٔ هسے آسان نهٔ دے
چه پرے هر سړے به مومی انتظام

چه دَ بخت یوخو ویښتهٔ لری په سر کښے
دَهغهٔ په مخ ظفر درومی مُدام

چه ربښتینے ترسر تیر بخښل خوړل کا
دَهغهٔ دَ وړاندِ سر کښیږدی اَنام

دَ مزری بخړه ورمیږ دَ نیله کاڼ دے
کیدړ تروړے ئے مړیږی په لحـام

دَ میدان هوسئ یو یو تازی نیسی
ډوډی غپ په کلی پیر کړئی انعام

دَ ډ وډه حصارئے درست په وینو سور کړو
په ډوډه باندِ چه وشو قتل عام

دَ ډوډے حصارځهٔ هسے آسان نهٔ ؤو
چه ئے فتح تیرید له په اوهام

پاس په غړهٔ باندِ محکم ؤو چا وهلے
دَ کوهاټ ترکوټ ئے بنهٔ ؤو استحکام

دَخاوند په حکم هسے فتح وشوه
چه ئے کار شو په دوه ورځو سرانجام

دَ اوو کوټو نوکار دَ خدائے په حُکم
وارپه وار شو په هفته کښے انصرام

له هیبته په آسمان کښے په لرزه شو
چه دَ تور وخرپا واؤړیده بهرام

دَ توپکو دَ ویشتلو په لوګیو
بل آسمان اتم پیدا شو کبود فام

دَ ختهکو نیزے هسے تلے په نړغړه
لکه ستن په خیمه درومی دَخیام

دَ ختهکو نیزه باز و سور د توئے کړهٔ
دَ بنګښو دَ سور و فوځ تمام

ډیر ځوانان غازه غړئ شول په داجنګ کښے
که تقصیر نهٔ ؤو دَ تورو دَ سهام

صدر خان لاچیرے جنګ لیدلے نهٔ ؤو
په داجنګ ئے نیزه سره کړه په خصم

دَ شاهین مرغ چه والوزی له ځالے
په کاتهٔ کا نور و زانړیو ته پیغام

شجاعت دَ هوښیارانو بنائسته وی
بدجلب حبطه ؤمری بد لغام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَجهان بنادئ واړه دَ هغو دی
چه په حکم دَ یوهٔ لرې قیام

دَ کنبت ارمان مِ درست له دِله وُوَت
کهٔ شکست وُوکهٔ پرهار وُوکهٔ دُشنام

په بد بوئ دَ کشتکانو مزکه خسا شوه
چه ریز ریز شوهٔ په ډوډه کښے په حسام

عنایت سردار چه څهٔ ملک مبرے وُو
دَ ډوډے په جنګ شول مالګه دَ طعام

دَ بنګښ بخړه دَ پالے دَ چُوکے ده
نورِ ننباسی تُوره په نیام

څوک چه خپل کسب پریږدی بل کسب نیسی
ترهغهٔ نه به بل نهٔ وی عقل خام

کهٔ ګاوز په جنګ باتور دے جنګ ئے هیر دے
چه په سر وخوری څپیړه دَ ضیغام

کهٔ بنګښ څخه څهٔ ننګ وے پرے به نهٔ کړے
ما دَ دهٔ له ډکه باغه یو بادام

چه بے ننګه چارے کا په واړه و ورشه
لګه راغے په بنګښو دا هنګام

چه دَ فکر بدرقه ورسخه نهٔ وی
پخته کار به په لار نهٔ اَخلی یو ګام

دَ بنګښو شامت خپل سزائے دا ده
چه په غوبنوئ مړیږی دَ دو دام

هرکهتر چه دَ مهتر سره ستیزه کا
دَ عمل سزا به مومی په انجام

هسے غم الم ماتم وربانډِ راغے
رنړا ورځ شوه دَ کوهاټ په عالم شام

دَ کوهاټ په عالَم واړه عالم ډک شو
دَ بنګښو کډه لاړه تر بګرام

بد مذهب رافضی ډیر دی په بنګښ کښے
چه خبر نهٔ دی دَ شرع په احکام

ناسنت په مردکانو کښے هم ډیر وُو
په دا جنګ کښے چه عالم شو انعدام

بنګښ کله پښتانهٔ دی کوره څوک دی
نهٔ ئے ذات نهٔ ئے مذهب نهٔ ئے امام

دَ بنګښ له بده بویه به خلاص نهٔ وی
کهٔ په ملک کښے سړی وویني تمام

دَ بنګښ په زړهٔ کښے ډیره شیطانی ده
کهٔ په خولهٔ وتاته شیخ شی دَ بسطام

کهٔ مِ پښه په کُنبت وښوئیده څهٔ شو؟
په همت مِ ثابتی وه دَ اقدام

دَ ډوډه په جنګ کښے بیا دَ میوه ډک شو
په کُنبت کښے چه خالی وُو هغه جام

بسهٔ چه مخ دَ هغه سوبے رابسکارهٔ شو
چه لیدله مِ په خوب او په الهام

هغه کار چه تر سرورسیږی بخت دے
چه په زړهٔ کرځی په ویښه په منام

دَسړی مراد هاله ورشی په غیر کښے
چه راضی شی ذوالجلال والاکرام

تل تیره توره وهه کهٔ حکم نهٔ وی
یو ویښتهٔ به کنډوُنهٔ کا دَ اندام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ تری دی کۀ بولاق رحمت پرے باندِ
چه اول ئے خپل نشان په غونډئ لک کړ
د تیری د منډ هنډو بنه تنبه وه
شاهی بیګ مرزا دارو یوخوسوارۀ وُو
په داهسے وخت یو دوه ایسوړی نۀ وُو
شابی خیل کۀ مکوړی وُو په اولجه شول
عالم خان صاحب اولاد جمال الدین دے
شاهی بیګ ساغری په تن ملک میرے دے
په داجنګ کښے اولجے وشولے بے شمارہ
تورے زغرے کۀ لیندے وے کۀ درستے وے
شپږ اوۀ زرہ ختک وُو په داجنګ کښے
د کنبت جنګ م په ننګ د پښتانۀ وُو
یو په لس ورباندِ وشوہ یو په شل وہ
د دے جنګ نارے به د رومی په ملکونو
چه د دے سوبے آواز وشی په هند کښے
چه په نام پښتون غوڅیږی پرے خوښیږی
د اسد تحویل نږ ریونوی رجب وُو
په کاغذ کښلی خبرے پاتو کیږی
په سیالئ تُورے وهلے واړہ قام
په رحمت د اَنډروخیلو وُو ناکام
په دا کارکښے د یوسف په اهتمام
نۀ وُو نور د خوترے نمک حرام
نۀ خورم نۀ درویش خیل وُوبد فرجام
د خوترَ مو تنبے بنۀ وکړ خرام
په ساغری په بنګی خیل کښے د اکرام
ترشیرا اول د دۀ کړی کار تمام
د بنو جونو د آسونو د انعام
په وسلو سرہ معمور شو هرکدام
په اولجه سرہ خوشنود شو هرکدام
بل غرض م په منځ نۀ وُو نۀ مُرام
کۀ لښکر په ډډه کړے وے مقام
پرے خوښیږی به همه پښتون په نام
بیا به ژغ شی د بادشاه په خاص عام
اورنګ زیب هسے بادشاه دے د اسلام
په دریم د جنګ آغاز شو دا کلام
دا بیان په بیاض ځکه شو ارقام

په غلیم باندِ د هسے فتح تل وہ
لکه دا فتح چه وشوه والسّلام

د پښتون نه کِله اود مغل سره پتنه

بیاله کومه راپیدا شو دا بهار
چه په هرلوری ئے ملک کړ یو ګلزار
ارغوان دی ضمیران سوسن ریحان دی
یاسمن دی نسترن نرګس ګلنار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پسرلی کلونه ډیر په هر هر رنګ شته
ولے سرهٔ لاله دی لا پکښے اوخار

ښونه موتې موتې کل ښ دی په ګریوان کښے
د ځوانانو ګلدستے دی په دستار

مغنی په چغانه لیندۍ کښیږه ده
په نغمو په پردو وغواړه هر تار

ساقی راشه ډکے ډکے پیالے راکړه
چه د مے یو په مستۍ کښے شم سرشار

پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړئ
لکه باز منګلے سرے کا په خپل بنکار

سپینے تورے ئے ګلګونے کړے په وینو
په اها ړ کښے شګفته شو لاله زار

ایمل خان دریاخان دواړه مړک ئے نه وے
هیڅ تقصیر دواړو ونهٔ کړ وار په وار

د خیبر دره ئے سره کړله په وینو
په کړ په ئے هم ړوان کړ دند و کار

ترکړپه تر باجوړه سمے غرو نه
په لرړه په زلزله شول په بار بار

په هغه لوری چه کیږی پنځم کال دے
هره ورځ د سپینو تورو خرپهار

چه په دالوری نړۍ راغلم حبطه شوم
نړۍ مردار یم کهٔ داخلق دی مردار

په لښکر لښکر نارے شوم ورته ستړے
دا کانړۍ راته نه مهیرک وائی نهٔ څار

چه احوال د یوسفزیو را معلوم شو
لواغړ وماته بنهٔ وُو نهٔ د مغار

د ځتک سپی بهتر تر یوسف زیو
کهٔ ځتک دی هم په خوئ تر سپی بیکار

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ و آشکار

ګوره څو جنګونه و شو په هر لوری
ولے هیڅ د یوسفزیو نشته عار

اول جنګ د لوړے شا د تمتر و وُو
چه ځلوینت نړۍ مغل شول تار په تار

خو بندے لونړۍ ئے په بند د پښتنو شوے
آس اوښان هاتیان اولجه قطار قطار

دویم جنګ میرحسینی په دوابه کښے
چه ئے وتکیدهٔ سر لکه د مار

بیا له پسه د نوښهر د کوټ جنګ وُو
چه م وکیښ تر مغلو خپل خمار

بیاله پسه جسونت سنګه شجاعت خان وُو
چه ایمل ئے په ګندهاب ویوست د مار

شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښے تار په تار

چه ځما په یاد دی لوئے جنګونه دادی
د هلکو په هرلوری نشته شمار

همیشه فتح ونصرت دے لا تراوسه
پس له دا ده بیا تکیه په کرد کار

اورنګ زیب راته یو کال اوشوچه پروت دے
په صورت حیران پریشان په زړۍ افګار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کال په کال اُمرایان دی چه پریوُزی
چه طوفان شولے لښکرے کوم ئے شمار

خزانے دَهندوستان دی راخوړے شوے
سرهٔ مُهران دی ننوزی په کُهسار

دا دَهیچا په اَتلس فکره نهٔ وُو
چه به دا کار ونه شی په دا دیار

دَ بادشاه دَ بد نیتئ کمے نشته
په بد نیت ئے آزار واخست دَخپل پلار

خکه اوس دَچا باور وربانِدِ نشی
هم بد نیت دے هم بد قول هم مکار

بله هیڅ لیدله نهٔ شی په دا مینځ کښے
یا مغل دَمینځه ورک یا پښتون خوار

کهٔ گردش دَ آسمان دادے چه لیدهٔ شی
کهٔ دَخدائے رضا په دا وی راغے وار

آسمان هرکله پیرے یک رنگے نهٔ کا
گاه په کام دَکل جار وُوزی گاه په خار

په دا هسے وخت چه وخت دَنام ونَنگ دے
دا بے ننگه پښتانهٔ کا څهٔ رفتار

پښتانهٔ چه نورڅهٔ فکر کا ناپوه دی
بے دَ تورے خلاصے نشته په بل کار

ترمغلو پښتانهٔ په توره بنهٔ دی
کهٔ په پوهه پښتانهٔ وے څهٔ هوښیار

اولسونه چه سند و بله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندی اختیار

کهٔ نفاق کهٔ اتفاق کهٔ جهل پوهه
دَهرچا دَخدائے په لاس ده هره چار

افریدی مهمند شنواری گوره څهٔ کا
دَمغلو لښکر پروت په ننگرهار

زهٔ تنها پکښے په غم دَنام ونَنگ یم
یوسف زئی فراغت په کښت و کار

اوس چه هسے بے ننگی بے ناموسی کا
عاقبت به ورښکاره شی خپله چار

مرگ څما په پوهه بنهٔ تر داژوندون دے
دَعزت سره چه نهٔ وی زیست روزگار

همیشه به په جهان کښے ژوندون نهٔ وی
دَخوشحال ختک به پاتے شی یادگار

دَ دریے خور اول کال دَ غفور وُو
۱۰۸۶ھ
ماچه ووے په برمول کښے دا اشعار

په خیبر کښے دَ مغل شکست

چه دانا ترنادان لا وڑنی بتر
مگر نهٔ دے دا څروندون څهٔ معتبر

چه م فهم فکر وکړهٔ باور وکړه
په دا باغ کښے گل له خار دے برابر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه له کوموغرونو راغے چرته دروی
اباسین لاپه داهیڅ نهٔ دے خبر

د شلمان غرونه په دا کله خبر دی
په شلمان کښے چه زرګونه شول ډبر

نهٔ آسمان څنے خبر دے نهٔ دا مزکه
چه عالَم شو په طوفان زیر و زبر

په یوهٔ زمان کښے څهٔ قدرت ښکاره کا
څهٔ قادر دے توانا الله اکبر

مکافات د کوم ګناه د کوم شامت دے
چه ډبرد میر جمله شو درست تهبر

چه داهسے ئ پیرے کړے بنیاد دے
د فلک په سر کښے شته څهٔ شور وشر

نهٔ په ډیر ده نهٔ په لږ ده خدائے په کړهٔ ده
لږ لښکر په ډیر لښکر مومی ظفر

څه شنواری څهٔ مهمند څهٔ افریدی وُ
چه ئے مات کړد صوبے واړه لښکر

داطوفان چه په مغلو باندِ ساز شو
په ګشتن په اُلجو هیڅ مکړه نظر

کهٔ آسونه کهٔ فیلان کهٔ اسبابونه
په انبار انبار سپین زرؤ ویاسرهٔ زر

هغه ښے پرے پیکړے د پالکیو
هنګی پرے پورے لال و دُر ګوهر

په زرګونو پښتنو کړے ترڅان لاندِ
دا به څوک کا د مغل له زړهٔ بدر

داکینه به یو په سله تر اوباسی
کهٔ ئے لاس شی په جمله پښتانهٔ بَر

پښتنو څخه کهٔ شته څهٔ عقل پوهه
ایل یاغی دِ څنے کاندی اوس حذر

دامتل د زمانے دے څهٔ اوس نهٔ دے
چه نامرد خر په پالان وهی نهٔ خر

مستجاب مهمند کهٔ چرګه د مغل دے
زهٔ خوشحال خټک خوبازیم څائے مِ غر

د اورنګ زیب نه فریاد

هغه خدائے چه بندی کړے ئے د خوشحال
هم هغه به ئے خلاصے کا په هر حال

مهٔ منت د خویشکی میشکی باندِ بارشه
نهٔ منت د باقل زئ د بقال

نیستی واړه په نصیب د بیګ محمد شوه
بے ننګی واړه په بخړه د جلال

نام ونګ ناموس کهٔ داد افغانی وی
چه بنکاره ئے شو په دا دور احوال

اول مورد درست غوری په خرهٔ غوُولے
بیا د واړو پښتو څربی په د نبال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داناسازے چه په ماشوے چه په دوئ شوے
درو غژن یم که پرے نه شوے سرومال

که د سمے که دغرهٔ دی یوسف نړئ
همکی مزری دی مړئ وے نړوال

دخپل ځان صفت به نه کړم چه زهٔ څهٔ یم
لږوبر واړه سروباړه دی یاشغال

ما دَدوئ سړهٔ د ننګ پالنه بنسه نړده
که موعمرسره تیردے په قتال

دَحریف قدرحریف وته بنکارهٔ دے
بنیښه گرپه بنیښه گرزده کلال. کلال

قیمتی د قیمتی سره جوړیږی
په یوهٔ مزی پیئل شی دُر و لال

که ځما دَدوئ سند وبله یو شی
څوک د مورځویه لری د مخ مجال

که خوشحال ختک وار بیاموند په جهان کښے
خودبه وویني د دے چارے مآل

زهٔ له خپله خدایه خوښ له خپله قومه
په عزت دِ لری واړه ذوالجلال

هغه څوک چه د بدئ د معرکے دی
خجالت ورلره بس دَخپل افعال

که کفران ئے د نعمت په جهان کړے
خود به بیا مومی جزا دَخپل اعمال

دغه یوخوکالعدم دے په معنیٰ کښے
دغه بل د دجال خردے یا دجال

خجالت لره ئے خر وهی په گیډه
که سالے چارے کاندی غیر سال

خربه هیڅکله دآس برابر نهٔ شی
که دآس غوندِ پیدا کا سُم اوبال

منکیرک خو منکیرک دے بازبه نشی
که اوږده لری تریاز و پر وبال

د اوږو پیشوخو سازه کړی میُوڅوک کا
هوښیارا وُته بنکارهٔ دے دا مثال

خال وخط پرے حبطه ځان دَخندا کا
چه بد رنګه بنځه کښیږ دی په مخ خال

عاقبت هغه چیندخ په خوارئ خوارشی
چه واتهٔ کاله دریابه په جبال

حبشی دِ نوم په ځان دَهلال کیږ دی
په داتش نامهٔ به هیڅ نشی هلال

په سړ ند و ستړگو را نجهٔ زیبائی نهٔ کا
ناقابل دِ هوس نهٔ کا دَ اقبال

چه لوئ غواړے هُنر د لوئ نړده کړه
بے زینے دی په محل خاتهٔ محال

د سړی لوئ په رنګ په پساله نهٔ ده
په همت ده په هُنرده په خصال

نهٔ دَخلقو بدنامی نهٔ جام د نړو
نهٔ دَخلقو نیکنامی په لاس سفال

په داهسے رنګه کار به راضی نهٔ شول
که ئے فکر اندیښنه وے یومثقال

که ئے ځویه نمسی ماوے په کور کړی
دَعزت م به لاهم نهٔ ژوکیتال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که یوځوکا هه ژوندے وُم په دُنیا کښے
خود به ئے واوُرم دَمدو دَ باباحال

که څهٔ حق شته دَ نیکئ په جهان کښے
نا سپاس به گرفتارشی په نکال

نا وُزاد به ئے بنخیږی بے کفنه
په جهان کښے به رسوا گرځی کنگال

واړه هسے چارے کا چه پکار نهٔ وی
چه ئے پاسی زمانه په استیصال

ما پخپله په څان کړی دی دا چارے
چه مِ ورکړه وناا هلو دا مثال

چه همیش په یوه حال وی هغه خدائے دے
په سړیو باندِ تل نهٔ وی یو حال

که څهٔ په نحس طالع بند شوم عیب نشته
کله کله تندر هم نیسی هلال

څلویښت کاله مِ خوښه کامرانی وکړه
څهٔ شو چرخ که مخالف شو یونیم کال

نهٔ پرکیږی نهٔ فریاد کا نهٔ چیچل کا
هر هوښیار مرغهٔ چه لاندِ شی ترجال

وَتقدیر وته څان وسپاړی یکباره
راضی نهٔ وی په پرخاش او په جنجال

دَخدائے حکم چارے نهٔ دی بے حکمته
هیڅ دَدے خبرے نشته قیل و قال

خپلو ورونړو یوسفؑ واچوهٔ کوهی ته
مشرف شودے په جاه او په جلال

واړه چارے په قسمت په مشیت شی
باد په لاس دَ منجم دے دَ رمّال

دَهغهٔ چه زړهٔ محکم په توکل دے
نهٔ په خوب باندِ نظر کا نهٔ په فال

څهٔ یوازے په مانهٔ ده که ژوندے وی
اورنګ شاه بادشاه به د پیرکاندِ پائمال

دهٔ په لاس دَ بخت نصر ظلم واخست
زړهٔ دَدهٔ له لاسه بند لکه دا نیال

حق ناحق ئے چه څوک راشی په منګل کښے
خوار وی ئے غم ئے نهٔ وی دَ وبال

چه په پلار باندِ ئے نهٔ ده صرفه کړے
په نورچا ئے څهٔ صرفه څهٔ ئے اشکال

که ربستیا وایم دا هسے بادشاه نهٔ وی
واړه کار ئے دَ رهزن دے دَ داړه وال

یو په ظلم یو په مکر نورځوک نشته
که ځجاج وی که یزید وی دَدهٔ سیال

دَهغهٔ بادشاه به مونځ دَغاړے طوق شی
چه دے نهٔ لری دَ عدل اعتدال

نهٔ انصاف شته نهٔ تمیز نهٔ نور دَ عدل
په دربار ئے تاریکی ده غول و غال

امرکان ئے همکی دَدهٔ په رنګ دی
هر حیله دَ خپل کردار کا استعمال

چه په اصل په نسب ئے نظر وکړے
لږ په دیو کښے اصیل دی په ډیر هزال

دَګدائے له لاسه هم پوچک را نیسی
که په کور کښے ئے مهمان دی په جوال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سیّد میرا و میربا با دواړه حاضر دی — کهٔ دَ دے خبرے غواړے استدلال
دَ کابل صوبه خرابه هغه سنگ کړه — دابل سپے په بنارس کاندی دا چال
په دوران دَدے بادشاه هوښیار هغه دے — چه وطن کا په فرنګ په پرتګال
مقرب ئے فدائی عبدالقوی دے — چه تل کاندی دَ بدئ اشتغال
یوسفیه دَ ګجرات دَ دهٔ قاضی دے — چه دَدهٔ غوندِ به نهٔ وی بل هزال
په دربار کښے ئے عزت دَبل چا نشته — پیشکاران ئے دی بدذات او بدسګال
دَ نیکئ حکم دِیر په تأمل کا — دَ بدئ حکم کا په استعجال
اول دے بیائے دَانور دَ خدائے دپاړه — چه په پسه چاړهٔ واړه کړے حلال
په خوشحال باندِ خو وار دے دادے راغے — خدائے دِ درست جهان ساتی دَدے جیپال
په دا هسے حال هم شکر کړے بویه — کهٔ سر کال مِ کډه لاړه تر هنګال
په بل کال مِ ویړه شی لاړه دِ نهٔ شی — په ملکونو ترشوال او تر تور وال
پښتانهٔ لره منصب نهٔ دے غضب دے — چه تلاش دَ اضافو کا لاړے دال
کهٔ هزار کاندِ پښتون مغل به نهٔ شی — بویه داچه له زړهٔ وباسی داخیال
دَ هاتی دَ مزرې روغه کهٔ څوک غواړی — هیڅ دَدے خبرے نشته احتمال
پښتانهٔ لره شړئ اندیرے بنهٔ دی — نهٔ اغوستے دَ مغل دَ مجرے شال
ماوے زهٔ به دَ مغل په نوکرئ کښے — رکیبونه کړم دَ سرو دَ سپینو نال
په ناحق ئے څنځیرونه راپه پښو کړل — واه واه هسے نوازش هسے آمال
امرکان مِ په دربار کښے دِیر نیکخواه دی — په خاطر دَ سیّد میر دی واړه لال
آفرین دَ میرجمله په څویه باندِ — چه نن دے دے هیرښتی یه استقلال
کهٔ هزار تورے چاړے غشی وریږی — دهٔ حُما په سر نیولے دے حیل وال
کهٔ بادشاه کهٔ اُمرا حُما دپاړه — دَهرچا سره دَدے جواب سوال
بل میرخان دَخلیل خان څویه تلاش کا — بل دَ نیکو نیت لیدهٔ شی دَ کوتوال
چه په نیمه خولهٔ ئے کار کیږی دَخلقو — دَخلاصی مِ همیشه کاندی جدال
لا تراوسه کار موقوف په ارادے دے — کوره څهٔ دے لا دَدے چاړے مآل
چه له بخته یاری نهٔ وی په داڅهٔ شی — کهٔ جهان دِ نیک خواهی کا ماه وسال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د رنځور رحمت د خدائے په حکم دروی
په طبیب باندِ خوسعی ده کمال

مخ دِ تور د سیّد شمس شی د واړه لوریه
چه هر کوره بے بدل دے په تیټال

د خلاصئ خلل دهٔ کړ کړ په مینځ کښے
چه ئے کړ په ضامنئ کښے اهمال

که د بند او د زندان مشکل آسان شی
وار په وار به خدائے آسان کا کل اشکال

په څیله پسے کلو نه د بهار دی
په اهار پسے را درومی پشکال

چه په ژمی بناخ بُری وشی د ونے
په بهار کښے ئے لابنهٔ وی پروبال

لا به کله د خلاصئ زیرے وشی
چه بنادی م شی په اهل و په عیال

چه همیش په خوشحالئ آموخته وی
هغه زړه ونه دِ خدائے نهٔ لری ملال

انتظار د دے خبرے پیر عالم کا
ولے خوار خټک به واړه شی نهال

لا به کله هغه وخت هغه ساعت شی
چه به وینم د یارانو بنهٔ جمال

د هجران محنت به واړه فراموش شی
که بنادی را باندِ وشی د وصال

څوک به خاندی څوک ژړا کا څوک به آه کا
په هر څائے چه دا بیان بولی قوال

زر پنځه اویا کالونه د هجرت وُو
په آغاز د نوی کال شو دا مقال

د اورنګ زیب نه شکایت او د خپلے مړانے ستائینه

پرورده که د مغلو په نمک یم
د اورنګ له جوړه هم له غریوه ډک یم

په ناحق ئے په زندان کړم یوځو کاله
خدائے خبر دے که په خپل ګناه زهٔ شک یم

پښتنو سره زهٔ توردے د مغلو
خبردارئے په نیتونو یک په یک یم

که سره که نا سره راته معلوم دی
په دا کارکښے په معنیٰ لکه محک یم

یا زهٔ باز ووم یا شاهین شاه جهان ته
د اورنګ وته قارغهٔ یا منښکیرک یم

هغه زیست چه د عزت له مخه نهٔ وی
چه ئے کا په هغه زیست پورے هک پک یم

اورئے پورے په منصب په نوکرئ شه
چه ترفهم و ترنظر د مغل کک یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خپل نام ونګ چه راشم لیونے شم
خبردار کله په سود وزیان د لک یم

چه په طمع د اوړو زغلی وشست ته
ګمان مکړه چه هغه ناپوه سمک یم

ترقضا پورے د هیڅا حاجت نشته
اوکۀ نه ترزاړۀ ذئب لاریرک یم

وبینا و ته سوره مهر یم د نړو
په دلیل د نابینا لکه پوچک یم

هیڅ له قدرۀ م وګړے خبر نۀ دے
کۀ ربنتیا وایم د ستړګو مردمک یم

د چنبے ترګلو ډیر دے ځما قدر
وبے شناختو ته ګل د پنیرک یم

لکه باز په لوئے لوئے بنکار ځما نظر دے
نۀ چه ګرځۍ ګونګټ نیسی بادخورک یم

چه په غوښوئے روزګار هغه مزے یم
نه چه ولے د وښو خوری هغه مڼک یم

په دا سپینه ږیره شرم عزت بنۀ دے
څۀ به نورے چارے کړم منګرخورک یم

کۀ عالَم راته کُن تاؤ کا غم م نشته
په ربنتیا ویل د ډیرو پُول پُولک یم

په دانش په شعور نۀ ده په قسمت ده
چه داهسے سړګردان لکه پټک یم

هر پښتون چه د مغلو نوکری کا
کۀ د ډنرده د هغے واړه و بهترک یم

چه منصب م د مغل خوړ یو ملِک وُم
چه منصب د مغل نشته اوس مَلک یم

د فرمان د پروانے حکم ئے نشته
شکر دا چه په خپل حکم په خپل وک یم

نۀ م کار په خاص وعام نۀ په دیوان دے
نۀ په در ولاړ د هر یوۀ مردک یم

نۀ تصدیق شته نۀ یاداشت شته نه توجیه
نۀ په فکرد سند نۀ د دستک یم

هر کیدی به چه له ما سرکوزی غوښته
د هغۀ د سر یا تُوره یا کوتک یم

کۀ په بد و باندِ شُوم شوم زۀ ئے څۀ کړم
لکه بنۀ ستوره په اصل مُبارک یم

هر ساعت ړ باندِ عید د استغنا دے
کۀ په نور عالم ژړا زۀ په خرسک یم

پښتانۀ لره شړئ اندیرے بس دی
نۀ په فکرد مسند نۀ د توشک یم

آزادی ده په ساده سپینه جامه کښے
خلاص له غمه د زربفت اود میدک یم

د وښو جونګړئ هسے راته ښے شوے
وائے ناست په محلونو د آشک یم

کۀ اوګوره د بټوشته په شلمبو سپینه
د مغلو پولاډ پاتو ډیر ږیرے پک یم

چه نیولے م دا هوډ د ننګ ونام دے
کۀ لۀ خپله هوډه واوړم کنیزک یم

په بل غشی توپک هیڅ ویشتلے نۀ یم
کۀ ویشتلے یم خو بیا په خپل توپک یم

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه شهپر م بتې خیل ډوکند کپر شول
پروا دار په لنډو پرونو د بارک یم

د کریز بنډې م توئے لکه بانړ کړے
ګمان مه کړه چه بے پرونو بنا پیرک یم

سکه سړونړه م تری دی حال ئے دا دے
که بولا قو نه لالړے یو څپک یم

په دروغ دروغ وعدې نفاق آمیزے
ماغلوی ورته په مثل د کودک یم

تف په ډیره د همه واړه بارکو
لاځما په ښیره هم که نړۀ بارک یم

که څۀ حق یا د وروړئ یا د ننګئ شته
نړۀ خو بیا د صبا کئ انا خښتک یم

مهمندی ځما د کړے لاس و پښے دی
ګاندۀ بیا د خدائے وحکم وته څک یم

پیرچینے چه تراوش وکا دریاب شی
نړۀ یوازے په تکیه د رخدائے شیرک یم

کرلانړی سړبنی څو پښتانۀ دی
وپاداش وته په طمع د هر یک یم

د هرچا سره چه کښینی هم هغه شی
راضی مند د افریدیو په کومک یم

چه داهسے رنګ ځما په سیله ګرځی
چه لیدۀ شم اوس خودایم یو بولک یم

که لا په کار د سوارئ لکه اوزبک یم
نړۀ د ننګ په کارله واړه ومشترک یم

د افغان په ننګ م وتړله تورۀ
اوس م نیمه ژبه خوښه شوه شیتک یم

ننګیالے د زمانے خوشحال ختک یم
منت دار په ګرځید نه د فلک یم

د مغل په بند کښے د ارمانی زړۀ فریاد

زمانے له بنو یارانو نه مهجور کړم
څۀ بلائے مبتلا په پیر ضرور کړم

د بنړو اوښکے م پاسه پرے تاړونه
بیلتانۀ په تن په مثل د طنبور کړم

اوس په ما د خوشحالئ نوم جوړنۀ دے
چه داهسے زمانے له غمه پور کړم

ماوے ترڅ به سره وچوم له غمونو
ولے لا تراوسه پایم خدائے صبور کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نورۀ واړه پښتونخوا په ځای میشته ده
خو یوزۀ دے زمانے پکښے منصور کړم

اشرف خان په ناپوهۍ په غم کښے ونښت
نړۀ ډډۀ غمونولا په زړۀ رنځور کړم

جُدائی د صدرخان لکه سُورا ور وُو
که د واړۀ فرزندانو غم چُور چُور کړم

سل تنږے مے هر آه سره په نړۀ شی
په دړون نے لکه وږے ډ انګور کړم

هغه وخت مګر د خدائے په وعده راشی
چه به بیا د خیلخانے سرۀ سرور کړم

ډهر مخ خالونه داغ ځما د نړۀ دے
نړۀ حیران نے یا دول په کوم دستور کړم

دا ارمان مے هیڅ ارمان سره سم نۀ دے
که په زړۀ کښے ارمانونه نا محصور کړم

مرګه هومره مهلت راکړه په جهان کښے
چه جمدر د مدعی په وینو سُور کړم

چه مے اوس له لاسه اووے آسمان شوے
د هغو خبرو څۀ لره مذکور کړم

کۀ ئے درست د متو نړور را ته بنکاره کړ
بیا فلک سره کُشتی په خپل دستور کړم

نۀ به بیا په غاړه کښیږدم د ننګ تُوره
نۀ به بیا په قوم کښے کښینم نۀ به هور کړم

عجب مار مے جار وتلے تر دوُو پښو دے
مګر لوئے پاړۀ پیدا شی چه ئے دور کړم

مست ها تیان خونی مزری په زنځیر کیږی
بویه داچه ځان فلک وته تر بور کړم

په خپل آه مے باورشته اثر به وُ کا
رقیبان به اورلړونی د تنور کړم

یو دوه سرے مار مے پروت په دواړو پښو دے
په دیدن نے له نشاطه نه نفور کړم

پاړۀ وکان د پښور واړۀ ناقص وُو
دایم هند لره روان شوم کۀ ئے دور کړم

چه مے فکر د ازل په تُوره وشی
په دا کار کښے خپل پردی واړۀ معذور کړم

دا بیان مے د عفد په کال ویلے
په شعبان چه د لاهور په سیند عبور کړم

۱۰۷۳ھ

واړه خلق د خوشحال په پت ولاړدی
بخته تا له کومه لوریه راحضور کړم

مغل د پاړۀ خدمتونه او د مغلو په خوشحال ظلمونه

راته درست د دهلی بنار وُو بوستان
چه پکښے وُو باز باقی سعادت خان

په هغۀ زمان چه دوئی له ماروان شول
بلا سخت یم چه ئے نۀ مرم په هجران

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د دیو د دیدنه نه محرومِ شوم
که زۀ ربنتیا وایم زۀ اوس شوم په زندان

خیلخانه مِ لکه باغ زۀ ئے باغوان وُم
څۀ عجب وبله جوړوُو باغ باغوان

زمانه چه باغ باغوان وبله بیل کا
دا بیلتون په دواړۀ توکه دے خریزان

چه یوکل دَ هغه باغ وینی په ستړکو
په باغوان باندِ بنادی وی هر زمان

د مجنون څهره تصویر په کاغذ کوره
زۀ هم هسے هډو پوست یم استخوان

په جهان کښے هر څوک یوځله په مړک مری
زۀ بے مړک مرم نۀ یوځل زمان زمان

په ناحق د اورنګ زیب په بند بندی یم
خدائے خبردے په تهمت او په بهتان

زۀ په څان کښے ګناه نۀ وینم په خدائیکو
ولے نور خلق خبرے کا شان شان

د ګناه مِ سر رشته نۀ ده معلومه
مګر خپل هُنر د څان وینم تاوان

لکه زۀ وُم په راستئ په درستئ کښے
د مغل په خدمت نۀ وُو بل افغان

بادشاهانو لره ترس د زړۀ بایدۀ دے
مروت، غورسی، عدل و احسان

څوک به چا لره په داد او په فریاد ځی
چه په ظلم راضی من شول بادشاهان

چه څما په خیلخانه نه په ولس وشول
وِد نۀ شی په هندو په مُسلمان

چه د خپل پردی تمیز ورباندِ ورک شو
بادشاهان د خپل دولت کاندی نقصان

اورنګ شاه بادشاه که تل کا هسے چاړے
لکه اوس ئے په لاس و نیوے امان

یا سر کال یا په بل کال به خلق واوړی
چه جویونه شی د سرو وینو روان

زۀ لاځۀ یم نور به هم څما په رنګ کا
څوخانان دی نوم په نوم د کوهستان

چه زړۀ سوے په پلار په څویه باندِ نۀ کا
د هغۀ به څۀ صرفه وی په جهان

له غروره هسے مست بے خوده لاړ دے
چه نظرئے هورے پاس دے په آسمان

د داد خواه څواب کو تئ یا کوتک دے
په دربار چه ئے غوغا کا داد خواهان

وبه نۀ وائی چه ولے دادِ څۀ کړل
که په ملک ئے قتل عام کاندی خانان

نۀ یوحرف د صوبه دار نه شل محضره
چه رقوم ئے په خپل مهر کا قاضیان

رفتګی بډے رشوت حمایت بویه
که څوک غواړی د خپل کار سر و سامان

د هرچا څخه چه داخویونه نۀ وی
په دربار به سرګشته ګرځی حیران

طبیبانو ته هیڅ مۀ وایه خوشحاله
قادر خدائے به وکا ستا د درد درمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په قندهار جنګ او نتیجه ئے قحط سالی

بیا دِ څهٔ فتنے آغاز ے کړے آسمانه
چه عباس دِ راروان کړله ایرانه

شاه جهان لا په اندوه دَ ترکستان وُو
تا ناګاهه بله چارکړه ورعیانه

منصوبے دِ هومره نهٔ دی چه ئے شمارشی
هئے توبه توبه له تا ستاله دورانه

کله کله ستا فتنے لا په څهٔ رنګ وے
ولے داځلے سوکړے نهٔ کړے ودانه

یو سختی او سرنځوری دِ په ملک زورکړه
بل دِ بر برکت واخست له جهانه

درپوهیږم چه هغه دِ لا په یاد دی
چه خلاص شوی وُو دا وارے له طوفانه

څوهمه واړه کسکر وبله نهٔ کړے
خوابه ستا نشی سړه په یوځوخانه

دَ کابل میوے خوراک دی دَ طوطیانو
پرے خوارهٔ شول تورقارغان له هندوستانه

یو شدت دَ بادشاهانو ترمینځ پریوت
بل دا ملک شو یوځوکاله بے بارانه

دَ آوی څښتن دُعا کړی چه نرخ کران کړے
للمی کار په زړهٔ پریشان مینه ویرانه

غَه سړی چه به په زور میلمانهٔ غوښتل
اوس سرپټ کاندی تیر یږی ترمهمانه

ما په عمر هسے کار لیدلے نهٔ وُو له چانه
نهٔ م کله آوریدلے وُو له چانه

چه پسر له لوبړے مری پدرئے کوړی
دَ پسرانډ وهٔ ئے نهٔ وی بے له ځانه

هندوستان به ګوره څهٔ شی ستاله فعله
خدائے دِ ورک کړه را فضی علی مردانه

له هغے ورځے چه راغلے په دا ملک کښے
غم دِ راوړ ترسپاهه تر دهقانه

چه دا هسے شوم قدم دِ په ملک کړ
چه دِ ګورم څهٔ ناپوهئے شاه جهانه

کهٔ دا ملک له اولیاؤ نه خالی وے
په دا ملک به تر دکن پیښه وه ګرانه

کهٔ دِ حکم دَ عالم دَ ورانئ نهٔ وی
رزق دَ هرچا وړکوه دَ رزق ضمانه

خوشحال تل شکر وکاږی خوښ له تادے
تا په دهٔ له هرهٔ توکه کړهٔ پریوانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د فلک ستمونه

او د پښتون د بې وفایئ نه فریادونه

خبرمهٔ شے د فلک په ستمونه
په خاطر کښے لرم څورنګه غمونه

چه هميش به ئے سر پروت ځما په پښوړو
اوس هغه ځما په سرښ دی قدمونه

چه به تل ځما کرم ته په اُميد وُو
باړوی په ما منت په کرمونه

چه ځما په مرهم روغ په دُنيا پائی
هم هغه خاندی ځما په مرهمونه

زهٔ ئے چالره وهم قدرئے چا نه ده
په اوروسيزه دا تورے قلمونه

څهٔ يوازے ننګ په ما راغلے نهٔ دے
پښتانهٔ پير دی په غرونه په سمونه

يا به واړه د مغلو درم پريږدی
يا به زهٔ هم په لاس واخلم درمونه

چه ښورړ اخوری د مغلو واړه سپی دی
د سکانو په خولهٔ څهٔ اخلم نومونه

کهٔ څنګ دی کهٔ بنګښ دی کهٔ ورکزی دی
وار په وار ئے په کور اوشه ماتمونه

يا م خپل قهرارمان ترهر چا وکښے
يا م پريښوے دا د ننګ شيمونه

له پرديونه به څهٔ لره مانړهٔ کړم
چه خپل هم راباندِ باسی اړهمونه

ناخلف څويه د چا کړه لوئے مهٔ شه
چه و پلار وته کندی کا قسمونه

هسے څويه م نهٔ وليدل په پير کښے
چه په مخ کښے ئے دا ورځی علمونه

چه شاعر په خپل غلط فکر خبر شی
پرے څکوی د غلطئ رقمونه

چه ځما سره ئے کا پورے حيران يم
خپل پردی فن او فنون سحر دمونه

کور به هم په ژړا سر کړم کهٔ ئے ورورم
زهٔ خو شحال د زهٔ دا هومره اَ لمونه

مشران او ځان ستائيل او خيلخانے نه فرياد

راشه واوره دا دستان نيک وبد پکښے بيان !

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم عبرت هم نصیحت دے — پرے دِ پوهه شی دانایان
زهٔ خوشحال دَشهبازخان یم — چه تورزن یم کان په کان
شهبازخان دَیحیٰی خان وُو — چه بل نهٔ وُو هسے ځوان
یحیٰی خان دَ اکوړی وُو — چه په توره شو سلطان
هم په توره مَړنے وُو — تیرانداز وُو شخ کمان
چه غلیم به ئے پیدا شو — زرئے ځلئے وُو کورستان
هم ئے تیغ وُو هم ئے دیګ وُو — هم ئے خُلق وُو هم احسان
په هغه ستوری پیدا وُو — هم پرے زیږی بادشاهان
لا پیدا په جهان نهٔ وُو — پرے خبر وُو درویشان
دَ اکبر بادشاه په دور — شودَ خپل اُولس تورخان
چه له دهٔ سره به ناست وُو — هغه واړه وُو شیران
همت ناک باسل باذل وُو — په هر کار کښے صادقان
ګورته رنګ په وینو لاړل — چه همه وُو سرداران
قبیله شوه سره ډیره — اکثر بنهٔ لائق ځوانان
متفق په هره چاره — نوم ناموس په واړه وګړن
دَ هجرت زر دوه ویشت سن وُو — چه زهٔ راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس وُو — چه شهید شو شهبازخان
دَهغهٔ دور بادشاه وُو — قدردان شاهِ جهان
دَ پلار ځائے وما راکړ — په اولس شوم حکمران
کهٔ دَتورے کهٔ دَ ورکړے — هیڅ مِ پرے نهٔ ښی ارمان
لکه خرڅ مِ دَ بابا وُو — ځما لا وُو دوچندان
واړه دیرش زره خټک دی — درست ځما وُو په فرمان
په لښکر به ځما خرڅ وُو — یا مِ خرڅ وُو په مهمان
کهٔ ځما کره به سل وُو — زر به تلهٔ په خاندان
درست خټک ځما په دور — نامور شو په دوران

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که څنګ په مزکه پروت وُو پاس م یووړ په آسمان
که څه عیش که عشرت وُو زړه م سوړ کړ په هرشان
که اَسونه که باړونه ګشت د باغ او د بوستان
زر وماته هسې خوار وُو لکه خاوړے د بیابان
نهٔ زکوٰة په ما واجب شو په درست عمر نهٔ قربان
چه ئے خپل عزت پکار وی زر به خوارکا هغه څوان
تر اورنګ بادشاه م ویوست تاؤ د بند او د زندان
نقش م کښیناوهٔ د تورے په هندو په مُسلمان
د خپل ځان صفت به څه کړم مګر نورئے کا بیان
بنے بنے ناوے په کور راغلے پلار نیکهٔ خانان میران
د اویا کالونو اوس یم په دا ماهِ رمضان
کال زر یو نوی هجرت دے هم تحویل دے د میزان
واړهٔ دیرش څویه لرمه اوس حاضر په دا آوان
چه په عُمر شوم اطلس د شباب په عنفوان
راکړه راغله جینئ پلار نیکهٔ ئے بد ذاتان
بل هُنر کسب ئے نهٔ وُو سفیهان وُو پاده بان
بد سرشت په څو کرسئ احمقان په خوئ د دان
سَګه پلار په تیغ وژلے هم د رونړو قاتلان
په خپل کور کښے سره وژنه تل نفاق شدت ترمیان
نهٔ په شرم پوهیدلی نهٔ په دین نهٔ په ایمان
خپل قسمت کړه راترغاړه د دے هسے خاندان
مشران څویه م واړه خدائے له دے نه کړل حیان
څهٔ بلا ده چه راتله به دا څما په شبستان
خپل بابا کړه راترغاړه د دے هسے خاندان
د دے هسے به څهٔ حال وی چه دا شان لری نیکان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړهٔ خوږ په یوهٔ نهٔ شو — خوږ د زړهٔ دی خوږ دځان
واړه یو تربل اَخته دی — په خپل کور کښے جنګ جویان
یو وَ پلار نیکهٔ ته نهٔ شو — همکی د مور په شان
په سپلمئ په کنډیری کښے — کهٔ پیوند شی تاک رمان
په میوه بهٔ خوږ نهٔ شی — دَچا کام د چا دهسان
څهٔ بے ځایه تربیت وُو — چه به ماکاوهٔ ارمان
چه په بد بوټی محنت کا — غرامت دے په باغوان
نهٔ ئے ننګ شته نهٔ ئے شرم — څهٔ نابود دی دا سکان
زهٔ غلیم د اورنګ زیب یم — سر په غړهٔ په بیابان
زهٔ په ننګ د پښتانهٔ یم — دوئ نیولی مغلان
لکه سپی هسے جار وُوزی — د مغل په آش و نان
د منصب په اِضافو دی — تل په ما پسے روان
ځما لاس وربانډِ رسی — را واهۀ نهٔ شی خپل ځان
په دا هومره رسوایئ — بیا بدمهٔ کنړه خپل ځان
چه ئے پلار سره غلیم وی — هم هغه ئے زړهٔ او ځان
چه په واړه وکښے اَرشد دے — نن یادیږی اشرفخان
د مور پلار نیکهٔ ته نهٔ دے — دا ناکس دے لا بل شان
په زړوندون مِ خپل ځلئے ورکړ — بانډِ زړهٔ شوم مهربان
زړئے ټول کړل په لکو نو — طبیلے ئے عراقیان
لوئے ځما په نوم په تُوره — خواړه وی مِ فرزندان
د خپل ځان په شیرازئ دی — تار په تار برادران
بد خواهانو سره خاندی — په زړهٔ چوی نیک خواهان
بنهٔ کار ونه چه ځما وُو — یا ځما د دود مان
یو په دهٔ کښے پیدا نهٔ شو — ورته خلق دی حیران
کهٔ ئے بولم ګلستان ته — بانډِ اور دے ګلستان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د کونکټ اغندِ جار وُوزی — په سرکین او په کودان
دے نامرد له نامردئ — تل له ورونړو نه ترسان
د کلونو په پټې کښے — کَرَه ځان ته خارستان
بنهٔ لائق خُویه مِ نور دی — ولے خدائے کړل کشران
زرین د زړو په خرهٔ پروت دے — په بنهٔ اَس باندِ پالان
قسمت کاندی خپلے چارے — نهٔ علاج شته نهٔ درمان
تربیت ځما په دهٔ وُو — په بنوره باندِ باران
کهٔ مِ ولوستل و دهٔ ته — کتابونه د لقمان
نهٔ اثر وربانده وشو — نهٔ ئے ځائے شول په جنان
د پند اور په سوخته لگی — نهٔ د پشم په ریسمان
کهٔ سرود ورته آغاز کړے — سرود څهٔ اَوری کران
آئینه کهٔ ورته کښیږدے — په کښے څهٔ کوری کوران
له قرآنه کهٔ ویل کړے — خوانکار کا کافران
حمیده به پکښے لږ وی — ذمیمه چندان چندان
لکه دے دے په حسد کښے — بل به نهٔ وی هیڅ انسان
سرتر پایه وهم ویره — په خپل خُویه بدگمان
د مردئ په کاروبار کښے — ترڅنانو شَه قربان
ترڅلویښت کالو نه تیر شول — باندِ څرخ نهٔ شو پیکان
په هرځائے چه په جنگ پیښ شی — تل ئے تیښته په میدان
مرصّع تُوره تر ملا کا — تیزی بنهٔ بنهٔ عراقیان
نهٔ ئے تُوره چرته سره کړه — نهٔ ئے خوږ شو برگستوان
کهٔ په کور لری لکونه — څنے شُوم دروی مهمان
کهٔ څهٔ لږ و ډیرئے خرڅ شته — په هزّال په قلتبان
د دُنیا په حساب تللے — همیشه لکه هندوان
ذکر فکرئے د زړو — تولوی روپئ مهران

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شُوم منحوس لئیم سفله دے — مصاحب ئے همچنان
خائے د مرد ورځخه نشته — ورته ناست دی نامردان
څان ستایه په ډیرو زړو — نادار بوله خپل بزرگان
شُوم مکار محیل بے شرم — ډیرویونکی بد زبان
د بزرگئ په کار خبر نه — په زور کړه د بزرگئ شان
برآمد ویل پرے اور دے — خوشامد باندِ ریحان
څنے زشت کارونه نور دی — څئے اخلم په زبان
یاخودے مهُ وے له مانه — یانړهٔ مهُ وے په جهان
چه څماځهٔ بندوبست وُو — دهٔ بد بخت کړو واړه وران
هنګامه ده لا په منځ کښے — د مغل او د افغان
نړهٔ په نقش د خپل چارے — کهٔ څهٔ شی سروسامان
دے په وهم په وسواس کښے — تل له ما دے هر اسان
خپل شامت د بد فعلئ — ورته ناست په هر مکان
چه څما سره څوک ټول شی — د دهٔ نړهٔ شی نور لړزان
چه څما د لښکر غږ شی — اوبهٔ کیږی د دهٔ څان
نړهٔ په لویو اندیښنو کښے — دے په کور کښے دے غران
چه دا دوه کار ه خوښیږی — دا احمق سفله نادان
چه څما سره څوک نهٔ وی — بل چه سوړئ وی دیګدان
څما څویه له ما نیسی — اقربا ، برادران
ومغلو ته مجرا کا — چه خپل پلار م کړدا شان
نړهٔ د دهٔ په کار خندان یم — دے څما په کار خندان
چه څما له غمه واوړی — بے حسابه شی شادان
چه څما سره بدی کا — پرے رحمت کا مغلان
په چمته کښے لوئے غرځائے کا — په کونړه کښے ږدی عمّان
دے لا هرځهٔ ورته وائی — ورسره شی فارسی خوان

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ مغل په زور ئے لاندِ — ځُما ملک کړو درست ترځان
نهٔ ئے مال وماته پریښو — نهٔ نوکر نهٔ غلامان
نهٔ په ملکیم نهٔ په نور څهٔ — خپل عزت دے په ما گران
خدائے ئے خوار په دین دُنیا کا — دَ عزت مِ کا نقصان
خُنے سپی ئے را پسے کړل — په ټیری کښے بد دهان
چه ناپوهے په خپل ځان کا — هسے نهٔ کا دښمنان
رسوائی شوه ترمنځ پیښه — نهٔ څهٔ ورک نهٔ ئے څهٔ زیان
دَ سزا په سنگے مات کړ — دَ همه واړو دندان
نظام پور لره اَس راغلم — دغه گوئے دغه میدان
چه مِ وار وربانډ ساز شی — بیا راوړاندِ کا دوستان
وار دَ هرے چارے تیر شو — فکر لوئے دے دارمان
هرچه وی هغه به وشی — څو لاحول په شیطان
قافیه شوه سره تنگه — دَ زغملو نشته توان
اوس همه چارے تر شا شوے — خو هم دامهم ترمیان
حماقت ئے لکه اور شو — ځُما زړهٔ ئے کړ بریان
چه اساس دَ تُورے کښیږدم — دا نامردے کا غلطان
چه ځُما کره پیدا شو — څهٔ آفت دے دَ آسمان
نن به هیڅوک هسے نهٔ وی — لکه زهٔ په زړهٔ پریشان
کهٔ کښینم نام وناموس څی — کهٔ پاځم پاځی طوفان
په دے کش مکش کښے تیر شو — په ما عمر رائیگان
پښتنو وکړے گټنے — ځُما کور دا هسے وران
دَ یوهٔ سړی شامت دے — چه خوار یږی درست جهان
دَ گټنے وخت تیریږی — واویلا افغان افغان
ځوانی لاړه پیری راغله — په پسرلی راغے خزان
چه به ما وربانډِ مت کړهٔ — مشکل کار به شو آسان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دا کار باندِم مت دے کهٔ آسان ئے کا سبحان
مفاجات دِ ئے نصیب شی یائے تور مار جانستان
چه هیڅوک پرے بدنام نشی هسے کور ته شی روان
لکه عاق دے عاق دِ دروی
دین دُنیا دواړه خُسران

دَخپلے مړانے ستائِنه اوځان ته داډکیږنه

POHA

چه په خوا په خاطرنهٔ هسے عیان شی خُنځهٔ چارے پیدا په داجهان شی
په لاچئ په څو تره وګرځید لم اوس مِ گشت دَ افریدیو په میدان شی
لکه باز په یوهٔ غړهٔ گرځی بل گوری بیا څما نظر د سوات په کوهستان شی
دَمغل منصبِم پریښو هسے خوښ یم لکه خلاص دَلویه بنده بندیوان شی
دا نادره عقیده لکه څما ده لا عجب کهٔ بل پیدا هسے افغان شی
کهٔ مِ چیرے ننګیالی په لاسو کښیوزی پرے به لرے داځما دَ زړهٔ ارمان شی
ومغل وته به هسے کار بنکاړه کړم چه راضی راڅخه روح دَ فریدخان شی
په اَعُوذُ به ئے فتح کړم کهٔ خدائے کا په دا کار کښے کهٔ څوک ما وته شیطان شی
په هرکار چه همت وتړی له دِله کهٔ اغزی وی هغه کار وته ریحان شی
کهٔ فرښته وی بے بدئ به پاتے نهٔ وی چه قرین ورسره هرکله بدان شی
چه ئے خپله پوهه نهٔ وی بنهٔ هغه دے چه دَ بل سړی په پند پسے روان شی
هیڅ بهبود خبره وانهٔ وړے له چانه بیهوده خبرے پرے تر دا میان شی
زړهٔ به نن غرض وګاندے ته پرے نږدم کهٔ دَګاندے دَ ژوندون سړے ضمان شی
چه خندا په خوب کښے وویني وژاړے دَنادانو یاری سودګنړے دا زیان شی
په یوه بڼی وسوځی درست کلے په یوه خبره لاړ واړه ایمان شی
ساقی نن څما په دورجام ګردان کړه ګورهٔ ګاندے به دَچا دَ وګردان شی
اورنګ زیب بادشاه زړهٔ دِک په لاهور راغے ګورهٔ ګاندے به څوک وران څوک به ودان شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که کښت لره باران او باد پکار دے
دَ عالم ټولے په خلق په احسان شی

دَ رومه هیڅ دَ میاشت دَ کال خبرے مکړه
هره ورځ پیرے خوشانه دَ آسمان شی

پیر وتاوته ننه لاڅے دَ یارئ کا
کانده ستا و سرته کښینی غلیمان شی

په جهان دَ ننګیالی دی دا دوه کار دی
یا به اوخوری ککړئ یا به کامران شی

دَ باران و نور دَ کار کا نو مصاف وینم
تر دا مینځ به ئے دَ وینو رودونه روان شی

عاقبت به خدائے ظفر کا دَ باران نو
تار په تار به آواره واړه کارکان شی

چه وکارته ئے حیران دی داخو لږ دی
پیر عالم به وخوشحال وته حیران شی

چه په داغ باندِ ئے ږدے څۀ خوښ به ږدے
نور به کوم دَ لیونی پلے سامان شی

دَ مزرعو مړ نتوب په لښکر نۀ وی
مټه ئے هرکله یوازے په خپل ځان شی

آزادی تر بادشاهئ لا تیرے کا
چه دَ بل ترحکم لاندِ شی ژوندان شی

چه په څۀ دِ ږهۀ مشغول شی هغه واړه
په سلوک کښے ستا دَ لارے رهزنان شی

دَ خپلو ځامنو نه فریاد

ناخلف ږم حواله کړ په تقدیر
نصیحت ورباندِ نۀ کا ندی تاثیر

خوئ خصلت چه ازلی وی نۀ نوریږی
په اِرشاد او په تلقین دَ کامل پیر

بد فرزند دِ خدائے دَهیڅ پیدا نۀ کا
په خصلت ئے پلار په ځان وی مور په ویر

چه نصیب دَ بولهب ډونور څۀ نۀ شو
محمّد کۀ نصیحت کړ یا تد بیر

عیسیٰؑ یو نادان هوښیار نۀ کړ په عمر
کۀ پاندۀ ئے په نفس شول پیر بصیر

محمّدؐ دَ ابوجهل خوئ نور نۀ کړ
نۀ خصلت دَ بولهب بیا موند تغیر

وهوښیار ته دَ ناپوهه عقل خنظل دے
ونادان ته خپله پوهه شهد وشیر

چه بد خوئ په چا کښے کښینی نور عادت شی
عادت نۀ دے رومی له شخصه په تعزیر

یو زمان به خالی نۀ وی له عذابه
چه خپل خوئ شی وسړی وته سعیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کڅ سرائے دَکارروانونو تل پائمال وی
په نادان دخپله پوهه غم بهیر

دَنا اهل سړی کار دَجاهل کوم دے
چه مهمل ئے عبارت خالی تفسیر

دَنا قصے پوهے پدل پکار نۀ دے
دَ دانا فکر خطر لری خطیر

یوجهان هسے کړوپه ماته بیړئ
چه مغل پښتون په غم وبله خیر

بل م څو یه نالائق خیلخانه ورانه
نړۀ په نړۀ له نړملنے هسے دنګیر

درسته مُوخه تیر انداز سړے خطا کا
دَ ټکئ په سر دَ اوړکی لګی تیر

واړه زړونه په دانش سره سم نۀ دی
دَچا نړۀ لکه دریاب دَچا غدیر

په نری آواز په تراه له هرڅۀ دروی
ذهو بنیار سړی به کار وی دَ نخچیر

تفاوت دَ هر وجود لکه مرغونه
یوهمائے شو یو قارغۀ شو بل تجیر

دَ کوتاه تر وني نۀ رسی لاسونه
بیا دَ ونو دَ میوو کا ندی تفسیر

په هُنر دَهنرمند پیچمے ناخوال کا
بے هُنر چه په هُنر نۀ وی خبیر

کشکے دا دعوٰی عالم کا ندی منظوره
چه سهار پاڅی دَ نمر کا ندی تحقیر

په صابن و لله زړګے دَهغه کس دے
چه په زړۀ کښے ئے نفاق نۀ وی تزویر

چه په هسے نړۀ به ګرد غبار پریباسی
مکانات ئے لاس په لاس شی دمشکیر

زمانه دَ ربابی دَ لاس رباب ده
هر زمان نوے نغمے دَ بم و زیر

چه په خوا په خاطر نۀ وی را پیدا شی
په لحظه لحظه کښے چارے دَ تاثیر

په لحظه لحظه احوال دَجهان نور شی
دَ صبا دَ چارے ذکر په ضمیر

هره ورځ دَ نړملنے احوال بدلیږی
هره شپه نوی خوبونه نور تعبیر

په ساعت کښے رنګ وخوند دَچارے نور شی
وینه پئ شی پئ شلومے شلومے پنیر

فراغت دِ مُبارک شی دَ ګیدړو
دَ مزری دَ غارے بخره دے زنځیر

باد باران ساړۀ غارمۀ لره پکار شی
عاقلان چه مشقت کا په تعمیر

یائے ځائے په سر دروچه لیدۀ نشی
دَ مزریو یا وژل دی یا نړ نخیر

چه بزلئ دَ دهقان په تول شی سازه
په زړۀ پیر له دهقانئ شی نړهیر

دَ دولت دَ ناوے مهر ککړئ ده
پلوغوټے دُنیا ده واړه خیر

بے دولت چه له دولته نه محروم دے
دائے واړه په همت کښے دَ تقصیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عاقبت د نا قابل دولت برباد وی
په طالع کۀ یا امیر شی یا وزیر

کله څرخ د ژړندے آرد دهغۀ وړ کا
چه غنم په ناپوهئ کښې شعیر

مار چوبه دِ تن د مار په شکل ساز کا
په خپل ځان کښے به د مار کښیږی تاثیر

د کیمخواب وتمے مۀ غړه ستړے
په وریښمو کښے چینجی دی د حریر

چه ئے پاس په اوږو واچوی پرانګ پشمی
په ټکی ټکی شالونه د کشمیر

د ناکام دپارۀ پاسه په سر کیږی
لکه زیږ غوندِ په وخت د زمهریر

کله خپل نمود په رنګ د میوو وکا
کله خونه شی د ماشیو خزانجیر

پکښے واړه بیهوده حبطه حشو
لکه فرد د لغمانیو د تقریر

ناهموار دے ناهنجار دے ناپکار دے
بد سیرت دے بد فطرت دے بدخمیر

برامد ورباندِ صوت د غراب دے
خوشامد پرے د بلبلے بنۀ صفیر

قباحتے د فاسق د نالائق دے
ظرافت ئے د یاوه دے د شریر

په جهان کښے بے شعور ړاله طبعه
حمیت غیرت ئے تللے له ضمیر

نۀ د نوم دے نۀ د ننګ دے نۀ د شرم
د بچے دے د صندوق دے د توفیر

چه پیشو ورته په خو فکرئ نشته
هوسیږی لکه مشک په دنانیر

تربیت بے ځایه واړه حبطه دے
کشیده د ړو نۀ شی په حصیر

ړۀ ئے هیڅ په تربیت نۀ کړم تقصیر
ولے څۀ کړم ناخلف دے بدضمیر

د نطفے اثر م لاړ پکښے ضائع شو
واړه پئ د مرجانئ لری تاثیر

کۀ لوګے د اور فرزند دے په داځۀ شو
چه نۀ تاؤ نۀ لکه اور هسے مُنیر

سر ړشته دِ ما د چارے هغه خط شوۀ
چه بے فکره د انشا بنکلے تقریر

په مقدار د حیلے چارے فکر غم کا
په دُنیا کښے کۀ غنی دے کۀ فقیر

دریغه یو پکښے شهباز شوئے یا خوشحال شوئے
شل پینځه لرم همه صغیر کبیر

مشران ئے د شړئ کنده پشم
کشران دی په مثال اُومۀ حریر

ړمانه دِ ئے په قصد په کینه نۀ شی
چه یو خو پکښے کوهر دی بے نظیر

سیم و ړ ړمِس وتانبه ترے پیدا کیږی
د مور نس لکه بوته دے د اکسیر

چه قابل دی هغه څوبه پاتۀ شه
ناقابل دِ لاهلاک شی سړو تیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نالائق څوبه دَ مورهٔ پیدا مهٔ شه
دا لابنهٔ کهٔ څنے وزیری خنزیر
یولائق څوبه ترزروځو یو بنهٔ دے
ډیر به څهٔ کاځوک چه نهٔ وی دلپذیر
دَ شوال وروستئ ورځ کال دَ غفادے
ماچه دا شپیتهٔ بیتونه کړل تحریر

خپل تدبیر دَ لاسه مهٔ پریږده خوشحاله
کهٔ کار ونه حواله دی په تقدیر

دَ خپل ناخلف څوئے بهرام نه سر تکول

بنهٔ کهٔ وزیری دَ ډکے بنځے مار
نهٔ زووے څنے څوبه ناهموار
یا دَ چرګ غوندِ چا پیر کړئ ترچرګو
یا بلبلے توت خورے دی بهتی خوار
سرائے هرکورهٔ بد ولد دے چه مِ وکوت
له بانرونو نه پیدا شی مزګ مار
کهٔ په سلو کښے یو بنهٔ شو غنیمت دے
چه په سرائے کښے بنځه سورکاندِ شلوار
دَ محنت دَ مشقت دَ صبر نهٔ دی
دَ راحت دَ فراغت دی دَ تلوار
نهٔ ئے شرم نهٔ ئے ننګ شته دَ میړونو
څما څوبه دَ بل سرورنهٔ دَ غمخوار
نهٔ یو باز دَ سردرونهٔ ډیرے چرګے
دَ څنګلو نو مزرے یوګیدړ هزار
اکوړے یحیٰی شهباز واړه سړه زړ وړ
په خپل دور واړه بنهٔ تیر کړو خپل وار
هم په ورکړه هم په تورهٔ هم په عدل
په دا درے توکه درے واړه وډاوځار
په بهرام باندِ چه وار راغے اوس کورهٔ
چه ئے څهٔ رنګه بدنام کړهٔ دا نامدار
کهٔ زهٔ دیو غوندِ نهٔ یم بارے شُکر
چه په ما باندِ بدنام نهٔ شو تبار
هغه پلار بے بخته نهٔ وی په جهان کښے
چه خلف ورځنے پاتے شی یادګار
اوس فاسده زمانه ده له زنا نو
ناخلف نااهل زیری بدکردار
اکوړے یحیٰی شهباز واړه مزری وُو
زهٔ هم نهٔ یم دَ ګیدړو په قطار

واړه تیر په مزرے توب کښے شو په تورهٔ
په خپل دور واړو بنهٔ تیر کړ خپل وار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَخپلو ځامنو نه بیزاری

چه مِ ولیدهٔ دَخپلو ځویو کار — ځویه واړه ځگرخون دی دَخپل پلار
خوچه وزیږی دَپلار دَځان بلاشی — په خدمت په تربیت ئے شی گرفتار
چه تندرست نروتازه وی پرے خوښیږی — دَزړهٔ نول ئے شی چه لږ ئے شی بیمار
ځوئے ښیره بریت لانهٔ وی هومره کل وی — دَویښتو سره ئے مخ پیدا کا خار
چه دَخپل قوت څښتن شی دماغ واخلی — دَځوانئ له خیاله سم نهٔ ځی په لار
په هزار رنگه هوا په زړهٔ کښے ورشی — ورځ اوشپه سره شوریږی ناقرار
له خودئ هسے مست بے خوده لاړشی — خو یوزهٔ یم چه پیدا شم په دا دار
وخت ئے هیڅ دَهلکوالی په یاد نهٔ وی — چه به پروت ؤو په اورنږی کښے خوار و زار
ګرنگ په خولهٔ باندِ راغلے تن لړلے — په کندګئ کښے په بدبوئ کنده مردار
توان طاقت دَمخ شړل درڅخه نهٔ ؤو — په ساتنه بهٔ ئے مورکا وهٔ تیمار
کهٔ ئے غُل دَمور په غیږ کښے کړل متیازے — په دا کار به ئے نهٔ عیب ؤو نهٔ ئے عار
کهٔ مور پلار ئے وښوچار و وَته بولی — نصیحت دَمور او پلار وی ورته نار
نورے چارے ورته واړه حبطه وی — هم هغه کا چه په زړهٔ ئے خپله چار
یکباره دَخود رایئ په سیند کښے ډوب وی — چه واته ئے ځنے نهٔ وی په کنار
چه دَ زیست او دَ روزګار شعور پیدا کا — کاروبار ئے په خورنگه شی اظهار
ځوک بهرام غوندِ منحوس بدبخت بخیل شی — په شامت ئے خیلخانه شی تار په تار
منافق لئیم مردود دَ زمانے شی — دَخپل پلار سره آغاز کاندی کارزار
ځوک یحییٰ غوندِ اودهٔ غافل پیدا شی — چه هیڅ کار نیولے نهٔ شی اُستوار
ځوک سدو غوندِ نامرد عبد الزوجه شی — په تنګسه له خپله پلاړه شی ویزار
ځوک مالو غوندِ جلو غوندِ پیدا شی — سراسر واړه نابود او ناپکار
ځوځاکره نرووڼی دی پیر ځویه — دَنورچا نهٔ دی پیدا په دا دیار
ځودَ واړه و کاروبار وتاته شمارم — کهٔ ئے شمارم درمانده به شم په شمار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

موافق م په خورمنځ یوځویه نشته
همکی واړه دَخپل غرض دی یار

کهٔ ما زده وے چه دَځویو هسے کاردے
ما به نرنا کاوهٔ نهٔ کورد کورس روزگار

حال ځما دَ اولاد دادے چه م دوے
په اولاد دَ نورو نهٔ یم خبردار

اورنګ زیب بادشاه هم ځوئے دشاهجهان دے
خبردار به ئے دَدهٔ په کار وبار

مال اولاد دواړه فتنه دی په جهان کښے
په دا دواړه به زړهٔ نهٔ تړی هوښیار

یا په دا زمانه خوئ دَخلقو نور شو
یاځو وُو دا جهان هسے وُو مکار

نورتر دا د پاسه شکر کړه خوشحاله
چه له تا نه خپل بابا نهٔ وُو آزار

کهٔ دَدرست جهان دولت دَستا په لاس کښے
په اخلاص به دِ دَ پلار ترسر کړ ځار

اوس تاهسے ځویه راوړهٔ هم بدتهٔ ئے
چه ترسر به دِ ځار نهٔ کا یو دینار

نورلاهم وئیلے نهٔ شم کوندِ بسهٔ وی
سرشته دَ دواړو بده کړه سردار

دَ هجرت زرکالونه نه ترے کم دی
چه نړئ کښے م آغاز کړ دا اشعار

عابد خان په دا محنت راسره مل دے
چه کاندهٔ شی پرے ځما دَ زړهٔ پرهار

خالد خان نجوشا کر طاهر دا هم دی
مجاهد کامران همه شه برخوردار

دَ بهرام لښکرے پروتے په تیری دی
اُمید دے چه خدائے زرکا شرمسار

بهرام ته

ځما زړهٔ له چا نه روغ نهٔ دے بهرامه
دَهرچا سره م زیست دے له نا کامه

نوکری ځوانی دا دواړه لکه بام دی
په پیرئ کښے له ما لاړل دواړه بامه

اوس دا دواړه بامه ستا دی نداړه کړه
غافل مهٔ شه یوزمان ترصبح وشامه

په دا اوبس باندِ چه ستا کجا وه اینے
رسوهٔ ئے چه پرے نهٔ وزے تر مقامه

خودِ دا نندا ره شی شکر وکا ړه
په چا نهٔ وی دا خوښی علی الدوامه

تَولّا تَبرّا بویه په اسلام کښے
چه ئے نهٔ وی هغه نهٔ دے له اسلامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اهل شرته د شاهین منګل پیدا کړه
اهلِ خیر وته حلیم شه تر حمامه

څوډ توان توفیق رسیږی بیرون مهٔ شه
په هردم د پښتانهٔ له ننګ و نامه

په فرمان د بادشاهانو څهٔ باور دے
چه بتردے د قاضیانو تر اعلامه

د مغلو دولت خواه اوسه څو ژوے
و نفرو تهٔ ے هم کړهٔ سل سلامه

د هغهٔ به فیروزی په جهان نهٔ وی
چه ٔ ے وخوری د چا مالګه کا حرامه

کهٔ دِ زړهٔ وی چه به پائے لکه خضرؑ
د نیکئ نوم ژوندے دے تل مدامه

ته د چا وجام ته هیله اُمید مهٔ کړه
حریفانِ دِ باده نوش وی ستاله جامه

د کنګاش د پرخاش بنهٔ څوانان پیدا کړه
چه پرے چار د ملک و مال شی انتظامه

خوړه خوړه وه غوټه ساته د کار دپاړه
کامرانی شی د دُنیا له سر انجامه

بنهٔ سردار وته د نوم خزانه بویه
کهٔ نور هیڅ ور څخه نهٔ وی بے له نامه

ورکول تُورے وهل دا دواړه بویه
چه پرے چار د سردارئ شی انصرامه

یا تکیه د یوهٔ خدائے ده یا د تُورے
په جرګو مرګو به نهٔ شی کار تمامه

کهٔ سردار د خلقو زړلری هُنړه
بند و بست د عالم نهٔ شی بے صمصامه

ړغنه کړ د ملک په خونه کښے ماران دی
چه ماران د خونے شته خوبے کدامه

کهٔ دِ نقش د تُورے کښینی راته غوږ کړه
کام ړ وا به شے هالهٔ له هره کامه

ړعایت له رعیته سره بنهٔ دے
دا هاله چه بیرون نهٔ وی له احکامه

چه خلاف د حاکم کا خلاصے ئے نهٔ وی
ړعیت په لږ ګناه له قتلِ عامه

د خټکو نهٔ م هومره ړهٔ ناخوښ دے
چه توبه د همکی خټک له نامه

د نعمت په قدر هیڅ خبردار نهٔ دی
نوم خټک به م خلاص نهٔ وی له انعامه

د وفا په ځائے همه واړه جفا ده
چه به ماته رسیده له خپله قامه

خټک واړه د دودام دی که ئے ګورے
څوک به څهٔ غواړی خپلوی له ددودامه

چه ئے خوښ کړے یائے دوست کړے لابلاشی
د ددانو څهٔ غرض له احترامه

کهٔ زمونږه خانه نهٔ وے خټک ورک وُو
د خواجه په نوم اصیل دی څوغلامه

کهٔ په تُوره خټک خپل کړے کُندِ خپل کړے
ګنړه هیڅ به ئے خپل نهٔ کړے له اکرامه

اول خپلے خپلخانے وَ ته نظر کړه
چه په لاس واړه و نیولے ده څهٔ خامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اتفاق دَ خیلخانے عجب دولت دے
په نفاق ئے واړه وُوزی له آرامه

همګی شهد و شکر قند و نبات دی
هیڅ برهم مهٔ شه دَ رونړوله دشنامه

چه په شرم نام ونګ سره شریک وی
په هرکار وبله نهٔ وی بے آلامه

څو جفا دَ خپلو وړے هومره به ښاد شے
کهٔ دَ خپلو جفا سخته وی مدامه

دَ ګلاب دَ ګلو هومره اغزی یاد وی
څوئے بوئ راغلے نهٔ وی ترمشامه

ښهٔ خُوانان به خپل هوډ پرے نږدی له لاسه
کهٔ ئے سرشی دَ خونی مزری تر ژامه

کهٔ تل تورے غشی خوری ملاتے دَ جنګ وړی
مرد به سوړ نهٔ شی په زړهٔ له انتقامه

کلیله دمنه به څوکړے راشه ګورهٔ
چه څهٔ دُرم درته توئ کړهٔ له کلامه

چه دَ زړهٔ هغه ګوهر به پکښے موے
کهٔ پرے پوهه شے له آغازه له انجامه

دَ دُنیا حال

اے چه خیال کړے په دُنیا
دُنیا څهٔ ده بے وفا

کهٔ دِ یو زمان زړهٔ ښهٔ کا
بیا دِ زر کا په ژړا

راحت نشته په دُنیا کښے
اَلدُّنیا دَارُ البَلَا

دُنیا مهٔ ګنړه څهٔ نور څهٔ
دا ده ځائے دَ استنجا

زړهٔ چه تا ګورم حیران شم
اے ابله مشتِ ګیا

هر زمان نوی خیالونه
هر ساعت نوے هوا

یو دِ زړهٔ زر دِ یارئ
یو دِ سر سل دِ سودا

کله مست دَ مال وملک شے
کله مست شے دَ صهبا

دَ مسند دپاسه کښینے
لور په لور دِ مشکا

په یوهٔ لوری غلطان شے
چاته مخ وچاته شا

څوک وتاوته ولاړ وی
په تسلیم په سل جفا

څوک له تاسره مجلس کا
واړه هزل مشغولا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک له ورایه درته ناست وی ژغوی چنګ و سُرنا
څوک په ور درته للیږی په نمط ستا د بقا
حاجبانو ته وئیل کا کهٔ مو ورسی دُعا
تهٔ په خُلقِ بې خوده پروت ئے نهٔ دِ غم نهٔ دِ پروا
هئ فریاد فریاد له تا نه هئ توبه توبه له تا
نهٔ دِ غوږ د آوریدو شته بینا نهٔ دِ سترګے شته بینا
بې هوده په خان غره ئے حبطه ئے په ربستیا
فلک ډیر زیر و زبر کړل چه تر تاؤ هم والا
تهٔ په مثل د دانے ئے دا فلک لکه آسیا
ډیرئے تا غوندِ میده کړل اوس ئے وار دے هم په تا
کهٔ بادشاه د درست جهان ئے خودِ بیا تشه غوغا
څهٔ دعوی ئے د جهان کړے نور به هم ؤ وستا پخوا
نهٔ سلیمان ؤ و نهٔ ئے تخت ؤ و نهٔ آصف د برخیا
نهٔ بهرام ؤ و نهٔ ئے ګور ؤ و نهٔ سکندر ؤ و نهٔ دارا
نهٔ جمشید ؤ و نهٔ ئے جام ؤ و نهٔ قباد ؤ و نهٔ کسرا
په شمار کښے به مانده شم زیات ئے خو شمارم تر دا
کهٔ هزار کهٔ سل هزار ؤ و پوکه لږ دا ؤ و هم ډیرلا
واړه لاړ له دے جهانه جهان واچول تر شا
غه شاهان چه ذی شوکت ؤ و څهٔ ئے هم شته هویدا
ساماني په جهان هم ؤ و سلجوقی ؤ و هم پیدا
غزنوی ؤ و په غزنی کښے چه ئے کړلے هم غزا
څهٔ نشان ئے مونږهٔ نشی د برک نه د یحیٰی
کووفر د عباسیو مګر ډوب شو په دریا
د فلک فریب پټ نهٔ دے چه ئے تل کاندِ له تا
کله زر وتاته بنهٔ کا کله آس او غیلے غوا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کله خویه درته بنهٔ کا — کله خویش او اقرب
نهٔ به نږ وتاته پریږدی — نهٔ مالونه نهٔ اشیا
په شدادئ فساد کړے — په قارون ئے وکړ لا
نهٔ ته پلار ئے د ځامنو — نهٔ ځامن دی خویه ستا
په خپل ځان د هرچا کار دے — کهٔ پسر دے که بابا
حلق په خپلو لاړو لوند دے — د ګدا هم د بادشاه
ته د ځان ئے زه د ځان یم — ته جدائے نهٔ جدا
غم بنادی د هغو بخره — چه لری ځپلا خندا
کهٔ حشم د شی بے شماره — خزانے دی بے احصا
چه اجل درلره راشی — نهٔ هغه پکار نهٔ دا
لکه هسے رنګه کار دے — راشه واوره اے فتا
مهیا و مرګ ته کښینه — سر انجام کړه د عقبا
کهٔ د توان وشی تقوی کړه — کهٔ تقوی نهٔ وی فتوا
بهشت ځائے د نورچا نهٔ دے — خدائے یاد کړی اتقیا
کهٔ پخپله پارسا نهٔ ئے — خاک پائے شه د پارسا
هرچه شته شریک له واړو — مشترک دی هدایا
کهٔ غنی ئے سخاوت کړه — بل به نهٔ وی مبتلا
یوچه خلاص وی له حسابه — په همت لکه عنقا
په شوکت لکه شهباز شه — نهٔ ئے رنګ نهٔ ئے معنا
خوړه خوړوه له خپلو لیچو — غضنفر شه نهٔ روبا
سخاوت کړه څو په تا شی — اسراف نشته د سخا
په سر تورے پرے نارے کړه — چه تالا دُنیا تالا
چه ئے قطع غرائق کړل — په آسمان کښیناست عیسیٰ
د عسل په دود شیرین شه — نهٔ حنظل نهٔ ګندنا
مهٔ لږم شه مهٔ افعی شه — غم فزا راحت زدا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بار د نورو په کردن وړه — خپل بارمۀ کښیږ.ده په چا
جهان ځائے د مکافات دے — بد به مومی چه بد کا
د بدئ جزا بدی ده — د نیکئ نیکی سزا
چه به کیږ.ی تورے خاورے — خپسر خاورے کړه پخوا
کۀ په حسن لکه کل شے — یا تر کل شے هم زیبا
بیا دِ ځائے دے تورے خاورے — تار په تار واړه اعضا
داځۀ تورے خاورے نۀ دی — چه پرے ځے صبا بیکا
همکی جونه ځلمی دی — خاورے شوی د بیدیا
چه په سترګو باندِ پښے ږدے — بارے رو ږده څۀ خوپا
د پسرلی کلونه بنۀ دی — کۀ ئے تل درلے بقا
مزکه سبزه زرغونه شی — د حمل په ابتدا
رنګا رنګ کلونه واشی — هم په باغ هم په صحرا
نۀ یو کل د بل په رنګ وی — نۀ ئے بوئ سره همتا
یوځو ورځے شګفته شی — زر فنا شی په جوړا
تر بلبلے نا پوه څوک دے — یا کم عقله تر بوره
چه په هسے څیز ئے مینه — چه ئے څو ورځے بقا
هغه څیز چه بے وفا وی — زړۀ پرے نۀ تړی دانا
په جهان کښے مینه هم وه — د یوسفؑ د زلیخا
کۀ ویسه وه کۀ رامین ؤو — کۀ مجنون ؤو کۀ لیلا
کۀ فرهاد ؤو کۀ شیرینه — کۀ وامق ؤو کۀ عذرا
اوس ئے نخښے لیدے نۀ شی — دے جهان کړل فوفنا
نۀ به کل د چمن پریږ.دی — نۀ بلبله نۀ طوطا
نۀ به طفل څنے خلاص شی — نۀ سپین زیرے نۀ برنا
نۀ به پاتے عشق د ځوان شی — نۀ بنۀ حسن د خوبا
کاه د ځویه لور په غم شی — کاه د یار او د آشنا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه پس له ما دا څـۀ کا — حال به څۀ شی د [illegible]
غم دَ ځویوکړے دَ لونړو — هم د [illegible] هم د [illegible]
ولے هسے فکر نۀ کړے — چه په دا څۀ دی [illegible]
بخړے اوس نۀ دی اول دی — چه نۀ ارض وُو نۀ [illegible]
خپل قسمت به هرڅوک مومی — کۀ افلاس وی کۀ [illegible]
څۀ اندوه دَ یو نفس کړے — اے دَ نفس په غم شیدا
خو دَ نفس ځله دِ ومری — کۀ کشکاب وی کۀ حلوا
غرض تن دے تن دِ پټ وی — کۀ خامه وی کۀ خامتا
کۀ دَ نفس په نغوته دروے — تا به زر کاندی رسوا
نفس په دا راغلے نۀ دے — چه روا یا نا روا
چه ارواح پرے خوښی مومی — هغه چار کښره اعلا
مټ په علم کړه چه علم — اژدها دے هم عصا
یا په علم کښے لذت دے — یا په عشق کښے دَ مولا
نور همه چارے عبث دی — کۀ اعلی دی کۀ ادنا
کۀ تۀ تړیو کښینے خوشحاله — دَ فلک ترو څۀ پروا
اندیښنو ته زړۀ ورمۀ کړه — خو حیات ئے په دُنیا
کۀ تل خوښ اوسے تل خاندے — اِسم با مسمّا
ترهغۀ نادان څوک نشته — چه نن غم خوری دَ صبا
غم غیرت په یوۀ لور کړه — خاطر صاف شه دَ هر چا
دَ صبا اندوه نن مۀ کړه — کوره څۀ وشی فردا
واړه وسپارهٔ و خدائے ته — کۀ دوستان دی کۀ اعدا
کۀ لقمان شے په حکمت کښے — یا کۀ بوعلی [illegible]
نۀ به لاړ دَ مرګی بند کړے — نۀ به خلاص شے له قضا
دَ قضا سره جنګ نۀ شی — وقضا وړ دِ ره رضا
کۀ رضا په قضا ورکړے — نور خوشحال ئے په [illegible]

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دانا او نادان

کهٔ دروغ کا کهٔ رښتیا هرڅهٔ ښهٔ دی دَ دانا
تر دانا دِ زهٔ ځاریږم نادانان واړه تر ما
مړهٔ ئے پاڅول له ګوره نابینائے کړل بینا
یو نادان ئے دانا نهٔ کړ په درست عمر مسیحا
نادان ځان لره بلا ے هم جهان لره بلا
چه نادان وکا دا ورانه هسے نهٔ کا اثر دها
نادانان دی ناپوهان دی نن ځما کره پیدا
لکه دوئ کاندی دا چارے دا مِ نهٔ وے په اَبا
دَ ناجنسو نه پیدا شول کهٔ دود نور شو دَ دُنیا
دَیوهٔ پلاړه نړوولی سره تل شور اوغوغا
کهٔ څلویښت دی کهٔ پنځوس دی سره واړه شا په شا
مال وملک دولت مِ ژغوره په دا حال کښے ربّنا
اتفاق پکښے باقی شه دا نفاق ئے شه فنا
نفس شیطان دواړه بلا دی راشه ګوره دا بلا
چه په دے بلا پائمال دی شهیدان دَ کربلا
خدایه تهٔ ئے چه خیل کړهٔ کړے دا بلا پیدا کړه تا
له حکمته خالی نهٔ دی کړهٔ دِ واړه دی زیبا

زهٔ خوشحال دَدهٔ له لاسه
دا فریاد کوم په چا

دَ غواص دَ کال وبا

دَ غواص دَ کال وبا خدائے ئے مهٔ راوله بیا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اکوړخیل م پکښے ومړل — لوئے هلک مرد و نسا
بخت ناک خان م پکښے ومړ — مورئے هم بوته قضا
یو هلک ئے ژوړ راپاتے — ورپسے شهٔ زړ فنا
چا ته ژاړم له دے غمه — سود م کوم دے د ژړا
لور په لور په دالهبو کښے — عالم پروت په واویلا
تر دکنه تر کابله — راخوره شوه دا بلا
په لکونو عالم ومړ — چه بنهرونه شول صحرا
اول قحط بیا وبا وه — په هر لوری وه غوغا
سرفراز د سعادت ژوړ — بنے نمسے م ژوړ زیبا
هم حافظ د درست قرآن ژوړ — هم په خط ژوړ بے همتا
د بنکار سپے ئے ژوړ ساتلے — لیونے شو بے غوغا
لاس ئے وړوړ بے خبره — چه کانړهٔ ئے خپل آشنا
دے ئے وچیچهٔ په لاسو — لاعلاج شو لا دوا
په دا کال له ماقضا کړ — په ارمان ارمان جدا
کال حصخ شو وبا لاړه — هم عسرت کړه راته شا
بارانو نه دی وریږی — ودانی شوه په دُنیا
نهٔ تل غم وی نهٔ بنادی وی — وار په وار وی هغه دا
په هر حال شکر بائدهٔ دے — چه بد تره نهٔ شی لا
اوس څهٔ غم د عالمګیر دے — چه عالم ئے کړ رسوا
د وبا غوندِ زور ورک شوے — بل یو بنهٔ شوے راپیدا
یو خوشحال دا دُعا نهٔ کړه — درست جهان کا دا دُعا

اِجابت به ئے زروشی
کهٔ د خدائے وی پر رضا

... * ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د دُنیا بے وفائی

زړهٔ سفر له دے دُنیا — په تحقیق دے په ریښتیا
کهٔ څهٔ زړ کاله پائیږے — هم دِ نهٔ وینم احیا
راشه اوګوره همزولی — چه ئے ځائے دے په بیدیا
باندِ جوړ د خاورو څلی — زړغونه باندِ ګیا
کهٔ ئے ګور کړے سره بیرته — هیڅ به نهٔ وی مهیّا
کهٔ نارے ورباندِ وکړے — هیڅ به نهٔ شی درګویا
چه داحال وینے په ستړګو — ولے هسے ئے عمیا
چه بیړئ پکښے زړ وځی — څهٔ خونی دے دا دریا
تورے خاورے شول په ګور کښے — چه د ستړګو وُو توتیا
داجهان فنا پذیر دے — تر ثُریّا تر ثُریّا
د دُنیا راحت محنت دے — تاریکی ئے ده ضیا
کهٔ د عیش طلبګار ئے — د جنجال نه ئے جویا
تر اطلس بنه ده شړئ — تر کلیم بنه ده یوریا
زړهٔ ترل په دُنیا مهٔ کړه — بُود ئے نشته د اشیا
مونږ په مثل د دانے ئیو — پاس په مونږ کړئ آسیا
چه خپل ګور لره راحت وړی — هغه څوک دی اَتقیا
چه خپل ګور لره زحمت وړی — هغه څوک دی اَشقیا
باندِ پریوزی موټے خاورے — په مړک نهٔ مړی اولیا
اولیا دی په جهان کښے — په مثال لکه کیمیا
د باطن خیرے ورکیږی — په صحبت د اَصفیا
یوسجود په اخلاص بنهٔ دے — نهٔ سل زړه په ریا
همګی د بنو خویونو — وابسته دی په حیا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د خوشحال ژوندون په خدلنے دے
نۀ شهباز دے نۀ یحیا

په خوئ بوئ د اصل او د کم اصل

چه یوځل بښیګړه وویني له چا
په یوه ئے شل بدئ کړه ترشا

د سړو غږ ن سړے د عفوے لائق نۀ دے
په ربښتو باند عفوه ده روا

غلطی د یګانه غلطی نۀ ده
په خطا د یګانه بویه عطا

کۀ له یارہ نه ترخے خبرے واوړے
خو ب شیرین خواږے ئے وکړۀ په خندا

د کم ذات سره یاری آشنائی مۀ کړه
له کم ذاته به بیا نۀ موے وفا

رخنه ګر د ملک هرګز د پریښو نۀ دے
کۀ هرڅوئ شفاعت کا شیخ مُلا

مرد به خپله وینا ژغوری خو ژوند دے
د نامرد وینا نن شته نشته صبا

د ځار ویو په حساب دی سړی نۀ دی
غوبانۀ شپانۀ چه پیائی غیلے غوا

چه ستا عیب تا نه وائی یار هغه دے
نۀ چه نور و وته وائی عیب ستا

بازاری سړے بهتر تر روستائی دے
کۀ هرڅو د بازاری نشته حیا

کۀ سړے پیرے د وژنی وبه نۀ مرے
خوچه نۀ وی رسیدلی ستا قضا

بند ځما په رضا یو نشته یاران م
په یارئ یارئ کښے کا خپله رضا

چه ځما د مرګ مشتاق ژوهغه و مړل
زۀ لا دائم ژوندے پاتے م په دُنیا

مړنی په خپله تُوره نظر نۀ کا
بنائسته په خپل جمال دی نا بینا

مست او بنان م هسے شان وی مست بارو نه
چه په لوړ په ژور نۀ اوړی سړو ا

شناخت ادب شرم سړے لره بویه
په دا درے توکه څاروے نۀ دے آشنا

چه ئے مور و پلار سُچی سُچی زوولی
په هغۀ کښے به خطا نۀ شی پیدا

چه د سپی په پټولوئے کا څوک ورغمے
لکه سپے هسے ورغوے کا غیبا

دا خبره وهرچا وته بښکاره ده
چه د بنو غو بنونه بنه کیږی بنورو ا

عاقل د یر عیب د ځان په عقل پټ کا
نادان لږ په ناپوهئ کا رسوا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ویل ښیل به هیڅکله ښځه نشی
چه بد بخت له مورۀ پلارۀ شی پیدا

چه خپل بار په هیڅ انډۀ بردی بار د بل وړی
هم هغه سړے لائق دے د ژنا

چه په زړۀ کښے ئے چراغ د عقل بل شی
ورځ و شپه ده په هغۀ باندے رڼا

سنجنجل د خپل استاد لری په زړۀ کښے
چه ګویا شو د خوشحال د زړۀ طوطا

په تعریف د شرعے شریفے

کۀ له کوره توښه نۀ واخلی غریب
په خوارئ بدئ به مومی خپل نصیب

چه وخواست وته ولاړ وی یا حرص ته
له ژوندون نه به ویزارشی عنقریب

د چا زخم د چا حد د چا تعزیر دے
هرسړے په خپل انداز مومی تأدیب

کۀ انصاف وعدل داد سیاست نۀ وے
شک به نۀ وۀ د ډکړی په تخریب

عالمان د شریعت لکه چراغ دی
لورپه لورد اشنا یئ اسالیب

داد مزکے مخ ئے واړۀ په حساب دے
بیرونه تر شرعے نشته یوجریب

په دانه دانه غلے واړۀ حساب دی
په حساب کښے هم مویزدی هم زبیب

د دریاب اوبۀ د شرعے په حساب دی
وهرځۀ ته ئے ورکړے دے ترتیب

داهمه واړۀ د شرعے خدمتګار دی
محتسب. قاضی، مفتی، ملا، خطیب

عاقبت مرید د شرعے د اُمّی شو
کۀ خبرے بوعلی کړے عندلیب

په جهان کښے بل رقیب د شرعے نشته
کۀ رقیب دے یوشیطان ئے د رقیب

مخالف د شرعے واړۀ شیطانی ده
مخ ئے تورشه چه عمل کا په تکذیب

چه غم خور د د هرکار نۀ دے په دین کښے
نه د یار دے نۀ محب دے نۀ حبیب

د عنصر د صنائع فکرونه پریږده
کۀ پوهیږے شرعه نورلری ترکیب

فلاسفه معتزله واړۀ ګمراه دی
چه بے شرعے په خپل رائے کا ند ترغیب

دوه اویا ملته واړۀ آلوده دی
پکښے یوملت د شرعے دے نجیب

رنځ زحمت د خدائے درنۀ کا ند خوشحاله
کښږۀ کړه دا رو د شرعے په طبیب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پند و نصائح

درته وښئیم کیمیا د سعادت
د بدانو سره مه کوه صحبت

مه بدګوئے مه بدآموزمه بداندیش شه
که دِ زړه دوی چه درنه رسی آفت

که لوئی غواړے ځان کم ګنړه تر بله
بل تر دا دپاسه نشته نصیحت

په دوستانو تلطف کړه خو په تا شی
د دشمن سره هم بنه کوه خلقت

د نیک خواه خبره نغوړه پرے عمل کړه
نانعمانوته تیار دے ندامت

د نمانځه ترقضا ګرانه دا قضا ده
چه قضاشی د څلورو مصلحت

نورانی کاهغه څائے چه سره کښینی
دیرینه څلور هوښیار په مشورت

په اخلاص چه په دُعا لاسونه هسک کا
وربه پرانت شی د فتحے د نصرت

بے ګټکاشه به هیڅ کار په لاس وانخلی
چه خبردی د ګټکاش په برکت

چه په تشه تواضع کښے ګټه کیږی
هومره سود نشته د ډیک طباخ دست

که ګنجونه د قارون درته انبار شی
په هرلورئے غورزړه په سخاوت

ناپوهان به ئے پریږدی روستو وبل ته
عاقلان به وړاندِ بیا ځیل دولت

ناپوهان که ئے شدت وته تیار دی
لائے نه دی خبردار په حقیقت

خو دوستئ د دُنیا ډیرے وی په زړه کښے
هغه هومره ډیر فساد دے قباحت

شور غوغا جنګ وجدل به ترمینځ نه وی
که هرخوک سره راضی وے په قسمت

که حاتم غوندِ کرم کړے د مهرانو
د یوه مړی په چا مه ږده منت

خو بدانو سره بدشے هومره بنه وی
ولے عفوه کرم ډیر لری لذت

د نابوده دُنیا هیڅ متاعه نه ده
چه به کاندی عاقلان باندِ شدت

که دِ سرځی که دِ مال ځی که دِ نورځه
استوار اوسه په کار د رفاقت

په ظاهر باطن کفران د نعمت مه کړه
هواخواه اوسه د خپل ولی نعمت

که راحت غواړے په ځان محنت قبول کړه
بے محنته هیڅوک نه موندی راحت

که دارو په خواست موندل شی مه ئے اخله
که دِ مرګ وته نږدے کاندِ رحمت

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ آسمان دِ دَ مزری په څیلهٔ کښې ور کا
دَ مزری په خولهٔ کښې مهٔ پریږده همت

دَ عمل ذخیره واستوه دَ وړاندِ
دا یوځو ورځې ژوندون دے غنیمت

په اوبو چه سړو انهٔ دی شړلے مهٔ ږده
په ورځ نږ رخونونه کړه په شریعت

کهٔ ژوندون دے هم مغه دے په جهان کښې
چه یادیږی دَ سړی دَ خو خصلت

دا راحت لکه دَ فقر دَ پوزی دے
دا راحت نشته په تخت دَ سلطنت

چه کالی ئے پاتے نهٔ شی مرده شوئے ته
خدایه ورکړے وخوشحال هسے رحلت

دَ حکمت او دَ صحت خبرے

دَ حکمت ویل به وایم مختصر
په معنیٰ کښې قیمتی لکه گوهر

په هفته کښې صحبت یوځلے بائیډهٔ دے
کهٔ هرځو ورباندِ عشق وی زوړ زور

دَ صحبت په کار کښې پیر فکر بائیډهٔ دے
خورب اَس شی په یوهٔ گذار پرنگر

دادَ ملا اوبهٔ ئے واړه دُرگوهر دی
کهٔ سړے ئے شی دَ قدر نه خبر

دُرگوهر به هغه څوک لونی بے حایه
چه په پوهه کښې اَبله وی گیدی خر

په پیر رنگه دخول گیږی بهتر دادے
چه ترتاوی بنځه لاندِ تهٔ زَبر

چه دِ عمر دَ پنځوسو گالو نیږ شی
په دخول کښې یا وه پیرمهٔ کړه ذکر

کهٔ قوت زیاتوے تل خوړه شودے پئ
چه تر دانه دارو نشته معتبر

په مړه گیډه صحبت په شومه مکړه
پس له خوبه ئے پرے جورکړه په سحر

چه حاجت دَ غسل وشی زر ولاړ به
پس له لامبو لږ څهٔ وخوړه گرم وتر

دَ شهوت چه ضعیفی لرے گوښه
په بادام اوپه پسته طاقضے څر

داخلور توکه نفاخ او مبهی دی
یوچنړه، نوبیا، گاځړه، بل تیپر

کهٔ دَغړهٔ دَمړهٔ په تریخ خان کړے
دَ جماع لذت به بیا موے بیشتر

دَ ښځے صحبت دے لکه زهر
هر سړے دِ ځنے وکاندی حذر

دَ هغے ښځے صحبت لکه دارو دے
چه ئے لورنهٔ وی نږ وے یا پسر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ دِ لاس په بکره برشی پرتۍ مړۍ
که دِ خانے شی په هغه جهان سفر

دَ مخ رنګ تازه کوی صحبت دَ بکرے
وسکوی سستی دَ تن درد و کمر

تر زعفرانو تر عنبرو لری ډیره
په خوراک او په بخور نفع اکثر

زعفران خوړ که دِ دَ زړهٔ تازګی غواړے
ولے لا تر زعفرانو ښه عنبر

په تودو اوبوچه اوبه ژمے لامبی
په دا کار کښے تندرستی ده د بشر

مستکی مستکی وخوړ درته وایم
چه خوراک ئے په مثال دے لکه زر

کهٔ دَ غږهٔ دَ بزو په تریخی ئے علاج کړے
رنځوری به دِ پرے نږدی دَ بصر

کهٔ توبرے له زخمه نهٔ خیژی خرچنګم
باندِ وتړ ډاله به شی بدر

کهٔ اوبهٔ دَ پیازو شهدو سره وخوړے
دَ فاسدو وینو نهٔ پریږدی اثر

په خوراک دَ یاسمین دروی څو رنځه
ترسیره، نقره، فالج هم درد سر

ناست و نماست دِ دَ سړی په اعتدال
په سارهٔ په غاړمه مهٔ بوی په سفر

په هغه کلی کښے خونه میشته مهٔ کړه
چه دریاب ئے په جنوب په شمال غر

ګرد غبار غاړمهٔ چیغړ هوا بدبویه
رنځ علت وبا پیدا کیږی اکثر

په څلور فصله کښے ښهٔ فصل بهار دے
تابستان سړے کم خړ کاندی لاغر

ډیر زحمت په وخت دَ منی پیدا کیږی
لکه سِل، نمونیه، څو لنج بلا بتر

رنځ زحمت دَ زمستان په فصل لږ وی
دَ سارهٔ نه خلاص ساته په اور په نهر

چه په شپه له خوبه وینښ شی اوبهٔ مه څښنه
په نهارهٔ هم اوبهٔ لږی ضرر

دَ چند نړو مسل خوراک دوا ګه بهتر دی
په بدن کهٔ ئے ګرور عمری بهتر

خدائے دِ تړوخ دَ سیارے دَ چا ونهٔ کا
اوکهٔ نه ورته دا سړو ته شیر خر

دَ مولئ پانړے ښے دی بیخ ئے بد دے
مګر ریګ دَ مثانے ته ډیر په چټر

دَ مولئ په خوراک کښے دی دوه ګټے،
بدهضمی ریګ مثانے ګاندی بدر

چه دَ میښے ماستے خوړے زحمت به موے
ترخوا بزوڅ ئے تر ټولو ګټره بهتر

کهٔ ماستهٔ پئی به خوړے خوئے دَ بزو خو
هم هغه چه ئے ډیر ګټه کړے شیرین تر

کهٔ دَ غواد بزو شلوبے خوړے زیان ئے نشته
اشتها دَ سړی زیاته کا په خور

کهٔ به پئی څښے شودے پئی دَ بزو څښه
کهٔ غوسه ی خوړے خو غوری خوړ دَ بهتر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د تمبکۍ د حلوان غوښې اعلیٰ دی
لا تر څورب مرغۍ ښځې دے د کوتر

کهٔ د پیازو په خوړو شهوت زیاتیږی
ولے د پیرخواړهٔ ئے زیان دے د بصر

کهٔ هزار رنګه طعام دے په جهان کښے
تر دوډئ نه بل خواړهٔ نشته بهتر

کهٔ یخنی اوډوډئ موے نورځهٔ مهٔ خوره
چه بهتر نهٔ دی تردا شیر و شکر

کله کله هوګه خوره چه سودئ د پیر دے
په سفر به ئے همیش خوری دا نشور

څوترشی په جهان شته واړه زحمت ده
د صفرا علاج په دے شی مقرر

کهٔ ئے موے اوړے ژمے کښینه خوره
خوپه سودئ خبرمهٔ کړه خپل پدر

خوږ اوترپو انار همه واړه دارو دی
فوائد د خواړهٔ لادی افزون تر

په سابوکښے د سروے سایهٔ مفید دے
ولے بویه چه محرورئے خوری کمتر

کهٔ اوبهٔ دی د باران یا د چینے دی
د کوهی اوبهٔ ضرر دے د بشر

ښے سړے خوږے اویهٔ د سړی ځان دے
ولے تود خواړهٔ سړے اوبهٔ ضرر

چه تودے اوبهٔ څوک څښی غارمه وهلے
پرے نقصان د اشتها شی رنګ اصفر

تود کچرے د غواغوښی په وخت د ژمی
ترحلوا تر سلوا نریات لری هُنر

د صحرا ویلنے خوره پرے به ورکیږی
کهٔ د نس موړه لرے اوکړه باور

د باغی ویلنی سود د خوراک پیردے
په وجود کښے د بادنهٔ پریږدی اثر

په خوراک توره بنګړه زاړهٔ حُلمی کا
کهٔ خوراک ئے څوک یوکال کا مقرر

لیونی کِلاب دا ړلی لړه ښهٔ دے
کهٔ پرهارکا د هلک په بولو تر

کهٔ د نغن سره ئے خوړے څټکے ښهٔ دے
په نهاره ئے خوړل دی تنها شر

حرارت لړه کا سنی چه خدائے پیدا کړه
نوردارو په خولهٔ یا دمهٔ کړه خشک تر

وریتهٔ کړی بنګ هم ورک کا ندی نس خوږے
ورسره شربت نبات بویه شکر

د تانړه پنیر خوړل سړے فربه کا
ولے بویه چه دانائے خوری کم تر

په کماله څوانئ قصد د قیفال بویه
کوناګون زحمت ورکیږی په داچر

څوچه د پیر طلبکار نهٔ شے خواړهٔ مهٔ خوره
هرزمان په شخوند کښے مهٔ شه لکه شتور

د طبیب دارو هالهٔ خوړه چه حاذق وی
د ناقص طبیب دارو لری خطر

خوشبوئی څولګوے هومره فائده ده
تندرستی ده هم سنت د پیغمبر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَصفرا زحمت به دروی لهٔ هغهٔ نه چه بنهٔ حُسن وته کاندی تل نظر
دَ بلغم زحمت به دروی له هغهٔ نه
چه غټیان په هره میاشت کا مقرر

دَ بوس وکنار رموز او اسرار

اول زړهٔ بنهٔ کړه دَ یار بنهٔ په بوس و په کنار
بیاله پسه کهٔ پوهیږې وصحبت ته شه تیار
په وړو وړو لذت آخله بنورېدهٔ کړه په وار وار
دَ شهوت په توټیدهٔ کښې په تعجیل شه په تلوار
چه فارغ شے له شهوته په سینه ئے شه قرار
دَخپل یار مقصود پوره کړه دَخپل یار اوسه غم خوار
خولهٔ ئے پاس کښیږده په شونډو کښلوَه ئے ګل عذار
په هفته کښے یو صحبت کړه کهٔ هرځوئے قوت دار
مکرر صحبت بلا دے ستا به وباسی دماغ مار
سړی توب بویه په کار کښے عادت مهٔ کړه دَ حمار
دغه ځائے لکه کوهے دے پکښے مهٔ شه نګونسار
کهٔ شهوت په امساک بند کړے په سونزاک به شے بیمار
تل شودهٔ پئ دَ بزدخوړه یا دَغوا څښه په بهار
ورسره میده لونګ کړه له شودو پیو شه ځار
مهٔ معجون خوړه مه څهٔ نورځهٔ دَځان مهٔ غواړه آزار
تل ثرید خوړه دَ بنو پسونو ورسره څهٔ خو اَچار
دو پیازه دَ چرګو هم خوړه
نور به څهٔ وایم بسیار

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صرف اصیله بڼځه اصیل اولاد راوړی

هر سړے چه لیونے کاخپل ذکر
په هر ځائے کښے ئے منډی خاورے په سر

د صحبت په کار کښے پیر فکر بائیدهٔ دے
له صحبته پیدا کیږی خیر و شر

چه سپینهٔ د دریاب نهٔ وی اصیله
کله بڼهٔ ترے پیدا کیږی دُر کوهر

په دا کار په توره ږیره خبر نهٔ وُم
دا یم اوس په سپینه ږیره شوم خبر

بڼځه کښلے ښائسته پاکیزه بویه
چه ئے پلار نیکهٔ له ځایه معتبر

شرمناکه پرده پوښه دلاوړه
آراسته په عقل وهوش په بڼهٔ هُنر

نهٔ وهمی نهٔ وسواسی نهٔ بدمعاشه
نهٔ ئے مینه په دُنیا نهٔ زر زیور

که دا هیسے محبوبه په لاس کښیوزی
له وجوده ئے پیدا شی بڼهٔ پسر

چه ئے مور وپلار تفپاق وی خدائے دِنهٔ کا
چه بها نرځنے پیدا شی لکه خر

ترمیرمنے وینځ بڼه ده په بڼهٔ خوئ کښے
نهٔ میرمن چه نهٔ ئے خوئ وی نهٔ بشر

آدم زاد په اصل واړه آدم زاد دی
بڼهٔ هغه چه بڼهٔ ئے خوئ لکه سړهٔ زر

طالعمن قابل یوخوئیه د پلار بس دے
نهٔ نابود خوئیه په کور کښے جوړ لښکر

چه حیا شوم لری فرزند هغه دے
د فرزند خوِ ربښتیا غواړی پدر

چه ئے شرم حیا نهٔ وی نهٔ راست کووی
پلارِ دِ کاله هغه خوئیه نه حذر

چه نیک خواه د بابا نهٔ وی هغه خوئیه
کوره دے د څهٔ بلا لری اثر

خپل وجود د خپل وجود په بدئ نهٔ وی
بل وجود د بل وجود غواړی ضرر

که د خپل خوئیه په سړ پلار بڼه کیږی
بڼهٔ فرزند به خُنے نهٔ ساتی خپل سر

ابراهیمؑ چه اسماعیلؑ ته تیغ تیار کړ
اسماعیلؑ ابا ونهٔ کړه په دا چر

اوس د دے زمانے خوئیه خوئیه نهٔ دی
مارلرم زیږی که لا تر دا بتر

یا د خپل اولاد د لاسه شاه جهان زده
یا خوشحال دے په فریاد په نارهٔ سر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د نظام په وفات

څه داغونه ښودے په زړهٔ باندِ فلکه
چه نظام دِ له ما بیل کړخوائے دِ که

خدایه ته خو ستمګرنهٔ ئے داڅهٔ کړے
خلقه دِ په دا کار کړه هکه پکه

په لحد کښے هغه مخ خورے په چینجیو
چه د هیڅا پرے پیرزونهٔ وه خوانکه

په غمونو کښے دِ ژوړ په دُنیا پائی
کهٔ د زړهٔ په ارمان ته ومړے کودکه

کتګے خوان د بستانهٔ په ننګ کښے مړوے
نه چه ګورلره روان شوله تولتکه

چه د قام په ننګ کښے ومړ هغه خوبه
په عالم کښے د خپل پلار غاړه کا لکه

رنګ د اوښکو سره ویوست خُما ستړګو
نور به نهٔ راشی خُما د مړدُمکه

لاس و دست دِ سره درست درهم برهم کړی
دریغه دریغه لاس درنهٔ رسی فلکه

نظام لس میاشتے بیمار زهٔ په شل کروهه
داشل کروهه راته لاړ پرشول ترلکه

هغه وخت به بیرته نهٔ راشی نظامه
چه به نهٔ وے د خپل بابا له وکه

کهٔ حیا وه کهٔ وفا وه کهٔ صفا وه
بنائیسته ستا په وجود وه هره یکه

اسماعیل غوندِ به دے راته تسلیم ؤو
کهٔ په حلق م د نظام کښینوه ګز لکه

کهٔ د پلار په رضا ځوئ دروی جنت ته
سکه نظام ورلره ورځے بے شکه

خدائے م نور کلونه جوړلره په باغ کښے
کهٔ یو ګل ورځنے پریوت له خونکه

زهٔ به ولے هسے ژاړم یا به نهٔ خورم
کهٔ په نهٔ ژړا م مل شے زړهٔ به جګه

خوژوندے په دُنیا پاتے یم خدائے دِ نهٔ کا
ستا څهره خُما د زړهٔ له تختے حکه

د نظام د غشی یو برابر نهٔ دے
کهٔ خوشحال په زړهٔ خوړلی پیرنا وکه

مګر زړهٔ ئے د هاتی وی چه زغمی ئے
دا شیتئ چه د خوشحال په زړهٔ شوه لکه

* ... * ... *

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ دُنیا بے ثباتی اوبے وفائی

همراهانو دِ کوچ وکړ واړه لاړل ترمنزله
تهٔ لاکلک په خوب اودهٔ ئے اے حُما دِله غافله

له نیستئ وهستئ ته، له هستئ ونیستئ ته
کاروانونه دی چلیږی، قوافله قوافله

لاړم واړه کِل ولائے ده، تهٔ په سهل تهتوسورئے
بنهٔ سواران دی پکښے تللی، واوره تښته له دے کِله

دَ دُنیا په دریاب ډوبه، دَ پاپاب طمع ومهٔ کړه
دا پاپاب دے پیروغوښتے، خبرنهٔ شول له ساحله

وکنارته به ونهٔ وزے، له دے هیسے شان دریابه
په ساحلئے خبرنهٔ دی، بے له اهلِ سواحله

دَ دُنیا حاصلئے واړه، ناکامی اوسرنخوری ده
کهٔ دَچا پکښے حاصل شی، هم ئے مهٔ کنړه حاصله

له قسمته به نه کم نه به څهٔ زیات په پیرکوشش کے
هم هغه به در رسیږی چه دِ بخره روائله

دُنیا څو وبله آسپے چه مقصود دے په دُنیا کښے
خو یو نغن یوه شړئ، نوره واړه ده فاضله

په قضائے رضا وروړه هرچه ستا په بابئے کړی
په هیڅ رنګ به دفع نهٔ شی، په تعویذ په حمائله

خپلو لاسو خپلو پښو وته وګوره نظر وکړه
دا همه واړه دَ خدائے په، معرفت دی دلائله

همیشه وائے چه خدائے مِ، پیژندلے په یکی دے
کهٔ دِ خدائے وُو پیژندلے، مینه مهٔ کړه په باطله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے لہ خدایہ راتہ وایہ، بل یوکوم دے چہ پیدا کا
آدمی لہ تورہ خاورو، پہ دا شکل وشمائلہ

پہ خوردن او پہ خفتن کښے لہ چارپائے برابرمۂ شہ
دَ عمل پہ کاروبار کښے مۂ شہ کم تر عوامـلہ

دَ دُنیا پہ کاروبار کښے پہ خوبے حدہ بیدارئے
دَ ښۂ دین پہ کار کښے څۂ رنگہ اودۂ نے سُست کاهلہ

پہ خپل حسن غرہ مۂ شہ کۂ پہ حُسن لکہ کل شے
زمانہ بہ دِ څھرہ پہ، یوخوورځے کا نـ ائلہ

پہ دولت کښے پہ حشمت کښے، کۂ سنجرشے یا طغول شے
یوہ نخښہ راښکارہ کړہ لہ سنجرہ لہ طغرلہ

دَ بدانونہ دِ هیڅوک دَ نیکئ اُمید ونـۂ کا
دَ عسل خوارۂ بہ نۂ موے لہ زهـرِ هـلاهلہ

دَ هغۂ عالم خبرہ چہ عمل پہ دۂ کښے نۂ وی
پہ مثال لکہ براق دے چہ جداځی لہ عاملہ

غہ عالِم چہ عمل نۂ لری پہ مثل لکہ خر دے
باندِ څوکتابہ کښلی مشقت ئے بے حاصلہ

چہ گفتار کردارئے واړہ موافق سرہ یورنگ شی
هالہ هر رنگہ خبرہ، اثر کاندی لہ قائلہ

پہ زیبا گفتار دِ هیڅ تقصیر ونۂ کړے خوشحالہ
کۂ کردار دِ هم زیبا وے چاربہ ولے وہ مشکلہ

پہ پیرئ کښے عشق بازی څۂ پکار نۂ دہ

پارینہ چارے چہ سبر نشتہ خوشحالہ
دا دَ سبر چارے بہ هم نۂ وی تر کالہ

دا سبر کال چہ دَ غصے دے چہ غصہ شی
اُمید وار اوسہ لہ بختہ لہ اقبالہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بخت اقبال کۀ وتا درکا هسے ناوے — چه مهتاب ئے منفعل دے ترجماله
ستابه دوه کالونه وی د عمر — سود فائده ئے راته وایه له وصاله
دوه اویا به دِ هاله د زړۀ په کام وُو — کۀ خُوانی ورسره هم وے اِتصاله
د پیرئ په وخت کښے هرهوس کنده وی — لا په تیره عشق بازی ده غیرِ ساله

د دلبرو مینه چا داهو مره سړا کړه
چه ئے هیڅکله خالی نۀ یم له خیاله

د خپلے عقیدے، مشرانو او مړانے په باب کښے

د خدائے منت رابانِدِ چه ئے هست کړم له عدمه
بل خلقت ئے نۀ کړم راپیدا شوم له آدمۀ

پښت په پښت راغلے مسلمان محمّدیؐ یم
چار د چار یارانو سره واړه منم سمه

درست په دا پوهیږم چه څلور مذهبه حق دی
زۀ هم د حنفی مذهب دعوی لرم محکمه

مینه ئے په زړۀ کښے د علماؤ راکړه ډیره
مینه ئے د دور د شیخانو سړا کړه کمه

نۀ خراباتی نۀ قمار باز نۀ زنا کار یم
نۀ قاضی مفتی چه ئے نظر په څو درمه

بخره ئے د تیغ راکړه په اصل کښے پښتون یم
پلار په نیکۀ نۀ یم بے دولته بے حشمه

پلار م سور کفن وکورته لاړ نیکو ده واړه
ډیر خلق پرے ومړ خون ئے لاړ شو از عالمه

پلار م شهباز خان په بیرون لکه حاتم وُو
زړۀ ئے د مزری په توره تیر وُو تر رستمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تینګ ولاړ په شرعَ تل ئے کاروُو په ربښتیا کښے
خط سواد ئے نهٔ وُو نور دانا وُو له فهمه

څوبه نیکهٔ ستایم یحییٰ خان جنت ئے ځائے شه
روغ لکه یوسف وُو درست ترسره تر قدمه

بل سړے کهٔ سور وے دے پیاده سره برسم وو
قد قامت ئے هومره دَ مړانے چا ړ تمه

بل نیکهٔ څما ملک اکوچه په خپتک کښے
دهٔ راوړه دا بخره دَ لویئ مقدمه

دیرش کالونه وشول چه م پلار دے شهید شوے
مړکړ یوسف زیو ماهم اورکړه باندِ سَمه

نور پښتانهٔ ډیردی خو یوزهٔ پکښے تورهٔ یم
واخلم، ورکړم، بندکړم، پریږدم، دوژنم تر دَمه

ډیرو ولسونو غلیمی را سره وکړه
سرئے راته کوزکړ هاله خلاص شول له ما تمه

یو یوسف زئ دے چه په مائے منت بار کړ
لا په اکوزیو دَ ننګ چار ده مُسلّمَه

زهٔ چه دَ غعد په کال بندی دَ اورنګ زیب شوم
کور او خپلخانه م پکښے ډیره وه له دَمه

څوکاله بندی کړم اورنګ زیب په هندوستان کښے
روغ راغلم ترکوره بیائے خلاص شوم له سِتمه

هرچه زهٔ ئے وژلم په زندان کښے هغه واړه
ومړل خوار شول ورک شول خالی نهٔ دی اَلمه

زهٔ لکه یوسفؑ له بنده خلاص شوم کامرانی کړم
پاک پاکیزه زړ وُم اورم نهٔ کړه بهاکمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوئے م اشرف خان دے چه خورشوے کور پرے تول دے
زهٔ چه په بندلارم خیلخانه م شوه برهمه

څلیر پښت څویه نورلرم یودے پکښے چه لوئے دے
واړه برخوردار شه خدائے ئے وساته له غمه

اوس پنځه نمسی لرم افضل د اشرف خان دے
خدائے ئے برخوردار کړه په دهٔ پیره لرم تمه

یو م سکه رور دے چه ئے لار د حق نیولے
دوه رونړه م نور دی یو په نم دویم بے نمه

څائے م ملک پوردے چه ئے سرائے بولی وکړے
قام اولس م پروت دے ترلکئ په غړهٔ په سمه

شل زره څوانان لرم همه له یوهٔ ذاته
واړه یکانه شا په خدمت کښے راته خمه

څهٔ شو شمشیرخان ترین کهٔ یوخ پنجهزاری دے
ماوته هیڅ نهٔ دے مګر بے اومهٔ شلغمه

څو به د منصب په زورځما برابری کا
څهٔ مجال د کلهٔ چه سیالی کا له ضیغمه

خوارشه یوسف زئ چه ترین ئے حاکمی کا
اوس کهٔ بنکار د باز کاندی هیلئ نهٔ ده کرمه

زهٔ د شاهجهان بادشاه دننه د زړهٔ سرو م
چارم اورنګ زیب په نادانئ کړه برهمه

دم وهلے نهٔ شم څوک م ډاډ د لاسه نهٔ کا
داغ لرم په زړهٔ کښے بے طبیبه بے مرهمه

څو زره سوارهٔ دی سرګردانه په څو کاله
زهٔ کهٔ په زړهٔ روغ وے چاربه ولے وه درهمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سل کاله که تیرشی دا مهم به فیصل نشی
دا رنګه چه کیږی کوره څه وشی له همه

خوچه په خوکاله شمشیرخان ترین کاږکړے
مابه په خو میاشتے واړه چارکړه مستحکمه

دا مکر فریب چه د حیات ترین هنر دے
کله دا د مرد دے ؟ دا د ښځے دے عالمه

پوهه تمیز نشته دا فلک په ستر کو پوند دے
ښځه د خانئ په خطاب کا مکرّمه

دا انشا املا واړه چه دے د شیطانئ کا
تل باندِ نفرین اوری له لوحه له قلمه

حال حقیقت وایم چه هرچا وته معلوم شی
زهٔ څهٔ شاعر نهٔ یم هئ توبه له مدح، ذمه

خپل حال

چه قانع د زمانے په خشک و تر یم
که م پیژنے بادشاه د بحر و بر یم

نهٔ م تخت نهٔ م افسر نهٔ م سپاه شته
په تسخیر د درست جهان ختلے نمریم

په درون کښے م پراته دی دیر کنجونه
په معنئ کښے لکه کان د سیم و زر یم

که م لاس لکه دریاب خالی لیدهٔ شی
د تهټر دننه ډک په دُر کوهر یم

د طالع په سود و زیان م نظر نشته
سرتر پایه درست وجود واړه هنر یم

که م حلق له تندے وچ شی په همت کښے
پروا دار کله په حوض د کوثر یم

لا یو شور راځئ لاړ نهٔ وی بل راشی
مکر زهٔ پیدا په ورځ د شور و شر یم

که لوئی م د آسمان سره سیالی کا
په پستئ تر ثور و خاورو نه بتر یم

په سپین والی که م زهٔ تر داوړے سپین دے
په توردالی د دوزخ د اور شرر یم

څوک م پرے مهٔ وزه د قهر تر کمرو
که په حکم په سکون لکه تورغر یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وباطن وته مِ کوره کهٔ دانا ئے — په ظاهر صورت کهٔ هرڅو محقّر یم
دَحاتم غوندِ مِ خیل وحشم نشته — په عطا کهٔ له حاتمه برابر یم
سخاوت مِ په تقلید په رسم نهٔ دے — زهٔ له خُایه دَ سخی بابا پسر یم
نه دا یو عیب خُما نهٔ دِیر هُنره — چه بهرام خُما پسر زهٔ ئے پدر یم
په وګړی مِ خبرے دَ مردئ دی — په همت کښے په هرلورې نامَور یم
دَ یاقوت دَ اوبو غم نشته له اوره — کهٔ دا یم دَ زمانے په اورکښے دَر یم
خپل پردی سره دِیر حلم هم بنهٔ نهٔ دے — زهٔ داهسے درمانده په درګذر یم
څوک دِ هیڅ ګمان په ما دَ دروغونهٔ کا — چه په ملک کښے لیونی دی زهٔ ئے سر یم
لا پردی راسره برګرندے وی — زهٔ دَخپلو په سلام کله په چَر یم
څوک دِ لاڅ دَخپلوالی راته نهٔ کا — چه په حال دَ نیک وبدو بنهٔ خبر یم

زیست روزګار به مِ دَخلقو سره نهٔ شی
زهٔ خوشحال له واړه خلقه مرور یم

دَ شپے او ورځے مباحثه

جُجت دَ ورځو شپو دے تهٔ ئے ونغورهٔ همدمه!
کهٔ بنهٔ فهم پرے اوکړے زهٔ به خلاص کړے له اَلَمه

چه ورځ دَ شپے جُجت کړ، یو دَ بله ئے صفت کړ
وئیل ئے منتشر شول هم له مدحَ هم له ذمه

شپے ووے چه اے ورځے خُما فضل ترتا زیات دے
په داسبب چه زهٔ یم په اَزل ترتا قدمه

دوستان دَ خدائے طاعت اوبندګی دِیره په شپه کا
دَ شپے سجده په قدر وی دَ ورځے له قیَمه

موسیٰ وکوه طورته له قومه تلل په شپه کړل
هم لوط په شپه جدا شوله بیداد اولهٔ ستَمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

احمد م له آسمانه په شپه کړه میاشت راکوزه
معراج وتهٔ تلنه هم په شپه وه له حرمه

یوځوونکته په تاکښے دی چه مونځ دے پکښے منع
زهٔ درسته په طاعت په عبادت یم مکرمه

ترزر ومیاشتو بهه ده په فضل وپه شرف کښے
یوه شپه د شبقدر خبر واخله له عالمه

آسمان وته چه ګورے په ورځ یو شین کنبت دے
په شپه چه ورته ګورے بنائسته دے تر ارمه

زهٔ شپه یم ستر پوشه عیب فاشه م تهٔ ورځ ئے
راحت مومی له مانه تهٔ م پکه ئے له غمه

چه ورځے م د شپے نه دا د مدح ویل غوښ کړهٔ
په وروئے ورته اووے چه خوله پته کړه له ضمه

لږ وار وماته راکړه چه زهٔ هم درته ووایم
څوتهٔ هسے ګډیږے په خبرو نا محکمه

روژه چه مؤمنان سړی لری واړه په ورځ ده
مجمع په عرفات باندِ په ورځ دے له اُممه

اختر دے کهٔ جمعه ده کهٔ عمره کهٔ عاشوره ده
همه واړه په ورځ دی دا له عقله له فهمه

په وقت د قیامت به د عالم حشر په ورځ وی
ایجاد د واړه وخلقو هم په ورځ وُو له عدمه

په ما ستړے رنړا شی د عالم په تا تاریکے
یا دیږم په ویل کښے رنړا ورځ له توره تمه

څما څهره ګونه ده له اسلامه ستا د کفر
د عید جامه څما ده ستا جامه ده له ماتمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ په مثل د بادشاه ئے میاشت وستوری د لښکرئے
لښکرِ تار په تارشی چه ورځ وخیژی له همه

که پټ وی په وریځ کښے هم ترمیاشتے نمر تیرے کا
همه عالم خبر دے چه زر بنهٔ دی له دِ همه

چه سیرد ګلونو د ګلزار کا یا څوک بنکار کا
هغو ته په قطع نهٔ ده شپه له ورځے سمه

په ما کښے فریضه نمونځونه دیر په تاکښے لږ دی
په تاکښے څکه کم شوچه تهٔ ئے له ما نه کمه

د خپلو ګناهونو نه توبه ګار او د خپلے عقیدے اقرار

زهٔ په خپلو ګناهونو توبه ګار یم
چه هم کړی دی په واړو شرمسار یم

په دا سپینه زیره ما فضیحت مکړه
که په توره زیره هرڅو بزه ګار یم

اوس وما ته توان توفیق د طاعت راکړه
ستا وفضل اوکرم ته اُمید وار یم

ستاله لوریه همګی فضل و کرم دے
زهٔ د خپلو شامتونونه په دار یم

نور عالم م په کردار خبردار نهٔ دے
زه پخپله خبردار په خپل کردار یم

په عمل به هسے ګبر و جهود نهٔ وی
لکه زهٔ په خپل عمل ګښے خوار و زار یم

هندوهم په نیمه شپه پاڅی خپل جپ کا
ترهند و نه د عمل په کار لا خوار یم

زهٔ په سلو فتنو لاړ په سجده سر یږدم
همګی عمر دا هسے مونځ ګذار یم

نهٔ ثواب د جماعت نه سود د نفل
د قضا نمونځونو هم لا تاوان دار یم

که حلال وی که حرام مزه ئے بویه
په مزه د لقمے کله پروادار یم

خلق څما په فعل ګور ته لاړے
لا د نوسرو وژو ته په تلوار یم

نفس وما ته حق ناحق کا ناحق حق کا
تل د دهٔ په فرموده پورے ناچار یم

راکښے خوئ خصلت د دوه اویا فرقودے
په ظاهر د مومنانو په قطار یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د هوا په درياب ونو کښے غوتے خورم
د حرص په حصار ونو کښے حصار يم

که په رسم په تقليد مسلمانی شی
سخ ځما مسلمانانو سره شمار يم

نفس شيطان راته په هره ساه په ځودی
تر روستئ ساهے زه ځنے په دار يم

حميده م لکه زر ذميمه شے
تورے خاورے م په سر دی که زردار يم

اعتقادئ د خاصانو وما سره کړ
که زه هر څو په عمل کښے خوار وزار يم

د کونينو پيدا کړونے لاشريک ئے
په دا هومره اعتقاد کښے استوار يم

که فرشتے که کتابونه د آسمان دی
په هم پيغمبرانو په اقرار يم

د قيامت په ورځ قايل يم بے کمانه
نيک و بد واړه له تادی خبردار يم

پس له مرګه به ژوندون د خلائق دی
په دا واړه وکښے له شرکه نه ويزار يم

پيغامبر م محمد د عبدالله دے
مينه دارئ په اصحاب په چهار يار يم

امامان ئے د اولاد واړه برحق دی
تر مهدئ پورے د واړه خدمتکار يم

چه د بښنے ئے د اولاد اود اصحاب دی
په وکښنه ئے د بيخ اود تبار يم

د مذهب څښتن څلور دی پنځه نه دی
حنفی سُنی مذهب د دين په کار يم

د عذاب طاقت م هيڅ نشته بخښنه م
و درګاه لره د درغلم طيار يم

چه هم پک له ګناهونو هم مغرور وی
زه خوشحال هغه بنده د خپل غفار يم

د بهار نندارہ
او د خپلے خودارئ اظهار

د نوروز منت په باغ دے په صحرا هم
نورانئ شی له فيضه هغه، دا هم

چه په باغ کښے رنګارنګ ګلونه واشی
غنيمت ده د ګلونو تماشا هم

لخلخے د نوبهار په هر مشام ځی
ګلدستے ځنډوی پيرو برنا هم

د ګلونو هار په غاړه د دلبرو
شرموی لعل ويا قوت ثريا لالا هم

د معشوقو په زلفينو کښے ځائے ځائے
بناشسته ګلونه پاس په وربل لا هم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اَرغوان کهٔ بنفشه کهٔ شقائق دی
زیبائی لری یوځانے جدا جدا هم

په هرګل باندِ تهتر مږی بلبلے
بیاله شوقه په هوا کاندی نوا هم

دَهرګل په مخ چه سرکښیږ دی بلبله
پرے غلطان غلطان راځی بادصبا هم

په ګلزار پسے بلبله دل کباب ده
په ارمان ئے ځګرخون دے دَ مینا هم

څوک په عیش په عشرت کښے څوک په غم کښے
څُنے څهٔ چارے لیدهٔ شی په دُنیا هم

دَقفس بلبله ژاړی ګریانی کا
چه به چیرے په ګلګشت والوزو بیاهم

په هغوځما سلام مادِ هم یاد کا
په ګلزار کښے چه نګار لری صهبا هم

څوبهارهٔ رم بے میو معشوقه ځی
داخود رائے فلک څهٔ چارے کا په ماهم

ماوے زربه څرخ ځما په کام راوخوری
ولے دیر تعطیل ئے وکړ لائے کا هم

چه وخپلے کامرانئ ته رم شا کړه
غم اندوه دَ فلک نهٔ لرم پروا هم

دَ سفله منت به هیڅ دانا وانخلی
چه خبرئے په خصلت شی په عطا هم

دَمنت دارو کهٔ مرم پکار رم نهٔ دی
کهٔ علاج لره رم راشی مسیحا هم

دَفرښتو آمین منت دے په دُعا کښے
لاجرم ورځُنے پته کړم دُعا هم

دَجهان غمونه واړه پکښے ځائے شول
شکر دا چه زمهٔ ئے لوئے راکړو وما هم

چه لیدلے دِ وفا دَهغه یار وی
په دوه سترګو قبلوه دَدهٔ جفا هم

ښاپیرئ مخ په خوب کښے رانکاره کړ
لیونتوب رم ورسره موندهٔ سوداهم

کهٔ خوشحال دَ یار وصال په دُنیا مومی
تمامی دُنیا ترے ځار شه مافیها هم

ژمی ته هرکلے

چه تحویل شی دَ میزان توغ څرګند کا زمستان
توغ ئے څهٔ دَ سهیل ستورے چه بسکاره شی په آسمان
دَ غارمهٔ په رنځ رنځور وی بیا تند ست شی داجهان
دَخوږو لذت پیدا شی اُبه ولکی په ځان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

غیږ په غیږ سره نه ماستې — لب په لب شي مشتاقان
د جامے قدر څرګند شي — زرین قبول کا عراقیان
نهٔ په زغره ځوان خبروی — نهٔ اَس دروند په بڑګستوان
چه د بنکار هوس ناکی کا — پرے بنادی شي دا آوان
د شمال مرغونه واړه — په جنوب شي سارسوان
نوی باز راشي له سواته — لکه بنهٔ سیلی جوګیان
د سپوږمئ په شغله یون کا — ژغ کا زانړے په آسمان
قاز او بطے راسوړے شي — هم هیلئ صد چندان
زرګے کوزے شي وَسَم ته — په دانه د دهقانان
تغدری لکه دهونی — ځان څرګند کا په میدان
کهٔ شاهین که څرخ که بازوی — رائے واخلی میر بنکاران
د صدبڑګ ګلونه واشي — په رنګ بنهٔ وی تر زعفران
څوک د بنکار په هوس ګرځی — څوک په سیل د بوستان
عباسی په دوه درے رنګه — سپین او زیړ وی ارغوان
د چنبے د ګلو بوئ ځی — د هر بوټی تر ګریوان
د سبزے ئ تماشا شي — لا په تیره د ریحان
په تنکی تنکی ښاخونه — هره ونه شي شان شان
کهٔ بلبلے کهٔ طوطیان دی — لور په لور کاندی فغان
د دے هسے وخت هوا به — مګر موے په جنان
کهٔ رښتیا وایم دا وخت م — په پسرلی لری ځ جهان
د دے وخت په مخ خلاص وی — د پسرلی په مخ زندان
په خوشحال د قدر پیر دے — یمانی ستوریه جان جان

چه دیدن د ورښکاره شي
نور په دهٔ ګرے خط پریوان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د استاذ د خولے پندونه

خپل استاد وماته دوے څو پندونه
هریو پند ئے مرغلرے دی لالونه

وے ئے هره بدی کړه هغه بد مهٔ کړه
چه له لاسه دِ آزار شی د چا زړونه

کهٔ دِ زړهٔ دے چه بد نهٔ موے له چانه
اول تهٔ پریږده د بد و خصلتونه

د شهوت په نغوته مهٔ څه شهوت اور دے
په دا اور د ډیرو سوی دی کورونه

تهٔ کینه زخه حسد له هیڅا مهٔ کړه
د ازل په ورځ مقسوم دی قسمتونه

دهرچا سره د ښو سلوک ښیدهٔ دے
په بدئ کښے څهٔ فائده د څهٔ سودونه

د دُنیا په مال د نیکو نوم حاصل کړه
تل جهان وچاته نهٔ پریږدی سودونه

دهرچا سره نرمی ملاسهت کړه
کُندوی چه په داخیل کړے د چا زړونه

خپل پردی ته د زړهٔ راز خبرے مکړه
د بُخے دننه بنهٔ دی خپل رختونه

خوش خوئی هرڅوره بنه دهٔ داهومره
چه په باغ کښے دِ خر تیزے وهی خرونه

هغه کار چه په نرمی نرسره کیږی
څهٔ حاجت چه رساوهٔ شی ترجنګونه

وهغو ته کهٔ قهر کړے روا دے
چه لری د بد و فعل بد خویونه

د هغو په مرګ ثواب کتلے بویه
چه ئے سیرنی له شومته غاړے غرونه

کهٔ دشمن دِ ډیر زیون ته څنے وارکړه
په یوهٔ بخړی و سوزی بنهرونه

د دشمن په تملق غلطی مهٔ کړه
د رُستم غوندِ هم مړهٔ دی په مکرونه

عاقبت به خپل ورغوے په غاښ پرے کا
هرچه کار کا د دشمن په درمونه

چه دِ لاس په دشمن برشی پرے مهٔ وده
عاقلان به ژوندی نهٔ پریږدی مارونه

کهٔ پخپله د خپل خان په بدئ نهٔ ئے
د مارونو په غاړه مه نهٔ لاسونه

په خپلوانو باندِ دومره خشم مهٔ کړه
چه پردی درځنے تښتی په ملګرونه

د بادشاه په مهر مینه غره مهٔ شه
زور ور په لږ ګناه وهی سرونه

بادشاهان چه په چا خ کا د بدئ
وسیندونه ته تړل نهٔ شی بندونه

په هغے معشوقے څهٔ باور د کړو دے
چه په هرلوری یاران لری نړګونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پیپلو پا ڼے خوره نهٔ هغه پاستی
چه ئے خورے د نوکرئ په شرطونه

که عمل که وکالت که پیر و پلور دے
د هوښیار له لاسه ښهٔ یشی کارونه

له بدخویه سره هیڅ بدی تهٔ مهٔ کړه
غلیمان ورلره بس دی خپل خویونه

د کم ذات په ښوخبرو غلط مهٔ شه
د کنډیر وُنه خوابړهٔ لوی کلونه

په هرکار کښے چه درپیښ شی بیړه مکړه
په تلوار سره ورانیږی جوړ کارونه

چه د قول له چا وکړ نورئے مهٔ کړه
تل په عهد قول ټینګ وی ښهٔ میړونه

په ربستیا که په دروغ وی سوګند مهٔ خوړه
منافق دے چه پیر په پیرخوری سوګندونه

د حرص ستړے مړے په قناعت کړه
چه په کور کښے د انبار شی نعمتونه

که هرڅو د علم د پیر چه عمل نهٔ کړے
تهٔ حمارئے په تا لښلی کتابونه

د ښهٔ دین دپاره علم دانش ښهٔ دے
نه په داچه پرے لوټے پردی کورونه

په جهان کښے که مردان دی هم هغه دی
چه د سخت وته ونیسی ځانونه

په لښکر کښے د هم ساد وی هم د غلهٔ وی
که غشی په کار کیږی کله کږه نه

چه بد انو سره ښهٔ کړے قباحت دے
د بدانو څه هم تور ښهٔ وی مخونه

عاقبت به ملګیری درڅخه پرے کا
چه په لارے تر تاتیر د ردمی ملونه

که د رور دے که د خوئے دے چه بدکار شو
په څیړه ئے کا بړهٔ کا د سر میږونه

چه بد فعله بد غرض وبله ناست وی
د هغوله ناستی تښته په کروهونه

چه په کانو مشران تهٔ ئے حرمت کړه
بیا هغه چه د په څائے دی لکه ترونه

چه د ښځو ترآواز پورے زبون وی
په جهان کښے هغه ږیره ده زبونه

په هغه کور کښے چه ښځه چرګه باانګ لی
د هغر خونه څ سر کښتونه

هرچه شرع فرمائی په هغه کار کړه
مه عمل کوه په [illegible]

نیکوکار په فقراؤ خیر خیرات کا
هرو کار [illegible]

که د ښ ړهٔ له د بیو دک شی ودشمن ته
لږ و د یږه زبان مهٔ راوړه غمونه

په هرکار چه د لاس بر وی په څوانئ کښے
که طاعت که عبادت که نور کار ونه

په څوانئ کښے چه د کار له لاسه ووځی
په پیرۍ نه د ورنهٔ رسی لاسونه

درته وایم چه په کوم توکی بد دوند دے
چه د هرچا سره نهٔ کړے خوا بونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

همیشه اوسه خولهٔ پټه لکه ناوے
چه ضرورشی هاله وکړه دوه حرفونه

ترهغهٔ به نا معقول په جهان څوک وی
چه همیش په خندا سپین لری غاښونه

کهٔ خبره کهٔ خندا کړے جګی جګی
هره چار ترحساب مهٔ کوه بیرونه

کهٔ دِ زړهٔ دے چه دِ عیب ښکاره نشی
چا ته مهٔ شماره دَخلقو پټ عیبونه

کهٔ ترتانه په قوت دَ متوزیات وی
دَهغهٔ سره حُجت مهٔ کړه بحثونه

چه توانیږے دَ هغ خبرے لاف کړه
اوکهٔ نهٔ په دروغ مهٔ وهه لافونه

په دښمنو کښے چه دَ جنګو خرخشے وی
تهٔ بے غمه خپل هوس کړه خپل کارونه

کهٔ دِ واوُریدل چه بیا وبله دروغ شول
نور په خپله وِسله ووهه لاسونه

چه دَ بنځو نه بتر دے هغه څوک دے
چه دَ بنځو سره کا مصلحتونه

په جهان کښے چه پرے ننګ ونام کا ټهٔ شی
کهٔ پوهیږے څاربهٔ مږ ونه دَ اَسونه

خدائے هغه په دوارهٔ کونه دی نمنځلی
چه په ورځ ئے عدل و داد په شپه مونځونه

چه په زړهٔ په تامئین دَهغو ناز وړه
تل نیازمنو سره وړی دی نیازونه

دَ اصیل بنیوه خپل اصل نه لباس دے
په زربانو کښے یا دم وی یا مریونه

دَ دهلی دَ بنهار مختصر تاریخ او بیان

دَ دهلی دَ بنهر بنهٔ شان وشوکت وُو
لور په لورئے کښلے کښلے عمارت وُو

بنائسته ئے بازارونه وُو دَ بنهر
مهیّائے په بازار کښے هر نعمت وُو

دَ شاهر فوارے دی په هر کور کښے
دَ بازار به ئے څهٔ کم بیګه وسعت وُو

په دهلی باندِ ګواهی دَ جنت وله
کهٔ راغلے په دُنیا چیرے جنت وُو

دَ بادشاه دَ خاص وعام به څهٔ تعریف کړم
وخوا بګاه وته ئے عقل په حیرت وُو

چه به جور دَ شاهجهان بادشاه دربار شو
په دربار کښے به ئے دوه اویا ملت وُو

کهٔ هوائے دَ عراق دَ خراسان وے
دَ جنت به د دهلی سره غیرت وُو

دا زینت چه شاهجهان و دهلی ورکړ
بل بادشاه کله ورکړے دا زینت وُو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د دهلی بنا دچا په لاس ده شوے
په نوبت نوبت دچا پرے سلطنت وُو

همګی به نوم په نوم درته بیان کړم
چه دهریوهٔ څهٔ خوئ څهٔ خاصیت وُو

د دهلی بنا اول اوکړه څو هانړ و
پرے د دیو تیر څو کاله سلطنت وُو

د اسلام بادشاه اول معزالدین وُو
چه یوکال ئے په دهلی کښے اقامت وُو

چه دهلے ئے رانیوهٔ له پتهو سره
په دا کارکښے ئے ډیر کړے مشقت وُو

چه ئے سر د پتهوراپر یکړ له تنه
شپږ سو دولس کاله کم سن دهجرت وُو

بیاله پسه قطب الدین دده مړئے وُو
چه پریښے ئے په هند په نیابت وُو

بیاله پسه شمس الدین د دهٔ پالک وُو
چه په خلقوئے آواز د عدالت وُو

بیاله پسه فیروز شاه د شمس الدین وُو
چه په هند کښے بے نظیر په سخاوت وُو

بیاله پسه رضی لور د شمس الدین وه
چه راضی څنے سپاه اورعیت وُو

بیاله پسه معزالدین د شمس الدین وُو
چه هرکوره د غلیم څنے هیبت وُو

بیاله پسه ناصرالدین د شمس الدین وُو
چه مشهور په عدالت په عبادت وُو

بیا سلطان معزالدین کیقباد وُو
د رڼخه چه هم صورت اوهم سیرت وُو

بیا سلطان جلال الدین په سریرکښیناست
چه په اصل کښے غلجے د ولایت وُو

بیا نمسے د فیروز شاه علاوالدین وُو
چه په خلق اوپه کرم دده شهرت وُو

بیاله پسه قطب الدین د علائی وُو
چه همیش ئے مخ په عیش اوپه عشرت وُو

بیاله پسه تغلق شاه چه اُمراء وُو
پرورش ئے د غلجیو په دولت وُو

بیا سلطان محمد شاه د تغلق شاه وُو
چه دده په عصرخلق فراغت وُو

بیاله پسه فیروز شاه چه دده تره وُو
چه په هند دده د چارے خاتمت وُو

بیا سلطان محمد شاه د فیروز شاه وُو
چه د پلار په زندګئ ئے سلطنت وُو

بیا سلطان غیاث الدین د فیروز شاه وُو
چه نیولے ئے له سره مملکت وُو

بیاله پسه آبابکر په تخت کښیناست
چه دے هم د فیروز شاه له ذریت وُو

بیاله پسه سکندر شاه د محمد شاه وُو
چه په تخت ئے یوه نیمه میاشت مهلت وُو

بیاله پسه محمود شاه د محمد شاه وُو
چه په دهٔ د بنو خوانانو ډیر قیمت وُو

بیاله پسه چه تیمور په هند راکښیوت
خضرخان ته ئے ورکړے سلطنت وُو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا سلطان مُبارک شاه د خضرخان وُو — چه بشکاره ئے له جبینه سیادت وُو
بیا سلطان محمّد شاه د دهٔ وارهٔ وُو — چه پښتون د دهٔ په عهد په عزت وُو
بیا سلطان علاوالدین وُو د دهٔ ځویه — چه اکثرئے د نساء سره صحبت وُو
بیا بهلول لودین بادشاه شو د دهلی — چه په تخت ئے نهه ویشت کاله سکونت وُو
بیاله پسه د بهلول ځوئے سکندر وُو — چه عمل ئے موافق په شریعت وُو
بیاله پسه ابراهیم وُو د دهٔ ځویه — چه بابر سره ئے جنګ په پانی پت وُو
بیاله پسه د دهلی بادشاه بابر شو — چه ئے کار د پښتانهٔ په برکت وُو
بیاله پسه د بابر ځوئے همایون وُو — چه بے حده ئے لښکر پیرئے دولت وُو
بیاله پسه شاه عالم د حسن سور وُو — چه همایون د دهٔ د لاسه هزیمت وُو
بیاله پسه اسلام شاه د شاه عالم وُو — چه له پلاره نه هم زیات د دهٔ جرأت وُو
بیاله پسه عادل شاه د دهٔ تربور وُو — چه پښتون د دهٔ په دور فضیحت وُو
بیاله پسه د همایون ځویه اکبر شو — چه وهرلوری ته مل د دهٔ نصرت وُو
بیاله پسه جهانګیر د اکبر ځویه — چه د دهٔ په دور هند لکه جنت وُو
اوس بادشاه شاهِ جهان د جهانګیر دے — چه په بلخ په بدخشان د دهٔ نوبت وُو
زهٔ خوشحال چه دا شمار کړم شاعرنهٔ یم — په دا کار م آزمیلے طبیعت وُو
که م شعر شاعری څرګندوُلے — ما به کړے پیر د خپل بادشاه صفت وُو
چه د هند سیر م وکړ اوس م ووے — کتره دا تاریخ لارغهٔ ځما په نیت وُو
که د دے ویلو کال غواړے له ما نه — په حساب کښے واوره کال د قرشت وُو

ابتدا د دے بیان په نماز پښین وه
د ما بنام په وخت ئے شوے نهایت وُو

لنډئ بازنامه

که هوس د بازد بشکار لرے پسره — خبر دار ئے شه له عیبه له هُنره
څود باز وزرنری مهین باریک دی — درونده په وزن هومره چارئے ده بهتره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

. رنګ ترکیب وته ئے مهٔ غږوه ستړکے
چه څهٔ لونے وی هغه باز نیسه په غوره

ډهر باز چه ستړکے سړے وی ژبه توره
هغه نهٔ وی بے مړانے بے سیره

خو ډیرا وږد غاړه اوږده اوږے هم پلنے
د ترکیب وینائے دا ده مختصره

ترسپین باز نه قدر ډیر ډخشین باز دے
چه ډ پاسه شائے شنه سینه احمره

سپینه ژبه په شاتور اوږے بار یکے
خوږند لم لکیور ګران دے په ګاځره

د میزان نیولے بنهٔ دے یا د قوس
په عقرب نیولے نهٔ وی بے ضرره

خپله مینه ئے په دام په جال بندی کا
که د باز په څان بلا شوله کوتره

میزانی نیولے دم درحال بنکاره کړه
د عقرب نیولے پرانزه په ویره

په درست ژمی ئے ساته په تاودهٔ ځائے کښے
تماغه ئے په بهار واخله له سره

د باز ونو هنر هسے آسان نهٔ دے
چه ئے طمع سړے کا له یوهٔ هره

نوے باز چه اول بنهٔ په چرګ تیار شی
بیا باولی ورله بویه هنر وره

چه یوځو باولی وخوری ستا له لاسه
بیا ئے بنکار له روان کړه برادره

چه پګه پګه ئے سیر کړه څلویښت لاسه
نو ربه بنکار ته غاړه کښیږدی برابره

نوے باز ډ صبا په وخت الوزی
یا چه پا توشی پنځه ګړۍ له نمره

خوئ خصلت د بنود بد وخهٔ پکښے دے
همګی د باز بنکار پرے له بصره

هر یو باز کوښے خپل خوئ لری خپل فعل
خبردار ئے شه له اصله له جوهره

چوز هالهٔ صاف کړے بویه چه فربه وی
د صافئ تکلیف واخله له لاغره

د صافئ داوهٔ حبه نبات دی
تریوهٔ د مالګه نهٔ وی افزون تره

که سړه نبات د ورکړ عیب نشته
دا هالهٔ که ئے پیدا کړه له بره

چه د باز په هر علت زحمت خبر شی
میرشکاری د هغه کس ده معتبره

باز چه ترکړیز وباسی میرشکار دے
کنه واړه د دهٔ چار ګنړه ابتره

باز چه ووزی له کریزه هالهٔ پوخ شی
په چوزئ کښے اومه خښته ده نیمتره

د چا باز د په دارو آموخته نهٔ شی
دست کشی ورنږه بس ده هنر وره

سیه چشم له ډیره پهره بویه
کلال چشم له بس ده دوه دوه پهره

لږ خوراک د باز صحت ډیرئ زحمت دے
یک خوره طعمه ئے نهٔ ده بے خطره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دارچینی د پرمهرے سره لاتړم دی
د ساړۀ داروئے مښک او مومیائی دی
کۀ دارو د خوشخوئی خوری په ژمی
د اغیر داروئے دا دی نورځۀ نۀ دی
کۀ تازه طمعۀ ردکړه په داځۀ شی
په ساړۀ ژمی د باد دپاره ورکړه
د حلوان غوښے د خوری د وړے چرګے
چه د زرکے غوښه تل خوری کریزنۀ کا
په ساړۀ د چکس نغښتے په نمد وی
بازچه مور په چکس واچوے له ورایه
د ک تغار د اوبو تل کیږ. ده و باز ته
د مژکوری غوښے بنے دی په کریز کښے
چه په شپه په ورځ فریاد په هرساعت کا
هغه باز به د بانسے نه لا تیز پر وی
هغه بازچه ساړی نۀ نیسی ناقص دے
کۀ د ژمی په وخت بنے نیسی بتیرے
تری ناک بزم تولک ترچوز کم نۀ دی
د شاهین په شکار به کاندی هغه مینه
د مرغونو زمرے چرغ دے کۀ ئے کورے

د سپیږ. مو نسوارئے یوسی د نخ له سره
هم دیږے تریخے باز ساتی بے ضره
د بد باز به بدخوئی ووځی له سره
چه یو دوه ورځے ئے منع کړے له خوره
چه د کیږے طعمه وجار باسی ویره
د کوکری طعمه درے ورځے مکرره
د تارو تمځری یا د کور کوتره
مرغاوئ ده وکړیز وته بهتره
چه فارغ وی د ساړۀ له هره شره
په داکار به پاتو نۀ شی بے ضرره
په ساړۀ غارمۀ داچار کړه مقرره
یا هالۀ چه باز باښه شی کلنجره
د هغۀ علاج څربښت دے له لاغره
چه مهین د لکئ بال نری شهپره
کۀ هیلئ یا سرخاب نیسی بے مره
تر باښے نه هغه باز کنړه تیز پره
په وهنه ترچوز لا دی افزون تره
چه ساتی په هر شاهین پنځۀ نفره
خو میر شکار ورلره بنۀ بویه پسره

کۀ د باز مینه په بنه جړه ماتیږی
ولے بنه باښه ترے لاکنړه بهتره

پاکه ربه تا ته سوال دے

خدایه تۀ څاپرده مۀ کړه پاره
بد م مۀ کړه وعالم وته بنکاره
هغه لارچه د نیکئ د نیکنامئ ده
په هغه لاره م بیا یه همواره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دَدین دَدُنیا نبے چارے پکښے دی
همیشه مِ په هغه چاره وکماره

په دُنیا کښے مِ همیش لره زړهٔ جمع
پریشانی دِ خُنے اوسی کناره

نفس شیطان دواړه قرین دی په شماره کښے
رابنکاره لره دَ دواړو مکاره

مالره په مُلهمه په لَوّامه کښے
تهٔ مِ وژغوره له نفس اَمّاره

کهٔ هرځومِ لوئے گناه له لاسه وشی
په توبه سره ئے تهٔ کړه آواره

په توبه کښے هسے رنگه ثبات راکړه
چه توبه مِ ماته نهٔ شی دوباره

کبیره راته کنده غوښے دَخوک کړه
صغیره کړه راته غوښے دَ فاره

ذمیمه مِ وار په وار له دِله واخله
چه په زړهٔ کښے ضمیمه دَ خونخواره

دَ بد بخته ستاره مِ اَمان اوکړه
راسره لره نیک بخته ستاره

توان توفیق دَعبادت دَطاعت راکړه
زهٔ خاکی بنده عاجز یم بے چاره

په حساب کتاب مِ رنگ دَخلاصی نشته
مایک لخته خپل کرم ته وسپاره

چه اروا مِ له قالبه نه جدا شی
نورم بیایه دَ جنت په نندارهٔ

چه کرامًا کاتبین راځنه خوښ ځی
هسے رنگ مِ گورستان نه وسپاره

مخ مِ سور لره همیش په استغنا کښے
په طمع مِ زیړه مهٔ کړه رخساره

ترایمان چه مِ چاپیر دَیقین کوټ دے
سلامتے وساته برج وباره

په دُنیا کښے مِ عزیز لره تر تلو
آل اولاد مِ پیدا مهٔ کړه هیڅ کاره

وخت آخر شو غافل مهٔ اوسه خوشحاله
یوځو ورځے شپے باقی دی په شماره

په دُنیا پورے زړهٔ مهٔ ترہ

عاقلان چه په دُنیا نهٔ کا وتنه
دَیقین په ستړگو وینی تِر وتنه

په دُنیا وتنه دانهٔ ده هوښیاره
چه دَ هیڅ په دُنیا مال نهٔ وی وتنه

دَ دُنیا مالونه واړه سره آسپه
دَدُنیا په مال دَ زړهٔ نهٔ وی تِر تنه

دَ سلیمانؑ غوندے پاسه په سرکښیر ده
نهٔ قارون غوندے بړه دَزړهٔ دننه

زیست روزگار دَ چار پاپانو غوندِ وکړه
په روزگار دَ هریوهٔ وکړه پوښتنه

ابا بکرؓ څخه هیڅ نهٔ وُو بادشاه وُو
کهٔ عمرؓ دَ خزانو وُو په ساتنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د عثمانؓ تونکری غنا ځانئ وه
د علیؓ به خرخیده واړه ګټنه

د پیرا صحابؓ د پیغمبرؐ غنی مالدار وُو
اَمّا هیڅ ئے په دُنیا نهٔ وه وتنه

مؤمنان دِ پیروی کا د اصحابوؓ
د اصحابو وه د شرعے په لار تلنه

په هر کار کښے چه بے شرعے سړے پَل ږدی
هغه پَل به ئے سریږی په بوبنتنه

شریعت وائی چه بنهٔ خوره بنهٔ اغوندهٔ
په حلال او په حرام کوه پوښتنه

چه د چا په باغ کښے ګډ شے فهم اوکړه
ناړوا نظرئے مهٔ وکړه په و نه

بنے محبوبے لوبوه په پالنګ خوب کړه
ناړوا مهٔ کړه د ستړګو اړوُنه

کهٔ د تخت دپاسه کښینے مُبارک شه
خو ثابت په شریعت اوسه مئینه

سل خونونه په فتوٰی په روایت کړه
خوله شرعے نه بیرون مهٔ شه مومنه

د باغوان په اذن تولے ونے ستا دی
چه ړوانهٔ وی نظر مکړه په وُ نه

کهٔ دِ چیرے ناړوا له لاسه وشی
په توبه وکړه وحق ته جاړ وتنه

څوک به هسے پاک معصوم لکه فرښته شی
د سړی جامه ګه سپینه ګه ریمنه

د توبے صابون به هیڅ باندِ پرے نږدی
کهٔ دُکان جامه دِ هرڅو وی خیرنه

په هر کار کښے هسے کار کړه ځکی ځکی
چه څوک نهٔ وائی وتاته دروغژنه

د سړی خو اعتقاد او ترس د خدائے ؐ
یا چه هر څه مان د مرګ کا یاد وُنه

چه دا درے توکی لری اتکل مِ نهٔ شی
چه به خدائے ؐ رسولؐ راضی نهٔ وی له دهٔ نه

دانایان به غافل نهٔ اوسی له مرګه
د مرګ د فوحُ ناڅاپه ده وهنه

مرګ به تاپسے دائیم هسے طلب کا
لکه څوک د ورک کالی کاندی مرستنه

کهٔ د اوسپنو په کوټ کښے ځان خوندی کړے
عزرائیلؑ به دِ خبر واخلی دننه

ځیات وکم به دِ یودم د ژوندون نهٔ وی
هغه دم چه دِ پوره شی د مرګ ژمنه

بار تړه تکل په تلو کوه خوشحاله
همرهانو دِ غوغا وکړه په لښنه

لرے ملک وته سفر دے فکر وکړه
بیا په بیارته د چا مهٔ کنړه راتلنه

چه سفر بے توښے کا ارمان به یوسی
ګورستان لره له دے ځایه ده وړنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل یارته

یارم دوق د تماشے کا له اغیارہ
نۂ فریاد نارے وهم چه یارہ یارہ

د خاطر طمع م هسے رنگه نۂ وہ
چه به هسے رنگه ظلم کا یکبارہ

چه یک لخته م وباسی له خاطره
فراغت به شی خما د زړۂ له زارہ

مکر خون خما په شرع کښے روا شو
چه جلاد م ویرد نۂ کا له آزارہ

نړۂ حیران وم په داکار نۂ پوهیدلم
چه گناه م ثابت نه زۂ گناهگارہ

هوا یو گناه دلرم زۂ گناهگار یم
چه په تا باندِ خاوند کرم مینه دارہ

کۂ داستا مینه گناه زۂ گناهگار یم
کۂ داستا مینه بدکار دے زۂ بدکارہ

گنړه بل گناه نړۂ نۂ وینم په خان کښے
نور ستم راباندِ مۂ کړه ستم گارہ

نړۂ سنگار د صورت وکړم په اُمید شم
چه به تۂ په ما پیره راوړے دلدارہ

تۂ پیره په ما ونکړے دل ماندہ شم
وشرمیږم د همه خپله سنگارہ

لکه بند بلبله تاؤ خورم په قفس کښے
چه جدا یم ستاد وصل له بهارہ

په وګړی خما ستا مینه بنگارہ دہ
چه مئین دے په فلانئ فلانه بے شمارہ

داچه اوس په ما جفا جور همیش کړے
تر وګړی پورے نړۂ یم شرمسارہ

د وګړی د پیغورہ به م خلاص کړے
کۂ له خپله وصله ما کړے دلقرارہ

کۂ تۂ وګورے دا شرط د مینے نۂ دے
چه په مینه کښے تۂ روغ ئے زۂ بیمارہ

د لیلی او د مجنون مینه په یاد کړہ
مکر نۂ دہ داخبره در اظهارہ

چه قصادے په لیلی نشتر گذار کړ
د مجنون د رګه تله د وینو دارہ

په معنی کښے سره دوه تنه یو تن کا
محبت هسے اثر لری اے یارہ

معشوق م وعاشق وته ویل کړۂ
دا د دوئ له حاله وشول خوګفتارہ

ما خوشحال خۂ دا اشعار ویلی نۂ دی
یو اسرار م هویدا کړ له اشعارہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نصیحت

مخ دَ هغو تور شه چه ئے مینے نفسانی دی
یوه مینه باقی ده نورے کل مینے فانی دی

نَس یو کوتهه سپے دے نورځهٔ نهٔ کاندی خوغواړی
هرچه ورکول کا هغه خیر په سنگبانی دی

مهٔ کړه دَ نس نغوته دَ هوی په لوری مهٔ ځه
واړه دَ نس چارے شیطانی نه رحمانی دی

نړهٔ په چا بنهٔ مهٔ کړه کهٔ دِ ځویه کهٔ دِ رونړه
ملهٔ د تنکسے نشته هیڅوک واړه ځان ځانی دی

رنگ دَ دُنیا ورک شه څو پیر جمع کړے مالونه
هومره پیر پریشان شے جمع نهٔ دی پریشانی دی

غم دَ هغو نشته چه هیڅ نهٔ لری په کور کښے
غم کاندی هغه چه دَ دُنیا په ودانی دی

مانهٔ دی ویلی له کتابه دی ختلی
غوښ دِ باسی خلق داخبرے حقانی دی

کر دَ بدو مهٔ کړه بدکاران دَ بدو کر کا
هرچه نیکوکار دی دَ نیکئ په دهقانی دی

هرچه نیکی وکا بیا بدی ورباندِ کاندی
کور دَ عمل سروغ کا بیائے خیر په ویرانی دی

نشته هسے نړهٔ ونه چه اخلاص لری په زړهٔ کښے
وخت دَ آخر راغے آشنائی نړ بانی دی

نهٔ په چا کمیږی نهٔ ئے کار دَ زیاتید وشته
نورے به ئے نهٔ کا هرچه بخرے آسمانی دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لږ عبادت اوکړی نور ځکه کور په ځان څرګند شی
هرچه ډیر اطاعت کا څرګند لاپه خیرات دی

درست تحصیل تمام کړه په داکله دانشمند ئے
حرف ورلره بس دے چه عالم ربانی دی

کاندہ به په کور کښے وے [illegible]
ننډ سر تر پایه که جاے [illegible]

ما قرآن منلے چه نازل دے له آسمانه
نور وته بخښلے چه خبرے یونانی دی

وخورے خملے پاڅے نه دِ فکر [illegible]
ته څه سړے نه ئے داخویونه [illegible]

مه اوسه بے ذکره همیشه اوسه په فکر
ذکر و فکر واړه د زړه کار دے روحانی دی

را علم په داعمر چه م سپین د سر [illegible]
لاړم د زړه توری هغه هسے شیطانی دی

ډیر همزولی لاړل تورے خاورے شول په کور کښے
لاړل کاروانونه یوځو پاتے کاروانی دی

ډیر شاهان خانان چه دعوے ئے د جهان کړے
راشه که ئے کورے اوس په کور کښے زندانی دی

روغ کړه محلونه پکښے کښینوه ښے جونه
مړک به د ترے بیل کا نه چه داجاودانی دی

پروت به ئے په خاورو ترسر لاندِ اُومخښته
اوس که د سر ویښ دی نهالئ کاشانی دی

ډیر خلق نا یوه دی چه ئے ډار نه شی له مړکه
خاندی هوسیږی په څوخوښ په نادانی دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ډیر مبنود ئے وکړ د دُنیا په ودانئ
تش لاسونه لاړل نورئے نا ست په ودانی دی

دا فکر ومهٔ کړه چه زهٔ خُوان یم مړ نه شته
ډیر تنکی خُلمی وګورته تللی په خُوانی دی
مړ نه لکه یو باز دے په هوا وهی کوتره
فهم فکر وکړه چه دِ بلبنی طولانی دی

چا وته ویل کړم ترجمان نشته په مینځ کښے
زهٔ سمرقندے یم یاران واړه ملتانی دی
امر کړه خوشحاله پسته اوسه له نهی
هرچه نهی کا ندی هغه زر په پښیمانی دی

خورے ورے مرغلرے

چه په وخت ئے د بهار عشرت په مے دے
بادشاهی ئے مبارک شه لکه کے دے

په دا باغ کښے ډیر ګلونه شګفته شی
د لاله غوندِ د چا په زړهٔ کښے کے دے

چه په کور کښے ئے جا روزی یو خو کښلی
د هغهٔ په انګړ هر کله سپرلے دے

مجنون غاؤ په عشق کښے وکړ زهٔ خاموش یم
که انصاف وی تر مجنون مِ لا تیرے دے

هغه هوډ هغه دماغ را پاتے نهٔ شو
که زهٔ سوے را باندِ کړے ځائے د زهٔ سوے دے

خط دے ستا په مخ که پښے په مښک کړے
د چنبے د کل په پانړے وُلاړ میږے دے

په یوسفؑ باندِ دا هومره غوغا نهٔ وه
خریدارئے په لکونو، یو خُلے دے

خدایه تهٔ چه بنا ئسته له دُنیا بیائے
مُکرستا هورے د هورو څهٔ کمے دے

دم، دُعا، تورى، تعویذ، ستانے، رویونه
چه په هیڅ کښے موندهٔ نشی هسے شے دے

داخپل ځان مِ چه پیشکش کړو وخپل یار ته
وسلیمان ته د میږی په لاس ملګے دے

همیشه د هغه سخ چه باندِ وشی
تش نظرئے په معنیٰ وهمائے پے دے

سپینه خولهٔ ئے وما را کړه وَم مو پرشوم
وے ئے خواره وړ یه داخو نیمریځے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یادم هسے رنګه ځائے وکړهٔ په ستړګو
چه وهرلوری ته ګورم واړه دے دے

کهٔ هرڅو شیرین آشنا وی چه جداشی
په هجران ئے نورڅهٔ هیڅ نشته یوهے دے

حسن، ناز، مهرنیاز، فتنے، جنګونه
په داڅو توکه دِ کوم سړے مخے دے

شکر داچه نهٔ م یوسرکړ نهٔ بل سر
کهٔ په دووستړګوم پښے یار تلے دے

کهٔ فرښتے دی کهٔ پیری دی غم ئے نشته
چه ئے غم لره پیدا کړ دا سړے دے

دَ غافل په سپینه ږیره غلط مهٔ شه
دَهلک غوندے لا په خوله کښے تے دے

ماچه ستا دَ مړینی والی لافه وکړه
دَاورنګ غوندِ بادشاه ځما مړیے دے

دا لوئی رالره بس ده په عالم کښے
کهٔ دِ ووے چه حیران عاشق م پسے دے

دَهغهٔ یاری په نهٔ یاری شمار لی
چه ئے نن له تاخندا کاندهٔ مانړے دے

یا دا درست خلق هوښیار نړهٔ لیونے یم
یا یو زهٔ هوښیار داخلق لیونے دے

واړه مینه ده پوهیږم چه ئے زیرکړم
عام عالم راته ویل دا ستا زیړے دے

کهٔ هرڅوئے پوهوم پرے نهٔ پوهیږی
زیست روزګار وورسره مهٔ دشه څاروے دے

یوه ورځ به نوبهار راشی بلبلے
هومره ډیره اندوه مهٔ کوه کهٔ دے دے

چه چادم وهلے نهٔ شو وهغهٔ ته
راشه ګوره چه دَچا باندِ غورځے دے

نړمانے دَخلقو حال راته څرګند کړ
په یوهٔ زمان دِ خپل په بل پردے دے

کهٔ جزا سزا ورنهٔ کړے په ځان خاندے
چه له رایه دَبل رانهٔ کا کهٔ دِ ځوے دے

خوچه والوزی له ځلے منګل سړے کا
په وهلو آموخته دَ باغ مرغے دے

مزړی توب بویه دَ توره په میدان کښے
په خالی میدان هر یوګیدړ مزړے دے

کهٔ دَجنګ په کار کښے ډیر دی حکمتونه
چه دَ سرصرفه ونهٔ کړی نور بړے دے

هغه سرچه زیب ورکړے وافسر وُو
اوس ئے ګوره چه دَ کوم پالیز کودے دے

ځان دَ ست دپارهٔ سیزی هندوکئ
چه ئے هومره همت نهٔ وی نورسوپړے دے

په طلب ئے سرګشته په کلیو ګرځم
کهٔ ئے خدائے رالره را کا یو کاله دے

چه ګُندئ جنبے وشوے غم پیدا شو
هغه ځائے دَ اور لمبے شی چه لوګے دے

جال مرغونو لره پټ په وښو ښنے
په سوګندئے باور مهٔ کړه ټنولے دے

بند په بندئے نظر کړه خوندئے آخله
دَ دانا دَ خولے کلام لکه ګنے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خاص وعام دِ طمع کا بخره به مومی لوئے وادهٔ لویه خوږه لوئے خونے دے
نهٔ یم هیڅ کله خالی له یوے مینے
ما څو شمال چه پیژندلے کینږاوښے دے

دَ کوک شاستر یو باب

تر وُختهٔ تر پریوتهٔ څو ښځے پیدا کیږی
خودی په جهان واړه څلور ذاته حسابیږی
کل فامے، نیک فرجامے، دَدو دامے، فیل اندامے
هم دادی چه مِ ووے پرے دِ هرڅوک وپوهیږی
کل فامے دی هغه چه نیلوفر غوندِ ئے تن وی
له تنه ئے بنهٔ بوئ درومی بورا باندِ څرخیږی
ښے غټے تورے سترګے لوئے بانږهٔ نرئ ئے وروځے
کهٔ پان خوری کهٔ شراب خوری ترمرئ ئے ښکاره کیږی
غنچه غوندِ ئے خولهٔ تنګه سرئے ګرد نرئ پونږه
بار خوئے لکه ګل دَچنبے سپین نازک ځلیږی
پلن وچولے سرے شونډے، هلک چاه ئے په زنخ کښے
واړهٔ هموار غا ښونه په خندا کښے سپین بریښیږی
ښے سینے دِ کے لیچے ګرد ودغوی اوږدے ګوتے
هر ځائے ته چه ئے ګورے هیڅ لقب پرے نهٔ جوړیږی
د تیو سرئے تور تی ئے هلک سینه کشاده
په قد سمه ثابته سم الف شی چه ودریږی
دَ سر ویښتهٔ ئے تور نرئ اوږدے ولول ئے زلفے
په ځان لکه باغکه چه ویښتهٔ پرے نهٔ نمائیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دسپوخئی ویښتهٔ ئے هم نری په نشت شمارلی
ورنونه کوناتی ئے بنهٔ لیدل شی چه خوزیږی

ډیرخوب لږ ئے خوراک کیږه ئے ناسته ملا نرئ
آلت پکښے نامهٔ څخه په کوته څرکندیږی

لږ قهره عقلمنده کم دخولے مهربانه
ساده لږه خندا خو هم په شوند وکښے موسیږی

کل فامه خو م ووے، نیک فرجامه درته ستایم
په حسن په ښائست کښے وکلفا موته رسیږی

دادوه دوه توکه ئے نهٔ وی چه بوږا باندِ څرخیږی
یا پان خوری یا شراب خوری ترمرئ ئے ظاهیږی

ویښته ئے په وجود باندِ هم لږ وډیرلیدل شی
نهٔ څکه وی نهٔ بد رنګه په وجود ئے بنهٔ جوړیږی

خوراک په اندازه خوری خوشبوئی ئے لګه ځان وی
لږ خوب کا ډیره لاهی ټل په سفر کښے ویښیږی

مئینه په هوس وی خنده رویه شیوه ناکه
په لوبو په سندرو په سرود ئے زړهٔ خوښیږی

نهٔ غم نهٔ دلګیری کا همیشه تروتازه وی
په خپلو سهیلیو مینه کا باندِ خوږیږی

دَخپل میړهٔ په بد په بنهٔ په هرچاره نازیږی
کهٔ بل سړے سرهٔ زړوی ورته خاورے څرکندیږی

په نیت جوړه په پت جوړه ظاهر باطن یورنګه
دَیارد پت دپاره دَکباب غوندِ وی تیږی

ربښتیا خبره هم په ډیرضرور په ډیر ناکام کا
دروغ خوئے هرکز په خولهٔ په ژبه نهٔ جوړیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خولهٔ پاکه په زړهٔ پاکه بے ویرے بے وسواسه
په غولی په جرس ئے هیڅ ناپاکه نهٔ تیریږی

له ځانه ئے ځوږ بوی د کبینهٔ غوندِ خوږ درومی
دخول وته ئے زړهٔ دخپل میړهٔ په رضا کیږی
تعریف د دد و دامو درته وکړم راته غوږ کړه
په زړهٔ کلپه ناغسه په خبره نهٔ شرمیږی

بدکویه بدزبانه ډیروی لږه خبره
ځان تود بوئ ئے له ځانه د لیوهٔ غوندِ بهیږی
مینه په چیچل وی په سکوندل وی په داډل وی
له تاوه ئے هم هرکله خښتک مښتک لمدیږی

ویښتهٔ ئے د سوځږهٔ د تن هم ځږه کړلند بدونگی
یکدِله کیږ وړه په خوږلو نهٔ مړیږی
میوه لونگ جائفل لاچی په دائے غرض نهٔ وی
تروهٔ ترخهٔ سوند مونږ بلا بترته ئے زړهٔ کیږی

چه تاؤ خاربنت ورپاخی ناقراره شی شوریږی
کهٔ لوئے وی کهٔ هلک وی وهرچا وته قهریږی
نهٔ پت کوری نهٔ شرم نه ئے حق وته نظر وی
د خپل میړهٔ په غیږ کښے زړهٔ ئے نوروته پرقیږی

د کلی د محلت ناپاکے بنځے ورته ناستے
د بدو بدکارو توقعے وائی مشغولیږی
چه خپل میړهٔ ئے بولی ورته ځان کا لکه حیزه
بل ځائے چه بدکاری کا په شل ځله نهٔ سړیږی

زیارت میارت بانه کا د رنځور منځور پوښتنه
چه لاړه په هرلورشی د هرچا سره خواریږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اوس غوږ باسه وماته مخ نۀ تور د ددود امو
بیان د فیل اندامو هم ضرور دے بیانیږی

کټه مخ بدکولکونه وروځے پلنے وړے ستړے
لوئے سر وینښتۀ نے څرۀ تیرۀ سرونه سړۀ ځلیږی

درست څان کټه ،لاس پښے کټه ،کټه د لاسو کوتے
بد شوندے دا هم وړے چه سپے ځنے ویریږی

یو دروند آواز هم دروند په زړۀ هم سخته ناشولته
کم مهره قهرشر نه چه بل خاندی دا بخښیږی

هاتی غوندِ خوراک کا د هاتی غوندِ ترے بوئ څی
په عشق په محبت په مهر مینه نۀ پوهیږی

خواږۀ ماړۀ چه وخوری اربۀ می په وازه خولۀ کا
لاس پښے په بیارته بیارته هر څاڅ پریږی وغزیږی

د چین او د ماچین په ملک کښے ډیرے دی کل فلمے
د هند په لته هم خال خال په چرته څرګندیږی

کشمیر فرخار کا بل قندهار څوچه خراسان دے
په دا کښے نیک فرجامے ډیرے ډیرے موندے کیږی

هیڅ ملک کشور اقلیم له نیک فرجامو خالی نۀ دے
په هر لوری نوبت د ور د دوئ دے چه ژغیږی

آسمان چه ورځ اوشپه قرارے نۀ کا هسے کړئ
ترسر د نیک فرجامو زۀ خوشحال وایم څاریږی

د بهار منظرونه

چه موسم مِ د کلونو د ګلزار شی — نرم نرم ترشم په مرغزار شی
د هغۀ له بخته څوک برابری کا — چه په هسے وخت ئے سیر په ګلزار شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ننۍ ځما طالع له ماسره مدد کا
بخت دِ هرکله دا هسې مدد کار شی

چه مِ ناسته د صورت په هسې ځای ده
چه ثنائ په لته د هند وبار شی

په دا ځای چه د ابدالو نظر وشو
عاقبت به په همه جهان اوځار شی

په چمن کښې ئ اوبۀ د رومی روانې
په سبزه باندِ نارې د جوئبار شی

په دا هسې پاکیزه اوبو سلسالو
شمالتې ئ د کشمیر په شاله مار شی

د سړی سترګې روښانې زما خوشحال کا
چه اوبۀ د فوارو سره تار تار شی

چه له پاسه نه اوبۀ راځی په کښته
وائ سپینې مرغلرې دی نثار شی

هغه ځای چه د مرمرو فوارې دی
ترغه ځای دِ د ارم تماشه ځار شی

تۀ به وائ د آسمان تناغوزار شوه
چه اوبۀ ئ راروانې د آبشار شی

چه په سرئ د حوضونو څوک گذر کا
وائ پاس په آئینو باندِ رفتار شی

مرغاوئ په حوضونو کښې غوتې کی
د محل په مخکښې ناست د باز وښکار شی

تۀ به وائ د نمرود د اور لمبې دی
سرۀ لاله چه په چمن کښې انتشار شی

سه برګه ئ عجائب سره وودلی
فرق ئ لا د یراقونو تر کنار شی

په اطراف د هرچمن شګفته شوی
د زنبقو، د سوسنو هم دیدار شی

په دا باغ کښې د ګلونو کې نشته
د همه وارو د چا په ژبه شمار شی

کۀ سل برګ کۀ بنفشه کۀ ارغوان دے
د هرګل په نندارۀ خاطر قرار شی

د هغۀ صانع ترصنعه صدقه شم
چه ئ هسې د قدرت په لاس نګار شی

واړه وتے ئ آسمان سره سیالی کا
ولے فرق پکښې د ولے د چنار شی

په هزار رنګه نوا شی د مرغونو
هغه دم چه په چنار وکښې چغار شی

د مرغونو دِ نوا له موجه شوری
نۀ له باده شوریدۀ نۀ د اشجار شی

عمارت ئ کچ وهلے پکښې کړے
په هرکور کښې د جویونو شرهار شی

دوه سو تیر سو رهروان دے پکښې طرح
د سپین والی ئ تیرے په سپین چوتار شی

لطافت ئ د هوا ترحده تیر دے
پکښې روغ به د اتیا کالو بیمار شی

کۀ زاړۀ په دۀ کښې کښیناستے خلګ شوے
په هوائ ځما هسې اعتبار شی

دامکان به د بهشت سره داخل کا
کۀ رضوان ئ له نشاطه خبردار شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

همکی صفتنے تیر دے ترحسابه
له همه ډکهٔ وئیل کوم طومار شی

دا بنا د آصف خان له لاسه شوے
اوپه حکم د خورم پکښے دا کار شی

زما نهٔ پنځوس کالونه د هجرت وو
د نوروز په دولسم چه دا گفتار شی

په خوشحال وو هم دا هومره چه ویل شول
نور د عقل حکم نهٔ دے چه تکرار شی

د هجران ناامیدئ کښے

معطر م دغه گل په بوئ مشام دے
چه جمال ئے د بلبل د زړه آرام دے

د گلونو حسن ښهٔ دے بلا دا شوه
چه ئے وصل په آغاز پورے انجام دے

دا د گلو خوئ خصلت دے په چمن کښے
چه راتلهٔ ئے دیر لارغهٔ لږ ئے مقام دے

گله تهٔ چه له بلبله مخ جار باسے
مگرستا په خپل بنائست امید مدام دے

د بهار د سرو گلونو صفت څو کړم
ولے بے یاره هر گل د زهرو جام دے

د اجل ساعت گهٔ هر څوگران یا دیږی
نهٔ چه سخت د جدائئ ترهنگام دے

جدائئ م به هرگز قبوله نهٔ کړه
ولے څوکړم د قضا په لاس زمام دے

چه هوس م د وصال په وخت وډکړے
هجر خیر په هغه هومره انتقام دے

ظاهری صورت په تن سړے لیدهٔ شی
خان او زړهٔ م دے هورے چه دلارام دے

خوب خندا م له خاطره فراموش شهٔ
په ویشتلو باندِ خوب خندا حرام دے

هغه خاورے ترعنبر و لا تیرے گا
چه خوبا پرے قدم ایښے په حرام دے

گرفتارئے خوځان کا دی لا تپینگیږی
د شهئ د زلفو لا د بلا دام دے

زړهٔ م بے د عشق له کاره نهٔ خوښیږی
د دُنیا روزگار م واړه په ناکام دے

د زړهٔ درد او محبت زړهٔ لره بس دے
د آتش م یو بخړے هم تمام دے

عندلیب م په قفس کښے گریانی گا
زاغ په خهٔ په زیړو گلو کښے انعام دے

دوه مئین چه سره وویني په ستړگو
هم د ستړگو په کاتهٔ کښے ئے اکرام دے

نور عالم سره په خولهٔ سلام علیک گا
د یارانو هم په زړهٔ سره سلام دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اے چه طمع د تورستر کولـه یارئ کړے
چه په قند د په کلابوئ پیغور شی
طبل څۀ لره پنهان وهی له خلقه
د صحرا آهو هم کله چا ته سلام دے
یوئ بنے خوږے بنکنځل بل ئے پیغام دے
د هغوچه پریوتلے طشت تربام دے
نورچه تل دے پیالے تشوی بنۀ دی
په یوه پیاله خوشحال ختک بدنام دے

د معشوقے په صفت کښے

تورکیسو دِ په چندنړ باندِ بنامار دی
تورے ستړکے دِ هوسئ د خطا شوی
تورے وروځے دِ لیندہ بانړۀ دِ غشی
مصفّا تندے دِ بنۀ دے تر بلورہ
دغه خال چه دِ د وروځو په پیوند دے
سپینه پوزه دِ غوټئ د زنبق ده
بناګوش دِ نسترن دے غوړیدلے
سپینه خولۀ کۀ دِ غنچے سره نسبت کړم
دواړۀ سړے شوندے دِ بنے دی تر سرو لالو
بنائسته زنه دِ سیب د سمرقند ده
صراحی د سپینو زرو سپینه غاړه
واړه تن دِ د حلب تر بنیښے صاف دے
سپینے لیچے دِ مصرئ تورے تیرے کړے
د یا قوتو نگینے دِ سرۀ نوکونه
چه مِ ستا د تیو بنه نداره وکړه
د نامۀ غوټئ دِ کل دے د کلابو
د نامۀ دِ کښته دم وهلے نۀ شم

تورے زلفے د سنبل د نوبهار دی
چه وخروته پرتے په سنبل زار دی
عاشقان ئے زخمی شوی په کذار دی
بیدلان ئے په سرو نو خریدار دی
د خطا د ملک اصلی نافے ترے زار دی
چه چا پیر ترے نور کلونه د کلزار دی
د چنبے ترکلو به دواړه رُخسار دی
د غنچے غوټئ کله شکربار دی
سپین غاښونه بے بها درشهوار دی
چه خواږۀ ئے ترنبا تونه بسیار دی
سیم آسا اوږے دِ هم په دغه شمار دی
چه رازونه د دوون ترے نمودار دی
چه خونونه ئے په غاړه سل هزار دی
ځائے په ځائے دِ په اوږ د وګوتو قرار دی
هغه کلک په لذت ډک خواږۀ انار دی
کینړا وښی د کلو پا نړے پرے انبار دی
هم هغوزده چه خبر په دا اسرار دی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه وملا وکوناتیو دِ کومرم — آویزاندے پاغوندے په نری تار دی
د پندو یو ترصفت دِ نه رسیږم — ولے سپینے په سپینوالی ترچوتار دی
سپینے پښے دِ د زنیق ډکلو پاڼے — د پښو کوتے دِ کلئ د انار دی
تمام قد دِ په مثال د صبر وتنه — ولے سم ولاړ دِ عین د چنار دی
سرتر پایه نندارهٔ ځان دِ جوړ کړ — تر تاځار واړه رانئ د هندوبار دی
ستا مثال په هندوبار کښے رابنکاره شو — د لوبیا دانه یوه متر خروار دی
د ټیکئ د ډکدکئ لعل او دُر دِ — کوښی کوښی واړه کیل ونه تیار دی

تهٔ خو پیر مهر کوے عمر دِ پیر شه
د خوشحال ختک دِ تش مهر پکار دے

د روغ صورت ستائنه
او په هند کښے د خپل قید حال

چه بهتر تر هر نعمت دے — کهٔ نعمت دے روغ صورت دے
چه ئے دا نعمت ړوزی دے — سرتر پایه عنایت دے
کهٔ ئے پیژنے تهٔ قدر — ړوغ صورت لوئے نعمت دے
ستا د کوښی ځان یوازے — تر جهانه زیات قیمت دے
کهٔ دِ ځان نهٔ وی جهان وی — په عدم ئے اشارت دے
دا جهان لکه معنیٰ شو — ستا وجود ئے عبارت دے
چه په ځائے ئے عبارت وی — د معنو هومره قوت دے
د صورت د خوشحالئ — مدار واړه په صحت دے
چه صحت د صورت نهٔ وی — ورته خس مال ودولت دے
رنځ په کور کښے هم بلا وی — لاځهٔ نورځهٔ په غربت دے
اس چه ړو درومی په لاړے — پریوتهٔ ځنے آفت دے
پښه مِ هسے رنګ په درد شوه — چه تیریږی یو ساعت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دَ سربلا په پښو شوه — دا لا خیر خیریت دے
په دا هم شکر بائدهٔ دے — یو بتر تر بل زحمت دے
ماوے تیرشو ولے پوه شوم — لاځهٔ پاتے مصیبت دے
ماوے اوس خومهربان شو — لائے ما سره شدت دے
هند په ما باندِ دوزخ شو — کهٔ په نور عالم جنت دے
بند یوان ورلره راغلم — دا یو څومیاشتے فرصت دے
هغه شان لکه بندی وُم — تره مِ لا بتر محنت دے
هره ورځ ورتلهٔ دربار ته — کوره دا څهٔ مشقت دے
دَ بل حکم پرے زندان شی — چه په خپل حکم عادت دے
نهٔ شیرین خوابهٔ یاران شته — نهٔ دَچا سره صحبت دے
نهٔ خپل ورکړل رانیول شته — نهٔ خپل حکم حکومت دے
نهٔ دَ بنکار هوا هوس شته — نهٔ دَ نورو مصلحت دے
یو په بل پوښتنه نهٔ کا — هسے بشهر بدخصلت دے
په شمارهٔ یوځو سړی دی — چه ئے جوړ راسره نیت دے
یو اکبر په غم شریک وُو — هغه هم په خپل عشرت دے
کهٔ بادشاه دے کهٔ خانان دی — رابنکارهٔ ئے حال حالت دے
دَهیچا برکت نشته — ځان ځانی شوه قیامت دے
ماچه دا قصیده ووه — په دهلی مِ اِقامت دے
څلورمه دَ رجب وه — زر اوهٔ اویا هجرت دے
نورځهٔ مهٔ وایه خوشحاله — کهٔ څهٔ وائے قباحت دے

لعل او دُر په تار پیئیلی

تور ویښتهٔ ئے نهٔ دی په وړو کوځو اودلی
واړه بناماران دی په چند نړ باندِ ختلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ستړګے وړوخے نه دی نه مژګان نه ئے ز لفینے
دائے ددعوے وته فوځونه دی تړلی

سپین بارخوئ نه دی نه خولے پرے بریښیدلی
ګل دی د ګلابو د صبا پرخے وهلی

تنګه خوله ئے نه ده چه ئے نه وینے په ستړګو
دُرج دے د ګوهر ولعل ودُر پکښے ساتلی

هیڅ په مینځ کښے نشته چه ئے دم ګنړے یا سحر
واړه ئے د ستړګو په جادو ښرونه وکښلی

دوه ستړګے ئے هسے چه خو مینے پرے تاراج شوے
خدائګوچه آخرله مابه لوټ کاندی ګټلی

وګورهٔ وماته د شهسوارهٔ روش دا دے
نخښتے ته نظر کا بیا له پسه نخښه ولی

ځیرچه وجمال ته کتے نه ځم سبب دا دے
ځیرم هیڅا نه دی وآفتاب وته ګتلی

ستا د در احرام م ستا د مخ په نیت ترلے
نه دی بے مقصوده وکعبے وته څوک تللی

تل ګه دودسته تندے وهے څه فائده ده
ستا د عشق په غم کښے عاشقان په زړهٔ نتلی

داخبره مکړه چه څمالهٔ لورپه واؤړه
هرچه راته وائے نورم واړه دی منلی

څه به د په یاد کړم څه منت به په چا باركړے
وؤایه چه څوک د په سنګنځل هم دی نمنځلی

پند وایم وتاته کله نه کرمه دا بنه کړے
ستا په سرچه لوړی هغه تا له ور ساتلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ماسره دِ نیت کهٔ دَ اخلاص او یارئ نهٔ دے
تش لباس خوشته دے تاخهٔ لږ نهٔ دی غلولی

تل کهٔ هسے مینے په اغیار کړے لکه اوس دی
تل به دِ په کور وی دَ خپل یار مغل ختلی

ماسره کهٔ تل جنګ وغوغا کوے پرے خوښ یم
مرم چه رقیبان به دِ اوربل کاندی په کلی

مړهٔ مے دَ غمزے په تیرهٔ تیغ څهٔ هومره نهٔ دی
یائے چه څوک ښخ کا یائے سروغ کاندی څوک څلی

کوک په کوک کهٔ ژاړم سته په کوئے کښے عیب مکړه
دردچه بے دوا شی خونارے وهی ویشتلی

خال دَ نیلوکښیږ.ده چه په کلو باندِ پیښ کړے
اوردی ډیرے سترګے لورپه لور په یوهٔ کښلی

یو دِ ستا دَ مخ غوندِ هم څوک راته ښکاره کا
هرچرته په باغ کښے کهٔ ډیر ګل دی غوړیدلی

خدائکونړهٔ به هیڅ بلاوتاوته پرے نږدم
چیرے په جهان کهٔ یودَ بل بلا اَخلی

ځارئے ترهغه شم چه ئے ستادیدن اولجه کړ
ستا په درچه ناست دی په سپیرو ایرو لړلی

سترګے دِ ګواهی په نوی خون لی دَ خواږ انو
په دروغه بهانه کړے چه شراب م دی نوشلی

نهٔ زړهٔ لرم نهٔ دین لرم نهٔ صبر شته نهٔ عقل
دا کل واړه لاکله په بنهٔ مخ دی ما خندلی

خوبا چه دَ رنجو په بانه میل وهی په سترګو
امداد کاندی دَ سترګو چه کهٔ بنے له زړونو نښلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوبا په آئینه کښے چه خپل خان وته نظر کا
حساب غواړی له مخه چه د زړه وینه ډیره توییږی

د شونډو په ارمان ئے حماځان په شونډو وراغے
چه مړ ک کا د ځیات اوبه چا هم دی آوریدلی

داځهٔ شعر نهٔ دے چه خوشحال خټک بیان کړ
واړه لعل ودُر دی د بیان په تار پیښیږی

د مملکت او د معاشرے رموز

هر احمق چه په دُنیا خاوند د جاه شی
نور وتلے خُنے نهٔ شی جاه ئے چا ه شی

په ویل د مرسلانو نهٔ ګروهیږی
د فرعون او د نمرود غوندِ ګمراه شی

د دُنیا د مال او ملک هغه لائق دے
چه سلیمانؑ غوندِ ئے خوئ شی چه بادشاه شی

خو کهٔ ډیر عیب لری عیب ئے پټ شی
اُس کهٔ لږ عیب پیدا کا د پائیګاه شی

سپین چوتار دِ ځان سا تی له توره تکیه
د ماش رنګو عیب کوم دے کهٔ سیاه شی

د عسل خواړهٔ مچئ زده نه چه مچ نه ده
چه عسل وته نزدے شی نور تباه شی

بد ان سل بدئ کا پرواه ئے نهٔ وی
په یوه خطا نیکان په غم په آه شی

د نیکانو په خطا عفوه لازم ده
د بدانو چه ګناه بخښے ګناه شی

پند هوښیار وته پکار دے ونادان ته
چه د نیکو نصیحت کړے لا بدراه شی

درست جهان ئے کهٔ نیکخواه شی سودئ کوم دے
د هرچا چه خپل خصلت د ځان بدخواه شی

د کلاه لائق یا باز دے یا شاهین دے
په داځهٔ کهٔ د کارګه په سر کلاه شی

هرجولاه په تنښته کښینی خهٔ ووئ
نه خاصه وُ دل په هریوهٔ جولاه شی

په زرګونو پکښے کښینا ستل ترے لاهل
ګوره خُلئے به لا د خو وُ د اخر ګاه شی

د یوسف غوندِ په خوب بنده عزیز کا
محمدؐ وته د غنړے تار پناه شی

سبب ونه ئے په غم کښے اندوخته شته
مبتلا دِ د اندوه په دا آګاه شی

رنځ محنت چه په سړی باندِ وردرومی
دا په دا چه اودهٔ نهٔ وی اِنتباه شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَعاقل صحبت عاقل لره راحت دے
دَهغه مزکے نه لرے لرے کرځه
اعتماد په رفیقانو پاتے نۀ شو
دا مستی دَخرابات په مینځ کښے نشته
دا کوتاهے پاینځے هاله پکار دی
شپه دَهرچا عیب پټ کا چه بیګاه شی
دَسړی قدر قیمت په اعتبار شی
داغرغر فکرچه تۀ لرے خوشحاله
ستا به کومه چاره سره په بیګاه شی

دَجاهل سره ئے ناسته په اِکراه شی
په هغه مزکه چه تل زهر کیاه شی
یودِ مال وملک تالاکه نور کواه شی
دا مستی لکه په مینځ دَخانقاه شی
کۀ ئے لاس دَبدوچاره نه کوتاه شی
تور وسپین هالۀ څرکند کا چه پکاه شی
چه خوارۀ ورځنے لاهل کنے کاه شی

دَشهاد وصال اَرمان

کۀ په زړۀ کښے م دَیار مهر وفا وے
زړۀ چه هومره پسے ژاړم خلق خاندی
چه م ووینی غرځۀ غوندِ ترهیږی
دَهجران شپه م یلدا شوه نۀ تیریږی
دَدوړئ اندیښنے له مینځه لاړے
دَقصد منو په ویل له ما مانړے کا
ترنقابئے مخ بنکاره کړلے وماته
هوښیاری دَدُنیا مال دولت دَنور و
اے چه ولئ بنیښه ماته کړه پارساشه
دَشرابو جام په لاس توبه په شوند و
دا کشور له سر ترپایه کفرستان شو
نۀ به سپک نۀ به بدنام نۀ به بدبوډو
دَرقیب دَمرګ آواز اوشو په کلی

کله دارنګ به نصیب خواری ځماوے
دریغه مخ ځما دَیار لیدلے چاوے
کۀ په خوئ راسره لږ غوندِ آشناوے
یا په خوب څۀ خواوۀ شوے یاصباوے
بیا دَیار په مخ م ذوق اوتماشا وے
ما به حال ورته عرضه کړکۀ پُخلا وے
دین دُنیا م ورته واړۀ رونما وے
چه ملنګ دَمصلے شوم خوهم دا وے
بنۀ ویل کړے دَبهار په وخت پارساوے
یا یک لخته لایعقل وے یاتقوٰی وے
یا م ځلئ کړے غاړے غرونه یاغزا وے
کۀ بورا غوندِ کونکټ په کل شیدا وے
سخ په دا ساعت کۀ دا ویل ربښتیا وے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوږه خوله ئے دَ خوږو شکرو خوان دہ
په داخوان باندې ژړه وږې یک تنها وے

سونتی م به دَ نورو هومره نۀ کړه
کۀ په ما باندې نظر مهربه تا وے

دَ کاکلو تر نافې به ئے خجل شوه
کۀ حاضره اوس هوسۍ دخط وے

دَ شندی دَ نرګس فرق به سره نۀ وُو
کۀ ګلونه دَ چمن واړه شرمیاوے

هميشه دِ مخامخ ورته بسکنځل کړے
دَ خوشحال ختک و تاوته دُعا وے

دَ دیرشو بیتونو بازنامه

تجربه شوه راته چار دَ بازداریٔ
سر رشته ده دَ تمامے میربنکاریٔ

په سروسروئے مزے لرے کړه له ستر ګو
چه ونۀ پرکیږی باز په هوښیاریٔ

په صبا بیګائے تل په غوښه بوله
هم په غوښه ئے کارکړه دَ تیاریٔ

په تاودۀ منی اول چه په لاس راشی
هغه باز ته ورکړه خوشحال بیداریٔ

چه تمام تناب په غوښه بنۀ تیار شی
بیادَ چرګ سره ئے کار کړه دَ یاریٔ

درے څلور چرګان چه وخوړی نور پرے بنکار کړه
یو یو لاس ئے سَیر وده په دلداریٔ

په طلب په بنکارئے هسے رنګ تیار کړه
چه ئے نۀ وی کج خُلقئ ناهمواریٔ

کۀ څلویښت لاسه یکه یکه بنکار وخوړی
هغه باز له به ورنشی خواریٔ

په ساړۀ ژمی کۀ باز راشی په لاس کښے
فکر مۀ کړه دَ هغۀ دَ تیاریٔ

تمام ژمے ئے ساتۀ په تماغه کښے
په هنر کړه په پسرلی دَ بازداریٔ

بازکۀ دے خانه کریز دے په ساړۀ
کله چوز پیځی دَ ژمی دشواریٔ

ګرم ځائے ساته بازونه چوز په ژمی
په ساړۀ مومی په ژمی بیماریٔ

له لوګی نه له ساړۀ نه له غارمۀ نه
څو په تاشی باز ساته په بے شماریٔ

هر بازدار چه باز حیران کړ دَ سزا دے
په سزائے کوتک مار وګماریٔ

بازچه بنۀ وی بنۀ باز دار ورله بویه
جګی جګی په بدکس ئے مۀ سپاریٔ

تغدرے دَ باز معراج دے چه پرے سیر شی
په کلنک په قازئے هیڅ مۀ ګزاریٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَچوزبازصافی ضرردہ صافئ مکړہ
دَانار اوبهٔ پرے خورہ په نهارئ

پرمهرہ دَدارچینی سرہ ضرور دہ
هم دِ تل کیږی دَبازطعمه دارئ

بازنه څورب نه دِنګریه مقدار بښهٔ دے
کج خلقی واخلی دَګوشت په بسیارئ

بازچه بښکارخطاکوی ګناه ئے نهٔ وی
دا ګناه دے دَبازدار دَ بدکارئ

بښهٔ بازداربه بښهٔ کریزوبازته ورکا
بد بازدارلری څورنګله بدکارئ

دارچینی زعفران چه دوئ ه ړه پاخهٔ کا
په کریزکښے دَغواغوږ دارو شمارئ

بازچه صاف کړے په کریزکښے بیائے واخله
بے پروامهٔ شه دَباز دَ غمخوارئ

دستکشی طعمه داری شب بیداری دہ
دا درے توکه دی دَباز دَ هموارئ

هیشه دِئے له حاله خبردار وی
چه باز ونو سره کاندی څوک یارئ

بښځه باز په یوهٔ خوئ سره پیدا دی
ځنے مهٔ غواړه هرګز وفادارئ

دَباز بښکار دِ ملوک کله کله کاندی
هره ورځ ئے دے خلل دَ سردارئ

مخ په بښځو یا شراب یاچه پیر بښکار کا
دا درے توکه دی دَمرد هرزه کارئ

څهٔ خوصبرِ سقوطری دَوخته ورکړه
که خطا کا بازطعمه په بدخوارئ

دَدوے علاج ئے تریخے دے دَ پیرے
خوهمدا دائرو وباز وته څارئ

نه تمامه بازنامه نه دا دیرش بیته
که ئے یاد کړے دَخوشحال دَ یادګارئ

دَ کاسیرئ په بارہ کښے

مخ تورد کاسیرئ چه دا کار دے شیطانی
کاسیر سړے هغه وی چه ئے نهٔ وی عقل پوهه

خوښی دَ یوهٔ درنګ دَهمه عمر پښیمانی
یادے په ذات په اصل کښے پیدا وی نقصانی

شهوت بده بلا ده چه په دا بلا قادرشی
هم دا ده کهٔ ئے کورے دَسړی پهلوانی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بدو همراهانو په صحبت کښے سړے خوار شی
یا غل شی یا رهزن شی یا بنګی قمار زانی

په ملک ورځنے تښته بدهمراه دِ دهغه کس دے
چه ستا تر فهم بنے کا بدے چارے نفسانی

دا دوه سړی غلیم دی ذهر چا په حقیقت کښے
که فهم فکر اوکړے جګی بد ترغلهٔ زانی

چه نهٔ پسندے په خپل ځان هغه مهٔ پسند په بل ځان
هم دا ده کهٔ ئے کورے په صحیح مسلمانی

چه بل وته نظر کا یا آواز د بل غوږ باسی
د بنځے زنا هم دا ده نور پرے کړه بدګمانی

سپئ چه سپیمے شی سپے خپل ځان لره پیدا کا
څهٔ سود که بده بنځه په دیوال کړے زندانی

چه ئے مور بدکاره نهٔ وی لورئے کله وران کاری کا
د مور له ځانه راوهی لور د خونے ویرانی

که ګډه په بازار شی په کوڅه کوڅه جاروزی
د پاکو پاکدامنو ستر جوړ دے ربانی

چه پاکه پاکدامنه په حیا په دین مئینه
د مرد په کور کښے کښینی مرد دِ کاندی کامرانی

چه بے خپله حلاله ځان وبل وته برمنډ کا
د مرګ ده هغه بنځه نورئے څهٔ زندګانی

خو څیزه د میراث دی زهٔ ئے وایم له کتابه
زحمت د مولیسئ، بوئ د تخرګ، قلتبانی

که هر څو خطا وینے بیا خو بنه پرده پوښی ده
عطا په خطا بویه سهوه کیږی اِنسانی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نیکانو سره زیست روزګار په مینه محبت کړه
بدانو سره زیست روزګار هم بویه لسانی

چه عقل شعور راغے بده چارشوه راته بده
افسوس په هغه چاروچه به شوے په نادانی

خوشحال کهٔ نبی نهٔ دے نصیحت خوئے خوار مکړه
الهام دے چه ئے وائی دا کلام په افغانی

لارے دی بیشماره هر دیارلره وردرومی

لارے دی بے شماره هر دیارلره وردرومی
تلے په هغه لارے چه خپل یارلره وردرومی

څوک ئے بے ریباره په خپل بخت کا ورکناره
څوک په زړه ورژلی و ریبار لره وردرومی

سل جشنه نوروزه ترهغه ساعت ځار یم زه
هرچه دلداده عاشق خپل یارلره وردرومی

څورنګه نافے ئے په هرچین کښے دی دځنډ یو
خلق په ناحقه چین تاتار لره وردرومی

نورعالم ئے واړه وار په وار په ځان مئین کړ
اوس په شین شین پرهیزګارلره وردرومی

زړهٔ م دَ دلبرو تورو زلفوته هوس کا
ګوره داځان خونی تورمار لره وردرومی

مرم دَ خدائے دپاره په شتاب شتاب رادرومه
چرے هم طبیب رو رو بیمار لره وردرومی

څم دَ یار په لوری په هوا هوس خوښی کړم
ذوق کاندی بلبلے چه ګلزار لره وردرومی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سخ دَ هغو لاسوچه په سپین مړوند ستم کا
سخ دَ هغوغابنوچه رخسار لره وړ دروی

مخ ئے وربښکاره کړدَ زاهد زهد ئے یووړ
بیائے ځنې تاؤ کړ بل ناتار لره وردروی

سخ دَ ناپوهانوچه هیڅ غم اندوه ئے نشته
هرچه څهٔ غمونه وی هوښیار لره وردروی

تش لاسونه ووزی دَ بازار له نعمتونو
هرچه کیسه تشه و بازار لره وړ دروی

هرڅوک چه طلب کا پته نهٔ ده دا خبره
هرکله مطلوب وطلبګار لره وړ دروی

وائی چه هردم په خوږو زهرو کا پرهارونه
زخم دَ زخمک چه وهر تار لره وردروی

نورجهان سقرشو باندِ سرائے دارالقرار دے
کله به خوشحال دارالقرار لره وردروی

سل فکرونه وکړه تردا نشته بل بنهٔ فکر
چارے واړه خدائے کا کاراختیارلره وردروی

ویښ اوسه خوشحاله مالیدلی دی پیرغلونه
کوردَ اودو ډونډ کا بیا بیدارلره وردروی

لیونے خویوخوشحال دے

نشته هیڅ یوتش جنجال دے په دامینځ کښے
خالی بحث اوقیل وقال دے په دامینځ کښے

چه په مکر دَ ویښته د پاسه دروی
شل په دواړو پښو یوزال دے په دامینځ کښے

دَ یزید دَ شمر نه دَ حجاج دی
دور دور دَ دجال دے په دا مینځ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نهٔ شراب شته نهٔ کلاب شته بنیښه ډکه
قارورهٔ کهٔ څهٔ تمثال دے په دا مینځ کښے

دښمنی له واړه سروهی له ډاکه
دَ آشتیٔ کار محال دے په دا مینځ کښے

ګورهٔ څوکلے به پریوزی دواړه لوریه
زید وعمر اختلال دے په دا مینځ کښے

سر رشته دَچارے هیڅ نهٔ ده معلومه
خوهم هسے غول وغال دے په دا مینځ کښے

یوځلور پنځهٔ خو وشول څوبه وشی
یویو کوټه په هرکال دے په دا مینځ کښے

چهٔ کاندی چهٔ وینم چهٔ آورم
دَ هرچا مکر تهیتال دے په دا مینځ کښے

دا واړهٔ واړهٔ خو ډیرم دی لیدلی
دَ کهو کتو زاوال دے په دا مینځ کښے

دروغژن چه هومره نهٔ دی په دُنیا کښے
دَ رښتنوڅهٔ مجال دے په دا مینځ کښے

آواړه نوره ګټنه تلف مهٔ شه
چه کتلے ملک ومال دے په دا مینځ کښے

چهٔ هرچرته څکوی ورپسے درومی
یوعجب شتر مثال دے په دا مینځ کښے

خرهٔ پاسه دَسړیو په سر ګرځی
شل په دواړو پښو دجال دے په دا مینځ کښے

دَ تهتوانو بیعه بنه کا تر آسونو
نادیدهٔ ګنده دلال دے په دا مینځ کښے

یو به سله سل به هیڅ کا یوسړے وی
کومه ګران کومه اِشکال دے په دا مینځ کښے

چه په چادَ نصیحت وینا لګیږی
دا یوخوب دے یوخیال دے په دا مینځ کښے

پښتانهٔ مغل هندکی واړه هوښیار دی
لیونے خو یوخوشحال دے په دا مینځ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دویم ټوک

POHA

رُباعیانے

پوهنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ واړه خلق ثنا دَ خدائے کا
نور هرڅۀ پریږدی خودِ هلۀ هائے کا

ثنائے ډیره ده تر حساب تیره
څوک به ئے کومه ثنا په ځائے کا

دَ باغ کلونه عجب نمائے کا
څنې غوړیږی څنې آئے آئے کا

سوسن ته ګوره په هومره ژبه
بے حرف وصوته ثنا دَ خدائے کا

تۀ قهقهه خانده عاشق کۀ غم کا
غم کا بے تا نه تل تل ماتم کا

یوسف کۀ هرڅوڅۀ بنۀ نومیږی
بِه به ئے چیرے له تا عالم کا

فلک کج رو دے کا رونه کج کا
دانا په غم کښے نادان فرج کا

دَصا فو میو پیالے دروڅښوی
بیا پکښے هومره خمار مزج کا

لقمه حرامه نُطفه ناپاک کا
فرزند چه وشی چارے بے باک کا

تقوٰی په دواړه ګونه لرئے کار لری
په هرهر کار کښے خوا فرحناک کا

یوموتے خاورے زیبا صورت کا
زړۀ ئے ګڅوړه دَ معرفت کا

ګویائے ژبه په خپل صفت کا
بیائے له خاورو سره لت پت کا

زردی چه زیرمه دَ ننګ وشرم کا
صحبت دَ هرچا و بله ګرم کا

ډیر ګران کارونه په زرآسان شی
زر په فولاد کښیږدے فولادهم نرم کا

ژاړه خوشحاله کۀ تل دا دود کا
چه پنځمے ستا په مینه مبنود کا

چه را بنکاره شی په خوب وخیال کښے
دا بخت زما زمۀ رم په داهم سود کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شیخان چه هسے اور دهٔ نمونځونه کلی
پکښے باغونه اَسونه جُونه کا

پکښے رنګین رنګین ګنډی وربښمین سکنځ
پکښے د سپینو د سرو ګنجونه کا

شودهٔ چه رغاندی ثنا د دوغ کا
هرڅوک پوهیږی چه دا دروغ کا

فرق د خبرو وئیلو د پیر دے
وکیل چه بدوی د روغ کا نا روغ کا

که بدخواهان د بښیرے غوغا کا
لاډئے د پیرے په هر صبا کا

خوشحاله غم د بښیرو هیڅ مه کړه
سل که بښیرے کا دوه سو دُعا کا

ورځ چه کړه شی خدائے د اَمان کا
داهسے فضل مکړ سبحان کا

چه لکه چه وه بیا هسے سمه شی
فکر د هرڅوک سره په ځان کا

چه کښینی ستانه د زلفو راز کا
هغه د فکر دور و دراز کا

که هرڅو ناز کړے نازبه د زهٔ وړم
د کښلیو دود دے په عاشق ناز کا

چه طبیب ئے د زهٔ په زور کا
دا روئے درد شی ځان د پیغور کا

د ورځهٔ نورشهٔ که څهٔ بلا شوه
د شهسوارئ لاڅ خر سور کا

هوښیار پخپله ورته ځان پر کا
نادان ورځی په قاضی غږ پر کا

که دولت من چه ناانصاف وی
په وړاندِ روستو ځان د کپر کا

مردان نن جنګ کا آشتی صبا کا
چه سره کښینی صلح و صفا کا

څوئے زړهٔ وی هومره خندا وی
څوئے جفا وی هومره وفا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څنې یوه کا څنې دوے درے کا
په انګوړونو کشیدے سرے کا
د دُنیا خلق یاری یاری کړی
چه سُودئے نۀ وی یاری ټرے کا

ما پیرلیدلی چه شطرنج کا
څنې شطرنج کا څنې صدرنج کا
څنې وتلی د دو و یک وی
څنې ذوقونه په شش و پنج کا

څودِ زړۀ خاندی خولۀ دِخندا کا
چه زړۀ دِ ژاړی سترګے ژړا کا
مدار د هرے چارے په زړۀ دے
زړۀ دِ مفتی دے هره فتوٰی کا

هندو د قندو وزن په تلو کا
خوشحالئے کوره ترلب وتلو کا
شکرے وخوری مزه ئے لاړه شی
خورے خبرے لذت تر تلو کا

ورځ د قیامت ده حذر له هر چا
پریکړه خوشحاله باور له هر چا
ورونړه کۀ څویه د خپل غرض دی
په کار کښے یشی تښتر له هر چا

دا پند دِ هر څوک سره سند کا
هوښیار به نۀ وی چه څوک حسد کا
همراه چه بنۀ وی بدسړے بنۀ کا
همراه چه بد وی بنۀ سړے بد کا

چه له حرامه سړے نفرت کا
خدائے به ئے اَرت حلال نعمت کا
هومره به لوئے مرتبے مومی
چه د نیکانو سره صحبت کا

خوشحال چه تشه مینه په بل کا
ترحلق به پورته خالی ویل کا
خدائے ورپریږده یوهسے یار لری
په قهر راشی ورته بنکنځل کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په باغ کښے خلق په میوه شخوند کا
په خولۂ کښے هره میوه خپل خوند کا

ترخۂ هم بنۂ دی په داجهان کښے
د خوښو قدر ترخۂ څرکند کا

لوئی هغه ده چه لوئی خدائے ورکا
لوئی هغه ده چه کتخدائے ورکا

لوئی له خدایه ده نۂ له همایه ده
د خدائے په حکم سورے همائے ورکا

په ګل چه هومره مینه بلبل کا
سیل د بلبلو باندِ غلغل کا

د بنا ئسته ؤ عاشقان ډیر دی
عالم به ولے احداد د ګل کا

ډیر ډیر فکرونه چه آدم زاد کا
عقلئے لاړشی جنون بنیاد کا

چه ډیر دروغ وائی فسق فساد کا
خپل ځان پخپله په بلا یاد کا

قابل کۂ تښتی دولت ته شا ګا
دولتئے مخ و ته راتلۂ بیابیا کا

بدر هلال شی هلال بدر
په کم و کاست کښے کله پروا کا

خاص به له عامه اِختلاط کم
کۂ بدکار کا په ځان ستم کا

پرانګ چه ګیدړو سره جار وزی
خپل ځان پخپله له ګیدړو سم کا

څوک چه له خلقه شور وغوغا کا
تاپوسه حریص دے هغه چه دا کا

چه عاقلان دی چه صابران دی
هغه به کله جنجال له چا کا

هوښیار به مینه په ورمونو زیاته کا
ورسونه وایم کۂ څوک مخ راته کا

محتاج د نورو نورو نغریو شی
سړے چه خپله کښوه ماته کا

POHA
پښتو هلکه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څنګه چه په ټسول سره وتاته زیب کا
ګنډه یو تک وی مکر فریب کا

څنګه هم هغه ګنډه چه پسول ئے نه وی
تاخت د په دین وپه دل شکیب کا

عاشق د هیشوک ملامت نه کا
زړه ئے خپل نه دے ویل دے څه کا

اورئے د عقل په خونه ولګی
چه د دلبرے سترګے تر زړه کا

قاضی چه اوم وی بے علمه کار کا
هم خپل ځان خوارکا هم خلق خوار کا

غلط غلط لولی خطا خطا وائی
وسل لعنت ته خپل ځان تیار کا

شیخان چه هومره بندګی طاعت کا
ګه اجر غواړی څه قباحت کا

هغه بنده به نا بود بنده وی
چه به په طمع د څښتن خدمت کا

احمق چه پوښتے خپل زړه زبان کا
په ویل ګډ شی ویل شان شان کا

هرچه په زړه کښے څه نیک وبدلری
هغه به وایه درته بیان کا

ګل چه په باغ کښے جامه رنګینه کا
خوچه تازه وی بلبل پرے مینه کا

په بنه صورت سره په بنه نکهت سره
ګل د بلبلے مینه متینه کا

وګړی وایه کا رونه خپل کا
مردان هغه دی چه کار د بل کا

څوک چه آرام ګټی د نیکو نام ګټی
د خوښو د زړونو دارو به تل کا

څنے په علم کردن دراز کا
څنے په زهد په شیخئ ناز کا

ما سر نیولے د عشق په کار دے
مادِ په داکښے خدائے سرفراز کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سیلاب په خوشحالۍ غوږ پیدا کا
بنیادۍ نشته غږ په دا کا
چه لوئے وی نورۍ صفت ثنا کا
دریاب چه لوئے وی کاله خوشحا کا

چه خاندی نور و وته کتل کا
ژاړه خوشحاله داخوئ که تل کا
سترګے ئے نه دی دواړه قصاب دی
چرے په لاس کښے واړه کتل کا

بے له بندګئ دِ بنده نور هیڅ نه کا
په لږ په ډیر دِ له څښتن پیڅ نه کا
که ئے ومړک ته په قهر وکاږی
بنده دِ تیښته د څښتن له تلیږ نه کا

چه طبیبان م د رنځ درمان نه کا
رنځ م که ډیرشی بیادِ ارمان نه کا
کفر که کورے فرمان د نفس دے
مومن به څیړے د نفس فرمان نه کا

که څوک پیداشی چه عدل وداد کا
غږ و د دردمنو په داد فریاد کا
چه مقرب دی عرض ئے لګیږی
عمرۍ ډیرشه خوشحال دِ یاد کا

توره چه بیامومی غازی غزا کا
تُوره چه نه وی غزا ته شا کا
توفیق له تا نه تقوٰی له مانه
توفیق چه نه وی څوک به تقوٰی کا

یوچه رښتیا کا دویم دروغ کا
عجب که کار په دروغو رڼا کا
رښتیا غوږ ی دی دروغ متیازِ دے
چراغ په غوږ د سړه فروغ کا

څان به په قدر هغه فرزند کا
چه چارے واړه د پلار پسند کا
رَوِش ئے واړه د پلار رَوِش وی
خپل نوم ترپلاړه تر نیکه بلند کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ډیر دخول کا یا ډیر خوراک کا
چه ډیر ویل کا ځان به هلاک کا

دخول ډیرخرکا خوراک ډیر ستور کا
په سړی هوښ کښے دِ سړے خپل ژواک کا

لیندہ هغه څکوه چه مټ دِ خوږ نۀ کا
ښځه هغه کوه چه زور دِ لږ نۀ کا

دَ هغے غوښے کباب په خولۀ مۀ کړه
چه په سکروئے قطره څڅ یږ نۀ کا

څوک چه بدذات ته علم هُنر ورکا
خونی رهزن ته تُوره خنجر ورکا

دَ ځان غلیم به دَ ګرګ بچړے ساتی
خپل به ئے نۀ شی کۀ خپل ځیګر ورکا

ګنے بند بند کا وتا شکر در کا
سرَ صدف پریکړه وتا ګوهر در کا

بتر تر کانړی مۀ شه خوشحاله
کانړے چه وسیزے وتا ته زر در کا

نۀ سرداری ورکا نۀ زرکاری ورکا
نۀ لوئے ملکونه اوبۀ جاری ورکا

چه له ازله خدائے څوک نمنځلی دی
هغه سړیو ته خدائے هوښیاری ورکا

چه نوکری کا څوک ډیر ګنده کا
سړے آزاد وی خپل ځان بنده کا

تر آزادئ نه بهتر هیڅ نشته
چه څوک په کور کښے خپله دنده کا

اولاد چه بنۀ شی راحت دَ زړۀ کا
اولاد چه بدشی بنۀ پلار مور پرۀ کا

اولاد چه بنۀ شی بد مور پلار بنۀ کا
اولاد چه بدشی رنځور دِ زړۀ کا

ماوے نن شپه به راسره تیره کا
رانه به شمع دَ هڅ برسیره کا

سنګین مِ بخت وُ چه درسته شپه ئے
وعده دَ وصل له دل وهیره کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هوښیار به هیڅرے بے ځایه کار نۀ کا
هم به بے وخته دَ خوے گفتار نۀ کا
په خولۀ په لاس به هیڅوک آزار نۀ کا
چه بدکردار دے هغه به یار نۀ کا

سړے آزاد وی آزادے بنده کا
بنده لاپیر یږده لائے گنده کا
هومره خوار یږی څو آزاد زړۀ لری
په څوځور نکه ئے بیا شرمنده کا

هوښیار به هیڅکله ویل باطل نۀ کا
هم هر یو چاته دراز ویل نۀ کا
دَ خپل راز ځلۀ به ئے ننه پرزړۀ کښے وی
دَ زړۀ بے حکمه به خبره تل نۀ کا

طمع بلاده اصیل بنده کا
بنۀ بنۀ سړی وی دائے گنده کا
ما پیر لیدلی دی چه طمع نۀ لری
په بادشاهانو پورے خنده کا

سړے دَ نیکو عمل اَرشد کا
دائے هالۀ وی چه بخت مدد کا
چه بخت ئے بنۀ شی عمل هم بنۀ کا
چه بخت ئے بد شی عمل هم بد کا

ډیر دی چه تاته خپل ځان ملک کا
په بنو خبرو ځان په فلک کا
نَعُوذُ بِاللهِ چه بنۀ ئے خیر کړے
شیطان ترځان پورے لکه کودک کا

چه عاشقئ ته هوا هوس کا
خپل ځان دِ وژاړی خپل ځان دِ خس کا
چه عشق م ولیدۀ پرے خندا راشی
چه عاشقئ ته هوا هر کس کا

سفله پخپله خپل ځان رسوا کا
چه دولت مندشی غیرے هوا کا
سفله قاضی مۀ شه شراب روا کا
سفله طبیب مۀ شه رنځ لا دوا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په ځوانئ کښے پرهیز ډک کا — کهٔ آدم زاد وی کار د مَلَک کا
پرهیز پیرئ لره پکار دے — تش دِ په وخت د ځوانئ زړهٔ ډک کا

ژوندی کهٔ هرڅو شهبا غوغا کا — مړهٔ کله بیا رته راتلنه بیا کا
سکه لکه دود د ژوند یوڅهٔ دے — دے دِ په صبر کښے کار د دُنیا کا

د اور د تیغ سره سړے بازئ نهٔ کا — له مار لړم سره مهم سازئ نهٔ کا
چه نهٔ تدبیر لری نه جوړ نهٔ توره — هغه سړے به سرفرازئ نهٔ کا

زردی چه هرچا ته اعجاز معلوم کا — معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وینځه میرمن کا خادم مخدوم کا — زړه په سندان کښیږ د سندان هم موم کا

مغرور په چرخ مهٔ شه کهٔ دِ سلطان کا — زبون د چرخ مهٔ شه کهٔ دِ چوپان کا
خوابرهٔ ترخهٔ ئے بقا هیڅ نهٔ لری — نوی نقشونه په هر زمان کا

خیز چه کم یاب شی عزت پیدا کا — زنګی په هند کښے قیمت پیدا کا
حلوا چه مور خوړی لذت ئے وی — ډوډئ په وږی نذت پیدا کا

نوری نوری سره موافقت کا — ناری ناری سره مواصلت کا
طوطی طوطی سره موانست کا — زاغ د زاغانو سره الفت کا

کهٔ هرڅومره کوشش څوک وکا — نهٔ به بنهٔ بدکا نهٔ به بد بنهٔ کا
وائی چه ځوئے م هوښیار قابل شی — چه خدائے نهٔ کا خوشحال به څهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مرد به د تیرو چارو ارمان نۀ کا
مردان هغه دی چه شرم ننګ لری

رنځور چه وموری څوک ئے درمان نۀ کا
لاف دِ د شرم دا بے شرمان نۀ کا

غنی کۀ هرڅو د زرو ویش کا
دا صبر بنۀ دے د غنی تر وَر کړو

پروا پرے نۀ لری صبر درویش کا
صبر به نور نور نعمت درپیش کا

نامرد هغه دے چه وچاته څۀ ورکا
په رنځ کښے وُمره هغه دا رومۀ خوره

منت دپاسه وربانِد زبر کا
چه په منت ئے وتا څوک درکا

پَلو کۀ کښلے له مخه لرے کا
ما به توا نګرکه د لعلو دُرد

راته په مهر خندا خبرے کا
هم را به توئے ترخولے شکرے کا

پایښت ئے لنډ وی چه څوک لباس کا
په شان شان خولے دی شان شان خبرے

خ به ئے تور شی چه کوز او پاس کا
نادان چه وائی هوښیار قیاس کا

هغه بازچه په عصفور غوټے کا
د بزرګانو همت بلند بویه

کۀ دے څۀ باز دے کارد بابنے کا
کارد په قدر د مرتبے کا

فولادی تورہ وی له لویه تبه
ډیرے بلا به درڅخه واوړی

ترلابده ده بدګویه ژبه
ژبه کۀ بند کړے د پند طالبه

په واک چه نۀ لری په کام کښے ژبه
په بده ژبه ځان ځی جهان ځی

کۀ ګونګ شی بنۀ دے په لویه تبه
ایمان لاهم ځی واوره طالبه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

طالع کهٔ ډک لرم له هره عیبه
یو کار م بنهٔ دے بے شک و ریبه

چه څوک م باشی په خاینئ
وربانډ پریوزی بلا له غیبه

چه ډیرویل که به ډیره ژبه
څوئ چه ژبه هومره ئے تبه

د باغ بلبلو د نه نظر کا
به خپله ژبه د قفس طالبه

د میو مسته هغه محبوبه
درسته به مشکو به ګلابو ډوبه

سرتوره زاغله خوږه ښه لفینے
بوسه ئے راکړه تر قند و خوبه

چه زړهٔ فارغ لرې له مکره ریبه
هغه به مومی نصرت له غیبه

د بل په عیب هاله نظر لره
که ځان د خلاص وی له هره عیبه

بنځه چه خلاصه وی له هره عیبه
زړهٔ ئے خالی وی له مکره ریبه

په مصلحت به ئے چرته بیاموے
مګر پیدا شی چیرے له غیبه

خوخو فکرونه خوخو آشوبه
زړهٔ م په غم کښے ستړکے بے خوبه

داخل م وشوه په مخکښے سوبه
نور توبه توبه له مئین توبه

لنډئ به وانهٔ وړی له لنډی توبه
لولئ به وانوړی له لولی توبه

که همه عمر سپے حلوا خور وی
منع به نهٔ شی سپے له سپی توبه

خوبژه نمړئ ده که خوبژه ژبه
چه څوک پرے خپل کړے څما صاحبه

هنر هم دا دے که دا هنر لرے
چا ربه د تل وی ترسیال غالبه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه رَو یونهٔ وی دَ زړهٔ دَ ژبے
تل به نیولے وی هغه په تبے
چه بد بوئ لری ډیره ترینځی لری
څکه غوخیږی سر د شُرے

سړی خالی شول له سړیتوبه
دَ چا چه کورم فتنے ته شوبه
په بل کښے شل دی په خپل کښے سلا دی
بل وی که خپل وی تړے توبه توبه

تیراه ِم ولیده راغلم تر سواته
پښتون ِم ولیدهٔ دا لوئے لوئے ذاته
عقل همت ِم دَ چا و نهٔ لیدهٔ
په بیارته راغلم ناستیم ملامانه

چه په وار وارئ له مانه بوته
څما خوبئے په چرته بوته
پیرئ وکړے رابانديِ چا رے
فولادی تُوره یم خوړلے پروته

په چرته لاړے دَ لوبو وخته
تهٔ چا تالا کړے دَ خوانئ رخته
پرے خبر نهٔ یم یو اوهٔ غلهٔ وُو
راته په خَو وُوشپه ورځ یکه لخته

نیکان له خپل خو یه خصلته
خلاص وی له هره عیبه علته
عفوه بدا نو لره پیدا ده
نومیدی مهٔ کړه تهٔ له رحمته

نهٔ ننګ نهٔ شرم نهٔ حمیت شته
نهٔ مهر مینه نهٔ [illegible] شته
څُو یه چه لوئے شی زوال دَ پلار غواړی
نن په دا دور دا ثبات [illegible] شته

که دِ په تن کښے دَ نس هوا شته
بالغ لانهٔ ئے نهٔ دِ [illegible] شته
که کار په حکم دَ روح آغاز کړے
فیروز مندی دِ په دې دُنیا شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ هرڅوکاندی څهٔ کمے نه یاتے
کهٔ ئے خلل په ایمان کښے نهٔ وی

میخوری ښښے کا د ځنو ماتے
مومن به نهٔ شی په دوزخ پاتے

مخ د ساقی کوره څو لا بهار شته
شیخان د ژاړی ترخانده رند اوسه

غوږ په رباب لره څوئے لا تار شته
غم د ګناه مهٔ کړه چه استغفار شته

کهٔ مردئے مهٔ پریږد ه مردی له دسته
مرد چه تر بنځه پورے زبون شی

مرد دے د پاسه بنځه د ه پسته
مردی ئے نیست شوه بنځه شوه هسته

هُنرم جوړکا و تخت و تاج ته
بل ارمان نهٔ لرم ارمان م دا دے

طالع م ناست دے تاخت و تاراج ته
چه پیری راغله ځما علاج ته

چه ئے کاسه کړه د مجنون ماته
جور د کښلیو په معنیٰ مهر دے

مینه ئے لاشوه په لیلیٰ زیاته
بنګنځل ئے بنهٔ دی تر بنهٔ نباته

چه پکښے لوئے شی بے مصلحته
تر بد بخت ځویه نیک بخته لور بنه د ه

خونه خالی شی له برکته
فرزند د نهٔ وی بے سعادته

لکه چه شوی دی ځما له دسته
شهوت بلادے سړے ګمراه کا

شوی به نهٔ وی له مے پرسته
د دهٔ مستی د ه تر هرڅهٔ مسته

د چا په مرګ شی خونه میراته
بنه چه داهسے شوه زهٔ هم پرے خوښ یم

ځما بے مرګه شوه لا ته پاته
چه لا را نهٔ شوه دا بلا زیاته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه بدے چارے بنے شی و چاته
چه کارد کړلووی پکښے کاهل شی

هغه سازیږی بدے بلا ته
تردے به خوئ نشته دویم وماته

که د کلابو د کمل خار ونه شته
اول ئے روئ کوره بیائے بنهٔ بوئ کوره

بیائے په کل کښے ډیر ډیر کار ونه شته
بیائے پسولو کښے څه کوپار ونه شته

که د برے کښلی په صورت بزرگی شته
هرچاچه ولیدهٔ زړه ئے پرے باتلو

لکه مهرووه د کیږے پرگے شته
خوشحال ویریږی ددهٔ هم سنگے شته

بنکارد توپک نشته نهٔ بنکارد باز شته
کتاب قلم لرم اوس پرے ویریږم

که م په زړهٔ کښے د دوا پرو راز شته
دا د پیرئ ناز او نیاز شته

چه برهٔ ئے وروستم نردے وکورته
له سخته رنځهٔ ئے تندرستی راکړه

بیائے چه راوستم د دُنیا کور ته
کوره ساقی م بیا کوم شرشورته

ستا ترچشمانو خُمار د مُل کښیناست
چه د رخساره ورته بنکاره کړه

ستا ترخبرو ژغ د بلبل کښیناست
څکه په سپینوخولو کښے کل کښیناست

څوډ دولت شته هومره عزت شته
چه پیرئ راشی دواړه په مخ وړی

څوډ صحت شته هومره راحت شته
که د دولت شته که د صحت شته

هرڅوک په کار کا بے مصلحته
که بختئے هرڅوکارونه ساز کا

هیڅ به ونهٔ خوری بر له دولته
خالی به نهٔ وی له سند مسته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه کارئ بیائ فلک په کښته
چارے به کاندی بے مصلحته

کجیر کهٔ ځیردے چه بے تدبیردے
په خزه بند شی له دے شامته

مهر په زړهٔ کښے ځما دیار نشته
ځما په زړهٔ کښے صبر قرار نشته

نهٔ څوک غمخورلرم نهٔ زړنهٔ زورلرم
وچا ته دم وهم ځائے دګفتار نشته

ژبه م نهٔ دَری بے نصیحته
وایم دَ عمر له حلاوته

اول ځوانی ده بیا تندرستی ده
بیائے خوبی ده له بنه دولته

چه مستغنی وی له نصیحته
هغه به نهٔ وی بے قباحته

یا به احمق وی یا به بدذات وی
یا به محروم وی له بنهٔ دولته

چا ته به راز وایم چه م رازدار نشته
غم م به څوک اخلی چه غمګسار نشته

کیمیا به بیاموے وفا به نهٔ موے
هزار یاران لرم یووفادار نشته

چه باز دِ لاړ شی چیرے له دسته
په غرهٔ په سمه کړے ورپسے مرسته

هُنر هم هسے یو یاغی باز دے
طلبے نهٔ کړے په همت پسته

تیراه م وغوښت رسم م وکوت
رنځ م دوا ړه و ځایونو والوت

پم دے کهٔ غم دے په برمول کښے
په کرولو م پوستکے وخوت

کامل چه وګوری وکائنات ته
نظرئے وشی وهر ذرات ته

په هر ذرات کښے هستی دَحق وینی
دلیلئے ورولی دَحق وذات ته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پرهار په دۀ باندِ کۀ د سوزن نشته
د شهیدانو جنازه بویه

عاشق شهید دے په دا کښے ظن نشته
د شهیدانو غسل کفن نشته

غم دے کۀ غردے راباندِ پریوت
راباندِ تل تل د غم تاختونه دی

کۀ سرے ملے دی زړۀ م پرے کښیوت
زبون ئے بیا موندم خوږ پسے ووت

درته پښتو وایم صافه سلیسه
ذات ئے خبیث دے هندکئ هرگز مکړه

بهره کۀ واخلے له دے حدیثه
چه ترے پیدا نشی بوځ خبیثه

کۀ م په سرشے د مینے تاجه
بیدرد دِ تا د قدر خبر نۀ دے

نور به م خلاص کړے د غم له باجه
ماته را درومه د غم تاراجے

بنځه چه ورشی تر چل و پنجه
کۀ ځان ترے موے ترے پستنه اوسه

خوبئے لاړه ماردہ بے کنجه
خلاص ئے له رنج شه خلاص ئے ترکنجه

اے چه دِ نول دے حُما له مخه
په عشق کښے مرد اوسه پروائے مکړه

د رقیبانو په بده رخه
زۀ به دِ نۀ کړم د چا په سخه

خلق په ما کا کینه هم رخه
بیل شوم له یاره ژوندے لا پایم

کۀ خدائے م نۀ کا د چا په سخه
خو د یر شرمیږم د یار له مخه

زمانه اورده تۀ لکه سپانده
هم به لوګے شے هم به ایرے شے

کۀ نن ونۀ سوے په اورکښے کا نده
کۀ ژاړے ژاړه کۀ خاندے خاند ه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

باران چه وشی په پټی باندِ
زهٔ م پټے دے باران د مهر

هالهٔ تازه شی خوبئ کاندی
پرے تازه کیږم څو راته کاندی

سرے څهٔ څیز دے چه څهٔ به کاندی
که بادشاهان دی که لوئے خانان دی

خالی تش نوم دے اختیار پرے باندِ
زورئے هیڅ نهٔ دے د قضا په واندِ

ترے چه سخت وی ساعت پرے باندِ
وخت د اهار وی ته راته ووایه

خورے اوبهٔ ورشی سرے ورباندِ
چه څو خوښی به حاصله کاندِ

اوښ م تیار دے کجاوه باندِ
دایم روان یم ورپسے درومم

یاران م لاهل واړه د وړاندِ
جرس فریاد کا خبر راکاندِ

وماته څوستائے شیخه نابوده
نن به کلرنکه معشوقه گورم

د جنت حورے نور نور مقضوده
څما توبه ده له نسیه سوده

که هرڅو دُورے دراز بلیږ دے
حاصل د عمر خو دا دوه توکه دی

په مزل به واړه په مزکه کښیږ دے
چه وړاندِ وروستو د روستو پریږ دے

مرد د میدان دے ښځه د کټ ده
د اوښ بار وونه په تاڅوک نهٔ لیږدی

نهٔ دا خبره د غش د وټ ده
مردی که گورے څهٔ خو پاڼ مټ ده

هم م خیالونه هم م ښیوه زده
چه یار م نشته دا واړه هیڅ دی

هم م په عشق کښے د راز پوه زده
که یار م وشی یار ی م ښه زده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه گل د باغ کاخندا بنیاده
بلبلے ژاړی په ډیر فریاده

څوک په خندا کړے څوک په ژړا کړے
دا چارے ستادی د صبا باد ده

واوره دوه پنده څما فرزنده
طمع حرص لری خواری څوکند ده

دولت د صبر د قناعت دے
همائے چه خلاص دے له هڅ بنده

کهٔ ئے د خضرؑ پیاله خوړلے ده
دا ناهستی دژوندون ژوړے ده

هرچه کمال لری هغه زوال لری
هستی نیستی ئے سره تړلے ده

چرگان بے وخته بانگونه کاندِ
بیاځهٔ بلادی باندِ هرانِدِ

زهٔ ئے بے وخته له یارهٔ بیل کړم
چارهٔ ئے سازه شه په ستونی باندِ

هواهوس کړے په قهقهه خاندے
بے غمه خوب کړے پالنگ درلاندِ

بنهٔ مبارک شه بنادی درباندِ
غمونهٔ لرے د کور د وراندِ

په کوهِ قاف کښے کهٔ رهبر د وراندِ
کهٔ دروغی نهٔ به وی سختی زرباندِ

کهٔ بے رهبره په سم میدان دروے
څوځو بلا به شی په تا هرانِدِ

قافلے لاړے ترما د وراندِ
زهٔ کود بارگیر کتله راباندِ

ورپسے دروم سره شوریږم
پریوزم څار شکی بازی رکابِدِ

چه زغلونه د آسونو کاندِ
نظرِ د کونړ لری په مزګه باندِ

چه آس په لوړو ژورو زغلی
آس ئے پریوزی ترځان د لاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک چه خبرنۀ شی د خط له خونده
قلم به نۀ ږدی په حرف بے بنده

شمارۀ د نورو حرفونو څو کړم
چه یو الف دے په درے پیونده

زمانه اوږده اے نانغتانده
تۀ وچ لړکے ئے نۀ لښته تانده

دا اور به تاوته په مندۀ درشی
کۀ ژړاړے ژاړه کۀ خاندے خانده

تۀ دا وینا کړه له ما نه یاده
بهره آخله د بهار له باده

لکه دا بادئے په واړو ونو کا
هسے به ستا کا درونه بنساده

وږے چه نغن مومی شکر د کاندِ
غوړی کۀ نۀ مومی پاسه وړاندِ

ستړے د شکر کا کۀ اس ئے نۀ وی
په لار کۀ خړوینی ترځان د لاندِ

چه سختے چارے لړے د وړاندِ
په څۀ بے غمه په قهقهه خاندے

هسے په زړۀ کښے فکر ونۀ کړے
چه هومړه څوک دی ترخاورولاندے

کۀ ئے ترسپینو سروکړه لاندِ
دا واړه هیڅ دی په بدرنګه باندِ

کۀ ئے د پوړے لونګ هم نۀ وی
بنۀ مخ بے پسوله زیبائی کاندِ

دُنیا چه هسے وبله بلیږدی
چه څۀ ترے آخلے وړاندِ ریږدی

خبر لا نۀ ئے په دا خبره
نامرده واؤره چه کښیږدی پریږدی

هغه چه عار کړی د خوشحال له پنده
بلا پرے روسته آسمان څرکنده

ورته زړګونه بلا خُولے وازے کا
سړے چه وُوزی د نیک خواه له پنده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په جنګ کښے مت کړه تربل د وړاندِ ژوندے کهٔ پاتے شے ځان دِ عزیز کړه

نور به خبرے درځنے کاندے کهٔ ومړے ومړے رحمت درباندِ

خزان وهلے دِ له نابناده وخت د بهار شو بیا به ارمان کړے

غافل م مهٔ شه له دے ارشاده بهره نن اخله د بهار له باده

عاشقه خانده نن څوچه خاندے طالع کهٔ هر کله هسے مدد کا

بنهٔ مخ ترتاشو لاندِ تهٔ باندِ تل تل به هسے ترماشی لاندِ

تل که بنیګړه له آدم زاده نهٔ بنهٔ کهٔ وکړے څهٔ کمی زیاده

درته به خیر شی په سل بدئ هیڅ به دِ نهٔ کا بنیګړه یاده

زهرکے چه هسے په قهقهه خاندِ هم دا خندا دِ کړه د باز د وړاندِ

هرڅوک چه خاندی بنادئ کاندِ غمونه ورشی په هغو باندِ

خلق چه هومره یارئ کاندِ ځان کا پخپله ترغمونو لاندِ

مرګے ئ له ډیرو غمونوخلاص کا منت د مرګ دے په هرچا باندِ

لؤلؤ دِ غابن دی یاقوت دِ شونډے چه تاڅوک وویني په تا مئین نشی

ډډیرو خونے درپسے ډوبونډے په زهٔ دا نهٔ دی یا سپڅ یوبنډے

هومره بلا دی وتاته پښډے ګورهٔ په کومه بلا به سر شی

چه شمارئ نشته پتے برمنډے چه پکښے تهٔ ګرځے په مدنډے منډے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَحسن نام لرے عاشق غلام لرے
بادہ پہ جام لرے دَ زړۂ هرکام لرے
خیال بہ تۂ نۂ کړے خیال بہ نورځوک کا
چہ دَخوبئ اسباب تمام لرے

دهن دِ میم دے زلفینے دام لرے
ذقن دِ سیم دے سترګے بادام لرے
خیال بہ تۂ نۂ کړے خیال بہ نورځوک کا
چہ پہ دا دور دَحسن نام لرے

تن یو غلاف دے زړۂ پکښے تُورہ
دَ توردَ سپین نۂ دہ وینا منظورہ
مدار پہ تُورہ دے پہ غلاف نۂ دہ
چا رئے پہ هرچا دہ مشهورہ

پہ زلفو کفر پہ زړۂ اسلام لرے
دَسترګو سحر پہ زړونو عام لرے
خیال بہ تۂ نۂ کړے خیال بہ نورځوک کا
چہ نن څۂ ځان ګنړے هغہ غلام لرے

کۂ ځلئے دَ امن خوراک پوشاک لرے
شکر وکا بڑہ نورځۂ بلغاک لرے
مټ پہ طاعت کړہ خلوت ګزین اوسہ
خضر دَ وخت ئے کۂ نفس هلاک لرے

کۂ خپسرخوار کړے تر تورے خاورے
پہ هرچا سورشے ترسپے واؤرے
جفا دَ خلقو پہ مخ پہ شا وړے
رنګ رنګ ګلونہ بہ لہ تنہ راورے

ارمان دے دریغہ دا یو څو کارہ
تل تل بہ نۂ وی تازہ بهارہ
تل تل بہ وار دَ څوا نئی نۂ وی
تل تل بہ نۂ موے مهرلہ یارہ

چوز باز چہ وویني دجال کوترہ
پرواہ ئے نۂ وی لہ خپلہ سرہ
لګړ کۂ هرڅو غوتہ تیرہ لری
نہ برابرہ بیا لرہ بَرہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خبرچه نهٔ وی د عشق له کاره
بے یارهٔ عُمر څهٔ عمر نهٔ دے

په هغه کس وی یاری د شواره
زړد په کور شی سړے بے یاره

په ماڅهٔ کار لرے درومه هوښیاره
نهٔ څوک ادیب لرم نه څوک طبیب لرم

زهٔ لیونے یم مینه شُد یاره
درد م له یاردے دارو له یاره

گل د گلابو شوے چه رنگ وبوئ لرے
دریغه دا کارد په ذات کښے نهٔ وے

شیدا بلبله په هر هر سوئ لرے
وفا د نشته داخوئ بدخوئ لرے

په ځان خبرشه چه چرته ځائے لرے
ځائے د په پورته ترملکوت دے

چه تخت نشین ئے څه هوئے وهائے لرے
چه ناسوتی شوے خوئے دگدائے لرے

هومره بدلے هومره سندرے
فهم م وکړ د عشق په کار کښے

تماے نهٔ شوے د عشق خبرے
لرے نزدے دی نزدے دی لرے

څوک چه یادیږی په نزدے لرے
ترهرچا ښے دی د یار خبرے

څنے خبرے لکه مشکنړے دی
څنے خبرے دی مرغلرے

کهٔ ریگ ماهی خورے کهٔ مړه پاره خورے
څوانی چه لاړه داآوار خورے

څوانی چه لاړه هوښیار هیڅ نهٔ ئے
غم د څوانئی چه دوباره خورے

تورے ز لفینے په مخ شان شان لرے
اُوربل په وچولی پریشان پریشان دے

د نورو کودو حاجت هیڅ نشته
د ستړگو سحر جهان جهان لرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرکوره بنهٔ ئے د زرګر هنره
چه سپین جدا کړے له سیم و زره

تردا دپاسه کبوتر باز دے
د نښځ ها کا جدا له نره

تور غرونه سپین کړے په سپینے واوړے
په سبزه شنے کړے دا تورے خاورے

رنګ رنګ ګلونه چمن ته ورکړے
باده دا تهٔ ئے چه داځهٔ راورے

چه رابنکارهٔ شی په خوخو طورهٔ
خوخو فتنے لری څو هوره زوره

بل فکرمهٔ کړه بل ګمان مهٔ کړه
فریاد م واړه دے دیار له جوره

کهٔ قایم اللّیل ئے کهٔ صائم الدّهر
غم به لاډیر کړے د خدائے د قهر

د مخلصانو خطر لا ډیر دے
سړے شکرے خوری پکښے وی زهر

باغ ونے وچے لری هم ترے
هم ئے بهتر شته هم ئے کهترے

په سایه ګورے په میوه ډکے
تهٔ هغه ونے ګنډه بهترے

راشه بنیګړه د ونے ګورهٔ
خپل ځان په نمر کا بل که ترسیورهٔ

په سنګ ئے وولهٔ میوه درواچوی
خصلت له ونے واخله اے ورره

کهٔ تل تل نومړی په خولهٔ شکرے
خوند به ورنهٔ کا په دا خبرے

مزه به هله د شکرو بیا مومی
چه خولهٔ پرے ووهے چه ئے ونغرے

تهٔ یو طلسم ئے بے اعتباره
له خاورو باده له آب و ناره

اول هم هیڅ وے بیا به هم هیڅ شے
په ځان خبر شه د خدائے دپاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لکه م غوښته هغه نګاره غاړه غړئ ده راسره یاره
په سخ م مه کړه د رقیبانو دُعا م داده پروردګاره

حیران یم پاکه پروردګاره تاچه پیدا کړل دادواړه داره
محتاج هیڅ نه ئ د څه دپاره دا هومره نقش هومره نګاره

کهٔ ئ وفا درلے ښے دی دلبرے ولے هیڅ نهٔ دی په دا خبرے
د تورو زلفو د مهربوئ نشته کهٔ په نمود دی لکه عنبرے

کهٔ لعل و دُر دی د خوشحال خبرے چه تهٔ ئ نهٔ منے له تا دی لرے
بخرے د هرچا جدا جدا دی کارکان کندګی خوری طوطیان شکرے

له لارے مهٔ غړیږه خوځه په لارے کهٔ پریوزے پاڅه خوځه په لارے
بے لارے واړه غُولان د دان دی غولان د دان نشته خوځه په لارے

تل د کمزورے وی دا یوځو کاره مکر دروغ کا په څو انکاره
بنځه کمزورے ده څکه انکار کا په دا سبب ده هومره مکاره

په خولهٔ خبرے له کرد کاره په زړهٔ خبرے له کښت وکاره
فریاد فریاد دے په هسے زیست کښے توبه توبه ده له هسے کاره

چه بنهٔ مردان دی د دین د لارے پټے به نهٔ وی د دیو چارے
اوبهٔ چه نهٔ وی روا په شرع هغه اوبهٔ به ګنړی مردارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَمور په نس کښے فرښتے اے یارہ
دَسړی وکښی دایوخو کارہ

رزق او فعلونہ عمرښۂ بد بخت
دا وسوے دی دَ څۂ دپارہ

کۂ زرهُنره په هرویښتۂ لرے
بیا به په کارکښے توکل تۂ لرے

خوشحاله یونشته چه رزۂ پرے ښۂ کړے
نن ورځ کۂ خُویه نسی شپیتۂ لرے

کۂ چارد عقل لرے بسیارہ
چارپائے به نۂ کړے کویا هوښیارہ

تۂ خاموشی زده کړه له چارپایانو
چه خاموشی لری فائده نیارہ

پورکۂ دَمړے دے تښته له پورہ
اورکۂ لوګے دے تښته له اورہ

دښمن کۂ سهل زحمت کۂ لږ دے
بے غم ترے مۂ اوسه اے خُمارورہ

دَمارکۂ نۂ وی په تن کښے زهر
سردارکۂ نۂ لری خنجر دَ قهر

دا دواړہ توکه به خُما په پوهه
نۂ یاد په کلی وی نه یاد په ښهر

دَ بابا خُویه دَ بابا پلارہ
په زلفو لیله په مخ نهارہ

یوسفؑ کۂ هرڅو ښائسته روغ وُو
کویا سمن وُو ستا له ګلزارہ

بے عیبه یار نشته په ملک هوښیارہ
په عیب مکړہ زړۂ بدله یارہ

کۂ ګرځے واړہ با غونه وګورے
ګل به بیا نۂ مومے خالی له خارہ

په زړۂ مِ هومره نۂ دی اَنبارے
چه ئے قلم کا په کاغذ نکارے

یا بیا نیږی خُما په ژبه
یائے قاصد کا درته تکارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سپے چه کښینی تر سره سیورے غارمهٔ پرے تیروی که تهٔ ئے کورے
رضائے نهٔ شی وپاخیدو ته که ئے لمبه کړے په لمن پورے

ثنا صفت کا عالَم له میوره نقش ونگار لری په خوخو طوره
نظرچه وکا وخپلو پښو ته زړهٔ ئے اَخته شی په ډیرډیر خوره

خوشحاله څوبه غمونه نغرے غم به دِکله شی له دِله لرے
سترګے رم وختے دَ آسمان وپیرته که چیرے وار راشی هاله خبرے

څوک دے چه واوړی له بده کاره څوئے وا نهٔ ړوے پرورد کاره
توبه هاله بنه ده له توبه کاره چه تهٔ ئے بینګ کړے پرورد کاره

دَ هوښیارانو خوښے خبرے قند دی نبات دی شهدو شکرے
نادان په مثل غل خواره خر دے دَ خوښ وخوند دے ورځنے لرے

خپل بند وبست دے دَ هرے چارے پاکے مشکوکے شته اوبهٔ مردارے
پاکے اوبهٔ بویه زیست او روزګار لره مردارے کله دی سزاوارے

هرڅوک چه لاف وهی دَ عشق له کاره عاشقی چیرے ده لاهسے خواره
په مړو ایرو کښے بخړے چیرے وی عاشقان مړهٔ دی دَ یار دیاره

شراب خوښی لری په څښنل بسیاره خوښی ئے نهٔ وی بیابے له خماره
هرچه دولت لری نکبت دَ یار لری غره دِ نهٔ شی په ځان یکباره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه یادؤلے شی کذشته چارے
فائده نشته شته څهٔ خو بارے

کونډِ څوک پند واخلی ځائے دَحذر دے
غلط نورتهٔ درومی په غلط لارے

منت دَچامهٔ وړه دَ یوے تُورے
شونډے کښے مهٔ ږده په غوړے سپورے

نورڅوک لا پریږده کهٔ ځویه دور وی
اور کړه دَدوئ په خپلوئ پورے

آسمان پیرے لری ځما پسره!
مهٔ ډیرغافل شه مهٔ ډیرے سره

په غم کښے طمع دَښادمانئ کړه
په ښادمانئ کښے له غمه ویره

کال دَعقج[۱۰۸۳] وو په خیبر کښے هُورے
مُغلے بند شوے هم کُنډے بورے

مهمند شینواری څو آفریدی وُو
واړهو وهلے دَیادو تُورے

چه بادشاهانو تهٔ واخلی تُورے
دَدوئ خبرے شی په ملک مشهورے

کهٔ بیا باورکا په بادشاهانو
هغه به میندے په ځان کا بُورے

نیکے م ولیدے ډیرے بے شمارے
پاکے نیک زنے بدے بدکارے

چه نهٔ کا نهٔ کاچه کا خو وکا
دَ مرد په غیږ کښے ناپاکے چارے

په لاس چه واخلی مردارے چارے
نوم شی دَ ښځے دَ زناکارے

کهٔ نهٔ ئے مړک وی نهٔ ئے طلاق وی
په مردئ بند شی دَجنت لارے

حُویه بدبخت شی په دا دوه کاره
عاصی له خدایه عاصی له پلاره

بدبخت چه کښینی په ګلستان کښے
ګل به ئے نهٔ شی نصیب بے خاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه مفلس ئے کۀ څۀ غنا لرے
کۀ حق دَ چارے یا دَ آشنا لرے

کۀ څۀ غنالرے ولے عنا لرے
ورځنے ولے ځان ناآشنا لرے

په چاچه وشی دَ همائے سیوره
مهر دَ خاصو دَ همائے سیورے دے

دولت وردرومی له هره لوره
په چاچه وشی دا سیوره کوره

کاتۀ دَ سترګو دَ خولے خبرے
داچارے واړه په لاس دَ زړۀ دی

وچرته تلنه نزدے بیا لرے
بادشاه ئے زړۀ دے وجود لښکرے

بے قدره نۀ دی دَ راز خبرے
ځائے دننه دَ زړۀ صندوق دے

دَ راز خبرے دی مرغلرے
ورته ئے نۀ کړے همدم تۀ لرے

دا سحر کړه دُنیا مکاره
چه ئے له مورۀ پلاره ویزار کا

څوبه ویزاره کا له مورۀ پلاره
هسے داهم شی څنے ویزاره

پاکان به درومی په پاکے لارے
چه سترګے نۀ لری وته به څۀ ښیئ

ناپاک به کاندی ناپاکے چارے
دَ هرهر باغ دی میوے تیارے

چه رابنکاره شوے دَ دُنیا چارے
فکرم لاړشی په لارے لارے

فکرم سترے په بیارته راشی
دَ وړاندِ راشی لارے حصارے

خلق چه غواړی لوړے ژورے
په پټے سترګے به نندارے کړم

له مانه مۀ غواړه تۀ دا خبرے
چه راته یودی نزدے هم لرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ډیر مونځونه روژه تل تل لرے
کهٔ دوزخیٔ دوزخ به موے

هغه به موے قسمت چه خپل لرے
کهٔ جنتیٔ څهٔ غم و دل لرے

سخ دِ په کور دے چه دا څو چارے
بنهٔ بنهٔ ځایونه بنهٔ بنهٔ بویونه

لرے په کور کښے بنے بنے نگارے
حمام په عطرو جامے بوئیدارے

چه بنهٔ زړولی وی له مورهٔ پلارهٔ
کهٔ باندِ خیرے یا تکے پریوزی

بنه تنسته لری سپینه چوتاره
پاکیزگی ده ورته تیاره

ځار ترهوښیار شم دَهوښیار خبرے
دَنادانانو رښتیا څهٔ سود لری

دروغ رښتیائے دی واړه شکرے
چه ئے خبرے دی له خیرهٔ لرے

اَرمان دے دریغه ځما ګلزارهٔ
مزکے ظاهر مِ درلره درغے

غنچه ریژیږی اُوس له شاخسارهٔ
بدرنګ ئے مهٔ کړهٔ دَخدائے دپارهٔ

دَاحمقانو بے ځایه چارے
بښکړه دا ده چه رنګ ئے مهٔ کوره

څهٔ هومره نهٔ دی چه تهٔ ئے شمارے
ورسره مهٔ ږده قدم په لارے

نن په نظر را غله یوه وزیره
زلفے ئے بنے وے دَتیبت ترمنکو

بنه ترتیبت وه هم ترکشمیره
په تورو ستر ګو وه دَکشمیرمیره

څوک چه مردود شی له پیره میره
ږهونه چه زړهونه دی لکه ماران دی

خالی به نهٔ وی له غمه ویره
زهر ومُهره لری په ځان خبیره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هندی تورسکانړدی له مورهٔ پلارهٔ
تاثیر کهٔ تخم آب وهوا لری

پښتانهٔ وارهٔ سړهٔ سپین اے یارد
تهٔ وارهٔ وګنړهٔ له کسرد کارهٔ

نافې د مشکو دی د دانا خبرے
د نادانانو خبرے هوښے دی

څوئے پرانزے نګهت ئے نغرے
د مښکو بوئ شی په هوښو نغرے

دین دے کهٔ دل دے کهٔ عقل صبر
اوس راته پاتے دا یونفس دے

له مائے یوهل وارهٔ په جبر
دا به هم یوسی بچئ د کبر

شته ستاخبرے پند پند شکرے
په هر سپی نغرے په څو شکرے

پند پند شکرے شته ستاخبرے
په څو شکرے په هر سپی نغرے

څما توبه ده له نادان یارهٔ
دے به دِ بنهٔ غواړی تاته به بد شی

چه ئے یاری ده میرځی تیارهٔ
غم به پیداشی د دهٔ له پیارهٔ

پیرئ رانیول له ما څو کارهٔ
چه مهر مینه یاری ترے غواړم

لاړهم د غشی د توپک له بنکارهٔ
را پورے خاندی څوانه نګارهٔ

خواړهٔ د مهر وی خواړهٔ د زهر
څنے وریځ واؤرے اوبهٔ وی

وریځ د رحم وی وریځ د قهر
څنے بریښئ تندر د دهر

وفا به نهٔ موے له هرهٔ یارهٔ
دا اوس یارئ د وښوخونے دی

یارئ مهٔ کړهٔ له چا هوښیارهٔ
و اور ته خونه د وښو تیارهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

واړه فانی دی دَ دُنیا چارے
چه ځړۀ ئے وتاړۀ باندِ یک لخته

په ځائے تل نۀ وی سره قرارے
دَ هغو سړیو دی بخرے خوارے

توړے زلفینے لکه سنبل لرے
چه دَ سړیو په ځړونو کړئ

خوبئ دَحُسن زیاتے تړکل لرے
تۀ هغه هومره ځیبائی کُل لرے

ښے دی ترمښکو دَ وطن خاورے
ځړۀ تاخسړے دَ لوئے دریاب کړم

تودے اوبۀ دی دَ وطن واؤرے
اوس به په کومو موجونو ماؤرے

دَ کل تړپانړیو نازک اندام لرے
خیال به تۀ نۀ کړے نور به ئے ځوک کا

شیرین تر قند و دَخولے دشنام لرے
چه په خپل حسن دماغ مدام لرے

هوښیارچه واؤړی دَ پند خبرے
نادان دَ خړونو په شمار حساب دے

وربانِدِ لګی لکه شکرے
دَ پند شکرے په خړونو غړے

ځړۀ چه ړوان شی په لارے لارے
خو پسے ډډے اندوه به موے

فائده ئے وایه وماته بارے
ټولے به نۀ کړے پریشانے چارے

چه راته غوټه دَ وړوځیو میان لرے
ناحق دَ بدو کمان بنۀ نۀ دے

په ځړۀ دِ څۀ دی بیا کوم کمان لرے
کافره نۀ ئے تۀ هم ایمان لرے

په چاچه نۀ پسندے ګرانے دشوارے
په خدائګو واړه جزا سزا لری

په تابه نۀ درځی دشوارے چارے
تړپښوکۀ لاندِ کړے میږے په لارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یاری له بده بدخویه یاره
شلؤلی بنه ده په څو اعتباره

کهٔ بنائسته وی جور و جفائے وړه
کلونه کله وی د باغ بے خاره

په روم په شام شی د لیلیٰ خبرے
په هند په سندشی د مجنون سندرے

عشق م په مثل نافه د مشک شو
چه بوئے خور شی په نزدے په لرے

کهٔ چیرے وویني عیب له یاره
بنکارئے مهٔ کړه د خدائے دپاره

عیب پوشی بنه ده کهٔ عیب جوئی بنه ده
فکر د دوا و کړه هوښیاره

په حق ولاړ اوسه اے ناصبوره
صبر کړه صبر ده صبر تُوره

چه څوک په لاس کا ما امتحان کړ
فتح دائم ده ورته حضوره

چه پاک زوولی دی له موره پلاره
ناپاک ئے مهٔ کړه پروردگاره

دین و دُنیا لره پاکی پکار ده
ناپاک به خوار وی په دواړه داره

درویشی دا ده کهٔ تل حلال خورے
کهٔ تل حلال خورے بیا د خپل مال خورے

کښینے وعدے کړے مخ د خدائے تورکړه
پردی مالونه په دا تپیتال خورے

عاشق ویزار دے له موره پلاره
پرواه ئے نهٔ شی له نُوره ناره

وځان ته شا کا ترایمان تیرشی
کفر قبول کا د یار دپاره

بنهٔ ئے پسندلے عقل تمیز لرے
خو ولئے هومره هُنر هرځیز لرے

موسیٰ د خضرؑ په پیروئ تهٔ
دده خبرے خبر کهٔ نیز لرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که زورد فیل لرے زړهٔ دضیغم لرے
له تاچه غم لری څنے به غم لرے

علاج ئے وکړه له پسه خوب کړه
په خپله خونه کښے چه مار لړم لرے

تهٔ لاړے درنګ ته خپل ځائے دِ درنګ کړ
په درنګ دِ ولے دا هومره درنګ کړ

ستا په فراق کښے لکه نارنج شوم
غم دِ هم چیرے حما دَ رنګ کړ

چه عیب نهٔ لری که هسے بار غواړے
داهسے یار به په کوم دیار غواړے

بے عیبه یار به چرے بیا نهٔ موے
که ګرځے ګرځے جهان بسیار غواړے

خدایه چه پاک دی ناپاک ئے مهٔ کړه
دَ ناپاکانو صابون توبه کړه

چه په مخ سرونړی وګور ته دروی
کرم دِ ډیر دے ما هم هغه کړه

چه آئینے ته ښکاره دیدار کړے
آئینه درسته سره ګلزار کړے

چه شونډے کښیږدے دَجام په موړکو
اوبهٔ په جام کښے رُتبِ اَنار کړے

اورکهٔ بخړے وی څنے به ویره کړے
غلیم که څړے وی څنے به ویره کړے

نور نور رنځونه به تاته څهٔ وائیم
ښځے که خړے وی څنے به ویره کړے

دَ هرسړی سره چه آشنائی کړے
نهٔ چه په طمعَ ترے روښنائی کړے

دَ آشنایئ سره غمونه دی
ځان به ترے څرغورے که دانائی کړے

پلارئے په بند کړ سرورئے بند بند کړ
ځان ئے هم شیخ کړ هم دانشمند کړ

اوس به غزا کښے خپل ځان غازی بولی
په خوخو رنګ ئے خپل ځان څرګند کړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه هومره قهر دَکوتو مرور کړے
چه اوس دِ نوے په لاس نیولے دے

په دا پوهیږم زړهٔ به راسور کړے
بے بخته نهٔ ئے کهٔ دا کبر زور کړے

نادان پخپله دَځان غم ډیر کړ
هغه چه هیر بویه هغهٔ یاد دی

نابودے پوهے سره تیر بسیر کړ
هغه چه یاد بویه هغهٔ هیر کړ

له خپله یاره چه بدکوئ کړے
حق شته انصاف شته عذاب ثواب لسه

دَ اغیارانو چه دلجوئ کړے
ولے دا هسے ناپیر خوئ کړے

له تاچه ویره کاځنے به ویره کړے
کهٔ ئے دَ ویرے علاج درونهٔ شی

یا به ئے ویره له زړهٔ بدره کړے
مت کړه چه زړئے مهم ترسره کړے

عزت په داکښے چه هیڅ دروغ نکړے
کهٔ زړهٔ دَیار ساتے دَیار په رائے دروغه

دَچاله غوږهٔ خوانه آروغ نهٔ کړے
خپل زړهٔ چه بد نکړے بل زړهٔ به روغ نکړے

تعلیم دَ زاغ و زغن کهٔ ډیر وکړے
دَ ترخے اوسپنے توره کړه سازه

بسکار به پرے کله دَ باز په څیروکړے
غزا به کله په هغهٔ شمشیر کړے

مردئے کهٔ هیڅ ویره له چا نهٔ کړے
کهٔ لوئے منصب لرے خاص دَبادشاوی

طمع له چا نهٔ کړے غم دَدُنیا نکړے
له میره پیره به خوف ورجا نکړے

ربه وماته دولت اقبال راکړے
حرام کهٔ شبه دکار دپاره

په لون لون دَدُنیا مال راکړے
چه م ترستونی ځی هغه حلال راکړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

غافل خوږ عمر په ځان ګنډهیر کړ
امیدئے لږ شو حسرت ئے ډیر کړ

نهٔ ئے څهٔ ورکړ نهٔ ئے څهٔ واخستل
عمرئے هسے حبطه تیر کړ

په مارچه وا رجوړ کړے که ګذار پرې نکړے
خپل زړهٔ خو وپوښته چه زړهٔ داځهٔ کړے

کهٔ غول توب دے کهٔ بناغل توب دے
خود په زړهٔ کښے نندار ه وکړے

خپل ځان ئے روغ کړ یارئے بیمار کړ
یوځهٔ بنهٔ یار دے خوشحال چه یار کړے

لا یو ناترس دے یائے یاری نهٔ زده
یائے پکار نهٔ دے ترځان ئے ځار کړے

څو یو م خوئ د ختهکو نور کړ
ځما په نقش ئے پورے سُوراور کړ

وخت د ګټنے د نام و ننګ وُو
بدو ځامنو راځنه خور کړ

کهٔ څوک د وبنکنځی غیرت پیدا نهٔ کړے
د دهٔ وسرته تُوره ترملانهٔ کړے

نه حمیت لرے نه شرم ننګ لرے
مردی د نشته غیرت په دانهٔ کړے

له دے دُنیا نه به آخر سفر وکړے
پاتے به نهٔ شے کهٔ ډیر هُنر وکړے

عمل د نیکو د وړاندِ وا ستوه
بنهٔ نام دلے پریږ ده کهٔ هومړ چرو کړے

وخت د بهار دے خوشحاله څهٔ کړے
ولے ګلګشت د ګلونو نهٔ کړے

ستړکے م تتے شوے ګل ته په څهٔ ګورم
پیرئ چارے را باندِ وکړے

ماچه دا هسے درپسے ځان کړ
د دُنیا کورم درپسے وران کړ

د زړهٔ په حال م وارهٔ پوهیږے
کهٔ ډیر هوښیارئے ځان د نادان کړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو موټے خاورے وی هومره دماغ ورکړے
ننه په زړهٔ کښے د عقل چراغ ورکړے
د ملک د بند و بست خبرے
فکر د کښت و د کر د باغ ورکړے

خوشحاله څوبه فکر تد بیر کړے
غم به د ورک شی دا کار که څیر کړے
چه نیکی بدی درته رسیږی
که حواله ئے ته په تقدیر کړے

څوانی چه لاړه ور سره لاړے
ډیرے خوبئ که ژاړے ژاړے
بیا به په بیارته څوانی رانهٔ شی
که ئے له پیره له طبیبه غواړے

چه چاته ورکړے بیائے پرے زباد کړے
خپل ورکړه ګوره واړه برباد کړے
که تُوره ماته کړے په جنګ کښے هیڅ ئے
کار د مړانے چه چاته یاد کړے

درخو هوښیاره وه څان ئے نادان کړ
نوم ئے بد اصل د آدم خان کړ
تل ئے د مور او د پلار پیغور نه ساتهٔ
په ژړهٔ مینه کار ئے داشان کړ

دم واهه نهٔ شی دا چه خدائی کړے
څوک فرعونی کړے څوک موسائی کړے
چه دوا ړه توکه دِ یو رنګ پیدا نکړل
کبریائی کړے که دانائی کړے

څو په کے خونے وی چه مرګی لُوټ کړے
څوخلقے ئے سره کُوټ کُوټ کړے
مرګ یو تریخ جام دے درته نیولے
څوبه ترے خولهٔ نیسے دا جام به کُوټ کړے

اے چه له مانه علم مکتب غواړے
دود د عجم غواړے دود د عرب غواړے
روغ ئے که سروغ نهٔ ئے راته وایه
له عاشقانو چه تهٔ مذهب غواړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل دِ پردی کړل پردی به خپل نۀ کړے
خصلت دِ بد شو خصلت به بل نکړے
غم دِ په بڼه شو بنا دی به تل نۀ کړے
چه ناقابلۍ ځان به قابل نۀ کړے

چه کنګه پیغله شوے کبر دِ ډیر کړ
خصلت دِ واړه په بل بل پیر کړ
چه سپینه خولۀ دِ ورته نومړے وه
هغه دِ ولے له دِله هیر کړ

اے چه یاری کړے په څوځو غاړے
په تله ورکړے په خروار غواړے
یار دِ دَخپله لاسه په ګور کړ
بیائے په هائے هائے په ورټ ورټ ژاړے

کۀ زۀ دِ ژاړم چه تۀ م نۀ ژاړے
کۀ زۀ دِ غواړم چه تۀ م نۀ غواړے
کوشش به واړه ځما برباد شی
ما به دَ غم په مزریو و داړے

مخ دِ له ورایه راته عیان کړ
اور دِ راپورے په خانمان کړ
نظر دِ هورے په بل بل شان کړ
آشنا م نۀ ګنړے ځان دِ نادان کړ

څوبه دِ تل وی دا اَوړے پاوړے
چه دِ په زۀ وی په خولۀ ئے راوړے
څوئے ونۀ خورے کله به آوړے
چه بلا غواړے په بلا واوړے

په درسته ورځه چه تلا توب کړے
دَدُنیا چارے په څۀ آشوب کړے
خوشحاله پاسه دا سړیتوب کړے
چه چرګ به ویښ وی تۀ به لاخوب کړے

چه خیال مکیز کړے هومره خونریز کړے
چه خپل عاشق سره خیال ومکیز کړے
رانجۀ چه پورے کړے په برندو ستړګو
خنجر دَ جنګ او فتنے تیز کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوار زړهٔ م واخست په تام باندې کړ
سترګے دَ بازدی زړهٔ م تمزے دے

ترډیرو ډیرو اندیښنو م لاندې کړ
خلاصے ئے نشته اوس ئے دَ وړاندې کړ

خدایه دردمن کړے بے دردان واړه
خوشحاله ملک دَ بے دردو ډک شو

چه واړه ژاړی دِ ما په غاړه
دردمن په نوړوملکونو غواړه

چاته چه چاه کنے په چاه کښے پریوزے
په څو به ړوغ اوسے دا فکر وکړه

بلاچه غواړے په بلا کښیوزے
په پرانګ پرهار وکړے بیا ورپسیوزے

دَچاچه ډک وی زړهٔ گے له سازه
یائے دَ خولے نه څهٔ بوئ روان شی

کهٔ په ویلئے نهٔ کا خولهٔ وازه
یا به ئے رنګ وی دَ مخ غمازه

کهٔ په یجوړ لایجوز پسے وُزے
راشه په دین دَ قلندرانو شه

واړه کوهے دے پکښے به پریوزے
چه بے وسوسه په هرځهٔ کښیوزے

درته به وایم دا دوه رموزه
څوچه دَ خپل وے خپل به دَ بل وے

کهٔ پوهه پرے نهٔ شے لیمهٔ دِ وُوزه
ترسیال به نهٔ وړے خبره کُوزه

ترغرونو پریوزه ترزړونو پرے مهٔ وُزه
چه څوک ئے نهٔ پسندی هرچاته بد وی

دَ سرو مزریو په ډکه کښے مهٔ وُزه
په هغوهسے چاړو پسے مهٔ وُزه

په غرونو مهٔ څه ترغرونو پرے مهٔ وُزه
زړونځهٔ واړه برابر نهٔ دی

ترغرونو پریوځے ترزړونو پرے مهٔ وُزه
درومه ترزړونو دَمړونو پرے مهٔ وُزه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سردار ته بویه دایو څو څیزه
داد و دهش لری دین و دانش لری

چه مړنی وی ځما عزیزه
نهٔ بے ربښتیا وی نهٔ بے تمیزه

نیستی هستی ده کهٔ ته پوهیږے
بده ترهڅهٔ په داجهان کښے

لوئی پستی ده کهٔ ته پوهیږے
خود پرستی ده کهٔ ته پوهیږے

زړکے د ښکار څورم بره د میږے
تنګ لنډ م مهٔ کړه په داڅوتوکه

د سړو اوبو یم د تودے غیږے
بے نیازه خدایه کهٔ دُعام نغوږے

هوښیار ته ګول شه کهٔ ډیر پوهیږے
منګے چه ډک وی کله آواز کا

خوخاموشی کړے نهٔ به ستوهیږے
څهٔ ښهٔ دلیل دے کهٔ پرے ګروهیږے

څوچه توانیږے هومره نافع وسه
سودئے ترجود تر کرم دپاسه دے

تل تل د نیکو د خصلت واضع وُسه
د خدائے دپاره متواضع وُسه

کهٔ ته بادشاه ئے د تخت دپاسه
عارف په ځان شه دوست د سبحان شه

خدائے ته ګدائے شه خبر شناسه
غیر فکرونه له زړهٔ وباسه

څویه م ډیر دی واړه عزیز وسه
خو یو بهرام دے په خوئ ناخیز دے

په هره چاره کښے صاحب تمیز وُسه
لکه ناخیز دے هسے ناخیز وُسه

په زړهٔ د وار وخلقو نیکخواه وسه
طمع له چامهٔ کړه سخا په هرچا کړه

هدایت کړونے د هرکمراه وسه
بے تخت وتاجه لکه بادشاه وسه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوئ د خوشحال راوړه په زړه خوشحال وسه
مئین په شرم د شمن د مال وسه

په زړه حلال اوسه په خولهٔ حلال اوسه
د نورچا مهٔ شه د ذوالجلال وسه

کهٔ هرڅو پیره ده دُنیا تر قیاسه
خائے د دُنیا کړه ترزړه دپاسه

زهٔ به فتوٰی درکړم چه باک ئے نشته
دُنیا سودمنه وی وتا ته ناسه

په عدل وداد کښے په هرچا سم وسه
وقارهم دادے په توره کښے کم وسه

کهٔ تهٔ په کبر د خان لوئ غواړے
گیدی د وژلوئے یومار لړم وسه

طباخ چه ووزی تر یو خو لاسه
ورځے وخوری دپاسه پاسه

پاتے خوراک ئے خوراک د سپیو دے
په داخبر شه سخن شناسه

په شرم ننګ کښے د دُنیا ولاړ وسه
د دین په کار کښے د دُنیا لاړ وسه

په خپلو باغ شه رود رودبار شه
و بیګانه ؤ ته سخت لکه ګاړ وسه

آسمان کهٔ نهٔ کا خِسّت دپاسه
لکونه راشی د خوشحال ترلاسه

چه تار په تارئے په خلق نهٔ کا
تهٔ داخبره له زړهٔ وباسه

دولت چه موے د چا له لاسه
نکبت هم موے له هغه ناسه

دے دِ په مثل پروردګار شهٔ
بدکړے کهٔ نهٔ ئے ترے بے هراسه

اندیښنے مهٔ کړه ډیرے درویشه
دُنیا به نهٔ موے ترقسمت بیشه

شکر غنی لره صبر درویش لره
کهٔ کاهم دادِ کا هرچه شی پیښه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے لرزہ وہ پہ ملک لہ جیشہ
زہ ئے نہاد کام ؤلہ ھرہ بمیشہ

کورہ پہ کور کښے ھغہ شاھان دی
چہ ژغ ئے نہ شی د مرگ لہ طیشہ

ما د دانا کرہ دا وینا خوښہ
راندہ د نہ ځی بے عصا کشہ

طمع مرغونہ پہ دام بندی کا
سرے خواریږی لہ خپلہ اَشہ

د بشوخبرہ دہ پہ ھر چا فرضہ
درتہ بہ وکړم پورہ دوہ عرضہ

د بدخواہ ومنہ د بنځو مہ منہ
لہ مرگہ مہ تښتہ تښتہ لہ قرضہ

وخدائے تہ خواردی بھتر د خلق
لہ ځانہ پرے کړہ باور د خلق

کہ خپل د خدائے ئے پہ حقیقت کښے
مومن د خدائے شہ کافر د خلق

لہ زاغہ زدہ کړہ دا دوہ درے توکہ
یوچہ رزق نہ ږدی کاندہ تہ روکہ

بل چہ دخول کا مخفی لہ خلقو
بل چہ پہ تراہ وی لہ واړہ لوکہ

بارک مئین دے پہ دا دوہ توکہ
پہ سپینہ وازدہ پہ سپینہ روکہ

بولاق د وینځے پہ خوئ خصلت دے
ورلرہ بویہ لویہ مترو کہ

کہ پند م نغوبے مکړہ دوہ توکہ
خواست د خسنړی لہ خپلہ روکہ

دروغ خبرہ پہ خولہ رامہ وړہ
پہ کاروبار کښے لہ واړہ لوکہ

خومرہ دِ خوادہ وماتہ ډکہ
چہ تشوے ئے پہ ما فلکہ

ھم دِ پیری کړہ پہ ما تعینہ
ھم دِ میرثی کړہ د مغل رالکہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په نیلی سورئے کړکړه لکه
دعوی د کبر په زړه کښے کمکه

که فهم وکړے چینجے د غلوئے
هومره لوئی کړے د غلو ډکه

تل ئے خبرے له بنهٔ خوراکه
ذکر مذکورئے له بنهٔ پوښتکه

خپل کسب هیڅ نه واړه له ظلمه
هے توبه توبه له هسے شروا که

جن په حجاب کښے د مور له څنګه
مګړ ځان ژغورې د مرد له چنګه

که په صحرا کړځی که کوڅه کرده شی
شنده به وکا په خپله تنګه

هڅکوړه بنهٔ ئے د باغ سل برګه
سرد راوکیښ د شیر له تخرګه

ستا په دیدارم سترګے خوږیږی
زما هٔ م راوُوت د غم له درکه

که زما د خلاص وی د شک له زنګه
اند وه به نهٔ کړے د غلیم له جنګه

برستن د خوب ده که صف د جنګ دے
دا د واړه توکه نهٔ دی دوه رنګه

که سره تولے کړے د کلی چرګے
نهٔ واړه چرګے نهٔ د باز سترګے

نهٔ دوه سو کښلے جونه بے باکے
نهٔ یوه کښلے د پاکے پرکے

مغل بے قدره پښتون بے ننګه
توبه له تُورے توبه له جنګه

تسبیح په لاس کښے په نظام پور کښے
ناست په مسجد کښے جمدر ترخنګه

غلیم زردے په دا دوه رنګه
لکه چه راشی خی م له چنګه

بل په آسانه راله نهٔ راځی
بے سپینے تُورے بے ډیره جنګه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَځان مِ ولیدل اَخوان مِ ولیدل
چه ښئ مِ ځیر کړل واړه سړی نۀ دی

یاران مِ ولیدل دوستان مِ ولیدل
سکان مِ ولیدل ددان مِ ولیدل

چمئ مخموړے وے سترگے بے مُله
وګورہ لاړہل هغه مخونه

سنبلئ هیڅ ؤو تر ښئ کاکله
چه ښائسته ؤو دَباغ تر ګله

راشه کۀ ګورے اهل نا اهل
په ابو بکرؓ محمّدؐ نمر ؤو

یو ابو بکرؓ ؤو بل ابوجهل
په ابوجهل تر سهاسهل

دا سر کلونه ګورہ خوشحاله
لکه چه ګل دے هسے ستا عمر دے

ګورہ چه څۀ شی تر بله کاله
راشه خبر شه له دے مثاله

کۀ دِیر اغزی لرے په څنګ کښے ګله
چه پرے مئین وی عیبئ نۀ وینی

اغزی دِ نۀ وینی شیدا بلبله
هرڅۀئ اَخلی بے تامله

یاران مِ لاړہل ترخاورو لاندِ شول
په ګورئ ورشم سپاندے پرے ووینم

مونږہ ئے پریښو ترمونږ دَوړاندِ شول
مګر زمونږہ دپارہ سپاندے شول

چه دَ لیدلو ؤو هغه مِ ولیدل
آخر کۀ ګورے دا واړہ هیڅ دی

چه دَخوړلو ؤو هغه مِ وخوړل
لکه مِ وویل هسے مِ ومنل

دایم زۀ تیر شوم تر اَویا کاله
داغم مِ نۀ دے له اعداء لیدلے

تۀ راخبرئ یا ذوالجلاله
لکه ئے وینم له خپله خیاله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ لوئے ملاشی په لوستل لوستل
آدم کۀ نۀ شی لوستن دی لوستل

څنے لوستل کا څنے لوستن کا
په شان شان کیږی سبق اَخستل

وخت دَ پیرئ راغے خوشحاله
لاډِ په زړهٔ دی دایوڅو خیاله

خیال دَ ننګونو خیال دَ جنګونو
خیال دَ دلبرو له خط و خاله

دَ مرد دَ علم دَ هنر له حاله
زړ خبردار شی له قیل و قاله

دَ نفس له حاله هالهٔ خبر شی
چه ورسره وی په یوڅو کاله

خبر هیڅ نۀ یم له خپله حاله
حال به مِ څۀ کړے یا ذوالجلاله

تکیه مِ ستا ده ستا دَ کرم ده
دایم درتلونے شوم ډک له وباله

کۀ بنائسته ئے په مخ تر ګُله
بوئ دَ جفاځی ستا تر کاګله

ګُل کۀ زیبا دے چه بے وفا دے
څکه فریاد کا څنے بلبله

ګُل ته ګویا شوه دَ باغ بلبله
چه ناز ډیرمهٔ کړه دَ چمن ګُله

ګُل وے په بخړه دَ کښلیو ناز دے
خبرے مهٔ کړه بے تأمله

ګُل ئے په شونډو په مخ منګُلِ
سترګے دَ باز دی باندهٔ منګلِ

کۀ یولک کښلے وبله توله شی
یولک من تهٔ ئے نورے من ګُلِ

غریب یم بولم دَ غربت بدله
رانجور شو دواړه دَ بابا دِله

نابود بولاق دی کۀ بروړے دی
راغلے مهٔ وے تر برمَوله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نړۀ هیڅ خبرنۀ یم له خپله حاله
هغه جنین یم بے قیل و قاله

وبړے شم وژاړم موړشم خندا کړم
هومره پوهیږم په څو اَشکاله

دایم کۀ زړۀ له دلبرو ونیسم
پسے ړاندیږم زړۀ به په څۀ نیسم

څومِ ژوند دن دے په دا دُنیا کښے
زړۀ به له کښلیه مخه ونۀ نیسم

ماوے چه تابه دَ ځان په رنګ کړم
لکه ملنګ وے زۀ دِ ملنګ کړم

سږ دَ وهین شوم تر بله کاله
دَ ځان به لویه مصلّی لنګ کړم

نۀ مرد دَ کفر نۀ مرد دَ دین یم
نۀ دَ ګمان یم نۀ دَ یقین یم

په دواړه توکه مذبذبین یم
هم په زړۀ تور یم هم په زړۀ سپین یم

قرآن دَ وړاندِ په لاس کښے جام لرم
په لون لون حلال حرام لرم

عملِم ترینځ دے کۀ خوږ کلام لرم
نه درست کافر یم نۀ درست اسلام لرم

لیندۀ چه نۀ وی په غوږ یوسمه
غشے چه کوږ وی پر خانه کمۀ

نۀ به دَ نخښے ګذار پرے وکړے
نه به په غشی کړے غرڅۀ بے دمه

داتۀ ئے یارہ کۀ دا زۀ خواب وینم
داتۀ ئے یارہ کۀ په شپه آفتاب وینم

چه ستا دَ زلفو ټکهت ِم ولیدۀ
مۀ تور عنبر وینم مۀ مشکناب وینم

چه جدا شوی یاران تر نړۀ کړم
لیمۀ په ډیرو ژړلو سره کړم

کښینم بیا صبر دَ خدائے په کړۀ کړم
چه صبرنۀ کړم وایه بیا څۀ کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا ډیر فکرونه چه صبح وشام لرم
چه فکر وکړم واړه ئے خام لرم

خلق په مینځ کښے د اختیار خبرے کا
فکرم وکړ د اختیار نام لرم

د چرخ له څرخه وخرخ ته سازشوم
نیازمن د هر هرناکس د ناز شوم

لکه په لاس د بے شناختو کښیوزی
هسے بے قدره پر ماتے باز شوم

په زړۀ کښے ستا د کوڅے غبار لرم
په سرکښے ستا د پیالے خمار لرم

پریشان د زلفو بیمار د سترګو یم
زړۀ دا دوه توکه له تا یادګار لرم

په غم د سوے لوغړن زړۀ یم
صبا بیګا د په اوښکو اوبۀ یم

د عشق سوارۀ د په ما هراند کړ
په رنګ زبیښلے شوے په زړۀ یم

مست یم په سرکښے مستی دے لرم
چه په نشائے ککړ کے لرم

رقص رم په تار د هغه رباب دے
چه په نغمه ئے هے هے هے لرم

پیری په ما راغله زړۀ ئے خراب کړم
په پیچ وتاب ئے د هراسباب کړم

هر هراسباب ئے له مانه یوړ
فائده م کُمه چه پیچ وتاب کړم

یار م کافر دے زړۀ مُسلمان یم
دَدۀ له بده خویه په ځان یم

زړۀ ئے حُما له ګوګله وکیښ
څنګ په ویره د خپل ایمان یم

څارشم بلهار شم د یار ترنامۀ
د یار ترخطه ترښۀ پیغامه

بادچه ړا والوزی د یار له لوریه
ورسره راوړی خوښی تمامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سنخ خو حُما دے چه هسے یار لرم
چه ئے له لاسه دا زړهٔ خوارزار لرم

که ئ راته کښینے په تا دیر کار لرم
در به ئے پرانزم د ګیلو بار لرم

تاچه پیدا کړهٔ هومره اَقوامه
حکمت دِځهٔ دے یا ذوالاِکرامه

تاچه پیدا کړل حکمت ئے تا زده
مونږه هیڅ نهٔ زده په دا تمامه

چه ځان ته ګورم لاهسے زړه نهٔ یم
چه ځنو ځنو چار وته جوړ نهٔ یم

چه غابن مِ پریوتل فساد را وشو
که هرڅو غوښے خورم په غوښے موړ یم

نه زړه په کور کښے نه کښت وکار لرم
دا بست له ځان سره تل سل بسیار لرم

رازق د خلق ئے په دا اِقرار لرم
څهٔ غم چه تاغوندِ پروردګار لرم

له خپله بخته و چا ته زړه ګرکړم
زړه مِ اغیار شی چه زهٔ ئے یار کړم

نور مِ توبه ده که اکوړے راشی
نهٔ به ئے یار کړم نهٔ به ئے پلار کړم

زهٔ که مے خوریم یا شاهد باز یم
فسق وفجور کړم ګنده په نماز یم

اَندوه مِ نشته خبر په راز یم
په وَلَا تَقْنَطُوا وکړم ته ساز یم

زهٔ تاپیدا کړم په تا قائل یم
کهٔ بیا مِ وژنے دلګیر په دِل یم

ولے چه بیا به د بل ژوندون وی
هرچه تهٔ وائے زهٔ په منل یم

د کوب وچوب دی دا څو اَقوامه
اول عورته واوړه اے خامه

اَسونه خرونه مریونه وړکی
بل رعیت دے په دا تمامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خالق خُمائے پہ دا پوهیږم حکم دِ حق دے منم کړو هیږم
چه دِ ظلوم او جهول پیدا کړم په بدرم نیسے دا اَند وهیږم

پیری په ما راغله زهٔ ئے تاراج کړم زهٔ ئے محتاجو وته محتاج کړم
رنځ دَ پیرئ دے بتر بتر شی فائده ئے کُمه چه ئے علاج کړم

منصور چه مست وُو له هغه جامه جرعه ئے راغله خُما تر کامه
منصور په دار شو زهٔ به لا نورځهٔ شم کهٔ راز م ورشی ترخاص و عامه

کهٔ وینے ژاړم کریوان چاک چاک کړم په غولی کړم غوغا بلغاک کړم
په دا به تللی یاران رانهٔ شی سکه بائده دادی چه خُان بے باک کړم

خواره حیرانه بنی آدمه په هیڅ غمژنه په هیڅ بے غمه
خاندے وژاړے وژاړے خاندے دا چار دِ تل ده له عمره سمه

تر عین تیر شوم دا هسے زهٔ وینم اَحول یو دوه وینی زهٔ یواوهٔ وینم
تَرف کهٔ درشم غفد سر کال دے اوهٔ به شل وینم دا کار زهٔ بنهٔ وینم

کهٔ هرځو مست ئے اے دُرد آشامه مستی دِ هیڅ ده خُما ترجامه
تهٔ لاخبرئے له ننګ و نامه خُما مستی ده علی الدوامه

اولاد م ډیر دے منت دَ خدائے لرم دوا او مهر په زهٔ کښے خُلائے لرم
یوځو بد بخت دی زوال ئے زروشه دَ دوئ له بده خویه هلائے هلائے لرم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مړک رانزدے راغے پیرئ کر کړم
وخت د آرام ؤو د زړۀ د کام ؤو

غابنونه لاړل غم د بصر کړم
قسمت په غاړے په غرونو سر کړم

تل به شړلے لیږلے تایم
چه ستا په نۀ دیدن د ځنکدن شوم

بیا په داکار کښے کړلے تایم
کۀ م تۀ نۀ وژنے وژلے تایم

چه ځان ته وکورم ځان ګنهګار لرم
حال م به څۀ وے کۀ استغفار نۀ وے

د نفس له لاسه فریاد چیغار لرم
شکرچه ژبه د استغفار لرم

د مرد چه نۀ وی وینا محکمه
چه یوئ زړۀ وی یوه خبره

په دۀ به نۀ شی درغله سمه
خلاص وی له همه خلاص وی له غمه

خبر د دهر په مکر د سړوه شوم
نۀ ئ بنادی شته نۀ ئ اندوه شته

دا زۀ چه بناد شم یا په اندوه شوم
دوا ړه فساد دی چه بنۀ پرے پوه شوم

مړک رانزدے راغے زۀ لا غافل یم
په تور ویښتۀ م سل ګناهونه

په شور و شرکښے د دُنیا تل یم
په سپینه ږیره لاډیر خجل یم

کۀ تۀ جفا کړے زۀ به وفا کړم
خُوداجهان دے هومره د تۀ وے

کۀ تۀ بنسیرے کړے زۀ به دُعا کړم
کۀ تۀ م نۀ وے نیاز به په چا کړم

خُویه کۀ هسے وی لکه چه زۀ لرم
یو یحییٰ خان نۀ شو یو اکوړے نۀ شو

کۀ هر څوک پردی یو خُویه نۀ لرم
چنجو منجو دی پټ به ئ څۀ لرم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بنکارپه کارکښے کهٔ هرڅوبنهٔ یم
چه بازم ځان دے هغه یونړهٔ یم

په بازکهٔ هرڅوقازاو کلنګ نیسم
بډیره م سپینه شوه میرشکارلانړیم

دا آزمیښت ګوره په ماچه زوړ شوم
له نور وچاروپه زړهٔ کښے سوړ شوم

راپاتے مینه د ښو دلبرو ده
چه زوړ شوم لاڼے په عشق کښے جوڼ شوم

خلق چه هوښیاردی نړهٔ لیونے یم
نه اوسنے یم لا لرغونے یم

هغه چه لاڼے د هوښیارۍ کا
ننګے دُرے دی پکښے ګنے یم

هومره خطا لرم څوچه عاقل یم
هومره هوا لرم څوچه فاضل یم

تسپے په لاس کښے زړهٔ په وسواس کښے
ولاړ په باطلو کا رونو تل یم

اوس زهٔ په خپلے چارے خورسند یم
مال ملک م نشته زاهدځرګند یم

خودا عالم م ورپسے نهٔ پریږدی
لاڅنے نهٔ شلیږم په قسمت بند یم

توبه م وکړه له میڼو پیر شوم
پسرلے چه راغے په زړهٔ دلګیرشوم

د ګل په مخ م باده راواخسته
بیاد ځوانئ وکارته خیر شوم

مړک د نا اهل صبا بیکا غواړم
دُعا م داده الله الله غواړم

ځما توبه ده د بهرام له خیره
د دهٔ له شره امان پناه غواړم

لکه ملنګ وے زهٔ د ملنګ کړم
لکه بے ننګ وے زهٔ د بے ننګ کړم

ځوک ئے خبرد د ذاته نهٔ یم
په څهٔ خیلوئ د د ځان د ځنګ کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په سرداریٔ چه پوهیدلے یم
سرداری غم ده ترے ترهیدلے یم

ورځنے وتښتم په غاړے غرونو
لائے تراوسه په غم نیولے یم

چه خپل عمل یادکړم خاورے په سر لرم
پک له ګناهه تمام دفتر لرم

وخت د حساب راغے بله تکیه نشته
تکیه د خدائے لرم د پیغمبرؐ لرم

کهٔ نور په نور و چارو جلی ستائیم
زهٔ به د تورو په کار علیؓ ستائیم

وم ورد رسولؐ دے وربانډِ بنائی
کهٔ ئے له فرقه بیا ترتلی ستائیم

د چاچه نهٔ وی د ستړکو شرم
درته به نهٔ وی په پندونو نرم

ځنے امان غواړه کهٔ د پسر وی
پلار والے پریکړه د بے آنرم

کهٔ د له خویه چا ته فریاد کړم
یا هیڅ دم نهٔ وهم صبر بنیاد کړم

په دواړه توکه ځما پروا نکړے
یوځهٔ ناترسئے څهٔ به د یاد کړم

په غم کښے شوخه بنی آدمه
دربانډِ راشی څو څو ماتمه

شیرین یاران د په مړک جداشی
سخت ئے چه نهٔ چوے له ډیره غمه

زهٔ په خپل ملک کښے خو دا دوه دم لرم
بنائسته پردے نصرت قدم لرم

یوه م تورهٔ دویم م ډال دے
په داڅو توکه عرب عجم لرم

په خوب کښے هرکله بوئ د دنیا وینم
جرګے جنګونه هوس هوا وینم

مګر یک لخته د دنیا سړے یم
چه نهٔ یو شیخ وینم نهٔ یوملا وینم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خبر هیڅ نۀ وم چه ورځ وه کومه
چه زووم سعد وه کۀ نحس شومه

غمه په چرته غلط غلط دروم
غرض په مالړے دے رادروومه

شهره په واړه عالم مدام بنۀ یم
پریږدہ په خولۀ کښے دخاص وعام بنۀ یم

شیخه تۀ شیخ ئے زۀ رند هیڅ مۀ وایه
تۀ دِ نیک نام اوسے زۀ خوبدنام بنۀ یم

مرګ رانزدے شو زۀ دا ارمان لرم
کۀ نږدې لیدۀ شم اختیار دخوان لرم

اَرمان مِ جُونه دی دَنام جنګونه دی
مقصود مِ بنکاردے غم دَ ایمان لرم

نږدې کړم غمونو دَ اَشنا زوړ کړم
له کل هوسه ئے دَ دُنیا سوړ کړم

خوخو تاوونه راباندِ تیر شوۀ
کُومے مِ وچ کړ هجران رنجوړ کړم

پریشان په ځان کښے په ډیر حیرت یم
ځۀ وم داځۀ شوم په ځۀ حالت یم

چه تل مِ ځائے شول غرونه رغونه
زۀ دا په چا پسے مجنون صفت یم

چه سرِ دِ خوږ شی اَمان اَمان کړم
وایم چه رنځ دِ واړه په ځان کړم

څو داجهان وی هومره دِ تۀ وے
کۀ نۀ اوربه پورے په درست جهان کړم

دَ بنکار په کار کښے زړۀ دځوانئ لرم
غم دَ پیرئ دَ ناتوانئ لرم

ستړکے هغه نۀ دی قوت هغه نۀ دے
چه باز په لاس کړم خو حیرانئ لرم

ولۀ جنت لرم حور او قصور لرم
بل دار تردانه په نعمت پور لرم

چه وائے هسے دی واړه منلی
ما ته دا پریږدہ چه داحضور لرم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ دا گناه دے چه په تا چورچور یم
سکه سرتر پایه له گناه پور یم

د تورو زلفو په مار د وخوړم
گونه م زیړه په زړۀ رنځور یم

په غم غمژن وُم په خوب کړمن وُم
خلاص له غمونو ستا په دیدن وُم

په خوب په هسے رنگه اودۀ شوم
چه خلق ویښ وی زۀ په خفتن وُم

خواړه حیرانه بنی آدمه
چه د خمیردے خاورے له غمه

یو دم کۀ وخاند په دا دُنیا کښے
بیا د ژړاوی په څو څو دمه

کله د خاصو نصیحتونه
کله د عامو ملامتونه

لا د اوله په عشق کښے دا دی
بیا پسے نور نور فضیحتونه

نادان په سر لری څیره زرینه
هوښیار دوه گزه پینکے لرینه

ترهرڅۀ گوره دا بد تریینه
نادان چه پائی هوښیار چه مرینه

د مرد چه نۀ وی لمن خیر نه
پاک وی په ژبه پاک وی په ژمنه

کۀ زر بلا وی اندوه د نۀ کا
فرښتے به وایه وی بلاله دۀ نه

څوانی م لاړه په غفلتونه
په عسرتونه په شدّتونه

لولئ چه زاله شی تسپے په لاس واخلی
هسے م اوس دی دا طاعتونه

وچاته وایم دا بنۀ پندونه
چه د منلو مات شول بندونه

پلار د خپل رائے شو خوئے د خپل رائے شو
جُدا جُدا دی سره سندونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه غم ئے نۀ وی له ناحقه خونه اوربه ئے ولگی په دسته خونه
نیست ونابود به شی په دا دُنیا کښے هوړے به پاسی تور تور مخونه

پند دے سودمندۍ واوړه تُورزنه آسانه نۀ ده ډ سرشندنه
مصلحت مۀ پریږ ده ډخپله لاسه هم به خپل رازلرے ډ زړۀ دننه

کارچه خفه شی په اَفکارونه واړه ابترشی هغه کارونه
خُنے کارونه نن لکه کل دی کاندہ هغه شی لکه خارونه

تاته چه شمار کا ډ چا عیبونه چاته به شمارکا دستا عیبونه
ډ سخن چینو مخونه تور شه په مخ ثناکا تر شا عیبونه

اے چه خبرے کړے خوږے شیرینے ولے دِ وُوتے په عمل کښے سپینے
گفتار سور گُل دے ډ انار ډ ونے کردار اَنار دے کۀ تۀئے وینے

هومره ثواب دے خومفسدان وژنے خومفسدان وژنے گنړه ډډان وژنے
وبال ئے واړه خُما په غاړه فتوٰی ډ عدل ده خوچه بدان وژنے

کۀ کانړۀ نۀ وے ډ چا غوږونه مونږه به ووے ډ سُود پندونه
کۀ ړندے نۀ وے ډخلقو سترګے مونږه به وښئیل ورته ملګونه

کښلی خُوانان دی کۀ کښلی جُونه پرے مِ سلام دے مونږه به خُونه
سخ ډ هغو دے چه لمن پاک وی قضائے نۀ وی روژے مونځونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آخست چه نۀ شی په غاړے غرونه
مست مست باړونه به مست مست اوښتاوی

ورے د عشق دے مونږ ئے وړونه
غرض پرے څۀ لری غوایۀ پاخرونه

تاچه پیدا کړل هومره ملکونه
کۀ تا پرے نۀ کړے دا بارانونه

ربه په تاشی دا قدرتونه
واړه به هیڅ ؤو داسے غرونه

ربه چه مات کړے دا صورتونه
د نورچا نۀ دی داصنعتونه

بیا به ئے سازکړے په حکمتونه
ربه په تا بنائی دا قدرتونه

دروغ کۀ آړوی بلا له تا نه
راستی پرے مۀ ده له خپله لاسه

دروغ خوئ مۀ کړه اے ځماجانه
خدائے به په تا کاګرانه آسانه

د شیخ شاب سره تل طربانے
هغه به ولے غم د پیرئ کا

دلبرے بنے دی بے آدبانے
چه تل ترڅنګ لری شکر لبانے

نۀ سره سم دی واړه مړونه
زړۀ هم هغه کنړه چه لکه غرشی

نۀ سره سم دی د هرچا زړونه
کۀ باندِ راشی هزار غمونه

چه تجلے ؤو هغه مخونه
د صورت ونه نا بوده ونه ده

سپیرے ایرے شول دګورپه خونه
هم ئے بناخونځی هم ئے ویخونه

نه اوس خپلوی شته نه پیوندونه
خوشحاله بس کړه خاموشی بنه ده

ګډ سره نۀ دی دچا سندونه
وچاته وائے د سود پندونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دین چه خالی شی له بنهٔ یقینه کفر بهتردے تر هغه دیسنه
چا دا خبره څهٔ بنه ویلے ده ماته لیندہ دہ ناقصه مینه

کهٔ دِ هر وکړ دَ دُنیا عیشونه کوتونه مات کړے په خپل جیشونه
عمر دِ ډیر شی له جم دَ عمره په تابه وشی دَ مړک طیشونه

نهٔ اوربشینه دَ خپلے خونے نه چه غنمینه دَ بلے خونے
څنوبے ځایه خونے تالا کړے په ځائے مردانو خور ولے خونے

دَ مرد پیغور ده جامه وربښمینه نهٔ دِ مهینه وی نهٔ لا رنګینه
دا کِسو تونه دَ بنځو بو یه بنیوه دَ مرد ده په جامه سپینه

نفس په آرام دے زړهٔ په خوندونه دا د واړه زده کړه واؤره پندونه
نفس په لونده په وچه آرام وکا زړهٔ په خوندونو مات کا بندونه

قرآن چه لوست شی په هغه خونه څنے به دیو کا خیمه بیرونه
څوچه بنادئ دَ دواړو کونو وی پرے به دَدهٔ شی خونه مشحونه

دُنیا مِ ولیده دَ دُنیا کارونه بنادی ئے غم دے کل ئے خارونه
څو درته پریوزی په انبارونه په زړهٔ دِ پریوزی هومره بارونه

زهٔ تا پیدا کړم له ما وُطینه بخره دِ راکړه دَ دین متینه
دین مِ منلے دَ پاک رسولؐ دے څما توبه ده له غیره دینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څۀ بنۀ بادشاه دے شاهِ جهانه
هم غوږ رسه هم قدر دانه
چه تۀ ئے بندګړے ځویه دِ نۀ دے
یوه بلا دے پیدا له تانه

هوښیار هغه دے چه سخت جنګونه
ترخیره ږاولی په فرهنګونه
نادان هغه دے چه په کار د صُلحے
ګډ کا د شر د فساد ږنګونه

په فتنو ډکه توره اَسمانه
لابه دِ کله شی دا خونه ورانه
چه بل یو نوے جهان پیدا شی
کوندِ ځوک بیا مومی خلاصے له تانه

ما دِیر نیزلی دی بدخوئ آسونه
چه غلا د زړۀ لری بد وسواسونه
تکه هیڅړے په متروکه نۀ ځئ
کۀ په وهلو سرۀ کا لاسونه

هم مِ دولت شته هم مِ ملګونه
هم مِ ځوانان دی هم لوئے لوئے غږونه
دا واړه هیڅ دی په کوم حساب دی
چه پکښے نشته بنۀ بنۀ مړونه

چه عاشقی کا پرِیږدی ننګونه
قبول کا تُورے تُوبری جنګونه
خپل زړۀ خالی کا د یار ومینے ته
له زړۀ نه واخلی نور نور رنګونه

کۀ هرڅو تیرئے تر صحبتونه
علم اَدب لرے فصاحتونه
لابه په خپله ژبه ډیر فهم کړے
د ژبے ډیر دی قباحتونه

بلبلے څۀ غواړے له ګلستانه
ګل به بیا نۀ مومے بے له خزانه
لکه خوښی د ګل د وصل وی
غم به ئے هومره وی بیاله هجرانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترسر ترپایه کښلی مخونه
دا یویوسف ؤو د پلارپه خونه

هرمخ چه وویني زړهٔ دِ پرځوښ شی
مخ هم هغه ګنړه کړه پرے سخونه

ونه تل نهٔ وی سره یکسانه
لښته وی ونه شی ستړه شی جانه

خوشحاله مهٔ کړه مانړه له چانه
تهٔ هم آسمان کړے په خو خوشانه

هغه مِ سترګے وے چه په ملکونه
غرځهٔ به مالیدل په لرے غرونه

پیری چه سړ اغله چه رانزدے راشی
هالهٔ ښهٔ ځیرکړم آشنا مخونه

کهٔ عقل ورک شی له دے جهانه
هیڅ پاتے نهٔ شی اے ځما جانه

هیڅوک به نهٔ وائی چه زهٔ نادان یم
هریو به ښهٔ ګنړی ځان له لقمانه

دولت خیمه ده ځویه میخونه
ښهٔ ځویه زیږی د پلارپه خونه

غم د مور پلار د دولت ناتاروی
تورشه د بدو ځویو مخونه

خوشحاله چاته وائے پندونه
خلق خوشحال دی په خپل سندونه

کهٔ زړهٔ دِ وارکا شړبه قرارکړه
مات دی د پند د بارے بندونه

نظر مِ وکړ په کتابونه
ډیرے ښئیل دی ډیرے بابونه

نورے به نهٔ شی ازلی چارے
کهٔ ثوابونه دی کهٔ عذابونه

هغه مِ سترګے دی چه په بنکارونه
غرځهٔ به مالیدل په کوهسارونه

اوس چه باز واچوم غوټه ئے نهٔ وینم
آه د پیرئ دی دا آثارونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مرهم په زړۀ بړدۀ په پرهارونه
دانا به ګل کړی نادان خارونه

په هرۀ هرۀ سوړۀ لاس مۀ منډه
پکښے به خوب کا خونی مارونه

چه درسره کښینی یوځو شیطانه
یاران به لرے کړے له خپله ځانه

سود به دِ نۀ وی بیا به ارمان کړے
ارمان به یوسے تر ګورستانه

چه خبردار شوم له دے جهانه
څۀ مسخرے کا په هرچا ځانه

هوښیار لاهومره په ځان خوښ نۀ وی
لکه نادان کا خوښی له ځانه

خوشحاله مۀ کړه مانړه له چانه
فکر په زړۀ کښے وکړه اے ځانه

په تاچه کیږی دا هومره چارے
بلا دِ واړه ده له خپله ځانه

هغه چه نۀ لری په نام و تنه
وخ ته مۀ کړه دَ هغۀ کتنه

کۀ سکه څوئ دے یوسګے وګنړه
په بنۀ په بدے مۀ کړه پوښتنه

بنځه چه پاکه وی او پاکدامنه
دَدے به نور وی خونه روشنه

پل دَ ناپاکے لکه اوربل وی
په خونه بل شی دَ دے له تنه

درته به ووایم دَ بنکار رازونه
چه سره و نښلی دَ بنکار بازونه

ترمینځ به خلاصه شی دَ بنکار هیلۀ
آسمان ته دومی په پروازونه

دا منصبونه دا انعامونه
واړه زندۀ دی واړه دامونه

پښتون مغل به سره دوستان نشی
خوشحال ئے مۀ وینه دا اِکرامونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا اِکرامونه دا اِنعامونه
دَچاپه یاد دی هسے کامونه
په بوئ دَ مئیو مست شم صوفی یم
ساقی راسر کړل ډک ډک جامونه

عثمانؓ دِ ووژنهٔ خونی آسمانه
علیؓ دِهم کړ په تیغ بے خانه
حسنؓ حسینؓ دِ دواړه شهیدان کړل
اوس به تهٔ واړوے تُوره له چانه

دَ نیک خواهانو تربیتونه
دَ بد خواهانو سیاستونه
چه دائے نهٔ وی ملوک ئے مهٔ بوله
کهٔ هرڅو بنهٔ وی په خصلتونه

کهٔ کښلے ټولے شی سره لکونه
را باندِ پریوزی دا فلکونه
خپل یار به هیڅرے پکښے غلط نکړم
کهٔ دامِ سترګے وی دا کولکونه

کهٔ ډیر بنکارونه ؤ کهٔ ډیر بازونه
واړه مِ ولیدل نور نور رازونه
چه خبردار شوم په انجام دَچارے
یا ژغ دَ تُورے دے یا نمازونه

لاړے دشوارے غابنی غاړونه
اوښان پرے بیائی په قطارونه
کهٔ روئ دَ غرهٔ په سربه ځئ
دَ غرهٔ په سربه ځئ کښلی بارونه

چه دَ شیخئ نمط لرینه
شیخی دِ کاندی په ښیره سپینه
ځوانی به ولے حبطه ځینه؟
بنهٔ مخ دِ ګوری شراب دِ خښینه

په باغ کښے ګوره لاله ګلونه
یاقوت پیالے دی غواړی ملونه
ساقی راپاسه تردا دپاسه
بے میئو نشته تحملونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پند پند شکرے هسے شیرینے
مئین ستا هسے په غم کښے کسی

په هر سپی نغرے په مخ نسرینے
تلی خبرے ستا شکرینے

د وړئ غنمینه وی که اوربشینه
مورد نباتو حلوا ته نه کوری

په وخت د لوبے خوبره لګینه
هوښیار به پوه شی په دا رازونه

که باوری شی د بنکار بازونه
بنځے هم هسے د بنکار بازونه دی

بیائے نظر وی په پروازونه
هوښیار به پوه شی په دا رازونه

چه بدئ ژواک وی بدئ رنګونه
نه د پیر دولت لری نه پیر عزت لری

نه مصلحت لری نه آهنګونه
له هغوځه غواړے شرم ننګونه

که تهٔ وفاغواړے له مانه جانه
وفا به بیاموے په بل جهان کښے

وفا به نه موے له دے جهانه
چه غرضونه وُوزی له میانه

په تاکه راشی د پیر محنتونه
تهٔ ئے په نورچا حواله مهٔ کړه

یاراحتونه فراغتونه
چه ازلی دی دا قسمتونه

د ملوکانو د قرب بامونه
که ناکهانه ورځنے ورغړے

لوړ دی پرے مهٔ خیژه په ډیرکامونه
روغ به بیا نهٔ موے خپل اندامونه

خدائے دِ اضغاث کا داوران خوبونه
د روم لښکرے په هندوستان راغلے

چه اوس ئے وینم په آشوبونه
نسکور د شاه د خیمے چوبونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترسرتر پایه ککړ په غُلو
په لاس نیولی دسته د ګُلو

کښینه مستانو ته صفت دمیُوکړه
نوم اوریدلے چیرے د مُلو

داکار سړیو زده نهٔ د دانو
نظرچه کاندِ په فرقدانو

عشا چه وُدری په سرد قطب
جوزا نور تیر شی اے بخردانو

جهان په کام دے د وفا کیشو
قصدٔ ے له چا دے له بداَندیشو

عمل د بنو کانړئ بلا ترپښو کانړئ
اے بد عملو په بدو پیشو

شکر په داچه له نیسته هست شوو
عقلٔ ے را کړ خدائے پرست شوو

رُتبه به کاندہ په عمل مونده شی
عمل کړئ ولے په همت پست شوو

سوګند مِ ستانه په ستړګو تورو
په زړهٔ دستایم په خولهٔ د نورو

پریږدہ له هرچا سره یو مخ وړم
له ما به څهٔ وړئ په کیسو سپورو

خاندم په زُهد د فاسقانو خاندم په بدل د احمقانو

چه نهٔ ٔے دین شونهٔ ٔے دُنیا شوه
چارے به ٔے نهٔ وی د لائقانو

یا بد ترپښو کړه د پردیو خپلو
یا غم تهٔ واخله توښه تر تلو

د دواړو توکو سُود زیان خپل کورم
حاجت هیڅ نشته نور د ویلو

یارئ پښے وی د بنو بخردو
چه پکښے نشته وهم د بدو

د ناکسانو یارئ د دو دی
سود مند نهٔ دی یارئ د د د و

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راپاتے یو نۀ شو دولس م ترونه ؤو
لاړل فنا شول چه اولسونه ؤو
څۀ بادشاهان لاړل څۀ څۀ خانان لاړل
چه په دربارئ ولاړ زرګونه ؤو

کښلے دلبره د څوارلس کالو
خولۀ ئے خوش رنګه حقه د لالو
راغله زر لاړه حُما زړے ئے
یو وړ په دواړه و ستړګو ملالو

واورے چه ووری په سپیرو خاورو
خاورے سپین زر شی په سپینو واؤرو
په مینځ د دلو په مینځ تیری کښے
سمه غر سپین شو په سپینو واؤرو

بنۀ وصیت دے د بخردانو
یار د ددانو شه نه د بدانو
بدان دِ ځان وړی هم دِ ایمان وړی
ایمان خو خلاص کړه خپل لهٔ ددانو

کلی م ولیدل د ناکسانو
واړه په خوئ کښے د ګرګسانو
ګوتے په هیچا پسے د وړو نۀ دی
خپل ګذران بویه هم نفسانو

پیغمبران وو شاهان خانان ؤو
ډیر خوښ له ځانه بنۀ بنۀ ځوانان ؤو
له دے جهانه هسے روان شو!
وائے چه کله په دا جهان ؤو

کۀ چیرے وار راغے بیا به خبرے کړو
خلق به ویرکا مونږ به سندرے کړو
دا ډیر زنګونه چه پراتۀ په زړۀ دی
طمعَ امید لرو غوندِ ئے لرے کړو

پیرئ پرے ئُستم له تالاشو نو
هائے کښلیو ستړګو کښلیو غاشُونو
هغه خوږ نشته هغه لیدل نشته
لاړم له نوره بنۀ معاشو نو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مونږه میړی یو په مزکه ګرځو
د نس له غمه و بله غوږ زو

ښځه ؤو په مزکه بلا را سازه شی
چه پر پیدا کړو آسمان ته ورزو

ښښترکۀ لوئے دے له نورو ونو
چنارکۀ پلن دے په پانړو پلنو

لکه کمال لری هسے زوال لری
نظر پرے کا نړئ د کمال څښتنو

څښتن د مزکے ئے د آسمانونو
د عرش وفرش او د جهانونو

هاتی کۀ ماشے کړے ماشے هاتی کړے
توانیږے رب ئے د دیو توانونو

سواړی د جونو ده کۀ د اسونو
لا م ترے رسی توان د لاسونو

بنکار د توپک نشته کۀ بنکار د بازشته
دا هم پیرئ کړے په وسواسونو

چه چاته پیښ شی غم د خوړلو
یا غم د څښلو د آغوستلو

نور نور غمونه واړه ترشا شی
کۀ د سندرو وی کۀ د بدلو

مونږه به ؤمړو هسے پوهیږو
یاران مو لاړل لانۀ ګروهیږو

خاندو خوښی کړو هواهوس کړو
نۀ مو ژړا شته نۀ اندوهیږو

چه په مړوندئ باهو د خیال ؤو
ګوتے د زړو غمئے لال ؤو

وګور ته لاړل هغه لاسونه
چه په حنابه لاله مثال ؤو

د خپلے خونے نغن د خمچو
نۀ چه غمینه د بل د کچو

نۀ اور د خپل نغری د لوندو پچو
نۀ اور د بل د نغری د درو وچو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که شور غوغا کا سره تل تر تلو
بدی د خپلو د بل تر بسو بنه ده

پازه په نهٔ ځی سره د خپلو
که څوک پوهیږی په دا ویلو

بنهٔ بنهٔ باران ؤو بنهٔ آشنایان ؤو
دولت چه لاس شو راته ئے شا کړه

چه په دولت کښے را سره ځان ؤو
جدا له مانه په یوه نان ؤو

د خپلے کیږے په خدمت خم یُو
صبا شی وخورو بیکا شی وخورو

په نورو نورو فکرونو کم یُو
آدم صورت یُو دواب شکم یُو

که مونږه وایو واړه هیڅ نهٔ یو
که دا مجازدے تحقیق به بل وی

یو مُوټے خاورے یو چونګ اوبهٔ یُو
سکه زړهٔ به بنهٔ کړو هرکوره بنهٔ یُو

ژبه عادت کړه په بنو ویلو
که ئے عادت کړے په بدګویئ

چه د عادت شی هغه تر تلو
مخ به د تورکا تر پردیو خپلو

چه دا د ساهے څښتن همه یُو
مړک لکه شرمخ را باندِ زغلی

که فهم وکړے لکه رمه یُو
د رب و فضل ته چه په سمه یُو

پندم په یاد شو د حکیمانو
بنهٔ ئے په بند کښے د کریمانو

یاری به نهٔ مومے له غلیمانو
نه په بوستان کښے د لئیمانو

فلک په قصد دے د بے درد انو
د مور په نس کښے مرد لاعلقه وی

ولے وکاږے د دل سردانو
تل پرے پیرے وی د بنو مردانو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نخښې خو درے دی د عاشقانو — خوب کا په مثل د غریقانو
ویل کا په مثل د ویر ژړلیو — خوراک په مثل د رنځورانو

شکرچه زړه ونه په غم کښے بناد لرو — غم څۀ غم دے چه پیر اُستاد لرو
وائے چه ځان ساته له غمه غم راغے — مونږ څو غمونه دا هسے یاد لرو

په نظام پُور کښے په سُوسُوسُوسُو — قُمری نارے وهی چه کُوکُو کُوکُو
تل به د خوږے په بنړ کښے نۀ وُو — وائی دا هسے چه خُوخُو خُوخُو

ښایره د سپینه شوه خُوانی د لاړه — وګورته لاړل همزولی واړه
اوس د د غمه سره ژوندون دے — ژاړه خوشحاله ختکه شاړه

چه خوشے زړۀ م له تا آشنا شۀ — له واړه خلق نه به بے پرواشۀ
نۀ ئے څوک یاد دی نه ئے څوک هیردی — په بوئ ځما وُو په خوئ د تاشۀ

د ملوکانو د رانړه خبر مۀ شه — که پرے خبر شے د ځان خطرمۀ شه
رازئے د زړۀ په صندوق کښے وساته — په بنکارول ئے چا ته لر بر مۀ شه

دشمن چه وائی درته دا مۀ کړه — کۀ تۀ هوښیارئے واړه هغه کړه
شیطان د نۀ پریږ دی د خدائے طاعت — څو دیر بهبود دے پکښے دازده کړه

وچاته مۀ کړه د رانړ خبره — څوچه توانیږے رازونه نغره
د رازخبره ده یا تیره ثوره — یا دُر کوهر ده یا مرغلره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوئ ئے دَ بنو شو بی بی زاهده شوه
دَ لاس په وللو مڑک دَ تهلیل شو

تل په تسبیح په اودس ساجده شوه
دَ مخ په وللو پیشو عابده شوه

خوشحاله مخ کړه و بنوکسانو ته
شکرے توئ کړه وشنوطوطیانو ته

شاکړه نااهلو بوالهوسانو ته
مردارہ واچوه وکړکسانو ته

هم م خیالونه هم م بنسیوه نه ده
چه یار م نشته دا واړه هیڅ دی

هم م په عشق کښے دَ راز پرده زده
که یار م وشی یاری م بنه زده

نهٔ ننګ نهٔ شرم نهٔ حمیت شته
څویه چه لوئے شی زوال دَ پلار غواړی

نهٔ مهر مینه نهٔ محبت شته
نهٔ په دا دور دا قباحت شته

چه ورته کړئ په اوړه ډوډه
لوئے په مکان دَ هوډے ځان بیائی

باغکه ورشی آخر تر کوډه
خوشحاله ماوړه له خپله هوډه

هرچه وفا لری اهل هغه کنړه
چه تهٔ ئے اړوے وبنو ته نهٔ اوړی

چه بے وفا وی سهل هغه کنړه
څما په پوهه جهل هغه کنړه

که تازی ژبه هر کوره بنه ده
چائے پلو دَ جمال وانهٔ خست

فارسی هم ډیره په خوندخوږه ده
پښتو لاهسے بکره پرته ده

چه زړهٔ م وُتبے په طنازئ بنهٔ
چه تهٔ م غوړه کړے په هومړ کښلیو کښے

په خوخوږ نکه په عشق بازئ بنهٔ
رحمت څما په نظر بازئ بنهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ خبردارئے بے شکره نان مخوره
د تیرے چارے په زړهٔ ارمان مخوره

پیوند د عمر په ویښتو ترلے دے
غم د خپل ځان خوره غم د جهان مخوره

شپه د برات وه یو خوب مِ ولیدهٔ
کال ئے غصه دے هرکور مِ ښهٔ لیدهٔ

دوه تورے ماتے شوے یوه مِ روغه شوه
دویم صمصام مِ په رغیدهٔ لیدهٔ

د خلقو ځکه د پیرئ ویره ده
پیری ترمرګه په ژوندون تیره ده

درد چه په ځان راشی هاله پرے پوهشی
په درد مِ خپله سینه خیره ده

دولت چه ستاوی موجودئے وګنړه
چه په نورچاوی نابودئے وګنړه

حسد په مال مکړه حرص د مال مکړه
هغه چه دا کا مردودئے وګنړه

په تا کهٔ راشی حادثه لویه
ټینبته تسلیم وصبر ته بویه

تهٔ به ئے دفع په صبر وکړے
نهٔ په لښکرو په زر وځویه

کهٔ ئے د خضرؑ پیاله خوړلے ده
دا نا هستی، د ژوندون ژړلے ده

هرچه کمال لری هغه زوال لری
هستی نیستیٔ سره ترلے ده

په باغ په راغ کښے ګلونه واړه
یوګل به نهٔ وی بیا تر اَهاړه

هستی دا هسے نیستی دا هسے
ژاړه حیرانه بلبله ژاړه

ماچه میدان د دروغو ولیدهٔ
بل یو میدان مِ تردالوئے نهٔ لیدهٔ

خو ملک ئے واړه کندے کودری دی
مار ولړم مِ پکښے پراتهٔ لیدهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَمرد دَ عمرخوبی تر چل دہ
تردا دپاسہ وخت دَ پَیرئ شی

ترشپیتہ پورے لادَ اوربل دہ
کہ مِ دَ عمربقا ترسل دہ

کہ پند حُما منے نمک حرام مہ شہ
جوتہ طعام مِ خوراک دَ سپیو دے

ترہ پیرو پاتے جوتہ طعام مہ شہ
غصہ پہ زہ کښے پہ دا کلام مہ شہ

کہ تل بہ پائے غم دَ جہان خورہ
دا نقد پہ لاس کښے حبطہ مہ کړہ

دَجہان غم مہ خورہ غم دخپل جان خورہ
دَضائع شوی عمر ارمان خورہ

چہ لعل آسادی پہ دواړہ لب دِ وہ
وخت دَصباشو پہ بورجل زر راځہ

چہ سمن سادے پہ سپین غبغب دِ وہ
حُما پہ هومړہ یارب یارب دِ وہ

نادان پخپلہ پریوزی و اور تہ
مہ نصیحت وایہ وناپوهانو تہ

بلا پخپلہ راوړی خپل کور تہ
مہ آئینہ نیسہ چیرے وکور تہ

دَخپل غلیم سرہ پہ تُورہ جنگ کړہ
پرهار پہ زہرونو دَ ژبے مہ ږدہ

نہ چہ بسکنځلے دَ بنځو رنگ کړہ
دَ نامردئ لہ کارہ ننگ کړہ

نن دِ پہ مثل دَ روح قبا دہ
دا واړہ توکہ فنا پذیر دی

لکہ آغوستے چہ قبا تا دہ
فنائے نشتہ دَ روح بقا دہ

گمراہ مِ مکړہ تل مِ پہ لار لرہ
دَ نیک مردانو سرہ مِ شمار لرہ

دُعا بہ دا کړم ما پرهیزگار لرہ
خدایہ لائق مِ دَ خپل دیدار لرہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صبر دَ زړهٔ راوړهٔ رښتیا دا دواړه
هیڅ په کار کښے له خدایه غواړه
کهٔ کام دَ فتح وظفر بیانهٔ موے
تاوان دِ واړه څما په غاړه

نامردی بنه ده دَ چا تر پورهٔ
خانی میری کړه نه چه تر کورهٔ
څهٔ بنهٔ متل دے دَ پښتنو کړے
چه غل شاړهٔ شی نه چه ترکوره

چه بل خبر کړے دَ زړهٔ له رایه
هوښیار په څهٔ ئے وماته وایه
هرچه هوښیار وی هُنرئے دا دے
خبره نهٔ کا چاته بے ځایه

ساقی راپاخه پیوټ هوا ده
دا رضائی لا تر جوزا ده
څو لا یو ګل شته په باغ وراغ کښے
اَیاغ رانوشه څما رضا ده

اے چه سړے ئے په یوه ساهَ
کهٔ دِ دا ساه نهٔ وی ناګاهَ
هسے به پروت وے لکه مرداره
په ځان خبر شه دَځان ګمراهَ

تازه خبرے تازه بهار ګنړه
چه پرے مئین دی هغه هزار ګنړه
رنګ رنګ خبرے رنګ رنګ ګلونه
ګل دَ ګلابو څما اَشعار ګنړه

خوبی دَ عمر دَ چل وپنځ ده
کهٔ غابنِ دِ نهٔ وی سترګے دِ تیته شی
کهٔ غابنِ کهٔ عشق وی ترشصته ګنځ ده
نورمره کهٔ نهٔ مرے پیری دِ رنځ دد

دَ صاحبانو حکم په ځائے لره
نظر دَ دوئ په حکم رائے سره
کهٔ ئے له حکمه خلاف عدول کړے
زیرمه دَ کور کړه یا ځان کدائے سره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څنګل ته اور راوړه حکم ته زور راوړه
داد ودهش کړه غریب نواز شه

لښکر څو پیرلرے لاهومړه نور راوړه
چه مفسدان دی پرے شروشور راوړه

د مړکے مړک ګوره بیلائے ژوندون ګوره
کار د بیچون او د بیچګون ګوره
په سرد پاسه داشین سیمون ګوره

پکښے د ستورو د ماهیو ډون ګوره

نیکان عزیز دی له خپله رویه
نیکان به بیا کا ګډون له بدو

بدان خوارزار دی له بده خویه
که تیښته ښه ده دے له بویه

دا فانی چارے فانی دی واړه
مولیٰ په یاد لره زړۀ په دا ښاد لره

یوه باقی ده باقی وغواړه
په دا بنادئ کښے همیشه ژاړه

ژبه په تن کښے څۀ عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه ئ م خیر کړښۀ پرے خبرشوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

ترسر ترپایه لیلیٰ بناغلے ده
سینه ئے څکه د مجنون داغلے ده
مینه ئے څۀ هسے آسانه نۀ ده
چه دا بیځایه په چا راغلے ده

له تاچه بیم کا ورځنے بیم کړه
مۀ ئے محروم کړه مۀ ئے ندیم کړه
په زور کۀ هرخو د دۀ دپاسه ئے
حذر ترے بویه کار د حکیم کړه

څوچه توانیږے خوخاموشی کوه
عیب جوئی مۀ کړه پرده پوشی کوه
په زړۀ زاهد اوسه تنها عابد اوسه
فتویٰ م واخله باده نوشی کوه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په سفاهت د سفیه آزار مه شه
سپی و مزړیو ته غپیږی

د مهوشانو مینه مشکله ده
څو ورته نیاز کړے دربانِ ناز کا

پند دے کهٔ آورے ځما پسره
څو دِ شراب شته په قرابه کښے

د چا ناحقه د پیرئ ویره ده
شکر وکاږه څولا څوانی لرے

کهٔ سروری غواړے آواره کړونے شه
چه بدله تاوکا په څرخ ئ وسپاره

ساقی راپاخه په ویږی راشه
یوځو لبریزے پیمانے راکړه

کهٔ تهٔ رنځورئ طبیب طلب کړه
کهٔ روغ ئ واه واه خوښی طرب کړه

څودِ په مخ دی تسلسلونه
د عاشقانو نرمړک بستر دی

وعکافات ته د دهٔ تیار مه شه
کم تر مزری ته په خپل وقار مه شه

غم ئ د یار وی بنادی ئ خپله ده
د جدایئ بلا ئ بله ده

پکښے فائده وینم زهٔ سراسره
څښنه ئ څښنوه ئ کار کړه تر سره

پیری ایمان دے څوانی کافره ده
کهٔ درته ناسته نوے دلبره ده

پاره روزی کوه نه پاردکړونے شه
ته ئ وکارته نندارہ کړونے شه

د تا د ستړکو بلا په ما شه
د اوړی مړیم ته رم عیسیٰ شه

ورته زاری ژړا شغب کړه
چه تل تندرست اوسے هسے سبب کړه

سازونه ساز دی واړه کلونه
د مهوشانو تغافلونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تروپی په مکرمزی په زور خپده
ملا خبرے په سپین په تور زده

غازی په ټوپه د شپه په لور زده
د ګنګو ژبه د ګنګو مور زده

چه ستا په دین نه دی معدوم ئے وګنړه
حرص شومی لری څوک چه حرص کا

چه ته ترے زده کړے مخدوم ئے وګنړه
حضرتؐ وئیلی دی محروم ئے وګنړه

چرکان نارے وهی سحر صبا شهٔ
غم ئے هیڅرے په عشق کښے نشته

یار په ارمان کښے له ما جدا شهٔ
د عشق په کار کښے رقیب بلا شهٔ

ځوانی دِ راکړه له کامرانئ سره
بیا م به څهٔ کړے په دا خبر نهٔ یم

پیری دِ راکړه له پریشانئ سره
چه م ژوندے ساتے له حیرانئ سره

مئین م راغے د ملنګ په خیرشهٔ
چه سره نهٔ شوو غاړه غړئ

خبر پرے نهٔ شوم را باندِ تیر شهٔ
افسوس افسوس دے ارمان م پیر شهٔ

که مهتری غواړے د هرچا وړونے شه
د زړه په کور کښے ځلئ د رحمان وکړه

آواره کړونے شه آواره کړونے شه
د زړهٔ له کوره شیطان شړونے شه

زرغورزوئے شه ځوانان ساتونے شه
له هرچا وړونے شه سرداری کړونے شه

ځوانان ساتونے شه زرغورزوئے شه
سرداری کړونے شه د هرچا وړنے شه

پرده پوشی کوه لکه پروت شه
د حلم خوئ واخله له باردارے وت

آواره کړونے شه د هرچا وړنے شه
چه څوک دِ وُولی میوه ورکړونے شه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ویښتو تلوار وکړه ږیره م سپینه شوه
راځئ توره د کښلیو مینه شوه

په غم د ږیرے شوم غابنونه لاړل
اوس م په سترګو پیرۍ تعینه شوه

خوشحاله زوړشوے نوره څوانی مکړه
بے زړاو نۍ وره حکمرانی مهٔ کړه

چه درسره دی دام او دَدان دی
له دام او دَده زندګانی مهٔ کړه

حق دَ خپلوئ دَ خپل په زړهٔ کړه
کهٔ هرڅوبد کا ورسره بنهٔ کړه

په هر سلوک چه پردی خپلیږی
سلوک هم هسے ورسره وکړه

چا ته به راز وایم چه م رازدارنشته
غم م به څوک اخلی چه غمګسارنشته

کیمیا به بیاموے وفا به نهٔ موے
هزار یاران لرم یو وفادار نشته

ستا تر لبانو خوند دَ شکر ورک شهٔ
ستا تر دندانو نرخ دَ ګوهر ورک شهٔ

ستا تر چشمانو دَ ملوخمر ورک شهٔ
ستا تر مژګانو تیرهٔ خنجر ورک شهٔ

کهٔ ډیر ماړهٔ وی دَ بنکار باړونه
په زړهٔ دَ زړکو لری رازونه

نازئ دَ وړوکے وربانډِ ښائی
کهٔ بنایسته کا هومره ناز رونه

په څو غافلئ غفلت نتلیه
له کاره تر وله اَمل یستنیه

هیڅ دِ له مرګه اندیښنه نهٔ شی
کهٔ جنازه دوزی له هره کلیه

چه لرے باسی تا له دا داره
نفس دِ شیطان دے دُنیا ده یاره

دوستی دَ خلقو ده څلورمه
دَ ځان دِ بلا دی وارهٔ هوسیاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک چه قانع دے مخدوم ئے وګنړه
څوک چه حریص دے محروم ئے وګنړه

که رورکه ځویه که خویښ که دوست دے
چه ستا په رائے نه دے معدوم ئے وګنړه

سر په زانو کښیږ ده خوشحاله راشه
قدرت ئے ګوره په تماشا شه

لعل پیدا کا له سخته کانړی
خلیلؑ پیدا کا له بُت تراشه

نه په خپل رائے راغلم ودے عالم ته
نه په رضا درومم بیا وعدم ته

په څه شان راغلم په څه شان درومم
قطره چه بیله شی درومی بیایم ته

له بدے اُوسپنے کړه تُوره ساز ه
په غوڅول شی بیا بد آواز ه

که ئے په مشک په عنبر ځائے ورکړے
بد بوئ به بیاځی له بده پیاز ه

د لیلیٰ ستړکه یوه ګلدار ه وه
مجنون ته پاکه له عیب وعار ه وه

چه پرے مئین وی عیب ئے نه وینی
مینه له ځا یه مکر مکار ه وه

خوشحاله مه ئے په ځوئ والی ویار ه
هم څنے مهر وفا مه غوار ه

هرچه زړولی دی د توتیا له نسه
د پدرکُشو په بوئ دی وار ه

درپسے واوښتم مه کړه پوښتنه
هسے به نه وی د چا لوښتنه

بار خو دِ ګل دے وما ئے راکړه
مذمومه نه ده د ګل غوښتنه

وخت د تلاش دے په ما پیری راغله
په زړه خوښه بیا فقیری راغله

ځویه م دیردی چه نا قابل دی
څکه په خونه دا دلګیری راغله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه تهٔ وویني په ستړکو واړه
بقائے نشته باندِ مهٔ ویاړه
هغه چه تا وینی هغه باقی دے
فانی به څهٔ کړے باقی وغواړه

څو نعمتونه ترسر ترپایه
چه تاموندلی دی له یوهٔ خایه
په هره ساهٔ شکر وکاړه
کهٔ غافل نهٔ ئے ثنائے وایه

کهٔ وی هوښیار دِ وی نادانِ دِ یارمهٔ شه
تهٔ به ئے کل کنړے درباندِ خارمهٔ شه
وخت دَ فساد دے سړے لوندِ بنهٔ دے
کهٔ بنهٔ وکا دَ څویه پلارمهٔ شه

هرڅوک چه جن کا په سپینه ږیره
هرسپین ویښتهٔ ئے دَ تیرهٔ ترتیره
دَهغے جنے دے ترڅنګهٔ وتلے
درته م ووے واوره په څیره

کهٔ تهٔ آدم ئے کار دَ آدم کړه
کړے به څوکړے کارونه سم کړه
دَدُنیا خلق سپی دی ددان دی
صحبت له سپیو له ددانو کم کړه

وخت دَ پیرئ راغے څوانی م لاړه
په کام م شوه پیری په غاړه
داهم پوهیږم چه قدر نهٔ لرے
کهٔ خاندے خانده کهٔ ژاړے ژاړه

خدائے په خدائی بنائی چه هومړه مینه
دَدؤو په مینځ کښے هسے کیږی سینه
په هسے شان ئے وبل مئین کا
چه ځبله ځان وځهان بنسدینه

ربه دردمن کړه بے دردان واړه
چه واړه ژاړی ځما په غاړه
خوشحاله ملک له بے درده وک شو
دردمن په نورو ملکونو غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خدایه دا کارم ترانجام راوله
نیولے بازم له دامه وُوت

تللے مئین م ترمقام راوله
بیائے په بیارته تر دام راوله

نوم م د بدو په خلق خور شۀ
هیداد د ماشی د هغۀ نۀ شی

کۀ صاف صوفی یم وائی میخور شۀ
چه له مستئ هرانده په خور شۀ

خزان بد باد دے حذر ترے بویه
فائده آخله د بهار له باده

پاڑے د هرے وُنے کا تویه
تابه د وُنے په رنگ کا خُویه

کۀ تۀ لوئی غواړے خُما پسره
صرفه د زرمۀ کړه ویره د سرمکړه

لوئی به نۀ موے بے درد سره
مگر په دا کړے لوئی تر سره

ماوے خُما غوندِ میخور بل نشته
هسے مستان م په نظر کښے یو تل

چه ئے بے میئو شر وشور بل نشته
چه ئے بے میئو بیور بل نشته

د خپل بد خواه سره په تیغ بازی کوه
ژبه خوندی لره د بد گویئ

نۀ چه بنکنځلے یا غمازی کوه
په حق راضی اوسه سرفرازی کوه

درته به څۀ وایم کار د خلیلؑ کوره
سبطی ئے پورے یست قبطی ئے ډوب کړ

په څوئ وساتۀ د اور دلیلؑ کوره
دا عقل پوهه د رود نیل کوره

خُما دایمه خدایه موجوده
معبود بل نۀ لرم معبودم تۀ ئے

وجود د هرچا دے دستاله جُوده
معبود م بل مۀ کړه خُما معبوده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څما دایمه قایمه خدایه — په خپل صفت کښے قدرت نمایه
تا مُسلمان کړم تازهٔ کامران کړم — عزیزِ دِ راوستم عزیز مِ بیایه

کهٔ راته غوږ کړے بنه دلسوزی ده — کهٔ مړک قبول کړے فتح روزی ده
مټ کړه زخمونه خوره ظفرکهٔ موے — کهٔ نهٔ ستا تینبته هم فیروزی ده

یوځهٔ فراق دے چه رابرسیر شهٔ — اَرمان افسوس دے دایوځهٔ پیرشهٔ
بیا به ئے دور دَ څوانئ رانهٔ شی — وار دَ دلبرے دَ زلفو تیر شهٔ

کهٔ پیرهوښیارئے خپسر نادان کړه — له ښو له بدو سلوک یکسان کړه
هرڅوک پوره دی دَ خپلے چارے — خوشحاله جانه غم دَ خپل ځان کړه

کهٔ هرڅو لږه ده په پیرئے ونیسه — دُنیا به تیره شی په تیرهٔ ونیسه
چه نوم دِ شوم کا کارِ مذموم کا — واوره په زهر په کنډیرئے ونیسه

خوشحاله مهٔ کړه دَ دُنیا څله — نهٔ درته وایم په څو څو څله
نهٔ به زیا تیږی نهٔ به کمیږی — هرچا موند ویش له ازله

دَ کریږ ونه ترخه هم زبده ده — میوهٔ ئے ولے مته خوږه ده
اثر دَ اصل هرڅیز پیدا کا — په خوله خوږ ده په زړهٔ کړه ده

زهٔ چه پیدایم وهغه کار ته — چارم بنکاره ده وکړدکار ته
یا ننګ یا ټوره یا دل آرامے — یا زړهٔ تل تللے دے هرهنکار ته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چارئے په هرچا باندِ بنکاره ده
چه نهٔ ئے بوئ وی نهٔ ئے بنهٔ رنګ وی

دَ ګل یا بوئ دے یا ننداره ده
ګل به ئے نهٔ بولم دَ چارپائے چاره ده

دَغرهٔ په کانړیو کښے کهٔ چا کیمیا موند ه
په نولس توکه بسائسته روغه

درته به وایم باورکړه ما موند ه
لکه مِ غوښته هغه مِ بیا موند ه

توغی حج وکړ په روم په شام شهٔ
شیطان ګمراه کړ کوخے ئے ونیوه

کورته چه راغے په احترام شهٔ
په هومره چارے رسوا بدنام شهٔ

بل دِ یوځائے غوندِ راته پیدا کړه
ګنړه دا کومه یاری خپلوی ده

هاله له ماځه وما ته شا کړه
ما غم ته پریږ ده تهٔ ځان جدا کړه

بنځه چه ځوانه ده هومره صحت ده
اولاد چه بد راوړی میرمن ومهٔ وینے

ځو چه زړه د ه هومره زحمت ده
اولاد چه بنهٔ راوړی وینځه نعمت ده

ساقی وما ته ډکے پیالے راکړه
بل به ځما غوندِ میخور پیدا نشی

شراب په خم کښے دَ دنیالے راکړه
کوزے په ځائے کښے دَ سنځیالے راکړه

دلبرے سازے دی سحر سازئ ته
کهٔ زورکهٔ زړلرے توان دَ شور وشرلرے

له خود رایئ وبے نیازئ ته
هاله هوس کړه شاهد بازئ ته

کهٔ بادشاهی ده کهٔ وزیری ده
زوال دَ واړو وَ تاته ووا یم

کهٔ خواجګی ده کهٔ آمیری ده
څرخ دَ فلک دے مړک دے پیری ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په طورطور پیدا یُو مـوبزه مښک یُو عنبر یُو بصل یُو هوبزه
شهد شکرے زهر زقـوم یُو روئین یُو نیل یُو نسیال یُو شوبزه

بادشاه سنی دے خلق حیران شهٔ ذ رافضیانو دود آوان شهٔ
کهٔ څوک په ملک کښے یوشاه څلمے دے تُوره ترملا کا وخت ذ افغان شهٔ

کهٔ سرداری غواړے خپل زړهٔ دَشیر راوړه صرفه په ځان مکړه حمله په پیر راوړه
ضرب المثل دے دَ هوښیارانو ملک ته شمشیر راوړه بیئے ته کیږ راوړه

صحبت چه نهٔ وی له بنهٔ اَحباب سره عمر تیریږی له پیر عذاب سره
هوښیار به هیڅرے بے غلطی نهٔ وی خطا ترلے ده اهل ثواب سره

مرګ دَ هیدان را په بستر مِ مهٔ وژنه مومن مِ وژنه کافر مِ مهٔ وژنه
چه په میراث مِ حساب کتاب شی هسے غولے تونګر مِ مهٔ وژنه

دَعارفانو دَ زړهٔ مـردوده لاړهے دَ دین او دُنیا له سوده
کهٔ هرخوکرخے ترشرقه غربه سعی دِ وینم واړه نابوده

دَ بادشاهانو نمنځلی واړه ترهرچا هسکه کا خپله غاړه
کهٔ اصل نهٔ لرے اَصل پیدا کا کهٔ عقل نهٔ لرے عقل زده کوړه

دَ مرد وقار ګوره دَ مرد تمکین ګوره مهرله دوسته له اَعدا کښې ګوره
بیائے له پسه دین وآئین ګوره هغه چه دا لری بخت ئے قرین ګوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوچه توانیږے له هیڅا بد مهٔ کړه
څوک چه بنهٔ کیږی باندِ حسد مکړه

کهٔ ئے اوبهٔ وړی کهٔ ئے لمبے سونړی
نړهٔ شوے په مار په لړم په دد مکړه

کهٔ نورځهٔ نهٔ وی داهومره زده کړه
چه زړهٔ دِ یودے یاری یوه کړه

څوچه یارئ هومره غمونه
ډیرے یارئ له هیڅا مهٔ کړه

کهٔ خپل خدائے پیژنے را ته اووایه
درته به ووایم اے رهنمایه

خدائے مِ هغه ئے چه نیست وُم هست ئے کړم
څُما توبه ده له بله خدایه

خبر هیڅ نهٔ وُم چه دا افعال شته
دَ پلار له څُویه سره دا حال شته

لکه عابد وکړهٔ یا بد فرجام وکړهٔ
دا حال په هرچا دے کهٔ په خوشحال شته

قدر دَ کل و دمل مستانو نړده
نهٔ تیره دلو نهٔ تنکدستانو زده

هغه چه نهٔ خوړی په مے څهٔ کار لری
راز مِ دَ میُو مے پرستانو زده

کهٔ غوږ کهٔ سترګے کهٔ خولهٔ کهٔ پوزه
هر یو خپل کار لری تر بلے ئے کوزه

کار چه دَ سمع دے بصرے کله کا
دَ خولے په کار نهٔ پوزه فیروزه

چار دَ مرګونی معاینه ده
بنه تر ژوندونه هر آئینه ده

پش تیشه ماته کا آئینه سازه کا
چه تر تیشه نهٔ بنهٔ آئینه ده

دَ یارِ وفا کوړه راستی دا دواړه
هغه چه دا لری وربانډِ ویاړه

کهٔ بنائسته وی اَدب هُنر لری
یارِ دِ هم دا دے بل یار مهٔ غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چرته غره ولاړئے په باد مغروره
حباب ته کوره بلا دِ دوسره
نیستی هستیئے فنا کیدل دی
واړه ستاچاردہ درته حضوره

دورچه دَځان شو ژوندئے وژاړه
کهٔ هوخوښهٔ دے په ښهٔ ےمهٔ ویاړه
کمین چه مست شی ځنے پناه غواړه
خوشحاله ځان په سکانو مهٔ داړه

باغبان چه کیږدی په باغ کښے وُنه
تپاک پرے څوکا تل په ساتنه
کهٔ برئے ښهٔ شی زهٔ ئے پرے ښهٔ شی
کهٔ بد شی نهٔ کا باندِ وتنه

خسیس دِ پریږدی په دوه پشیزه
هلک دِ پریږدی په دوه مویزه
کهٔ تهٔ دانائے زهٔ به پرے نهٔ ترے
باری دَ دواړو کښه ناخیزه

زهٔ دِ پرمئین یم په ښه خبره
نه ښه خبره نه مرغلره
چه ښه خبره له چا نه واؤرم
وایم چه ځار کړم ترے مهران څوزره

دَخپل پدر سره دَخپل پسر سره
دَپیر اُستاد سره دَ یوهٔ هر سره
خپلوی کهٔ مینه کهٔ محبت کا
په سود نظر لری نهٔ دَ ضرر سره

دُنیا پاله ده یا سپینه ثُوره ده
نیکی بدی ئے درته حضوره ده
چه دِ رضا ده هغه په لاس واخله
په هره چار کښے راستی منظوره ده

څُویه چه ووت دَ پلار له رایه
توبه دِ وکا کم بخت ته وایه
توبه کهٔ نهٔ کا سزا به مومی
په دواړه کونه لهٔ یوهٔ خدایه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ معشوقه ئے پروا دِ کُمه ده
زار دَ عاشق دے چه چارئے شومه ده

بے تا کباب دے په اور وُرتیږی
چا ردِ دَ هجر دَ اور معلومه ده

خوشحال ته مهٔ کوږه کوکل ئے کوږه
ډک دے دَ بلولمبو دَ اوږه

کهٔ شین مزرے ئے کهٔ مست هاتی ئے
خپل ځان دَ بلو لمبونه ژغوږه

خوراک پوشاک دَسړی دا دواړه
خوښی ئے کوښے خپل ځان ته غواړه

بنهٔ بنهٔ ځایونه بنهٔ بنهٔ باغونه
په داچه وشی شریک دی واړه

قاضی مجنون یم عمر دِ ډیر شَه
وعشق ته کوږه ترعقل تیر شه

خولهٔ دَ لیلیٰ ده دَ عشق په شرع
په موزی کیږو زهر کنډیر شه

مهٔ سلطنت غواړه مهٔ ډیر دولت غواړه
بنځے ته وایه عصمت عفت غواړه

توفیق له خدایه دَ عبادت غواړه
خدمت دَ شوئے کړه دَ ځان صحت غواړه

عطا دَ خدائے دی دا یو څو څیزه
تردا بِه نشته نورځهٔ عزیزه

یو بنهٔ جمال دے یو بنهٔ خصال دے
چا رَ قوت ده ورسره نیزه

کهٔ جود په ما وکړے بهتر دے تالره
کهٔ جود په ما نهٔ کړے بهتر دے مالره

دَ جود په کړهٔ به منت په ما بار کړے
منت چه نهٔ وی بنهٔ دے دانا لره

وماته بنه ده هوښیاره کنډه
تر پیغلے جنے کم عقله ټنډه

هغه به زیست وروزګار په عقل کا
دا به روزګار کا په خپله هنډه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خانان ئے وارہ تلاوت خوان کړہ
دَ هند هندوان ئے دانشمندان کړہ
وخت دَ اورنګ دے عمل هیڅ نشته
خو کتابونه ئے په عالم ګران کړ ئ

چه بخیل کیږے هسے ساتل مکړہ
چه مسرفیږی دا هسے تل مکړہ
خپل خوان په هرچا خوړه منت په بل مکړہ
دَ بل وخوان ته خالی کتل مکړہ

دَچا وخوان ته خالی کتل مۀ کړہ
کۀ تل دِ خوری منت په بل مکړہ
چه پرے باورځی هسے ویل مۀ کړہ
چه مال دَ بل شی هسے ساتل مکړہ

راته بنکارہ شو وکړے وارہ
دوه به وُ نۀ وینے په یوه غارہ
وفا به نۀ موے له آدم زاده
له تاچه وزیږی باندِ مۀ ویارہ

غضب ملوک لره دروغ ملا لره
بخل غنی لره فحش نسا لره
دا څلور توکه هر کوره بد دی
فکر چه راغے په زړۀ کښے ما لره

په درست وجود کښے بنۀ دی دوه څیزه
یو زړۀ بیا ژبه څما عزیزه
زړۀ بنۀ همت لره بنۀ خوئ خصلت لره
ژبه فصیحه ربستنے نیزه

اوس بے وفا شول دا یاران وارہ
دَ پلار په رائے نۀ ځی فرزندان وارہ
کۀ نیک کۀ بد دی په دا دستوردی
سره خپلوی نۀ کا اقربان وارہ

درته به وایم خپل حال په څیره
دَ آزاده وُ په حال خبیره
په هغوره زیره مِ کۀ څۀ پکار وُو
په تیر مِ ونیوۀ په سینه زیره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وخت د بهار راغے خزان اوس کم شۀ
شراب له خمه راغلۀ بنیښو لره

مطرب په زیرمه د زیر وبم شۀ
کوزے کاسے راوړه خوشحاله د کخم شۀ

دُنیا ناثیزه ده بے دُنیا ژوه
اهل به نۀ موے نا اهل ډیر دی

دُنیا کۀ ثیز وے د نادان به نۀ وه
له خلقو کرځه جُدا په یوه

حُما له دِله د بدوخواست بیایه
ظلوم جهول یم په کرم و لارو څم

وښو کار ونو ته ئے په زغابښت بیایه
الله ته مِ په راهِ راست بیایه

لافے د عقل وعلم وهوش هومره
د سود په لوری هرچاته کوش هومره

د کام دپارهٔ جوش وخروش هومره
د زیان دپارهٔ د خاطر جوش هومره

چه بادشاهان دی خانان دی روره
کۀ سور مزرے ئے کۀ تورهاتی ئے

نورڅۀ ئے مۀ کنړه بے بَله اوره
خپل ځان له بَله اوره نه ژغوره

حُویه کۀ وُوزی د پلار له رایه
ترفیل کۀ لاندِ شی اندوه ئے مۀ کړه

حُویه د چادے کم بخت ته وایه
په فیل کۀ پاس کښینی هم ئے مۀ ستایه

رنځ ئے په غاړے په غرونو کښیږده
سعادتمند شه د پلار په خونه

کوهر کوهر دے خدائے رابریږده
میندے داهسے حُویه تل بلیږده

چار د حُوانئ د فسق فجوره
اوس مِ دا زُهد چه د پیرئ دے

له لاسه لاړهٔ لکه بنه تُوره
کشکے ئے چاروے هورے منظوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرښته کۀ کښینی چیرے له دیوه څۀ به ترے زده نۀ کا بے مکرو ریوه
چه سره ګډ شی خوندبه ئے نورنشی کۀ مرغوني کښیږدے له سیوه

کۀ راست ګوئی لری پاکه عفیفه ده کۀ زرخریده ده په ذات شریفه ده
کۀ لوړ د پیر ده کۀ دائے نۀ وی بده کثیفه ده ګنده خفیفه دد

چه مستغنی شے له شاه و میره کۀ درته بد وائی کۀ بنۀ په خیره
کۀ هیڅ پروا د وربانډ نۀ وی مردئے رحمت د په ولی ویره

نیکان عزیزدی له خپله سره ویه بنۀ کړه له بده سره خوش خویه
په باغ کښے هره وُنه اوبۀ مومی تروه ترخه ده خوږه خوشبویه

د سړو د په غاړه کښینه نظر کړه غافل کۀ نۀ ئے په دا باور کړه
لکه سړوانے اوبۀ چه د سړو مے رخصت خپل عمرته هم هسے ورکړه

کۀ کار په ښیره دے یا په غابنونه له مانه پاتے شوے کلګونے څونه
کۀ کار په نورڅۀ دے خواجه خضریم لا به د جُونو ګورم مخسونه

مستی د میئو مکیال مکیال ده بیا د ځوانئ جوال جوال ده
کۀ دا مستی دوا په سره کړے ورځنے ډیره د مال د مال ده

عجب سودا ده د کابین غوښته چه بنۀ وی بنه ښۀ وسره ښوښته
فرزندچه بنۀ راوړی سودئے بیشماره کۀ نه د ډیر د سودا ښوه تروښته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک چه توانګر شی په قناعت سره
افلاس ئے نشته په روایت سره
حرص دیر شوم دے حریص محروم دے
نظر کهٔ وکړے په حدیث آیت سره

داچار دَ نمره لا مشهوره ده
نورځهٔ ئے مهٔ کوره دَمرد چه تُوره ده
دَ مرد تر تُورے دا بنځه بنه ده
کهٔ ستر پوښه پاکه مستوره ده

ساقی تحویل دِ وکړه و تهٔ
پاسه راواخله هغه تهٔ تهٔ
چه ما به تاسره پیاپے وخښهٔ
هغه زهٔ زهٔ یم هغه تهٔ تهٔ

له خپله یاره غواړه څو څیزه
تش دِ ئے نهٔ وی زړهٔ له تمیزه
تینګ دِ په شرع تینګ دِ په دین وی
دُنیا دِ نهٔ وی ورته عزیزه

په درست جهان کښے م آشنا بیانهٔ موندهٔ
څوک به ئے څهٔ غواړی چه ما بیانهٔ موندهٔ
عمرم تیر شو په آشنا یئ کښے
له چا م بوئ دَ وفا بیانهٔ موندهٔ

مردی دا مهٔ وایه چه په ده
یا په دُنیا ده یا په مال زر ده
کهٔ شرم ننګ لرے دَ سر پروا نهٔ کړے
مردی هم دا ده کهٔ دِ په څر ده

ځوانی کهٔ کوره لکه سرهٔ زر ده
تر سر تر پایه واړه هُنر ده
کهٔ هر څو بنهٔ ئے عیبونه نهٔ لرے
پیری دَ واړو عیبو نو سر ده

شرم یوسف دے اَرزان ئے مهٔ پلوره
غټه پکار ده وړو ته مهٔ کوره
نړئ وُنه په نړی باد شوری
کهٔ لویه ونه ئے په لږ باد مهٔ شوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل خپل فعلونه دَسړی رهبر کړه
چه خیر غواړی خیر به بیا مومی

په خپله پوهه کښے قابل یو هر کړه
چه شر طلب وی بخره نے شر کړه

ځوانی کهٔ هرڅو یو نوبهار ده
په اوسر کښے وسیزه دَ ګلابو ګل شے

چه دروی تلهٔ کا بیاځهٔ پکار دد
چه بوئ دِ پاتے شی دا چار په چار دد

ګوره دا فکر عبث نه مونږه
عمر په لهو په لعب تیریږی

هسے په بادنی نفس نه مونږه
مونږ دَ هوس یو هوس نه مونږه

صوفی دا هومره له مانه زده کړه
مستانو مستے پیالے نوشلے دی

نورځهٔ پوهیږے واړه هغه کړه
هرځهٔ چه وائی غرض م مهٔ کړه

جن هم بنه ده چه مهردار ده
چه دَ جن والی دفترئے خور شو

دَ پلار په کور کښے ناسته قرار ده
کهٔ صاحبی کا بیاخدمتګار ده

دُنیا مردار ده ګنده بد بُویه
واړه سګان دی ګرځان ددان دی

چه پرے تولیږی له هره سُویه
باندِ غوغا کا دَ نفس به خُویه

لقمه طیّبه صلوٰة دا دواړه
کهٔ دِ په دا کښے خلل پیدا شی

کهٔ ستا په ځائے وی بنه دی کړه ویړه
غم دِ په کوردے کم بخته نه ړه

سړے کهٔ توردے کهٔ سپین په دامشه
تن یو غلاف دے زړهٔ پکښے ټوره

دَ مرد په کار کښے عقل خه مشه
مدار په توره دے غلاف نه مشه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه عاشقانو دَ حق دیدار لیدهٔ
جلوهٔ وکړه په بایزید کښے

موسیٰؑ په وُنه منصور په دار لیدهٔ
دَ تیرے تُورے په مخ عطار لیدهٔ

کهٔ سرداری غواړے بلا دِ دُوره
لکه آسمان وَته خټنه ګرانه ده

عقل همت راوړه بیاجود بیا تُوره
سرداری لاده ګرانه منظوره

کهٔ تهٔ خبرشے له دے رامُونږه
نتاج ئے واړه نابود پیدا شی

سپئ چه لنګه شی له ګرګه یُوزه
وحشی صفت وی مرتبه کُونږه

یو بخت بل عقل دا دواړه څیزه
کهٔ دَ څښتن دی کهٔ دَ مرئ دی

دَ مور له بطنه څما عزیزه
کهٔ ئے میرمن لری کهٔ ئے کنیزه

خوبی دَ عمر تر خلویښت کاله ده
حواس کهٔ درست لرے شکر وکاږه

چه په خُوانئ کښے مالا ماله ده
خُودِ ودانه دَ عمر څاله ده

یا واړه وینے فاسدے لرے کړه
یا دَ نړۍ لرے دَ قصد خبرے کړه

یا دَ کور سرے دربلے پریږده
یا واړه لرے له کوره سرے کړه

له بنو سره یو یکانګی بنه ده
له بده خلقه بیکانګی بنه ده

په هوښیارئ کښے چه خلاص نهٔ موے
څان دیوانه کړه دیوانګی بنه ده

دَ عقل بخره عنایتی ده
لاله مثاله هدایتی ده

قابل به هیڅرے کم عقله نهٔ وی
څما خبره دا آیتی ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عشق د ځوانئ وکښلے تُورہ
چہ م نیولے د پیرئ پہ دَور دے

ځارنے ترفسق ہم تر فجورہ
اوس م دا زهد دنے نہ ضرورہ

نہ دِ دَ ژبے دروغ رښتیا شتہ
هیښ یم کہ مستیم کہ لیونے یم

نہ دِ دَ ژبے دروغ رښتیا شتہ
چہ لاړم طمع د یارئ پہ تاشتہ

خپلہ خبرہ دہ مرغلرہ
پند م پہ یادلرہ کہ م نیکخواہ کنړے

بے فکرہ مہ وایہ خپلہ خبرہ
څوچہ توانیږے خبرہ نغرہ

یا ترس د خدائے دے یاهوښیاری دہ
هغہ چہ دا لری پرے م سلام وایہ

دین و دُنیا لرہ چہ کامکاری دہ
پہ دواړہ کونہ ئے رستگاری دہ

مهر نیکانو سرہ جاوید لرہ
بدان کہ هرڅو لائق د بدو دی

تل زړہ لہ دیوسرہ سعید لرہ
نہ چہ یک لخت ئے محروم نومید نرہ

پورے پہ خونہ د ایمل خان شئ
پہ سول د خونے د خان خانان شئ

دا اورکہ ونہ مړ دایم نارے وهم
پہ وار وار پورے پہ درست جهان شئ

غرق پہ نعمت کښے یم سر تر پایہ
شکر سپاس بہ ئے پہ څو پہ ځائے کړم

زړہ دا نعمت لرم لہ خپلہ خدایہ
چہ پیدا شوے یم ضعیف لہ ځایہ

څو تجربہ نہ کړے خپل ځویہ رونړہ
هومرہ د دو یو پہ کارمہ هُونړہ

ځویہ هغہ دی چہ ځان څرکند کا
کنړہ بهتر دی لہ ځویہ لُونړہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه سل په زړهٔ لری یوه په ژبه
چه زړهٔ اوژبه سره یکرنګ لری

هغه دِ پریوزی په لویه تبه
هغه به خلاص شی له معائبه

که داخوداده بیدی بیدیا ده
که دافناده بله بقا ده

چه داخما ده کله خما ده
عجب غوغا ده عجب سودا ده

اے چه د نول ده خما له مخه
په عشق کښے مرد اوسه پروائے مکړه

د رقیبانو په بده ړخه
زهٔ به دِ نهٔ کړم دچا په سخه

زړهٔ م دِ روغ کړ دلبری واه واه
وخت د کلونو شو تازه بهاردے

که زړے راکړے په غیر کښے آه آه
بنهٔ مخ تل تل کوره باده هم کاه کاه

زاغ و زغنو خالی غلغل ښ ده
هغه چه نهٔ لری مستی د میو

د کلو قدر شیدا بلبل زده
هغوم کله په کل ومل زده

دوستان دِ ژوه بدخواه دِ وُمره
چه هومره مهرتهٔ په اغیار وکړے

زهٔ بر له تا وخورم تهٔ بر له عُمره
یار به دِ پائی له هسے عُمره

دُنیا که داده چه راښکاړه شوه
خوابړهٔ خپل خوئ وُ خوابړهٔ خپل رونړه

بنه چه له وخته لا آواره شوه
خما له دیونه سینه پاره شوه

هغه چه شوی دی د دهٔ له لوریه
که دِ دوستان دی که دشمنان دی

هغه به کیږی له بخته ستوریه
وتلی نهٔ دی د ازل له توریه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

احمق په کلی کښے پیدا خدائے مکړه
کهٔ دِ په کورکښے پیدا شی زده کړه

لائے په لرے ملکونو وشړه
یائے له تورو خاورو سره کړه

کهٔ هرخو پوهۂ خوشحاله راشه
خضرؑ پیدا کړه پسے موسیٰؑ شه

سخ دَ هغهٔ دے چه بنهٔ پیشوا لری
غم به دِ نهٔ وی خبرپه دا شه

بنځه کهٔ هرخو په مخ نه زیبا ده
په هرهنرکښے پسندلی دا ده

ظاهرئے مهٔ کوره باطن ئے کوره
هالهٔ ئے ستایه کهٔ دا پارسا ده

خُوانی ئے لاړه خُنے مایوس شهٔ
بازدے عالَم ته خوشحال ټپوس شهٔ

شاه شطرنج دے نزدے ومات ته
ورته اوس پاتے یوفیل منحوس شهٔ

ګمان دَ نیکو تل په دوستانو کړه
ګمان دَ بدو په دشمنانو کړه

دَجاهلانو سره قرین مهٔ شه
صحبت یک لخته له عاقلانو کړه

دروغ په ځان باندِ خونِ خنزیرکړه
کهٔ دارو کیږی روایت ځیرکړه

طبیب چه وائی هسے تدبیر کړه
دارو دَ وینے سره خمیر کړه

یارئے نهٔ ده دا سرابی ده
کهٔ ودانی ده هم خرابی ده

چه زړهٔ پرے بنهٔ کاهوښیارپه نهٔ وی
هستی نیستیٔ په شتابی ده

بل ترخپل دست لره دَچاتردست مشه
شرم پرست اوسه شهوت پرست مشه

چه کار دَ دین دَ دُنیاخراب پریږدے
هسے بے خوده دَ میو مست مشه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه زړهٔ ژوندے لری دَعشق په مینه
هغه کهٔ ومری کنړه تهٔ مرینه

فرهاد کهٔ مړ دے مجنون کهٔ مړ دے
نوم به ئے هرکله په جهان وینه

کهٔ چاته وکړے دَ زړهٔ خبره
تاکید پرے وکړے چه وئے نغره

کهٔ دِ خپل خوئے دے کمان پرے مکړه
چه به ئے نهٔ کا چاته ظاهره

کهٔ دین دُنیا غواړے پرده پوشی کړه
فتنے له خوله پاسی خوخاموشی کړه

کهٔ نهٔ خاموش ئے نهٔ پرده پوش ئے
بے خوده پریوزه باده نوشی کړه

چه دِ په زړهٔ دی هغه په خولهٔ لړه
چه دِ په خولهٔ دی هغه په زړهٔ لړه

دا دواړه توکه لکه مړئ
په یوهٔ تارئے پیئلے تهٔ لړه

بله لمبه دِ دَ وصل ژمنه ده
بله مِ عین دَ زړهٔ دننه ده

کهٔ داد دَ خوله دے کهٔ نور دادونه
چه کښلیو نهٔ زده کومه ټمځنه ده

څومِ له تانه درنه سینه ده
هومره مِ دے سره ډیره کینه ده

چه ورته وکورے فتنے په لاس واخله
چه تهٔ ئے مسته کړے ستا ئینه ده

کهٔ دِ په غولی ولاړه ونه ده
هومره پرے ویاړه څولویه پلنه ده

یا به میوه لری یا به سایه لری
جوړه په ونه باندِ ستاینه ده

دپاسه نهٔ شوه داچه دَ لاندِ ده
بل کل به نهٔ کیدهٔ چه دادسپاندِ ده

مهٔ ترے حیا غواړه مهٔ ترے وفا غواړه
هغه لنډئ ده لکه دَ وړاندِ ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جفا چه وینے له چا وفا وکړه — که څوک ښکنځل وکا ورته دُعا وکړه
که آدم زادئ خوئ د آدم راوړه — غمژن چه وینے ورته ژړا وکړه

څوا نهر دکه نهٔ ئے له مانه نن زده کړه — بخښل د جرم خورول د نغن زده کړه
چه ما غله راغله چه لاړه لاړه — خوئ د نیاد منونهٔ د غمژن زده کړه

چه عاشقی کړے پیغور قبول کړه — د واړه خلقو شر شور قبول کړه
که څوک دِ اچوی وسرو لمبو ته — د یار د پاره سُور سور قبول کړه

غم او غلیم تهٔ له دله دُور کړه — خاندہ هوس کړه بنادی سرور کړه
که مخ دِ زیړوی په دلگیرئ کښے — تهٔ ئے په دواړه وخپیړو سُور کړه

ډیرو لیدلے د لیلیٰ رخت وُو — شویه پرصوف وو نادیده وخت وُو
زهٔ یار مشفق لرم دهٔ یار بدخوئ درلهٔ — زهٔ بختور یم مجنون بد بخت وُو

دا سحر کړه دُنیا مکاره — څویه ویزار کا له موره پلاره
چه ئے ویزار کا له موره پلاره — هسے دا هم شی څنے ویزاره

که سرو ونه په قد درانهٔ ده — نهٔ چه ترتانه هم سرفرازه ده
څما حذر شی دستا له ستر کو — که د کوترے ویره له بازه ده

څهٔ شی مِ بیا مونده معنیٰ له جاهٔ — که جاه باله شی بد دے ترجهٔ
په جاه به هیڅوک غلطی نهٔ کا — بے له احمقه بے له کمرهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ په دیدن ده دیدن هم ډیر وشهٔ
خوشحاله بس کړه وخت دعمل دے

کهٔ په خوردن ده خوردن هم ډیروشهٔ
لوستن هم ډیروشهٔ کفتن هم ډیروشهٔ

سحرم خوب لیدهٔ اندوهم زیاته شوه
سمندم پاسه په بام جولان کړ

مۍ چه م وخښل پیاله م ماته شوه
له بامه پریوت شائ غبراته شوه

یونیمکړے ده دُنیا نیمکړے ده
چه یائ وخوړه یائ چا ورکړه

نوعاقلانو په هیڅ نومړی ده
دُنیا خو هغوله ځانه وُړی ده

ژاړه غافله په بار بار ژاړه
کهٔ داجهان دے کهٔ بل جهان دے

دځان بلا شوے په خپله واړه
درځنه لاړل په غفلت دواړه

تهٔ قهقهه خاندے غم تم په بل شهٔ
قاتله ځله په کابو بویه

غم تم په بل شهٔ بل چه تل تل شهٔ
پرے باندِ پاسه غرځهٔ غافل شهٔ

دَچا ناحقه له مړکه ویړه ده
زرګر وښی مات کا اوږئ سازه کا

داچار کهٔ ګورے هرګوره غوړه ده
لاتر وښی نهٔ اُوږئ بهتره ده

کهٔ هرڅو بنسه ده چه تیرید ونی ده
کهٔ بنهٔ کړے بنهٔ کړه کهٔ بد کړے بد کړه

دُنیا په پچه نهٔ پیریدونی ده
کرده دَهیچا نهٔ هیریدونی ده

جفا دَ خلقو هرګوړه ډیره شوه
وخت دَ قیامت شوکهٔ نور آفت دے

وفا دَ هرچا له دِله هیره شوه
یوه بلا ده چه را برسیره شوه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زرِ دِ ورنۀ شی دَ نادان ترکوره
په بدئے خرخ کا قدرئے نۀ لری

په زر دولت دِ عزت دے کوره
کاسه ئے زرشی په پاک نسکوره

سخا تر هرچا په خپلو لا بنه ده
دَ بنو دلبرو سره خندا بنه ده

په بنۀ ویلو ژبه کویا بنه ده
خوشحال ختک ته دُنیا په دا بنه ده

په قدچه نوم لری سَروَ په څو لکه
خولۀ دِ حقه ده دَ سرو یاقوتو

په مخ چه نوم لری تمام اوږ مکه
په سپینو دُرو کوهرو ډک

دا چار څرګنده په هر دیار ده
دَ زړۀ دِیار مِ خالی نه غیر دے

بدی بنیګړه دیار دیار ده
بکښے دلبره دیار دیار ده

دُنیا بوډئ ده دَ کالو ډیره
دَ ډیرو مړونو ماغزۀ ئے وخوړل

ترسلونړو مړنو تیره
لا به ئے څښنی پرے نۀ ده سیره

تر بازکۀ لاندِ کړے دَ کارګه هویه
کۀ دَ مزرۍ سره یارۍ آغازه کا

باز به رانۀ وړی کارګه ترے بویه
کوم خوئ به واخلی دَ مزرۍ سویه

کۀ څوئ دَ پلارئے ذ پلار هُنر واخله
بهرام کۀ څوئ دَ خوشحال ختک وُو

نۀ چه ئے مال وملک ویا زر واخله
هُنرئے نۀ وُو څُنے خبر واخله

دَ لُور عفت غواړه دَ څویه ټوره
چه دائے نۀ وی مرګ ئے میلمه شه

هغه چه دا لری بلائے دُوره
مورِ دِ دَ وخته شی په دوارد بُوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل سی ساله وے د خدائے دپاره
د بنو بنو جونو جمال تل تل لیدے

کل ولاله وے د خدائے دپاره
په لاس پیاله وے د خدائے دپاره

بنځه خوش خویه غواړه خوش رویه
مینه ئے ډیره نرم رنګ په بوئ شی

که نه بدرویه بنه ده خوش خویه
څوک چه خبردی د کل له بویه

له قامه لاړ شوم لرے په کروهه
په تیرو چارو پسے ارمان کړم

خالی ارمان دے روستنئ پوهه
اوس م څه سود دے له دے اندوهه

ساقی بیا مهر کړه د میو مهر شهٔ
پکښے به ډیرے ډیرے خوښئ وی

د مینځ د تلے مقام د مهر شهٔ
بیا را برسیره د فلک مهر شهٔ

د نو دولتو دُنیا که ډیره ده
څوک دِ ئے کرم او ملامت نه کا

د جُود وینائے له دِله هیره ده
یوه بلائے ترتندی تیره ده

د رقیبانو په ډیره رخه
شوم یم چه پایم په دا ډیر غم کښے

دایم جُدا شوم د یار له مخه
یوجدائی شوه دویمه سخه

درپینه مهٔ شه د بخت کښ وه
د باز شړلی زړکه م ولیده

خونی مزړے کا په تا برد وه
د باد خورکو باندِ خُوږه وه

زهٔ ئے خبریم له زیانه سوده
حسد د چا دے د نامردانو

حسد مذموم دے غبطه محموده
غبطه را پاسی د مرد له جوده

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه علم وکړے عزیزه خویه
فهم په علم په عمل بویه
کمکیه ونه باردارہ بنه ده
نهٔ پلنه ونه بے بارہ لویه

کهٔ یار دِ سپین دے تاته تورمشه
که دصفت دم د پیغور مهٔ شه
نیک بد به واړه په دا پوهیږی
کهٔ تهٔ هغه نے خوئ دِ اوس نورمهٔ شه

په شیخ رحمکارم تازه توبه وکړه
هغ نکارے راته بنسیوه وکړه
زړه مِ هرکورهٔ په اندیښنو شو
توبه مِ بده ده کهٔ توبه مِ بنهٔ وکړه

زهٔ دِ کباب کړم خدائے دِکباب کړه
غلیم خونهٔ یم څهٔ خوحساب کړه
نهٔ دِ وفا شته نهٔ دِ جفا شته
ناکسه درومه خدائے دِ خراب کړه

کهٔ سروری غواړے دَهرچاوړونے شه
پرده پوښی کوه لکه پړونے شه
کهٔ بدگفتار دے کهٔ بدکردار دے
چه عذرخواه شی آواره کړونے شه

وفا ترے مهٔ غواړه دا دوه درے څیزه
چه بے وفا دی څما عزیزه
یو آس بل بنځه کهٔ هرخوبنهٔ وی
دریمه تُوره ورسره نیزه

دریغه بنهٔ خویه دریغه بنهٔ رونړه
چارئ ترلعلو تر دُرو چونړه
چه دواړه توکه لائق قابل لری
هغهٔ ته وایه کهٔ مونږے مونړه

سرپه زانو کښیږ ده داچارحاشا بنه ده
ترباغه راغه دا تماشا بنه ده
څوکام ترے موے په غم کښے دروے
دُنیا کهٔ دا ده دُنیا ته شا بنه ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تخم ضائع کا بد اصله مزکه
هغه چه کرکا یا پئ شاربی

بنهٔ پئ خسا کا بده غرکه
هغه دِ نهٔ کا داپوهه ورکه

دَدُنیا مینے یارئ واړه
چه به ئے ژاړے په جدایئ

بقاهیڅ نهٔ لری باندِ مهٔ ویاړه
جُدا چه نهٔ دی واړه وژاړه

چه په قرآن کښے دی منلی واړه
نفس دِ په دا کښے کهٔ فضولی کا

مشکوٰة مصباح ته نیولی غاړه
شیطان خوار کړے بدبخته ژاړه

چه هرزمان م په زړهٔ میشتهٔ ده
خدائے خودِ صبر له دِ رانهٔ کا

هغه مهرویه دَ زړهٔ دمه ده
دَ صبر بخره کهٔ هرڅو بنه ده

نهٔ به دا مزکے وی نهٔ آسمانونه
باقی به بل یو جهان پیدا شی

واړه به واوړی دا دیوالونه
مولا لږ نهٔ لری خپل جهانونه

داخاورے نهٔ دی چه مونږ پرے ځونه
کوره له کوموخاورو به کډ شُو

دَخیال خُلمی دی کُل کونے جُونه
په هرزمان دی دَ مرګ پیچونه

اے چه دولت لرے بدِ خصلت دے
بازچه له بده بازداره لاړ شی

دولت به بایلے بنهٔ نصیحت دے
وبه نهٔ نیسی دا تجربت دے

اَس دَ خانانو دی دَ بنوکسانو دی
مارهٔ څاریهٔ بنهٔ دی وړی کنده دی

نهٔ دَ نادارو مفلسانو دی
دِ نکر دَچا دی دَ کړکسانو دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آزار دَ خولے دے آزار دَ لاس دے
له دوا او خلاص دے هغه چه ناس دے

سړے به نهٔ وی هغه به دَد وی
چه په دا واړه توکه الماس دے

اور وړه ندهٔ ته په تاؤ مفهوم شی
وستړکه ور ته څرګند معلوم شی

هغه چه پریږی واورته رنګ واخلی
هرڅوک خبردے چه اورے نوم شی

اَبله هغه دے په ورځ چه چراغ کښیږدی
یا چه بے درده په صورت داغ کښیږدی

یا چه دَ شکو عمارتونه کا
یا چه په بده مزکه کښے باغ کښیږدی

اهل کیمیا دی کیمیا به څوک مومی
اهل وفا دی وفا به څوک مومی

نوم دَ عنقا شته په دا جهان کښے
اهل عنقا دی عنقا به څوک مومی

اصیل چه نهٔ لری اَدب هم هیڅ دے
جمیل چه نهٔ لری نسب هم هیڅ دے

چه دانشمند دے حکمت هُنر لری
که دَ بادشاه لری منصب هم هیڅ دے

اندوه هیڅ مهٔ کړه خوشحاله سخ دے
خواری دِ لاړه دولت ته مخ دے

هغه چه تاوته خوړونے سپے وُو
په لرے لرے ملکونو بخ دے

اُمید کهٔ ګورے بهتر تر بیم دے
عطا پرے مهٔ نیسه کهٔ دِ غلیم دے

چه له اَعدا سره په مدارا وی
داکار دَ چادے کار دَ حکیم دے

اے چه بے مثل په کړهٔ او وړهٔ ئے
کل رنګه روغه دَ خدائے په کړهٔ ئے

دا هسے ولے دَ زړهٔ په وړهٔ ئے
په هیڅا نهٔ ئے خو په خیل زړهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آتش قبول کا ګنے چه قند شی
په هر دیارئے صفت دَخوند شی

ادب دَ خوُیه دَ رور بائده دے
جوهر دَ تُورے په صیقل خرڅند شی

آسمان چه هومره لوئی رفعت لری
مزکه چه هومره ستر وی وسعت لری

دا به خدائے واړه سره فنا کا
چه لوئے عظیم دے عظیم ساعت لری

آفت کهٔ ګورے په بے ننګئی کښے دے
ننګیت دَ دهر په دل ننګئی کښے دے

ما له دو رنګو فائده ونهٔ لیده
کهٔ سود دے سودخو په یکر ننګئی کښے دے

احمق دروښیم کهٔ احمق ګورے
احمق راندهٔ دی په ستر ګو تورے

تورے وته سپین وائی سپینوته تور وائی
په غوږ ونو آوری خبرے نورے

اے چه په سړو کښے ګذار ته سازئے
ستر ګے دِ لګی غوږ په آوازئے

غازی غرڅهٔ دے دربانذِ درغے
په تخرګ ئے وُوله کهٔ تیرانداز ئے

اے دَ چشمانو په غمزه الماس ئے
داڅهٔ هنردے له عاشق ستاسے

ترسر تر پایه راته ووایه
ترے دِ یستلے یم لاړم وباسے

اے نفسِ فضول از فضولی باز آئے
چوں مردمِ جو فروش گندم منمائے

هیڅی واز هیڅ چه خیږد هیهات
بیهوده مگوے وہر زمان ژاژ مخائے

اوس له دیو ښځو کله مردم زیږی
ورځنے واړه مار ولړم زیږی

دخول کهٔ نهٔ کړے ورسره ځائے لری
چه ځنے واړه په عقل کم زیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اے چه حکیم و علیم دِ نوم دے ورکړے آخلے کار دِ معلوم دے
شیرین ژوندون دِ وربانِدِ تریخ کړ خوشحال چه نۀ وژنے حکمت دِ کوم دے

احمق کۀ هرڅو دُنیا دولت لری دولت به بائے کاچه حماقت لری
کۀ ډیر نادار وی شکر دِ کاندی کۀ خوئے نے بنۀ وی علم حکمت لری

اصیل به شرم حیا وفا لری اصیلئے وکنړه هغه چه دا لری
کۀ شاهزاده وی چه دائے نۀ وی اصیلئے مۀ کنړه یوه بلا لری

ایمان دَ سروزرو ترغرونو بنۀ دے منافقانو وته هیڅ نۀ دے
لال دُرچه پیژنی هغوئے قدر زده چه شناخت نے نۀ لری سوئے ترنهۀ نے

اے چه پری وما ته ستائے کۀ یارم ووینے بیا به ووائے
هرچاچه ولیده باندِ بلبل شو مخ دِ کۀ گُل دے دَ دنیا ئے

اَدب چه نۀ وی په سپین په تورکښے عزت به نۀ وی په هغه کور کښے
دولت به دروِمی له هغه خلقه چه سره تل وی په شروشور کښے

اوۀ آسمانه اوۀ ئے ستوری دولس برجونه دی چه پکښے شوری
غمژن دِ طمع دَ بنادئ کاندی دَ شپے خبښتن دِ سحر ته گوری

اَسپے اَسونو وته ساتلے شی تهتوے خرونه سره شړلے شی
تهتوان یا خرونه باندِ ختلے شی خُنے نابودے گلے حاصلے شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آزار دَ اهل وماته جهل دے
خپل ځان کهٔ ځار کړم ترا هل سهل دے
دونرخ درښئیم په دا دُنیا کښے
دونرخ صحبت دَ سفله نا اهل دے

اے چه رحمان او رحیم دِ نوم دے
عظیم بادشاه ئے کار دِ معلوم دے
نادان په تاج کړے دانا محتاج کړے
ما پرے خبر کړه حکمت دِ کوم دے

آسمان روغ زړونه نهٔ دی پرینښی
دهٔ دی په هرچا چاپونه ایښی
څوئے دا ستوری په سترګو وینے
واړه داغونه دی ګوښی ګوښی

بنیاد دَ چارے په مصلحت دے
بیا دَ مردانو په بنهٔ همت دے
چه سره یو شی دا دواړه توکه
واړه دولت دے عزت حرمت دے

بدخواه دِ کوم دے چه دِ په بدُ ویاړی
نیکخواه دِ کوم دے چه دِ بهبود غواړی
کهٔ هرڅو خوئ دَ فرښتو حاصل کړے
له چا به تهٔ ژاړے څوک به له تا ژاړی

باغ په خوبئ لکه مخمل دے
راسره ګورهٔ یوځهٔ مخ مل دے
ساقی را پاسه مینا را واخله
پرخه وریږی ګل دے حمل دے

باورکهٔ وکړے په جُز او کُل کښے
مردان به تل وی په توکل کښے
دا ډیرے غاړے نغمه صوتونه
نشته په باز کښے دی په بلبل کښے

بله به نهٔ وی په حق شناس کښے
تل به په حمد وی تل په سپاس کښے
چهٔ جارباسی هوړے جار وزړی
زړونه تسخیر دی دَ خدائے په لاس کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

باغ وے سرود وے نُقل وشراب وے
بنے بنے دلبرے بنۂ بنۂ احباب وے

مجلس دَ خاصو کتاب په مینځ کښے
نقل دَ تورو وخت دَشباب وے

بارئے ئے نۂ دی کل دَ کلاب دی
زلفے ئے طعن دَ مشکناب دی

راشه کۂ دواړه شونډے ئے کورے
چه پرے مستیږی هغه شراب دی

بطه تل لامبی اوبۂ تل مومی
بد بوئے ولے له تنه درومی

بد بوئے ځکه درومی له تنه
هره بلاځی دَ دے تر کومی

بلا بلا وائے بلا هم تۂ ئے
خپل بنۂ هم یاد کړه کۂ بلا نۂ ئے

تُورہ دَ ژبے تُورہ دَ اوسپنے
څۂ غوځول کا خبر لا نۂ ئے

بخت و دولت دَ سړی له خُا یه وی
نۂ له هنړه نۂ له همایه وی

هُنر هاله راشی همائے هاله راشی
چه باندِ حُکم په چا له خدایه وی

باز په دیدن دَ طاؤس ویاړی
سرپښے ئے هرځۂ سره ونغاړی

په خپل خپل بنکار پسے هرځوک تلاش کا
مزرے کۂ زوړشی غوابنے وغواړی

باغ دَ کلونو کنج او کتاب وے
رود وسرود ونُقل و شراب وے

بنے بنے محبوبے بنۂ بنۂ احباب وے
خوبی دَ عمر وخت دَ شباب وے

بادشاهان بنۂ دی چه په خُانانو زرښندی
خُانان پرے بنۂ کا چه ورته سرښندی

زرسردا دواړه توکه پیر کران دی
یو یوئے وښندی نۂ ئے یوهر ښندی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بهانې دَ آسپو کله یکسان دی
څنې تتوان دی څنې آسان دی
څنې دَ بار دی دَ زیست روزګار دی
څنې دَ تورے دَ برګستوان دی

بے غمه خوب کا چه روغ په تن وی
خوب به په څۀ کا چه څوک غمژن وی
موږې دَ شکرو حلوا ته نۀ ګوری
وږے دَ سپورے روټئ کا زمن وی

بازونه واړه بهادران دی
چه بد شے نیسی بد بازداران دی
چه په آسونو کښے خم چم پیدا شی
آسونه ساز کا چه شهسواران دی

بلبل دَ ګل دے ګل دَ بلبل دے
بلبل هورے غواړه هورے چه ګل دے
مینه په پټه دَ هیڅا نۀ شی
خپل بوئ دَ منکو په ځان چغل دے

بدخواه دِ خوار وُسه تۀ ورته غټ وُسے
خپل نیت دِ زغره تۀ پکښے پټ اوسے
څوچه ښادئ دی څوچه غمونه دی
و دواړو توکو ته په مخ په څټ اوسے

بد مخ ناحقه په زر پسالۀ شي
ښۀ مخ چه بیا مومی پسول دِ هالۀ شی
کۀ هرڅو رنګ لری سرسپینے پاڼے دی
شندے به چیرے نۀ کس بالۀ شی

بدی په لاس واخلی چه ګنهګار شی
چه ګنهګار شی هغه دَ دار شی
چه څوک له خپله شامته خوار شی
خپل پردی واړه څنې ویزار شی

بزرګی په تاسائی کۀ تۀ ستارے
ستارکۀ نۀ ئے کله بزرګوارے ئے
چه پرے حاجت دَ محتاج پوره نشی
کۀ مال دِ ډیر ډیر دے کړه مالدارے ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بار دَ اوښانو په خرونو ئې نه شی
جام دَ مستانو په صوفیانو څیښ نشی

دَ ویښ له حاله اوده خبر نه دے
څوچه له خپله خوبه نه ویښ نشی

بدی له خپلو چه آواره نه شی
خپلوی دَ خپلو په چا ښکاره نشی

که ښه دے ښه خوهغه سړے دے
چه ئے په خپلو کښے گریوان پاره نشی

بخت دَ مغلو پښتانه نه پریږدی
چه اتفاق وکا په تُوره زړه کښیږدی

گنړه که څه هومره پښتانه نه دی
چه ئے په یادکا دَ مغلو زړه ریږدی

بانړه که هرڅو دَ ستړگو زیب لری
چه ورکا برهٔ شی بلا آسیب لری

څویه که ښه دے نور دے دَ ستړگو
څویه که بدشی ماران دَ جیب لری

بیا م له بخته مدد څرگند دے
خوب کړم خوښی کړم زړهٔ م خورسند دے

چه خوب م نه وُ و دَ دهٔ له غمه
ترسرم لاندِ هغه مړوند دے

بوئ دِ له نطفه دَ کبر وآز ځئ
لکه دَ خولے نه چه بوئ دَ پیاز ځئ

په مانځهٔ ودرے فکرونه نور کړے
عمر دِ هسے گنده ناساز ځئ

عابد بے بند دے هم بے پیوند دے
مور پلار ئے نشته پیدا له شخوند دے

سړے لیدهٔ شی که خوئ ئے گورے
لکه چه دد وی هسے بے سند دے

پکار هیڅ نه دی خالی مستی
څولا په زړه لرے دَ غم هستی

هستی تمامه په مستی کښے وبا زهٔ
که مانه زده کړه مے پرستی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ننګ خبرنۀ دی بے ننګه کلی دی
وفائے نشته له عقله پلی دی

کۀ مونځ اودس کا په پنځه وخته
هم بے صلوٰۃ هم مخ نا ولی دی

په غم دَ نورو وغم ته ساز مۀ شے
سپک وعالم ته په خپل آوازمۀ شے

سړے په طمع دَ بل بنده شی
دُعا به دا کړم اَخته په آزمۀ شے

په رنګ رنګینه ئے په مخ نسرینه ئے
په لب شیرینه ئے په تن سیمینه ئے

درسته کلزارئے تر سر تر پایه
عیب دِ دا دے په زړۀ سنګینه ئے

په ځان مِ لږ ډیر ځایونه منبلی دی
چُونړ چُون مِ کښلی کښلی کتلی دی

ستا تر بنا ئسته چه نا بنا غلی دی
دَ خلخ کښلی کشمیری کښلی دی

پلار دَ خپل خه ډیر ویاړی
په هره چارئے بهتری غواړی

چه خوئ ئے بد شی نصیحت نۀ منی
دَ دۀ له خویه په اوښکو ژاړی

په کاغذ وکښے خوانانے ولولی
چه کښلی نۀ وی هغه څوک څۀ لولی

هسے مردان شته په دا دُنیا کښے
تختے دَ وچولی تختے دَ ړۀ لولی

پند دے سودمند دے کۀ څوک ئے نغوړی
وخت دَ فساد دے له تاچه وزیږی

څوئ ئے مۀ بوله حذر ترے بویه
چه دِ له حکمه له رایه وغړیږی

په تار دَ غنړی ذباب بند کیږی
نۀ په دا لُومه عقاب بند کیږی

پند وعاشق ته بند دَ خسړیو دے
په دا به کله سیلاب بند کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پوندہ په اورکښے ګونه ګونه شی
کا نړے په اورکښے ګڅ یاچونه شی
عادت به هیڅړے د ناکس نور نشی
کۀ اورۍ پورے په درونه شی

په خپل مقصود پسے په څۀ مجنونۍ
په خپل مطلب پسے یوڅۀ مفتون ۍ
په څوخوشحال شے چه په کام کامیاب شے
د کام په نۀ موندلو هردم محزون ۍ

په رنګ مُتیازے لکه اوبۀ دی
په خوند په بوئ کښے د اوبو نۀ دی
لکه چه مخ وینی څوک په اوبو کښے
هسے په دے کښے د مخ نیدۀ دی

په خصلتونو کښے عدل انصاف بنۀ دے
له بنوله بد و سره زړۀ صاف بنۀ دے
چه څوک د غابن مات کا تۀ ئے هم غابن ماتۀ
کۀ عذر خواه شی غابن ئے معاف بنۀ دے

په پوهه ډک دے هر یو زړۀ لے
وڅان ته نۀ وائی هیڅوک غوږۀ لے
هغه چه خر پیائی یاچه حکمت وائی
هر یو فلک دے سره سر سوے

په تن هډونه رګ وریشه ئے
په دا کۀ ګورے یو دوه پشه ئے
خوئ د ددانو د حیوانو پریږدۀ
کۀ تۀ سړے ئے په اندیشه ئے

پند د سړی دے سړے د پند دے
پرے به پوهیږی چه دانشمند دے
سړے په پند نیسی څاروے په بند نیسی
وهر سړی ته دا کار څرګند دے

پښتون په اصل سَړ بنے دے
یاغور غشتے دے یا بیتنے دے
لودی غلجے دے د بپټنی له لوړه
په سړه بن پورے بیا کړلے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دا خبر شه چه سړے څۀ دے
سړے د غشی کړه دُرمه دے
چه بے اُستاد وی لا غشے نۀ دے
چه بنۀ ئے سازکا سړے هالۀ دے

په رنګ په حُسن په څو نادره ئے
بنیوه غمزے لرے څوجلوه کړه ئے
له خپله یاره څو زورَوره ئے
خوچه پخلاشے بیا مَروړه ئے

په عطرو ډوبه هغه خوش رویه
راغله ناګاه له یوۀ سویه
تمامه شیه ئے را سره تیره کړه
سپیرے م ډکے دی دَدے له بویه

په ډیره پوهه کۀ بو علی دے
چه جود ئے نشته احمق جلی دے
کۀ کلمه لولی عقل ئے مۀ کوړه
چه څوک ئے نغن خوری هغه ولی دے

په قد د سروِ تر ونے بوک ئے
په رنګ په اصل په خوئ ملوک ئے
کمے دِ نشته په شش و پنج کښے
په چار په هرځۀ د زړګی څوک ئے

په دا به پوهه شی هغه چه کس وی
ډیرے رمے لړه یو شرمخ بس وی
چه یو بخړے د اور پیدا شی
په مخ ئے وړے انبار د خس وی

په دا دُنیا کښے بنے خوږے مینے
بد رنګے ترخے شی کۀ تۀ ئے وینے
نورځۀ ئے مۀ کنړه واړه مقصود دے
ترخوله وباسی ترخے شیرینے

په استخفاف د بادشاه دولت بائلی
په استخفاف د مُلاجنت بائلی
په استخفاف د چهار یارانو
هم مؤدت بائلی هم مروت بائلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په سپین ویښتۀ م په زړۀ سرور راشی
بډیره چه سپینه شی په مخ کښے نور راشی
غم د ځوروالی په زړۀ هالۀ راشی
چه په غابنونو په لیمو فتور راشی

په خپله پوهه کۀ ذو فنون وی
وئیل چه نۀ منی پکښے جنون وی
دولت ته ورسی تینګ ئے ونۀ نیسی
قابل ئے مۀ ګڼه چه په رائے زبون وی

په کارد علم عالمان مونږے
شیخان په کارد شیخئ ځان چونږی
دا واړه هیڅ دی ځما په پوهه
ګوره څوک ورشی په مخ مخ رونږی

په عاشقانو څوځو خبرے شی
ورته لښکرے شی تورے شی زغرے شی
چه عاشقان دی چه صادقان دی
عشق به ئے ګله له دله لرے شی

په باغ چه ګرځ شی چه ترے وتونی وی
کۀ لون لون میوے خوږونی وی
کۀ هرڅو وخوری ګلونه بوئ کړی
خو عاقبت به ورځنے تلونی وی

په ښایسته ؤ چه مبتلا وی
بے فکره کله خلا ملا وی
بے مینے مۀ شے مئین هم مۀ شے
دا دواړه توکه ألا بلا وی

پاکی چه راشی په هغه کور کښے
بلائے وُسیږی نوره په اور کښے
یوسفؑ چه پاک ؤ ځکه بادشاه شو
څۀ شوکۀ بند ؤ و ناحق په تور کښے

په شپه آرام شی په ورځ هر کام شی
په ما دا کله په صبح وشام شی
په شپه په ورځ دی د عشق غمونه
آه و زړه م سره ډ ام شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په مخ کۀ هرڅوصاحب جمال وی
ننه په زړۀ کښے اَفعی افعال وی

کۀ زړ تسبیح لولی باور پرے مۀ کړه
نیځے ږم واړه دَ مکر جال وی

پلار مورکۀ هرڅو نِکو فرجام وی
په بد فرزند پورے خجل بدنام وی

فرزندکۀ ښۀ وی خدائے کامران لره
دَ بد فرزند دِ زهر په کام وی

پرین کۀ ښۀ وی په کاروبار کښے
نۀ ډیر فکرونه نۀ زړغه په کار کښے

زړغه نامردکا له کاره پاتے شی
مرد ټول اختیار وی په زیست روزګار کښے

په رنګ په خوئ کښے سره پرخے وی
په مرتبو کښے سره نیرے وی

یو سیند بل پورے لکه لښتے وی
یو غر تر بل پورے لکه غونډے وی

پیوند دَ زړونو عجب پیوند دے
په قطره غوښه وبله بند دے

خوچه وفا وی هومره ټینګیږی
جفائے پرے کا کارئے څرګند دے

په باغ په راغ کښے کرل هرڅۀ شی
په خپل خپل اصل بیا واړه وشی

کۀ لویول ئے په شودو پئ وی
مولئ مولئ ده نورڅۀ به نۀ شی

په باغ کښے ډیرے ونے ولاړے وی
چه ښۀ ئے ځیرکړے په خوخوغاړے وی

پلنے نرئ کورے نا کورے
ځنے په پورته بنا ښته ولاړے وی

په دا جهان کښے چه څو غمونه دی
خوخوخوارئ خوخو ستمونه دی

واړه په بخره دَ عاشقانو شول
بخرے له ځایه په قلمونه دی

POHA
بوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پاداش د هرے چارے تیار وی
کهٔ نیک کردار وی کهٔ بدکردار وی
چه ترس د زړهٔ لری داکار به بنهٔ لری
خوبے پروا وی هومره ئے زار وی

په زړهٔ کښے څرپیکه د بنکاری لاړه شی
هے هے نارے وهی بوبره ئے غاړه شی
چه سره ونښلی د بنکار بانرونه
زرکه د دواړو له منکلو لاړه شی

پرے م سلام دے جرګے چه پنډے شی
زړهٔ م هورے دے هورے چه هنډے شی
خوشحاله زوړ شوے قرار ناست اوسه
پښتون چه زوړ شی د نغرې د څنډے شی

پند د نیکخواه دے خدائے دے بنهٔ لری
ورمون د نیکو نیکان په زړهٔ لری
هوښیار لازم دے چه خطائے وے
نادان معذور دے چه عقل نهٔ لری

پیوند د مینے هم تینګ هم سست دے
جفائے پرے کا په وفا درست دے
ډیرو مانه په جفا پرے کړ
اوس خو د لږو څخه آمست دے

په سړیتوب کښے واړه یکسان دی
کهٔ مومنان دی کهٔ کافران دی
ایمان د چا دے د مومنانو دے
ایمان ئے نشته چه کافران دی

په چاچه عدل یا ستم کیږی
هرڅائے چه بیش وباخهٔ کم کیږی
بے ځایه هیڅ نهٔ دی واړه په ځائے دی
یو آزمیښت دے په عالم کیږی

په هره چارچه همت بسته شی
تیرهٔ خارونه هم کلدسته شی
کهٔ بے همتی ئے په لاس واخسته
د هغو برخه خواره خسته شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتانۀ واړه لکه ماړونه دی
مغل دم کړی په خپل کارونه دی

چه په مارونو کښے لوئے مار پیدا شی
پسے ئے غواړی کۀ په غارونه دی

پسرلے چه راشی یا پشکال شی
دَختک زونی شیخان خوشحال شی

شکرانے اخلی دَ باران وعدے لی
په دې وغړ نو وعدو نهال شی

په داجهان کښے کۀ خرابئ دی
یا ناحقئ بے حجابئ دی

یوه به نۀ وی دَهوښیار له لاسه
دَ نادانانو دَ شتابئ دی

پرے مِ سلام دے هغه چه مۍ خوری
خدائے دار وکړه کۀ په دودئے دَ خوری

اول خلوت بویه بیا بنۀ صحبت شه
مۍ په صوت دَ چنګ ونے خوری

په خو دَ ځان په بنیوه بیدارئے
ویښتۀ دِ کوز شی هم پرے آزارئے

فکر دَ کور دَ خوارئ نۀ کړے
بند بند به پروت وے ناپروا دارئے

پریږده پرے سترګے دَ وږیو وُوځئ
باندِ پراتۀ وُسی وږی سرکوزی

لوئے نمړئ دَ ډک طباخ وی
دوئ دی خوړلی دَ طباخ څخونږی

په خو ولئ وائے لرے چه لږ بیمار شے
پروا دِ نۀ وی چه چاق تیار شے

هیڅ ئے نا بودے چه بنۀ مِ ولیدے
غفلت خوار کړے کۀ خبردار شے

په هره ژبه سخن سنجان دی
دَځان په فخر پاک دَ سبحان دی

په خولۀ ئے ذکر په زړۀ نور فکر
فساد دَ دور دا نا شیخان دی

POHA
یوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په شمار م خویه ترشپیتهٔ زیات دی
نیمکی به مړهٔ وی نیمکی حیات دی
چه راځرګندشول په کاروبار کښے
تردے ژوندیو بهتر اموات دی

په رنګ په شکل ښائسته میورے
په زړهٔ سنګینه نا ترسه کورے
یا ران ډیرخوښ کړے بیلے ډیرخوارکړے
دارو د زړونو د زړونو زورے

پنځه ډګوتے دی کهٔ یوه نهٔ وی
د نورو کو توچار به ډ څهٔ وی
د لاس خوبی ده په پنځه ګوتے
چه سره جوړے وی کار به ډ ښهٔ وی

په رنګ په حسن تازه بلوخه ے
په تن کښے سپینه ترتازی پوخه ے
ترسر تر پایه کمے ډ نشته
په ښو خبرو څهٔ خبرلوخه ے

په خپلو اوښکو کښے سړے شنا ښهٔ دے
له هره هر سړی سره آشنا ښهٔ دے
کهٔ کل له نورودی اغزی له یاره دی
منت ترهرڅهٔ د خپل آشنا ښهٔ دے

په ما دا عدل کهٔ دا ستم دے
چه غم په ما باندې په هر هر دم دے
واړه م خپل دی پردی څوک نهٔ دی
چه ے له ما سره دا هومره غم دے

په سوات وریږی په سمه شین دے
ترغړهٔ به کوزشی لانماز پښین دے
بټ د تالی د عبدل لښکرے
خوشحاله زړهٔ ډ له واړوشین دے

په رنګ کهٔ حوره ده پرے ګرفتارمهٔ شے
چه خوئ ے بدوی د ښځے یارمهٔ شے
خوشحال ته کوره چه یوهٔ یار لری
له بده خویه ے تهٔ خبردارمهٔ شے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صحبت په سرطان کښے په مزری په وږی
لیندہ ورغوے صحبت هم زیان لری

مرد به خپل ځان ژغوری ځماله نغوږی
په دا منزل دِ په بهار کوږی

په عاشقانو آرام حرام دے
په عشق کښے شرم په ننګ کارنۂ لری

عاشقۂ مۂ بوله چه په آرام دے
دَدواړو توکو یوخالی جام دے

په دا خبره هر څوک خبر دی
تاغوندِ کله هوسۍ دَمښکو دی

تراوریدلو لیدل بهتر دی
مښک دِ دَ زلفوکۂ برابر دی

په تن سیمینه ۓ په رنګ رنګینه ۓ
زهٔ دِ مجنون یم کهٔ تهٔ لیلیٰ ۓ

په لب شیرینه ۓ په مومشکینه ۓ
زهٔ دِ فرهاد یم کهٔ تهٔ شیرینه ۓ

په هرچا کوټه غمونه خپل دی
دور دَ چا دے دَ عالمګیر دے

څوک دی چه نن م په غم دَبل دی
لاس به په غوږ لری چه څوک عاقل دی

پنځه بارونه دی بردن ۓ غم دے
پنځه په نوړو دی په تادوه کم دی

ورمیږ دَ خلقو ترلاندِ خم دے
خوشحاله شکر کړه چه بارِ دِ کم دے

په دواړو زلفوکۂ عنبر بیزه ۓ
دا څۂ لا نورے خوبئ دِ پیرے دی

په دواړو شونډوکۂ شکر ریزه ۓ
بابادِ وُمره بلا سرتیزه ۓ

په لارچه دروم په مخ دلبر راشی
هسے دَکښلیو په دیدن خوښ یم

یا بنهٔ څۂ بیاموم یا بنهٔ خبر راشی
لکه په خوارو باندِ اختر راشی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پاسه یا کوزے دا کارسازئ په څوخورنګه دلنوازئ
آسمان ته ګوره مزکے ته ګوره داچارے نۀ دی لوبے بازئ

څښتن دَ خونے چه بے تدبیر وی وینځے مریونه ئے وتیښت ته خیروی
یائے ډیرمست کا هوائے نوره شی یائے ډیرخوار کا لکه اَسیر وی

تازی چه نۀ نیسی کوټه چه نیسی خلق په بنۀ نظر کوټه ته کسی
تورزن پخپله خپل ځان په قدر کا چه تُورے غشی په ځان رانیسی

تورے دِ زلفے دی تور دِ اوربل دے مخ مِ دِ ولیدۀ لکه اوربل دے
هم تور لوګے دے هم سرے لمبے دی دَ غوښتو نه پرۀ مِ پکښے قبل دے

تل خاموشی کړه چه تل بے غم وے طمع له چا مکړه چه به ترجم وے
خوښ په هُنر اوسه خوښی په مال مکړه هسے کارونه کړه چه بے ندم وے

تربازنه نور نور مرغونه کټ دی هُنرچه نۀ لری ځکه څوهټ دی
خپل کار څرګند کا په دا دوه ځایه مردان دَ کوټے بنځے دَ کټ دی

ترلعلو دُرو عقل تمیز بنۀ دے دَ بل ترمُهرخپل یو پښیز بنۀ دے
چه خبردار دی دَ صحبت په علم ترڅو ادبے خبرے تیز بنۀ دے

توبه هالۀ بنه ده په ګناه چه لاس رسی چه لاس په هرچرته په کوزو یاس رسی
چه لاس ونۀ رسی توبه څۀ سود لری خالی خبرے په خولۀ دَ پاس رسی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ چه بادشاه د سمن رویوئے
تر سر تر پایه ګل ئے سنبل ئے

غوږه دلخواهه د سنبل مویوئے
بدچه په نغوته د څوبدخویوئے

تهٔ به هیچرے د آس په یون نشی
اصل په هرڅهٔ کښے خپل ځان څرګند کا

په تُوره هیڅوک لکه پښتون نشی
خوند د مترو به ګندم ګون نشی

تل تل تل م ورپسے غم دے
چه نهٔ ئے وینم په سترګو تورو

مینه ئے ډیره راحت ئے کم دے
دا جهان واړه په ما تورتم دے

تری کهٔ بد دی خو بیا هم بد دی
بولاق کهٔ هرڅو خټک یا دیږی

هرچه هم بد دی هغه ا مجد دی
د سباکئ د لوریه بد دی

تهٔ اوم سبوئے تر څرخ وتلے
کهٔ چیرے وُوزے د اور له تاوه

د اور تر تاوه نهٔ ئے خټلے
نوم به د اُوم وی له تانه تللے

تر سر تر پایه چه سړے ساز دے
سړے هغه ګنړه چه خپل ځان پیژنی

فهم کهٔ وکړے درست سره راز دے
چه بے خبر دے یو تش طراز دے

تازی چه زوړشی په قدر خرشی
زوړ د دماغ د ځوانئ نهٔ کا

مزړے چه زوړشی تر شغال بتر شی
په دا وئیل د هرڅوک خبر شی

تر ظل کښیمنے د هغے وُنے
نهٔ یوه وُنه باغی په غولی

چه ئے نهٔ ستهٔ نهٔ پانړے ونے
نه ډیرے وُنے پلوسے غنے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تاچه پیدا کړۀ دا اوۀ ستوری
چه ستا په حکم و بلۀ شوری

په شوریدۀ کښے ډیر ډیر کارونه شته
راندۀ ئے نۀ وینی بینائے کوری

توانګرهغه دے چه قناعت لری
نۀ چه بارونه یا بضاعت لری

چه خوئ خصلت ئے د سړی نۀ وی
یو ډد ئے وګنړه کۀ شجاعت لری

تل تل چه غورزی دا سعد ستوری
د هنرمندو په طلب شوری

کۀ چیرے ورشی په بے هنرو
ځنے د تللو درواړه کوری

ثابت په ماکړه ګناه مهروئے
لاله عذارے عنبرین موئے

له هغه پسه ټوره ږاواخله
وینے ځما د ګردن کړه توئے

جنت د چا دے د صادقانو دے
دوزخ د چا دے د کاذبانو دے

قرآن چه لولی کذاب عذاب مومی
ثواب بے حده کۀ د قرآن خوانو دے

جنت د چا دے د حق شناس دے
دوزخ د چا دے د ناسپاس دے

کاندۀ به نورے فتنے پیدا شی
کارکړه کۀ کارکړے چه نن دِلاس دے

جنګ د هاتی د مزرې آسان دے
د خپلے ژبے آفت لا ګران دے

چه خپله ژبه ئے په خپل فرمان کړه
هم ئے رستم ګنړه هم لالقمان دے

جنت په څۀ کښے دے په خوشحویئ کښے
دوزخ په څۀ کښے دے په بدګویئ کښے

چه نیت ئے لوئے دے هغه خدلئے لوئے کا
کمے ئے نۀ وی په دا لویئ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جهان کمر دے د څخلئے
لکه چه ژغ کړے هغه به واؤړے

فعل د ژغ دے ژغکړونے تهٔ ئے
راشه خبر شه کهٔ خبر نهٔ ئے

جهان کهٔ واړه سره سور اور شی
کهٔ سمندر غوندِ په اورکښے کارنهٔ کا

کمان ومهٔ کړه چه عارف نور شی
عارف ئے مهٔ کنړه مخ دِ ئے تور شی

جهان کهٔ واړه سره اوبهٔ شی
یوه بیړئ چه څوک رښتونے وی

دا دوه بیړئ به ډوبے نهٔ شی
بله چه وښی په چا ماړه شی

جهان د رست ډک شو د ناحقئ
چه څائے پرے نهٔ نیسی شوری بشوئیږی

لکه پیمدلے اوښے په مئے
د سردا نه ئے خوشحاله تهٔ ئے

جونه چه نهٔ وی وادهٔ لاحُورِ وی
چه سرئے سپین شی مخ ئے بے نُور شی

اولاد چه راوړی آدم دستورِ وی
یوه پیرئ درته حضورِ وی

جدا چه نهٔ شی ترے اوسپن خړے
په څهٔ به سازه شی ترے تیره تُوره

ترے پاتے نهٔ کا د پوندے زړے
فکرِ دِ بنهٔ وُکا اُستاذ څوئ مړے

جهان د چا دے چه څوک تورزن وی
ناستے دِ دے د علم ترسیوره کا

داد و دهش کا په نوم مئین وی
چه څوک د علم د ورع څښتن وی

څوانی ډک جام دے په پیرئ آوړی
پیری یوازے په هیچا نهٔ راځی

بقائے نشته په وار وار واوړی
څوخو عیبونه ورسره راوړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ځان وجهان لره پکار سلوک دے
ملوک دِ بنهٔ وائی پوچ پوچ دِ نهٔ وائی

ملوک چه بنهٔ لری سخ دَ مملوک دے
دَ ملوکانو کلام ملوک دے

ځائے او مسکن دِ دَ کارگهٔ گلشن نشی
حسن هغه دے چه اصل ذات لری

کمذات سړے دِ دَجاه څښتن نشی
دَ سپاندِ گل به گل د سمن نشی

څنے خبرے په تکلف کیږی
څنے خبرے په بله ژبه

څنے خبرے په تأسف کیږی
لکه یعقوبؑ ته قال دَ یوسفؑ کیږی

څنے په علم په دُنیا مستی لری
څنے په تُوره په غزا مستی لری

څنے په زهد په تقوٰی مستی لری
خوشحال په کوم توکی دا مستی لری

څنے کهٔ وینځے وی لکه میرمنے وی
عقل هُنر بویه په آدمزاد کښے

څنے میرمنے دَ وینځو کنے وی
میوه چه بنه لری قدر دَ وُنے وی

څنے په عقل په هُنر دولت مومی
یو په دارو دَ طبیب رغیږی

څوکۓ په جهل په حماقت مومی
بل بے طبیبه شفا صحت مومی

څنے خپل جیش لښکر حشم کسی
څنے خپل علم هُنر قلم کسی

څنے خپل لعل وگهر نعم کسی
څنے خپکه هغه صنم کسی

چه سړے خوږ نشی سړے چه داغ کښیږدی
له چاچه جنگ کړے روغه په زړهٔ لره

هرڅوک پوهیږی څان ته بلا بلیږدی
هوښیار په جنگ کښے دَ روغ څائے پریږدی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه نهٔ دَدین دے نهٔ دَ دُنیا دے
هغه کهٔ کرځی پکار دَ چا دے

پریږده چه وُمری جهان ترے خلاص شی
په داجهان کښے یوه بلا ده

چه نن دِ یار دی کاندہ اغیار دی
کاندہ اغیار دی چه نن دِیار دی

خدائے دے چه دا زړه نه سره جارباسی
دا زړه نه کله په اختیار دی

چه نهٔ طالع لری نهٔ مصلحت لری
دولت به بائلی کهٔ ډیر دولت لری

چه شکر نهٔ لری کله نعمت لری
چه صبر نهٔ لری کله حکمت لری

چه قدر نهٔ لری دَ بادشاه دَ مینے
تړے به ئے نهٔ کا په خدمت کښے وینے

هغه نوکر دِ بنادی ونهٔ کا
هرځهٔ به بائلی کهٔ تهٔ ئے وینے

چه څوک ئے سمه کنړی کږه شی
چه ئے کږه کنړی سمه هغه شی

دخل دَ چا دے دَ خدائے په کړهٔ کښے
په حال خبر شه چه څهٔ دِ زده شی

چه غم ئے نهٔ وی دَ نیکنامئ
وارهٔ ئے مخ وی په خود کامئ

نهٔ به ئے دین وی مهٔ ترے وفا غواړه
هرځهٔ ئے هیڅ وی په دا خامئ

چه ئے په کور کښے لائق فرزند وشی
کرم له خدایه په سړی څرګند وشی

قابل چه نهٔ وی په هغه کور کښے
دولت ئے هیڅ دے کهٔ چند در چند وشی

چه زړهٔ له تانه دَ چا بنهٔ کیږی
بنهٔ کړه دُعا کښته دُعا قبلیږی

آزار دَ هیچا دَ اخستو نهٔ دے
نصیرے دَ خُوښو د زړونو لګیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دم ئے نۀ زده د اوښکئ
نادان دے پریږ. ده وربانډمۀ ږده

د اژدها نیسی لوبیه لکئ
د نصیحت د صابون چکئ

چه رابنکارۀ شوه یوه سړئ
د زړۀ بنند نه آسانه نۀ ده

زړۀ دم پرے باتلو هغه کړئ
بے ځایه څوک بندی یوه د مړئ

چه نۀ ادب لری نه عقل رائے لری
چه بے ادب وی آدم ئے مۀ کنړه

دوپائے لیدۀ شی خوئ د چارپائے لری
څۀ شوکۀ شکل آدم نمائے لری

چه درست کلزار دے د اتفاق دے
خارډ په بخره د خار کشانو شی

چه درست خار خارډ کنده نفاق دے
هوښیار د کلو د کلزار مشتاق دے

چه رنګ و بوئ لری کل کل هالۀ شی
چه نه ئے رنګ وی نۀ ئے بنۀ بوئ وی

پرے د بلبلو غلغل هالۀ شی
ورځنے پاتے بلبل هالۀ شی

چه تا څوک وویني مهربه څۀ وینې
عاشق څۀ وینی چه تا ونۀ وینی

مهربه څۀ وینی چه ت څوک وویني
چه تا ونۀ وینی عاشق څۀ نۀ وینی

چه ذات ئے بد وی اصل ناپاک لری
زاغ و زغن کوږۀ بلبل طوطی کوره

کنده په فعل کنده په ژوک لری
خپل خپل پرواز کا خپل خپل خوراک لری

چه جنګیالئ لری بنځه په کور کښے
بنځه حلیمه بنه ده خوش خویه

دهغه کس وی ژوندون په ور کښے
بده به تل وی په شر وشور کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه زرئے ونیسی زرئے بیا پریږدی
خو یو نامرد به وی زړهٔ بهئے ریږدی

یا دِئے زلفے په لاس کښے نهٔ نیسی
یا دِئے ونیسی سر دِ پرے کښیږدی

چاته چه چاه کنے په چاه کښے پریوزے
بلاچه غواړے په بلا کښیونږ ے

په څوبه روغ وُسے دا فکر نهٔ وکړه
په پرا نګ پرهار وکړے بیا ورپسے وزے

چه څوک ئے کاندی کله یارئ دی
یاخودکامئ دی یا عیارئ دی

چه بنے مِ څیر کړے دا بهترئ
یا ویزارئ دی یا اغیارئ دی

چه نادانان دی چه فاسقان دی
یودم کار وکا بیا زړ پښیمان دی

چهٔ په کار کښے پښیمانی نشته
یا عاقلان دی یا صالحان دی

په هرسیرت په وجود غالب دے
په هغه رنګ ئے حشر واجب دے

حریص به خوک وی حاسد به کرک وی
په رنګ دَ دواړه وخبر طالب دے

چه کاهلان دی چه احمقان دی
دولت به بائیلی کهٔ بادشاهان دی

دولت دَدین دَ دُنیا دَ چا دے
چه هوښیاران دی په کارچسپان دی

چه تنګه خولهٔ لری اوږدهٔ بانړهٔ لری
تورے ئے وروځے ملال کاتهٔ لری

نورځهٔ ئے مهٔ کنړه څما په پوهه
ترسر تر پایه به صورت بنهٔ لری

چه کښینی آوری فریاد بنیږے لری
دَ زړهٔ دَ آه تورے تیارے لری

پیر به په هرچا په وار وار راشی
اندوه دِ نهٔ کا آسمان پیرے لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چینه جیحون نۀ ده غونډۍ به غرنشی
شمع قمر نۀ ده سها به نمر نشی

که اوښکۍ په رنګ د مار ده
بیا اوښکۍ ده بیا به اژدر نشی

چه ننګیالی دی دولت هغه مومی
چه ننګیالی دی عزت هغه مومی

دا دواړه توکه سره تړلی دی
څوک چه محنت کا راحت هغه مومی

چه نۀ طالع لری نۀ مصلحت لری
دولت کۀ غواړے چه بدخصلت لری

دولت هغه دے چه درپسے درومی
چه ورپسے زغلے بلا آفت لری

چه ئے دروغ نۀ دی چیرے وئیلی
چا ته ئے نۀ وی په بد کتلی

هغه به هیڅرے خواری بیا نۀ مومی
عزت دولت به ورپسے زغلی

چه ئے ربنتیا نۀ وی بل ئے اخلاص نۀ وی
هغه به هیڅرے له غمه خلاص نۀ وی

دولت د دین دے که د دُنیا دے
بیا به ئے نۀ مومی چه خاص لخاص نۀ وی

چه خوئ ئے نۀ وی جمال زیبا لری
لکه بنۀ لوښے خالی غوغا لری

بنۀ مخ په مثل لوښے د زرو دے
بنۀ خوئ په لوښی کښے خوږ حلوا لری

چه نۀ ئے ننګ وی نۀ ئے فرهنګ وی
نۀ ئے بنۀ اصل نۀ ئے بنۀ رنګ وی

زړ د په توره خاورو کښے پټ شی
ژوندون ئے مۀ وه چه ځلۀ ئے پرے تنګ وی

چه نۀ ئے دین وی نۀ ئے دولت وی
نۀ ئے په علم بنۀ خوئ خصلت وی

سړے ئے مۀ بوله یو کاؤ خر دے
د کاؤ خر به په څۀ برکت وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د بدانو سره مقیم شی — که بیمۍ نهٔ وی هغه په بیم شی
ضرب المثل دے د دانا یا نو — دشمن چه دوست کړے دوست دِ غلیم شی

چه قبول نړهٔ ته د چاچاربډ شی — چارۍ نوربده تل تر ابده شی
روپئ چه قلپه شی یوهٔ صراف ته — هغه روپئ په هرچا رده شی

چه د بزرګا نو خفت آسان ګنړی — هغه خفت دِ آفت د ځان ګنړی
لږے بلا به ورباندِ ورنهٔ شی — جوړ دِ زړګونو بلا ته ځان ګنړی

چه م په غیر کښے ساعت هم دا دے — بیلتون دِ بلے لمبے په ما دے
پاسه وردرومه په سردِ ویره کړم — نړهٔ ۓ صبا ګنړم وخت د صبا دے

چه غرد سرو زړو د سړی خپل شی — مُهر ماسے ته ۓ کله کتل شی
چه بادشاهانو سره ناستے په تخت کا — دا نورځایونه ورته خجل شی

چه بد بنیاد وی چه بد نهاد وی — په هره چار کښے ۓ مایه فساد وی
د نیکئ چارے الف ۓ نهٔ نړ ده — په بده چار کښے کامل اُستاد وی

چه خوند دِ راغے د آشنایئ — ګران ۓ د ستړګو تر سره وښنایئ
دُعا به دا کړم په پنځه وخته — چه درد دِ نهٔ وی د جدایئ

چه د تازی سره د تهتو رنګ وی — کله تازی غوندِ په لاړے ټک وی
رنګ ته ۓ مهٔ ګوره عمل ۓ ګوره — کهٔ سپین کهٔ سُور وی کهٔ تور کهٔ بُرک وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے څکلی د مغلو مزے دی
دَدے په غارد ډیرے بزے دی

په بنکار د چادی د پښتنو دی
نورځلئے مهٔ کړه لکه خزے دی

چه پوزه نهٔ لری غوږ ونه نهٔ لری
شرم اندوه به له بیانه څهٔ نهٔ لری

رنګ ئے ومهٔ وینے سترئے بنهٔ دے
که رنګ بے غوږو بے پوزے بنهٔ لری

چه د کهترو جفا په ځان وُړی
کهتر به کله د مهتر فرمان وړی

سزا د وخته د کهتر بو ییه
که نهٔ مهتر به په زړهٔ ارمان وړی

چه را په یاد شی د نفس بدئ
لائے تراوسه د غم غدئ

څوانی لا پریږ. ده په سپینه ږیره
فریاد فریاد دے هومره بدئ

چه ورکول کا چه کرم کرد وی
اسراف کهٔ نهٔ لری هاله درست مړ وی

هغه درویش نه دے چه دُنیا نهٔ ساتی
درویش هغه دے چه ترے دل سرد وی

چه زر د غم شی هسے زردار مشے
چه زر د هیڅ نهٔ وی هغه بیشکه رښتے

په دالاس راشه په دالاس درومه
د لږو ډیر په حساب په شمار مهٔ شے

چه ئے له چاکنړے لاتهٔ ولی نهٔ ئے
کامل د خدائے په پرزند کلئ نهٔ ئے

احوال ئے وکوره په تواریخ کښے
خوشحاله صبر کړه به ترعلی نهٔ ئے

چه کښت اوبهٔ غواړی اوبهٔ بیانهٔ موی
له هغه کښته به کتبه څوک څهٔ موی

د هرے چارے یو وخت یو وار دے
کل په تموز کښے کهٔ تل وبهٔ نه موی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه بخت ئے تور شی عقل ئے نور شی
مخ ئے په بدو په شر و شور شی

د بدخواهانو ویل پرے بنهٔ لګی
د نیک خواهانو ویل پرے اور شی

چه رښتیا نهٔ لری نهٔ ئے اخلاص وی
زړهٔ دِله هسے یاره زړ خلاص وی

چه دے خو نه ړهٔ دے په درست وجود کښے
ور کړے بویه وچاچه خاص وی

چه ترس د خدائے لری مړک ئے په یاد وی
زړهٔ به ئے کله په ظلم بناد وی

تل به ئے مت وی په بنو بنو چارو
مخ به ئے هر کله په عدل و داد وی

چه درپسے زغلی هغه دولت وی
چه ورپسے زغلے هغه زحمت وی

قابل هغه دے چه د چا منت نهٔ وړی
په ناقابل باندِ ویل منت وی

چه لاس مِ نهٔ رسی غلیم مِ یار دے
چه لاس مِ ورسی غلیم مِ پلار دے

دا پند به نهٔ موے په شاهنامه کښے
په شاهنامه کښے که پیر اسرار دے

چه عاشقی کا خوشحال دِ وپوښتی
له شرم و ننګ دِ په کروهونو تښتی

ترمال دِ تیر شی ترسر دِ تیر شی
چه عاشقان دی ترلوئے کمر غښتی

چه نهٔ ادب لری نهٔ اهل رائے دے
دوپائے لیدل شی په خوئ چارپائے دے

سړے په خوئ سره سړے لیدل شی
په رنګ په شکل سړے د خدائے دے

چه رباعی د خوشحال خان دی
د لاجوردو غشیو په شان دی

تیر ګر کهٔ هر څو غشے بنهٔ روغ کا
پروازئے بویه کهٔ پرے وران دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه خپل نسرخرخ کا بهائے واخلی
چه ئے مداروی مولائے واخلی
که ئے صاحب وته بلا پیدا شی
نمک حلال دے که بلائے واخلی

چه درست په مشک په عنبر کښے ډوب وی
چه په کنډ کئی ککړ شی خوب وی
قرآن چه لولی هر کوره بد کا
چه بیا په فسق وفساد معیوب وی

چه عالمان ئے په تور وسپین وینی
چه درویشان ئے په علّیین وینی
د عارفانو علم څه نور دے
ترعرشه فرشه په خپل یقین وینی

چه کار پرے پیښ شی په جز په کل کښے
مردان نه تل وی په توکّل کښے
په باغ کښے نور نور مرغی میوے خوری
بلبل نظر لری د باغ په کل کښے

چه ستا خوبی غواړی دغه دِ یار دے
چه ستا خواری غواړی هغه اغیار دے
چه ستا په غم خوښ شی صرفه پرے مکړه
بیا به ارمان کړے که دِ خپل وار دے

چه څان غواص کا گوهر هغه مومی
چه بے ننګی واخلی دلبر هغه مومی
دا کار ډم څوځله په څان راغلے دے
ترسرچه تیر شی ظفر هغه مومی

چه هره چارئ په روایت وی
د هغهٔ برخه د ولایت وی
بیهوده نهٔ آوری بیهوده نهٔ وائی
غوږئ د نیکو په هدایت وی

چه عقل ئے کم وی کله آدم وی
کله آدم وی چه عقل ئے کم وی
چه عقل ئے کم وی تل باندِ غم وی
تل باندِ غم وی چه عقل ئے کم وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دُر وکاږی ویره دِ پریږدی
یا به راوکاږی کوهر له یمه

خالی به ووزی کَه زړهٔ ئے ریږدی
یا به داخپله کله پرے کښیږدی

چه خپل حرم ساتی خدم حشم ساتی
ادب دِ ډیرکا دَځویږ ورونړ و

بویه چه واړه دِ محترم ساتی
چه بے ادب شی وځان ته غم ساتی

چه ډیرے ونے لښتی کم آب لری
نصیب زهٔ هسے په پیچ وتاب کړم

څښتن دَ ونوخهٔ پیچ وتاب لری
ما به ترکومه په دا عذاب لری

چه بد بنیاد وی چه بد نهاد وی
هرچه زوړلی دی دَ فساد دپاره

دَمور په نس کښے په بلا یاد وی
څوچه ژوندے هم دَ فساد وی

چه رابنکاره شوے یوځهٔ نکارے
څومِ په تا باندِ مینه زیاتیږی

څهٔ جفا کارے کهٔ پرے وارے
تهٔ راته غابن چیچے هسے خونخوارے

چه بد اندیش وی چه بدآموز وی
کهٔ تهٔ لوئی غواړے لوئی په چامهٔ کړه

چه بدکوئی لری واړه بدروز وی
نیکان په دواړه کونه فیروز وی

چه دین دُنیا کتې دانا فرزند وی
اوبهٔ به نهٔ څښی دَ پلار بے حکمه

غوږ به ئے هرکله دَ پلار په پند وی
تهٔ به ئے پورته شونډے په قند وی

چه نهٔ ځوانان لری نهٔ زر نهٔ شولے
کهٔ دلے واړه وی کهٔ ځوانی نهٔ وی

هغه به ولے زورَور بولے
زَمَه بوډئ وچاته پسولے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه سپینے پئ سره غنم وی حرم حشم لری آرام ئے هم وی
چه شکر نهٔ کا په خپله بخره دهغهٔ بخره د مار لرم وی

چه حرص ناک وی یا ترسنده وی یاری له دواړه سره کنده وی
دا به دِ پریږدی په تنکسه بلا ته بتر تر دانه شکم بنده وی

چه غم ئے نهٔ وی د بدنامئ واړه ئے مخ وی په خود کامئ
دا رنګ سړے کهٔ دِ خوئے رور وی څنے ویزارشے په دا خامئ

چه بنهٔ صورت لری شرم عفت لری واړه د دین د دُنیا دولت لری
چه بنائسته وی عفت ئے نهٔ وی څهٔ قباحت لری څهٔ قباحت لری

چه بنکار په کور کښے ورته تیار وی دَ چا به ولے د صحرا بنکار وی
په باغ و راغ کښے د بهار ګل څهٔ کا چه ئے په کور کښے تازه بهار وی

چه څوک دُنیا لری په ځان ئے نهٔ خوری د کور غه تورے خاورے دِ وخوری
چه مال ئے پاتے شی وبل حریف ته چه ئے له خپلو یارانو بنهٔ خوری

چه اصل بد لری ځائی بدخو وی یار نګ بنهٔ نهٔ لری ځائی بدرو وی
دا دواړه توکه به هیڅوک بنهٔ نهٔ کا کهٔ کرامت دے کهٔ ئے جادو وی

چه فهم درست لری هوښیار هغه دے چه فهم سست وی حمار هغه دے
او بهٔ چه لږے وی آبدست پرے نهٔ کیږی چه پرے پاکی مومی رود بار هغه دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دانسته دروی چه آهسته دروی
فتح هغه مومی نصرت هغه مومی

چه کاهلی کا یا د یر تلوار کا
نامرد هغه نومی ناکس هغه نومی

چه د یر یاران ئے ترنظر تیر وی
اخلاص ترے مۀ غواړه لباس ئے پیروی

په مخ کۀ هرخو مهر خندا کا
چه درته شاکا واړه ئے هیر وی

چه پکښے بانګ د مسجد امام نۀ وی
په هغه کلی کښے میشتے مقام نۀ وی

په هغه کلی کښے قتل روا دے
چه هغه کلے به د اسلام نۀ وی

چه مورئے بنه وی بابائے بنۀ وی
بد بهائے خویه لونړه په څۀ وی

چه اصل بدلری بد به ولد لری
قحر به هیڅرے بے فتنے نۀ وی

چارے د دهر په هغه دستور دی
لکه په تورو په سپین مسطور دی

لاهم هغه دی چه پکښے ورکے
هومره لښکرے د سلم تور دی

چه شرم نۀ لری عیب ته نۀ کوری
لولئ بے شرمے دی څکه خپل ځان پلوری

هغه چه پاکے دی شرم حیا لری
زمۀ ئے فساد ته په لکونو نۀ شوری

چه بنۀ لذت غواړے نیش و آفت غواړے
نیش و آفت غواړے چه بنۀ لذت غواړے

چه محبت غواړے غم د فرقت غواړے
غم د فرقت غواړے چه محبت غواړے

چه څۀ پکار دی ختک تری دی
تر میری خیلو برکویټ بری دی

د یرے پیښے لری حیلے مکرونه
پښتون ئے مۀ بوله بولاق هندکی دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه وړځ دِ بنه وی دولت دِ یار وی
واړه وګړے دِ خدمتګار وی

چه وړځ دِ بده شی دولت پیر وُ کا
خپل ځویه رونړه له تا ویزار وی

چه نهٔ تدبیر لری نهٔ ځوانمردی لری
تل به په کار کښے د مخ زردی لری

پوندے ته اورسا وړه هنرچه ثوره شی
هغه سړے نهٔ وی چه دل سردی لری

چه نه لنګیږی نهٔ ئے ځوانی وی
دَهغے بنځے روزګار فانی وی

بنځه محبوبه ځوانه دینی بویه
چه زیست روزګار کا په بنادمانی وی

څهٔ ئے حیرانه سړیه څهٔ ئے
خاورے ئے بادئے اورئے اوبهٔ ئے

کهٔ یو دِ نهٔ وی په داځلور کښے
نور د ژوندیو په شمار ه نهٔ ئے

څوک چه ختلے په ملکوت وی
دَهغهٔ کله په کار ناسوت وی

فرقان ناطق دے په امر نهی
چه نهی نهٔ کا ځلئے لاهوت وی

څښتن دَخونے دَخوږوخوند غواړی
وینځے مړیونه دَخوږ وشخوند غواړی

نادان په بند دَچارے نظر نهٔ کا
هوښیار په هرے چارے کښے بند غواړی

څوغم غیرت کړے چه غلیم مِ نهٔ مری
قضا چه نهٔ وی سړے په څهٔ مری

نهٔ به تهٔ پاتوشے نهٔ به دِ پاتو شی
هیڅ بیړه مهٔ کړه هرڅوک به وُمری

څوآزموده نهٔ شی په کاروبار کښے
په صحبتونو په جنګ په بشکار کښے

هومره په ځویه په زور باور مکړه
ورانے به دردلی په لوئے لوئے کار کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه سره لوئے وُو په یوهٔ غولی وُکورته لاړل هغه همځولی
څهٔ په دا دواړو غوښو ونو آوسرم نارے دَ دیوچه ما هم بولی

چه څوک دِ بنهٔ یشی ورځنے بنهٔ وائے کهٔ دے بلاوی ورته لیمهٔ وائے
چه دَ زړهٔ مهر ورځنے مات شی کهٔ هرڅو بنهٔ وی ورته بنهٔ نهٔ وائے

څوک چه دُنیا غواړی هغه رنځور دے هرچه عقبا غواړی هغه مزدوردے
هرچه مولیٰ غواړی ترهغو زار شم هغه په دواړو کونو مسرود دے

چه پرے مئین وے کهٔ بد وُکوری پرے دِ وُوزی دَ ستړکو توری
ورته دُعا کړه کهٔ دے بښیرے کا ورته خندا کړه کهٔ دے دِ زوری

چه پس له مرګه سړے بنهٔ یاد شی کهٔ هسے خوئ کا په دادِ بناد شی
چه خوئ ئے نهٔ وی دَ نیکنا مئ ژوندون ئے هیڅ وی ژوندون ئے بادشی

چه څوک سوګند کا کارئے څرګند وی سوګند دروغو زر زر سوګند وی
سوګند به نهٔ خوری چه راستګویان وی دَ دروغڑ تو سوګند کمند وی

څوک چه ډوډئ دَ دهقانئ خوری خوارهٔ دَ حورو دَ مهمانئ خوری
چه ئے په ظلم خورے وارهٔ دِ زهر شه کهٔ شولانونه دَ سلطانئ خوری

چه ئے وهلے قلم مطلق دے ایمان کهٔ حق دے په کافر ناحق دے
په چا سحر شو پرے روښنائی شوه په چا شپه راغله باندِ شفق دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک چه قمر یادکا روئے دِ رایاد شی
څوک چه مقر یادکا کوئے دِ رایاد شی

څوک چه عنبر یادکا موئے د رایادشی
څوک چه سقر یادکا خئی دِ رایاد شی

څۀ نعمتونه دی تر سر تر پایه
په هره ساه ئے شکر وکا بۀ

چه دِ موندلی دی د یوۀ خدایه
کۀ غافل نۀ ئے ثنائے وایه

څوک دَ هوا دَ هوس نتلی دی
پلار دَ خپل ځان دے ځوئے دَ خپل ځان دے

څوک م په بُغض په حسد تللی دی
په خپل خپل جور هر څوک نیولی دی

څوک چه آشتی غواړی کۀ دِ غلیم دے
والصلح خیر ځائے دَ تسلیم دے
عفوه بهتره تر انتقام ده
نیکی په بدو کار دَ کریم دے

څوک چه خیرے ستا دَ بنایست وائی
بنۀ خوئ خصلت به دِ راته پۀ ځۀ ستائی
زۀ درته ژاړم تۀ راته خاندے
داهسے کبر په هیچا نۀ بنائی

څوک چه په خوئ کښے پاکیزه پاک وی
سخ په کوردے پاکیزه ژوک وی
سلوک چه بد لری زارئے دَ ځان دے
کۀ هر څو بنۀ وی هغه هلاک وی

څودا جهان دے دا هسے تل شی
خپل دِ پردی شی پردی دِ خپل شی
دَ بل وی ستا شی په یوۀ دم کښے
هغه چه ستا وی هغه دَ بل شی

څوک به په چا کرم وی په چا ناکرم وی
څۀ بد فعل په هر چا کرم وی
تۀ خپل خوئ بنۀ کړه په چا کرم مۀ شه
خود به شرمیږی چه تر تا کرم وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څودِ دَ تورو زلفو خمونه دی
هومره په ما باندِ پراتهٔ غمونه دی
دَخپلو تورو سترګو غمزے پوښته
چه ئے په ما باندِ داستمونه دی

څوبه بریښونه دَځوانئ ځوانان پوسی
خوبئے دا ده که خبردار اوسی
مرګ شته پیری شته دواړه راتلونی دی
سړے یا مرګ پوسی یا ئے پیری پوسی

څوځو قرنونه به ورباندِ تیر شی
شیرین صورتئے په بل بل خیر شی
لکه چه هیرے دی پخوا پیرئ
خوشحال به هسے له دِله هیر شی

څوبه په لویه غاړه دَدهٔ بولے
دَغریبئ بدلے بولے
نهٔ درپوهیږم زهرهٔ دِ زخمی دے
دَ رغیدلو طبیب در بولے

څوئے غیرت وی څوئے همت وی
دَمرد به هومره قدر قیمت وی
مرغهٔ چه نهٔ لری تندرست دوه څانګے
پرش ئے کله په رفعت وی

څوځو بنادئ دی په دا آفاق کښے
واړه به بیاموے په اتفاق کښے
څوځو غمونه یا محنتونه دی
یا په دروغ کښے دی یا په نفاق کښے

څوک دِ غم نهٔ کا دَ نامرادئ
نهٔ به تل غم وی نهٔ تل بنادئ
دَ فلک عدل انصاف بنکاره دے
کارئے دَ ظلم دَ بیدادئ

څوبه سودونه کورته راوانړے
څوبه خوبونه دَخوبئ کانړے
څوبه خوانونه دَخوبِ وخوانړے
آخر به پریوزی درباندِ کانړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوئے همت دے هومره قوت لری
هرمروت لری هرفتوت لری
خلیلؑ آسا دے لکه موسیٰؑ دے
ابدال په اوربه اوبه نصرت لری

حب دَدُنیا دے چه څهٔ بلا دے
چه څهٔ بلا دے حب دَدُنیا دے
هومره رسوا دے داحب چه څومره
داحب چه څومره هومره رسوا دے

خدائے چه بنهٔ کړی په دے جهان دی
کهٔ پرے پوهیږے انسان آسان دی
چه سره یوشی دا دواړه توکه
مشکل کارونه ورته آسان دی

خوشحاله زوړشوے سړے چه زوړشی
دَمهرشانو له مینے مړ شی
تهٔ څوزړیږے لا مئین کیږے
زړهٔ به دِ کله ترے مړیا سړشی

خیال دَهغے دے چه شوخ وشنکه وی
شونډے ئے شهد په مخ کلرنکه وی
چه دائے هیڅ نهٔ وی نازبه په څهٔ کا
کهٔ نازکا نازبه ئے بترترجنکه وی

څُټ څُټ دَدیګ دے سرود دَ وُړی
غږدَ اوبو دے ژوندون دَ تړی
چه ئے کش کش شی پرتوک وُکاړی
هغه آواز دے چه زړونه کوړی

خارِ دِ بخره دَ خارکشانو شی
کل دِ بخره دَ کلرخانو شی
قندِ دِ په بخره دَ شنو طوطیانو شی
سوزِ دِ په بخره دَ پتنګانو شی

خبرے کرانے دی آسانے چرے دی
دَچا مشکنرے دَچا کوړے دی
په دا دُنیا کښے چه ئے بهتر کړے
بے بنے خبرے ترے لا بهتړے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل مال په ترس په صرفه په بیم خورے
د بل غم نۀ کړے کۀ درست کۀ نیم خورے

په کور د کنډے رنډے یتیم خورے
مُلا داولے اور د جحیم خورے

خواری ئے نشته چه څوک هوښیار وی
هوښیار چه نۀ وی په خوارئ خوار وی

نړۍ دچه بنۀ وی د نړۍ کښے کا
بد بازیه بده بازی نا تار وی

خوشحال کۀ هرڅو فاجر فاسق دے
عیبئے مۀ کړه شیخه عاشق دے

چه پارسایان دی په خپل خدمت به ځی
د خدائے په فضل فاجر لائق دے

خوب م دروغ دے نۀ د ناروغ دے
خوب د دردمنو نه پرونو دروغ دے

لکه په ویښه وی هسے په خوب وی
چه چا موندلے د زړۀ فروغ دے

خزان بهار دے بهار خزان دے
هجران وصال دے وصال هجران دے

شپه شی بیا ورځ شی دود د جهان دے
غم چه بنادی لری کارئے آسان دے

خبرلانۀ یم چه لا به کله شی
چه م به کسی سره وبله شی

تۀ ئ ئینه کوړے نۀ م سینه کوړے
چه د د هجر په لمبه سوله شی

خصلت ئے داوی چه لئیمان وی
نن چه څۀ ورکا کا ندۀ پښیمان وی

کۀ هرڅو پیر ورکه خپل ورکړه کم کښړی
داشان ئے دود وی چه کریمان وی

خوشحاله بس کړه شان شان د پیر وُوے
پیشو د وُوے او بنان د پیر وُوے

سود د سکونت دے مشغول په دم اوسه
ژبه خوندی لره پریشان د پیر وُوے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خال دِ د زړو نو په داغل راغلے دے
چه بنهٔ جمال لری هغه بنهٔ خال لری

دننه زړهٔ دِ څما داغلے دے
مخ دِ بناغلے دے خال دِ بناغلے دے

خسیس کهٔ مال لری پرے بنا دبه نشی
چه همت ناک دے هغه آزاد دے

بنده بنده دے آزاد به نهٔ شی
آزاد آزاد دے عباد به نهٔ شی

خوشحال کهٔ تور دے دَ کنا ه په توری
خپل دین محکم لری خدائے پیر کرم لری

خلق حیران شی چه ورته گوری
مخ به ئے رونړ کړه ترصبا ترستوری

خوشحاله څودِ جوش وخروش دے
هومره تهٔ نهٔ ئے په څان غره مشه

نهٔ دِ څهٔ عقل شته نهٔ دِ څهٔ هوش دے
دَ خدائے کرم دِ لا پرده پوش دے

خوابزهٔ دَ مینے نهٔ سرا پټیږی
مینه په مثل نافه دَ مښکو ده

واړه په مینه سره غټیږی
نافه دَ مښکو چرته پټیږی

خوبن ترشکرو بحر شکرف دے
کاسے څمونه کوزه څه حرف دے

خوشبوئ ترمښکو صفا ترږف دے
راوړه آخله مدار په ظرف دے

خوب دَ سحر کهٔ هر څو محبوب دے
دُنیا به پاتے شی دَ دُنیا عیشونه

سړے چه ویښ شی سحر لا خوب دے
هغه جهان لره طاعت مطلوب دے

خوش رنګ تر بازه مرغ زرین دے
څهٔ شوکهٔ لوئے لوئے وزر پرے پورے وی

باز م په قدر کښے ترے صد چندین دے
کرکس کرکس دے شاهین شاهین دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خانان هغه دی چه په خپل نام دی
نۀ په دُنیا دی نۀ په خپل کام دی

چه په کوم توکی دَ نام بشیګړه وی
په هغه فکر کښے په صبح وشام دی

خصلت به دا لری چه منافق وی
دَهر مذهب سره به موافق وی

یوبۀ ئے زړۀ وی یوه ئے ش به
یو به مذهب لری چه ځوک صادق وی

خونه چه پاکه وی برکت ووری
وربانِدِ هرکله عزت دولت ووری

پاکی چه نۀ وی په هغه خونه کښے
وربانِدِ واړه بلا آفت ووری

خلق چه بدشی بادشاه ئے بد شی
په هره چار کښے حیران بخرد شی

خوبی په دور دَ عالمګیر نشته
دَ چا به ولے له چا حسد شی

خوبړه نمړئ کۀ بښه مزه لری
ترے م توبه ده کۀ دا بزه لری

همائے مرغۀ م ځکه هډ ونه خوری
آسمان له غوښو سره خزه لری

خوشحال کۀ هرڅو په رنځ کښے ژاړی
نامردئے وګنړه کۀ په مردنۀ ویاړی

ژړائے واړه په دا سبب ده
دَ خدایه خیر دَ خپل ایمان غواړی

خان دَ وګړی چه شمشیر زن نۀ وی
دَدۀ بنۀ ورکړل دَدۀ بنۀ نغن نۀ وی

لکه نامرد میړۀ چه وادۀ وکا
خوار زار روزکار کا حال ئے دَ زن نۀ وی

خوئ چه دَ بدو دَ چا عادت شی
په پند په زجر لا نه ریادت شی

طبیب ئے ځوک دے ملک الموت دے
چه مشرف ئے په شهادت شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل بد خویونه بد خوئ هُنر کنړی
په خپل ځان چه څۀ وی بل هم هغه کنړی

په ځان کۀ خاورے وی خاورے هم زر کنړی
یو چه کافر وی بل هم کافر کنړی

خپل حکم مۀ کړه چه کم یا ستر وی
د کشید کړے په لاس کښے ستن شه

دا فکر مۀ کړه چه لس یا زر وی
د خط و هونی په لاس کښے در وی

خوشحال غریب دے درویش کدائے دے
چه چرته حکم هورے به درومی

خپل حکم نۀ لری د یار په رائے دے
چه کښینوے ئے هغه ئے ځائے دے

خوشحاله عمر دِ تر شپیتۀ تیر دے
دفتر دِ پک دے د کناهونو

نیکی دِ لږه کناه دِ دیر دے
درته به یاد شی کۀ دِ تا هیر دے

خواره څربه خو هومره بنۀ ئے
چه دواړه توکه د رڅخه نۀ وی

چه روغ په تن ئے چه روغ په زړۀ ئے
په تخت کۀ کښینے وایه تروڅۀ ئے

خو یوه ساه ئے بود دِ هم دا دے
نور سود دِ نۀ وینم په دا دُنیا کښے

یو موټے خاورے جود دِ هم دا دے
کۀ څۀ نیکی وکړے سود دِ هم دا دے

خیر په دا کښے دے چه دِ یر مالدار نۀ ئے
لکه دِ دخل دے هسے دِ څرخ دے

په غم د عُشر د زکوٰة کرفتار نۀ ئے
محتاج وچاته په لږ بسیار نۀ ئے

خوشحاله پاسه روغے دِ پښے دی
څویه کۀ رونړه کۀ بنۀ یاران دی

مکے ته درومه څۀ خرخشے دی
واړه دِ ولین د خپلے بنے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دُنیا څو ډیره هومره ئے غم ډیر وی
هستی نیستی ئے دواړه بلا دی

چه نۀ وی نۀ خوری هم ئے الم ډیر وی
خوبی ئے دادہ چه درته کم ډیر وی

دَ څان دښمن دے دښمن چه یار کړی
هوښیار به څان دَ نادان په شمار کړی

دښمن چه یار کړی مړک دِ تیار کړی
نادان هغه دے چه څان هوښیار کړی

دَ بنړو تیرِ دِ په خو تیږه دے
دا دَ نکریزو نګار پرے نۀ دے

وارِه لک شوی څما په زړۀ دی
دَ خوار په وینو ئے ورغوی سرۀ دی

د تن خولے دِ بوڼ دَ ګلاب لری
عتاب نور مۀ کړہ دَ خدائے دپاره

زلفے دِ طعن په مشکناب لری
خوشحال دِ کله دَ عتاب تاب لری

دریغه زړه مبیه عمره روستے وے
هغه بیا نۀ راځی په داهیخ کار نشی

دریغه روستیه عقل زړه مبے وے
په دا به پوهشے کۀ ښۀ سړے وے

دریغه له څا یه هسے هوښیار وے
راته بنکاره شوه یاری دَ خلقو

لکه چه اوس یم خپل م اختیار وے
نۀ دَ چا یار وے نۀ م څوک یار وے

دَ مانړی خوږ ئے هر کوڑ کران دے
په څو پخپله سر اغله پخلا شوه

خوږ ئے دَ تورے پرهار په شان دے
خوشحال کۀ زور دے باطن ئے ځوان دے

دا تورے بزیرے چه ایماندارے دی
صدق وفا بویه چه دا ئے نه وی

سپینے ناپاکے بزیرے ترے څارے دی
بزیرے دَ ځوانو دَ زړه مردارے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَچا په کورکښے ړوپئ مُهران وی
که ئ ته هیڅ نهٔ لرے کمان دا مهٔ کړه

دَچا په کورکښے دُر ومرجان وی
چه به دستاغوندِ واړه ناتوان وی

دَمرد چه صبر چه استقبال نهٔ وی
مردی ئے هیڅ ده څُما په پوهه

چه غم پرے راشی پکښے خوشحال نهٔ وی
که ئ په جاه و دولت څوک سیال نهٔ وی

دننه زړهٔ م ورپسے ړیږدی
زوړ شوم نارے وهم توبه له عشقه

چه زلفے تاؤکا درځی پرے کښیږدی
که م دلبرے ورپسے پریږدی

دَ شاه پالنګ دِ دَ موذی مسکن نشی
ګل دَ بلبل دے بلبل دَ ګل دے

ګلزار دِ څائے دَ زاغ و زغن نشی
په بنهٔ جمال به غافل مئین نشی

دَمرګ قتال دے په هر هر کلی
چه م په سترګو هغه یاران لیدل

غشی په ګُرت کښے نیازمن پرے وُلی
اوس ئے لیدل شی په سترګو څلی

دولت په مثل مرغهٔ دَ بنکار دے
له لاسه تللی مرغونه څوک نیسی

بازدے شاهین دے چوخ دے شنقار دے
دَ بنکار مرغهٔ م دَ بنهٔ میر شکار دے

دردچه په بل وی خبر پرے نهٔ وے
سود زیان دَ هرچا جدا جدا دے

چه دِ په ځان شی له دردہ چوے
کله دَ بل په خوراک مور ته وے

دا یوځو توکه دَ وقوف دار دی
کتاب دَچا دے دَ دانشمند دے

باز دَ میرشکار دے زرد تجار دی
بنځه دَ مرد ده مښک دَ عطار دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پند پروا لری خاورے خوړونی
بد دِ دَهیچا تر فهم بنهٔ نهٔ شی

ورباندِ بد لګی نصیحت کړونی
نهٔ وی د پلار د خبرو وړونی

دَخپلے خونے دیوال کهٔ کوږ وی
زیست و روز کارے پکښے خوندی وی

دَخپلے خونے په خښتن خوږ وی
لوښی کالی ئے په دهٔ کښے بوږ وی

دولت د خلقو په اتفاق کښے دے
هغه به خوارشی چه په نفاق کښے دے

زړهٔ م ترا وسه په اشتیاق کښے دے
زړهٔ شوم یو یار م یکرنګ ونهٔ لیدهٔ

چه تل ئے مت وی په خود کامئ
اندوه ئے نهٔ وی د بدنامئ

درست ناسپاس وی حق ناشناس وی
هرڅهٔ به بایلی په دا خامئ

ډیرڅهٔ م وکړل ماوے کهٔ یار شی
دیدن ئے وویم زړهٔ م قرار شی

چاوے چه صبر کړه صبر م هم وکړ
سیکنړیم کله په صبر کار شی

ډیوټ هواده نن په شاخزار کښے
نړے کے فریاد کا په مرغزار کښے

په ژغ ئے ذوق کا خما با نړونه
پرخه وریږی کرځم په بنکار کښے

داچه وتا ته شیخان پیران دی
بدخواه د خلقو بدخواه دځان دی

علم عمل بویه مرشد د لاړے
چه دا ئی نهٔ وی واړه سکان دی

د یار د ظلم د غشی پروکی
حما په زړهٔ کښے پراتهٔ دی اوکی

دور د سپیو سره ئے مل شوم
تو ئے ونهٔ وے راته په وروکی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

درته رښتیا وایم کهٔ م بنهٔ یارے
کله م یارے کله اغیارے

څهٔ خوئ خصلت لرے څهٔ ناقدارے
هم وفادارے هم جفا کارے

د یار عتاب م قبول په ځان دے
هم ئے وصال شته هم ئے هجران دے

په عاشقانو دا دود روان دے
جنګ چه آشتی لری کارئے آسان دے

دروغ د چا دی د کم ذات د ونړی
چه دائے نهٔ وی دروغ به نهٔ کا

یاد کمزوری په قوت لږی
دروغ چه کاندی خو به وی په سږی

د چا چه نهٔ وی دور اندیشئ
د هغے وُنے کلونه مهٔ وینے

مهٔ ئے یاری وینے مهٔ ئے خویشئ
چه ئے اغزی وی د دلریشئ

درته به ووایم څوکړے پو بښتنے
څائے د هم دا دے بل څائے د نهٔ دے

کهٔ د بائلنے دی کهٔ د کښتنے
کهٔ منګلے وی کهٔ په لمنے

د بل په عیب په څو ویښتهٔ چوے
خپل سل زناره درته بښکاره نهٔ دی

د څان په عیب نظر هیڅ نهٔ کوے
هندو خو یو لری هغه ئے هم شلوے

د چا چه دننه سینه په درد وی
کهٔ مرد د لاند وی بښځه د پاسه

دمه ئے عین په آه سرد وی
په دواړه توکه ظفر د مرد وی

دا د بار خودی خولهٔ نیولی
دا د سړے شونډے دی کهٔ سپین غاښونه

کهٔ لاله کل دی پرځے وهلی
کهٔ لعل و دُر دی سره پیئلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ مخ په رنګ ئے تر کل بناغلے
لاله په خپله سینه کښے داغ لری

دَ باغ لاله ئے راته را غلے
تا ده سینه دَ عاشق داغلے

دیرے مرغئ په زړهٔ دلکښے دی
دیر نعمتونه مِ په جهان کښے وُلیدل

سحر چه ژغ کا هغه مِ خوښے دی
چه لوئے نعمت دے نعمت خوغوښے دی

دَخپله لاسه چه ستمونه دی
دَخپله لاسه لکه بنا دئ دی

کښنی په مانهٔ دی په عالمونه دی
دَخپله لاسه هومره غمونه دی

دَ بیم په خائے کښے سړے ملال وی
هغه په خړو اوبو نظر نهٔ کا

چه ئے اُمید وی هورته خوشحال وی
چه تل ئے بخره آب زلال وی

دَچا به څهٔ لره مانړه له بله شی
هغه چه وکړے هغه به ورسره

چه نیکه بده په خپل عمل موندله شی
له خپله لاسه هره کرله شی

دَ وړاندِ اینے درته یو خوان دے
تهٔ به ترے پاسے بل به پرے کښینی

نعمت ئے کوړهٔ الوان الوان دے
له واړه و پاتے داشان داخوان دے

دَخرخ له لاسه زړه کوتے ریږدی
هرڅوک چه ووینی چه داغ په زړه لری

داخوئ به چیرے له لاسه پریږدی
دَ داغ دپاسه بل داغ پرے کښیږدی

داچه وتاته دَ دین اخص دی
په نور وحکم دَ لَنْ تنا کا

کهٔ پرے خبرشے کافر دَ نص دی
دَ لکنُود دَ آیت مختص دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَشپے خښتن دِ سحر ته ګوری ګوندِ پرے وخیژی د صبا ستوری
هیڅوک دِ طمع امید پرے نۀ کا باران په تږیو کښتو ووری

دریغه ځوانئ ستا کامرانئ ژغ مِ دَ توسرو ژغ د خانئ
زوړ شوم ناتوان شوم خیال مِ دَ تورے کۀ بیا رته راشے ځما ځوانئ

دریغه جاویده ځوانی بقا وے دَ ښو دلبرو دیدن لقا وے
ډک ډک جامونه تږیو ته تل نیوے دَ مهرخضر دَ اوبو سقا وے

دریاب چه لوئے دے هومره هوار دروی شور وغوغانۀ کا په خوقرار دروی
سیلاب په خوشاځکی غمپرے پیدا کا بقائے نۀ وی په ډیر تلوار دروی

ځما په باغ کښے ګلونه ډیر دی خدائے ئے راپرېږدہ په هرهغیږدی
داغ مِ په زړۀ باندِ دَ معظم دے دا داغ چه راغے نور مِ پرے هیر دی

دا نهر په ورځ په شپه دا ستوری چه نا قرار دی وبله شوری
دَ ډیرو ستړګے پرے لګیدلے دی لاهِل لا ډیر بهائے په ستړګو ګوری

دَ وطن وُنے چند نړ اکر دی خاورے ئے واړه مښک وعنبر دی
کۀ سرائے و نورو وته سنګیږ دی کانړی ئے واړه ماته سرۀ زر دی

دَ تن تیرسو شپیتهٔ سړکونه دی ستانه غمونه پکښے زړګونه دی
جدا له تانه چه یو نفس دروی څو نفسونه هومره مړګونه دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داجام چه چاچیبن هسے لاچیبن شی
حال ئے وهیچا وته معلوم نهٔ شهٔ

مستان ئے خوب کا کله به ویبن شی
آه دے له دِله هردم وکیبن شی

دَخولے وئیل دِ واړه نبات دی
څوک ئے چه کښل کا سخ دَ هغو دے

خوابنړهٔ دِ لا دَ بسکنځلو نړیات دی
شونډے دِ دواړه آبِ حیات دی

دَ بخت په څخکښے ښه ودانئ دی
بخت دے دَ شاه دَ گدایانو هیڅ نشته

دَ بخت په څټ کښے زر ویرانئ دی
په بخت خوارئ هم کامرانئ دی

دَملوکانو صحبت بَل اور دے
کهٔ تور هاتی ئے کهٔ تور زمرے ئے

دَاور سکروته دَدے بیور دے
ستام له اوره سره څهٔ زور دے

دروغ چه فاش وبے صرفه وائی
تردا هغه بد چه شیطانی لری

خپل ځان پخپله خوارئ ته بیائی
مکر فریب کا په نفاق پائی

دَ ملک سردار دِ هوښیار قلاش وی
ځائے دَ آشتئ پریښے بویه

تل دِ له ښو سره په ښهٔ معاش وی
چه ئے له چا سره جنګ وپرخاش وی

درویش هغه دے چه ترس دَ خدائے لری
طمعه له چا نهٔ کا لقمه حلاله خوری

دَ نیکو فعل دَ نیکو سرائے لری
جدا له خلقه دَ آسودګئ ځائے لری

داخوار خاطر چه په قمر نهال دے
میږے چه واخلی دانه وغارته ځی

دَ سمند نال ئے په دا مثال دے
ستام اخستے وګورته خال دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داد د آسمان دے داد د مزکئ
چه دخوشیے لرے دُنیا ته څه ئے
څو دِ په پورته آسمان ته بوتل
بیا دِ ئے خاورے کړے کپړئ

دَدهٔ په حکم بالا پستی شی
مستی خمار شی خمار مستی شی
نهٔ تل بهار وی نهٔ تل خزان وی
هستی نیستی لری نیستی هستی شی

ډیردی چه بډیرے د شیخئ پوسی
ډیردی چه مئے خوری په رندئ کښے اوسی
بنده دَچا یم د هغه کس یم
چه ئے نیولی تر سره یوسی

دَعقل زانړے چه تا لیدلی دی
دَصبر قازے چه تا کتلی دی
کهٔ هرخوشحورلری یا تیز پری لری
د شاه د ستر کوشاهین وهلی دی

دَبادشاهئ په تخت چه ناست وی
دا کارئے هیڅ دے سحر چه نماست وی
دولت دولت د سحر خیزئ دے
مردان د هسے دولت په خواست وی

ډیره خوش رنګه صاحب جماله ئے
تر سر تر پایه پری مثاله ئے
عیب دِ دا دے درد دِ ومهٔ وینم
په مرد حرامه په نامرد حلاله ئے

دَسردارئ چه څوک هوس لری
خپل ځان دِ خاورے خپل مال دِ خس لری
غم دَ وسلو د جنګ هیڅ نهٔ کا
کهٔ دَخپل ځان سره یکا نه لس لری

دعوٰی دَچارے په یوهٔ هرکښے وی
عقل هم بویه چه ئے په چرکښے وی
چه بیهوده دروی بلا هغه موی
سر په هغهٔ کښیږی چه په هُنرکښے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَکور پریښونه شرم پیغور دے
هرهرکال ئے په جاله تاخت کیږی

هرځائے چه وزیرے هغه دِ کور دے
هغه شاهین دے هغه ئے کور دے

درنږی لاکز لری مقراض سوزن لری
کوچ ئے آسان دے مشکل هیڅ نه دے

یوجمدر کوتے خوشحال خیرن لری
غم دَ یارانو درد دَ وطن لری

دَهوښیارانو ورمونه زر دی
چه دَ هوښیارانو ورمونه نه منی

دا دَهغو دی چه پرے خبر دی
دَ هغو هرکله خاورے په سر دی

داچه خانان دی یا امرکان دی
غوښے هډونه دَمظلومانو خوری

په هندکښے کرځی په هرمکان دی
ځما ترفهمه واړه ددان دی

دَبادشاهانوچه بنڈ خانان دی
کڈئے آشنا شے ځنے حذر بویه

کارکشائی کا مقربان دی
اوردی اوبه دی درد دی درمان دی

دَباغ کلونه چه نندارہ شی
چا ته په خوارِ وستر کوهیڅ مه کوره

خوخوکارونه پکښے بنکارہ شی
دِیر ناکنړلی دی چه په شمارہ شی

درته به وایم کڈ تڈ عاقل ئے
دولت کڈ نڈ لرے خپل دِ پردی دی

ناحق په تورِ وچارو خوشدل ئے
کڈ بخت دولت لرے دَهرچاخپل ئے

دَخولے خبرے دِ خوږے ترمن دی
ترخڈ وئیل دِ دَخولے هرگز نڈ وُو

وبختورِ و وته من من دی
داچه ترخڈ وائے دارو دَ من دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د سرداریٔ چارے دشوارے دی ۔۔۔ څوخو کمرے څوخوئے لارے دی
براق د عقل د همت پیدا کړه ۔۔۔ پکښے بیشماره بلا تیارے دی

د باغ څښتن ته یوسیب پیشکش وړی ۔۔۔ د دهٔ له باغه بیائے په اش راوړی
هغه به څوک وی عاقل نا اهله ۔۔۔ د زړهٔ فکرونه چه مشوش راوړی

د یار په عیب چه یار خبر شی ۔۔۔ یارئے لاړه که پرده در شی
د یار د عیب هُنر د ځان کنړی ۔۔۔ پوهه د په عیب هم په هُنر شی

د بادشاهانو چه امرکان دی ۔۔۔ د دیو بخرے ولے شان شان دی
والهٔ که لویه وی که کم لښتے وی ۔۔۔ آبدست پاکئی لره واړه یکسان دی

دریغه په باد لاړے څهٔ شوے څوانئی ۔۔۔ یوه شپه خوب وو ستا کامرانئی
ویښ شوم بیدار شوم په پیرئ واوښتم ۔۔۔ نهٔ ژغ د تورے شته نهٔ د خانئی

د سرغلیم د که دانائی لری ۔۔۔ بهتر تردوسته چه کانائی لری
توان یا د زړو یا د څوانانو دے ۔۔۔ لاپے د هغه کاچه توانائی لری

څما د یار په یارئ کار دے ۔۔۔ که مُسلمان دے که زنار دار دے
که مهر مینه وفا رښتیا لری ۔۔۔ نور څهٔ ئے مهٔ کوړه چه پوره یار دے

د دهٔ په ذکر واړه کویا دی ۔۔۔ که د څشکئی دی که د ربا دی
د دهٔ له حکمه وتلی نهٔ دی ۔۔۔ که ناست په تخت دی که په بوریا دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د دولت ستورے گرځی قابل غواړی
که چیرے مل شی د ناقابل سره

قابل چه بیا مومی نه پسے بل غواړی
تکاوئے نه وی رخصت ترے تل غواړی

دروغ وعده دِ په ما رښتیا لګی
د بنړو ناوک دِ په نورونه پسند م

ترخه د کښلیو لکه حلوا لګی
پریږده چه واړه په زړه ځما لګی

داوے م خوښ دے چه چا وئیلے دے
بدخواه دِ خوښ کا په ښو خبرو

دیوم په زړه باندِ ښه لګیدلے دے
نیکخواه په بدوخپل ژړولے دے

دا مخ چه تهٔ لرے د بُورے نُورے
یوه به تاغوندِ ښایسته نهٔ وی

مګردا مخ لری ښے حُورے هُورے
چه اوریدهٔ شی دا هُورے دُورے

دانائے مهٔ کنړه چه صبر نهٔ لری
سړے د صبر په کار کښے وازمیه

چه صبر نهٔ لری حکمت به څهٔ لری
چه صبر ناک وی هرڅهٔ به ښه لری

د یار م واړه د ستړګو تور دی
چه د معشوقے تر سپیځانځارنهٔ کا

چه سپین و تورئے د چم د کور دی
مئین ئے مهٔ بوله هغه څهٔ نور دی

د آسمان د ور خالی ړونق دے
لکه ئے راکړل هسے ئے واخستل

ورکا بیا واخلی دائے نسق دے
اوس راته پاتے دا یو رمق دے

د غم فکرونه په زړهٔ کښے باز دی
خدائے به ئے بنکارد بنادئ ساز کا

تل د بنادئ و بنکارته ساز دی
بازو نه کله خالی پرواز وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دریغه سړیه چه څۀ بلا ئے
تا به د پلار سره خپلوی ونۀ کړه

واړه د ځان ئے نۀ د بل چا ئے
مقصود د خپل د ځچه د بابا ئے

دا دود ځنډن دے په دا عالم کښے
جهان یو باغ دے نوے خبرے

نادان بے غمه دانا په غم کښے
ګل دے غوړیږی په هرهر دم کښے

د هرچا قدر په خپل همت دے
د نیکو فعل د ځان راحت کښے ده

د هرے چارے مدار په نیت دے
د بدو فعل د ځان زحمت دے

دا آسمان نۀ دے یو خونی پرانګ دے
خولۀ ئے سره کړے د دارا په وینو ده

راته غږ مبارک تل تل په بانګ دے
شفق ته ګوره دا ووی په تانګ دے

د غرونو کانړی ترحساب تیر دی
که اهل وینم زۀ به ترے زار شم

چه واړه کانړی د لعل په څیر دی
اهل څوک نشته نا اهل ډیر دی

د عشق غمونه ترعمره سم دی
د نامردانو ورسره کار نشته

په هره ساه په هرهر دم دی
غم د مردانو دے مردان د غم دی

د خپلے چارے هُنر یو هر لری
مزری ګاوز د ځنګل په څو نیسی

مغزئے په سر کښے هومره څوسرلری
ګیدړ د شلانډو د بنکار هُنرلری

د عشق په کار کښے یو هر ګډ یږی
دا دواړه توکه په عشق کښے یاد دی

یا پکښے قهر سترګے سره یږی
سړے ناحقه په باد ورته یږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راغله په وخت د ګلونو کښلے ماوه له میو توبه وکښلے
وے ئے چه تاده توبه وکښلے بادهٔ بیاوه په زور راخښلے

رنګ د طوطیانو لری شین کوسی هُنرچه نهٔ لری بے قدره اوسی
چه اصالت لری چه ښهٔ خصلت لری هغه په بخره له میانه یوسی

روغه کتوه په نغری سمه وی ماته کتوه په نغری خمه وی
جن چه خان خوار کا ملته روپئ شی ملته روپئ په قدر کمه وی

رندیم خرګندے دی خما بدئ چه راته یو دی خپلے پردئ
پیغور خما مکړه شیخه خپل زړهٔ کوره چه پکښے پټے دی د عشق غدئ

روژه د خدائے له ویرے درته شی کهٔ نه په هرچرته روژه خوړله شی
په آشنا یئ کښے مهر اخلاص بویه ګوندِ په درنګ اکښے آشنائی بله شی

راشه کهٔ ګورے دا خونړئ سرے وړئ په سر دړئ
تل تل سرونه د عاشقانو وحلق ته اچوی لکه نمړئ

رړهٔ دِ مئین وی په توږے سپینے خالی دِ نهٔ وی له یوے مینے
دا وایهٔ رښتیا دی عاشقان نهٔ مری مجنون ژوندے دے کهٔ تهٔ ئے وینے

رنګ رنګ ګلونه په باغ کښے واشی لکه چه واشی هسے فنا شی
ګرے هیڅ نهٔ دی د باغ بلبلے چه ئے دا هومره فریاد ژړا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راغلهٔ اختر او نوروز همغاړی
مینا خندا کا چغانه شرابی

ساقی دا وخت دے چه توبه نغاړی
وماے راکړه زړهٔ م مے غواړی

نړوړکهٔ بادشاه وی کهٔ اولیا وی
د ځوانے نښے ځنے بلا وی

زوړے کهٔ هرڅو د ځان مزدور شی
د ځوانے نښے نوره هوا وی

زلفے چه تاؤ کا په مخ ے پریږدی
کښلی کلونه په بار خو کښیږدی

زړهٔ م بلبل شی ورباندے راشی
له ډیره شوقه ورباندے ریږدی

ځویه هغه دے چه خوئ د باز لری
لوے لوئ شکارونه لوے لوے پروازلری

نهٔ خوئ د چرگے نهٔ خوئ د زاغ لری
چه ځان د غلو خوراک ته ساز لری

زړهٔ وهغهٔ ورکړه چه زړهٔ دِ وساتی
کهٔ دوه درے وی چه زړهٔ دِ بنهٔ ساتی

زړهٔ یو بنهٔ څیز دے وسپے ورکړه
نه وهغهٔ ته چه زړهٔ دِ نهٔ ساتی

زړهٔ م زخمی دے وینے ترے څاڅی
ژاړم له دردہ څرپیکے ترے پاسی

تیرئے خوړلے د هسے لیندے دے
چه په آوازئے د ژئ ناسی

زړ شوے د زړو په حال خبر وی
چه چرته خیژی په کوم مقر وی

زړبه په سپینو شکو کښے نهٔ موے
شکئے تورے تر خاکستر وی

زړهٔ دِ د هرچا سره صفا وی
په چا کرم مهٔ شه کهٔ دِ رضا وی

کهٔ څوک ناحقه له تا پرخاش کا
اندوه ے مهٔ کړه ظفر به ستاوی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړهٔ ئے میلمه یم زړهٔ م میزبان دے
په هر زمان ئے ساته صلا ده

رابانډِ هرکله دَدهٔ احسان دے
راته ئے اینبے دَ معنوخوان دے

زړهٔ م په تن کښے لکه بارسا دے
ستړکے غوږونه ژبه دادرے دی

لاړ په فکرونو صبا بیکاه دے
خانان نور واړه څودی سپاه دے

زړهٔ چه نسکور وی غمئے په کور وی
تل به یرے پورے دَسیال پیغور وی

کهٔ پیرئے زړوی کهٔ پیرئے زور وی
مخ ئے کهٔ وینځے هم به ئے تور وی

زاغ وزغن دی په باغ کښے ورزی
خوشحال وچاته خپل کارښکاره کا

چینجی مینجی خوری په څانګو کړځی
بلبلے نشته چه بانډِ غورزی

خویه هغه دے چه فد وی دَپلار وی
چه دائے نهٔ وی زړِ په کور شی

دَ پلار ترهرے خبرے څار وی
پیدا دَ پلار نه دے یوعیب عار وی

زړ دَ خانانو دَ بادشاهانو دی
خوری دِ کتې دِ عیش وعشرت دِ کا

دَ نوکرانو دولت خواهانو دی
نورڅوک چه زړساتی دَکمراهانودی

بډیره دِ کله دَ پښتانهٔ شی
مغل کمزورے غلیم په رحم دے

چه دَ مغل په منصب ئے زړهٔ شی
کله ئے زړهٔ وی چه پښتون بنهٔ شی

زړکه دِلرے دَ بانړو کړنی
کهٔ نهٔ بنړے به ئے په پورته غورزی

سر بره دِ لرے له پرانګه غورزی
په څوکهٔ کښیوزی نوره به پرزی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زارهٔ وارهٔ غوایهٔ په غابنی ځوان وړی
چه توان قوت لری خپل بار په توان وړی

خوشحال پریږده خپل بار په خرومهٔ وړه
مست مست بارونه مست مست اوبنار وړی

زړهٔ رم دیرښهٔ شوچه تهٔ رم یارشوے
زړهٔ دِ بلبل شوم تهٔ رم گلزار شوے

چه بے وفا وے حال رم دِ ولیدهٔ
ځما په زړهٔ کښے یو تیرهٔ خار شوے

ځویه رورمهٔ شه چه ځوانمردنهٔ وی
مرد دَ تیکلے مرد دَ نبرد نهٔ وی

میړهٔ ئے مهٔ بوله بنځه پرے نوم کښیږده
چه دَ جنگ غښے وربانِدِ ورد نهٔ وی

ځویه هغه دے چه په رائے دَ اَب وی
کهٔ نهٔ له ځانه پیدا غضب وی

کهٔ هرځوبنهٔ وی چه ستا پسند نهٔ وی
غافل ترے مهٔ شه اقرب عقرب وی

ځویه هغه نهٔ دے چه هواپرست وی
ځویه هغه دے چه حیاپرست وی

عهد وفالری سخا عطا لری
طاعت تقوٰی لری خداپرست وی

ژوندے کهٔ گرځی ځان ئے ژړلے دے
تورزن دَ سرپه وینو لړلے دے

چه صبر نهٔ لری ظفر به نهٔ مومی
ظفر له صبره سره ترلے دے

زار دَ هغهٔ دے چه آزحاجت لری
نهٔ دیر دولت لری نهٔ دیر همت لری

هغه به ولے دَ آسمان منت وړی
چه مستغنی وی عیش وعشرت لری

بزیره غابنونه رم جدا جدا وائی
ځوانی دِ لاړه راته هم دا وائی

چه چاته وګورم یا چاته وخاندم
راته دا دا وائی کاکا بابا وائی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړۀ م له کښلیو سره بیا بیور غواړی
کوره وځان ته بلا په زور غواړی

زلفې بنکاره کړه خوشحال ختک ته
جنون پرے زور شو بیا رتنهبور غواړی

زړۀ م په تن کښے په ډیر آشوب شی
چه کښلی یاد کړم کله م خوب شی

زور شوم لاخیال لرم د مهو شا نو
په سپینه ږیره هم عاشق توب شی

سړی په مثل کانړی د کوه دی
په څوځور ننګه کړوه کړوه دی

چه جواهر دی پکښے کم کم شته
نا بود بد رنګ ئے انبوه انبوه دی

سړے که بنهٔ دے په بنهٔ کفتار بنهٔ دے
کفتار که بنهٔ دے په بنهٔ کردار بنهٔ دے

کفتار صورت کنړه کردار معنیٰ دے
چه سړه یوشی دا دواړه کار بنهٔ دے

سړے چه وږے شی کچکول په لاس واخلی
شهرت پرے زور کا نور نور وسواس واخلی

خدایه په خیل کښے خوشحال معمور لره
چه بل له لاړے نه کوز وپاس واخلی

سړے که وړوکے شی آواره کړونے شی
د لویولویو بخرو په وړوکے شی

راشه په خپلو ستر کو ئے وګوره
فائده ئے کومه ده سپے چه خوړونے شی

سهیل چه وخیژی اوږے تمام شی
زیرمه د ژمی د سرانجام شی

په اته میاشتے هسے هوا وی
چه د ځوانانو پکښے هر کام شی

سړے چه ځوان وی د جونو ځان وی
چه ډیر آشوب شی کله م خوب شی

زاړۀ که بنهٔ کا جونه ډ نهٔ کا
جن ډ هالهٔ کا که دے سلطان وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سړی په اصل سره یکسان وی
کهٔ چوهړی دی کهٔ بادشاهان دی
فرق ئے په فعل په خوئ هُنر وشهٔ
ځکه دوئ هسے سره شان شان دی

سردار هغه دے چه شرم ننګ لری
مدام د شرم تُوره ترخنګ لری
صرفه په زرنهٔ کا صرفه په سرنهٔ کا
چه دشمنان وی له هغو جنګ لری

ستړکے د نهٔ دی ستوری د بخت دی
چه ورته کوری خښتن د تخت دی
د ناز په غشیو هغه شیخان وُوله
چه لاف د زهد کا په زړهٔ پیر سخت دی

ساقی باقی د روژے څو ورځے
ژړهٔ په خندا یم ژاړی ورځے
تحویل د تلے اختر یوځائے راغلهٔ
حاضر په میوشه په خرته خوځے

سړے څاروے دے کهٔ تهٔ ئے وینے
په تن په غوښے په هډ په وینے
فرق له څاروی لری په کویا ئی کښے
په رائے په عقل په شناخت په مینے

سحر چه پاسے په استغفار کښینے
په یادوُلو د خپل غفار کښینے
دا وخت نور مهٔ کنړه څما په پوهه
کنړه په باغ کښے دارالقرار کښینے

سړے هغه دے چه ترس د خدائے لری
خپل څان عالم ته آدم نمائے لری
حق د حقدارو آشنا په څائے لری
خوبی د عقل خوبی د رائے لری

سخ د هغو دے چه پاک پیدا دی
کهٔ انبیاء دی کهٔ اولیاء دی
خلاص دی د نفس د شیطان له شره
په بنو په بدو څائی دانا دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سحر صبا شو وخت د بامداد دے
را لوتلے د صبا باد دے
خوشبوئے راوړه د دیار له لوریه
په خوخو سرنګه م خاطر پرے ښاد دے

سخ د هغۀ دے چه ښۀ ئے نیت دے
نیکخواه د خلق په ښۀ خصلت دے
تل ئے په علم په طاعت مټ دے
حاصل د عمر، علم ، طاعت دے

سخی کۀ لک ورکا و دۀ ته کک وی
بخیل کۀ کک ورکا و دۀ ته لک وی
د هغو سرکړه په ورکړه مه نیسه
چه ورکا زړۀ ئے له غمه پک وی

سړے عزیز ښۀ دے په دا دُنیا کښے
کۀ نۀ فائده ئے ده زر په فنا کښے
چه و مړی غم نۀ وی غصه الم نۀ وی
نۀ ئے سیالی وی د سیال په خوا کښے

سوزم بے تانه په لمبو گوښے
خوب و آرام دے را خُنے تښے
مخ راعیان کړے بیائے پنهان کړے
تا یم دا هسے په لمبو ایښے

سفله په مثل لکه ډیران دے
دولت یه مثل باندِ باران دے
باران چه نۀ وی بوئے دربلے دے
باران چه وشی بوئے سروان دے

ساقی غوښیږی سل برګ یه منی
دلبرے خیال کا د دۀ په مینی
د چا په بخره د میو جام شو
د چا یه بخره یو... پمنی

سړے کۀ ښۀ دے چه دیندارنۀ دے
کۀ پیر یه کار دے هم بکارنۀ دے
توبنه طاعت دے له دے جهانه
جهان به هیڅ باندِ باندارنۀ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سړے چه ولامبی په زبو پاک شی
احمق چه ولولی څو کتابونه

سړے چه ځوړ شی زبور په تن شی
لطیف خواږه دِ خوری دَ خولې لږ کا

ساقی راپاسه چه بیا نوروز راغے
غم دِ په بخره دَ دښمنانو شی

سړی په خپلو سره بے غمه وی
دَ چاچه وی خپل څویه رونړه

سړشوے په غاړو غرونو څړے
دَ آشنایئ پیوند دِ ولیدهٔ

سترګے چه نهٔ وی مخ په پسالهٔ نشی
فهم کهٔ وکړے داحال به وویني

سړے کهٔ زوړ وی بنهٔ څویه څوان لری
دَ پلار بنهٔ څویه دوباره عمر دے

سړے هغه دے چه نوش ونیش وی
په هره چار کښے همت په ځائے لری

کل په ګلشن کښے جهان افروز راغے
فال دَ دوستانو عجب فیروز راغے

وُنه په خپلو ولیو مُحکمه وی
سیالی ـ کله له سیاله سمه وی

دَ ونو پانړے مانړے خوړے
ـنا ـ پیوند دے په ویښته تړلے

څوئ ـ بد شی دَ خپل کالهٔ نهٔ شی
عیب چه ډیر شی عیب بالهٔ نهٔ شی

څهٔ به اندوه لری څهٔ به ارمان لری
بد څویه پلار لره بلا شان شان لری

نهٔ بدګوئی لری نهٔ بداندیش وی
کهٔ مال وملک لری کهٔ خوار درویش وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سړے چه زوړشی و رنځ ته جوړ شی
کهٔ ډیرهوښیار دے په عقل بوړ شی
چه بے ایمان وی حرص ئے زیات وی
کهٔ ایماندار وی له هرڅهٔ موړ شی

سوارهٔ دَعقل په براق بساغلی دی
له عقله پلی په غم نیولی دی
بدری دَعقل دَ براق هم بده ده
سوارهٔ ئے سرپه څټې لویدلی دی

سفله دِ هیڅرے دَ مال څښتن نشی
دَښوجامو دِ په اغوستن نهٔ شی
شمله چه پریږدی کټوه بنخه کا
له کبره خیاله ورته کفتن نهٔ شی

سفله چه زرهتول کا دَمال څښتن شی
ورانے په لاس واخلی دَځان دښمن شی
دَنیک خواهانو په پند پروا نهٔ کا
دَبدخواهانو په صحبت مئین شی

صبا به تل وی مسا به تل راځی
چه یو تیریږی باندِ به بل راځی
یو به خوشحال غوندِ پیدا څوک نشی
په شپه په ورځ کښے خوشحاله کهٔ سل راځی

سردار دَعفو دَ کرم څښتن بنهٔ دے
دَجنګ ترکار په آشتی مئین بنهٔ دے
ډیرهنرونه دَ سرداړی دی
چه واړه تیر شی تیغ میرهن بنهٔ دے

ساقی راپاسه پسرلے تیریږی
اهار را درومی غارمهٔ ډیریږی
ګوره لاکله به سهیل راخیژی
چه درد وغم به دَغارمهٔ کمیږی

ساقی راپاسه ګل او ګلاب دی
په باغ وراغ کښے لاله سیراب دی
په دواړو ستړکو په انتظار کښے
هم دَرباب دی هم دَ شراب دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سړے په مثل د ګبینۀ دے
شرم په دۀ کښے لکه خوابۀ دے

خوابۀ چه نۀ وی په ګبینۀ کښے
قدر د ژاوڑلے بے خوبۀ وخۀ دے

سړ. کال چه کال د رحمت تم دے
باران په هرچرته په غړۀ په سم دے

پس له شپږ. میاشتو چه چنکاښ شروع شو
په هره ورځ ترنیم ضیغم دے

سل خپلوان لږ دی یو دښمن بد دے
چه ډیر دښنۀ لری ځائے لحد دے

په بنۀ سلوک سره پردی خپلیږ.ی
چه خپل پردے کا کله بخرد دے

سګان د بدر له نوره جنګ لری
ګونګټ د مبنکو له بویه ننګ لری

سرۀ زرخۀ نورخۀ دی زرنیخ خۀ نورخۀ د
خۀ شوکۀ بریښی د زرو رنګ لری

سنځی ئے مۀ ګنړه چه نغن ئے خوارنۀ وی
با تورئے مۀ بوله چه پرے پرهارنۀ وی

کۀ دانشمند وی تفسیر په یاد لولی
چه ډیر ویل کا دے به هوښیارنۀ وی

سخ د هغودے چه بے خبر دی
بے غمه خوب کا په خوب وخور دی

سړ وزګار په غم دے د خبر دار و
چه په زړ ګونو فکرونو سر دی

شرم ئے نشته څاروے خوړار لری
نۀ هومره مهر په مور و پلار لری

فرق له سړ یو له څارویو هومره دے
چه شرم مهر په خپل مقدار لری

شونډے د نۀ دی آب حیات دی
زلفے د نۀ دی مبنک هبات دی

مخ د بهتر تر نسترن د باغ دے
سنان سنان د بانړۀ یکذات دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شاهین کهٔ پرلری سردارکهٔ زرلری
مُهم به سرلری کام به دربرلری

سردارکهٔ زرلری شاهین کهٔ پرلری
کام به دربرلری مُهم به سرلری

شرم دے کهٔ ننګ دے کهٔ ډارد سر دے
پښتانهٔ واړه دَمغل بنوروا خوری

سمه م پریښوه خُائے م تل غر دے
ماته ئے پاتے داشور وشر دے

شیطان هرکوره بنائسته روغ دے
بدرنګ په دا شوچه بد رسوا شو

چه بدرنګ بولی دا وے دروغ دے
پرے دریدلے دَ لعن توغ دے

شمع کهٔ هرخو سوز اوګداز لری
دا کارئے واړه خُاخوښ نهٔ شو

ژاړی په اوښکو چهره طراز لری
چه خپله ژبه اوږده په راز لری

شاهان بل اور دی په هرځهٔ نغری
چه یو بخړے خُان ته پرے نږدے

اعوان سکروټے دَ اور بخړی
هوښیار به تل وی واور ته خُړی

ښځے دَهیچا په رَګ ریشه نهٔ دی
په خپل مقصود دی په غرض سوډی

خرګنده چرده وفا پیشه نهٔ دی
په نور وچار وکښے دِهمیشه نهٔ دی

ښځے له خُایه په عقل کم دی
وفا تړے مهٔ غواړه په یارئ مهٔ ویاړه

سمے به نهٔ شی پیدا نا سمے دی
کهٔ دِ محرمے کهٔ نامحرمے دی

ښځے په اصل کږے نا سمے دی
شومتے اوږدے چه چرته ولګی

په عقل کم په دین هم کم دی
په دم پیرئ په دم آدمے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنځو ته ډیرے بلا تعینے دی
څوستر پوښے هومره مهینے دی
چه بے ادبه بے نمازے لوئے وی
ورته نظر مکړه کهٔ مخ نسرینے وی

بنهٔ به ترے څهٔ غواړے هغه چه تل بدوی
هم په بازل بد وی هم په ساتل بدوی
د بل علاج وشی د خپل علاج نشی
چه د بد خواه شی تر بل نه خپل بدوی

بنهٔ خوهغه دی چه د چا په چرنهٔ دی
کهٔ د وګړی په شور وشر نهٔ دی
ځان په ژوندینے د مړو په شمار کړه
نیستی هستی د ه څوک پرے خبر نهٔ دی

بنځے طرارے بنځے مکارے دی
بنځے مکارے دی بنځے طرارے دی
کهٔ هرڅو یارے بنځے اغیارے دی
بنځے اغیارے دی کهٔ هرڅو یارے دی

بنهٔ خوهغه دی چه په هیڅ خبر نهٔ دی
په غم په فکر د سیم وزر نهٔ دی
جُدا له خلقه په کُنج کښے اوسی
څوک ئے چا کر نشته د چا چا کر نهٔ دی

بنے بنے دلبرے د دین یارانے دی
په دا دُنیا کښے غمګسارانے دی
په خولهٔ ئے بنکل کړے زهٔ ئے ډیر بنهٔ شی
په دواړو شوندو شکر بارانے دی

بنیرے د واړه په ما دُعا لګی
بنکنځل د واړه په ما حلوا لګی
کهٔ تهٔ م وُلے په سکرو پتو
واړه به ګل د لاله په ما لګی

بنے بنے څهرے شته په داجهان کښے
کمے ئے نشته په هرمکان کښے
کهٔ هر کښلی مخونه تل ګورم
بیا به ترے لاړ شم په ډیر ارمان کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ښے ښے چین چین څنڑے پښتنے جنے
نن نغتے نۀ شی تشے پښتنے

په شین شین ځی شین ژنے
تشے پوښتنے نتنے شی ځنے

ښکارۀ په هرځۀ د چارے بند دے
ځنے سړی دی چه ږیره بریت لری

قدر له ښځے د مرد دوچند دے
جوړے له ښځے سره پیوند دے

شیکره چوړے نیسی زانړے شنقر نیسی
ولوئے میلمه ته سړے ساغر نیسی

شرمځ بیها نړوهی مزړے ایغر نیسی
مفلس میلمه ته ساغرلاغر نیسی

ښځے ښۀ څیزدی کۀ په مخ کښلی وی
کۀ دائے نۀ وی زړۀ په ګور شی

له موږۀ پلارۀ پاکے زوولے وی
چه نۀ لیدلے نۀ چاکتلے وی

ښائست د ښځے د مار یکسان دے
ښځه په زړۀ کښے څوځو بلا لری

ظاهرے مۀ ګورۀ باطن ئے وران دے
کۀ مار په خولۀ کښے د زهرو کان دے

ښۀ ښۀ ځوانان دی د ننګ یک دلی
ډیر زر دولت وے باندِ خوړ ولے

حاضر په کار کښے سوارۀ هم پلی
ورته بخښلی هرځۀ بخښلی

ښۀ خوئ بدیږی بدخوئ ښۀ کیږی
نافه د هوښے په بوئ خوشبوئ نشی

په صحبتونو کۀ څوک پوهیږی
حنظل شکر و سره خوږیږی

ښځه چه ډکه شی کۀ کښینی ماررا وړی
ګل چه نۀ رنګ لری نۀ بوئ ښۀ کا ندی

ماربښۀ نۀ څویه چه نا هموارا وړی
ښۀ داچه وُنه بوټے خاردار را وړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنهٔ مخ چه وویني په زړهٔ سخ سخ وائی
بد مخ چه وویني په زړهٔ چخ چخ وائی
کهٔ دَخو شحال غوندِ مئین په مخ شی
تل به مخ مخ وائی تل به مخ مخ وائی

بنځے به نهٔ شی دَ هیڅا یارے
په خولهٔ دی یارے په زړهٔ اغیارے
زهر دننه په اندرون کښے
دَ پاسه کښلے بنائسته مارے

صحبت له جنسه لکه ګلاب دے
دَ ناجنسانو صحبت عذاب دے
کَس به ناکَس شی ناکَس به کَس شی
طوطی طوطی دے غراب غراب دے

صبی کهٔ هرڅو مُرسل نبی وی
دَ پلار دَ مینے بیا اجنبی وی
یعقوبؑ چه ړوند شو یوسف هیڅ نهٔ شو
په غم کښے ستر وی نهٔ چه صبی وی

عقل دَ مزکے یا دَ آسمان دے
چه دواړه نهٔ لری هغه حیوان دے
عقل دَ مزکے دَ مور دَ نسه دے
چه دَ آسمان دے دَ دبستان دے

عشقه ستا واړه چارے اوترے دی
چه زورَور ئے واړه بهترے دی
ترمرګه پورے سره نظر لری
ځُلمی بازونه جونه کوترے دی

عشق چه په خپلو موجونو سرشی
ترا باسیندهٔ لا زورَور شی
بلائے لرے هرڅهٔ چه مخ وُړی
چه کانړی بوټی په مخه ورشی

عادت چه بد لری ځان ئے ژړلے دے
عادت چه بد لری سرئے خوړلے دے
عادت په پند نهٔ ځی عادت په بند نهٔ ځی
عادت له سَره سره تړلے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عجب کارونه صبا بیګاه شی
نیکخواه بدخواه شی بدخواه نیکخواه شی
زړونه دَ خلقو دَ خدائے په لاس کښے
تبدیل دَ خلقو په هره ساه شی

عزت دَ زړو پیرو دے عزیز دی
هغه چه زړ ساتی صاحب تمیز دی
کهٔ هرڅومره دی په حقیقت کښے
نَه رعاقلانو وته ناڅیز دی

عالم پرے وُنے تلے کپ ګوری
دوروونه خدائے کا نهٔ ئے داستوری
نظر دا نهٔ کا چه افلاکونه
دَ چا دپاره سره تل بنسوری

عاشق په وخت دَ وصال سلطان وی
هالهٔ ئے مهٔ وینے چه پرے هجران وی
چه یافت ئے څومره خوښی ئے هومره
څوچه کالے وی هسے ئے زیان وی

عاشق خپل کار کا شرم پیغورڅهٔ دے
چه پرے مئین شوے دلبر سپین تورڅهٔ دے
زنبق ته ګوره سوسن ته ګوره
کړهٔ وړه څهٔ نورڅهٔ دی نمکڅهٔ نورڅهٔ دے

عفو کرم دِ په هرچا عام نهٔ وی
په کس ناکس دِ دا کارمدام نهٔ وی
کس چه خطا وکا باندِ عطا بویه
ناکس لا بد شی چه انتقام نهٔ وی

عرب هم پیر دی عجم هم پیر دی
شماره ئے نشته ترحساب تیر دی
نور کښلی واړه غټ واړه ستوری
تاغوند کله دَ نمر په څیر دی

عیب ئے مهٔ ګوره چه پیر هُنر لری
څهٔ شو په مخ کهٔ تیر سره نمر لری
سرچه دَ تاج دَ خولئ لائق وی
څهٔ شوکهٔ څهٔ خو پخے دَ سر لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عام دِ دَخاصو په مجالس نۀ شی
دَ ناسو کار دَ نسنا سو مۀ غواړه

یارَ د فرښتو سره پیرے ناغس نۀ شی
دَ پیازو بوټے کل د نرګس نۀ شی

عمرکۀ ډیر شی بیا دِ هفتاد شی
چه دَ حوانئ ساعت رایاد شی

ترډا دپاسه کله رماد شی
په هرزمان مِ پسے فریاد شی

غم دَ ګناه مۀ کړه ګناه قربت دے
کۀ سل ناسازے په نارمعشوق کا

ګناه هغه بُد دے چه قطیعت دے
څۀ شو په کارئ ستر عفت دے

غلیم هوښیار بنۀ دے کۀ مرګ دِ غواړی
هوښیارچه نۀ دے غلیم ئے مۀ ګنړه

ډیر به ترجنګه په آشتی ویاړی
پریږدہ پخپله به خپل ځان وژاړی

غم کۀ په زړۀ کښے دَ دلارام لری
چه یارئے څۀ وی هسے دَ دے وی

ګرم دے کۀ فکر دَ ننګ ونام لری
کۀ دین دَکفر کۀ دَ اسلام لری

غابن چه دِ وشوری مرئے دِغل شی
چه آواړه شی هاله ترے خلاص شی

بدخویه بنځه سر دِ ئے کَل شی
ګنړه وتاته واړه خلل شی

غم به دَ دین خوړی چه مومنان دی
چه دین ئے نۀ وی کۀ په تخت کښینی

دا نورغمونه واړه آسان دی
بنا دی ئے غم دہ کۀ بادشاهان دی

غشے چه کوږ وی یا عیب ژن وی
یا علاج وکړه چه باوری شی

ځائے ئے په کیش کښے کله سودمن وی
یا دِئے فکر دَ دور کودن وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

غشے چه راشی په واړه تن لګی ګوړه رسا لګی که برسیرن لګی
بده خبره ترغشی بده ده د زړه په سرباندِ د مرد وزن لګی

غشے د تینګ لیندے خطا شی د نرے سستے ګذار رسا شی
بنه تیره ټوره په لاس کښے واوړی د پخے ټورے ګذار بلا شی

غشی چه دیر وُلی بنهٔ تیرانداز شی چه مشق د خط کړی وخط ته سازشی
کارد محنت دے د مشقت دے سړو رو په هرهر هُنر ممتاز شی

غشے چه سم وی ګذار پرے بنهٔ کیږی چه بنهٔ سم نهٔ وی ګذار پرے نهٔ کیږی
رښتیا په هرځهٔ کښے لکه سرهٔ زر دی په لاس کښے زرلری په زر هرځهٔ کیږی

غوتئ د باغ دی تل تل غوړیږی پرے وُبرے سترګے د بلبل مړیږی
خدائے دِ تازه لری د باغ ګلو نه چه ورته سترګے د بلبل غړیږی

فرښتے له نُورهٔ پیرے له نارهٔ دے کهٔ پرے خبرئ سړے له چارهٔ دے
حُکه دا هسے دیرے فتنے لری له باد وخاکه له آب و نارهٔ دے

فصل په فصل کندو ډکیږی لکه ډکیږی هسے تشیږی
چه دا آسمان شته په سرخرخیږی یو فصل درومی بل رارسیږی

فلک یو سترګے کهنه تیر ګردے ددهٔ په هرهر لرګی نظر دے
نړیات په دا دور چه رغوی ئے د سر اغزیو په غشو سر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرزند هغه دے چه متقی وی
نۀ بدګمانه بدخوئ شقی وی
خبرچه نۀ وی دَ خدائے له حقه
دا نور حقونه پرے ناحقی وی

فرزند یو پرو کے دَ پلار له ځانه دے
دَ پلار دَغوښتو دَ استخوانه دے
دَ پلار په خوښ وچه پروا دار نۀ وی
له پلاره نۀ دے ګورۀ له چانه دے

فرزند چه وُوزی دَ پلار له ډیره
بنادی ے ګومه ده بدبخت ته وایه
دا نه کۀ وُوزی دَ پلار له حکمه
خروار به مومی بدی له خدایه

فرزند هغه دے چه شرمناک وی
له بدو چارو په زړۀ کښے پاک وی
چه شرم نۀ لری خبره نۀ منی
چه لا هلک وی زړ دِ هلاک وی

فرزند چه عاق وی کۀ تۀ ے وینے
بدے اوبۀ دی مردارے وینے
مینے دَ پاکو پاکان پیدا کا
ناپاک پیدا کا ناپاکے مینے

فرق دَ سړیو سره بسیار وی
سړے هغه دے چه څۀ هوښیار وی
چه څۀ ترے تیروی څۀ ے لیدلی وی
علم ادب لری په صحبت تیار وی

فتنے دَ بنځو هر ګوره ډیرے دی
په شیطانئ ترشیطانه تیرے دی
لکه لټکه هسے ټکی لری
زهر په خواکښے کښلے برسیرے وی

فرزند کۀ هرڅو دَ پلار عاصی شی
چه پلار ته پریوزی بیا په خلاصی شی
خدائے په بنده باندِ لا ډیر مئین دے
له هر ګناهه په توبه خلاصی شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرزند کهٔ ښهٔ شی د ستړکو نُور شی
د ستړکو نُور شی د زړهٔ سرور شی

فرزند کهٔ بد شی غابن دِ د نحُور شی
غابن چه رنحُور شی نور د انبور شی

فکر م وکړ چه دا انسان دی
خُنے فرښتے دی خُنے شیطان دی

خُنے سړی دی په خوئ خصلت کښے
خُنے بے شکه لکه د دان دی

فانی دی واړه دا نورے مینے
یوه باقی ده کهٔ ته ئے وینے

خبر کهٔ نهٔ شوے په باقی مینه
ژاړه کهٔ ژاړے په اوښکے وینے

قلپه روپیه ښائسته روغه دی
خوچه سوراخه شی نورے فروغه وی

هیڅوک د خپلو شنو بو بد نهٔ وائی
صفت د هرچا له خپله دوغه وی

قاضی په وخت د قضا په یاد شی
غازی په وخت د غزا په یاد شی

طبیب په وخت د دوا په یاد شی
زاهد په وخت د دُعا په یاد شی

قوت م لږ شو نفس م لنډ دے
وے ترے نهٔ شم د سر یشو پنډ دے

منزل م اُوږد دے کهٔ روغ ترے وُرسم
په سر م اینے د سر یشو پنډ دے

قام ته م کله لوئی ښکاره وی
په وړوچارو کښے آواره وی

لاس م نیولی وی په دواړو غوږو
ترے توبه توبه چه هیچکاره وی

قابل هغه دے چه درست طلا شی
کهٔ زر و سیمه په استغنا شی

نهٔ ئے زکوٰة وی نهٔ ئے قربان وی
هسے ترے دومه لکه چه راشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

قرآن چه لوست شی په هغه کور کښے
غم به ئے نهٔ وی په سپین په تور کښے
کهٔ ئے گناه وی هسے به سوزی
لکه خزله سوزی په اور کښے

قرار په دا لرم حال مِ عیان دے
نهٔ مِ زکوٰة شته نهٔ سرسایه لرم
نوم مِ دَخان دے کار م بل شان دے
نهٔ مِ اختر شته نهٔ مِ قربان دے

قابل کهٔ نهٔ وی دولت کهٔ بیا مومی
لکه ئے بیا مومی هسے ترے بیا درومی
باور په بخت مکړه باور په تخت مکړه
آسمان ئے ونغاړی که شاهشٔ درومی

قربان ترخاصوچه خاص الخاص دی
په زړهٔ له نور و فکرونو خلاص دی
کهٔ ډیر غمونه ور باندِ راشی
تسلیم قضاته په ډیر اخلاص دی

کهٔ څوک په خیر خیر وئیل ویر یږی
خوشحال نهٔ ویړه کا نهٔ شرمیږی
هوښیار به وارهٔ په دا پوهیږی
چه کابڼهٔ زیږی کا بڼهٔ لوئیږی

کهٔ هغه یار م راضی په مرګ دے
دا دے نیولے مِ ورته تخرګ دے
غښے دِ بنهٔ په سوهان تیرهٔ کا
چیرے به بند شی توبرے بغرګ دے

کله یار غواړے کله یار درشی
کله کار غواړے کله کار درشی
آسمان په ډول ډول پیرے کا
خوشحاله کوړهٔ کوندِ وار درشی

کهٔ م په ډیره شړا لیمهٔ وُوزی
یار م ناترس دے په دائے څهٔ وُوزی
کلکونے اوښکے سارهٔ آهو نه
څهٔ مِ له ستړکو څهٔ مِ له زړهٔ وُوزی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ پیر والا شے په پارسایئ کښے
سیال دِ څوک نهٔ وی په ملایئ کښے

غافل هیڅ مهٔ شه دَ نفس له مکړه
بلا پرے ونړی په آشنایئ کښے

ړاته کهٔ غور کړے یو نصیحت دے
نهٔ دِ بدخواه یم نهٔ خدیعت دے

باړ دَ فکرونو په ړوړه هیڅ مهٔ ږده
هغه به موے چه دِ قسمت دے

کهٔ زړهٔ څوک ټینګ کاچهٔ قضا نهٔ وی
کهٔ تل جنګونه کا مړک ئے روانهٔ وی

قضا چه ورشی بلا پرے سازه شی
کهٔ په ملکونو چیرے بلا نهٔ وی

کوم دے چه واړه خوبئ دَ ګل لری
خمار دِ مل شته خارونه ګل لری

یار کهٔ نور ښهٔ یو خوئ مهٔ ګورهٔ
اکثر کهٔ ګورے حکم دَ ګل لری

کهٔ بد ویونے بد لمسوونے ئے
په ځان پخپله اور لګوونے ئے

کهٔ نیت دِ سړوغ دے اندوه هیڅ مکړه
جهان کهٔ غم شی تهٔ ښادی کړونے ئے

کهٔ څوک دِ وُلید په استکبار کښے
په قول فعل په کاروبار کښے

په لار کهٔ درشی سلام ئے مهٔ له
پاتے چه پل ږدے دَدهٔ په لار کښے

کهٔ بخت م یارشی یارم به یارشی
بوسه به راکا را به کنار شی

چه م نیکخواه دی زړهٔ به ئے ښهٔ شی
چه م بدخواه دی هغه به خوارشی

کهٔ تهٔ په قدر دَ ځان خبرے ئے
تهٔ سر تر پایه واړه سرهٔ زرے ئے

زر دِ پخپله ترمس بتر کړهٔ
چه ناسوتی ئے په بدو سر ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ رنګ دِ سپین دے کهٔ رنګ دِ تور دے
په داخهٔ نهٔ شی مطلب څهٔ نور دے

بوئ په نافه کښے وینے په قدر کا
شمشاد بے بویه دَ چند نر پیغور دے

کریم هغه دے چه خوش معاش وی
هم خطا پوش وی هم خطا پاش وی

چه ورکا خوښ شی چه پیرورکړه لږ ګڼی
باندِ دَ هرچا شاباش شاباش وی

مرګ دَ لونړو دشوار فرقت دے
ژوندون دَ دویو هم یومصیبت دے

چه کورئے لوئے وی شرشورئے لوئے وی
چه کورئے کم وی یولوئے نعمت دے

کهٔ بادشاهی غواړے کارئے آسان دے
تسخیر دَ ښارونو خُلق دَ احسان دے

لښکر چه وشو طالع دِ ملے شوے
داد او دهش کړه خپل دِ جهان دے

کړے په رنګ دَ طوطا نمود دے
په رنګ مدارنهٔ دے هُنر مقصود دے

اصل پیدا کړه هُنر خصلت راوړه
چه اصل نهٔ لری هغه مردود دے

کهٔ نورخهٔ نهٔ وی سړے چه زور شی
دَ ګنګا شونو په کار کښے جور شی

خُوانان چه نهٔ منی دَ زړو بد کا
دَ بد خواهانو زړهٔ به پرے سور شی

کهٔ ډکه بنځه کښینی یو دَد راوړی
بهتر تر دا دے چه بد ولد راوړی

دا خُلئے حیرت دے څوک به څهٔ دم وهی
بدان چه بنهٔ را وړی نیکان چه بد راوړی

کابنهٔ کارونه ناپوهه ته سم وی
بنهٔ سم کارونه ناپوهه ته غم وی

فرق دَ هوښیار دَ ناپوهه په دا وُشهٔ
په دا خبره به خبر اعلم وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ سخاوت دے کهٔ شجاعت دے
چه دائے نهٔ وی له مونږے مهٔ کنړه

زمونږ په کورکښے ځائی خصلت دے
کورهٔ ځان کښے ئے یوځهٔ علت دے

کهٔ په ربښتیا کښے د زړو تله شے
خوبی دِ هومره ده په خولهٔ کښے ژبے

تهٔ به په قدر په قیمت ترتله شے
څوله د ړوغو هومره ساتله شے

کنج د ځوانئ ترچل و پنج دے
ځوان په افلاس کښے د ځوانئ خوښ وی

بهتر د سیم و زر ترکنج دے
ړوړکهٔ بادشاه وی زړهٔ ئے ترړنج دے

ګناه کهٔ هرڅوډ سړی ډیر شی
نومید دِ نهٔ شی د خدائے له فضله

په شمار د ونو ترپانړو تیر شی
ګوند د فضل په ډکه ویر شی

کهٔ بدئے بنهٔ به شے په بنهٔ خصلت کښے
وفاله هرچا کړه جفاله هرچا وړه

کهٔ کم ئے لوئے به شے په لوئے همت کښے
دین او دُنیا غواړهٔ په بنهٔ صحبت کښے

کړل دی وئیل دی دواړه آوان لری
چه کارد نن ورځے پریږدی صبا ته

چه وخت ئے تیرشی افسوس ارمان لری
هوښیار به نهٔ وی داخوئ نادان لری

کښلی هغه ده صفت ئے بنائی
هغه د کښلیو په شمار نهٔ ده

په هرهڅائے ئے وکړے ستائی
چه د کور ډمه ئے ستائینه وائی

کهٔ خولهٔ م پته پریږدے هیڅ نهٔ ئے
په هره ساه شکر وکاږه

کهٔ باد دِ بندشی وایه چه څهٔ ئے
چه تند رستی لرے هم هومره بنهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ په ګناه کښے صبا بیګاه وی ګناهۍ نشته چه څوک آګاه وی
کۀ هیڅ ګناه نۀ کا په غفلت کښے اوسی هم دا غفلت د غافل ګناه وی

کنګاش په مثل د سودا کار دے کۀ په سودا کښے فائده دینار دے
اهمال پرے نۀ بویه سودا سودمنه ده چه پرے اهمال کا کله هوښیار دے

کۀ د نبا تو حلوا پخه شی په ناکهانه په سپی جوتۀ شی
نور د سړیو له کاره وُوځی جوتۀ د سپیو په سپی خوړه شی

کۀ پرے پوهیږے دا کار څرګند دے پند د سړی دے سړے د پند دے
په داخبره کار د نادان نشته پرے به پوهیږی چه دانشمند دے

کۀ یار ځما دے درست به ځما شی سستی به پریږدی چست به ځما شی
زړۀ به وزګار کا له غیره فکره په شپه په ورځ به په لوست ځما شی

کۀ مینده لرنګے د آفریدو دی دوی و د تُورے تُورے د دیو دی
د دین په کار کښے لۀ آراسته دے عزت د خپلو هم د پردیو دی

کۀ ژاړے ژاړه په ژړاخۀ شی کۀ په ژړا د لیمۀ پاندۀ شی
هغه چه لاړل له دے جهانه کۀ تۀ باور کړے بیا رته رانۀ شی

ګندګی چه پروت وی ګونګټ پرے کړی چه نۀ وی پاسی څنے وورزی
د دُنیا خلق اکثر ګونګټ دی څوچه څۀ مومی ورباندِ غورزی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کفر په بخره د کافرانو دے
اسلام په بخره د مومنانو دے

چه هیڅ په کفر په اسلام خبرنۀ دی
عشق م په بخره د عاشقانو دے

کۀ بنۀ بنۀ جونه کۀ لباسونه دی
کۀ بنۀ بازونه کۀ بنۀ آسونه دی

خوشحاله زوړ شوے اوس دا هوس مکړه
د بنو خوانانو دا هوسونه دی

گلزار ته راغله گلونه چونړی
ترڅ ئے نۀ دی لاله مخ رونړی

چه گورته درومی له گلستانه
گل ئے لمن شی لاله لستونړی

کۀ ئے له حاله خوشحال پوښتئ
بنۀ ئے همه دی کړے پوښتئ

کړے پښتئ به درسمے نۀ شی
کۀ په هنر کښے نامے پوښتئ

کۀ دِ د یار په یارئ زړۀ وی
د یار به هرڅۀ وتاته بنۀ وی

قدیم بے مثله دے عیبے نشته
حادث به هیڅ بے عیبه نۀ وی

کښلی کۀ ډیردی په قندهار کښے
یا په کشمیر کښے یا په فرخار کښے

لکه دا کښلی د پیښور دی
هسے به نۀ وی په هیڅ دیار کښے

گل شوے د خوړے د بنړ پلوسے
خوشحاله ولے بے گشته اوسے

کشت د گلونو بنکار د بازونو کړه
چه گورته ډیرے خوښئ یوسے

کۀ څوک نیکان دی کۀ څوک بدان دی
په دا دُنیا کښے چه په هرشان دی

مۀ ئے ستائینه کړه مۀ ئے غندنه
نۀ به ئے څۀ کړے چه د خپل ځان دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ یار خمائے سکه دُر د آشام به شے
نړهٔ اوس قلاش یم رندیم او باش یم

که صاف صوفی ئے په خپل فرجام به شے
راسره مهٔ کښینه کنړه بدنام به شے

گران ترا یمان دے کهٔ تهٔ ئے وینے
سل کبیره کړے ایمان په ځائے وی

کار د بنے مینے جگر کا وینے
په صغیره ځی دا بنے بنے مینے

که مړنے ئے مغفر شکاف ئے
تر دا دواړه بهتر دا کار دے

د بادشاهانو د لوئے مصاف ئے
په عهد قول که سینه صاف ئے

که د مردانو په دین آئین ئے
نهٔ بند په سړهٔ ئے نهٔ بند په سپین ئے

که نهٔ د تخت شته نهٔ د افسر شته
قیصر د روم ئے فغفور د چین ئے

که مخترن دی خو د روغژن دی
ربنتینی کله په مخ خیرن دی

په صف م مهٔ کړه د دروغژنو
که د کنجونو دولت څښتن دی

که ناسپاس ئے ناس نسناس ئے
هاله تهٔ ناس ئے که ناسپاس ئے

که حق شناس ئے هاله تهٔ ناس ئے
هاله تهٔ ناس ئے که حق شناس ئے

که د نیت ساز دے عمل د ساز دے
که د روژے دی که د نماز دے

مدار په نیت راغے مراد په نیت راغے
دین او دُنیا لره په نیت کښے راز دے

گیدړ بے زړهٔ دے وهم وسواس لری
مزړے زړور دے کله هراس لری

هغه مزړے نهٔ دے هغه گیدړ دے
په کار وبار کښے چه زړهٔ کوز پاس لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ پلار کۀ ځویه کۀ رورکۀ یار دے
پہ دا دُنیا کښے سرہ یو کار دے

کۀ سودۓ نۀ رسی پہ دا دُنیا کښے
ژوندون مِ مۀ وۀ عمرۓ خوار دے

کۀ هیڅ نۀ وُو پہ ذوالفقار کښے
دَروم دَ جیش پہ کاروبار کښے

چہ تیغ برش کا فتنے جنبش کا
وئیل هیڅ نۀ شی پہ هسے کار کښے

کۀ یاری دواړہ وبلہ رائے شی
دروی لہ ژبے پہ زړۀ کښے ځائے شی

چہ دا باریکے معنیٰ ۓ بیاموندے
پہ هغہ کس دِ رحمت دَ خدائے شی

کۀ زړۀ سخی لری چہ مال ۓ نۀ وی
پہ ځان مِ ولیدۀ څۀ حال ۓ نۀ وی

کۀ بازدِ واړہ هُنر دَ بنکار لری
بنکاریه پہ څۀ کا چہ بال ۓ نۀ وی

کۀ ستړکے نۀ لرم چہ هسے کوری
بے دَ عینکو دَ کتاب توری

پیرئ تتے کړے شکر وُکا بر م
چہ لا پرے وینم دَ آسمان ستوری

کۀ بادۓ یوسی پہ هوا خس خس دے
پوکۀ شکر خور شی مکس مکس دے

کۀ ۓ دولت وشی کۀ دانشمند وی
دائے هیڅ مۀ کوره ناکس ناکس دے

کۀ سحر دَ ستړکو غمزے ۓ دا دی
لکه چه ستا دی بلا دی دا دی

خوبۀ ے خبرے دِ خوږے شکړے شوے
مشک وگلاب دِ پکښے ادا دی

گل دَ گلابو نیست و موجود شی
لکه موجود وی هسے نابود شی

کۀ بوئ ۓ پاتے شی پہ آبګینه کښے
پہ هغه بوئ ۓ هر څوک خوشنود شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کنا س کهٔ واغوندی وربښمینے ږنجے
بل څهٔ به نهٔ شی په تنجے پنجے
کهٔ ئے د مښکو په نافه کښے واچوے
خپل بوئ بنکارهٔ کا په هرځائے هنجے

کهٔ بادشاهان دی کهٔ درویشان دی
کهٔ په دامینځ کښے بنهٔ بنهٔ خوانان دی
کهٔ په زړګونو کالونو پاتی
عاقبت واړه د ګورستان دی

کبلے چه پریوزی مور ورته وُدَری
په دوه درے میاشتے په پیټو ولری
کهٔ پرورش دے د کبلی کهٔ څله ده
څوک ئے په ښهٔ کښے دهوسیو وکری

کهٔ رور ناکس دے په خوئ کښے کَس دے
داخوئ به دے لری ورلره بس دے
د مشر ږور به آب په څائے لری
ناز به د کشر وړی څوئے دسترس دے

کارئے بنکاره شی ونه چه بر واخلی
یاخوبِ ثمر واخلی یا تریخ ثمر واخلی
فرزند هم هسے د وُنے کار لری
یا بنهٔ هُنر واخلی یا بدهُنر واخلی

کهٔ سر د نبځے سپینے وړئ شی
زړهٔ ئے و غو ته هره ګړئ شی
سړئ نهٔ دی لکه پیری دی
چه غیږ پرے ولاړشی هاله سړی شی

کهٔ نادانان دی کهٔ هوښیاران دی
ګمان دا مکړه چه بیکاران دی
خوابنهٔ ترخهٔ ئے واړه په کار ګنړه
چه پیدا شوی په دا باران دی

کمال د کفر ناقص دین بنهٔ دے
یا درست ګمان بنهٔ دے یا درست یقین بنهٔ دے
چه کله داشی کله هغه شی
دانا ته کله مذبذبین بنهٔ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ لوئے نعمت دے دَ روغ صورت دے
چه دائے نهٔ وی مزه ئے مهٔ غواړے

کهٔ لوئے دولت دے دَ نیکونیت دے
کهٔ بادشاهی ده کهٔ سلطنت دے

کهٔ ځان دِ وپیژاندهٔ هاله سړے ئے
اول هم هیڅ وے بیا به هم هیڅ شے

کنه وما ته دَ خرهٔ څړے ئے
کهٔ سروغ وی مات شی هغه کړے ئے

ګریوان ئے تل تل له کله عار لری
چه ئے ځماغوندِ دلبره بیاموندے

مژګان ئے تل تل کشته بسیار لری
هغه له نور و سره څهٔ کار لری

ګوره پرے غږ کړه شپیلئ څهٔ وائی
سینه ئے ګوره څوځایه سوے ده

بیلتون پرے ورغے هر ګوره ښهٔ وائی
زاړه فراق کا نور څهٔ هیڅ نهٔ وائی

کهٔ سُود دے سود دَ سحر سجود دے
نهٔ به تل تهٔ وے نهٔ به دِ سر وی

بهتر تر درستے دُنیا دا سُود دے
سجود له سره سره موجود دے

کدوچه هسے په منډه دا نګے
دا کار دِ بد نهٔ دے بلادِ دا شوه

پاسه دِ لاړشی په بهار څانګے
په ساړهٔ وچ شے حبطه زانګے

کهٔ دیر هوښیارئے یا مَړنے ئے
مدار په بخت دے چه بخت مدد نهٔ کا

په خوشحوئ کښے شکر کنے ئے
هم هیڅکاره ئے هم لیونے ئے

کهٔ ورته وائے کله پوهیږی
دَ پلار په پندئے وتنه نهٔ وی

قرآن کهٔ لولی کله ګروهیږی
بدان په خپلو بدو ستوهیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ لعل و دُر او یا قوت الماس دی
واړه دا ناس دی واړه دا ناس دی
چه ناس دِ نهٔ وی په سیند کښے پریږده
کهٔ جواهر دِ بیرون تر قیاس دی

کهٔ شیر مردان دی هغه خُوانان دی
چه دوست دښمن سره په خوئ شادان دی
تل خوښ له دیو یاران دوستان دی
تل ترے په طمع لا دښمنان دی

کهٔ دَ غنډ نے کهٔ دَ صفت نے
کهٔ دِ نشته هسے صورت نے
غنډ نه هومره چه دَ دوزخ نے
صفت دِ هومره چه دَ جنت نے

کهٔ زړهٔ م دا دے غلیم خُما دے
غلیم خُما دے کهٔ زړهٔ م دا دے
مئین په چا دے دَ چا آشنا دے
دَ چا آشنا دے مئین په چا دے

کهٔ څوک ا یغر دے کهٔ څوک اخته دے
هر څوک په خپلے چارے اخته دے
څوک سره مینے شیر و شکر کړه
څوک سره کوړه اور اوپخته دے

کهٔ ډیر دولت لرے ډیرے مستئ
دا واړه هیڅ دی بے تندرستئ
کهٔ پرے پوهیږے څو تندرستی ده
چه حلاوت لری ستا دَ هستئ

کهٔ هر څوبنهٔ شی بیا دِ بادشاه شی
لښکر دولت لری صاحب دَ جاه شی
بیا به تنها دروی دَ کور وخونے ته
په خپل عمل به هالهٔ اګاه شی

کهٔ تور هاتی دے کهٔ سُور اسد دے
نور څهٔ نے مهٔ کنړه دَ کور لحد دے
غوښے هډو نهٔ نے دَ خلقو وخوړل
پرے نهٔ مړیږی هر کوره بد دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ کړم کهٔ نهٔ کړم دواړه بلا دی
کهٔ وړم کهٔ نهٔ وړم دواړه بلا دی
کهٔ خورم کهٔ نهٔ خورم دواړه بلا دی
کهٔ مرم کهٔ نهٔ مرم دواړه بلا دی

کهٔ سوختګان دی کهٔ آموختګان دی
د زنګ د ژړونو افروختګان دی
خدائے ئے روزی کړه بنا دی ئے خپله ده
چه د غمونو اندوختګان دی

کهٔ دِ راحت دے کهٔ دِ محنت دے
کهٔ دِ صحت دے کهٔ دِ زحمت دے
کهٔ خاندے خانده کهٔ ژاړے کهٔ ژاړه
دا به دِ تل وی څو دِ صورت دے

ګلزار ته راغله خته ګلکونے
د مخ شغلے ئے تر نمر افزونے
پرخه پرے نهٔ ده پرته له شرمه
ترهر هر ګل شوے خولے بیرونے

کهٔ د جټا نو څهٔ برکت وے
یائے څهٔ عقل څهٔ مصلحت وے
د هندوستان سره د هیڅا کار نهٔ وُو
ژغ هم د دیو د سلطنت وے

کهٔ د غلیم سره جنګ او مصاف بنهٔ دے
کهٔ مردئے زړهٔ خو ورسره صاف بنهٔ دے
ماچه نظر وکړو چه تجربه وشوه
د هرے چارے عدل انصاف بنهٔ دے

کانړی یاقوت دی ګیا کیمیا دی
شناخت هغه لری چه څوک بینا دی
فرق د سړیو ترمینځ بیشماره دے
ځنے سړی دی ځنے چارپا دی

کهٔ فهم او کړے ستر ګو ته خس بس دے
نعمت چه درکا ورته مګس بس دے
ایمان ډیر ښهٔ دے هم ډیر قوت لری
زوال ئے مهٔ وه ورته وسوس بس دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ګل ئے له مخه د خوبئ انځور غواړی خوارهٔ نے شهد له شیرئ [illegible]
ډیرئے په طور د شیخ صنعان کړهٔ ستړګے ئے بنهٔ بنهٔ [illegible]

که آدم زاد دی په بنهٔ صورت دی بنځے د سپیو په طبیعت دی
بنے ئے بنے سپی دی بدے ئے بدے لاترے بترے په خوئ خصلت دی

لکه ګټنه د مال هُنر لری هسے خورنه د مال هُنر لری
لکه بازنه د مال هُنر لری هسے ساتنه د مال هُنر لری

لکه پری یوه سړی په مخ مهوشه عنبر خړئ
هارئے په غاړه د سروګلونو بخت کړه له ماسره غاړه غړئ

لیلی مجنون ته وے په بیابان تښے وے له خلقه ئے هسے ګښے
وے ئے ماخهٔ پوښتے مګر تانهٔ زده تایم له خلقو ګوښے پریښے

لکه په ونو باندِ خزان راشی پیری هم هسے په خپل آوان راشی
خزان د ونو خوبی تاراج کا پیری هم هسے په زیان دځان راشی

له طبیبانو عالم دوا غواړی له درویشانو خلق دُعا غواړی
خدایه د هیڅا محتاج ئے مهٔ کړه هرڅوک له نور وخوشحال له تاغواړی

لوګے کهٔ هرڅو د اور فرزند دے کارئے وهرچا و ته خرکند دے
چه نور ئے نشته اوربه بالهٔ شی؟ څهٔ شو کهٔ پورته په باد بلند دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

له شیره شیر زیږی له ګرګه ګرګ زیږی
له بازه بازوی له چرګه چرګ زیږی

هرڅوک خپل اصل ته رجوع کا
خطا کهٔ نهٔ وی له بزرګه بزرګ زیږی

لوئی په خدائے ښائی یو ذوالجلال دے
څو ورته خواست کړے هومره حلال دے

دا نور خواستونه واړه حرام دی
کهٔ لږ وډیر دے وچا ته سوال دے

لعل له کانه په بدخشان کښے
لؤلؤ له بحره په لوئے عمان کښے

په ځګر خون خیژی دا دواړه توکه
کهٔ فکر وکړه سړے په ځان کښے

لکه ګټوه په لمبو یشی ځما دننه په زړهٔ هغه شی
له چا به څهٔ لره مانړه په زړهٔ لرم خوږ یم د خپلو ترکو په غشی

لاس کهٔ م هرڅو په دُنیا سبخ دے نه چه دولت م دَغارے فخ دے
زهٔ ئے میړهٔ یم دُنیا م ځکه د ه زړهٔ م په هرڅهٔ ورباندِ یخ دے

لکه په تاکښے شته نشته په چا کښے نهٔ په کانونو نهٔ په دریا کښے
دریغه خوشحال ختکه دریغه چه تل به نهٔ وے په دادُنیا کښے

لرګے چه و توږی هالهٔ ترے تیر شی په بنګړ هُنر وکړی هالهٔ زهګیر شی
تر درس چه وُوځی علم حاصل کا تر سر چه تیر شی سړے امیر شی

لګړ کهٔ هرڅو ترباز تیز پر دے په هره چار کښے د باز نفر دے
کوتهٔ کهٔ هرڅو ترتازی بنهٔ زغلی بیاخو په قدر ترتازی کمتر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لوئی په خدائے بنائی یوهسے لوئے به وی
پـه ورځ د حشر چه گفتگوئے به وی

د نورو پانړو په شست وشوئے به وی
غم به د ځان نه کا اُمتی جوئے به وی

لبان د نه دی آب حیات دی
آبِ حیات دی صفوت صفات دی

چاچه نوشلے هغه یو څاځکے
په هغه څاځکی دیدن د ذات دی

لکه چه ډیر دی نیک بخت عاقل وے
بویه لوئی م اوس یو په سل وے

دیرش دی که څودی دریغه ارمان دے
په هومره خو یو کښے یو دوه قابل وے

مت کړه قابل شه چه څوک قابل شی
د بخت وستړیو ته مقابل شی

قابل چه نه وی دولت که بیا مومی
بقائے نه وی حال ئے څه بل شی

مت په هُنر کړه هنر پکار دے
مور پلار به څه کړے هُنر مور پلار دے

فخر په زړه کړه په بنه پدرمه کړه
فخر په دا کړه هُنر د یار دے

مزرے خپل ژغ لری گیدړ خپل ژغ لری
هر یو د خپلے چارے دغدغ لری

گدائے د خپلے جونگړے غم کا
بادشاه د ملک د حشم یرغ لری

مردان هغه دی چه همت ناک دی
د ننگ په کار کښے چُست وچالاک دی

کار چه آغاز کا انجام ئے فرض گنړی
په زړه هم پاک وی په خوله هم پاک دی

ملوک چه عدل عقل کرم لری
اندوه ئے کم وی له چا څه غم لری

چه دائے نه وی د ځان غلیم دے
ځان به پخپله عالم ته کرم لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مرد څو غیرت لری هومره بهتر دے
څو صداقت لری هومره بهتر دے
څو جنګیالے وی څو ننګیالے وی
څو سخاوت لری هومره بهتر دے

میړهٔ هغه دے چه صبرناک وی
دوراندیشی لری په لمن پاک وی
چه دائے نهٔ وی په سرئے خاورے
ګنده ئے عمر ګنده ئے ژواک وی

میلمه په تاؤ راغے په لاس کښے تیږے
اول ئے غوښت غوښتل اوس سپینے وریژے
دا هم لاپریږده واس ته ګوره
کوری غوړی غواړی اوربشے وریژے

مور هم هغه ګنړه چه زړهٔ ئے مور وی
ستړے مړے لری کهٔ زوړ کهٔ ووړ وی
چه ډیر دولت لری چه طمع خواست کا
ډګدایئ وکار ته جوړ وی

مینه په هرچا چه ډهٔ د پاره شی
بقائے نهٔ وی زړکاره کاره شی
چه حقانی وی مقصود هیڅ نهٔ لری
ډهنګ مینے به تل ننداره شی

معشوقه کومه چه طربناکه وی
ناز و نیاز لری په حسن پاکه وی
نهٔ دروغژنه نهٔ قهرژنه وی
نهٔ بدخوراکه نهٔ بد پوشاکه وی

مکړچه کښل کا دا کاتبان دی
واړه خوش خط کښے سره یکسان دی
څنے مشکنے کښی څنے کنجکے
ډچا تر ډرو حرفونه ګران دی

مُلا په علم په کتاب نازیږی
حاجی ډ حج په ثواب نازیږی
غازی ډ تورے په باب نازیږی
خوشحال په فضل د وهاب نازیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مهینه ټوره څورنګ تمام وړی — څنګه ګیده یا یو اندام وړی
څنګه مخ واړوی نوغے ونهٔ کا — د هغو توره و ناحق څوک نام وړی

مومن هغه دے چه جوړ یقین لری — ویره له خدایه اندوه ددین لری
بار د هرچا وړی خپل بار په چانهٔ بردی — بنهٔ ئے کردار وی بنهٔ همنشین لری

مزری چه ډیر کورے ترس د ترکم شی — چه درته غږ نب وهی په ځان د غم شی
واوړے وهلی اژدر خوړل نهٔ کا — چه نمرئے تود کا هالهٔ ستم شی

مرد به غیور وی مرد به صبور وی — هم به په عفو په کرم مشهور وی
نامرد هغه دے په حقیقت کښے — چه داځو توک ئے له دله دور وی

مردی د هیڅ ده کهٔ په زړهٔ شیرنهٔ ئے — څهٔ خو وشه کهٔ زړهٔ ور د ډیر نهٔ ئے
ترسرچه تیرشے ویره هیڅ نهٔ وی — ویره د هومره ده چه ترسر تیرنهٔ ئے

مونږه طوطیان یُو په بنړ راغلی — ګلونه ګورو کښلی بنا غلی
څو موقسمت وی پکښے به اوسو — بیا به ترے درومو زړه ونه داغلی

مړک وے هم رنځ وے هم ناتوانی وے — عمر په غم کښے په پریشانی وے
د بنو بنو جونو د دیدن دپاره — یا سل یا دوه سوه کاله ځوانی وے

میړهٔ د ټوره وړکړه وفا لری — بنځه د حُسن شرم حیا لری
نورے پو بنتنے وړځنے مهٔ کړه — هرځهٔ به بنهٔ لری هغه چه دا لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مۀ کړه نادانه د نۀ کړو کار دے
داچه پرے خیژے غلبے دشوار دے

خرد کمزورے زبون لیدۀ شی
چه د پرے ایښے دا هومره بار دے

مزرے په خیله ماته نظر لری
له بله دده کله حذر لری

کید رچه بنکار کړه د شلانډو ملانډو
خورې ئے له ترسه نظر لوبر لری

مقبول د خلقو په غم کښے ډوب وی
مقبول چه نۀ وی هرکوره خوب وی

چه نیست ئے خان کړله عیبه خلاص شول
چه خان ئے هست کړهغه معیوب وی

مینه چه تیره د سړی ترهډه شی
دروی دننه په ماغزۀ کښے کډه شی

د هغے مینے زوال هرگز نۀ وی
د هر دپاسه په ساعت ډډه شی

مومن هغه دے چه ترس د خدائے لری
چه ترس د خدائے لری زړۀ د په خائے لری

مؤمن د غم نۀ کا د گناهونو
چه گناهونه د شیطان په رائے لری

ملک د کلی چه د چا سپک وی
د کلی مال به ئے بنځے هلک خوری

تل چه په کور کښے میرمن نابوده وی
پئے ئے پیشو خټی غله ئے مرک وړی

منت د خدائے بنۀ دے نۀ د وکړی
د ختکی نه د د یوۀ نه ږی

که مست سنډکان دی باربه د چانۀ وړی
غوایه تر بار لاندے پریږده چه رغړی

مونږه مزری یُو په بنکار راغلی
د بنکار غمونو نه ډونه داغلی

چه بخت ئے بد وی بنکار ئے هم بد وی
بنۀ بنۀ کارونه کا په بخت بناغلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مغل پښتون سره په پیچ وتاب دی
چه پښتانهٔ ګورم خانه خراب دی

ښهٔ ښهٔ ځوانان په پښتانهٔ کښے
کهٔ لاس ئے نهٔ رسی خانه خراب دی

ملا هرګوره په ځان مغرور ئے
بحث جدل کړے په هرچا سور ئے

زهٔ دِ دننه په حال خبر یم
ځما په پوهه یوتش تنبور ئے

نامرد به ګرځی د پلار په نام پسے
نامرد به ګرځی په خپل صمصام پسے

دولت مخ څټ لری څټ ئے په نورو وی
مخ د دولت دے په نیک فرجام پسے

تن بیا خپل بخت ته ځما تسلیم دے
خرم به اوسم فال رم د میم دے

چه درد وغم کښے ځما غلیم دے
را الوتلے د نصرت نسیم دے

نصرت هورے وی هورے چه شخوندوی
دولت هورے وی چه کار پسند وی

په وخت د پینے لستونړی ډیر غړی
په وخت د تورے کهٔ ښکاره مړوندشی

مردان هغه دی چه همت ناک دی
په هره چار کښے چست وچالاک وی

کهٔ غم پرے راشی پروا د غم نهٔ کا
خوارهٔ له چا په زیست وژواک وی

نظر کهٔ اوکړے اوهٔ آسمانه دی
اوهٔ آسمانه دی اوهٔ جهانه دی

اسرار ئے هیڅا موندلے نهٔ دے
خبرے ډیرے په څوشانه دی

نهٔ به په بیارته ځما ځوانی راشی
نهٔ به بیا دورے شاهجهانی راشی

یوځوئے م نشته ډیرش دی کهٔ څو دی
چه به په دهٔ کښے ځما خانی راشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نفس وشیطان سره یو وجود دی — په دوه صورته سره نمود دی
دواړه مردود دی په شریعت کښے — چه د مردود منی هغه مردود دی

نن په نظر راغله یوه تږۍ — نه نۍ سیب وه شونډے تږۍ
بله به نۀ وی هسے دلبره — نۀ په خشکئ نۀ په تږۍ

ناکس هغه دے چه اصل بد لری — د نیکخواهانو نصیحت رد لری
د حق دا راز د حق پروا نۀ کا — آدم لیدۀ شی خصلت د دد لری

نوکر ژوندے نۀ وی کارۍ د مړۀ وی — خپل ژړۀ ئے نۀ وی د صاحب په ژړۀ وی
چه ورته حکم د خپل صاحب وی — که هر څوک ران وی هم ئے په وړۀ وی

ناست په کلزار کښے یار په کنار کښے — باده گردانه مطرب په کار کښے
داحال چه نۀ لرم په خپل دیار کښے — بادشاه ئے نۀ لری په هند وبار کښے

نن د پیر نیکخواه دی صبا بدخواه وی — نن د پیر گمراه وی صبا په راه شی
نه د ونه په حکم د ک ـ کار وی — قضا ته گوری چه څوک آگاه شی

نۀ به ځما غوندِ بل ننگیالے راشی — نۀ به ځما غوندِ بل جنگیالے راشی
څنگ لا پریږده په درست افغان کښے — عجب که هسے فرهنگیالے راشی

نۀ ئے حساب شته نۀ ئے څۀ شمار دے — خلق د طمع له لاسه خوار دے
سړی به څۀ وائے ماهی مرغونه — په دام چه بند شی د طمع کار دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناکس دِ وخوری دَ ستر کو کسی
دا نادانان دِ وُیړے کسی
لعل گوهر پریږدی له خپله لاسه
په لاس مشکنړے کنجلے نیسی

نے چه واهۂ شی وائے عذاب دے
چه غیبتونه کړے مګر ثواب دے
غیبت ترزنا نه تیرے یادیږی
نے منع شوے په کوم کتاب دے

نازچه دِ زۂ وړم چه یار خما ئے
چه بد دِ ښۂ ګنړم خوراته وائے
غمه هیڅ مهٔ درومه خماله ځانه
چه تهٔ خما سره ځنډن آشنا نے

نظر دَ هرچا په خپل بهبود دے
په زړه دَ هرچا خپل خپل مقصود دے
هر یو په زیرمه دَ خپل وجود دے
هرڅوک هغه دے چه خپل نے سود دے

نن م وځان ته دا نصیحت دے
اُمید په زړۂ کښے ګنده زحمت دے
اُمید چه پریکړے له غمه خلاص شے
دَ یاس په ملک کښے عجب راحت دے

نن شپه م تلے له دله زنګ دے
دُشاه په زلفوم وهلے چنګ دے
تمامه شپه نے په سینه پروت وُم
را پورے وا په دَ زعفرانو رنګ دے

نیازدَ بے نیازو سره دَ کړو نهٔ دے
دَ بے دردانو منت دَ وړو نهٔ دے
طباخ کهٔ خوږ وی چه جوته شوَی وی
کهٔ مړے له لوږے هم دَ خوړو نهٔ دے

نومے پرے نهٔ یښ فراق په کام کښے
سترے مرغهٔ یم نښتے په دام کښے
دَ خوښی جام م هسے نسکور شو
چه څاڅکے پاتے نه شو په جام کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناستے ولاړے دِ په خرخشے دی ډیرے فتنے دِ په سترګو کښے دی
په نړۍ م واړه لکه مرهم لګی د تا ناسازے ترسازو شے دی

واړه مستان دی چه مخ نړیبا لری دَخپلو تورو سترګو صهبا لری
باورے هیڅرے په وعده نۀ بویه په خولۀ به تل تل صبا صبا لری

وادۀ څوک مۀ کانړۍ وادۀ بلا دے غصے ئے ډیرے غمے ئے والا دے
چه دَعیال په زنځیر بندی شول ترهره بنده دا بند بالا دے

وجود په مثل دَ کښینۀ دے خوانی ئے څۀ ده لکه خوابۀ دے
خوابۀ چه لاړ شی پاتے ئے ژاوله شی قدر دَ ژا ؤلے بے خوبۀ وخۀ دے

وائے دَخونے شاهتیر دِ ول لری کوښ دے تنکے دے لنډ دے خلل لری
نړۀ هم پوهیږم دَ زلزلے ده تکیه دا خونه دَ عز و جل لری

وخت به ژمی وی کۀ وخت دَاُوړی چه به را واغوندی دَمړک خرڅوړی
ما به په تورو خاورو کښے واچوی پکښے به پریږدم نړۀ بوړی بوړی

وئیل له باغه شی له راغه څۀ وائے صفت دَ کل شی اغزی څوک څۀ ستائی
سرا نجۀ زیب نۀ کا په ږندو سترګو کۀ ناز کۀ ناز په بدرنګو نۀ بنائی

وادۀ څوک مۀ کانړۍ ودونه غم دی دَدے غمونه له عمره سم دی
سخ دَ هغو دے چه لونډان دی په غم نیولی دَ یوۀ دم دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وائے پہ زړۂ دِغمونہ څومرہ دی
خودِ ناسازے راسرہ ھومرہ دی
ھرچہ مئین شی حُما پہ پوھہ
دَ قھر ولۂ مزہی ږ.ومرہ دی

وادۂ دِ ھر ھر پسرلے ھرکال وی
بنځہ دِ حُوانہ آس دِنیم زال وی
دا دواړہ توکہ دَدولتمندو دی
حُنے دِ تبنتی څوک چہ کنگال وی

وفا بہ ھیڅ لہ کمذاتہ نۂ موے
کۂ ھمہ عمر پہ زړۂ دَدۂ دروے
تپوس بہ بازنۂ شی زاغ بہ طوطی نشی
پہ تربیت ئے کۂ بوعلی موے

وخت دَ زړہ والی دے دَحُوانئ نۂ دے
کۂ دِ دَ حُوانے پہ یارئ زړۂ دے
جوړ وجفا وړہ ورتہ نفر اوسہ
دا کار پہ عشق کښے ورسرہ بنۂ دے

ورتہ حیران شم کۂ دا نایئ دی
دَجنسہ جنسہ چہ آشنایئ دی
ھرڅوک خپل اصل سرہ وصلت لری
لہ بلہ اصلہ ئے جدایئ دی

وائے صوفی شہ صوفے دِتۂ شے
دروڼہ نا اھل شپږ سوشپیتۂ شے
کۂ یارساقی دے عمرباقی دے
لابہ دَ میو ښیښے کړم تشے

واړہ غلط دی چہ څوک خپلۂ ستائی
کبرلوئی کا پریشان پریشان وائی
کۂ ھرڅولوئے شی سړے بیاخاورے دے
خَوشحالہ کبرلوئی پہ خدائے بنائی

وُنہ بہ ولے تازہ ولاړہ وی
چہ ویخ ئے نۂ وی خوبئے لاړہ وی
اوبۂ باد خاورے ورلرہ بویہ
ویخ ئے قایم شی چہ داڅۂ واړہ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرڅوک په خپله وعده قضا وژنی
ومړی فناشی نۀ ئے بیا بیا وژنی

څوڅو مرګونه راباندِ راغلۀ
د یار بیلتون م ترمرګ پخوا وژنی

هغه چه کاندی عزم کشئ
هغه به مومی ډیرے خوشئ

خاورے شه خاورے چه کل له تاکیږی
اوربه دربل شی په آشتئ

هغه چه عهد قول پیمان لری
پرے سلام دے دین وایمان لری

څوک چه دَدین وایمان سامان لری
ارمان ئے کوم دے چه به ارمان لری

هغه چه کبرخود پرستی لری
خدائے دے چه هومره بالا پستی لری

کامل به هیڅرے بل رلئے دَزړۀ نۀ کا
اشیاء دَخدائے په هستئ هستی لری

هغه محبوبے واړه فائقے دی
چه په پاکئ په عفت شائقے دی

څۀ شوکۀ مچ په شکرو وګرځی
شکرے کله دَمچ لائقے دی

هغه چه خدائے بولی په هرهرځائے دی
څنے ګرګس دی څنے همائے دی

چه سرے بوتئ خوری هغه ګرګس دی
چه وچ هډونه خوری هغه همائے دی

همت چه لوئے لری کشال ئے کم وی
بنادوی آزاد وی شاهِ عالم وی

چه دون همت وی خسیس ممسک وی
کۀ مال ئے ډیر وی نصیب ئے غم وی

هغه چه مخ لری خوږے وریشے واخلی
په ویش چه سرشی بخړے شے شے واخلی

هغه چه نۀ کری په وښیو ګرځی
هغه چه وکری هغه ریشے واخلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هندکی چه هیڅ دی په بها درومی
یوئ وفا نشته بل ئ حیا نشته

خواری له خپله شامته مومی
بل ئ خواږه ځی د خواست ترکومی

هغه چه ټوړے د بری په وخت وهی
سپاهیان د طمع د خپل مقصود دی

هغه ئ واږه د بل په بخت وهی
د تنکسے ټوړے څښتن د تخت وهی

هغه چه مخ کا په خود کامئ
رندیم اوباش یم عاشق قلاش یم

پرے به ورږدومی بے آرامئ
انډوه م نشته د بدنامئ

هُنر چه نه لری که م پسر دے
چه بیکانه وی چه یکانه وی

چه څوک ئ یادکا دردم د سردے
یا م لیمه دے یا م څکر دے

هغه مزرے دے هغه کفتار دے
چه ئ له ملتے کید رهم وازدے خوری

چه بل غم نه لری غم ئ د غار دے
که بنه دے بنه خو د مزریو بنکار دے

هوښیار به هرکله زمانه ساز وی
نادان به هیڅرے په داخبر نه وی

په دانایئ به ئ د کار آغاز وی
په هرهر کار به ئ بے ځایه راز وی

هوښیار به هرچیرے په زړه ډرن وی
نادان به ټوړو وته هوس کا

په جنګ چه ورشی نور به تورزن وی
چه توړے و بریښی نور به ریخن وی

هاتی ته کوره حال ئ معلوم دے
که یوئ نه وی په دا پنځه کښے

څلورئ پښے دی یوئ خرطوم دے
که هست ومست ګ نیست ګ معدوم دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هسے بل هم کنړے لکه چه تهٔ ئے
هرڅوک به بنهٔ کنړے په ځان کهٔ بنهٔ ئے

که تهٔ مومن ئے هرڅوک مومن کنړے
هرڅوک کافر کنړے که کافر تهٔ ئے

هرچه د توړو زلفو میرمنے دی
په توړو بڼیرو باندې مئینے دی

د سپینو بڼیرو بلا په دوئ شه
ولے له واړه په زړهٔ غمژنے دی

هغه چه شرم د خاصو د عامو دی
که څویه رونړه د نیک فرجامو دی

د مړو په رنګ شه په مزکه رنګ شه
چه بد نام کړونی د څو نیکنامو دی

هوښیار غلیم به په خولهٔ جنګ غواړی
ډیر به ترجنګه په آشتی ویاړی

عمر خویوړے چه په غم دروی
دا هسے عمر د وبا ونغاړی

هوښیار به هرکله فهم په دم لری
نظر به عین په خپل قدم لری

دم غنیمت کنړه په هیڅ مغرور مهٔ شه
که دلګیر کښینے آسمان څهٔ غم لری

هغه چه مونځ نهٔ کا که د خپل پلار دے
ادبهٔ هیڅ مهٔ کړه په دین کښے خوارډے

پریږده چه ومری زړهٔ سوے پرے نهٔ بویه
که په فاقه کښے لیل ونهار دے

هوښیار به نهٔ وی چه احمق تهٔ پندوائی
خوښ ے خبرے خرونوته نهٔ ښائی

خوابنهٔ د خرو نهٔ دی د آدم دی
څهٔ ئے خوراک زده څهٔ ئے مزه ستائی

هندوچه بُت وته هسے نسکور دے
مومن مخ اینے د کعبے په لور دے

دا دواړه توکه رسم وعادت دے
اُودهٔ عالمه مطلب څهٔ نور دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هوښیار به چست و چالاک بیدار وی
په هره چار به زړ خبردار وی

ډیر به عمل لری لږے ئے خبرے
په هر زمان به ئے نظر په کار وی

هوښیار به هیڅرے له ځانه خوش نۀ وی
په خپل دانش به فضول سرکش نۀ وی

چه ډیرینه وی چه تجربے لری
په کاروبار به ډهغوبے اش نۀ وی

هُنر په دوئ ورځے بنکاره ډکس شی
عیبے ئے رو رو بنکاره پس پس شی

یوشان مرغی نۀ شی ډ سړی له ځالے
ورځنے باز او کارکان کرکس شی

هغه چه قوم قرار متین لری
دولت ډدین ډدُنیا قرین لری

چه وائے نۀ وی نورځۀ ئے مۀ کوره
کۀ بنے بنے چارے ډدُنیا ډدین لری

هاتی چه ومری بوئ ئے پیدا شی
په لاسے تلونی چه څوک پرے راشی

پونره نیولے ځئے تیریږی
خلاصے ئے نۀ وی یوه بلا شی

هُنر جوهر سړی وړه ډ لویئ ستورے
کۀ دا دِ نشته تۀ ئے کمزورے

هسے به اوسے کۀ عقل هوش لرے
چه ډ خندا نۀ شے کاسه نسکورے

هوښیار به نۀ وی چه نادان ته پند وائی
خرۀ ته خبره ډ قند ډ خوند وائی

په هر هر ټوکی کشیده نۀ کیږی
ولے به هر چاته پند خردمند وائی

هوښیار هیڅرے محتاج ډ پند وی
پند به دۀ باندِ بهتر ترقند وی

نادان به هیڅرے ډ پند پروا نۀ کا
پند به په دۀ باندِ ډحنظل خوند وی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هُنرچه نهٔ لری که دِ پسر دے
سړے ئے مهٔ بوله یوکاؤ خر دے

که هرڅو زور لرے که هرڅو زر لرے
تر دا همه واړه بهتر هُنر دے

هغه اُستاد کنړه چه درته څهٔ بنیئ
کشر هم مشروی چه درته بنهٔ بنیئ

په سپینه ږیره به ئے منت لرم
که ووېرهٔ کے راشی راته څهٔ وبنیئ

هوښیار به هیڅرے بے پنده نهٔ وی
کار اوګفتاربه ئے بے خونده نهٔ وی

چه عقل نهٔ لری بد نفس بے شرم دے
فکرئے هیڅرے بے شخونده نهٔ وی

همیش به هیڅوک په دُنیا نهٔ وی
په وار وار به ورځنے تلهٔ وی

مرغونه راشی په باغ کښے کښینی
بیائے د باغه نه اَلوتهٔ وی

هر یو تربله بهتر ځان خپل کړی
نشته چه ځان به کهتر تر بل کړی

په خپل خپل عقل هرڅوک غړه وی
په هره چاره کښے خپل ځان عاقل کړی

یو تور بورا دے بل تور جعل دے
قسمت د دواړو سره بیل بیل دے

بورا په بوئ د ګلونو پائی
تل وګندګئی ته جعل ابل دے

یار د خوشحال دے خوشحال د یار دے
که وفادار دے که جفاکار دے

د عاشقانو چه څهٔ اسرار دی
د رقیبانو باندِ څهٔ کار دے

یار که څهٔ یار وی له ځانه زوړ بنهٔ دے
تل به دِ نیاز وړی ونیاز ته جوړ بنهٔ دے

بل فکر نشته د سوات په ملک کښے
که زوړ که ځوان وی تر وړی مور بنهٔ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوڅهٔ خاربښ دے چه هویدا شی
په خوخو رنګه سره شیدا شی

عیب تر شا کا په لیونتوب کښے
د دوئو په مینځ کښے دریم پیدا شی

یا بنهٔ ځوانان دی یا بنهٔ آسان دی
چه ورته ګران شی مشکل آسان دی

د چا چه نهٔ وی دا دواړه تو که
عیب ئے مهٔ کړه که هر آسان دی

یوچه مئین شی د بل پرے رخه وی
چه سره بیل شی باندئے سخه وی

ګل که بنهٔ نهٔ وے بلبل به څهٔ کا وهٔ
مینه په هرڅهٔ د څهٔ د مخه وی

یو مست د میو څو پیمانے لری
بل د جانفلو یو خودانے لری

خبر په حال د مستانو نهٔ دے
د خپلے چارے سل افسانے لری

یار به د یار په یارئ ویاړی
په هره چار به ئے بنیګړه غواړی

که یارئ خاندی دے به هم خاندی
که یارئ ژاړی دے به هم ژاړی

یو لوئے ترغرونو فکر راپیښ دے
نهٔ پلار نهٔ ځویه نهٔ د چا خویښ دے

نه رګنا هونه په استغفار بخښی
دا خدائے هوښیار دے نه چه پوهیږی دے

یارئ په مهر په محبت شی
پکښے له پسه هُنر حکمت شی

چه نهٔ ئے داوی نهٔ ئے هغه وی
آخر په دواړه لوریه زحمت شی

یاغی بازونه یویو بازدار نیسی
څهٔ چرګ نهٔ دی چه ئے هر خوا رنیسی

د هرے چارے اسباب پیدا کړه
افسون د زده کا هغه چه مار نیسی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو دے چه هر کله حلوا شیرینه خوری
بل دے چه تل تل اوکړه جوینه خوری

په مړک به دواړه سره یورنګ مری
دَګور چینجی به ئے غوښے په مینه خوری

یارم دَ شپږو ترمینځ اووم دے
چه څوک ئے نه ستائی په حُسن کرم دے

چه سړا بنکاره شی په مارنړا شی
چه مخ ئے نه وینم په ما تورتم دے

واړه مستان دی په مخ زیبا لری
دَخپلو تورو سترګو صهبا لری

باور ئے هیڅ ہے په وعده نه بویه
په خولهٔ به تل تل صباصبا لری

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دریم توک

POHA

غزلے

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

۸۶-

صورتنگر چه بنهٔ صورت په دیوال ساز کا — کل عالم ئے په صفت زبان دراز کا
د هغهٔ نقاش په صنع نظر نهٔ کا — چه له څهٔ څاڅکی نه دانقش وطراز کا
ستړکے وروځ پوزه نورکیږ.دی په مخ کښے — غابن د شونډے ژبه خولهٔ سره پرداز کا
یو سربل سر په سرجوړکا دوه غوږه و نه — چه په دواړو اوریدنه د آواز کا
بند په بند د لاسو کوتے وبله کښیږ.دی — سرتر پایه درست صورت سره یوراز کا
کهٔ څوک زرکتابه وکښی له دے بابه — کهٔ په کښل شی زر به نورپسے آغاز کا
هر ویښتهٔ چه په صورت باندِ لیدهٔ شی — کهٔ پرے څیرشے د شناخت وربه درّواز کا

خاص بنده د خدائے هغه کښره خوشحاله

چه د ځان په معرفت ئے سرفراز کا

اورنګ زیب چه آرائش د تخت و تاج کا — تخت وتاج به ئے مړکے تخت وتاراج کا
په جهان کښے به ئے پاتے نهٔ بدنوم شی — دهٔ زده چارے د کسرے کهٔ د حجاج کا
زهٔ غمژن په عید په جشن خبر نهٔ شوم — کهٔ درست خلق د دهلئ ابتهاج کا
اوبهٔ ستړکو لره لاړے اور د زړهٔ شو — څوک به څهٔ رنګه ژوندون پرده امزاج کا
چه په رګ رګ موتے کیږ.دی رنګ ئے زیړ شی — طبیبان به م په څو د رنځ علاج کا
جدائی څما په زړهٔ کا هسے چارے — لکه بازئے په تارو یا په دراج کا
دوه مټین چه په هوا د وبله بیل شی — خدائے څهٔ شکل د تش سلام محتاج کا
څما اوښکے د کوکل په جوش پیدا دی — لکه اورچه له کبا به نم اخراج کا

هرناوک چه د قضا له شسته خیژی

زمانه د خوشحال زړهٔ ورته اماج کا

بازیګرچه د بازیو صندوق وا کا — په یوهٔ زمان کښے څو بازئ برپا کا
نندارچی چه ورته کوری حیرانیږ.ی — بازیګرچه په بازیو کښے بلا کا
عارفان د سر په ستړکو کوتے کښیږ.دی — د خپل زړهٔ په ستړکو کوری تماشا کا
دا عالم لکه طفلان ورته ښکاریږ.ی — د طفلانو په بازئ پورے خندا کا
همیشه خوشی د چاده د هغهٔ ده — چه په زړهٔ کښے د دُنیا چارے فنا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ هغهٔ په وفاځهٔ خوښی خوشحاله
چه وفا درسره کا بیا نور جفا کا

بیا رباب دَ مغنی بنهٔ سرایت کا
په نغمه کښے نوے نوے حکایت کا

شیخ دِ کنج دَصومعے زهٔ به کلکشت کړم
دَ بهار کلونه ماته هدایت کا

گدایانو لره غم دَ کیډے ډیر دے
بادشاهان دِ غم دَملک او ولایت کا

دَ وفا مهر وکرم به ئے لاځهٔ وی
په وفا کښے چه دا هومره عنایت کا

په مانړی ئے هم خوشحال شم هم دلگیر شم
لکه څوک چه له چا شکر وشکایت کا

دا دَما دَبخت اثر نهٔ دے نورځهٔ دے
له رقیبه چه شکوه په دا غایت کا

په دا بنهر کښے څرگند شراب خرخیږی
محتسب دَ باده نوشو رعایت کا

کهٔ دَ کښلیو دَ دیدن مینه گناه ده
سکه خوشحال څنگ درست عمرجنایت کا

په هرځائے چه طمع خپل هُنر څرگند کا
ډیر هوښیار ماهی مرغونه طمع بند کا

بادشاهی دَ بحر وبر ده کهٔ باور کړے
قناعت دِ کهٔ په خشک وتر خورسند کا

په هغهٔ حُما سلام خرم دِ اوسی
چه دَ چا سره نهٔ مهر نهٔ پیوند کا

خلق واړه دَ اندوه په دریاب ډوب دَی
کله کله له دریابه سر بلند کا

دَ درویش بخره خوښی غم دَ هغو دے
چه په شمار دَ زرو ناست دَی چون وچند کا

هوښیارانو سره ډیرے اندیښنے دی
چه ملنگ دَ مصلے هغه آنند کا

و نورچا وته به څهٔ وته څهٔ وائی
وخپل ځان وته خوشحال څنگ دایند کا

په عاشق باندِ غوغا غماز پدول کا
چه کلونه پریکوی اغزی قبول کا

ارسطو تر افلاطون بنهٔ ووسکندر ته
په جهان کښے هر څوک مینه په خپل کول کا

څوم زړهٔ په بے غمئ پسے دروی
هومره نور تازه غمونه را وصول کا

دا تازه تازه مضمون چه په بیاض کښنم
خبر نهٔ یم چه له کومه را نزول کا

آشنائی لکه بنهٔ تول چه ورته اش کړے
جدائی لکه بزلئ وراغے دَ تول کا

یو بنکاره دَ قیامت علامت دا دے
په فاعل باندِ چه اس تیرے مفعول کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دریغه یو هسے پیدا شی چه په عشق کښے دادِ ما لیونے زړهٔ خوځهٔ معقول کا
زړهٔ دَعشق په کنج توانګریم کهٔ نور خلق ټولول دَ زړو مال متاع وپول کا
ځما دوے ستړکے ولاړے ته څلور شوے کهٔ بسکاره دَ یار له لوریه خدائے رسول کا

کندِ وی چه دَ وصال په خوښئ خوښ وی
چه خوشحال په جدایئ کښے د پیرنول کا

په اختر په جُمعه څهٔ غرض ځما زړهٔ مجنون یم سر نیولے په صحرا
هغه وخت دَ ما اختر دا جُمعه ده چه دیدار را ته بسکاره کا دَ لیلا
عاشقان دَعشق له کاره انکار نهٔ کا فاسقان به په خپل زړهٔ کښے لری غلا
دَ یارئ لائق نهٔ دے رنګ‌ے ورک شه چه‌ے نهٔ وی په یارئ کښے وفا
دَ ربستیني یارئ لاف د پیر عالم کا ولے ما پکښے ونهٔ لیدل ربستیا
هغے توبه دَعشق دَ پټو سرو لمبو نه نهٔ وابنهٔ نهٔ‌ے لرګی لکی په تا
یه یرغ په مصلحت دَعشق کار نهٔ دے په لیدل په آوریدل شی را پیدا
نهٔ په پند لویږی له هرکا نړی بخړی دے سوخته بکر لری سودا

دا رنګینے معنیٰ چیرے دی خوشحاله
چه را د سره می لکه ګل په بیاض ستا

تاوے چه غم مکړه نور زهٔ ستایم تهٔ ځما
زړهٔ خودِ ژوندے کړم کهٔ دروغ کړے کهٔ ربستیا

څهٔ بلا زیبائے بے نظیره محبوبائے
کهٔ داعیب دِ نهٔ وے په زړهٔ سخته‌ئے بلا
کهٔ کل جهان خوبان شی همه واړه محبوبان شی
عجب کهٔ لا پیدا شی یوه تا غوندِ زیبا

په هومره د یر مقتول له تهٔ لاهم نهٔ‌ئے ملوله
چه کل غواړم له تانه ستاله باغه له بوستانه
کهٔ سل خونونه وکا دَ جلاد تروخهٔ پروا
کهٔ خس راعنایت کړے هم په کل نیولے ما

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خونړۀ بنده زنده یم دَهغوزلفو بنده یم
چه تل ئے سل سل زړۀ نه په هرتار دی مبتلا

کۀ لوئے دی کۀ هلک دی دوارۀ ستا په نعرۀ ورکړے دی
په بنهر کښے څوک نشته چه مئین نۀ دی په تا

دَسبر وُنه کوره په زمان شی نامنظوره
چه وخوزے په باغ کښے تۀ په داقد و بالا

نسیاجنت صبادے دَ زاهد دے دَ مُلا دے
په لاس جنت موندلے نن خوشحال ئے ستا لقا

تل کۀ داوی دَ خوبئ طمطراق ستا
نن په دا دور هغه بنا ئسته تۀ ئے

دواړه شونډے دِ تریاق زلفے بنامار دی
بر شکیب ورته په مثل دَ لوئے غرۀ دے

دَ بانړیو دِ موندلے یم غولوه مِ
تۀ خپل ځان لره مهمیز کړه څۀ پرواکړے

خلق وائی چه دوزخ شته پس له مرګه
لکه تل وُو همیشه په هغه شان دی

لکه باد دَ صبا پاشی نړۀ کذر کا
ما خوشحال چه آزمائیلے ئے میثاق ستا

تلم په خپله لاړه راسره مله شوه نګاړا
شوخه غمزه ګره خنده رویه خود آړا

رنګ ئے دَسړی وو اما خوئ دَ بنا پیریو
تن ئے لکه سیم وُو په زړۀ سخته سنګ خارا

راغلم په بنهر لاس په لاس شوۀ له ماوُرکه
کوئے په کوئے جا روُوزم پسے غواړم بُخارا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ډیرے لرے نخښے د صورت د زیبایئ
څهٔ خو درته وایم یوځو نخښے آشکاره

د ننګه تازه کنګه قد عرعره مو کمره
بنهٔ ئے تر ګلونو د ګلابو عذارا

غابنې ئے د ګوهر په لب شکر آبرو کمانه
تور بانړهٔ ناوک په دواړو سترګو خونخوارا

پوزه ئے غنچه وه د زنبق مسیب سپینه زنه ئے
مښک د مخ خالونه په مخ کښلے مه پارا

هار د جواهرو دوه لړئ د مرغلرو
تور وربل اودلے زلفے ئے عنبرسارا

واړه ئے د تن جامے ګلګونے زرنګارے
درسته سره لمبه وه چالید له خدارا

بیا هسے مدد کړه چه خوشحال سره د تل کړ
بخته د دے ورکے سراغ نخښه وما را

خان ئے سرتر پاسه جوړ کړ بیا بلا کا
د زلفینو په هر وله د زړو نوغلا کا

معشوقے ته چه ئے هومره حسن ورکړ
دا په داچه د عاشق خونه تالا کا

په هر خائے چه څو محبوبے سره کښینی
هغه خائے م ترجنت بنائسته لا کا

دوه مئین کهٔ سره هر څو مرور وی
خپله مینه ئے بیا نرد سره پخلا کا

تور بانړهٔ ئے تور توبری دی راځر خیږی
کهٔ را پورته محبوبا سترګے شهلا کا

څود شاه په کښلی مخ باندِ خالونه
ما به هم په هومره داغه مبتلا کا

همکئ ئے ستاله مخه ګفتګوئے شی
چه درد مند وبله ټول شی مشغولا کا

په خیر خیرئے مخ ته مهٔ ګوره خوشحاله
په خاطر به دِ د اور لمبے والا کا

څهٔ عجب دلخواه دی دا صحبا
کهٔ ساقی ئے راکوی په مرحبا

د غنچے خندا محاله په چمن ده
کهٔ نسیم پرے ګذرنهٔ کړی هر صبا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مصلحت ئے د بلبل په کار کښے دا وو
چه صبا کړم د غنچے قمیص قبا
د بلبلے قدر هم زده کړه اے کله
که هر څوئے په داخپل حُسن زیبا
چه علاج ئے وا بسته په خپل مطلوب دے
د عاشق له رنځه څۀ زده اطبّا
بے د یار د زیبا مخه کمان مۀ کړه
چه خوشحال به په بل مخ شی شکیبا

چه یار مهر وفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
چه ئے جور وجفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
د جهود به هم زړۀ سوے را باندِ وُشی
چه یار رحم په مانۀ کاندِ څوک څۀ کا
ما وے زړۀ ئے کُندِ نرم په څرا کړم
چه اثر پرے ژړا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
که وصال ئے په دُنیا له عمره خوږ وی
چه تل عمر وفا نۀ کاندِ څوک څۀ کا
حال دِ هیڅ له یاره پټ نۀ دے خوشحاله
عنایت چه په تا نۀ کاندِ څوک څۀ کا

چه په ما باندِ ئے زړۀ سیرئ تپاک کا
الحذر چیرے به ځان د اورخوراک کا
ما پخپله ملامت وته ځان ساز کړ
عام عالم دِ په ما سل ځله بلغاک کا
که د خضر په چشمه باندِ م کور شی
د فراق اند وه به هورته ماهلاک کا
چه بقائے په چمن کښے یوه ورځ وی
لاله څکه د قمیص گریبان چاک کا
د آسمان له عاشقانو سره قصد دے
هر زمان ئے په هجران سره غمناک کا
ترے به سل رنګه ګلونه شګفته شی
هر سړے چه خاکساری واخلی څان خاک کا
زړۀ خوشحال په هغه چا پورے حیران یم
چه له یاره نه جُدا شی په خوشواک کا

چه د پلار سره د دروغ نفاق خلاف کا
د نورچا سره به څۀ رنګه زړۀ صاف کا
ګوره بیائے کوم دروغ نفاق په زړۀ دی
منافق په خپل ګناه چه اعتراف کا
نۀ به زۀ د ناخلف ګناه معاف کړم
نۀ به خدائے د عزا زیل ګناه معاف کا
داوارۀ غږونه لا هیڅ نۀ دی راضی یم
که په میان کښے موخدائے غر دکوہِ قاف کا
حال د خپل خوئ خپل پلار وته معلوم دے
څوک به څۀ لره د عاق راته اوصاف کا
نۀ به دۀ غوندِ دروغ دروغژن وائی
نۀ به دۀ غوندِ سړے مکر وګزاف کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم هزار رنګه دروغ خلاف په زړهٔ کښے
هم هزار رنګه په خولهٔ د صدق لاف کا
په ژوندون ئے دیدن مهٔ وینم هاله هم
پس له مرګه کهٔ د ماذکور طواف کا
چه م هسے تربیت د ناخلف کړ
دا په داچه دے له ماسره مصاف کا
په ژوندون به ئے ارمان ووځی له دِله
زمانه کهٔ د خوشحال سره انصاف کا

چه دُنیا ورته بنکارهٔ شوه بے وفا
ودُنیا ته به مخ نهٔ کا بے قفا
د غرض یارئ هیڅ یارئ نهٔ دی
کهٔ یاران دی خو اَخوان دی د صفا
کهٔ کا تهٔ دی کهٔ لیدهٔ کهٔ آوریدهٔ دی
دا د نبو یارانو واړه دی شفا
چه په چا باندِ مئین شوے قبلوه ئے
سل نا زړونه سل نا سازے سل جفا
کهٔ په وصل کښے ئے هرساعت یوکال شی
لا په دا د عاشق نهٔ وی اکتفا
له ماخوار سره څو قاف وهے ورځ کړے
جګی جګی څهٔ خولاَم و ځے و فا
دلبے درد عالم پرے هیڅوک خبر نهٔ شو
وخوشحال ته ئے خولهٔ ورکړه په اِخفا

څوک چه مخ کا په مذهب د خپل مولا
د هغو په خدمت ودری دُنیا
څوک چه مخ په نمرړان شی خودِ کوری
چه سایه ور پسے درومی په قفا
درویشان کهٔ اشارت وکا وغړهٔ ته
د غړهٔ کا نړی به هم شی لکه طلا
چه کیمیا کیمیا یا دیږی په جهان کښے
کیمیا څهٔ ده بنهٔ نظر د اولیا
کهٔ د تخت د پاسه ناست وی صاحبی کا
د درویش په زړهٔ کښے هیڅ نهٔ وی هوا
خبرے زنګ ورځنے نن نهٔ وی چا وُللی
د درویش جامه له ځایه ده صفا
مړهٔ اودهٔ وته ژوندی وی ژوندی مړهٔ وی
د درویش هومره قوت دے د دُعا
مګر چیرے د دشمن په مهر یاد شی
چه خوشحال ئے کړدا هسے بے نوا

چه خپل خوئ شی په جهان بدخواه د چا
د خپل خوئ دے نه چه دے تباه د چا
من فلیل په یوهٔ مچ سره بدبوئ شی
بد دِ نهٔ شی یو زمان همراه د چا
کا نړی لعل د بدخشان کیاه کیمیا ده
چه ئے نهٔ پیژنے تهٔ ګناه د چا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه بادشاه ئے ستمگر شی خلق خوارشی
خدائے دِ نړۍ کا ستمگر بادشاه دَ چا

زۀ کۀ سل ځله وفا کړم یار جفا کا
بخت دِ نړۍ شی په دُنیا سیاه دَ چا

دَ جمشید او دَ سکندر فلک پرے نۀ بنوے
پرے به نۀ بردی همیشه کلاه دَ چا

چه کرم نۀ وی له خدایه فتح نشته
کۀ افزون شی ترملخ سپاه دَ چا

دا دُنیا لکه لولئ ده خوشحاله
کۀ ئے کوړے کاه دَ چا شی کاه دَ چا

ځار ترهغه مخ شم چه به ما په ځان مئین کا
سحر دے کۀ دم دے کۀ څۀ نورے فتنے فن کا

زما بویه چه خوئ ئے دَ بوړا یا دَ بلبل وی
دروی کړئ غواړی خو په کل باندِ وطن کا

وُسیزی په اورکښے پتنګ هرچه پتنګ نۀ وی
وُتښتی له اوره ځان پخپله دروغژن کا

ډیر په باغ کښے کړه شی څوک خالی وُوځی له باغه
څوک ئے میوه وخوری په کلونو ډک دامن کا

مائے چه مزه دَ خوږو شونډو ده موندلے
ناست وُم کۀ ولاړ وُم زما هرکله من من کا

خیال ئے دَ زلفینو لکه غل دَ خپلے خونے
هرکالے لیدلے فراغت ئے دَ زدیدن دے

ستړکو ته ئے وکوړ څۀ څنړے تورے زلفے
څر په سنبل زار کښے دوه هوسیه دَختن کا

هرچرته چه کړئ لکه سروِ سمه دروی
هرچرته چه کښینی هغه ځائے لکه کلشن کا

نن ئے آزاد ریږی په قمیص دَ سری صافو
کل دَ چنبے بویه چه خوشحال ئے اغوستن کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه م ولیدے دا تورے ستر کے ستا — زهٔ به نهٔ کړم هیرے تورے ستر کے ستا
یادَ باز یادَ طاؤس یادَ شاهین دی — یادَ تورهوسی که کورے ستر کے ستا
لکه وژغورې کبلے په مرغزار کښے — دَخوارهٔ وربل ترسیورې ستر کے ستا
لکه پټ سوارهٔ دَجنګ نیزے په غاړه — دا اوښ دهٔ بانړهٔ پرے پورے ستر کے ستا
چه دِ هسے وهر درو ته ولاړ کړ — دَعاشق دی اوربه کورے ستر کے ستا
لکه څوک په میو مست شی هسے مست شم — زهٔ چه وو ینم میخورے ستر کے ستا
که شیخان که زاهدان که عابدان دی — دَهرچا دَزړونو چورے ستر کے ستا

چه دِ غوښت هغه دیدن دے ورته کوره
که خوشحاله نهٔ دی کورے ستر کے ستا

حقیقت را ته معلوم شوَ هر چا — باور نشته په آشنا په ناآشنا
چه په سرِ د سوګند خوری ورځنې دار کړه — یوه ورځ به ستادَ سر وُکا سودا
دَهرچا نه چه دِ طمع دَ وفا وی — هم هغه درته بنکاره شی بے وفا
یاخو ډو داجهان واړه بے وفا وو — یادما په دورئ ډیره شوه جفا
آدمیت له آدمیانو نه خدائے واخست — تر دوه پایو نه بهتر وینم چار پا
که هندوکهٔ مُسلمان که بل فریق دے — په هیڅا کښے به بیانهٔ موے ربښتیا
نهٔ دَدین دَچارے شناخت مهرَدوفاشته — نهٔ په شرم ننګ څوک اَردی دَ دُنیا
دَتقلید رسم عادت یاری خپلوی کا — دَهرچا نظر په خپله مُدعا
همګی واړه یاران دَخپل مطلب دی — بیهوده ناز و منت کاندی په تا
مخامخ دِ په ثنا په صفت سر شی — سل بلا دربا ندِ وائی پشی شا

دد او دام تردے سړیو نه بهتردی
اے خوشحاله زهٔ له نبهره په صحرا

خدائے دِ مخ دَهیڅ غافل را بنکاړه نهٔ کا — دَغافل سره دِ ما آواړه نهٔ کا
په هرلوری نو بهار دے غوړید لے — ستر کے وخوړه چه به دا نندارهٔ نهٔ کا
هغه څوک چه دَ الف په توری پوهشو — نور په خولهٔ دَ نور و توریو شمارهٔ نهٔ کا
هغه څوک دے چه په حال څما خبر شی — چه کریوان به ترلمنے پاره نهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په یوهٔ نظر ئے هرڅهٔ له ما یوړهٔ — چه هیڅ نشته نور نظر دوباره نهٔ کا
د چار پایو په حساب دی سړی نهٔ دی — چه په ساز د سوختګانو ناره نهٔ کا
طبیبان د رنځ وهرلوری ته ډیر دی — ر نځوران ولے د وخته چاره نهٔ کا
د تقوی غلیمی دف کښیږ.ده د لاسه — په دهلی بنار کښے څوک نقاره نهٔ کا

واړه ستا داتورے ستړکے خوشحال وژنی
دا قتلونه څهٔ طالع ستاره نهٔ کا

خدائے چه تار په تار یاران بیا سره ټول کا — تورے خاورے به په سر د رتنبول کا
د جهان غمونه یو سر ځما بل سر — کهٔ سړے ئے د باور په تله تول کا
نهٔ م یار نهٔ م غمخوار شته په داغم کښے — لکه بے اوبو څوک بند په کرم چول کا
کهٔ په پوهه کښے دانا د زمانے وی — د زړهٔ غم ئے ترهلکو کچو کول کا
چه ئے د ول واهه ځما په دلګیرئ — اوس د ترَ په نخاهم په دغه ډول کا
چه مستان د یوهٔ جام دی غم ئے نشته — کهٔ ئے هرڅو زمانه په لاس کچکول کا
د پساله صفت ئے شی د رنګ ئے نهٔ شی — څوک چه پورے په بد رنګه ناوے پسول کا
کهٔ د اوسپنو قلا وی چه بخت یار شی — خاوند خدائے به ئے آسانه لکه شول کا
چه ګلونه د بهار واړه تمام شی — د زړهٔ سود شید ا بلبله په خټول کا
خال ئے مست خونی هاتی دے سنبال کړے — چه بنکاره شی شا به ورته د غم غول کا

د خوشحال د رنځ علاج په یوهٔ خدائے شی
چه له دردهٔ سره تل شوری آشول کا

خپل عمل چه سړے سپک کا — لکه خس هسے ئے ورک کا
بد عمل لیونے سپے دے — چه حملے په خپل کنډک کا
مګر نهٔ ګوری د ځان ته — چه احول پیغور د یک کا
مزړے بنکار کا د ګا دزو — پیشو ګرځی بنکار مڑک کا
دا خبره د ه چه کیږی — کهٔ کیسه د دوتک کا
چتے باز په پرونو نهٔ شو — کهٔ آلونړی پرپرک کا
چه بیزو د باز یګر شو — نن څهٔ ناسته په انډک کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حُما ژبه نهٔ دہ اور دہ گذارونه د توپک کا
چه حُما اختیارئ خور کړ خدائ دِ خوار هغه څنګ کا

خوشحال ناست په برمول دے
ارمانونه د اتګ کا

د دُنیا یاران په خوئ دی د دُنیا بے وفا لکه ئے مخ هسے ئے شا
که د دین د پاره تاسره یاری کا له هغوغواړه که غواړے څهٔ وفا
د دُنیا بنادئ غمونه سره کړ دی په خندا خندا دِ زړه کا په ژړا
چه فتنے ترے پیدا کیږی واړه نفس دے نفسانی یاران به نهٔ وی بے بلا
اولیاء د اولیاء سره بد نهٔ وی دا په داچه ئے د نفس نشته هوا
په دُنیا د بادشاهانو سره ضد دے اُمرا سره د بنمن وی اُمرا
یا په نهٔ یارئ کښے سود دے که پوهیږے یا په نهٔ ویل کښے سُود دے د دانا
بیا هالهٔ د بل جفا وته نظر کړه که تهٔ نهٔ وینے په خان کښے هیڅ جفا

لکه تاسره څوک څهٔ کاندی خوشحاله
تهٔ هم هسے زیست روزکار کړه له هرچا

د مرغهٔ ئے که وزرشته الواتهٔ کا څهٔ په دور لکه باز هسے خاتهٔ کا
که مته غوندِ تیرهٔ لری مڑک دا ړه څهٔ مته غوندِ گذار وته واتهٔ کا
په ارمان د دیدن مرم پرے م سلام دے چه خیر خیر م د یار مخ وته واتهٔ کا
بنائسته په جهان پیدا کړے بنهٔ هغه دے په بنهٔ خوئ چه د عاشق د زړهٔ ساتهٔ کا
لکه ستړکے تصویری زنبل ئے نهٔ وی چه م ستړکے بنهٔ جمال وته کا تهٔ کا
څهٔ خوښئ ئے پکښے ایښے دی پوهیږے هر نفس چه د واتهٔ ننواتهٔ کا
په هرځهٔ کښے ئے لذت فرحت راحت دے لکه ساه چه و واتهٔ ننواتهٔ کا

که په تن خوشحال ختک دے څنے لرے
د د هٔ زړهٔ د یار په کوے کښے جار واتهٔ کا

د عشق په بادیه کښے مهٔ بړه کام د تمنّا
هغه څهٔ عاشق نهٔ دے چه وړی نام د تمنّا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زارځما د زړه دے زارځما دے په دا کار کښے
کهٔ دا طور به تل درومی ایام د تمنّا

مرم د یار له شوقه سره دواړه نهٔ جوړیږی
آغاز د یار د وصل او انجام د تمنّا

څهٔ شوه هغه مینه چه د ستړګو په کاتهٔ کښے
بښړو به ئے ړا وا ستوهٔ پیغام د تمنّا

قدم ښه ده د هغه عاشق په پلهٔ باندِ خوشحاله
چه کام ئے خپل موندلے په هنګام د تمنّا

دُنیائی یاران چه طمع د دُنیا کا عاقبت په یوه طمع څان جدا کا
دیدنی یاران پکار دی په دُنیا کښے چه یارئ د دیدن په تمنّا کا
د ګونګټ مینه په غُل په خوشایهٔ ده خاصکی مینه په کل باندِ بورا کا
کهٔ په خپله رضا درومی چاره نشته کهٔ ځما په رضا درومی خولهٔ بړا کا
په بار بار د هغه یار منت راباندِ چه پلو په مخ نیولے مخ ئے وا کا
صد رحمت د عاشقانو په همت شه چه په طمع د دیدن د سرسوا کا

په رقیب به ئے بے تیغه مړک رواشی
کهٔ دلبره د خوشحال مقصود روا کا

دروغ دروغ وعده چه دِلسنګین سره پیوند کا
عاشق له ډیره خیاله څان پروین سره پیوند کا

بلا کاندی خولهٔ وانړه د فتنو آتش تانړه شی
چه ناز وجلوه دواړه نازنین سره پیوند کا

آزاد ترسینه درومی د ځګر د ننه کښینی
چه غشی لیندہ دواړه مه جبین سره پیوند کا

کهٔ نور مهرِ نشته څهٔ حوکړه د حال پوښتنه
چه تا په ژړهٔ ویشتلے سربالین سره پیوند کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څهٔ زهٔ څهٔ م مجال دے چه د وصل غواړم دریغه
که زبره توره شړئ څوک وریښمین سره پیوند کا
که څان غواړے خوشحاله له چشمانو ئے حذر کړه
خپل څان وژنی تمځ ے چه شاهین سره پیوند کا

دوے دِ تورے سترگے لکه دوے تورے بلا — دوے دِ تورے وروځے لکه دوے تورے ترملا
بیا دِ تورباڼه د دواړو سترگو کربلا — بیا دِ تورے زلفے تر بنا ماړو نه بلا
له هسے رنګه حاله را ته وُوایه اَصلا — د هغو به څهٔ احوال شی چه په تا وی مبتلا
عاشقان دِ دواړه سرګړل همیشه په واویلا — چه هسے رنګ ستم به په هیڅا نهٔ وی اصلا
د خاطر بخښه م هسے تاخالی کړله تالا — لکه غل د خپلے خونے همیشه روږدے په غلا
نهٔ به بلځهٔ وکښی نهٔ به کاندی نور املا
دا بنده خوشحال اوستاله عشقه مشغولا

د خوبئ نوم دِ ولاړ د بدخو هم لا — په خپل کلی په اولس په هرسوهم لا
تهٔ چه هسے په داخیال جمال نازیږے — کُله ستا به داجمال نهٔ وی بوهم لا
چه بد مست شی په مجلس کښے هغه نهٔ یم — که کدو د میوتش کړم سبوهم لا
ستاله جوړه له ستمه هورته لاړے — هغه څائے چه آدم نهٔ وی آهوهم لا
د نماستی په وخت ئے واکړه آزارمهٔ شه — د وربل غوټے کونځئ د کیسوهم لا
د خوشحال خټک دپاڼه چه مے خورشو
په مغان م وښی کیښول باهو هم لا

دوه زړه ونه چه یوشی غربه هم پاره پاره کا — څارتریکا نګئ چه نعمتونه رابنکاره کا
تورے زلفے بویه خط وخال زر و زیور هم — مخ چه بنائسته وی خلقه ئے ننداره کا
څوک چه په اخلاص و بله مئین شی په دُنیا کښے — زړه سازے ناسازے په دُنیا کښے آواره کا
خلق په شیطان باندِ لعنت لعنت لرینه — چارے په سړیو واړه نفسِ اماره کا
سل رنګه غمونه لور په لور د نفس له لاسه — دوه سوه د حرص له مخه نور را اجاره کا
چه ویش وی د شکور دِ پرعالم ور باندِ قول شی — چه واخلی خپلے بخښے نور څانونه کناره کا
خوبئ د خپلے چارے څوک په مت په کوشش غواړی — څوک خپل کار ونه وا ړه حواله په ستاړه کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څارتریکړنګئ چه زړۀ ئے یویونے اقراروی
هرچه دوزبان وی خپل غمونه دوباره کا
هرڅوک دِ دُعا کاندی چه حاجت ئے چاته نۀ وی
ولے بادشاه نۀ وی چه حاجت ئے بیچاره کا

کل وسړی ورکړه چه خوشحال په یوۀ کل شی
غړۀ غوایۀ نظرکله دَکل په پشتاره کا

دَبے ننګو پښتنو له غمه ما
لوئی پریښوه ونیوله کمه ما
داهم ښۀ کۀ په داکار کښے هومړ کاروی
چه کۀ واخست انتقام له کرمه ما
چه دَننګ کوهرم مات شو دواړه ستړکے
په شرا نۀ کړے یودم بے نمه ما
هغه دُسړم په لاس نۀ راغے بیړۀ
استاده کړه په ساحل له یمه ما
هغه ملاړم چه په هوډ سره لوئے غږ وُو
په ناکام کړه و مغل ته خمه ما
هم دَ بخت وماته شاشوه هم دَ خلقو
په مغل کړ ځکه مخ له همه ما
کۀ م لاس وے په رضا به م کښے نښول
دَ مغل په لوړی دوه قدمه ما
دَهغو دَخولے کړے خبرے آوړم
چه خبره ورته نۀ کړه سمه ما
زم دَ خپلو دَ پردیو رامعلوم شو
کۀ هرڅوساتۀ خپل ځان له ذمه ما
په هغو لویو خبرو شرمسار یم
چه هرچا وته ایستے له نمه ما
سل غندنے پیغورونه رادوځارشول
چه به ځان ساتۀ همیش له ذمه ما
دا الم م هیڅ الم سره سم نۀ دے
کۀ لیدلی دی هزار المه ما
مګر بخت راسره بیا مدد آغاز کا
چه فارغ کا دَاندوه له سمه ما

هاتی ځکه په سر لونی تورے خاورے
چه خبر کړ دَ خوشحال له غمه ما

راته څۀ وائے چه یار درسره څۀ کا
کۀ وفا کا کۀ جفا کا واړۀ ښۀ کا
داتل درد دَ ښائستۀ وُ دیارئ دے
چه یک لخته دَ زړۀ مهر په چا نۀ کا
سل بلائے قبلوه ورپسے دروړمه
ښائسته دَجهان کل واړه خپل زړۀ کا
چه دَکبر خیال دماغ وته ئے کورم
اندیښنے م ویښ بیدار ورته اودۀ کا
کۀ په نۀ عمرئے نۀ کړم زۀ خوارشم
هغه عمرچه جدا له یاره تلۀ کا
تیره چاربه دَهیچا په لاس رانۀ شی
کۀ په دیره شرا سرۀ دواړه لیمۀ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ بتانو په دیدن دَ زړهٔ نشاط شی لکه باغ پانړے کلونه په او بهٔ کا
په ورتللوئ شړے په تلوئ بولے
چه ئے نهٔ پریږدے په هیڅ کښے خوشحال څهٔ

راشه وګوره نن دا طراز ځما حقیقت سره قرین مجاز ځما
درست عالمئے په بازار په کوڅه وائی لا وچا ته بشکاره نهٔ دے راز ځما
دَ نیاز منو عمر غواړم په دا څهٔ شی که بے نیازو ګړے نهٔ وړی نیاز ځما
دَ غمزے په تیغ م وژنه صرفه مکړه څوک به نهٔ غواړی له تا نه ساز ځما
دَ مسجد محراب دَ چا دے دَ عابد دے په محرابئے دَ آ برو نماز ځما
بنائسته دَ بنړطاؤس ورلره بویه دا واړهٔ بشکارونه نهٔ کا باز ځما
چه په خوږو زړونو بلوڅی سزا مومی بنهٔ چه خوارشو په دُنیا غماز ځما
تهٔ په ما باندِ تل ناز کا معشوقه ئے
زړهٔ خوشحال ختک عاشق یم نیاز ځما

زړهٔ چه نهٔ وی مبتلا پرے دِ سازه شی بلا
ترعاشق دِ صدقه شی که زاهد دے که ملا
عاشق هر زمان غزا کا په تیره تُوره دَ لا
که عاشق دَ یار په تیغ مری پرے منت دے دَ یار لا
زاهد خوښ کُنج دَ خلوت کړ عاشق خوښ دَ یار بالا
ګل دَ عشق دے غوړیدلے وعاشق ته ده صلا
دَ ادنیٰ چارے ادنیٰ وی دَ اعلیٰ چارے اعلا
که شیخی زاهدی غواړے په خپل لاس کښے دَ لالا
لکیور دستار په سر کړه سر وهه په مصلا
یا مسواک کیږده په سر کښے یائے او تومبه ترملا
په تسبیح خوزوه شوندے نور ټکی کوے که غلا
مرد هغه ګنړه خوشحاله
چه ئے کیږی مشغولا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ تا پیژنم هوا واړه تا کړم سرهوا
چه همیش ئے په عالم کا د جهان کوړه غلوا
په نوائے بے نوا کړل بے نوا شول په نوا
د هر رنځ دارو موندل شی د بد خوئ نشته دوا
عاشقئ ځنے په کور کړل څوک پراتهٔ دی په زکروا
چه م وینے د کوکل خورے وینے کله دی روا

د چمن کلونه وا شول
د خوشحال نهٔ شهٔ زهٔ وا

زاهدان چه د رند انوتل پیغور کا کهٔ توانیږی ازلی قسمت دِ نور کا
بنهٔ چه سپین د زهدلرے له ما کوئ چه و تور وته نزدے شی سپین هم تور کا
کهٔ ربنتیا وایم ویل ئے په ما اوږدی څوک چه ما سره بے عشقه بل بیور کا
کهٔ په خولهٔ مُهر وهلے د عاشق دے په سینه کښے ئے زهٔ وکوړه څهٔ شور کا
د لیلیٰ نهٔ نوریده د مجنون مینه چه م زهٔ له یاره نیسی خلق زور کا
نازنینے د دے بنهر واړه بویه چه نن ناز و غمزه ستاله ستر کو پور کا
څما یار په هر محفل باندِ چه راشی په بنائست د بنائسته ؤ بازارخور کا
یو زمان د زهٔ خوښی په لاله زار کښے دا فلک ئے بل زمان را باندِ اوږ کا
چه دیدن د مئین نهٔ وی زهٔ ځهٔ کړم کهٔ کلو نه شکفتن راته هر لور کا

تیر یاران به نورونهٔ وینے په ستر کو
کهٔ خوشحال ور پسے دوه ستر کے څلور کا

سور پیزوان دِ په زکر نوے سنواریا بیا د زهٔ رونو آزار اخلے پاریا پاریا
په خاوند م دِ سوکند وی باور وکړه چه هیڅ دم م له خاطره نهٔ ئے وساریا
زهٔ هر کوړه دماغی په ځان غره وُم ولے ستا ستر کو ځما دماغ اوتاریا
د چرے د کتارئ حاجت نشته د بڼو په غشو تا بیچاره ماریا

کله کله ئے له حاله خبر آخله
بیچاره خوشحال خپل زهٔ درپسے هاریا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنهٔ سړی دَچا په بد و نظر نهٔ کا
که ځوک بد ورسره کا ندی دوئ به بنهٔ کا

په بار دارهٔ وُنه تل وریږی کانړی
ورته کوړهٔ چه بار دارهٔ وُنه څهٔ کا

دَجهان کینې غصے واړه تر شا کا
کهٔ سړے په وخت دَ قهر مړک ترزړهٔ کا

دا په دا چه خودبینی ورځنه نشته
دَجهان نندارے ځکه دوه لیمهٔ کا

په کینه په حسد هیڅ دَچا وُنهٔ شی
هر سړے چه حسد کا ندی ځان اوبهٔ کا

نصیحت دَ نیکو بنهٔ دے نهٔ دَ بدو
کم بختان به بد فعلی دَچا په خولهٔ کا

وسړی ته ئے اختیار ورکړو هوښیاره
که په هره چار کښے خدائے واړه خپل کړهٔ کا

شپه او ورځ په لار روانے قافلے دی
نیک وبد دَ قافلے په لارهٔ تلهٔ کا

یک تنها په لارے تلنه ده خوشحاله
په داهسے لار څوک څهٔ دلارے ملهٔ کا

که بے نمازه دَ قیامت په ورځ ممتاز کا
وجنت ته ئے روان په ډیرا عزاز کا

نماز گذار وته ئے هسے حکم وُشی
چه فرښتے ئے دَ دوزخ په اور گذار کا

انبیاء او اولیاء به هیڅوک نهٔ وی
چه ترشونډو به بیرون نرے آواز کا

ترعاصی نه لا بهتر هغه عابد دے
چه په خپل طاعت به عُجب یا به ناز کا

دا ځائے کار دَهیڅ طاعت نهٔ دے خوشحاله
کوړهٔ څوک به په خپل فضل سرفراز کا

که یوځل دِ دَ وصاله بهره مند کا
په هر دود به دِ خرم خوشحال خورسند کا

په زمان به دِ پیوند له هرچا پرے کا
که محبوبه دِ دَ ځان سره پیوند کا

نوے میاشت به دِ په مخ کوری وگړے
که په مخ باندِ دِ جوړ سُم دَ سمند کا

زهٔ به ځان لکه پتنگ ترے صدقه کړم
که له وړانده دَ دیدن مشعل څرگند کا

مبتلا خاطرم مری دَ یار له لاسه
بیاله مینے هم دَ یار په سر سوگند کا

چه له سوزه له گدازه ئے حذر شی
زمانه به ئے گلاب نهٔ به ئے قند کا

دَ هرچا قدر قیمت په خپل هُنروی
دَ گنی قدر څرگند دَ گنی خوند کا

چه دَ عشق دَ لیو نیو په حلقه شی
کله وی چه هغه غوږ دَچا په پند کا

دَ جاهل سره گلگشت لکه دوزخ دے
له دانا سره راضی یم گهٔ م بند کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ دَ خپلو سپیو نوم ورباندِ کښیږ دی
خوارخوشحال به په عالم کښے سربلند کا

کهٔ دَ زړهٔ لری بها خان به نهٔ کړی کم بها
څهٔ وے څهٔ به شے خبر شه ابتدا په انتها
چه به کاندهٔ تنها کیږے خو لا نن بنهٔ ئے تنها
چه ئے نور له تا آخلی په خپل لاس ئے کړه رها
تهٔ خبر نهٔ ئے له خانه چه په تاکیږی څهٔ ها
درته وایم نهٔ پوهیږے څهٔ غفلت لرے هاها

بل مخ مهٔ کوره خوشحاله
مخامخ شه په شها

له دلبرے نه مِ خولهٔ غوښته امّا ډکه خولهٔ ئے راته دا وے « له ما »
دَ مانړی په وخت ئے تل هسے گواب وُو کوره بیائے په څهٔ زړهٔ بد دے له ما
هسے یار سره څوک څهٔ لره یاری کا چه له کبره ئے نظر وی په سما
زړهٔ به هیڅکله دَ عشقه نه وانهٔ وړم پند گویا نو خپل پند وساتئ شما
څهٔ خبر ئے چه اول په عشق کښے څهٔ څی په اول وصلت ئے څی له سترگو ما
دَ چا زړهٔ لکه کا بل دَ چا بگرام دے دَ یوهٔ نصیب ساړهٔ دَ بل گرما
کهٔ جمال راته بنکاړه کا زهٔ به ور کړم دا کتلے دُنیا واړه رونما

زړهٔ خوشحال چه ستا په مخ باندِ مئین شوم
پاڼ سائی غواړے له مانه صنما

نوبهار شو بیا نرگس په باغ مستی کا چه صبامِ په سنبال دراز دستی کا
په پنځمه ورځ کښے گل دَ باغ تازه وی په شپږمه ورځ فنا خپله هستی کا
مبتلا بلبله سرِ دَ گل په پښو وږ دی لکه برهمن دَ بُت بُت پرستی کا
تواضع زړه کړه په تن له سرو وُنے په په هسے بلندئ کښے پستی کا

کرلانی لا نور شراب نوشلی نهٔ دی
دا مستی واړه په جامِ الستی کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نا دیدہ پہ نادانئ څۀ بلا کا
الف بے ئے لوستی نۀ وی څان مُلا کا

روستائ تردشتہ نۀ وی رسیدلے
بیهودہ ویل دَ دشتِ کربلا کا

دَکافرتۀ سرہ وغہ کړے دَدین تُورہ
مُسلمان تہ ئے مشرک سړے تر ملا کا

وداناوتہ بلا شوہ خپلہ پوهہ
چہ ئے تل پہ سل غمونو مبتلا کا

داهمہ دَ بدخویئ علامت دے
چہ سړے زناخونۀ ټکی غلا کا

پہ جهان کښے چہ خویونہ دَ بدئ دی
یودرروغ ترزرو بدو تیرے لا کا

عطارد دِ نورقلم لہ لاسہ کیږدی
چہ پہ داخو بئ بهرام انشا املا کا

داخبرے دَخوشحال وچاتہ نۀ دی
خو هم دے لہ خپلہ څانہ مشغولا کا

واړہ مست شو بدویل کا
وسړیو تہ بنکنځل کا

سل بلا ترخولۀ وباسی
پہ تیرہ تُورہ وژل کا

چہ خپل نړۀ وچاتہ ورکړے
هغہ چارے پہ تاتل کا

نړۀ بہ څۀ مانړہ لہ چاکړم
پہ ما داچارے زړۀ خپل کا

څان بہ واچوم وسیند تہ
څوک بہ داهومرہ زغمل کا

دۀ پخپلہ دا فتنے زدہ
کۀ بدخواہ ورتہ بنئیل کا

نۀ ئے ویرہ دَآزار شی
نۀ ئم رحم پہ ژړل کا

چرتہ څم پہ چا فریاد کړم
څوک بہ یادخما دَدل کا

بل تاراج نشتہ خوشحالہ
واړہ عشق دے چہ نتل کا

هربیمار چہ دَطبیب سرہ شدت کا
کۀ ئے کورے وخپل څان وتہ آفت کا

دَماهی ژوندون دریاب دے کۀ تر وُوت
پہ خشکئ کښے بہ دے کلہ فراغت کا

بناپیرک چہ لہ آفتابہ نۀ پتیږی
دَآفتاب دَکومے چارے خسارت کا

ومهتاب وتہ دَسپیو غپا کیږی
پہ غپا غپا څان هسے فضیحت کا

دَکونکټ دَکل دَبویہ نہ بلا دہ
ژواک ژوندون واړہ پہ بوئ دَنجاست کا

انبیاءؑ چہ کافرانو وتہ بد شول
واړہ چارے دَشیطان پہ مصلحت کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوارهغه چه دَغلیم په نغوته دروی مدعی غلیم دَ نیکو نصیحت کا
یو دَ سرود په غاړه ترې تشنه لب مری هرخسیس په خساست کښے خپل عادت کا
دَ فرقان په هدایت فاروق پوهیږی نهٔ بوجهل بولهب ته هدایت کا

طهارت دَ مُسلمان کیږی خوشحاله
نهٔ اودس غسل دَ کبر طهارت کا

یار به څهٔ بے وفائی کا چه بے جرمه جدائی کا
لکه شمع له ما دروی په بل ځائے به روشنائی کا
عاشقی دِ هغه کاندی چه قبوله رسوائی کا
څوبنائسته لری دلبره هومره کبر و منائی کا

خوار خوشحال ته دَ سروشونډو
بوسه ورکړه گدائی کا

یارم مروردے که څوک وی چه نے پخلا کا
نه رپاسه ریباره حُما زړهٔ پسے بلا کا

تل به دَ جفا په دریابونو کښے غوتے خوری
څوک چه زړهٔ دَ دَور په دلبرو مبتلا کا

څهٔ کنده عالم دے مهٔ ئے دود وے مهٔ ئے رسم
وزړے په ځائے پریږدی ومړو و ته صلا کا

هیڅ سزائے نشته باندِ لاس دماد زړهٔ شوے
تورے سترگے ستادی چه دایم دَ زړونو غلا کا

ستادَ تورو زلفو ظالمی څهٔ پته نهٔ ده
مست چه زورور وی ظالمی ئے بر ملا کا

ته چه عاشقی کړے قبلوه په عاشقئ کښے
تل په عاشقانو باندِ خلق اَلا اَلا کا

ستاخونخوارو زلفو نړهٔ تنها نتلے نهٔ یم
څوبه دماخوار غُندِ لا نور هسے جلا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه کهٔ نے کوړے دا په خیال جمال مغروره
څو رنګه ناز ونه په خوشحال خلا ملا کا

یار چه تل هسے جفا کا ظلم جور سل بلا کا
نور څوک هم شته په دُنیا کښے خو کهٔ تل به ئے په ما کا
راشه کوره ستا له لا ه څوک خندا کا څوک ژړا کا
دَ هغو په حال خبر یږ ه چه په دردرته دُعا کا
کهٔ ربښتیا ورځه نشته مړ ک نے مهٔ وه تل ربښتیا کا
څهٔ ئے شته په زړ ه پوهیږم دا چه څی نظر ترشا کا
مخ ے کل دے زهٔ بلبل یم تل بلبل دَ کل ثنا کا

هیڅ مانړه مکړه خوشحاله
بنا ئسته خپله رضا کا

په سپین جمال چه تار په تار دوے زلفے عنبر فا م کا
محبوبه غواړے دا چه رنړا ورځ په عاشق شا م کا
چه ډیرے دَ یار زلفے یا دوُم مقصود م دا دے
چه ما دَ یار دَ زلفو دَ حلقو دیوانه نام کا
عاشق چه په جهان کښے خپل ژوندون له خدایه غواړی
دَ زړهٔ مقصود ئے دادے چه څان څار تر دلارام کا
زهٔ مست بیخودهٔ پروت یم په یوه پیاله دَ میو
ساقی بنیښه نیولے راته فکر دَ بل جام کا
په مخ دَ بنو محبوبو زهٔ مئین څهٔ هومره نهٔ یم
چه یا به ئے څوک وکښی یا ئے شرح څوک مدام کا
دلبره چه له دله دَ عاشق په مړ ک راضی شی
دَ ستر کو په کا تهٔ کښے وعاشق وته پیغام کا
چه تامنع کوی دَ بُت په عشق کښے ورته وا یه
کعبه دَ کا نړو کوره تړو دے څهٔ خلق احرام کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ غټ دَعنایت په ستړکو وګورے خوشحال ته
دَدۀ مقصود به واړه په یوۀ نظر تمام کا
نشته په دا بنهرڅوک چه نۀ دے خریدار ستا
څرنګه دیر تود دے چه زم ولیدۀ بازار ستا
بنه ده سرو وُنه نۀ چه بنه ده ستا ترقده
شهد کۀ شیرین دی نه شیرین دی ترګفتار ستا
بنے دَهوسۍ ستړکے دی نه بنے دی ستا تر ستړکو
بنۀ دَزړکو یون دے نه چه بنۀ دے تر ا فتار ستا
څوک دی چه تاوُوینی مئین دربانډِ نۀ شی
هرلوړی ته دیر دی کۀ ئے ګورم خریدار ستا
چاچه تا ته کړے یو نظر دے په درست عمر
څوچه دُنیا پائی نور به تل وی طلبګار ستا
زۀ به ورته نۀ وایم سړے چه تش کالبد دے
هرچه تۀ ئے وُلیدے لوټ نۀ شو په دیدار ستا
ګل دَ لاله داغ لری سختی دَ رامبیل پانړے
چاوے چه لاله دے یا رامبیل دے ګلعذار ستا
دیر طبیبان راغلۀ لکه راغلۀ هسے لاړل
راشه حال ئے ګورۀ چه څۀ حال لری بیمار ستا
وے زم وطبیب ته چه دَ زړ نخ دارو زم وکړه
وے ئے چه دارو کړم اوربلیږی په پرهار ستا
سرلری خوشحال درته پیشکش کۀ دِ پکار دے
به تردا نورڅۀ چه دَچا سرراشی پکار ستا
په زړۀ زم هسے نهال ئے اے له دوو ستړکو غائبه
کۀ زۀ بله نامه وایم نامه ستا راشی په ژبه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هردم م دیره ځله اضطراب شی ستا دیدن ته
په تړی باندِ تل وی د اوبو مینه غالبه

تره ترخه کهٔ نهٔ وے د خوښو قدر به نهٔ وو
سکه ځکه جدائی شوه آشنائی سره واجبه

یو د بیلتانهٔ رنځوری ګرانه ده کهٔ نهٔ وی
نور همه زحمت آسان دے کهٔ نس خوږے وی کهٔ تبه

ناڅاپه دوه مشتاق چه سره ووینی په ستړګو
تر دا به بله نهٔ وی په جهان کښے عجائبه

په دیر ضرور خوشحال د یار له مخه جدا کیږی
ارواح کله راضی وی چه بیلیږی له قالبه

په هغه جهان به خلاص وی له عذابه
کهٔ دلے سریکار وی له کتابه

واړه نړۍ یم چه م هسے شراب بد کړل
ګنډه کومه بدی غواړے له شرابه

د شیطان له چارو لرے لرے ګرځه
یو د رنګ مهٔ اوسه بے چنګ و بے ربابه

د بنهٔ مخ په نندارهٔ کښے خیریت دے
کهٔ ځماله لوری چارنهٔ شی خرابه

چه دا هسے ارت ملک په خپل سر تنګ کړے
په خلوت کښے دِ څهٔ سود دے شیخ وشابه

چه ئے سړے لمبے په ځان کړلے قبولے
د بنهٔ بوئ نفس پیدا شو له ګلابه

هم حیوان ئے هم سړے ئے هم ملک ئے
کهٔ تهٔ بنهٔ په ځان خبر شے له حسابه

کهٔ خبر له حاله نهٔ شے درته وایم
په بل نام به بالهٔ نهٔ شے بے دوا به

کهٔ پخوائے خرابی ده چا لیدلے
بیا به هم وی د وجود مینه خرابه

هر طناب ئے ودانا و ته معلوم دے
د اخیمه ولاړه نهٔ ده بے طنابه

د خوشحال ختک په ژبه برکت شه
چه ویل کا په پښتو له هره بابه

ته چه هسے په غوغا دروے سیلابه
ولے هسے په ساعت کښے شے بے آبه

آفرین دِ په همت د لوئے دریاب شی
چه په هیڅ ئے چارنهٔ ده کریابه

چه په پورته د کاغذو ګودئ دروے
کهٔ ربنتیا ده دا دِ دروے بے طنابه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَطوطی ژبه اُستاد غواړی دَ نُطق — کنړه دے به لا بتر وُو تر غرابه
چه په مخ کښے دِ نا بود شی واړه ستوری — دَ آسمان په ستوریو وخیژه آفتابه
کهٔ لمبے ورباندِ بلے کا ایرے شی — دَ ژوندون هُنربه نهٔ ځی له سیمابه
له یا قوته دِ هالهٔ سیالی شِبه کا — کهٔ دَ اورپه تاؤ کښے دانشی بے آبه
چه مرغونه وزر بیامومی آلوزی — هیڅ مقصود ترسره نهٔ ځی بے اسبابه

په ځوانئ کښے اودهٔ وُوپه زوړوالی
دَ خوشحال ستړے بیدارے شوے له خوابه

خوار عاشق په خاصیت دے دَ سیماب — خوونهٔ مری ځنے نهٔ ځی اضطراب
ولے هسے خپل عاشق په جفا وژنے — نهٔ دیت شته نهٔ قصاص شته نهٔ عذاب
ستا دَ سپیو سره کرځم ستا په کوئ کښے — کُنډ ما وړسره کړه کړے په حساب
خوخوښی دِ دَ خپل یار دَ دیدن موم — کهٔ په ویښه میسرشی یا په خواب
چه په ډکه خولهٔ دِ ووے یاری نهٔ کړم — دَ بلا په خولهٔ دِ وړکړم زهٔ خراب
داچیستان دَ یارله شونډو راته حل شو — آوریدهٔ شو یوځائے نقل او شراب
په ملال ملال کا تهٔ عاشقان وژنے — ستا په ستړکو کښے چرے دی دَ قصاب
ماته څهٔ وائے چه وایه څوک دِ وژنی — تهٔ له خپلو ستړکو غواړه دا ځواب

کهٔ دِ زړهٔ وی چه به زړهٔ دَ خوشحال کورم
راشه وګوره په اور ایښے کباب

خپل بیمارم حواله کړ په نصیب — ورته زهرشوے ګولئ دَ طبیب
برآمد ورباندِ صوت دَ غراب شو — خوشامد ورته آواز دَ عندلیب
طبیعت چه محبط شی سود ئے نشته — نهٔ په پند په نصیحت نهٔ په ترکیب
په اعجاز دَ محمدؐ خلقو اقرار کړ — دَ بوجهل تل نارے وے دَ تکذیب
عمارت لکه خطا هسے خطا ځی — په اول ئے چه خطا پریوزی ترتیب
نصیحت دَ ناصحانو باندِ بادشی — چه زوال دَ چا دَ چارے شی قریب
دانشمند دے خپل دانش لرے ساتلے — دَ تعلیم او دَ هُنر اثر په نریب
دَ پخو په حال اومهٔ کله پوهیږی — دَ مقیم په حال خبر نهٔ دی غریب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نصیحت بے ځایه واړه ځکړخون دے ځکه ژبه ترغاښ لاندِ کړه ادیب
دَ هلک مینه په چاوی په هلکو دَ لبیب مینه په چاوی په لبیب
په نړۍ کونو م دُنیا و هرچا ورکړه په جهان کښے پیدا نۀ شو یو حبیب
دَ خوشحال ختک په شمار په حساب نۀ دے
په هر ځلۀ په هر دیار لری رقیب

دا تاؤ تاؤ نړلفے بنکاره کړه له نقابه چه ځارځارۀ شم له هرې پیچ وتابه
نړۀ چه چیرے تاته سوال کړم تۀ بنکنځل کړے نور به څۀ غواړم ترداخاصه ځوابه
دَ سمند سمونه سرۀ په وینو دروی کوړه بیادِ دَچا مینه کړه خرابه
تابه هسے بے صرفه خونونه نۀ کړل کۀ دِ ویره شوے له خونه له عذابه
لکه څوک چه له تیرو تورو ویریږی هسے دارکوم نړۀ هم ستاله عتابه
چه دَ کښلی نړیبا مخ نظیر دِ غواړم په نورځۀ م نظر نۀ شی بے آفتابه
کۀ فتنے او خرخشے دَ کښلیو دود دے نه چه هسے هومره ډیرے بے حسابه
زۀ خوشحال کۀ له تاخواست کړم مستحق یم
خولۀ زکوٰة راکړه دَ حُسن له نصابه

کۀ یوځله مخ بنکاره کا له نقابه دَ بنائست نامه به واخلی له آفتابه
لاله کل به ځے له مخه خوبی پور کا په زلفینو په سنبل کاندی بے تابه
خلق څۀ لره تهمت په زمانه وږدی په چشمانوئے دُنیا کړله خرابه
دَ خمار به علامت ځے ستړکے سره دی کۀ چا بے وخته بیداره کړه له خوابه
دَ خاطر وینے ځے نوش په ځائے دَ میئو بیائے نقل هم دَ نړۍ نو له کبابه
خاصه مړک دَ معشوقے دَ مقتولانو چه جنت لره به دروی بے حسابه
څمانړۀ قبله نماشونۀ جار وُونړی وبل لورته ستا دَ ورځیو له محرابه
په وعده ځے زړۀ خوشحال مکړه خوشحاله
دَ وفا طمع څوک نۀ کا له حبابه

کۀ دیدن شوے بے نصیبه ما به ولیدے حبیبه
په پرهار م اور بلیږی دارومۀ سیزه طبیبه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ دَ یاریم یارځما دے ترمینځ څهٔ غواړے رقیبه
لیونی به لیونتوب کا بے پروا دی له ادیبه
وعاشق و ته ناصحه څهٔ وئیل کړے بے تقریبه
تر فرهاده تر مجنونه
په خوشحال پیښه عجیبه

کهٔ ناکاهه رابنکاره شی هغه خوبه زړهٔ به یوسی له عاقله له مجذوبه
رقیبان به سرنگون له غمه پریوزی کهٔ په رائے کښے دخپل یار دروی محبوبه
هرنهمان په نوی نوی غم اخته شوم چه تل تل نوے شیوه کا دل آشوبه
دَ یوسفؑ دَ مینے لاف واړه عالم کا ولے بل پسے پوندنهٔ شوے یعقوبهؑ
کهٔ لاځهٔ درته دَ سرومال وجود وی په دا فکر به ور نهٔ شے ترمطلوبه
تهٔ ئے تل په سرُدعا کوه خوشحاله
کهٔ دِ نوم په ژبه نهٔ آخلی محبوبه

مردهغه چه زړهٔ ئے ویښ ستړے په خوب په خپل سپی ئے گمان شی دَ لیونتوب
درویشان دِ دُعا کا زهٔ ئے په ځان کړم کهٔ دَ زړهٔ نه مِ روان شی دازهوب
په مخ پیړه بنائسته ئے نوم دِ څهٔ دے دَ عاشق دَ ځان بلا فتنه آشوب
کهٔ په تورهٔ ئے ځواب ورکړے مردی ده کهٔ وجود دِ څوک آزار کا نهٔ شی په چوب
په هغے لارے چه بل ږدے هسے وایم کهٔ بانړهٔ کړم دَ هغے لارے جاروب
کهٔ هردم ورته ژړا کړم فائده نشته سنگین زړهٔ به ئے په چا نشی نروب
دَ دُنیا سختئ تل نهٔ وی غم مهٔ کړه په حلوا کُندِ بدل شی دا اتوب
کهٔ په تور دَ عاشقئ بند یخانه شی دَ عاشق له نهٔ څئ تلا توب
کهٔ مِ لاس ورباندِ برشی هیرم نشی پیرسرونه به چیت پیت کړم په میخ چوب
ستا په تش دیدن مِ هسے زړهٔ خوشحال شی
لکه ترے په اوبو شی بنهٔ خروب

ما دَ مزکے په مخ ولیدهٔ مهتاب چه خجل ترے دا مهتاب دے هم آفتاب
دَ زلفینو ترنگهت ئے مشک شرمیږی دَ خولو تربوئ ئے نهٔ رسی گلاب

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د وریل په هر هر پیچ کښے ئے نافے دی — مشاطه ئے چه پرانزی پیچ و تاب
نور شراب ورته اوبهٔ د ترخوبے دی — چه ئے مست وی د لبانو په شراب
وے م زهٔ م ستا د مخ په اور ورتیږی — وے ئے پریږده چه بنهٔ وریت شی کباب
ستا په راز م صورت سر تر پایه پُر دے — زهٔ م کوره په تصویر کښلے کتاب
عاشقان م کشتکان د معشوقے دی — کشتکانو څخه نشته سوال څواب

که ته څهٔ خوا شارت وکړے د ستر کو
د خوشحال خټک به وویني شتاب

نول د تن د ځان شیون د زړه آشوب — یوه څهٔ بده بلا ده عاشق توب
والئ ته په چا مئین ئے راته وایه — بے له تا له نور و مینو تو با توب
خولهٔ چینه ده د حیات په تور سلسل کښے — نوم ئے شته لاهیڅوک نهٔ دی پرے خروب
ستا له تورو شهلا ستر کو ئے سیالی کړه — نرګس څکه کیښنود سر د دار په چوب
خار و خس به د په لاره کښے پرے نږدم — چه ئے توږم د مژګانو په جاروب
واړه شونډے په لذت سره یو نهٔ دی — څوک حلوا دی د نباتو څوک اَتوب
لکه باز خال د تارو دا ښکار د دهٔ دے — که څهٔ شی ځما د زړهٔ په تلاتوب
داځما د ستر کو اوښکے وینے نهٔ دی — د ویشتلی زړهٔ له ستر کو ځی زهوب

ستا د مخ په یادئ دواړه د زړهٔ لاړل
د خوشحال د زړهٔ آرام د ستر کو خوب

پلاؤ وخورے یوه لپه — ننه پریوزے اندر غپه
هیڅ خبر نهٔ وے له ځانه — نهٔ له راسته نهٔ له چپه
نهٔ درود وی نهٔ د ذکر — هندو هم نهٔ وی بے جپه
چه هوائے درته بنهٔ کا — زړهٔ د ځی په هغه هپه
په هر ځائے چه له چا کښینے — یاد د راز وی یاد د کپه
نهٔ به ځان ترهر چا بنهٔ کړے — که بنهٔ کیږے په غرد په

که په خپل فهم طبیب ئے
د خوشحال تر فهم تپه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا دَ مارغوندِ راضی له خپله بخته
چه دَغم له پوسته ووتم یک لخته

بیا هغه حسن وجمال هغه لیدهٔ شی
کهٔ دَ بخت ستړکے مِ خوږ وے یوشووخته

ګرد غبار لړے وریځے تر مینځ لاړے
بیادَ نمر ستړکه بنکاره شوله ویخته

خدائے دِ وارهمت ورک نهٔ کا دَ مردانو
په دُنیا کهٔ باندِ راشی ګرانه سخته

زمانے په هر بازار وګرځولم
خبردارئے کړم دَ هر بازار له رخته

دَ بهار په وخت ئے بیا نشو و نما وی
په خزان چه پانړے پریوزی له درخته

دَ خوشحال ختک طالع ترخرم بنهٔ دے
چه بندی شو خاوند بیا دروست ترتخته

په جهان کښے څلور قسمه دے نعمت
عاقلان ئے دی خبر په حقیقت

لمړنے نعمت دَ علم دَ بنهٔ خُلق دے
دا نعمت په دواړه کونه دے راحت

بل نعمت په دا جهان دَ ډیر دولت دے
چه هر شان پرے ابلهان کا فراغت

بل نعمت دَ ریاضت دے کهٔ ئے ګورے
په هغه جهان راحت دے محنت

په خونی هاتی سوړه شوه مئے پرسته
زهٔ هم مست هاتی هم مست دے دا هم مسته

خدائے دَ دریو واړو مستانو سره سر کړ
بله نشته یا به نیست شی یا به هسته

نندارو لره ئے راشئ نندار چیو
یوه لویه هنګامه شوله پیوسته

چه ئے ستا زلفینے کیوتے په لاس کښے
لاس ئے پریوزه کهٔ ئے دے پریږدی له دسته

یار دَ ماځنه دَ کور دننه ناست ؤو
زهٔ بے روحه ګرځیدم دَ دهٔ په مرسته

نهٔ یاری نهٔ آشنائی واړه لباس دے
چه خبر شوم دَ وګړی له بربسته

ما په وښیو ستړکو ډیر یاران خوړلی
په خیر خیر دِ مخ ته نهٔ ګورم له کسته

دَ خوشحال په ځان دَ ډیرو غشی لګ دی
خو هم دهٔ زده چه دے مړی دَ چاله شسته

تورے ستړکے ستادی اے زیبا نګارے مستے
تور نرګس شهلا دی اے زیبا نګارے مستے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تاچه بوسه راکړه زهٔ پرے بے حسابه مست شوم
شونډے دِ صهبادی اے زیبا نگارے مستے

ماچه ستا دا کښلی بار خو په ستړ کو خیر کړهٔ
کل دَ لاله دادی اے زیبا نگارے مستے

خولهٔ به دِ آخلی چه پرے ستا دَ خاطر مینه وی
ډیر په تاشیدادی اے زیبا نگارے مستے

هرچه ستاله ظلمه ونورچاوته فریاد کا
واړه بے وفادی اے زیبا نگارے مستے

خوب کاندی بے غمه یائے چیرے قرارے شی
څوک چه بے له تادی اے زیبا نگارے مستے

چارے په ما وکړے وائے چارے څما نهٔ دی
ستانهٔ دی دَ چادی اے زیبا نگارے مستے

تا ووے خوشحال ته نورے لا ترما زیباشته
څوک ترتا زیبادی؟ اے زیبا نگارے مستے

چه مئین شوم دَ بلندے په قامت — راته ودَ ریدهٔ داسے دَ ملامت
چه بلائے دَ قامت راته بنکاره شوه — کویا پاسیده بلا دَ قیامت
چه محراب ئے دَ آبرو راته بنکاره شهٔ — هغه دم مِ تعره وکړه قد قامت
دَ مژګانو ناوکئے هسے نهٔ دی — چه به څوک ورځنے درومی سلامت
چه نهٔ مړ نهٔ معشوقه نهٔ کشت دَ کلو — تیرئے عمردے په غم په غرامت
نن دَ کښلیو دَ دیدن نندارهٔ کوره — اوکهٔ نه کاندهٔ به درشی ندامت
چه دَ کښلیو نندارهٔ و څخه لاړه — خبرنهٔ یم کوم ګناه ووکوم شامت

چه نظر به دَ کرم په خوشحال کاندی
لا به کله وی دا فضل و کرامت

څهٔ به وایم دَدے نفس له آزمیښته — نفس آدم دے راایستلے له بهشته
چه پکښے دَ دواړو کونو مراد مومی — هغه چار دِ تر نظر لاندِ کا نړشته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَکیمیا دَ بوټی ګل کله موندهٔ شی
چه دَ پښو تلی ګلګون نهٔ شی په غوښته

دَسړیو په غفلت پورے حیران یم
چه په ګورکښے تورے خاورے هومړ نشته

بیا به څله څوک طلب دَدُنیا کاندی
چه ئے خلاص نهٔ وی یودم دَکار له کشته

کهٔ دَسرلاندِ بالښت کښیږ دی دَپرونو
عاقبت به تر سرلاندِ کاندی خښته

دَدُنیا مینه په مثل دَخار بښت ده
هیڅوک نهٔ وینم خالی له دے خار بښته

د صحرا په کانړی رخه دَشیطان شوه
عیسیٰؑ سر په مزکه کیښو له بالښته

دَزړهٔ مینه په مثال لکه پټک ده
چه دَګوئے څښتن وهله هورته رغښته

غم ئے واړه دَآشنا دَ بیلتانهٔ دے
دَخوشحال چه سر یکار شوله جوړښته

چه م ولیدهٔ په ستړګو ستا بنائست
بنا پیر یو څنه نشته دا بنائست

هم هغهٔ دربانِد هسے شان مئین کړم
چه دسړے ئے وتادے دا بنائست

مخ ئے کله دَلاله غوندِ ژیبا دے
دَلالا ترګل ئے پیردے لا بنائست

ګرمه نهٔ ئے چه خپل ځان ستائے نکاړے
وائے نهٔ لری قمر ځما بنائست

لورپه لور به دَ بلبلو ژغ پرے وشی
کهٔ صبا کا دَګلونو وا بنائست

دَنرګس ګلونه هم هرګوره ژیب کا
ستا دَستړګو وینم لا زیبا بنائست

عاشقان دِپرے پټنګ کړل چه وریتیږ ی
خدایه تا کړ په جهان پیدا بنائست

ملاحت وو نزاکت وو لطافت وو
دَخوشحال دلبره سرتر پا بنائست

چه ئے خوب په پالنګ نهٔ ووے دَ پرو له بالښته
راشه ګوره تماشه کړه ترسرلاندِ اُومه خښته

چه فانی دُنیا دُنی ده بُودئے نشته ناهنی ده
ځکه دا ده اے نادانه دَهوښیار ترفهم زشته

دادُنیا خار بښتی بزه ده په ساتل ئے څهٔ مزه ده
شپون ئے وشړی له بزو نه چه ئے پوهشی له خار بښته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه هم تول ځی هم دلئی دا طوفان دے کهٔ ږلئی
چه وږے موندهٔ نهٔ شی هډے توبه له هسے کښته

مالیدے په داچشمانو وړانے مینے دَ شاها نو
یکباره وړځنے ولاړهٔ چه ئے درسته دُنیا غوښته

دَ لکونو پیدا غول کړه دَجهان ګنجونه تول کړه
نهٔ به تهٔ نهٔ به ستا پشت وی بیاسنجرشو یوځو پشته

دَ سیلاب په مخ دِکوردے دا دنی فکرِ نور دے
چا به نهٔ کړه هورته خونه چه به دا په سیلاب ږغښته

په دُنیا کښے کهٔ شداد شے بیا به تهٔ په بلایاد شے
کهٔ بهشت په دُنیا روغ کړے څهٔ دِسودے له بهشته

هغو یوړله له ځانه دا فانی دُنیا اے ځوانه
چه ئے تار په تارخوړه کړه نهٔ هغوچه ئے ونغښته

مائے ولیدل کارونه طور طور رفتارونه
په ورتله په ستغ ختنه په تله کندے غوندِ ږغښته

کهٔ کم عقل کهٔ کانائے کهٔ هوښیارئے کهٔ دانائے
دَ میرباز غوندِ ورزغله دَخوشحال غوندترے تښته

چه دَ پلار په بدګویئ سرشی پوت — صدلعنت دَدهٔ دَمور په ګنده چوت
چه دَ مور په چوت ئے خیر وبرکت وی — له هغے موره به نهٔ زیږی کپوت
بختورئے هغه پلار هغه ئے مور وی — چه له موره نه فرزند زیږی ثبوت
دَ بدځویه ژغ دَفسق ودَ فساد ځی — دَ بنهٔ ځویه ځی نارے په ملکوت
دَ مزری په خوئ پیداشی څنے ځویه — څنے غواړی دَګیدړ غوندِ خپل قوت
چه ئے نوم په جهان پاتے شی دَ نیکو — هغه ځوئے دے په جهان کښے لایموت
وصورت وته ئے مهٔ غږوَه ستړے — دَخپل ځویه خوعمل ګورهٔ کړتوت
دَ سپین توت چه مزه نهٔ وی څهٔ پکار دے — کهٔ بنهٔ خوندلری ترے بنهٔ ګنډه تورتوت
دیر ځوانان چه احمقان دی لکه پیاز دی — وخوشحال ته هوښیار مشک دے پیر فرتوت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څه به لا ډیر ښه وی د بهار د ګلو وخته
که زړه درپسې نه وی د خزان سیلۍ سخته

په وخت د ښو ګلونو دوساله باده نوشلی
د زړه اندوه د واړه د عشرت یوسی یک لخته

په وخت د ښو ګلونو په خلوت دننه ناست ئے
راوګوته ننداره کړه ناسوتی شیخ بدبخته

هر ګل وته چه ګورے ګوښے ګوښے ئے نکهت وی
په رنګ سره یونه دی نه یوسم د بلله رخته

په سم دی که په غړه دی د بهار خاصه ګلونه
آخر به ئے ژړون وی د ګلونو له درخته

چه تعینه د اهار کړمه سیلۍ شی په چمن کښے
ګلونه د لاله لکه بادشاه پریوزی له تخته

چه کښته پورته زانړے مرغاوۍ تله راتله کا
خوشحال ختک خوبل کړی په جهان کښے داد وخته

څوک به ستا د مخ نقاب کا رته پته
څوک به ستا په انګیو کښیږ دی ګوته

که د بیا نوی شیوے په خاطر نه دی
د وربل غوټے د څله دی آرته

مظلوما نو وته څه خو نظر وکړه
په دربار د فریادی دی څیرے خته

چه ئے پښی شا له ما هومره ویل کړه
نخاځ د هغو وله ژبے نښته

په خپل یار به ئے کیدے داهسے شندے
چه همیش ئے د رقیب خبرے نغوته

یار په هر لوری جلوه کا ورته ګوره
که د نه دی د لیدلو سترګے تته

په نوروز کښے دا غزل واخله مطربه
په آواز به د بلبلے شی ساکته

ګل ته چا دا هسے زیب وحسن ورکړ
چا ئے هسے ته په ته پانړے پرانته

د خوشحال په پالنګ بیا راغله سرشاره
په زعفرانو په چووه لړ خته

خپل پردی چه چالیندې په لاس آخسته
هر یوه کړه په ما تشه درسته درسته

چه قضا دما د چا په غشی نه وه
د بادشاه لیندې ئے هم کړه په ما سسته

چه تعلیم ئے د سیفی له ما نه آخست
بیا هغو دما بد و سیفی لوسته

په زړ ګونو راته لاف د یارئ کړے
په دولت کښے ئے دما بلا آخسته

اوس چه ورځ د نکبت راغلے یو نشته
چه څما د پاره وُوځی له بائسته

که بادشاه له تخته پریوزی نا آشنا شی
بادشاهی ده د دولت په تار آمسته

د نکبت ورځ په مثل د دانو دی
بنائسته سړے وباسی له بنائسته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هُنرونه ئے عیبونه شی خوشحاله

دَ سړی چه چار دَ بخت شی سسته پسته

دَ شرابو مستی زرشی نیست و هسته — لایزاله مستی نهٔ درومی له مسته
چه مِ نوم په جهان لاړ شو دَ رندئ — دَ رندئ کار به نهٔ پریږدم له دسته
کهٔ بادشاه ئے په زندان کا غم ئے نهٔ وی — دَ آزادو آزادی ده له اَلسته
نهٔ یاری شته نه خپلوی واړه غلول دی — چه خبر شوم دَ وګړی له بربسته
دَ بنادئ په اُمید اوسی په غم کښے — تل په شپه پسے رادرومی ورځ پیوسته
دَ مقصود ګوهر په لوئے دریاب کښے پروت — غواصان پکښے غوتے وهی په مرسته
په ادراک له قعره نهٔ کوری ساحل ته — هغه کب چه ویره وُوینی له شسته
دَ عاشق خاطر او خیال لکه دریاب دے — چه چپه ئے کله لوړه کله پسته

دَ خوشحال له زړهٔ دَ یار محبت نهٔ ځی
لکه مینه دَ خپل بُت له بُت پرسته

دَ صبا نسیمه راشه وګلشن ته — دَ ګلونو انتظار دے شګفتن ته
ناهد څهٔ خبر له عشقه چه عشق څهٔ دے — دَ ګلزار له حاله څهٔ وائے زغن ته
ناهدان چه په پنځه وخته سجود کا — زهٔ دائم په سجده پروت یمه وثن ته
دَ لیدو په نظاره ئے نهٔ مړیږم — کهٔ هرخو په ځیر ګورم ودیدن ته
تهٔ خو بادشا ئق په زړهٔ کښے داغ بدے — چه په شین شین درومے وچمن ته
قهرمهر دِ دَ وروځیو په مینځ وینم — دَ جبین تخته دِ اینے ولوستن ته
کله جنګ وخرخشے کړے کله مِهر — نه په زړهٔ ساده حیران شم هومړ فن ته
کهٔ دما په مرګ دِ زړهٔ دَ دایم زهٔ هم — ستا جفا جور نزدے کړم ومردن ته
اوس دِ اور را باندِ بل کړهٔ پستنه شه — چه لوګے دِ ننه نهٔ وُوځی پیرهن ته

کهٔ تل ستاله لاسه ټوره دَ ستم وی
ما خوشحال قبوله کړے وګردن ته

دواړه شونډے کړهٔ په بیارته — دَ رسیزی وُکړه خپل یارته
زړهٔ چه ستا و مخ ته ګورم — زړهٔ م نهٔ کیږی ګلزار ته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کل له شرمه خولے پریږدی چه نظر کا ستا رخسار ته
کهٔ م واړه رباندِ جوړ شی منتظریم و خپل یار ته
کله دا ډربانډِ بنائی چه خیر خیر کورے وخار ته
کهٔ وفا کا کهٔ جفا کا یار دم مهٔ وهه اغیار ته
آئینے و ته نظر کړه کهٔ دِ مینه شی گلزار ته

زار وچا ته کړے خوشحاله
چه دِ نهٔ کوری څوک زار ته

دَ شوم سړی له کوړه کهٔ اوبهٔ وی دَ حیات
په ما باندِ لګیږی لکه زهر دَ ممات

موسیٰ څخه هیڅ نهٔ وُو ورسره یوه عصاوه
قارون څخه دُنیا وه خودئ ولیدهٔ آفات

هرچا څخه چه مال وی وبال هم ورسره مل وی
دا نا به هسے کارکا چه ئے نهٔ وی وبال نړیات

دَ کل دَ عمر کار دَ دُنیا مال دَ سفله مهر
دا درے څلور کاڼه نه بے بقا دی بے ثبات

چه شرم ننګ ئے نهٔ وی نهٔ هُنرلری نهٔ پوهه
په مال ئے نظر مکړه مهٔ په حُسن مهٔ په ذات

دا نا په څُکر خون کښے دَ نادان خوښی افزونه
عالم واړه حیران دے په دا هسے واقعات

چه تل به پرے بنادی وی غم به نهٔ ورځی په عمر
هیڅ راورے نهٔ دے په دُنیا کښے دا برات

عادت دَ فلک دادے هم دِ بناد هم دِ غمژن کا
کهٔ هر څو بنهٔ صفا وی بیا نرنګ ونیسی مرات

خوشحاله څهٔ اندوه کړے خوښ په دا اوسه خوښی کړه
چه بے ماله غنی ئے نهٔ دِ ج نهٔ دِ نړ کوٰة

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که م ستړکے د باور کړے سره لواتے
په جهان کښے خونیکی ده نورے باتے

که د لاس د نیکئ نه رسی د زده کړه
راشه واوره اَلْاَعْمَالُ بِالنِّیَاتِ

په جهان کښے که حجاج ، نوشیروان وو
هم دا داد او هم بے دادشو څنے پاتے

له قسمته به نه کم نه به څه زیات شی
دا د وارهٔ اندیښنے دی کم و زیاتے

که په څهٔ هنر د هومره توان رسیږی
چه به تهٔ کړے د مرګی لښکرے ماتے

بیا هالهٔ په جهان خوښ کړخه هوس کړه
کنړه نورے اندیښنے دی کم و زیاتے

د دُنیا ودانے حونے چه لیدے شی
عاقبت به ئے مړکے کا ندی میراتے

له دُنیا نه هم هغوده بخړه وړے
چه ئے نوم شی د نیکئ پکښے پاتے

سر تر پایه د خوشحال سره لباس کړے
خدائے د واخله لباسی دُنیا کم ذاتے

که داستا ستړکے راوجار باسم خان ته
له بنادئ به نور شاکړم وجهان ته

یو ړمان م که داستا لیدل نصیب شی
نور به ستړکے پورته نهٔ کړم کلستان ته

طبیبان د خپل دارو درځنه کښیږ دی
تا ویشتلے مینه نهٔ کا و درمان ته

کفرستان د شاه د تور زلفو کوړه
چه په څهٔ رنګه تا ویږی وایمان ته

چه په ما باند تیریږی ستا په عشق کښے
خدائے د هسے حال پیښ نهٔ کا مسلمان ته

په جورا بورا به هم نهٔ کا و تنه
عاشقان کله خالی دی وسهمان ته

اول بنهٔ شهپر پیدا د الوتو کړه
بیا له پسه الواتهٔ کړه و آسمان ته

په فراق د بنو یارانو چه ډیر ژاړم
دوارهٔ ستړکے م پیغور کا و باران ته

چه په خپله افغانی ژبه نادان دے
په ترکی خبرے څهٔ وائے افغان ته

مائے دوارهٔ شوندے بیا مونږ په کورکښے
نور د لعلو لره درو می بدخشان ته

هغه شوندے چه ځائی بے پانوسړے دی
هغه شوندے څهٔ حاجت لری وپان ته

له خوشحاله ئے بهرام غوندِ پیدا کړ
دم واهه نهٔ شی څوک څهٔ وائی یزدان ته

ما چه نظر وکړو په ذرات په موجودات
کول په جهان را غلم تر به کول د روم هیهات

یو څا د ترمیان وی فهم پاتے شی له کاره
دا هومره کیسے هومره ادراک د سماوات

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هیڅ نبی ولی ئے درست اسرار موندلے نۀ دے
لویه کارخانه ده کۀ وکورے کائنات

وزیږی له نوحه د طوفان په موج فناشی
ځوئ د آذر و مومی له ناره نه نجات

کار د بل حکیم دے چه څۀ کاندی هسے کاندی
واړه سر درکم دی دا آبا دا اُمّهات

دخل د ساعت د طبیعت دے کۀ د نور څۀ
نیک زیږی له بد وله بد ذاتونه نیک ذات

هومره علم نه ده کړه چه فرښتوته سبق ورکړے
بیا به خبرنۀ ئے د جهان په ترهات

نه دی کۀ مقبول دی کۀ معقول کۀ نامعقول دی
کوره نندارہ کړه تر دادم مۀ وهه زیات

سر په سجده کښیږ دی وائی مونځ کوم خوشحاله
زړۀ ته نظر نه کړی پکښے څولات و منات

نن م ولیده هغه مسته
غنچه خولۀ ئے نیست وهسته

په دوٴو زلفو عنبر پاشه
په دوٴو ستر کو مے پرسته

څۀ شیوے دی په جهان کښے
د همه شیوو همدسته

منفعل ئے گل تر مخه
ترښۀ قدئے سرو پسته

اوس م بیامونده په کور کښے
چه دائم ئے وُم په مرسته

د بالا بلائے بنه ده
د خوشحال سره پیوسته

یارم کبر جن شوخۀ به ووائی وما ته
درومه صبوری کړه نور به څۀ وایم وتا ته

صبر به هرکزله هسے یاره وکړے نۀ شی
درومه سکه دُعا کړه چه د مینه شی ترماته

تل دعا زاری کړم لامِ مینه پرے زیاتیږی
ژاړه ژاړه ژاړه گوند غوږ کا ستا شرا ته

تل په ورټ ورټ ژاړم لائے زړۀ په ما بنۀ کیږی
لا په ورټ ورټ ژاړه چه ئے لاشی خوښی نیاته

خوښ به لاهالۀ شی چه زۀ وم په ژړا کښے
وُمره چه دا مرګ د لا بهتر دے ترحیاته

زۀ په مرګ راضی یم رقیبان به خوا رایخ کا
مخ د رقیب تور شه کوره تۀ د یار رضا ته

شۀ په مرګ راضی خوشحال یوه خبره وایم
یارکۀ مخالف په وخت د مرګ کښینی وما ته

کۀ عطار د خپلو مشکو کا صفت
په داځۀ څوئے سروان نۀ شی نکهت

مشاطه د د دې یو آرائش کا
ولے دریغه کۀ د ناوې وی صورت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که ډخرهٔ زین ډسړی واړه سړهٔ زرکړے خربه آس نهٔ شی په دازیب وزینت

ګورے هم لکه یاقوت هسے لیدهٔ شی

جوهرۍ خبردارډے په قیمت

ما ډ نیت خبره ووے وناکس ته نورڅهٔ نه په نن ئے ووے وعسس ته

خوښے شوندے به ئے نهٔ موے وهه ئے سرپه دواړه لاسه وایه و مګس ته

دے پخپله ډخپل ځان په سوختن دے ډګذارله حاله څهٔ وائے قفنس ته

نړهٔ چه نن دارنګینه خبرے وایم پرے پوهیږم چه به پاتے شی بیاپس ته

وطوطیا نوته م پریښو دے خبرے دامردارهٔ جیفه پاتے شوه ګرګس ته

یائے رنګ یائے آواز ډځان بلا شی څوک چه اچوی مرغونه وقفس ته

ګله نورعیب دِ نشته عیب دِ دادے چه په وانړو ستړګو ګورے وهرخس ته

ډ غفادٌ کال بهار ګوره خوشحاله

چه ډ مړو به ئے هوا وشی هوس ته

په رښتیا ویل غوږیږی ډ زړهٔ غوټه دروغژن خوږ لکه سپے ډ غولوسوټه

په دریاب کښے خښته واچوی هیڅ نشی په یوڅاڅکی خوړه شی اُومه لُوټه

ډهغ ښځے صحبت لکه دوزخ دے چه میړهٔ وته تل کښینی په مخ بوته

په دا کارنادان هوښیار دواړه پوهیږی ډ کابل خربوزه به ده تر پهوټه

څوک خُمونه تشوی مستئے نهٔ وی څوک ډمیوعربده کا په څوکوټه

ډهغهٔ یاری پکارنهٔ ده خوشحاله

چه له خپلے خولے وباسی ویناجهوټه

که ډشمع غوندِ کښیناستے مخ پټه تجلے دِ ډجمال وینم تر څټه

تهٔ ورځه په نجاست باندِ پیرے کړه ډګلزار له ګلو څهٔ غواړے ګونګټه

ډچندنړ ډ ونے لږ لرګی تحفه دی نهٔ ډ بلے بدے وُنے درسته ستړه

په وکښلو بهٔ ئے څوک وی چه بدوائی ډګنډهیر ونه کهٔ خیژی تر بنسټه

که په څوړاباندِ وخیژی خدا شی راته وایه چه دِ پریوزه دواړه متړه

مګرمرګ ئے په ارمان وبله جدا کا ډجیمی جدائی نشته له لویټه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دِ زړهٔ هغه به ووینے خوشحاله
خو یوه قطره کهٔ تیرشے تر دا څښته

چه بد نهٔ کاندی خبیث — نور به څهٔ کاندی خبیث
څنے طمع دَ بنسو مکړه — کله بنهٔ کاندی خبیث
چه دَ بل بنسیګړه وینی — ځان اوبهٔ کاندی خبیث
کهٔ ئے ځائے وکړے په زړهٔ کښے — خوښ دِ زړهٔ کاندی خبیث
کهٔ څما په خولهٔ شی خدائے دِ — زړ پاندهٔ کاندی خبیث
چه جهان ورځنے خلاص شی — خدائے دِ مړ وکاندی خبیث

دَ میړی غوندِ خوشحاله
اَلواتهٔ کاندی خبیث

یارم بیا دَ ستړګو تورکا الغیاث — واړه جور ظلم زور کا الغیاث
په ماخوار باندِ ئے نر ناحقه لیږدی — سل بلا دَ څنګه نور کا الغیاث
زاهدهم هسے له عشقه خالی نهٔ دے — په عاشق به څهٔ پیغور کا الغیاث
چه دَ وصل په دولت وی سره جمع — جدائی به هغه خور کا الغیاث
دَخزان دوک ئے لید لے دے په ستړګو — چه بلبلے هومره شور کا الغیاث

هومره اورچه دَخوشحال په خاطر بل دے
څوک به مړ دا هومره اور کا الغیاث

ساقیا آتش مزاجه — له صفا مینا زجاجه
دَ شرابو پیاله راکړه — دَ همه زحمت علاجه
نهٔ یوه پیاله دَ میو — نهٔ دَ درست جهان خراجه
زهٔ اومئے اے محتسبه — کهٔ م خونه شی نا راجه
ورکدا دَ میخانے شه — کهٔ شاهی غواړے له تاجه
دَ رندانو بازار تودوی — دَ شرابو له رواجه
صومعے ته تلهٔ له دیره — یاوه کار دے بے منهاجه
دَ ساقی پیاله را واخله — پکښے ډیر دی ابتهاجه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ساقی هرکله دِ وینم مه جبینه مخ سراجه
د بلورو پیاله ډکه
د خوشحال د احتیاجه

تهٔ چه خیال په زرزری جاموکړے غنچے د آسمان ستوری به نشی په دا قیچے
کهٔ بادشاه د مملکت شی په تخت کښینی چه به تل په جهان نهٔ وی دا په پیچے
ځان چه کم کنړی تربله هغه لوئے شی د سلیمانؑ کوته په دا راغله په خیچے
ځما ستا په خولهٔ به مړک کا تورے خاورے کهٔ تهٔ هرکله حلواخورے نړهٔ خمیچے
ودانے د درست جهان په محبت شی راشه کورهٔ محبت د مچ د مچے

نړهٔ خوشحال کهٔ خپل مئین په ژړاموم
په ژړا به پسے نهٔ کړم سترګے وُچے

چه صاحب نفر پرور نهٔ وی هم هیڅ په نفر کښے چه هُنر نهٔ وی هم هیڅ
په پالنګ د معشوقے ورځی سرتیرے هرعاشق چه تیرتر سرنهٔ وی هم هیڅ
له معشوقے نه شیوه بویه څو رنګه د عاشق چه پرے نظر نهٔ وی هم هیڅ
کهٔ په زر رنګه خوبئ آراسته وی چه ځلمی په بلا برنهٔ وی هم هیڅ
هوښیارانو لره عقل فکر بویه لیونی چه بے خبر نهٔ وی هم هیڅ
چه له شوره شره خلاص دے مردکان دی د ژوندیو چه شور شرنهٔ وی هم هیڅ
کهٔ بادشاه سره بے شماره خزانے وی چه ئے بنهٔ جنګی لښکر نهٔ وی هم هیڅ
مړنے چه بے وسله شو په څهٔ کار دے چه سنی سرے تونګر نهٔ وی هم هیڅ
زور سرے کهٔ ترڅنګ کښینوی بنه ناوے چه قوت ئے د نهٔ وی هم هیڅ
سودا کړکهٔ وقوفدار د هرکالی وی په کیسه کښے چه ئے زر نهٔ وی هم هیڅ
کهٔ سرے د جهان واړه علم وُکا چه د دهٔ د عمل چر نهٔ وی هم هیڅ
باز کهٔ لوئے کتهٔ خوشرنګ د پیر صفت وی چه تیز پر په زړهٔ زړور نهٔ وی هم هیڅ

یود بل له حاله پند آخلی خوشحاله
د سړی چه دا سیر نهٔ وی هم هیڅ

... * ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آرزو لرم ساقی یوځو اقداحه — کهٔ ئے راکړے دَخاصه بنیښے له راحه
چه داهسے نوبهار دے رومی بے میئو — داخبره په هر چا ده ناصلاحه
حُما پیروائی دَ میئو توبه کار شه — دَ بهار په وخت توبه ده نامباحه
تل به وخت دَ نوبهار نهٔ وی کلکشت کړه — په دا باغ کښے ترصباحه ترے واحه
دَ نرګس ګلونه پلی سپارهٔ راغلهٔ — نند اره ئے دَ بهار کړه افتتاحه
رنګارنګ غنچه دِ واکړه په چمن کښے
دَ خوشحال دپاره بنهٔ راغلے مباحه

کلک خرابا تی یم له مامهٔ غواړه صلاحه — دے پیالے اخلم ترصباحه ترے واحه
څوک دی چه دَ نمر خوبی به ستا دَ مخ په خیر کا — نمر مثال چراغ دے ستا جمال لکه صباحه
مهٔ پوښته زاهده دَ بنهٔ مخ له نند اروته — ستړګے چه دا کار دے په فتوٰی دَ عشق مباحه
توئی کړه په هنګام دَ حادثے ساقی په جام کښے — ے چه باد را پاسی په زجاج کښے بنهٔ مصباحه
پاسه محتسبه خوشحال راغے جنګ ته جوړ شه
غُسل په مئے وکړه دَ مومن وضو سلاحه

دَ چمن په لوری وخوزه له کاخه — چه دَ ګلو نند اره شی انتساخه
ګل چه ستا ترلاسه دے رنګ تازه شو — لاس دِ لا لری شرف دَ ګل ترشاخه
غنچه ګل چه ستا له خولے سره سیالی کا — خولهٔ ئے باد په طماچه کړله فراخه
دَ بنهٔ مخ خوبی دِ بنه ده لا تر ګله — په نړۍ هم سختی لرے تر سنګلاخه
چه تراور تر اوبو وُوځی هالهٔ ورشی — سور پیزوان دَ شاه دَ پوزے تر سوراخه
غه خبرے چه بے ستا له مخه کیږی — له هغو خبرو و نیوے صماخه
په بیمارو ستړګو تل پهے کښیوے شی
دَ خوشحال په لیمو پښه کیږ. ده ګستاخه

دَ خوبا له بے نیازئ سل آوخه — چه حُما له کاره تښتی په فرسخه
دَ یارئ په کار و بار کښے فهم وکړه — چه رانهٔ شی دَ بد انو سینه یخه
حُان اونړهٔ صبر آرام ئے له ما یوړل — له ژوندونه خوهم داځهٔ وُورا ځخه
کهٔ جهان په تا بسندم تهٔ ئے قبول کړه — دَ میږی په لاس خوښه ده له ملخه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرچه نن د محبت په اور وریتهٔ شول — تروئے کله پروا کیږی له دوزخه
ډیر بندی ئے د زلفینو په کمند شول — کله وی چه به دوئ خلاص شی له دے یخه

خوار خوشحال چه پکښے پریوت وتے نشی
څهٔ بلائے د شهئ چاهِ ز نخه

یو قرین هسے پیدا نهٔ شو سړا څخه — چه دما په زړهٔ ئے نهٔ کړه منکل بنخه
چه احوال د هریوهٔ راته معلوم شو — هریوهٔ ته م تیار کړل یو څو چخه
آشنایئ د نا اهل عالم نهٔ دی — په هرلوری تیرے تورے دی نا څخه
که په دو کښے چیرے لږه بُدری وخورم — له چا بله وینا وانهٔ وړم بے اَخه
د هرچا سره چه کښینی ورته رام شی — نور و غاړے ته تیار کا لومه یخه
کوته سګ د زمانے هرکوره ډیر شول — لکه پرانګ د زاوه ونیسه کړخه

چه رقیبانے خوار و زار په نظر کښیوت
د خوشحال خو هم په داشوه سینه یخه

ابلهی بدګمانی تر هسے حده — تر نظرئے له وسوسه بنه هم بده
بدګوئی څست بدنیت تردا په هورته — سکه رونړهٔ ئے پردی کړل له حسده
که بنهٔ نیت که بنهٔ خلقت که سخاوت دے — دلئے وایه له زړهٔ لاړ له خولے له یده
په مجلس ئے برآمد له مینځه تللے — بل مذکور پکښے خطا بے خوشامده
چه په ملک د پلار غلیم هغه ئے سترګے — په دوستانوئے د پلار کینه بے عده
که د باغ انګورئے ډیروی وخیل پلار ته — مګر درست ژنګورے ورکا له سبده
یادِ بنهٔ خویه پیدا شی له بنهٔ پلاره — یادِ هسے تنها اوسے بے ولده
د ژوندیو د زړهٔ رنځ دے د مړو شرم — بل ژوندون د بابا ورشه تر لحده

د خوشحال عقل خطا نهٔ وو تورخهٔ وو
چه خانئے په بهرام کړله نامزده

افغان بچهٔ شوخی هرګز په عاشق بانډِ
لطفے نه کنی رحمے دا هم کله څوک کا سنډِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یک لحظه بیا بنشین ماخوښ په ښه خندا کړه
قربان سرت گردم، چه نور و وته خاندِ

گل لافِ لطافت زد چه تهٔ په چمن را غلے
ازغایت خجلت شد سرگشته ستا د وېرانده

دُکان شکر یعنی ستا ښه خوږه خُلکئ
افشانِ شکر یعنی گاهے چه تهٔ وخاندِ

کبک دری وعنبر ، دا دواړه حبطه شی
گاهے که تو بخرامی دوه زلفے آویزاندِ

خوشحال دلش شیرے ستاستر گے لکه شوے
اے وائے که شد شیرے تر لکه شوے لاندِ

په وار وارِ د خندا منت را باندِ چه له ورایه رابنکاره شے راته خاندِ
چه ئے نړهٔ ترکانړی سخت دے پرمئین شوم لاس دِ نشی د سړی ترکانړی لاندِ
چه بل مخ وته نظر کړم دهداد شم تورے زلفے ئے دُرے دی آویزاندِ
چه دِ تورہ د غمزو راته تیره کړه اوس خو به شهیدی ده ستا د وېرانده
رنگ وبوئ دِ د خپل ځان هسے پیدا کا که په رنگ د یاسمین دے گل د سپاندِ
زهٔ به څهٔ لره له نورهٔ خلقه زار کړم په ما واړه چارے زهٔ دے چه ئے کاندِ

اوس خوشحال خټک خپل یار په غیر کښے ونیو
رقیبان دِ ستر گے اړه وی نغلاندِ

چه د زهٔ اخلاص دِ نهٔ وی له معبوده لاعجب که ئے راضی کړے له سجوده
محرمانو اجازت موندلے نهٔ دے گنړه دِ یربه ئے خبر کړل له دے سُوده
محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا خبر واخله له ایازه له محموده
خدائے خما ترفهمه بنهٔ د عشق هُنر کړ که دا چار ده نور عالم وته نابوده
تورو زړاغو د گلونو قدر څهٔ زړه له جماله ئے بلبله شوه خوشنوده
په سنت به د همه زړو نو مردود شے که دِ چار شی تریوهٔ پورے مردوده
ترمطلوبه پورے شرط د رسیدو دے که تمامه لار په وینو شی آلوده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خو یو بخت دِ ناسازی راسره نهٔ کا تل کینه کوه له ما سره حسوده
کل مقصود دَزړهٔ هوړ چه هغه یار وی بخته راشه تهٔ مِ وروړه تر مقصوده

ما خوشحال ئے سودا کړے نادیده ده
که کالی په بهانه خئ بے نمو ده

چه خدائے په بُت منین کړم که دا عیب دے هم وی دِ
سجود که دَوثن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

عالم وائی عاشق شوے زهٔ سوګند خورمه چه کله
درست خلق دروغژن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

که نور خلق خپل زیست کا زهٔ سرتور مصله لنګه
په ملک کرځم دیدن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

کافریم که ئے وباسم هغه ساعت له شرے
ستا نوم چه ځنکدن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

که ستا کوڅه جنت سره څوک سمه سراته کښیږدی
کوڅه به دِ وطن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

تحسین لره بل نهٔ لرم چه هومره پیره مدحه
دَخپل شعر سخن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

چه خوان وُم دایم زوړ شوم په ربنتیا ربنتیا خبر و
عالم دَځان دښمن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

شیخان او زاهدان واړه پټ پشی شا ویل کا
په مخ ئے مبرهن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

که نور په صهبا مست دی زهٔ خوشحال په خرابات کښے
مستی ئے په دیدن کړم که دا عیب دے هم وی دِ

چه صحبت دَ ملوکانو سره کا نهٔ بویه داچه ویل نهٔ کا لاندِ باندِ
په ربنتیا ویل دِ هسے باوری شی چه پیدا کا خپل عزت دَدهٔ دَ وړاندِ
که ئے دواړه پښے تنړاکے په خدمت شی دَخدمت منت دِ نهٔ کا په دهٔ باندِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حاسدان به ئے زوال د دولت غواړی همیشه دِ لوګوی وځان ته سپاندِ
د غضب په وخت دِ لرے څنګ کړځی د خوښئ په وخت دِ عیش ورسره کاندِ

چه نادان ته نصیحت وائے خوشحاله
دا دِ واړه نادانی ده په ځان خاندِ

خدائے راکړه په غیږ کښے د ریبار منت راباندِ
سپینه خولهٔ سرے شونډے دواړه زلفے آویزاندِ

یار را سره یار دے د هرغم م غمګسار دے
غم اندوه م نشته چه رقیب رارخه کاندِ

پریږده چه پرے سوزی ستا د مخ بلا آخلی
عشق دِ لکه اور دے عاشقان دِ لکه سپاندِ

داځهٔ بارخونهٔ دی نهٔ پریشانے تورے ز لفے
پروتے دی په ګلو د سنبلو پانړے تاندِ

زهٔ ورپسے درومم د یوهٔ نظر په طمع!!!
بیارته نظر نهٔ کا هسے درومی مخ په وړاندِ

بخت نهٔ دے نور څهٔ دی په داهومره ډیره مینه
ژاړی رخه کړونی چه خوشحال ختک ته خاندِ

ډیر عالم ځما په یار مړ غے تیر شولکه باد
هم داهسے راشی تیر شی په ځائے نهٔ لری اِستاد
عجب لویه کارخانه ده چه پیدا کړه لوئے اُستاد
د حباب و ته نظر کړه څهٔ حباب څهٔ ئے بنیاد
هسے نهٔ ئے کهٔ پوهیږے بنهٔ مثال شو درته زباد
هیڅ خبر نهٔ شوے له ځانه هئے فریاد فریاد فریاد
غمژن والے دِ په څهٔ وی؟ بیا په څهٔ شے هسے بناد

څهٔ سختی لرے خوشحاله
دا دِ زړهٔ دے کهٔ فولاد

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دما کومه اندیښنه ده که ما پریږ دے
ته به نوم دَ بے وفا په خپسر کښیږ دے

زهٔ یو هسے یار لرم که م روزی شی
که صفت ئے دَ ته وکړم وبه ریږ دے

ته سړے ئے که څاروے ئے رنګ دِ وګ شه
دَ بهار په سرو ګلونو باندِ پښے ږدے

ما په ډیرو سهتو اور دے لګولے
په داځهٔ که څو خسړی باندِ کښیږ دے

زهٔ چه ستا په دا اوږدو زلفو مئین شوم
لا به څو دُور او دراز ے را نه بلیږ دے

دَ خوشحال خاطر په مثل سنجل شو
واړه ته دَ خپل جمال نخښے پکښے ږدے

داځهٔ بارخونهٔ دے ستا دَ تورو زلفو لاندِ
پروتی دی په ګلو دَ سنبلو پانړے تاندِ

تل ئے په طلب وُم آخر خوښ له خپله بخته
هسے یار م بیاموند چه عالم ئے کیسے کاندِ

قیس ووکهٔ وامق ووکهٔ فرهاد ووکهٔ خسرو وو
هرچه عاشقی کا سل رحمت په واړو باندِ

نور خلق فانی دی که باقی دی هم هغه دی
هرچه په فانی دُنیا یا دیږی وړوستو واړاندِ

نور ے کیسے څهٔ دی و خپل ځان ته نصیحت دے
شمع ته نظر کړه خود به وژاړے چه خاندِ

ته ګوره په چرته زهٔ خوشحال په کوم ملکو نو
پاس په زهٔ پرتے دی ستا دَ تور وربل پیاندِ

زړے سړے چه دَ ځوانئ هوس کاندِ
ورته وایه چه داځهٔ په کُنه خاندِ

چه په کال کښے ئے زور توب وی هم ځوانی وی
دَ سړی ترکاره ښهٔ دے کار دَ سپاندِ

کله هسے په خوان مورشی چه ئے نهٔ خوری
کله خوان ته سترګے اړوی نغلاندِ

په نیتو نو په صورتونو په لاسونو
خلقے دی سره یو تبله هړاندِ

اوس په سپینه ږیره څهٔ له مزګه دار کړم
یاران تورے ږیرے ولاړل ترما وړاندِ.

چه دَ مزګے مخ ئے لاندِ وو تر حُکم
راشه وګوره هغه تر مزګے لاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا عالم ریګِ روان دے کهٔ ګورے خوهم هسے سره اوړی لاندِ باندِ

دَ قضا تنور ما ولیدهٔ په ستړګو
ما خوشحال چه پکښے سیزی وچے تاندِ

سپے چه ولامبی په سرود لابدبوئ شی دا دے دود
په بهار او په خزان ئے هیڅ ونهٔ شو ځما سُود
لیونے لیونے تر شی څوچه شی ورته سرود
په سوړوالی کښے چه کار شی وهیڅا ته مهٔ شه تود
چه ئے قصد دَ ګذار نهٔ وی هغه نهٔ کا نرغره خود

کهٔ تهٔ کام غواړے خوشحاله
کام به مومے په مشود

عمر هر زمان رفتن کا لکه باد مرګ دِ هر سړے همیش لری په یاد
چه دَ عمرئے بنیاد په هوا ایښے په دا هسے ژوندون څهٔ دے اعتماد
دَ آدم خاورے دَ غم په اوبو نم دی خمیره په قدرت کړے چل بامداد
انبیاء او اولیاء لاړل وګور ته تهٔ به وائے چه دَ دوئ نهٔ وو بنیاد
دَ دُنیا ژوندون هیڅ نهٔ دے کهٔ ئے ګورے چه هیڅا ځنے بیا نهٔ موندهٔ مراد
همیشه ژوندون کهٔ غواړے درته وایم همیشه کوه دَ نفس سره جهاد
مسافر چه ئے سفر وی خو دَ وړاندِ په مقدار دَ هغ لاړے اخلی زاد

راشه زړهٔ له غیرو پریکړه اے خوشحاله
په امیدئے دَ دیدار لره زړهٔ بناد

کهٔ م یوځله رسد وشی تر سندهٔ نور دِ نهٔ وینم په تورو ستړګو هندهٔ
نهٔ به ستړګے دَ سړی په چا خوږے شی نهٔ ئے ماته په اوبو شی دَ چا تندهٔ
دَ پیپلو پانړے خوره په غرهٔ کښے اوسه نهٔ چه پان دَ هندوستان خوړے ځما جندهٔ
په هغهٔ بازار به څهٔ سود وسودا کړے چه قارغهٔ پکښے قدری دے تر شمندهٔ
اے روستیه عقله دریغه کهٔ پخوا وے ما به ولے په خپل ځان کړه هومړ شندهٔ
هرچه وشول هغه واړه دربخښلی اوس خوشحاله په لاس مهٔ نیسه ناپسندهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نور څوک نشته لاندِ باندِ واړه دے دے چه څۀ کاندِ
دَ دۀ حکم به نور نۀ شی کۀ څرګوے کۀ خاندِ
دے قادر دے باندِ بنائی کۀ کیمیا کا کل دَ سپاندِ
څوئے بیا ورباندِ پاس کړل چه پراتۀ وُو تربل لاندِ
څو سینے ئے کړے قوارے چه په غم وے ځلبلاندِ
خلقے ئے دی کۀ ګورے سره یو تربل هړاندِ

په لیدو دَ یار مړے شوے
دَ خوشحال ستړے نغلاندِ

ودِ نۀ زیږی فرزند دَ بابا په غولی وند
دَ مریخ په کوکب شوے شوخ بے باک بلا لوند
دَ زهره په ستوری زیږه خوش خورم خوشحال خورسند
نحس او سعد اُوۀ ستوری په نور شته لا بلند
په هغه طالع چه وُشی تر دا نور عالم کښے شی خرګند
بختور دانا مخ ورونړے دَ وګړی دل پسند
دَدۀ زړۀ په هره چار کښے دَ همت سره پیوند
همکی په خوږو پک وی دَ کلی غُندِ بند بند
دَدۀ علم عطائی وی نۀ سبق دَ دانشمند
چه تر څه به څۀ وُباسی نصیحت وی وعظ پند
په خپل شرم ننګ راغلے نۀ په شخوندوی نۀ په خوند

داتۀ څۀ وائے خوشحاله
خرو ته څۀ ورکوے پند

هردم تر نقاب لاندِ وعاشق ته شیوه کاندِ
تانره اوربل اودلے توره زلفے آویزاندِ
انګنړے ښائسته کړ چه سراووته دَ باندِ
ځما په مرګ دِ زړۀ دے چه بے درد و سره خاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څهٔ ظلم څهٔ ستم کړے چه پلو نیسے د وړاندِ
څهٔ عجب غزل ئے ووے
آفرین په خوشحال باندِ

هم خدائے غواړے نادانه هم فانی دُنیا نابوده
په څوبه دِ سروزی شی فکر وکړه دا دوه سُوده

چه سر په مخکښے کښیږدے زړهٔ دِ دوب په اندیښنو شی
په خدائکو کهٔ خبرئے د خاصانوله سجوده

په زړهٔ د کعبے مینه د کعبے په لورے روان شی
یوغول دے په بیابان کښے بل سرسرکاے مقصوده

یو وهم دے کهٔ څهٔ دے چه په خلقو باندِ پیښ شو
دُنیا دُنیا هیڅ نشته کهٔ نمود کهٔ نهٔ نموده

سیلاب د پاسه راشی په غورځی په کښته ځی روان
موجود د سیلاب د او بوهم ده نا موجوده

اِیَّاكَ نَعْبُدُ لوے په سبع مثانی کښے
د زړهٔ دِ څو هوادی هغه واړه دی معبوده

په صافه آئینه کښے هرچه وویني په ستر کو
په لاس آخستهٔ نهٔ شی آئینه په رنګ آلوده

په څورنګه ګنجونه په هرلوری په جهان کښے
تهٔ باد په لاس شناز شوے حبطه په هیڅ خوشنود

خوشحاله څوانی لاړه په پیرئ کښے اوس مټ کړه
حاصل چه په څوندون دے هغه چاروګنړه زوده

هرګروه له خپل ګروهه دے خوشنود هرسړے لری نظر په خپل مقصود
دانشمند د دانشمند په صحبت خوښ دے د جاهل په صحبت ګډشی جاهل زود
مُسلمانئے په لوئی په بزرګئی پوهه دے د جنید له حاله څهٔ پوښتی جهُود
د جماع په لذت خیز کله خبر دے کهٔ ئے حوره په پالنګ کښینی څهٔ سُود

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په خوئ دِ خبر نهٔ شو غیرجنس دے
غیرجنس سره خوشحاله کم بهبود

داچه کرځی کښینی پاځی پائښځ لنډے
شا نکی وهی دربلی څرے لنډے

داهمه واړه رهزن دَ طریقت دی
خپلے خونے لره وړی پردئ کنډے

نیک وبده چه وچا و ته رسیږی
په خپل ځان ترې دا دواړه په ډوډنډے

دَعالم رخنے ترې په صبادے مره
خبرنهٔ دے داګیدی له خپلے انډے

ورنخوړته ورکوه صحت په نذر
کښلے ځوئ په دروغ ورکړه وشندے

قتلولے ورکولے باور وکړه
چه هم دادی په دُنیا کښے دَدین خنډے

چه به بے خدایه یقین په نورځهٔ کاندِ
دَهغو دَ ایمان یو وړې شیطان وندے

عالم کفرته وباسه په زمان کښے
دے ترخپل ایمان وتلے لاپه څنډے

شرع منډه دَنبی دهٔ کهٔ ولی دے
یوقدم به بل سرنهٔ درومی له منډے

دائے ذکر دَ کامل نهٔ دے اخستے
لکه خرونه ناړې شوړې وهی ترنډے

لابه کله دا سګان وژنے خوشحاله
چه به دا ثواب حاصل کړے پنډے پنډے

دَخوږو شونډوئے پیر دے تلذذ
ترهمه خوږهٔ ئے تیردے تلذذ

ماوے زهٔ به ئے عسل سره نسبت کړم
دَدشنام ئے په بل پیر دے تلذذ

له شکرونړهٔ نیوهٔ شی نهٔ له دهٔ نه
دَپیروی په څهٔ څیر دے تلذذ

څوم یاد دَهغے خولے دَمچے خوندے
نورم کل له دله هیردے تلذذ

دَناوک ئے هم لذت ترحساب تیردے
ولے نزیاتے دَ شمشیردے تلذذ

لکه وود زنخ سیب په هغه شان دے
نهٔ چه اوس ئے تیروبیردے تلذذ

ستادَ ژبے دَسر پیرمنت راباندِ
په دائم ئے را برسیردے تلذذ

په هجران دَ شکر لبو په جهان کښے
په خوشحال زهٔ کنډیر دے تلذذ

آه داهومره استغفاره
چه ئے تل کړے په اسحاره

کهٔ رښتیا دا استغفار دے
بیا ګناه څهٔ ګنهګاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ دا کار دِ په دروغ کړے شرم وکړه له دے کاره
هم دروغ کړے هم ګناه کړے ترس دِ نهٔ شی له قهّاره
هم توبه کړم هم ګناه کړم تهٔ مِ وینے کردګاره
نړهٔ عاجز بنده عاصی یم پرده پوښ مِ شے ستاره
دَ خاصانو توبه راکړه
ما خوشحال ته استواره

آئینے و ته نظر کړه بنیره ګرے خود به ستا دَحسن وکاندِ خبرے
دَ ړندو ستړګو حاجت دَ رنجو نشته په بدرنګے ناوی څهٔ بولے سندرے
مرجونړا په مټ پُرده دے په دانهٔ ده چه ئے را وړے مرغنجے مرغلرے
چه نهٔ مهرنهٔ تپاک نهٔ پکښے شناخت وی له هغوبے دردو تښته لرے لرے
چه میوهٔ ئے دَ کابل خوړلے نهٔ وی دَ هغو ترفهم وڅکے دی ګرګرے
پټه مینه دَ سړی ننه لړمون خوری دَ وښو تر لمبے بد وی اور دَ څرے
زهٔ کهٔ غړهٔ په غړهٔ جار وُوزمه عیب کوم دے تل مزرک ګرځی په لوړے په ژورے
په خطاختن دَ مشکو قدر نشته نهٔ په هندکښے څهٔ قیمت لری شکرے
حق باطل سره بیلیږی رابرسیر کړه مزکے څو به دَ قارون خزانے نغرے
چه دَ ننګ ثُوره دِ واخسته خوشحاله
دَ رومه سوات ته څهٔ څنګ څئے لښکرے

بیاله ورایه په خندا راغله نګاره دَ بنهٔ کال خوبی بنکاره وی تر بهاره
مختوری دَ رقیبانو دَ یار وصل فلک بنهٔ راسره وکړل دا دوه کاره
دَ ګلزار ګلونه څهٔ دی راشه ګوره تر ګلونو بنائسته دواړه رخساره
لکه روح چه له قالبه نه واتهٔ کا په دا شان مِ جدائی کیږی له یاره
دَمانړی ثُوره ئے څهٔ تورے پریباسے چه په زړه ئے یو ګذاروی شل پرهاره
څُما خوارسره چه تل غاړه غړئ وه اوس نظر راباندِ نهٔ کاندِ له عاره
دَعاشق په لاس ژړا ده تل دِ ژاړی معشوقه چه ویړه نهٔ کا له آزاره
دَمعشوقے دَ پالنګ لاڅ خطا دی څوځما په سرکښے پروت ئے دَ سړ دا ره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدے کلی طبیبان واړه نا ترس دی — دَ دارو په طمع مهٔ اوسه بیمارہ
کهٔ هرخوئے لټوے پسے ئے غوارے — په دا باغ کښے به یوګل نهٔ وی بے خارہ
هرساعت سره یونوے نوے خیال وی — کهٔ ځما دپارہ بیا ورځے ریبارہ
کهٔ څوک غواړی چه خپل زړهٔ پرغم اخته کا — آشنائی دہ لاس په لاس فتنه تیارہ
په یرغ په مصلحت نهٔ ده ځانی ده — دَخوشحال چه سر یکارشهٔ له اشعارہ

کهٔ پوستی له پوسته واوړی کُنډِ واوړی
دَخوشحال خوجا رواتهٔ نشته له بنکارہ

په دا سروشونډوئے نهٔ ده وینځه تورہ — راشه خضر دَحیوان په چشمه کورہ
مخ دَیارله خط وخاله مستغنی دے — دَغنی وی هرا سباب له خپله کورہ
چه ئے سیورہ په ماوه لکه بادشاه وُم — همائی وه ستا دَ تورو زلفو سیورہ
ستا بارخوبله لمبه وربل دِ څهٔ دے — لکه تور لوګے چه ټول پاسی له اورہ
دَخپل پلهٔ خاوړے دِ بَیه په عنبر کړے — درته چاوے چه په دا بهائے پلورہ
په خوبل لوری ته ګورے ځان نادان کړے — چه په ما باندِ غوغاشی لور دَ لورہ
ته په داحسن دَګل غُنډِ نریبائے — کهٔ زوولے ئے له خپله پلارہ مورہ
چه په خولهٔ ئے نوم آخلے روح ئے نهٔ دے — عاشقی چه ویړہ کاندِ له پیغورہ
نړهٔ له میو توبه وکړم توبه ګار شم — دَساقی پیاله مِ بیا کا توبه نورہ
چه ئے څوک په کُوڅه پل بر دی هغه سرخوری — په جواب باندِ ئے مهٔ کړهٔ سرخورہ
کهٔ ئے نازدے که ئے خیال دے ما به یوور — ولے ما سره دپیر کبر کا هر ګورہ
نږورئے واړه دَخپل مخ ورته بنکارہ کړ — خوار عاشق ئے ځکه درست پریوست له زورہ

چه معنی ورسره نهٔ وی ویل سیور وی
خدائے به نهٔ کا دَخوشحال خبره سپورہ

په راحت کښے په دولت کښے یارئ دیرے — په محنت کښے په زحمت کښے یاران چیرے
نهٔ به هرکله بهار نهٔ به خزان وی — دا دستور یوه چار ونیسه په تیرے
کهٔ مِ لاس لکه دریاب له دُروتش وی — ولے سترګے مِ دریاب غُنډِ دی سیرے
له یوے فتنے ئے ځان په دُعا خلاص کړم — فلک بیانوی فتنے کا را بر سیرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدے دور په یارانو باور نشته
په زمان ورته اغیار شی یار دَ غویرے

چه به ما ورته کاتهٔ له جاه نهٔ کړهٔ
له هغو خبرے آورم تیرے بیرے

پرورش ئے کهٔ په شهدو په شکر کړے
دَ خرما ترخوند به نهٔ رسیږی بیرے

دَ دستار ترمرتبے به نهٔ رسیږی
کهٔ په لعلو مکلل کړے پائزیرے

په ژوندون ئے دَ خوشحال دَ زړهٔ وباسی
ستا کردے به ئے په کور کښے نشی هیرے

تهٔ چه دا شکلے څهره لرے نگارے
خکه تا په عاشقانو اوکړے چارے

چه دِ لارے دَ دیدن را باندِ بند کړے
دما او شکے په گریوان څی لارے لارے

چه گلے گلے دِ وُوینم له ورایه
دا لاهم بے بخته نهٔ یم شکربارے

هره ورځ تازه مانړے تازه جنگونه
تل دِ ماته تیرے تُورے دی تیارے

کهٔ دِ غابش وشونډے گورم دُرمرجان دَ
کهٔ دِ مخ وته نظر کړم مه رخسارے

دریغه نور نور سحر گر په ملک پیدا شوے
چه دا ستا سحرئے مات کړے سحرکارے

خوبه ما باندِ چه راشے څان نادان کړے
گنړه نشته نورے تاغوندِ هوښیارے

په کوڅه ئے باد گذر نهٔ کا خوشحاله
تهٔ له گمه سازوے ورته نگارے

تاغوندِ به نهٔ وی یوه کښلے په دا دور
یُون دِ دَ زرکے دواړه ستر گے دِ دَ مور

وخت دَ نوبهار دے باغ وراغ دواړه کلزار دے
راته کړد کار دے دا گلونه طور په طور

بار در باندِ مهٔ وه زهٔ هم زړهٔ لرم ویر یرم
بازخوری دَ زړهٔ غوښے یا ئے تهٔ خوږیا ئے بور

نور عالم بے غمه زهٔ دائم په درد و غم کښے
عشق نهٔ دے بلا دے چه ئے وینم څور

هے شته چنگ و نے شته ساقی راشه باده راکړه
تل به بهار نهٔ وی چه تیریږی وخت دَ ثور

کښینم ور ود بار چه رولے اوبهٔ گورم
عمر غوندِ در وی چه نهٔ وکړم باندِ غور

یار دِ کهٔ دَ کور دین قبول کا په داخهٔ شی
شرط دَ محبت دے تهٔ هم واخله دین دَ کور

مینه دَ مجنون به په لیلیٰ وشوه لا دیره
خوبه چه عالم در باندِ وکړهٔ هور نه ور

طبع دَ خوشحال ده لکه بنهٔ باغبان په باغ کښے
گل وهرچا ورکا چه ئے زړهٔ وی علی الفور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ چه سرتر دیوال هسک کړے سړی کورے د کس تاؤنجنے دِ نشته تردا نورے
کهٔ دِ زړهٔ د غنچ په عشق نهٔ وی بائللے په وادهٔ په ویرځهٔ هرلوری ته شورے
پرده پوښے په ضرور وُوځی نما نځه ته ستړکے وازے په بازار کړځی سر تورے
یائے نیت د کاسیرئ یا د میړهٔ وی هره کُنډه چه لاس سرهٔ کا ستړکے تورے
په هغے باندِ کواهی د بدئ وُله چه ئے کشت په نور د خونو خپل وَر پورے
د میړهٔ په ږیره نهٔ خاندی نورځهٔ کا چه د بل سره خبرے کا خمسورے

د خوشحال ویل به بے مضمونه نهٔ وی
چیرے نه چه ئے مذاق و سره شمورے

په تازه عاشقئ مهر کوه مهر چه آشنا شی نور کهٔ مهر کړی کهٔ قهر
کهٔ د زهرو پیاله وی خوستاله لاسه تر عسلو به لابنهٔ وی هغه زهر
چه له لویو له هلکو جفا آوُرم مکر دود د وفا نشته ستا په بنهر
په عالم کړی بلا ستا ستړکے نزولے څوک به څهٔ لره تهمت وائی په دهر
زهٔ هالهٔ د عافیت نا وی قبول کړم چه م خپله تمنا ورکړه په مهر
د وصال ورځ هلکے تر کړئ دی بے لیدلو میاشتے کال شوے کړئ بهر
د دیدن تږے بے حده تلوار کاندی کوڑ کله به خروب شی ستا په نهر

خوار خوشحال ئے لکه خس هسے لاهو کړ
چه د عشق سیلاب را وخوت لهر لهر

تهٔ چه مخ په آئینه کړے برابر ربښړه شی په دا مینځ کښے مخ د نمر
مَرَنی سپارهٔ د مخ دی دا دوه توکه تورے وروځے تورے ستړکے مخ لښکر
چه پلو له مخه واخلی زهٔ دُعا کړم هرچا زده چه دعا بنه ده په سحر
د یوسفؑ غوندِ مخ پټ کړه په برقع کښے چیرے نهٔ وی چه پرے و لګی نظر
مخ هغه چه ئے ستائنه درست عالم کا نه هغه چه لکه ستائی دلال خر
زاهد مخ په نقاب و نیوهٔ سجود کا ستا د وروځو په محراب نهٔ دے خبر
مخ دِ هسے شان لیدهٔ شی په خالو نو کهٔ ئے کورے لکه کمل د پیغمبر
ستا د مخ مخی به نهٔ کړم نور مخو نه نور کهٔ ستوری د آسمان دی تهٔ ئے نمر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا د مخ خوبئ وګورہ خوشحالہ
د شرابو د مستئ لری اثر

چہ م ولیدے داستا ستړکے خونخوارے — چہ تراوسہ لا ژوندے یم شکر بارے
پہ یارئ بہ دِ هیښ وی چہ غلط شی — چہ څلور پیسے لری د هغۂ یارے
مایوہ د زړۂ پہ غوړہ دہ نیولے — کۂ هرڅو پہ جهان ډیرے شی نګارے
وے ئ څولرے کلے څما پہ زړۂ کښے — ترحساب و ترکتاب تیرے بے شمارے
د میړی چہ وزر نۂ وی هومرہ بنۂ وی — قباحت دے تجاوز لہ خپلے چارے
اوس بہ ولے پہ غلا د مینے کار کړم — چہ پہ حال م خلقے شوے خبردارے
پہ خاطر بہ دِ قرارہ قراری وی — کۂ داخپلے ستړکے ونیسے قرارے
بے اثرہ بہ دا اوښکے پاتے نۂ شی — چہ م ورځ اوشپہ پہ مخ څی لارے لارے
نۂ یوازے د لالہ پہ زړۂ کښے داغ دے — پہ دا داغ کښے سینے ډیرے دی داغدارے

پہ خوشحال ئے عندلیب غوندے اور بل کړ
چہ پلولہ مخہ واخست ګل رخسارے

چہ مرغونہ د آسمان ساتی دا کار — د هوښیار دے د بیدار دے خبردار
زۂ دانۂ وایم چہ زۂ هوښیار بیدار یم — د ما هم د لاسہ لاړ دی خو دینار
د نادان خطا لاهسے ګرانہ نۂ وی — کۂ خطا دہ خو خطا دہ د هوښیار
هوا هومرہ تفاوت ترمینځ لیدۂ شی — چہ میړ بنکار سړے پوهیږی پہ خپل کار
سر رشتہ د میړ شکارئ ورځۂ نۂ وی — بیهودہ مرغۂ ضائع کا نامیر شکار
بنۂ مرغۂ د نامیر شکار ترلاس ورمۂ شہ — او کۂ ورشی یا بہ خاورے شی یا خوار

د خوشحال خبرہ نغوړہ پرے عمل کړہ
تجربے ئے دی لیدلی د روزګار

چہ پہ درست تومن اوځارہ — نن هغہ دہ څما یارہ
لاخبو تمی سر ګنډئ — چہ حجاب نۂ کا لہ پلارہ
یوسورکے پیزوان پہ پوزہ — ور بلوتے یو څو تارہ
مخ نسرینہ مۂ جبینہ — سنبل مویہ پری وارہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شکر لبه پُر طربه هوسئ ستړکے کل رخساره
قد عرعره مو کمره سرتړپایه قلم کاره
په زړهٔ سنګه شوخه شنګه جفا خویه زړهٔ آزاره
زهٔ ئے قتل په لیدل یم دا رانهٔ ده پروا داره
چه م نوم ورته څوک اَخلی وښکنځلو ته تیاره
څهٔ کړم کوم فکر علاج کړم دم واههٔ نهٔ شی له ډاره
دَ دے خوئ خصلت دا هسے څما ده مینه بسیاره
دا یو څهٔ علامت وشو په ما خوار دَ خدائے د پاره
کهٔ پټ نیاز ورځنے غواړم په نیاز نهٔ ده خبردار ه
کهٔ خپل زور باندِ ښکاره کړم خیلخانه لری خو نخواره
کهٔ ئے وغواړم په زړو زړ هم ډیر غواړی بے شماره
نهٔ په زورشی نهٔ په زړ شی په جهان دی دا دوه کاره

دَ خوشحال تکیه په خدائے ده
بیا په تاده شیخ رحمکاره

چه یو کړئ په جمع زړهٔ بنهٔ مخ و ته وګورے
کهٔ درسته دُنیا ستاشی هم څهٔ نهٔ ده تر دا کوره

دا خوئ څما قدیم دے څهٔ ما اوس نهٔ دے راوړے
چه بے له زیبا مخه راته خس دی چارے نورے

دَ خلقو تهمت یو سرد هجران غمونه بل سر
هم تهٔ م به له هسے رنګه سختے بلا ژغورے

دا اور چه په ما بل دے دَ خپل یار له جدا ئی
نهٔ کړم نهٔ ملامت یم کهٔ تل وینے ژاړم تورے

آشنا ته وایهٔ نهٔ شی نا آشنا به څهٔ خبریږی
دا راز چه له ما نهٔ دے آوریدلے خپلے سیورے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناوک ئے د مژګانو د آبرو په کمان جوړ کړ
مانۀ زده چه د چا ترزړه بروځی پورے ووړے

بنۀ باز د د خوشحال خټک خاطر په لاسوکښیوت
په قدرئے خبرشه چیرے نه په لږ ئے پلورے

چه داهسے ورځۀ غوټه کړے خبرے — بدخواهان به زړۀ رایخ کا بنیوه کړے
یاځما ترفهم بنۀ شوے عاشق پوند دے — یاځوک نشته په بنائست ترتا نادرے
ستا ترشوند و ترغابنو به ئے څارکړم — کۀ یاقوت دی کۀ سرۀ لال کۀ ملغلرے
داځۀ جام د میڼونۀ دے چه ئے تۀ څښے — دام وینے د عاشق دی چه ئے نغرے
هغه کارلکه دوه تورے ستړګے وکا — هسے کارنۀ شی په تُوره په لښکرے
دوه قدمه بیلتون هم له یاره مړګ دے — څوک به څوپائی ژوندے له یاره لرے
د بنړونا وک ئے بنوے دروهی ترزړونو — د ترکانو غشی بنوے دروهی ترزغرے

دواړه شوندے د خوشحال خټک په خُلۀ کړه
و طوطیانو ورکوی خلق شکرے

څۀ سړے څۀ ئے تدبیر — هم هغه شی چه تقدیر
کۀ جهان شی تیره تُوره — ستا په مړګ شی خلق خیر
بے تقدیره به ونۀ مرے — نۀ په تُوره نۀ په تیر
بے اَجله مړګے نشته — تیغ وهه مکړه تقصیر
لکه کار د مَړنی دے — هسے کارنۀ دے د پیر
د غازیانو شهیدانو — پروا نشته د سعیر
کل ګټنه ده د تُورے — کۀ کابل دے کۀ کشمیر
مړنی دی چه یادیږی — په سندړو هم په ویر
چه دروغ د تُورے لاف کا — د هغو نه یم دلګیر
تُوره بخره د خوشحال ده — کان په کان خلق خبیر
تراوو پیړیو پورے — واړۀ مړۀ په تیغ په تیر
دا د ځان ستائنه نۀ ده — حقیقت وایم په خیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه له خپله هوډه نۀ واوخت منصور
کۀ وګړی په سولئ کړ مخ ئے سُور

ملامت چه په عاشق باندِ وایۀ شی
په مذهب دَعاشقانو دے معذور

عاشقان په معشوق قوباندِ پتنګ وی
له جهانه به ولاړ نشی دا دستور

څو دَعشق مینه زیاتیږی په کوکل کښے
دَعاشق په پوهه نورٌ علیٰ نُور

عشق کار په لیونتوب دے نورځۀ نۀ دے
راشه واوُره نۀ په عقل نۀ شعور

معشوقے وته بادشاه لکه بنده شی
کۀ قیصر دے کۀ خاقان دے کۀ فغفور

سروغ ئے هیڅ په حال خبر نۀ وی له دردہ
کۀ په درد کښے قرار ے نۀ کا رنځور

ځنډوۀ م سر ترپایه واړه آبله دے
په فراق کښے لکه وښے دَ انګور

هرڅروه له خپل ګروه سره سرور کا
دماهیڅ نۀ شی له چاسره سرور

عاشقان په عشق کښے واړه ناصبوردی
څۀ خوشحال یوازے نۀ دے نا صبور

چه پلو له مخه نۀ اخلی دلبره
مګرشپه دَخوار عاشق شوه بے سحره

نۀ ئے زړۀ په ما نرمیږی نۀ ګروهیږی
خدایه څۀ م سریکارشو له کافره

نۀ م خوب نۀ م قرار نۀ م آرام شته
همیشه رابانِد تبه وی شیبره

دَوصال اُمید رمق دے لږ را پاتے
اوکۀ نۀ بیلتانۀ وُوژلم اکبره

په یوۀ نفس کښے زر خطونه راوړی
په هرلورچه غور زوُم دَ زړۀ کوتره

دَ معشوقے په پالنګ به هغه خیژی
چه له سره نه بیرون کا دَ سرویره

غلیواز چه هُنر نۀ لری آزاد دے
باز په دواړو پښو بندی دے له هُنره

څۀ وه څۀ شوه خبر نۀ یم بیابه څۀ شی
اے یوۀ خدایه څما په حال خبره

څۀ یوه نیزه څۀ دوه څۀ ترډا زیاتے
دَغریق اوبۀ چه پاس واوړی ترسره

مګرخضرم مددشی دُعا را کا
چه لاهو پیرئ م وُوځی له خطره

خوئے څله هرساعت شی هومره څله
دَ خوشحال سینه لکیږی له حجره

چه مکے لره څوک درومی په خرۀ سور
کۀ حاجی شی نۀ ئے ننګ وی نۀ پیغور

چه خبر په هُنر نه هغه کم عقل
چه دَخط ستر کے ئے نۀ وی هغه کور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے خدائے وچاته ورکا دَهغهٔ دے
بخت دولت نهٔ په کوشش دے نهٔ په زور

اصالت هُنرچه دواړه سره یو وی
لکه بنهٔ کشیده جوړه په انځور

په خصلت هُنر سیرت دانش باقی وی
قد قامت صورت فانی دے سپین و تور

داهمه له ناپوهئ پیدا کیږی
خرخشے دعوے ناسازے شر و شور

پیر زوئنه بنهٔ سلوک نمنځنه عدل
کهٔ دِ دا خویونه شته څهٔ غواړے نور

کبر ژن حریص بے زړهٔ چه دروغ وائی
دَیارئ لائق نهٔ دی دا څلور

کهٔ وعده ئے قیامت وی دَ غو بستنے
دَهوښیار سړی به نهٔ وی پکار پور

کهٔ طالع ئے دَ دولت په شربت ډک کا
بیا آخر شی دَ کم عقل جام نسکور

دَیارئ دَ دوستئ لائق هغه دے
چه آزار ورځنے نهٔ وی پلار و مور

کهٔ څوان مرد ئے څوان مردی به دِ هاله وی
سل بدئ آواره کا دَ خپل سړور

په ایمان په ځان په دواړو صرفه نهٔ کا
چه دَ خپلے ژبے ولگیږی اور

دَهوښیار سره مجلس بنهٔ دے خوشحاله
دَ نادانه سره بنهٔ نهٔ دے بیور

چه په سپینه ږیره کا څوانے نگاړے
په خپل ځان باندِ به وکا څنے چاړے

کهٔ په خولهٔ دَ زاړهٔ یار ترسوځاریږی
په زړهٔ نهٔ دی څوانے هیڅ دَ زاړهٔ یاړے

نیک وبد په داجهان کښے پیدا کیږی
نیک وبدے دَ زاړهٔ نهٔ دی ویزاړے

خوبنهٔ څوان دَ څوانے بنځے په غرض دے
کهٔ بادشاه وی دَ زاړهٔ نهٔ وی ویزاړے

په کم ذات په اصیل هیڅ نهٔ دی راغلی
بنځے واړه دَ بنهٔ کار دی طلبگاړے

زورِ دِ څوانے بنځے نهٔ کا کهٔ ئے کاندی
فکر بویه چه له بنهٔ ځایه وی باړے

له بنهٔ ځایه له بنهٔ کوره ستر پوښے
په حیا په شرم ننگ وی خبردارے

چه په پلار نیکهٔ دَ ننگ وناموس نهٔ وی
هغه بنځے قباحت ته دی تیارے

اوس په خپلو زړو خوښ اوسه خوشحاله
دا دَ دور څوانے مهٔ کړه نا پکاړے

خپل پردی راته په خولهٔ وائی زر زر
وعالم ته تر هرڅهٔ دی بهتر زر

اوس په دا دورما ولیدل خوابهٔ دی
تر پدر تر برادر تر پسر نږ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نور و چارو وته څۀ ګورے دا ګورہ
چه صاحب د مسلمان کا کافر زر

کۀ د قصد کینه حسد ورسره پریوزی
په وژو د سید درست کا محضر زر

فیروزه الماس یاقوت لعل له کانه
له دریابه نه وکاږی ګوهر زر

مزکه څۀ چه د آسمان بنائست په زر دے
ستوری زر دی آسمان زر دے قمر زر

شاهزاده بے زرہ وګوښے تنها ګرځی
د هند و سره روان کا لښکر زر

زور قوت حرمت هوړے دروی مچه زروی
د بادشاه په سرڅوک کښیږ د افسر زر

خدائے د ما د قانعانو په حساب کا
چه و دیو وته یو دی حجر زر

بنۀ خوانان ئے لیدل نۀ مومی له ورایه
د نامرد په غیږ کښے ورکا دلبر زر

جوهری قدر وقیمت زده د جوهرو
قلپ سرۀ سره جدا کا زرګر زر

د کیدرو نوم په خولۀ څۀ لره اخلے
د مزری له تنه هم پرے کا سر زر

هر مراد چه د سړی وی په دُنیا کښے
د طلب په وخت ئے ورکا دربر زر

کۀ چمیار دے کۀ نداف دے کۀ جولاہے
تراصیل سړی ئے کښینوی بر زر

نۀ به دے په لږو زرو نظر وکا
نۀ به پریوزی وخوشحال ته غرغر زر

بنه بنه بخ بخ دلدارہ
وفا جویه غمګسارہ

چه کنم چه چاره سازم
چه د زۀ کړم راکنارہ

بد که گویم از فراقت
چه م زړۀ شو پارہ پارہ

نه کند به دل سرایت
کۀ زاری کوم بے شمارہ

توچه سنګدل نګاری
چه م ستا وکړه نندارہ

به عشاق بے سروپا
ستم مۀ کړه ستمګارہ

به نګاه گاه گاهے
مهر کړه د خدائے دپارہ

اے نګار من حذر کن
د ویشتلیو له آزارہ

نه رود زدر گهے تو
کۀ خوشحال شړے سل وارہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داخونی ستړکے چه تهٔ لرے دلبرے
په کشتن به خلقے کاندی ډ برے

لا به کله حُماخوار طالع مدد کا
چه به ستاستړکے په ماشی برابرے

په خرام خرام راځه چه بوئ ئے واخلم
دواړه زلفے په عنبرو معنبرے

په عارض دِ د زړهٔ بوئ ولاله ورکړ
یاسمن دِ د پیغور کړل سمن برے

باز دَجال کوترے وویني پرے ورشی
تپوسے باندِ پیرے کا لرو برے

کوره چرته وے په چرته ګرځیدلے
چه فراق کړے هومره اوښکے راخبرے

محتسب دِ خُنے لرے لرے ګرځی
مست خوشحال سره کوتک دَ ډمبرے

دم به نهٔ وهے له خپله زور نړه
که ئے وُوینے یا وار وے کور کړه

چه وتا و ته نزدے شی هغه تور شی
په ستنه راځنے ګرځه تور تړه

یویو هوردے چه شاهین خُنے آلوزی
مشکیرک لکړ مکړ له هور هړه

دَصبا په باد نشاط وی دَ ګلونو
کهٔ جنبش کا دَ بلبل له شور وشړه

پیشکشی غواړے دَ اوښکو ملغلرے
دا ګوهر په دواړو ستړګو ووړه وړه

دَ خوشحال شعر حلوا ده دَشکرو
ستا په دا حلوا څهٔ کار غُل خوړه خړه

دا معنیٰ دی زورَ وړے سمے چیرے دی خبرے
څوک چه لب کا سره بیارته خُنے توئے شی شکرے

څوک چه کیوزی په وئیلو واړه وائی خاورے خړے
دَ مشکنړو په بازار کښے توئے نهٔ وی ملغلرے

خپلے خپلے شلو مبے ستائی چه شلو مبے پلوری ګوجرے
هر هر سکنړے ئے وُکوره په هُنر رغیږی زغرے

ډیر دِ ښهٔ ووے خوشحاله
بس کړه مهٔ دروسه ډیرلرے

دَجهان په مخ به نهٔ وی هسے تاغوندِ دلبره
پری رویه عنبر بویه، سنبل مویه سمن بره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

گلعذاره زلفی ماره شهسواره خوش رفتاره
باده نوشه مے فروشه قصب پوشه موکمره
دل نوازه سرفرازه عشوه سازه لعبت بازه
خود پسنده سربلنده شکرخنده لب شکره
طربناکه گریوان چاکه تل بے باکه تش تپاکه
خود آرایه خود نمایه خود ستایه خوش هُنره
غزل خوانه خوش الحانه دُر دندانه لب خندانه
عنبرخاله پُرخیاله تل خوشحاله دَ زړهٔ غوره

دَ غریق اوبهٔ چه پاس واوړی تر سر — دَ جهان له حاله هیڅ نهٔ وی خبر
خبردارے په پسارهٔ په اوبهٔ نهٔ وی — چه دریاب ترکومه لاړدے پهن تر
اوس م درست صورت دَ غم په دریاب ډوب دے — په هیڅا باندم نهٔ لګی نظر
اندرون بیرون همه په غم کښے خُارشوم — هم دَ غم سره م یو شو درست پیکر
څواک ژوندون م همګی واړه په غم شو
غم په مثل لکه اور ځهٔ سمندر

دَ دولت لمن نیوهٔ نهٔ شی په زور — سهوندکهٔ بډیره په وسمه کا لا پیغور
دولت څهٔ دے په مثال بنائسته ناوے — دَ نامرد کره ئے عمر وی په اور
دَ کنده تهو نه بد تهو پیدا شی — بنهٔ اسونه دَ میدان راوړی بنه مور
دَ دولت په اَس دِ هرناسور سور نشی — کهٔ سواری وربانډ کا ندی خوشاه سور
چه په کور کښے م اول تهو راغلے — دما بخت وولا اول له ځایه تور
تهوکی دی تازی کی دی ترے زوولی — همیشه کا په پانګاه کښے شر و شور
نهٔ یو بنهٔ لائق فرزند دَ پلار په خونه — نهٔ دَ سرو دَ سپینو کنج دَدهٔ په کور
ربه دیر اولاد دِ راکړ منت دار یم — دَ خوبئ ژغ ئے بیائے په هر لور
چه په رونړو کښے نفاق کا نالائق دی — یائے بنهٔ کړه یائے مهٔ کړځوه نور
دَ خوشحال په دُعا غوښو ستړکے وکړه — کهٔ بهرام عابد دی دواړه کړو کور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بازونو بنکار د چا دے د زردار
هم زردار هم بے پروا قلندروار

که ئے غم د هوس کا د زیان ئے نه کا
که ئے مری په قوشخانه کښے څو دینار

د هغه سړی څه کار دے په بازونو
چه بنده دے د درم او د دینار

د بنکار کار په مصلحت په سیالئی نه دے
دا یو عشق دے چه ئے ورکا کړد کار

چه په اصل کښے شجاع عالی فطرت وی
د هغه په زړه کښے حب پریوزی د بنکار

قمار باز به له قماره صبر وکا
مست به هم شی له شرابو توبه کار

ژه خوشحال به د بازونو بنکار پرے نږدم
څو ژوندے یم دا م کار دا م روزگار

ذړے ته چه هسے بربنے منوره
که پوهیږے دا بربنا د دنه له نمره

دائے لار د ختو نشته وآسمان ته
ژه به لار درته پیدا کړم بے هنره

د عشق شور که د عاشق د زړه قضا دے
له دے شوره خالی مه شے څما سره

هم د خلقو ملامت هم ستا ناسازے
دا به شوے چه یار م ته نیوے په غوره

رازئے ولے بنکار وو بنه چه په دار شو
د منصور سزا په داوه لا بستره

ویر م دادے چه له کښلو به جدا شم
څه له خپله سره نه ده څما ویره

زه به غور د ناصحانو په پند نه کړم
که ئے اروے دا وینا ده مختصره

وائی وم ره چه د زه له غمه خلاص شم
څما دا دعوی لنډیږی تر محشره

د خوشحال زما په داده نورځه نه ده
چه په مهر ورته نه خاندی دلبره

زه ژولیده تر یم که مجنون ژولیده تر
هیڅ خبره مه کړه سره دوا ده سر په سر

کوره چه څه حال دے ستا په زلفو کښے د زړه م
باد راله راوړ نن پریشان پریشان خبر

مخ د مسلمان دے وا ړه زلف د کافرے
دوا ړه م قبول دی مسلمان دے که کافر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ګل د لالې بڼې دے راته وایه کۀ بار خو ږم
ستا زیبا بار خو به له ګیاه کړم برابر

نۀ په ګشت د باغ نۀ په سیل ځی د ګلونو
څوک چې په کوڅه د دلربا لرے مقر

تاوته د خپلو شوندو قدر بنکاره نۀ دے
مازده چې عسل دی یا نبات دی یا شکرے

مخ په پلوۀ پټ کړے رنړا ورځ وربانډ شام کړے
بیا چې پلو واخلے په عاشق شی سپین سحر

ډیر په غیږ کښے پروت قدرے هیڅ نه نۀ ځے زده شی
چا د دُر قیمت زده جوهری صاحب نظر

ستړګو ته ځے وګوره خوشحاله با نړۀ ورځے
ستا د مړک له پاره په څوجور لرے لښکر

راشه ګوره د بهرام د نفاق چر ګاه سنی ګاه رافضی ګهے کافر
کله بڼۀ څوئ د پلار بڼۀ رور د رورشی ګاه له دواړو توکو ګرځی پر نخر
دا تاثیر د بد پټی دے کۀ د تخم چې غنم باندِ کړے کیږی جودر
کۀ لوګے د اور فرزند دے په داځۀ شو چې د اور غوندِ ځے نشته خیرو شر
په مادر کښے ځے بلاوی کۀ په پلار کښے چې د اهسے ځنے زیږی ګیدی خر
بهرام خان دے سعادت دے هم یحیٰی دے په خصلت کښے سره یو تر بل بد تر
وخانئ وته زغله هُنر هیڅ نه وعالم وته پیدا کړه دردِ سر
خانی کار د هرچا نۀ دے د هغۀ دے چې صرفه ځے نۀ په زړوی نۀ په سر
یکباره ځے په نظر کښے شرم ننګ وی د دُنیا په سود وزیان نۀ وی خبر

د خوشحال خټک کۀ سلځویه نمسی دی

لا لائق د خانئ نۀ وینم پسر
راشه کۀ ځے آورے داخبره ده نادره
چې ځے ووتل له ستړګو هغه وُوځی له خاطره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مرم چه جدا کیږے تهٔم روح ئے کهٔ پوهیږے
مهٔ دے وما له ما نه راته تل اوسه حاضره

بخت م مرور شی چه په نورو دِ نظر شی
بخت راته ناظر شی چه وماته شے ناظره

هرحسن دِ ډیر دے دَ لیلیٰ ترحسن تیر دے
نړهٔ چه دِ مجنون کړم په چشما نوئے حاضره

ډیرے دی نکارے هوسئ ستړکے پریوارے
تا غوندِ په نهٔ وی شوخه شنکه دلاوره

شوندے دِ یاقوت دی غابن دِ دُرد زهرونوقوت دی
درسته دِ دا تنکه خولهٔ د بلئ دَ جواهره

لام وبے ئے زبیښه چه بنه بنکلے شی دزیښه
تل شکرو کاږه چه شکرے خورے شاکره

ډیرد ملک شاهان دی چه دَ کښلیو غلامان دی
تا دا قدرت ورکړ و دلبرو ته قادره

تل له ډیره خیاله څو پیښے کړی له خوشحاله
هم روغه هم جنگ کړی مهرڅنه هم قاهره

راشه مهٔ کوه ډیر جور زهٔ هم خوئ لرم یو طور
زهٔ فرهاد دَ زمانے یم تهٔ شیرینه دَ دے دَ ور
دَ غماز په خولے مهٔ وڅنے نهٔ انصاف لرے نهٔ غور
په خبرو دِ پوهیږم زهٔ لا نهٔ یم هسے څور
دما زړهٔ لکه دَ باز دے کهٔ تهٔ رنگ لرے دَ مور
گوندِ راشے په منکلو درته پروت یم لکه بور
په خوشحال څنے چارے
دَ غمزے په هور او زور

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ستا په داغ راغلم له مورہ خدائے مِ مۀ کړہ دَ غمه نورہ
کم خدمت یم په خدمت کښے څان لازم وینم هر کورہ
کۀ زۀ هرڅو کم خدمت یم تۀ خپل شرم وته کورہ
خانه زاد بنده کمین یم هم بے توانه هم بے زورہ
توان اوزورِم واړه تۀ ئے بے تانۀ پیرم په تورہ
بدغلیم راته په څو دے له غلیمه مِ وژغورہ

تۀ شفیع دَ قیامت ئے
خوشحال وسانه له اورہ

شپه ئے وینځه بی بی نُور تور زنګی نوم ئے کافور
مرده شوئے چه منافق وی مرجهود بولی مغفور
نادیده چه مُنیه لولی څان ملا کاندی مشهور
سفله ټول کا څو درهمه ترخواجګانو شی مغرور
دروغژن تر تو په ورشی دَ کابل کاندی مذکور
خپله بل و ته نیولے په پردئ باندِ غیور
پته دے پیالے اَخلی بنکاړه مۀ خوره یو انګور
موحد دَ رسالو شه ترڅان کوز کنړه حضور

دَ خوشحال سره خندا کړه
بیائے ژاړه په سرور

عمر هر زمان کدا زکا لکه واوړے یا به ستا له مرګه واوړم یا به واوړے
هغه تیرباران به بیا بیارته رانشی کۀ په سر باندِ رالونم تورے خاوړے
بربوکئی چه پُوزے واخلی پورته دومی نۀ پوهیږم چه به کوم لوری ته ماوړے
زوردَ چ دَ وړلو نۀ لرے نادانه نۀ پوهیږم چه دا دروند وړے په چاوړے
په سمن دَ شملا نقش دَ سیور زیب کا په بنیوه چه سترګے کوزے له حیا ورے
دواړه سترګے م چه ستا په مخ دوخته شوے عجب بنۀ له څانه دوه قبله نما ورے
دَ خوشحال غوندِ به پیر داهسے نوروی تۀ چه هسے رنګه زړونه رونما ورے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عشق ترځوانه نه زوړ لا کاندی نسکور
په نچه وُنه لابنهٔ لګیږی او ر

اندرون دَهر چا شین دعشق په شین دے
دا یو اوردے لګیدلے لور په لور

چه په عشق کښے څوک پیغور تړی په نورو
هم په دهٔ پورے به لک وی دا پیغور

زاهد ورځانے انکار کا ندی له عشقه
نل دَ من لیلیٰ مجنون لولی په کور

چه دَ مزګے دَ آسمان په مینځ کښے څهٔ شته
زهٔ همه و ینم له عشقه سپین و تور

زهٔ حیران یم دام څهٔ دی په کوکل کښے
چه په ورځ په شپه پرے تل وی شروشور

په وصال کښے سل هراسه دَ هجران وی
په هجران کښے خوغم یودے نهٔ وی نور

جهان واړه کور دَ عشق دَ محبت دے
په خوشحال باندِ باندې شور نتبهور

فلک کا دا هسے چارے دَدهٔ چارے دی مردارے
دوه یاران سره جدا کا بیائے بند کا سره لارے
کاه دِ زهٔ وی په نهادئ کښے کاه دَ غم ژړا چیغارے
کاه د شوارے کاه آسانے کاه آسانے کا د شوارے

دواړه توکی کذران شی
بده دا هم نهٔ ده بارے

قربان دِ ترنامے شم محمّدؐ پیغمبره
اول ثنا دَ خدائے بنائی بیا ستاینا ده غوره

آدم کهٔ دِ پدر دے په معنیٰ کښے ستا پسردے
تر واړه و مرسلانو مقدمه موخره

دَ نوحؑ نجات له تاوه دَ طوفان له امواجونو
ګلزار په خلیل اورشوستا له رویه اے سوره

چه خلاص شوله کُشتنه اسماعیلؑ مړے قربان شو
چا رهٔ دَدهٔ له حلقه ستا ارواح کړه لره بره

موسیٰؑ ته څرګند نهٔ وو وعیسیٰ ته بنکاره نهٔ شو
په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

موسیٰ په کوهِ طور د تجلّی طاقت رانه وړ
تاولیدهٔ د سر په ستر کو خپل مولیٰ بهتره

که د زلفې نهٔ وے تارتار ما به نهٔ ژړل زار زار
ستا له خاره خاره عشقه په سینه کښے م خار خار
چه په تاے د زړهٔ مینه هغه تل کړمے خوارخوار
زړهٔ د یار له لاسه مرینه بیا مدام وائی یار یار
تورے سترګے د کوابن کړندے بانړهٔ ستا وائی مار مار
ستا د شکرینو شونډو اشتیاق لرم بار بار

خوشحال ستا له مخه وائی
واړه بنهٔ وائی ځار ځار

که هیڅ نهٔ وی چه ویل راشی له یاره قول د یار مهر په لاس راکړی ریباره
سره لاله په هغه مزکه شګفته شی چه خوبی د باندِ اوری له رخساره
د غمزے په تیغ م وژنی زهٔ دُعا کړم چه څما په خون ے مهٔ نیسے دا داره
چاوے خپل نتلی کښے چه ے په یاد وی بخته وخت دے چه ے ونهٔ ووځم له شماره
یوه شنه پانړے خپل بخت په لاس رانکړه خلق څوکلونه وړی له دے ګلزاره
په آرزو کښے هسے لیونے شی چه خبر شوم د عاشق سړی له کاره
که ے د رست په سینه کښے ډوب کړے هم به سوزی چه سوختن ے په نصیب شو له روزګاره
په وژو د عاشقانو هسے زغلی نیم بسمل ے په ځان پریښوم له تلواره
چه ے ستا په کوی ځائے وینوهٔ نو مو پر شو

د خوشحال خاطر له باغه له بهاره

که نین سوکه په تن اغوندِ حلوا خورے خو آخر د مرګ سړے ے و به مرے
دا مستی به د تل نهٔ وی څوبه کړے په خمار سره اَو بنتے سترګے سرے
چه بے شماره خزانے کړے سره ټولے د دُنیا ارمان به بیا ګور ته ورے
ستا پخوا د طبیلو څښتن وګوره چه په کور باندے ګرځی غوا او خرے
همیشه ولے فانی دُنیا ګنده ده که ګنده ده ولے نهٔ تیریږے ترے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دُنیا څو ډیر مئین هومره غمژن شی جګی جګی راشه مۀ کړه مینه پرے
یو غفلت بل جهالت دریم شهوت دے
دَ خوشحال دَ ځان بلا دی هم دا درے

کۀ په خولۀ را سره جنګ کا هغه یار په زړه مهر سره نکا رنګ کا هغه یار
چه له ما سره راځی غاړه غړۍ څۀ غم لرے له زړۀ رنګ کا هغه یار
هیڅ حاجت دَ تورے نشته ما نړے بس دے کۀ غم مړک وته آهنګ کا هغه یار
چه مشال ئے دَ جمال راته بنکاره کړ بیا به ما باندِ پتنګ کا هغه یار
چه ملنګ دَ مصلے غواړی خپل مخ ته عاقبت به م ملنګ کا هغه یار
له هرچا سره خندا په ارت زړۀ کا خو په ما باندِ زړۀ تنګ کا هغه یار
مرصّع بیسرد نور لری په پوزه اکتفا په تور لونګ کا هغه یار
زۀ فقیر یم دے بادشاه ئے باندِ بنائی کۀ څمالۀ یارئ ننګ کا هغه یار

رقیبا نو وته نرم شی تر مومه
وخوشحال وته زړۀ سنګ کا هغه یار

کۀ په زړۀ کړے دَ خوشحال خبرے زبرے دَ دانش له کاره نۀ دی لرے برے
خلائق سره پیدا په تفاوت دی پوهے نۀ دی سره وارۀ برابرے
په زړه کو نوکښے یو دوه سړی خبر وی نورے وارۀ خلقے دی ناخبرے
لکه کا رد خوئ خصلت په تفاوت دے هسے زیږی په بنائست سره دلبرے

دَ سیرت زیبائی بنه ده ترصورته
چارے وارۀ دَ باطن دی معتبرے

کۀ مسجد کورے کۀ دَیر وارۀ یو دی نشته غیر
یوم بیا موند په هرڅۀ کښے چه م وکړ دَ زړۀ سیر
هغه ځائے په سیر کړ څم چه ترے نۀ رسیږی غیر
په احوال باندِ یو دوه شی څکه نشته باندِ خیر

خوشحال یو وینی خوشحال دے
ورته ورک دے غیر وزیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ م نوم په ژبه نهٔ اخلے هیڅ ے
په تش نوم به دِ هم سود کوم دلبر ے

د زاهد د ستړکو آب هومره په ځائے دے
چه ئے ستړکے باندِ نهٔ دی برابر ے

د بنادئ نوم پرے زور دے تل تر تله
چه په زړهٔ ئے ستا د غم شیتئ شی سر ے

زهٔ به څهٔ ځنے مانړه کړم یوزهٔ نهٔ یم
په غمزه ئے خلقے کړلے ډبر ے

د بنړو سور ے ئے خار په پښو څرخیږی
له حیاچه کوز کوز کوری ناز پرور ے

شونډے ستالکه نبات هسے خوږ ے دی
ترڅ ویل ځنے نهٔ ښائی لب شکر ے

وائی شته په چین ماچین کښے کښلے ډیر ے
خدائے دِ نهٔ کاچه تر تا به وی بهتر ے

بے خبره ځانه ډیر ورته پراته دی
ته ئے هم په حال خبر شه بے خبر ے

د ختا د ملک نافے واړه خجل شی
چه د تا زلفے بنکاره شی معنبر ے

کهٔ دِ چیرے د آشنا په لور گذر شی
د صبا باده څما سلام پرے ور ے

لکه کار لری نظر هسے ژبه کا ا ثر
ماهیت ئے مونډهٔ نهٔ شی چه څهٔ څیر دے دا بشر

هم ترکیب د نیک وبد دے هم مجون د خیر و شر
هم فرښته ډے هم حیوان هم مومن دے هم کافر

کله اور کله اوبهٔ شی کله تورهٔ کله سپر
کله څورب شی له باده کله بیا به هیڅ ډنګر

لکه دے دے په جهان کښے بل به نهٔ وی دیده ور
د څلورو میندو څویه د ا تو پلار و پسر

څهٔ خو لږ ترخدائے راکوزدے کهٔ ئے نهٔ دے برابر

دا وچاته کړے خوشحاله
د مستئ شور و سر

لاس په لاس موسره وکړے څهٔ چارے
چه پرون مو تور منکور وژهٔ په لارے

دواړه ښښے له تا نیول له ما اختسل
زهٔ به پاس په ستړکو کیږم دستا پائزارے

څهٔ اغزی لرے په مخ کښے زړهٔ مِ سکنړے
اے په تور بانړهٔ څما د زړګی خارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

رویت والی به ئے خو ثنا صفت کړم
چه صبا کړے د غنچے پانړے ویزارے

چه م پاس په غاړه پروتے څنډ یدلے
بنے وی ستا مختولے زلفے تار په تارے

چه په تا باندے جوړ کړم زړه م بنه شی
نوم د حورے د پرئ اے نگارے

غږول ئے هم و تا و ته بنکاره دی
چه دا تورے سترګے ته لرے خونخوارے

زه کوم که ته شکنځل کړے لاخوشحال شم
چه کومه ستا د مخ زیبا ننداره

لیونی سره به څه کړے نور تدبیر
لیونی لره زندان بویه څنځیر

د ماز پړ ئے په حلقه د زلفو یوړ
لکه لوئے ماهے په شست د ماهی گیر

که خوښی ده په جهان کښے د لیدو ده
نه خوښی د بادشاهئ د سریر

که یوسف ئے د کنعان له چاه وکیښ
په نیک بخت ستوری زووله وو بشیر

د شکرو په دکان هندو بچه دے
که تورخال دے ستا په سروشونډو جانگیر

د بهار په وخت په بوټه د سرلئ گرځه
نه په بوټه د کابل او د کشمیر

د لنډی اوبه هغه گنډه خوشحاله
چه یادیږی په جنت کښے جوئے د شیر

مرد به نه شے په گفتار
خو پیدا نه کړے کردار

چه د وگنځی مرد نه ئے
که له تا نه وی په یار

چه څه دے خوانتقام دے
د مردانو کار و بار

عفوه هورته څائے لرینه
چه نه عیب وی نه عار

چه عزت ورځنه نه وی
هغه مرد نه وی پکار

هم مهره لری هم زهر
بنه مردان وی لکه مار

چه هم تندر هم باران دی
ترهغو مردانو څار

مرد به غم د خپل هنر کا
نه د زر نه د دینار

مرد به غم کا د خپل شرم
د عزت د اعتبار

نامرد فخر په نسب کا
مرد نه مورلری نه پلار

د خوشحال خبرے گوره
لعل و دُر پیئ په تار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نیمه شپه م په پالنګ راغله دلبره
پری رویه عنبر بویه سمن بره

رنګینه جامے اغوستے زر نګارے
سَرَه درسته تجلّی وه پا تر سره

په سپین والی د مخ سپین لکه مومنه
په تورو والی د طُرے لکه کافره

سرئے تور بنیښه په لاس باده ئے څښلی
د مستئ په خپل ځان نهٔ وه خبره

د پائلو او د څڑی ئے شرنګهار شو
نړهٔ له خوبه راپرتاب شوم ډیر په ویره

ماوے کوره بنا پیرئ وه کهٔ حوره
چه دا هسے شان په ما شوه برابره

تورے وروځے ئے لیندہ باندهٔ ئے غشی
غابنئے دُر قیمت بها په لب شکره

په خندا خندائے دا ووے وما ته
چه وما و ته نظر کړه بے بصره

تهٔ مانهٔ پیژنے زهٔ هغه خوبا یم
بله نشته په خوبئ ترما بهتره

عاشقان څما د خولے په کلی ډیر دی
بختورئے چه م و نیوے په غوږه

خوبوسے ئے د لبانو وما راکړے
حقیقی پیاله ئے راکړله احمره

د سته شپه موسره رازپه پالنګ وکړ
د وصال خوښی ئے لانهٔ وه تر سره

چه آواز د مؤذن د آذان وشو
په سحر له مانه ولاړه نازپرورہ

چه په ډیر ارمان محبوبه څنے درومی
کشکے شپه د خوار عاشق وے بے سحره

چه له هسے محبوبا خوشحال جدا شو
د آتش لمبے ئے درومی له بستره

نهٔ م لاس رسی په یار
نهٔ طاقت د انتظار

دا ستم په ما خپل یار کا
کهٔ کردش دے د روزګار

پکښے ستا غمونه څائے دی
کهٔ یو زړهٔ دے کهٔ هزار

تر وینتهٔ ضعیف وجود م
ستا د زلفو دے یادګار

غم د یار د بیلتانهٔ دے
چه تر هر څهٔ دے دشوار

خپلے او بښکے م دریاب شوے
پکښے نهٔ مومم کنار

چه م تل په دیو زورے
ستا په شونډو لرم کار

چه څوک سوزی هغه سوزی
هم پتنګ کوړه هم نار

څما زړهٔ څهٔ آسان نهٔ دے
چه ئے وړے نهٔ ترس نهٔ ډار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بوسے وعدہ دِ وکړہ
زۂ خوشحال لرم تلوار

ننګیالی قبلوی ګور ګورخونۂ دے رنتیھور
لس په کال پرے ننوزی خنے ووځی درے څلور
مورزادی پلا پروټ یم چه بلا هورے مِ کور
ننګیالی د ننګ دپاره په هرځۂ لګوی اور
سر په باد د سړی پریوزی چه ئے نۂ وی ژوندون نور
چه په نام ونګ اړنۂ وی کۂ تل ژوی مخ ئے تور
د جهان بلا دِ کل وی خو دِ نۂ شی ولی سپور
سرپه دار لک شوے نۂ دے نۂ لک شوے په پیغور

په همت سړے پرده دے
نۂ د مست هاتی په زور

نۂ د ما د هُنر شته څوک طلبګار نۂ دمادے د دے ملک هُنر پکار
په یوه ژبه ویل سره پښتو کړو ولے هیڅ څبله نۂ شو خبردار
چه د سوات په ملک ما نندارہ وکړه بل اُولس تر یوسفزیو نشته خوار
زور زیاتے خود پسندی خصلت دواړو هر سړے ئے طمع خواست وته تیار
کۂ په کورکښے مال دولت لری ستړک وږی ملکان ئے لا تر نورو دی مردار
حقه چاربه د عزیز کاندی ناحقه کۂ په بډے رشوت مومی یودینار
څنګه له څنګی نه رنګ آخلی عالمان شیخان ئے لادی نا پکار
چه مِ ولیدل له نورو خبر نۂ یم داخو واړه یا غوایۂ دی یا حمار
دا په هر دیارکښے سیل هم بد نۂ دے چه خوشحال وته څرګند شو هرا سرار

چه د سوات د سیمے خاورے خوشحال بوئی کړے
یو سړے به ځنے نۂ وی وفادار

نخښه نۂ ولی همیش لیندے په سر کله مینځ کله بنے کینږ کله لر بر
دا یو لحظه د هوښیار غلطی نۂ وی یا هرګز د لا مبوزن نۂ وی خطر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په زمان کښے به خپل ځان ترهرچا بنۀ کا ۔۔۔ د سړی کۀ لاس رسیږی په قدر
بخته چیرے به له ورایه رابنکاره شے ۔۔۔ چه م بنۀ ترعراقی شی لاشه خر
دانشمند په خوارئ خوارجاهل کامران دے ۔۔۔ د سړی طالع پکاردے نۀ هنر
هنرمند سړے په هردیار عزیز وی ۔۔۔ په هرځائے قدروقیمت لری سرۀ زر
د بلبلو په کار ګل دے نۀ دا نور څۀ ۔۔۔ په چمن کښے خار وخس بلا بتر
چه د زرکو بنکار په غرۀ کښے پیدا کیږی ۔۔۔ باز په دا سبب نیولے دے لوئے غر
اول فکر د زړۀ وکړه بیا ویل کړه ۔۔۔ کا تبان د بنکو یخوا وهی مسطر

هیڅ خبر د وړځو نسپو په حساب نۀ دے
همیشه بنۀ د خوشحال ختک اختر

وخت د نوبهار دے زۀ جدا له خپله یار ه
دریغه دریغه دریغه چه بے یاره ئے بهاره

ژاړی غاړے غرونه په احوال د عاشقانو
سیل د واړے نۀ دے چه را درومی له کُهاړه

اور د خُوږو زړو دے چه د غړۀ په ونو بل شو
سړے پوزے خیژی له نښتره له چنار ه

غواړے چه احوال د فراق ژ نو درمعلوم شی
کوره هغه زانړے چه جدائی له قطاره

دا سے معلومیږی چه احوال د ماتم ځائے دے
شنے جامے اغوستی د طوطیانو له چغار ه

نورے نارے نشته خو نارے د بیلتانۀ دی
راشه کۀ ئے آورے د رباب له هره تاره

رنځ م نۀ کمیږی په زمان زمان زیاتیږی
زړ راځه طبیبه کنړه مرم د خدائے دپاره

مرګ د رقیبانو بل ژوندون د حبیبانو
خدائکو په هنګام د وصل کیږی دا دوه کار ه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څهٔ شوکهٔ لا دم وهی په شمار دے ډزوند یو
رنځ چه لا دواشی طمع پریکړه له بیماره

پاتے سړی نهٔ شوچه دا کرځی ددو دام دی
څکه ویره نهٔ شی د دردمنو له آزاره

هسے خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقئ کښے
خپل دی کهٔ پردی دی راته نهٔ کوری له عاره

ولے په کوڅه د هغه یار نکړے گذر
ورلره دِ بولی تهٔ لاکړځے در په در

خاورے دِ په سرشه چه به ورپه ورځاروے
زده کړه داخبره درپه درخاورے په سر

یار دِ په ښائست کښے د بهار تر گلو ښهٔ دے
ولے ئے له مخه لاله گل ته کړے نظر

هرچه تهٔ ئے غواړے هغه یار در تهٔ حاضر دے
دواړه ستړے وخورے هیڅ په ځان نهٔ ئے خبر

دایم درته وایم ستا بد خواه نه یم نیکخواه یم
فکر د توبے کړه چه په خوا لرے سفر

زرکے تورتار و تمزری هر لوری ته ډیرے
هسے باز درنخه تاے وتړل شمپر

تخم شته هم مزکه هم قلبه لرے تیاره
هر اسباب دِ جوړ دے ولے نکړے کار د کر

کاندهٔ به حساب وی مو بهو سوال ځواب وی
څهٔ دِ پکښے کښلی را شهٔ کوره خپل دفتر

مهٔ وُسه بے غمه غلیمان لکی له هم
فهم کړه خوشحاله چه دا لار لری خطر

ودره چه څهٔ خو په یارئ شے خبره
گورو به چه څهٔ بنیوه په لاس واخلی دلبره

لاد څهٔ تراوسه هغه قدنهٔ دے لیدلے
څکه د خپل قد په لا فوسرئ صنوبره

څائے د چپ و راس چه د کافور د پاسه نهٔ دے
ته ئے څهٔ سیالی له تورو زلفو کړے عنبره

څوک چه نظر وکا هغه بنهٔ بنکلی دلبر ته
څی له ډیرے مینے د یوسفؑ سوره کا زبره

ته ئے چه د مخ سره نن شپه برابری کړے
شمعے! دا دعوه ترصبا یو سه برابره

مینه هسے څیز ده چه په چا باندِ مئین شوے
ولے وینځه نهٔ وی تر بی بی شی په تا بره

لاړے دی بے شماره زرکوڅے دی ترمعشوقے
څو به پکښے دروے قدم مهٔ بنده بے رهبره

مهٔ پریږده له لاسه کا رو بار د عاشقئ
چار د عاشقئ ترهرڅهٔ ده معتبره

هره شپه چه دروی په خوشحال باندِ دوزخ دهٔ
شپه د جدایئ ده کهٔ رسیږے پیغمبره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

واړ کونے شوے همکی د دُنیا چارے
چه لیدے م هسے نهٔ دی واړه چارے

خُوئے پلار سره کارونه د غلیم کا
لونړه مورته لکه بنے دی تیارے

چوهړی پلاؤ شولے خوږه حلواخوری
په سیّد باندِ حلالے دی مردارے

باورې د بادشاهانو لکه غلهٔ شول
رهزنان ئے په دربار کا خُنے چارے

بلبلان طوطیان حیران په بیابان کړئی
په کلزار باندِ کارکان کاندی چغارے

په وښو د عراقیانو ژواک ژوندون دے
را تبونه وهی خُو یه د حمارے

نادان خوښ بے غمه خوب په فراغت کا
په هوښیارو باندِ راشی شل دشوارے

په څښتنو باندِ حکم کا مریونه
ترمیرمنونه تل وینځے دی رونیدارے

په دوران د عالمګیر بادشاه خوشحال
خانه زادے واړه بخرے لری خوارے

هر ساعت چه په چاځی هسے بیکار
ترهغهٔ نه زهٔ لابنهٔ کنړم بیکار

زنخُوران کهٔ کاروبار نهٔ کا معذور دی
روغ سړے به ولے نهٔ کا خپل روزګار

کهٔ هیڅ کاروبار دِ نهٔ وی درته وایم
هسے مهٔ کښینه بیکاره نا پکار

په هرڅهٔ چه غم غلط شی واړه ذوق دے
کهٔ په نردکهٔ په شطرنج وی کهٔ په بنکار

سړے هر ساعت هر وخت په بل بل حال شی
همیشه په یوهٔ حال دے کردګار

ستا به نوم په جهان پاتے شی خوشحاله
یوه لویه مشغولا ده ستا دکار

هوسئ ستړے لب شکرے
په غابنو ئے مرغلرے

تا به ستایم په خو رنګه
ستا ثنا د مخ دلبرے

چه جمال وته دِ ګورم
حیرانیږم سمن برے

خوئ دِ نن راسره نوردے
دم واهه نهٔ شی له ویرے

ذکر ستا د تنګے خولے دے
رنګینه پری پیکرے

زهٔ چه ستا سره یاری کړی
سلامت به وُسی چرے

شور دِ ګډ کړیه وګړی
صبر وړونے شور وشرے

صبر وړے چه له تا دورشی
طربناکے نا نړ پرورے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ظاهرنن له تاجدا یم عین ماته برابرے
قامت سم لرے تر سروِ کج کلاهے کج عرعرے
لرے مهٔ درومه له مانه مخ په ماکړه مخ قمرے
نور به ستا له دَره نهٔ ځم وینا داده پرده درے
هرچه ستا رضا هغه کړے
خوشحال ونیوے په غورے

یودا هسے نهٔ بهار بیا پرِ صوت دَ هزار
څوک سوارهٔ په عراقیانو ترچا لاندِ نهٔ رهوار
په لاس ناست خاصه بازونه په هرلوری خاصه شکار
نهٔ کرجی وړاندِ نیولے دَ بازونو سره یار
نهٔ تازی په پور ترلے پرانتلے په وار وار
زهٔ فارغ له هره لوریه یکښے واړه خیال دَ یار
تر دا هسے نهٔ هوس به
زهٔ خوشحال کړم دُنیا څار

اے چه لاڅ دَ رنځور دَ رغیدو کړے دَ خپل کلی رنځور روغ کړه ما به څو کړے
نور به ستا په رضا ځم توبه وکښلے خو کهٔ داځله ځما گناه تر پښو کړے
یوه ورځ به په مرگی سره جدا شو یاره تل دَ بیلتانهٔ خبرے څو کړے
تور بانړهٔ راته خښے په دا پوهیږم یوه ورځ به م په دا تیرو نیزو کړے
دَ تیراه اوبهٔ دِ وخښے خوئ دِ نور شهٔ آفریدی غوندِ خبرے دَ اولجو کړے
چه په زهٔ نے کړځوم په تا معلوم دی ترویتی غوندِ ویل تله دَ زړو کړے
ستا په خوئ م ویره شی ظالمان ځوان مړی له آزاره ویره اوکړه ظلم څو کړے
که دَ غشی په ویشتهٔ سره خوږیږے زهٔ چه ستا په تیر زخمی شم ما بخښو کړے
ولے تا وته به وکړم اوس بښکنځلے لا به کله دا نبات په ما پیرزو کړے
دَ طوطا خبرے هم دا هسے نهٔ دی په بند بند دِ مشغولا ویل رورو کړے
ستا په ډیرمانړی به حال دَ خوشحال څهٔ شی چه په لږ مانړی نے ډیر په اندیښنو کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا وماوته غمزے نکارے وکړے
دَجلاد ترتیغ ئے لاخونخوارے وکړے

چائے شمارَد زلفو هیڅ نۀ کړ ترسره
دَ تار تارئے عاشقانو شمارے وکړے

چه دلبرے لره درومی یوه لار ده
مشتاقانو پسے ډیرے لارے وکړے

په نری آواز کانړۀ دی نۀ خبریږی
څکه ماهومره په زوره نارے وکړے

څوک چه سترګے غړوی ترهغو واړه
ما په پټو سترګو بنے نندارے وکړے

څوک خبر ورځنے نۀ دی خوماهم زده
چه ئے ما په دوُو رخسارو چارے وکړے

تۀ چه ډیرے آشنایئ کړے خوشحاله
په هرلوری دَ غم اجارے وکړے

په څۀ شان ئے دواړه زلفے کج په کج کړے
یکباره ئے دَعالم مینے په حج کړے

تورے زلفے ئے زنځیر مخ ئے کعبه دے
دا زنځیر په لاسو ونیسه کۀ حج کړے

کۀ یودم دِ دا زنځیر په لاسو کښیوزی
همیشه به دَخپل زړۀ په حال فرج کړے

بیاهالۀ دَ یکانګئ له حاله لاف کړه
کۀ دَ غیرو اندیښنے له زړۀ خرج کړے

زۀ ترنام وترننګ تیر شوم ستا دپاره
تۀ به څوحُما دَ کارله پاره حج کړے

قند وګل چه یادوُم مقصودِم دا دے
څو بوسے کۀ له کنځا سره مزج کړے

ما خوشحال له خپله ځانه خاطرمور کړ
چه دا هسے دَ غمزے په تیغ حرج کړے

په سرو شونډو دِ بازار دَ شکرمات کړ
تورو زلفو دِ ناموس دَ عنبرمات کړ

چه دَ صبر په آهن مِ وترلے
تادَ زلفو په حلقه هغه ورمات کړ

چه ئے ستادَ خط وقد نندارہ وکړه
صورت ګروم پرکار ومسطرمات کړ

سحر ګرو اوس دَ سحر دُکان ونغښت
دواړو سترګو دِ دَ سحر هُنرمات کړ

په دا دوه سوارۀ دَمخ یعنی ستا سترګے
تامِ درست دَ پارسایئ لښکرمات کړ

په هوس هوس راځ طره پرتیښے
کوره بیا دِ دچا نوے سنګر مات کړ

چه آرزو لرم په زړۀ کښے ستادَ روځو
دے آرزو مِ په څیګر کښے خنجرمات کړ

تاوے نوربه قول مات نۀ کړم سوګند دے
په سوګند سوګند دِلاځۀ بهترمات کړ

په بارخو دِ مار حلقه شوکۀ صحبا مِ
ستادَ تورو زلفو خولے وته سرمات کړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ما توه د خوشحال زړه بیابه ووائے
چه م څه لره داهسے کوهرمات کړ

په داشکر چه ئے بوئ بنکاره آتش کړ — اګر درست صورت واور وته پیشکش کړ
زړه پخپله هغه مخ لره لاړ نه شو — د زلفینوئے هرکار ورته دلکش کړ
دا بے غش شراب د کومے میخانے دی — چه څما د زړه ئے لرے غل وغش کړ
لیونتوب ئے مبارک شه تل تر تله — چه ئے یار د زړه په غوره پریوش کړ
په یارئ ئے نر ناحقه نا زیدلم — بیهوده م په سراب د اوبو اش کړ
مشوش کړ روزګار د پرهیزګارو — چه کاکل ئے په جبین رامشوش کړ

ماوے سپینه خولهٔ به درکړے وخوشحال ته
په خندا ئے له ناخواله پنج وشش کړ

په خوانانو پورے پیچمے کا ولاړے — ته په سپینه ږیره خولهٔ ورځنے غواړے
د خوانئ هوس مه کوه چه زوړشوے — اوس له تانه د خوانئ چارے ولاړے
تیر ساعت به د د عمر بیا رانهٔ شی — ورځ و شپه که په زار زار ورپسے ژاړے

کهٔ ئے بیا له مزکے اخلی سود ئے کوم دے
چه له خولے په مزکه پریوزی دچا لاړے

پارسائی ئے د پارساله لاسه یووړه — دانائی ئے د دانا له لاسه یووړه
چه م کړے وه توبه له مے خورئ — په چشمانوئے د ماله لاسه یووړه
معجزه چه د احیاء ده په دوه لب ئے — لاس په لاس د مسیحا له لاسه یووړه
دلبرانو چه دعوی د دلبرئ کړه — دا دعوی ئے د هرچاله لاسه یووړه
راته پاتے دا یوه مسلمانی ده — دا م هم هغے ترسا له لاسه یووړه
ماوے زهٔ به د عشق رازلرم په زړه کښے — دا خبره م ژړا له لاسه یووړه
چه د زړهٔ صبر د یار له مخه غواړم — محبت م دا دُعا له لاسه یووړه

کهٔ د نورو هوښیاری په عشق کښے پس وړی
د خوشحال ئے لا پخوا د لاسه یووړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ پسوډ دُنیا مینے مُبدل کړے
فکر نهٔ رسی هوړے پسے جدل کړے

هره ورځ ډډے فانی دُنیا دپاره
زر فتنے اَلا بلا دغا درغل کړے

کهٔ دِ خپله مُدعا پکښے درستیږی
بے صرفه به اوږد پلار په خونه بل کړے

کهٔ کافر درته ډ سود خبرے وکا
ډخپل سود دپاره خان ډ کافر مل کړے

کهٔ دِ سل چارے ډ زړهٔ واړه پوره شی
په حرص به دوه سو نور ورته تکل کړے

کهٔ دعمر بقا نشته واړه هیڅ دی
کهٔ کنجوس ډ قارون په کور کښے تل کړے

چه په دواړو سترګو ړوند په غوږ وکونږشے
لال په خولهٔ غفلت په لاسو پښو هم شل کړے

په پینځه کښے دِ ډ خان رستګاری ده
تهٔ په داکښے هم په څو سرنګه خلل کړے

کهٔ څلور دی کهٔ پینځهٔ کهٔ شپږ اُوه دی
له اصلی چارهٔ واړه معطل کړے

بنے خوږے چارے ډ دین درته ترخ شوے
نفس ترخے چارے وتا وته عسل کړے

عاقبت به دِ ډکور په خاورو خوب وی
چه ئے اوس په نهالئی اوبه بخمل کړے

ستا پخوا هم ډدُنیا طالبان نور وو
چه ئے مینے تار په تار خورے اجل کړے

بهشت ځائے ډ پرهیزګارو دے خوشحاله
تهٔ بهشت وته هوس په کوم عمل کړے

چه م زړهٔ ډ مال وملک په هوانهٔ وُلاړ
کهٔ په بنکلیو پسے لاړشو بنه چه بنهٔ وُلاړ

عقل وهوش صبر وآرام ورپاتے نهٔ شی
ډهرچاچه په دلبرو پسے زړهٔ و لاړ

هرچه خُوږ ډکښلی مخ په مینه نهٔ وی
ډ جهان په مخ اودهٔ راغے اُودهٔ ولاړ

هم م زړهٔ په غمزه وړی هم ځان نادان کا
راته وائی وایه بیا دِ زړهٔ په څهٔ ولاړ

محبت ډ کښلی مخ ځما په زړهٔ کښے
باور وکړه لکه اور په وچ وابنهٔ ولاړ

ډهجران په شپے ئے درست تو کر تو کر شو
په ژړا ژړا م زړهٔ تر دوه لیمهٔ ولاړ

هغه یار راځنے وائے هرګز نهٔ وو
هیڅ م نهٔ زده کهٔ همیش راسره وهٔ ولاړ

هر زمان به ئے شاراته په مانړی وه
یوه ورځ بے غمه نهٔ وو تل تل تهٔ ولاړ

نور به بیا په بیارته رانشی خوشحاله
ګذشته عمر په سر لکه اوبهٔ وُلاړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه م بنهٔ ترویت د خپلے چارے خیر کړ
خان م واړه حبطه په خپل تدبیر کړ

لکه واچوے دانه د دام په مینځ کښے
خلقو ماسره په مهر کښے تزویر کړ

ما په دا ستړ کو لیدهٔ د دُنیا خلق
څوئے د پیرد دُنیا سود هومره ئے ویر کړ

مور زادی کانړهٔ هرگز نهٔ هوښیاریږی
نصیحت په تور زړگی کله تاثیر کړ

په ناپوهه باندِ بے غمه بے غمی د ه
د دانا آفت ئے خپل ضمیر منیر کړ

راشه وگوره یوگز مزکه نیولے
چه ئے مت د خپلے خوښے په توفیر کړ

د ارمان لاسونه مړهٔ مړی په گور کښے
چه مو ولے په نیکئی کښے تقصیر کړ

د هرچا م خپل هُنر بلا د خان دے
خپلو پرونو په خزه بندی گیر کړ

چا ئے وصل په خپل مت حواله کړے
چا د هرے چارے حکم په تقدیر کړ

لیونی د لیو نتوب په سبب بند شی
مست هاتی خپلے مستئی په زنځیر کړ

په بار بار د خپل اُستاد منت راباندِ
چه له زنگه ئے صفا څما ضمیر کړ

د زړهٔ بشهرم په څائے د قناعت دے
په ناحقه م حرص پکښے امیر کړ

کهٔ ویل ئے د غماز منلی نهٔ دی
بیائے ولے له حیرانه زړهٔ دلگیر کړ

پوره زړا تیا کالونه په کا بل کښے
د اغزل م په بیاض باندِ تحریر کړ

د خوشحال د زړهٔ خوشی نهٔ شی بے سرایه
خپل وطن ئے په هر چا باندِ کشمیر کړ

چه م ولیده په خپل انگنړ ولاړه
ما په تیکے ستړ کے بیا مونده بیا ولاړه

که بنهٔ مخ و ته کا تهٔ کول گناه دی
دا گناه د وی دایم دما په غاړه

یوځهٔ یځن زړهٔ ئے راگرهسے وایم
چه دماوے د جهان دلبرے واړه

زهٔ جدا له یاره گم خیر ناصحه
په ژړا کښے را ته وایه خیر غواړه

د بنهٔ یار په جدایئ کښے گرم نهٔ ئے
که د دواړه لیمهٔ ووځی لاهم ژاړه

د طوطی خوراک شکرے دی خوشحاله
جگی جگی څهٔ خوږ کړه د خولے لاړه

چه دا هسے بے نیازی کوے دا بنهٔ کړے
زهٔ به نور یاران پیدا کړم ته به څهٔ کړے

د بل څراغ غوندِ په شپه د هجران راشه
چه په راغله م روښان دواړه لیمهٔ کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوله مانه نوره مۀ کړه د زړۀ مینه — نور م کل واړه منلی دی چه تۀ کړے
دما زړۀ ورځنی صبرو وچه ګونګ دے — نن ځما طوطا یوځو خبرے وکړے
په ژوندون له مانه مۀ ځه دیار غمه — تۀ به سم ځما له ساهے سره تلۀ کړے
ګوره بیا دِ څۀ په زړۀ کوم م ګناه دے — چه لید ولړه دِ درشم ځان اُودۀ کړے
د غمزے تُوره دِ ماته شه په ما کښے — غم م دادے پس له ما به نور پرے مړۀ کړے
وائے ستا په عیادت ځما رضا ده — مګرومرم هاله سر دما په ورۀ کړے

چه ترخولے د بیلتانۀ ویل وبا سے
د خوشحال خټک روزګار په اورا وبۀ کړے

څوئے بوئ په هرطرف بهیر ونۀ کړ — په ګلونو عندلیب نفیر ونۀ کړ
ځما اوښکو کانړی هم په مخه یو ډل — ولے ستا په زړۀ ئے هیڅ تاثیر ونۀ کړ
په ژړا په بے صبرئ که لیدل مومم — ما په دواړه توکه هیڅ تقصیر ونۀ کړ
په خندا خندا دِ مرګ وته نزدے کړم — تر و دِ څۀ رنګه په ما تزویر ونۀ کړ
خولا زۀ یم چه د غشیه نه دِ دروم — ګنړه هومره مټ به تور نخچیر ونۀ کړ
مګر زۀ سهل غرځۀ وُم ستا تر فهمه — چه ځما په مرګ دِ هیڅ تکبیر ونۀ کړ
اوس به څۀ رنګه خلاص یږم له دے غمه — چه لومړے م د خلاصی تدبیر ونۀ کړ
د کعبے په لار به څۀ رنګه بری کړے — چه هرګز دِ یوه شپه شبګیر ونۀ کړ
په صورت به دِ تل ویر وی پس له مرګه — که ځان دِ په ژوندونی ویرونۀ کړ

زۀ خوشحال چه سر و تیر ځم ستاله تیره
هیڅ ارمان دِ د غمزے په تیر ونۀ کړ

څو بیړئ په د اسیند کښے ډوبے لاړے — چه تخته ئے مونده نۀ شی که نۀ غواړے
فراق هرځۀ ته لمبے دی لګولی — لکه لوندلړګے په اور ایښے څو ژاړے
غم بنا دی سره تړلی دی له ځا یه — هغه هومره به وژاړے څو وویاړے
چائے نوم راته وانۀ خست چه د چادی — منارے م ډیرے ولیدے ولاړے
په هزار رنګه غمونه د جهان شته — په زر رنګه نارے واوړه د خزاړے
لکه رائے ځما د زړۀ هغه لا نور دی — خلق څو خبرے کا ندی غاړے غاړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داطومارخۀ هسے نۀ دے چه تمام شی غوږوے ئے پټوے ئے لوے نغاړے
دین دُنیالره کړده خپله کړده ده لوندوی حلق د هرسړی په خپلے لاړے
چه بے غمه بے وباله ئے خواړۀ دی د بادشاه ترخوا نه به کنړم جنجاړے

غافلان په غوږ کانړۀ دی نۀ ئے آوری
د خوشحال ختک د خولے خبرے لواړے

خدائے یو هسے فکر سړا کړ چه ئے ملک راته رسړا کړ
چه په ملک په ملکوت دی پرے خبرئے زړۀ دما کړ
په اعلیٰ په اسفل واړه راښکاره ئے هرا شیا کړ

کۀ په نورو تورۀ شپه ده
په خوشحال ئے سپین صبا کړ

داچه وائے چه ډیر مهر په فلانے کړے په یارئ د رضانۀ ده بهانے کړے
ستا وصال په دُعا غواړم نۀ ئے مومم ما په ډیر ورتلۀ راتلۀ ستړے ستانے کړے
زړۀ م ستا وتیرته غښته دے قتاله پرے به کله جوړ د غشیو پرخانے کړے
چه جمال وته ډکورم حیرانیږم خدائے په ما باندِ یوسف د زمانے کړے
سحر کړ په سحر تورے اوبۀ پرنړ کا تاځما اوښکے په مخ دانے دانے کړے
زۀ چه شونډے ستا په شونډو باندِ کیږدم وایم نوشے م د میو پیمانے کړے
څما زړۀ لکه زمرے وُ وخاوند خدائے م ستا د ستړګو وهوسیوته ژانے کړے

د خوشحال په دودبه ستا د زُلفو څولانے کړے
چه په پښوئے ستا د زلفو څولانے کړے

داچه وائے چه دا بد کړے یا دا ښۀ کړے کۀ رښتیا وایم زۀ نۀ یم واړه تۀ کړے
چه په بین الاصبعین زۀ خبردار شوم په لحظه لحظه کښے څۀ چارے په زړۀ کړے
په خطا باندِ عطا په طاعت قهر چه په وهم فهم نۀ وی هغه وکړے
داچه اوس دواړو خلقو ته رسیږی چه د کړی په ازل دی هغه کړۀ کړے
د هرچا په باب چه شوی هغه کیږی په هیڅ رنګ به خپل مبرم حکم نور نۀ کړے
چه بیګاه ډکے په شهدو په شکرو په صبا د هغو خولو خاوړے په خولۀ کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه هر دم د العطش نارے وهینه — په ساعت ئے د مقصود په رودا وبۀ کړے
په یوه مزکه یوۀ باغوان کرلی — عباسی کلونه زیړ وسپین وسرۀ کړے
د سحر کتینه ډیره تر هر څۀ ډه — څنې څنې ورته وینس څنې اُوده کړے
چه په تور وینښتۀ مغرور په خپل پرهیز شی — د صنعان غُندۍ خوار په سپین وینښتۀ کړے

آلوده لړلے درغے درکاه ته
هیڅ م نۀ زده چه به حال خوشحال څۀ کړے

د الف غوندۍ تۀ په قامت سم کړے — خدائے څما د زړۀ په سر باندِ رقم کړے
مخ به چیرے راته سم کړے په یارئ کښے — کۀ داخوئ به تل څما د عمره سره سم کړے
دا کلزار د هیڅ کلزار سره سم نۀ دے — چه زلفینے په سپین مخ راته خم خم کړے
درپوهیږم چه م سروته په څو ئے — کۀ هزار خله څما په سر قسم کړے
چه له دم سره م کښته پورته کړځے — تۀ په ما باندِ داچارے په کوم دم کړے
چه د وژلم پخپله هم بیا کوره — بیا په ما باندِ تهتر وهے ماتم کړے
چه په په زړۀ م کړځیدے هغه خبرے — کور په کور په هر دیار خورے عالم کړے
د هجران ورځے چه کښے په شمار د عمر — د قضا کاتبه عدل کۀ ستم کړے
چه دیار وته م تل غندے رقیبه — څۀ په دا به د یار مهرله ما کم کړے

چه د سر تر پایه درست په غم د لیو کړم
راته وائے اوس خوشحال وسه څۀ غم کړے

زۀ خوشرابی یم شیخه څۀ راسره جنګ کړے
بخړے ازلی دی کشکے ما د خان په رنګ کړے
بنۀ وائے واعظه برکت د ستا په ژبه
بنۀ ئے په ویلو د دریاب اوبۀ کرنګ کړے
لا ړل وجنت ته چه په پوهه خبر نۀ وُو
لا ړل و دوزخ ته چه ئے لاڅے د فرهنګ کړے
پند د محمدؐ د ابوجهل پکار نۀ شۀ
څوک به ئے صیقل کا چه ئے خدائے آئینے زنګ کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کښینے په خلوت کښے شیخه سودائے راته وایه
ولے په خپل ځان دا هسے اَرت جهان تنګ کړے

زهٔ خو د زړهٔ درد غواړم په هریوهٔ مذهب کښے
تا زده ستا خبرے چه نقلونه رنګارنګ کړے

رائشه مطربه د نوروز سرود آغاز کړه
بنے نغمے زړهٔ سوزے په رباب په نے وچنګ کړے

هر لوری ته ګل دی شقائق نرګس سنبل دی
بے ګلزاره بدګهٔ ویل لوری ته آهنګ کړے

چادر پسے ډیرے پیسے واخستے طلب کا
ځنو مصلے د بے ننګئ در پسے ننګ کړے

کاشکے د عمل تله درنه په قیامت شی
موم په رقیبانو په عاشق باندِ زړهٔ سنګ کړے

مرګ لره ئے واړه د د هلی لښکر را غلے
تهٔ لا د خوشحال په مرګ ځان روغ نهٔ کنړے ننګ کړے

ګله تهٔ چه په بلبلو هومره خیال کړے
دا خیالونه همګی په خپل جمال کړے

داجمال به دِ جاوید په جهان نهٔ وی
بنهٔ خو دا کنړه چه شکر په داحال کړے

د انصاف په سترګو بنه نندارهٔ وکړه
جهان څو کښلے څهرے هسے پائمال کړے

ډیرے خونے د هجران په لمبو وسوے
مالیدے چه تجلّے ئے په وصال کړے

د بهار ګلزاره بنهٔ ئے خوئ دِ بد دے
چه را تلنه یو خو ورځے په درست کال کړے

ترقدرت به دِ خا ریږم ذوالجلاله
رنګا رنګ ګلونه بنهٔ هسے نهال کړے

د بلبل دپاره تل وے په چمن کښے
د پسرلی ګله تهٔ ولے دم درحال کړے

کهٔ دِ سترګے د عرفان شته مبارک شه
د ګلزار په نندارهٔ چه استقلال کړے

ګل ته هسے رنګ و بو ورکړے چا دے
د لاله د ګل چا هسے پاڼے لال کړے

چه ګلونه همیشه د چمن ګوری
لکه خضر دومره عمر د خوشحال کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که په زغرو په چپو کړے نیزے څوړے — چه نیکی درځخه نشته واړه کوړے
د هرچا سره خو ډه ژبه باندې ده — په خوږه ژبه مارهم وُوځی له سُوړے
دا ړو دوړو سره فوځ د سورونډ وی — په جهان کښے لږے نه دی تشے دُوړے

یا وه ګوئے دراز زبان مه شه که ګوړے
بیهوده خبرے مه کړه پوچے بوړے

لکه خدائے چه د یار حُسن بے نظیر کړ — هسے ما د زړه په سر باندِ تصویر کړ
د مجنون غوندِ په درد د عاشقئ کښے — په خپل حال م همکئ خلق خبیر کړ
ما وے ګوندِ تفحّص وکا پخلا شی — تر پرونه نه ئے نن مانړے کبیر کړ
ښائسته د قند هار د چا په یاد دی — په دا حسن ئے بنده واړه کشمیر کړ
داځه حُسن څه جمال څه ئے اقبال دے — چه شاهانوئے په د رکښے ځان فقیر کړ
زما پخپله هغه مخ لره ولاړ نه شو — د زلفینوئے هر تار ورته زنځیر کړ

نه ګناه نه ئے خطا نه نیت ئے نوردے
نر ناحقه ئے خوشحال په زړه دلګیر کړ

لکه قلپ مهر په لاس باندِ برینبنا کړے — چه د اور په تاو کښے پریوزے ځان رسوا کړے
هیڅ څما په زړه کښے ستا آشنائی نه وه — کوے چارے لره خدائے څما آشنا کړے
که د پیرید راسره کړے په ښه ئے نیسم — خپلے مینے راته ستا ترخ حلوا کړے
چه په تا باندِ مئین شوم حال م ګوره — مګر خدائے څما خوارئ لره پیدا کړے
که وعده د دلیدو په ما سخته وی — په بورجل باندِ د ناست په ما صبا کړے
که د ما په دوکان ناست ئے کالی ګوره — په زرسل ځایه په څوځایه سودا کړے
په داخوئ د اور څما په ګوګل بل کړ — زه د شمعے غوندِ ژاړم ته خندا کړے

چه وفا د د خوشحال سره اونه کړه
راته وایه اوس به چا سره وفا کړے

مخ ئے فکر د نسرین راځخه یووړ — خط و خال ئے مشک چین راځخه یووړ
د ترسا زلفے زنار شوے را ترغاړه — شکر شکرچه ئے دین راځخه یووړ
بے د یار د شونډو تل چه یادوم ئے — مینے نور ذکر تلقین راځخه یووړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

درسته شپه ژړا نارے آه وفریاد کړم
بیائے خوب په څه آئین راځمه یوور

دواړه سترګے ئے شاهین شهپرنے زلفے
ځما زړهٔ کوتر شاهین راځمه یوور

په راتلهٔ ئے درست آرام رالړه راوړ
اوپه تلهٔ ئے درست تسکین راځمه یوور

دچمن کلونه کوزګوری دا وائی
چه دلبرے هر تحسین راځمه یوور

چه م زړهٔ وړی ماوے پاسه په آسمان ده
ولے تُرکے په زمین راځمه یوور

زړهٔ هالهٔ د عافیت ناوی قبول کړم
چه هوس ئے په کابین راځمه یوور

تل اوبهٔ په نری تار باندِ ماتیږی
عقل هوش ئے نخستین راځمه یوور

هغه ورځ م زړهٔ له خپله ځانه مورشو
چه له لاسه دل سنګین راځمه یوور

چه دُعا ځما د صبر کا وګړی
عشق دَدے دُعا آمین راځمه یوور

ماوے زړهٔ به ئے لا فکر د علاج کړم
ولے خوار عاشق زړهٔ خوږین راځمه یوور

ما دَ کښلیو نندارهٔ کړه زاهد ننګ کړ
بسه ده داچه خدائے دے هم دماپه رنګ کړ

هغه وخت چه را په یادشی پیرخوشحال شم
چه به ما درته دُعا کړه تا به جنګ کړ

دمازړهٔ ئے په قلاب د زلفو یوور
ورسره ئے اودهٔ کړے په پالنګ کړ

کهٔ ژوندے نهٔ شی له مرګه عمرئے شوم دے
چه په خاک ئے د پائلو باندِ شرنګ کړ

کښلے مخ م چه څراغ هسے بلیږی
خوار عاشق ئے په داځراغ باندِ پتنګ کړ

ملنګان ئے د دربار درویزه مومی
ماهم څکه ځان د یار د ورملنګ کړ

تهٔ دځایه هسے نهٔ وے داځهٔ حال دے
چه په ماباندِ زړهٔ دا هسے سنګ کړ

مالیدلے دی په دا سترګو پوهړے
لکه نخښے د هرچا غشی ته لږے

په زړهٔ څو ځایه وړ توپیرنے روغ
په خولهٔ نر ناحق وهرچا وتهزیږے

په خندا خندائے ښکے ځی ترسترګو
لکه چرګه د مستئی وهے ککړے

په صبا بیګاه ئے فکر نورځهٔ نهٔ وی
تل ذکر د وی دلپږے

هیڅ له خپله خویه نهٔ اوړی په عمر
که ئے درے په تندی کړے درے وړے

همیشه سترګے نیولے وخپل ښکار ته
وغوټے وته وار ساز لکه لکړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ژغ ئے ولاړ په درست جهان د بدکارئ سُور بیرغ د چتکی پورے په لکړے
په چووه په عطر غرقه سرتر پایه د اجمیر په فلیل دواړه زلفے غوړے
د محل دننه ناستے زر بفت پوښے چوهړی ته وُوځئ پریوزی په غوشیړے
کهٔ ئے پلار نیکهٔ له ځایه بادشاهان وی نهٔ د پلار نهٔ د نیکهٔ په شرم اړے

مړهند و غُندِ په سر ولمبو کښے وسوے
چه ئے وُلیدے خوشحال د اور لوخړے

وے م کهٔ زهٔ درشم ستا ترځایه خولهٔ به راکړے
وے ئے سکه هزار سره لرے چه داوینا کړے

وے م چه په مخ د تورے زلفے تور نبامار دے
وے ئے تروسکه څهٔ لره بنامار و ته ویسا کړے

وے م چه په کوم توکی به تا و ته نزدے شم
وے ئے چه کهٔ سرله تنه بے تیغه جدا کړے

وے م چه په تا پسے هرکوړه لیونے یم
وے ئے چه په دا عقل به لاصورت رسوا کړے

وے م چه ما تاسره خندا په یوهٔ وخت کړه
وے ئے هغه څوک ووچه ئے تاسره خندا کړے

وے م چه هرکوړه کبریا شوے خدائے د وینی
وے ئے چه کهٔ کبر کړم ستا څهٔ دی چه غوغا کړے

وے م چه د سپینے زیبا خولے عاشق د زهٔ یم
وے ئے چه خدائے څهٔ دا عاشقئ هم ویړیا کړے

وے م چه له نتے د چارګل په پوزه زیب کا
وے ئے دا خبرے کړه هالهٔ کهٔ چا په تا کړے

وے م کهٔ زهٔ ستا په کوئے ومرم ستا رضا ده
وے ئے کشکے خلاص له درد سره سپی ځما کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وے م چه په څورنګه خوشحال په تامنین دے
وے ئے دختګ سړی د مینے څۀ ثنا کړے

بر بر راشه نوروزه دل افروزه
ستا په وخت ستړګے د باغ ګلونه ګوری
غوږ لاهم ستاله طفیله خط حاصل کا
په وصال د معشوقے عاشق فیروز شی
خپل غوږ ونه ورته څک کړه ګوندِ واوړے
د نوروزله فیضه بوتے خالی نۀ دی
کۀ همه عمر د باغ ګلونه ګورم
د بهار هوا هر ګوره بنه هوا ده

ستا په وخت م آسوده شی ستړګے پوزه
پوزه هم کا ندِ د بوئ خوبنی اندوزه
معنی شی عندلیب په څوخو سوزه
د ګلزار په وخت بلبله وی فیروزه
راز د مینے د بلبلو له للوزه
فیض ئے رسی هم ترسپانده هم ترځوزه
څما خوا به پرے سړه نۀ شی هنوزه
کۀ آفت ورپسے تۀ نۀ وے تموزه

په راتلۀ ورلره پیره خوبنی راوړے
په خوشحال باندِ د قدر دے نوروزه

پر د قاز شته پرد باز
لکه ستړګے لیدۀ هومره
لکه قدجامه هم هومره
د دانش کشیده بویه
بیړئ ګرځی په بیله کښے
سګ لاهو غوندِ خونۀ دے

لکه پر هسے پرواز
لکه حلق هسے آواز
لکه حسن هومره ناز
نۀ د سرو زرو دراز
په قلزم ګرځی جهاز
مڑک کۀ هر څو وی اوباز

په دا پرانګ نۀ شو خوشحاله
کۀ پرانګ پیش دے پرانګ ته ساز

چه داهسے په پالنګ راغله نوخیزه
عقل و عشق چه سره دواړه په دعوی شی
هم پخپله جنګ آغاز کا جنګیالئ
په بازئ بازئ وژلے ګټل نۀ شی
زۀ د کښلیو په دا کار پورے حیران یم

الوداع ده د خوشحال ختګ پرهیزه
بل مجال د عقل نشته بے ګریزه
هم پخپله صلح کا ندِ صلح آمیزه
په خندا خندا خونونه کا خونریزه
چه له چا نه زده کوی هومره مکیزه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ له دله ئے شلوم شلوله نهٔ شی د دلبرو یاری خوده دل آویزه
غوڅول ئے هسے نهٔ دی چه څهٔ پریږدی ترالماس ئے د غمزے توره ده تیزه
قند وکل سره دا هومره لذت نهٔ کا چه خولهٔ ورکا د زورل سره آمیزه
د معشوقے نوم عاشق په جهان خور کا د شیرینے بازار تیزدے له پرویزه
کهٔ م بے له تا نه بله یارے وکړه راته کوره راڅکوم حدیث په پیزه

په کا ته کا ته زړهٔ لادرته تاؤ تاؤ شی
د لرگی لښتے په غابن کړے ریز مریزه

چه ئے سوزنهٔ وی له سازه یا ئے سر له سرو نازه
د ژوندون راحت ئے کوم دے راته ووایه همرازه
غم م وارهٔ تار په تار شی د هر تار له بنهٔ آوازه
ځما لاس له کاره ووځی چه په کار کښے شے شهبازه
په هرڅا ئے چه بنائسته وی ترے سلام م دے له نیازه

چه د کښلیو نندارهٔ کړم
ورته پاتے شم خولهٔ وازه

چه هر یار ته م ترخولهٔ ویوست آواز زر په وارهٔ عالم خور شو هغه راز
کهٔ د زړهٔ دے چه رسوا په هیڅانهٔ شے د قلوب دننه بنهٔ دے ساز نا ساز
کهٔ آواز د زرکونهٔ وے په درو کښے چا به چیرے ورپسے کړ ځاوهٔ باز
چه نارے کا تورتا رو په مرغزار کښے باز ځړه ئے بنړے یوسی د طراز
چه ځما ترخولهٔ ونهٔ ووت چا ونهٔ دے خپل نفس دے په سړی باندِ غماز
په صبا به هغه راز په کلی خور وو چه په شپه به ما وځوئ ته وے په ناز
د یارانِ م ترسر تیردی ځوان دوم زور شوم په زرکو نو کښے پیدا نهٔ شو دماز

په خپل زړهٔ کښے ځگر خون کوه خوشحاله
خپل پردی ته د زړهٔ راز مهٔ کړه آغاز

کهٔ هر څو دی پښتنے جونه طنازے دا د هند سکنړے هم نهٔ وی بے نیازے
نهٔ ئے جنگ نهٔ ئے مانړے نهٔ ئے هوډونه څړه مهړے څړه مینے څړه نازے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خویوه ذره پره ناسازه دی کا
په ماتړے کښے نۀ دعوے کاندِ آغازے

په خدمت کښے ترصباحه لکه شمع
په یوۀ قدم ولاړے ځان گدازے

په غمزو په کرشمو په مسکیزو نو
فرح بخښے غم تراشے دلنوازے

په اَدب په ظرافت په رموز پوهے
د صحبت په علم څورنگه ممتازے

کۀ هزار جور وجفا وینی له تا نه
بیاله تاسره خندا کا په خولۀ وازے

نوی نوی شیوے کا درته جوړیږی
په څورنگه جلوه کا جلوه طرازے

د بنړو سُوکے ئے نیغے څۀ تر زړو نو
چه تیرۀ تیرۀ کاتۀ کا لکه بازے

په جیوجیو درته پستے خبرے وائی
هر زمان له تا په څورنگه همرازے

عجب سرے په پانو شونډے درته خاندی
مینځ غابن په مسی تور عشوه پردازے

غټ غټ تی لکه آنار په ملا نړۀ
سرتر پایه د اُومو ریښمو سازے

د صورت په لطافت بے مثله روغے
په قامت ترسرو وُنے سرفرازے

خرخشے ئے د خوشحال له دله نۀ څۀ
کۀ جُدا دی دماغی باریک مجازے

لکه غشی لره بویه تیر انداز
هسے شعرلره بویه سحر ساز

همیشه د زړۀ په لاس تله د وزن
زیات وکم د وزن یو تورے غماز

په توراَس د حقیقت ناوے سوره کا
په سپین مخ پَلوْ نیولے د مجاز

تل جلوے سل کرشمے سل مکیزونه
په نظر کښے ئے بنکاره د ستړکو ناز

د صنعت زیور په څورنگه پریوزی
د تشبیه چند نړ چووه باندِ طراز

د تجنیس پایلے څوړی ئے په پښو کړی
د ترصیع امیل په غاړه اُوږد دراز

د مضمون د نزاکت غمزه ورځنه
سرتر پایه درست صورت سره یوراز

کۀ په نظم کښے کارگۀ اوتپوس راوړے
هم د زړونو په بنکارگړۀ لکه باز

چه یوه وینائے وکړه هوښیار هغه
عاقلان به ویل کاندی په ایجاز

د پښتو ژبے ئے ډیره خوبی ورکړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

په خاطر باندِ م نۀ وے پروتے لږے
څو خاطر م لټوے هومره م کږے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په بل رنګ مې به زړګے باندِ سوړنشی — رقیبان شود نوکونو ترمینځ سپرے
وهر چا وته چه وګورم فریاد کا — یوزړهٔ نهٔ یم دَجهان دی سینے خورے
دا دوه توکه وهوښیار وته یوراز دے — دَنامرد سړی بر بیتونه برابت دَمیرے
په جهان به هیڅوک نهٔ وی چه آزاد وی — څنے عشق اندوه بنده کړهٔ څنے لورے
چه احمق سره یاری کړے خبردار شه — یوه ورځ به په تا وکا کار دَ یرے
چه بے علمه تصوّف وائی باور کړه — دامِ واړه بوس دانے سره اغیرے
هیڅ مذکور ورسره نهٔ بویه نهٔ بنهٔ دے — په نادان دَدانش خبرے زورے

چه دِ لاس په کیدو نهٔ رسی خوشحاله
ومزریو وته څهٔ لاسونه مرے

تهٔ چه ستړے تورَوے خودبه پوهیرے — لونګین چه شوروے خودبه پوهیرے
سرتوپایه جامے واغوندے کلکونے — ځان چه هسے جوړوے خودبه پوهیرے
تورسنبل دَباد ومخ وَته ولاړے — چه په کل ئے خوروے خودبه پوهیرے
په ورځ سل ځله آشتی کړے هم جنګونه — هردم خوئی چه نورَ وے خودبه پوهیرے
هم په لاس دَمیو جام راکړے چه نوش کړه — بیامِ جام نسکوروے خودبه پوهیرے
خپله څهٔ دَدرست جهان فتنے نازونه — چه عاشق ته پورَوے خودبه پوهیرے

مګر لږ دی دَخوشحال دَزړهٔ غمونه
باندِ نور تهنډ ورَوے خودبه پوهیرے

چه ژوندی وی غم دِ نهٔ کاندی دَلوړے — شنهٔ طوطی لره شکرے نهٔ دی لږے
په شکرو په نباتوئ سود نهٔ شی — چه په چا شوے ستا دَخولے خبرے زورے
په لحظه لحظه دِ وینم قهر مِهر — ستا په لبو به لباب شم په داخوښ یم
ستا په لبو به لباب شم په داخوښ یم — په ځائی خصلت داهسے خورے خورے
داچه اوس درته حاضر دی بنهٔ ئے کوره — کهٔ هرځوم دَاوړو غوندِ اغیرے
عقل وهوش ئے وسړی وته پیدا کړ — په هجران به ئے آخر لاسونه مرے

دا بے درد کهٔ په ظاهر سړے لیدهٔ شی
خوشحال ته مړ میرے دی ماشی سپرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

درسته شپه دِ په کوڅه کښے مرم له سوزه
لاس مِ مات شه که دِ ننۀ کړم روږ بوږه

تۀ به څوبے غمه خاندے خوشحالی کړے
ځما غاړه په ژړا درپسے بوږه

ستا خوئ دَ زلفو کار سره یو رنګ دے
سر هوا لوئی دا هومره سمه کوږه

حال دِ واړه وار په وار راته معلوم شۀ
ټکه یاره په زړۀ تریخه په خولۀ خوږه

ځما یار چه میخوری کا په بدل ئے
ولے مالره راځه دَ دردو روږه

پکښے زړۀ دَ خوارخوشحال دے چه خوږ نشی
په مے رو رو دَ شهئ زلفے نموږه

اے په خپل ګمان کښے بروسه
له اصلی کاره مایوسه

دانه نۀ ئے چه دِ مغز وی
بے دانے حبطه بُوسه

وخپل عیب وته پوند شوے
دَ پردی عیب جاسُوسه

چه پیدا ئے خوشبوئی شوه
اګربنۀ شو تر آ بنُوسه

دَ طوطی برابر نۀ ئے
که نګار لرے طاؤسه

که غوټه کړے په چرګو پیو
په دا باز نۀ شوے تپُوسه

لعل و دُر پرے حبطه دی
چه رنګ نۀ لری عرُوسه

راشه مخ په آئینه کړه
چه چهره شی درمعکُوسه

دَ خوشحال خټک توبه ده
ستاله رزقه له سالوسه

په رموز دَ عاشقانو عاشقان پوهیږی بس
په طلب دَ طالبانو طالبان پوهیږی بس

په ضمیر دَ نخلبندو نخلبند سړے خبر وی
په تصویر دَ نقاشانو نقاشان پوهیږی بس

چه کشتئ پکښے بیائی په عظیم دریاب کډیږی
په بیلو دَ کشتئ ملاحان پوهیږی بس

چه کردش ئے ورځ وشپه کا دَ کامل انسان دیاره
په اسرارئے کاملان یا دا آسمان پوهیږی بس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سپینے زیرے وته بویه چه نظر په خپل قوت کا
اوهوس د شوخے شنکے په داخوان پوهیږی بس
نادانان د ملک څښتن کا دانا هسے ورته کوری
دغه پوهه د چا نهٔ ده پرے سبحان پوهیږی بس

چه خوشحال ئے په بیاض کښے دا تازه تازه خبرے
نو په دا تازه خبرو سخندان پوهیږی بس

په هرلوری دے فغان د مرګ له لاسه — په هرلور په هرمکان د مرګ له لاسه
د آدم صورت ئے مرګ لره پیدا کړ — خرابی شوه په جهان د مرګ له لاسه
همګی پیغمبران که اولیاء وو — دوئی په مزکه شو نهان د مرګ له لاسه
عاقبت به شی بے شکه بے ګمانه — دا ودان کورونه وران د مرګ له لاسه
راشه ته هم د تو بنے په سرانجام شه — کاروانونه شوروان د مرګ له لاسه

اے خوشحاله که په تن شاه جهان شے
هم به دروے په ارمان د مرګ له لاسه

په درست کلی کښے م یار دے هغه کس — چه په درست تومن اوخار دے هغه کس
که په شکل شمائل سړے لیدهٔ شی — سر تر پایه پری وار دے هغه کس
څکه زهٔ وربانډ هسے عندلیب یم — چه په حسن یو ګلزار دے هغه کس
که هرخو راته کنځل کا یا قهر یږی — په خولهٔ واړه شکر بار دے هغه کس
که ئے زلفے که کاکل که ئے ګیسو دے — همګی مشک تاتار دے هغه کس
چیرے نه چه په ټولی کښے ئے غلط کړے — هوسئ ستړے ګلرخسار دے هغه کس
د جانفل په څاڼے به سرورته پیشکش کړم — که په سرم مینه دار دے هغه کس
چه زهٔ خولهٔ ورځنے غواړم نور کنځل کا — بے حسابه ستمکار دے هغه کس
زرکے څهٔ لره په خپل رفتار غره ئے — لا ترتانه خوش رفتار دے هغه کس

چه صورت سیرت ئے دواړه سره جوړ دی
د خوشحال د زړهٔ پکار دے هغه کس

په لحد کښے به هوانهٔ وی هوس — درسره به خپل عمل درومی نور بس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے طوطی نه قفس هیڅ نه دے باور کړه
روح په مثل د طوطی دے تن قفس

فهم وکړه چه ضائع درڅخه نه شی
لکه دُرِّ بے بها دے دا نفس

چه دا دُرِّ بے بها هسے تلف کا
د څارویو په شمار دے هغه کس

د خانانو په خاکونو گذر وکړه
زرغونے په خاکونو خاورو خس

هرچه شوی نه بدلیږی دا په څه کړے
هومره ډیرے اندیښنے هومره وسوس

په نصیب به له جهانه یوکفن وړے
هغه هم اته یا نه گزه یا لس

دا به واړه له تا پاتو شی اے جانه
که ښے جونه که اسونه که اطلس

تیاریږه وخت د کوچ راغے خوشحاله
په هر لوری نارے آورے د جرس

تهٔ څهٔ زړهٔ لرے څهٔ لاس
واړه گنج ئے کوز و پاس

گاه د مزکے طراحی کړے
گاه په عرش کښیږدے اساس

لکه ډک شے هسے تش شے
د شناخ دے ستا آماس

لکه پوندے وَ اور ته
واوبو وَ ته قرطاس

هم گوهرے هم شبه ئے
هم کُتنی ئے هم کرباس

هم ملکے هم ملِک ئے
هم خنزیرے هم خناس

په افلاس کښے دِ دولت دے
په دولت کښے دِ افلاس

تهٔ له دیوه په هراس ئے
دے له تا نه په هراس

نهٔ اطلس دے نه زربفت دے
لاڅهٔ ښهٔ دے ستا لباس

واړه ښهٔ وائے خوشحاله
وایه هیڅ نشته وسواس

چه ئے غم لرے د مخ هم د وصال بس
اندیښنه ئے د جمال د خط وخال بس

بادشاهان دِ زرزری جامے اغوندی
د قانع گدا په شاباندِ یوشال بس

په بهاند و اوبو کښینه نندارهٔ کړه
د جهان د تیریدلو دا مثال بس

خویوه گیډه خواړهٔ دوه درے خرڅوری
که دا نانے په جهان کښے دا جنجال بس

وحریص وَته درست مال د دُنیا لږ دے
وقانع ته یو فلوس د دُنیا مال بس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زاهد ستر کے ترے پوښې زهٔ کښلی کورم — کهٔ جنت لره م بیائی دا وبال بس
کهٔ لائق ئے د جمال د لیدونهٔ یم — کهٔ ئے بیا مومم وصال په خواب خیال بس
دواړه کونه د هغو چه ئے طلب کا
ستا د ستر کو نندارهٔ د خوار خوشحال بس

خدایه کهٔ زهٔ تا ته نزدے کیږم په افلاس
زړم کند په غاړه کړه یومات کچکول په لاس
ته کهٔ په داخوښ ئے چه خاوند د ملک و مال و م
مال و ملک م هومره کړے چه تیروی تر قیاس
هسے مال رامهٔ کړه چه ئے خائے وی تر زهٔ کښته
هسے اموال راکړه چه ئے خائے د زهٔ د پاس
لاس م همیش برلره په واړو غلیمانو
دوه م غلیمان دی یوم نفس بل م خناس
طمع کهٔ حسد وی کهٔ حرص کهٔ بد خویو نه
واړه له ما پریکړه د خپل فضل په الماس
توان د طاعت راکړه چه اخلاص ورسړه مل وی
نهٔ هغه طاعت چه شی په رسم په لباس
یا بار کریمه د خوشحال خټک دا خواست دے
تل د دهٔ په زهٔ کښے لرے ټینګ د دین اساس

داځمازړے په خپل زړه کوتی نسه — چه د زهٔ دے ځما زهٔ هم هسے کسه
داد ورکیو خوئ د خهٔ وینو په لاس کښے — چه زر زر خهٔ ورکوے بیائے رانسه
زهٔ به هیڅکله د تاله ورهٔ وانهٔ وړم — کهٔ هرڅو وائے چه مه راخه ناغسه
کهٔ هرڅو د شندی کا خهٔ بنهٔ لیدهٔ شی — رُخ ئے نهٔ دے چه سیالی کا له نړکسه
چه ئے تل وغوا و غیلوته سوړے دی — خدائے د واخله د بے دردو مجالسه
هردم دارنے په خپل کا رکښے د خوښ کړے — کهٔ سړے دے کهٔ پیړے کهٔ کوس و غسه
چه یوهم د زهٔ ساتونے پکښے نشته — توبه توبه د ختکو له اولسه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ خوشحال چه په مزریو باندِ تیخ کړم
تا نه څهٔ رنګه کیدِ رشوم تر ورِم کس

زهٔ هغه سړے یم چه قلم واخلم په لاس
ناظرِم عطارد دے چه به څهٔ کښی په قرطاس
نائب دے د تقدیر د ما تدبیر په مصلحت کښے
صائب دے ځما فکر د هرامر په اساس
د تورو په میدان کښے چه سودا وی د سر و نو
هغه زمان مِ کوره تل به سوروی د ما آس
حاسدِم لکه کانړے د صحرا په هیڅ حساب کے
په قدر په قیمت کښے یا یاقوت یم یا الماس
کهٔ حالِم د قضا په حکم هسے محول وی
قمر و ته نظر کړه کله بدر کله کاس
ظاهر لکه شهباز یم کهٔ وما وته نظر کړے
باطن لکه خورشید یم هیڅ مِ مهٔ غولاړے په قیاس
کهٔ لاڅے د کوزیٔ د هسکئ وهم باور کړه
تر تورو خاورو کوزیم تر آسمانه یم لا پاس
وئیل کوے وچا نه چه د ما وئیل سرهٔ زردی
ږندو وَ ته خوشحاله لکه زرهسے رصاص

زهٔ هم چیرے فرزانه وُم فرزانه یم لا تر اوسه
تل بیخوده دیوانه وُم دیوانه یم لا تر اوسه
جدائی نشته وصال د ځنے بُعد هم خیال دے
له هغهٔ چه همخانه وُم همخانه یم لا تر اوسه
چه راغلے په جهان یم خبر شوے په خپل ځان یم
د رازونو خزانه وُم خزانه یم لا تر اوسه
په عالم ځما خبرے خلق کا په نزدے لرے
په وګړی افسانه وُم افسانه یم لا تر اوسه
چه د مخ پلوئے واشو، یو مشال و وچه نماشو
هغه دم پرے پروانه وُم پروانه یم لا تر اوسه
ناوکی ئے د مژګان دی چه بلا د ما د ځان دی
ورته عمر نشانه وم نشانه یم لا تر اوسه
چه ئے ځان سره آشنا کړم له هرچا ئے شاپه شاکړم
له عالمه بیګانه وُم بیګانه یم لا تر اوسه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه بحر چه محیط دے په افراط اوپه تفریط دے
دغه بحر دُردانه وُم دُردانه یم لاتر اوسه
هغه شان له خپله یاره بے وکیله بے ریبا ره
زهٔ خوشحال چه یکانه وُم یکانه یم لا تر اوسه

سړے بنهٔ دے حق شناس سړدِ وخوری ناسپاس
دَ یوے دانے اوربشے احسان پیر دے ترقیاس
چه احسان وتړے شاشوه مخ ئے تورشه نهٔ دے ناس
څو اخلاص ورسره نهٔ وی یاری نهٔ شی په لباس
یارئے مهٔ کنړه اغیار دے چه تهٔ پریوزے درکا لاس
تل خالی وی له خلله دَ رښتیا مینے .اساس
کهٔ دِ یاردے هغه یار دے چه خپلوی ئے بے وسواس
چه وفا دی دادرے توکهٔ تُوره ، بنځه دریم آس
دَخوشحال خبرے دُر دی
چه ئے کښلی په قرطاس

کهٔ اغزی وی ستا تر لاسه تر کلونو دی د یاسه
دَ زړکوټی سر م تهٔ ئے کهٔ یاران لرم بے قیاسه
چه به بل ترتا راتیر کړم داوائے دَ زړه وُباسه
کهٔ دَ نوروسره خاندم جهان نهٔ دے بے لباسه
له مانړیه به دِ وُمرم څهٔ خومخ را وجارباسه
کهٔ څوک تاغوندِ بنکاریږی څلویښت بیل دے ترامامه
ترهغهٔ به نادان څوک وی چه خربنهٔ کنړی تر آسه
دَ اغیارو سره خاندہ
په خوشحال تندر پریباسه

کله باز کا ومردارے ته هوس دغه کا ردے دَ کلاغ و دَ کرکس
وگفتار وَته ئے مهٔ غږوه ستړکے په کرده په عمل کوره کس ناکس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ئے سرپه لکئی اړوے هغه دے په هیڅ رنګ به نورځهٔ نشی سګ مکس
په ظاهر شماره کهٔ لس سره دوه پنځ دی دا بجد په حساب نوی وګنړه لس
دوه سړی په باغ کښے ګډ شی یو ګل ګوری دویم ګرځی په طلب د خار و خس
زهٔ دائم په بیلتانهٔ کښے له هغو یم چه د یار بے یاد و نهٔ وی یو نفس
کهٔ هر څوبنائسته روغ د څوک ئے څهٔ کا د طوطی له مخه بنهٔ یشی قفس

خوار خوشحال به خنے څوشړے په جور
کهٔ سړے شونډے د شکردی دے مکس

کهٔ مردی د په دستار ده په منډ سه سکه مردی د مبارک بر یتونه پوسه
کشکے زهٔ د نامردانو په شماره وے چه فارغ وے له ارمانه له افسوسه
د لوهړ ګلونه بنهٔ دی تر نلګوسه ولے بیا چیرے لوهړ چیرے نلګوسه
چه ظاهر باطن ئے دواړه حبطه وی منافق سړے بتر ګنړه تر کوسه
په دروغ په ناراستئ کښے دیر غم دے د رښتیا روزګار کوه بے غمه اوسه
چه به هر کله جفا کړے وفا هم کړه د اغزیو سره ګل لری پلوسه

په جهان کښے بد خوئ واړه دوزخ دے
د خوشحال له دله خوئ د بد و یوسه

کهٔ د مور نفس کښے څهٔ وے لکه وے هسے به اوسے
چه په څهٔ د د زړهٔ مینه هم هغه مینه به یوسے

لاس د زړهٔ د پاسه کښیږده چه څهٔ حال در ته معلوم شی
څهٔ تسپے په لاس کښے نمورے څهٔ په ږمنځے بیړه پوسے

کهٔ د باغ دی کهٔ د راغ دی په سلګونو دی دا وُنے
څوک سپیدار دی څوک چنار دی څوک پلو دی څوک پلوسے

اینځر نهٔ لری ګلونه میوه سپینه لری توره
دا انګور ژنګوری ګوره میوه ګل لری نلګوسے

دا جهان پتے پتے دے جنس د جنس سره خوښی کا
مار له مار ه یوز له یوزه خرس له خرسه کوس له کوسے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ عصمت فتوت ئے نهٔ وی واړه وسیزه په اورکښے
چه په خیال په هوا کړئ زیړ پړونے سرغنډ وسے

الحذر د عشق له اوره کهٔ د لاس رسی زړهٔ ژغوره
د دلبرو مینه اوږده اے خوشحاله زړهٔ کړه بوسے

په طلب کښے د سستی وینم درویشه
چه وتلے ئے د دے خونے له ویشه

نعمتونه رنګارنګ دی په هر لوری
په غوښتو نی باندِ نهٔ ده جفا پیشه

څوطلب هومره موندل دی په دادور
بلکه لا تر طلب بخره مومے بیشه

د عسلو خوارهٔ کله هغه مومے
چه حذر کا د مچئ له بده نیشه

لا د وخته د طبیب طلب باندهٔ دے
څولا پائے په دُنیا د زړهٔ له ریشه

په هیڅ دین کښے ما وفا لیدلے نهٔ ده
خبردار یم د هرچا له دین وکیشه

په هرغشی چه زخمی شوم بیا م وکوت
هغه غشے وو په تن ځما له کیشه

هیڅ پروا اند وه د بل د بدونهٔ کړم
خو د پا نهٔ سی بلا له ځانه خویشه

په پیغام د بوسے سود نهٔ شی خوشحاله
چه ځما په خولهٔ مئین ئے را نږدے شه

تورانی خو د جنجال دی د پرخاش
دروغژن سوګند خوارهٔ بهتان تراش

ایرانی د آشنایئ د وفا دی
د خلقت د مروت دی د معاش

پُښتانهٔ د بد نیتئ د خصومت دی
په حیا په شجاعت ئے وکړه شاش

کهٔ بلوڅ کهٔ هزاره واړه چرکین دی
نهٔ ئے دین نهٔ ئے مذهب سترئے فاش

کهٔ هندی دی کهٔ سندی د مخ ئے تورشه
نهٔ حیا نهٔ ئے وفا نهٔ نان و آش

کشمیری کهٔ ترکهٔ بنګښ واړه هیڅ دی
د مړدئ ورځنه نشته هیڅ تماش

د آدم له نسله نهٔ دی ګوره څهٔ دی
دواړه ورک شه یواوزبک بل قزلباش

لغمانی بنګښ سواتی تیراهی واړه
موټ متړلو بیا چنړه دی مهے ماش

هر احوال ورته بسکاره دے د وګړی
د خوشحال ختک په پوهه کړه شاباش

څهٔ غم د نعمتونو چه اختر راغے درویشه
په طمع په اُمید اوسه د هرغنی له ویشه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوګل م په دا باغ کښے ناکهان په نظر کښیوت — عجبئے خوشبوئی وه ترهمه ګلونو بیشه
چه ما وکړه پوښتنه دغه ګل له حقیقته — دۀ ګړے تحمل وو د هر یو اغزی له نیشه
نا فے چه له اوله خپل ځکر وکړ سړے وینے — له روستے نے روانه خوشبوئی شوله ریشه
په خو به د ویشتلیو له احواله نه خبر یږے — چه هیڅکله د نۀ ده چیرے پښه په اغزی ریشه

له دوه اویا مذهب سره به سازوکړے له دله
خوشحاله کۀ خبر شے په تحقیق د عشق له کیشه

دلربا پسره راشه — اے ځما بشره راشه
چه د بنهر بنائسته دی — ترهر چا بهتره راشه
سرتر پایه واړه نازے — ځما ناز پرورده راشه
په خوږو خبرو شهده — په خندا شکره راشه
چه د نۀ وینم هیڅ عیب — تمامی هنره راشه
توره شپه د تورے زلفے — په بنۀ مخ سحره راشه
د سما قمر به څو کړم — د غبرا قمره راشه
د راتلو لارے د کورم — اے ځما دلبره راشه
څۀ به وایم چه بے تامرم — اے په زړۀ خبره راشه
چه په څو ترو تازه ئے — د چندنړ شجره راشه

چه د نۀ وینی نور روند شی
د خوشحال بصره راشه

کۀ ئے غواړم نۀ ئے مومم هسے تاغوند مهوشه
خنده رویه سنبل مویه ګلعذاره پیاله کشه

سمن بره قد عرعره موکمره لب شکره
آهو چشمه څړه خشمه مهر ژنه منقشه

دلنوازه سرفرازه چشم بازه عشوه سازه
تیز نظره غمزه ګره په دوو زلفو مشوشه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سربلنده خود پسنده خودنمایه دلربایه
د عاشق د ځان بلا په رنګ زیبا په خوئ آتشه

طربناکه تل بې باکه ګریوان چاکه تش تپاکه
زړهٔ ئے سخت لکه آهن په مخ یوه آئینه بې غشه

د زلفینو سرئے تاؤ لکه نخوش د ماهی ګیر شو
کله وی چه خوشحال خلاص شی له دغسے رنګ نخوشه

دا بنائست چه ئے په تا باندې کښیښ د زړهٔ داغ به ئے په ما باندې کښیښ
کهٔ جمال ئے ویوسف نهٔ وے ورکړے چا به غم په زلیخا باندې کښیښ
مګر کل په اشارت کښے ورته وے چه بلبل تهتر په ما باندې کښیښ
کهٔ د زلفو مارئے وخوری عاشق کرم دے چه ئے لاس په اژدها باندې کښیښ
زهٔ کهٔ ستا په لږشو بوباندې پروت نهٔ وے د سپی نوم به دې په چا باندې کښیښ

کهٔ هرخو به دې شارهٔ د خپله دره
خوار خوشحال به قدم لا باندې کښیښ

نشته هسے مینه د یارانو خاص الخاصه چه یوځله ځار یې پرې جهان کښے له اخلاصه
یو راز دے په داکار کښے کهٔ تهٔ بنهٔ فهم پرے وکړے چه شمع سرجنبانه پروانه ورته رقاصه
له مرګه م خهٔ غم کړے چه د عیش په شریعت کښے قاتل په شرع خلاص دے له دیته له قصاصه
کهٔ لاس م رقیبان په تیږه ټوره سړه پرے کا لمن به دلاهم خمار له لاسه نشی خلاصه
زاهد به په عشرت خمار له برمه نهٔ خبر یږی د عاموخهٔ مجال دے چه خبر یږی له خواصه

چه وګورم وتاته همګی په دُرو پُرئے
خهٔ خیز دے اے خوشحاله له محیطه هم غواصه

له تا به ستا له تیغه عاشق چیرے کا اعراض
د شمع د اور پښتے مینه نهٔ ځی په مقراض

د خپل خاطر احوال به زهٔ خپل یار وته معلوم کړم
بیمار به له طبیبه په خو پټ لری امراض

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تردانه به بل کوم طاعت تهٔ به مومے اے دِ له
چه یو ساعت مِ کښینے د زاهد سره مرتاض
سودائے د چشمانو په ژړا ژړا ابتر شوه
د اوښکو محرومیٔ اوس وو پرینه په بیاض
د یار کوڅه مِ بیا مونده د یار له بویه پُره
هوا به د ګلونو نوره څوکړم د ریاض
خوشحاله مستعد وُسه وفیض وته قابل ئے
وریږی د قابل په زړهٔ تل فیض د فیاض

سپین نمری اغوستی په پښو سرے کونے نو خطه
څهٔ رنګه را درومی لکه تکه سپینه بطه
سل دِ سره کښینی واړه یو تربل بهتر ے
خدائګو کهٔ به زهٔ کړم تا په واړو کښے غلطه
بخت غوندِ نا کاهه ځما خوا رکړه سیده شوه
راغله دِ په قصد ووکهٔ دا راغلے بے نمطه
وایم چه کهٔ واړه زاری زهٔ راوړم خپل کور ته
څوک چه چاته زاړکا د دلبرو له سخطه
راشه سر مِ پریکړه لا به بنهٔ شم په وفا کښے
خود په دا پوهیږے قلم لا بنهٔ شی له قطه
د یر په دریاب کښے شی واړه مټ کا د وتلو
څوک پکښے لاهوشی ځنے وریښی ترشطه
لوړے لنډے نورو زده خوشحال ده غوره کړے
نهٔ لوړه نهٔ لنډه په قد بنه روغه وسطه
هر سړے چه لاس و نیسی غلطه زمانه ورته پیدا کا د یر سخطه
محبت محنت په خط کښے سره یوشی محبت سره جدا شی له نقطه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مۀ یک لخته مړنے شه مۀ غوږے — په دُنیا کښے هره چا ښه ده وسطه
مصلحت ئے په هر قط کښے د خوښئ دے — کاتبان چه قلم نۀ پریږدی بے قطه
د مزری منګل کا وزے غواړی غویرے — د شاهین حمله په زانړے ده په بطه
بے ښۀ مخ به د قدر قیمت نۀ وی — د ښۀ مخ قدر کړه زده له خال وخطه

چه مدد ئے مهتر خضر دے خوشحاله
د هغو بیړئ به ورسی تر شطه

چه د کښلیو په لیدل نۀ وی محفوظ — د سرود په آوریدل نۀ وی محفوظ
چه حاصل ئے د خپل یار نندارہ نۀ وی — په کلزار ئے سوخته دل نۀ وی محفوظ
کۀ شیخان کۀ زاهدان کۀ عابدان دی — په داخپل عمر به تل نۀ وی محفوظ
چه ئے دواړه شوندے کښل کړم پرے محفوظ شم — خوک به هم په مے خوږل نۀ وی محفوظ
کله کله هسے وخت په سړی راشی — چه د کلو په کتل نۀ وی محفوظ

د خوشحال وئیل هُنر دے هغه خر دے
چه به دے په دا وئیل نۀ وی محفوظ

زړۀ م بے له عشقه په بل کار نۀ وی محفوظ
بے له کښلیه مخه په کلزار نۀ وی محفوظ

کله مړنے دے چه د تُورے په میدان کښے
دے د تیرے تورے په پرهار نۀ وی محفوظ

هرچه عاقلان دی په فتوٰی د عقل کار کا
هرچه عاشقان دی په دا کار نۀ وی محفوظ

هرچه بل ئے وُولی بیا دے پرے غشے لک کا
هیڅکله بنکاری په هغه کار نۀ وی محفوظ

خاورے ئے په سر شه حبطه ئے عمر تیر شو
هرچه نن د کښلیو په دیدار نۀ وی محفوظ

عید شو هم بهار شو وصحرا و ته خلق ووت
زار دے د هغۀ چه په خپل یار نۀ وی محفوظ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دور دَ عاشقانو دے کهٔ وُکورے په عشق کښے
پند کهٔ ورته وائی په خپل پلار نهٔ وی محفوظ

هرکله چه راشے ورته وخاندے له ورایه
خوار خوشحال به ولے په بار بار نهٔ وی محفوظ

سخت ساعت دے دَ وداع په آشوب و په صداع
چه یو خُل سره خوک بیل شی بیا په بخت وی اجتماع
عجب هر زمان نیاز کا نوے نو ے اختراع
چه په لږ مانړی وه نزع تړو به خهٔ وی په نزاع
هم مِ وُغلوی بیا وائی نه پوهیږی په خداع
شونډه بوخه په نخوال کا چه مِ وویني اوضاع
دَ بورجل غمژن په رقص د پاڼلو په سماع
چه تړے دَ لید و لارے خهٔ دِ خیر دے مناع
نهٔ ئے یو دیدن خوشحاله
نهٔ دَ درست جهان متاع

خلقے سره یاری کا په دروغ وبه نهٔ وینے دوه زړونه سره روغ
دَ شودو پیو عوض ئے وی په زړهٔ کښے چه سفله وچاته و رکا چیرے دوغ
دَ هغو صحبت کیمیا دے کهٔ ئے مومے چه ئے بیاموے په ناسته کښے فروغ
دَ دے دور یاران وارِه منافق دی په خولهٔ تاسره هوهوکړه په زړهٔ یوغ
په قیامت به ئے په کوم عبادت پټ کا په آزار دَ خپل پدر تړے توغ
نور کا رونه اوس پکار نهٔ دی خوشحاله
یا وچا خهٔ ورکوه یا دَ الچوغ

نشته هسے سرچه به خالی وی له دماغه
کوم دے هغه زړهٔ چه به روغ پاتے وی له داغه
چرته پسے دروم په کوم لوری به ئے مومم
وُرکه مونده نهٔ شی بے رهبره بے سراغه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مست یم مئے پرست یم همیشه ایاغ په دست یم
یو ساعت چه ځئ راباندِ غم دے بے ایاغه

باغ دِ د هغو دے په هرچا چه دِ پیرزو دے
زهٔ په ارمان تل د یوهٔ کل یم ستاله باغه

کل د عندلیب دے په قسمت دے په نصیب دے
درومه درومه درومه په جیفه کرځه کلاغه

تل هوا هوس کړه تراوله یو په لس کړه
ستاله غمه څهٔ دی کهٔ زهٔ لاړم له فراغه

ورځ ورباندِ شپه ده په تورتم کښے ئے میشته ده
کله به لیدهٔ شے د خوشحال د زړهٔ چراغه

یارم بیا د رقیب یار شو دریغه دریغه
په خبرو د اغیار شو دریغه دریغه

یو څو ورځے ئے په زړهٔ کښے مهرځائے وو
بیا بے مهره ستم کار شو دریغه دریغه

هغه کل چه م ساتهٔ د زړهٔ په وینو
مل د هرخس و هرخار شو دریغه دریغه

وقصد منوته کا تهٔ څما په قصد کا
د وژدم روا دار شو دریغه دریغه

بے له تام د ځیگر و ینے خوراک شوے
تیر م عمر په دا کار شو دریغه دریغه

غه بهار چه تل بلبلو پرے چیغار کړ
د خزان له لاسه خوار شو دریغه دریغه

بیچاره خوشحال په طمع د وصال وو
په هجران کښے گرفتار شو دریغه دریغه

یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه
د هرچا م د خاطر مینه آمیغه

مهر مینه محبت له زړونو لاړ شو
سینے پکے شوے همه له مکره زیغه

چه ئے ځائے په دوا او روستو کوباندِ زهٔ کړم
هم هغه م هلاکت غواړی بے تیغه

چه د دے دور فتنو وته وگورم
ولے کانړی تیر ے نه وړی له میغه

د زړهٔ رازله بے دردانو نه پټ ښهٔ دے
کهٔ له درده دِ سینه شی سره هیغه

په نوبت به د هرچا تر ځیگر خیژی
د قضا نیزه و هرچا وته نیغه

کهٔ په تن شاهِ جهان د زمانے شے
هم دِ نهٔ وینم خلاص د مرگ له نیغه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ بازدارئے پسے روکاندی بندونه
د کرغول ئے علاج کوم دے بے کریغه

فهم وکړه کهٔ خود بین اوخودنما شے
زمانه به دِ پاتمال کاندی تر زیغه

زورَورچه لاس ونیسی ناسازے
هئے توبه د زورَورو له بلمیغه

دا په خم ختلی غواکهٔ هرخو لویشے
سیم و زر به ئے حاصل نهٔ کړے له لویغه

تابه چیرے هومره کبر هومره خیال کړ
کهٔ دِ نهٔ وے رنګ زیبا په صورت سیغه

چه دِ بنهٔ له خویه بویه خبردار شوم
له خوشحال سره یاری کړے په درویغه

کهٔ یوګل وماته راکړے دَخپل باغ
خدائے دِ تا تروتازه لری تل باغ

ستاله باغه یوګل مالره دولت دے
نهٔ په سل رنګه ګلونه دَبل باغ

چه ورتلهٔ دِ باندِنهٔ وی سپیرهٔ ډاګ وی
په راتلهٔ دِ شی درست ملک وبورجل باغ

په خوبِ و خوبِ و میوو په ګلو ډک وی
چه بنکاره کړے راته تهٔ په کنځل باغ

دَبنهٔ مخ دَګلستان بلاهجران دے
تل ګلونه په خزان ریږول باغ

نوربا غونه د نوروز په وخت غوړیږی
په اهار کړه غوړیدهٔ دَکابل باغ

همیشه به پرے نارے وی دَبلبلسو
دا چه ساز کړنن خوشحال په ویل باغ

رامعلوم شو دَاورنګ عدل وانصاف
دَدهٔ بنه مسلمانی بنه اعتکاف

سکه رونړه وارپه وار واړه وژلی
پلار په بند کښے اچولے په مصاف

کهٔ هزار ځله ځوک سر وهی په مزکه
یا په صوم تر شمځ ورولی ناف

څودِ نیت دَبنهٔ عمل سره جوړ نشی
عبادت طاعت دِ واړه دی خلاف

چه دَ ژبے لار یوه دَ زړهٔ ئے بله
په چارهٔ ئے شهٔ ځیګر شګاف شګاف

مار په تن د پاسه بنهٔ بنائسته روغ دے
ولے ننه اندرون لری ناصاف

مړنے په کړده پیر ویئل ئے لږ وی
دَنامردو لږ عمل دی پیرئے لاف

کهٔ دلے دخوشحال لاس په ظالم نشته
دَقیامت په ورځ ئے خدائے مهٔ کړه معاف

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے میاشت کړه د آسمان دپاسه شقه
چه آفتاب ئے رابشکاره کړله شفقه

چه په سربانډئے ابر سائبان وو
چه ئے پاتے جبرئیل شو له ابلقه

چه خوږے ئے دَخولے لاړے ترعسلو
چه همه علم ئے زده شوے سبقه

چه جمال ئے بنائسته په ملاحت وو
چه د مښکو بوئے هیڅ ډوتر عرقه

چه سایه ئے د وجود په مزکه نه وه
چه بره ورته کوياشو له طبقه

چه ئے تار په تار د باد په مخ خواره کړل
د تورات و د انجیل واړه ورقه

دواړه کونه په طفیل د هغهٔ دی
مُرتّب او مهیّا په ډیر رونقه

چه دوستدار د خلورياردا اهلِ بیت دی
په هغو د بشو کواهی وولـه مطلقه

چه عرب ئے وثنا ته نهٔ رسیږی
د خوشحال ژبه مښود کاندی ناحقه

چه بُنیاد ئے پیدا شوے په نفاق
د هغهٔ نه طمع مهٔ کړه اتفاق

چه وودلی وی په ذات توره شړئ
سپینول ئے و هرچا وَته دی شاق

چه په باغ کښے رنګا رنګ میوه پیدا شی
لَون لون ئے مزه وی په مذاق

د عسل سره ئے خوره خوږه به نشی
مرغونی چه ترخه ده په میثاق

د دانا به د ناپوهِ سره څهٔ زیست شی
کونکی هیڅکله د بازنهٔ وی مشتاق

کهٔ اخلاقِ ناصری په یاد ووائی
په اخلاق کښے به بنهٔ نهٔ شی بد اخلاق

د طاؤس سره کهٔ زاغ په قفس بند کړے
تر وصاله ئے خوشحال وی په فراق

خرد سروزرو د زین نهٔ دے لائق
بنهٔ څړے ورلره بویه موافق

بوالهوس چه عاشقی کا عاشق نهٔ دے
په خالی هوس ئے مهٔ بوله عاشق

نفسانی تاریکه شپه صادق هغه دے
چه سحر غوندِ سینه لری صادق

څهٔ به علم په تلقین سره نور نهٔ شی
چه راغلے له ازله دے فاسق

د سیناځویه له ځایه شیخ ملا وو
آراسته نهٔ شو په درس په خوانق

په ادب آداب به نهٔ فائق ترچا شی
چه له ځایه په فطرت نهٔ وی فائق

صالحان له ظالمانو نه پیدا شی
له زاهده نه پیدا شی غل سارق

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بدخوئ دَخوئ علاج ملک الموت دے نۀ په ډیر علاج خبر حکیم حاذق
هغه باغ هغه باغوان هغه ئے ګل دے چه فرهاد باندِ بلبل وو یا وامق
زړۀ سوخته مئینان ډیر دی په جهان کښے څۀ یوازے یو مجنون نۀ دے عاشق
کۀ کارګۀ غوندِئے فهم وی خوشحاله
هیڅ اُستاد به شین طوطانۀ کړی ناطق

ډیر دَخیال سوارۀ ترے لاړل معلّق سور په شاپرے ښے نۀ دے دے ابلق
په دا طشت کښے هره ورځ وینے توئیږی بنکارؤل ئے هرمابنام کاندی شفق
په ازل چه دا نسق دَبیلتانۀ دے ترا بده به وران نۀ شی دا نسق
وګدائے وته به څۀ رنګ پاتے کیږی دَ بادشاه له تنه خیڑی دا یلمق
روغ به هاله دَ دردمن په حال خبر شی چه په زړۀ باندِ رسا وخوری شلق
پیدا کیږی فنا کیږی نۀ بنکاریږی په دا سیند کښے جهاز ونه هم زورق
کۀ دَ مرګ سبق دِ هیرډے ګورئے ګوره خپل یاران درته یاد کاندی سبق
کۀ هرڅو په سود سودا کړم لیدۀ شی ترما بنامه دے دَدے بازار رونق
عاقبت به وا ړه ستړی شی خوشحاله
کۀ څوک ژاړی ناړی مرګ کنړی ناحق

دریغه سړه تش کړے دا ډک زړونه دَ فراق
تول کړلے په تله دَ چا زیات شوے اشتیاق
مرګ به ما قبول کړنۀ بیلتون له خپله یاره
څۀ کړم چاره نشته حکم دا وو په میثاق
ویش چه په ازل وو دَ هر چا دَ قسمتو نو
غم وو کۀ محنت وو په نصیب شو دَ عشاق
څوک په عاشقئ ولاړ چه زۀ پاتے هجران دته
اوس به له ما څۀ غواړی وګړی خوئ اخلاق
هر محنت آفت شدّت نکبت په جهان بنۀ دے
یو بیلتون بلادے تر هر څۀ په اتفاق

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عشق ئے د زلفینو لکه زهر د مارونو !
شوری په ځیګر کښے دواړه لب ئے دی تریاق

تل صبا بیګاه باندِ د آه د نا وکیو
ووری سپین توبری څهٔ بنادی کا اهلِ نفاق

تل شهدو شکرئے کهٔ خوشحال خوری ګمان مکړه
چه بے هغو لبانو به خوږ شی دهٔ مذاق

که د سرو شوند وسره غواړے تحقیق
د یمن په ملک به نهٔ وی دا عقیق

خولهٔ ئے هسته ده که نیسته نهٔ پوهیږم
دا رموز دے وهرچا و ته دقیق

په زړګونو راته لاف کړی د یارئ
مایو یار پکښے ونهٔ لیدهٔ صدیق

په هر لورم غورزوی په سر لګیږ م
زمانے کړم لکه سنګ د منجنیق

اول غم د یار وما و ته غلیم وو
اوس تر دهٔ نه بل څوک نهٔ لرم شفیق

په لومړی قدم دِ سر له تنه پرے کا
چه قدم کښیږ دی په داخونی طریق

چه د عشق په بحر دوب دے حال ئے کوړ
د دُنیا په حال خبر نهٔ دے عزیق

طلبګار ئے د وصال په لوئے طلب وی
له ازله ئے راوړے دا توفیق

آزاده عالم بندی دے کهٔ ئے ګورے
د زلفینو په زنځیرئے دی عتیق

ګنړه زیان د عشق یواز ے د عاشق دے
اُمید قطع کړه خوشحاله د رفیق

یوځهٔ بحر دے عمیق
د سیماب غوندِ حریق

په شنا ترے واتهٔ نشی
څوچه بخت نهٔ شی رفیق

په ساحل ولاړ څهٔ زده
چه څهٔ حال لری غریق

حال دما یو معمّا ده
چا مِ حال نهٔ کړ تحقیق

که هندو که مُسلمان دے
پت پالی د خپل فریق

چه م یار د طریقت وو
پکار نهٔ شو هیڅ طریق

یوله بله بهره مومی
په اخلاص اوپه توفیق

چه ئے زهٔ لرم په زړهٔ کښے
عجب فکر دے دقیق

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سل بلا د جهان کل وے
جدائی نۀ وے تفریق
په نامۀ به شقیق نۀ شی
کۀ څوک نوم کښیږدی شقیق
په دا بنهر کښے اکبر دے
د خوشحال یارِ شفیق

بذرګرچه دا دانے لونی په مزکه
د یوے دانے زر طمعے لری څکه
حقیقت دے کۀ مجاز درته ئے وایم
یوه بنه بنائسته جل بله کو څکه
چه محنت په څان قبول کا راحت مومی
خدائے به نۀ کاندی خواری دهیڅا ورکه
کۀ خبرنۀ ئے خبرشه چه حال څۀ دے
په ظاهره پیر ټکی لری لټکه
هر زمان په د اوبو په فکر نۀ وو
بے اوبوکۀ ما تیدے د تږی سکه
دا پریشان پریشان وئیل م دمستئ دی
چه د مزے د ژوندون بولم څونړکه
ترلیدلونے نۀ لیدل بهتر دی
چه وخ ته ئے نظر کیږی په کرکه
د دے باغ ګلونه واړه بنائسته دی
چه همیش ئے بقا نشته په کنجکه
چه ئے مینه د زړۀ سنګو روزی نشوه
په قیامت کښے به د هغو تله وی سپکه
چه بوسه د هغے د نګے د خولے غواړے
یائے دواړه څونړے نسه یا څونړکه
دا د واړه ناپوهی نۀ ده نورځۀ د ه
چه د لویو چارے غواړے له هلکه
د بدګوئے د خولے خبرے واړه روغے
چارۀ تُوره بے سندانه بے څو ټکه
دا م شعر په بیاض کښے نۀ دے جمع
په لچکول کښے م پراتۀ دی څوکنړکه
چه سړے شلوبے ئے څښم په وخت د اوړی
بادشاهی د اورنګ زیب ځما غړکه

کوم یا غیان هو ډیان د پرے یستل له هوډۀ
چه دا هومره پیر دماغ لرے خټکه

تل چه ارته لمن تۀ څکوے په مزکه
غره توب لرے د وخ په خوبئ څکه
په بیسرد رنګا رنګه ټکی ګوره
په دا شان به بنائسته نۀ وی لوڅکه
چه دا هسے شیوه ګره څنے زووے
سړے نۀ وۀ بنا پیرئ وه ستا ا د که
د مستئ له مخه دا پریشان وئیل کړم
چه د مزے د ژوندون بولم څونړکه
زۀ به تاوته نږدے شم تا به ګورم
کۀ د مآګنده نه نۀ کیږی ستا کرکه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په بوسه م د لبانو سرفراز کړه — همیشه په زړهٔ لرم د شربت څکه
لیونے د وجمال نهٔ یم نورخهٔ یم — چه په خپله خونه نهٔ پریږدم کنجکه
لون لون شولانونه د شاهانو — د هردر رالره بس دی څو کنډکه
سربازم وصال د غوارم هغه زهٔ یم — لکه څوک چه په بل لوری غواړی وُرکه
د بنائست برخهٔ ورکړه د ترکانو — محبت راپیدا کیږی له تاجکه
چه ئ تُوره پکارنهٔ وی حبطه وی — کهٔ ئ روغه وی د سپینو زرو تِکه
مکر تاځنه سامان د سلطنت دے
چه په هوډ م سپینه خولهٔ غواړختکه

چه وفائے له چا نهٔ مونده په مزکه — وآسمان وته روان شو عیسیٰ څکه
په زړکونو راته لاف کړاوس یو نشته — آشنائی له هرچا بنه ده بے خپتکه
د هغوله خولے کړے خبرے آ وُرم — چه به ما ورته کا تهٔ کول بے کرکه
د راحت په وخت چه تل ترتاځاریږی — په سختئ کښے ویزاریږی له ا بکه
ما وے وایه په احسان څما بندی دی — همکئ زیست روزکار وو له کوتکه
د معنیٰ په ستر کو کوره کهٔ دانائے — په ظاهر جامه کهٔ بنه بریښی لټکه
مروت یاری ترے مهٔ غواړه خوشحاله
هرسړے چه اوبهٔ وخښی له اټکه

چه په دوئ به ئے بخښل شی پاک ناپاک — بل سړے نهٔ دے صاحبؐ دے د لولاک
ترهلال ئے صدقه شم تر بلا لهٔ — په اخلاص یم زهٔ د دوئ د تلی خاک
د بوذرؓ او د سلمانؓ ئے درویزکر یم — تل د دوئ په محبت دے څما ژواک
ذوالفقار ئے اژدها وو دوے ئے ژبے — چه د دین مخالفان ئے وو خوراک
په داهسے مړ نتوب ئے آفرین وو — چه په کار ئے محمدؐ شو فرحناک
کهٔ سوارهٔ ئے مړنی د لښکر ډیر دی — لاس څما د دلدل سوار د زین فتراک
د خیبر په کوټ ئے هسے زور بنکاره کړ — چه له ویخه ئے راوُنړول پاک
محمدؐ د علم بنهر علی ئے وَر وه
تر قنبر ئے شهٔ خوشحال ختک فداک

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه وبازئ ورکولے تیرے نوکے ترتتر بہ ئے ویستے د زرکے سوکے
د بابنے نظر د چتی پہ لکئ د شهباز نظر د میور پہ څونړ کے
د کارګۍ تورہ مښوکه د ګندګئ دہ قند لائق دے د طوطی د سرے مښوکے
د کلرنګو ناز پہ هر کله د وړو دے بیهوده بے ځایه ناز کا رنګ املوکے
یا به سر د خپل ورمیږ پہ وینو رنګ کړم یا به کښل کړم دغه ستا شونډے ملوکے
آفرین دِ پہ دا تورو شهلا سترګو چه ئے کښلے د کشمیر کړلے مملوکے
لا به کله هغه ګل پہ چمن راشی د نرګس ګلونه ګوری سترګے بوکے
د هجران له غمه هیڅ سړے خلاص نئ ځوک پہ رو رو ژړا ژاړی ځوک پہ کوکے
چه توبه د ملوکا پہ وخت د ګلو پرے بنائی کۀ د هغو پہ ږیره توکے
یا د بنو ځلمیو غږ دے پہ میدان کښے یا د بنو دلبروځی پہ جهان کوکے
د زاړۀ خوشحال خوانی پہ بوسه نۀ کا
پښتنے جونه بخیلے بد سلوکے

دال او واؤ د محرم د صفر اک د رومبئ خورے درویشتم څه یک
د دویمے خورے رومبئ ا تلسمه د دریمے خورے یا مۀ و کړه شک
څلورمے خورے دال چه سره ید شی د رجب دے ب ویج د شعبان دک
د روژے د میاشتے جګ پوره حساب دے ح شوال ذیقعده لط ذوالحجه وک
چه په هره میاشت کښے دوے ورځے دے هم دغه دے حساب وشو خو بک
بیا روستئ چارشنبه د هرے شنبے
نحسه ورځ ده وائی بنۀ خوشحال ختک

کۀ زۀ نۀ وے تا به ځان لره بلل ځوک په پالنګ به د داهسے درختل ځوک
وارۀ عشق دے چه ئے سر راته کیاه کړ کنړه زۀ په ځان مئین د سر بسنډل ځوک
چه پتنګ ته روشنائی د ځراغ بنکارۀ شی نور له ځراغه نه ئے غواړی جار وتل ځوک
بدرګه کۀ محبت راسره نۀ وے یک تنها به په خونخوارے لارے تلل ځوک
د دے میو پیالے د پیرو دی اخستی ولے ماغوند به نۀ وی لا یعقل ځوک
د زنخ په چاه د بند د شونډ و مست دی روغ هوښیار به په کوهی کښے پریوتل ځوک

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ پخپله راته وولئ چه وا یـه کـنړه زهٔ د مینې رازښکاره ویل څوک
تهٔ مِ وژنه د قصاص اندیښنه مکړه د خپل خون په تور به ونیسم یو بل څوک
بنه خوا چه د چا نوم پکښې یادیږی په فانی دُنیا به نهٔ وی ژوندے تل څوک

تا پخپله سپینه خولهٔ وخوشحال ورکړه
کنړه دے دا هسے شوندے کښلول څوک

مرد هغه چه همت ناک برکت ناک د عالمه سره خر ب په زیست و ژواک
مخ ئے مخ قول ئے قول عهد ئے عهد نهٔ دروغ نهٔ ئے فریب نهٔ تش تپاک
لږ وئیل ډیر ئے کول په خاموشئ کښے د غټے غوندِ خولهٔ ډکه سینه چاک
چه خبره د پستئ د بلندئ شی په لوئی لکه آسمان په پستئ خاک
په تمکین کښے لکه سروِ په پستئ کښے په هرلور خانګے ښکورے لکه تاک
لکه ګل شګفته روئ تازه په باغ کښے همیشه د بنو بلبلو پرے بلغاک

چه داهسے بنهٔ ویل کا زهٔ حیران یم
چه خوشحال راوړهٔ له کومه دا ادراک

نهٔ په خولهٔ ګولئ خورلے د توپک نهٔ نمړئ د لئیمانو د بنانک !
کهٔ د تن وینے یوجام وځښے لاښے دی نهٔ اوګړه د بخیلانو یو کاشک
کهٔ اوبهٔ دِ د بخیل د منګی وُځښے ستادِ وخیژی دانه په چنغړک
نهٔ د شوم د لاسه سل بیړے خورلے نهٔ د مرد د لاسه پانړے د پالک
د نامرد سره مکے ته رسیدلے بنهٔ د مرد سره په بیدِ بید یا ورک
مخ دِ سوے د دوزخ په لمبو بنهٔ دے نهٔ چه سم ګډے وممسک وته ورسک

د منت سره حلوا مهٔ خوره خوشحاله
د حلوا نه لا بهتر دے وچ کنډک

چه ما ګړی په جهان کښے رنړا سترګے بے له تام خوږے نهٔ شؤ په چا سترګے
که زهٔ ستاله مخه وګورم بل مخ ته نور په قطع دِ ږندے شی ځما سترګے
هرښکاری چه غرځهٔ وولی ورته ګوری تهٔ یو سر بل سرمکړه له ما سترګے
هرګورم له هیبته وارخطا شی چه تهٔ واړوے وما ته شهلا سترګے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داخوشحال غریب په در درته ولاړ دے
ته هم کله کله ماته کړه وا ستړے

کهٔ ینولے زړکه باز پریږدی له چنګه
زهٔ به هم له لاسه پریږدم شوخ وشنګه

درپه در کلی په کلی پسے ګرځه
درویزه کهٔ د دیدن مړے مسلنګه

ګل کهٔ هرڅو بنائسته ډے په داباغ کښے
کهٔ ئے وینے بیا اغزی لړی له څنګه

چه دِ توان رسی په لوئے دریاب کښے ګرځه
په بیله کښے دِ زوال وینم نهنګه

عاقبت به ګکړئ ورباندِ کښیږدے
ترڅراغ چه ګیڼ وهے ګرځ یتنګه

پند ګویان چه عاشقانو ته پند وائی
ډهو بنیار په پوهه سړو هی له سنګه

ترسحره م دیاره سره ناز وو
درسته شپه راته کوتاهه شوه تر درنګه

هغه یار کهٔ په پالنګ راسره نشته
داهم شکر چه ئے بوئ څی له پالنګه

چه ئے زړهٔ د معشوقے په مینه مست شی
ډهغو سړیو څهٔ له نام و ننګه

لیونے به لیونے نهٔ وو عالمه
کهٔ ئے بخره وی له عقل وله فرهنګه

کهٔ لیلیٰ ونور عالم ته کښلے نهٔ وه
په داڅهٔ چه ومجنون ته وه خوشرنګه

د غمزے په تیغ ئے خوږ ښهٔ ئے خوشحاله
مړے په روغ صورت نهٔ څی له جنګه

مست د هغے مخ یم چه مخموړے لړی ستړګے
هسے پرے غوځیږم وائی تورے لړی ستړګے

یار م په بنائست کښے بے نظیره بے مانند دے
لا په درست صورت کښے مشهورے لړی ستړګے

ډیرے کښلے ستړګے مالیدلی دی د کښلیو
تاغوندِ یو یو په بنړو پورے لړی ستړګے

سل څله دِ شیخ ملا صفت ورڅنے کاندی
بنے به ستا تر تورو ستړګو حوړے لړی ستړګے

ناست دی لکه څړی رقیبان وخوار عاشق ته
څکه ستاله مخه هورے دورے لړی ستړګے

هرچرته چه ته ئے هغه لورته م نظر دے
هرچرته چه زانړی شاهین هورے لړی ستړګے

نشته په جهان کښے تل طلب ورپسے کړمه
یوهسے منظور چه نن منظورے لړی ستړګے

نهٔ کوری وچاته څو په خپل بنائست غره ده
ګوره داخیالی په څومغرورے لړی ستړګے

سخ دے د هغهٔ چه خوش خرم دیار په وصل
هر ساعت د یار په مخ مسرورے لړی ستړګے

راشه کهٔ ئے کورے چه خوشحال په درد وغم کښے
ورڅ وشپه بے تابه اوښکو پرے لړی ستړګے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نبښتر ستا د قد سیالی ونکړه دنګے اورئے بل کړپه خپل ځان په ننګے ننګے
سره بنهٔ د زړهٔ خوبنی کاندی همزولی نهٔ د لوئے نهٔ د ډهلک وی یار د کنګے
په خیال خیال ئے ترپوے بدری ومهٔ خوره د منډیل شملے پرے ټینے سور د خنګے

د خوشحال وئیل وهرچاته ښکاره وی
نهٔ د مښکو بوئ پټیږی نهٔ د هنګے

اقربا راته عقرب شول رضامند م په تعب شول
دوارهٔ ترونه م نااهله ابوجهل بولهب شول
زهٔ ئے بند کړم په مغلو په خانئ او په منصب شول
رشوتونه ئے قبول کړل په تلاش کښے روز وشب شول
دالوئ څویه م لوئے مهٔ شه د هزار بلا سبب شول
زهٔ ئے هند لره روان کړم په نشاط او په طرب شول
خیلخانه م شوه په غږونو پرے کارونه پیښ عجب شول
ناز پرور څویه م واړه په فریاد وپه شغب شول
چه ئے نمر لیدلے نهٔ وو په څنګلو تشنه لب شول
درست اولس قبیله واړه گرفتار په ډیر غضب شول
په آه آه د فراق ژنو زړونه وبری د عنب شول

خوشحال نهٔ موندهٔ څخکو
که ئے هرڅو په طلب شول

اورنګ زیب بے دلیله په ظاهر باطن علیله
لکه مچ په انګبین کښے پسو بند شوے په قلیله
په تسبو کښے د بلا ده هئے توبه ستا له تهلیله
د یوهٔ صورت دپاره خیلخانه د کړه قتیله
نهٔ په څویه نهٔ په پلار ئے په هرچا باندِ بخیله
په دا هسے بے عدلئ هلاکو سره عدیله
بے له خدایه بل یو نشته د خوشحال په سته سیله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا دَعشق دریاب را وخوت چلے چلے
عاشقان پکښے لاهو شول بلے بلے

کهٔ دَ سر ملاحظه نکړے غواص شے
مرغلرے په دریاب کښے تلے تلے

دَ پتنګ محبت لا پسے نه یا تیږی
چه دَ اور لمبے لیدے شی بلے بلے

ناکهان ئے مخ بنکاره کړ بیائے پټ کړ
په خندائے دا وئیل چه جلے جلے

ماوے چرته به وی کان دَخورو قندو
شاه ولب ته اشاره کړه دلے دلے

دَعشق بخره عطائی لکه ایمان ده
موندهٔ نهٔ شی په کوشش په خلے خلے

چه دِ خولهٔ له ماغوښته وتاِم درکړه
داچه بیا له ما مانړے کړے ولے ولے

همیشه پسے جاروُوځه شما غواړه
کهٔ دِ پښے دَ طلب نهٔ دی شلے شلے

زهٔ خوشحال به بل دَ یار برابر نهٔ کړم
په جهان کهٔ کښلی ډیر شی ډلے ډلے

بیا خیره په سر کړه کښیږ ده له خیاله
چه خوبا دِ په خولهٔ نوم واخست خوشحاله

بیا سینه پسے په دوارو لاسو مږم
لکه بازدَ هونړائی وُوځی له جاله

زهٔ لاهسے کجوکول نادیده نهٔ یم
چه لاله به بهوم ستا له جماله

کهٔ دَ منبکو انبارے مِ په لاس کښیوزی
همکی به صدقه کړم ستا ترخاله

خُما مینه هسے نهٔ ده چه نوریږی
کهٔ هزار رنګه جفا کړے خُما لاله

دَعاشق عمر کوتاه دے لا په داهم
کهٔ دَ عمر هره ورځ ئے شی سل کاله

بدزحمت شی په بازونو یو یو کال
نوم ئے څهٔ دے په فارسی سیه پیخال

طعمه اچوی طلب دَ اوبو ډیر کا
تور پیخال کاندی دَ لویو په مثال

په نبات دَغوا په غوړسره بازصاف کا
یا علاج دَ سنګتا وکړه دم درحال

دَسنګتاؤ ترتیب اوبهٔ دَدریاب واخله
دَصحرا په غوشیو تاودهٔ سفال

پکښے اچوه چه بنے اوبهٔ په جوش کا
بول ناس نبات پکښے مثقال مثقال

داسنګتاؤ کهٔ دَ اوبو سره بازخښینه
فائده ئے تجربه ده دَ خوشحال

کهٔ یوه ذره لونګ هم پکښے وینه
په سینه کښے ئے ساته په ماه وسال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ښیوه ښیوه رفتار کا ندی غزا له وائے پښے په مزکه نۀ کښیږ دی له خیاله
وغمزو وته ئے حکم دے چه وژنه هم هغه چه مینه کا ځما له خاله
د زړۀ حال ئے امانت پکښے لیدۀ شی چه ئے تن په صافی صاف دے تر زوالہ
له دوۀ ستړکو خبر واخله چه ئے وژنی نور به څۀ پوښتے څماد زړۀ له حاله

کۀ شیرین آشنا وفا درسره نۀ کا
په جفا ئے هم خوشحال اوسه خوشحاله

په دا بنهر کښے دِ نۀ وینم څوک سیاله خبردار نۀ یم د بل بنهر له حاله
په بنا ئست کښے دِ ارمان د صورت نشته دریغه دریغه په خوئ هم وے څه خوساله
په درد منو کښے نن زۀ یم بے مانندہ په دلبرو کښے نن تۀ ئے بے مثاله
په دا سپین تندی دِ طعن په آفتاب شی په ابرو دِ کړو وړے له هلاله
نن به تۀ دا کبر نۀ کړے نور به څوک کا چه په خلقو دِ نارے دی د جماله
کۀ تل جنګ د خرخشے کړے زۀ پرے خوښ یم بنا ئسته د جهان نۀ وی بے جنجاله
چه د حال پوښتنه نۀ کړے مړک م راغے کله کله م خبر یږه له احواله
په پنځۀ وخته چه لاس په دُعا هسک کړم ستا د عمر دُعا کړم په پیر پیر کاله

دا بے وخته سپین ویښتۀ نۀ وو بلا وو
چه د کښلیو زړۀ ئے بدکړو له خوشحاله

په درست جهان به نۀ وی یو څما غوندِ رسوا بل
ورځم تُوره وکښلے چه مئین واوژم په تا بل

یو تیر دِ وویشتمه چه څما د درد دارو شو
هاں اے څما طبیبه چه بنۀ روغ نۀ یم یو بیا بل

کۀ سروِ کۀ عرعرکۀ صنوبر ستا تر قامته
څۀ نورے د باغ وئے چه په خیر ستا د بالا بل

نن ما وته چا ووے چه آشنا غواړی خپل تیغ ته
د خدائے دپاره کوم به له ما به وی آشنا ستا بل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ستا زلفوم زړهٔ یوړو ستړکے راته په څو دی
تاراج به دا ترکان کا نه به څیز یوسی په غلابل

نهٔ ننګ لری نهٔ شرم تاوے هرچه عاشقان دی
بے ننګ دی کهٔ بے شرمه هیڅ عاشق نشته ترما بل

ملائے فتنه ګردے وربښئ فتنے جنګو نه
تعلیم ته ئے خوشحاله زر پیدا شوے یو ملا بل

په دا باغ کښے به دِ پاڼړے نهٔ وی ګله
که خبرشے د خزان له تطاوله

داخو ورځے غنیمت ګڼړه په باغ کښے
چه په تا باندِ سینه وهی بلبله

مرتبه د هغه باغ څهٔ پاتے نهٔ وی
چه خالی وی د بلبلو له غلغله

وهغے بښیښے ته نهٔ غږیږی ستړکے
د ساقی څخه چه تشه شی له مله

په دا پُل باندِ د خلقو ګذر ګورهٔ
څوک پریوزی څنے پورے وُوځی تر پُله

په درست عمر به ئے نهٔ وُوځی له یادو
چه لیدلے وی تاړو د باز منګله

مقدر به په هیڅ رنګ مبدّل نهٔ شی
که په خان باندِ تل لوے څلور قُله

عاشقان چه عاشقی کا غم به نهٔ کا
د رقیب او د غماز اوله چُغله

څهٔ کړم لاس ودستِم نشته قلندریم
ګڼړه ما به دُنیا وُباز له ګله

په پالنګ به خوب په څوبے غمه کاندی
چه خبروی د فلک له تزلزله

هسے یار لرم بنانست ئے تردا قیاس کړه
چه د منګو بوئ ئے هیڅ دے له کاکله

د دلبرو په مانړی کښے هم مزه شته
بیچاره خوشحال ئے مری له تغافله

تردا دوو ستړکو م اوښکے بهیدلے
په فراق کښے تر لمنے څخیدلے

ستا د وصل اش رمق دے راته پاتے
وائے څهٔ رنګه بے مانه پائیدلے

ستا په غم کښے م د زړهٔ نندارہ وکړه
پکښے واړه سرے لمبے وے بلیدلے

داهم بخت چه په بالښت د خسته راغلے
وے دِ اوس په ځنکدن ئے خندیدلے

زهٔ نهٔ کړم نه ملامت نهٔ م څوک یار کړ
تهٔ په کوم توکی دا هسے قهریدلے

خلائے په خائے درته بلبلو میشته وکړه
لا دِ اوس د باغ غوتئ غوړیدلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اوس دِ یار په غیږ. ونیوهٔ هوس کړه — چه ئے ډیر په بیلتانهٔ کښے رنځیدلے
څکه تل دَ بادله لاسه خوری څیړے — چه له قد سره دِ سروِ سمیدلے
اوس ئے جور وجفا وړه دا دِ سزا ده — فکر اوکړه چه په چا مئین کیدلے
دَ رقیب کونه چه بده شوه لیده دِ — چه وماته په تولی کښے موسیدلے
په زړهٔ یاد لره دا اورچه دِ رابل کړ — یو ترشا نظر دِ نهٔ کړ تیریدلے
بے دَ یار له مینے واړه لکه باد دی — چه په زړهٔ م ډیرے مینے کړځیدلے

چه په تلل شوے له خوشحاله لکه عمر
کهٔ ئے ډیره بلا کړه نهٔ دریدلے

چه مزرے خپلے منګلے نهٔ کا کښل — هومره نهٔ وی څرے غوښے ورته تل
مرجونړادَ دُر مرجان هاله اولجه کا — چه قبول کا ندی دَ بحر خونی چل
عاشقان چه تر سر تیر شی هاله کښل کا — دَ دلبرو پاستهٔ لب لکه بخمل
باز چه والوزی له څالے هاله کوری — دَ کبانو بنا ئسته سترګے کجل!
چه دَ اور بخړے باد سره رفیق شی — بیا هاله کا په ملکونو آتش بل
چه سیلاب دَ غرهٔ دَ سره نه روان شی — بیا هاله بیائی په مخ خاوره څخل

خپل هُنر له لاسه مهٔ پریږده خوشحاله
خوره غصے ډیردی بهتر غصے خورل

چه په زلفوئے پایست شول — دَ ماهی غوندِ په شست شول
دَ خمار ویره ئے نشته — چه دَ شاه دَ ستر کومست شول
چه په لام وبے ئے مینه — دَ سرو میو مئے پرست شول
دَ هغو بنا دی به تل وی — چه دَ شاه دَ غم تر دست شول
چه دَ خولے رموزئے بیاموند — عاشقان له نیسته هست شول

دَ خوشحال خلاصے له کومه
چه ئے تا غوندِ په قست شول

چه دا هسے بنا ئسته ئے زیره کُله — څکه تا په څان شیدا کړله بُلبله
چه ئے طور ستا دَ تورو زلفو واخست — څکه بوئی دَ مِهر نهٔ څی له سُنبله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَلبانو بوسه بیا ورکړه مشتاق ته — چه مستئ لا اثر وکا تر مله
چه په پټو سترګو ناست لیدل دیارکړم — خلق څۀ خبر له هسے رنګه شخوله
راشه خپل وژلی کوره په خپل ور کښے — په غمزو په خرخشو په تغا فُله
چه دَخلقو له نظره دِ امان وی — همیشه دربانډِ لولم څلور قُله
لکه یار راسره وو په هغه شان دے — بنۀ چه بیا دِ مخ تورے وشو چُغله
لا به کله سرځما په غیږ کښے کښیږ دے — چه دَ مښکو بوئ دِ دروی له کاکله
څوک چه صبر ستاله مخه راته وائی — څما څۀ غرض دَ صبر و تحمّله

درست عالم دِ په خوشحال باندِ غوغا کا
باز پروا کا دکار کا نو له غلغله؟

چه ئے بخره ازلی راغله اصیله — دا فلک ئے همیشه کړئی په سیله
چه عزیزئے په خپل فضل وپه کرم کړل — چاربه نۀ شی دَهغو چیرے ذلیله
چه پخپله ئے عطا په خلقو نۀ کا — دَهرمال بخره به واخلی له بخیله
دَحاتم په مسند ناست هغه ځلمے دے — چه دُنیائے په هرچا باندِ سبیله
دَعارف په بخره علمِ لَدُنّیٌ دے — په اَلَست ئے روزی شوے بے تحصیله
چه ئے واړه آمنّا و صدّقنا کړۀ — دَدانا وینا به نۀ وی بے تاویله
دَدے دور درویشان خلیفه بس دی — اوس خپل ځان لره بل کار کړه عزازیله
کۀ کامل دی په جهان هغه کسان دی — چه فارغ دی دَدُنیا له قال و قیله
عالمان دی رهزنان چه غواړی نغاړی — عام عالم لره زده کړی څو دلیله
داجاهل شیخان شیخان نۀ دی شیطان دی — چه فسادئے پیدا کیږی له تهلیله
کۀ دَیارۀ نه جدا وی دوه درے لویشتے — وعاشق وته بنکاریږی دوه درے میله
زۀ هم ځکه په جهان کښے بے عدیل یم — په جمال مِ معشوقه ده بے عدیله

چه آرام ئے دَخپل یار په لید و اوشو
دَخوشحال له دله څۀ غواړے تعجیله

څۀ به ووائے خوشحاله — له تلمیله له کماله
دَهغۀ مرغۀ څۀ نوم دے — چه په اورکښے لوے ځاله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم بے چون هم بے چگون دے هم بے مثله بے مثاله
هم بے سره هم بے پایه بے وزره هم بے باله
په یوه نفس الوزی څو عنقا درومی څو کاله
دے میوه دهغه باغ خوږی چه ئے وُنه نا نهاله
چه په دا مشکل خبر شے
ځان به خلاص کړے له جنجاله

خپل پردی چه دَ شمشیر شول کشتنی تر شماره تیر شول
تُوره و نغاړه خوشحاله اوس به څو وژنے چه پیر شول
که صاحب وُ و که تُرسم وُ و څنګ پیرد دوئ په څیر شول
هسے چارے کا ستا څویه چه آتش شاهی بیګ هیر شول
چه نظر وکړم خپل ځان ته څو غمونه راچا پیر شول
دا پیری ده که طالع ده چه کیدړ وو را ته شیر شول
هیڅ دم مهٔ وهه خوشحاله
چه نبات درته کند پیر شول

دَ بنهٔ یار دیدن وے تل سره ځائے چمن وے تل
ترکنار او تر آغوش م هغه ګلبدن وے تل
لکه سیب ځما په خولهٔ کښے غه شیرین ذقن وے تل
رقیبان ولاړ له ورایه له ما هم سخن وے تل
جدائی نهٔ وے له یاره سره ځان و تن وے تل
مهٔ مانړے وے نهٔ عتاب وے په رقیب شیون وے تل
دَ خپل یار دَ کوڅے خاورے
دَ خوشحال وطن وے تل

دَ بنائست په کار کښے نهٔ لرے څوک سیاله دَ یارئ په کار کښے نهٔ ئے هومره سیاله
هومره کبر خیال چه ستا دَ ډچا نهٔ دے څو به زار کړم ستا له کبره ستاله خیاله
ستا په تش لید وځما دَ رنځ علاج شی کنړه مرمه وویږه له وباله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تاویشتلے یم په خپل کذار پوهیږے
چه د ستړکو دِ کولئ دی څو مثقاله

پرے د صبر پھے بردم واړه خسا کیږی
چه په زړهٔ باندِم داغ د ستاله خاله

جکی جکی مانړے مهٔ کوه پخلا شه
خرخشو فتنو دِ زهٔ کرم بے مجاله

خرخشو فتنو دِ مړک وته نزدے کړم
چه یودم راسره نهٔ ئے بے جنجاله

راته کته شوروے ناخواله وائے
حال به وویئے څمونږ د خان زواله

د خانئ د تورے څائے نشته په عشق کښے
معشوقے وته مرئیے اوسه خوشحاله

زړهٔ م یوړلو خوردسالے
بنا ئسته پرے مثالے

په دوٗو زلفو عنبر پاشه
دواړه وروځے ئے هلالے

تورے ستړکے ئے تور زاغ دے
را پیدا د باز له څالے

گلعذارئے لاله گل دے
غابنئے دُر شونډے ئے لالے

تر بنهٔ قد و تر قامت ئے
سروِ هم بے اعتدالے

تروئیل ئے نهٔ رسیږی
دلربا شیرین مقالے

تر یانهٔ پورے ئے پوچے
د خطا د ملک غزالے

د خوشحال معشوقه دا ده
خولهٔ ئے میم زلفے ئے دالے

ستا د زړهٔ سختی م سر تر پایه هولیدله
سنگ به سینه وو کړی ستاله هسے سنگه دِله

څهٔ خو را بنکاره شوه په څنبل د ستړکو ولاړه
ما وے د آسمان بریښنا ده نهٔ م پیژندله

نُوره دُنیا نشته چه څهٔ وه را څخه خلقه
وار په وارم واړه په دلبرو وشِند له

ناز کهٔ کرشمے دی کهٔ غمزے فتنے جلوے دی
اوس م په دا کار کښے سره درست وُپسند له

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کل چه شگفته شی عندلیب باندِ نارے کا
نشته یوه کښلے چه پرے وبولم بدلے

یادِم هغه وخت دے چه په شپه به سڑناست وو
شمع به ژړا کړه ، صراحی به خندیدله

اورچه په ځان بل کړے په خپل ځان باندِ لګیږی
اوس مِ دا خبره په زړه نه وُلګیدله

تل ګونه وهلے هر زمان سا ره آهونه
ماچه عاشقی کړه خود په ما به دا کیدله

سرے لمبے ئے بلے د خوشحال خټک په زړه کړے
سرے خټے اغوستے په دا لارے تیریدلے

مخ دِ لاله ګُل دے لا بهتر تر لاله ګُله
سرے شونډے دِ مُل دی لا بهتر دی تر مُله

دِ ار کړمه لانم شم چه پریشانے کړے خبرے
مښک دی که عنبر دی ستا پریشان پریشان کا ګُله

زلفے دِ ښکاره کړه چه خجل شی په خپل کار کښے
څۀ لره ښیوه کا لکه ستا زلفے سنبله

نۀ زۀ ملک غواړم نۀ مال نۀ د دهر نور جنجال
نۀ په تلۀ د جهان غم کړم نۀ په راغله ئے خوشحال
د اَسفل فکرونه نۀ کا په اعلیٰ خټلے فال
په آسمان باندِ پیره کړم د همت په پروبال
د خپل خدائے منت را باندِ چه ئے را نۀ کړو بل خیال
بخار بخښم هغه یم په دیدن د یوۀ خال
وجهان و ته ئے شا ده که خوشحال مومی وصال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یارم غوښت چه م اندوه یوسی له دِ له
نه چه کا ځما په زړهٔ د غم کو له

زړهٔ م وسپارهٔ وتاته چه ساته ئے
نهٔ چه تهٔ ئے سره وسرویه په بله

یو پیغام ئے د وصال رالره راوړ
د جهان خوښی ئے ما وته بخښله

له اوله عشق بازی راته بازی وه
اوس همه راته راپیښه شوه مشکله

خدایه تا په بنائسته ؤ مبتلا کړم
چه له غمه ئے خالی نه یم هیڅکله

کهٔ همه دنیا ځما په لاس ودست وے
ما به کُل د یار په زلفو وشندله

د هجران د تورے هسے شان کذار دے
چه پرهار ئے بل ځلئے نه کیږی بے دله

کهٔ د مستے د غمزے د تیغ مشتاق ئے
لمړے خپله خون بهاکړه ورته پله

کهٔ م داخله صورت له غمه خلاص شی
نور توبه د عاشقئ له حاصله

ما په هیڅا محصل نهٔ وو کمارے
تا وماته خپل خاطر راکړ بخپله

کهٔ یاری د د خوشحال سره هم داده
ستا یاری ئے سرتریایه ولیدله

یوځله کهٔ ووینم بیا وچُولے د یار خپل
نور به تر قیامته شکر وایم د دا دار خپل

هرچه بارئے پریوت په ځانے پاتے شهٔ له ملونو
بے وفا یارانو تیارے وکړئ د بار خپل

بنهٔ سړے پردے په دلاسه په نیکئ خپل کا
کُومه بناغلتیا ده چه څوک بد کا زړهٔ د یار خپل

درد د زړهٔ پنهان ساته کهٔ وینے د خُیګر شی
مه وایه دشمن ته کهٔ د دم خیژی اسرار خپل

زهٔ خوامید واریم کوندِ وی چه مرهم کښیږدی
پس له انتظاره په پرهار د اُمید وار خپل

حکم حکم ستا دے کهٔ آشتی کوے کهٔ جنګ کړے
مالهٔ لاسه واچوهٔ اوس حکم انتظار خپل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړۀ کۀ عافیت غواړے نظر په کښلیو مۀ کړه
هرچه کښلی کوری نور د واچوی قرار خپل
کبرکۀ ترسا ړے کۀ جهود کۀ مُسلمان دے
دین قبله لری خُما قبله دے مخ د یار خپل
مۀ وایه وچا ته د خاطرله دردہ دُوکه
اے خُما لیمۀ چه څوک به نۀ موے غم خوارخپل
یوځله د زړۀ په غوږو فهم کړه خوشحال ته
تاوته چه عرض کا کوښے کوښے د زړۀ زار خپل

آ شفته د د جمال یم همیشه د په داخیال یم
نور و مینو ته م شا کړه مئین ستا په زلفو خال یم
چه م او ښکے په کریوان خُی دا په تا پسے بے حال یم
خائے م تۀ ئے په خاطر کښے تۀ ریحان ئے زۀ سفال یم
نور م هر څۀ فراموش دی آرزومن د د وصال یم
لا د مهر و ئیل پریږدہ
په کنځلو د خوشحال یم

په مردن پروا دار نۀ یم په زندان پروا دار څۀ یم
یو غصه دویم بیلتون دے چه په اور په اوبو زۀ یم
اشرف خان دی راته کښلی څۀ خوخوښ په خط د دۀ یم
پینځه میاشتے یم په بند کښے بابا پیر دادہ په زړۀ یم
خویه ماخوغم د تا کړ چه تۀ بنۀ ئے زۀ خوښۀ یم
چه فلک سره سر باسی په همت کښے هغه زۀ یم
کړۀ ئے نۀ دی بے حکمته
زۀ خوشحال د دۀ په کړه یم

په زړۀ تریارخاریږم د پتنگ غوند پیړے کړم
یو راز دے په داکار کښے کۀ په خولۀ ورته ښیړے کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو باغ دے دَ ګلونو چه وما وته غوږ یسر ی
چه یار راسره ناست وی ورته زهٔ دناز هیرے کړم

عاشق م پاتو نهٔ شو پریږ ده پخے پرتے اوسی
بنائی چه بوالهوس ته دَ غمزے ټورے تیرے کړم

چه خانے م په ګلشن وو هغه زهٔ وم را شه کوره
په هرچرته چه دروم په ګلخن باندِ ډیرے کړم

دا زهٔه دے که قسمت دے که څهٔ نور ے کوے موږے
چه زهٔ ے مبتلا دَ ستمګرے په خیرے کړم

چه ته له مانه ولاړ شے که بالښت که نهالئ وی
په درسته شپه چه ژاړم په ژړا دواړه ترے کړم

که پایم په دُنیا کښے زهٔ خوشحال په دا زوړوالی
دَ خپلو دَ پردیو به لاخو مینے سپیرے کړم

ته دلبره که عذرائے زهٔ وامق یم ستا په مینه کښے هرکوره موافق یم
ته که بے له مانه پائے معشوقه نے زهٔ به بے له تا په څو پایم عاشق یم
ته تل خانده هوسیږه خُما زهٔ ئے غم به زهٔ کړم چه همیش دَ غم لائق یم
پتنګ خان په اور کښے وویشت دائے وُوے که م لاف دَ مینے وواهٔ صادق یم
که دَ غشیو تیرباران را باندِ وشی که به سترګے له تا واخلم منافق یم
چه وتوروخا ورو هسے حسن ورکا زهٔ حیران پاتے په صنع دَ خالق یم

دَ نیمګړو طبیبانو دارو اور دے
زهٔ خوشحال په طلب ستړے دحاذق یم

تاوے نورے ترمانښے دی پسے درومه راته وایه ترتا بنه ده بله کومه
چه م ستا وخرخشو ته نظر وکړ دَ دُنیا په مخ به نهٔ وی هسے سلومه
دَ خاطر مرغهٔ م ستا په زلفو بند شو اوس به چرته خُی چه نښتے دے په لومه
داچه ولے درومه صبر کړه له مانه بیا م کُسه بے صبری ده درمعلومه
په عاشق باندِ ئے تل ظلم وستم وی ستا دَ سترګو ویره نهٔ شی له مظلومه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ لا اوس په زړهٔ تنکے نوے عاشق یم په خندا خندا بورجل لره رادرومه

په خوشحال باندِ کهٔ تل نارے سورے وی
باز پروانهٔ کا د زاغوله هجومه

تاچه زلفے کړے خم خم څکه نهٔ وائے سم سم
تاچه سترګے کړے راپورته پکښے زهٔ وینم غم غم
څو به تهٔ لکه هوسئ ئے تل له ما ګرځے رم رم
د خوبئ کار په تا دے نن په دا دور تم تم

کهٔ د ډیر نهٔ وی په زړهٔ کښے
خوشحال یاد لره کم کم

تاخو یاری پریکړه واړه زهٔ درپسے درومم
څو درپسے درومم هومره ډیره خواری مومم

هیڅ په ما پوهیږے نوم م څهٔ دے ستا په عشق کښے
قیس د لیلیٰ وو تاویشتلے زهٔ لیس نومم

زهٔ څهٔ هغه نهٔ یم چه خو بنی غواړے له مانه
تل د د غمونو لبالب جامونه شومم

هرچه شهسواران دی واړو وُ تیزلے وړاندِ
زهٔ د دوئ په منډه دایم څم ورپسے درومم

څارتر تا رسوله تامِ یارلیدهٔ په سترګو
راشه رانزدے شه چه د د واړه کسی چومم

یولوړے م نشته مینے هسے سر هوا کړم
باد غوندِ خوشحال په هزار طرفه درومم

تاهُنر د سردارئ نهٔ زده بهرامه سرداری د په خپل دورکړه بدنامه
هم تماے خیلخانے لره بلا شوے هم خپل ځان لره بلاشوے بد فرجامه
تا طاهر د کم عقلئ په جرګو مړ کړ او فارغ شوے د طاهر له انتقامه
تاخپل ځان لره د مړک رخنه پیدا کړه خیلخانه د په بدخوئ کړه بے آرامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په داهسے بدخویئ بے بخته نۀ ئے
چه لانۀ ئے دخونی هاتی تر ژامه

مشر رور دِ په زندان کړتۀ خانی کړے
داخانی دِ شه په ځان پورے حرامه

چه خانئ ته دِ هوس دَزړۀ په زور کړ
لاځائی وه ستا دَ زړۀ اندیښنه خامه

نور دِ نوم ځما دَخویو په شمارمۀ شه
دَخوشحال ختک وینا په دا تمامه

څۀ عجب زیبا صورت دے چه زۀ پابست دَدۀ یم
راشئ اوګورئ عالمه چه په څو تر دست دَدۀ یم

دواړه زلفے ئے ځما دَزړۀ په قصد سره شکست کړے
زۀ په ځان و زړۀ بندی په هر یوۀ شکست دَدۀ یم

زۀ حیران یم له دے حاله چه داچا عالم ته ووے
چه همه عالم خبر شوچه زۀ هم نشست دَدۀ یم

آوازه شوله په دهر نیک وبد دواړه خبر شول
چه ځما آشنا هم بُت دے زۀ هم بُت پرست دَدۀ یم

درسته شپه ئے په هر غولی زۀ ولاړ نارے وهمه
چه اے خلقو عیب رِم نشته کۀ مستی کړم مست دَدۀ یم

کۀ داخپل صورت دِ نیست کړے تۀ په عشق کښے آخوشحاله
بیا دَځان داهسے لاف کړه وایه زۀ هم هست دَدۀ یم

چه داهسے دِ له جوړه مشوش یم
له آزاره رِم حذر کوه دردکش یم

کۀ قوت دِ دَ هاتی په زړۀ زمرے ئے
زور قوت را باندِ مۀ کوه آتش یم

دَجنون بخړه رِم اوس نۀ ده هالۀ وه
چه مئین په هغے یار پریوش یم

څوک به ماغوندِ یو هیبس په زړۀ ساده وی
چه وفا غواړم له کښلیو په دا اش یم

راته څۀ وائے چه تۀ په چا مئین ئے
په ایما به درته وایم پنج وشش یم

کۀ مرئي رِم زرخرید کړځی بے شماره
وخپل یار ته زر پیرودے دَحبش یم

طعام خورم مزه رِم نۀ دروی ترکو می
همیشه دَ شیرینئ مزه چش یم

غم دَاوړله تاوه زړلری چه قلپ وی
ځماځۀ اندوه له اوړه چه بے غش یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدے دور حریفان کهٔ شودهٔ پټی دی
زهٔ خوشحال دَ شودو پیؤ په سرش یم

خما خوب له اند یښنو نه شی بیدارشم — وعالم وته په دا تهجد کذار شم
غرونه غرونه کنا هونه را په یاد شی — وخپل خدائے وته کویا په استغفارشم
استغفار په خولهٔ په زړهٔ دشر فکرونه — بیاله خپله استغفاره شرمسار شم
ددے دور دَ شیخانو حال م وکوت — چه ساعت ورسره کښینم تړے ویزار شم
ما دا هسے شیخی دوئ وته بخښلے — په محشر دِ دَ رندانو سره شمار شم
چه حلال کسب ئے نهٔ وی شکرانے خوری — خدایه بخن په شیخئ دَ شیخ رحمار شم
دا ناتار چه په جلی ذکر شیخان کا — کله زهٔ په تاخت راضی په دا ناتار شم

چه څرګنده سربازی کاندی دَ تورو
زهٔ خوشحال ختک ترهسے هنرځار شم

چه دَ عشق په ملک ندیم یم — دَ اندوه په ملک مقیم یم
نهٔ بهشت وته هوس کړم — نهٔ په ویره دَ جحیم یم
بند دَ یار په اختیار یم — آزاده له هر نعیم یم
سینه زهٔ لرم روښانه — تاته تور سیه کلیم یم
هغه قول چه ما کړے — په هغه قول مستقیم یم
خلیفه اصل خما دے — لوئے نسب یم کهٔ یتیم یم
کهٔ نور اوس دَ مینے لاف کا — زهٔ عاشق په یار قدیم یم
په غه اورچه عشق ئے نوم دے — کَه براهیمؑ کله کلیمؑ یم
دَ یوهٔ نفس دپاره — په اُمید وهم په بیم یم

زهٔ خوشحال په خرابات کښے
کړم په امانت عظیم یم

چه ستاله زیبا مخه چیرے کل وته نظر کړم
په خپلو سترګو خیر شم چه کهٔ سیخ پکښے خنجر کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ستاله زیبا مخه څوک بل مخ راته وُستائی
یوهسے قهر راشی چه کهٔ غوڅ ئے دغه سر کړم

کهٔ هر څودَ بهار کلونه بنهٔ دی په چمن کښے
یو ګل به په بنا ئست کښے ستاله مخه برابر کړم

دا مهٔ وایه وما ته چه تهٔ ولے در په در شوے
خپل مخ وَته وُوایه چه ئے ولے در په در کړم

خاطر م څهٔ خوخلاص وو فراعت وُم له غمونو
چه مخ دِ را بنکاره کړ زهٔ دِ بیا په نارو سر کړم

کهٔ واړه خزانے دَ شاه جهان بادشاه څما شی
همه واړه به زهٔ په یوهٔ خال دَ خو با ورکړم

ربستیا خبره بنه ده راته غوږ باسه خوشحاله
کهٔ تیر تر سرومال شوے څما څانه خولهٔ به درکړم

څهٔ زهٔ څهٔ م مجال دے چه به ووایم ستا یار یم
دا هومره عزت لږ دے چه ګدائے دِ دَ دربار یم

ما زهد تقوٰی طاعت بندګئی لره څوک بولی
زهٔ کله ستاله عشقه وبل کار وته وزګار یم

په لویه ورځ به ستا په ګریوان بنځے کړم منګلے
څهٔ ته څهٔ دِ وئیل دی ستا دَ خون څهٔ پروادار یم

په ما باندِ ته تل تر دوا ږو ستړکو نه عزیزے
کهٔ ستا تر فهمه هرڅو تر دا تورو خاورو خوار یم

سودا دَ یار دَ وصل کهٔ په سرشی یا په مال شی
دَ سرومال به هیڅ صرفه ونهٔ کړم خریدار یم

چه وُمرم عزیزانو تورکفن رالـره بوبه
په دا سبب چه زهٔ دَ تورو ستړکو سوګوار یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هزار ځله په کال کښے یوه میاشت د ګلو وخت وی
د یار په صحبت زهٔ محبوبه تل تازه بهار یم
څهٔ جک وهے ناصحه چه وما ته نصیحت کړے
وردرومه خپل روزګار کړه زهٔ خوشحال په خپل روزګار یم

چه نظر دِ په ټیکه د تور وربل کړم — د جهان بادشاه د ځان مخے ته بل کړم
لاځما طالع بهتره تر هر چا دے — چه دا هسے کښلیوستر کو ته کتل کړم
د سروشونډو په شرابو چه بیخود شم — له مستئ و رقیبانو ته کنځل کړم
اجابت به ئے لاکله تاثیر کاندی — چه دُعا دِ د وصال په سحر تل کړم
چه م زړهٔ ورپسے سوو هومړ سر یږی — چه په مخ ئے پرهارونه په چیچل کړم
د بنهٔ مخ مینه م نهٔ درومی له دِ له — کهٔ تل غوږ د ناصحانو په وئیل کړم
په صورت م پرهارونه دی خوږ یږی — په وار وار د هر پرهار دار وبه تل کړم
دا داغونه چه م سر په زړهٔ پنځوس دی — تر بل کاله ئے د عشق له لاسه سل کړم
چا په زور رالره غم نهٔ دے راوړے — وخپل زړهٔ ته ئے پخپله راوستل کړم
ازلی م د غم بخره ده راوړے — غم کهٔ نورو لره درومی زهٔ ئے خپل کړم
یو نیک بخت ساعت به وی چه راته غوږ کا — چه په درئے په فریاد فریاد ژړل کړم

چه لا بنهر د دهلی شته د خوشحاله
څهٔ فائده کهٔ وران په آه سره کابل کړم

چه په خیال په زرزری جامو کښے درومے — کهٔ نظر په خوارو کړے ثواب به مومے
پکښے څهٔ رنګه هوښیار مرغونه بند دی — ستا د وروځو خال دانهٔ د زلفے لومے
ستا د شونډو سرهٔ به ولے هسے نهٔ وی — چه پرے هر کله د زړونو وینے شومے
زهٔ به تاغلطه نهٔ کړم په ټولی کښے — کهٔ هر څو د خلقو جونه شی هجومے
د مجنون مینه یوازے په لیلیٰ ده — تر نظر پورے ئے نورے دی معدومے
ناز نخرے بنیوے غمزے فتنے خیالونه — په دا کار به نهٔ وی تاغوندِ څوک سلومے
د بنائست سره هزار کارونه نور دی — چه ئے تهٔ لرے نهٔ نورے بروسے شومے
چه رضائے په جفا وی نور م ستائی — د دلبرو خرخشے دی را معلومے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وخوشحال ته چه دنور و نوم آخلی
بے له تانه مینه ماته شی په کومے

چه په خوب شم ستاله خیاله سره خواب کړم
چه بیدار شم د مخ سود دِ په آفتاب کړم

چه م ستا د خولو بوئ ترسپیر مو تیر شو
نور به څه مینه په مشک او په کلاب کړم

بے نصیبه لیدل نه میسر کیږی
په لیدو پسے که هرڅو اضطراب کړم

بنه لیدل ئے په مثال آب حیات دی
دا تشنه خاطر به کله پرے سیراب کړم

په دشنام م کله کله سرفراز کړه
هغه دم چه د سوال طمع په خواب کړم

ماته څه وائے چه چاهسے خراب کړے
چه د حال پوښتنه نه کړے تاخراب کړم

ماته مه وایه چه ولے پیچ وتاب شوے
ستا دے تورو زلفو هسے پیچ وتاب کړم

چه له مخه دِ پلو واخست لمبه شوے
بیچاره خوشحال دِ درست سره کباب کړم

خو څوندے ئے د رزق مه کوه هیڅ غم
خپل قسمت به در رسیږی بیش وکم

قابل غم د ننګ نام کا په دُنیا کښے
نه په غم وی د دینار او د درم

قارون لاړ تحت الثریٰ لره لا درومی
موسیٰ پاس په علیین کښیښ قدم

پس له مرګه ښځ د مرګ ترقدم بنه یم
کورم مه شه د نامرد له کوره سم

د خوشحال قدر که اوس په هیڅ انشته
پس له مرګه به ئے یاد کا پیر عالم

چه په ما باندِ مئین زړه پرے مئین یم
چه څما په غم غمژن زړه ئے غمژن یم

ماوے یو زمان که بیل شم زړه به وُمرم
چه جدا پاتے یم له یاره دروغژن یم

که د پښو خیرے ئے نه یم بارے شکر
چه د ګرد په دودئے نښتے په لمن یم

په نورځه م د خاطر د لاسه نه شی
په جهان کښے آرزو من د بنه دیدن یم

خوبه راشه ما اوده کړه چه بخښ شم
په فراق کښے په ژړا ژړا کړمن یم

که رقیب په داخبر شی تروبه څه کا
چه له یاره سره زړه لاس وګردن یم

یمانی چهره م لاړه حبشی شوه
د فراق په اورئے سوے لوغړن یم

لوم دوو په څائے درے ګواه په عشق کښے
رنګ م زیړ ستړګے لمدے زبون په تن یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تہ محبوبہ کہ شیرینہ ډډے وخت نے
زہ خوشحال د اوسنی دور کوہ کن یم

څوک خوبہ کیدہ واړہ بہ نہ وو سرہ سم
تہ ډکښلیو سرئے نور تر تا دی واړہ کم

یو کلے یا دوہ چہ نے ستا ئنہ کا دا پیر دی
چونړ کښلے هغہ دے چہ ئے ستائی درست عالم

وخوزہ پہ باغ کښے رنګا رنګ ګلونہ ګورہ
ګل دے ډ ګلابو د ګلونو مقدم

څہ لرہ اے میاشتے تہ خپل مخ ستائے وماتہ
د یار پہ مخ م نورځی سنا پہ مخ درومی تورتم

مخ ئے لکہ اوردے پرے پرتے دی تورے زلفے
څہ رنګہ بازی کا پہ سرہ اور کښے تور ارقم

څوک چہ پیر پیر ګوری یار د زړہ مینہ لږ یږی
څوئے پیر پیر ګورم پرے ئین شم دم تر دم

تا وئیل خوشحالہ کہ م غم لرے پہ زړہ کښے
خوښ اوسہ خوښی کړہ تل تر تلہ ستا څہ غم

چہ بازئ پہ جهان کړم هغہ زہ یم
هم نے پوسم هم ترے یوسم اړ پرے نہ یم

واغیار تہ لکہ کانړے موم ویار تہ
پہ سختی وپہ نرمئ کښے هغہ زہ یم

وبلا تہ د اختیار تورہ پہ لاس کښے
وقضا وتہ تسلیم پہ شان د مړہ یم

لکہ بوټے د کیمیا پہ مرغزار کښے
چہ پہ حال م خبردار شی د هغہ یم

تندرهم څما د ذاتہ نہ پیدا دے
پہ سپین زړہ کہ د باران سپینے او یم

پہ هرنام چہ د رضا هغہ م بولہ
آدم زاد فرشتہ پری بودہ لیوہ یم

د کونینو نندارہ د زړہ پہ عین
د ویښ والی پہ دود کړم تا تہ اوده یم

د هرچا بازار څما پہ سودا تود دے
خبردار پہ سود د بحر هم د غړہ یم

هم داوس غوندِ هلک سرہ پہ لار څم
چہ پہ بده لار م بیائی هلتہ نہ یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم مې خیز هم مې ناخیز کا په میدان کښے
زهٔ خوشحال په حال خبر نهٔ یم چه څهٔ یم

څوبه ستاد دیو غمونو زغمل تل کړم
د یارانو کهے نشته یار به بل کړم

په قراره قراری د یاری پرے کړه
د نیمګړی نیت وچاوته وئیل کړم

چه وعده د د وصال چیرے خطا شی
په ژړا لوخاورے خپے د بورجل کړم

هرطبیب لره چه ویر شمه ناقص وی
چه له حاله ئے خبر شم څنے تلل کړم

نور به هسے یکتنها له خلقو اوسم
د هرچا سره چه کښینم غم حاصل کړم

بلا پیرے زما لرم دا ئے عادت دے
غم وبل لوری ته درومی زهٔ ئے خپل کړم

چه منګی مې تشول د میو زهٔ یم
اوس نور ډکے پیالے اخلی زهٔ کتل کړم

منګری د عاشقئ سره مله دد
په انکارکهٔ دروغژن یم دروغ سل کړم

خالی لاس ورځنے څم هیله مې نهٔ وه
چه ډک زما به ئے له ډکه باغه تلل کړم

په داهومره هوښیارئ هسے هیښ یم
څوک چه زهر راته نوش کا هم منل کړم

غرګناه راته د خس غوندِ ښکاریږی
چه په مهر کرم را یشم بخښل کړم

هم غزل مې په بیاض باندِ وکـــوره
زهٔ خوشحال ختک د زړه په وینو کښل کړم

چه مئین دِ د زلفینو په سلسل یم
خود په خود و لیونتوب وته مائل یم

وائی ته به د مجنون غوندِ مئین وے
که وچاروته مې کورے ترے فاضل یم

ما به څهٔ پوښتے چه څهٔ لره زړه تنګ ئے
ستا د تنګے خولے په فکر کښے تنګدل یم

د ګلونو په لیدهٔ دِ مخ را یاد شی
څکه هسے په ګلګشت د چمن تل یم

په خیر خیر راته کا ته کړے څیروے مې
مګر ستا ګمان په ما کیږی چه بل یم

ستا له کویه به ولاړ نهٔ شم که شړے مې
چه دِ زړه هسے جفا کړه اوس دِ خپل یم

لکه څوک چه په خپل دین کښے مستحکم وی
هسے زهٔ د یار په مینه مستقل یم

چه جدا له خپله یاره ژوندے پاتے یم
زهٔ په داشر وندون له یاره تل خجل یم

د نفر غوندِ مې عذر چاره نشته
هرچه ما وته څهٔ وائے په منل یم

لکه څوک چه خوارهٔ شهد وخوږ خوښ شی
هسے خوښ د شکر لبو په کنځل یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَخوشحال په کلریزئ کښے بهار راغے
په زیبا وئیل هر کل ته مقابل یم

حیران یم نهٔ پوهیږم چه زهٔ څهٔ یم څهٔ به شم
له کومه یم راغلے بیا به کوم لوری ته ځم

خبر دَ هغو تللیو بیا په بیارته چا را نهٔ ورو
له حاله له احواله ئے کهٔ هرڅو څوک پوښتم

دلے چه څوک لیدهٔ شی نن ئے شپه یه دا بانډه کښے
آخرئے له دے ځایه وار په وار واتهٔ کښږم

جهان یو کټورے شو زهٔ په مثل دَ میږی یم
حیران پکښے جاروزم لاس وپښے پکښے وهم

په هیڅ کله زهٔ بنهٔ کړی کله زهٔ په هیڅ بیا بد کړی
کهٔ کام کهٔ په نا کام دی واړه باد دی پیما یم

دُنیا وته چه کورم کاروبارته دَ وکړی
دَ وړکیو تماشے دی زهٔ ئے هم ورسره کړم

چه تهٔ پرے مبتلائے کهٔ دِ مال دے کهٔ دِ ملک دے
دا واړه بے له خوبه بے له خیاله نهٔ وینم

چه تور ویښتهٔ دِ سپین شول خوئ دِ نورنهٔ شو خوشحال له
با ور کړه اوس ناحق دَ سړی نوم دریاندِ ږدم

دَ یار غم به په تنها صورت زغمم
دا بے درد عالم به نهٔ را خبر و م

چه دا او سنے م غمازے دَ فراق دی
زهٔ ئے څکه په ګریوان کښے تویوم

همیشه ئے په دا فکر درمانده یم
چه دَ خوږ خاطر علاج په څهٔ کوم

ملامت ئے دَ عاشق دَ سر پکړئ دهٔ
دا پکړئ له سره چرته اچوم

دَ هجران دَ آتش لامبے تازه شی
خودَ صبر اوبهٔ زهٔ پرے پوږدوم

آشنائی له جدایئ سره بنه ده
دَ مرهمو قدر داغ څخه کښږم

له طبیبه خو خلق هیله دَ شفا کا
زهٔ خسته دَ خپل طبیب له لاسه مرم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یارہ تہٗ چہ جدائی جدائی وائے
زہٗ خوشحال دَ دے خبرے توان لرم؟

دَصفا پہ لارے نہٗ اینبے قدم
ھمیشہ لہ درویشئ وھم دم

ھغہ کلہ شیخ ملا ولی درویش دے
چہ نظر پہ سود او زیان پہ مدح و ذم

درویشان پہ تفاوت نہٗ دی راغلی
خپل پردی پہ ستر کو وارہ کوری سم

دَ درویش تر زیرہٗ بہ نہٗ رسی دا دوارہ
آئینہ دَ سکندر کہٗ جام دَ جم

ودرویش وتہ سرکوزے بادشاہ نہٗ دے
دَ آسمان ورمیږ لاھم دے ورتہ خم

دَ درویش علم پہ درس پہ مکتب نہٗ دے
تل نظر لری پہ لوح او پہ قلم

کہٗ خلوردی کہٗ پینځہ کہ شپږ اوہٗ دی
دَ درویش نشتہ داھیڅ اتم نہم

ماوتا وتہ دیوار شتہ غاړے غرونہ
پہ درویش تر شرقہ غربہ دے یو سم

نہٗ پہ نون دے نہٗ پہ میم دے نہٗ پہ جیم دے
کامل پاس پہ لام وھلے دے قدم

چہ ذرہ طلب دَ نمر کا ندی خوشحالہ
پہ ھمت مہٗ شہ تہٗ ھم تر ذرے کم

دانہٗ وایم وچا تہ چہ پارسایم فاسق نہٗ یم
دَ خدائے منت را باندِ ھرچہ یم منافق نہٗ یم

یا مازدہ ستا پہ حُسن یا حُما پہ مینہ تازدہ
کہٗ ھرڅو کبنلی پیردی نور پہ ھیڅا عاشق نہٗ یم

دَ مخ مشال دِ بل کړ دَ پتنگ غوندِ پرے را غلم
بیا تہٗ بہ راتہ وائے چہ پہ عشق کښے صادق نہٗ یم

کہٗ تہٗ لکہ لیلیٰ ئے ما مجنون بولہ پہ عشق کښے
کہٗ تہٗ لکہ عذرائے زہٗ ھم کم تر وامق نہٗ یم

یا مست یا لیونے یم یا مِ نہٗ زدہ کار دَ مینے
بنکارہ بنکارہ وئیل کړم دَ رازونو سارق نہٗ یم

دَ ھر بنھر پہ کوئے کښے ناقصان طبیبان پیردی
کہٗ ھرڅو پسے کړخم زہٗ لا پیښ پہ حاذق نہٗ یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څو ذکر څو مذکور کړے تل څما د ګمراهئ
انصاف ښئ دے زاهده زهٔ مخلوق یم خالق نهٔ یم

دروغ وعده هم ښه ده د سړی د زړهٔ اُمیدشی
یوتش مهرخو وکړه کهٔ د ډک دِ لائق نهٔ یم

کهٔ وائے هغه وایه چه د عشق د محبت دی
کهٔ نورځهٔ راته وائے زهٔ خوشحال ئے شائق نهٔ یم

د خپل یار مینے په زړهٔ هسے بیمار کړم
چه په درد کښے ئے هر کوره ناقرار کړم

چا ناقص م دارو کا پرے نهٔ رغیږم
د حاذق طبیب طلب په کوم دِیار کړم

تورے سترګے تورے وړوځے تورے زلفے
دا همه تورے بلادی زهٔ ئے خوار کړم

کهٔ یوتش نظر د مهر راته وکا
د دُنیا واړه منصب مال به ترے څار کړم

زهٔ خوهسے نادیده نهٔ یم اے خلقه
چه به بهٔ ترمخ کلونه د بهار کړم

د بهار کلونه اورشی زهٔ پرے سوزم
چه بے کښلیه مخه سیل د ګلزار کړم

بے له څانه په بل چا م پیرزو نهٔ شی
چه کا تهٔ د مهوشانو په دیدار کړم

چه دیر دیر ئے کښلی مخ ته کتے نشم
دواړه سترګے ئے مزرئ دی څنے څار کړم

ماخوشحال په څان پخپله چارے وکړے
چه په ملک کښے یوناترس وی زهٔ ئے یار کړم

د تقوٰی د پارسایئ دُعا تل کړم
چه دُعا م اثر نهٔ کاځهٔ وئیل کړم

زهٔ م خدائے مئین کوی په بنا ئسته ؤ
هسے نه چه زهٔ پخپله زړهٔ مائل کړم

چه عالم م اړوی د عشق له کاره
زهٔ اقرار ورته په خولهٔ انکار په دل کړم

مګر زهٔ فسق او فجور لره پیدا یم
چه بیا بیائے ماتوم کهٔ توبے سل کړم

واعظ حورے ښے کوی تردا دلبرو
کهٔ هوهو ورته لرم کله منل کړم

زهٔ په دا سبب لیمهٔ غواړم له خدایه
چه دلبرو ته د سترګو غړول کړم

چه د عشق غمونه نورچا لره دروی
زهٔ ئے مخے لره ورشم واړه خپل کړم

عاشقان به د جهان په ما پیغور کا
زهٔ کهٔ اوس په عاشقئ کښے خوئ بل کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وهرچا وته ئے راز وایم د مینے
د هرچا سره چه یار شم یار خجل کړم

زهٔ لومړے په آشنایئ ناز یدلم — وارهٔ غم وُوچه پرے بنهٔ وپوهیدلم
د زړهٔ زور د صورت توان راځه لاړشه — چه درانهٔ د بیلتانهٔ پیتې ئے اخلم
آشنائی یاری په مهر په رضا شی — په دا کارکښے په چا نهٔ شی زور وظلم
سراول د یار د یاد په بالین کښیږ دم — له غه پسه په پالنګ باندِ څملم
چه د سر په څائے سینه راته بډه کا — هم هغه به د بنړو په غشیو وُولم
بنا نسته لکه کلونه زهٔ طوطی یم — چه وهر لوری ته څم په کلو ملم
کهٔ سیالی له نړه شی نهٔ ئے له بخته — شاه پخپله بے ریبارهٔ وُ بللم

هوسئ چا په دوُ نیولی دی خوشحاله
بیهوده په غزاله وُ پسے زغلم

زهٔ چه هسے په تعجیل او په شتاب څم — خرابات لړه په هیله د شراب څم
د ساقی د لاسه مئے چه تناول کړم — بیا په بیارته به بیخوده مست خراب څم
د ساقی د مخ جذبه م مخ ته بولی — چه دا هسے میکدے ته په ترتاب څم
دُرد د رز م ئے له خمه دی نوشئ — اوس په هیله په امید د مئے ناب څم
چه م نشی بله یو سر بل سر ستړکے — له جهانه مخ پوښلے په نقاب څم
له دوُو ستړکو م روان د اوښکو سیندشو — دَدے سیند دپاسه زهٔ لکه حباب څم
خوب وخور م له خاطره فراموش دی — د جمال په خیال ئے درسته شپه په خوآخم

د محبوبے د جمال شغلے آتش دی
زهٔ خوشحال ئے له لیدلو زړهٔ کباب څم

زهٔ چه تل هومره ناسازے د عالم وړم — د خپل یار د پاره داجور وستم وړم
د لاله غوندِ داغدار په جهان راغلم — هم دا داغ به له جهانه د صنم وړم
په وصال ئے د جهان خوښی راشی — چه له کښلیو جدا کیږم څنے غم وړم
په عالم د مجنون غږ دے مردم بو له — په محشر کهٔ څنے وړاندِ خپل علم وړم
هر قدم په څیګر خون ږدم توئے مشه — د شرابو پیالے دے په تورتم وړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه نرګس ته نظر نۀ کاندِ له کبره وهغوته څۀ ګلونه د شرشم وړم
کارکُنان د کارفرمائے په حکم کار کا زړۀ چه حُکم فرمائی هوړے قلم وړم
هومره پیرے خرخشے فتنے جنګونه بیا به وائی چه زۀ ستا غنجونه کم وړم
په هردم د هغه یارمنت رابانِدِ چه ئے هسے پیرخیالونه په هردم وړم
مخ به چیرے راته سم کړے په یارئ کۀ داخوئ به همیشه له عمره سم وړم
چه په کوئے کښے دِ مقیم شم دروغژن یم کۀ به نوم په ژبه چیرے دارم وړم

راته وائے نن زړۀ څه رنګ وے له مانه
کۀ دِ خوږین کړم ئے خوږ خوشحال خرم وړم

زۀ چه خپل قدم د عشق په خونی راه ږدم هر زمان له تنه سر لکه ګیاه ږدم
د جمال خوبی دِ زیاته تر آفتاب ده د نظر دپاره نوم درباندِ ماه ږدم
درسته شپه چه ستاله غمه سړه تاؤشم هر سحر په افلاکونو باندِ آه ږدم
کۀ تۀ تیغ د جفا وکاږے و ماته ستا و تیغ وته به سر لکه ګیاه ږدم
کۀ م چیرے لاس دواک درورسیږی په سپین مخ به دِ د غابن نخښے سیاه ږدم

بیچاره خوشحال چه ستا د درګدائے شو
څکه زه درباندِ نوم د بادشاه ږدم

ستا د راغلو منت پیر لرم نسیمه چه ګلونه غوړوے څما په سیمه
وصبا وته ئے هیڅ بے څایه نۀ دے چه خبر شوم د ګلونو له تسلیمه
د بلبلو بے خودی بے څایه نۀ ده چه مستیږی د ګلونو له شمیمه
بیم د هجرد هرچا سره جار وُځی هیڅ عاشق به خالی نۀ وی له دے بیمه
کل بلبل سره بنۀ وصل لری دریغه کۀ داچاره همیشه وے مستقیمه
کله وصل د خپل یار کله هجران وی سرشته د عاشقئ ده دا قدیمه
د بهار په وخت چه ګشت د ګلزار نۀ کا هغه څوک به اندیښنه لری سقیمه
په بلبلو د ګل بوئ لکه وصال دے کۀ ئے رنګ په ستر ګونۀ وینے ندیمه
هرورق ئے معرفت د کردګار دے وهر ګل وته کاتۀ وګړه حکیمه
کله هرلوری ته ګل د بهار ګورے کله نۀ وینے یو ګل په خپله سیمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوم یا ردویم کلزار ساز وساقی شته نن م کومه اندیښنه له غین ومیمه
د کلزار په اشتیاق دے په خزان کښے
په خوشحال باندِ کرم وکړه کریمه
بنائسته نۀ دی بلا دی آشنائی ئے دہ له غمه
آشنائی ئے دہ له غمه زۀ نارے وهم عالمه
زۀ نارے وهم عالمه عشق یو یم دے په موجونه
عشق یو یم دے په موجونه الحذر له هسے یمه
الحذر له هسے یمه چه عالم پکښے فنا دے
چه عالم پکښے فنا دے دا دریاب روغ دے له دمه
دا دریاب روغ دے له دمه چه ساحل ئے لیدۀ نشی
چه ساحل ئے لیدۀ نۀ شی د یرغرقاب دے تر قلزمه
د یرغرقاب دے تر قلزمه نۀ زیاتیږی نۀ کمیږی
نۀ زیاتیږی نۀ کمیږی ترابده تر قدمه
ترابده تر قدمه چه شنا کا په دا یم کښے
چه شنا کا په دا یم کښے چه دعوی لری محکمه
چه دعوی لری محکمه هغه دُر ورپسے غواړی
هغه دُر ورپسے غواړی چه بها لری اعظمه
چه بها لری اعظمه هغه دُرئے بنۀ جمال دے
هغه دُرئے بنۀ جمال دے چه خوبی ده باندِ تمه
چه خوبی ده باندِ تمه په جمال ئے زلفے ماردی
په جمال ئے زلفے ماردی خبردارئے یم له سَمَه
خبردارئے یم له سَمَه په خوقسمه تورماران دی
په خوقسمه تورماران دی څوک دَدم دی څوک بے دمه
څوک دَدم دی څوک بے دم دی هغه مارخوشحال خوږلے
هغه مارخوشحال خوږلے چه ژوندے دے تر دے دمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنۀ به هغه وخت وی چه به یار لره وردرومم
وایم چه به زۀ باغ وبهار لره وردرومم
زلفے ئے بنکاره کړے مښک عنبرے په ماتوئے کړۀ
اوس به له دت پسه څۀ عطار لره وردرومم
خدائے په کور کښے راکړه هغه تورے سترګے ترکه
اوس به ئے په مرسته څۀ فرخار لره وردرومم
زار دخوږ و زړه ونو خوښ خرم زړونه آزار کا
غم اندوه م دادے چه خپل زار لره وردرومم
هرچرته چه خار دی هغه ځائے موبی ګلونه
څکه په دا هیله هرهر خار لره وردرومم
کوم سحر ئے وکړۀ په ما خوار باندِ حیران یم
مرګ وته م ناست هغه خونخوار لره وردرومم
هم ئے په ما وکړل څوځو رنګه ستمونه
بیا له ناچارئ ستمګار لره وردرومم
یارم په بنانست کښے لکه ګل د نوبهار دے
سودائے د جمال کړم چه ګلزار لره وردرومم
بنۀ خواږۀ یاران چه ما خوشحال لیدل په سترګو
اوس ئے په ژړا ژړا مزار لره وردرومم
کۀ مئین زۀ په ګلزار یمه په ځائے یم
کۀ جُدا ورځنے پاتو یم عالمه
یارم لاړ شو په دالار ورپسے دروم
بے له عشقه بله چار نشته بهتره
په جنت کښے هم د خورو صفت کیږی
په یارئ کښے هیڅ حساب د جور نشته
له خوږ وشونډو ئے سړے شکرے اُوری

کۀ مئین زۀ په ګلزار یمه په ځائے یم
کۀ د مخ ئے په نندار یمه په ځائے یم
په ژړا کۀ په چغار یمه په ځائے یم
کۀ د پرستړے په دالار یمه په ځائے یم
کۀ دایم د عشق په چار یمه په ځائے یم
کۀ طالب د بنۀ نګار یمه په ځائے یم
کۀ دادخواه له ستمګار یمه په ځائے یم
کۀ طوطی د شکر بار یمه په ځائے یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ خوشحال په لیونتوب کښے خوشحالی کړم
لیونے د پری وار یمه په خانے یم

که م هرخوته بادشاه نے زه کدا یم
مخ له مانه مه جار باسه مبتلا یم
زهٔ چه ستا د غلامئ داغ لرمه
هیڅوک ځان سره سم نه کنړم بادشاه یم
د خاطر درم تړلے دے په غنو
له عالمه سره ناست په فکر ستا یم
که دِ څوک په درد رومن ڈ زهٔ دردمن یم
که دِ څوک د تلی خاورے زهٔ خاکپا یم
کله ستا د راز خبرے په کاغذ کښم
کله ستاله مخه حال قلم ته وایم
د بنهٔ مخ د عاشقانو دِ شمار نشته
ولے زهٔ په همه وار و کښے یکتا یم
خادمانو له شمارے م محروم مه کړه
که د نورو انعامونو دِ ترشا یم
که په ما مهر کرم کوے ته بنائی
که په ما جور وستم کوے، سزا یم

تا خوشحال وته وئیل چه څهٔ پکارئے
که پکار که نا پکار یم خوهم ستا یم

که همیش د ملامت کانړی په سرخورم
غم م نشته چه په تورئے د دلبرخورم
که د سپیو د کودی اوبهٔ نے مومم
زهٔ به وایم چه په تن آب کوثر خورم
لکه باد په نرګس وُلګی تازه شی
د رقیب څیره هسے په بصر خورم
زهٔ به لاورته تلوار کړم لکه تړے
که تل ستاله لاسه تُوره یا خنجر خورم
چه په بناخ نے ډول ډول میوے زانګی
لا به کله د وصال د وُنے برخورم

تا وئیل خوشحاله چپ شه خولهٔ م واخله
زهٔ طوطی یم چغار وکړم بیا شکر خورم

که ګناه نه کړے آدم
تر وپه چا به شو کړم
سکه کرم لره بانډهٔ دی
چه پیدا شوے نور عالم
په یوه توبه ګناه څی
د سړی له عمره سم
ګرد غبار چه په ګل پریوزی
شسته و شوئے کا شبنم
د مومن ګناه په غاړه
د شیطان دی بیش و کم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شاهزاده چه بدی وُ کا د ندیم سرشی قلم
د دۀ بد په نورویشل شی یار تر یاره نۀ دے کرم

په لا تقنطوا خوشحاله
تل خوشحال اوسه خرم

کۀ گذر په خیرآباد وکړے نسیمه یادِ گشت وُشی د سرائے د سیند په سیمه
په وار وارځما سلام ورته عرضه کړه ورسره څما د لوریه څو تسلیمه
اباسیند و ته ناره وکړه په زوره ولنډی ته وینا ووایه حلیمه
گوندِ وی چه بیام ستاسے جام نصیب شی په گنگا جمنا به نۀ یم تر قدیمه
کۀ د هندله هوا زارکړم څوبه زار کړم د اوبو بلائے لا بده عظیمه
کۀ د نهر اوبۀ څښے کلے پریباسی هم د هرکوهی اوبۀ نۀ دی بے بیمه
چه سړے اوبۀ د غرۀ نشته په هندکښے ترے توبه کۀ واړه ډک دے له نعیمه
تل به هیڅوک نا اُمید په دُنیا نۀ وی په کریابو کرم کیږی له کریمه
د ویشتلی وصحت ته اُمید وُشی د پرهارئے چه کمے وشی له ریمه
خدایه زۀ م په وصال د هغو خوښ کړه داچه اوس ورځنے لرے دے دوه نیمه
عاقلان به هیڅ انکار وربانِد نۀ کا هرافعال چه صادر کیږی له حکیمه

همیشه به په هندنۀ اوسے خوشحاله
عاقبت به عاصی وُوځی له جحیمه

گرم خونۀ یم کۀ ارمان کوم لا ژاړم د باغ گل م غوړیدۀ زۀ څنے غواړم
بل بادشاه نشته اورنگ م عدل نۀ کا کۀ صبا بیگاه ئے تل په دربار تاړم
د طلب غږی م لاندِ شول تر غرونو هغه بیل یاران په کوموغږیو غواړم
د هواد یاران م هرزمان یادیږی چه ئے مخ په خوب کښے وویني وویاړم
چه قاصد د یار د خولے کتابت راوړی څوئے لوند په اوښکو نۀ کړم نڅئے نغاړم

زۀ خوشحال په خپل قسمت پورے حیران یم
چه په چرته گرځیدم په چرته ولاړم

گرم خونۀ یم چه له دردہ سره خورم نور به ډکے پیالے آخلی زۀ به گورم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لاله زار به شګفته په هغه ملک شی — چه باران د دوا پوستړ کوباندِ ووړم
وائی زړۀ له مانه وژغوره که بنۀ کړے — کشکے ستاله لاسه خلاص شی زۀ ئے ژغورم
ځان به درکړم مچه راکړه بنه سودا ده — که ئے تۀ په چا پیرے زۀ ئے پلورم

په دا راز به هر بے نیازکله خبریږی
چه خوشحال راته دُعا کا زۀ ئے زورم

که غمونه د دے خپل خاطر کباب کښم — بویه داچه دفترونه یا کتاب کښم
په بیان په قصیده به تمام نۀ شی — که ناسازے د سپهرو د شهاب کښم
د فراق غمونه لور په لور انبار دی — په کاغذ باندِ د کوم یوۀ حساب کښم
په ډیر غم کښے هیڅ خبر نۀ یم له حاله — زۀ به دا واړه په حکم د وهاب کښم
که جفا د زمانے وه که د خلقو — زۀ به دا واړه په حکم د وهاب کښم
په فلک باندِ د هیڅا حکم نشته — چه ئے ظلم ستمونه انقلاب کښم
د اګرے په کوټ کښے بند شاه جهان دے — د دارا به هغه کوم فانی جناب کښم
نۀ به زړۀ خما سړیږی نۀ به بس کړم — ورځ و شپه که سلامونه په احباب کښم
خراب شوی د فلک له لاسه ډیر دی — اوس به حال د هغه کوم یوۀ خراب کښم
که د خوږ خاطر له حاله چا ته کښل کړم — بیا آهونه یا ژړا یا به عذاب کښم
یو مکتوب د خپل آشنا را لږه راغے — اوښکے بغرګے تویوم چه ئے خواب کښم
حاسدان م په حساب لکه کلاب دی — حیف نۀ دے چه به جور د کلاب کښم

ما خوشحال په خوب داحال نۀ وولیدلے
چه به دا د غم بیتونه په پنجاب کښم

له هنره چه څوک ووائی لږم — چه م بخت نۀ کا یاری څۀ ووایم
په جهان کښے د وفا هنر کیمیا دے — زۀ ئے څۀ لره د چا هیله کوم
د وفا میوه د دهر په باغ نشته — بیهوده ئے هره وُنه لټوم
غه باران چه په دریاب باندِ وریږی — په باران به ئے زۀ څۀ حساب وم
نادانی م غلبه په هوښیارئ شوه — مرغلرے په دریاب کښے تویوم
له قسمته به نۀ لږ نۀ به څۀ زیات شی — غه روزی چه خما نۀ ده نۀ ئے خورم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه خُما له زړه زیات خما څخه وی
اَمانت غوندے بل لره ساتم

کوم مکان د زمانے له مکره خلاص دے
چه هغه لوری ته تیښت ورځنے کړم

کهٔ په تیښتے خلاصیدے څنے به خلاص شوم
د قضاله لوری کوم لوری ته څم

زمانه مِ د فتنو په کانړو وُولی
زهٔ اَبله د بنیښے سپر په مخ کښیږدم

چه په راغلے بنادی راسره نهٔ وه
په هجران به ے څهٔ زړهٔ زهیر وم

چا وئیل چه صبر نخښه د بری دے
زهٔ خوشحال په صبر څکه زړهٔ ترم

لا به کله خپل مقام ودلبر ورکړم
چه کتلے مال همه ورته د لور کړم

یو ولی د دلاسه را ته پرے نږدی
څان کهٔ هرڅوخپل مئین ته مرور کړم

هیڅا ونهٔ کړه خُما د زړهٔ سا تنه
هرسړے مِ زړهٔ دردمن کا چه زړه ورکړم

په درست کلی کښے یو هسے دلبر نشته
چه خپل زړه دَدهٔ په وصل بهر ورکړم

خبردار به شی عالم خُما له درده
کهٔ د آه په اور پړوزے پیښور کړم

ستا د خولے خبرے نورے د زړهٔ نورے
زهٔ خوشحال ختک یو هیښ یم پرے باور کړم

ما شراب خوړلی نه په حد واههٔ شم
کهٔ ئے وخورم خبر نهٔ یم چه به څهٔ شم

په هرلوری چه نظر کوم اغیار دی
د زړهٔ حال وچاوته وئیلے نهٔ شم

زمانے را باندِ وکړے هسے چارے
لکه دُر د خرمهره سره پیښهٔ شم

د اورنګ بادشاه په دور عدل نشته
ترطناب لاندِ په بنهر کښے لوټه شم

کهٔ د رنځ دارو مِ کړے طبیبه وخت دے
هالهٔ ستا دارو ومشه چه په تلهٔ شم

خپل خونی وچا ته څهٔ بنائیم په کوته
چه د چا د لاسه مرمه خود لیدهٔ شم

درسته شپه لکه اَغزی په زړهٔ څرخیږی
د فراق غمونه څهٔ رنګه اُودهٔ شم

هیڅ په ستړکو لیدهٔ نشی یو قصاب دے
نهٔ ئے لاس نهٔ ئے چاړهٔ په زړهٔ ورژهٔ شم

لکه وو په هغه شان په وفا تینګ دے
چه تر یارے څخل نهٔ کړم څار تر زړهٔ شم

په دالوخو پوځونهٔ رسم تر یاره
د سیمیا علم مِ نشته چه مرغهٔ شم

خلق تشے تسلے کا زهٔ له څلی
د هلک غوندِ د هرسړی په خولهٔ شم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اَللّٰهدا دچه بند په بند کوتے په تار ر.دی
دخُوږ زړهٔ دمه مِ شی څهٔ خوتا به شم
نهٔ شیخان نهٔ طبیبان نهٔ ساحران شته
چه له دے رنځه دچا په سبب ښهٔ شم
زهٔ خوشحال له نوروڅهٔ لره فریاد کړم
په زړه زړهٔ واړه په خپل غشی ویشتهٔ شم

مابے دوده توسنی کړه منجید لم
عاقبت ئے په کمند و څکیږ لم
وړاندِ روستوئے را واچول بندونه
په آخورئے قیزه کړے وتړ لم
هغه ډیچے هغه ترنډے له ما ولاړے
چه به خوشے په جلګو کښے کرځید لم
ریاضت ئے دَ مولا را باندِ کښینے
رنګ په رنګ ئے په جلب و پوهو لم
چه مِ لاس دَچا تر شا نهٔ وُو راغلے
اوس پخپله شا پخپله زین اخلم
دَ سورلئ هُنرئے و بنایهٔ و ماته
په تیمار او په راتب ئے و سا تلم
ورځ وشپه مِ دَ تپاک خبر آخلی
کهٔ خوراک خورم کهٔ ولاړ وُم کهٔ څملم
هم ئے نوم دَ ډیرے مینے په ما کښینښ
هم ئے زړهٔ پخپله نخښه و داغلم
چه تمام هُنر مِ واړه ورمعلوم شو
خپل څښتن په خپله ژبه وستائلم
بیهوده زغا بښتنه واړه له ما ولاړه
چه په هرلوری ئے حکم هورے زغلم
چه په ما به ئے نظر په حقارت کړ
هغو واړو په هُنر کښے و پسند لم
اوس مِ قدر یو په سله یو په زر دے
چه اول په څو درمه پیر ید لم
اوس په هر توکی خوشحال خورسند خرم یم
په خپل قدر په قیمت و پوهید لم

مست یم مئے پرست یم رندی کړمه کړمه کړم
واړه محتسبه باده خورمه خورمه خورم
نور شراب مِ واړه نور عالم وته بخښلی
لآم و ب مِ مئے دی پسے مرمه مرمه مرم
مور به څنے نهٔ شم زهٔ دَ میو مستسقی یم
تل کهٔ هسے ډکے پیالے څښمه څښمه څښم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لارَد محبت دہ تل بہ روغ سلامت نۂ یم
زۂ چہ پہ دا هسے لارے تلمہ تلمہ تلم

څۂ وائے وما تہ حال دِ څۂ وو پہ هجران کښے
نورخبردارنۂ یم پہ زړۂ سومہ سومہ سوم

خلق راتہ وائی رنګ دِ بیا زیړ شو عاشق شوے
هیڅ منکری نۂ کړم خلقہ شومہ شومہ شوم

دود د عاشق دا دے چہ پہ عشق کښے ملامت وړی
ځکہ زۂ خوشحال ملامت وړمہ وړمہ وړم

نجومی چہ قدم نۂ ږ.دی بے نجومہ موت وفوت ونا کامی مومی لہ کومہ
چہ کړئ کړئ د ورځ شپو تیریږی پکښے راشی پہ چا نیکہ پہ چا شومہ
ځان بہ خلاص نۂ کا د بدساعت لہ شرہ نجومی ئے کۂ خبر دے لہ علومہ
نیک وبدئے پہ قبضہ کښے د قضا دی بیهوده خبرے مہ پیمہ وردرومہ
مقدر بہ پہ هیڅ رنګ مبدّل نۂ شی هرسړی لرہ ورځی بخرہ مقسومہ
کۂ پہ پوهہ افلاطون د زمانے شی دقیقہ بہ د قدر نۂ کړی مفهومہ
کډی چرګ ترمزکے لاندِ اوبۂ وینی ولے نۂ وینی پہ زمکہ باندِ لومہ
پہ تنزری نن د کاندہ حال معلوم دے ولے بند شی د هلکو پہ کړ کومہ
ورځ شپے سرہ همہ نۂ دی یکسانے نن یوہ دہ کاندہ بلہ شی معلومہ
وسړی تہ وار پہ وار هغہ رسیږی چہ د دۂ پہ پیشانئ باندِ مرقومہ

پہ خوشحال یوہ هغہ دہ بلہ دا شوہ
بیا بہ کورہ پہ قسمت پیښہ شی کومہ

نور بہ مخ پہ آئینہ برابر نۂ کړم نۂ بہ دواړہ ستړکے تورے پہ رانجۂ کړم
نۂ بہ سپین لاسونہ سرۂ کړم پہ نکریزو نۂ بہ نورپہ ږ.منزے سازد سرو بینتۂ کړم
نۂ بہ ملاتے ماتے څنډے پہ مخ پریږدم نۂ بہ لاندِ باندِ لب پہ پانوسرۂ کړم
چہ د مینے یار م نشتہ چہ ئے کوری د صورت سنګار و کوم یوۂ تہ وکړم
درست صورت م سرے لمبے شی شنے د ډوډے چہ د خپل مئین د مینے راز تر زړۂ کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ژوندون ترهرڅهٔ خوږ دے په جهان کښے اوس بے یاره په ما ترینه دے زهٔ ځهٔ کړم

هغه یار چه چرته دے خوشحال دِ اوسی
دے دِ خپله خوشحالی کا غم به زهٔ کړم

وړاندِ روستو دوه عدمه په دا مینځ کښے یو دوه دمه
خو هم دائے چه لیدهٔ شے کهٔ څهٔ نور څهٔ ئے آدمه
چه دا دوه دمه دِ نهٔ وی په حساب ترجیفه کمه
ستا غفلت و ته حیرت یم په خپل ځان باندِ ستمه
دَ حرص په وزر کړے هم په غرونو هم په سره
کهٔ بادشاه دَ درست جهان شے چار دِ تیره شی تر جمه
بادشاهی به دِ خلاص نهٔ کا چه اجل درشی له همه
څو روز کار هومره ئے فکر څو دُنیا هومره غمه
په زړهٔ یو درم یو داغ دے دوه داغونه دوه درمه
څو عالم سره کړ یږی غم به موسی له عالمه
چه وهرڅهٔ ته ئے شاکړه په هغو ده مُسلّمه
چه نهٔ څهٔ آورے نهٔ څهٔ وینے زړهٔ دِ خلاص دے له اَلمه

ته هم دِ یر ښهٔ ئے خوشحاله
ولے څار پوډهٔ تر قلمه

هغه دم چه دَ ساقی پیاله نوش کړم په مستی ئے دوا ړه کونه فراموش کړم
په معنیٰ کښے هم شراب یم هم ساقی یم طالبان دَ میوشته چه ئے مدهوش کړم
ناصحان را ته دَ عقل دفتر لولی خدائے به ئے نهٔ کا چه ئے زهٔ په وئیل کوشش کړم
دَ زاهد په صومعه کښے مِ زړهٔ تنګ شو له دے پسه به خدمت دَ مئے فروش کړم
زهٔ بلبله خوش نوا دَ دے چمن یم په موسم دَ ګلو څهٔ رنګه خاموش کړم

چه په زړهٔ ئے اَثر نهٔ کیږی خوشحاله
څهٔ فائده کهٔ تل په رو ورته خروش کړم

هله مخ را ته بنکاره کړه دیوانه شوم په همه وا ړه عالم کښے اَفسانه شوم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لامِ ستا دَ مخ چراغ لیدلے نۀ وو زۀ زړۀ سوے لاهاله پرے پروانه شوم
آشنائی دِله بنادئ نۀ وه غم وو چه دا هسے له بنادئ بیګانه شوم
ستا دَ زلفو دام مِ ولیدۀ په لارے له مسجده نه مقیم په بُت خانه شوم
ستا دَ زلفو دَ زنځیر هوس مِ وُکړ نۀ چه زۀ له بے عقلئ دیوانه شوم
آغزین دِ دَ بنړو نۀ وو بلا وو چه په ځان و زړۀ ئے هسے نښانه شوم
زۀ چه تل دَ لیونیو په شمارۀ وُم بیا له کومه په ساعت کښے فرزانه شوم

زۀ خوشحال هم بے نظیر یم په عالم کښے
چه مئین په بے نظیرے جانانه شوم

یوه نخښه درته وایم دَ بے شرم په وعده په قول نۀ وی نرم ګرم
خدایه ما دَ هغو مل مۀ کړے په لارے چه ئے نۀ وی په یارئ کښے آزرم
دَ ناکس یارې په مثل دَ اوړو دۀ چه دَ باد په مخکښے دروی ترم ترم
یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه په هرچا چه دَ یارئ باور ورم
ګۀ هندوکۀ مُسلمان دَ پت په کار کښے چه مِ ولیدۀ دَ هیڅا نشته برم
څوک چه نرم وئیل کا عمل ئے ګورۀ تکان هم په خولۀ وئیل کا نرم نرم

دَ هغو و مخ ته مۀ ګورۀ خوشحاله
چه ئے سخت په بے شرمئ کښے دَ مخ چرم

آه هم دا هومره آهونه دَ دم په دم بیا ګناهونه
هم هغه پکښے پرے وزی چه کنی چا ته چاهونه
لکه باد هسے تیریږی دَ فانی دُنیا جاهونه
اور دَ آه ئے هسے لګی لکه اور په ګیاهونه

ګورۀ بیا به په چا سرشی
دَ خوشحال ساړۀ آهونه

آدم خیلے آفریدئ دی سړے او سپینے پکښے شته دی بنا نسته په رنګ رنګینے
غټے ستړګے لوئے بانړۀ فراخ وړوځے شکرلبے ګل رخساره مه جبینے
تنګے خولے لکه غوتئ هوار غاښونه سرئے ګرد په تورو زلفو عنبرینے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په وجود کښے لکه ها له ویښتو خلاصے
پښے کملکئ غُنډئ پنډئ پهن سرینے

ترڅنګ کیږے سینه وړے ملا نړئ
قدئے سم لکه الف په تن سیمینے

که دَ باز غوندِ م کشت په غرونو کیږی
بنکار م هم شوے بنائسته زرکے ثمینے

بازکه چُوز وی که کرج طلب دَ بنکار کا
لا ترچوز وی دَ کرج غوټے مهینے

یا اوبهٔ دَ لنډی سیند یا دَ باړے دی
چه په خولهٔ م ترشربت لګی شیرینے

دَ ماتری غاښے نیغ دَ رومی آسمان ته
په خاتهٔ خاتهٔ لنډیږی باندِ سپینے

آدم خیلو سره زهٔ په تیراه را غلم
نور رخصت ورکړے خوږ په زړهٔ خورینے

مینه واړه کار دَ اور لری خوشحاله
که لمبه ئے پټوے لوګے ئے وینے

اے چه مخ دِ بنائسته دَ ے په خالونه
په داخپل بنائست دِ یرمهٔ کوه خیالونه

همیشه به دِ دا هسے بنائست نهٔ وی
دَ ګلشن ګلونه نهٔ وی تر کالونه

چه دَ خپلو عاشقانو وبال اخلے
هومره ښهٔ نهٔ وی په غاړه وبالونه

کله ماوته دُعا کله کنځل کړے
درته چا بنئیل دا هسے جنجالونه

ډیر دِ ماغوندِ غلولی په رنګ رنګ دی
څهٔ بلائے په لباس په تیتالونه

ستا دَ وُروځو خال کوتره دَ هونړا ده
تورے زلفے دِ چا پیرے ترے جالونه

دَ بلبل په خاطر هومره بلا نهٔ وی
چه غنچه کا غوږ یدل په اهمالونه

ستا دا نیسته هسته خولهٔ هسے اِشکالے
چه به نهٔ وی نوردا هسے اِشکالونه

نهٔ به باز نهٔ به شاهین نهٔ به شنقارشی
که تپوس دَ الوتو لری بالونه

په داخو توکه دِ هیڅوک باور نهٔ کا
په وعده دَ کښلیو خوب دَ ے که فالونه

دَ مجنون په بیړئ ناست دَ ے مرګ ئے مهٔوه
چه په سپینو خولوئے وشندل مالونه

خبردار وربانِدِ روغ لیونی نهٔ دی
په خوشحال کښے چه یراتهٔ دی داحالونه

په هره کوڅه کرځم که م چالیده رنګینه
ګل مخه، عنبر بویه، هوسئ چشمه، مه جبینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خولهٔ غنچه د هانه په غابنونو دُر دندانه
په دواړو خوږو شونډو ترشکرو لا شیرینه
په زنے لکه سیبه په غبغبو دلفریبه
په غاړه لکه زانړے سروقده تن سیمینه
په تور بانړهٔ ناوکه په ابرو لیندہ بے شکه
په پوزه لکه لیدے چه را پاسی له کمینه
کلکونے خټے واړه مرصّع منے په غاړه
تیکه په تندی ایښے په زلفینو عنبرینه
په خوئی خونی خون ریزه مهر ژنه جنګ آمیزه
بے باکه عاشق کُشه بے پروا له داد و دینه
کهٔ زرخونړه کاندی زړهٔ ئے نهٔ شی لاندِ باندِ
لا نور ورپسے غواړی خوشحالیږی څوچه مرینه

په کاتهٔ شم وعالم وته حیران — چه د نس دپاره څهٔ کا دا سکان
هسے چارے ئے پیدا شی له وجوده — چه په فکر ذکر نهٔ وی د شیطان
تل قرآن د وړاندِ ایښے قرآن لولی — ولے هیڅ عمل ئے نهٔ وی په قرآن
په کوم لوری پسے څم چرته ئے غواړم — د کیمیا عوندِ نایاب شول دا نایان
بنهٔ سړے لعل و یاقوت ډمونډهٔ نشی — لکه نور کانړی لږ نهٔ دی ناکسان
کهٔ په نور خلقو کښے بنهٔ سړے مونډهٔ شی — ولے بنهٔ سړی به لږ وی افغانان
کهٔ هرڅو ورته د پند خبرے وائی — د پلار پند ئے هم بنهٔ نهٔ لګی په ځان
هره چار د پښتانهٔ ترمغل بنه ده — اتفاق ورڅخه نشته پیر ارمان
د بهلول او د شیرشاه خبرے آورم — چه په هند کښے پښتانهٔ وو بادشاهان
شپږ اوهٔ پیړۍ ئے هسے بادشاهی وه — چه په دوئ پورے درست خلق ووحیران
یا هغه پښتانهٔ نور وو داځهٔ نور شول — یا د خدائے دے اوس داهسے شان فرمان

کهٔ توفیق د اتفاق پښتانهٔ مومی
زور خوشحال به دوباره شی په داځوان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

برخیرن شول پیوندونه — په دل نه لری پندونه
که پدر دے که پسر دے — سره بیل لری سندونه
نا اُمید شو سره پاتو — نه باور په سوګندونه
نه سزا د بدکردار شی — نه د غلې ځی مړوندونه
د اورنګ په ظلم مات شول — د بابر د وخت بندونه

په دا هسے وخت خوشحاله
مرګ بهتر دے له ژوندونه

په تیرو تورو وردرومی یکرنګان — په لمبو باندې ځان ولی پتنګان
د کنجکو قدر یو د ډرو بل دے — ننګیالو سره څه ژوی بے ننګان
ارتګی د زړه دلیل د جنتی ده — د دوزخ د اورلائق دی دلتنګان
د بادشاه په سلطنت پورے خندا کا — په سپیرو ایرو لړلی ملنګان
نورماهی نے تار په تار دروم له مخه — ماتوی لوئے بیړۍ نهنګان
دهاتی دپاسه سور ورته پیکه وی — چه د مینو پیالے اخلی سرهنګان

څه د ځان صرفه اوس کار کړه خوشحاله
لکه کارکا پرهار ژلی پلنګان

بیهوده په ځان غره دے دا انسان — په ساړه په غارمه چینګه خوله حیران
لیونے ملال دلګیر د خوب په وړل کښے — نه د لوبے نه د تندے لری توان
په یوه ذره خبره خوارخسته شی — په یوه ذره سرخوری شی په ځان
په دا هسے رنګ څوکبر څو لوئی کا — چه نظرئے له خودئ وی په آسمان
واړه عمر تیروی په دا غفلت کښے — ترهغه پورے چه ومری په دا شان
په ژوندون چه د خپل ځان فکر وند نه کا — پس له مرګه به هغه کا ډیر ارمان

زاهدان شیخان وهر لوری ته ډیر دی
د خوشحال ختک پکار دی عارفان

پند بد روز بکر حیران بها درخان — هدایت ترین سوخته وُ وترد امیان
شیخ ستار ماشه تو پک عبدالرحیم وُو — د تو پک کنده خدائے یارجامکے کامران

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د تویک کُندهٔ هرکزنهٔ وی بے سیخه حق ناحق ئے پکښے جوړ کړ جهانخان
د تسمو په څائے ګویا دانور عالم وو اسفندیار غوندِ یوځوکیدی پاجیان
مړد کے دارو همه خواجه صادق وو بند وقچی صاحب صوبه ووپه خپل ځان
په داهسے غرځهٔ رُخ د ګدارنهٔ وو په آزار به ئے ګډوډ کا خدائے جهان

په مثال خواجه خضری غرځهٔ خوشحال وو
چه ګذار ورباندِ وشو ناګهان

تل په ځان کیږدے تازه تازه نومونه زهٔ دِ پیژنم د زلفو په خمونه
نهٔ ئے څوک وینی په سترګونهٔ په خوب کښے چه رارسی ستاله غمه داغمونه
کهٔ م تهٔ د زړهٔ له سوزه خبرنهٔ ئے خبردارم په داحال دی عالمونه
لکه ستابانړهٔ په شمار په حساب نهٔ دی هسے ستا د سترګو پیردی ستمونه
ستا د تورے د ګذار حاجت هیڅ نشته په وکښل ئے د عالم خیژی دمونه
مګر څوک په غاړو غروتوڼدی ګرځی ستا سُورو په وینو ولړل سُمونه
چه پیر پیر به ئے کښیښول پرپرهارونه طبیبانو څخه ورک شول مرهمونه
اوس دِ غم لکه لوئے غږدے راته پا تو غربه نهٔ اوړی د چا په اړمونه
یادستا د مخ ثنا خوشحال ختمک کښی یادِ نهٔ نیسی په ګوتو قلمونه

چه خوشحال ئے په کاغذ یا په قلم کښی
په خاطر کښے هومره نهٔ دی اَلمونه

تهٔ چه داحسن لرینه څکه هومره کبر کړینه
تورے سترګے په کجلو په تنبولو شوندے سرینه
په مثال لکه شاهین ئے چه د زړونو غوښے خورینه
کهٔ تهٔ هرڅو بنائسته ئے کبرمهٔ کړه و به مرینه

د خوشحال خاطرمفت نهٔ دے
فکرُ وکړه چه ئے وړینه

چه له عشقه بله چارکنړی اَفزونه تردا بله اندیښنه نشته زبونه
باور وکړه چه د عشق په کاروبار کښے کهٔ زیات نهٔ یم کم هم نهٔ یم ترمجنونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ظاهری ګونه دَ زړهٔ په حال ګواهی لی کهٔ هیڅوک نهٔ دی خبر له اندرونه
تهٔ ناترس به ګوته هم پرې لمده نکړے کهٔ له دۀ وستر ګوروان کړم دوه سیندونه
چه دَ زړهٔ له تاوه وُځی غه خبره اثر و کاندی آخر په واړه زړونه
کُل عالم دَ بیلتانهٔ له لاسه زار کا زهٔ په څو خبرو خوښ یم له بیلتونه
یوئ قدر دَ وصال راته څرګند کړ بل ئے سهل را بسکاره کړهٔ نور غمونه
چه تاشان دَ لیلیٰ کړ زهٔ پوهید لم چه به ستا له لاسه ځائے کړم غاړے غرونه

چه یک لخته دِ خوشحال له زړهٔ نه ویوست
در پوهیږم چه دِ نهٔ کیږی له خونه

چه ئے تاغوندِ رادرومی په پوښتنه زنځوری ده دَ هغهٔ زنځور سودمنه
دَ بیسر موتی دِ لاس دَ سکندر کړ شوریدهٔ ئے اشارت په جاروتنه
تل په تاپسے غمژن یم هومره نکړے چه مِ و پوښتے څهٔ حال لرے غمژنه
کهٔ دِ سر له مانه غوښت له تامِ دریغ کړ بیا هالهٔ وایه و ماته دروغژنه
زړهٔ مِ ستا په لاسو درکړ تا خراب کړ هلک څهٔ زده دَ زیبا طوطا ساتنه
خدائے دِ لاس دَ هغه چا په تهه کښے پرے کا چه په قصد به پریکوی دَ کلو ونه
کهٔ یوځل ئے طماغه له سره پریوزی نورو بازو وَ ته څوک بنائی وهنه
کهٔ دَ کښلیو وعده هرکله خلاف ده خدائے دِ تادروغژن نهٔ کاندی په ژمنه

وخوشحال ته خو هم داوایه مطربه
چه زار زار کله به رائیشے مئینه

چه نهٔ لری ننګونه وئے مهٔ وینے سرنګونه
دا دَ ننګ دپارهٔ کړځم په دا هسے کړ ننګونه
صد رحمت را باندِ بنائی په دا هسے آهنګونه
په څو به څنے دروے چه دَ زړهٔ لرم زنګونه
مهدی له غاره وُوزه کښیږ ده پښه په پالنګونه
نهٔ دین شته نهٔ آئین شته شرم لاړ په فرسنګونه
مختورن ظالمان پیر دی چه اَخلی قلنګونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ عدل تُورہ واخلہ ملک اسلام کړہ په جنګونه
بیدارہ اُوسہ زرکے شهمند کړئ په ځنګونه
خوشحاله فهم وُکړہ
چه پریووزی خرسنګونه

ځوک خبردی دَ فتنو دَ دے جهانه نوی نوی را پیدا شی له دورانه
ماوتاغوندِ به ځوباد وړی یاد کا کهٔ خبر واخلے له زمکے له آسمانه
چه له بادہ دمه پک ووکهٔ ئے ګورے بادئے خاورہ په ملکونو کړہ پریشانه
په شان شان م دَ وجود نندارہ وکړہ بیا به هم شی په خو رنګه په خوشانه
نهٔ ئے زرنهٔ جواهر شته یوتاوان دے کهٔ به ښهٔ کړے ځان ئے خلاص کړہ له تاوانه
زمانه م شوه په غاړه اے خوشحاله
کهٔ ئے ګورے نهٔ له تانه نهٔ له ما نه

ځوکله رنګه څهرے راغلے په جهان بیا فنا شوے لکه ګل دَ ګلستان
یو رمق دے راته پاتے په فراق کښے چه په مرګ له ماجدا شول ښهٔ یاران
کهٔ دَ زړهٔ سترګے دِ شته نندارہ وکړہ په وصال کښے مهیّا ګنړہ هجران
دَهغهٔ بقا فنا دہ بقا نهٔ دہ چه تبدیل ئے په دُنیا شی هر زمان
داځهٔ تورے خاورے نهٔ دی چه پرے دروی خاورے شوی کښلی جُونه دی ځوانان
چه رایاد شی ښهٔ یاران وګورته تللی پل په ما وی دَ غمونو ګنړ باران
همګی تر مزکے لاندِ شول خوشحاله
اوس دَ مزکے په مخ نشته راز داران

ځوک به څهٔ ساتی په پوهه په پندونه په ویښتهٔ سره ترلی پیوندونه
په یوهٔ قفس کښے بند قارغهٔ طوطا کړہ سره بیل به وی دَ هر یوهٔ سندونه
یا کُشتی دَ زورَورو سره مهٔ کړہ یا د دوئ غوندِ پیدا کړہ مړوندونه
مونږ په داعقل روغ نهٔ یُو لیونی یُو معشوقه چه وعاشق وَته غندونه
عاشقان دَ شاه دَ خولے یُو زرمو نشته کهٔ په سرئے لیدل مومو سرشندونه
چه باور دِ په رښتیا خبره نهٔ کا وهغوئ وَته به څهٔ خورے سوګندونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ناپوهه سره تیریږي پیرافسوس دے
دَ دانا سړی کیمیا غوندِ ژوندون نه

په خپل بنکار پسے به څه رنګ باد آلوزی
چه بازدارنے پسے وانه کا بندون نه

دَ شکرو خوند به هیڅ ورباندِ نه وی
چه خبروی دِ خبرو په خوندون نه

تا دَ زلفو په زنځیر کښے خوشحال بند کړ
آفرین دِ په دا هسے شان بندون نه

څودَ ملک وارث ونه وهی سرون نه
هومره چیرے قرار یږی سمے غرون نه

یا به ستا په ورځ نارے وی تڼه به ژاړے
یا دستاله لاسه ویږدَ چا په ورون نه

رخنه کړدَ ملک پرے مه ږده په خپل ملک کښے
په حکمت په زرو زور په لښکرون نه

څو په تورو په توبرو په نیزو شی
صد چندان شی په تدبیر په هُنرون نه

رورا وخوئ دَ ملک په کار کښے قتل کیږی
نور په واړو باندِ جوړ شول محضرون نه

بے دَ تیغ له آبه نورے اوبهٔ نشته
چه جنګجوئے سره ساړهٔ کا تهټرون نه

دَ سردارد ریاست ونه په وینو
په لیږ شنو دَ اعداء کا ثمرون نه

په میدان کښے توئے بنهٔ دی دَ سر وینے
نهٔ چه ډکه سینه وړے له څکرخونه

یا دَ مرد غوندِ شمله دَ دستار پریږده
یا په سرکړه لکه بنځه میزرون نه

خدایه چا وته ئے کښم څوک به پرے پوهشی
ما وئیلے هر یو بیت دے دفترون نه

څوخبر په قباحت نهٔ شی انسان
نیک وبد هوښیار نادان کنږی یکسان

کهٔ یوکس په زرکښے بیاموے هم پیردے
په هرلوری صدهزار دی ناکسان

هومره ترس څما له یږه خوکهٔ نهٔ شی
څو په زړهٔ یم له جاهله هراسان

دانایان په ناکامئ کښے خوار حیران دی
کامرانی دَ جهان څوک کاندی خسان

په خپل بنکار باندِ غوټے وهی بازونه
په مردارے باندِ کرځی کرکسان

تفاوت ئے په کرده په فعل کوره
چه مچئ دی سره واړه مکسان

چه په درست عمر کښے یوځله تیږه شی
نور اصیله ټوره نهٔ غواړی متهان

چه هر دوړے واودو ته هوس کاندی
دَ زر بفتو هُنر چیرے دے آسان

کهٔ دِ زړهٔ دے چه لذید شعر وُوایم
دَ خوشحال غوندِ پیدا کړه خپل لسان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوږ ژوندون په سړی تریخ کاندی بیلتون — په سوزانو لمبو پاس کیږ دی لړمون
چه څۀ زور قوت د زړۀ وی په کوکل کښے — وار په وارئے له دۀ وستړکو کا بیرون
تر دا هسے عمر نۀ عمر بهتر دے — چه تیر یږی ورځ وشپه په ځیګر خون
په ځیګر ځیګرم ولے صرفه نۀ کا — د غم لیندیو راته وواهۀ زنګون
ځما زړۀ طومار د مهرو د وفا دے — خیراوۀ شی چائے زده نۀ کړ مضمون
کۀ کتان چه مهتاب خیرے کا کانده شی — سکه ځما د زړۀ به هم وشی کنډون
کشکے څوک هسے پیدا شی زۀ راضی یم — چه م زړۀ د یار له لوریه کا څوک ستون
په هجران کښے کۀ اُمید د وصال نۀ وے — د حیران عاشق به هم نۀ ووژونډن
چه قدم په هغه لار کښیږ دی سر در ومی — زۀ همیش په هغه هسے لار کړم یُون

یو د بل په ځائے کښینی د دُنیا دود دے
زۀ خوشحال قایم مقام یم د مجنون

دوارۀ زلفے ئے پریشانه په څو شانه — په جبین خورے ورے په لب خندانه
له مستئ ئے سر تور کړیوان شلیدلے — صراحی په لاس نیولی غزل خوانه
په خمارئے ستړکے سړے وبله آو بښتے — نیمے شپے را باندِ راغلۀ ناکهانه
سپینه خوله ئے ځما غوږ وته نزدے کړه — په نرمئ ئے دا وینا کړه را بیانه
زۀ خورے زلفینے ستا په پالنګ راغلم — ته تر اوسه لا اودۀ ئے ځما ځانه
هر عاشق لره چه هسے شاه ورد رومی — نورئے کومه آرزو وی له جهانه
څو پیالے ئے پیا پے وما ته را کړے — د توبے پرده ئے واخسته له میانه
چه له هسے رنګه حاله خبر نۀ شوے — شیخه څکه ځما چاردہ په تاکرانه
عشق راغلے د توبے په ما تول دے — هیڅ بدی را باند مۀ وایه نادانه

کۀ خوشحال غوندِ د یار باده پرست وے
تا به هم کړه د توبے خونه ویرانه

د دلبرو په ستائینه
نا ترسی د دیو کوره
زۀ به ولے هسے خوار وُم

ما نیچه کړه خپله ینه
چه په حال نۀ کا پوښتنه
کۀ د حال م وے کوژنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل ئے خیال د تورو زلفو شندے کا په زړه دننه
چه جمال ئے را په یاد شی لاله ګل ته کړم کتنه
د زړه سود د دغه د قد کړم په شمشاد په سرو وُنه
نه سلام شته نه پیغام شته نه ئے پیک شته نه ئے ژمنه
په ارمان ئے ورځ وشپه مرم یوه نه لرم نیاز منه
سپینه ږیره نه ده غم ده ډیره مه کړه لټونه
چه نه زړ وی نه ځوانی وی عاشقی ده دروغژنه
په داهومره ډیره مینه یوه نه لرم مئینه

چه خوشحال نه ده موندلی
دغه دے دغه غوښتنه

د زیبا جمال ئے ډیرے زیب و زین ولے زړه نه د عالم وړی په عینین
یوه ستړکه ئے رحمان بله رحیم شوه چه همه مراد پکښے دے د کونین
چه د شهر زاهدان شیخان پیران دی زړه د هر یوه کشان وړی په زلفین
لکه عین د خپل پلار خونی وژلے پسو سرے ستړکے راځی په شین شَین
واړه لوا ړ سرونه نغری د درد منو د مزری ترخولے تیردے د عشق عَین
په خپل یار م باورشته چه بل به نشی غمازان که غمازی کا تر دا بین

په رضائے خپل خاطر ورکړ خپل یار ته
په خوشحال محصل نه وو د چا تین

دواړه شملے پریږدی بریښوی ورته خپل خان
کوره هغه تُرکه به نظر کا په کوم ځوان
څو رنګه مخونه په داخاورو کښے بدرنګ شول
څو د خیال کړے پکړئ یاد لری جهان
دورد د دلبرو د بنائست دے یو څو ورځے
زړله برمه پریوزی لکه ګل د ګلستان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سرے ستړګے آوبنتے لکه ډیر خونو نه کړی
خدایه خیریت کړے چه رادرومی په داشان

زړهٔ م لکه ګوئے دے د مستئ په میدان کښے
تل ئے هغه تُرک وهی د زلفو په چوکان

تل د تن هډونه راوکاږم په نُوکونو
غم ئے د ناوک خورم چیرے مات نشی پیکان

پټه په نقاب وه د هرچا ورته نظر وو
مخ ئے رابنکاره کړ ورته خلق شئ حیران

مخ په وړاندِ درومی پټ په څنګ ورته نظر کا
خوښ اوسه خوشحاله بیابنهٔ پیر وکړ آسمان

د جهان په مخ به ډیروی بنهٔ مخونه
ولے زړهٔ م ستا و مخ ته وکړه خُونه

کله کله م له حاله خبر واخله
که د چیرے اندیښنه کیږی له خونه

د فراق په شپه سورکټ په ماسُوشی
یو زمان م باندِ ننهٔ لګی ارخونه

په بنړوم زړهٔ و ستړګو ته راکاږی
لکه مست لړه کباب ځی په سیخونه

نوبهارئے په راتللو شګفته شی
د لاله ترګلو بنهٔ لری بارخونه

خوغمزے بنیوئے فتنے جلوے مانړے کړے
هومره کیږی په خوارانو شواخونه

که داسرے شونډے د لعل غاښ د ګوهرډی
شرارے دی ستا په غابنوکښے میخونه

تورے زلفے د په لیچو باندِ زانګی
بسامارانِ دی د چندنړو په بساخونه

چه ئے یوزمان له ستړګو جدا کیږی
د خوشحال په مخ د اوښکوځی ورخونه

دایم راغلم په دا عمر چه م وینے
حُلمی توب راځنه یوو ږ یړے سپینے

یو د بنکار بل د کتاب، بل د دلبرو
په جهان کښے نورے نهٔ شوے دا درے مینے

د همت جامه م سپینه پاکیزه ده
پرے دوستی د زړوځهٔ وه لکه وینے

شیخ ملا عابد زاهد ورخبرنهٔ دی
چه په زړهٔ کښے د عاشق دی دلنشینے

که تټروهے له تیرے ګمان مهٔ کړه
چه به مهر په تا وُکا زړهٔ سنګینے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د دوؤ کونو مراد کل درکا په غیږ کښے په خندا چه درکنار شی مه جبینے

نور به کوم ارمان د کنج د کنجینے کا
چه په غیږ کښے نے نیولے تن سیمینے

پیرمئین ووچه نے لاڅے کړے د مینے په ارمان وبله تیر شوکه نے وینے
څوک چه یار په اوښکو ژاړی ژړانه ده ژړا دا ده چه نے وژاړے په وینے
د ربستینے مینے کار خو د خپل زړه دے دروغژنے مینے غواړی تورے سپینے
د مجنون او د لیلیٰ مینه ربستیا وه د پرویز او د فرهاد او د شیرینے
ستا په رنګ به په جهان راغلے نه وی په جهان که ډیرے تیرے دی رنګینے
تورے ستړګے د شهلا نرګس د باغ دی تورے زلفے د سنبل دی مخ نسرینے

له دیوخا ورونه چه کل زیږی خوشحاله
دا په داچه تل وردرومی مه جبینے

رابنکاره شوے کج فهمئ د جهان د جهان د کج فهمئ لامان
داهم ځائے د تعجب دے که نے وینے په بازو نوچه غوټے وهی زاغان
داهم ځائے د تعجب دے که نے وینے چه مغل کاندی بازئ په افغان
داهم ځائے د تعجب دے که نے وینے چه کیدړ په واز دو پک وړی شیران

داهم ځائے د تعجب د حیرانئ دے
چه لښکرے په خوشحال کا بهرام خان

رنګینه کالی اغوستی رابنکاره شه ناکهانه
راته وګوره وخانده خوشحالی م کړه پریمانه
خدائے د تاله وربیوستړګونه وژغورې دلربایه
چه تیکه په جبین کښیږ دے او سنګار وکړے خوشانه
هغه دم چه تورګیسو په خپل صورت باندخواره کړے
خوشبوئی د خاصه مشکو په درست غولی شی پریشانه
ځان وزړه م هم چاپیر درسره درومی اے نګارے
چه ګهے په شین شین په انګړ کښے شے روانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دین وزړۀ صبر وآرام راځنې لاړل اوس پوهیږم
چه یوځان دے راته پاتے دابه هم یوسے له مانه
دَ یارئ دَ آشنایئ دودونه هیڅ له تا پټ نۀ دی
ولے څۀ کړم په خوشحال باندِ خاوند کړلے نادانه

سترګے دِ مستان دی خُما زړۀ بنیښه مهینه
پرې وکی پرې وکی مۀ شه چه ئے کُنج په کُنج وهینه
سپین صباد کوره دَ تیکے په شفق بند کړ
جګی جګی جګی رائے واخله له جبینه
کښلی دی کۀ کورے چه مخ پټ کله څرګند کا
کل دَ بهارنۀ دے چه رازیږی له زمینه
واړه په سبب دَ بد اصلانو دَ هُنر دے
هر آفت چه کورے چه را پاسی له کمینه
مست په بهار راغلے په سرود دِ ګوتے کښیښوے
څوبه لاوُبا سے دِیر دِ ویاستۀ له دینه
چرته لوئیدلے نوم دِ خور په جهان نۀ وو
غوغا دِ شوه په بنهر چه ئے کوزه کړے له زینه
تل جام دے دَ شرابو ستاپه لاس توبه په شوند و
دَ خلقو لرمون شین دے کۀ پوهیږے ستاله شینه
حیات لایزال به دِ نصیب شی کۀ باور کړے
دَ زړۀ لیدونے دواړه کۀ روشن کړے له یاسینه
دَ عشق دَ محبت دَ ناوی مهرما سوا دے
اول ئے درته وایم چه ئے ورکړے له کا بینه
هرڅوکۀ ئے په پټه په تهتر کښے وی ساتلے
څۀ بده بلاده نۀ پټیږی دَ زړۀ مینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کله منت اخلی د یوے ګیډے دپاره
هرچه همت ناک دی چه په کور لری جوینه
زانړے بطے ګوره چه په هرلوری غوغا کا
هیڅ درنۀ پوهیږم چه په چرته ئے شاهینه
هرچه دانا یان دی په اَمان اَمان تیریږی
هئے توبه له دوره الامان له دے آئینه
نوم به د هرڅ په ژبه وانۀ خلی په عمر
دا یاری دوستی چه ستا خوشحال ته شوه مبینه

ستا په ستړګو کښے فتنے کا ندِ خوابونه تورے زلفے دِ هم ډیر لری تابونه
کۀ تۀ زرجابه وُنیسے په مخ کښے رابنکاره وی ستا جمال تر حجابونه
دَجنت حورے کۀ وګوری ستا مخ ته نور به واچوی له شرمه نقابونه
کۀ شُغلے دِ رابنکاره شی له جماله لور په لور به سر څڅ کند کا آفتابونه
زۀ چه ستا د بیلتانۀ په لمبو وُسوم نور م څۀ دی د دوزخ په عذابونه
ستا د خیال میلمه م ناست دے په کوڅ کښے تل م خوری د زړۀ د غوښو کبابونه
تاوے ما وتاته ډیر خُلے خولۀ درکړه د یارئ په کار کښے هم شی حسابونه
زۀ وتاوته دُعا کړم تۀ کنځل کړے هم له تا بنائی دا هسے خُوابونه
تۀ چه حال د خپل عاشق غواړے په شرح
بویه دا چه خوشحال وُکښی کتابونه

بنځه بویه هوس ناکه، خنده رویه، مهر ژنه
پاکیزه په زیست روزګار کښے په بنۀ بوئی باندِ مئینه
د صحبت په رموز پوهه، زړۀ ئے خلاص له مکر و ډهه
کم خوراکه، خوش پوشاکه، همیشه ناسته دننه
په وصال د یار خوشحاله یارئے خوښ له قیل و قاله
چه له یاره نه جدا شی هم غمژنه هم خیرنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

له نیکانو همنشینه له بدانو په زړهٔ خوږ ینه
له مورو الی ئ توبه کا کهٔ ئ مور وی دروغژنه

دَمیلمه په کارحاضره په پخوالی بهادره
حق دَچارے په خُائے راوړی په رنځور باندِ پوښتنه

پاکیزه ئ دَکورصحن نهٔ په غولی کښے نور لحـن
پرستارے ترے خوشنودے ښه دَهرچا په ساتنه

کهٔ داهسے څوک پیدا شی دَخوشحال په لاسورا شی
هیڅ تقصیر به ئ ونهٔ کا دَیارئ په پالنه

عارف سړے هغه دے چه ئ شناخت وشودَ خان
دَخان په معرفت کښے معرفت دے دَسُبحان

چه ترس ئ دَزړهٔ نهٔ وی نهٔ عمل لری دَنیکو
په دائے نظر مه کړه چه په یاد لولی قرآن

په کورکښے دِ بلادی دا دَنفس غلطے چارے
کهٔ تهٔ په خان شیطان نهٔ شے بل هیڅ نشته شیطان

حرص مکړه هوا پریږده له هرچانه پریکړه طمع
بل نوم به په تانه ږدم په خان نوم کښیږده سُلطان

چه خدائے ئ په لارنهٔ کا په ویل به په لارنهٔ شی
کهٔ پاسوے له کوره وهغهٔ و ته لقمان

عیسیٰ ؑ په معجزه سره راندهٔ سړی بینا کړهٔ
دانائے په دُعا نهٔ شو په عمر یو نادان

کهٔ هیڅ ورځنه نهٔ وی غم دِ نهٔ کا کهٔ دانا وی
خوشحال خټک کواهی لی دَدانا نشته ارمان

کوره راته څهٔ وائی داستا دواړه چشمان
نورعالم نورښکارکا مونږ دَدین او دَ ایمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مری چه لیندہ وینی قارغۂ ستا داخال د وروخیو
ناست دے تور قارغۂ په څو په موتي د کمان

راغله په خندا خندا وړه وړه پوښتنه
چا ورته وئیل دا په رقیب نۂ کړم کمان

ړتے ړتے اوښکے تل ساړۂ ساړۂ آهونه
ستا په درد و غم کښے زۂ هم دا لوم سامان

نوره پیشکشی راځنه نشته په فراق کښے
یار لره به وړمه دُر دستر ګو په سامان

یوزمان م نۂ ځی هغه یار د زړۂ له سره
څۂ شی کۂ ئے زۂ په زړۂ یادنۂ یم یو زمان

پاتے یم له خپله یاره لرے لاړوندے یم
خدائیکو په دا خپل ژوندون هر ګوره یم پښیمان

بیا به ئے لاکله د بهار په سپوږمئ دریغه
ونیسم په لاس کښے تورے زلفے د یر ارمان

خوښ اوسه خوشحاله د خپل یار په درد و غم کښے
درد د یار د مینے لا بهتر دے تر درمان

کۂ په هند کښے نشته سپینه هوسئ ستړکے مه جبینه
خدایه تۂ وماته راکړے یوه سبزه نمکینه
په دوو زلفو عنبر پاشه په دوو شونډو شکرینه
چه هرځائے وته ئے ګورم بنائسته بنکلی مهینه
هوس ناکه بنیوه ګړه شوخه شنګه دل سنګینه
د یارئ په علم پوهه سخن دانه نکته چینه

ورځ و شپه کا ځنے چارے
په خوشحال د کښلیو مینه

چه همیش د همنشین وی تور ماران بنۂ دی دانه چه قرین وی بدکاران

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرچه ستا عیب وتا وته بنکاره کا — په جهان کښے هم هغه کنړه یاران
په کردار کښے یار اغیار سره بیلیږی — تر یارانو ډیر لباس کا اغیاران
د کمذات یاری به هیڅ وفا ونه کا — لا په تیره بے نمازان اوے خواران
لکه تخم، هسے بر، هسے ئے بوټے — نه ئے خوند مزکه بدل کا نه باران
د زړه راز وچا ته نه ویلے بویه — چه د مزکے په مخ نشته رازداران
په قیامت به یوپه یو وارِه څواب لی — که میږی ملخی پائمال کا شهسواران

د خوشحال باندِ سلام بادشاه د وخت دی

په سپیړو ایرو لړلی خاکساران

که هرڅو بنائسته ئے نه یوسفؑ ئے د کنعان
که هرڅو ډیر هوښیار ئے نه مخے ئے د لقمان
که هرڅو ډیر حشم لرے بادشاه د مملکت ئے
په زړه کښے فکر وکړه څه بادشاه وو سلیمانؑ
څوک بنلی بنه مخونه څو هوښیار څو بادشاهان وو
چه راغلهٔ هسے لاړل اوس ئے نوم دے په جهان
یو نوم دے پاتے کیږی نور به هیڅوک پاتے نشی
په بد بدان یاد یږی په نیکئی یاد وی نیکان
که نوم د ججاج آورے، آورے نوم د نوشیروان
په عدل کافر بنهٔ شو، ظلم بد کړ مُسلمان
که بنهٔ کړے ساعت دا دے چه په شمار ئے د ژوند یو
نه سود نه به فائده وی، که په کور کښے کړے ارمان
کافر سړے هغه دے چه د نفس په هوا دروی
مومن سړے هغه دے چه تل غم کا د ایمان
هیڅ شک په دا کښے نشته چه په مړک به واړه وُمړه
خو شک په دا کښے کیږی څوک به مومی کورستان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سخ به د هغۀ وی چه ایمان سره ئے مړک وی
کور په عزت بیامومی پسے لولی قرآن

وخت د خوانئ تیرشو اوس پیری راغله خوشحا له
نورکارونه پریږده خو د کور کوه سامان

لامنت لرم په دا هم له آسمانه
نندارۀ د اباسین له میر کلانه

په تیراه په سوات په خوږه درپه درشوم
بیام کوم لوری ته تۀ بیائے آسمانه

لکه کوئے هسے په حکم د چوکان یم
درست وجود پرهار پرهاریم له جوکانه

سرنوشت م له ازله مکر دا وۀ
زۀ به څۀ لره مانړه کوم له چانه

قدیمی د پښتنو جهل خرتوب وۀ
اوس په طمع په حرص درومی له میانه

کۀ ربنتیا وایم شیرشاه داهسے نۀ وۀ
لکه مونږ یو نۀ پیدا له کوهستانه

پښتانۀ چه بے ننګی کا څوک ئے څۀ کا
کورستان لره به درومو له آرمانه

د ختکو د نفاق له ناپوهئ
یاچه غم لرم له خپله خاندانه

چاته وایم څوبه کښم څۀ هومره نۀ دی
چه تمام شی له مذکوره له بیانه

دا داغونه چه خوشحال لری په زړۀ کښے
رغیدل به ئے په تاکید ی سبحانه

مۀ وے هسے کلی چه د چرګو کو لمے خورینه!
شل خمبے په کور کښے د نیستئ له غمه مرینه

بل فکرئے هیردے خوپه غم د زرو پول دی
نر بنځے ئے واړه خو تنګے تنګے لرینه

د یرئے ملکان دی پکښے بنۀ ملک هغه دے
هرچه بے ننګی کا د چا بدے رشوت خورینه

کښینی په مسجد کښے د سودونو کا خبرے
یا د خور و لور د ولورونو وئیل کړینه

لس کالونه تیرکا په یوه جا مه خیر نه
کوز وجود بربند په سرخهره کښیږدی زرینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خاندی پروانۀ کا شرم نۀ لری د تیښتے
ډیرے بے شرمئ د ژوندون دپاره وډینه

جنګ لره چه ورشی نورځۀ هیڅ نۀ کا بے تیښتے
جورجاړوسله تښتی سکه رورته نۀ درینه

هیچرے د شولو د سړی برکت نۀ وی
شل شی، شول شی، شوم شی چه هیش شولے کرینه

نور و ودانئ ویران بنهردے خوشحاله
لا ترے ویران مۀ شه ورځ په ورځ ده کهترینه

نس م آفریدے دے څۀ غم نۀ لری د دین
بنۀ فکرئے لږ دے ډیردے بدو وته شین

زۀ د درویزه غوندِ ایمان بنئیم و دۀ ته
دے د پیر روښان غوندِ د کفر کا تلقین

دوه شپیتۀ کالونه په حساب لرم خپل عمر
تور ویښتۀ م سپین شولام زړۀ نۀ دے هیڅ سپین

نشته هغه دُر د سرو یاقوتو په دبلی کښے
نه هغه نرګس دے نۀ د باغ هغه نسرین

زۀ بے غمه خوب کړم په پاستۀ بالښت سرایښے
یریواتۀ په ګور کښے چه ځما وو هم بالین

ډوبے شوے بیړئ د فنا په اباسین کښے
ډیر پکښے لاهو شوچه ځما وو همنشین

څۀ د غم پلو دے چه ځما په ستړګو پروت دے
نۀ وینم په ستړګو حقیقت وارۀ مبین

هومره رنځ په ځان کښے طبیبان په داجهان کښے
مرم دارو هیڅ نۀ کړم په داهسے کار نفرین

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ولاړځائے ئے سقرشو مګرخدائے پرے کرم وُکا
نفس و شیطان دواړه له خوشحال سره قرین

نازنخرے مهرخندا فتنے جنګونه — دَخپل یارسره هم تازده دا رنګونه
کله کله خواپه خوا غاړه غړئ — کله تښته په دووپښوپه غورزنګونه
چه حُما سره ئے ناسته په پالنګ وه — اوس له ما په چرته لاړ په فرسنګونه
په لیدو پسے کچکول واخلی ملنګ شی — مینه کا داهسے چارے آهنګونه
په نصیب دَروغو زړونو فراغت دے — په قسمت دَخُوږو زړونو الهنګونه
عاشقی به هغه کا ندی چه ترشا کا — زیست روزکارشرم پیغور ویره ننګونه
چه بوسے دَجفا جویو دَخولے اخلی — ګوندِ اخلی دَ یاغیانو قلنګونه
څوک مایوس څوک په اُمید دَیارد وصل — څوک پراتهٔ غاړه غړئ په پالنګونه
په لیدوبه ئے دَکورمړی سرهسک کا — کهٔ پرے درومی دَپائلو په ژرنګونه
کهٔ پستے پستے خبرے دَراز نهٔ کا — دَجنت دَحورو مهٔ وینم رنګونه

زهٔ خوشحال دَآهوچشمے مینے سرکړم
دَغرخهٔ غوندِ په هسے ګړنګونه

نهٔ دی لب دَ جانِ من — بنهٔ یاقوت دی دَیمن
نن ما خپل ګنړے له طنزه — ماخو نهٔ زده هومړه فن
بختور مِ ئے نوم کښیښی — لاکهٔ نشی دروغژن
څنړے تاؤ کاچین ئے ګورم — شی بنده در ته ختن
پښتنے په چین چین څنړے — بخښی چین تبت ختن
بښے بښے څئ په شین شین — بنهٔ غبغب بنهٔ ئے زقن

په پښے فیض څُنے زیږی
په زمین چه څئ په فن

نهٔ ئے ملک نهٔ ئے لښکرنهٔ ئے ګنجونه — ترخانانو دماغی دی بسکلی جونه
کهٔ خانان په زرپه زورپه ټوره ناز کا — کښلی مخ لری شیوے غمزے غنجونه
یادَکښلیو دَزړهٔ رائے دے چه مِ وُکوت — یا دَ لوئے دریاب په څو رنګه موجونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک به روغ سلامت پرېږدي په ملک کښې بيائے باندِ کړل تاختونو ته سرجونه
په رقيب شه په غمازشه په بدخواه شه چه به کښلیو لره ځی هغه رنځونه
بل سرمهٔ څه په دلبروکښې ئے غواړه اُوهٔ ستوری د آسمان دولس برجونه
زهٔ امی په داخبره نه پوهيږم چه عالم ئے راته کا په مخرجونه
په چادادر په لپه نمنځ کوے فلکه په چالونے په اوږيو په چجونه
د خوشحال خاطر بښيښه دے مات دِنشی
ستا د سترګو مستی وړی په څوګنجونه

یار څما کړه د ننه زهٔ ئے سر يم په غوښتنه
عجب حال را باندِ پيښ دے دروميه هيڅ مکړه پوښتنه
د وصال په اوبو وُمری اورچه وُلګی په ينه
که په رنګ کښې زيړليدهٔ شے ګلنګونهٔ ئے کور کمنه
کوم ماتم درباندِ پيښ دے د اختر په ورځ خيرنه
خوشحال تل په غم کښې بنهٔ دے
غم دِ نهٔ ځی له غمڑنه

آفرين دِ په دا سرو سترګو خونخوارو چه بے تُورو پرهارونه کا په خوارو
تورے سترګے ئے تورباز بانړهٔ ئے نوکے چه څما خاطر ئے يوړو په نوکارو
چه اُوچت اُوچت وهل کا هغه بازوی په خپل باز باندِ نظروی د بازدارو
د وربل په هر هر تارئے زړونه بند دی مشاطه ورباندِ نور پيئی په تارو
په مذهب دِ عبادت مګر ګناه ده چه دِ هيڅ پوښتنه نهٔ شی د بيمارو
لادِ پئی د دوارو شوند ونه څخيږی په خواب دِ ژبے بند کړے د هوښيارو
خپل ياران به په پيغور کړے د وګړی چه دِ داد مهر نظرے په اغيارو
په ښائست کهٔ ښائسته تر ښاپيرئ ئے ولے داجهل دِ بد دے تر ګواښو
تل په تشو تسلو عاشقان تير کړے تاخهٔ لږ غلولی نهٔ دی په دا چارو
بلبلان د ګلستان په مينځ کښې کړځی ګرګسان کړځی په طمع د مردارو
زمانه به ئے په سر ګلونه نهٔ بردی هغه سرچه سزاواروی د پاڼزارو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

طالبان ئے دَجمال لکه حاجیان دی چه کعبے لره ورځی په لاړو لاړو
نزدے یار سره رو روخبرے کیږی لرے یار وته وئیل شی په چیغار و
یک تنهائے دَخوشحال خاطر یونئ وړ
په جمال ئے زړونه یوړهٔ دَبسیار و

آفرین دِ په ولول تورو سنبلو چه ئے ځانے دپاسه ونیوو په کلو
ماچه ستا دَشوندو مئے سره مزه کړل مستغنی شوم دَجهان له واړو مُلو
کهٔ په اصل پُښتنه دَهندوستان ئے دا دَظلم خوئ دِ زده کړله مغلو
مکرمور دِ دَخطا دَملک هوسئ وه چه دَمشکو بوئ دِ دَرومی له کاکلو
زهٔ په هومره تمنّا کښے دا به څهٔ شی چه تهٔ هرکله په هومره تغافلو
دَهرګل ثنا صفت کا په زر ژبو په دا باغ کښے چه غوغا ده دَ بلبلو
دَخوشحال په زړهٔ ئے هسے چارے وکړے
لکه بازچه زرکه یوسی په منګلو

بیاله کومه لوریه هسے را پیدا شوے چه خُما زهد وتقوٰی لره بلا شوے
ستا نظر لکه تور باز زړه مِ تارودے په تور باز دَتورتارُو غوښے روا شوے
په بار بار دِ دَخندا منت را باندِ چه په مادِ نظر وشو په خندا شوے
په فراق دِ خُما دواړه ستړګے کوره ورځ و شپه لکه څخوا کے په ژړا شوے
هغه شوندو چه دُرود وتسبیحات وے راشه وګوره دَ میُو دَ مینا شوے
وهرچا وته دِ مخ دَ لاله ګل دے کهٔ خُما تر ستړګو دا رنګه زیبا شوے
په باطن کښے دِ دَ زړهٔ په ستړګو وینی
په ظاهر کهٔ له خوشحاله نه جدا شوے

بیاله کومه لوریه بوئ راغے دَخټرو چه خاطر مِ په هائے هوئے راغے دَخټرو
دا اُوږدهٔ اُوږدهٔ غمونه پریشانئ چه خُما دی دا ئے خوئ راغے دَخټرو
هم په دا به مِ دَ زړهٔ پرهار کا نهٔ شی شکر شکر چه ئے موئ راغے دَخټرو
په هر مخ باندِ څهٔ خټرے بنائست نهٔ کا لائق شوے یو یو روئ راغے دَخټرو
چه په خیال ئے په سپین مخ باندِ ولوګے نو بهار ئے په هر سوئ راغے دَخټرو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دا کوئے کښے چه مقیم شوم خلقه حُکه چه نکهت ئے په دا کوئے راغے دَ خټرو

بیا به هم دَ مشکو نوم په ژبه واخلی
چه خوشحال لره ئے بوئ راغے دَ خټرو

بند وبست دَ کائنات دے په خبرو یو ترسله صدقه شه سل تر زرو
دَهمت په بال وپرسړے اُلوزی مرغۀ پورته الواتۀ کا په وزرو
ورته وایه تُوره کښیږده په صندوق کښے هرسړے چه مړنے وی په تلبرو
یا دَ سپینے تُورے مرد شه یا عاشق شه چه یادیږے په بدلو په سندرو
دَ عاشق بخره خواری زاری ناندری ده دَ معشوقے څۀ پروا له مرورو
له یوۀ دریابه خیژی فرق ئے پیر دے کۀ نظر کړے دَ دریاب په مرغلرو
چه ئے غم دَ غلیم نشته بختور دے خدایه ما کړے په شمارۀ دَ بختورو

دَ خوشحال ختمک خوښی په هغه وخت وی
چه بریښنا دَ سپینو تُوروشی دَ زغرو

پرے غوغا کا نړئ بلبلو تل به وخت نۀ وی دَ ګلو
دا ګلونه مسافر دی کال به تیر کا په راتللو
ستا په مخ به ئے نوشمه ساقی مهر کړه دَ ملو
ځایکی دِ وُویشتلم کم خطائے په ویشتلو
کۀ صورت ژغورے له غمه ستړے نیسه له کتلو
دا دَ مهر وئیل پریږده زۀ دِ خوښ یم په کنځلو
ماوے خوبه مِ لاسوزے په خندائے وے تر تلو
نۀ به باز نۀ به شهند شم نۀ به راشے په منګلو

وعده درسته کړه خولۀ راکړه
خوشحال نۀ دے دَ غلولو

چه مِ ولیدو په ستړګو حال دَ وارو مهر شانے قبلوی وبال د وارو
په جمال غره کۀ ډیر وبله ټول شی ستا جمال خجلوی جمال دَ وارو
دَ کشمیر کۀ دَ فرخار کۀ دَ تاتار دی بنائسته ځما بنۀ یار دے سیال دَ وارو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مائے بنه تحقیقی وکړه چه عاشق شی
په هجران باند وخیژی حال د وا ړو
سل وسل خبرے کاندی مړک ئے مه وه
په یوه خواب پورے کا سوال د وا ړو
چه ورتله کا تله به هم ورځنے کاندی
سلامت به پاتے نه شی مال د وا ړو
وعنقا وته به څه لره څوک دام ږدی
چه پرے راشی څیرے کاندی جال د وا ړو
که شیخان که زاهدان که عالمان دی
له عمل سره جوړ نه دے قال د وا ړو

چه ئے لاڅ د یارئ د آشنایئ کړے
وخوشحال وته بشکاره شوحال د وا ړو

چه په وار د رحیل راغے د وا ړو
څه کسرٰی اوڅه پرویز اوڅه خسرو
ناست په تخت څوک له منزله خبر نه وی
چه تخت څه رنګه په باد درومی په د ۍ
لوئے کور لره را درومی راشه کوره
څوانان څه رنګه اخته دی په خپل لو
چه م سازه کړه دونهه د مسلنګئ
مافیها د زمانے شول راته جو
هم ئے وینم هم ئے اورم ترے تیر یږم
چه په څنګ راته ببر وه کا بو بو

د زړه نوے بنه یاران ورځنے لاړل
د خوشحال د زړه ژوندون وو په دا نو

څما خرابه دله ته یو څه رنګه خراب شوے
چه ؤو درڅخه لاړل په هرځیز پسے کباب شوے

د مشکو دور تیر شو د کافورو دور راغے
چه نوم د د شباب وو په نامه د شیخ وشاب شوے

د باغ نرګس د هم لکه تازه وو هسے نه دی
د باغ د لاله ګلو د هم پاڼے پیچ و تاب شوے

د خولے حقه د ډکه په ګوهرو ده خالی شوه
په حزن په حسرت د یوه هر دُرّ نایاب شوے

په باغ به د چه کښلیو بناشته بلبلو ژغ کړ!
یوه بلبله نشته ثمرے ئے د غراب شوے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیړئ دِ د سینے په زورچه پاسه تله په غرونو
غوټه خورے پکښے کړئے اوس خسنړے د دریاب شوے

مزری به دِ له ترسه په هیبت وُو په کوهسار کښے
نزدے درته ویغ ویغ کا له کیدړو لاجواب شوے

چه پکے په بنومشکو په عنبرو هغه خولے وے
بدبوئے چارچوبئ د زمانے په انقلاب شوے

په عمرچیرے ویښ وے بیابه هم چیرے ویښیږے
هئے هئے د خوشحال بخته ولے دارنګه په خواب شوے

پیرے لری خوشحال د آسمان نندارہ وکړہ
چه څۀ وے په کوم شمار وے دازمان په څۀ حساب شوے

چه مِ اوښکے هسے آل شوے دواړه سترګے مِ سرۀ لال شوے
څۀ په نورځۀ پسے نۀ دی واړه ستا د مخ په خیال شوے
لیونے شوم خوب مِ نۀ شی راته ټۀ پری مثال شوے
نور مِ محو شول له دِلـه چه مِ تۀ په زړۀ نهال شوے
د زړۀ داغ دِ مُبارک شه چه مئین د شاه په خال شوے
خلق خوښ کړئی هوس کا خُما زړۀ ولے بدحال شوے
مګر نول د بیلتانۀ دے په ناله کښے لکه نال شوے

نورځوک هم شته دے اے غمه
کۀ یوازے د خوشحال شوے

حُب د دُنیا څۀ دے سرد کل واړه بد یو
بده ژبه بیل کا، تاله خپلو له پرد یو

هرچه غل کا سیروی د هغو سره مل مشه
مل د غلو کا سیرو په شمار ه دے هم د د یو

هرچه بدشومت دی خپل شومت ورلره بس دے
تل به با ندِ تاخت وی د خپل فعل د غد یو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو نشته په زرکښے چه ئے خوئ د آدم زاد وی
هر چرته چه کورے خلق سرشو په بد یو
خاندی به دا دور لیونی په هوښیارانو
پیچمے مسخرے کا بے خبر په بخرد یو

د شهئ زلفو مختولو سرهوا پریشانو طولو
چه ئے لاڅ هر سړے کا عشق آسان نه دے فضولو
خُما راز مو په ملک خور کړو اے خُما اوښکو پیدولو
په کوڅه کښے د دلبرو حساب نشته د مقتولو
تاسو مهٔ شوے سره ټولے کوښے کوښے د زړهٔ نولو
داخبرے چه خوشحال زده
نهٔ دی دا د نامعقولو

د بنادمنو په خندا کو د غمژنو په ژړا کو
د رندانو په رندئ د شیخانو په تقوٰی کو
د وصال په سل خوښئ د هجران په زر بلا کو
د بهار په بښو کلونو د بلبلو په نوا کو
چه ترے سرو وُنے هیڅ دی په هغه قد بالا کو
چه مکحولے دی له نازه په هغو سترګو شهلا کو
چه نرئ تر ویښتهٔ ده په هغه باریکه ملا کو
چه عاشق ورپسے مرینه په هغه جمال زیبا کو
چه راځی د یارله لوریه په هغه بادِ صبا کو
چه پیغام راوړی د وصل د هغه قاصد په پا کو
چه د وهمه پکښے نشته د ربښتینو په ربښتیا کو
په دا هومره سوکند ونه صد هزار ځله بیا بیا کو
چه ترڅان په تامئین یم
زهٔ خوشحال خټک په تا کو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راته مهٔ وایه په تا کو چه په تا نهٔ کو په چا کو
تهٔ ځما د سترګو تورے په دا تورو سترګو ستا کو
مخ دِ ورځ زلفے دِ شپه دی په صبا کو په مسا کو
په جهان کښے م ځان تهٔ ئے نهٔ چه نور په تا جانا کو
یادم تهٔ ئے په خاطر کښے هر زمان په خپل مولا کو
ستا د پښو خاورے توتیا دی چه ما ستا په خاکِ پا کو
تمنّا لرم ستا د یره په دا خپله تمنّا کو
ترخندا پورے دِ هیڅ دی لال و دُر ستا په خندا کو

یارخوستایم د چا نهٔ یم
زهٔ خوشحال ستا په لقا کو

دواړه سترګے م چه ستا په مخ دوخته شوے
په لمنے کښے م اوښکے اندوخته شوے

په مانړے مانړے ئے خوره مزه ئے اخله
تهٔ ځما د زړهٔ په وینو آموخته شوے

په لکهونو په کروړونو دِ بها ده
د یوسفٔ غوندِ په سهل فروخته شوے

ما وے تهٔ ځما د تورے شپے چراغ ئے
ولے تلے په بلے خونه افروخته شوے

چا دا اور درلګولے دے خوشحاله!
چه لاله غوندِ داهسے دل سوخته شوے

ستا په در د سرفرازو تل سجود دے د بے نیازو
ستا ملا لو سترګو پوچ کړو واړه کار د سحر سازو
ستا یوه وینا تیرے کا تر هزار سخن طرازو
سپین او سرهٔ د دُنیا دارو د عشق کنج د جان کدازو
د خوشحال وئیل هم واوُرئ راشئ اے نوا نوازو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سپینو وازدو لره ورغله پیشو — خولهٔ به ونیسی له وازدونه په څو
د عاشق په زړه کښے خیال د معشوق وی — د هند و په زړه کښے فکر د تبکو
د لولئ پرتو کاښ پیسه پرانزی — محبت ورسره نهٔ شی بے پیسه
درباری ناپاکے ښځے چه اخته شی — لورا لور لونډان بولی په کالو
په دربار کښے د کم ذاته میشتهٔ نشی — چه میشتهٔ شی هغه خونه شی د سؤو
ورانوی د کور بنا د کس له تاوه — کور په کورئے د ریبار وی ټک و پو
په خالی کیسه به نه رسی تر کامه — څهٔ حاصل کهٔ بوعلی شی په کسو
د هغو بخره خواری ده تل تر تله — چه زکوٰة خوری د کتاب په مسئلو
چه په هره کوڅهٔ کرزی هرزه کار شی — تر دا هسے گشت زنځیر بنهٔ دے په پښو

یو خوشحال څهٔ زړهٔ کباب نهٔ دے له تانه
تا د خلقو زړونه کښیښول په لمبو

عجب کار دے ستا د شونډو — بنهٔ روزگار دے ستا د شونډو
پرے پښه اوٗ دے د خوانانو — څهٔ دربار دے ستا د شونډو
په کالونو له ما نهٔ څی — بدخمار دے ستا د شونډو
لکه ستا زلفینے زړهٔ م — په کنار دے ستا د شونډو
د یمن یاقوت آبدار دے — کهٔ آبدار دے ستا د شونډو
په صورت کښے م څان څهٔ دے — یو یادگار دے ستا د شونډو
په هجران کښے سرے سرے اوښکے — دا نثار دے ستا د شونډو
څکه څان هسے عزیز دے — پرے گذار دے ستا د شونډو
چه د خضر ترے مایه ده — چشمه سار دے ستا د شونډو
څان بے ستا له شونډو پائی — شرمسار دے ستا د شونډو

د خوشحال څټک په زړهٔ کښے
انتظار دے ستا د شونډو

که د زړهٔ څهٔ خوترس یار وے څهٔ به بنهٔ وؤ — لږ د مهر په ما خوار وے څهٔ به بنهٔ وؤ
زهٔ چه ستا له غمه زار کړمه په در کښے — که د غور څما په زار وے څهٔ به بنهٔ وؤ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په ما باندِ پیغور کا ندی په عشق کښے ستا له حُسنه خبردار وے څه به ښه وُو
هرچه نن د زهد لاف کا په جهان کښے په لیدو دِ پرهیزکار وے څه به ښه وُو
پس له مرګه مِ یوهسے مکان کور شوے چه پرے تل د کښلیو لار وے څه به ښه وُو
ستا په کوئ کښے دِیر کوتِه تازی پراته دی زۀ هم کډ د دوئ په شمار وے څه به ښه وُو

ستا په غم به په دا لږ عمر مو رنشی
د خوشحال عمر بسیار وے څه به ښه وُو

کل قربان شه ترجمال د بنو یارا نو ورځاریږ.ه تر مقال د بنو یارا نو
دا صورت مِ څۀ ژوندے دے په ارواح نۀ دے تل ژوندے دے په وصال د بنو یارا نو
په خاطر کښے مِ بل حُب محبت نشته پکښے خائے دے د زړۀ خیال د بنو یارا نو
که دوئ ستا په رضا دروم یا نۀ دروم تۀ هرکار کړه په اقوال د بنو یارا نو
په جهان کښے د هرڅۀ مثال موندۀ شی وے مۀ غواړه مثال د بنو یارا نو
په هرزیان زوال راضی یم په دُنیا کښے خودِ نۀ شی یو زوال د بنو یارا نو
مرګه ستا علاج که شوے په هرڅۀ وکړے چه قتلان کړے په هرکال د بنو یارا نو
په جهان کښے که څۀ د خوښۀ یاران دی خبردار شه په احوال د بنو یارا نو
کوښے کوښے خان او زړۀ لره راحت دی که ئے کورے خط وخال د بنو یارا نو

د یارانو د یارئ په لذت پوهه دے
چه ثنا کا ندی خوشحال د بنو یارا نو

لیونی شول پښتانۀ په منصبونو خدایه ما ژغورے له هسے غضبونو
د کنکاش علم د چا دے د تورز نو لکه څوک لولی قرآن په مکتبونو
د کنکاش له علمه هیڅوک خبر نۀ دی خبردار یم د هرچا په مشربونو
پښتانۀ لره لوئے عیب دے که ئے کورے چه نازیږی د مغل په لقبونو
شرم ننګ نام وناموس ئے په یادنۀ دی خو وئیل کا د منصب د ذهبونو
د مغل سره لیدل په طمع مۀ کړه که کیدے چرے په نورو سببونو
ختک واله بلنځه بنه څما ترملا ده نۀ بنیره د نوکرئ په قصبونو
د بادشاه د زندان شپه څما په یاد ده چه تمامه شپه مِ تله په یاربونو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پښتانهٔ کهٔ جنګ مغل سره په تیغ کا هرختګ نیوے مغل تر جلبونو
دَختګ د ننګ جرګه نشته خوشحاله
راوتلی دی له کومونسبونو
ماخوب لیدهٔ په خدائے کوچه زهٔ تهٔ سره پُخلا یُو
خوبونه خوبونه خبرے د زړهٔ حال وبله وا یُو
ماشخه کتاب دے پکښے واړه غزلونه
تاشخه مینا ده دګلزار په تماشا یُو
لاس ترلاس نیولی سره ګرځو کښینو پا څو
خپله خوشحالی هوا هوس کړو په خندا یُو
پیاله کړے راته ډکه زهٔ ستاله لاسه واخلم
د شونډو بوسه راکړے بیا په نوره تقاضا یُو
مطرب راته له ورایه په تارونو لیندئ اینبے
په بم په خیر جاروځی مونږ ترُ نحو په نوا یُو
تهٔ کُل واړه خوبئ لرے زهٔ واړه کامرانئ
بنادئ ته مخامخ غم واندوه ته شاپه شا یُو
ناکاهه له دے خوبه د سحر په وخت راویښ شوم
نهٔ تهٔ وے نهٔ دِ وصل زهٔ دا کار سره جُدا یُو
څو پایم په دُنیا کښے دَچا کار راسره نشته
یوزهٔ یم یو دِ غم دے سره دواړه خوا په خوا یُو
خوشحال یوازے نهٔ دے څو په ملک کښے عاشقان دی
په خوب په بیدارئ کښے سره دواړه بادپیما یُو

ماهغه سړے شمارلے دے په وُرکو چه په خوئ کښے بے وفا عادت په سپکو
هغه باز ترمښکیرکه لا بتر دے چه غوټے ئے دی په شلاندو یا په مڑکو
غافلان له دے دُنیا سره کا لوبے لکه پیغله جن بازی کا په لوڅکو
عراقی په اشارت کښے خان څرګند کا تهتو سم په لارے نهٔ ځی بے چا بکو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے ډیرے اندیښنے دَدُنیا نشته ۔۔۔ زهٔ په داخبره خوښ یم له هلکو
له عالم سره خواړهٔ نهٔ خوړی له کبره ۔۔۔ لاتر روغو نه بهتر دے کار د پکو
کهٔ په شهدئ ساتے مزه ئے نهٔ وی ۔۔۔ ناشپاتئ د سمرقند د هند په مزکو

د خوشحال وئیل کهٔ د ُر قیمت بهادی
وناپوهو ته بتر دے تر کُنجکو

موښر.ه مئے پرست یُو ۔۔۔ د ازل په میُو مست یُو
په سما مو قدم ایښے ۔۔۔ لکه مزکه هسے پست یُو
هغه خولے وته نظر کړه ۔۔۔ هغه هسے نیست وهست یُو
کهٔ په تخت دپاسه کښینو ۔۔۔ بیا یو مات کچکول په دست یُو
څوک د وصل خبرے کاندی ۔۔۔ موښر.ه خوښ په خپل بربست یُو

تل موزړهٔ په داخوشحال دے
چه خپل زړهٔ سره پیوست یُو

ودِنهٔ وینم زهٔ ستا وصال په ستړکو ۔۔۔ کهٔ بے تارادرومی بل جمال په ستړکو
میلمستیا م د زړهٔ وینے ورته کښیښوے ۔۔۔ چه میلمه م شود یارخیال په ستړکو
هغه دم م د زړهٔ داغ له دله دور شو ۔۔۔ خوچه راغے ستاد وروځوخال په ستړکو
چه ډیر خلق سره ناست وی عجب بنهٔ شی ۔۔۔ د منیښو سره قیل وقال په ستړکو
په غمزو په کرشمو په مکیزو نو ۔۔۔ ښ دِنهٔ وینم په ملک کښے سیال په ستړکو
عارفان د قناعت په کنج توانګر دی ۔۔۔ چه ئے نهٔ راځی د خلقو مال په ستړکو
د مکے دیوال به نور په خولهٔ یادنهٔ کړم ۔۔۔ ماچه وُلیدهٔ دا ستا دیوال په ستړکو
ستا په کوتو کشیده رومال چه راغے ۔۔۔ زهٔ له مینے مړ م ستا رومال په ستړکو
هغه مخ چه به م تل لیدهٔ اوس کوره ۔۔۔ چه ئے نهٔ وینمه ماه وسال په ستړکو
چه بے ستا له زیبا مخه بل مخ کورم ۔۔۔ زهٔ به چیرے کښیږ.دم داوبال په ستړکو
وښهٔ مخ وته له وراید ُلبلاند شم ۔۔۔ لکه وُوینی لوغسی تال په ستړکو

نورعالم خود یارانو ناز په سر وړی
تل نازونه وړی د یارخوشحال په ستړکو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرنا اهل مزه څۀ زده د خبرو — د خبرو لذت بنۀ دے تر شکرو
چه دانائے په دانش سره انشا کا — یوه بنه خبره بهه ده تر زرو
بے اُستاده شاعری بے لارے تلۀ دی — یا وه کوئے کرځی په لوړو په ژورو
تفاوت د خاص وعاموسره پیر دے — برابر نۀ دی شبه د مرغلرو
د شهباز و د عنقا برابر نۀ دی — مچ او ماشی چه الوزی په وزرو
په چادم آسمان به ناست لکه عیسیٰ وم — کۀ آسمان نه الواتۀ شوے په خبرو

عام به چیرے د خوشحال په وئیل پوهشی
د کوهرو قدر څۀ زده بنیښه کړو

یا په زړۀ کښے مهر خائے وے د بُتانو — یائے ورکړے صبوری وعاشقانو
یا حیران عاشق په مرګ وُمرے چه خلاص شوۀ — یائے هومره جور نۀ وے د چشمانو
چه ظاهر باطن ئے دواړه سره جوړ وی — څۀ عجب خاصه مشرب دے د رندانو
چه په یار پسے روغ ځان سیزی په اور کښے — زۀ په دا رسم مئین یم د هندوانو
د خپل یار په بدو خاندم هوسیږم — چیرے زړۀ نه شی رابنۀ د رقیبانو
چه م نوم په ژبه واخلی هسے خوښ یم — لکه ژغ د خلاصی وُشی په بند یانو

بیا به صبر د خوشحال ختک اولجه کا
راځرګنده شوه سره کړے خولۀ په پانو

یوځۀ داغ لرم په زړۀ د نا دُرستو — د دے داغ علاج ونکړ سُستو پستو
یائے عین په زړۀ وخوری یا زخمی ځی — چه هوسئ په یره وُرسی د چستو
د بے ننګو بے ننګی م به ارمان شی — خدائے به واړه چارے بنے کا وراندِ روستو
د بنړو او بنکے م وینے شی ترے خاځی — دا د تن جامه م نۀ وی د اغوستو
د درد منو حال دردمن په قیاس معلوم کا — کۀ ئے وائے بنکاره نۀ وی په تندرستو

داغزل چه د خوشحال ورشی ترسرایه
بنۀ یاران به ئے نارے وکا د لوستو

اے چه ستا د یار له غمه استعفا ده — کۀ سینه د له زنکاره نه صفا ده
هیڅ د خپل مئین د بدو غارت مشه — د اغیار تروفا بنه د یار جفا ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَیار بدهم لکه بنهٔ هسے حساب کړه هم په دا دَ عاشقئ اِکتفا دَه
کهٔ ئے نیش زیاته نهٔ کنړے تر نوشه بیهوده دِ طمع کړئ دَ شفا دَه
مخامخ دَ یار وغم ته وُدریږه کهٔ دَ غیرو آشنایئ وته قفا دَه
آه کهٔ یوځله مِ وُلیدے په ستر ګو چه مِ تل تل ستا له غمه وا اسفا دَه

دَ خوشحال دَ رنځ علاج به څوک په څوکا
چه زګیروے ئے له طبیبه په اِخفا دَه

اے چه اصل دِ یوه قطره منی دَه په دا هسے رنګ وجود دِ څهٔ منی دَه
راشه زړهٔ ورپورے مهٔ تړه نادانه کهٔ ئے ګورے دا فانی دُنیا دنی دَه
عارفانو وته تلخه شوه تر زهرو په غافل باندِ شیرینه ترکنی دَه
له ګدایه نه لاځهٔ خو مخ جار باسی تل تشنه ناسته په وینوُ غنی دَه
روغ ئے واړه په کمند دَمکر بند کړهٔ آزادی کهٔ څنے شته دَ لیونی دَه

تل دِ خوش دَ خوشحال زړهٔ دَ عشق په کارو ی
خو یو عشق دے چه دَدهٔ خوښی هنی دَه

بیا مِ څهٔ دَ نورو یار بولے تورمهٔ کړه په ما خوار دِ ظلم دِ یرو کړو نورمهٔ کړه
واے سپی غوندِ مِ څو په کوڅه ګرځی څوڑوندے په جهان پایم پیغور مهٔ کړه
سر تر پایه اخلاصی یم په یارئ کښے په ناحق مِ لباسی بولے زور مهٔ کړه
چه په دوٗو پیالو دَ مئیو بدمستی کا هغه څوک په مجالس کښے میخور مهٔ کړه
یو عجب دَ میو جام دے ساقی را وړ خداوندئے په دا مینځ کښے نسکور مهٔ کړه
چه حرمت دَ عاشقانو پکښے نهٔ وی په هیڅ رنګ مِ په هغه کلی کور مهٔ کړه
آشنائی دَ ناکسانو دَ ځان غم دَه ناکسان له خپله ځانه خمسور مهٔ کړه
زهٔ چه نن دَ بیلتانهٔ په اور وریتیږم دَ دوزخ لمبه نسبت په دا اور مهٔ کړه

راز دَ عشق دے فهم دا راوسه خوشحاله
بنکارَونه ئے په خپل خوئ و رورمهٔ کړه

بے اخلاصه دَ یارئ څهٔ جواز نشته خود پوهیږے بے اودسه نماز نشته
دَ دانش مرغهٔ مِ هسے پورته لاړشهٔ چه هورے دَ کتهه بازو پرواز نشته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ هرخوئے په سورا ورکښے لولپه کړے د یاقوت د اوبو دار دکداز نشته
هغه باغ چه تل ما وا وو د بلبلو اوس په دهٔ کښے د بلبلو آواز نشته
د زړهٔ راز وچاته وُوایم حیران یم په هرلوری چه نظر کړم همراز نشته

توکلتُ علی اللّٰه وینا یوه ده
د خوشحال د زمانے سره سازنشته

باغ وے د کلونو پکښے ناست وے زهٔ او تهٔ
کل وے غوړیدلے باندِ نماست وے زهٔ او تهٔ

زیړه زعفرانی شوے یا کلکونه معطره
لاس ترلاس نیولی سره زغاست وے زهٔ او تهٔ

سپینه خولهٔ دِ راکړے بیا م هم درځنه غوښتے
نورخواستونه نهٔ وے خوداخواست وے زهٔ او تهٔ

تل م درد وغم وے د زړهٔ کاست او مهرمینه
تل په دا دُنیا دا کم وکاست وے زهٔ او تهٔ

رنګ د غماز ورک شه راست روزګار دِ د ناراست کا
خائے د ناراست نهٔ وے سره راست وے زهٔ او تهٔ

نمرخیژی خوشحاله چه خروس د سحر بانګ لی
شرط د پټ نیازدے چه برخاست وے زهٔ او تهٔ

په دا ساه نشته ویساه هر دم تهٔ وایه اللّٰه
هرنفس یو غنیمت دے پهره دار اوسه د ساه
د سالک په وئیل کار کړه کهٔ د ځان نهٔے بدخواه
د سالک وئیل هم دا دی تهٔے وایه بے اِکراه
چه له خلقه نه زړهٔ پرے کړه زړهٔ پیوند کړه له اللّٰه
کهٔ هوادِ کړله ترکه نور قبول ۓ د درګاه
بادشاهی به د هرتن کړے کهٔ د خپل تن شے بادشاه
مُوتُوا قَبلَ اَنْ تَمُوتُوا په دا راز شه اِنتباه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په جوارِ ئے د قربت کښے د کم شناختو نشته راه
د بیدارو دِ نصیب وی بنهٔ دولت د سحرګاه
څهٔ اُمید دُور ودراز کړے په دا لږ عمر کوتاه
تل توبه کوه خوشحاله
چه دِ محوه شی ګناه

په جهان کهٔ لویه چاردهٔ د میرشکار ده کهٔ دا چارګورے هرکار لره پکار ده
څوقا بو تالاش دا واړه دی په بنکار کښے چار د جنګ د مړ نتوب کهٔ دپیکار ده
ورته هیڅ د بنکار د ذوق خبرے مکړه د هغهٔ سړی چه طبع د بے کار ده
آلوده دی په پیرغم د عُمر وسځے چه په شمار د عمر نهٔ ده ورځ د بنکار ده
په خوشحال باندِ د بنکار هواڅوندون شی
مرده دِله کهٔ په تاباندِ بیکار ده

په خولهٔ کلمه لولی مونځ روژه کاندی کافرشته
دعوے کا د شیخئ ترشیطانه لا بترشته
منطق معانی لولی، درس، فتوىٰ، قاضیګری کا
اکثر په دا فرقو کښے کهٔ ګورے کُون خرشته
له کوره لوتهٔ واخلی استنجا لره روان شی
تقوىٰ ترهسے حده په اولجهٔ وړی کهٔ زرشته
د بل کره چه ورشی په خپل روئے بندیان پرانزی
په ځان باندِ چه راشی کله روئے د پیغمبر شته
یوځائے آلوده نهٔ دے په دا هسے درویشانو
په دا دورکهٔ ګورے دا ناپاک په هرکشور شته
بادشاه قطب اقطاب دی امراکان چه ورته ګرځی
کړے خیرے ترلے د هرچا په سر میزر شته
چه خاص د زمانے دی حال ئے دا دے نور وګړی
د غواؤ د خرو کلی خالی نوم باندِ بشر شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه حال د پرهیزکار و سراسر واړه دروغ شو
ربنتیا غواړے له چا نه چرته پاتے دا هنر شته
نۀ مهر محبت نۀ مروّت نۀ وفا صدق
عالم سره برهم دے خو دا دور د قمر شته
آشنا له هیڅامۀ شے کۀ پخوا آشنائی بنه وه
چه اوس له چا آشنا شے نورے څورنګه خطر شته
تردے ژوند یو بنۀ مړۀ پراتۀ په کورستان کښے
چه نۀ ئے دا مکرونه نۀ دا فعل نۀ دا شر شته
دروغ و ټیل هغه کا چه ئے ویره وی یا طمع
خوشحال په دا ارنۀ دے حق به وائی څوئے سر شته
په دُنیا کښے نعمتونه رنګا رنګ شته
د دیدن د نعمت کوم نعمت همسنګ شته
عاشقی د هغه کا چه لیونے وی
د هغو غرض پرے څۀ چه ئے فرهنګ شته
ما په عشق کښے دا همه واړه ترشا کړۀ
ته لا بنۀ ئے چه د غم د نام و ننګ شته
ماوے زۀ به د زړۀ حال ورته عرضه کړم
یو غماز ئے ترشیطان بتر ترڅنګ شته
په آشتئ کښے کُشتن دے عاشق وژنی
همیشه ژوندون هم دا دے چه ئے جنګ شته
خدایه زر یو بل اورنګ لره پیدا کړه
په جهان کښے بنا دی نشته چه اورنګ شته
په وار وار ئے د خوشحال خاطر صیقل کړ
ولے بنکته ئے لا پاتے څۀ خوزنګ شته
پروت یم ستا په درکښے په خیرات م یاد لره
دا نابناد خاطر م په پوبنتنه بناد لره
څو کړے ظلم جور په څورنګه طور طور!
وکړه فکر غور اندیښنه د داد لره
خیال دماغ د ډیر دے ترحساب ترشمارۀ تیردے
مړک قیامت د هیردی بنه دا هومره یاد لره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مرم په انتظار کښے نۀ شی هیڅ په زاری زار کښے
سخت ځما په کار کښے ترسندان فواد لره

شرع شته کتاب شته ډعذاب ډخوئ عذاب شته
بنۀ کۀ څۀ ثواب شته تۀ داخوئ معتاد لره

خدائے وته څرګند دے چه ډخپل خاطر پسند دے
څۀ مهر پیوندے هومره دا عناد لره

خوئ خصلت چه ستادی واړه پټ نۀ دی پیدا دی
مهر نازکۀ دادی تۀ ئے تل بنیاد لره

ملک شته کښته پورته ګورم ستا ډستر ګو لورته
مۀ درومه بل لورته ځائے په دا سواد لره

زلفے ډ زنځیردی پکښے ډیر زړونه اسیر دی
څوک په دا تدبیردی چه خوشحال آزاد لره

په دا کلی کښے څوک نۀ لرم نیکخواه چه رښتیا وایم هم دا لرم ګناه
له ځوانمرده په خندا په هوس درومی له نامرده جدا کیږی په آه آه
لکه سورے وړاندِ روستو راسره ځی چه وهرلوری ته ځم صبا بیګاه
لکه لاس په شمار ډ زړو پول توریږی په دوستئ ئے سړے هم شی روسیاه
زۀ په رغم ډ صوفی خرابات یم چه ډ مکر ذکر کا په خانقاه
ډ زاهد په کار کښے څورنګ اشتباه دی ډ اوباش په کار کښے هیڅ نشته اشباه
کۀ څوک زړۀ سیزی په ماځائے ډ زړۀ سودے کۀ م لاس وے زۀ به وے وُم اِکراه
چه ئے لاف ډ پاکئ کړے څۀ ناپاک شۀ راشه ګوره چه څۀ حال لری تباه
وائے سر په عاشقئ کښے درته څۀ دے درته وایم کۀ باور کړے یو ګیاه

رعیت لکه عیال ساته خوشحاله
په یاغی باندِ مهم کاندی بادشاه

په هر کار کښے مصلحت شته خپل پردی ته نصیحت شته
چه لر بر له مصلحت شی کله خیر برکت شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د سړی هومره بنادی ده چه په زړهٔ کښے ئے همت شته
چه همت د سړی نهٔ وی مهیا ورته نکبت شته
سرهاله په تنه بنهٔ دے کهٔ د سر سره عزت شته
د سړی چه عزت نهٔ وی د ژوندون ئے څهٔ حاجت شته
په صحیح غنی هغه دے دهر چاچه قناعت شته
د نیستئ ئے اندوه مهٔ کړه کهٔ په تن کښے د صحت شته
چه صحت د صورت نهٔ وی څهٔ پکار کهٔ د دولت شته
دین دُنیا د مبارک شه کهٔ دا ناسره صحبت شته

اوس یاری مهٔ کړه خوشحاله
د یارئ سره آفت شته

په خپل قسمت راضی شه تل د بل قسمت مهٔ غواړه
فراغت د مُبارک شه کهٔ د ونیوهٔ دا دواړه

د ژوندون پیوند ترلے په یوهٔ اومهٔ سپنړسی دے
د جهان غمونه پریږده نور به څهٔ ژاړے ځان ژاړه
خپل دی کهٔ پردی دی قلم وُشکوه په واړه و
دورد فساد شو په خپل څوئ رور مهٔ ویاړه
هرچرته چه کرځم څنے هسے چارے وینم
کار مدار په نن شو د صبا اندیښنه لاړه
کورم کوم یو باد دے چه په درست جهان راوالوت
زړهٔ په چا بنهٔ نهٔ شی لباسی شهٔ خلق واړه
ما وے کلے میشت دے چه په کلی باندِ راغلم
تش کنډر پراتهٔ دی خالی مَینه ده اُوجاړه
هرچرته چه کرځے په لاحول ترے تیریږه
سل بلا په زړهٔ کښے سل دانے تسپے په غاړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ډیره سودا وشوه سل دعوے د سود په طمع
وخت د مازیګر شو دِله دا دوکان وُنغارِه

تل وائے خوشحاله چه دُنیا وته به شاکوم
لاخو دا دُنیا ده مخامخ درته و لارِه

په هره تنګه خولۀ کښے برابر نۀ دی خوارۀ
په ځنو کښے حلوا دی څوک نبات لری نارۀ

سمے کړے ډیرے په خپل زړۀ لرے یار خپل ته
ځکه دِ د زلفو ویښتۀ سم وی هم کارۀ

بخت دے چه ئے اوس ستا د لبانو سره څښمه
تاِم چه دننه زړۀ په سرۀ پیزوان ځارۀ

زۀ د زړۀ بدخواه وُم ما پرے وُکړۀ پرهارونه
څۀ لره مِ دے د یار غمزو لره لارۀ

اور لرے په مخکښے چه په تا مئین کیدلم
ما په دا بله لمبه ننه زړۀ ځارۀ

زلفے ئے تور ماردی زۀ ئے هسے وخورلم
مرم را باندِ نۀ ځی د دم کړو هیڅ پارۀ

مست یم مے پرست یم زۀ خوشحال په خرابات کښے
له مئیو به وانۀ وړم کۀ مِ وژنی په ورا بۀ

تور اوربل دِ په سپین مخ را آشفته شۀ
سمن رازدِ په سنبل کښے نهفته شۀ

عاشقانو دِ آرزو وُکړه لیدن ته
چه د کښلی مخ صفت دِ شنفته شۀ

څۀ خوسوله غرنے هسک کړه وئے کوره
لاله زار دِ په جوار کښے شګفته شۀ

تاچه زلفے پیچا پیچ سره وَلول کړے
په ګلونو کښے یو تور منګور خفته شۀ

هغه دُر دِ فخر کا کۀ ئے تمیز شته
چه ئے پاسه د تیکے په تار سفته شۀ

ستا دیوال مکړ د عشق په خبتو روغ دے
چه ئے شیخ ترسیوری کښینا ست آشفته شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څکه هسے رنګه بوئ لری خوشحاله
دا غزل چه د بهار په وخت ګفته شئ
تورہ چه تیر یږی خو ګذار لره کنه
زلفے چه ولول شی خوخپل یار لره کنه
ولے راته وائے چه په کښلیږو نظر مئ کړه
سترګے چه پیدا دی خو دیدار لره کنه
شیخ د مونږ روژه کا زهٔ به پرے پیالے اخلم
هر سړے پیدا دے خپل خپل کار لره کنه
تا وے چه څما د خولے بوسه لکه دارو ده
غواړم دا دارو د زهٔ پرهار لره کنه
وینے م د زهٔ خورے مکر نورځئ لره نئ دے
زهٔ څما پیدا دے تاخو نخوار لره کنه
څئ ژړا فریاد کړے د شمئ د تورو زلفو
تئ ور تلے پخپله دے تور مار لره کنه
خود به ستا ترمخه د ګلیاه غوندِ څرګند شی
ګل د لاله راوړه خپل رخسار لره کنه
مے شته چنګ وے نے شته د خپل یار سره خوشحاله
خپل بیاض په لاس کښے څه ګلزار لره کنه

تونګران په ملک ومال لری تکیه — درویشان په ذوالجلال لری تکیه
د عارف ژبه ئے بند کړه له مقاله — عالمان په قیل و قال لری تکیه
د عاشق سره چه هومره استغنا کا — بنائسته په خپل جمال لری تکیه
کهٔ تکیه ده خو تکیه د یوهٔ خدائے ده — چه په بل ئے کړے څهٔ حال لری تکیه
دانا یو دے تکیے ګوره د وګړی — چه په ستوری چه په فال لری تکیه
د دُنیا تکیے ئے ولیدے په سترګو
نور به چا و ته خوشحال لری تکیه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترهرچا دے خُما یار بنۀ شیرین لب و شکر بار بنۀ
ترسنبلوئے بنے زلفے ترگلونوئے رخسار بنۀ
تورے ستر گے تورے وروځے تورگیسوئے تار په تار بنۀ
تنگه خولۀ ئے نیسته هسته لکه خولۀ هسے گفتار بنۀ
لکه دُر هسے غابنسونه لا تر دُرو سپین هموار بنۀ
تر ویښتۀ ئے ملا نزئ تن ئے لا ترسپین چوتار بنۀ
قد ئے بنۀ تر سروِ وُنے لکه قد هسے رفتار بنۀ
چه هر خُا ئے وته ئے گورم سر تر پایه پریوار بنۀ
خدایه ماته هغه خولے کړے چه به وائی هندوبار بنۀ
هومره کلی ډیر بنهرونه پکښے نشته یو نگار بنۀ
چه پکښے خوارۀ یاران دی پیښور تر هر دیار بنۀ
په موسم د بنسو گلونو تر هرځۀ د میرے بنگار بنۀ
بنۀ په هند کښے چنبا گل دے تر دا گل د وطن خار بنۀ

د سرائے قدر نورچانۀ زده
په خوشحال دے تر فرخار بنۀ

تا وژلی هم د خپله لاسه خوښ کړه کۀ د زړۀ باندِ یخیږی زړۀ پریخ کړه
رقیبان دِ لکه سپی دی په کوڅه کښے چه انگښرد پاکیزه شی واړه چخ کړه
د جنت میوے م نورو ته بخښلی کۀ گهے خُما په خولۀ سیب د زنخ کړه
هغه واړه مهتیا دی په هجران کښے چه واعظ و ما ته شرحه د دوزخ کړه
کۀ پرواز دِ د شهباز د شاهین نۀ دے د مطلوب په لوری پرونه د ملخ کړه

چه دِ قدر د وصال نۀ وُ خوشحاله
په فراق د بنو یارانو اوس آوخ کړه

چه م ستا کوڅه مأواشۀ غم خُماله زما سِوا شۀ
ستا کوڅه لکه بهشت ده په بهشت کښے م زړۀ وا شۀ
زړۀ م ستا د مخ په دور له چمنه بے پروا شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه یارچه دَ خلوت وو وهرچا وته رسوا شۀ
عالم درد لره دوا کا دَ یار دردځما دوا شۀ
شانه رو وهه په زلفو پکښے زړۀ م سرهوا شۀ
چه تۀ مهر باندِ نۀ کړے
خوشحال څکه بے نوا شۀ

چه دَدواړو ستړکو شیر درځخه شته پرے نے خوره له ځانه سیر درځخه شته
آئینے وته نظر کړه کل به څۀ کړے چه خپل مخ دَکل په څیر درځخه شته
کۀ دِ زړۀ ځما په زړۀ دے چه نے تول کړے تولوه نے چه کشمیر درځخه شته
ډیر به ماغوندِ په عقل تیرو بیر کړے چه وربل دِ تیر وبیر درځخه شته
تل دُعا درباندِ کا څنے خبر یزه یو څوخوار له دِله هیر درځخه شته
کۀ جمال کۀ ناز وخیال کۀ کرشمے دی دا ترشمار ترحساب تیر درځخه شته
لږ دَ مهر دَ وفا خویونه زده کړه دَ جفا خوبونه ډیر درځخه شته
عاشقان غریبان وژنه صرفه مۀ کړه دَ غمزے تیرۀ شمشیر درځخه شته
کله ډک مِهر دَ خولے په خوشحال وکړه
خوکۀ تش مهر برځیر درځخه شته

چه دا هسے رنګ مانړے کړے بے ګناه ویره نکړے دَ عاشق دَ زړۀ له آه
چه په هر لوری روانه په بنیوه شی ورسره څما دُعا دروی همراه
چه دِ هومره ډیر دماغ وته وګورم بل دِ سیال په جهان نشته بے بادشاه
معشوقه م دَ عاشق غندنه نۀ کا کل بورا وته ونۀ وے توره سیاه
یا په ماباندِ مئینه کړے دلبره یا م مینه څنے ماته کړے الله
چا ته حال دَ زړۀ معلوم کړم خبر نۀ یم یو نیکخواه په جهان نشته بے بدخواه
رقیبان دِ غوغا کا پروا م نۀ شی شیر به کومه اندیښنه کا له روباه
په یوۀ ګذارے درست مقصود پوره شو
چه نګاه نے په خوشحال وشو ناګاه

چه له هرچا طمع پریکړے سلطانی ده کۀ دِ زړۀ په خاموشئ کړے سبحانی ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَحاتم دَسخاوت خبرے مهٔ کړه
لا په دا کښے هم دَطمع نښانی ده

په خو رنګه دَیارئ صفت کیږی
زبانی یاری نانی یاری جانی ده

ترجانی یارانو هرځهٔ صدقه کړه
هم په دا سبب په کار دُنیا فانی ده

دَدُنیا په پریشانئ کښے جمعیت دے
دَدُنیا په جمعیت کښے پریشانی ده

چه له دوسته له دښمنه بنهٔ سلوک کا
دَهغو سړیو بنهٔ زندګانی ده

چه په کورکښے م ځهٔ وُو تروارو تیرشوم
وخپل یار وته م هسے مهمانی ده

په زړګونو کتابونه ملا لولی
الف بس کهٔ ئے غرض مُسلمانی ده

په نادان باندِ هم رحم شته خوشحاله
معذرت دَنادانو نادانی ده

چه دا هسے ئے آغازه عربده کړه
مکر تشه ئے له میُو میکده کړه

عقل دِیره شعبده لری په مئو
ساقی تار په تارئے هره شعبده کړه

بنهٔ جمال لره پیدا کړه خُما سترګے
له غه پسه ئے جمال مشاهده کړه

یوځل بیاله زیبا مخه پَلوَ واخله
دا په غم کښے پراتهٔ لا په غم زده کړه

ستاله غمه چه دِیر دِیر همیشه ژاړم
دَورو سترګو م خجله نربده کړه

دَویشتلو آه چه ولګی بنهٔ نهٔ دے
لا دوخته ئے دَزړهٔ له حاله زده کړه

دَقلم له سره تور لوګے روان شو
چه خوشحال دَدے غزل مسوده کړه

ځهٔ دَبدو ژغ ووچه ما بنام راباندِ وشهٔ
تندرووِ یا توپ وو پرے م تخنے تخنے زړهٔ شهٔ

ځهٔ خوښی دَدهٔ وه چه بیا زر پسے اندوه وو
چاوے چه په رنځ کښے معظم په خوب اُودهٔ شهٔ

دا ژوندون هیڅ نهٔ دے چه م ساه وینی داخلق
زهٔ په ځان پوهیږم اوس م کار لکه دَمړهٔ شهٔ

ماوے زړهٔ م سنګ دے چه په هیڅ به نرم نشی
راشه کهٔ ئے کورے په ژړا ژړا اوبهٔ شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ما د معظم په لید و مینه ما ته نه کړه
څه د قضا رنځ وو په هفته کښے څه وو څه شه
رنګ ئے ترخوئ بنه وو خوئ ئے لابنه وو تر رنګه
ګل وو د ګلاب و شګفته شه نور په تله شه

دریغه دریغه دریغه کهٔ ئے مرګ په بدلیدهٔ وے
څوبه م پرے ورکړل ولے مرګ میلمه د دهٔ شه
زوراوستم نه وو نه څه جنګ تورے نیزے وے
بل علاج ئے نه وو د دهٔ مرګ د خدائے په کړهٔ شه

زهٔ یوازے نه یم د یر عالم پسے کباب دے
آه د پسے کیږی روزی نه وه روزی نه شه
بنهٔ تاریخ ئے راغے "بے بدله معظمه"
خوشحال د دهٔ نیکهٔ دے د نیکهٔ ئے داغ په زړه شه

چه بنیاد د عاشقئ چا کا وه — دائے څه کړه په داکار نه پوهیدهٔ
په جهان ئے یوه څه بلا پیدا کړه — یوه خدایه کورته وران کړے د هغهٔ
د هغهٔ جهان دوزخ په غوږ و آوړم — دا دوزخ م په دا ستر کو ولیدهٔ
څوک ناحق د بیلتانه له لاسه ژاړی — آشنائی ده چه تاختونه کا په زړه
د هلک له لاسه والوزی مرغئ — په ژړا ورپسے سره کا دوه لیمهٔ
هغه وخت چه د زانګو او د وُنډی وو — په مرغئ هیڅ نظر نه وو د دهٔ
څولوئیږی آشنائی ئے پرے د یر یږی — درومی درومی په اوړو کښے بنهٔ ویښتهٔ
د وصال قدر غمژنو د فراق زده — د تشنه ژوندون په څهٔ دے په اوبهٔ

په حد ونو سره ولاړ و اوس خوشحاله
په کوم لور به سره مومو زهٔ او تهٔ

څما عشق په هغه شان دے لکه وو — ستا خاطر هغه سندان دے لکه وو
کهٔ تهٔ هر څو بد قولی او بد عهدی کړے — قول عهد م همان دے لکه وو
خرخشے د لکه وے په هغه شان دی — فتنه ګر دے سور پیزوان دے لکه وو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د رقیب خبره مهٔ نغوبره اے یاره — چه رقیب هغه شیطان دے لکه وو
د بنړو په ناوکیو د غلبیل کړ — نښانه م درته ځان دے لکه وو
په خاطر باندې م داغ دے ستا د لاسه — ولے هسے بے درمان دے لکه وو
بل کمان فکر خاطر لره درمهٔ وړه — خوشحال ستا د بندګان دے لکه وو

چه د زړه هسے پرے نازکوه دلبره
په خوشحال د خاطر ګران دے لکه وو

څو راسره خلقه جفا پیره هغه کس کړه !
خدائے م په داخوئ کښے په دغه مینه یو په لس کړه

زار د خوار عاشق دے د محبوبے څهٔ پروا ده
زهٔ وغم ته روغ یم تهٔ تل خانده تل هوس کړه

زړهٔ ئے د کافردے خو په خولهٔ کلمه لولی
څهٔ ئے را ته ستائے مالیدلے ده نو بس کړه

ګرځی په ګلونو کښے ګندګی ورپسے غواړی
څهٔ ئے په جهان کښے بده بخړه د مګس کړه

بنهٔ چه را پیدا شوے د بهار زیړ په ګله
تل د یادوُنه عندلیب په هر نفس کړه

لیږدی کا روانونه صبا کیږی اے ساربانه
پاسه د شُتر په غاړه پورے اوس جرس کړه

څه هغه شهباز شه چه ئے ځائ په سر دروے
نهٔ لکه د کلی قارغهٔ ګرځه غم د نس کړه

بخت دے کهٔ طالع دے کهٔ داخپله فقیری ده
خدائے م چه شړئ برابره د اطلس کړه

قدر د خپل ځان د عافیت ورځنه نهٔ وو
څکه عاشقی هسے آغازه بوالهوس کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نور وحریفانو واړو ډکے پیالے نوش کړے
بنهٔ چه دِ خوشحال پیالهٔ ډکه په بکس کړه

څوجفا راسره ډیره هغه کس کړه — خدائے م مینه په دهٔ باندِ یو په لس کړه
بنه چه راغلے د بهار زیر یه کله — اندیښنه دِ عندلیب په هرنفس کړه
د ګلزار په ګل غرض نه کا غل غواړی — په جهان ئے بده بخره د مګس کړه
کهٔ زهٔ خوار دِ د ګلونو لائق نهٔ یم — ستاله باغه عنایت داخار وخس کړه
درست عالم په داخبره خبردار دے — چه بلبله خپلے ژبے په قفس کړه
تهٔ ئے شناخت علم ادب لره پیدا کړے — نهٔ چه ګرځه بیهوده چارے عبس کړه
د ژوندون په قدر هیڅ خبردار نهٔ وو — عاشقی م چه آغازه بوالهوس کړه
کله سول کله ژوندون بخښل وماته — د عشق اوره په ماچارے د قفس کړه

د دُنیا غمونه لرنهٔ دی خوشحاله
نن د یار ومخ ته ګوره واړه پس کړه

چه په عشق کښے ئے ونوروته پیغور شهٔ — اَخ چه لاس په لاس په دهٔ پورے دا تور شهٔ
محتسب چه په احداد وو د مستانو — د رندانو سره ناست دے باده خور شهٔ
چه پرون م فاسقانو سره جنګ وو — نن هغه ترعاشقانو لاخهٔ نور شهٔ
چه غیبت ئے بداوهٔ د بل تر زیانه — راته ګوره په غیبت د پلار ومور شهٔ
کهٔ د بر یرے په وکښل ئے ورته وایم — نصیحت د نیک خواها نو باندِ اور شهٔ
ګوره څوعالم به لاندِ کا تر چلو — نن چه دا دریاب راوخوت موج ئے زور شهٔ
صنوبر چه هومره ډیره لوئی غوښته — څکه هسے په باد تهٔ په باد نسکور شهٔ
چه ئے زړهٔ ترکانړی سخت هغه م یار دے — بدے بخرے څهٔ څما کانړے په کور شهٔ
تورے ستړکے ئے بلا دی عاشق ګوره — په بلا باندِ وردرومی کروکور شهٔ

دا د خپل عمر دلیل وکړه خوشحاله
چه لاله په باغ کښے وغورپیدهٔ خور شهٔ

چه ګټل خورول بخښل کا څوان هغه — چه توره لری د توړے خان هغه
کان د لعل د یاقوت د ګوهر څهٔ دے — چه احسان ترے پیدا کیږی کان هغه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے تهٔ په ګیډه وُخوړے حبطه شی — د مجلس سره چه خوږ شی خوان هغه
که د مال دے که د مملک دے که د لیچو — چه ئے توان د چا پکار شی توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په میاشته کال کښے — چه د خدائے په یاد و دروی آن هغه
چه د ځوک د دوراندِ روستوځی داځهٔ شی — په تنها وجود چه شان دے شان هغه

ونور چا وته وران مهٔ وا یه خوشحاله
چه په قول عهد وران شو وران هغه

ځان چه پیژنی که ګورے ښهٔ هغه — چه ناحق په ځان غره دے څهٔ هغه
واړه زړونه فراغت وی په بنادئ کښے — چه په غم کښے مردانه شی زړه هغه
ملامت لره ئے نور عالم پیدا کړ — ملامت لره چه روغ دے زړه هغه
یا یاری یا اغیاری ده که ئے ګورے — په دا دوه کښے نهٔ تهٔ دا شوے نهٔ هغه
چه ترتانه وراندِ وروستوځی ملهٔ نهٔ دی — چه په لار در سره سم ځی ملهٔ هغه
چه په عشق سره ژوندی دے هغه نه مړی — چه بے عشقه ژوندی ګرځی مړه هغه
چه دروغ ترخولهٔ وُباسی کله خولهٔ ده — چه رښتیا ترخولهٔ وُباسی خولهٔ هغه

هیڅ حجت له هیچا مهٔ کوه خوشحاله
هرچه تا وته څوک وائی تهٔ هغه

څهٔ لره م زړهٔ وړے چه د زړهٔ ساتل دِ نهٔ زده
مست یم مستی کړمه ګنړه هر هُنر م ښهٔ زده
تل په او بنکو وینو همیشه ژړا آهونه
نور راخبر نهٔ شول یام ستړګو یام زړهٔ زده
ذکر فکر مونځ روژه طاعت ورلره بویه
شیخ ملا زاهد عابد مونی په میوځهٔ زده
کله د طوطیانو په ګفتار کښے دا لهجه ده
راشه که ئے ګورے زړګے تا کله دا تلهٔ زده
روغ عالم به چیرے د درد من په حال خبر یږی
درد چه په چا تیږدے په درد منو هم هغهٔ زده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څۀ زړونه ئے وړی، ستا بار خو پریشانو زلفو
بنسه وه داخبره چه یا غلۀ زده یا ئے ملۀ زده

ستا دا سور پیزوان چه فتنه کړدے بے حسابه
څو رنګه فتنے چه په جهان دی واړه دۀ زده

چیرے به له دله یو ډک مهر را برخیر کړے
تل دِ کۀ داهسے د لاسے تشے په خولۀ زده

څۀ پوښتے خوشحال د بیلتانۀ پۀ اشتیاق کښے
ستړے په منزل پوهیږی ترڅے په اوبۀ زده

چه پیدا چیرے په ملک کښے یو حبیب شۀ
لکه خار ورته په څنګ کښے بل رقیب شۀ

محمدؐ ته ابوجهل نصیحت کا
راشه کوره څوک رنځورشۀ څوک طبیب شۀ

د دانا په خپل وطن کښے قدر نۀ وی
د ږهالۀ قدر پیدا کړو چه غریب شۀ

په چمن کښے رنګا رنګ ګلونه ډیر دی
د زړۀ داغ م د لاله د زړۀ نصیب شۀ

کۀ ئے رنګ و بوئ وګل نۀ وے ورکړے
مبتلا به باندِ ولے عندلیب شۀ

راشه تور و سپین د ستړګو نندارې کړه
هغه یار راسره لا تر دا قریب شۀ

چه پرون راسره یار وو خبر نۀ یم
نن له مانه بیا ویزار په کوم تقریب شۀ

تنا وونه ئے د زلفو دی دا زړۀ م
لکه ملک د یاغی لاندِ تر تخریب شۀ

چه ئے پریښوده یاری د لیونیو!
ګمان مۀ کړه چه خوشحال ختک لبیب شۀ

چه م زړۀ پرے بنۀ کیدۀ له واړه وبد شۀ
بنۀ خو دا چه اوس یو ازے د احد شۀ

کۀ ژوندون د خلقو دا دے چه لیدۀ شی
بنۀ وماته مړے خلقه د لحد شۀ

د دُنیا یاران م وُلیدل په ستړګو
هر سړے ځما په ستړګو لکه دد شۀ

نۀ حیا شته نۀ وفا شته نۀ خپلوی شته
خلق واړه په معنیٰ لکه مرتد شۀ

چه ئے نن کا ندۀ له ما سره خپل قوم کا
مکر دا جور له قومه په احمد شۀ

تفحص د تور و سپین نشته په چا کښے
د همه عالم په ستړګو کښے رمد شۀ

نور به چا ته یاد ؤم چه رد ګمراه دے
چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرزندان چه م له کیدے نه پیدا دی
پوخ ځماله ناخلفو نه کبد شۀ

په طالع په بخت د مال وملک څښتن دی
بخت هغه دے چه په بخره د بخرد شۀ

له هغه بخته ځما توره بلا ده
چه له هره ناهمواره په مدد شۀ

چه د پلار له ځانه بنۀ ځویه پیدا شی
ته به وائے چه ژوندون ئے مجدد شۀ

چه قابل ئے پیدا نشی په اولاد کښے
که هزار ځویه د پلار وی بے ولد شۀ

د بهار کلونه هیڅ دی چه تیر یږی
بنۀ هغه وماته کل دے چه سرمد شۀ

که په ذات کښے د خوشحال آل واولاد شته
په صفات کښے لَمْ یَلِدْ وَلَمْ یُوْلَدْ شۀ

یخ د نمرو تاته نۀ دری خوشحاله
په داځۀ چه یو څو ورځے منجمد شۀ

څوپه باغ کښے لا یو کل د نو بهار شته
د بلبلو د طوطیانو پرے چیغار شته

نن دِ غم له مانه ځان ساتی که بنۀ کا
چه په سیل د بهار راسره یار شته

چه له یاره سره مست د کلو گشت کړم
محتسب که رانزدے شی پائیزار شته

شیخ ملا دِ ځما غم په بهار نۀ خوری
چه رباب و سریندے غوندِ غمخوار شته

نۀ به زۀ د میو جام کښیږدم له لاسه
نۀ ځماله پارسایئ سره کار شته

ما و خپلے پارسایئ ته رخصت ورکړ
په دا نورو پارسایانو م اوس پدار شته

ساقی بیا ځما د بنهر خبر واخله
لا یو څو په کوځو پاتو پرهیز کار شته

کل ومل ساز و سرود ساقی سره ستر کے
لا به دیر عالم رسوا کا چه دا چار شته

چه په هره پیاله عقل له مار زدو ئي
د ساقی منت را باندِ په بار بار شته

د کلونو په موسم کښے خوار هغه دے
چه ئے نۀ پیاله په لاس نۀ ئے نکار شته

نن هغه شاهِ جهان د زملے دے
چه د سته ئے د کلونو په دستار شته

چه نا اهل په غفلت ورباندِ نۀ ځی
ځکه وصل د هر کل په څنګ کښے خار شته

د بهار زیبا کلونه سودا کړ دی
لخلخه به ځنے پیرے چه خرید ار شته

نن خوشحاله د زړۀ داد د عشرت ورکړه
داځو ورځے غنیمت دے څو کلزار شته

څوپه باغ او په بوستان کښے لا لاله شته
د بلبلبو د طوطیانو پرے ناله شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ننۍ دِ غم له مانه لرے لرے ګرځی چه په وخت مِ دَبهار په لاس پیاله شته
کهٔ مِ یار په لاس باده واخلی ساقی شی پرے مِ دا رشی چه ئے زهد صد ساله شته
رائے وُښیه چه خُم تر پښوئے پریوزم کهٔ په دهر کښے څوک ماغوندِ واله شته
دَبهار په زیبا کلو ډیر ویریږ م چه باران شی دَباران سره ژاله شته
دَبهار په سیل تل درومه خوشحاله
یوځو ورځے چه دَکلو پر کاله شته

چرک دِ خپل چرک والے کا کهٔ ئے رضا ده چه له بازه بازی کا دَدهٔ قضا ده
هغه چا به مخامخ په مخه ورشی چه دَچا دَهغے چارے تقاضا ده
څوک به خوښ سره پرے نه ږدی په جهاکښے دا دَځایه دَدے دهر اِقتضا ده
تیره چا رچه یادوی فائده ئے کومه وِ دا نا ته مضا واړه بے مضا ده
دَګمان لرے به تار په تار خورے کا دَیقین اندیښنه بهه تر بیضا ده
دَخوشحال په وئیل غور اوفکر بویه
چه موند نه دَخبرے په اِمضا ده

چه مِ ولیدهٔ دَ زړهٔ په ستړګو خپل زړهٔ دَخپل زړهٔ غوندِ مِ ونهٔ لیدهٔ بل زړهٔ
عاشقی دَخدائے بلاده عاشق مهٔ شه څوک په سرو سکرو تو ایښے لری تل زړهٔ
په وئیل وئیل مِ هیڅ تقصیر ونهٔ کړ کهٔ ستنیږی له دلبرو په وئیل زړهٔ
عاقبت به آفت سر لره پیدا کا چه جارُوزی دَبُتانو په بورجل زړهٔ
ورئے واچول دَ زلفو زنځیرونه کهٔ هرګز آموخته نهٔ وو په ټرل زړهٔ
دَخپل سر په مهرهم دا هسے نهٔ وی لکه خوښ شی دَدلبرو په کنځل زړهٔ
ډیرئے صبر شکیب وکړ نهٔ پائیږی نور له تنه جدا کیږی په نیول زړهٔ
دَخوشحال څنګ فریاد له نورو نهٔ دے
په دهٔ هومره چارے وُکړے واړه خپل زړهٔ

چه وایم هغه نهٔ کړه دا څما څویه ګمراه
غوولی دِ پرے نهٔ شی یا خوما ګنړی بدخواه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ کار په دوئ نۀ شی په شمارہ دی د غوولیو
کمے دے دا د دیو کۀ ځما دے دا ګناہ
کۀ ما د ځان بدخواہ ګنړی دا لا بله بلا دہ
هیڅ پلار به په جهان بدخواہ د ځویه وی آہ آہ
کۀ پلار د چا مزرے وی مزر ګټے ورځنے زیږی
ځما ځویه وګورہ د جیفے ګیدړ روباہ
څو پیردی کۀ قابل وے دا به څۀ بلا نښۀ کار وو
یو شیر د درګه نښۀ دے نۀ ګیدړ پکښے پنجاہ
د نورو نوم څۀ اخلم د تومے بیوجه څو دی
یا عاق یا عاق ته روغ دی خو د واړو مخ سیاہ
ځما په نامۀ زر شول د بی بی په ذات زرنیخ شول
زرنیخ په نرخ د زرو کا قدرت لری اِلٰه
هر کارئ په تقلید دے تحقیق نۀ لری په ذات کښے
نۀ نام نۀ ملګری شته هومره ګنج هومره سپاہ
ارمان ارمان چه زوړ شوم یو قابل ځویه م نشته
چه زۀ خوشحال دُعا کړم په صبا او په بیګاہ

چه تاوته نظر کړم نور م هیردی بنائسته
په طور د مئین کړم ګنړہ دیر دی بنائسته
هم ځان راته بنکارہ کا هم م ورک شی زرله ستر ګو
په دا کلی کښے واړہ پری څیر دی بنائسته
تلخئ د هجران بده بلا دہ عاشق وژنی
چه دائے را په یاد شی څۀ ګنډ پیردی بنائسته
یاران لری زر ګونه د هرچا سره ساز باز کا
په قول په وعدہ څکه تیرو بیر دی بنائسته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل جور تل خاتل ستمونه په عاشق کا
په دا واړو کارونو کله سیر دی بنائسته

دَچین اودَماچین مِ اوریدلی دی په غوږو
په سترګو مِ لیدلی دَ بونیر دی بنائسته

خُوانی لاړه خوشحاله راوړه زرکۀ عاشقی کړے
یا زر دی یاخُوانی چه ورته زیږدی بنائسته

چه پریوزی څوک له پانړه مومیائی ورلړه بویه
په کور کښے چه تیارۀ شی روښنائی ورلړه بویه

چه کار دَ چا مشکل شی په تدبیر وبله کښینی
دا کارځۀ آسان نۀ دے دانائی ورلړه بویه

په کانړی کښے مرآت شته دَ کیمیا بوټے په غړۀ کښے
طلب چه دَ دے کار کا بینائی ورلړه بویه

کۀ لور دَ اورنګ زیب وی معشوقه په اصل لوبه
دا کارئے منظور نۀ دے پارسائی ورلړه بویه

کۀ هرڅو بنائسته وی معشوقه په هُنرپسنده
دا کارئے هم پکار دے بخت خُائی ورلړه بویه

کۀ څوک بنائسته غواړی په کوڅه کوڅه دِ ګرځی
په هر بنهر په کلی ګدائی ورلړه بویه

یو زړۀ دَ خوشحال نۀ دے چه جهان پکښے لیډشی
دَ هرچا زړۀ مرآت دے صفائی ورلړه بویه

حیران یم نۀ پوهیږم چه له یاره مخ پوښل څۀ
اغیار و ته په قهقهه لاله ورایه خندیدل څۀ

کۀ نۀ ئے وی په زړۀ کښے دَ عاشقه سره مهر
سکه دۀ وته داغنج ودا دلال اودا کنځل څۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه م چه لیدلے دَخپل یار بنائسته مخ دے
کهٔ حُورے کهٔ پری وی وبل مخ وته کتل څهٔ
بنهٔ ئے دِ وئیلی چه زړهٔ یودے یار دِ یو وی
بنهٔ ده داخبره چه سر یواو سودا سل څهٔ

زار ژړا هغه کا چه دَ یار له مخه دُور وی
وخت دَ یار دَ وصل کوک په کوک نارے وهل څهٔ
خوشحال دِ بنهٔ چه مړ کړتهٔ په کوم توکی دلګیرے
تر سر دِ صدقه شم کوندِ تاته چا و ئیل څهٔ

خپله پوهه به لرم خپله لره وهر چا ته خپله پوهه ده کړه
کهٔ فاسق یم کهٔ فاجر یم دَخپل ځان یم دَ زاهد دَ عابد څهٔ دی راسره
لیونے کهٔ مسخره دے وعالَم ته عالَم هم وی لیونی ته مسخره
په معنیٰ پاڼے ګلونه دی خبرے دَ سړی کړده دَ وُنے ثمره
نن یوازے یک تنهاله یاره بنهٔ یم څوک دَ غیرو دَ وهم نهٔ وی راکړه
دَ نور چا غرض پرے نشته چه صراف یم هم هغه زده په سره په نا سره
په بنوره مزګه کښے کله شی ګلونه درته چاوے چه ګلونه پرے کړه

شاړے تل په کُن پره کړئی خوشحاله
مړنے لیندے به ځئ په سر پره

خوارهٔ عُمر غوندِ تلنه کوے بنهٔ په مدت دَ دیدن ژمنه کوے بنهٔ
په ناستی دِ رغیدن دَ بیماروشی په ولاړے پښے پوښتنه کوے بنهٔ
خوئ دِ درست دَ ترهیدلی غړهٔ وا څښت وړاندِ ځے ترشا کتنه کوے بنهٔ
دا دَ زړهٔ بنهر م ستا دے چه په ستړګو باندِ هر کله ختنه کوے بنهٔ
په خولهٔ ما سره دروغ دروغ یار ئ ویزارئ دَ زړهٔ دننه کوے بنهٔ
هم په څورنګه غمونه باندِ کښیږدے بیا ګیله له دے غمژنه کوے بنهٔ
په زمان کښے بنهٔ ګلزار دَ وصال نهال کړے بیا په خپل لاس ئے وکښنه کوے بنهٔ
وصل هجر و دا دواړه په خپل لاس دی چه مانړه له خپل مئینه کوے بنهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَخوشحال په زړهٔ دِ کښیښودل داغونه

پرے دَ مالګو دوړونه کوے بنـــهٔ

خولهٔ مِ غوښته له نکارے رائے نهٔ کړه — دَ رقیب په خولهٔ شوه آرے رائے نهٔ کړه
ماوے دروم ستاله دره دُعا راکړه — په فریاد اوپه چیغارے رائے نهٔ کړه
صبوری له جفا کارهٔ یارهٔ غوارم — رائے وکړے څنے چارے رائے نهٔ کړه
په یوه جلوه له ورایه رغیدے نور — داځما سترګے بیمارے رائے نهٔ کړه
دَ یوے غمزے په طمع ورته ګورم — عمر تیر شو په دالارے رائے نهٔ کړه
په اُمید وُم چه یوه پیاله به راکا — هغه مستے شراب خوارے رائے نهٔ کړه
وے ئے دربه کړم بوسه دَ خور وشوند — رانزدے نزدے شوه بارے رائے نهٔ کړه
ګلدستے ئے چه له باغه وه وئیلے — کهٔ ئے ورکړه وریبارے رائے نهٔ کړه
هسے نهٔ چه ئے دَ زړهٔ دَلاسه نهٔ زده — دَ لاسه لری تیارے رائے نهٔ کړه

زهٔ خوشحال دَ یوے کښلے په طلب وُم
دا فلک لری بسیارے رائے نهٔ کړه

خاتمه کهٔ دَ سړی په خیریت ده — ترصحت ئے چار بهتره دَ زحمت ده
په زحمت کښے ئے نخوت له سره وُځی — رنځوری نافی دَ کبر دَ نخوت ده
هر زحمت چه دَ سړی په وجود ورشی — معافی ئے دَ ګناه په روایت ده
په یوه تبه چه لږه په چا ورشی — هغه هم دَ ګناهونو کفارت ده
په هرچا باندِ چه ډیره تبه ورشی — په صحیح چه دغه لارِ دَ مغفرت ده
هغه کس ولی دَ خدائے دے ګمان نشته — دَ هرچا چه صبوری په مصیبت ده
غم بنادی چه وسړی وته رسیږی — همګی واړه له ځایه په قسمت ده
په بنادئ کښے دِ ئے شکر سړے کاندی — په غمونو کښے دَ صبر چار فرحت ده
چه دا دوه چارے لری حبیب الله دے — په وئیل نهٔ ده داچار په عنایت ده

وار په وار به په خوشحال باندِ وردرومی
هره چار چه دَ محنت یا دَ راحت ده

دَ آسمان په حکم څهٔ فتنه برپائے ده — نهٔ زده چا چه قراری ئے په کوم ځائے ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بندیوان ئے اورنگ زیب لرہ روان کړم ننداره م په هر بنهر په هر سرائے ده
پښتانهٔ م چه حال وویني کباب شی په لیدهٔ م د هرچا ژړا هائے هائے ده
لوئے هلک م نندارولره سرادرومی د هندو د مسلمان ناره وائے وائے ده
زهٔ هرچا وته موسیږم ترے تیر یږم چه د دواړو اندیښنه راته نمائے ده
نهٔ یوازے په ماظلم ستم وشو زمانه دا هسے تل کا په خپل رائے ده
په هرځائے م په څوکئی راځی فوځونه د بدبه م د زمری یا د هما ئے ده
په ولاړ کښے هاتی شمار په یوهٔ غږهٔ دے اوچه پریوزی په دوه غږونو ئے آولے ده
زړهٔ م درست سورے سورے لکه غلبیل شو محرومی د لیدو بده غم افزائے ده
کوندِ وی چه بازی بیا راوجار وځی همکی عالم وئیل کا چه اوس بائے ده
که په اور کښے د سروزرو وښے پریوزی عیب نشته په دا کار کښے ئے جلائے ده

نورے واړه تکیے تار په تار خورے شوے
د خوشحال ختک تکیه په یوهٔ خدائے ده

د جهان خوښی همه د هغه کس ده چه میشته ئے د محبوبے په جوس ده
د بنهٔ مخ له نندارے چه نظر نیسے که ئے کورے هم دغه هوا د نس ده
که سوکند راځنے غواړے هم به وکړم تر اول م په تامینه یو په لس ده
ډیرے مینے آشنایئ څهٔ پکار نهٔ دی یوهٔ زړهٔ لره یوه آشنائی بس ده
چه دوه بنهٔ خوا ږهٔ مئین سره د لګیر کا د غمازو ویناځهٔ د ستر کو خس ده

بے پروا بے فهمه مهٔ راځه خوشحاله
په پالنګ م ډیره ویره د عسس ده

د عشق بخره ازلی ده په جنګ نهٔ ده په کتاب په مسئلو په فرهنګ نهٔ ده
په قسمت ئے له ازله دی راوړی دا د سولو بخره اوس د پتنګ نهٔ ده
خلقے سره د غږے ککر کړے لا د مستے د غمزے تورہ رنګ نهٔ ده
تل د یار د صورت نخښے پکښے ګوره که د ننه آئینه د زړهٔ زنګ نهٔ ده
دا پیاله چه ما نوشلے ده پرے مست یم دا پیاله م د شرابو د بنګ نهٔ ده
د اغیار سره یو دم ناستے بنهٔ نهٔ دے هیڅ خپلوی م د زجاج او د سنګ نهٔ ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د کلونو په موسم کښے هغه خوار شول — چه کلرنګه معشوقه ئے ترڅنګ نه ده
لیچے څه لره غږی تُوره وُکاږی — که د خوارود وژو په آهنګ نه ده
که زه نه یم لیونے په آهو ستړکو — مصله م د آهو پسے لنګ نه ده
کله کله خوار خوشحال و ته نظر کړه
د عاشق نمنځنه هیڅ عیب ونګ نه ده

د مجاز عاشقی عین حقیقت ده — وهغے ته زینه ایښے د صورت ده
تر ثرئ تر ثریا که فهم اوکړے — په څلور کُنجه غوغا د محبت ده
په جهان به هیڅوک نه وُوکه عشق نه وے — د بدبه د عشق قائمه تر قیامت ده
چه په مینه کښے یو زړه او یو زبان وی — تر هرچا د هغو چار په برکت ده
دا یوه وینا د زړه په غوږو واوړے — چه بهتره د اورنګ ترسلطنت ده
سر د درومی مال د دروميپت د نه ځی — د سړی د چارے کل خوبی په پت ده
چه یو څله زړه د چا په مینه بند کړے — په شلوُل څُنے کمی د مروت ده
چه د نیت غُلتی لری بلا به ورځی — تر هرڅه بده بلا غُلتی د نیت ده
چه ئے خدائے ورکه وچا شکر د کاندی — په جهان کښے لویه بخره د همت ده
په تیرهٔ الماس د پاسه قدم ایښے — یوه څه باریکه لار د شریعت ده
چه کنړو ته نصیحت ولے خوشحاله
وایه څه فائده ستا د نصیحت ده

د سپیرو خاورو غوغا ده — چه پکښے غورزی هوا ده
و حباب و ته وُکوره — څه د نوره تمنّا ده
گمان نه کړم چه به ستاشی — دا چه ته واے څما ده
چه به کاندہ فنا کیږے — کاندہ نه ده نن فنا ده
د هلکو لوبے کوره — سرشته د هر چا دا ده
ته لا طفل د اونړی ئے — که د زیره کربلا ده
دا درکاه یو بوډئ — که خندا که د ژړا ده
چه ئے یو څله اړاند کا — دا هم لویه تماشا ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه وګوره په سترګو چه دَچا وه اوس دَچا ده
خو یو وهم خوب وخیال دے کوم ژوندون کومه دُنیا ده

دَنورچا نه ده خوشحاله
ستا دَخولے ویناهم ستا ده

درته چاوے چه دَیار سره جفا کړه دَاغیار سره وفا مهر خندا کړه
چه دَ پُلهٔ خاورے دِ سترګو لره غواړی دَ هغهٔ سره فتنے جنګ وغوغا کړه
هغه تهٔ ئے چه له ما دِ محبت کړهٔ کهٔ غه هومره مینه ماسره نورچا کړه
کهٔ په اورم کښینوے په اوربه کښینم چه دِ خائے په سترګو کړم راته دِ شا کړه
دَ بادشاه دَګدائے څهٔ وو دَ یارئ څهٔ کړم خدائے مِ ستا په مخ مینه پیدا کړه
کهٔ څما په مرګ دِ زړهٔ دے تیغ راواخله دَ قصاب غوندِ مِ بند په بند جدا کړه

زهٔ خوشحال جیواری دَ سبګل نهٔ یم
دَدُنیا خونه مِ ستا په مخ بیدیا کړه

دَمارهٔ ترفهم هیڅ نهٔ ده غنمینه ولے وړی ته حلوا ده اوربشینه
په تونګر باندِ اطلس لکه شړئ وی په نادار باندِ شړئ ده وریښمینه
ومجنون ته دَ لیلیٰ خبرے وایه نهٔ له علمه له مذهبه نهٔ له دینه
هغه خدائے چه دَهجران غمونه راکړهٔ کهٔ دَوصل بنادی راکا توان لرینه
خدایه کله به دیدن دَآشنا راکړے چه به زهٔ پرے ما توم دَزړګی مینه
یوځل بیا په حیات ولیدے په سترګو بیا له پسه کهٔ مردن وی هم دِ وینه

نمر په کوم لوری پریوزی چرته خیژی
په خوشحال باندِ یوه شوه تورهٔ سپینه

دَ ګلونو قدر چا ز ده یا بلبلے یا بورا ز ده
په جهان کښے به یو یو وی چه هُنرئے دَکیمیا زده
چه وفا ورځنے غواړے بے وفا کله وفا زده
کهٔ جهان درخبر نهٔ دے ما په تا زده تا په ما زده
تهٔ بنادی کړه زهٔ به غم کړم تا خندا زده ما ژړا زده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه وګوره په ستړګو چه دَچا وه اوس دَچا ده
خو یو وهم خوب وخیال دے کوم ژوندون کومه دُنیا ده
دَنورچا نهٔ ده خوشحاله
ستا دَخولے ویناهم ستا ده

درته چاوے چه دَیار سره جفا کړه دَاغیار سره وفا مهر خندا کړه
چه دَ پلهٔ خاورے دِ ستړګو لره غواړی دَ هغهٔ سره فتنے جنګ وغوغا کړه
هغه تهٔ ئے چه له مادِ محبت کړهٔ کهٔ غه هومره مینه ماسره نورچا کړه
کهٔ په اورم کښینوے په اوربه کښینم چه دِ خائے په ستړګو کړم راته دِ شا کړه
دَ بادشاه دَګدائے څهٔ وو دَ یارئ څهٔ کړم خدائے مِ ستا په مخ مینه پیدا کړه
کهٔ څما په مړګ دِ زړهٔ دے تیغ راواخله دَ قصاب غوندِ مِ بند په بند جدا کړه
زهٔ خوشحال جیواری دَ سبکل نهٔ یم
دَدُنیا خونه مِ ستا په مخ بید یا کړه

دَمارهٔ ترفهم هیڅ نهٔ ده غنمینه ولے وړی ته حلوا ده اوربشینه
په تونګر باندِ اطلس لکه شړئ وی په نادار باندِ شړئ ده وریښمینه
ومجنون ته دَ لیلیٰ خبرے وایـه نهٔ له عامه له مذهبه نهٔ له دینه
هغه خدائے چه دَهجران غمونه راکړهٔ کهٔ دَ وصل بنادی راکا توان لرینه
خدایه کله به دیدن دَآشنا راکړے چه به زهٔ پرے ماتوم دَزړګی مینه
یوځل بیا په حیات ولیدے په ستړګو بیا له پسه کهٔ مردن وی هم دِ وینه
نمر په کوم لوری پریوزی چرته خیژی
په خوشحال باندِ یوه شوه تورهٔ سپینه

دَ ګلونو قدر چا ز ده یا بلبلے یا بورا ز ده
په جهان کښے به یو یو وی چه هُنرے دَکیمیا زده
چه وفا ورځنے غواړے بے وفا کله وفا زده
کهٔ جهان درخبر نهٔ دے ما په تا زده تا په ما زده
تهٔ بنادی کړه زهٔ به غم کړم تا خندا زده ما ژړا زده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

رنګ دِ بنۀ دے خوئی دِ بد دے
زۀ خوشحال یم مار بستیا زده

دَ صبا بادهٔ گذر په چمن بیا کړه — په چمن کښے رنګا رنګ ګلونه وا کړه
زۀ دِ توان دَ خرخشولرم چه کړے ئے — کۀ دِ زړۀ ځما په مزګ دے دا ادا کړه
بے نیازځۀ خبرله نازه چه نازځۀ دے — ستا دَ ستړګو بلا واخلم ناز په ما کړه
زۀ له خپله بخته چاوته فریاد کړم — چه پرون ئے راته مخ وونن ئے شا کړه
خولۀ مِ وکه شوه په شهد وپه شکرو — چه سحر مِ ستا دَ لام وے ثنا کړه
عاشقی کۀ سراسر واړه بلا ده — ما په ځان دَ زړۀ قبوله دا بلا کړه

زۀ خوشحال کمزورے نۀ یم چه به پاتے کړم
په ښکاره نعرے وهم چه خولۀ ئے را کړه

دَ دانا په ځان بلا شوه خپله پوهه — چه هر کړئے خالی نۀ وی له اندوهه
چه فلک وچاته عیش وعشرت ورکا — هومره ډیر ورباندِ کښیږ دی څوستوهه
کله وُنه دَ خزان په وخت لغړه — کله بیا خوبی دَ پاڼو پورے انبوهه
په ناحق ئے په میدان په سمه غواړے — چه دَ غرونو غرځۀ نۀ ګوری بے کوهه
چه مِ وُلیدے څوخولے هومره خبرے — راځړ کند شول واړه دوه اویا ګروهه

په خپل ځوئ اوروړ باور نشته خوشحاله
غافل مۀ شه دَ جهان له مکره دروهه

درسته شپه دِ په کوخه کښے مړم له سوزه — لاس مِ مات شه کۀ دِ نۀ کړم روژه بوږه
تۀ په څوبے غمه خاندۀ خوشحالی کړے — ځما غاړه په ژړا درپسے بوږده
هم مِ بے حسابه پورے کړه په ستړګو — دَ رنجو غوندِ مِ بیاله ستړګو توږه
ستا دَ خوئ دَ زلفو کا رسره یورنګ دے — سرهوا لوئی دا هومره سمه کوږه
حال دِ واړه وار په وار راته معلوم شو — ټکه یاره په زړۀ تریخه په خولۀ خوږه
ځما یار چه میخوری کا په بدل ئے — ولے مالره راځه دَ دُردو روږه

یکښے زړۀ دخوار خوشحال دے چه خوږ نشی
په مے رو رو دَ شهئ زلفینے نهوږه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د ناکس له آشنایئ توبه توبه
د شوخبتئ له رونړایئ توبه توبه
چه پړدے پے الماس جراحان پرے کا
له دے هسے بینایئ توبه توبه
چه ولورے پے زرکونو، جن بد رنګه
له دے هسے کد خدایئ توبه توبه
چه په جهل، وحماقت دانا ځان بولی
د احمق له دانایئ توبه توبه
د سفله دی د سفیه دی واړه توکی
له خودئ خود ستایئ توبه توبه
کهٔ هزار رنګه شیخی زهد تقوی کا
د جاهل له پارسایئ توبه توبه

چه عمل ورسره نشته تش وئیل کا
د خوشحال له کویایئ توبه توبه

درخو خود پے آدم خان باندے شیدا وه
تردا منځ د میروکی ژبه بلا وه
چه په مینځ کښے دلال نهٔ وی وصال نهٔ وی
په مجنون باندے مینه کهٔ لیلی وه
په خپل یار پسے ژړا ننه په زړه کښے
د عالم سره په زور څما خندا وه
چه غوتئ نے شګفته کړه په چمن کښے
کهٔ د زده داچاره واړه د صبا وه
چه نے ګل د بهار ستا و مخ ته و نیو
ستا د مخ خوبی ترګلو لا زیبا وه
هومره رنځ محنت آفت څنے پیدا شو
څوځما د خوار خاطر مینه په تاوه
دا نن شپه چه په ماتیره شوه بے یاره
تهٔ به وائے په دوزخ کښے م ماوا وه
نن خپل بخت راسره درسته مخامخ کړه
چه پرون راته یک لخته شا په شاوه
ماوے زهٔ یم چه پیاله لرم په لاس کښے
وے دا پیاله په لاس کښے د هرچا وه

بس چه بیائے ستا جمال په نظر کښیوت
د خوشحال خټک د زړهٔ ځله هم دا وه

د یوهٔ بادشاه په حکم شوم آګاه
امر نهی م قبول دی د بادشاه
یا مهدیؑ نے یا عیسیٰؑ چه راښکاره شوے
په جهان د غلغله وشوه ناګاه
د مهدیؑ او د عیسیٰؑ د واندے خهٔ دی
هم دجال هم د دجال واړه سپاه
خیرآباد لره د رائشی لښکره
چه احوال د غلیمانو شی تباه
چه خیبر لره ماباسے قضا کیږی
د ریاخان درویزه واړه په حضور دی
ډیر کا رونه په دا ملک د خیرخواه
کویا زهٔ هم په حضور یم د درګاه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خواه ناخواه کهٔ امر دادے چه رادرومه دا بنده به د روان شی خواه ناخواه

دا د نده د عریضے خما د لوریه
زبانی خبرے هم لری همراه

د سپی غل د دروغژن په خولهٔ کښے تل کړه په ربښتیا خبرو خولهٔ د سړی کښل کړه
هر عمل چه سړے کا مضمر به نهٔ شی د رته چاوے چه لوګے مکړه اوربل کړه
کهٔ پوهیږے چه د بل جهان حساب شته تهٔ په دا جهان نظر په خپل عمل کړه
ستا د خولے چینه حنظل ده هم عسل ده وهرچا ته تو یوُنه د عسل کړه
چه د دین دُنیا کا رونه د رته پیښ شی د دُنیا ترکاره کار د دین اول کړه
چه د مشکو د نافے شمیم راخور شی راخرګندے تورے زلفے تورورښل کړه
ساقی وخت د نو بهار دے شراب راوړه د شرابو سره نقل د خولے مل کړه
نن خلل د نے اوے مکړه زاهده چه موسم د بهار تیرشی بیاخلل کړه
چه یو دم د عشق له اوره خالی نهٔ وی خدایه خهٔ دے د عاشق تهٔ منقل کړه
ستا د مخ په دور زهٔ جهان گیر شاه یم راته کښینه کرشمے د نور محل کړه
ستا د اتورے سترګے خود تورے بلا دی د رته چاوے چه ئے تورے په کجل کړه

کهٔ هزار حُله شیخی کوے خوشحاله
چه بنهٔ کښلے د رنزدے شی نورئے کښل کړه

د بنا ئست سره سل نورے چارے بویه چه عاشق په خان مئین کا ندی مهرویه
تل د مشکو بوی روان په بستر نهٔ وی د ریغه د ریغه د مهرویو گفتگویه
عاشق یو لکه لیوهٔ په شمال پائی بل په غټو سترګو خوب کا لکه سویه
په صبا پسے ئے مرم نهٔ صبا کیږی د هجران شپے ئے په ماشوه ترکال لویه
خما دواړه سترګے جوړی تهٔ سروقدئے سر و وُنه جدا بنه نهٔ ده له جویه

اوس د جونو هوس مه کوه خوشحاله
پښتنے جُوړے تر هیږی له دوه مویه

د لیلیٰ د مخ خو ډیره زیبائی ده د مجنون ورپسے هومره رسوائی ده
کهٔ م سل هُنره کړل ترسره نهٔ شول یوه خهٔ رنګه نا بوده آشنائی ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د ستر کوئے تقوٰی سره میرځی ده — په ناحقه م نیولے پارسائی ده
چه ئے سیوه په ما وه لکه بادشاه وُم — ستا د تورو زلفو سیوره همائی ده
په وار وار راځه یوړل عاشقئ — که هرځو راځه پوهه دانائی ده
چه نه مهرنه تپاک نه پکښے شناخت شته — تردا هسے وصل بهه جدائی ده

د خپل یار په مخ اوس نه دے مئین شوے
د خوشحال په زړه کښے دامینه ځائی ده

د دُنیا د سود دپاره کونړ او کوره — څه خوشرم مروت وَته وُ کوره
په درست عمر هغه ځائے ورپسے غواړے — چه دِ پریوزی له پلوهه چرته تُوره
په زړګی باندِ دِ توره سوے داغ شی — چه دِ تُوره یا پیسه ووزی له کوره
د لوئے غړه کندے په تا باندِ پریوزی — چه د کوره دِ ډوډئ ووزی نان کوره
د دُنیا مینه په تا باندِ دریاب شوه — تا په دا دریاب کښے ډوب لاړے هرکوره
که په دا دریاب کښے هرځولامبوزن ئے — عاقبت به پکښے بیا پریوزے له زوره
که هرځو په خپل حرص کړے دُنیا ټوله — دابه واړه د اجل سیلئ کا خو ره
ګورستان لره به هسے شان مفلس ځئ — لکه و زووے اول له خپلے موره

چه ئے خوښه عقیده د قلندر شوه
خدائے به نه کا د خوشحال عقیده نوره

دا ښه ګل چه ئے کمے د جمال نشته — د وفائے حیف دا دے څه حال نشته
که وفا بقائے هم وے څه به ښه وو — د ښائست ئے په دا دور څوک سیال نشته
عالم زړه په هیڅ خورسند کا چه وصال وی — د هرچا بخره هجران دے وصال نشته
چه ئے وصف د جمال کاندی تر سره — هرچا زده د واصفانو مجال نشته
منونه منونه ظلم جور پکښے پروت دے — د نا ترس خاطرئے مهر مثقال نشته
د غمزے په تیغ عالم وژنی غم نه کا — ته به ولئے چه ثواب دے وبال نشته
لکه ډک په ښو ګلونو په هر کال وو — د دے باغ هغه ګلونه سر کال نشته
راته څه وائے چه یار په تا مئین دے — مختصر به درته وایم څه حال نشته
ما خوشحال وته په زوره نارے وکړے — چا وما ته څواب راکړ خوشحال نشته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَغلیم سره به نۀ کامگر دروه مګر ډیر تر بلا تیر په عقل پوه
بدخوئی به دَخپلوانو سره څوک کا چه پخپله په خپل ځان پسندی اندوه
ماچه ولیدل اتلس زره قومه دَخپل ذات سره اُلفت کا هر ګروه
دَمحنت په وخت یومل را سره نشته د راحت په وخت زرګونه وو اَنبوه
په خوښیه کښے زاړه لکه ځلمی شی ځوان ځلمی تر زاړۀ لا کاندی ستوه
دَګذار په ځائے اوس نۀ وینم هوسئ په ځوانئی م کۀ کیلے لیدۀ په ګروه

غربه هم لکه ویښتۀ هسے نرے کا
کۀ غمونه دَخوشحال کښیږدے په کوه

راشه کۀ ئے آورے دا خبره ده نادره !
چه ووائۀ له ستر ګو هغه وُوزی له خاطره

مرم چه جدا کیږے تۀ م روح ئے کۀ پوهیږے
مۀ دروم له مانه راته تل اوسه حاضره

بخت م مرور شی چه په نورو دِ نظر شی
بخت راته ناظر شی چه وماته شے ناظره

هر حسن دِ ډیر دے دَ لیلیٰ تر حُسن تیر دے
زۀ چه دِ مجنون کړم په چشما نو ئے ساحره

ډیرے دی نکارے هوسئ ستر ګے پرې وارے
تا غوندِ به نۀ وی شوخه شنګه دلاوره

شونډے دِ یاقوت دی غاښ دِ دُر دَزړو نوقوت دی
درسته دِ دا تنګه خولۀ حقه دَ جواهرو

لام و بے ئے زبیښه چه بنۀ کښلی شی درپیښه
تل شکر وُکا بڑه چه شکرے خورے شاکره

ډیر دَ ملک شاهان دی چه دَکښلیو غلامان دی
تا دا قدرت ورکړو و دلبرو ته قادره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل له ډیره خیاله خو پینبے کړی له خوشحاله
هم روغه هم جنګ کړی مهر ژنه هم قاهره

راته نیسی جانانه د شرابو پیمانه
د شرابو پیمانه راته نیسی جانانه

مغنی په چغانه راشه بیا کښیږده لیندئ
راشه بیا کښیږده لیندئ مغنی په چغانه

کوردے داګئ بُت خانه پکښے ټوله جُونه ناستے
پکښے ټوله جونه ناستے کوردے داګئ بُت خانه

پاس په سرد آشیانه تورکاړکه قمر ترے لاندِ
تورکاړکه قمر ترے لاندِ پاس په سرد آشیانه

کوره جورِ دام و دانه زلف وخال دهغه مستے
زلف وخال دهغه مستے کوره جورِ دام و دانه

په پیسو کښیږده شانه چه دمشکو بوئ لا پیرشی
چه دمشکو بوئ لا پیرشی په کیسو کښیږده شانه

عشق مجنون کا فرزانه شک گمان نشته په داکښے
شک گمان نشته په داکښے عشق مجنون کا فرزانه

ته عاقل زه دیوانه څه مو روخ د ملګیرئ
څه مو روخ د ملګیرئ ته عاقل زه دیوانه

داغزل دے رندانه ماخوشحال خټک و ئیلے
ماخوشحال خټک و ئیلے داغزل دے رندانه

زهٔ م بیا واله مجنون شهٔ بنه چه شهٔ
په خپل یار پسے مفتون شهٔ بنه چه شهٔ

هغه غم چه په منقال په شیر شاهی وو
اوس ترمنونو لا افزون شهٔ بنه چه شهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے دَیار دَ مخ له خیاله بل فکرت م ؤ
له خاطره نه بیرون شۀ بنۀ چه شۀ

دَ وصال په وخت م قد لکه الف وو
په هجران کښے لکه نون شۀ بنۀ چه شۀ

لکه قدر دَ وصال را ښخه نۀ وو
چه په بخره م بیلتون شۀ بنۀ چه شۀ

په هوا په اشتیاق ئے دَ سرو شونډو
کۀ م وینے درست لږمون شۀ بنۀ چه شۀ

زهۀ هرکور په غیرو چارو مبتلا وو
چه له غیرو چارو ستون شۀ بنۀ چه شۀ

زهۀ ئے درست له هره حاله نه خبر کړم
چه دَ هندیه لارے یُون شۀ بنۀ چه شۀ

هیڅ مکتب له یوهۀ فیضه خالی نۀ دے
چه م خائے دَ سرزنگون شۀ بنۀ چه شۀ

عاشقان په عشق کښے هرکله زبون وی
کۀ م زهۀ په عشق زبون شۀ بنۀ چه شۀ

چه ئے تُوره دَ غمزے راته په لاس کړه
کۀ م اَس ورته هارون شۀ بنۀ چه شۀ

چه ئے پښه دَ دلبرئ په رکاب کړه
دَ خوشحال زهۀ ئے شکون شۀ بنۀ چه شۀ

زهۀ را پسے سرشو راته وائی چه وئیږه
وایه وایه له وئیلو مۀ دریږه
تش شه له خروشه څوپه تاکیږی له جوشه
ژاړه ژاړه ژاړه په صبا بیکاه نولیږه

ketabton.com - The Digital Library

ظلم جور ستا دے چه په نرناحق په ما دے
مۀ کړه مۀ کړه مۀ کړه له آزاره وویریږ.ه

سوے لوغړن یم تل په آه و په شیون یم
وسوم وسوم وسوم درومه اور درولګیږ.ه

اوس خوبے پروائے کۀ زۀ ومرم بیا به وائے
مرمه مرمه مرمه څولا پایم و پوهیږ.ه

څۀ وایم چه څۀ کړے سراسر واړه بنۀ نۀ کړے
جګی جګی جګی په ربستیا م مۀ قهریږ.ه

تلۀ دی تیریدۀ دی بنۀ له هرچا سره بنۀ دی
بنۀ کړه بنۀ کړه بنۀ کړه دنیکخواه خبرے نغویږ.ه

کبر لوئی مۀ کړه چه دعا کټے هغه کړه
وینه وینه وینه وے مهر کړه تیریږ.ه

ریږ.دی غاړے غرونه دخوشحال په فریادونه
واوره واوره واوره راشه څۀ خو وګروهیږ.ه

زۀ یو یار غواړم زیبا بنۀ سر تر پایه دلربا بنۀ
بنایسته په شپږ جمته هر اندام جدا جدا بنۀ
څو د بنهر بنائسته دی دے په حسن تر هرچا بنۀ
تنۀ بنۀ د ګل تر پانړو تمامی قد و بالا بنۀ
دواړه زلفے عنبر پاشے ګلعذار تر لاله لا بنۀ
تورے ستړکے تورے وروځے تور بانړۀ اوږدۀ والا بنۀ
تنګه خولۀ حقه د لعلو غاښ ۀ دُر قیمت بها بنۀ
ګلبینه ۀ سر د ژبے دواړه لب ۀ ترحلوا بنۀ
ګل ریزی کا په خبرو تر شکرو په خندا بنۀ
څړه نیاز وخړه ناز وے په جفا بنۀ په وفا بنۀ
کۀ م وژنی تیغ راواخلی د دۀ تیغ لګی په ما بنۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ هوا ده د بنۀ مخ ده نشته بنۀ تردا هوا بنۀ
هرچه دا هوائے نۀ وی هغه نۀ دے په دُنیا بنۀ
دا غزل چه خوشحال ووے
څوک به ووائی تردا بنۀ

زمانه راته په څو پرته په څو وه زۀ ئے واخستم خونی مزری د رَو وه
ودانی ئے په ډیر غم په ځیګر خون وه ویرانی ئے راشه کوره په څۀ دَو وه
دَے دردو یاری ما غنم کړله چه م ولیدله سرتر پایه جَو وه
تندر تل په مناره باندِ پریوزی دَخسوف بلا د میاشتے په پرتووه
حق ناحق ئے وچ لاؤندۀ وبله کښینبول ظالمی د اورنګ زیب پره دَلو وه
هغه تورهندو بچه به چرته غواړم چه ځما د زړۀ متاع باندِ ګروه
د زړۀ نوی بنۀ یاران ووخدائے جداکړۀ
دَخوشحال د زړۀ دمه په هغه نو وه

زۀ خبر ورځنے نۀ شوم بهار تیرشو د ګلونو لَون واړه په بل پیر شۀ
حیف داچه د ګلونو عمر لږ دے په جهان کښے د اغزیو عمر ډیر شۀ
د بهار بلبلے نۀ راځی په سیل مګر زړۀ م د بهار له سیله سیرشۀ
هغه ګل چه د حمل وو په جوزا کښے ځائے ئے پاسه په سوات یا په بنیرشۀ
خوږ ژوندون جدا له بنۀ شیرینه یاره په ماخوار باندِ یا زهر یا ګنډیر شۀ
هومره غم د بیلتانۀ لری په زړۀ کښے
دَخوشحال له دله ګشت د بهار هیرشۀ

سپینه ږیره د مردانو کد خدائی ده د غابنونو پریو تنه رسوائی ده
د سړی چه غابنونه په ځائے وی ږیره سپینه په دا هیڅ زور والے نۀ دے برنائی ده
د خضاب ځوانی د چا ده د احمق ده تر دا کله ږیره بنۀ په بنۀ نائی ده
زور سړے د زور والی اندوه نۀ کا کۀ په ځائے د چشمانو بینائی ده
زاړه مرد لره لیده د دلبرځۀ دی په معنیٰ د خوږو زړونو مومیائی ده
شیخ به کله عاشقی له لاسه پریښوه لاس و دست ئے نۀ رسیږی پارسائی ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ خوشحال په عمر لاړ ترا ویا تیر شو لا په زړهٔ کښے ئے د کښلیو آشنائی ده
تورے ږیرے سره وصله نادانی ده سپینے ږیرے سره وصله دانائی ده
شیخ به ولے نندارهٔ د کښلیو نهٔ کا چه دَدهٔ د زړهٔ د خوږ ومومیائی ده

زورِ خوشحال چه د دلبرو دیدن غواړی
د دلبرو په وصال کښے رونړائی ده

سر د سره بیا جنون را باندِ زور شهٔ یا د مینے لیونے شوم خوئ م نور شهٔ
کهٔ هر څوپنداره کوی پروا پرے نهٔ کړم دا هُنرم وعالم و ته پیغور شهٔ
د ساقی د میو هسے شان اثر دے په خمار کښے م دستار له سره خورشهٔ
حریفانو په هائے هائے باندِ نارے کړے چه ساقی د میو دا د کړ جام نسکور شهٔ
هوډ اکار د آزمینت نهٔ دے نوځهٔ دے چه ځما بلاځما د ستړ کو تور شهٔ
کهٔ کدائے له لوږے مړی علاج ئے نشته چه د دور د خواجه روزکار په پور شهٔ
په خاطر باندِ م ډیر داغونه جوړ وو ولے ستاله لاسه داغ باندِ انځور شهٔ
خوب خندا دِ له خاطره فراموش کا د هغوچه د ویشتلی په چم کور شهٔ

هر کالے چه د رضا پکښے مونږهٔ شی
د خوشحال خاطر م شهر د لاهور شهٔ

ستاله خویه نه م خوږینه ده اینه څکه هسے وهم کانړی په سینه
کهٔ دِ زړهٔ دے چه م مینه د ربنکاره شی راشه ونیسه و مخ ته آئینه
چه دِ زهٔ د د رملنگ شوم خزبه څهٔ کړم راته توره شړئ بس ده پشمینه
کله کله راته کوره ستا نوکر یم راته بس ده هم دا هومره مهینه
خزینه د سرو مهرانو د شاهانو ستا د رازلرم په زړهٔ کښے خزینه
ولے تهٔ کله په مخ ځما مئین شوے ستا په مخ باندِ مئین یم دیرینه
چه ځما سره ئے ستا د پاره کاندی خوښ یم ستا د رقیبانو په کینه
ما تیدل ئے هیڅ د شوار نهٔ دی کهٔ کورے چه وکانړے ته نزدے شی آئکینه
د بادشاه په تخت وتاج پورے خندا کا د درویش بوریا توپئ پشمینه
انګوری ترخهٔ شراب ورلره بویه میخواران له کښینهٔ لری کینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ورځ هغه ښه ده چه ته پکښے خوشحال شے
که شنبه که سه شنبه که آدینه

ساقی بیا د مهر کړه چه عید شۀ
د رندانو د بنادیو وخت جدید شۀ

په هر لوری یو آفتاب دے خلیدلے
بنا پیرک ئے له جماله نه کوردید شۀ

په هر څۀ کښے نندارہ د هغه مخ کړم
چه له ډیرے پیدا نی نا پدید شۀ

هم هغۀ دے همیشه ژوندون مونږلے
چه د مستے د غمزے په تیغ شهید شۀ

زمانه په خلقو هسے آزمیښت کا
چه یوسف د قبطیانو زرخرید شۀ

واړه نخښے نے په زړۀ وینم حضورے
چه آشنا په لرے حدله ما بعید شۀ

هرچه ستا د درد سپیو په حساب د
په جهان کښے هم هغه سړے سعید شۀ

خط وخال په ښۀ جمال باندِ یو دود دے
نۀ چه حسن د خوبا په دا مزید شۀ

چه د نوم د خوارخوشحال په ژبه واخست
په درست عمر کښے خونږ ورباندِ عید شۀ

سترګے ستا غړوی زړۀ ستړے کا
سترګے ستا پټوی زړۀ

چه د اخلۀ خوزوی دے دے ژبه ستا وَیوی زړۀ
چه څۀ کار په لاسو پښو کړے دا هم ستا شوروی زړۀ
اوریدۀ په دواړو غوږو هم په تا آوروی زړۀ
چه نیکی کړے یا بدی کړے واړه ستا سندوی زړۀ
چه خندا کړے یا ژړا کړے خندوی ژړوی زړۀ
دواړه کونه لکه تن دی کار د تن جوړوی زړۀ
زړۀ بے چون اوبے چگون دے څوک دا غوښه کښے وی زړۀ

د خوشحال په زړۀ کښے یو دے
څوک ئے څۀ لټوی زړۀ

ستاله حاله م یو داغ دے په سینه چه هیڅ راسره یار دے دیرینه
تاچه واغوستے د خیال جامے رنګینے بله ستا په دول نشته رنګینه
یو ګلزار پکښے نا کاهه شګفته شی چه په مخ د مخامخ شی آئینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے په داچه بنائسته ؤ وته کورے — په بل څیز م له چا نه کیږی کنه
ساقی نن له لاسه څه خوباده پریږدۀ — چه په سرکښے م خمار دے دوشینه
د بادشاه د سره تاج ئے مخے نه دے — د درویش د سر توپئ پشمینه
زهٔ په عشق کښے مستثنیٰ لکه مجنون یم — چه م نشته په هیر قرن قرینه
داځه راز د مینے نه دے په کوکل کښے — دا م ایښی ده په زړهٔ کښے کنجینه

مئے خورئ لره شنبه خوښوی خلق
وخوشحال ته څه شنبه څه آدینه

ستا په غم کښے م آرام د زړهٔ بیرون شه — د غرځهٔ غوندِ م خوب په ځیګر خون شه
همیشه په غارے غرونه سرګردان یم — په دا دورم درست د ول د مجنون شه
عاشقی سړے رسوا که هالهٔ ومری — بنهٔ هغه چه مړ په تبه په طاعون شه
کوره خو عالم به لاندِ که تر چلو — چه روان م تردا دووستر کو جیحون شه
هدیره ئے د شهید په څنګ کښے بویه — هر سړے چه مړ په ټوره د بیلتون شه
په کلونو به ئے ژغ کاندِ بلبلے — دا کلزار چه په بیاض ځما زرغون شه
چه درست کال ئے بیابیا وایم لایوراز دے — دا یو راز تر دفترونو نه افزون شه
په زر ژبه ئے ستایه واړه یو راز دے — عبارت که مختلف شه یو مضمون شه

عشق خوشحال وته یو هسے سبق ورکړ
چه ئے زړهٔ د قال وقیل له درسه ستون شه

شپه د بیلتانهٔ ده پهر پهر کال په ما شه
بانګ دے د چرګانو په هزار هیله صبا شه

رایشی کلزار ته وار په وار نندارهٔ کاندی
وار په وار پرے تیر شی اوس که کوږ ے وار ځما شه
پیغام راوړی د وصل عجب بنهٔ راځی په مهر
هدهد د یار له لوریه نن په ما بادِ صبا شه
په وخت د مشغولا د کلو کله آواز کاندی
چه درومی له کلزاره په چیغار چیغار طوطا شه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په درست عمرئے مهر د سکوت په خولهٔ وهلے
خُما د زړهٔ طوطی دے چه نن کورمه کویا شهٔ

زنګ چه باندِ پریوزی آئینه د زړهٔ تبئ شی
زړهٔ د خوشحال کوره له هر زنګه مصفا شهٔ

شیرازی کهٔ بنهٔ خوراک وو وار وو تیر شهٔ
ملوکی کهٔ بنهٔ پوشاک وو وار وو تیر شهٔ

کهٔ خپلوی د زن فرزند وه حال ئے دادے
کهٔ له خلقه زیست وژواک وو وار وو تیر شهٔ

کهٔ منصب وو کهٔ خانی کهٔ سرداری وه
کهٔ په لاس ملک و املاک وو وار وو تیر شهٔ

فرش فروش نقش و نګار د محلونو
کهٔ بستر م عطرناک وو وار وو تیر شهٔ

چه له بنکاره به په خیال راتلم وکور ته
سور به تل خُما فطراک وو وار وو تیر شهٔ

خپل پردی نیکان بدان له هره لوریه
په دربار به م بلغاک وو وار وو تیر شهٔ

تار په تار د اکور خیلو کډے لاړے
په داڅ غم خُان هلاک وو وار وو تیر شهٔ

اوس ئے روخ د ملنګئ د دونهئ دے
د خوشحال چه سرائے اوتاک وو وار وو تیر شهٔ

شل کاروند پریږ. ده نندارهٔ ئے د جمال کړه
دواړه کسی واخله په سپین مخ باندِ ئے خال کړه

کښینه په انګړ کښے مخامخ چه درته کورم
تور لونګین دواړه چنډ نړهار په سینه تال کړه

راغلے و بازار ته درست وجود کړه لکه کسی
کوره کهٔ روند نهٔ ئے د کمال کړه

تلهٔ دی تیریدهٔ دی بنهٔ له هرچا سره بنهٔ دی
وُنه د نیکئ په دا باغ کښے نوم نهال کړه

واړه وړکوُل د جهان کوره عاریت دے
غم د بیلتانهٔ خُما زړکیه په وصال کړه

بے د یار له مینے چه به کور د دُنیا جوړ کا
واوُره درته وایم خدائے ئے مینے په زوال کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ هغه رستم ئے چه شاهان دِ طلبګار دی
چا درته تلقین کړچه خدمت دَپیرِ زال کړه

الف دِ دے سر ایښے ستا په میم چه درته ګوری
په دواړه لوریه زړهٔ وړے په مخ دواړه زلفے دال کړه

نورخلق په پخښودی چه پرے بار نشته دَ مینے
بارلری دَ مینے ناز ونیاز په خوار خوشحال کړه

عجب جویئ سره مِ هومره ده کینه
وبه نیسم و مخ ته آئینه

خدائے دِ ما بے غمه نهٔ کا په دُنیا کښے
زهٔ او غم سره یوځائے یُو دیرینه

ساقی څوخمار شکنے پیالے راکړه
چه په سر کښے مِ خمار دے دوشینه

دایم زهٔ ورپسے سریم کهٔ ئے مومم
په دوران کښے مونده نهٔ شی خزینه

نن ئے مهٔ کړه تفحص وایه چه نن دے
کهٔ ئے بیاموے په قرن قرینه

لاله څایه چه خوشحال په جهان راغے
دَ لاله غوندِ ئے داغ دے په سینه

فراق څرنګ رااُوږده کړه په مانن شپه
دَجوزا شپه ئے یلدا شی په غمژن شپه

په فراق کښے مِ په ستر کو خوب حرام شهٔ
په هیڅ باندِ ورمشه دَ لیچن شپه

چه ریبار ورته پیغام دَ وصال راوړی
په هوس هوس تیریږی په مُین شپه

دَفراق په شپه اُمید دَ وصال څهٔ دے
کهٔ ئے ګورے په معنیٰ کښے وُرکه ستن شپه

دَ دوهئ ملنګ هم تیره کړه دوهئ ته
کهٔ تیریږی په تونګرو په برستن شپه

روغ عالم بے غمه خوب کا خبر نهٔ دے
چه په څهٔ عذاب تیریږی په دردمن شپه

دَ وصال وَته هجران دے ورنیولے
بنخه شوے وه دَ ورځے په لمن شپه

ورځ ئے مالیدلی نهٔ ده په درست عمر
خدائے به نهٔ کا سپین صبا دَ دروغژن شپه

دا نن شپه چه په خوشحال دَ فراق راغله
وردِ نهٔ شی هسے سخته په دشمن شپه

کهٔ عالم وته دلخواهه بادشاهی شوه
عاشقی وماته لا عالی جاهی شوه

دَ تقوٰی په کاروبار دے خبردار یم
ولے څهٔ کړم چه نصیب مِ کمراهی شوه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شاهدانو ته دَ خضرؑ عمر غواړم — حیف دادے چه دَ عمر کوتاهی شوه
چه له ځایه ئے گناه لره پیدا کړم — کهٔ نظر وکړے ځمابے گناهی شوه
یارم ولیدهٔ له ورایه شکر دا دے — چه قبوله م دُعا سحرگاهی شوه
لکه ستا کسی په خوارو برابر شی — دَ طالع تر رونړا بنه دا سیاهی شوه
زهٔ دَ یار په جفا هیڅ آهونه نکړم — راته غم دَ رقیبانو بدخواهی شوه
ستا دَ سروشونډو په دور مئے حلال شول — بنه چه اوس روادَ میومناهی شوه
سربازی یا دَ پټنک یا دَ عاشق دے — یا قسمت دَ مجاهد یا دَ سپاهی شوه
بخته داځله ئے راوله تر غاړے — چه بیړئ م په دریاب کښے تباهی شوه

کهٔ خبر له حاله نهٔ وے څهٔ به بنهٔ وو
وخوشحال ته غم داخپله آگاهی شوه

کهٔ په زړهٔ کښے دِ دَ یار مینه ځائی دے — سکه ناحقه دِ دَ غیرو آشنائی دے
مخ ئے گله دَ یوسفؑ غوندِ زیبا دے — دَ یوسف ترمخ ئے زیاته زیبائی دے
چه ئے رائے دَ خپل خاطر وی هم هغه گا — په دلبرو مسلّمه خود رائی دے
کهٔ دِ زړهٔ وی چه داخُو بر خاطرم روغ کړے — دَ لبانو مچه راکړه مومیائی دے
زهٔ اوستا دَ دوارو شونډو مئے هغو زده — چه ئے نن په لاس نیولے پارسائی دے
دَ معشوقے په ترخه کښے دِ یر خوابهٔ دی — کهٔ ئے کورے نیکنامی ئے رسوائی دے
چه په خلقو کښے دوزخ دوزخ یادیږی — بل دوزخ په جهان نشته جدائی دے
په پیغور په تور په زور به ځنے نهٔ ځی — دَ هرچا چه خپله بخره شیدائی دے

دَ افسون دَ سحرکار دا هسے نهٔ وی
دَ خوشحال په زړهٔ کښے دا مینه ځائی دے

کهٔ ربستیني محبت لرے مهٔ ناوړه — په یوه نارهٔ بیل شوے یار و ژاړه
دَ رسا ویشتلی کله توان دَ ژغ وی — په فراق کښے نارے مهٔ وهه له بارهٔ
په معنیٰ کښے جدائی نشته وصال دے — دَ آشنا په غم کښے خوښ وسه تل ویاړه
په هجران کښے هغه هسے شان وصال شته — لکه څوک له خپله یاره لاس تر غاړه
دا دیدن لکه په پټوستر گو کیږی — دا دیدن له وازو ستر گو نه مهٔ غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لیلیٰ پلار لره په سل پردو کښے ناسته مخامخ وه ومجنون و ته ولاړه
پس له مرګه هم جدانه وی ربستینی په یوه نجد کښے ورشی سره دواړه
د ربستینی مینے دارد زوال مه کړه چه ربستینے عشق لری سلام پرے واړه

د یار غم دِ د خوشحال له دِله نه ځی
د فانی دُنیا خوښی که لاړه لاړه

که ملیګے د زړه مینه په ملیګ کړه که قبیلے درومه چارے د قبیلے کړه
د بهار کلونه پیردی واړه ګوره چه دِ زړه وی هغه کل پکښے ترجیح کړه
که دِ زړه دے چه د مخ ثنائے وائے د بلبلے غوندِ خپل زبان فصیح کړه
مسیحا د رنځ وهرلوری ته پیردی د خپل رنځ دوا د وخته په مسیح کړه
له ازله ئے رند رند زاهد زاهد کړه زه به د ګے پیالے اخلم ته تسبیح کړه
په حسد په رخه څه ځما پرواه ده چه دِ پته کینه کړه اوس ئے صریح کړه
زه که بدیم هم د یار د ستر ګو تور یم وهرچا وته ځما د عیب تشریح کړه
د توبے دریاب ئے تالره پیدا کړه د ګناه د تو ریو څان لکه صبیح کړه

دا د سر په ستر ګو مه ګوره خوشحال ته
که د زړه ستر ګے لرے بنګے صحیح کړه

که نیمګړی پیاله راکړے ساقی تازده هم کی مدار په نیت دے باقی تازده
د شرابو په مستئ بیخوده لاړے که له سره دِ پریوزی طاقی تازده
د بابا په رضا څه جنت به موسے روایت م درته وکړ عاقی تازده
زه دِ وخورؤم په مار د تورو زلفو حال م خود وینے په ستر ګو راقی تازده

د خوشحال غوندِ همیش په څان ناچاق یم
ته چه تل په صورت چاق ئے چاقی تازده

که هوښیار دی که نادان که ساد که غلهٔ هیڅوک نه وینم د خپلے لارے ملهٔ
یو په غم شریک یار نه وینم په ملک کښے خلق تشے تسلے کاندی په خولهٔ
د میږ یو غوندِ یُون دے ودانو ته چه ماوَته عالَم کا تلهٔ راتلهٔ
چه اُمید د میږ ی نه وی ودانو ته وهغه لوری ته نه کاندی هیڅ تلهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل ویشتلے غرخۂ مۂ پریږده خوشحاله
ځائے په ځائے ئے وینے توئے دی په پلۂ

کُم کشته او کُم کشته سره رفیق شۂ
کُم کشتن دَ دواړو تنو په تحقیق شۂ

دَ شرابو جام په لاس شاهد بازی کا
شیخ دَ بنهر عبادت پریښوز ندیق شۂ

یوئے اصل سره دوه اویا مذهبه
خدایه څۂ بنی آدم فریق فریق شۂ

عشق څۂ هسے آسان نۂ دے هومره خلقه
په بلخیو کښے خو یوسړے شفیق شۂ

دَ آسمان دَ ستوریو هم وبله فرق دے
څکه غوره په یارانو کښے صدیق شۂ

چه توفیق ورسره مل شۂ کار آسان دے
کل مدارد واړو خلقو په توفیق شۂ

آزاده به له چا طمع اُمید نۂ کا
چه به طمع له چا کا کله عتیق شۂ

دَ غلیم مهر په هیچا باندِ نۂ وی
یو فساد ورباندِ کا ندی چه شفیق شۂ

وخپل بخت وته تسلیم کړه چه غلیم دِ
همکی دَ غم په بحر کښے غریق شۂ

نور کۂ سل پیالے آخلی دے دِ سل څښی
چه خوشحال دَ باده نوشو په طریق شۂ

کوره دَ یار مخ ته بیا لیمۂ پرے ولـوه
زړونه دَ بد رنګو رقیبانو ویلوه

دا دے هغه مخ چه هجران کښے پسے تۂ مرے
اوس ئے په وصال کښے دواړه لوریه بنکلوه

لویه پیشکشی ده په وصال کښے درته وایم
دُرئے په لمن کښے ورته کوره تلوه

زۂ دَ بیلتانۂ په حال خبر نۂ وُم خبر شوم
خدائے له خپله یاره نه هیڅ یار مۂ بیلوه

تندر دَ رقیب په کور پریوزی قهقهه خاندی
سپینه آئینه دَ ششت خپل یار ته څلوه

یوځله چه زړۂ دَ چا په مینه مهر بند کړے
شرط دَ یارئ دا دے زړۂ بل ځلئے مۂ نښلوه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کډے دی د زړونو ستا د مخ په لور ږولے
وارہ ملک بوستان دے په هرځائے ملګرہ
درسته د له خپلو نمریو وویستم خوشحاله
یو د غاړے هار م د ګلونو مهٔ شلوه

لکه زهٔ یم پیدا شوے په دا مینه — د نورچا به هسے نهٔ وی پیدا مینه
د قصاب چارهٔ په غوښو هسے نهٔ کا — لکه کاځما په زړهٔ د آشنا مینه
درست عالم رابانډ غاړو کا زهٔ حیران یم — چه له زړهٔ به په خولرے کړم ستا مینه
په یوهٔ تن کښے دا دواړه توکه نهٔ وی — هم د حُسن استغنا هم د چا مینه
نهٔ به بوئ د مشکو پټ شی په نافه کښے — نهٔ به پاتے شی مخفی د شیدا مینه
ما په سحر په جادو تقصیر وُنهٔ کړ — د نا ترس خاطرئے نهٔ شی په چا مینه
په ژړا به م دوه سترګے وُچے نهٔ کړے — که په ما شوے د خپل یار په ژړا مینه

لور په لورئے په همه عالم رسوا کړ
کشکے نهٔ وے د خوشحال دا رسوا مینه

لکه ستا د زلفو تاب شته — په سنبلو کښے هم تاب شته
لکه ستا د خولو بوئ دے — هسے هم په ملک ګلاب شته
ستا د مخ ترخال به به وی — په خطا کښے مشکِ ناب شته
لکه زړهٔ ځما ستا شوندے — نهٔ کباب شته نهٔ شراب شته
که ونمر ته خاتهٔ ګران دی — د زلفینو ئے طناب شته
چه کاتهٔ د په حساب شول — د یارئ هم حساب شته
کښلی دیرو وما تهٔ یار کړے — تل د ګلو انتخاب شته
ګل په ما شهد و شکر دی — که د قهر یا عتاب شته
مجنون مړ نهٔ دے ژوندے دے — چه لا ما غوندِ خراب شته
د هجران په شپه مرګ غواړم — ځما سترګو ستاسے خواب شته
چیرے نهٔ په بل مرګ وُمرم — د غمزو د هم شتاب شته
چه م وژنے کوز به ګورم — له آشنا سترګو حجاب شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ماخپل خون ورته پل کړے کهٔ ځما د مړک عذاب شته
د چا مئے م پکار نهٔ دی چه م خپل لب ولباب شته
دروغژن یم کهٔ دا شعر د میرزا په درست کتاب شته

دا غزل چه خوشحال اووے
نن ئے چا څخه ځواب شته

له حاله ئے خبر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته
قلاش و قلندر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

کهٔ لږه ده کهٔ ډیره واړه وُنیسه په تیره
په خوئ د پیغمبر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

د عمر څهٔ اندوه کړے څهٔ اندوه دے کهٔ ځان پوهکړے
ژوندے تر کوره ورشه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

بادشاه د بحر و بر ئے کهٔ قانع په خشک و تر ئے
د دهر سکندر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

کهٔ دُردی کهٔ کوهردی کهٔ کلونه د شجر دی
د واړو بے خبر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

بے وخته غواړے بد کړے بیهوده رخه حسد کړے
په صبر تونکر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

مهٔ ژاړه مهٔ پرے ویاړه غم بنادی پریږده دا واړه
واقف په دا سیُر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

بلا دی چه تولیږی په هیچا نهٔ پاتے کیږی
فارغ له سیم و زر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

له یاره مهر غواړے کهٔ ئے نهٔ موے نور ژاړے
د یار په رضا سر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

کهٔ وصل کهٔ هجران دی دواړه ماوته یکسان دی
آرام په خپل مقر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوسعی څوطلب کړے اندیښنے په روز و شب کړے
په واړه برابرشه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

لږ عمر دیر غمونه په زړهٔ هومره ستمونه
قانع په خشک و ترشه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

په خپل هُنر نظر کړه څو ژوندے ئے خپل هُنر کړه
خوشحاله شیرِ نر شه کهٔ شته شته کهٔ نشته نشته

... ...

لکه مخ خُما دَیار دے نمر خو هسے وی کنه
لکه زهٔ په عشق کښے زیړ یم زیر خو هسے وی کنه

دَعالم دیرے خبرے لور په لور تورے لښکرے
زړهٔ مِ نهٔ خوزی له خُایه غر خو هسے وی کنه

بے دَعشق له شور و شره چه هرگز خُماله سره
نهٔ ځُی نور څهٔ هر څهٔ دروی سر خو هسے وی کنه

چه ئے ریبم عمل لا کا چه ئے ورک کړم خُان پیدا کا
ورځ وشپه دا هسے کړکړم کړ خو هسے وی کنه

تاوے دروما نوم مِ زیر کړه بل سبق له زړهٔ بدر کړه
تل مِ تهٔ ئے په خاطر کښے زبر خو هسے وی کنه

وهغهٔ ته مِ سر کُوز دے چه معلوم ورته رموز دے
په خبره نهٔ پوهیږی خر خو هسے وی کنه

په دا باغ کښے یوه وُنه تل تازه تره برخُنه
چه ئے اوبه ژمے برخورم برخو هسے وی کنه

چه آزاد مرئیے وردرومی خپل مراد ورځُنے مومی
په هیچانهٔ دے تړلے درخو هسے وی کنه

په یوهٔ زمان تر یاره ورشی راشی څوکذاره
دَخوشحال خاطر تیز پردے پرخو هسے وی کنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لایزاله بادشاهی کهٔ چا موندله کیخسربه وخسروته نهٔ سپارله
جام دَمیٔو رابه لاس کړه ساقی کورهٔ پهٔ هرلوری داځما دَ غم کرله
پهٔ امان امان یوه لاتیره نهٔ وی پهٔ زمان زمان بنکاره فلک کا بله
دیر پهٔ یادلاړل دستاغوندِ بادوړی تهٔ ئے روستودم کړه ئے ځما دِله
جام وساز ساقی بهار واړه اسباب شته صراحی ولے خالی وینم له مُله

پهٔ جهان دَ نیکو نوم بویه خوشحاله
چه یادکار به وی ترتلوهم ترتله

لور پهٔ لورے دَجهان کړیوان پاره شهٔ کور پهٔ کورم دَرندئ کاربنکاره شهٔ
چه م پټه پهٔ لستونۍ کښے نوشله دَهغے پیالے جهان پهٔ نندار ه شهٔ
داځهٔ زړهٔ نهٔ دے چه اوس مهرپه ما کا راته نرم هغه سخت سنګِ خاره شهٔ
چه دَعمرځهٔ مایه تروا پرو تیر شوم دَخوښئ ملک ځما پهٔ اجاره شهٔ
اوس به کوم ارمان کوم سوبه م وشوه چه رقیب دَیارله درهٔ آواره شهٔ
دَهغهٔ قدرلرم ترے به ځار یږم چه پهٔ غم کښے چاره جوئ دَبیچاره شهٔ
اُودهٔ بخت وته م پیړے نارے وُکړے وینې له خوبه پهٔ روستئ نړئ نارهٔ شهٔ
جدائی ورځنے مرګ دے سړے وُمری دَ بُتانو وصل عُمر دوباره شهٔ

کهٔ خپل ځان هوښیار وی هوښیار به نشی
اوس خوشحال دَلیونیو پهٔ شمار ه شهٔ

له تانه چه جدا شم پهٔ ناکام پهٔ ورځ و شپه
نهٔ خوب نهٔ م خوراک دے نهٔ آرام پهٔ ورځ و شپه

بل خیال فکرئ نهٔ وی بے دَیارله رویه مویه
دَ زړهٔ پهٔ حال خبریم زهٔ مدام پهٔ ورځ و شپه

دَمخ ثنائے وایم دَ زلفینو ئے صفت کړم
پهٔ خولهٔ کهٔ پهٔ خامه وی پهٔ صبح وشام پهٔ ورځ و شپه

یو بنهٔ نظر چه وُکا سرمایه م دَ ژوندون شی
کافی دے خلوتی ته یو بادام پهٔ ورځ و شپه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د مشکو د کافور وخوشبوئی به ترے قربان کړم
که ستاله لوریه راشی یو پیغام په ورځ وشپه
د مشکو کل قندے به ئے خوشحال ترے صدقه کا
که ته م سرفراز کړے په دشنام په ورځ وشپه

ما پت د زلفۂ کوکل کښے همیشه اسرار د زړۂ
آخر ئے خو ناب وکړ په هر لور پرهار د زړۂ
له پښے اغزے مشکل دے په حکمت له تلی خیژی
دانا طبیب پکار دے چه وکا بڑی خار د زړۂ
د نورو تونگری که د دنیا په سیم و زر شی
په دا به تونگر نۂ شی بے دیده نه خوارد زړۂ
د شونډو د دارو ورکړه که ئے ته په رغول ئے
په ستر کو ئے علاج کړے خو به مری بیمار د زړۂ
که بنۂ دے هغه زړۂ دے چه مئین په هیڅانۂ دے
چه یو خله مئین شی نور تر تلو زار د زړۂ
غمژن به پاره د هجر خوښ د وصل په اُمید کښے
په اور او په اوبه کښے کړه خدائے څه روزگار د زړۂ
د یار مهر ترما راغے حُما مهر تر یا ر ه !
ربښتیا ده داخبره چه تر زړۂ ده لار د زړۂ
چه خپل اختیار ئے ټول د خپل آشنا په لاسو ورکړ
رحمت ئے په دا کار شه خو هم دادے کار د زړۂ
خوشحال خسته به اوس د خاطر راز وچاته روائی
چه لاړ ورته ئے شا کړه دماغی بنۂ یار د زړۂ

ما د شیخ او د ملا حکایت نۂ زده
چه ئے نوم د عاشقانو په شماره شو
ما بے میه نیه بل روایت نۂ زده
دا هم بنۂ که بوالهوس محبت نۂ زده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ چه هسے په چمن کښے چمان کیږے
سیره تاځما دَیار په قامت نهٔ زده

عام عالم وته پخپله ځان نا دان کړم
هسے مهٔ وایه چه ما کنایت نهٔ زده

دَ درویش په زړهٔ کښے درست کتاب مرقوم کړم
که په خولهٔ نے دعربو لغت نهٔ زده

وائے تاسره مِ نیت دے دَ یارئ
هسے هیښ یم کنړه ما په تشریح نه زده

نادان یار به صدقه ترهوښیار یار کړم
نادان یار دَ آشنایئ قیمت نهٔ زده

عاقلانو څخه څورنګه حکمت دے
لیونیو یو دَعقل وحکمت نهٔ زده

وعاشق ته نصیحت مهٔ کړه ناصحه
خود پوهیږے چه عاشق نصیحت نهٔ زده

دَخدمت له نتیجے نه چه محروم شوم
زهٔ لائق نهٔ یم که تاعنایت نهٔ زده

چه بے سَته میلمه کیږی هغه زهٔ یم
که آشنامِ دَهندو غوندِ ست نه زده

زاهدان چه مونځ روژه کا جنت غواړی
ماخوشحال دَمزدورئ طاعت نهٔ زده

ما په ننګ دَپښتانهٔ ځوانان قربان کړهٔ
بیامِ غوره غوره جمع بنهٔ ځوانان کړه

دَسړی دَلاسه مړهٔ وے څهٔ به بنهٔ وو
لیونی کوتهٔ سپی مړهٔ کوره شیران کړهٔ

هومره کوتے کوتے اَرمانونه
هرنفس څی په ارمان ارمان ارمان کړهٔ

په یوهٔ ساعت بنادی په بل غمونه
په لحظه لحظه تیریږی دَآسمان کړهٔ

چه په شپه راسره ټول ووپه زړکونه
په صبائے له ما واړه ځان په ځان کړهٔ

ځنے مړهٔ ځنے ژوندی له ما جدا شول
زهٔ جدا په غاړه غرونه په ارمان کړه

چه شاهان ځوانانِ مِ ومړل هالهٔ مردیم
که دَهر یوهٔ مِ ساری سل دِمان کړهٔ

یومهلت دَعمر بل مدد دَبخت وے
په دشمن باندِ مِ وشوے په داشان کړهٔ

لوئے ئے قتل هلک بند بنهر و نه سوی
مال اولجه بندیان دِګل واړه جهان کړهٔ

چه نو بنهرِ مِ واهنهٔ کوهاټِ مِ پریښود
لاهالهٔ ځما داکړهٔ ووَ نادان کړهٔ

چه بداصل سره بنهٔ کا کله بنهٔ کا
دَموذی سره څهٔ سود دِدَاحسان کړهٔ

سر خودا په خوشحال وشوه بیا ترکاله
ګوره څهٔ رنګه بنکاره شی دَسبحان کړهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نن په ستړکو وړوځوله ماخوار زهد وتقوٰی وړه
ناز وغمزے وکړه عقل وصبر م صبا وړه

شیخ ملا قاضی مفتی صوفی سره یوځائے دی
پاسه بنیوه وکړه یویوځیز م له هر چا وړه

جورد اغزی وړی چه وکل وته هوس کا
یارکۀ بنائسته وی تۀئے هم جور وجفا وړه

دور د اورنګ زیب دے د ریا زاهدان ډیر دی
پته په لستونړی د شرابو ډک مینا وړه

تل چه عاشقان دی پسے تعیین رقیبان دی
تۀ چه عاشقی کړے د وکړی شور غوغا وړه

مال دے کۀ م ملک دے خولا مړنۀ یم ژوندے یم
هرچه ستا په خوا دی هغه وارہ لا پخوا وړه

ډیرے دی نکارے بنائسته پرې رخسارے
نورو لره نورځۀ تۀ ځما زړۀ په تنها وړه

شوندے د حلوا دی عاشقان د حلوا وړی
بنۀ په اوږ یوځه په پلو پته دا حلوا وړه

تا وئیل خوشحاله یوکالے به له تا غوا ړم
زړۀ دے نورځۀ نۀ دے بنۀ درکړے م وتاوړه

نن ئے بیا د دلبرئ خنجر ترملا شۀ
بنۀ چه زر د مختوری وشوه رقیبه

ماوے بخت به یوبنۀ یار راکا وماته
کل په داسبب ارزان دروی په بیه

په بلبلو باند زیرے د بهار کا
راشه کل وته نظر وکړه اغزیه

د فراق شپے ئے څۀ هومره اوږده نۀ وۀ
بنۀ چه سرئے لا اوله په پارسا شۀ

هغه یار چه مرور ووبیا په پخولا شۀ
چه د درست جهان ناترس وو یار څما شۀ

چه ئے ډیره بقا نشته بے وفا شۀ
چه نرګس په هسے سخته څله واشۀ

کل په هومره زیبائی یار د چا شۀ
په خوشحال باند هزار څله صبا شۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نشته بانګ د مؤذن په درست تیراه
مګر واؤرے بانګ د چرګ په سحرګاه

که اورکزی ئے سراسر واړه ګمراه دی
آفریدی دی ترګمراهو لا ګمراه

د اسلام ارکان احکام حلال حرام شته
آفریدی اورکزی نه دی پرے آګاه

نه نمونځ د جنازے نه ئے امام شته
نه زکوٰة نه سرمایه نه د زړه ثراه

بنه هغه چه مستقیم په شریعت وی
بد هغه دے چه په شرع وی تباه

د دُنیا چارے همه واړه فانی دی
که باقی دے خویونوم دے د الله

چه یک لخته د دُنیا په کار کښے غرق دی
له هغه غافله خویه نه آه آه

په اوبو سره ګندګی له تنه دروی
په توبه په استغفار سره ګناه

موحد د تصوّف د رسالو دے
مسئله د شریعت ګنړی ګناه

کله کله چیرے ووائی دا هومره
څنے څنے لا اله اِلاّ الله

چه ګناه همیشه کا توبه ئے نه وی
له هغه قومه خوشحال غواړی پناه

نامرد مل د چا مل مه شه
سر په بد نائی کل مه شه

پئی غوړی واړه مردار کا
د خپل کور پیشو غل مه شه

یوچه دوه ورته بنکاریږی
څوک په ستړکو احول مه شه

چه یا سیب یا بهی کیږی
بصل مه شه حنظل مه شه

د غوتئی غوندِ موسیږی
د لبرو ترمنځ خل مه شه

په وئیل که ډیر افضل ئے
له خوشحاله افضل مه شه

نصیحت دے که ئے آورے درته وائی بیچاره
نفس به ډیرځه درته وائی پسے مه شے آواره

روحانی بخره د چا ده چه ئے مینه په درویش وی
نفسانی بخره د چا ده چه جاهل وی هیڅکاره

چه وهل خوړل خوړ ول کا هغه باز دے یا شاهین دے
چه ئے سوړے لره وړینه یا میږے دے یا فاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

علم تا بیائی په پورته جهل تا بیائی په کښته
یا عیسیٰ لره وردرومه یا قارون ته ځان سپاره

چه ئے علم فضل نهٔ وی چه په تخت د بادشاه کښینی
یا یو پیر دے یا لیوهٔ دے یا ئے کاؤ خر شماره

بے وفا دروغژن مه شه ناسپاس حق ناشناس هم
ره زنی کړه بنگ شراب خوره څرخ وهه په دوتاره

د نبا تو حلوا مه خوره چه منت ورسره مل وی
خپل کشکاب د خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره

کهٔ وعده په قیامت وی هوس مه کوه و پورته
څو توانیږے بنځه مه کړه کهٔ په مخ وی ستاره

په هوا په هوس تللم لا تر اوسه هسے زغلم
واویلا د نفس له لاسه کریوان چاته کړم پاره

څوک نیکخواه په جهان نهٔ ووچه ئے ماته هدایت کړے
چه خبر په قباحت شوم پکښے ډوب یم یک باره

لوئے دریاب دے توره شپه ده پکښے څې ځمابیړئ
خدایه خضرؑ رابنکاره کړه چه لاس راکاندی بنکاره

هُنرهم په خپل مقدار شته دانش هم شته په خپل قدر
کهٔ یو بخت ورسره مل وی د خوشحال کړه نندارہ

نهٔ ځماد زړهٔ لر بر دی بنائسته
همیشه م د زړهٔ سر دی بنائسته

خپل ژوندون د دوئ د مخ د پاره غواړم
له دننه م خبر دی بنائسته

بُت پرست د یوهٔ بُت یم نهٔ د واړو
کهٔ بُتان م د آذر دی بنائسته

زهٔ به مخ د یار مخے نهٔ کړم د واړو
کهٔ کلونه سراسر دی بنائسته

زهٔ له ډیرے خُلے یو پیر یو دم بل کورم
سره یو تر بل بهتر دی بنائسته

خال وخط به ئے ځماله زړهٔ لا رنهٔ شی
کهٔ بیرون م تر بصر دی بنائسته

په وار وار تر ے لعل و دُر دی را توئیږی
ستا وئیل لکه سرهٔ زر دی بنائسته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خطا کۀ په ختن کۀ په کشمیر شته نۀ چه دام تر دلبردی بنائسته

کۀ هر څو د خوانئ عشق لری خوشحاله
کۀ زړونه مکدّر دی بنائسته

نن دِ دور دے د خوبئ کبر دماغ کړه یا د یار په زړۀ مرهم بردہ یائے داغ کړه
په خندا خندا راځه غاړه غړئ شه د خپل یار خاطر له غمه نه فراغ کړه
ستا د زلفو په تورتم کښے م زړۀ وُرک شۀ چه ئے بیا موم بنکاړه د مخ څراغ کړه
د مخ خال دِ تور کاړکۀ دے ځما زړۀ وړی د باز ونو د شاهینو بنکار په زاغ کړه
د خلوت په مخ کښے ناست زاهدان بنۀ دی ساقی زۀ چه زاهد نۀ یم کشت د باغ کړه
ساقی لور په لور کلزار دے چه لیدۀ شی له توبے نه کړه توبه په لاس آیاغ کړه

کوړه کوم لوری ته لاړے موندۀ نۀ شی
د خوشحال د زړۀ پیدا چرته سُراغ کړه

وچ لرګی و بله کښیږ. ده اور پرے پورے کړه نور پریږ. ده
په تیرو تیرو اغزیو تاته چاوئیل چه پښے ږ. ده
پکښے ظلم ډیر ستم شی له بیداده بنهر لیږ. ده
د خزان سیلئ راغلی لکه پانړے هسے ریږ. ده
تل طفلان د خپلو اوښکو د ګریوان په اونړی بلیږ. ده
په اَعُوذُ په لاحَوْل سر آخله له سر ویږ. ده

اوس پیرئ راغله خوشحاله
د خوانئ چارے پریږ. ده

هر عاشق چه بهره مومی له حضوره په هغۀ باندِ سلام له ما مهجوره
بنۀ دِ قدر د وصال د ساعت زده کا و ناظر ته تل جلوه نۀ کا منظوره
اوس د دیوجونو و ینځو په ځائے نۀ دۀ د رخانئ آدم خان کړه مشهوره
چه په داهسے جمال ورځنے زووے بوره مور دِ بنا پیرئ وه کۀ حوره
یار به چا په یوۀ درنګ له لاسه پرےښی جدائی له یارۀ نۀ شی بے ضروره
صبر تاله مانه درست په کاتۀ یوور بیا وَ ما وَ ته وئیل کړے ناصبوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ لاهسے په یارئ کښے غوخ نهٔ یم چه لمن به دِ پریږ.دم په تیره تُوره
لکه بادچه لوئے نښتر وُولی په مزکه هسے رنګ ورپسے ولُوښتم بیخ پُوره
دَښهٔ یاردیدن دَدواړوسترګونوردے خدائے دِ نهٔ کا دَهیڅا سترګے بے نُوره

کهٔ آسمان اوزمکه خولهٔ وبله وروړی
دَخوشحال خاطربه نهٔ وی بے سروره

هغه کارلکه په تور وو مالیدهٔ چه په سپین تور وو
چابه مشک په کافور ورکړهٔ ولے بیه نهٔ وه زور وو
تل په شپه بازارخوریږی په رڼا کوره چه خور وو
یا یوخوب ووچه لیدهٔ شهٔ یا یو خیال خالی بیور وو
چه خُیګرخوری دَخپل خُو یه عجب بنهٔ مهر دَ مور وو
اُوهٔ غلهٔ پرے حواله وو څهٔ ناتارشهٔ یوځهٔ کور وو
لږ ئے راکړهٔ دیرئے یورل پورَ وړے ئے سودخور وو

ما تهٔ وُلیدے خوشحاله
چه دِ څومره زور وشور وو

هرسړے په خپل کنګاش پوهیږی بنهٔ په خپل زیست او په معاش پوهیږی بنهٔ
بزرګر دَکرَد کیلے هُنر بنهٔ زده بازرګان په خپل قماش پوهیږی بنهٔ
تولول به ئے هغه کا چه ممسک وی په بازنه ئے قلاش پوهیږی بنهٔ
څوک دِ هیڅ ورته دَمتې خبره نهٔ کا عاشقان په خپل تلاش پوهیږی بنهٔ
دَشرابو صفت څهٔ کوے نور چا ته په دا کار رند واوباش پوهیږی بنهٔ
دَعسلو په حلوا ماړهٔ ناپوهه دی ګرسنه په نان وآش پوهیږی بنهٔ
قلمزن حساب کتاب هندسه رقوم زده شمشیرزن په جنګ پرخاش پوهیږی بنهٔ

وخوشحال ته وائی خلق بنهٔ پوهیږی
ظن دَخیر دے دے کهٔ کاش پوهیږی بنهٔ

هرچه ستادَ زړهٔ رضا وارهٔ هغه کړه خوچه زړهٔ دَچاخوږیږی هغه مهٔ کړه
کهٔ دَکسب دَروزګارنهٔ ئے نهٔ مردشته دَنامرده دودئ مهٔ خوړځان خفه کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یارهغه چه دَ تنګسې په وخت پکار شی
چه دعوی کا دَ یارئ حال ئے زده کړه

چه تنګسه دربانديِ درشی کهٔ میړه ئے
په تنګسه کښے دَ خوارئ ځان ورمهٔ کړه

په خوارئ کښے زیست روزګار تر مرګ بتر دے
یا دَ بل کیږه یا خپله کیږه بڼه کړه

له ځوانمرده هومره غواړه چه دزیست شی
دَ نامرد خونه همه واړه اولجه کړه

غلیواز دَ بل منګلے و ته ګوری
لکه باز لرے نزدے خپله غوټه کړه

کهٔ دعوی دَ مړنتوب لرے په زړه کښے
آس دَ وند تلاش په غشی په لیندهٔ کړه

هر یو بیت ئے دَ حلوا خوږه نمرئ ده
کهٔ مشتاق ئے دَ خوشحال ویل مزه کړه

هر آفت چه په درست عمر را دوځار وو
چه م ځیر کړ درست ځما دَ ژبے کار وو

چه وداني چارے ورلنے په ساعت کا
چه م ولیدهٔ په چا رو کښے تلوار وو

دَ هرچا یاری م ولیده په ستړګو
هم هغه راته بلا شهٔ چه م یار وو

ناهموارے به هرګز ورپیښے نهٔ شی
کهٔ په خپله اندیښنه سړے هموار وو

صبر ناکو سره جور فلک نهٔ کا
دَ فلک جور له چا چه سبکسار وو

په دا باغ کښے م ډیر ګل تر نظر تیر دی
دَ هر ګل تر څنګ ما ولید چه خار وو

زړهٔ په طمع دَ وفا له بے وفا کړه
په خپل ځان باندِ پخپله ستمکار وو

کهٔ هر څو باندِ مرهم ږدی نهٔ رغیږی
دَ خوشحال په زړهٔ داغهٔ دَ غم پرهار وو

هرګز به توبه نهٔ کړم دَ بنهٔ مخ له نندارو زهٔ
شیخان پیران دِ واوړی دایم وایم په نارو زهٔ

کهٔ ما دَ عشق خبره په ایما تر دا پخوا کړه
بنکاره به ئے اوس وایم په رباب په دوتارو زهٔ

کهٔ نور عالم ګلونه په دستور راوړی خپل کور ته
راورم دَ یار له باغه هره ورځ په پشتارو زهٔ

زاهد وائی وما ته راشه کښینه تسبیحات کړه
یو م ده نیولے نهٔ یم هیڅ په دا شمارو زهٔ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کدائے غوندِ جارووزم سینه سوے په طلب کښے
که ډیرلرم په کورکښے هرقماش په انبارو زهٔ

پرهارئے د بنړو دغشی لا بده بلا ده !
وتلے یم د غشو د نیزو له پرهارو زهٔ

خوشحال غوندِ که سودلری که زیان خما قبول دے
عادت یم د غمونو د اندوه په اجارو زهٔ

هیڅ خبره نهٔ وه چه به ما تر خولے ایسته
ستا د خولے تشبیه م غوټئ ولے راوسته

ستا د خور و شوند و په شاړهٔ شی بیارته کړئ
څکه مکس سر وهی دا هسے دو دسته

زهٔ او ته په دا دور تر واړو نه افزون یو
څهٔ حیران مجنون وو، څهٔ لیلیٰ خواره خسته

ستا د تورو زلفو زنځیرونه دی په پښو کښے
نهٔ شم چرته تللے درته پروت یم پابسته

هر زمان ستا خیال دے چه خما په سترګو کړئ
ویښ یم که اودهٔ یم که ولاړ که ناسته

کل اوسے په حُسن اما کل مهٔ شے په عمر
راغله، سرفراز شوم، ستاله باغه کلدسته

واړه هغه حُسن لطافت دے ستا په مخ کښے
چا چه د یوسف قصه وما ته ولوسته

کله سرو وُنه هسے سمه ده په قد کښے
چا نامه د سروِ ستا وقد ته اخسته

وروځے دِ لیندے دی تورباڼهٔ دِ تیرهٔ غشی
وولهٔ صرفه مهٔ کړه چه دِ ډکه ده درسته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تا وئیل وماته څو ډیر غم غواړے له ما نه
ستا په غم خوشحال یم څو رادرومی پیوسته
زړهٔ لرے دَکانړی په خوشحال باندِ پوست نه شو
څهٔ شوکهٔ دَخولے خبره کړے چیرے پسته

هرتشنه چه دَ وحدت په سیند سیراب شهٔ
نور همه جهان و دهٔ وته سراب شهٔ
چه په زړهٔ ئے دَ وحدت ډیوه شوه بَله
تجلے به ئے له مخه څی آفتاب شهٔ
چه دَ عشق دَ نافے بوئ پرے لګیدلے
درست صورت ئے سر تر پایه مشکِ ناب شهٔ
هرچه وُلیږ له هستئ ونیستئ ته
فراغت دَ دواړو کونو دِ عذاب شهٔ
چه تروهٔ ترخهٔ قبول لکه دریاب کا
هم هغه دَ قیمتی دُرو مآب شهٔ
چه لمبه ئے دَ آتش کړه په څان تیره
له غه پسه دَ ګلابو ګل ګلاب شهٔ
کهٔ په زړهٔ کښے ئے سختی وه لکه پنډه
هم هغه دَ زملے دَ اور په تاب شهٔ
چه دَ ډیرو اند یښونه ئے زړهٔ ورکړ
په مثال لکه خسنړے دَ دریاب شهٔ
دَ شرابو خوښی هیڅ نهٔ وی بے نُشله
نقل څهٔ دی معرفت عمر شراب شهٔ
دَ کمال کسب پایه دَ سعادت ده
هغه بنهٔ چه دَ کمال په اکتساب شهٔ
تهٔ هم زړهٔ مراد وُغواړه له عالمه
چه په علم ئے عمل وکړ کامیاب شهٔ
چه دوستی دَ محمدؐ لری په زړهٔ کښے
مینه دارئ په اولاد اوپه اصحاب شهٔ
چه له شرعے یوقدم درومی بے رُخه
وګوشمال وته تیار لکه رباب شهٔ
په هغهٔ م زیړے وکړه چه دفترئے
واړه ډک خاصه په کښلیو دَ ثواب شهٔ

په حیات صورت به وګټی څان خاورے
چه خوشحال غوندِ خبر په خپل حساب شهٔ

هو په دا قائل یم بنکلی ډیردی لاړ په لور شته
خدایکو کهٔ دَ حُسن سپارهٔ تاغوندِ یو سپور شته

تاوے چه غم مهٔ کړه یوه ورځ به دِ غم وخورم
څهٔ لره به غم خورم چه مِ تاغوندِ غمخور شته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ستا په سرسوګند خورم تهٔ خما وسرته لوړے
ښهٔ مهرِ دادے کهٔ لاښهٔ مهرِ نور شته

اے چه راته وائے عاشقی شرم پیغور ده
واړه م قبول دی کهٔ م شرم کهٔ پیغور شته

خلق م چه بولی ستا له مخه و ګلزار ته
بل بهار به څهٔ کړم چه م یو بهار په کور شته

حکم امر ستا دے کهٔ م بولے یا شړے م
څهٔ به درته وایم دَخوشحال بنده څهٔ زور شته

یا خما د بینایئ نظر نشته — یا په دا نړۍ ملکونو دلبر نشته
کهٔ اَختر نهٔ وی د یار سره اَختر دے — بے مئینه کهٔ اَختر وی اَختر نشته
سپینه خولهٔ کهٔ راکوے په ځان اړنهٔ یم — معشوقے له مانه زرغواړی زر نشته
په اول وصلت دَعشق په توره لاړ شو — دَعاشق سړی په تن پورے سر نشته
کهٔ غوټے پسے وهے په لاس به درشی — چاوړے داچه په دریاب کښے ګوهر نشته
نور تروهٔ ترخهٔ کهٔ خوږے ګوندِ پیدا شی — وطوطی ته هسے وایه شکر نشته
ستا غزالره به زهٔ خپسر کافر کړم — څهٔ ارمان کړے چه څوک وژنم کافر نشته
په شامتے د ما ترے غر نه پرېږی — لا په دا د آفرید یو بصر نشته
د شمال بښینه کا په جنوب دروی — د بنکاری سړی په ژمنه باور نشته
کهٔ د جنګ په کار کښے ډیر دی حکمتونه — څوصابر نهٔ شے ځلمیه ظفر نشته
څهٔ عجبه بادشاهی لکه خورشید کړم — یک تنها په جهان ګرځم لښکر نشته
نن د دواړو دلبرانو غوره تهٔ ئے — کهٔ دِ یولونګ په پوزه زیور نشته
د عنبرو بوئ اَلوزی ستا په کوٹے کښے — واړه ستا د زلفو بوئ دے عنبر نشته

په څوغړهٔ په غړهٔ د باز غوندِ پرواز کا
بیا به ولے دَخوشحال ختک پر نشته

آشنائی دِ رانبکاره شوه بے وفائے — چه خما سره آشنا د بل آشنائے
وبل باغ و ته به ستړے کړے نکړے — چه خما د باغ بلبله یا طوطائے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لا به کله خائے څما په ستړکو وکړے — تهٔ مئین څمادَ دوُو ستړکو توتیائے
زهٔ جدا له تا په سوز و په ګداز یم — تهٔ په ګشت دَ ګلستان په لاس مینائے
په لیدلو دَ خوښی درسره راوړے — لکه تللے یاغی باز راغلے بیائے
دَ اُمید غوتئ م واړه شګفته شی — چه دِ اووینم په ما لکه صبائے
ستا په مینه پورے سل کا نخوالونه — دَ خوشحال دِله په چا باندِ شیدائے

مُسلمان به درته څوک وائی خوشحاله
دَهوا زنار په غاړه یو ترسائے

آزلی بخره چه چا راوړه له خدایه — نوریدل به ئے په چاشی راته وایه
چه دِ زړهٔ راضی دَچا په آزار نهٔ وی — تهٔ په خپله بخره خوښ اوسه همایه
دائے واړه دَ فراقه نه فریاد دے — چه په څورنګه نارے آورے له نایه
کهٔ په اصل دِسیّد بادشاه زاده وی — چه هُنر ورځنه نهٔ وی مهٔ ئے ستایه
کهٔ هرڅو دِ زور قوت تر هرچا پیرشی — دَ خدایئ دعوٰی مهٔ کړه کد خدایه
یو ساعت چه په طاعت تیر کړے دابنهٔ دے — دَ دُنیا له کروفره هوئ وهایه
کله ګل غوندِ نمائے کله بلبل شے — څوک به نهٔ وی لکه تهٔ ئے خود نمایه

بله بخره به په زور له چا وانخلی
دَ خوشحال بخره چه تورهٔ ده له ځایه

اوس خو کارد وار دَ پار دے — کهٔ دَ څویه کهٔ دَ پلار دے
یا څما څویه دا شان دی — یا دَ هرچا دا روزګار دے
نهٔ په حق نهٔ په اَدب دی — خبر نهٔ یم دا څهٔ کار دے
چه په خپل اولاد نازیږی — هغه کس کله هوښیار دے
دَ اولاد په کار خبر شوم — اولاد واړه لږم مار دے
دیرش م څویه په شمار دی — دَ نمسیو م څه شمار دے
لوئے هلک واړه خبر دی — هر یو جنګ و ته تیار دے
اورنګ شاه و ته نظر کړه — چه یو څهٔ خونی خونخوار دے
ورونړه پلارئے وبله کښیښول — بادشاهی کا شهریار دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ژوندے کړے خوشحاله
لامنت د کردګار دے

اورے ولګی په خونه چه عاشق شی — کورے خورلکه د قیس اود وامق شی
یوه زړه لره یوه مینه کافی ده — څوک چه پیرے مینے کا دغم لائق شی
د مجنون له حاله څه وایم چه څه دے — په ژوند ویوکښے به کوم ترما فائق شی
پیر عالم د مینے لاف وهی په ژبه — مرد هغه چه په دا لافو کښے صادق شی
چه ئے لار د خولے یوه د زړه وی بله — یوه خدایه مخ دِ تور د منافق شی
د راحت په وخت هزار هزار یاران وی — د محنت په وخت کښے یو یو موافق شی

د نیمګړو طبیبانو ادراک نشته
د خوشحال د رنځ علاج به په حاذق شی

آه که ئے یوځله م یار راشی په دست کښے — لکه لوئے ماهی د خوار صیاد په شست کښے
چه په هر زمان ئے ونیسی و مخ ته — د ګلابو ګل پیدا شی ستا په شست کښے
ناز غمزے بنیوچه ستا زده بل چا نه زده — سرے ئے نن د دلبرئ په بند وبست کښے
داخوبی به د ګلزار تر تلو نه وی — ساقی ستا کومه خوبی ده په نشست کښے
ساقی جام د میومه پریږده له لاسه — خود عقل څه ذره وی لا په مست کښے
دانایان فکرونه کا ورنه رسیږی — د دلبرو تنګ خولے په نیست اوهست کښے
په بلند همت کښے پورته پورته درومی — کښته کښته ځی سړی په همت پست کښے

په طلب به ئے خوشحال تقصیر ونه کا
په مدد به د طالع راځی په دست کښے

برایه م زړه خبرے ستا د ناز وے — له خوښئ به ئے یوه وینا باز باز وے
د هجران له دوکه مرم هغه م وژنی — چه به ما او تا جدا له غیرو راز وے
دوه په دوه به سره ناست وو تر صباحه — د یوه راز موا نجام د بل آغاز وے
همکی په مثال شهد یا شکر وو — چه به تا را ته ترخه ترخه ناساز وے
ستاله زلفو عقل ستړکو ته فریاد کا — کله چا د غلو خبرے په غماز وے
چه له یاره ئے بیلتون په پیر ارمان وو — دا غزل خوشحال په وخت د بانګ نماز وے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے یارئ دِ داخوار مری یارَوہ ئے
رقیبان پہ داخوار یرِ ی خوارَوہ ئے

تاوے مخ بہ درښکارہ کړم صبر وکړہ
نورم توان دَصبر نشتہ ښکارَوہ ئے

زر فتنے راسرہ کړے زۂ ئے اَخلم
کۂ یوځل چیرے غلط شوم ښکارَوہ ئے

ترجمال ئے ډیر پتنگ غوندِ خاریرِ ی
ستا دَحسن کمے نشتہ خارَوہ ئے

چیرے نہ چہ سلامت لہ پرے وُوزی
یو عجیب غاری غرخۂ دے خارَوَہ ئے

منتو نہ دِ دَ خولے راباندِ بار دی
ستا ترسپینہ خولۂ خاریرِ م بارَوہ ئے

وھرچا وتہ مرھم شہ ورتہ خاندہ
گناھکار خو یو خوشحال دے خوارَوہ ئے

بے ښائستہ دَھیڅ مخ نندارہ نۂ شی
چہ گل پریوزی محبت لہ خارہ نشی

دَھجران دشوار دشوار ترھر دشوار دے
دَچا چارِ دِ پہ ھجران دشوارہ نشی

اندرون خاطرِ م درست پارہ پارہ شۂ
اولہ خولے نہ مِ فریاد لہ ډارہ نشی

دَدے ھسے رنگہ رنځ علاج ھم دادے
چہ زَ گیروے مِ پہ طبیب اظھارہ نشی

دَخاطر علاج مِ زر وکړہ طبیبہ
چہ مِ زړۂ پارہ دَخدائے دپارہ نشی

دَھجران لہ دُوکہ وایم چہ نعرے کړم
ولے څو کړم چہ زبون شوم نارہ نشی

ما پہ خپل صورت دا کار دے آزمائلے
لہ ھرځۂ نہ صبر شی لہ یارہ نشی

پہ وئیل ئے فھم وکړہ اے خوشحالہ
چہ دَ یار دَ مینے رازِ ښکارہ نشی

بے دَ یار دَ مخہ نۂ وینم پہ کسی
دوا پہ کسی ملک دَ نمر پہ شعلو کسی

زړۂ مِ ستا پہ زلفو بند شۂ تاکباب کړ
څوک شھباز ھم دَکباب دپارہ نسی

خدائے ستا دَغا بنو شوند وامان وُکا
لال و دُر پہ نظر مات کا بدحرصی

مالہ خپلو شوند ومۂ شرہ بل لور تہ
دَحلوا لہ خوانہ نۂ درومی لوغسی

ستا دَ مخ پہ مینہ سوزم لُولپہ شوم
دَ آتش لمبہ ھیڅ نۂ پریږدی دسی

کۂ ئے چیرے دَ قدم خاورے موندے شی
خوار خوشحال بہ ئے رنجولہ رانیسی

بادئے لاس پہ لمن کښیږدی سړہ ریږدی
کلہ ئے مخ وتہ نظر کا خولے پریږدی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لاله ورایه رنګ وبوئ ورته پیشکش کا — چه په سیل د بهار د ګلو پښے ږدی
څوم ستا مړوند د سوسرویڑدے نشی — سر به هیڅکله کښے نۀ ږدم په سر ویږدی
هغه کس چه م داغ ایښے په خاطر دے — هم هغه به بیا مرهم ورباندِ کښیږدی
څوخپل زړۀ نیسم د زلفوله سودا نه — راشی بیا دُورے درازے راته بلیږدی

د خوشحال خاطر په مثل کاروان سرلۀ دے
اندیښنے پرے کاروانونه ملی لیږدی

بیهوده ئے د دستار په شمله خیال دے — چه په وخت ئے د مردئ حال بل حال دے
مرتبے د هرچا نۀ دی سره سمے — د خرۀ بار د فیل په شاباندِ مثقال دے
څوک جرعه د میو نلری په جام کښے — د چا جام د صافو میُو مالامال دے
دا کلسن دِ همیشه تروتازه وی — چه ئے خیز د بنو ګلونو کال په کال دے
په خوږه میوه د وُنے قدر شناخت دے — د سړی قدر د نیکو په خصال دے
په ناحق به کُرم مانړه له هیڅا نۀ کا — د بدانو غلیم واړه خپل احوال دے
کۀ جنت لره څوک بیائی یا دوزخ ته — بله نۀ وینم په مینځ کښے خپل اعمال دے
کشکے پاتے شی تر تلو دا و ماته — په دُنیا م د هرچا سره جنجال دے
چه د پلار او د نیکۀ هُنرئے نۀ وی — هغه خُویه پیدا شوے غیر سیال دے
تۀ چه لاڅے د مردانو د میدان کړے — په میدان دِ کوم راوړے استقلال دے
د شهباز ترڅایه کله باښے رسی — کۀ راوړے ئے له ځایه پروبال دے

کۀ همه خلق ئے سرشی په ګُند نه
بیچاره خوشحال په خپل هُنر خوشحال دے

بدبختان د مور په نس کښے بدبختان دی — چه د مور له نسه پریوزی هغه شان دی
په دُنیا کښے زیست روزګار په بدبختئ کا — بل جهان لره بدبخت شقی روان دی
حمیده چارے چه کا پکښے ناخوښ دی — څوچه شی په ذمیمه کښے دل شادان دی
چه هوائے د خپل نفس په هغه لور ځی — پیروی ئے په هرکار کښے د شیطان دی
کۀ قدم چیرے ثابت کښیږدی په لارے — په دویم قدم بیازر په زړۀ پښیمان دی
کتابونه د آسمان د مزکے لولی — په عمل ئے فرق د مزکے د آسمان دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په باطن ئے زړهٔ کمان سره لړلے — په ظاهر وئیل په ژبه مُسلمان دی
په خبرو کښے ئے فیض موندهٔ نشی — مذبذب په قول عهد په پیمان دی
په طاعت په عبادت کښے که بلعم شی — په آخر دَ نس په نغوته بے ایمان دی
زهٔ خوشحال خټک بنده دَ دغه چا یم
چه ئے رَو دَ زړهٔ دَ خولے سره یکسان دی

بخت دولت دا واړه توکی فلکی دی — نهٔ په ذات نهٔ په بنائست په زیرکی دی
دم به نهٔ وهی په دم وهل کښے زیان دے — نندارهٔ دِ دَ جهان کاچه ذکی دی
غم اندوه شدت دهغه ور وړی خپل زړهٔ ته — چه په کار دَ مشیت په زړهٔ شکی دی
په یوهٔ نسب کښے نیک و بد پیدا شی — محمدؐ او بولهب دواړه مکی دی
چه په عقل پوهه کم دی تر هلکو — نن هغه دَ دُنیا مال لری لکی دی
دَ مردانو قدر ورک شو بلا دا شوه — چه په هرچا پورے زیری غینکی دی
چه دَ پلار په خوئ پیدا دی هغه خویه — چه دَ مور په خوئ پیدا شول کسُنکی دی
خوک په غم دَ نام و ننګ په جهان راغلهٔ — خوک په فکر دَ طباخ دَ شحنکی دی
هیڅ ما سره یاری نهٔ کړه تر سره — ختک واړه پوز پریکړی بوچکی دی
نهٔ ئے بوئ شته نهٔ ئے رنګ شته نهٔ ئے خوند شته — حاسدان مِ دَ سپلمئ ختکی دی
په زمان زمان ئے څرخ وی وبل لور ته — اندیښنے دَ زړهٔ په مثل توتکی دی
کله یو سر کله بل سر کله کوړه — تدبیرونه دَ هلکو مړدکی دی
رنګا رنګ ویل دِ خدائے لړه خوشحاله
دا ویل دِ لکه غشی ناوکی دی

بیائے واغوست سپین قمیص پټے پټے — باندِ زلفے ځنړوی لټے لټے
خوک به ستا سره څهٔ نرد کا دَ خوبئ — چه په هره منصوبه کټے کټے
ولے خوک به زړهٔ خُماله لاسه خلاص کا — دریغه څهٔ خبرے کړے کټے کټے
عاشقان به دِ له دره نه وانهٔ وړی — کهٔ هر څوئے لکه سپی رټے رټے
چه نری نری سپینړسی غږم دَ شعر — په بیاض باندِ ئے بَدم اټے اټے
دواړه شونډے مِ عسل دی اے خوشحاله — څهٔ په دودئے په حرص څټے څټے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په هره زمانه ترلیلی کښلے پیدا کیږی
مجنون ورلره بویه چه په مخ ئے شیدا کیږی

په رنګ په هُنر نۀ ده نۀ دا کار په سحرو دم دے
یوسردے د زړهٔ مینه چه په چا هویدا کیږی

چه څوک په مهر مینه سره خپل پیوند محکم کا
که سل تُورے ور واخلے سره چیرے جُدا کیږی

یا حسن دے یا عشق دے د دُنیا په دا بازار کښے
په نازاو په نیاز سره دا دواړه سودا کیږی

خولهٔ وُنغاړه ناصحه چه وما ته نصیحت کړے
بښهٔ مخ وته مهٔ کوره وایه دا به په ما کیږی

په سر تړلی نۀ دی نۀ اندوه د دوزخ کا ندی
دا کار چه عاشقان کا وایه کله په چا کیږی

په رب حُما سوګند دے واړه کل په ما اَغزی دی
چه بے له زیبا مخه م ګلګشت په صحرا کیږی

خپل زړهٔ م لوئے مفتی دے روایت ورځُنے غواړم
چه صبر کړم له یاره وائی کله روا کیږی

یاری چه تازه وُکړے صبر فهم پکښے دیه
په رو رو نوے یار په هُنرونو آشنا کیږی

اَنبار اَنبار پراتهٔ دی عاشقانو ته غمونه
پیغور د عاشق دا دے چه ئے غم وته شا کیږی

که نازکا کهٔ خیالونه وا ړه وړه د دلبرانو
خوشحاله چه مئین شوے که ئے نورے بلا کیږی

په څهٔ دردے څان نیولے ستا ترځنګ دے
د رقیب خبره مهٔ منه بدرنګ دے

زهٔ چه ډیر ډیر ستاله ډیره جوړه ژاړم
تر دُو چشمو م چشمه بحر د ګنګ دے

بناپیړئ دِ په اورته هورته ګرځی
نن په دا لوری د شاه د باهوشرنګ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لاس ئے مۀ پریږدہ لہ لاسہ خولۀ ئے واخلہ
پریوتلے پہ یاغی راجہ قلنگ دے

پہ وړۀ مہر محبت پہ خولۀ کنځل کا
ځۀ عجب زیبا دَ دوُو مینو جنگ دے

لکہ سپے دَ خپل څښتن جور وجفا وړی
خوار عاشق ترمعشوقہ پورے بے ننگ دے

پہ رو رو باندِ قدم کښیږدہ خوشحالہ
خدائے دِ پل دَ چا خطا نۀ کا گرنگ دے

پہ زړۀ سخت بے مهره یارئے
جفا کار و دل آزارئے

کۀ هرځو پہ کُوکُو ژړاوم
تۀ لاخوښ ځما پہ کارئے

تا ویشتلے یم فریاد کړم
کۀ خبر پہ خپل گذارئے

زړۀ مرهم کړم لہ تاطمع
تۀ م مالگہ دَ پرهارئے

چہ بہ تل ژاړم و تاسہ
کۀ تۀ خوښ ځما پہ زارئے

زړۀ دِ وُسپاری و غم تہ
دَ هغو چہ تۀ دلدارئے

څوک بہ ځۀ وائی وماتہ
تۀ یوځۀ رنگہ نگارئے

چہ پخپلہ عاشق وژنے
هم ئے ویر کړے پہ چغارئے

کوم گناہ دے عاشق کړے
چہ ئے خبرہ پہ ناتارئے

کلہ درد کلہ دوا شے
کلہ خار کلہ گلزارئے

پہ خوشحال دِ غم نازل کړ
چہ اغیار سرہ کنارئے

پہ کاتۀ کاتۀ م سترگے پہ خاتۀ شی
چہ خبرِ دَ را تلو را باندِ وشی

تۀ خواوس لہ مانہ لاړے مرور شوے
داځما یاری دِ هم گوندِ پہ زړۀ شی

گورہ تا را باندِ کوے کوړے وُکړے
کۀ پہ پښو درځنے دردم زړۀ م نشی

چہ دیدن دَ مئین وکړمہ تازہ شم
لکہ کشت چہ پہ باران سرہ اوبۀ شی

دَ بنۀ یار بیلتون دَ ستونی پریکول دی
پہ یرغ بہ ستونے چیرے پریکاوۀ شی

پہ اَرمان دَ هغہ وخت یم دریغہ دریغہ
کۀ دَ زنی سیبۀ ئے بیا ځما پہ خولۀ شی

دَ خپل یار دَ جدایئ هسے کار دے
لکہ ساہ چہ دَ وجودہ پہ واتۀ شی

بختہ هومرہ مدد بیا را سرہ وکړہ
چہ پہ غیږ کښے م بیا تلے یار اُودہ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَخوشحال سلام په واړه ښو یارانو
کوندِ بیام په لیدو سره زړه ښه شی

په ښه مخ به خوتابان ئے ښه ترمیاشتے د آسمان ئے
که پرون دے زړه اوستړے راشه نن ځان د جهان ئے
لکه سورے په پښو پروت یم زړه هوره چه ته روان ئے
خدائے په ښه جمال یوسف کړے په کروړونو هم ارزان ئے
که د دوه کونه قیمت شی په دوه کونه رایکان ئے
دواړه شونډے د یاقوت دی مرغلرے په دندان ئے

په ربستیا وئیل بد مه وړه
خوشحال ستا دے ته د ځان ئے

پښتانه که آدم زاد دی په خویونو کښے هُناد دی
نه حکمت لری نه عقل خوښ هرکوره په فساد دی
نه د پلار په وئیل کار کا نه په نغته د اُستاد دی
چه په دیو کښے یو ښه وی د هغه د سرجلاد دی
یو د بل په کمی ناست دی څُکه تل په بلا یاد دی
اول زه دا نور له پسه خو شته واړه د احداد دی
په نفاق ئے واړه ورک کړل که شجاع دی که جواد دی
نه ئے قدر شته نه پدل دیر ترمور او تر جراد دی

دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نه دی آزاد دی

په نیکئ به له بدا نو نه خلاص نه شے بویه داچه لکه دوئ دی هسے ته ئے شے
د غمو په لذت به نه پوهیږی د هرچاچه زیست روزګار وی په اوربشے
د غلیم ستړے به تاکنړی خسنړے که په زړه کښے ورته کسے د لیمه شے
د بدخواه د بدخواهئ خلاص نشته که آسمان ته الواته وکړے مرغۍ شے
په پاکئ کښے به د ګډے کا متیازے په صفت کښے که بد ذات سره اوبۍ شے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دروغژن بہ دِ بیا لرے کا د زہۂ نہ کۂ ھرخوئے پہ رښتیا پورے پہ زہۂ شے
د بدگویو لہ وئیلو خلاصے نۂ شی پہ پاکئی کۂ فرښتو نہ ورتہ ښۂ شے
آفتونہ پہ گڼون کښے دی خوشحالہ
ښۂ خو اچہ کۂ دایم غرخۂ د غرۂ شے

پہ ښائست کښے دِ څوک نشتہ د سیالئی کۂ دِ څۂ خو مھرھم وے نشتیالئی
ورځ پہ ورځ دِ د خوبئی گل غوڑیږی تۂ لا اوس د نوی بوټی پہ زالئی
پہ پسالۂ بہ مینہ کا چہ رنگ ئے نۂ وی تۂ گلرنگہ څۂ محتاجہ د پسالئی
ستا د مخ سپاھیان ھمہ تورے پریاسی ولے دوہ سترگے دِ لادی جنگیالئی
زۂ چہ ستا د درپہ تورو خاورو پروت یم را تہ خس دی د بخملو نہالئی
د پائلو پہ آواز سرہ دِ ویښ شی چہ پرے درومی تصویرونہ د قالئی
تۂ خو اوس د زھد لاف کوے زاھدہ کۂ ئے وُوینے زہۂ ښینگ کړے مرد ھالئی
زۂ بہ نیت دربانڈِ وھارم باور کړہ کۂ دِ حُلئے دے د ھاتی پہ انبالئی
خدائے دِ امن د خوشحال د سترگو وکړہ
پہ خندا خندا چہ حُی پہ خوشحالئی

پہ دانامِ د ناپوھ دیدن اَلم دے د ناپوھو د صحبت نتیجہ غم دے
چہ دانامِ د نادان سرہ گڼون کا دلئے واړہ پہ خپل ځان باندِ ستم دے
بدسړے کۂ پہ ظاھر سړے لیدۂ شی پہ باطن کښے نورخۂ نۂ دے مارلرم دے
د بدانو پہ صحبت کښے دین دُنیا حُی شک پہ داخبرہ مۂ وکړہ قسم دے
د ناپوھ سرہ پہ جشن حاضر مۂ شے د دانا سرہ قبول کړہ کۂ ماتم دے
کۂ بے عقل تر یوسف بنائسته روغ وی
د خوشحال ختک پہ پوھہ یوصنم دے

پہ دا قول د درست خلقو اتفاق دے گلہ ستا خو یوڅو ورځے طمطراق دے
کۂ د رنگ خوبئے ستائے بودئے نشتہ پہ جھان کښے کۂ باقی دے خو اخلاق دے
ھسے یار د غورے خدائے راکړہ پہ غیږ کښے چہ پہ نونس توگہ دے پہ حسن طاق دے
لکہ تږے واوبو تہ پہ تلوار دے خستہ ھسے د خپل یار د مخ مشتاق دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سلامت دِ ارزانی وی په شیخانو ملامت ئے بخره کړے دَعشاق دے
چه یو ورپه سړی وتړی بل وا کا رزق به هرچاته رسیږی خدائے رزّاق دے

کهٔ ئے سرله تنه دروی نوربه نشی
دَخوشحال چه دَ خپل یارسره میثاق دے

په رورو خهٔ خوخبرشوم ستا له مینے لکه اورلیدلے نهٔ لوګے ئے وینے
پردیسی حیران پریشان له خلقه تښتی دا په تا پسے جوګی شوم کهٔ م وینے
چه په تا پسے ژړا کوم دَ اوښکو عاقبت به دا ژړا وکړم په وینے
چه هغه ساعت په یادکړم لولپه شم چه به تا راته خبرے کړے شیرینے
څوک به تا غوندِ پیدا په جهان نهٔ وی هوسئ سترګے عنبرموئے مخ نسرینے
هغه وخت راځه لاړچه م به کښل کړے دواړه ستا میګونے شونډے شکرینے
کهٔ خامتا واغوندِ لابنهٔ شے تر نورو کهٔ څو رنګے جامے واغوندے رینمینے
تهٔ م پاس دَ زړهٔ په سربانډِ میشتئے نورے واړه یوسر بل سر دل نشینے
ستا په خوئ پورے حیران یم خوئ دِ څهٔ دے په ټنا راسره جنګ کړے نازنینے
لکه زهٔ په تا مجنون دا هومره نهٔ وو نهٔ فرهاد هسے مئین وو په شیرینے
عشق تنهاځهٔ په لیدهٔ دَستړګونهٔ دے لا دَ خولو په صفت هم کا ینے خوږینے

دَخوشحال دَ زړهٔ دَخونے لکه څراغ ئے
لا به کله را بنکاره شے مه جبینے

په دریاب کښے چه جهاز بیائی ناخدائے دے چه ساتی ئے دوبوی ئے هغه خدائے دے
بادشاهی ئے په نصیب اوپه قسمت وی چه سایه دَچا په سرکاندی همائے دے
څوک چه طمع له چا کا په حقیقت کښے کهٔ بادشاه دَدرست جهان شی لاکدائے دے
درته چاوے چه پرے مهٔ پرانیزه غوټه تأمل دَ هر سړی کړه کشائے دے
یا دَ ښو زویو سندرے وی دَ زوو یا دَ تورو په میدان هوئے وهلے دے
دَ هغهٔ دَ غلطئ اندوه نهٔ وی چه رفیق ئے په سفر کښے رهنمائے دے
وچ لکړ تتر داغ داغ په مینځ کښے هیڅ نهٔ چه نارے دَجدائیٔ وهی ناڅے دے
خوئ خصلت وتهٔ ے هم نظر دَ کړو دے کهٔ جمال ئے په څورنګه دلربائے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په هزار ژبه ئے تهٔ ستایه بلبله گل پخپله د خپل حسن خود ستائے دے

که باغونه که راغونه که څهٔ نور څهٔ
چه د زړهٔ پکښے خوشحال شو هغه ځائے دے

په هر ځائے چه قدمونه په خرام ږدی سل منته په دا مزکه په هر گام ږدی
زهٔ به چیرے آزادی ورځنے موم چه دلبره را ته تل د زلفو دام ږدی
که تر نوم او تر رنگ تیر شوم غم نے نشته عاشق هر کله قدم په ننگ و نام ږدی
نهٔ بهار شته نهٔ ساقی شته نهٔ میناشته اوس به څوک څما په لاس د میو جام ږدی
څوک ئے نهٔ پسندی په ما هسے بدنام شوم د نیکئی نام چه څوک په ما بدنام ږدی
په صحیح سالک هغه دے په دا لار کښے چه قدم د ترقئی په مقام ږدی
زهٔ د کښلیو په پښو سر ږدم که نور خلق خپل سرونه د پیرانو په اقدام ږدی
ستا د خیال فکر م نهٔ دروی له دله په زړهٔ گوتی م دا غونه صبح و شام ږدی

راشه گوره د خوشحال د خاطر وینے
په بیاض باندے چه هر حرف د کلام ږدی

په ناحق په ما منت کا ندی وگړے ما دا هسے منت نهٔ دے د چا وړے
زهٔ له ځایه دماغی په جهان راغلم ما دا هسے دماغ اوس نهٔ دے راوړے
که درست باغ د میوو ډک وما ته کښیږدے ترهمت پورے م څهٔ دے یو خسړے
په یوهٔ بیلک ئے نن ترهر چا په کرم بلئے هم دے په صبا راته نو مړے
هغه کوم سبق د ناز او د نیاز دے چه وما ئے په ایځی نهٔ دے راکړے
په خوږه خندا د خضر عمر را کا په ما نړی سره م بیا کا لکه مړے
یوځهٔ بند م د غما زه په غاړه پریوت لا تر اوسه گرځوم د غاړے پرے
له اصلی فولاده هاله تیغ رغیږی په وار وار چه ځنے لاړشی او سپینځړے
د جهان په واړو وُنو نظر وگړه هره وُنه خپل خپل خوند لری خپل زړے
زهٔ د یار غمونو درست په زړهٔ رنځور کړم لام نهٔ دے د زړهٔ حال وچاته سړے
د تازیانو په میدان باندِ غوټے وی گوته هم ورسے زغلی لبغړے
چه وچا و تر ئے شمار یا ئے بیان کړم هومره غریو م له فراقه نهٔ دے نغړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه مخ ئے په خپل کور په پالنګ بیاموند
چه خوشحال وو په طلب ورپسے ستړے

په سینه کښے م اوده مینه پھر جاگی څما ستا محبت کوره کیسی لاگی
د رقیب ویناے یاده شوه کڅۀ شوه سپینه خوله ئے په خندا راوڑه پھر بھاگی
په بازئ بازئ وژلی کتل نۀ شی څکه ما په مسخرو وژنے بیجا گی

زۀ خوشحال چه لاله ورایه وربنکارۀ شوم
په خندائے وے چه آؤ میرا بیراگی

په دا کلی کښے د پیر کښلی چونړ چونړ خلق دی وکښلی
ما په دوارو کښے یو یار کړ نورئے شمار کړ لکه کښلی
هغه هم هسے بدخوئے دے چه په زور راسره نښلی
کۀ دده له چارو وایم رائے هیڅ نۀ دی پریښلی
ولے څۀ کړم پرے مئین شوم چه څۀ کا وارہ بخښلی
خو مئین په هیڅا مۀ شے په بلا دی مئین لښلی
کاه کباب په جدایئ کښے کاه په وصل زړۀ وکښلی
عاشقان دی سینه سوی له اندوه سره اخښلی
په خمار هغه پوهیږی چه شراب ئے دی نوشلی
په دنیا کښے به هرچا وی په ارمان لاسونه مښلی
چه وما وته ئے فاش کړل څۀ رازونه دی پوښلی

د خوشحال غوندِ په عشق کښے
نشته نور په رنګ زبیښلی

پښتانۀ په عقل پوهه څۀ ناکس دی کوته سپی د قصابانو د جوس دی
بادشاهی ئے د مغل په زرو باثله د مغل د منصبونو په هوس دی
اوښ له پاره په خپل کور کښے ورغلے په اولجه د اوښ د غاړے د جرس دی
د نعرین لائق په نام سړینی دی له اوله کۀ دا نور ورپسے پس دی
بے ننګان د بے ننګئ کار و بار کا ننګیالی د ننګ په کار کښے هر نفس دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سرئے هورے قندهار بل ئے دمغار دے
تردا مینځ همه میشته واړه عبس دی

په هرکسب کښے چه ئے حبیب الله ئے — که له خدایه له رسوله نه آګاه ئے
په محشر به له تا عدل ایمان غواړی — که په تخت دپاسه ناست د ملک بادشاه ئے
نفسه تا داهسے زه مذبذب بین کړم — هم توبه هم ګناهونه څه ګمراه ئے
نورځوک څه لره بدخواه ګڼے ناپوهه — چه پخپله د خپل خوئ دځان بدخواه ئے
زمانه به د بدرنګ کا غړه مه شه — که هرځو په خپل جمال کښلے ترماه ئے
په خاتهٔ کښے ئے هیڅرے ثقل نشته — تل چه کښته پورته کیږی یوه ساه ئے
که په خپل ګمان کښے ځان وتاته کوه دے — وقضا وته په مثل لکه کاه ئے

د خوشحال ویسا په سخت ساعت په تاده
اے چه ته د درمانده ؤ پشت پناه ئے

په داځه که د بنګښ راته پرنګ دے — زه هم بنه یم ځما هم برغو ترځنګ دے
عقل زورد غوریه خیل تر بنګښ زیات دے — غوریه خیل را سره هم ولاړ په ننګ دے
د بنګښ نه هومره زور ویم نه تو سره — دا په کوم توکی له ما سره په جنګ دے
غوریه خیل که په ناکام ورسره زیست کا — په رضا ورته بنګښ نیولے تنګ دے
غوریه خیل او بنګښ دواړه مغلی دی — همیشه ورته مغل وهلے لنګ دے
که زه ګورے د ر د آ شام ورسره شمار یم — خوار هغه چه ئے له ما سره آهنګ دے
هرملنځ د سربازئ هنر څه زده — چه په دا هنر کښے سرشندی پتنګ دے
لا تراوسه ئے ماغزه په قرار نه دی — چاچه ما سره وهلے سر په سنګ دے
د ګیندړیو په څیګر کښے ګولئ دی — که لیدے چا ځما د بنګار تفنګ دے
لا په خوب کښے په لرزه پریوزی له کټه — چه د چا ترغوږ ځما د تورے شرنګ دے
که په دا دورم ګورے هغه زه یم — چه م داغ په خاطر اینے دا ورنګ دے
درست جهانم ومغل وته خیبر کړ — ځائے په ځائے ئے پښتانه وته قلنګ دے
څنګه څه لوئے دعوے لرم په زه کښے — ولے څه کړم چه پښتون واړه بے ننګ دے
خو طالع را سره هسے مدد نه کا — ګنډه تیرم ترفریده نه فرهنګ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دخوشحال دزړهٔ دحال نندارهٔ وکړه
کهٔ دتخت دپاسه کښینې هم ملنګ دے

تا په دوُو ستړکو ملکوُلے چه ئے واړوے مَلوُلے
په حیرانو عاشقانو سل بلا وے کړے نزوُلے
نهٔ ئے شمار نهٔ ئے حساب شته خلقِ دِ کړے مقتوُلے
رازم هیڅا بنکاره نهٔ کړ ځما اوښکے دی پدولے
نهٔ په سریم نهٔ په مال یم نهٔ په ملک یم نهٔ په پوُلے
پوه په نام ونګ نهٔ یم په فروعے په اُصولے
چه دعشق الا بلا دی همکی م دی قبولے
لاف م ستا د پالنګ وکړ کهٔ رسیږم تر مقبولے
هیڅوک نشته چه پرے پوه شی بنے خبرے دی معقولے
چارے واړه په قسمت شی نهٔ په ځلے نهٔ په ځولے
بخت په کور ورکړه خوشحاله
تار په تار زلفے مختوُلے

نهٔ چه هسے حکم نازکړے په وګړی په تاځهٔ دچا پوره د چا نیمګړی
د دریاب سره دریاب وی یوځو وخته بیا په هر لوری پراته وی اوبو وُړی
چه ئے خوښه پورته لوړے لوړے وړی دهغومانړئ وګورهٔ چه لوړی
لکه تهٔ ئے بیهوده یا وه باد وړے جهان څو دا هسے یاد لری باد وړی
طمطراق دجهان کل واړه عبث دے هوښیارانو وته کم دے ترخسړی
داچه تاوته ژوندی دی ژوندۍ نهٔ دی دا وما وته بنکاریږی لکه مړی
چه خوږے میوے لری خوشبوئ ګلونه په خپل باغ کښے دِ کښیښودی هغه زړی
چه آواز سره سړے بندی خانه دے دځاروی علاج په تړکیږی په پړی
جنتی دوزخی پټ نهٔ دی بنکاره دی خپل عمل دی په نوم نوم واړه نومړی

زلزله په جهان کړه شوه خوشحاله
د آسمان له شد تونوکنډے رغړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تهٔ هغه لیلیٰ ئے چه دِ تل په بخره ناز دے
زهٔ هغه مجنون یم چه م تل در پسے نیاز دے

ماوے خو یوزهٔ یم نن شهره په عاشقئ کښے
لاتر ما دَ نور وګړی لا لرے آواز دے

زهٔ ترعشق ځاریږم ترهغوچه عاشقان دی
واړه عشق پکار دے حقیقت دے کهٔ مجاز دے

رایشی له کومه ځائے په خو وکا په زړهٔ کښے
هیڅ پرے نهٔ پوهیږم عشق یوځهٔ سوزوګداز دے

هئے دَ خدائے دپاره تفحس را پسے مهٔ کړه
پلار ته وایهٔ نهٔ شی عشق یوهسے مخفی راز دے

تورے تورے زلفے کبود خال لکه کوتره
راشه کهٔ ئے کورے پرے بندی یوځهٔ شهباز دے

سکنړی دَ زړهٔ وُلی چه په شوند و کښے موسیږی
تیغ ئے دَ غمزے داځله لاشهٔ تیرهٔ ساز دے

هرځوک یو یو بُت لری خپل بُت وته سجود کا
بُت دَ خوشحال تهٔ ئے تل ئے تا وته نماز دے

تمامه شپه دَ ژمی په هئے هئے په ما تیریږی
چه تهٔ ځما طبیب ئے رنځ به لاځما زیا تیږی

دا سحر دے کهٔ مینه کهٔ څهٔ لا بله بلا ده
کهٔ هرځوئے له دله هیروم نهٔ هیریږی

خپل زړهٔ وته نظر کړم په دا هومره محبت کښے
یوهسے مستسقی شوچه په بحر نهٔ سړیږی

یوسف دَ زملے دے درست جهان پرے وو شندے
دا یوجهان لا پریږدهٔ چه په دوه جهان پیریږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دُنیا لکه حلوا ده بنهٔ شیرینه مزه نا که
حریص ئے لکه مچ دے باندِ غورزی نهٔ مړیږی
چه ننګ کا ننګیالی دی ورته اینبی دی دوه کاره
یا کام د ننګ حاصل کا یا د دوئ مینه سپیر یږی
که مشک وو که ګوهر وو همګی لاړل خوشحاله
وځان وته وګوره چه اوس څهٔ عمر تیر یږی

تورے ستړے ستادی بیا په تورو رنجوړی
دوه تورے بلادی پرے م وژنے بابا مړی
وخاندی وماته شونډے بوڅے په ناخوال کړی
دا فتنے بسیرے دِ بیا له کومه دی راوړی
زردِ کهٔ په درمړی په هیچادِ زړهٔ سوے نشی
زړهٔ لرے د کانړی بیاخپل ځان بولے بنهٔ زړی
هیڅ درنهٔ پوهیږم که ربستیا وائے که پیچے
ماوته دِ خولهٔ ده په خندا خندا نومړی
پټے پروتے ښے دی څهٔ به دم وهم وچاته
ماڅهٔ هومره نهٔ دی ستا فتنے ناسازے وړی
ماوے چه څما ده موذی یوړه سیاه چشمه
څهٔ شوکوته نیسی د پری هوسئ ستړی
تهٔ په داخیالونه په بشیوو غمزے موجونو
سیند د اباسین شوے چه خوخوبیړئ نغړی
څهٔ لره خوشحاله تا د زړهٔ قیصے بنکاره کړے
ستا د ظلم نهٔ دی ماوچاته قیصے سپړی

ترهرچانه د ربستینو کار اول دے خدائے پخپله د ربستینو سره مل دے
په معنیٰ قلپه روپئ ده مخ نے تور شه هرسړے چه په یارئ کښے په زړهٔ غل دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د بد بویو بد بوئی به پته نۀ شی
که په سل پردوئے ونغاړے بصل دے

که د زړۀ ستړکے دِ شته نندارۀ وکړه
د جهان په واړوچا روکښے خلل دے

اباسیند وته نظر کړه ودریږه
ستا د عمرد اوبو غوندِ چل چل دے

که د خولے وئیل دِ بنۀ دی په داځۀ شی
چه بشکاره دِ وعالم وته عمل دے

نۀ به زور پریږدی نۀ خوان نۀ ننۀ زوے
چه ناڅاپه نا تارُونه کا اجل دے

بدکردار به نیک کردار نۀ شی خوشحاله
د شیطان لښکرو لاندِ کړ قبل دے

تا یاری له مانه پریکړه که پښیمان ئے
بیا رادرومه هغه زړۀ نے هغه ځان نے

همیشه ځما د باغ زرغون طوطا وے
اوس خبر نۀ یم طوطا د کوم بوستان نے

زاړۀ هم کله ځوانان وو وارنے تیر شۀ
په زړو پورے خندامۀ کړه که ځوان نے

یوجهان دا د ظاهر بل د باطن دے
راته ووایه د کوم یوۀ جهان نے

که طامع په سر یرپاس کښینی گدائے دے
که وآزو ته دِ شا کړله سلطان نے

په بل ځائے م پیرزونۀ نے د یار غمه
ته ځما د زړۀ د مات کودی ریحان نے

غم الم به دِ ونۀ رسی و زړۀ ته
که د خپلے ژبے هر کله پاسبان نے

ته جو هر د لوئی نۀ لرے خوشحاله
د کم شناختو په بازار هسے ارزان نے

تا چه دانا سازے چارے دی راکړی
لا د خوا راسره نۀ ده بابا مړی

چه م هسے شان په خوارو ستړکو کورے
مادِ دا نا سازے نۀ دی په چا سپړی

ته په داحسن د کل غوندِ پیدا نے
بورے مور که بنا پیرئ نے راوړی

راته وائے صبوری در ځنه ځۀ شوه
تا په تورو ستړکونۀ ده له ما وړی

بیا په کوم توکی دا هسے بے قولی کړے
تا وما ته سپینه خولۀ نۀ ده نومړی

د تقوٰی سپاهیان چه ستا په کوڅه تیرشی
د غمزے په تیغ نے کښینوے په څړی

د خوښئ مفرح راعنایت کړه
تا د غم گولئ ډیرے دی رانغړی

گوره کوم به دِ په بخت په طالع مومی
خلقے دی په طلب درپسے ستړی

په پلۀ پلۀ درپسے څم د پریښونۀ نے
ځائیکی ویشتلی درومی له بغړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه مئین شوے درست دَ یار په رضا درومہ
اوس کۀ خپله رضا کړے خوشحاله پرے

تورو سترګو دِ په غوږ ودی خولے ایښے — په څو تار په تار پریشانے سره تښے
داځما دَ پریشانئ نه څۀ وائے — کۀ ئے لانورے اوږدے دی درته بلښے
نندارچی چه ورتۀ کوری کټ کوټ کیږی — دَ مخ نخښے دِ بلادی ګوښے ګوښے
ترلبانو دِ خجل آبِ حیات دی — په بانړۀ په سترګو سهم وتیر کښے
چه مئین شی قبلوی مکر دروهونه — په یارئ مِ قبول کړے کۀ بنګښے

زۀ خوشحال دِ دَ بدئ نیکئ ګواهی لم
دَ بنائست مخے دِ نشته په خوئ و شے

تۀ چه دا دماغ لرے — څوک به څۀ فراغ لرے
توره شپه دِ دواړه زلفے — پکښے مخ څراغ لرے
دا دِ خال دَ وروځیونۀ دے — دا دَ زړونو داغ لرے
واړه باغ دے په ګلونو — یوځۀ کښلے باغ لرے
کۀ ساعت دَ ساعت دا دے — چه په لاس اَیاغ لرے
چه طوطی دِ دَ په لاس کښے — څۀ نظر په زاغ لرے

بیا وکوم لوری تۀ ورک شو
دَ خوشحال پسراغ لرے

ترمکے ترمدینے لاړے حاجی — لا دَ نفس له خویه هیڅ نۀ ئے ناجی
صفائی دَ زړۀ پکاردہ نۀ دَ بیرے — څو به بیړه ګرځوے شانه عاجی
صوفی لاڅ دَ سلوک کا هم دا لاڅ — سراسر ګنړه دَ دۀ بے منهاجی
په مُلا تورہ تیارۀ شوه چه حق پوش شو — کۀ په لاس ئے فتاوٰی وی سراجی
علم څۀ دے په معنیٰ کښے ګبینۀ دے — کا سه هم ورلره بویه خراجی
دا تاراج لکه شیخان کا ندی په مکر — آفریدی نۀ دی داهسے تاراجی
دائے سحر دَ بابل دَ مزکے راوړ — چه درست اوښ په ګټ کښے وماندۀ حاجی
نوربه وساتم خپل رخت په خپل صندوق کښے — په دا ملک دہ دَ بنۀ رخت بے رواجی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نۀ جیحون دے نۀ سیحون دے لا افزون دے
د خبرو دریابونه مواجی

کۀ صاحب په لارے پلے، نفر سور څی
خوهم بیا صاحب صاحب پاجی پاجی

له اوله تر آخره په جهان کښے
د سیّد غوندِ څوک نشته معراجی

زۀ خوشحال ختک په حب د اهل بیتو
خارجی او رافضی کړم اخراجی

تور وربل به ئے وچاوته غوږیږی
په وصال به ئے د چا تهتر سرپیږی

د لبانو له بوسے به ئے بس نۀ کړم
په خوږو نباتو کله څوک مړیږی

نور به کومه آرزو لری په زړۀ کښے
چه ئے سترګے کښلی مخ وته غږیږی

عاشقان تر تورو خاورو لاندِ نۀ مری
په دا سپین ویښتۀ به څرنګه زړیږی

بیا به تورے بلا لا تورے بلا کا
چه ئے تور رانجۀ وسترګوته اوږیږی

د بنړو ناوک ئے نۀ دری تر زغرو
څوک به هسے ناوکیو ته ښکیږی

د فراق غمژن په مرګ تر ژوندون خوږ دے
چه په غم کښے آه آه سره سرپیږی

د جهان عمارتونو ته نظر کړه
څۀ نوی نوی شی څۀ نږیږی

ماوے نن د زمانے ژبه ور زۀ یم
یوۀ کس وته څما ژبه اړیږی

د دے باغ ګلونه لږ نۀ دی خوشحاله
تازه تر تازه تر و نور غوږیږی

تازی سپے چه په نمړۍ موے ویږیادے
سپین وسرۀ باندِ شیندۀ کۀ په بهادے

په کوټه باندِ دا دواړه حبطه دی
چه د تش په غولی کړځی هم بلا دے

کۀ ئے تۀ په منت موے وائے مۀ خله
کۀ د چا په باغ کښے بوټے د کیمیا دے

بخت چه کوږ شی یوۀ تن نۀ دے راوړے
چه د خدائے باندِ پیرزوے د هرچا دے

د آسمان پیرے دایم نۀ وی یکسانے
کۀ ئے څرخ دے نن په تا کاندۀ په مادے

یوه ورځ به ئے دا رنګ زیبائی نۀ وی
را شه کوره چه ګل څۀ رنګه زیبا دے

د هرچا یاران دا هسے بے وفا دی
کۀ خو یار د خوشحال هسے بے وفا دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تہ دِ اوسے پہ دا شہر یارئ کښے
کہ زہٗ عُمر تیروُم پہ داخوارئ کښے

غم دَ یار دَ جفا هیڅ راسرہ نشته
خدائے دِ مابے پته نہٗ کا پہ یارئ کښے

هغه یار دِ خدائے له هره رنځه ژغوری
زہٗ کہٗ پروت یم همیشه پہ بیمارئ کښے

پہ زارئ زارئ به ما پہ ځان مئین کړے
کہٗ ئے مینه زیاتیدله پہ یارئ کښے

لکه بازدَ زړہٗ پہ وینو آموخته شو
بل به نہٗ وی هسے ترک پہ خونخوارئ کښے

دَ ریبار منت ئے ډیر راباندِ بار دے
چه م یارموندہٗ دَدہٗ پہ ریبارئ کښے

خدائے پہ ما باندِ نادان کړ بخت م تور دے
کہٗ ویښتہٗ چوی پہ ډیره هوښیارئ کښے

ناقرار دَ خوشحال زړہٗ هیڅ نه شہٗ دے
یو زمان دِ نہٗ وی بند پہ قرارئ کښے

جهان شرم نام ونګ دے
کہٗ دا نہٗ وی جهان رنګ دے

چه وفا ورځه نشته
ګل به څہٗ کړے چه خوشرنګ دے

چه ئے عشق ترسره کړے
نور څوک نشته خو پتنګ دے

دَ بنائست کمے ئے نشته
ولے یار م پہ زړہٗ سنګ دے

ترکنځلو ئے ځار یرم
بیائے چا سره دا جنګ دے

پہ بناغلیو جهان ارت
پہ غوڑلیو باندِ تنګ دے

بنہٗ چه راغلے پہ غیږ کښے
بیا م لرے دَ زړہٗ زنګ دے

چه خوشحال باندِ ناستے کا
دا پوزے نہٗ دے اورنګ دے

چه پہ خپل عیب بینا شی
سړے هاله درست دا ناشی

نادانی ئے پته نہٗ دہ
چه له ځانه ئے ټنا شی

دَ بلا اندوه به نہٗ کا
چه له خدائے سره آشناشی

پہ دُنیا به دین حاصل کا
چه خبر پہ لن تنا شی

پہ جهان باور پیدا کا
چه ریښتینے ئے وینا شی

چه غنی پہ قناعت شو
له هرچا ئے استغنا شی

ابدی ژوندون به خپل کا
چه خوشحال غوندِ فنا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه توفیق ورکوی رب العالمین دے — له آزاره په ستنه اوسه درست دین دے
په هرلورچه غورزوی سړے هوا ده — دَهوا فرس وهرلوری ته زین دے
څوک چه خوښ نه وی له ځانه هیڅوک نشته — هر سړے خپسرداناګنړی یقین دے
په بهبود دَخپلے چارے هرڅوک مټ کا — په خپل زړه کښے هرتنګ خوځ بالانشین دے
دَدستار دَسوری رنګ واړه یکرنګ دے — که دستار په سر یا شوریاتور وسپین دے
حبشی که په ځان نوم دَکافورکښیږدی — سرتر پایه وهرچا و ته مبین دے

آزمیښت دَ دهر ګوره خوشحاله
چه مَلک دَشیاطین سره قرین دے
چه خون په غاړه کیږی له دے کاره څۀ خوغم دے
یا ران ځما په ګور کښے زۀ په کور کښے یم ستم دے
چه هومره بنۀ ځونه په داخاوروکښے په ګوردی
چه دوئ لره وردروم ګور وما وته اړم دے
پیری راغله زبون شوم کۀ څۀ نورځۀ علالت شو
چه څۀ زۀ کړم هغه نۀ شی هغه ملک هغه عالم دے
کۀ بنۀ وایم وچا ته هم ئے بدنیسی په زړه کښے
یا بخت دے دَ مغلو یا ځما څۀ عقل کم دے
نۀ بخت دے دَ مغلو نۀ زۀ هیڅ په عقل کم یم
داکل واړه پیری ده چه م کار درهم برهم دے
مغلو ته چه ګورم هغه هسے مغل نشته
دَ تورو وارئے تیرشواوس ورپاتو یوقلم دے
پښتون په زړونیسی په فریب په تهیتالونو
په مائے اثر نۀ شی لا په ما دَخدائے کرم دے
نۀ چې یم نۀ قارغۀ یم چه په کړومړو ګرځم
یا باز یم یا شاهین یم په خپل بنکارم زړۀ خرم دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ماغوندِ نورهم وے په دا کار به ډیر خوشحال وم
چه ماغوندِ څوک نشته ځکه پروت را باندِ غم دے

ایمل خان دریاخان دواړه په ښهٔ رنګ تیر شو په ننګ کښے
د دواړو په ماتم کښے ځما تل آه و ماتم دے

چه تاکورم حیران شم چه تهٔ څهٔ رنګه بشرے ئے
زوړے ئے له حورے کهٔ سړے پری پیکر ے ئے

د ماء طین له میانه څوک داهسے پیدا نهٔ دی
په دا حُسن جمال ترمیاشت ونمړه لا بهتر ے ئے

چه شوند وته دِ کورم تریاقوتو لا تیرے کا
چه زلفو ته دِ کورم په عنبرو معنبر ے ئے

کهٔ هرڅو د لاله ګلونه ښهٔ دی په چمن کښے
په دواړو انګیو داغ د واړو د ځیګر ے ئے

کهٔ خواردی هغه خواردی چه محروم دِ له دیدار دی
کهٔ سخ دے د هغودے چه ئے تهٔ نور البصر ے ئے

کهٔ آه نالش مِ وکړ مُسلمان نهٔ یم کافر یم
را واخله تیره تُوره کهٔ مشتاق ځما د سر ے ئے

په حُسن په بنائست کښے دِ څوک سیال په جهان نشته
کهٔ دا عیب دِ نهٔ وے چه په زړهٔ لکه حجر ے ئے

زهٔ ستاله ډیره غمه هیشه په آه واوه یم
په څو په آسائش بے غمه پروت په خپل بستر ے ئے

خوشحال و ته دِ ووے چه بے ما به په څو پائے
په ښو به ژوند ے پایم تهٔ مِ خود په حال خبر ے ئے

چه د پلار په نصیحت نهٔ کا ژغرے د هغهٔ خویه دا نه شه په مرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د پرون ورځ به نن حلاوت نه وی
کله ځنے کورے ورځ په ورځ ده کهتری

لکه مونږ د با باخویه وو په نغته
اوس په دا دور له چا طمع لرئ

کهٔ له پلاره خویه مومی په رائے درومی
کنړه نکړه زیست روزګارد پسرئ

نورے واړه سرشتے درهم برهم شوے
خو په ځائے ده سرشته د نوکرئ

داهم هیڅ حق د نمک ته نظر نهٔ کا
په نایافت کښے بهانه غواړی نرئ

اوس په سپینه ږیره زرغواړه خوشحاله
کهٔ په زړهٔ لرے دعوے د سرورئ

چه په سب د ابوبکرؓ د عمرؓ دی
کهٔ په خولهٔ کلمه لولی هم کافر دی

د هغو په مرګ ثواب کتلے بویه
چه بدګوډ ذی النورین ودحیدر دی

رافضی خارجی دواړه باور اوکړه
نرسکانو ترکوسانو لا بتر دی

ترمهدی پورے یوولس دی یادولس
چه همه خویه نمسی د پیغمبرؐ دی

همه واړه امامان وو د خپل د دور
همه واړه د دُنیا د دین سرور دی

له اوله تر آخره کهٔ پکړو هیڅ
د بتولؓ اولادم واړه نور بصر دی

چه دوستی ئے د سیّد نهٔ وی په زړهٔ کښے
د هغو سر یوتل خاورے په سر دی

ترهلالؓ او تر بلالؓ ئے صدقه شم
لا رانجهٔ م د پلهٔ خاورے د بوذرؓ دی

په سروزرو کښے کهٔ د قدر نشته
صحابیؓ د پیغمبر واړه سرهٔ زر دی

زهٔ خوشحال خټک هغه سنی مذهب یم
چه یاران راباندِ واړه برابر دی

چه نظر دِ په اغیار هورے دلے وی
حُما او بنکے په بارخو ولے ولے وی

تهٔ چه هسے بنائسته ئے کرم خونهٔ یم
کهٔ م تل در پسے هسے واویلے دی

چیرے نهٔ چه څهٔ دِ وُرسی خاطر ته
کهٔ له چا سره م تشے تسلے وی

یوځل بیا سرتوره مسته رابنکاره شه
چه گیسو دِ په سپین مخ شملے شملے وی

تهٔ به وائے د کلاب په کل شبنم دے
چه بارخو دِ د نماستی په وخت خولے وی

د رقیب له ویرے بل لوری ته ستړے
اود زړهٔ م ستا د مخ وته خملے وی

په عاشق باندِ د پلار نصیحت اور دے
اوس به چیرے دَدے نور خلق په خولے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه له ستړګوئ غږیږی غنم رنګه جدائی ئے لکه قحط د غلے وی
د ناپوهے خوبا تول مهر په یارشی د هوښیارے په سرخوتیرے ماملے وی
زهٔ خوشحال به د وانهٔ وړم له دیدنه
په دربارکهٔ د هرخوپروتے ګلے وی

چه دانا نهٔ کړے ګردش د زمانے نور به زده کړے دانش د زمانے
زر پیرې لرې د ستړګو په څنبل کښے خبردار شه په روش د زمانے
په یوهٔ زمان د شاه بیا د ګدائے کا څهٔ باور په نوازش د زمانے
په خزان کښے د بوستان په وُنو راشه څهٔ ووځهٔ شو بیا پوشش د زمانے
کله مزکه سپیرهٔ د اک کله ګلونه څهٔ باور په آرائش د زمانے
د سفله غوندے ورکړه رانیول دی غړه مهٔ شه په بخشش د زمانے
د حلوا سره ئے زهر هلاهل دی کهٔ لذت لرې خورش د زمانے
پت اُمید د پلار د خویه سره پرے کا څوک د نهٔ غواړی سازش د زمانے
شاه جهان بادشاه د چا په بند بندی دے راشه ګوره آزمائش د زمانے
حقیقت ئے سرتر پایه رامعلوم شو راته مهٔ کړه ستائش د زمانے
زرعلته زرفساده زر عیبونه پیدا کیږی په کاوش د زمانے
چه ئے شاکړه د دُنیا وآسائش ته هم هغه کا آسائش د زمانے
چه دا هسے ئے کړے د زهٔ په یاددی
لاخوشحال لری خواهش د زمانے

چه م زهٔ پسے میښ میښ شی صبر وهوش پسے لیښ لیښ شی
د هغو شوند و شربت به یا نصیب چه کله چیښ شی
په پرهار م ظلم کیږی چه توبری څنے وکیښ شی
په خزان کښے نورے وُنے توان لری چه سرو سریښ شی
زهٔ ئے ناسته په پالنګ یم
که خوشحال له خوبه ویښ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه یوه م ده نیولے
په ربښتیا م ده نیولے

لکه یو یو مردے نیسی
هم هغه م ده نیولے

څوک د هیڅ ملامت نه کا
عجب بنه م ده نیولے

اوس به نه دومی له مانه
چه له زړه م ده نیولے

په هیڅ رنګ به پریښوه نشی
چه ترے پښه م ده نیولے

ګوندوی را باندِ راشی
سر پره م ده نیولے

که نه وینم په ستړګو
بنائسته م ده نیولے

ګوندِ سمه شی عالمه
که ګډه م ده نیولے

د خوږ وهیله خوشحال کړم
چه ترخه م ده نیولے

چه ئے هسے لایعقل لاړم په شومی
دا پیاله د چا له لاسه ده څه نومی

خدایه څه د یوباد وړے زړے راکړ
چه همیش د عشق د باد په مخکښے دومی

په دا هم لا رقیبان کا په ما رخه
چه م زړه د یار په یاد و راحت مومی

ما لاحرف نه وو له یاره بدل کړے
د سحر خروس د وویشت شی په کومی

بیلتانه څما په قصد چاړه تیره کړه
د قصاب دلسوزی نه شی په ورغومی

واړه دوک م د آشنا د بیلتانه دے
په دروغه سر ترم بهانه د دومی

چه ئے بے له دغه بل خیال نشته په زړه کښے
د خوشحال دلبره کومه ده څه نومی

چه د عشق په ګرانه لار کښے دیر خطر دے
هر قدم چه پکښے اخلم چار د سر دے

که سینه م سره چاک کړے وبه وینے
چه م ستاله غمه وینے درست څیګر دے

ستا د مهرباران نه اوری چه شین شی
ما په زړه کړلے ستا د مینے کر دے

ستا په راز به ژبه هم نه کړم خبره
تل تر ژبے رسیدلے راز سمر دے

زه له عشقه خبر نه یم چه عشق څه دے
هومره آورم چه له حسنه ئے اثر دے

چه ئے عشق ترسره کړے هغه کم دے
په دا کار کښے لاف وهلے یوه هر دے

صبر مه غواړه له ما د عشق په کار کښے
جو دا نه صبر په ما باندِ لوئے غر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عاشقی لازۀ تۀ نۀ ووچہ پیدا وہ نۀ چہ ما وتاکلہ کړے دا ھنر دے
خوحما طالع بنۀ نۀ دے یارجفا کا کنړہ کوم یو پہ وفا ترما بھتر دے

دَ عشق غم لہ خلقہ پټ لرہ خوشحالہ
څۀ ئے پټ کړم چہ جھان څخہ خبر دے

چہ پیدا شوہ جدائی کشکے نۀ وے آشنائی
دَ بلبلے بخرہ نول دہ دَ کل بخرہ زیبائی
تاچہ شان دَ لیلیٰ واخست کۀ مجنون شم رابنائی
دَ لیلیٰ دپارہ سر شو خوار مجنون پہ کڈائی
چہ عاشق شو قبلوی دِ پیغورو نہ رسوائی
ستا پہ درد دھان وھلے درتہ ناست یم دوائی
کۀ پَل بل لوری تہ واخلم تۀ ئِم بولہ ھر جائی
چہ بہ زہ بے تانہ پایم بے جیبی لویت پائی

چہ ئے وُلیدے پہ ستر کو
خوشحال څکہ تا ستائی

چہ ئے درے څیزہ حاصل وی دَ ھغۀ خوبنی بہ تل وی
اول خپل صورت بناغلے بیائے بنۀ صورت واصل وی
غہ دریم وایم چہ کوم دے دَ دُنیا دولت ئے خپل وی
چہ پہ داکښے ئے یو نۀ وی پریشانی بہ ئے پہ دِل وی
چہ ئے یو وی پہ دا درے کښے غم بہ تل باندِ نازل وی
ھرچہ درے واړہ ئے نشتہ کۀ چا مړ کړو دے دِ تل وی

دَ خوشحال وئیل معقول دی
پرے بہ خوبن شی چہ عاقل وی

چہ بندی دَ یار دَ زلفو پہ کمند دے بھانۀ ئے دَ خلاصئ دغہ بند دے
سرِم یار وتہ پیشکش کړلا شرمیږم دَ نادارو عذر پټ نۀ دے څرکند دے
نۀ شکرے دی نۀ قند دے نۀ نبات دی دَ شھئ دَ شوند ولاکوښے بل خوند دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څۀ صفت دَ هسے حسن په غزل کړم — چه په نولس بابه کل شکل پسند دے
څۀ به غم دَ مال وملک دَدین ودل کړم — چه لاستالہ غمه روغ کړځم انند دے
یوۀ زړۀ لره یوه آشنائی بس ده — نور به ډیرے یارئ نۀ کوم سوګند دے
په خپل زړۀ به م داهسے شنډے نۀ کړے — کله هم دَ عاشقئ کار پسند دے

دَخوشحال خټک دِ ستا په سر سوګند وی
کۀ ئے بے له تا په نورځۀ زړۀ خورسند دے

چوهړے دَخپلے خونے په بوئ خوښ وی — ولے بوئ ئے په چمیار باندِ آتش وی
نور وګړے دَچمیار له خونے تښتی — په چمیار دَخپلے خونے بوئ دلکش وی
هسے رنګه دَهرچارے تفاوت دے — یو تربل پورے مطعون او مشوش وی
دَ دهقان فهم په پاله یا په یوم دے
دَ سپاهی نظر په تُوره په تیرکش وی

چه دلبره دلربا ده هغه تۀ ئے — چه خودرا یه خود ستا ده هغه تۀ ئے
چه دَ کبر دَ فتنو دَ خرخشو ئے — په همه عالم غوغا ده هغه تۀ ئے
چه مشتاق دِ دَ خندا ئے هغه زۀ یم — چه دِ تل وما تر شا ده هغه تۀ ئے
په جهان کۀ بنائسته وو بے حسابه — چه په واړو دِ خندا ده هغه تۀ ئے
دَ پسرلی ګلونه څۀ دی چه ئے ستایم — تر ګلونو چه زیبا ده هغه تۀ ئے
ستا په مخ م په څراغ نشته و تنه — چه دَ تورے شپے رڼا ده هغه تۀ ئے
خپل عاشق سره وعده نۀ کړے ترسره — چه په عهد بے وفا ده هغه تۀ ئے

کۀ هرڅو دی دَخوشحال معشوقے ډیرے
چه ورتیره تر هرچا ده هغه تۀ ئے

چه ایرو غونډے پروت په دربار نۀ وی — دَهغو به وآسمان وته لار نۀ وی
عندلیب چه په ګل رائشی نارے کا — وائی داچه یوه ورځ به ګلزار نۀ وی
دَ زړۀ چاک م به په هیڅ سره ورنۀ شی — خو ګنډے ستا دَ زلفو په تار نۀ وی
ستا دَ زلفو نوم به نور په خولۀ وانخلم — دَهوښیار پاڼو تور مار سره کار نۀ وی
ترهنده وے مشه کم دَ یار په پت کښے — چه ئے هیڅ له بله اوره نه پار نۀ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ماهر زمان اختر دے چه یار وینم — بے اختره به هاله شم چه یار نهٔ وی
په کوم ځائے م به مرهم کښیږدے طبیبه — چه د یار د غشی نخښه پرهار نهٔ وی
په هغهٔ د عاشقئ نوم حرام دے — چه په یار پسے ئے درست صورت خوار نهٔ وی

هیڅ مانړه له یاره مهٔ کوه خوشحاله
د دُنیا ساعت به تل په قرار نهٔ وی

چه په زلفو عنبر سا ده هغه تهٔ ئے — چه په شونډو شکر خا ده هغه تهٔ ئے
چه نازک ئے دے اندام د ګل تر پانړے — په قد بنهٔ تر عرعر لا ده هغه تهٔ ئے
که هر خو شی په جهان محبوبے دیرے — چه خوشر نګه تر هر چا ده هغه تهٔ ئے
له عذابه له وبالهٔ د ترس نهٔ شی — چه په دا دور تر سا ده هغه تهٔ ئے
چه اثر م د ژړا ورباندے نهٔ شی — چه په زړه حجر آسا ده هغه تهٔ ئے
چه تمامه شپه د خوب په ما حرام کړ — چه د ستر سحر بلا ده هغه تهٔ ئے

چه له مینے ستا په سر لوړی خوشحال دے
چه د دهٔ د سر قضا ده هغه تهٔ ئے

چه ئے عمر د خا رویو سره تیر وی — زیست روزګار د هغو هم په هغه خیر وی
چه شیطان غوندے راندهٔ شی خوک ئے څهٔ کا — که هر خو ورځه علم هُنر پیر وی
خُوانان وا په برابر نهٔ دی په وزن — خُنے من خُنے نیم من خُنے نیم سیر وی
که په زړهٔ باندے پراتهٔ دی زر غونه — چه م یار په نظر کښیوزی وا په هیر وی
د شکرو ترحلوا به ئے لا نهٔ خورم — که د یار له لاسه زهر یا کنډیر وی
د نهٔ مخ په نندارهٔ به لکه روغ حُسن — که په تن م پرهار و نه د شمشیر وی
هر عاشق د عاشقئ ته هوس نهٔ کا — د عشق لاف د هغه خُوان کاندے چه شیر وی
دریغه بیا را سره زر غا په غږئ شوے — چه فلیل په زلفو پورے د اجمیر وی

د خوشحال ختک خو کښلے مخ پکار دے
که د سوات که د پکلئ که د بُنیر وی

چه په زړهٔ ئے ستا د غم غشے سیده شی — قرارے به ئے له دله رمیده شی
همیشه به ئے سرا یښے په زنګون وی — په فکرت به ستا د زلفو خمیده شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تورے سترگے تورے روخے سرہ زیب کا
بیا پہ تیرہ چہ وسمہ پرے کشیدہ شی

پہ تہتر باندِ ے خط د ویښتونہ دے
دائے سورے دخڑئی دے چہ لیدہ شی

ستا خوبی څما پہ پوھہ ډیر تیرے کا
د یوسف خوبی کہ ډیرہ اوریدہ شی

پہ بنڑو باندِ م پښے پہ احتیاط ږدہ
چیرے نہ چہ م بانڑہ پرے خلیدہ شی

څان و زڑہ م ھغہ لور وتہ پرواز کا
ھغہ څائے چہ بنہ دلبرہ شنیدہ شی

زہ پہ دا سبب پہ دوو سترگو مئین یم
چہ څھرہ د بنویارانو پرے لیدہ شی

لہ قسمتہ زیاتے مہ غواړہ ناپوھہ
وھرچا تہ خپلہ برخہ رسیدہ شی

لاس پہ لاس ے کړخوی ھنر آموزے
چہ بشکارہ د ھنرمندے کشیدہ شی

پہ ژړا بہ م ونہ غلوے خوشحالہ
کہ د سرے وینے روانے تردیدہ شی

چہ بنیرے وماتہ وکړے ژوندوے م
چہ م یاد کړے پہ کنځلو نہ انوے م

داچہ وائے راتہ خیر کورہ چہ مو رشے
کہ تمام عمر د کورم مړوے م

غما زانو اغزی توئی د غما زئی کړل
چہ د دوئی پہ وینا غوږ کړے یرخلوے م

ماخپل زڑہ وتہ وئیل چہ اے بدخویہ
خہ پہ ھر صورت مئین شے سوبرو ے م

وے ے عمر م پہ دا بدخوئی تیر شو
خہ دا اوس راتہ وئیل کړے اړوے م

کہ م سر پہ عشق کښے درومی ھم د لارشی
خپل وزلی راتہ شمارے ویروے م

کہ د زھرو پیالہ راکړے ھم بہ وایم
خدائے د خیر وتا درکا ژوندوے م

چہ کھے پہ مخہ را ئشے کنکس خورے
یو ترشا نظر ونہ کړے خورے م

کشکے زہ درباندِ نہ وے مئین شوے
تا نادانے مینہ نہ زدہ پخوے م

ماخوشحال خہ پہ ذات دورنگی نشتہ
د زڑہ حال م درمعلوم دے وے م

چہ دروے پہ انگنہ کښے درست انگنہ سرہ یوکل شی
د مبنکو بوئی را پاسی چہ د تار پہ تار کا کل شی

چہ سترگے کړے ورپورتہ پہ نرگس شی بلا سازہ
چہ زلفے کړے نمودے حبطہ وارہ سنبل شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَملا دَ ویښتهٔ فرق به دِ هیڅ یو سره ونهٔ کا
کهٔ واړه دانایان مِ په دافکر تأمل شی
عالم وائی وماته له بنهٔ مخه صبر وکړه
حیران یم له بنهٔ مخه په څوصبر وتحمل شی
دَ خوشحال خاطرے هسے څنے یوړو تورو سترګو
لکه صید دَ شاهینو ترمنګل شی

چا به راکړه په پالنګ داهسے کښیلے — کهٔ مِ نهٔ وے په ازل په قسمت کښیلے
شیخ دَحور وصفت کا زهٔ دَ دلبر و — داځما هغه دَدهٔ دعوے پریښیلے
عاشقان ئے صد هزار دی په هرلوری — سرګشته حیران پریشان ګونه زبیښیلے
په دربارئے سنا سی شه ورته کښینه — تار په تار دَ سرو ویښتهٔ ایرے منښیلے
کهٔ څو دَ خلقو جونه بنائسته دی — مایوه ده غوره چونړ پکښے وکښیلے
لا به کله نندارهٔ دَ هغه مخ کړم — چه مِ کړه دَ خاطر ده پسے ښیلے
دَ هغے پیالے مستی لرم په سر کښے — چه پرون مِ دَ ساقی له لاسه څښیلے
نهٔ دَ منښکو پتیدنه نهٔ دَ عشق شته — په ازل ئے نهٔ دی دا پردے پوښیلے
چه مِ تل دَ مخ ثنا وائے خوشحاله
په صله مِ سپینه خولهٔ درته بخښیلے

چه ګلرنګه معشوقه لری په کور کښے — دَ صحرا سیل دِ وسیزی په اور کښے
په هجران کښے مِ ژړا هغه خندا شوه — چه مِ یار سره خندا وه په بیور کښے
لکه لوند خرڅوړے تاؤ کړے نم ئے نهٔ وی — بیلتانهٔ هسے نجوړ کړم په خپل زور کښے
دَ عشق شور دِ دَ عاشق له دله نهٔ ځی — په جهان ئے فیروزی ده په داشور کښے
په هرځائے چه دَ رندانو مجالس وی — ترقیامته به یا دیر مِ په څلور کښے
شور و شر به دَ رانجا په جهان نهٔ وو — کهٔ دَهیر صورت پیدا نهٔ وے په شور کښے
کهٔ خبر دَ درخانئی له مخه نهٔ وے — آدم خان به څنے څهٔ غوښتل په کور کښے
پښتنے جونه دِ زلفے باد ته نیسی — چه شمال ئے بوئی راوړی په رنتهبور کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَعاشق له نام ونګه سره څۀ دی څۀ م غم کۀ آشنا مومم په پیغور کښے
دَخوشحال دَ زړۀ م ښه نندارہ وکړه
سمندر غوندِ بازی کا په بل اور کښے

چه له وړایه راخړکنده مسته شا شی دَجمال ئے په خورنګه تماشا شی
چه پلو په مخکښے وُنیسی ما ښام کا چه پلو له مخه لرے کا صبا شی
دَ جمال خوبی ئے زیاته ده ترنمره چه دیدن وته ئے غټ کوری په چا شی
تریانۀ پورے ئے کوړه شی کوتره تروئیل پورے کونګ کویا طوطا شی
حبشی زلفے ئے پاس په سینه څانګی یمانی بارخوئے کل غوندِ نما شی
مرګ م سل ځله قبول بیلتون دِنۀ وی دَدے هسے یا ربیلتون ترمرګ بلا شی
په مانړی ئے مُرده شویو کړه عید وی په خندائے جوهری کړه ژړا شی
تورے خاورے دَ رقیب په سر کا توئے چه کیله له مینځه وُباسی پخولا شی
چه په نۀ لیدوئے نۀ ومړے خوشحاله
ځکه هسے دَ جهان بلا په تا شی

چه محنت په ځان قبول کا نو راحت شی چه عارف دَ مصیبت شی عافیت شی
کۀ فلک ئے دَ مزری په خولۀ کښے ورکا خدائے دِنۀ کا چه عارف پکښے غارت شی
لکه با دکلمے ئے مخ کله ئے شا ده بیهوده غرور دَ هرچا په دولت شی
یو لاله په غوړیدۀ بل ژړیدۀ کا شګفتن دَ باغ دَ کلو په نوبت شی
دَ یوۀ مانړئ شی سرد بل نړیږی په جهان کښے نوے نوے عمارت شی
واویلا ژړا نارہ ساړۀ آهونه خوهم دا په ورځ وشپه په هرساعت شی
داهمه چارے دَ دۀ دی چه راکیږی یوه خدایه کور دِ وران دَ محبت شی
هغه شان لکه په تور وواوس په سپین دے
دَ خوشحال مجاز به کله حقیقت شی

چه راغلے په حیله دے عقل ځکه عقیله دے
کۀ مثال ئے له ما غواړے عشق مزرے عقل نیله دے
آشنائی ئے دَ جمال ده چه مئین په جمیله دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پروانہ پرے پرپرے کا اورخو بل پہ فتیلہ دے
خوار مجنون دَعشق پہ کارکښے سپک پہ قام پہ قبیلہ دے
هم خالق تہ هم مخلوق تہ واړہ کار پہ وسیلہ دے
دَخبرے پہ میدان کښے
نن خوشحال ختک قیلہ دے

چہ بسکارہ پہ آرائش کښے شگفتہ شی صلوات ئے پہ جمال باندِ گفتہ شی
آشفتہ کا ندی روزگار دَ پرهیزگارو چہ ئے زلفے پہ عذار و آشفتہ شی
چہ ئے نڑ وینم زڑہ هسے ځلبلا ند شم لکہ گل لہ عندلیبہ نهفتہ شی
چہ دَغوبړو دُرے نڑ وینم پہ ستر گو دُر گوهرم پہ هرهر بانړہ سُفتہ شی
دَ وصال پہ وخت هم خوب دَعاشق نڑ وی تروبے وختہ پہ هجران پہ خوخفتہ شی
بنڑ خوداچہ ئے برقع پہ مخ پرتہ دہ اوگڑ نڑ پرے بہ وگړے آگفتہ شی
زڑہ م وائی چہ ورتلے پہ درئے ایل کړے پہ هرځائے چہ بنہ محبوبہ شنفتہ شی
وخوشحال تہ دَدے باغ غنچہ بسکارہ وہ
چہ بہ دا رنگہ گلونہ شگفتہ شی

چہ ادب لری سړے سړے هالڑ شی بے ادب سړے سړے کلہ بالڑ شی
خڑ پتونہ ئے پہ شمار پہ حساب نڑ دی گڑ پہ چا دَآشنا یئ پت پالڑ شی
چہ همت دَ سړی خو قدرئے هومرہ دَ تمیز پہ تلہ هرسړے تالڑ شی
دولت مند سړے هغہ بللے بویہ چہ لہ سیندہ ئے جدا دَچا والڑ شی
هرسړے چہ دولتمند شی گڑ داناوی پہ هرکار کښے دِ نظر پہ خپل کالڑ شی
گڑ دَ تورے کار دَځوان دے یا دَنورخڑ مصلحت دے دَهغڑ چہ پہ زالڑ شی
دولت مند دِ پہ هُنر پہ علم مت کا گڑ هرخو بنائستہ مخ وی بیا پسالڑ شی
څوک دُنیا وتہ مړیونہ دی خوشحالہ
شاہ ځلمو وتہ دَ لوبو چنغالڑ شی

چہ پاندڑ وتہ آسمان ښیئے یا ستوری وایہ پوندبہ ئے پہ کومو ستر گو کوری
رنڑا ورځ پہ بناپیرک باندِ تورتم شوہ روښنائی دَ نمر بنکاریږی پہ هرلوری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ څښتن ورته زوړل کا یا کنځل کا
مړینے هم په زړه کښے د څښتن زوی

بیا به شنے په پانړو نۀ شی وُچے وُنے
که باران د بشکال په شیبو وُوړی

زور قوت دهر چا سم برابر نۀ دے
څوک له ځایه زوړ وړ شوا څوک کمزوری

راشه نن دِ د نخاس نندارہ وکړه
یو کالے په بها پیری پال نے پیړی

چا د سر د پاسه سُور مندیل ترلے
څنے هسے خو د حیران کوزی سر توړی

د چا حکم د چا لاس ورباندِ نشته
په خپل بخت په خپل قسمت پوهیزی غوړی

په تلوار په اضطراب چه صبر نۀ کا
د خوشحال خاطر سیماب شو سۀ بنوری

چه م خپل مئین نیولے ترآغوش دے
د جهان هوس م وارۀ فراموش دے

ساقی زۀ څۀ هوښیار نۀ یم باده راکړه
لیونتوب د لیونیو پرده پوش دے

چه پرون ئے اهانت د میخور وکړ
نن هغه د میوړک سبو په دوش دے

ساقی ترس د محتسب د دُرے نشته
چه بابائے د مجلس سره مینوش دے

هدایه وقایه څۀ لوے و ماته
چه څما د نائے وئے په آواز کوش دے

دا کلکون شراب د کومے میخانے دی
چه صوفی ئے په جرعه سره مدهوش دے

د بهار په وخت به څۀ له مئے آوړم
چه سرود د معنّی په نوشانوش دے

بیا به دا کلونه نۀ وی میخوری کړه
د بلبلو په آواز کښے دا سروش دے

دیر د باد سوارۀ په خیال ترما تیر یزی
همیشه په دا بازار کښے پوشا پوش دے

چه په دیرارمان د یار له مخه بیل شو
د خوشحال په بخره هر کله خروش دے

چه لرے په خپله خونه کښے خوشحۀ
د جنت هوا به هم کړے د دے شوۀ

دین دُنیائے دواړه کښیوتل په لاس کښے
چه په کور کښے ده خوشحۀ یه هم خوشحۀ

د بلبلو غوغا تل په هغه گل وی
چه صفت ئے شی له رنگه هم له بوئ

زۀ دے له غمه مرم چه جدا کیږے
په شانه سره د شاه د زلفو موئ

چرته ویر چرته سندرے په جهان کښے
که ئے کورے دهر نۀ دے بے هلے هوئ

گلدستے دِ د بهار را لره راوړے
پیکه بنۀ راغلے په وخت د یار له سوئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په جنت کښے پراتہ چیرے چرته درومی
چه خوشحال شړی عالم دیار له کوئ

چه په آن وآن په مزکه په آسمان دے
په غمونو په بنادیو کښے انسان دے
دا یوه څمڅه دځان وینے بلا شوے
چه سړی سره ئے غم په هر زمان دے
د نامرد د مرد په دا تفاوت وشو
په نامرد شرم آسان دے په مرد گران دے
مست هاتیان خونی مزری تورے وکښلے
کهٔ د سر ویره د نشی کار آسان دے
کشکے تهٔ په دا دُنیا همیشه پائے
په احتیاط احتیاط کښے د پیر خلق طوفان دے
کهٔ د ځان که د ایمان بدخواه م پیرے
ما په خدائے باندِ سپارلے ځان ایمان دے
ننگیالی چه د اخلاص تُوره په لاس کا
د پیر لښکرئے ترهمت پورے کاروان دے
له اوله تر آخره څو روزگار شته
چه عالم باندِ غوغا کا داجهان دے

په بنادئ سره شریک دی اولسونه
غم یوازے د خوشحال خټک د ځان دے

چه وربل د په سپین مخ آشفته کیږی
په ما بنام کښے رنړا ورځ نهفته کیږی
کهٔ د مخ بنائست ئے دادے چه لیدهٔ شی
لا به ماغوندِ پیرے د پیر آلفته کیږی
په بنړوئے او شکے نهٔ دی آویزاندِ
همکی دُر وگوهردی سُفته کیږی
یوئے رنگ یوئے نکهت یوئے وی پانړے
په دا باغ کښے عجب گل شگفته کیږی
په ژړا م به پوهیږے خوب ونهٔ کا
هغه څوک چه په گیسوئے خفته کیږی

د خوشحال د خولے خبرے خوشے نهٔ دی
دا همه د یوهٔ حاله گفته کیږی

چه مور پلار خُنے آزار شی هغه عاق دے
د عاق څو یه څائے دوزخ په اتفاق دے
هغه مور و پلار به خلاص نهٔ وی له غمه
چه فرزند خُنے زوړے بد اخلاق دے
هغه څو یه به آخر په خوارئ خوار شی
چه بنکاره ئے د خپل پلار سره نفاق دے
د اورنگ بادشاه په دور رسم داشو
چه هر څو یه د خپل پلار د سر مشتاق دے
نن هغه قطب آفاق گنړی خپل خپسر
چه گواه ئے دعا ف والی درست آفاق دے
ناخلف څو یه په گور خلف د غواړی
هر پدر چه د پسر په اشتیاق دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داځما همه ګله ده د تښتوانو — رائے وښیه چه کوم پکښے تفچاق دے
د تښتوو نه همه تښتوکی زیږی — که ایفرئے د عرب یا د عراق دے
د هغهٔ اسلام اسلام نه دے خوشحاله
چه بهتر ورځئے ګبر په میثاق دے

چه د خولے وئیل ئے نور د زړهٔ ئے نور وی — د هغهٔ به مخ په دواړه لوریه تور وی
د ناپوهه سړه راضی نه ئیم په باغ کښے — د دانا سره قبول لرم که اور وی
که په لاس کښے ئے ډک جام کښیږدے څه سودے — د هغهٔ چه له ازله جام نسکور وی
نالائق څوئ د خدائے د چا لوئے نهٔ کا — چه په ځان د ده له څویه پلار او مور وی
یولائق څوئ د پلار کړه لوئے بشهٔ دے — نالائق په څهٔ شماره که درے څلور وی
بشهٔ لایق څویه مور پلار په نیکئ یاد کا — نالائق د پلار آزار د مور پیغور وی
د غوولی څویه شور وی په خپل کور کښے — د بناغلی په جهان کښے شر و شور وی
که هر څود سړی د یر څویه پیدا شی — بیا په واړه کښے خو یو څویه انځور وی
هغه څویه خو په ګور بشهٔ دے خوشحاله
چه بهرام غوندے یوازے د خپل کور وی

چه داهسے سحر ګړے ستر ګے ستادی — په ناحقه د تقوی لاف ځما دی
پښتنے جونه م ولیدے په ستر ګو — څوک چه تر کے د خطا ستائی خطادی
بنا پیړئ که هر څو ستائی وګړے — ستا ترحسنه تر جمال په شمار د چا دی
تاچه وویني مئین د ربانده نهٔ شی — هغه زړونه غوندے کانړی د بید یا دی
واعظان چه یا دوی د جنت حورے — ما په دا ستر ګو لیدلی په دنیا دی
یا به ستا زلفینے وُنیسم په لاس کښے — یا به سر د ربانده بایلم دوه وینا دی
د ناموس خبرے مهٔ کوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننګه بے پروا دی

چه م ګړے هر آشام دے — که په خوله که په اندام دے
اوس له واړو توبه کار یم — په اخلاص م دا کلام دے
ته کرم را باندے وکړه — ستا کرم په هر چا عام دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دوه ستړکو مِ منلی چه د شرعے هر احکام دے
واړه امر مِ قبول دے ترے توبه چه نهی ئے نام دے
استقلال د توبے راکړه د شیطان د بلا دام دے
ماساته د دۀ له شره نفس مِ مدعی خودکام دے
په توبه کښے ثبات راکړه لکه حکم د اسلام دے
په خپل لاف به هیڅ اونۀ کړم کۀ زۀ لافے کړم لاف خام دے
چه توفیق له تانه نۀ وی د زاهد زُهد حرام دے
په هغه لارے مِ بیا یه چه پرے ایښے نبیؐ کام دے
نور به څۀ کړم پیرخواستو نه دا یو مالړه تمام دے
چه ثابت ولاړ په دین دے
د خوشحال باندِ سلام دے

چه په زړۀ ئے کړځوے وړے وړے یوه ورځ مِ به له دره وُ شړے
چه په تا پورے ئے زړۀ نۀ وی تړلے په هغۀ پورے زړۀ څۀ لړه تړے
کۀ مِ د ژمی ساړۀ پیروی قبلوه ئے مُړے ایرے د نغری څۀ لړه لړے
چه څیر څیرئے مخ ته کورم نۀ مړیږم داځُما ستړکے به کله شی مَړے
ستا خوږے شونډے نبات دی رقیب مچ دے بنه خو داچه ئے له شونډو وُشړے
څوځوانان دِ په خپل ځان دی کښینولی لاډ به څو در باندِ کښینوے زړے
یاره تۀ چه له اغیار سره خندا کړے
د خوشحال په لړمانۀ دروی چړے
چه د بخت د تالو سپین دی تور به نۀ شی
چه شیرین دی له ازله شور به نۀ شی
هرچه غور د محبت لری په زړۀ کښے
کۀ پرے زر کالونه تیر شی سپور به نۀ شی
د دے نورو بازارونو خوریدل شته
یو بازار د محبت دے خور به نۀ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوچه وزیږی له موږه چه بد ذات وی
په روږئ غلط منه شه زور به نه شی
چه له یاره سره کښینم رقیبان
تل په بد نظر کاتئ کا کور به نه شی
څوک چه زور سره بنکاره کا وزیږی
که په خپله بوسه را کا زور به نه شی
هسے نه چه زور م نشته زړهٔ دِ کمورم
تهٔ پخپله مهر وکړه زور به نه شی
وهر چا وته رسیږی خپله بخړه
چه ئ پیدا په ازل کړسور به نه شی
لاس په لاس سودا بهتره ترهرڅهٔ ده
مسافر په لار ولاړ یم پور به نه شی
که هزار ځله حکمت هنر تدبیر کا
د خوشحال په باب چه شوی نور به نه شی

چه په حسن په بنائست دی زور وړے
د هغو وائی بدلے یا سندرے
رغیدهٔ ئ ستا د خولے په دلاسه دی
د رنځورو دارو نهٔ دی له تالرے
ماچه ستا د خوږو شونډو لذت بیاموند
نهٔ م شهد په غوض دی نهٔ شکرے
عقل خپل فوځونه تار په تار خواړهٔ کا
چه پرے رائشی د عشق خونی لښکرے
د بنړو په تیرئ بیا سره پاش پاش کا
که خپل زړهٔ وته پوښم د صبر زغرے
تریانهٔ دِ د خطا آهو خجل شی
چه په شین شین یون کړے بنیره کړے
یو نظر په درست صورت علامت وکا
په مثال لکه بخړے وچے سړے
تر خوږه خندا دِ څار شم راته خانده
چه پریوان کړے په ما لعل و ملغلرے
چه څوک بے عشقه څهٔ وائی باور وکړه
لکه باد دی په خوشحال هسے خبرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د خپل عقل وئیل کا هغه کله خرد مند دے
چه پوښتنه مصلحت کا هغه هم د عقل بند دے

چه م فهم فکر وکړ په دا خپله دانایئ کښے
بل نادان را ښکاره نه شوکه نادان د خود پسند دے

ترمشرقه ترمغربه چا دا هومره جهان وغوښت
عقل علم هم دا هسے په جهان کښے چند در چند دے

کله شه وغواړه باغونه په هزار رنګه میوے خوره
راشه راشه را ته وایه سم د وار د لذت خوند دے

لعل الماس دی په جهان کښے د ر مرجا شته د مشکړے
واړه هیڅ پوشیده نه دی د هرچا قدر څرګند دے

هر سړے چه محنت نه کا هغه کله راحت مومی
راشه راشه رنځ قبول کړه کله تنه ګنج غواړے بنه پند دے

کله تنه غواړے له آسمانه جبرئیل شے په داځه شی
خوف رجا را وړه اے جانه کار د تورے یا د شخوند دے

څوک چه حکم ریاست کا سیاست د کا په شرعه
اوس لا بلکه خلق بد شو په توره عمل هم سند دے

د یربه بنه بنه خویه راوړی دا نه پلاره خلور میاند دے
نن په واړه پښتانه کښے یو خوشحال لائق فرزند دے

چه اُمید په دا ایام لی
دا اُمید ئے نا تمام لی

عافیت غوښتل له دهره
د صبا هیله له شام لی

کُل اُمید خامے تکیے دی
څوک به څه تکیه په خام لی

په سراب د تږی خوئ دے
د اوبو ګواهی مدام لی

زه له غمه مخ جار با سم
دے را وړاندِ شی سلام لی

په هیبت د ناست وخیز کا
چه مزری څخه مقام لی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د غـه خون په خپله غاړه چه یم په ځای آرام لی
د خوشحال بلا هغه شو
چه سوګند د ده په نام لی

چه په خوام په خاطر نۀ وے لیدے فلک د یرے نندارے را وښیلے
وار په وار م وارهٔ ولیدهٔ اغیار وو چه همیش ئے د یارئ لافے وهلے
په بخښش ئے تر ناحقه غلطی کړے وار په وار به جهان واخلی واړه خپلے
چه خبر له ځانه نۀ وو ما خبر کړل له هغو م څو خبرے واوریدلے
نۀ هغه شته نۀ په خولۀ کښے هغه غاښ شته چه به ما په انګیوو وچیچلے
چه په خولۀ م کښلوڵ پرے نازید لم د هغو د خولے م واوریدے کنځلے
چه ئے نن وګړے په چا کاندهٔ په تاشی ویړیانۀ دی چارے واړه د ے په تلے
چه همیش به په تسلیم راته ولاړ وو د هغو م څو ناسازے دی زغملے
د جهان ګلونه واړه بے وفا دی بیهوده ورباندے مینے کا بلبلے
کشکے زۀ یوخر غوښکے وے سړے نۀ وے هومره چارے سر یتوب راونمائلے
دوه رفیق دی د یوهٔ په وئیل ژغ کړم دا دویم را باندے غرپ وهی چه غلے
نۀ د دین نۀ د دُنیا دی ځنے نورے د یا غی دایل په مینځ کښے وبلښلے
چه اوربشے کړی کله غنم وُشی پته نۀ ده څۀ کړے هغه اَخلے
یوئے تولہ په محنت کا بلئے یوسی راشه ګوره چا اولجه کړه چا ساتلے
یا دا رو د لیو نتوب اوکړه خوشحاله
یا ناحق دروغ خلقه سره ملے

چا ئے راز د خولے تحقیق نۀ د ے موندلے کۀ صفت ئے واړه خلقو د ے وئیلے
په چشما نو کښے ئے سحر د بابل دے په ملال ملال کا تۀ کښے مالیدلے
یو نظر ئے راته وګر نور په تلهٔ شوه څما زړهٔ وړی د بنړو په تار پیټلے
وچمن لړه چه د رومم تللے نۀ شم د مخ باغ ئے تر لمنے یم نیولے
په هر لوری کښلی پیرۍ خلق وائی څوک د ِ یو راته بسکاره کا هسے کښلے
چه و مړک وته م مینه ستا غمزه کا خدائے د ِ ستاله لاسه روغ کا څما څخلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترجلب نیولے تل باندِ سورلی کا زہۂ م پتہ مرنے سورے خالِ دِ پلے

چا بہ بے دَ عشق لہ کارہ بل کار نہ کړ
دَ خوشحال دَ خولے وئیل کہ چا منلے

چہ سړے ترعقل تیر شی مخبّط شی زیست روزگار دَ مخبط سرہ غلط شی
دَ حرص دریاب ترشرقہ دے ترغربہ حریصان پکښے غوتے خوړی لکہ بط شی
نن حُما بیړئ لاهوشوہ پہ دریاب کښے لا بہ کلہ دا لاهو بیړئ پہ شط شی
د تہ دردے جامے قدر قیمت ډیروی دَ اغوستے سرو پائے قدر وسط شی
غابن وتلی ږیرہ سپینہ آزمیښت دے لا حُما وعاشقئ وتہ نمط شی
جاودانہ خوښی دا دہ پہ جهان کښے چہ دَ زہۂ دَ عشق پہ کار کښے منبسط شی
ښائسته یاران مِ هسے ملک تہ لاړل چہ نہ ځائے دَ پیغامونو نئے خط شی

دَ خپل یار و تیغ تہ سر کښیږ دَ خوشحاله
دَ قلم خوبی هالہ کښہ چہ قط شی

چہ دَ لویو کتابونو دا نشمند وی دَ هلکو کتابونو پہ کار بند وی
چہ خرمائے دَ بلوټ نۂ وی خوږلی وهغو وتہ پتوے خرما خوند وی
چہ دَ هند پہ شکر قند و خبرنۂ وی وهغو وتہ کا ځړے شکر قند وی
دَ اتک پہ منارہ بہ نظر نہ کا چہ هغۂ تہ دَ ډهلی ملک څرګند وی
هر سړے دَ خپل وطن ثنا صفت کا دَ هرچا ترفهم کښے خپل فرزند وی
دَ ناپوهو سړی دَ پند سرہ کار نشته ماچہ ولیده دانا محتاج دَ پند وی

زہۂ خوشحال ئے دَ دانش پہ ستړګو وینم
دَ هرچا چہ بده پوهہ غلط سند وی

چہ ئے مخ ترګل زیبا دے یار حُما دے چہ پہ مخ ئے عندلیب شوم کار حُما دے
چہ ئے تش پہ کوخہ تیر شوم لیونے شوم کہ ئے ووینم پہ ستړګو زار حُما دے
کہ واعظ م دَ بنۂ مخ له مینے نیسی کہ مِ لاس وربانده برشی پلار حُما دے
بے له کښلیه زیبا مخہ کہ ګلزار دے چہ هر ګل وتہ نظر کړم خار حُما دے
چہ هر لوری وتہ دروم پہ غم آورم تہ بہ وائے غم یک لخته بنکار حُما دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

همیشه به په ما وار د رقیب نۀ وو
بیاله خپله بخته خوښ شوم وار څما دے

د خپل یار سره دوزخ څما قبول دے
که بے یاره جنت مومم نار څما دے

بُت پرست کله د بُت له مینے آوړی
زۀ که مینه د یار پریږدم عار څما دے

زۀ خوشحال چه د منصور په مذهب خوښ یم
اوس څۀ غم چه زۀ د دار یم دار څما دے

چه د خلقو نیکخواهی لری په زړۀ کښے
مُبارک شه بادشاهی لری په زړۀ کښے

چه ئے غوږ د دانشمند په نصیحت وی
څۀ عجبه آگاهی لری په زړۀ کښے

د ناصح په نصیحت به اصلاح نۀ شی
هر سړے چه تباهی لری په زړۀ کښے

د مردانو په علاج به ورتلے نۀ شی
که د سعی کوتاهی لری په زړۀ کښے

مختورن د دواړو کونو نۀ دے څۀ دے
چه هرچا سره سیاهی لری په زړۀ کښے

نیک بختان به اندیښنه کاندی د نیکو
گمراهان به مناهی لری په زړۀ کښے

په هغه هُنر کښے ټینګ اوسه خوشحاله
هر هُنر چه سپاهی لری په زړۀ کښے

چه ئے تل کښیښنوے په سر د خیال دړۀ
تور ویښتۀ شود هغے سپینے وړۀ

د روانو اوبو کار د عمر یو دے
بیا به ورځ و شپے رانۀ شی د نړۀ

محبت بے خدایه واړه کۀ ئے کورے
د دریاب په مخ د خلیو پُل تړۀ

تۀ په داحسن جمال چه درته گورم
نۀ پوهیږم بنا پیړۀ ئے که سړۀ

بے مدد د باده نۀ رسم مراد ته
که هرځو روانوم د زړۀ بیړۀ

ستا د زلفوله بنامارہ ویړه نۀ کا
چه ترخولۀ ئے ستا د مینے شی جړۀ

د خوشحال زړۀ په تقوٰی کښے لکه غرو و
ستا په مینه یکباره شو د وړۀ

څوچه مینه د دُنیا پریوزی په زړۀ کښے
هومره غم شدت بلا پریوزی په زړۀ کښے

څوک له څا یه پاکیزه څنے ناپاک دی
د ناپاکو به په دا پریوزی په زړۀ کښے

په یوه ښیښه کښے شاش د قارورے دی
او د بلے بنۀ صحبا پریوزی په زړۀ کښے

چه څۀ وینی چه څۀ آوری چه څۀ وائی
د سړی هغه هوا پریوزی په زړۀ کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه څۀ نۀ وینی نۀ آوری نۀ څۀ وائی
وایه کومه تمنّا پریوزی په زړۀ کښے

نیک وبد په خپل قسمت وی له چا نۀ وی
په ناحق کینه له چا پریوزی په زړۀ کښے

نۀ په پندځی نۀ په بندځی نۀ په نور څۀ
چه مزه د ناروا پریوزی په زړۀ کښے

چه صحبت دِ له چا کیږی هسے تۀ شے
هم هغه خویونه ستا پریوزی په زړۀ کښے

د بلبل محبت یودے کۀ بلبل وی
چه د ګل ئے هر صبا پریوزی په زړۀ کښے

نا آشنا عالم د چا په فکر کړځی
اند یښنه خو د آشنا پریوزی په زړۀ کښے

د بهار په وخت دا درد وی د دردمنو
چه ئے سیر د صحرا پریوزی په زړۀ کښے

د خوشحال غوندِ به بیل شی له عالمه
د هر چا چه دا سودا پریوزی په زړۀ کښے

څوک په لوری د کعبه ځی په هے هے
څوک دوارے لره چلیږی په جے جے

دواړه توکه په معنیٰ په حقیقت کښے
په هر لوری غورزوی واړه دے دے

عاشقان ئے سل هزار یوه معشوقه
په هر لوری ورپسے دی په پے پے

څوک په کور دننه ناست ورسړ کیل کا
څوک همیش ورپسے کړځی په لے لے

میخانه یوه هزار پکښے خمونه
د مستانو ئے نعرے دی چه مے مے

کۀ هما ئے دے کۀ کجیږے کۀ کرکس دے
د هر چا ئے خپل خپل شان دے خپل فے فے

هر څوک وصل د خپل اصل پسے غواړی
چه نارے د جدایئ وهی نے نے

زۀ خوشحال چه د وحدت په میو مست شوم
وایم دا چه کاؤس کله کے کے ؟

څما مرګ هغه زمان دے چه رښتیا د یار هجران شی
کۀ هجران له منځه وُوزی نور به هر مشکل آسان شی

زۀ به ځان جهان شندمه په آشنا پسے به څمه
پرے به پاسه قدم ږدمه کۀ دشتونه بیابان شی

تازړۀ ورکړ یوۀ هر نه یوۀ هر یوۀ بشر نه
لکه اوبۀ د جوئ له سره هوړځی چه بیل روان شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوخدنګ ئے وویشتمه وائی بل به دِ هم وُلم
ورته پروت سرِم نیولے چیرے نه یه دا پښیمان شی

ما د شاه د خولے سودا کړه یه کرورونوئے بهاکړه
خولهٔ ئے لنډه د هرچا کړه مګردا یه شاه جهان شی

له یوهسے م روزګار دے چه ګه یار کله اغیار دے
په همه کاره هوښیار دے خو یه ما باندِ نادان شی

د خوشحال خاطر سوخته دے ستا په جور آموخته دے
درد وغم ئے اندوخته دے هم دا درد ئے بے درمان شی

حُما مئینه یاره چه نن ناست حُما په کټ ئے
موندلے م یه بخت ئے که موندلے م یه مټ ئے

آرام شته د زړهٔ کام شته د چمن لاله غوږیزی
په دور د شرابو ساقی ولے هسے لټ ئے

نهٔ دین لرم نهٔ دل لرم نهٔ صبر شته نهٔ عقل
په دواړو سترګو وړوځو تالا کړونے د درست ټټ ئے

چه مخ وته دِ کورم لکه نمر هسے حُلیږے
قربان دِ تو جمال شم په معنیٰ تر نمره غټ ئے

چه تهٔ راځنه نهٔ وے یو کنګال د زمانے وُم
بادشاه د درست جهان یم چه له ما سره لټ پټ ئے

پیرے به په ګلزار کړے که بلبله د ګلزار ئے
ګندګئی لره به دروے که په اصل تور ګونګټ ئے

دوه درے ځابه خهٔ دی چه ئے تهٔ په مخکښے نیسے
په زړ پردو کښے کښینه بیا وما ته په چټ ئے

په خوب په بیداری کښے همیشه په فکر ستا دے
اورنګ وته خیبر دے د خوشحال وته کوهټ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څماځویه د ننګ نۀ دی نمریتیار دی
پرے پوهیږم چه همه واړه مردار دی

نۀ ئے لویه اندیښنه نۀ ئے لوئے کارشته
د مغلو وطباخ وته تیار دی

د منصب د اضافو خبرے کا ندی
په عزت په حرمت کله خبردار دی

اتفاق یکانګی ئے سره نشته
همګی روان په بیله بیله لار دی

یوځرګند قابل هرګز په دوئ کښے نشته
که د دیرشو ته نزدے څما په شمار دی

په الکیش الکیش ئے ستړے کړم بشکارنۀ کا
د کوټه سپئ کوکری پکښے سه چار دی

یوځودی پکښے هر کوره ناپکار دی
دا نورځویږم لالږاو پیر پکار دی

نۀ د نوم دی نۀ د شرم نۀ د ننګ دی
اندیښنے ئے د ناکس د ناسردار دی

نۀ له پلاره نه پیدا دی نۀ له مور ه
خو صندوق بنجے ئے دواړه مور و پلار دی

چه به تلل د نا قابل سړی د وړاندِ
څو دا هسے بیرقونه نګونسار دی

شکایت له نور و مۀ کوه خوشحاله
چه خپل ځویه هم په ننګ له تاویزار دی

خلقے واړه د شاه د خولے په غم دی
چه د شاهے خولۀ ئے کښل کړه هغه کم دی

چه د شاه د زلفو خیال لری په زړۀ کښے
هغه تل په زړۀ پریشان په صورت خم دی

که په زړۀ باندِ ئے زرداغونه جوړشی
چه د یار له داغ آه کا هغه کرم دی

عشق یوځۀ عظیم بادشاه دے که ئے کورے
چه کدائے له سلطانه محتشم دی

تۀ د عشق سورو ته سهل نظر مۀ کړه
چه بے زروبے لښکرو لکه جم دی

دا د عشق د کدایانو هسے چار ده
چه د فقر په جامه کښے محترم دی

د چندنړد وُنے ځکه بوئ روان شو
هرچه ولے ئے د عشق په او بونم دی

چه له عشقه خبر نۀ شول خدائے ئے وا خله
که ظاهر صورت بادشاه د کل عالم دی

د آتش لمبه کړو لړه پیدا ده
په هغو د آتش ځۀ غرض چه سم دی

چه په زړۀ رحم لرے دا روطلب کړه
د خوشحال وئیل د خوږو زړو مرهم دی

خلق فراغت کا زۀ تل ستا په غم نیولے
څۀ بده بلا وے زړۀ ما نۀ وے پیژندلے

له کبره ډیره خیاله به څۀ سم وائی وچا
د کلی د محلت سره چه زیست کا نا نمنځلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

له کوره نه به پاسی رنګینه جامے اغوستے
دَحشر په ساعت به هم څرګند وی تاوڑے

چه ستړګے په رنجوړے برنډ کښینے خوږ زلفے
چه غټ به درته کوری یو یومرد بویه بللے

هرګز به آوریدلی دَلیدلو مخی نه کړم
خوبی دَیوسفّ آورم ستا جمال مے دَلیدلے

په ورځ دَجدایئ څوک څه مه وائی وماته
مرده وته هم کله نصیحت دے چا وئیلے

که پس له مرګه زهٔ دَخوشحال وګورے په کورکښے
هرګز به دَښه مخ محبت نه وی څنے تللے

خلق نادیده دی په خبرو پسے زغلی
څارتر عارفانو چه په حال دی پوهیدلی

دوه اویا مذهبه پکښے هومړ قال وقیله
واړه سرهوا په خپل مطلب پسے دی تللی

پیردی کتابونه مشتمل په دیرش حرفونه
کل واړه که ګورے له الفه دی زوولی

سل بهی سل سیبه چرے ماته یوځائے کړے
سل به بلل نهٔ شی سره یودی مالیدلی

واړه نورد نمردے هم دنده هم دباندِ
هرچرته دا نورد په هر بنهر په هر کلی

زهٔ خوشحال خټک یم دَرند انو په مذهب کښے
نور وئیل مِ نهٔ زده مختصر دی ما وئیلی

خولهٔ دِ غنچه ګل ده تورګیسو دَسنبل پانړے
پښے دِ دی دَ زرکے سپینه خولهٔ دِ ده دَ زانړے

شونډے دِ ژوندون بخښی په ستړګو کړے خونونه
ژبه دِ شکرے دی دنده په ښهٔ کانړے

مهر دِ له دله لکه مُو له مخه ورک شو
رائیشه نا ترسے لُور دَ ترک کهٔ دَ پټانړے

هیڅ پرے نهٔ پوهیږم دا دِ زنه کهٔ منړه ده
خال دِ دے په زنے کهٔ دا نه ده دَ مهمانړے

تهٔ په پالنګ پریوزے زهٔ حیران په فکر لاړشم
پند دے دَ کلونو کهٔ دا تهٔ پټه په پانړے

زهٔ هغه خوشحال یم چه دِ راز لرم ساتلی
ولے هسے وائے چه تا عشق نهٔ زده ناجانړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خندنی هسے لربر ګرځی برسیری برابر په تورو وریشی سرتیری
یو مرغۀ په سروپه سپینو قیمت مومی بل هزار حیله په توره پیسه پیری
په غوټه کښے تپوس کله لکه باز دے کۀ ئے خلق دمنګلو څنبتن شمیری
مړنے لیوۀ حمله په شکرور کا د نامرد یا په ورغومی یا په لیری
دادوه څیزه پټوه په څۀ به پټ شی د نامردو نامردی د بنځو نمیری
آوښتولره پخته کوتر بائدۀ دے د باز یوهُنر هیڅ نۀ ده کتهمیری

په جاهل خلق کښے ورک شوچه عاقل دے
یو یو بیت به د خوشحال پیری په زیری

خسته زړۀ م چه م نګار هوړے هوړے وی هر بلبل م چه بهار هورے هورے وی
زۀ ئے څکه د زلفینو په ارمان مړم هر څوک وائی چه ګنج مار هوړے هوړے وی
کۀ تۀ یار غواړے ورځه رقیبان کوړۀ د ګلا بو ګل چه خار هورے هورے وی
د بنادئ خوان ئے نورو وته کښیښی غم ئے واړه چه داخوار هوړے هوړے وی
په هیڅ رنګ ئے آوښته ورځنے نشی لیونے منصور چه دار هورے هوړے وی
تپوسئ به په مردارے باندِ ګرزی د هنده شهند چه بشکار هوړے هوړے وی

نۀ په باغ وی نۀ په راغ نۀ په بل لوری
د خوشحال خاطر چه یار هوړے هورے وی

څټکے له څټکی نه خوند آخلی همسایه د ګاونډی نه پند آخلی
څۀ به غم د صغیره ګناه هغه کا چه په غاړه کبیره څرګند آخلی
هوښیاران د نیکخواهانو وئیل نغوړی ناپوهان د بدخواهانو نه سند آخلی
د مظلوم آهونه کا نړی د غرۀ سیزی ظالمان به آزارونه چند آخلی
د هغۀ لاسونه مۀ سیزے په اور کښے چه له پښو د بند یا نو پند آخلی
کۀ په زړۀ کښے د پیر غبار د غلیم پروت وی پرے خوړوه چه غبارونه شخوند آخلی

خوشحال خپلو خوږو شونډو وته پریږده
چه طوطا خوږه مزه د قند آخلی

خوږے شونډے د شکرے نۀ دی څۀ دی کښلی غابن د مرغلرے نۀ دی څۀ دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے لہ تاچہ راتہ نور مخونہ ستائی دا وماوتہ خبرے نہ دی څہ دی
چہ تسخیر پہ تورو سترگو کا د زړونو سیمہ چشمے سحر کړے نہ دی څہ دی
چہ د زلفو پہ زنځیرئے مزری بند کړل ھوسئی سترگے زوروړے نہ دی څہ دی
چہ د باغ سروئے پستے تر قامت دی پښتنے پہ قامت سترے نہ دی څہ دی
وائے نورے مینے لرے کړہ لہ دلہ ستاد مخ پہ دور لرے نہ دی څہ دی

چہ لاشۂ د خوشحال پہ زړہ څو خیبری
سرے لښتئی سرے بمبرے نہ دی څہ دی

خبر ورځہ نہ وُم پہ څہ خیال راغلہ پیری
پہ لوړو پہ ژورو دم درحال راغلہ پیری

د سترگو پہ جوھروم پہ سی کښے رابنکارہ شوہ
پہ مشکو پہ کوھروم پہ کال راغلہ پیری

ترمرگ څہ کمہ نہ دہ ملائے بنہ نندارہ وکړہ
پہ زور او پہ قوت پہ ملک ومال راغلہ پیری

پہ زړہ چہ را پہ یاد شی د خوانئی تلاشونہ
د واړو تلاشونو پائمال راغلہ پیری

د مخ دہ کۂ د تن دہ کۂ د لاسوکۂ د پښو دہ
د کل واړہ خوبیو پہ زوال راغلہ پیری

اقبال پہ مثال کل دے تن پہ مثل لکہ بوټے
پہ تن باندچہ راغلہ پہ اقبال راغلہ پیری

وردرومہ آئینے پہ یوہ کنج د مزکے پریوزہ!
د کښلیو پہ جمال پہ خط و خال راغلہ پیری

چہ جونہ وتہ کوری خجالت ورځئی پخپلہ
پہ عشق او محبت کښے انفعال راغلہ پیری

نۂ بنکارشتہ نۂ گذارشتہ اوس دِ جور سلامت کړئی
د تورو د غرۂ بزونہ پہ خوشحال راغلہ پیری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دواړه شونډې دِ خوږې شکرپارې دی — دَ ګلا بوکل دِ دواړه رخسارې دی
دَ هغۀ خونی څۀ باک دَ چا له مرګه — چه په تیغ ئے روغے شوے منارې دی
چه دِ لاف دَ سپینے خولے کا هغه سرخورې — په دربارِ دَ سرونو اَنبارے دی
دَ خپل یارکړه دِ ګل نشته له باغه — دَ اغیارکړه پراتۀ په پشتارے دی
دَ دردمنو له آزاره ویره وکړه — ورځ وشپه ئے ستا په ورباندِ نارې دی
شیخه تۀ راته دَ پند خبرے وائے — چه م غوږ ورباندِ نۀ دۀ څۀ شمارے دی
په دا اورکښے دِ حُما لمن وُنۀ سوه — په هرلوری رسیدلی شرارے دی

حریفان ډکے پیالے اخلی له ورایه
دَ خوشحال خټک په بخره نندارې دی

دَ حُوانئ په خوبئ کښے څۀ شک دے — دَ پیرئ عمر درست له عیبه ډک دے
پرهارونه م په زړۀ تازه تازه شی — دُوړلے په پرهارباندِ نمک دے
کۀ بنادی درباندِ راشی پرے خوبن مشه — په بنادئ پورے هرکله غم لک دے
هیڅ فریاد دَ چا دَ ظلم جورمۀ کړه — په هرچا باندِ چه شندے کا فلک دے
غم ئے بے حکمته نۀ دے پیدا کړے — دَ نامرد دَ مرد په مینځ کښے غم محک دے
څوچه دیر دیر لذ تونه دیر غمونه — بنۀ هغه چه بس ئے کیږے ته کنډک دے
تُوره چاوته تړم چه زۀ ملنګ یم — بنۀ خو داچه م په غاړه یوکوتک دے

تفحص کۀ څوک دَ خُوږو زړونو کا ندی
دَ خپل قوم له لاسه وُرک خوشحال خټک دے

دَ عطارخونی علطاو وَته اظهاردے — کۀ جلادئ دَ خطا دَ ملک تاتاردے
خدایه تۀ م په بنۀ مخ باندِ مئین کړه — دَ عاشق دَ عاشقئ سره څۀ کاردے
څوک ئے هومره مینه کښیږدی په کوکل کښے — عندلیب چه په کلونو مینه دار دے
نۀ لیلیٰ زده نۀ مجنون زده په دا مینځ کښے — یو نازک لطیف رموز باریک اسرار دے
دَ هرڅۀ رموز موندۀ نۀ شی په جهان کښے — چه نظیرئے موندۀ نۀ شی حُما یاردے
عقل صبر دل و دین لاړشۀ په عشق کښے — خورا پاتے یو ژوندون شۀ په دالاردے
دَ بنهر دلبر واړه زړونه سم خوری — پَل به نۀ ږدی په دالوری چه هوښیاردے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ساقی زهٔ دَجرعه نوشو غوندِ نهٔ یم
پکے پکے پیلے راکړه څما وار دے

کهٔ دِ نهٔ وینم په ستړکو ستا په یاد م
شګفته تازه دَعمر لاله زار دے

چه سنبلے دَ زلفینو نمودار شی
هغه څائے دَ تورو مشکو څهٔ مقدار دے

تاهرګز دَچا دَ زړهٔ دَ لاسانهٔ نه ده
چه په تا باندِ مئین شول تلے زار دے

مګرستا دَ زلفو لوسے ے وُ کا ږی
چه م مات دَ بیلتانهٔ په زړهٔ کښے خار دے

دَ سُونډک مُونډک سیلئ آخری کیږی
په بلبلو خبر وکړه بیا بهار دے

په وصال کښے ے بادشاه دَ زمانے وو
چه له کښلیونه جدا شو خوشحال خوار دے

دا یم له تالاړم کهٔ په ناستهٔ م ملال ے
کبر لوئی مهٔ کړه کهٔ هر څوصاحب جمال ے

لاړم ستاله دره ستا په یاد وبه مشغول یم
لاړم له مانهٔ څئی داچه تهٔ په زړهٔ نهال ے

زهٔ غریب نامراد یم څهٔ وما وته کوا نیږے
قهر کړه هغو ته چه دِ سیال دَ یلے سیال ے

هیڅ گناه م نشته چه م وژنے یام وُولے
واړه دِ مستی ده تهٔ تړلے په وبال ے

خدائے خو خبر دار دے چه له تا به ے دریغ نکړم
لږ وډیر مشتاق څما دَ سرکهٔ یا دَ مال ے

تل جور ستم کړه هغه نهٔ یم چه زړهٔ بدکړم
سل جور وجفا کړه بیا لیمهٔ دَ خوار خوشحال ے

دَدُنیا خانی میری په زور او زر شی
عاشقی په نورځهٔ نشی په خپل سر شی

وعاشق ته نصیحت په مثال څهٔ دے
لکه اوچه په پوکلو تازه تر شی

کار څما او دَ مجنون سره یو رنګ دے
لکه دوه لرګی په اور کښے سر په سر شی

چه په دارے آبدست کړو په خپلو وینو
کوم سړے به دَ منصور تر څایه ور شی

څو به راز دَ زړهٔ پنهان لرم له خلقو
عاقبت به لوئے هلک څنے خبر شی

په هر باد پسے پریشان پریشان جاروزم
کهٔ په بوئے م ستا دَ زلفو سور تر شی

خوار خاطر م چه مقیم شو ستا په در کښے
کله وی چه ستاله دره در په در شی

کله کله چه په مهر بوسه راکړے
ستا تر خولهٔ دِ صدقه شهد و شکر شی

چه په غولی ے نظر وکړم له ورایه
خار و خس ے راته گل دَ پیغمبر شی

زهٔ به هیڅکله وانهٔ وړم ستاله کُو یه
کور او کلے کهٔ همه راته لښکر شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ هرخو سړے ویښتهٔ چوی په پوهه چه قضا ورباندِ راشی کور وکرشی
دَ یارغم له خلقه پټ لره په زړهٔ کښے کهٔ لاله غوندِ دِ وینے درست ځیګر شی

چه ئے وړوخے ورښکاره کړے خلقو بویه
چه خوشحال ئے دَ کشتئ قلندر شی

دریاب څهٔ دَ جالے دپاره نهٔ ځی کهٔ څوک وائی
په خپله رضا درومی جاله هم ورسره بیائی

په غرونو واورے اوری بارانونه په ملکو نو
له هیڅا خبر نهٔ دی چه په مونږ ه هم څوک پائی

په دولس برجه کړځی نمر پوره په دولس میاشتے
په دا خبردار نهٔ دے چه صیفی دے کهٔ شتائی

په درست جهان کښے کړځی بادحیران په څلور کُنجه
په هرلوری چه کړځی ناخبر چه څهٔ پیمائی

میوه غلے ګلونه څنے رنګ رنګ نعمتونه
له مزکے پیدا کیږی مزکه پروته کِل ولائی

څلور واړه عنصره چاکران دی اے خوشحاله
چا کر هغه خدمت کا چه صاحب باندِ فرمائی

د انا په حال نا دان کله خبر دے چه په خپله نادانئ کښے اوتر دے
دلیچن په ستړ کو وځلیدهٔ ستوری وعالم ته ئے نارے وکړے چه نمر دے
دا دا غونه رم چه ایښی په ځیګر دی خوهم مازده چه رم پوخ څنے ځیګر دے
کهٔ څوک خپلے ستړ کے وساتی غم نشته چه په زړهٔ تندر پریباسی خپل نظر دے
خدائے دِ هیڅوک په دُنیا کښے عاشق نهٔ کا عاشقی په خپل صورت باندِ لښکر دے
لیونے زړهٔ رم پرون په خندا لاړو راشه کوره چه نن بیا په ژړا سر دے

چه دَ فکر مرجونړا له بحره وکیښ
راشه کوره دَ خوشحال کلام کوهر دے

دَ چا به څهٔ لره مانړه له بله شی نیک وبده په عمل موندله شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرچه وُکړی هغه به ړیبی
له خپله لاسه هره کړله شی

دا خود نمایه محبوبه کوره
چه کله کل شی کله بلبله شی

کله غوغا کا په خرابات کښے
کله د ذکر په حلقه داخله شی

لون لون بنیوے ئے ډیرے دی
اول به کومه یوه وئیله شی

نور و خوښیو وته به شا کړے
کهٔ دَیار د مینے خوښی دِ خپله شی

شمعے چه ژبه په راز اور ده کړه
څکمے ئے هسے کله وهله شی

چه زاهدان ئے په زُهد مومی
د عاشقانو په آه ګټله شی

جفائے وارِه په وفا حساب کړه
د یار جفا په وفا نیوله شی

کهٔ اور د رلکی چاته مهٔ وایه
چه اور رابل دے سینهٔ مِ سوله شی

خوشحاله فهم کړه مجلس د عامو دے
د منصور پیاله به په منصور نوشله شی

دا نهٔ زهد پارسایئ دی چه کیږی
په هرلوری رسوایئ دی چه کیږی

نصیحت د دا نایانو لکه باد شو
د وګړی خودرایئ دی چه کیږی

هر ناپوهه په خپله پوهه افلاطون شو
څهٔ نا بوده دانایئ دی چه کیږی

نهٔ ئے برنهٔ برکت نهٔ فکر ذکر
د شیخانو تنهایئ دی چه کیږی

مخ بدرنګ زر وګوهر زیور پرے پورے
څهٔ بے ځایه زیبایئ دی چه کیږی

نهٔ ئے داد نهٔ ئے دهش نهٔ ننګ نهٔ شرم
داد خلق کد خدایئ دی چه کیږی

د رښتینے مینے بوئ نشته خوشحاله
د دروغو آشنایئ دی چه کیږی

د دنی دُنیا دا هسے قرار داد دے
چه ګهے ئے رانیول کله ئے داد دے

عاقبت به د دُنیا په غم غمژن شی
هغه زړهٔ چه د دُنیا په بنادئ بناد دے

دو وَشش نارے وهی دوه خال ئے پریږدی
دا دُنیا په مثال نرد سرے نژاد دے

له دُنیا نه هیڅوا کام موندلے نهٔ دے
کهٔ شیرین وه کهٔ خسرو وه کهٔ فرهاد دے

د دُنیا مثال کهٔ وګورے عاقله
په حساب لکه اوبهٔ یا لکه باد دے

نهٔ اوبهٔ په یوهٔ ځائے کښے قرارے کا
نهٔ د باد په یوهٔ ځائے باندِ استاد دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مبتلائے همیشه په زړهٔ محزون دے طلبکارئے هر زمان په بلا یاد دے

تروفائے دَجفا خویونه ډیر دی
څکه هسے دَخوشحال څنے فریاد دے

دَعاشق په زړهٔ دباندِ بار دیار وی خدائے دِ نهٔ کاچه به لاندِ تر بل بار وی
یوځل بیا سر تورہ مسته رابنکاره شوے چه ئے زلفے آویزاندِ په رُخسار وی
ستا په نهٔ دیدن ئے شمار نهٔ حساب شته اندیښنے په زړهٔ اړاندِ صدهزار وی
چه تا اُووینم تازه غزل اِنشا کړم پرے بلبلے فریاد کاندی چه گلزار وی
په درست ملک کښے چه څوک لاف دَبنائست کا همکی دِ لکه سپاندے ستا بخار وی
ستا ترهرچارے څاریږم بلا دا شوه په ماخوار پورے چه خاندی څوک به آوری
تاوئیله چه خپل زړهٔ وماته راکړه دا خوار زړهٔ م ستا دَوړاندِ که پکار وی

زهٔ خوشحال دَیار دیدن وته تلوار کړم
تل بلبلے خُلبلاندے دَبهار وی

دَبنړ وغشی ئے گُل واړه دلدوز دی عاشقان دَدغو غشیو غم اندوزدی
نن م بیا په نظر کښیو ته مهوَشه ترلباس ئے شرمنده اَهلِ نوروزدی
په مثال ئے تورہ شپه داتورے زلفے گل عذارئے چراغونه شب افروزدی
په بارخو باندِ ئے خرپ دے دَغابنو نو دا چیچل ئے دَعاشقِ نوآموز دی
اَغوستن لړه ئے پا نړے دَسوسن دی که دَنورو جامے روغے سمندروزدی
دَکوترے اشارت دَدیو مړک دے عاشقان ترے کله زار بازونه بوزدی

سرتړپا یه په لمبه باندِ گذر کا
دَخوشحال وئیل په دا سبب دلسوزدی

دَنادان په یارئ څهٔ لړه څوک ویاړی هرزمان بنکاره یاری راځنے غواړی
دَیارئ هُنر هیڅ ورڅخه نشته ! که پند ونه ورته وایم راته ژاړی
هسے مست بے پروا یار څما پکار دے چه دَخلقو پیغورونه سره نغاړی
دَرقیب په بد وئیل عاشق داڅه شی لکه سپی په خپلو دا ړو سپے داړی
ډیرم وکاندهٔ گریوان دَعشق په کار کښے نور په ما نهٔ شی وهل دَگریوان نماړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د وصال په وخت امان د رقیبانو د بهار په موسم د یرګو څخې غوښتل کیږي

هر شاعر څخه تازه مضمون د خان دے
د بنګلې لیندی صدقه خوری د بنکارڼ ډاډی

د همه خلقو نظر په خپل بهبود دے په هر څه کښے ورته خیر مه خیال مقصود دے
چه څه درد د عشق لری تر به زاریږم که مومن دے که کافر دے کله جهود دے
چه خپل یار وته نظر وکړم خوشحال شم تر جمال پورے ئے بل جمال مفقود دے
د یار مخ که په ظاهر له ما جدا شو په باطن کښے هر زمان را ته نغښود دے
د عاشق د آه له غشی بویه ویره چه تو برے ئے تمامی زهر آلود دے
دا آسمان چه سراسر کبود لیدلے شی پرے پوهیږے پورته لاړ د پوښود دے
بیا څما طالع مدد وکړ په خدائکو چه رقیب د یار له دره نه مردود دے
د جهان بنادئ کل واړه څما دی غم م کل واړه په بخره د حسود دے

د خپل درخاورے که د ورکا خان ئے واخلی
د خوشحال خټک په دا سود اکښے سود دے

د خاطر م له اندوهه نه څه ننګ دے که ئے زده چه د بنادئ ساعت یو درنګ دے
لام یو خدنګ له زړه وتلے نه دے بیا څما په زړه نوبت د بل خدنګ دے
هر سحر به ماله ورایه تیغ وکښلے خول په سر اینے راځی په نیت د جنګ دے
تر چشما نو م اوره کنډه بے نمه تر محنت پورے م غر لکه لا سنګ دے
په خروار عیش و عشرت کاندی وګړے خو څما د زړه په بخره عیش تنګ دے
ما د زړه په ستر کو رنګ د زړګی وکوت همګی د غم په سرو وینو کښے رنګ دے
دا آسمان چه پاس په سر باندے څرخیږی په چا چتر مرصع په چا پلنګ دے

د دنیا په لوبئ څه باور خوشحاله
پرون دور د خرم نن د اورنګ دے

دلبر باخوبا وربل د تیر و بیر دے هر هر تارئے د عاشق تر زړه چا پیر دے
د اوزبک تاراک به هم داهسے نه وی لکه ستا د ستر کو تاخت په خوار و تیر دے
څما زړه چه مزری تر زړه تیرے کا ستا د ستر کو وکبلیو و ته زیر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هغه رازچه به ما تاسره تنها کړ — نۀ به هیرشی له خاطره نۀ م هیر دے
دَ غمزے په تیغ دِ مرم خونی م تۀ ئے — بیا به وائے چاوهلے په شمشیر دے
دَ خوشحال ومړک ته څۀ ټورے وکاږے
دَ بنړو ناوک دِ هم ورلره ډیر دے

دا کلام م دے هغو ته چه په هوش دی — نصیحت ته ئے نیولی د واړه گوش دی
په ټکی ټکی جامو کښے کۀ لوئی ده — دَ سپلمئ ملخی هم اَلاچه پوش دی
دَ مردانو دَ خپل شرم کاروبار دے — نورئے هرڅۀ له خاطره فراموش دی
دَ زنانو په حساب دی مردان مۀ شه — چه له زیبه له زینته هم آغوش دی
شړی ورپښتون به سل په ډکه یوسی — کشمیری چه بغړک شالونه ئے په دوش دی
هوښیارانو څخه ډیره هوښیاری ده — په مجلس کښے چه سامع نشته خاموش دی
په هغوئے دَ جهان بنادی پیرزوده
چه په غم کښے دَ خوشحال سره په خروش دی

دا وئیل څما دَ راز دے — دا منزل دور و دراز دے
تازی سوار دے پکښے پاتے — څۀ تهوڅۀ تهوتاز دے
دَ نائی ډیره ناسازه! — دَ بل ډیرے وَته ساز دے
دَ دانش کشیدے بویه
نۀ دَ سرو زرو طراز دے

دَ کمال لافے دِ نۀ کا نا درستے — چه تلقین ئے دَ کامل نۀ وے اخستے
دانشمند دَ معمّا په علم پوهدے — دَ ابجد په علم څۀ خبر نالوستے
هیڅ کمے وڅان ته نۀ پریږدی په ژبه — دَ کردے په کار کښے غوڅ په کیسو سکښتے
دَ دانا ترسرم دُرکوهر نثار کړے — دَ نادان په سرم پنډ دَ خاورو لوستے
ارادتے برخیرن په وړاندِ نۀ څئ — دَ خپل پیر په عیب سرشۀ یقین سستے
دَ ململو قدر چا وته بنکاره دے — چه ململ ئے همیشه په تن اَغوستے
په هغے یارئ څۀ باور خوشحاله
چه پیوندے په ویښتۀ سره آمستے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دُیارغم کله اغیار وته ولاړ دے
دَ هغه بادشاه له ملکه عالم تښتی
بے همت سړے له هرکاره غږیږی
دَ هغه شاعر مخ تور شه چه په طمع
خلق هیڅ راخبرنۀ دی چه په عشق کښے
چه دِ تورے زلفے وُوینم حیران شم
په بورجل باندِ دِ هسے ناقرار شم
دَ جمال په نندارۀ ئے هسے خوښ یم

دَیارغم خوهم خپل یار وته ولاړ دے
چه دے ظلم وآزار وته ولاړ دے
همت ناک سړے هرکار وَته ولاړ دے
وهردر وهر دربار وَته ولاړ دے
څوفکرونه وماخوار وَته ولاړ دے
په حیرت سړے تورمار وته ولاړ دے
لکه بنۀ بنکاری خپل بنکار وَته ولاړ دے
لکه څوک چه وگلزار وَته ولاړ دے

لیونے خوشحال په نن دے دیدن ورکړه
دَصبا فکرهوښیار وَته ولاړ دے

داستم چه خپل آشنا دے په ما کړے
په یارئ ئے دِ هیڅوک غلط نۀ شی
گورہ سربه ئے په رندکۀ په زاهد شی
دَ مخ خال ئے تورتارودے په گلزار کښے
خدایه تۀ ئے دَ زړۀ مهر په ما وُکړه
دَ فراق غمونه هسے را پسے دی :
زۀ به ولے دَ بنۀ مخ نندارۀ نۀ کړم
یو وصال دَ بنو یارانو بل هجران دے
چه خوشحال ئے په خدا په ژړا کړے

نا آشنا سړی به نۀ وی په چا کړے
وار په وار ئے درست عالم دے ترشا کړے
دَ غمزے خنجر ئے اوس دے ترملا کړے
دَ زړۀ بازم دے نظر پسے وا کړے
چه دِ زۀ په ظالم یار یم شیدا کړے
درسته شپه ئے وماخوب نۀ دے راکړے
نندارے لره ئے زۀ یم پیدا کړے

دَتقوٰی لافے وهی دَ صادقئ
په ربښتیا خبر وهم مترددیم
داچه وائی څوک به هست کړم څوک به نیست کړم
کۀ عذرا په ملک کښے شته مخ دِ بنکاره کا
آدم زاد په تفاوت سره پیدا دی
دَ بزرګانو په مسند هغه تیرے کا

په قاضئ ئے گواهان تیرد فاسقئ
په وسواس کړم دَ عالم منافقئ
سکه دعوٰی کاندی سړے دَ خالقئ
زۀ په تن کښے زړۀ لرم دَ وامقئ
یو په بل تیرے لری دَ فایقئ
چه لری وارہ اَسباب دَ لایقئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ننګیالیو سره ویره د سر نشته سر سړے پرے کا دَخر په سارقئ
نمر په کوته پټوه نۀ شی خوشحاله
هیڅ منکر مۀ شه د خپلے عاشقئ

دَهغوچه کړځید نه ستا په تل شی ستا په تل به ئے آخر سرونه دل شی
ستا چشمانو م زړۀ یوړ بنډ و قبل کړ دَهغو به څۀ احوال وی چه قبل شی
د وصال د ناوی مهرځۀ دے غم دے هغه هم واړه یکباره معجل شی
عشق یوځۀ د مزری بریت دے په کوکل دے د رنځورئے په څو ورځے رنګ بدل شی
بنائسته که هر څولافے د بنائست کا چه ئے تۀ په نظر کښیوزے نور خجل شی
یو کلزار په یوۀ درنګ کښے شګفته شی چه ئے زلفے په بارخو باندِ ولول شی
ترهر حرف ئے د خطا نافے څاریږ ۀ
آفرین د خوشحال په داغزل شی

دا سړے خو په ادب سره سړے دے چه ادب ورسره نۀ وی نور څارو دے
چه وفا ورسره نۀ وی سړے نۀ شۀ تر هغۀ نه په وفا کښے بهتر سپے دے
عادلان م د جنت د کلزار کل دی ستمګرم د دوزخ د اور لرګے دے
سپے چه چا سره آشنا شی څۀ پرے وخوری وهغۀ تۀ ئے تم نۀ وی څو ژوندے دے
د انصاف د څښتن غم د دوزخ نشته د انصاف م نر قیامته لا پرځے دے
په بنۀ خوئ د سړی قدر وقیمت کیږی بد خصلت سړے یا دیو دے یا پیرے دے
چه ئے علم و هنر نۀ وی څنګ تښته بے هنر سړے که کوکورے لاشے دے
چه په پند په نصیحت د بندی نۀ شۀ تور زنځیر ورلره بویه کۀ مزرے دے
په روا په ناروا د ملحد څۀ دی په مذهب د ملحدانو کوکړے ورے دے
د راحت په وخت د یار تجربه نۀ شی چه محنت درسره واخلی یار دِ دے دے
هر زاهد چه زهد واخلی بے مرشده
د خوشحال ختک په پوهه تش ملنځے دے

دواړه شونډے دِ شراب پرتکالی دی په سړۀ والی له یاقوته په سیالی دی
په سپین والی په بنائست په زیبایئ واړه غابنے ئے مرغلرے لالی دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په بنیوه بنیوه چه پل کښیږدی په لاړے
کښلے پښے نے دگلزار پائمالی دی

په کالیو سره مخ بنائسته کیږی
ستا په مخ بنائسته ستاد مخ کالی دی

په طلب په استغنا چه تجربه شول
عاشقان معشوق دواړه جنجالی دی

نن هغه سړی کهٔ غواړم موندهٔ نشی
چه خوشحال خما دزړهٔ په خوشحالی دی

هره چارے قبلوه کهٔ پرے مئین ے
بنائسته کله له خیاله نه خالی دی

په ریښمینو نهالیو دِ نورخوب کا
دکوڅے خاورے ئے ماته نهالی دی

دَ فراق په وخت خما ستړگو ته گوره
په ژړا ژړا شیبے پشکالی دی

تل ژړا نارے بلغا کی خوب په خو کا
چه میشته دَ فراقژن په حوالی دی

زهٔ دَمستے په پیزوان باندِ مئین یم
که دَ مخ کالی ئے غوره غوتیالی دی

نوم نے مهٔ اخله خوشحال وته په ژبه
مخ ئے تورکهٔ په یارئ کښے تیتیالی دی

دَ هوښیار دَ نادان هومره تفاوت دے
خودمزکے دَ آسمان په مینځ کښے وت دے

نادان څورب فراغت گرځی خوښی کا
هوښیار تل تراندیښنو لاندِ چت پت دے

که په ما باندِ څرخ خوړی پروائے نکړم
دهر هرکله دا ناسره په نښت دے

که حاتم شی یا رستم شی خوله ئے گوره
چه ئے لافے دَخولے وُکړے نوراندت دے

عشق یومست هاتی ولاړ سړه خوږیږی
دا په ځان خونی عاشق ئے مهاوت دے

چه دِکم اختر پرے وُشولوئے به هم کړے
چه خیرن درځه نشی دا یوخت دے

څوک دَبل گوتهٔ خوری ورپسے گرځی
چاخوړلے په درست عمر بنکار دَگوت دے

دَتحصیل او دَ ترتیل بلا په دهٔ شه
چه ملا دَحق گوئی په کار ساکت دے

حاجی لاړو ومکے ته راغے دهٔ م
په دروغو په حرص ډک کړے کت دے

چه دیدن ئے دَگلرویو سره کیږی
مئے دِ خوری نوروزدِ کا بهارئے نت دے

چه په کور کښے ئے کښیږدی په چائے نهٔ خوری
خدایه مال نے وما راکړه په مُعنّت دے

چه کردارئے دَگفتار موافق نهٔ وی
همیشه دَ دروغژن په ژبره وت دے

دباطن په ستړگو گوره هغه مخ ته
ظاهری نظر دَ نمر په لیدو تت دے

دَخوشحال کلام شیرین دے تر نبا تو
چه په خوند ئے خبرنهٔ دے ورته گوت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَسوختہ وُ یو وصال دے — چہ هجران پکښے محال دے
دَ یار غم چہ معشوقه شی — نورئے وصل لایزال دے
کۂ هزار پردے ترمینځ وی — هغه واړه اتصال دے
کۂ راځی دَ یار له لوریه — ورته پس هغه شمال دے
چه په عشق کښے سوخته وی — وربښکاره هغه جمال دے
دَ هغه بیلتون له کومه — چه تل خوښ دَ یار په خیال دے
مخ دَ یار کوره په تیل کښے
دَ خوشحال ختک مثال دے

دَ فساد فکرم نشته خدائے حاضر دے — خپل ساعت به تیروم عمر آخر دے
اطاعت دَ اولوالامر ځکه نهٔ کړم — خلیفه دَ زمانے په زړهٔ کافر دے
پلارئے وُوژهٔ په بند رونړه په ټوره — په آزار دَ مومنانو بهادر دے
دَ ابلیس غوندِ مکرونه ئے په زړهٔ کښے — په فریب کښے ترابلیسه لاماهر دے
په باطن ئے وُ پوهانئ ته نظر نشته — په ظاهر کۂ وُ دانئ ته ناظر دے
دَ چا زړهٔ به ځُنے روغ په دُنیا نهٔ وی
دَ خوشحال ختک چه چاوُدځُنے خاطر دے

دا دُنیا ده چه په دا کښے څهٔ موجود دی — دَ دُنیا سره همه واړه نابود دی
بدهغه چه ئے نظر په سود وزیان دے — بښهٔ هغه چه نهٔ په زیان نهٔ ئے په سود دی
نهٔ محمود شته نهٔ ایاز دورئے تیرشو — په جهان پاتے خبرے دَ محمود دی
دَ خپل دین دَ خپل اُمت سیلمه ثنا کا — مومنان دی کۂ ترسا دی کۂ جهود دی
تربیت ئے دَ فلکه دے موندلے! — کۂ پوهیږے چه دا درے واړه موجود دی
کۂ آفتاب دے کۂ مهتاب دے واړه ستوری — ورځ او شپه په عبادت کښے دَ معبود دی
په خپل حکم به ئے بیا سره تازه کا — دا هډونه چه په مزکه کښے فرسود دی
اَغوستن کۂ ئے زر بفت وی کۂ شړئ — په دا دواړه توکه بښهٔ سړی خوشنود دی
کۂ دَ لرے کۂ نزدے شمار ونه مهٔ کړه — چه به درومی یا رادرومی دواړه زود دی
په قیامت په بل ژوندون چه شک کمان کا — شک پرے مهٔ راوړه خوشحاله چه مردود دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ هوښیار غلطی نهٔ وی اوکهٔ وی خودَ خندا شی
په خپل عقل غره مهٔ شه کهٔ غره شے حیف دا شی

دَ دُنیا لالچ ډیر مهٔ کړه دَ دُنیا لالچ څو ډیر کړے
و زړهٔ ته به دِ هومره ډیر غمونه را پیدا شی

قربان ئے ترهمت شم څنے هسے لیونی شته
کهٔ تخت دَ سلطنت وی پرے دَ دوئ کله پرواشی

چه ستا نصیب قسمت دے کهٔ طلب ورپسے نکړے
په غیر کښے به د واړه خواه ناخواه درلره راشی

دَ یار دَ زړهٔ ساتنه په مثال دَ روغ کالی ده
هیڅ حال دَ کالی نهٔ وی کهٔ پیوند دَ کالی بیا شی

چه باز دِ پرواز وکا په طلب ورپسے کړځے
کهٔ بخت مدد کاری کا چه ئے وُنیسے بیا ستا شی

نادان دے کهٔ هوښیار دے له هرچا نه عقل اخله
یا تور غشے خطا کا دَ هلک غشے رسا شی

چه دِ وُخوړ هغه ستا دے مال چه نهٔ خوړے بلا دا شی
په مرګ یا په ژوندون به په نصیب کوڑه دچا شی

مدد دَ طالع بویه چه هُنر سره همراه شی
هُنر به سود ونهٔ کا دَ طالع کهٔ درته شا شی

په زړهٔ کښے خپل غرض دے چه هیڅوک څنے خلاص نهٔ دے
یا یافت دے یا نا یافت دے چه خندا شی یا ژړا شی

خپل ځان وته ئے وائی خوشحال داخوړے خبرے
حلوا ده دَ نبا تو کهٔ ترخولهٔ دِ دا حلوا ده

دُنیا بده بلا ده چه وما وته بنکاریږی
په دے له خپله پلاره سکه څویه ویزاریږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه خوک وبله خپل دی ولے فهم فکر نۀ کا
چه مړک شته په دُنیا کښے سره ولے نۀ خاریږی

په هر لوری چه کورم وعالم و ته حیران شم
دُنیا د هیڅا نۀ ده په دُنیا سره خواریږی

وبل ته ټوره واخلے په داکارکښے ډیر حیران شے
چه خپل دِ په بدئ شی ستاوجنګ ته تیاریږی

چه بخت را سره مل وومار به ماته چرمنګئ شوه
چه بخت وماته شاکړه چرمنګئ راته ماریږی

دُنیا د مست هاتی په خوئ خصلت ده کۀ ئے کورے
چه یومهاوت وُمړ بل ئے شاته تیاریږی

عالم عالم غمونه چه خوشحال وینی له خپلو
غم خورئے کۀ پیدا شی خپل پردی ته به شماریږی

د ناکس د تربیت سره څۀ کار دے — د سنګیړ د زراعت سره څۀ کار دے
کۀ ترملا ډکه درسته په آس سور شی — د نامرد د شجاعت سره څۀ کار دے
ورځ وشپه دِ په آرام باندِ تیریږی — د بے ننګ د حمیت سره څۀ کار دے
په پالنګ کۀ ورته کښینی کښلے ځوره — د نامرد د بنۀ صورت سره څۀ کار دے
د کاوزو ورمیږ ونه مزری نموړی — د کلید ړو دے قوت سره څۀ کار دے
چه هوسئ په میدان وهی تازیان دی — د کوتې د دے حالت سره څۀ کار دے
فصاحت د باغ بلبلو څخه غواړه — د قارغۀ د فصاحت سره څۀ کار دے
چه له ځایه ئے په بخره سلامت شو — د زاهد د ملامت سره څۀ کار دے

درومه هر لوری تۀ ګشت کوه خوشحاله
د رندانو د خلوت سره څۀ کار دے

دا دروغ دی چه په ستوریو سعود وزیاشی — سُود وزیان واړه په حُکم د سبحان شی
کۀ د رنګ خوبی ئے شته بوئ ئے له کومه — د کاغذ ګلونه هم د ګل په شان شی
زمانه په طبیعت ده د هلکو — هلک تل چه وچاورکه زرپښیمان شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدُنیا اقبال چه مخ کا و نادان ته — دانشمندئے دَخبرونه حیران شی
دَ منصب سره څما خبرے دُر وے — اوس راضی یم کهٔ په چاباندِ مرجان شی
کوره کومه چاربه کاندهٔ مخ بنکاره کا — دَعالم خبرے پیرے تردا میان شی
دَدُنیا لالچ څو پیراندوهٔ پیروی — چه ئے پیره تولوی پیر پریشان شی
دانشمند څخه چه مال دَدُنیا نهٔ وی — وعالم وته په مثل دَنادان شی

زهٔ خوشحال ختک هغه یم قدرنشته
دا م واړه له افغانو نه افغان شی

دَ باطن په تجلّی ظاهر صفا شی — دَ بد ذات په آشنایئ کښے سل جفاوی
لکه نوم چه دَ کیمیادَ عنقا آوړے — تردا دواړو نه نایابه لاوفا وی
دَ ناکس سړی نه زرخبرے واوړے — په یوه وینائے کله اکتفا وی
دَدے دور په یا رانوغلط مهٔ شه — نخامخ ئے درته مخ قفا قفا وی

دَهغهٔ طبیب طلب کوه خوشحاله
چه دَ مخ په تجلّی کښے ئے شفاوی

پیرمئین په تازه مینه سره تیرشی — په هجران ئے خوږ ژوندون زهرکنډیرشی
لا یوغم م تمام نهٔ وی څهٔ نصیب دے — چه ناڅاپه نورغمونه رابرخیرشی
زهٔ په ویرَ معظم په غم کښے ډوب وُم — خبرنهٔ وُم چه طاهر به تیروبیرشی
لکه زیره دَ طاهرنهٔ وے په زنی — دَهرهر ویښتهٔ ئے غم راباندِ پیرشی
خدایه هسے غم بل ماته پیدا مهٔ کړے — چه په دهٔ م طاهرخان له دِله هیرشی

"طاهر ومړ په شباب کښے" دا تاریخ دے
چه به کال دَدهٔ دَمرګ ترے رابرخیرشی

راستی لار ده بادشاهی — پکښے نشته کمراهی
دَ ربښتینو پروا نشته — دَجهان په بدخواهی
دَ ربښتینو سره مل وی — تل نصرت دَ الهی
دَ ربښتینو څائے جنت دے — دَ قرآن په گواهی
بیا به نهٔ موے خوشحاله — په راستئ کښے تباهی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

رفتارئے مستانه دے — په غمزه کښے یکا نه دے
دا په سر په لب شکرے — چه هر غابنئے دُر دانه دے
کهٔ په سترګوئے نظر کړے — کل له نازه هم خانه دے
کهٔ وخ وته ئے ګورے — لاله ګل ئے نشانه دے
په دا پیچ وتابو زلفو — چه د مشکو خزانه دے
لائے پئ خاځی د شونډو — په هرکار کښے فرزانه دے
ځما ځان تر دهٔ فدا شه — چه هم ځان هم جانانه دے
نهٔ چه زهٔ په دهٔ مئین یم — د همه خلقو ستانه دے

خپل صورت ستائی پخپله
د خوشحال زبان بهانه دے

رنګ د وُرک شه بدے روے — را پسے ئے سینه سوے
له یوے فتنے د خلاص شم — را پیدا کړے بله نوے
ستا غمونو هسے تُوغ کړم — وُکښے نهٔ شمه سیلوے
چه اُودهٔ وے هومره بنهٔ وے — کشکے تل وے اُودهٔ شوے
پرے به کله باران وُشی — چه به وتُوکیږی سوے

فصل نهٔ کوی خوشحاله
خو پته نهٔ شی په یوے

رابسکاره دی د دے دورلنډ لستونړی — پردی مال وته اوږ دهٔ لاسونه مونړی
کهٔ په باغ ئے د یتیم د کونډے ګډ کړے — د انګورو په خوا بهٔ ږ نګوری چونړی
د خورو مزه پوښتی بزه ئے هیره — بنے څرب لنډے وهی ورباندِ سونړی
کله سر په سینه وُمنډی شیڼکے شی — کله سرموږی د مار لکه سر بونړی
چه په بنهر په اُولس کښے ساده هیښ وی — ورځ وشپه پرے حواله وی لکه کونړی
په خپل ځائے لکه شاخوږے خوخولهٔ خشکه — په بل کور کښے لکه آس په راتب پونړی

کهٔ څهٔ کارد ے د رندانو دے خوشحاله
چه ظاهر باطن ئے دواړه دی مخ رونړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه کوره نا مردان بلا وهلی!
د آسمان دپاسه کشت نندارهٔ نه کا
کم دلیل د د سر دواړه ستړکے وخوړی
مړهٔ هغه چه نهٔ ئے نوم نهٔ نے نشان شته
څوک په خپل پټې کرل کا د اغزیو
پسینه کړنه هومره فائده نهٔ کا
د کرلو وخت آخر شو تخم لږ دے
چه محنت په خان قبول کا راحت مومی
چه لذت شهوت ترک نهٔ کا ولی نهٔ دے
د هوی ترکول عروة الوثقیٰ دی
چه د نفس د ظلمانی کوهی را ووځی
د رخانئ پکښے یو آدم خان خوښ کړ
څو مخلص تمام خالص نهٔ شے خوشحاله

د بری میدان پریږدی لرے ته زغلی
کورد مزکے د تلی په مینځ کښے ملی
په تورتم د جنازے سره څملی
تل تر تله په ژوندون پائی بناغلی
چا په خپل پټې کلونه دی کرلی
چه په وخت کرل وکا برئے آخلی
خوار هغه چه ئے له کره لاس ختلی
رنج وګنج سره دا دواړه دی تړلی
اولیاء نهٔ دی د نفس په خوښئ تللی
درویشان په دا وئیل دی پوهید لی
د هغو ستړکو ملکو نو دی لیدلی
یوسف زی خوانان د پیرو وسوارهٔ پلی

خطر ونه دی چا پیر درجار و تلی

راشه کوره څهٔ کارونه درنګ په درنګ شی
واړه وسوزی په اور کښے خبر نهٔ یم
لا به کله مخامخ راسره خاندی
چا وئیل د بنکلیو جنګ پسے آشتی وی
په هرچا باندے زړهٔ دے لکه ژاړله
حال د وګوری څما بیاد آهنګ کا
په فراق د مهوشانو لاچینه دی

په ساعت د دنیا چارے په بل رنګ شی
بیاله کومه را پیدا هومره پتنګ شی
چه کا تهٔ ئے که کهے را ته په څنګ شی
ولے ما سره آشتی نهٔ کا په جنګ شی
خو په ما باندے چه راشی زړهٔ ئے سنګ شی
د هرچا چه عاشقئ وته آهنګ شی
کهٔ روان څماله دواړو ستړکو کنګ شی

تا په خپله رضا و نیوو په غوره!
اوس د ولے د خوشحال د یارئ ننګ شی

راشه لیونے شه چه د نور خلق غمخور شی
څوچه هوښیاری کړے غم به لا درباندے زور شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هیڅ پرے نۀ پوهیږم چه دَ چا وئیل رښتیا کړم
سل رنګه خبرے په دا مینځ کښے لور په لور شی

صبر دَ درد منو زړونو هر کله اشر کا
خدایه لابه کله دَ غماز سړی مخ تور شی

زر هُنره وُکړه نصیحت په کوم حساب دے
ځائی خوئ وی فکرمۀ کړه چه به نور شی

یوهند و بلادے چه په مکر تیکه کښیږ دی
څوک به ترے خلاصیږی هغه ځائے چه دَ ځلور شی

چین جمال دِ کوره بنائسته په تور خالونه
په کشیده بانډِ تکئ دَ انځور شی

درسته شپه م تیره په فریاد او په نارو کړه
شپه ئے دَ هجران وه سور پالنګ په ماسُوا ور شی

غیر بیکانه چه اخلاصی شی رور هغه دے
رورچه بیکانه شی راته وایه کله رور شی

ډیر دی په داچم کښے چه پټ پټ دَ مینے لاف کا
ولے اوس یوازے وخوشحال وته پیغور شی

رابنکاره چه دَ دلبرے دَ مخ خال شی
لکه بنکارد بنکاری وُلکی خوشحال شی

په څوڑے شاعری په جهان کیږی
دَ هرچا ثنا صفت دَ بنۀ جمال شی

دُنیادارکړه چه نۀ وی بنے دلبرے
اور دِ پورے دَ دُنیا په ملک ومال شی

په وصال دَ سمنبرو زړۀ تونګر شی
چه ئے نۀ وینی په ستړګو خوار کنګال شی

چه عاشق دَ معشوق په عشق کښے غرق شی
جدائی له مینځه لاړه تل وصال شی

ارمان دا دے چه به زړۀ همیشه نۀ وُم
همیشه به سرۀ ګلونه کال په کال شی

دَ ګلونو وخت تیریږی ساقی کرم ئے
کۀ دَ جام په راکولو دِ اهمال شی

لکه باغ چه په ګلونو مالا مال دے
ځما جام دِ په شرابو مالا مال شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه کوره د یار انو بے غمی
هومره مهر هومره مینه محرومی

زهٔ داهسے په فراق په اشتیاق کښے
حقیقت ئے راته نهٔ کړ قلمی

آسمان لیږے مزکه کوره عاشقان دی
چه په څو رنګه غمونه تل زغمی

ما په دا جهان کښے غوښته موندهٔ نشوه
کهٔ په بل جهان پیدا شی خزمی

څوک چه دم د دهمدمئ وهی تر سوړشوم
چه م ولیده د خلقو همدمی

چه په هیڅ ساعت خالی نهٔ وی له غمه
مګر غم لره پیدا دے آدمی

هیڅ طبیب نشته چه حال وړته معلوم کړم
چه په کوم زحمت کښے پروت یم الم

تهٔ چه ماته عربی خبرے وائے
د عربو ژبه څهٔ زده عجمی

کهٔ خبر په دا مثال ئے وئے وایه
چه په کوته یوه کوته دوه غمی

بادشاهان به ئے هیڅ کم نهٔ کا خوشحاله
کهٔ یو خدائے د سړی نشی په کمی

کهٔ قدم د وفا په لاره تهینګ کړ
د خوشحال په پوهه دا ده رستمی

راشه کوره خلقه نصیب په څو خوری
تورے نور څوانان وهی منصب صدو خوری

په غارونو کښے مزری څتهی منګلے
په تیارهٔ کښے د کړکے وازدے پیشو خوری

هغه ډک طباخ په سپی خوړلے ښهٔ دے
چه تر څنګ ئے د عورتو په سوپرو خوری

لکه څوک چه ډک چلم څښنوی په غم کښے
فراق ژن هسے لوګے د اندیښنو خوری

د فلک د نا قابل سره غیرت دے
نا قابل به د نیا تو حلوا څو خوری

لا به کله هغه ګنج ورکوے بخته!
چه خوشحال به ئے په پلیو په سورو خوری

را بنکاره شوے د جهان بے وفائی
نورم راڅکاوهٔ قلم په آشنائی

لکه اور په بوتی وُلګی بیا نهٔ وی
یو څو ورځے دی ارمان د جدائی

روښنائی د معرفت تر نمر والا ده
څوک د ونهٔ ووئی له هسے روښنائی

له یوهٔ څاڅکی نه څهٔ صورت پیدا کا
هم په خدائے بنائی کارونه د خدائی

تا هالهٔ وکل خپل زړهٔ ورکړے بلبلے
کهٔ ئے تل وے دا بازار د زیبائی

په ګلزار کښے ناستے هم داهسے نهٔ وی
چه خبر شوم ستاله قدره تنهائی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په خپل کوشش بهبود د دنیا غواړی راته هیڅ نۀ دی د خلقو دانائی
چه خُما د درد علاج لره پیدا دی زۀ له چا غواړم داهسے مومیائی
چه بلا ورسره وصل د فراق ده د دلبرو حُسن څۀ لره ستائی
چه گوهر تر خرمهرو په قدر کم دی مگر نشته جوهری د بینائی

چه په چرته بنۀ صورت هوړے زړۀ دے
خوشنا کړم د خوشحال د پارسائی

رحمت په اکوړی شه چه ئے وُنیوو خُائے سرائے
چه بنۀ فهم ئے وکړے باور وکړه خُائے دے خُائے

تور غوړے د هودی دے تر تیراه پورے سم تللے
نیلاب ولنډی دوارو عجب سرا یښے په پائے

پرے سازه لویه لار د هندوستان د خراسان ده
گذرے د اتک دے چه ترے ترس کا شاه گدائے

هر فیض د د جهان څۀ چه یادیږی پرے رادرومی
کۀ ملک ئے بارانی دے څۀ بهار لری هائے هائے

کۀ سوات کۀ اشنغر کۀ پیښور دے دا ملکونه
رجوع لری ودۀ ته فیض ور درومی د هر خُائے

په هر لوری ئے بنکار شته د شاهین د باز د هر څۀ
واه واه کالا پاڼی چه ئے بنکار دے دلربائے

خُوانان ئے چاق درست چُست وچالاک دی په هر کار کښے
خوښ ستړی سپین اوسرۀ دی چه بالادی په نمائے

پکښے میشته رم خُویه خیلخانه لمسی اُولس دے
چه خوک پکښے میشتۀ دی په امان وُسه د خدائے

آسمان څُنے جدا کړ لاس د چا رسی آسمان ته
خوشحال له سرا یه نۀ دے جدا شوے په خپل رائے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زلفے دِ دلدارے چه زنار فرمائی
څهٔ لره وماته څوک بل کار فرمائی

سهل دے دا امرکهٔ م سرومال قبول کا
څوک به دا وائل کا چه دشوار فرمائی

څهٔ لره اے عقله دیرله صبره راته وائے
زهٔ بنده د عشق یم دے تلوار فرمائی

څورا ته ناصحه نصیحت کړے لیونے م
کله هسے کار کا چه هوښیار فرمائی

ما ترے توبه وکړه چه د عشق په شریعت کښے
دین مذهب هغه دے چه دلدار فرمائی

قطع لیونے دے چه د یار د مخ په دور
څوک وماته سیر د گلزار فرمائی

خپله رضا پریږده چه رښتینے ئے په عشق کښے
کړه هغه خوشحاله چه دِ یار فرمائی

زهٔ چه ستا د مخ گلزار گورم په کور کښے
د بهار گلونه وُ سیزم په اور کښے

ما په دا تندی اخستے ستا د پاره
کهٔ زهٔ تا غوندِ یار مومم په پیغور کښے

د ټولی په مخ کښے څئ په شین شین
لکه مست هاتی چه یُون کاندی په دور کښے

اوس په هر چرته جهان په بلاپک شو
کهٔ پخوا به لباسی وو په لاهور کښے

په قراره قرارئ کښے عالم خوښ دے
ما دِ خدائے لری د عشق په شر و شور کښے

کهٔ رستم د زمانے شے گمان مهٔ کړه
زمانه به دِ پرے نهٔ ږدی په خپل زور کښے

د سلیمانؑ په گتی کښلی دا وینا وه
چه دا تخت د سلیمان به نهٔ وی گور کښے

د خوشحال دِ د هغونه لاس په سروی
چه به څائے د گوتے غواړی په څلور کښے

زلفے ئے سبب دی د عاشق د پریشانئ
نندارهٔ ئے بهانه ده د بیحده حیرانئ

دردم سرشته ده د هزار رنگه دارو وو
غم ئے لا تیرے کاندی تر هیرے بنا دمانئ

زخم ئے ما به ده لایزاله حیا تکی ده
ورانے ئے دے موجب په جاودانه ودانئ

محتسب چه احتساب لره وڅی مجال ئے نشته
د برند و ستر گو مست ئے همیشه کاندی ورانئ

ما په عشق کښے رسوے دے خپل کار تر هسے حده
لکه څوک په مټ د تورے سزاوار شی د خانئ

زهٔ خوشحال ختمک د عشق په کار هومره خوشحال یم
څو سلطان غره په خپله بادشاهئ او سلطانئ

زهٔ او عشق بے قراری دم په دم زړه زاری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تیغ وکښلے رابشکارہ شوہ　　خوار عاشق دَ ځان سپاری
چہ ہر دم پہ ما ستم کړے　　ستا دا ھسے دہ یاری
ستالہ مہرہ ستالہ لطفہ　　زہٗ لرم اُمید واری
دایم ستا دَ غم ورے وہم　　شرط دَ عشق دے برد باری

خاکپائے اوسہ خوشحالہ
لوئے بہ کاندی خاکساری

زہٗ اول درخبر نہٗ وُم چہ دا ھسے بے وفائے
پہ ورځ سل سوکندہ وکړے بیالہ وارووے پروائے

ماچہ زرہٗ وتاتہ درکړہٗ خلقے را باندِ غاؤ کا
ولے ھسے خبر نہٗ دی چہ تہٗ څہٗ رنگہ زیبائے

اے چہ ما وتہ وئیل کړے چہ پہ کښلیو نظر مہٗ کړہ
څوک بہ ستا پہ وئیل غوږ کا چہ دَ مرګ خبرے وائے

پہ ما یو ویښتہٗ دَ خپلے معشوقے ترحورے بنہٗ دے
ملاځہٗ پہ ہر زمان دَ جنت حورے راتہ ستائے

دَ کلونو قدر ھر زاغ و زغن نہٗ زدہ طوطا زدہ
ھسے مہٗ وایہ نادانہ چہ پہ څہٗ صورت شیدائے

داځہٗ تورے سترګے نہٗ دی چہ ځما زړہ کے ئے یووړ
داځہٗ لا نورے بلادی خدایہ تہٗ دا نابینائے

دا نہٗ خال نہٗ زنخدان دے نہٗ پریشانے تورے زلفے
دا یو رازِ الٰہی دے کہٗ تہٗ پوھ پہ دا وینائے

دا دَ خلقو ملامت دے کہٗ پیغور دے دَ وکړی
دا ھمہ ځما قبول دی خوکہٗ تہٗ لہ ما پخولائے

نن بہ څراغ پہ کور کښے نہٗ بردم چہ کمان ھیڅوک ونہٗ کا
دا نزدے دَ چم وکړے چہ نن بنہٗ میلمہ ځمائے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړۀ به ستاله جوړه ظلمه په خوځان وړی
غم د درد به د ترکومه په داشان وړی

ما داهسے رنګ هند و لیدلے نۀ وو
چه په حُسن دین و زړۀ د مسلمان وړی

هغه لاس چه د کوتاه دے ترلمنے
هر زمان نے په ډیر غم کښے ترکړیوان وړی

د هغه عمر غۀ حال حلاوت نشته
چه ئے بے له تا په غم کښے په پایان وړی

چه هوس د هغو شونډو غابنو کاندی
د ارمان کوتے هردم په خپل دندان وړی

ستا د زلفو و چوکان و ته حیران یم
چه د څنګه کوئے د څنګه په میدان وړی

پکښے بند زړونه وکاږی که ئے کوړے
چه د سر زلفینے تل د زنخدان وړی

چه د زړۀ په ما هغه حکم فرمان کړه
څما زړۀ به دستا هر حکم فرمان وړی

د خاطر خوښی م هرکله په دا ده
چه دا ستا غمونه هرکله پریمان وړی

د نور چا په ماڅۀ کار دے زۀ پرے خوښ یم
که م دین و زړۀ همه وا په بُتان وړی

د وفا خصلت چه خدائے نۀ دے ورکړے
څوک به څۀ لره په کښلیو د اګمان وړی

د زړۀ مینه ئے په کښلیو ما ته نۀ کړه
خوار خوشحال به له دُنیا نه دا ارمان وړی

زړحُما تر لاسه نۀ راځی ویر یږی
که هر څوم د لاسه ورسره کیږی

حُما لاس و رته تر اوږه هم بتر شو
لا په اور کښے ئے یو درنګ ساعت تیریږی

زۀ او زر سره له څایه غلیمان یُو
په جهان کښے غلیمان سره رغیږی

چه غلیم د مړنی په نظر کښے یوزی
نور ئے زړۀ د دۀ و مړک و ته پرکیږی

شاه حُلمی به خپل غلیم کا تر څان وړاندِ
و نامرد و ته به سل حیلے دریږی

په قرآن کښے ستا اموال په غلیم یاددی
بل به کوم حجت تردا قوی یادیږی

کا نړے زرکۀ سره وګورے یو رنګ دی
فرق ئے دادے چه په زرو زړۀ رغیږی

هغه زر ترکانے بوټے لا بتر دی
چه ئے وُمنډے په مزکه نۀ خرڅیږی

چه اوبۀ په څائے حصارے شی نوخساشی
صفائی ئے هم په داده چه بهیږی

تل د لاس په غلیم برا وسه خوشحاله
غلیمان د شرمنده تر تا څاریږی

ساقی کل شګفته کیږی
خس له باغه رفته کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ د باغ خوښی په زرښی د راغ هسے مفته کیږی
د ګوهر حُما بے مثیلو په مڑکانو سفته کیږی
کهٔ ئے پټ لرم له خلقه رازم نهٔ ځفته کیږی
باد د زلفے آشفته کا حُما زړهٔ آشفته کیږی
هغه رازچه به ما تا کړ په محفلو ګفته کیږی

د خوشحال بخته بیدار شه
تل څوک کله خفته کیږی

ستمګر به همیشه په دُنیا نهٔ وی پس له مرګه به لعنت لعنت په ډهٔ وی
هسے خوښ د ظالمئ په کار ولاړ دے تهٔ به وائے مرګ ئے نشته تل به ژوی
ظالمان په نورځهٔ هیڅ راغلی نهٔ دی خو دُنیا وته ځو ئیږی لکه ړوی
چه د خپلے کامرانئ په کار راشی کهٔ عالم ته وبالاشی پرے نے زړهٔ وی
په ګفتار کښے فرښتو سره سیالی کا په کردار کښے شیطانان ترے پورځهٔ وی
کهٔ په سُول ئے د دُنیا مقصود حاصلیږی د مکے په ورهٔ به هم پورے کا سوی
په خپل رورځویه ئے زړهٔ نهٔ وی ترلے د خپل پلار و مرګ ته هم مږی ورغوی
په هغه چارهٔ قلم روغ کا قرآن کښے په هغه چارهٔ د رور مرئ سکوی
په رکوع کښے تسبیحات د مال و ملک کا په سجود کښے خپل حشم غواړی کهٔ ښهٔ وی
کهٔ نیکخواه ورته د پند خبرے وُکا چه د بد وخصلت پریږدی زړه ئے چوی

زهٔ خوشحال چه د اورنګ بادشاه نوکر یم
کهٔ وځویه ورکول کړم زړهٔ مے نهٔ وی

ستاله جوړه ظلمه هیڅ نهٔ کړلے ژړلے چه له دره د په خو ګړځم شړلے
همیشه حُما دُعا په غوږو آورے یوه ورځ د په سکنځا نهٔ یم ربړلے
رقیبان د لکه سپی په کوڅه غاپی ترے هم خیرے جامے دروم هم خوړلے
چه به ته د هغه تال په پریو زانګے هغه پرے د ریښمو دی غړلے
قافلے د همرهانو شوے روانے ما هم بار دے د خپل کوچ پسے ترلے
حاسدان بے غمه خوب کا دریغه دریغه چه په کورئ د بلا نقیل نه ترلے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د خوشحال ئے وکړم وته اُمید دے
که هرڅو په ګناهونو دے لړلے

ستا د ګېښلی مخ په خال م زړه په داغ دے — په دا داغ م له عالمه زړه فراغ دے
سخ چه ناست یم د ګلونو په چمن ګېنے — بیا ساقی را ته نیولے پک ایاغ دے
یا د بنو زلمیو خیال دے په شمله ګېنے — یا د بنو جونو د تور وربل دماغ دے
د زلفینو په تورتم ګېنے به ئے غوارم — دا ورک زړه که رابنکاره کا څراغ دے
چه د ګېنسلیو د جمال ننداره کا ندی — وهغو ته سپیره پک سیل د باغ دے
په سپین مخ ئے تازه خط نوے توکیږی — زړه به زړه ورځنے ژغورم روږدے زاغ دے
د ګلونو بوئ بلبلو ته سراغ دے — د ګلونو بوئ حئ په ګلزار ورشی
تا په کوم توکی راوړے دا دماغ دے — نه په اصل دومره بنه نه بنائسته ئے

د خوشحال ستر کے هوړے چه بنائسته دی
خلقه زړه ئے نه په باغ دے نه په راغ دے

ستا وصال لکه دریاب دے زړه ماهے — په هجران د هر زمان دے په ماهے
په ژړا م ځنے خواست د سپینے خولے کړ — په خندا ئے وے چه څه کا دا سړے
وے ئے څوک ئے چه ځما په کوڅه ګرځے — بنه حاضر جواب م ورکړ ستا مړئے
هم په څورنګه ناله هم په تن نال شوم — بیلتانه را باندے وکړ کار د ئے
د خوانئ بهار څه بنه دے دریغه دریغه — دا بهار که همیشه په دُنیا وے
ګل، سنبل، نسرین، نرګس، لاله غوتئ — د مقدم سره د را وړه درست پسرلے
چه ئے ونیسم په غیږ ګېنے را ته ګوری — لکه مست د مور په پیو کم کیلے
دا شیرین یاران به نه وینم چه وُمرم — خدایه ما په جهان تل لړے ژوندے
غم خو ستا د رسوایئ کړم نه د سر کړم — که م دا اندیښنه نه وے تا کتے
هسے ستا د بیلتانه په آتش سوزم — لکه څوک په لمبه کښیږی وچ لرګے
د یرصفت د بنا پیریو آوریدہ شی — ولے ستا د مخ څوک نه وینم مخے
په بنائست ګېنے هیڅ لقب دریاندے نشته — که د څه خو د عاشق نمنځنه کړے
اورنګ زیب به د کابل د خلل غم کا — ساقی وخت د نو بهار دے راوړه مے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه زړۀ سوے دِ دَ خوشحال په فریاد نشی
په سینه کښے دِ سندان دے کۀ زړے

ستا په غم کښے لکه زړۀ یم بل به نۀ وی
دروغژن یم کۀ بل هسے لکه زړۀ وی

ستا له غمه مِ خیګر له وینو ډک شو
چا ته هیڅ وئیلے نۀ شم زړۀ مِ چوی

تا وئیل خُما دیدن قیمت بها دے
زړۀ حیران یم ستا دَ مخ بها به څۀ وی

سر به درکړم په بها کښے دیدن را کړه
په سودا کښے خلل مۀ کړه کۀ دِ زړۀ وی

هسے ګل دَ ګلستان په مخ کښے نشته
هرچه ستا رنګ و بوئ پورے په ډه وی

کۀ تل تا له درځم ملامت مۀ کړه
دَ بلبلو تل وګل و ته ور تله وی

دَ بنۀ څیز پوښتنه مۀ کوه له اصله
دَ یوهر دوکان چه وی کلے دِ بنۀ وی

کۀ صورت ژغورے له غمه کاتۀ مکړه
زړۀ هاله په غم اخته شی چه کاتۀ وی

زړۀ خوشحال چه آشنا وو یم خوشحال شم
لکه ګل چه تازه شوے په اوبۀ وی

سړے هومره څوئ نیت وی
جامه هو مره څو قامت وی

کړګدن کردن دَ فیل خوری
څۀ میړے څۀئ قوت وی

نۀ هر خرۀ دَ عیسیٰؑ بار وړۀ
نۀ هر سر سره دولت وی

وصورت ته نظر مۀ کړه
په کرده دَ مرد قیمت وی

زړۀ مړئے دَ هغه کس یم
چه صورت وی هم سیرت وی

کۀ صورت سیرت دِ جور شول
سر تر پایه عنایت وی

دَ خوشحال په وینا غور کړه
په وئیل کښے ئے لذت وی

ساقی تل به دِ داسته وی کۀ به نۀ وی
له جهانه به مهلت وی کۀ به نۀ وی

راشه ډک دَ میو جام په مئے ناب کړه
تل به هسے فراغت وی کۀ به نۀ وی

هر هوس چه دَ صورت کړے نن ساعت دے
کوره کاندہ به صورت وی کۀ به نۀ وی

په ربستیا و ماته وُوایه طبیبه
چه دَ رنځ مِ به صحت وی کۀ به نۀ وی

دَ وصال وعده دِ وُکړه ستا سو ګند دے
په دا کار کښے به غفلت وی کۀ به نۀ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ په تا پسے ملنګ دَ مصلے شم شاه په تام به قیمت وی کهٔ بهنهٔ وی

سپینه خولهٔ کهٔ بے ریباره وربیشکش کړم
په خوشحال به م منت وی کهٔ به نهٔ وی

ستا په تورم مال تالا مانړئ نړیږی راشد کوره کهٔ په دادِ زړهٔ سړیږی
ستا غمونو لره هرکله ژوندون وے په دالږ عمرم زړهٔ کله مړیږی
وائے ما ویشتلے څهٔ کا حال ئے څهٔ دے په کوڅه کښے دِ لادم وهی غړیږی
دَ فراق په شپه ئے خوب په ما حرام کړ وائے مالګے م په ستړګو کښے غړیږی
لا به کوره څهٔ شان شان غوتئ وا کا دَ سائست بهارئے اوس نوے غوړیږی
ما به هیڅ په رټ رټ نهٔ ژړل عالمه ولے څهٔ کړم چه م ننه زړهٔ ژړیږی
دَ ربستیا خبرے خیر وبرکت دے په قاضی دَ دروغژن ژبه الړیږی

دَ خوشحال ختک په کار پورے حیران یم
مینه لا وربانډِ زور شوه خو زړیږی

سخ دَ آئینے دے چه دِ مخ وته تل ګوری
سخ دَ لونګین دے چه دِ پاس په تیر شوری

نهٔ دی ستا دَ غوږ رو غټے غټے مرغلرے
وصل دی په میاشت پورے یو سربل سره ستوری

روغ م کړے له رنځهٔ چه دَ خولے بنیرے دِ آوُرم
شهد وشکر راکړے چه م ستا شونډے وُږوری

ظلم دِ دَ ستړګو په ما خوار هرکوره پیر شو
څهٔ کړم توان مجال دَ زورَور لری کمزوری

زهٔ کهٔ ډوب په غم یم تل دِ ډوب وُم چه عاشق یم
تا دِ خدائے معشوقه تل له هرے بلا ژغوری

ما وته ارزان دی ډیر په مشکو په عنبرو
څوک به تورے خاورے ستا دَ پلهٔ نه بها پلوری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل ځی ستا ولورته په ارمان ارمان کا تهٔ کا
سپین ږ په کا تهٔ شی د خوشحال د ستر کو توری

ساقی راکړه و ما مئے یوځوجامه پیاپے
دا هم ظلم دے کهٔ ګورے چه بے میوځی سپرلے
هغه ځائے چه ګل ومل وی ورځ خو کا ندی سړے
ګوره څهٔ وائی پرے غوږ کړه چه آواز کا چنګ وے
بیا به تیر ساعت رانشی آه ارمان ارمان هے هے
د دُنیا ژوندون هم سهٔ دے کهٔ ترتلو همیش وے
چه ترتلو همیش نهٔ دے نورئے ګ ګنړه لاشے

ډیر مئین ږ وبل تیر کړل
فلک نهٔ لری زړهٔ سوے

ستا په زړهٔ د دُنیا څلے د دوزخ لمبے دی بلے
چه د ګور لړم ماران دی هم دا څلے دی پیټلے
کهٔ دِ یوځله ځان خلاص کړ غم دِ نشته هورے دلے
دا لړم شلوه له دله کهٔ دِ نهٔ وی لیچے شلے
چه به وو تسپے په لاس کښے مخ ږ تور بیرے ږ کلے

تهٔ اصیل ځان دِ مړئے کړ
هے تو به خوشحاله ولے؟

ساقی چه مهربان شی په پیاله کښے م زیا تیږی
چه مے ورځنے اخلی د رقیب بنیښه ماتیږی
قربان ږ شم تر ستر کو په طالع کښے زور ور دے
چه هر کله ږ ستر کے په زیبا جمال توانیږی
بوسه د سپینے خولے راکړه بدمهٔ وړه مستحق یم
د حسن له نصابه دِ خو توکه نه کاتیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آفت دَ هلکوالی وو جمال دَهغه تُرکے
چه کال باندِ تیریږی آفت لاسه تازه کیږی
ژوندون دَ عاشقانو دَ معشوقے په مثال دے
چه بیل شی له معشوقه ژوندے نۀ دے وفا تیږی

چه اوسپنے ترے خیژی هغه کانړی رنګارنګ دی
ترخے خوږے ترے خیژی څوک فولاد ترے مړا تیږی
دَچاخونے چه وُمری پس له مرګه شی میراتے
دَچاخونے خوشحاله په ژوندونے میرا تیږی

سترګے دی کۀ وروځے کۀ ئے زلفے کۀ اوربل دے
څۀ تورے بلا دی چه م زړۀ پکښے قبل دے
چرته به خلاصیږے دا بلا تر زړۀ چاپیرے
مخ ته کۀ ئے ګورے لا په سرو لمبو اوربل دے
خیال ئے دَ زلفینو عقل وصبر و دین و زړۀ وړی
نۀ پریږدی په کور کښے بنۀ کالے دَخونے غل دے
نور عالم لا پریږدہ چه عاشق وته څۀ وائی
پلار کۀ نصیحت کا و عاشق وته خجل دے
قیس وو کۀ وامق وو کۀ فرهاد ورپسے نورو
ما را وړے نۀ دے دا دَ مینے دود اول دے
مینه اَلستی شته لباسی شته نفسانی شته
مشک شته هم اوږه نفسانی لکه بصل دے
هرچرته یو مخ دے کۀ په سترګو احول نۀ ئے
یوچه ورته دوه شی خود پوهیږے چه اَحول دے
جام بینا ته ورکړه چه ئے ډک یوسی ترځایه
جام ورکړه پاندۀ ته هسے ووایه چه تل دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عشق دے نورځۀ نۀ دی چه غواص په دریاب ډوب کا
ځان سوزی په اور کښے ښځۀ عشق ورسره مل دے
ځائے په ځلئے چه ګورم زۀ خوشحال ورته حیران یم
بله غوغا نشته همګی د عشق کل کل دے

ستم دِ د عینینو یاره عین عنایت دے — بند دِ د زلفینو د خلاصئ کنایت دے
په شپه ځما وئیل کله آمیز وو له هستئ — په ورځ ځنے دوریم هغه حرف چه شکایت دے
خبرے د مجنون او د لیلیٰ لاړے زړے شوے — ځما او ستا خبرے تازه نوے حکایت دے
ځما او ستا خبرے دی پټ راز ځۀ هسے نه — چه چاته ئے پیدا یا بدایت یا نهایت دے
په مخ چه بنائسته شوے که پسول پسلے نۀ وے — ساده د ورو ځیو خال دِ د درست حسن کفایت دے

هیڅکله د مرګ د خوشحال اندیښنه مکړه
چه وئے وژنے دلبر خون ئے روغ په روایت دے

سر په بیدی بیدیا و نیوے ژړے — په صحرا د ونو پانړه پټ خوړے
که آشنا که نا آشنا واړه لیدل شی — د همه واړو په ژبه ورخسړے
چه د قام د خیلخانے واړه خبر شوم — څۀ روزګار به پکښے شی په غم لړے
په ناحق م آزادئ وته تلاش کړو — په زندان د اورنګ زیب بنۀ وُم تړے
خپل پردی چه د دُنیا شکرخواری دی — لکه مچ هسے له ځانه وُ شړے
ځما حال به وهغۀ وته معلوم وو — که دا هومره ډیر آهونه چا نغړے
که خوشحال پنجهزاری کړه مۀ ئے وینه
د مغل له نوکرئ دے اغیړے

شین مزرے چه کیندې داړی — باندِ نۀ خیژی خسی زاړی
څۀ عظمت څۀ مهموتے دے — چه په مرګ به ئے څوک ویاړی
د بنادئ سترګے دِ وُوزی — پریږده دے ور پسے ژاړی
په یوه غوټه یو نیسی — باز نۀ دوه تارو ونغاړی
عابد خاځما شنتار دے — په غوټه وهی دوه څاړی
هم شنقارم هم شاهین شته — هم بنۀ باز لرم لک غاړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وخت د بنکارڈے سهیل وخوت — خپل خپل بنکار به پسے غواړی
زهٔ په بنکار یم د سرخابو — وړاندِ زاغ راځی مردار ی
خرقه څیرے د زاهد شوه — رنګ ئے نهٔ وینم د نماړی
زر به ورک شی مدعی م — یوځو مچ دی د غوبار ی
آزمیښت ګوره د دهر — راته لیندی شول اوس شار ی
تیغ پرے سورمهٔ کړه خوشحاله
چه لائق دی د څوبار ی

شفاعت د محمدؐ ثابت په نص دے — دا په داچه دے د درست جهان اخص دے
د موسیٰؑ د عیسیٰؑ کله داصفت وو — د لولاک نعت په دهٔ باندِ مختص دے
اولیاء ئے د امت وارهٔ ممتاز دی — هر ولی ئے په ارشاد کښے مُرَخَّص دے
سرحلقه د اولیاؤ هغه شماره — چه شیطان ئے بندی کړے په قفس دے
د رستم د مړنتوب خبرے هیڅ شوے — ذوالفقار چه ئے یادشوے په قصص دے
دوستداران د اهل بیت د اوره خلاص دی — بے دوستئے عالم کله مخلص دے
په وِلاکهٔ د علیؓ رافضی کیږی
سکه خوشحال ئے په وِلاکښے مشخّص دے

بنے بنے شیے شی څنے پیښے! — غیږ په غیږ شے شفت زبیښے
څښے څښے څښے بنیښے تشیږی — نن به شی بخښنے بنے بنے
چین چین څنړے څی په شین — بُتے زشتے فتنے پیښے
شی په چین تشے پوښتنے — چین چین څنړے پښتنے بنے
هسے څی په شین شین
نخښے نخښے ختے پښے بنے

بنهٔ سر راست ټوپک دے چه نظر څنے لر برشی — ګوره چه ګذار د کم خطا په چرته سرشی
ولے هسے نهٔ وی چه ویښتهٔ چوی په عقل — بیا چه درے څلور مصلحت وکاندی بنهٔ چرشی
څوک چه مخه ولی لیندئ د پیر وبله کښینی — کله په سپینکی د هلک غشے برابر شی
نور ے لویئ هیڅ دی د نسب کهٔ د نور څهٔ دی — بنهٔ لوئی هغه ده چه لوئی ئے په هنرشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دیرد سرورئ دعوی کاندئ په جهان کښے یوسړے په زړ وکښے په بخت سره سرورشی
آس ترکتے لاندِ شاپه څوځایه زخمی وی څائے دے دحیرت په راتبو نوساتهٔ خرشی
یوترویتی نشته چه خپل حال ورته معلوم کړم کله به څما د بخت دستورئ لا اثر شی

زورلړے کهٔ عقل په دا دواړه مهٔ نازیږه
بخت راوړه خوشحاله چه دِ کار لکه سړه زرشی

بنهٔ هغه چه لاړ بیخوده په خیال ستا دے کهٔ اشغال دے په جهان کښے اشغال ستا دے
بنهٔ م ولیدل په ستړکو واړه کښلی چه تروا ړولا تیرے کا جمال ستا دے
د دُنیا په مخ به ډیروی بنهٔ مخونه چه تر هرڅهٔ ډیر لذت کا وصال ستا دے
دواړه زلفے دِ حلقه کړے لکه لوے چه دانهٔ دے په دالومه کښے خال ستا دے
دواړه پښے کلکونے سړے په دماغ دروے کوره بیاخو مره وکړے پائمال ستا دے
تهٔ کشتن د غمزے کړه مهٔ ودریږه مقتولا نو قبول کړے وبال ستا دے
تاخو نوم د جنجالی را باندِ کښیښو کهٔ په زړهٔ کښے م جنجال دے جنجال ستا دے
کهٔ همه د خلقو کښلی سره ټول شی خسته زړهٔ م په ټولی کښے لیوال ستا دے
چه دِ څوک په کوڅه تیر شی نور مئین شی چه تمام له عشقه روغ دے دیوال ستا دے
کهٔ مثال د صورت غواړے کوره میاشته چه پوره د دوو هفتو شی مثال ستا دے
چه صبا بیکائے لوند لرم په اوښکو یادگاری راڅخه پاتے رومال ستا دے
څوریبار درسره نهٔ بیائے د وړاندِ چه په چم به نے تیریږے مجال ستا دے

کهٔ په قهرئے شړے په لطف ئے بولے !
چه ئے نهٔ پریږدے په هیڅ کښے خوشحال ستا دے

بنا پیرک کهٔ په هواځے په تورتم کښے په راتلهٔ د رنړا ورځے دے په غم کښے
لکه چتے درسته ورځ دروی په پورته هغه هومره باز شاهین دروی په دم کښے
د چندنړ اوښوانهٔ فرق سره هیڅ نهٔ وُو کهٔ چندنړ تر بنوانهٔ بنهٔ نهٔ وے په شم کښے
چاله ډنډه د ُرګوهر نهٔ دی وُکښلی قیمتی لؤلؤ لا لا غواړه په یم کښے
کهٔ کیدړ په څم کښے رنګ شو په دا څه شی خو بیا هم هغه کیدړ دے په شیم کښے
زاهدان شیخان م ولیدل نامرد دی مرد عالم ربّانی دے په عالَم کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چرخ م خکه دا په سر لونی کلونه — چه ئے خاورے غوندِ پروت یم په حرم کښے
که ها تی د بادشاه و مری غم ئے نشته — چوهرے د سپی په مړک دے په الم کښے
عشقه واړه ستا د غمونو خرخشے دی — چه په سوات راسره گرځی هم په سم کښے
گوتے ومنډه په غوږ کښے ترے تیریږه — ذاکر زر ذکرونه کا زړه په درم کښے
که خوښی ئے د وصال ورسره نه وی — عاشقان کله خوښیږی په ارم کښے
هغه چرد واړه گوتو ته نظر کا — چه ئے وی ستړکے نیولے په صنم کښے

آفرین دِ په وئیلو شه خوشحاله
چه د تورو رڼو دل کړے په قلم کښے

بنهٔ هغه چه بنهٔ ئے رنگ بنهٔ ئے جمال دے — بنهٔ هغه چه په قوت د هرچا سیال دے
بنهٔ هغه چه په میراث خانی میری کا — فراغت بے غمه ناست صاحب اقبال دے
بنهٔ هغه چه که احمق وی که جاهل وی — په طالع په تخت صاحب د ملک ومال دے
بنهٔ هغه چه په رشوت قاضی گری کا — په مسند د قضا ناست په قیل وقال دے
بنهٔ هغه چه د پیر لښکر ورپسے درومی — د پیرئے کبر د پیرئے جاه د پیرئے جلال دے
بنهٔ هغه چه په مجلس د ملوک ناست وی — تمامی عمرئے زیست روزگار تیتال دے

په عالم کښے بدی نشته واړه بنهٔ دے
چه و بدو وَته روغ دے یو خوشحال دے

بنارونئ دِ غواشینئ پسے غواړی — باز د غرهٔ بنائسته زرکے پسے نغاړی
که په رنگ کښے لکه غلوڅهٔ هسے روغ دے — د خور و هیله و مړکه له غوبا ړی
یو آواز د بنهٔ آسونو د شښنا دے — بل آواز د گنده خرونو دے چه نا ړی
څوک ژړا د آخرت د پاره کاندی — څوک د دے جهان د سود د پاره ژاړی
د گذار د پاره لیندی په څو ناست دی — د قطرے په حرص گرځی پسے شاړی
مرتبے د دواړونهٔ دی سره سمے — څوک د ځایه باز شهند څوک څوړی څاړی

که د څنگ پرونه ئے هر څوک بسلی روغ دی
د باز و نو پرواز مهٔ غواړه له څاړی

بنهٔ سړے گنړه هغه چه په زړه صاف وی — همیشه ورځه شرم هم انصاف وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه داخو توکے نۀ وی سړے نۀ شۀ
هرچه کاندی نور دنۀ کا هغه معاف وی

په دُنیا چه دا عالم سره خلاف کا
لکه سپی چه په مردار ه ئے خلاف وی

نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وُ
کۀ ئے گورے ترقیامته ئے اوصاف وی

کۀ داناسړے بدرنگ وی په داخۀ شی
کۀ دَبنے تورے سازشوے بد غلاف وی

دَهیچا غرض په دا خبرو نشته
قلپ سرۀ چه سره پیژنی صراف وی

جوهری به ئے خود کار سره بنکاره کا
تریاقو توکۀ شبه په رنگ شفاف وی

دَیارئ دپاره گرځم نۀ ئے مومم
چه وفالری هغه په کوم اطراف وی

دَبخملو په اودل به خبر نۀ شی
په شماره کۀ اتیا زره بوریا باف وی

عشق په حق په باطل هیڅ نۀ دَے راغلے
ترکعبے ئے دَیر وبت وَته طواف وی

بنائسته هرگوره دَیر شول پرے ویریزم
ما خوشحال چه دَتقوی وهلے لاف وی

عاشقان کۀ ستا دَلاسه په جفامری
بارے شکر چه په عهد په وفا مری

بیدلان م دَهجران په تیغ قتیل وی
دا یو حرف دے چه پُوره دَقضا مری

زۀ مرده وُم ستا دَجام په کوټ ژوندۀ شوم
چه ئے داجرعه نوشلی غه په چا مری

زرۀ م ستا طرے طرارے ته هوس کا
څان م ستا غمزے بیمارے ته رښتیا مری

اے تازه کله بلبلے ته نظر کړه
په نوا کښے ستاله شوقه بینوا مری

خوار خوشحال په مرگی حال دے څنگدن کا
راشه گوره په ارمان دلیدوستا مری

عاشقان له بیش وکمه آسوده دی
له وجوده له عدمه آسوده دی

دَساقی له لاسه دے پیالے آخلی
په مستئ کښے دم تردمه آسوده دی

بُت پرست دی دَمغان په خرابات کښے
خوش خرم خوشحال له غمه آسوده دی

ورځ وشپه باندِ تیریږی په بنادئ کښے
هر زمان م له صنمه آسوده دی

تل ساقی دَمیو دادکا بے منته
کریمان م له کرمه آسوده دی

همیشه شوندے دَجام په مورگه ایښی
په خاطر له جام جمه آسوده دی

بادشاهان کۀ خزانے وبله آسپی
داگدائے م له دِرَمه آسوده دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دریاب کښے ئے د عشق ئے غسل کړے له حدثه له قدمه آسوده دی

اے خوشحاله که نظر دریاندِ وکا
ډیرئے تا غوندِ له دمه آسوده دی

عاشقان چه د معشوقے دلداده دی له همه وارو غمونو آزاده دی
په یوه لحظه کښے هست په بله نیست شی که ئے کوړے عاشقان په زړه ساده دی
مګر زهٔ له ځایه غم لره پیدا یم په هر دم راته غمونه آماده دی
نهٔ یوزهٔ د نظام پور په ګټ کښے پروت یم سوختګان ئے په هر لوری افتاده دی
په درون د عاشقانو نظر وکړه د لالا غوندِ د داغ سره زاده دی
ترک تاجیک عرب عجم عاشقان وارهٔ مست بیخود د دیو د خمرو په باده دی
د هوی خدایان دِ لرے کا له دله یوهٔ خدائے وته چه ناست په سجاده دی
چه ترخپلے رضا تیرشی اولیاء شی اولیاء له هره غمه آزاده دی
غوبانهٔ شپانهٔ ظاهر سړی لیدل شی په معنیٰ کښے د پاده سره پاده دی
شیخه تهٔ چه ډیر طاعت کړے جنت غواړے د جنت وته ورتلهٔ په اراده دی
عاشقان کهٔ معشوقه په تیغ ووژنی ورمیږونه ئے د تیغ تر نهاده دی

چه د ننګ په چارو نړهٔ دی خوشحاله
کهٔ ئے نړوینے په ستر کوهم ماده دی

ارتینے په عقل کمے خود بخود د صورت غمے
تهٔ د دیو سره سم ئے دوئ له تا سره نا سمے
زړ نیکی ورسره وکړه په یوه ذره برهمے
درته زهر شی تا وژنے چه ئے تهٔ ګنړے مرهمے
د وفا په خوئ کښے نهٔ دی همیشه جفا شیمے
د آدم په صورت روغے په معنیٰ کښے نا آدمے
تا به کرم په لږ ګناه کا دوئ په لوئے ګناه ناکړے
خوئے کج وړے هومره کج خوئے درد وړے هومره غمے
په هر کار کښے دیکر ګونے په خولهٔ راسے په زړهٔ رسے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پاسه تن ئے بنائسته دے په درون لکه ارقمے
نورخهٔ مهٔ وایه خوشحاله
تر وجود بنے دی عدمے

غم آخرشو د بنادئ روزگار راغے چه موسم شود گلونو گلزار راغے
په تلوارئے تیارے د سیل کانړئ و بلبلو وته وایه بهار راغے
په دا هسے وخت د بنسو گلونو د مطرب د ساز آواز م په کار راغے
دائے وارهٔ له خزانه نه فریادشی چه گلونو ته طوطی په چغار راغے
د هجران مشقت پیرو وخدائے آسان کړ پیام سنځ دے چه عشرت د دیدار راغے
که په نورو باندِ هرگله اختر دے په ما دا زمان اختر دے چه یار راغے
لون لون کالی بیا پیری خواجه شو
چه خوشحال د یار د مخ په بازار راغے

غم بنادی چه په چا ویرشی لکه ویرشی هسے تیرشی
سر رشته ئے موندهٔ نهٔ شی گونا گون د دور پیرشی
چه په خوا په خاطر نهٔ وی هسے چارے په تا دیرشی
په هجران کښے غم د یار دے چه همیش ترنړهٔ چا پیرشی
هرچه وواتهٔ له ستر گو عاقبت له دله هیرشی
چه به سخه په خوشحال کا
گوندِ زرد دهٔ په خیرشی

غنیمت گنړه گلونه میخوری کړه په چمن کښے
چه به پس له هفتے نهٔ وی دا گلونه په گلشن کښے
په غنچه چه تطاول کا صبا دا گله باطل کا
د بلبلو کام حاصل شی د گلزار په شگفتن کښے
وطن بنهٔ دے که غم خور وی بنهٔ یاران دِلور په لور وی
خوچه شته که هومره نور وی لاغریب یم په وطن کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم مانږے شته هم عتاب شته هم ترخۀ ترڅۀ خواب شته
نۀ ئے شمارنۀ ئے حساب شته څۀ خوښی ډېره دیدن کښے

اور اوبۀ نۀ ده نورځۀ ده چه په تلۀ یا په راتلۀ ده
په راتلۀ په اور اوبۀ ده اور رابل کا په رفتن کښے

کۀ ئے تل په ظلم زړۀ وی کۀ م زړۀ له غمه چوی
خدائے دِ نۀ کا دا به نۀ وی چه ئے خوږ کړم په گفتن کښے

چه بلبلے وته گوری له آوازه ژبه ژغوری
د بلبل په آواز شوری هو مره ژبه په سوسن کښے

چه جدا شی و دِ مرینه له غمو نو چه خلاص شینه
څوک چه بے یاره پائینه سود ئے کوم دے په زیستن کښے

کۀ د سپی غوندِ ئے وُلی په رو روبه پسے زغلی
خوار خوشحال به ئے اخلی څوچه څان لری په تن کښے

کۀ م یادکۀ م نا یادکا ندی مخدوم دے — دچاکړم له څښتنه حجت کوم دے
دا گدائے و وصال ته څۀ هوس کا — چه بادشاه ئے له دیدنه نه محروم دے
په عاشق چه ستاله لوریه ظلم وشو — اوس په هرلوری چه دے دروی مظلوم دے
همیشه ئے سوړ سوړ آه وی گونه زیړه — د دیشتلو حال کۀ نۀ وائی معلوم دے
په جهان کښے چه څۀ رنځ و وڅۀ محنت وو — هغه واړه سره تول شول عشق ئے نوم دے
هغه یار چه وفادار دے مونږه نۀ شی — په جهان کښے د وفا هُنر معدوم دے
د خاطر وینه م خوری په تنکی تنکی — له گناهه ویره نۀ کا ندی معصوم دے
کۀ یار سرغواړی له دۀ نه نه به نۀ کا — هرچه پوهه د عاشقئ په رسوم دے
چه په عشق کښے موافق نۀ وی اے دِله — د هغۀ لیدل په څۀ گوڼه چه شوم دے
د دوزخ لمبے به نۀ رسی عاشق ته — چه د عشق په تُوره مړشو غه مرحوم دے

ما خوشحال ته ستا د خولے اسرار مکشوف شو
کۀ دا رار د چا له ستر گونه مکتوم دے

کۀ یو دم د یار په غم فراغت کښینے — په دا دم به له عالم فراغت کښینے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که دِ کار د محبت و نیو په لاس کښے — په دا کار به خوښ خرم فراغت کښینے
که کدائے شے د مغان په خرابات کښے — همیشه به لکه جم فراغت کښینے
دیر ولږ د زړه زحمت دے که عاشق شے — ته به تل له بیش وکم فراغت کښینے
که اختر دے که نوروز دے خو هم دا دے — مخ په مخ چه له صنم فراغت کښینے
که په کوئے کښے ئے مقام وکړے زاهده — په خاطر به له ارم فراغت کښینے
لاس په لاسه بهشت دا دے اے خوشحاله
چه خپل یار سره یو دم فراغت کښینے

که دا عقل د همه خلقو یکسان وے — سکه بائنده ووچه همه سړی لقمان وے
د دے لال قدر به نه وو په عالم کښے — که دا کانړی وا په لعل د بدخشان وے
په بیخودت به د هرچا کره پراته وُو — که دا دُرم د ژلئی غوندِ ارزان وے
هیڅ حساب به ئے په هیڅ څنګل کښے نه وو — که دُرے وا په کنی د هندوستان وے
په خوراک به خرو غویو نه قبلولے — که د بړه د دونے پانړے وا په پان وے
دا تپوس به هم په لاس د بادشاه ناست وو — که د باز و د شهند غوندِ ئے شان وے
د لیلیٰ او د مجنون مینه به هیڅ وه — که همه خلق لیلیٰ او مجنونان وے
ما خوشحال د حقیقت په ژبه ووے
دریغه دریغه که څوک پوهه په دا زبان وے

که صورت وته دِ کورم په صورت کښے یو حیوان ئے
که معنو وته دِ کورم شهزاده د کُل جهان ئے
چه ظلوم جهول یا دیږے کُنتُ کَنزًا هم پوهیږے
ته و داته نظر مه کړه چه دا غوښے اُستخوان ئے
چه مسجود وو د ملکو خُائے ئے پاس وو په فلکو
ته خلف د هغه هسے خلیفه پدر نشان ئے
غوښے هډۍ څه پکار نه دی دا د کاؤا و د خړه هم وی
د کدائے په کند کښے پټه ته یو څورنګه سلطان ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے ستا په حال پیغور شو ترابده ئے مخ تور شو
د چا نوش ئے د چا نیش ئے د چا درد د چا درمان ئے

د دُنیا عقبیٰ باغونه پکښے واړه نعمتونه
واړه ستا د پاره جوړ دی ته مقصود کن فکان ئے

که هر څوک لونه پیر دی تر حساب تر شماره تیر دی
د فطرت په حدیقه کښے نو باده د کلستان ئے

نور به څه وائے خوشحاله له دے حاله له احواله
هم دا هومره وئیل بس دی که پوهیږے نکته دان ئے

که په باغ کښے رنګا رنګ ګلونه پیروی — هسے نۀ چه د ګلاب د ګل په څیر وی
آشنائی د ګبینۀ ده که شکرے — چه خوارۀ ئے په څورنګه را برخیر وی
ستا د در د سپیو څۀ ثنا صفت کړم — چه تر پیره میره زړۀ وته راتیروی
آرزو به د حیوان د اوبو نۀ کا — عاشقان چه د دخولے په میو سیروی
چه په عشق سره ژوند دے د مرګ ئے نشته — که په ګور کښے تر دا تور وخاورو زیروی
د غمزے تورۀ ئے هر چرته وژل کا — نور په لورے شهیدان په داشمشیروی
تل ئے لوبے دی حُما د زړۀ په وینو — ستا د ستړګو آهو ماته لکه شیر وی
ستا د زلفو هر هر پیچ وته چه ګورم — همګی په رنګ وبوئ لکه کستیر وی
چه خوشحال د یو زمان دیدن ونۀ کا — یو زمان و رته تر کاله هم لاډیر وی

مګر هیڅ ئے د زړۀ حال و ربشکاره نۀ دے
چه لیدۀ ئے د خوشحال سره د یر د یر وی

که راضی م په جفا او په وفا ئے — نور را درومه چه زۀ ستایم ته حُما ئے
بے له ما که ئے جهان ستاشی په اوربشه — چه زۀ ستاشم که اوربشے خورے دا رلے
که د طمع د مخلوق له دره پریکړه — بادشاهی د مُبارک شه که ګدائے
غاړے غرونه خبر دار دی چه مجنون یم — که جهان په دا خبر دے که لیلیٰ ئے
جګی جګی په لیمۀ م قدم کښیږده — چه پرند ے ستړګے م روغے شی تو تیائے
کله ما و تا روزګار په یوۀ خائے کړ — بر بر راشه د یار سپیه چه آشنائے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه یاری له یاره کړے د سُود له مخه — په خاوند م د سوګند وی بے وفائے
چه د یار سره په خپل غرض یاری کړے — د یارئ بلا په تاشه یار د چا ئے
چه د بولم معطل مۀ کړه را د رومه — کۀ د باز غوند حاضر په ژغ د بیائے
په دربار م چوترے دی د سرو نو — راشه واوره چه په خپل کشتن شیدائے
چه د خوئ خصلت د رنګ سړ جوړ نۀ دے — رنګ د ورک شه کۀ هر خوبه رنګ زیبائے
په داهسے بنائسته جمال چه ستا دے — غم شدت آفت فتنو لره پیدائے

په اُمید د د دیدن په درکښے پروت یم
کۀ تۀ هر څوله خوشحاله بے پروائے

کله خپل بشر د کل غوند نمائے — کله کله د بلبل په ژبه وائے
چه هر هر زمان په هر شکل جلوه کړے — عجائبه د لبر بایه خود نمائے
په یوۀ وینتۀ د نۀ ارزی دوه کونه — په غایت لکه کوهر قیمت بهائے
د خپل درد دوا به زۀ له چا نه غواړم — چه هم تۀ محبوبه د ردئے هم دوائے

کله ناز کله کنځل کړے کله مهر
له خوشحاله مرورہ کۀ پخولائے

کۀ ئے لرے له جماله نه جلباب شی — حبطه به ئے ترمخ پورے آفتاب شی
کۀ ئے بوئ د پیچا پیچ زلفو ورشی — په خطا کښے به بے قدره مشکناب شی
څو بوسے کۀ له دشنام سره آمیز کا — شماتت به ئے په قند و په کلاب شی
کۀ هر څوله زیبا مخه خاطر نیسم — زړۀ م بیا په اضطراب لکه سیماب شی
یکباره ئے قرار ے له ما نه واخست — درسته شپه په ما حرام شه کۀ م خواب شی
د هغو طاعت قبول نۀ دے نور څۀ دے — چه سجده ئے تل د ورو څوبه محراب شی
دا پیاله چه څما نوش ډزۀ پرے مست یم — دا مستی م نۀ په بزم د شراب شی
د رندانو د شرابو هسے کار دے — چه زاهد ئے هم په بوئ سره خراب شی
نا محرم م د صحبت ته څۀ هوس کا — چه خاله محرومانو هم حجاب شی
کۀ یو تول د بنائسته ؤ سړ کښینی — خو هم بویه د همه ؤ انتخاب شی
غه روپئ چه د تنګسال له لاسه نۀ وی — وصراف و ته ظاهره په هر باب شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دروغژن غشے کہ هرخو ثابت روغ کړے — خو به بیا دهلکا نو تیر پرتاب شی
دَخرما وُنه خو سازه کړے له مومه — دَخرما غوندِ به کله ترے دوشاب شی

ما خوشحال چه په پښتو شعر بیان کړ
دَ پښتو ژبه به اوس په آب وتاب شی

کهٔ په عشق کښے زړهٔ دَنورو په لیدهٔ څی — څما زړهٔ په آوریدهٔ ترلیدهٔ ښهٔ څی
نورے مینے ځما له دِله یوړے — یکباره م په دیدن پسے لیمهٔ څی
هسے یاد بویه چه یوځله یار یاد کړے — نوردِ وینے لکه باز تزهر وینبتهٔ څی
پکښے خیال دَسروِ قدو دے پالم ئے — چم هرکله تر دوو ستړکو اوبهٔ څی
کهٔ په زړهٔ شوے زهٔ به اوس دیار څخه وُم — چاوے داچه پښے هوړے درومی چه زړهٔ څی
کهٔ دَمال ووکهٔ دَملک ووکهٔ دَزرو — وارپه وارم دَزړهٔ مینه له هرڅهٔ څی
دَدُنیا مینه په زړهٔ باندِ لوئے بار دهٔ — آزادهٔ به بارپه زړهٔ وُکوړ ته نهٔ څی

روغ به خوب دَبیغمئ کاندی خوشحاله
چه څهٔ خُوږ دَزړهٔ لری خوب دهغهٔ څی

کهٔ میوه دَچند نړ نشته هسے شنډ دے — لائے ښهٔ ترمیوه دارو و نوخنډ دے
وائے زهٔ به په تاوُکړم څنے چارے — زه دَدے چارے ارمان لرم دیرځند دے
کهٔ م څان څی کهٔ جهان پرے به ئے نږدم — ما نیولے اوس دَعشق دَسور ومنډ دے
په دالارد شهسوارانو ختل گران دی — گوډهٔ څوبه باندِ خیژے ملکند دے
زهٔ اودا دَهرناکس سازے ناسازے — کهٔ ربښتیا وایم خپل څان راباندِ پنډ دے
کهٔ مثال ئے په دُنیا غواړے له مانه — چه الا بلا پکښے وی هغه پنډ دے
دَچړے دَ لارهٔ کار نشته نادانه — چه تبرونه پرے ما تیږی هغه خنډ دے
یا صبادے یاغرمه یا نماز پښین دے — نماز دیگرد بنکار تکل کړم ساعت لنډ دے

څوک دَحج څوک دَتلقین څوک دَمکتب شول
یوخوشحال په وار وخلوکښے لونډ دے

کام دَ زړهٔ کهٔ هرخوښهٔ دے — ترایمانه نه ښهٔ نهٔ دے
چه ئے دا اندیښنه نهٔ وی — هغه کس سړے په څهٔ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اعتبار په دا دُنیا کښے دَ سړی لکه لیمهٔ دے
دَ هرچا چه لیمهٔ نهٔ وی کهٔ بادشاه دے خوار په زړه دَے
سپے به بنهٔ کړم دَمرئي نه سپے دَ کور مزرے دَغړه دے
خوکهٔ بد دے بیا ورے وړی بد سړے بدتر تر خړه دے
تهٔ ئے ویښ وینے په ستړکو غافل ویښ نهٔ دے اُوده دے
په ربښتیا کښے زوال نشته داځما کلام په ولهٔ دے
اولیاء بللے بسو یه چه حلال په خولهٔ په زړه دے

تهٔ ئے سست وینے په ستړکو
دَ خوشحال اختیار تیړه دے

کهٔ په حسن دَکشمیر خوبان اوځار دی یا دَچین او دَماچین او دَتاتار دی
پښتنے جونړ چه ما په ستړکو ځیر کړے هغه گل واړه خجل دَدوئی ترکار دی
په بنائست باندے ختم دا وینا ده چه په اَصل دَیعقوب قوم وتبار دی
هیڅ حاجت نشته دَمشکو دَگلابو په پنځه وخته مانځه عطر عطار دی
کهٔ تیکه کهٔ کټماله کهٔ نورسنګار دے داهمه تر تورو زلفو پورے خوار دی
کهٔ اوږدنئی مقیش دوزی کهٔ سالُو دے داهمه واړه ترسپین پرونی ځار دی
ترصورت ئے دَ سیرت خوبی اَفضل ده ترظاهرئے دَ باطن خواږه بسیار دی
گل روزګارئے سرتر پایه پرده پوښ دے نهٔ گریوان تر نامهٔ خیرے په بازار دی
له حجابه پورته غټ کتلے نهٔ شی نهٔ آموخته په کنځلو په پاڼزار دی

ما خوشحال له پیرو لږ دی څهٔ وئیلی
له دے حاله گوئے مگوئے وئیل بے شماردی

کله رِند غونډِ ملا واقف دَراز دے دَکتاب دَمسئلو زبان دراز دے
زهٔ مړیئے دَهغه چا یم ترے ځار یرم چه دَ زړه سره ئے جوړ دَخولے آواز دے
چه ئے رودَ خولے دَ زړه سره یونه دے کهٔ په هر نمانځهٔ اودس کا بے نماز دے
وار په وار ځما په زړه کا هسے چارے کهٔ دَستړکو ئے غمزے دی کهٔ ئے ناز دے
لا به پیر گلونه واشی په دا باغ کښے دَگلزار دَغوړیدلو ئے آغاز دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک به نۀ وی چه به غاړه وربانډ نۀ کا دَهرچا وملامت ته عاشق سازدے
ځان وتن سره مثال کړه دواړه توکه محبت کۀ حقیقت دے کۀ مجاز دے
چه عزت ترے پیدا کیږی قناعت دے چه خواری ورځنے زیږی هغه آزدے
زۀ خوشحال له خپله بخته دلګیر نۀ یم
چه ځما ستورے ځائی دشمن ګداز دے

کۀ هرڅو په خپله پوهه کښے سقیم ئے دَحکیم په حکم کار کړه نور حکیم ئے
کۀ په خولۀ په غوږ په ستړګو څۀ زده نکړے نور وردرومه ازلی سیه کلیم ئے
د سیرت خوبی پیدا کړه چه جوهر ده په صورت خوهډ وغوښه وینه ریم ئے
پیر استاد مرشد به واړه درته شاګرد کۀ په جهل مرکب کښے مستقیم ئے
عاقبت به دِ په بخره ندامت شی چه داهسے دَجاهل سره ندیم ئے
دا دانش چه دَهندو دَشمار حساب دے کۀ تۀ دا دانش دانش ګنړے لئیم ئے
سخاوت په روایت په روځ په رنګ کړه نۀ چه درسته دُنیا وبازے کریم ئے
همیشه په زړۀ خوشحال وُسه غم مکړه
په اخلاص چه وداناوته تسلیم ئے

کۀ هرڅو په هوا پرونه وهی چتے بیائے زړۀ وی په ډکی دَونے نښتے
شاه ځلمی تُورے نیزے خوری تردد کا په بربښنا دَتورے تښتی تیز آرتے
ستړکه ور اور اورکے وینی چه بریښی نوی میاشت په ستړګو نۀ وینی ستړګ تتے
ناسوتی عالم په څو په دُنیا خوښ دے هلک دَمور په تی پورے وی نښتے
دے دَخپلے ګوتے غم کا ندی کۀ نۀ وی په شګون کښے عالم بنۀ ګنړی شپږ ګوتے
په هرکار به بے خطا چورب آلوزی ماخپل بازدے په پهرو پهرو پرلتے
کۀ ئے بل له بدبوئی سپیرے نیسی دَخپل بوئی په بدبوئی خوښ وی خسا کوتے
څوک به څۀ لره خوشحال ته نصیحت کا
عاشق نۀ دے نصیحت دَچا نغتے

کۀ هرتارئے دَکوځئی مشک تاتار دے دَکوځئی تر تارئے بنۀ دَزلفو تار دے
هغه ځائے چه م دَما تیو تش بازار دے هغه ځائے م دَما تیو تش بازار دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه لذت د تورو زلفو راتر زړۀ شی دماتیو زیست روزګارکله پکار دے
داخبرۀ څۀ عجب ده چا وئیلی چه د تورو زلفوبد سوے ناتار دے
چه د تورو زلفوخیال ورځخه نشته تورے خاورے ئے پهسرعمرئے خواردے
کۀ دُنیا پرے وشندے هم هیڅ ده هغه کس چه م د زلفوخریدار دے

خوارخوشحال چه ډیرصفت کاندی د زلفو
په قیمت د تورو زلفو خبردار دے

کۀ هزارځله هُنر کا هیلے بیلے څوک به نۀ کا د ازل چارے تبدیلے
د ازل حکم په مثل د هاتی دے دسړی فکر مثال پرے د ډیلے
د حیات اوبه سکندر په هیلو غوښتے خضر بیاموندے عبث شوے د دۀ هیلے
یوه څۀ رنګه خونریزه لار د عشق ده پکښے ډیرے قافلے شولے قتیلے
عشق یوهسے یو دیرشم توړے رازده کړ چه په دیرش توری څکوم د قلم کیلے
عاشقانو ته اندک د دُنیا مال دے ترهمت پورے کثیرے دی قلیلے
دا دلبرے چه په دا کشور کښے نن دی په کشمیر کښے به ئے نۀ موے عدیلے
هغه ترکه چه څان جوړکا رابنکاره شی ترجمال ئے حورے هم نۀ دی جمیلے
په ارمان ارمان م څان راغے ترشوند و تا د شوند و دارو نۀ راکړۀ بخیلے
بیا هالۀ د محبت په کوڅه پُل ږده کۀ د ډوبے لکه ماء کړلے سبیلے

خپل پردی به د هیڅوک سیله ونۀ کا
اے خوشحاله کۀ د بخت نۀ شی په سیلے

کۀ خاطر د خوشحاله نه دلګیر دے په خوشحال باند هم ستا د مانړی ویرد ے
د بیمار ساهه په شوند و باند راغله دارو کړئے لاعلاج ته په تدبیر دے
د موسیٰ په معجزه به څۀ کړوهیږی د فرعون چه د هامان غوند وزیرد ے
یارځما په پالنګ ناست زۀ لاړ په خوب یم سراسر څماله لوریه نه تقصیر دے
ماخپل سر ترفلک ولیدۀ په پورته د دے خوب م معبره کوم تعبیر دے
بیا م کینړه ستړکه لاند باند ړپی مګر بیا م زړۀ یارئ کښے تزویر دے
په ژړا پورے م خاندی چه م وکوت دا همه واړه څما د بخت تاثیر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هیڅ یو مخ به ئے مخے د بنائست نه کړم ماچه ستا جمال لیدلے په خیر خیر دے

څما زړه د یار زلفینے سره ګوره
لیونے په لیونتوب کښے په زنځیر دے

که پکار د ده د خدائے پیژندګلی پیروی د محمدؐ کړه د علیؓ
هر آیت چه به راته پاسه له عرشه لاپه عرش به ئے علیؓ وو متلی
محمدؐ چه هغه رازئے په معراج کړ یکایک وو د علیؓ وته جلی
په محشر به هغه تور مخونه پاسی چه ئے نه دی تورے خاورے د تلی
محمدؐ علیؓ چه دوه ویني په ستر کو په دا کار کښے احولی ده احولی
د زړه زنګ په بل صیقل نه لرے کیږی په دوستئ ئے د علیؓ ده مصقلی
که دا هومره وئیل کا ورته رخصت دے محمدؐ دے پیغمبر علیؓ ولی
چه په بغض د علیؓ یا د عمرؓ دی رافضی دی خارجی دی خللی
د علیؓ د آل دوستی د ایمان زړه دے څوک د شک په دا په زړه نه راولی
چه ترمینځ د چار یارانو بد وئیل کا په مذهب کښے د هغو ده درغلی

د علیؓ د آل په مدح کښے جنت دے
د خوشحال ختک په دا ده تسلی

که رویت ئے ناممکن وے په دُنیا کښے اِرنی وئیل به نه وو په موسیٰؑ کښے
چه موسیٰؑ وته خواب لن ترانی وو څۀ عجب جلوه لیدله شی په دا کښے
چه په ملک په ملکوت کښے مونډه نشی هغه هسے څیزئے اینے دے په ما کښے
زه حیران په دا خلقو نه پوهیږم تری مری ولاړ ترحلقه په دریا کښے
چه په لا اُحصی وئیلے خبردار کړم چا څما ژبه ګویا کړه په ثنا کښے
د عاشق د معشوقے سره یو راز دے چه هیڅوک ترے خبر نه دی په دُنیا کښے
چه لیلیٰ کړه د مجنون کوندې ماته خوار مجنون ئے سرفراز کړ په هرچا کښے
نور که هرڅو پاکیزه زه ګنهګار یم غم م نشته بیام څائے دے په ما وا کښے

د خوشحال د هغو لار سره جدا ده
چه ئے غواړی په مسواک په مصلی کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ چرګان قرقره دار دی بیا وبازوته ناچار دی
نۀ یوبازدَ بنکاړ دپاره نۀ کۀ چرګ چرګے هزار دی
دَمعشوقے بنیوے واړه دَ نورچا نۀ دی دَ یار دی
عاشق عشق لره پیدا دے کفر دین ئے څۀ پکار دی
عاشقان دَ معشوقے دی نۀ دَمور دی نۀ دَ پلار دی
دَخپل در عاشقان ګورہ چه په څو پرا تړ خاکسار دی
په هغو دَ خدائے نظر دے چه مئین په بنۀ دیدار دی
عشق نا پوهه وته آسان دے ورته ګران دی چه هوښیار دی

په خوشحال به عیب نۀ کا
چه په حال ئے خبردار دی

کۀ آسمان دَچا په حکم جار و تلے څنګه څۀ چارے به وشوے نا ګټلے
په رند و باندِ لاهسے توره شپه ده کۀ همه عالم ئے وینی نمر ختلے
هم ئے هیڅ راته پرے نښول هم بیا وائی چه پاڅه اوسه لاهیڅ نۀ ئے نتلے
بیائے شکل په څۀ شان راته بنکاره کړ لکه باز وی له ګریزه راوتلے
چه اَدب ورڅخه وی صحبت هغه کا بے ادب له مجالسه وی ایستلے
هغه یارم لکه باز په پرواز لاړشو طالع بیا څما تر لاسه راوستلے

ځان چه نن ترمئین ځار نۀ کړے خوشحاله
ځان به تاوی دَنور چا و ته ساتلے

کۀ په کورکښے دِسردے دَ بدخشان وی یا ژ نګوری دَ انګورو یا رُمّان وی
چه ئے زړۀ ورڅخه مور وی نۀ ئے ګوری دَ وبر ستر کیو ورته څو رنګه ارمان وی
مور به څۀ پوښتے له نغنه چه نغنڅۀ وی وبرے سپے خوړلی نغن ته نګران وی
کله کښلے معشوقے ته نظر نۀ کړے کله کوڅے درته هم راحت جان وی
په ساعت ساعت کښے حال باندِ نوریږی چه م ولیدۀ سړے کله یو شان وی
دَسړی فکر په مثل دَ سیماب دے اضطراب ئے هر هر خوا ارمان ارمان وی
کله کله بنائسته شی په ګلو نو کله کله لکه باغ باندِ خزان وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کله کله دَخوښئ په صحبت کښینی — کله کله په غمونو کښے حیران وی
چه دایم په یوه حال دے هغه خدائے دے — چه حالونه پرے وردرومی دا انسان وی
آخرتلۀ دی له جهانه باور وکړه
کۀ هرڅوخوشحال ژوندے په دا آوان وی

کۀ هرڅوئے په داخپل حسن کښے لویه — دَیارئ حق هم پیژندلے بویه
ما به زړۀ له تانه وتاړۀ په بله — کۀ موندے شوے هسے تاغوندِ دلجویه
دَشرابو په خوړوکښے فهم وکړه — چه دِ نۀ شی دا پیاله له لاسه تویه
چه مکان ئے ناپیدا نشان ئے نشته — ځوک به څۀ غواړی دَسینو بازوهویه
دَتشنه خودَ اوبو سره مقصود دے — کۀ اوبۀ ئے دَدریاب وی یاله جویه
عاقبت به برخوردار په خپل مراد شی — کۀ دَیلار په نصیحت کښے درومی څویه
دَخوشحال وئیل خوارۀ ترنیشکر دی
کۀ په خوند خبردارشے وئے ژوی

کۀ تۀ خولۀ وماته نۀ راکړے ملکئ — بلے هم راته نومړے ده خولکئ
په غمونو کښے دِ هسے زنځیری شوم — لکه اوږے چه زبون شی په بلکئ
په کړکیتو کښے دِ ډیر زړونه پراتۀ دی — په دا دوه زلفو دَ زړونوئے غلکئ
چه څراغ ورځنے درومی پتنګ خوارشی — یو زمان له مانه مۀ درومه دلکئ
ما دَبنو مخونو بنه نندارہ وکړه — نشته تاغوندِ زیبا بله جلکئ
ماساده پښتانئ څۀ زده چه ئے وائے — په پارسئ پارسئ خبرو مغلکئ
جدائی ئے هسے سخته په خوشحال ده
لکه څې دَچاله څانه نه سلکئ

کۀ آشنا کۀ ناآشنا دی — بولاق واړه بے وفا دی
کۀ ئے خوښ کړے یائے خپل کړے — شاهی بیګ غوندِ بلا دی
چه آصف خرّم بنۀ نۀ شۀ — نور خرّم په یاد دَچا دی
خوشحالے کۀ یارِ غار وو — هم دَدۀ نه دا غوغا دی
کۀ ئے څان کړم یائے زړۀ کړم — څان وزړۀ کله څما دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نۀ ئے ننګ شته نۀ ئے شرم — نۀ په خپل قول ویناد ی
چه کوتک وَته بنکاره کړے — لکه بنځے واړه ستا دی
په خپل سود په خپل مقصود ی — بند په خپله مُدعا دی
دَ سیالانو خوئ ئے نۀ دے — په بیکار خصلت پیدا دی

مخامخ و تا ته خپل شی
پردی واړه پس شادی

کۀ په فضل شی څۀ غم دے — کۀ په عدل شی ماتم دے
له ګناهه به خلاص نۀ وی — چه په نوم بنی آدم دے
چه ظلوم جهول ئے یاد کړم — کۀ پوهیږے ډیر کرم دے
په لاتقنطوا تکیه ده — ګنړه اور ووری تورتم دے
زۀ هغه نا توان ضعیف یم — چه میږے ترما محکم دے
په داضعف هغه بار وړم — چه ترے تښتے درست عالم دے
کۀ لویئ وَته م ګورے — میاشت و نمر څما پرچم دے
آسمانونه م خیمے دی — پرے دَ ستوریو زینت تم دے
لامِ نور باغونه نور دی — ګمکے باغ م دَ ارم دے

غم م هیڅ نشته خوشحال یم
کۀ خپل بخت راسره سم دے

کۀ دَیار دپاره غم شدت څوک مومی — په خندا خندا دِ مخے ته وردرومی
دَهغه سړی یاری څۀ یاری نۀ ده — چه بے یاره ئے اوبۀ درومی تر کومی
زۀ له وراړه ورته ګورم یار م ګوره — دَاغیار سره دَ میو پیالے شومی
ما به څۀ پوښتے څما دَ یار له نومه — یوبے مهره بے وفا بے مهر نومی
نۀ ئے زۀ یوازے قتل په غمزو یم — څوئے ماغوندِ په درکښے دی لړومی
په فراق ئے څما اوښے هسے تلۀ کا — لکه څوک چه اخته شوے وی په دومی
دا دواړه بدان نۀ ګوری له قصده — په بنۀ مخ باندِ ومۀ شه دانے سپومی
کۀ تازه یارئ بنے نۀ دی خوشحاله — څوک به نۀ خوبنوی غوښے دَ ورغومی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ سړے په مصلحت کښے لږ برنۀ شی
زۀ ضامن چه دَدۀ کار به ابتر نۀ شی

وهغۀ ته سړے مۀ وایه چه پوخ وی
آراسته خو سر تر پایه هُنر نۀ شی

کۀ هر څو مشکل کار ونه درته پیښ شی
فکر مۀ کړه چه آسان به په زړه نۀ شی

ماچه ولیدۀ خو زردی په دُنیا کښے
خو سړے دِئے په مینه کافر نۀ شی

څوبه یار کۀ لاف کوی باور ی نۀ دی
څوبه پیړے حادثے دِ باور نۀ شی

بخت چه بنۀ سره یاور شی هاله بنۀ شی
دَسفلہ دِ په لحظه کښے یاور نۀ شی

دَ رستم دَ مړ نتوب خبرے آورم
ولے څوک به بے لښکره صفدر نۀ شی

چه دَمرد دَ نامرد شناخت ورځنه نۀ وی
بد صاحب څنه دِ هیڅوک نوکر نۀ شی

دَخوشحال خبرے واړه نصیحت دی
مګر خروی چه په زړۀ ئے اثر نۀ وی

کۀ تا وته حیران دی دَلیلی حکایت کړونی
وما وته په ځان دی دَ مجنون روایت کړونی

دَهر ویښتۀ په سر لرم زۀ تاسره زر کاره
خبر نۀ دی له حاله دا بیکار نصیحت کړونی

څۀ بنۀ وشول طالع وے چه ئے ولیدے په ستر ګو
ترما پورے خجل شول دا څما ملامت کړونی

دَحُسن یغماچی چه دِ اُلجه راوړی دَ زړونو
پنجک دستا وستر ګو وته بیل کا قسمت کړونی

چه درد لری په زړۀ کښے دَهغو دارومونډل شی
هیڅ لیدلی نۀ دی دَبے درد طبابت کړونی

چه زۀ دَ بُت سجود کړم مخامخ راته حاضر دے
څۀ څیز وینی حیران یم دَ مسجد عبادت کړونی

کوم ملک دے له ما پاتے چه مِ پَل نۀ دے پرے اینبے
هر ځائے به ورته یاد کړم کۀ څوک شته سیاحت کړونی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دوه اویا مذهبه راته یوشول صلح کل یم
دَکوم یوهٔ مذهب دی اوس څما عداوت کړونی

په هسے ځائے مئین یم چه ئے نوم واؤری وکړے
نور تبستی تار په تارشی دَخوشحال حمایت کړونی

کهٔ هرڅو په سر دَخیال دستار زرین بر دے
عاقبت به سر دَخاورو په بالین بر دے

دَ سلیمانؑ غوندِ هم پریوتل له تخته
په فرس باندِ به څوک زرو زین بر دے

دغه پښے به دِ خوراک شی دَ چینجیو
چه ئے اوس په شین شین په قالین بر دے

په ارمان به خالی لاس ورځنے دروے
کهٔ په کور کښے په هر لوری سرهٔ او سپین بر دے

په الا بلا کهٔ ټول دَدُنیا ګنج کړے
په خپل زړهٔ به داغ په دم واپسین بر دے

چه کردار دِ له کفتار سره سم نهٔ وی
تش کفتار واړه په ځان باندِ نفرین بر دے

تا په زړهٔ کښے سل خدایان دَ کښینولی
راته وایه سر وچاته په زمین بر دے

دَغفلت تسپے په ورځ وشپه جارباسے
څومنټ به په کرامؑ کاتبین بر دے

هر آیت ئے دَ معنو په ستر کو کوره
دَ صورت ستر ګے ترکومه په یاسین بر دے

یو قدم کهٔ په ربستیا له دُنیا واخلے
خدائکو بل قدم به پاس په علیین بر دے

کهٔ اسلام دَخلقو دادے اوس خو بویه
چه هندو غوندِ تهیکه په خپل جبین بر دے

زمانے څهٔ نا انصافه رابنکاره شوے
پانیا تونه په دا دورِ آخرین بر دے

شاه جهان غوندِ بادشاه په بند بندی کړے
په اورنګ باندِ خطاب دَمحی الدین بر دے

دَمچئ لاشهٔ هم جوړه ورسره وړے
په هر حلق کښے چه خوارهٔ دَ انګبین بر دے

دَخوشحال خټک کوم جرم کوم ګناه دے
چه په زړهٔ کښے ئے آهونه آتشین بر دے

کهٔ منصور غوندِ کافر دَ محبت شے
تهٔ به هالهٔ مستقیم په شریعت شے

دَهوښیارو مجالس به درته هیڅ شی
کهٔ دَ عشق دَلیونیو په صحبت شے

دَجهان خوارهٔ به تاوته ترخهٔ شی
کهٔ خبر دَ یار دَ مینے په لذت شے

فراغت به دِ هالهٔ وزړهٔ ته ورشی
کهٔ له خلقو کناره کنج خلوت شے

دَجهان په خزانو به دِ خندا شی
کهٔ تونکر په خزانو دَ قناعت شے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ نظر د کیمیا کړ دربانډ وشی — کهٔ ته خاورے ئے تر زرو به قیمت شے
د بے آبے مرغلرے هیڅ قیمت وی — په زیبا سیرت به قدر د صورت شے
اے خوشحاله بتخانے دی زړے وړندے
خلیلی ناره پرے وکړه په همت شے

کهٔ په مخ باندے خالونه عنبرین ږدے — هومره داغ به په خاطر څامسکین ږدے
د پیالے اوبهٔ خوږے شی تر نبا تو — په پیاله باندے چه دواړه لب شیرین ږدے
خدا یه زړهٔ په ما د کښلیو مهربان کړے — تهٔ په زړهٔ کښے د بتانو مهر وکین ږدے
دواړه زلفے چه ولول سره حلقے کړے — په هرول کښے ئے کلونه د نسرین ږدے
خدائے نهٔ کا چه ئے یوسر کړم یا بل سر — کهٔ تلی م په د اچشم جهان بین ږدے
ستا د پلهٔ خاورے رنځور غوندے اخلم — په هرځائے چه قدمونه په زمین ږدے
ستا تمامه خندا بخت د څوک ئے موسی — په دانیمه خندا طعن په پروین ږدے
چه لیدلے د د عشق قمارخانه ده — په رومبی بازی به یارته دل و دین ږدے
آفرین د په وینلو شه خوشحاله
په بیاض باندے عجب شعر رنګین ږدے

کله ته چه زیبائی د دے چمن ئے — خار وخس وته په څهٔ په خندیدن ئے
د خپل ځان په قدر ولے نهٔ پوهیږے — په دا باغ کښے خو یو ته نازک بدن ئے
د بلبلو څغ به تل دربانډ نهٔ وی — کښلیه کله په وفا کښے مبرهن ئے
په خپل بوئ د بلبلا نو خاطر خوښ کړه — یوځو ورځے چه تازه په دا گلشن ئے
کهٔ جفا وچاته وایم شمار ئے نشته — په دا هومره ستمو نو جانِ من ئے
چه د یارله جوړه چاوته څه پاتے کړے — د یارئ بلا په تاشه دروغژن ئے
په یارئ پورے د پیچلے کا خوشحاله
فکر بنهٔ وکړه په چا باندِ مئین ئے

کل کرم اغزی ترے زیږی — نوشدارو م زهر کیږی
چه م څراغ په اوبو بل وو — اوس به تیلو نهٔ بلیږی
کهٔ ئے مخ وی که ئے شا وی — په خپل بخت هرڅوک پوهیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هره ورځ کۀ سل غمونه — له جهانه سارسیږی
ځما زړۀ په دا دومن دے — غم بسا دی واړه تیریږی
هم خزان هم به سپرلے وی — چه آسمان په سرځیږی
ځما اوښکے کړے نۀ دی — کۀ سیلاب غوندِ بهیږی
په حضور دیدن ئے وینی — طاهرخان ځنے بیلیږی

اوس خو اور په خوشحال بل شو
بیا به څۀ رنګه سړیږی

لکه یار راسره یار وو هسے نۀ دے — چه دیر ډیر به مینه دار وو هسے نۀ دے
کۀ په خو رنګه به ما ورباندِ ناز کړ — چه د ناز م خریدار وو هسے نۀ دے
د بهار بلبلے ژاړه خو په تا شی — لکه تل تازه بهار وو هسے نه دے
شکر شکر چه ئے څۀ خوخوئ بدل شو — چه یک لخته ستمکار وو هسے نۀ دے
ستا د مهر د باران باندِ کهے شو — چه م جور د زړۀ ګلزار وو هسے نۀ دے
یائے ویړه شی له خونه یائے هیر کړم — چه م مرګ ته په تلوار وو هسے نۀ دے

ډیرے مینے د خوشحال عقل تغیر کړ
لکه نور کله هوښیار وو هسے نۀ دے

لاله ګلۀ ترجمال پورے بد رنګ دے — د زلفینوئے د چین له مشکو تنګ دے
تورے زلفے ئے لیندے باڼړۀ ئے غشی — د عاشق تر زړۀ ئے تللے هر خدنګ دے
دواړه ستر ګے ئے په تن تورے بلاشوے — همیشه ئے د عاشق له دله جنګ دے
تۀ به وائے حبشی شکرے پیری — هغه خال ئے چه د دوو شوندو ترڅنګ دے
تجلی ئے د جمال لکه مشال شوه — خوار عاشق په دا جمال باندِ پتنګ دے
چه له غوږ وئے مقصود مومی لښتئ ده — چه له پوزے ئے مراد مومی لونګ دے
په بنائست کښے ئے تقصیر د صورت نشته — څۀ خو دا عیب لری چه په زړۀ سنګ دے

د هرچا په خپل غرض پورے کوشش دے
د خوشحال ئے په جمال پسے آهنګ دے

لکه بخن چه حلوا خوری — عاشق سپینه خوله د شاخوری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک د غاؤ وربانډ نۀ کا
واړه خپله خون بها خوری
زۀ ئے تل خورم خوږ شونډے
کۀ دا نور من وسلوی خوری
دواړه تی ئے ناشپاتی دی
چه ئے یویو اُمرا خوری
هغه هیڅ مړنے نۀ دے
چه به تُوره په قفا خوری
هم عاشق مری ستاله لاسه
هم سوکند په سر دستا خوری
وږے څۀ پوښتے له حالـه
چه روا کۀ نا روا خوری

خولۀ ئے پټه خوره خوشحاله
باز د بشکار غوښے په غلا خوری

له شیخه خبرنۀ یم چه په کوم عمل مشغول دے
چه عشق ئے رافرمائی هغه کار رځما قبول دے

عشق لکه بادشاه دے زۀ په مثل د چاکر یم
چاکر چه د صاحب په رأئے نۀ وی نامعقول دے

د صبا نسیمه پاڅه په تلوار تلوار ما دروما
په هغوم سلام وایه چه په درکښے ئے نزول دے

بل اُستاذے د عاشق د معشوق په مینځ کښے نشته
په دا میدان کښے کوره محبت د دۀ رسول دے

د یار غم م له خلقه پټ پنهم درله په زړۀ کښے
ولے څۀ علاج ئے وکړم چه م رنګ د مخ په دول دے

چه په تور د لیونتوب م هرسړے په زولنو شو
کرم ئے خلقه مۀ کړئ هم هغه رځما په کول دے

هم هغۀ دے همیشه ژوندون موندلے کۀ باور کړے
چه د مستے د غمزے او د جلوے په تیغ مقتول دے

د کلونو پاڼے بویه چه قمیص شی د ملوکے
د ریښمو د قمیصه ئے نازک بدن ملول دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ګورہ ښځہ جمال چہ لا بہ کلہ دربشکارہ کا
داچہ همیشہ دَ خوارخوشحال و رپسے نول دے

لکہ زلفے دَ هغوچہ سودا ستا وی — بویہ داچہ ئے سرونہ تر پاستا وی
کۂ دَ سرو ونہ لاف کاستا ترقدہ — بویہ داچہ داپہ قدو بالاستا وی
هغہ زړۂ چہ تا ویشتلے زړۂ هغہ دے — تا ویشتلے زړۂ بہ تل پہ هوا ستا وی
پہ خاطر کښے بہ ئے ځائے دَنورځۂ نۂ وی — پہ هغہ زړۂ چہ هوا تمنا ستا وی
کلہ وی چہ ستالہ لاسہ چاتہ ژاړم — کۂ هرڅوبے حدہ جورپہ ما ستا وی
کۂ پہ سل رنګہ زیبا دَچمن ګل دے — دے بہ ځۂ رنګہ پہ رنګ دَلقا ستا وی

دَخوشحال غوندِ بہ مست ګرځی پہ میٹو
چہ هوا دَ برندوستر ګو دَچا ستا وی

لہ اوله پہ سرجوړے کا دړئ — بیا تیکہ پہ وروځو ایښے خونړئ
جړاوے حلقے پہ غوږ بیسرپہ پوزہ — قیمتی دَ مرغلرو دوہ لړئ
مرصّع باهو پہ لاس ګوتے پہ ګوتو — ژرنګهارئ دَ پائیلو دَ څړئ
پہ بنیوہ بنیوہ عاشق تہ ځان بشکارہ کا — پہ غمزہ غمزہ ئے زړۂ کا ودوړئ
چہ لہ هسے محبوبانے آشنائی وی — پرے بہ کیږی پادیشونہ دَ نړئ
پہ وصال بہ ئے پہ څو رنګہ هوس کا — پہ هجران بہ ئے ساہ راشی ترغړئ
سرتر پایہ آراستہ شی پہ څو رنګہ — پہ لیدلو بناپیړئ دہ نۂ سړئ
دَ زلفینو بنا ماران ئے هسے نۂ دی — چہ خورلی ئے رغیږی پہ جړئ
خلقو زۂ دَ تورو زلفو لیونے یم — لامِ بنۂ پہ رنځیرونو وترئ

زړۂ ئے هسے دَ هجران غمونو مورکړو
دَخوشحال ترستونی نۂ درومی نړئ

لکہ زۂ پہ یارمئین یم بل بہ نۂ وی مئین هسے
لکہ زۂ پسے غمژن یم بل بہ نۂ وی غمژن هسے

هم مِ وُوژنی پخپلہ هم پہ ما باندِ ژړا کا
څۂ بنۂ یار دے بنۂ ئے مینہ وژل هسے شیون هسے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مخ ئے درست سرہ گلزار دے رنگارنگ لری گلونہ
تفرج د بہار گورہ پکښے نشتہ گلشن ھسے

زہٗ داغدار غرق پہ وینو لالہ گل وتہ وگورہ
ھیڅ شھید نۂ دے راوړے لہ ازلہ کفن ھسے

تورو زلفو تہ ئے گورہ بنائستہ دواړہ رخسارہ
د جھان پہ مخ بہ نۂ وی سنبل ھسے سمن ھسے

لکہ زۂ ئے نندارہ کړم ورځ وشپہ پہ خپلہ خونہ
خوار مجنون لیدلے نۂ وو پہ درست عمر دیدن ھسے

کۂ د گل پاڼړے ئے خط کړے لا بہ ھم باندِ ځرخیږ
دا نازک بدن چہ ستا دے د چانۂ دے بدن ھسے

کۂ ئے رسم یا کۂ دود دے یا وفا د ھندوکئی
چہ لہ یارہ سرہ کښینی ځوک بہ وکا سوختن ھسے

چہ ځوک تاپ درپسے وکا سرہ تک وھی لاسونہ
دا ژوندون دے مردن نۂ دے کۂ د وشی مردن ھسے

د ارم آرام م بیاموند ستا پہ غولی کښے خوشحالہ
خوښ لہ بختہ لہ قسمتہ چہ ئے راکړو وطن ھسے

چہ خوشحال ختک ئے وائی پہ پښتو ژبہ خبرے
پہ پارسی ژبہ بہ نۂ وی کۂ پوھیږے سخن ھسے

لہ غمونو بہ خلاص نۂ شے د غم خویش ئے
کۂ بدگوئے وبدآموز وبداندیش ئے

مۂ بدوایہ مۂ بدآورہ مۂ بد گورہ
درویشی د مُبارک شہ نور درویش ئے

ستا پہ زخم بہ دارو مرھم نور کښیږ دی
کۂ پہ ځان مرھم دارو د چا پہ ریش ئے

کۂ د ځان پہ خپلہ شمار تر ھرچا کم کړ
نور ځما پہ پوھہ تۂ تر ھرچا بیش ئے

یا بہ دد یا بہ منکور یا بہ لړم ئے
کۂ دا ړل کړے یا چیچل یا پہ چا نیش ئے

پہ خپل دین نظر لرہ دینونہ ډیر دی
ځۂ جاسوس د چا د دین د چا د کیش ئے

کۂ ھرځو درنہ غږیږ م بدہ خو یہ
ځۂ پہ ھرہ کوخہ بیا وماتہ پیش ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په کڑکلار تورہ مشکنہ ئے خوشحاله
په کفتار سره د سپینو دُرو ویش ئے

مخ ئے راخرکند کړو وے ئے هسے رنګ آفتاب وی
زلفے ئے نمود کړے وے ئے هسے مشکناب وی

وے م خپله عمره په شتاب له مانه مئه خه
وے ئے که دِ عمریم د عمر تله شتاب وی

هسے ئے بے آبه د ګلابو ګل تر مخ شو ! !
زرمنه که وسیزے حرام که پکښے آب وی

هجر م وژلوته تیار دے که خوله راکړے
هجر به هلاک شی زهٔ به خلاص شم ستا ثواب وی

مرم د عشق له لاسه نهٔ د مستے په غمزه مرم
کار تیره چاره کا لاس او زهٔ خود قصاب وی

هرچه تهٔ ئے ولیدے په تاے زهٔ باے نهٔ کړ
زهٔ وایم سړے نهٔ دے هغه به هم دواب وی

نن کا ندہ هرکوره په آزار د زهٔ ونو مت کړے
هسے فکر نهٔ کړے چه آزار د زهٔ عذاب وی

نور به د خپل یار سره خرکند مهر آغاز کړم
خوم به له خپلو له پردیو نه حجاب وی

ستا داے نظیر جمال چه ووینی په دهٔ کښے
تر زر سحر خیزئ بنهٔ خوشحال ته هغه خواب وی

ماچه ستا په جمال ستړے کړے رنږے کښلے واړه ستا د مخ دی رنږے
چه په دادا و په فریاد م نهٔ رسیږی دا دلبرے بے پروا دی که کنږے
ګوندِ وی چه بیام راشی په منګل کښے لکه باز د زرکے توئے کاندی بنږے
سپینه زنهٔ ئے منړه سمرقندی ده ګوره خوک به خوږ کا زهٔ په دامنږے
که دِ سپین بار خو کبود کړم په چیچلو اوس م نهٔ کنږے هالهٔ به م کنږے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بختہ تہ کہ د خوشحال سرہ مدد کړے
د رقیب په سرئے وشلوہ پنړے
ماخو توبہ وکړہ کہ زړہ هم راسرہ مل شی
عشق دے چہ همیش ئے په توبہ باندِ یرغل شی

ډیر کاندی فکرونہ دا سړے په ډیر رنګونہ
کاشکی د چا چارے په داخپل فکر فیصل شی
څو وائے پندونہ درومہ اے نصیحت ګویہ
زہ څہ هغہ نہ یم چہ وما وتہ اتکل شی

هومره رسوائي دم وهل د پارسایئ
راشہ کہ ئے ګورے چہ داخہ دغا د غل شی
کار د عاشقئ څہ آسان او سهل نہ دے
اوس چہ پښیمانی کړے دلہ دا فکر اول شی

زهد په لاس واخلم چہ به نہ ګورم دلبر ته
خیال ئے د زلفینو راته بیا د زهد غل شی
زہ وایم کہ تل د بنائسته وُ بنداره کړم
شرم د پیرئ تر دا مینځ راته خلل شی

تل به په ارمان ارمان مکس مږی لاسونہ
یادئے چہ په زړہ د شاه د لام وبے عسل شی
اور د محبت دے چہ حُما په زړہ کښے بل شو
ګورہ په دا اور به په څوځایہ نور بل شی

زہ په بیلتانہ کښے د وصال نعرے وهمہ
څوک چہ اوبہ واخلی وپایاب وتړے زغل شی
کښینمہ په طمع د مئین د مخ په اور کښے
نورځایونہ پریږده کہ تنور راته بورجل شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نۀ رسی تریارہ هرچه ډیرے اندیښنے کا
نورے قیصے پریږدہ دَعشق کار په توکل شی

کډ شم په ګلشن کښے لمن ډکه کړم دَ ګلو
بیا بیخودہ لاړشم واړه کل راځخه تل شی

هرچه بدغلیم دے ګرفتار په عاشقئ شه
اورئے پیدا نۀ ولے دَدۀ سینه منقل شی

هومره دَخوشحال ختک تقوٰی زهد پرهیزشته
ستاچه تورے زلفے په سپین مخ باندِ ولول شی

ملاحت چه صباحت سره آمیز شی
دَ دلبرو حسن هاله شورآ نګیز شی

خدائے په خپله په ښۀ مخ باندِ مئین دے
خدائے واخله چه لکښلیو په پرهیز شی

په زمان به دَ زاهد خونه اُولجه کا
که دَ ستړګو دَ تُرکانوئے پرګنیز شی

دَ غمزے سمندئے جوړ کړو جولان ته
ګوره بیا به ئے په چا باندِ مهمیز شی

دَ دوزخ لهبے به هم ورځنے پار کا
که دا اورِم دَخاطر په حشر تیز شی

دَعشق بوئ به رِم لاړنۀ شی له هډونو
که هرڅو په تورو خاورو کښے ریز ریز شی

چه که ناز کا که عتاب کا کله مهر
دائے واړه له خوشحال سره مکیز شی

مخ دِ آئینه دے باندِ نۀ دے ترسیری
آه دَخوارعاشق دے پارے وکړه دَډیری

سر تر پایه زیړے زعفرانے جامے اغوستے
راشه تورے زلفے فلیل پورے اجمیری

تاوے چه دَ مخ قدر قیمت رِم په تا خو دے
خو به درته وایم په ما دوه کونه پیری

زار دَخوارعاشق دے چه په شپه دَجدائ
درسته شپه بے خوابه دَ آسمان ستوری شمیری

تاوئیل خیر خیرم مخ ته ګوره ګوندِ مورشے
زه یم هغه وړے څۀ له ما غواړے سیری

تاسره په سیل دَ ګلونو سهیلئ
هسے نمائی کا لکه بلبلے دَ سیری

واړه راځرګندے دی دَ درست کلی دلبرے
تۀ ګل دَ نرګس ئے نورے ګل دَ ګلنډیری

ستړګے دِ بلا دی چه ئے واړه وے ملاے
زخم پیدا نۀ د ننه زهونه زنځیری

تۀ چه په ښۀ حُسن جمال تیره ترلیلیٰ ئے
څکه تر مجنون دَ خوشحال ژغ دے دَ تیری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مزری کله پرهیزګار دی خورا غلی په خپل بنکار دی
خوره خورَوه له خپلو لیچو مزری دا کاچه روئیدار دی
چه په تُوره ترک تازی کا هغه هرکله کامګار دی
چه اخلاص لری په زړهٔ کښے هغه واړه ایماندار دی
چه ئے زړهٔ نهٔ وی دَ تُورے هغه زړونه څهٔ پکار دی
ننګیالی چه په ننګ راشی نهٔ په ځویه نهٔ په پلار دی
سل دَ بنکار تر تازی څارشه کوتګان چه دَ بازار دی
مور دِ نهٔ شی باندِ بُوره چه میړونه دَ کار زار دی
څوک چه شته ترشرقه غربه دَ تورزنو خدمتګار دی

سردِ نهٔ غږوی خوشحاله
دَ بلا نه، چه سردار دی

مخ دے په پلؤ کښے کهٔ چراغ دے چه بلیږی
خولهٔ ده چه وئیل کا کهٔ شکرے دی تلیږی
سترګے دی کهٔ وړوځے کهٔ په څوکښے تیرانداز دی
شونډے دی کهٔ غابن دی کهٔ دالعل ودُرځلیږی
زړهٔ دے په ګوکل کښے کهٔ دا کانړے په سپین زرکښے
قد دے کهٔ شمشاد دے چه تازه نوے ځلیږی
مهر خندا پریږ ده دَ دلبرو درته وایم
تش خالی کا تهٔ ئے هم په هیڅا نهٔ چلیږی
چائے چه په غولی باندِ ایښے چرے پل دے
بیاچه ځنے دروی په ځائے پاتے شی شلیږی
ستغ لری هم څویږ لری دَ غرهٔ غوندِ سینه یم
تل باندِ دَ اوښکو کاروانونه دی چلیږی
څهٔ حساب وشمار کړے چه په سرګرځی دا ژرنده
څوعالمے دل کړ لا به څو عالم دلیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لاف به میړهٔ نهٔ کا کهٔ ئے چیرے ترخولے وُوت
بیا کهٔ نورو ئیل کا نور دَ دهٔ ږیره کلیږی
هیڅ ائے صفت دَ مخ و مو تر سره نهٔ کړ
سل دَ سخندان په ورځ وشپه سره للیږی
زهٔ خوشحال ښتون چه په پښتو په فارسئ طاق یم
لام په پښتو ژبه کښے ژبه درغلیږی

ماخهٔ شونډے غاښ دَ هغه یار نهٔ دی ستائیلی
راشه کهٔ ئے کورے لعل و دُر م دی پیئلی
هرچه عاشقی کا خوب خندا با ندِ حرام شی
نورعالم به خهٔ کړے ما په خان دی آزمئیلی
خُنے عاشقان هوا هوس کا په وصال کښے
څوک جُدا له یاره په آه آه کښے زیړ زبیښلی
یومزے ویښتهٔ په طریقت کښے لوئے حجاب دے
خُکه قلندر ږیره بریتونه دی خرئیلی
ما په داجهان کښے بل اُستاذ نهٔ دے لیدلے
پیر مرشد م عشق دے واړه عشق دی راښئیلی
سل سَرښتی دِ تردا یو غزل خُاریږه
نن چه دا پښتو ده کرلانړی خوشحال وئیلی

ماچه وُلید دَ دُنیا خلق مختورے — قابوچی دِ واړه کوری پتاؤ سیورے
چه ئے خهٔ دَ دُنیا سُود خهٔ ئے فائده وی — دَ خپل زړهٔ په یرغ نیسی هغه لورے
خپل ئے لا په بدئ پاسی تر پردیو — خو دِ خدائے دَ بدونهٔ کا دَ چا ستورے
یادَ لیچو زور پکاردے یا دَ زرو — خوار هغه شوچه په دواړو وی کمزورے
سر تر پایه منافق واړه بدبوئ دے — کهٔ په سرئے سپین مندیل دے لکه اورے
کال په کال چه ورته وکورم نور نهٔ شهٔ — دَ لالهٔ دَ زړهٔ په داغ ختلے غورے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ ناپوهِ بحرہ بنادی دَ هوښیارغم ډَ ځوک به وران کا دَ ازل دَ قلم تورے
دَ یوهٔ ګولہ په خولهٔ دبل په زړهٔ کښے په حساب لکه ګډ ورے شئه دوه مورے

غل بے غمه ننداره کا ندی خوشحاله
په تهمت ترلے ساد درومی سرتورے

ما فراق دَ حبیبا نو ژړوی زړهٔ په ما دَ رقیبا نو سړوی
چه سیلاب ځما دَ اوښکو راروان شی عمارت ځما دَ صبر نړوی
عشق ځما په عقل وکړے هسے چارے چه هلک م په خبره واړوی
مهٔ هجران وے مهٔ دَدهٔ تراخهٔ غمونه چه م تل له خوږه عمره مړوی
دَ فراق په شپے خوب په ما حرام کړ دایم مالګے م په سترګو دُوړوی
په پیغام ئے دَ وصال هسے تازه شی لکه باد دَ ګل غوټئ غوړوی
یمه پوخ دَ عشق په کار لکه کودرے نور م څهٔ دَ غم وَ اورته کړوی
په لیدو پسے ئے مرم سخ دَ هغودے چه و مخ و ترے سترګے غړوی

کهٔ دَ زړهٔ په محبت شی خوشحال خوان دے
په دا سپین و ینستهٔ ئے خلق زړوی

ملک اَفشانه په کاکل ئے عنبر بیزه په سنبل ئے
چه و مخ و ته دِ ګورم په مخ درسته لکه ګل ئے
تنګه خولهٔ دِ غنچه ګل ده په لبانو لکه مُل ئے
په رفتار کښے لکه زرکه په ګفتار لکه بلبل ئے
پښتنے ئے په بد جهل ستمګره تر مغل ئے
په دا توره شهلا سترګو هم شاهین هم ئے منګل ئے
څو خوبئ دَ جهان دی آراسته په واړه کل ئے
لکه سروِ په چمن کښے په قامت په تجمل ئے

دَ خوشحال و مرګ ته ناسته
په غمزه په تغافل ئے
مار کهٔ هر څو پیچ وخم ځئ خپلے سوړے لره سم ځئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د غفلت له خوبه ویښ شه — شیرین عمر دم په دم ځی
مرګ به هیڅ سړے پرے نږدی — وار په وار به درسته عالم ځی
بے دلیله به ځان ورک کا — مسافر چه په تورتم ځی
د پښو وارے خطا کیږی — چه قاضی لره څوک ګرم ځی
که قضا وته تسلیم شی — هم په دا له دله غم ځی
د دوزخ د اور علاج کا — چه سحر تر ستر ګونم ځی
هغه عمر لکه باد دے — چه په غم د بیش وکم ځی
چه تور مشک د حبطه کړل — په کافور وخۀ ستم ځی
چه نۀ تول لری نۀ پول — هغه هر چرته خرڅ ځی

منډے پرے مۀ ږده خوشحاله
که د سر لکه قلم ځی

مګر رسم دین آئین هسے لرے — چه داخوار زارۀ م غمګین هسے لرے
داد زړونو مینے ورانے پرتے بنے دی — چه تل آس د جفا زین هسے لرے
عاشق به لکه مچ ورباندے ګرځی — دواړه لب چه شکرین هسے لرے
څۀ نسرین د د سنبل سره دسته کړۀ — چه د تور و زلفو چین هسے لرے
دا یو ستورے د آسمان دے که تیکه ده — چه ئے اینسے په جبین هسے لرے
کله کله به مرهم ورباندے کښیږدے — که همیش م په زارۀ خوږین هسے لرے
لکه مخ ځما د یار دے اے باغوانه — په درست باغ کښے یو نسرین هسے لرے
په کوڅه کښے ئے څۀ تۀ ګرځے زاهده — که داخیل عقل د وربین هسے لرے
میاشت به څۀ لره اوس لاڅے د خوبئ کا — تۀ دلبره چه مخ سپین هسے لرے
که هرڅو بنائسته ډیر لرے کشمیره — لکه یار یو نازنین هسے لرے
چه ئے پورته کړے کلونه ترے بنکاره شی — یو پلوۀ دواړه آستین هسے لرے

د خوشحال په حال به چرے ترحم کړے
مستے تۀ چه زارۀ سنګین هسے لرے

نصیحت د دانا یا نو د کتاب دے — د احمق جواب هم نۀ جواب دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه عیسیٰ په غرو نو تښ له احمقا نو — دا تعلیم ئے را ته پلتے په داباب دے
لکه دد ډصحرا ډیردی په هر لوری — په هر ځائے ډ احمقانو څخه حساب دے
سړی وارهٔ سره سم نهٔ دی په عقل — یو آفتاب دے بل مهتاب دے بل شهاب دے
یو په قدر شهنشاه دے په دُنیا کښے — بل ډدین په مرتبه قطب اَقطاب دے
ډهوښیار چه له نادانه زیست روزکارشی — کهٔ ئے کوړے دا هم سخت کنډهٔ عذاب دے
داسړے دے چه اغزے دے سر تر پایه — داسړے دے چه همه کِل کلاب دے

ماخوشحال چه ځان له خلقو کناره کړه
دا په داچه نادان ډیر دانا نایاب دے

نهٔ ډعشق مدار یوازے په دیدن دے — په دا کارکښے لاپه هورته شنیدن دے
بنه چه شپه ډجدایئ خدائے آخر کړه — صبا کیږی اوس ډصبح دمیدن دے
تل په ستغ په خُویږدا وښکو قاصدان دی — چه طلب ئے ډ دلبرو ډ دیدن دے
ډخطا آهو په بوئ ډ نافے بنکارشی — را ته بس ډهغه زلفو شمیدن دے
دا ستم په عاشق هغه کا نهٔ نورځوک — چه ډ کښلیوئے ورکړے دا دیدن دے
کله کله به آرام څما ډ زړهٔ شی — چه یک لخته ئے زده کړے رمیدن دے
خوند ډ شهدو ډ شکرو را ته هیڅ دے — څوم یاد ډ هغو شونډو مکیدن دے

نور دارو ورله مهٔ کوه طبیبه
چه خوشحال ورپسے مړ هغه دیدن دے

نفس شیطان دواړه بلادی — را پسے څرکند په غلا دی
څُنے چارے لرے پټے — څُنے چارے ئے ملا دی
ډهغو جزا سزا کا — چه په جهل مبتلا دی
خدائے ئے خلاص لره له عجبه — څوک چه ناست په مصلّیٰ دی
ډ دُنیا ډهوا چارے — سر تر پایه ابتلا دی
جاه په چاه شی وهغو ته — چه ډجاه په تولا دی
ډ دُنیا بنادئ واړه — کهٔ باور کړے واویلا دی
اندیښنے کوره خوشحاله — چرته سړے په قلا دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناقرار زړونه قرار شوے — د زړهٔ غم ئے تار په تار شوے
د هجران غمونه لاړے — بیا د وصل دندوکار شوے
هغه لاس چه بے حنا دے — بیا جفا سره نگار شوے
شانه ورغلے تر نرلفو — رانجهٔ ستړکو سره یار شوے
د پائیلو د څړیځ ! — په هر لوری شرنگهار شوے
په کنگوډ زیر پروے — په چوه وه سره خالدار شوے
وار د غم د ژړا لاړے — وار د بوس او د کنار شوے
په عذار د مهو شانو — بیا کبود کبود پرهار شوے

چه خوشحال ورپسے مړ ینه
ورښکاره هغه دیدار شوے

نن څماکره میلمه عزیز د خدائے دے — چه ئے پاس څما په ستړکو باندِ څائے دے
په خپل څائے باندِ قایم دے لکه قطب — همیشه د کم کشته ؤ رهنمائے دے
چه پرے څهٔ خو توجه د فکر وکا — یو زهٔ څهٔ چه د هرچا مشکل کشائے دے
چه گذرے په داغولی باندِ وشو — سعادت ئے ورسره راوړهمائے دے
ما پرے اوس د غلطئ کړنه وکښنه — په خپل رائے م چه منلے د دهٔ رائے دے
د بادشاه څخه ئے مهٔ غواړه چه نشته — هغه گنج لکه په کور کښے د کدائے دے
تناوونه به ئے ورسی تر نمره — لکه زلفے چه ئے سرا ینے په پائے دے
د بنهٔ حُسن به ئے څوک کاندے ستاینه — چه د خپل حسن پخپله خود ستائے دے

لکه عمر لارغهٔ رائشی زړ درومی !
په هجران ئے د خوشحال ختمک هائے هائے دے

نن د یار د لاسه بیا یو تیر راغلے دے — بد رسا د څان په وړلو خیر راغلے دے
زهٔ چه دوا سپه له عشقه تښم پتیدلم — بیا را پسے کوره گیرا گیر راغلے دے
بنهٔ چه پکښے بند شوے مهٔ شلوله زلفو — زړهٔ م لیونے دے په زنځیر راغلے دے
چرته ئے اے عشقه چه ورښوزے راته مات کړے — بیا کوره چه عقل په تدبیر راغلے دے
څومره ښائسته ئے چه د مخ په نندارو دِ — درست وکړے مات شه ماوے پیر راغلے دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ټول محبوبے راغلے سمن بویہ سیہ چشمے ما وے چہ تہ راغلے درست کشمیر راغلے دے
څوک کہ جهان نیسی پہ لښکر وهغہ تورک ہم کوښے ځان د زړونو پہ تسخیر راغلے دے
زړونہ ئے زخمی کړہ چے کوتے پہ ہم کیښوے غوږ باسہ لہ بمہ اوس پہ زیر راغلے دے

وچولے چہ تریو کړے ورتہ نہ ګورے پہ مهر
وایہ لہ خوشحالہ کوم تقصیر راغلے دے

نادان پہ خپلے چارے بښہ پوهیږی دانایان کہ ئے پہ چارو اندوهیږی
چہ نادان ئے پہ مخ وخوری هالہ پوهشی کنړہ هومرہ پہ خبرہ نہ کروهیږی
کانړی بوټی وچ لامدہ هرځہ پہ مخ وړی منسیت لکہ دریاب دے چہ بهیږی
چہ سړے اوبہ ئے کښیوزی پہ نظر کښے کلہ ترے لہ سړو اوبو سمیږی
پہ هغو خوړو پیښ مہ شے چے نہ خوړے سړے هسے پہ لیدو ورتہ سوهیږی

کہ وئیل ئے پہ هزار رنګہ سودمن دی
د خوشحال پہ وئیل کلہ څوک کروهیږی

نن څما پہ خیلخانہ کښے څومرہ غم دے چہ حیران زمونږ پہ کار پورے عالم دے
ناخلف څویہ اغزی کړی خپل پلار تہ د خلف څویہ کلزار لہ عمرہ سم دے
ناقابل څویہ دوزخ غوندِ پیدا دی بښہ قابل څوئ پہ خونہ کښے ارم دے
بښہ فرزند د پلار پہ خونہ چراغ بل شی بد فرزند د پلار پہ خونہ کښے تورتم دے
پہ لوئی والی کښے ئے خوئ د دام و دد دے اوس د څوئ خوبی هومرہ وی چہ کم دے
نالائق څویہ ننګ نام د بابا ورک کا کہ ولاړے د نیکہ د پلار علم دے
د قابل سړہ بہ غم د نام ونګ وی ناقابل پہ غم نیولے د شکم دے

چہ دا هسے رنګہ سپی څنے پیدا شول
لا پہ شک یم چہ خوشحال کلہ آدم دے

نړم زړہ پہ سرداری درست خوشحال دے نہ څما د خیلخانے څہ حال احوال دے
د څښک اولس پہ ننګہ نہ پوهیږی کارے درست د نادیدہ ډیر خصال دے
پښتانہ لکہ مګس وربانډ کړزی ورتہ اینے د مغل د حلوا تال دے
نورے واړہ تکیے تار پہ تار خورے شوے اوس پہ منځ کښے یو کرم د ذوالجلال دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ایمل خان دریا خان دواړه خورد بین لاړل
اوس خو پاتو ومغل تریو خوشحال دے

وسړی وته داخپل عیب وینښتۀ دے — دَبل عیب ورته لاکټه تر غړۀ دے
په خپل ځان پسنده نیکه په بل بده — دا مذهب دَمؤمنانو مذهب نۀ دے
هُنر ورځ نیک سیرت بلند اَختر ئے — کۀ بل تاوته ترخپله ځا نه بښۀ دے
چه م یوځله اِخلاص ورسره وشو — یا رکۀ سل ځله جفا کا تورلیمۀ دے
بیا دَخپل مئین ځماله ستړکو نۀ ځی — کۀ په ستړکو کښے م څرخ لکه بانړۀ دے
چه غمونه درته راوړی ستړکے غوړ دے — چه دِځان دَبل مړئے کا هغه زړۀ دے
کۀ خوارۀ خوری کۀ اوبۀ څښې په داځه شی — مرده دل کۀ ژوندے وینے شمار په مړۀ دے
ځما زړۀ توکانړی سخت ووښوئے تر پریوت — تر الماس ئے دَغمزے غشے تیرۀ دے
کۀ یاران م ترحساب ترشمارۀ تیر دی — په کوکل کښے م زړۀ یودے دَیوۀ دے

دَسړی دَصورت کار دا هسے نۀ وی
چه ئے زړۀ دَخوشحال یوورلانورخۀ دے

وچراغ تړدَ اورپښتی حال معلوم دے — په دامنځ کښے دَخبرے حاجت کوم دے
یودَبل له حاله نۀ کاندی پوښتنه — دَدے بنهر په عالم کښے بدرسوم دے
یا یک لخته هغه یار واړه جفا زده — یا له ما سره جفا کا بخت م شوم دے
نن چه زړۀ باندِ مئین یم په ډیر رنګه — درئے وښیم چه کوم دے خۀ ئے نوم دے
یو په حسن بل په داچه عاشق وژنی — په دا دوه توکه په درست جهان کښے سلوم دے
نندارچی ئے دَجمال دی نورخۀ نۀ دی — چه په هر لوری هرځا ئے خلق هجوم دے
چه کلونه دَبهار باندِ لیدل شی — دَبلبلو سیل تل په هغه بوم دے

خۀ به هر یوۀ ته حال وائے خوشحاله
دَلیمو په حال خبر کله اُدوم دے

ورځ په ورځ دَباغ غنچے دی چه غوړیږی — دَبلبلو وُږی ستړکے پرے مړیږی
چه بنۀ مخ وته نظر کاندی لازم دی — کۀ ئے ستړکے وبل مخ وته غړیږی
جګی جګی مانړے مۀ کوه پخولا شه — چه په ما دَرقیبانو زړۀ سړیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د عاشق خاطر په مثل د نافے دے کۀ کلونہ پرے تیر یږی نۀ زړیږی
زۀ جدا لہ یارہ خوب په شپه ونۀ کړم وائے مالکه م په ستړګو کښے دوړیږی
روغ عالم خندا خوښی هوا هوس کا پرهار ژلے په غمونو کښے نړیږی

نور عالمۓ تار په تار تښتی له غشیو
یوخوشحال دے چۀ غشیو ته ږیږی

وایم خلق نۀ درئ زۀ م یوور یو زمرئ
دا خبره چه زۀ وایم تر ویښتۀ ده لا نرئ
چیرے نۀ وی لیونے شم چه په خوب وینم پرئ
زۀ له یارہ سره خۀ یم د یوۀ مزی مرئ
چۀ ئے خوند د میوے خوږ وی هم هغه بوټے کرئ
تۀ هم خرورسره مۀ شه کۀ څوک خرشی په خرئ
په کهترو د نظر کا څوک چه غواړی مهترئ
بله نۀ ګوری بل مخ ته تل د ستړګو کړم ژغرئ

د رستی پسرلی نرګس وی
د خوشحال قدر لرئ

وښۀ مخ و ته نظر دے هر چا کړے نۀ دا دود دے په جهان کښے ما راوړے
زۀ به هیڅکله له عشقه نه وانۀ وړم کۀ هر څو را ته وئیل کا ندی وکړے
ما وئیل چه زړۀ به نۀ ورکوم چا ته ولے خۀ کړم چه بد زړۀ لرم بد وړے
د عاشق د ریښتینۀ نخښه دا ده چه په عشق کښے سر حساب کا ندخړے
په یوګوټ کښے به ئے د عشق د میو هیر کړے کۀ د دا ږه د جهان لذت دے نغړے
چه په ښاخ باندے اوړے ژمے کل وی خدائے خما په زړۀ نهال کړے هسے زړے

چه به بیا په خۀ علاج په لاس کښیوزی
د خوشحال خاطرئ نۀ دے هسے وړے

و مجنون ته د لیلیٰ د شوند و وایه لال و د ر یاقوت ونورو وته ستایه
د مجنون له ودانئ سره خۀ کار دے هرچه ورانه ویرانی هورے ئ بیایه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه به بله اندیښنه کاندی اغیار دے — یار دِ څوک دے چه دِ نۀ ووزی له رایه
درست جهان دِ تیرے ټوبے درته واخلی — یو ویښتۀ به دِ کنډاؤ نۀ کا بے خدایه
ما داهسے دماغ اوس نۀ دے راوړے — زۀ داهسے دماغی راغلم له ځایه
ولے کاندہ به خپل درته بنکاره کړم — زۀ په کاندہ ماندہ نۀ یم نن ئے نمایه
دَ دولت شهپر کا رغانو څخه نشته — که ئے غواړے خوئے غواړہ له همایه
تۀ دَ زړۀ اغزے په کوم طبیب وکا بړے — چه وکښلے ئے اغزے نۀ دے له پایه

دَ منصور په حال خبر نۀ ئے خوشحاله
درته چاوے چه دَ راز خبرے وا یه

ورته کوره څما یار څۀ نندارہ دے — لکه اوبر مکئ په ستورو کښے بنکارہ دے
څوعاشق په معشوقے باندِ مئین شی — هومره دے و معشوقے ته بیچاره دے
ما وے عشق خو یوښۀ څیز دے خبر نۀ وُم — چه دے لا ترمست هاتی نه خونخواره دے
چه نصیب ئے دَ بنۀ مخ نندارہ نۀ شوه — هغه څوک څما په پوهه آواره دے
غم څما له دله نۀ درومی بل لور ته — ته به ولے چه څما په اجاره دے
عقل علم هُنرمۀ یاد وه ما ته — چه م ولیدۀ مدارئے ستاره دے
هغه زۀ یم چه دَ اوښ ورے په شا وړم — دَ غوایۀ ورے څما په پشتاره دے
چه علاج ئے په چا نۀ شی څوک ئے څۀ کا — چه په ما باندِ ئے زړۀ سنګ خاره دے
غم په نور و یوځل وریښی بیا تیر شی — خو په ما باندِ که ګورے سل باره دے
چے ئے هیڅ دَ بنا ئسته وُ مینه نۀ وی — رنګ ئے مۀ وینے چه نفس اماره دے
دَ بنۀ مخ نندارہ نۀ کا خلوتی شو — زاهد څان ژاړی بے ځایه هیڅکاره دے

بادشاهان دِ هم سیالی ورسره نۀ کا
خوشحال ستا ئ درمرئیو په شمار ه دے

لاهم قلندر شوم دا م مال دا م احوال دے — مات کچکول په لاس کښے بل م کند دَ دُنیا مال دے
وران وګړے کوره په څو قلپ کا رونه کاندی — واړه اقبال غواړی ولے لا بقا اقبال دے
زۀ ترهغه څار شم چه ئے داکړه ترځان څاره — څار ترما هغه شه چه څار شوے ترمثقال دے
هیڅ په منځ کښے نشته په خالی دوکان غوغا ده — ماچه فکر وکړو واړه وهم خوب وخیال دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو پہ کور کښے سنخ کا بل پہ کور کښے نہ کا فکر
دے ورځے ماتم دے خلور مہ ورځ بل حال دے

ماخولاس پہ غور کړلځے تنبم کہ خلاصیږم
خلق پرے خواریږی شهو تخۂ عظیم جنجال دے

نور عالم بہ څۂ کړے دَ خپل ځان پہ خلاصی مت کړہ
لاندے ئے خوشحاله دا یوځۂ دَ بلاجال دے

همیشه م تر پرهار وینے بهیږی
کۂ هر څو باندِ دارو ږدم نۂ لګیږی

کۂ فریاد له دردہ کړم ملامت نۂ یم
چه پرهار په پرهار وشی خو خو ږیږی

همیشه م دَ یار یاد دَ زړۂ سبق شو
چه ډیر ډیرے یاد وم زړۂ م خو ږیږی

زړۂ م کل دَ نیلوفر مخ ئے آفتاب دے
نیلوفر م وَ آفتاب و ته کږیږی

دَ خوشحال دخوشحالئ وخت هم دا دے
چه رباب سر بنده جوړ سره غږیږی

هیڅ صفت ئے نۂ ځائیږی په تحریر کښے
چه دِ زلفے مشک عنبر کړم په نظیر کښے

ستا دَ مخ دَ شوندو مثل رامعلوم شو
لکه نهر دَ جنت شهد په شیر کښے

نۂ چه خولۂ دننه زړۂ م هم پرے خوږیږی
چه دِ نوم دَ شوندو واخلم په تقریر کښے

ماچه ستا دَ چهرے بنه نندارہ وکړہ
څوک به ستا په حسن نۂ وی په کشمیر کښے

زړۂ م ستا په زلفو بند شو پرے خوشحال شوم
لیونی تړلی بنهٔ دی په زنځیر کښے

کۂ هوا ده کۂ سودا ده پکښے ستا ده
بل خیال فکر م هیڅ نشته په ضمیر کښے

زړۂ چه ستا په تیر زخمی شوم فراغت شوم
چه عجب دارو دِ ایښی وو په تیر کښے

لکه بوئ دَ یار دَ زلفو دے عطا ره
هسے بوئ نشته په مشک و په عبیر کښے

محبت م هډو پلو سره مخلوط شو
ناصحا نو راته شاکړه په تدبیر کښے

چا به هومره دَ عشق گنج راعنایت کړ
کۂ م نۂ وے خپله بخره په تقدیر کښے

دَ خوشحال وئیل په نور وکښے څرگند دی
لکه ژغ چه دَ ویر ژلی په گنږ ویر کښے

همیشه م له بنهٔ مخ گفتگوئے شی
چه په لوبنی کښے څۂ وی هغه ترے توئے شی

دَ بلندے په قامت باندِ مئین شوم
هرچه لوئے چارے کاندی هغه لوئے شی

چا خپل یار په غیر کښے ونیوہ خوښی کا
لا دَ چا ورپسے هسے جستجوئے شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د منصور غوندِ به غل د خاص وعام شی — کهٔ بسکاره م وعالم ته کوئ مکوئ شی
په زړهٔ هومړ پروتی نهٔ دی چهٔ شمارشته — اوس ئ چاوته سپرنه موئ په موئ شی
خار وخس سره ئ څهٔ مهر پیوند دے — د بلبلو مینه تل په رنګ و بوئ شی
نهٔ به زهدوی نهٔ علم نهٔ څهٔ نور څهٔ — کهٔ څرکنده م عالم ته په دا روئ شی
څکه هرکله خوشبوئ اومعطر دے — د صبا ئ چه په چم کښے تګ و پوئ شی
د ناپوهو یاری په مثل د دک جام دہ — کهٔ هرڅوئ بنهٔ ساتم راڅخه توئ شی

د خوشحال ژړا څهٔ مړ ناحقه نهٔ دہ !
چهٔ ئ تیره درسته شپه په هاؤهوئ شی

هرکناه چه په توبه په استغفار څی — د هغهٔ گناه به څهٔ په زړهٔ کښے دار څی
ساقی راشه سره شراب راکړه سړے شوند ئ — نرچشما نو د څار یږم چه بهار څی
په هرچین کښے ئ د څنږ و مشک چین څی — لخلخ څنے توئیږی چه په لار څی
د خپل زړهٔ خبرے واړه ویرانی کا — یا رهغه چه همیشه په زړهٔ د یار څی
جهان څلئ د خوښئ نهٔ دی د ناورین دے — چه طوطا له گلستانه په چیغار څی
په وار وار چه په دُنیا باند راغلی — عاقبت به څنے واړه وار په وار څی
کهٔ له دردہ م خبر نهٔ دے وګړے — چه م سړے وینے تر ستر کو په رخسار څی
د هغهٔ طبیب نوم څهٔ اخلے په ژبه — چه بیمارو لره رائیشی بیمار څی
کهٔ م پیژنے هغه لیونے زهٔ یم — چه نادان را لره رایشی هوښیار څی
دروغژن به همیشه وی په خزان کښے — د رښتینو په مخ هرکله بهار څی
د رقیب خلل به زر وُوځی له میانه — وخت نزدے راغے د وصل دندوکار څی

چه محروم ئ دے له میو یو خوشحال دے
گنړه واړه حریفان څنے سرشار څی

هره مینه چه په خال په زخه کیږی — هغه واړه د بنهٔ مخ له مخه کیږی
زړهٔ دلګیر مهٔ شه د خلقو په جفا کښے — په عاشق د رقیبانو رخه کیږی
خاوند خدائے دِ سرزنش د هغو وکا — چه په حال ئ د دردمنو سخه کیږی
غه مرغهٔ به له همایه څهٔ پرواز کا — چه لا اوس ئ تن وجود په نچه کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ هوس کوی خوشحال هوس نے نهیل شه
غه هوس چه به بے ستاله نخه کیږی

هر زمان چه دَ فلک مهر بنیاد شی — نامراد دَ زمانے په خپل مراد شی
په هرشام پسے سحر شته نظر وکړه — عاقبت چه څوک غمژن شی بیا به بنا شی
ساقی نن دَ سرشارئ شراب را کړه — محتسب چه حاضر نهٔ دے څه احداد شی
چه نړۍ نهٔ معشوقه بهار رفتن کا — نن خُماله بخته نه فریاد شی
یو له بله زده کوی دَ جهان دود دے — له اوله چه شاگرد شی بیا اُستاد شی
یار به مخ راته بنکاره کا لکه شمعه — عاقبت به رقیب خوار او نامراد شی
یا دیر زر بویه یا بخت بویه یا توره — چه په سپینه ږیره څوک دجاد ماد شی
دَ ملحد په زړهٔ به نهٔ لګی خبرے — کهٔ وئیل دِ ورته تل دَ نون وصاد شی
زمانه به ئے پرے نږدی و ثبات ته — په هواچه دَ حباب غوندِ پُرباد شی
صورتی عمر فانی دے باقی دادے — چه ئے پس له مرګه نوم دَ نیکو یاد شی
عقله ته له عشقه لرے لرے کړ څه — مخالف چه سره ورئیشی فساد شی
دَ هغه سړی په مرګ ژړا هیڅ مهٔ کړه — چه دَ بد و نوم ئے خور په هر بلاد شی

په هرچا باندے زړهٔ دے لکه ژاولے
په خوشحال باندے زړهٔ لکه فولاد شی

هر سړے کهٔ ربستیا کوئے وی — نهٔ دِ مړ کهٔ سرے کوئے وی
دَ لویئ لاف به نهٔ کا — چه په اصل هُنر جوئے وی
کهٔ ئے نغاړے پټ به نهٔ شی — په هر خائے چه رنګ وبوئے وی
چه خپل یار له مابیلتون کا — خُما ستړے پسے جوئے وی
په بیلتون دَ مینا نو — زړهٔ تر دوُو ستړو راتوئے وی
چه قیمت دَ کالی څومره — پسے هومره جستجوئے وی

څو جفا کا زهٔ خوشحال شم
یار دِ هرکله بدخوئے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرنا پوهـ ځلموتی څهٔ زده چه څهٔ ده د عشق بازی
تروځهٔ مچ څهٔ ئے مجال چه په هوا کا پروازی

هر قلاش چه خپل صورت په عشق بائے کړکهٔ باور کړے
په مذهب د عاشقانو هم شهید وی هم غازی

کهٔ د یار په غم کښے و مری خاصکی ژوندون هغه دے
کهٔ په پښوئے تندے کښیږدی هم دغه ده ممتازی

حقیقی سجده هغه ده چه د یار په لورئے وکړے
وکعبے ته چه سجده شی دا سجود دے مجازی

تورو زلفوئے په بادکړهٔ دیر سرونه د مظلومو
تورے سترګے ئے په زړونو کا همیش ترکتازی

اے خوشحاله چه عاشق شوے اوس له خپله سره شه
داځما خندا خندا تهٔ بازی مهٔ کنړه بازی

هغه دم چه م له یار سره صحبت وی
د فرښتو آواز په ما باندِ زحمت وی

چه له یار سره باده خورم په خلوت کښے
باده ستادِ له غهٔ ځایه نه رخصت وی

بنهٔ یاران چه سره ناست وی محبت کا
چه اغیارو باندِ راشی قیامت وی

تل کدائے په بادشاهانو مټین شوے
نهٔ داکار به له ماخوارونه بدعت وی

عاشقی م خدائے له ځایه خوئ خصلت کړهٔ
هم هغه کاندی سړے چه ئے خصلت وی

ستاد شوند و تر لذت به نهٔ رسیږی
کهٔ هر څوم د شکرو زیات لذت وی

ما به زړهٔ د معشوقے له لاسه خلاص کړ
ولے دریغه کهٔ له عشقه اجازت وی

د زنخ د چاه د بند فراغت غواړم
په تنور کښے پراتهٔ کله فراغت وی

بنهٔ صورت خو هم هغه چه زړهٔ ئے یوور
نهٔ چه کړهٔ او وړهٔ ئے بنهٔ وی بنهٔ صورت وی

ما به ستړے لکه باز درلے آندرتے
کهٔ م زده وے چه د ستړګو بدشت وی

خو به مهٔ راځه په ملک ځما د ستړګو
کنړه ځان به د په وینو کښے لت پت وی

شیخ به ولے د رندانو عیب نهٔ کا
تل له مرد سره نامرد په غم غیرت وی

ستا په زلفو کښے م خوار خاطر نیاد نشو
د مومن په کفرستان کښے څهٔ حرمت وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مګر واړه جوهری په مړک تمام شول چه تردُر به د ژلئ زیات قیمت وی

بل جنتئ شیخه تاو ته بخښلے
د خوشحال دِهم د یارکوشه جنت وی

هغه مخ چه بنا ئسته د نندارو وی چه ئے وینے وهڅاپسے هوهو وی
د بلبلو له بلغاک نه دلګیر مهٔ شه هغه ځائے چه رنګ وبوی گفتګو وی
که هر خوبنا ئسته د یردی ګمان نکړم چه به بله لکه تهٔ پاکیزه رو وی
تور ګیسو پرے همګی صورت خوارهٔ کړه چه د درست صورت همه دمشکو بوی
زهٔ به سترګے ستاله مخه نه وانخلم مخامخ که تیرانداز راته یوخو وی
قاصدان خُماد اوښکو کښته پور ته همیشه د کښلی مخ په جستجو وی
نن چه تهٔ له مانه ځے، زړهٔ م خوشحال کړه یاره ستا وعده به کله د راتلو وی
کا تبان به ئے په کوموګوتو کښینه غه خبره چه سوزونکے تر لمبو وی
د سحر په بلا تهٔ یادشے اے چرګه ستا په ژغ د عاشق زړهٔ په پرهرو وی

د خوشحال خټک له حاله خبردار شوے
چه په زړهٔ به ئے د عشق داغونه شوی

هغه څهٔ دے روغ صورت دے چه بهتر تر سلطنت دے
د دُنیا دولت که بنهٔ دے تر دولت نه بنهٔ عزت دے
چه دِیر بنهٔ دے تر توقیره یوعفت بل صداقت دے
چه سړے له غمه خلاص کا هغه څهٔ دے قناعت دے
په طاعت که تهٔ لوئی کړے حبطه هغه طاعت دے
چه فائده لری بے شماره هغه څهٔ دے مصلحت دے
په منت چه ورکوُل کا هغه کله سخاوت دے
چه دوزخ دے په دُنیا کښے د نا پوهه سره صحبت دے

خپل نیت بنهٔ لره خوشحاله
که څهٔ بنهٔ دے خو بنهٔ نیت دے

هغه یار که په ظاهر له ماجدا دے په باطن کښے هر زمان را هویدا دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ ژوندیو سرہ کړئ په عالم کښے خوارعاشق په معشوقه باندِ فدا دے
کښت کهٔ وسیزی باران وربانډ مشه کهٔ په خوارو به کوم کړے ساعت دادے
کهٔ ئے غواړم په کوکل کښے موندهٔ نشی زړهٔ م لاړ دښائسته ډ په سودا دے
خدائے به امن د هرچا له ستر کو وکړه یو عجب صنعت د مینے ابتدا دے
زهٔ به زار کوم له دله هم له یاره چه په خهٔ په بے پروا باندِ شیدا دے
خپله مینه په عاشق باندِ سور اورشوه چه پرے سیزی خبردار باندِ خدا دے
کوره څو قرنه کالونه باندِ تیر شو چه فرهاد په بے ستون کښے لاصدا دے

زهٔ خوشحال په چاته خهٔ وایم له حاله
د زړهٔ حال د مخ په رنګ پورے پیدا دے

هرسړے چه د اخلاص په لارے درومی کهٔ هرڅو په غرونو دروهی نهٔ به نغومی
نومیدی د بنهٔ بادشاه په درکاه نشته هرسړے چه خدمت کا نتیجه مومی
څما زړهٔ د ټول دلبرو ترمیان ورک شو نوم د کوم یوے اخلم چه څهٔ نومی
بنهٔ چه زهٔ په عاشقئ کښے شهید شوم په دا لارے کښے څهٔ لږ نهٔ دی لږومی
ما د سویو بنکار کاوهٔ هوسئ م بنکار کړه څما رزق به کله تلهٔ د بل تر کومی

نور د صافے پیالے خوری نصیب ئے غم دے
کهٔ خوشحال په درد و دُوک کښے پیالے شومی

هغه یارچه له ما لرے په هواد دے همیشه راته حاضر د زړهٔ په یاد دے
د وصال خوبنی ئے هم لاهومره نهٔ ده چه م زړهٔ د دهٔ له خیاله سړه نه شاد دے
بیهوده له یاره څار کوم و چاته د خپل یار له جوره چا موندلے داد دے
په ما واړه چارے وکړے آشنایئ په ناحق م له بیلتونه نه فریاد دے
چه م هیڅ اثر د آه وربانډ نهٔ شی دا ناترس خاطرئ کانړے کهٔ فولاد دے
د خطا هوسئ په بوئ د نافے بنکارشی راته بس د هغو زلفو بوئ مراد دے
تهٔ چه ما وته ارشاد کوے په عشق کښے کله غور د عاشقانو په ارشاد دے
چه په هیڅ توکی څماله زړهٔ ننهٔ ځی د خپل یار د مینے خهٔ محکم بُنیاد دے
یو زمان ورځنے خلاص نهٔ یم په عمر په ما خوار باندِ د عشق جور معتاد دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څهٔ عجب بنهٔ بوئ راځی دیارله لوریه نن ځما د زړهٔ دمه د صبا باد دے

تل کړیوان په اوښکو لوند ساړهٔ آهونه
چه خوشحال مئین کیدهٔ دائے احداد دے

هر خاطر چه ناقرار شی قرارے ئے په دیدار شی
چه خپل زړهٔ وچاته ورکا هغه څهٔ په خوارئ خوار شی
هسے سیند لرم په ستړکو چه جمنا ورته رودبار شی
یو څهٔ راز لرم په زړهٔ کښے هیڅوک نشته چه رازدار شی
هسے ژاړم له بیلتونه چه غلیم راسره یار شی
زهٔ هم عار لرم له خلقه کهٔ د خلقو له ما عار شی
واویلا علاج ئے څهٔ کړم پرهارونه په پرهار شی
هومره پیر پیران شیخان دی نشته یو چه مدد کار شی

په بیلتون د خندهٔ سړو یو
د خوشحال ژړا آزار شی

عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا چه د عشق سیلاب پرے راشی واړه نور کا
ما ته مهٔ وایه عاقله چه عشق څهٔ دے کهٔ مئین شے تا به هم له عقله مور کا
عشق به هیڅ له خپله هوډه نه وانه وړی عقل څو په قهر تل د کوتو مرور کا
زهٔ کهٔ هر څو خپل پیوند شلوم له عشقه وے ما او عشق خدائے لاوبله جوړ کا
ځما عمر په حساب له شلو زیات دے د عشق غم به م په لږ کاله کښے زور کا

کهٔ ئے چیرے د خپل یار په وصال لاس شی
بیچاره خوشحال به هم خاطر پرے سور کا

چه م کښته پورته اوښکے تک وپو کا د خپل یار په طلب کړئی جستجو کا
زهٔ په داطمع د شاه د سیئو مل شوم کوند ما د خپلو سپئو سره تو کا
هرچه ستا په کښلی مخ باندے مئین دی هغه درسته شپه له ماهه کفتکو کا
کهٔ زهٔ روایم خبرے کوم م مکړه ځائیکی ویشتلے تل خبرے سړو کا
ستاله غمه چه وچاوته وئیل کړم لاس حرف د ئیلے نهٔ وی چه هوسو کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په هرځائے چه دے خلور وبله ناست وی چه پرے غوږ باسم خبرے د مهرو کا
بادشاهان ئے آرزومند د نندارے دی گدایان بهتر ئے د خولے طمع په څو کا

د کلونو دورتل نهٔ وی خوشحاله
بنائسته به په خپل حسن کبر څو کا

هرچه ستا کوڅه مقام کا تر تلی د ننګ و نام کا
زهٔ چه ستا ترفهم خوارشوم نور څهٔ غم د احترام کا
غمزه څهٔ اَستوے بل ته پریږده کار د ما تمام کا
نازنینے د دے بنهار فتنے ستا له سترګو وام کا
ستا مخمورے سترګے دوا پرے مست م لا د مئے ترجام کا
چه سوانه په بنیوه شی غزال څهٔ دے چه خرام کا

ورته وګورم په مهر
خوشحال تاوته سلام کا

ستا له چمه به وانهٔ وړی عاشقان ستا که هرڅو تیرهٔ غابنونه وی سګان ستا
چه قدم له تانه اخلم زړهٔ م نهٔ شی پابسته یم د زلفینو په ریسمان ستا
تهٔ لا اوس لکه غنچه په غوړیدوئے د بنائست خبرے لاړے په جهان ستا
په بنائست د بنائسته یوسف ثانی ئے په دوه کونه بنهٔ دیدن دے رائیکان ستا
په جهان کښے که ترمرګه گران څهٔ نشته زهٔ ترمرګه لا بهتر گنړم هجران ستا

زهٔ به نوم د سلطانئی باندِ کښیږدم
که تش نوم د خوشحال تیر شی په زبان ستا

ور په ورجاړو وزم لور په لورے په طلب ستا
له خپلوله پردیو م بلا شوه په سبب ستا
مستی د نور وګړی د شرابو په پیالو ده
ځما مستی په څهٔ ده درته وایم په دوه لب ستا

پخپله عاشق وژنے بیا پخپله پسے تاپ کړے
چه چا رو ته د ګورم وایه چارے دی عجب ستا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څۀ ما سره غضب کړے چه په غټ کا تۀ دِ زۀ مرم
هغو سره غضب کړه چه ئے توان دے دَ غضب ستا

کۀ ځان م په سوزانو لمبو کښیږدے خدائے دِ نۀ کا
چه زۀ بنده به وغواړم یا تبه یا سروب ستا

په دا دور راغلے په طالع دَ مشتری ئے
خاوند دِ تل تر تله رخشنده لری کوکب ستا

چه مسته په خمار کښے دَ غمزے سمند جولان کړے
له قتله له کشتنه به هم څوک نیسی جلب ستا

کۀ بیا دِ له اغیار ه سره نۀ ده باده خښلے
سکه ووایه دلبرے چه په څۀ دے راطرب ستا

کۀ تۀ به له خوشحال سره یاری خو په دُنیا کړے
را درومه یاره وی دِ دَ خوشحال واړه منصب ستا

هئے هئے توبه له تانه ستا له خوبه بویه تښے
څما خاطر دِ وریت کړلکه سیخ په لمبو ایښے

له سترګو وروځو زلفوله بنړو به دِ ځان څۀ وړم
دَ مخ سپاهیان دِ هسے راته جوړ لښکر زۀ کوښے

څما په بخره نیاز دے چه عاشق یم زۀ به نیاز کړم
دَ ناز اسباب م واړه معشوقے وته پرے ایښے

په مخ دَ مهوشانو چه څۀ خال وخط لیدۀ شی
بلا دَ ځان دَ زړۀ دی کۀ ئے کورے کو بنے کوښے

عاشق په اند یښنو کښے دَ تازی غوندِ نس نغښتے
غافل په بے غمئ کښے دَ سند اغوندِ بد غوښے

بدخواه دِ په قصد کړے ده خوشحاله ملا محکمه
څۀ ویره څۀ اندوه کړے تۀ هم وردونۀ چه بلښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هرچرته چه کښینے هغه ځلۍ دګلو باغ شی
چه دروے په چمن کښے دلاله سینه داغ داغ شی
چه باد د تورے زلفے په سپین مخ کاندی پریشانے
دمشکو د عنبرو بوئ پریشان په هر دماغ شی
په زلفو کښے د ورک ځما زړے شو مخ څرګند کړه
د ورک کالی غوښتنه تل په توره شپه په څراغ شی
چه ما مزه موندلی ستا د شونډو د روغژن یم
که دا مزه به هم موندله د میو په ډیاغ شی
پیغام ځما اے باده ترشیدا بلبلو ورو ړه
لا شک چه په دا باغ کښے دګل بوئ دګل سراغ شی
یو دم دخوارخوشحال سره تهٔ هم فراغت کښینه
چه زړهٔ ئے له دیو د پیرو اندیښنو څهٔ خو فراغ شی

یاما زده یا م ستړګو چه نن شپه را باند تیر دی
یاما زده یا هغو زده چه وهلی په شمشیر دی
داروئے د دردمهٔ کړه نهٔ ئے روخ د رغید و دے
چه خود په زړه دا ډلی د خوبا د چشمو شیر دی
له درده نهٔ خلاصیږم چه طبیب پسے طلب کړم
کنړه هیڅ کمے ئے نشته طبیبان په جهان پیر دی
عاشق د لاد وخته خپله زیرمه د کفن کا
چه تور با نړهٔ ئے غشی وکښتن وته دلیر شی
عاشق وته بشکاریږی لکه مخ په آئینه کښے
د شاه د جمال نخښے که تر زر تتق تیر دی
څهٔ ته وما وائے اے ناصحه چه عشق هیر کړه
چه بے د عشق د کاره م نور ټول کارونه هیر دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خوشحال ختک چه بیامونډ لذت دیارد شونډو
وډه وته نورواړه دجهان خوارۍ کنډیردی

یاخومهٔ کړه لیونی سره یاری
یا دکند د پھوړۍ کړه تیاری

چه په نورځۍ حساب کښې هغهٔ زړه
زهٔ بے یاره عمرکل کنړم خواری

چه دیار د راغلو زیرے په ما وُکا
تر هغهٔ سړی به زهٔ شم بلهاری

په خرام کښے دآهو علامت کوره
دګذار وارۍ خطا کړ د بشکاری

خُما حال به وهغهٔ وته معلوم وی
چه تمامه شپه بیدار ستوری شماری

خدائے دِ تا په جهان تل لری اے باده
چه خُما د یار ترمینځ کړے ریباری

معطر د شاه د زلفو نه را دروے
ستاله بویه نافے زارشه تاتاری

چه وعده د یار د وصل نزدے کیږی
د عاشق له زړهٔ نه دروی قراری

کهٔ نے ستا د سړو خوخال په نظر کښیوت
د خوشحال شی نورله غمه ویزاری

یو قدم چه په خلاف د نفس ږدان شی
په هغه زمان ولی هغه انسان شی

چه د نفس په حکم دروی هغه خواروی
سړیتوب ورځۍ مهٔ غواړه شیطان شی

داسړے چه فرښته دے هم شیطان دے
کهٔ سړے وخپل عمل ته نګران شی

یو په بد عمل کښے څۍ تحت الثرٰی ته
بل په ښهٔ عمل کښے پاسه په آسمان شی

داسړی دی چه په عقل کښے سړی دی
داسړی چه په عقل کښے ددان شی

داخونونه په توپک په توره نهٔ شی
داخونونه چه د خلقو په زبان شی

تربیت کهٔ د باغوان د لاسه مومی
په هرځائے باندِ کلونه د بوستان شی

هراُستاد سره چه کښینی یوځو ورځے
د هغهٔ هُنر په دهٔ کښے نمایان شی

د نیکانو په صحبت کښے به ښهٔ کیږی
اولیاء له اولیاء نه راعیان شی

چه مغلو سره کښیناستے مغل شے
د افغان سره چه کښینی نورافغان شی

د خوشحال سره چه کښینی یوځوکاله
دا د غرهٔ ختک به واړه شاعران شی

... ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

باپ تخت باندِ بادشاه وے
یا درویش دَ خانقاه وے

چه په لاردی هغه ډیر دی
یوځوما غوندِ ګمراه وے

زهٔ هردم په بسم الله یم
کهٔ یاران به بسمِ الله وے

چه ئے کارِ دَ میړهٔ نهٔ وی
هغه نهٔ وے میړهٔ داه وے

په شمارهٔ مِ ځویه وُرک دی
کهٔ یوځو پکښے واه واه وے

غاړے غرونه ځنے ډک دی
سرانجام کهٔ دَ سپاه وے

ابلقی په کار کښے هیڅ وے
یا درست سپین وے یا سیاه وے

توره شپه ده دَ غمونو
دَ بنادئ صبحګاه وے

په خوشحال به ئے بد نهٔ وے
کهٔ ئے څوک په حال آګاه وے

کتابت : غلام لطیف ۔ چرڑے ۔ دسمبر / ۱۹۹۸ء

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خلورم ټوک

POHA

قطعات

او

متفرقات

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جګی جګی نفسه ډیر درپسے لاسم — تهٔ هم څهٔ خواوس په ما پسے روان شه
چه د وے هغه خواږهٔ م وتا د رکړهٔ — د تروو د ترخو هم مزه چشان شه
ډیرم ستا په رضا خوب ترخا بسته کړے — اوس راضی له ما په خوب کښے تر اذان شه
زهٔ خلویښت کاله له تا سره کافر وُم — تهٔ له ما سره څو ورځے مُسلمان شه
حمیده م د بدل په ضمیمه کړل — څهٔ فساد د په ما وکړ کور د وران شه
په هر در د لکه سے وُ درڅُلم — له دے تکه پویه منع یو زمان شه
په یوهٔ خاطر م زر اندیښنے تولے — داهمه شومیت د تادے ورک د خان شه
پیمانے د د هوا څما په لاس کړے — واړه باد پرے پیمایم سور د دوکان شه
کله ما وته وئیل د مال وملک کړے — چه عزت په مال وملک کښے د ډوهان شه
هرچه پلار نیکهٔ د کړے هغه کار کړه — د ناموس د ننګ په کار کښے نامی ځوان شه
کله ما وته وئیل د خان او میر کړے — چه ورځه له خان او میره هم زبان شه
کهٔ دروغ دی کهٔ رښتیا ورته ئے وایه — مسخره غوندِ د دهٔ سره خندان شه
کله ما وته وئیل کړے چه خدمت کړه — په خدمت کښے دلنشین د شاهجهان شه
حق ناحق خو نونه کړه د مُسلمانو — په هر شان ئے خوارَوه باندِ خریزان شه
کله ما وته وئیل کړے هرځهٔ پریږده — په جمال د بنو محبوبو نګران شه
په هرلوری درته کښینوه په څنګ کښے — بهره مندئے له صحبته په هرشان شه
کله ما وته په یاد تازی ترکی کړے — چه د بنکار په هوا سور په عراقیان شه
په صحرائے زغلوه هوا هوس کړه — د بازونو بنکار کوه غره په ځان شه
کله ما وته وئیل د کل ولائے کړے — چه بانی د عمارت باغ وبوستان شه
کهٔ په مُزد کهٔ په بیګار ځایونه سازکړه — پکښے ناست وُسه صاحب د بنهٔ مکان شه
په حشمت د زلوچو د پاسه کښینه — په دا کار کښے یا فرعون یا هامان شه
کله ما وته وئیل نهری جامے کړے — چه زرینے جامے اغونده رخشان شه
کله ما وته وئیل کړے شعر بنهٔ دے — سخندانو سره کښینه سخندان شه
داشماره ډیره مجمل ده چه م اووے — مفصل ئے تهٔ پخپله ترجمان شه
هرچه تهٔ وما ته ولئے هغه کار کړم — ولے کوم پکښے حاصل دے خو ګویان شه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ چه ستا په رضا درومم سوم کوم دے
چه به ستا په رضا درومی سوئے زیان شه

آواره دِ په خوښئ د اماره کړم
له دے هسے بده خویه لږ پښیمان شه

چه دا هسے بے حسابه فرمائش کړے
په دا هسے فرمائش څه خونادان شه

مطربان دِ سرود ونه در ته کاندی
ته ئے خوښ په صوت اوغاړه په الحان شه

وازه کړے دِ د آز د حرص خولهٔ ده
ستام مات د قناعت په سنګ دندان شه

د غفلت په ګهواره کښے فراغت کړے
غوڅ دِ تا د ګهوارے دغه ریسمان شه

ستا لښکر دم په زړهٔ ده میشته کړے
دا لښکر دِ په تیره ټوره طوفان شه

که قدم په نفس کښیږدے اے خوشحاله
نورته هاله ددے دوو کونو سلطان شه

په هیڅ رنګ به د عالم له ځلے خلاص نه شے
که په خوښئ کښے که تقوئ کړے دا به وائی

په خوانئ کښے که تقوئ کړے دا به وائی
له هوسه وُوت خاورے ئے په سر

په پیرئ کښے که هوس کړے دا به وائی
چه په سپینه ږیره څه کاګیدی خر

له خبرو که خولهٔ ونیسے خاموش شے
نوم به زرکښیږدی په تا د غوبل شتور

که خولهٔ پرانزے هرچا دا به وائی
چه ګډ بیږی ماغزهٔ نه لری د سر

که له خلقه ګوښه ګیرشے دا به وائی
چه ځان روغ په خلقو نه وینی مګر

که هرچا له وردروے دا به وائی
چه صبا په بیګاه ګرځی در په در

که دُنیا دیره ګټے په ځان ئے نه خورے
د شوم نوم به په تا کښیږدی خپل پسر

که په هرچا لوسته ګړے د خپلو زړو
دا به وائی چه د غلائے دی دا زر

که توانګر شے د قارون په نوم باله شے
بے شعوره کم بخته باله شی نا تونګر

که بنے بنے خبرے وکړے په خواب کښے
وائی څه حرامزاده دے لنډ ور

که جواب وچاته نه ورکړے سرکوز کړے
وائی هیڅ نه دے غوږے بے هُنر

که په ټوره مړنے شے ګډ وے ئے
لیونے جاهل د بولی هم ابتر

که له جنګه په ستنه وُسے وارګورے
وائی ځان ساتی نامرده نه زړه ور

که زربفت او میلک اغوندے تکلیف کړے
وائی دا د بنځو خوئ دے نه د نر

که ساده جامے اغوندے در ته وائی
چه د شوم او د ممسک دے هسے چر

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ سفر دَ هر دیار کړے درته وائی چه حرص ئے کړ ځوی په هره لیر
کهٔ په کور کښینے هیڅ لوری وته نهٔ ځے وائی کښیناست په خپل کور لکه دختر
کهٔ لونډ کړځے وادهٔ ته هوس نکړے بیادِ بولی حیز، نامرد، مُرده ذکر
کهٔ وادهٔ وکړے بیادا درباندِ وائی آزاده بنهٔ نهٔ وو؟ شو په بلا سر
داغهٔ زرداهسے رنګ ملامت نور شته کهٔ ئے کښم درته به سازکړم یو دفتر
خدائے لاهم ځنے خلاص نهٔ دے کهٔ ئے کوړے چه ترسائے دَ عیسیٰؑ بولی پدر.
زهٔ اوتهٔ دَچا په یاد په څهٔ شمار یُو دَ عالم له خولے خلاص نهٔ وو پیغمبرؐ

نیت دَهرچا سره بنهٔ لره خوشحاله
په هرکار کښے دَ سړی دے نیت رهبر

چه صرفه کاندِ په سر یا صرفه کاندی په زر
نهٔ به خان نهٔ به سُلطان شی نهٔ به خپل کاندی کشور
چه په خان مړنے نهٔ وی مړ نتوب نهٔ کا لښکر
یا تخت دے یا تخته ده دَ شاهانو ځائے مقر

کهٔ ئے کوړے بد ژوندون دے
په جهان تر مرګ بتر

قسمت خوچارے راوکړے نندارهٔ دَ درست جهان شوم
نهٔ ګناه نهٔ م تقصیر وو دَ بادشاه په بد زندان شوم
عالمګیر چه په تخت کښیناست له قرانه په قران شوم
له بګرامه پښے ترلے هندوستان لره روان شوم
په دهلی په رنتهبور کښے درے ځلور کاله حیران شوم
په اکره کښے م پښے واشوے بیا نوکر دَ بد سلطان شوم
دَ شجاع په شور وشر کښے خپل وطن وته سړوان شوم
زهٔ م درست سره داغ داغ دے په تلاش ئے دَ درمان شوم
لنګر کوټ مغلو ساز کړ زهٔ په ننګه دَ افغان شوم
کهٔ یوسف ووکهٔ مندړ وو زهٔ دَ دواړو ننګیالی شوم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ ایمل فتور آغاز شو — دَ مهمند و هم عنان شوم
دَ مغلو ِم بلا شوه — غر په غر په کوهستان شوم
خپل اُولس ِم مغلی شو — نا اُمید له خاندان شوم
شُوم بهرام ِم دَ خان غم شو — زهٔ هم غم دَدهٔ دَ خان شوم
په خوکاله دا شورش وو — په ملکونو سرگردان شوم
کهٔ اُولس ِم بیگا نه وے — په هر کار به زهٔ کامران شوم
سمه سوات په یوسف زئ — دَ هرچا کره مهمان شوم
فضولی راکړله نهٔ شی — خو همت په هسے شان شوم
په ټوله دَ یوسف زئ — مظفر په هر میدان شوم
بیا ِم سوات سمے ته شا کړه — په خپل غرهٔ په خپل مکان شوم
نا خلف ِم مخالف شو — زهٔ دَدهٔ په کار حیران شوم
په شامت دَدهٔ تر اوسه — درته زهٔ وایم څهٔ شان شوم
په کنبت چه خټک وُمړل — یا چه زهٔ زخمی په خان شوم
یا چه راغلم چوترے ته — شاهزاده لره روان شوم
یا چه نا ست په نظام پور وُم — دَ هر کام به په ارمان شوم
خو تری دی خو بولاق دی — نندارچی ے دَ زبان شوم
کهٔ ِم زور لکه دَ فیل دے — وهرچا وته ناتوان شوم
دا همته شامت دَدهٔ دے — چه محتاج دَ آب و نان شوم
کهٔ ِم خپل دی کهٔ پردی دی — زهٔ له واړو په فغان شوم
وهرچا وته لښکر یم — ناخلف و ته کاروان شوم
دے لښکر را پسے بیائی — زهٔ له دهٔ نه ګریزان شوم
ناخلف را پسے سر دے — زهٔ په کوه په بیابان شوم
چه کوکب ِم یاری نهٔ کا — په داځهٔ کهٔ کوکب دان شوم
چه ِم کار شو له نادانو — کهٔ هوښیار وُم هم نادان شوم
چه ِم بد زوؤل له ځانه — خود په خود بلا دَ ځان شوم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داخۀ چرخ څۀ ئے گردش دے ګول په چارو د آسمان شوم
زرځلور اویا هجرت وو هغه کال چه بند یوان شوم
اوس زر نوی کال د هجرت دے چه بانی د دے بیان شوم
هغه زۀ هغه م زهۀ دے په کالونو کۀ کلان شوم
کۀ م بخت کۀ م لښکر دے لا پخته په امتحان شوم
خو به دے هسے گردش کا چه په کام د دشمنان شوم
کۀ م آروی له هوډه نۀ یم مرد کۀ ترے ترسان شوم
واړه وشول شپارس کاله چه په دا طور پریشان شوم
په اتۀ شپیتۀ کښے زۀ یم پسرلے تیر شو په خزان شوم
داهم هیڅ کۀ په دا عمر د آسمان په سود و زیان شوم
زیان ئے هم راته آسان دے چه له سود ئے پښیمان شوم
څوانی لاړه پیری راغله برمنډ ګل د ګلستان شوم
کۀ م غابن نشته په خولۀ کښے مست هاتی یم بے دندان شوم
لکه نمر په وخت د عصر په هر کار هسے ناتوان شوم
اوس نور غم راسره نشته خو په غم د عابدخان شوم
څوچه کام د دۀ د زهۀ دے کۀ کامران شی زۀ کامران شوم

کۀ م دا مقصود حاصل شی
ګنډه سر د سره څوان شوم

کۀ بادشاه د درست جهان شی په تخت کښینی
ترس به کا د بادشاهئ له زوال نه
کۀ لوئی د سکندروه خوبیا هیڅ شوه
کۀ قصه شی د یوسف له بنۀ جمال نه
څو سکندره څو یوسف به درته یاد کا
کۀ خبر واخلے له نمره له هلال نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ جمشید ووکهٔ کسرٰی ووکهٔ خسرو وو
واړو وکړله وداع له ملک ومال نه

د شاهانو کپړې دی خاورے نهٔ دی
چه پراتهٔ دی وکړه سوال له هرسفال نه

دا قحبه کهٔ په رنګ بنه ده خوئ ئے کوړه
جدائی ورځنے بنه ده د وصال نه

کهٔ لقمان کهٔ افلاطون وو واړه تیر شول
چه م داد ورکړ د عقل قیل وقال نه

هرکمال سره زوال عاقلان وینی
خکه تښتی د دُنیا د هرکمال نه

د دُنیا عیشونه واړه درګذر دی
غواړه عیش د عقبیٰ د ذوالجلال نه

عاقلان کهٔ د دُنیا په حال خبر شی
زر به غواړی خپل خلاصے د دے جنجال نه

کهٔ طوعًا ده کهٔ کرهًا په دا هفتاد کښے
ما رخصت وکړ د ملک مال ومنال نه

د ایمانه سره مرګ عظیم نعمت دے
خدایه دا نعمت اوس زر ورکړه خوشحال نه

کهٔ خوشحال به په دُنیا لرے څو کاله
سکه بهرام به تهٔ تیرنکړے ترسر کال نه

بد قرین لکه دوزخ دے په دُنیا کښے
مائے خلاص کړه له عذابه له وبال نه

هر سړے کهٔ په دُنیا کښے ژوندے ګرځی
خلاص به نهٔ وی د دُنیا له قیل و قال نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په حیات صورت هرکوره ډیر ضرور شی
لاس وکښنه د دُنیاله ملک و مال نه

هرساعت په ما یوحال دے چه تیریږی
چه جدا یم له اطفاله له عیال نه

خپل پردی م خوک ونۀ لیدل رښتینی
چه خبر شوم د وګړی له احوال نه

یوهسے ستورے وخوت په دا بده زمانه
چه ګزۍ د لمبه غوندِ ترخولۀ څنی زبانه

عالم وائی چه نخښه د وبا ده یا د قحط
زۀ دا وایم چه نه د قیامت ده نشانه

قیامت دا هسے رنګ نۀ وی نور څۀ وی
چه څوئ ۍ بادشاهی کا پلارۍ ناست بندیخانه

۱۰۷۵
دا کال م په حساب کښے پوره عین غین هے وو
پخپله به پرے پوهشی چه سړے وی فرزانه

د عالم په جفا هیڅ خبردار نۀ وُم نیک وبد وماته دواړه وفادار وو
لکه کونړ سړے په ډیرو نارو آوُدی دا یُو اوس د نیک وبد وجفا آر وو
چه م کل کنړل همه واړه اغزی وو چه دا روم کنړل کل واړه پرهار وو
چه همیش به ۍ څما په سر دُعا کړه چه م ولیدل همه واړه مکار وو
بے وفا یارانو واړو راته شا کړه بنۀ چه واړه له مالاړل په څۀ کار وو
په زړګونو کښے م یو سړے بیا نۀ موند چه ۍ ماسره یاری کړه بیا کنار وو
کۀ د عمر بقا شته ساعت نزدے دے څوک د هیڅ بنادی ونۀ کا خوبه وار وو
سَلَم تورغوندِ فلک هسے پرے نښول ډیر نا اهل د کردار له لاسه خوار وو
چه کفران ۍ د نعمت کا وۀ لیدل م فضیحت رسوا په خلق خوار و زار وو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دے روزګار دَ هغو واړو کار تمام کړ ۔۔۔ څوک چه ماحواله کړی په روزګار وو
آوریدل مِ به غلط غلط حکمونه ۔۔۔ روستائی قاضی دوه مل سره په دار وو
هیڅ حکیم به ئے دَ رنځ علاج ونۀ کا ۔۔۔ دَ هرچا چه خپل خویونه لږم مار وو
چه مِ مسلۀ ګنډل په دواړو جهانونو ۔۔۔ هم هغه له ماپه داجهان ویزار وو
ما پیر ولیدل دَ بام په سرختلی ۔۔۔ بیا دَ بام له سره کښته نګونسار وو

یا وه سړے هغه دے ۔۔۔ چه ئے غیږ نۀ وی په واک
صحبت په هفته بویه ۔۔۔ کۀ هرڅوئے قوت ناک
وجود لکه مایه دے ۔۔۔ دا اوبۀ ئے دی او تاک
څوغوړو هومره بل وی ۔۔۔ څراغ بے غوړ وی هلاک
له څوا نو صحبت بنۀ دے ۔۔۔ له زړو دِ نۀ شی ژواک
چه تیرشی تر پنځوسو ۔۔۔ ډیر دخول دِ ګنړی باک
صحبت دِ کا په منی ۔۔۔ یا په حُوت یا په ویساک
په باغ کښے صحبت بنۀ دے ۔۔۔ چه بلبلے کا بلغاک
چه دا هوسناکی کا ۔۔۔ تل دِ کا ګرم خوراک
په عطر کښے دِ اوسی ۔۔۔ بنۀ مهین دِ کا پوشاک
تودے اوبۀ دِ تل وی ۔۔۔ چه په غسل کا ځان پاک
دخول دَ حیض بد دے ۔۔۔ یا پرمی شی یا سوزاک
له پاکے دِ صحبت کا ۔۔۔ دَ ناپاکے په سر خاک
کۀ خورے فلاسفه خوره
هم ئے باه شته هم امساک

ځما مشران ځویه ۔۔۔ چه ئے کار شو امتحان
اشرف خان هم کارفرمائے دے ۔۔۔ هم کارکن دے هم کاردان
سدو په کار پوهیږی ۔۔۔ کۀ کارکن نۀ دے په ځان
یحیٰی وکار ته زغلی ۔۔۔ کار ویران کا په زمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عابدخان په کار کامل دے　　کارفرمادے په ښهٔ شان
خالدخان په کارو بار کښے　　کله ښهٔ کله نادان
ښهٔ خوئ د بابا دل دے　　تل د ژوی په جهان
په بازچه نظر وکړے　　پکښے شته د مردئ شان
کهٔ خدائے راته پریږدی　　ذوالفقار دے صدرخان
بهرام هم کار فرما دے　　هم کارکن دے زهٔ پریشان
دا نورخهٔ غټ واړهٔ دی　　واړه ښهٔ کړه پاک سبحان
پوره په اویا ساغلم　　چه م وویے دا بیان
زه دوه نوی د هجرت　　کوره خهٔ وکا آسمان

په سوئے سور سالودے　　هم د کور سره لمن
په سر سره سور اوږ ځی　　لکه ګل د لاله تن

سره ورغلل دوه غرونه　　یو مغل دویم پښتون
رنځ شدتے هسے نهٔ دے　　چه څوک صاف کاخپل لږمون
خدایه تهٔ دانا بینا ئے　　هم بیچون هم بیچګون
تهٔ حکیم ئے پرے پوهیږے　　زهٔ پرے نهٔ پوهیږم چون
واړه ستا په حکم کیږی　　کهٔ کنډون دے کهٔ شلوون
دا غمونه تهٔ توانیږے　　کهٔ له ملکه شی بیرون
کهٔ بیرون نهٔ شی له ملکه　　غم لرے پکښے نه رغون
کهٔ رودونه پار پرار وو　　سر د وینو دی جیحون
په هرحال شکر بائندهٔ دے
تبه ښه ده نهٔ طاعون

د خوشحال خټک د حال پوښتنه خهٔ کړے　　په درون کښے ئے کړو مونه دی ځیګر
له وجوده ئے یو هسے څیز پیدا شو　　چه په خوئ ترخرس وخوګه دے بتر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دروغ په بے شرمئ په بدګویئ کښے
یاجهوددے یا ترسادے یا کافر

په خسّت په بخل لابده بلا دے
یو درم به پیرزونه کړي په پدر

خویک لخته دَخپل ځان په بنیرازئ دے
بنیرازئ پکارنه ده د پسر

په خسّت ئے خو زرګونه سره تول کړه
لاهم هسے ورپسے دے کیدی خبر

کهٔ دَ پلار خونئ مري په دوه روپئ
هغه دوه روپئ به زارنه کا تر سر

دے په مثل لکه تروړی زرئے پوست شول
ګوره څوک به ئے له تنه کا بدر

په وسواس په نامردئ په وهم ویره
لا په زړه به وی کیدړ تردهٔ نه ور

پلار نیکهٔ ته ئے نهٔ خوئ دے نهٔ ئے ښائ
درست په خوئ په بوئ پیدا دے دمادر

دَ مور پلار نیکهٔ ئے واړه پدر کش وو
دَ چارپایو دَ ددانو په سیر

دَ هرخیز رجوع دَ اصل وته کیږی
په فرزند کښے زیات دمور کیږی اثر

پنجشنبه م وار پرے سازشه
څهٔ جُمعه څهٔ پنجشنبه

یکشنبه ته ئے پرے مهٔ ږده
کهٔ تهٔ موے ګنج شنبه

ارتینے په مثال ګل دی
ګل تازه بنهٔ دے خوشحاله

ترشل کاله تازه ګل ده
بده نهٔ ده تر دیرش کاله

چه تر دیرش کاله زیاتیږی
پریواتهٔ ئے دی له خیاله

چه دَ سر ویښتهٔ ئے سپین شی
نورئے څهٔ له خط و خاله

کهٔ درست ځان زر وزیور کا
سُود ئے کوم دے له جماله

زور چه بنهٔ جمال ته ګوری
بیائے څوان شی له وصاله

چه مرګ شته په دُنیا کښے
بنادی نشته په جهان

دَ خیال میرمنے جُونه
دَ دماغ څښتن څوانان

هرچه راشی هسے دروی
لکه ګل دَ ګلستان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تلهٔ دی له جهانه په افسوس او په ارمان
مونږ لکه لاله یو په دا لږ عمر خندان
بلے شمع ته نظر کړه چه په څهٔ ژاړی خپل ځان
بار در وتړه خوشحاله
د جرس آورے فغان

سخاوت او شجاعت سره زیبا دی بهادر به خالی نهٔ وی له سخا
بهادر څخه چه خوئ د سخا نهٔ وی خرس او خوږ غوندے وکنړی دانا
خرس او خوږ کهٔ هره ورځ کاندی خونه خرس او خوږ څهٔ مړنے نهٔ شو په دا
په سړیو سړ آسان دے زړے گران دی سړ شندی د زړو نهٔ کاندی عطا
هغه هسے سړ چه غوږ ورسره نهٔ وی سړ د خړهٔ دے چه هیڅ نهٔ لری بها
مړ نتوب د دانا یا نو په بنهٔ رنگ وی نادانان د کشتن نهٔ لری پروا
خوا نمردی په سړ شندل په زړ شندل ده کهٔ ځوان مردے راوړه خوئ د مرتضا
نهٔ به مال د چا نقصان په ورکول شی نهٔ به ومری چه د چا نهٔ وی قضا
نامردانو ته دا دواړه توکه گران دی ځوان مردان دی په دا دواړه بے همتا
مهٔ په حلق کښے د مزری د مار پریوزه مهٔ ممسک شه مهٔ مسرف زده کړه له ما
ځوان مردان تر سړ د تنگ دپاره تیر شی
نړ وسکه مال په کوم حساب دے د دنیا

مصلحت لکه توپک دے ستا مراد لکه نخچیر
کهٔ د بنهٔ گذار پکار وی تر اول ئے کړه بنهٔ ځیر
په گذار کښے هول مهٔ کړه په خپل ځان وسه خبیر
نور ماشه کړه باند کوزه لرو بر مهٔ کړه نظیر
زهٔ خوشحال خټک ضامن یم کهٔ خطا د شی یو تیر
چه د مرګ اسباب پوره شو
هم دغه گنړه تقدیر
شیطان په مثل باد دے څوک خلاص نهٔ وی له دے باده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سړے دے لکه بُوټے دا دُنیا مِ لار دَ باد دہ
چه بیخ دَ وُنے ټینګ وی غمۍ هیڅ نۀ وی له باد ہ
چه بیخۍ برخیږن وی خلاص به نۀ وی له فساده
علم څو دَ سړی ډیر وی عطائی وی له اُستاده
کۀ دا وُنے دی کۀ بوټی
واړه ټینګ دی له بنیاده

سړ، کال چه دَغواښ دے په هرلوری دی تبڑن ډیر
دَ مرګ تبے یو څیر دی دَ ژوندون تبے بل څیر
ترمیاشتے تبڑن ورشی لا ترمیاشتے تیر و ښیر
بخت ناک په دوه هفتے شی دَ فانی جهانه تیر
ژوندے وو درویشت کاله ځلمی توب شو باندِ زلیر
څو بنۀ کښلی مخونه دی تر تورو خاورو زیر
په رنګ دَ چنبے ګل وو چه ترے تیل شی دَ اجمیر
په خوبئ لکه ملک وو په تقویٰ په طاعت ډیر
دَ پلار په زړۀ ئے مرګ دے لکه زخم دَ شمشیر
یوځۀ دَ بلا غم دے چه آسمان کړ را برځیر
کۀ ډیر وو نور غمونه په داغم شول واړه هیر
ارمان چه په دیدن ئے مئین نۀ شول واړه سیر
غلیمۍ کۀ بادشاه وی پلارئے کړے باندِ پیر
چه وړ به ئے له وروړو نۀ وو کار دَ شرزه شیر
دَ خدائے سره جنګ نۀ شی
کۀ هرڅو وی څوک دلیر

نزدے راغے ساعت چه په خاورو شی صورت
بند په بند به سره بیل شی ترمردارے فضیحت
چینجی به ترے خوتکیږی یا به هسے شی لَت پَت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صفت د صدف مه کړه د ګوهر کوه صفت !
ګوهر مغه ګوهر دے
چه یګانه دے په قیمت

لکه مست هاتی زنځیر کا ترے ترے چه په خوب کښے ورښکاره شی هندوستان
زهٔ هم هسے ترتقوی ترزهد تیر شم چه را یاد شی د شرابو حریفان
ساقی نن د میو جام راکړه وما ته څهٔ شیخی ده په دا هسے کلستان
په طاعت به ترجنته څوک ورنشی
څو پرے فضل کرم نهٔ وی د سبحان

داطالع څماځهٔ اوس نهٔ دے ځائی دے چه په چاباند مئین شم دماغی شی
چه ترے مینه پتوم هومره ایلی کا چه پرے مینه بنکارڅم هومړه یاغی شی
هغه زړهٔ به فراغت آرام په څهٔ کا چه د کښلیو د جمال په خال داغی شی
په هجران نے په سنګیر میشتهٔ څما وی
په وصال د مهوشانو زړه باغی شی

غم په زړهٔ کښے بد غلیم دے څو توا نیږے خوا ږوه ئے
یا تیره توره سا واخله خوچه وی هموار وه ئے
یا غم خوار چرته پیدا کړه ورته کښینه بنکار وه ئے
یا فریاد فریاد کړه ژاړه تار په تار وه ئے
یا خوشحال غوندِ زړهٔ راوړه
ځائے نے کړه انبار وه ئے

یو بیان به درته وایم کهٔ ئے آورے څما د اخبرے نهٔ دی دروغژنے
د غلجیو جُونه سپی سره یوځائے خوری همګی واړه بد پوښے دی سپږنے
د شیرزا دو جُونه بازے د سپین غړهٔ دی په شینوارو کښے هم شته پکښے پښنے
فیروزخیلے اکا خیلے د صفت دی نورے زیږے خرښئ دی چینجنے
د مغل د پښتانهٔ دمه پرے کیږی د کوهاټ بنګښے مه شه ستړک پښنے
په بنګښ کښے بډه خیلے بدے نهٔ دی نورے واړه خود نمائے دی نیازمنے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د توریو دځاځیو جونه بنے دی
بلاداچه دی له سیلے لوړنے

کهٔ جد رانړے کهٔ وزیړے کهٔ سار نکے
داخو واړه نهٔ سړی دی نهٔ جنے

د هندکیو په حساب دی عیسیٰ خیلے
د سنبلو جونه څهٔ خو سر پیزنے

دولت خیلے لوهانړی دی لوئے چارے
نورے واړه پوندہ دی غوشیے

د شیتکو جونه سالے پښتنے دی
خو په ژبه په پوشاک دی برخیرنے

د ابدالو جونه واړه کړښے دی
کهٔ ترینے دی د پشین دی دستانے

د دوړو جونه واړه لکه باغ دی
کشیده پکښے ملئی دی د ستنے

د ختکو جونه واړه غوښے دی
خو یوازے اکوړخیلے دی میرمنے

د مهمند و جونه سړے لکه ایماغ دی
کټه سړے وړے سترګے پوزے پلنے

په خلیلو کښے سکنړی پیدا کیږی
هغه هم بدے بخیلے سړکودنے

داؤد زئی جونه چینګے خولے حیرانے
د وادهٔ په ورځ ودیږی سرخیرنے

څوصفت د ګګیانړیو جونو زهٔ کړم
واه واه واه دا ګګیانړی په یار مړینے

مهن زئی جونه واړه لکه خرے دی
د سړیو په شان روغے څنے څنے

چه په خویشکیو روهانړیو باندراشے
داخو واړه د بغړی دی د میچنے

ماندوړی پرملئی بیچاره دی
نهٔ د خوابښے د جواب دی نهٔ د ښے

دلازاکو جونه پټ سپاهیان پریاسی
چه په قهر غصه راشی قهر ژنے

چه په ملک د هزاره ترین مرین دی
د سنګړی جونه داغ کښیږدی په ینے

په مندوړو کښے خال خال چیرے پیدا شی
نورے واړه کیږورے دی پرس بنے

د بنیر د جونو نوم په خولهٔ وامهٔ خله
دود آلودے غوړیالئی زیړ بخنے

اکوزئی جونه واړه لکه باغ دی
مولی زئی پکښے شته د چندنړ وُنے

په اړهنګ برهنګ کښے هم شته اتما نخیلے
د سړیو په جامے جامے ریمنے

د صافیو جونه صافے په صورت دی
ولے ډیرے په روزګار کښے دی خیچنے

خوګیانړی واړه خوګے د صحرا دی
په نغړی ناستے ډوډئی وهی پلنے

په جهان ترلغمانیو نورے نشته
کنده بوئی کنده بغلے مچ بیزنے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په جهان کښے د زړۀ غوره دی درے توکه
یو بنۀ حُسن بل بنۀ ځائے دریم ئے بوئی دے

هم بل هم ورسره شته دے څلورم
بیا سړے اوبۀ چه زړۀ شی پرے خورم

یادا درے توکه څما له دله واخله
اول بنۀ بنکلی محبوبه چه ئے کورم

یائے زر وماته راکړه لاس په لاس
دویم بازد مهورے دریم بنۀ آس

بے صبری کۀ ډیره څله
دا د بله مخه نۀ شی

زار ژړا مانړی ډیر څله
واړه مینه ده بے تله

تۀ له خپله لوریه بنۀ اوسه خوشحاله
کۀ ومشکوته څوک ووائی چه هیڅ دی

نور د سل رنګه خبرے ماته وائی
لاس په لاس به مشک خپل بوئی ورته نمائی

چه مُرے خوهسے وُمره
مۀ مار شه مۀ لږم شه

چه څوک تاپ درپسے وُ کا
چه په مرګ د څوک زړۀ بنۀ کا

یوچه ډیر خوری سوکندونه
آشنائی ورسره مۀ کړه

بل چه ډیر کاندی پورو نه
دا بے پته دی خو یونه

چه مئین په وسله نۀ وی
لاس د سړۀ کا سترګے تورے

مرد د نۀ وائی خپل ځان ته
ځان د وجوړ وی څوان ته

مستظهر په عفوَ شوے
دا کار د مردئ نۀ دے

بیا پرځاش د انتقام
پرے پوهیږی خاص وعام

مُسلمان وئیل رب رب کا
هند و وائی چه رام رام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هر یوهٔ وته چه ګورے دواړه بولی دَخدائے نام
دَخوشحال خټک تسبیح دِ
زنّار نهٔ شی والسّلام

کهٔ بادشاه شی په تخت کښینی هم ګدائے ګنړه طامع
کهٔ حشمت دولت نے نهٔ وی هم بادشاه ګنړه قانع

مخزن دَ درویزه دَمیان نور شینی پیری
الثالث بالخیر دَ حمزه خانی میری

دا درے توکه پیر قدر پیر عزت لری په سوات کښے
وخدائے وته بنکاره دی وئیل نهٔ شی په ځیری

ځما له غیږه ترپ لے خوچه وګړ بیږی ور
دَ مور تر کُس دِ تیر شی یارچه نهٔ وینه زهٔ ور

دَ زړهٔ غلا په زړه کښے غم ده لا په تیره دَ سردار
هر سردار چه په زړهٔ غل شی جُان رسوا کا خلق خوار

کهٔ نظر وکړم په کانړی سوے زړهٔ به ترے اخراج کړم
تهٔ تر کانړی لا بتر ئے کم دلیله څهٔ علاج کړم

یو صحت بل عقل دواړه تهٔ په دا کښے خوبی غواړه
چه دا دواړه توکه نهٔ وی نوره هره خوبی لاړه

یاهر کزمهٔ کړه له هیڅا سره بده کهٔ ئے وکړے نهٔ ترتل و تر ابده
چه دَچا سره دِ کار دَ نیکئ وکړو نور نیکی ورسره تل بویه سرمده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ هندو د مسلمان سره رفیق شی
په دروغ کښے مومنان سره زیست نۀ کا

په ربښتیا کښے ئے روزګار په ښۀ طریق شی
چه دروغ ئے مکرر سره تحقیق شی

کم دلیل په ستړکو ړوند شه
باز په کور کښے کښینولے

لکه ړوند وی په دوو ستړکو
ګرځی ښکار کاندی په چړکو

ځلبلاند در پسے زۀ یم
څو به ما په مانړی وژنے

کۀ تۀ نۀ ئے ځلبلانده
پلولرے که ځاندہ

چه مړۀ دی په وفا کښے
ژوندی چه بے وفا دی

د هغو تړکور ځاریږہ
تۀ ئے دعا کړه چه خواریږہ

چه م ولیده په ستړکو
نه بتر تر شانه بین یم

لکه زۀ ترم په بند
نۀ زبون تر ژاله بند

عقل زور صورت ته ښۀ دی
چه له بخته یاری نۀ وی

چه یاری مومی له بخته
اور ورو لکه د وخته

شپږ اوۀ میاشتے په هند په خراسان
د اوبو د وښو ډیر کمامت وشو

چرته ونۀ شۀ په سم په غړۀ باران
ځائے په ځائے شول د غلے نرخونه ګران

چه باران په جهان وشو پس له یأسه
فتح الباب وو په تحویل د سرطان

د اسد تر نویشتمه ورځ په ورځ شی
په باران سره نهال شو درست جهان

په داکال چه شاه عالم راغے له هنده
صلح وشوه د مغلو د افغان

دا سږ کال چه ئے تاریخ رحمت تم دے
په وګړی مبارک دے په هرشان

یو دا کار هر کوره سخت پکښے پیدا شو
چه هلک پکښے نۀ وینو، شول طوفان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دیرش مونږ د خیلخانے هلکان ومړل داغ د زړه دے عبدالله د یحیی خان

په نیکنام پسے که زړه د رانړئ چوی
د بهاکو خاطر خوشحال شو په کامران

کوښی کوښی خما خان لره بلا شول چه پیدا دی همکی خما له خانه
که پنځوس دی که شپیته دی داغ د زړه دی یوځولا پکښے آفت شول تردا میانه
چه ئے ورځ وشپه په ما باندے یوه کړه دریغه دریغه جټ وباز وصدرخانه
څوکردش د زمانے سره څرخیږی زنده سر به پاتے نه شی بے خریزانه
چه د زړه د ښو یارانو نه جدا کړم راته وایه سود د کوم وشو آسمانه
په یرغ په مصلحت په پیرین نه ده آسمانی بلا پریوزی ناګهانه
چه همیش په یوه حال دے هغه خدائے دے په سړی باندے ورځی کرانه آسانه
د سړیو حال که تل په یوه شان وے د سلیمان کوته به نه تله له سلیمانه
د دهلئ تخت که تل په یوه کس وے تل به نه وو باندے بے شاهِ جهانه

هیڅ په داخبره ځائے د بلے نشته
له فانی جهانه تلل دی له ارمانه

وعالم ته خوشحال زوړ څویلے خوانان دی د زاړه بلا په سر د دے خوانانو
پلارئے درسته ورځ په بنکار وژنی آسونه په پالکئ کښے څئ په رنګ د سرخوانو
که په شمار په حساب دیرشوته نزدے دی همه واړه دی په شمار د نامردانو
په یوه کښے هومره کار برکت نشته لکه کار د نام ونګ دے د خانانو
دا د کانړی کاک خما د عابد خان دے د مغل پلاؤ د نورو فرزندانو
که دا هومره ناخلف واړه خلف وے نن به ما نوبت واهه د خسروانو
کم کوترے د لویو سپیو هنر اخلی پیروی کا کشران د مشرانو
د دمړیو د کنجکو حساب غواړی په لیکه په جوکه څیردی ترهندوانو
په جهان کښے چه محنت دے یا راحت دے په وار وار واړه ورځی په ملوکانو
که خزان دے که بهار د هرچا نه دے دواړه توکه دی د باغ د صاحبانو
د آسمان وګرځیدو ته ننداره ده کوندے وی چه پیره بیا راوړی یارانو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فلیل څوه رانجهٔ نکریزے ورته پیری — مشاطے غوندِ خدمت کا د زنا نو
خوئ د پلار د نیکهٔ هیڅ ورڅخه نشته — په خصلت دی همګی د پراچکا نو
د محنت د مشقت د تالاش نهٔ دی
د راحت د فراغت دی د ریحا نو

شپږ اُوهٔ پیړۍ څما وګورته لاړے — همګی په وینو رنګ په تیغ ورژلی
اشرف خان به یو پرهار په ځاوانخلی — نهٔ دا نور د دهٔ د مورهٔ چه زوولی
ترڅلویښتو کالو تیر شو لا تر اوسه — دوه تیرهٔ اغزی پرے نهٔ دی څرخیدلی
خود پلار په نامے خوری چه مشران دی — نور د تورے د کار نهٔ دی دا غوولی
خوحسد بخل نفاق ے دے په بخره — کله لویو لویو چارو وته زغلی
اکوړے شهباز په دوئ پورے بدنام شول — د پدر په خوئ و بوئ نهٔ دی راغلی
مګرمور د دوئ باز رنګه پلارے باز وو — په آشیان وو سره دواړه ورغلی
هیڅ تاودهٔ سارهٔ په ذم په مدح نهٔ دی — دا بے شرم م څهٔ لږ نهٔ دی غندلی
د پلاؤ د دوپیازو د نازنعمت دی — د چوړے د ارګے دی سپین سپیځلی
د صندوق د بخځکئ په غم اخته دی — د روپئ د آدیلے خبر آخلی
روزنامه ے چه حاصل خاطر نشاط شی — بیا هالهٔ ے سترګے پټے شی څملی
د بکری نه بخری پیدا کا — د بتې بخری نهٔ دی چا لیدلی
حقیقت ورڅخه نهٔ تقلید د پلار کا — چه تر پلار تر نیکهٔ مونږ یو خوریدلی
نهٔ ے مټ وی په غلیم نهٔ فیروزی وی — کهٔ زرګونه ورسره وی سوارهٔ پلی
د دُنیا په حرص غرق وی سر تر پا یه — په پدر په برادر نهٔ دی ترلی

د کلاغ غوندِ غُل خوری څانګونه هسک کا
چه څانګونه م د غُلو دی ساتلی

زهٔ د غمِ د لاسه چا وته فریاد کړم — مونځ څماله لاسه وُځی چه کس یاد کړم
په درست کال په مخ نا ولی کس تهٔ پرتوُم — په حیرت شم چه په یا دهغه فساد کړم
د څوانئ حال م نهٔ دے چه م ووے — دا خبره د پیرئ د هفتاد کړم
له پردیو م توبه واړه په خپلو — د څوانئ حال به هم درته په یاد کړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کله لس کله زیات کم کله تر شلو د دخول وئیل وَچاوته تعداد کړم
چه ملا به بانګ نماز وے ما به کښ غو د روژے په ښهٔ ثواب به ئے نا ښاد کړم
نهٔ په حیض نهٔ په نفاس له ما څوک خلاص څهٔ د غیبن ناسازے چارے په فریاد کړم
ورځ وشپه راته مخ څټ وے لس پنځلس ګونے مګوئے وئیل لږ نهٔ دی کښئے یاد کړم
په حوانئ کښے م کار لکه د ډډ وو په پیرئ کښے خدائے څهٔ خوآدم زاد کړم
چه م غیبن دا هسے بد دے ګمان مکړه څکه خدائے په پیر اولاد کښے بد اولاد کړم
له ناپاکونه ناپاک له پاکو پاک وی زهٔ دا نقل دکتاب دَخپل اُستاد کړم

کهٔ څوک شته چه ئے د زړهٔ په غوږ وآوری
مسخرے مذاق م نهٔ دی دا ارشاد کړم

دَکشتن دی دَ زدن دی دَ تاختن دی یو ورکزئ بل بنګښ درسیم بولاق
دَ ورکزئ دَ بنګښ دَ بولاق نشته یو انصاف دویم حکمت بل اتفاق
خدائے دِ ورک دَ پښتنو کا دا درے توکه یو بدجهل بل بدنیت دریم نفاق
سردارئ لره بویه دا درے توکه یو همت دوئم تُوره درسیم اخلاق
څو دا مزکه دا آسمان شته دا به هم وی یو روزګار دویم وصال دریم فراق
دَمغلو حال هیڅ نشته کهٔ ئے نهٔ وی یو دولت دویم شوکت دریم وفاق
چه له قومه نا اُمید شوم څکه زهٔ یم یو بے ملکه بل دلګیر دریم فراق
په بدقام دِ ننه څما له لوریه تل وی یو نفرین دویم لعنت درسیم طلاق
دَ تیراه په ملک چه راغلم دا م بویه یو دیر عزم بل ایلاق دریم قشلاق

په صورت په تیراه ناست زهٔ م په یوت دے
یو په ذکر بل په یاد درسیم مشتاق

حقیقت دَ یو سفرئ راته معلوم شو کاروبار به ئے بنکاره شی په دوه رنګه
یا به کور په کور اخته شی په میر څیو یا به ملک و مغل ورکاندی بے جنګه
خدائے چه ورک کا بنهٔ مړونه په اُولس کښے پیښوی هغه اُولس وته بیا ننګه
اوس په درست اُولس کښے بنهٔ ملک عبدل دے کهٔ ئے زر کا خدائے څهره په مرګ بدرنګه
حمزه خان هغه چمند دے په جنګو کښے وړاندِ روستو پرے پرے کا له غور زنګه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د طالبی ملکی تته آئینه ده! چه څهره پکښے لیده شی رنګارنګه
طالے چرګه نر بښځے دے په دیدن کښے لوئے چارخویل لکه د چرګ په هویو کرنګه
الهداد لکه لمځے په جیفه ګرځی د مردارے بوئے ځی له دواړه چنګه
مصری خان مندړ د غاړے ماهی اخلی سګ لاهو غوندِ ځان ژغوری له نهنګه
مصری خان مندړ پټ شخوندکوی په ورځ کښے لکه پیغله جل په حیض کښے روژه رنګه
نوم ئے څهٔ د کشرانو په خولهٔ اخلم چه ئے واړه ملکان وینم بے ننګه
مختصره وینا دا د بازار سپی دی په دودیو پسے درومی څو فرسنګه
بس دا هومره نورځهٔ مهٔ وایه خوشحاله د ختکو لښکر نهٔ لرے تر څنګه
نهٔ حمید شته نهٔ کجے شته نهٔ کاچوشته څهٔ له نورو سره سر وهے له سنګه
کهٔ د سوات په هوا خوښ ئے پکښے بنکار کړه او کهٔ نهٔ ورځے تښته په فرسنګه
د بی بی په کورئے وورې کټ کټ کا نرۍ چه د سوات ځلمی بیلیږی له پالنګه

لس به ملهٔ سره ونهٔ وینے په ننګ کښے
کهٔ درست ملک سره پره کړے تر تور سنګه

د اومو خاورو کندُ ودے تا زیبا کړ په څو رنګه
عجب زړهٔ دِ پکښے کیښو تا دانا کړ په څو رنګه
د ثنا ژبه دِ ورکړه تا ګویا کړ په څو رنګه
معرفت دِ پکښے کیښو! تا آشنا کړ په څو رنګه

وخت د اورنګ شاه دے د هرچا قسمے په لاس دی
خدائے څنے خبر دے په اخلاص کهٔ په لباس دی

په هرچا د سپینے ږیرے حرمت دیر دے خو په جونو قدر نشته د سپین ږیرۍ
هم کی واړه خریدارے دی د مشکو یوه نشته چه کافور په بها پیرۍ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تفاوت دَخپل پردی وربانډِ نشته — کهٔ ئے کورے اورنګ زیب بادشاه کمراه دے
مستجاب غریب ئے وُوژے په ظلم — دَخوشحال منصب ئے واخست کوم ګناه دے
دَمنصب په اخستلهٔ څهٔ دلګیر نهٔ شو — دَخوشحال خاطر خوشحال دے خدائے ګواه دے
په منصب پورے خوشحال خټک نوکر وو — چه منصب ورځنے لاړشه اوس بادشاه دے
اُوهٔ میاشتے دی چه لاړ د کابل بندشوه — حال احوال دَخلائق واړه تباه دے
دالاښهٔ په هندوستان تورهٔ تیارهٔ ده — په هرځائے دَدهٔ دَخویه بویه آه دے
دَاورنګ بادشاه په دور آرام نشته — چاویلِ چه جهان ځائے دَآرام ګاه دے
لکه مخ دپاسه تور سیاه لیدهٔ شی — اندرون ئے هغه هسے تور سیاه دے
کهٔ ونیت وته ئے کورے یو یزید دے — کهٔ طاعت وته ئے کورے اهل الله دے

دَدهٔ خیر واړه دهٔ و ته بخښلے
خوله شره به ئے دارکا چه آګاه دے

په بنادئ سره شریک دی اُولسونه — غم یوازے دَخوشحال خټک دَځان دے
چه په آن وآن په مزکه په آسمان دے — په غمونو په بنادیو کښے انسان دے
دا یوه څمڅئ دَځان وینے بلا شوے — چه سړی سره ئے غم په هرزمان دے
دَنامرد دَمرد په دا تفاوت وشهٔ — په نامرد شرم آسان شهٔ په مرد ګران دے
مست هاتیان خونی مزری تُورے وکښلی — کهٔ دَسر تر ویرے تیرشوے کار آسان دے
کشکے تهٔ په ډیر احتیاط هیشه پائے — په احتیاط احتیاط کښے ډیر عالم طوفان دے
کهٔ دَځان کهٔ دَایمان بدخواه م ډیر دی — ما په خدائے باندِ سپارلے ځان ایمان دے
ننګیالی چه دَاخلاص تُوره ترملا کا — ډیر لښکرئے ترهمت پورے کاروان دے

ترآوله ترآخره چه روزګار شته
چه عالم باندِ غوغا کا داجهان دے

اَتهٔ ویشت لرم خویه — نشته یو دَبل په رنګ
اَشرف م لائق خوئے دے — دریغه نهٔ وے په خوئ پرنګ
صدو دَ نورځهٔ نهٔ دے — خوئے غواړی په پالنګ
بهرام هغه خنزیر دے — چه لائق دے دَ تفنګ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خانان هغه شاهین دے چه ئے سرهٔ په وینو چنګ
باز په لاس د عظیم کام دے یا مزرے دے یا پلنګ
نظام ریښمین رومال دے پورے غوټه موتے بنګ
یحیٰی خالد دا دواړه بوالعجب لری فرهنګ
په واړو کښے آزاد دے هم د روغے هم د جنګ
بخت ناک هغه ځلمے دے نشته بل د دهٔ په رنګ
ما لوجلو دا دواړه ژک ژوندی په مزکه رنګ
نور غشے آغزیږ دے
سر اغزے دے یا خدنګ

ځما پلار په کورئے نور شه یو ربستینے وو هر کوره
تل د خپل عزت دپاره تیر تر سروو تیر تر کوره
د بادشاه زیاتے نهٔ وړه سرئے خلاص نهٔ وو له شوره
تل په خیال د مړ نتوب وو څوچه ورغے تر کوره
یا کتل یائے بخښل وو چارئے دا وه نهٔ وه نوره
خرخ ئے زړ دخل ئے یو څو تل به خلاص نهٔ وو له پوره
بل په غشی کم خطا وو د بنکار مینه وه پرے زوره
چه د دهٔ خویه نمسی دی دا خو یونه پکښے کوره
که د خپل بابا په رنګ دی بنهٔ زوولی دی له موره
تراوبهٔ ئے حلم زیات وو تیر په قهر وو تر اوره
بل د دین په کار مئین وو له دُنیا نه ئے خوا توره
ناروا که بنا پیرئ وے
پرے ئے نه وه د تن سیوره

اورنګ چه عدل نهٔ کا ظالمی ئے کړه بنکاره
که خدائے په دا راضی وی د خوشحال تروخهٔ چاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په خوانئ چه پرهیزګار شی د جنت د بنډ طوطا دے
په دا وخت کښے چه لږ برشی ندامت ورته زیبا دے
په پیرئ کښے چه بدکار وی کهٔ ابلیس غواړے هم دا دے
په سړی کښے هر هر خوئ شته چه په خو رنګه پیدا دے
د فرښتو خصلت یکښے دے د شیطان یکښے ما وا دے
په بنهٔ خوئ تر فرښتو بنهٔ شی په بدتیر تر شیطان لا دے
د فرښتو سره شماره دے هغه کس چه تل پارسا دے
چه ئے تل د بدو خوئ دے هغه کس تر شیطان لا دے

کهٔ لږ بدکاندی پیر بنهٔ دے
سړیتوب باندے روا دے

نهٔ د سوال په هُنر پوهیم نهٔ طالع لرم د پوهے
نهٔ زاهد د شکرانو یم نهٔ ملایم زکوٰة خور
نهٔ دهقان نهٔ سوداګر یم نهٔ حرفت لرم څهٔ نور
خُائے کهی لرم په سر کښے په میراث د تورو شور
وهفتاد وته نزدے شوم هر نعمت راځی په کور
کهٔ په کور راشی زرګونه هسے درومی لور په لور
خپل روش به اوس نور نهٔ کړم کهٔ م نور کړ مخ م تور
کهٔ خُما تر لاسه راشی خزانے د درست لاهور
تار په تار به ئے خورے کړم خان به نهٔ کړم د پیغور

زر د نوم دپاره بنهٔ دی
هیڅ په کار نهٔ دی په کور

سرلئے هر کوره بد ولد دے چه په حال ئے شوم خبر
دیرش خُما لس د قاضی دی واړه یو تر بل بتر
مشران م لا بلا دی کشران دی لا لچر
مصطفیٰ وته وکړه نظر په بهرام وکړه نظر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دا هسے څنے زوول تُو په پلار هم په مادر
زهٔ په ځان باندِ سړے یم کُوته سپی م شول پسر
قاضی خود لکه غوڅکے وو له غوڅکی پیدا شو خر
بنهٔ پتے غنم غنم کا
بد پتے ئے کا جودر

په دا هم لا راضی من یم له آسمانه نندارہ د اَباسین له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوڑ در په درشوم بیا م کوم لوری ته تهٔ بیائے آسمانه
لکه کوئے هسے په حکم د چوکان یم
درست وجود پرهار پرهار یم له چوکانه

بنهٔ عزت بنهٔ اعتبار بنهٔ ئے زیست بنهٔ ئے روزگار
د نادان بخره خواری ده عزت بخره د هوښیار
نادان هسے څهٔ بسکاره کا
چه خپل ځان کا خوار و زار

کهٔ څما ژبه پښتو ده په پښتو وایم خبرے
یو پښتون رانهٔ بسکاریږی چه پرے پوه شی نزدے لرے
په خوږ والی کښے ئے فرق دے بنهٔ تر کورو دی شکرے
کبینهٔ لری مچئ ډنبک لری بنبرے
له یوهٔ دریا به خیژی مرغچیچ مرغلرے
تفاوت ئے ترمینځ د یر دے
په قیمت دی سره لرے

جهانونه څهٔ لږ نهٔ دی تهٔ ئے نهٔ وینے نادانه
کوره څودی هسے مزکے کوره څو هسے آسمانه
واړه څائے دی ستا په زړهٔ کښے اے تر عرش لوړ یه انسانه
آئینه د زړهٔ صیقل کړه چه ئے ووینے اے جانه
کهٔ د دا نندارہ وشی جدا نهٔ ئے له سُبحانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لکه مونږ د رزق مشتاق یو — هسے رزق زمونږ مشتاق دے
کهٔ صله حرص دِ نهٔ وی — رزق به رسی خدائے رزاق دے

چه فاضل د زمانے دی پرے به پوهه شی — د خوشحال خټک داشعر مزه ناک دے
سګ مکس خوسګ مکس دے نور به نهٔ شی — کهٔ هرڅوئے اړوے کا واک کا واک دے

په داشان مرد د دِرم د دِرم شی
کهٔ ئے وګورے په دارنګ بیا کاک دے

کهٔ جمال دے کهٔ پیرمال دے — کهٔ پیر علم بنهٔ نسب
دا په هرلوری لږ نهٔ دی — هُنرو نه بو العجب
کهٔ صفت کړے د بنهٔ خوئ کړه — په بنهٔ خوئ کوه طرب

د بنهٔ خوئ منصب باقی دے
باقی نهٔ دے بل منصب

دوه سرکښ لرم په کور کښے — چه مِ تل لری په تبه
کهٔ هرڅوئے جلب نیسم — نهٔ سهیږی بے راتبه
دواړه پټ نهٔ دی څرګند دی — یو ذکر دے دویم ژبه

دا راتب غواړی د شعر
هغه کونږه عجائبه

د بهرام له حاله څهٔ وایم — و چا ته — حال د خپل خویه بنکاره دے وبا با ته
هم فضول هم مزوّر هم مذبذب دے — هم یکرنګ وئیل به نهٔ کاندی و چا ته
په یوه ذره کښے پاسه په آسمان شی — په یوه ذره کښے څی تحت الثری ته

د خپل خوئ په ګردا بو نو کښے غوټه خوری
دا عادت بهٔ رد نهٔ شی ترمماته

په څنګلو کښے چه ګرځی — په الکه یو کښے چه پرزی
په اغزیو به خوږیږی — په ژور په لور به پرزی
ویره کا له غور کمانی — په آسمان چه مرغهٔ ورزی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وجاهل وته چه وائے نیمه بړیره دِ شی چاله
واحمق ته چه وئیل کړے درسته سپینه شی خوشحاله
چه جاهل درته څهٔ وائی جواب ورکړه څما لاله
چه احمق درته وئیل کا ورته تف کړه بے مقاله
وَجاهل وته اُمید کړه کوندِ واوړی له افعاله
له احمقه طمع پرے کړه نور به نهٔ شی په سل کاله
جاهل دروڼی په تورتم کښے څکه چارے ده محاله

په احمق باندِ ورځ شپه ده
وبه نهٔ ووزی له اشکاله

یوه ښه وینی عورته خوښ صورته خوښ سیرته
بل ښهٔ آس بله ښه ګوره بله زغره پُر قیمته
په داجهان کښے دا پکاردی نور همه وهه په لته
که تر دا پاتے څهٔ نورشته نشته بے له ښهٔ نکهته

چه بهتر تر دا همه دے
نشته بے له عبادته

چه زر لری په کور کښے هاله شی ښه سرداری
دوستی ئے بده چار ده بده نهٔ ده زر داری

دَ بنګش په تُوره مات نهٔ یم باور کړه دَ کلنبت په جنګ مِ ماتی آسمانی وه
نهٔ بنګش وو نهٔ ئے تُوره نهٔ ئے زور وو دَ موشکو دَ سینیو شیطانی وه
چه وغړهٔ وتړئے تینبت وکړه بے جنګه دَ ځینی تنبه له ځایه نقصانی وه
چه مِ ښهٔ سوارهٔ دَ ځان دَ وراندِ نکړل هم په دا سبب راپیښه پښیمانی وه
چه مِ تول دَ وراندِ نهٔ تلل په جلب کښے همکی دَ حسن خیلو نادانی وه
سل رحمت دَ مهمندیو په تنبه شه چه دَ دیو چار له ماسره جانی وه
برتویو تُورے لروند په وهل کړے په مردئ دَ هریوهٔ جانفشانی وه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په تورهٔ شیرخان پریوست له آسه — په میدان د عابدخان پهلوانی وه
چه سردار د بنگش پریوت ختک مات شه — په داهسے رنګے چارے حیرانی وه
عابدخان چه په مردئ راغے له جنګه — وخپل پلار وته ئے ښه ارمغانی وه
پروکی پروکی ئے د سر شالونه لاړل — په سر و ږیرو ئے چهره ارغوانی وه
لاس په لاس ئے انتقام د بابا واخست — په دا کار باندے سزا ثنا خوانی وه
چه ئے جنګ په میدان کړو یوخو سوارهٔ وو — نور د واړو بخره تیښت تن آسانی وه
د خټکو په سورو باندے لعنت شه — په یوه جلو ئے تیښته ځان ځانی وه
چه اول ماتی ئے کړه په سورو کړه — په سورو کښے چار د جټ د عثمانی وه
بښهٔ خوانان چه د کنبت په میدان وُمړل — د هرځوان په زړهٔ کښے ننګه افغانی وه
همګی خوانان ځما د زړهٔ ارمان دی — پکښے بیله د عبدل تانده خوانی وه
د غلیم سره په آس غاړه غړئ شو — د عبدل د مړنتوت بخره کانی وه
ما داهسے جنګ هرګز لیدلے نهٔ وُو — څوم عمر څوختک څوم خانی وه
خوانان جنګ تمامه ورځ کا نهٔ ما تیږی — په یوه لحظه لمحه ماتی آنی وه
نهٔ په طمع په اُمید نهٔ شرم ترس وو — د لښکر م سر رشته آلمانی وه
یا لښکر د نام ونګ وی یا د زړو — ځما دا توله د ننګ نهٔ وه نانی وه
همګی په یوهٔ سیر راسره ټول وو — په یوهٔ ساعت ئے ځکه پریشانی وه
چه نهٔ دین وی نهٔ دُنیا جنګونه څوک کا — مګر سهله جانبازی جانستانی وه
چه په خواست و په ضرور سره ټولیږی — د هغو لښکرو کله ودانی وه
چه م داځله غلیم له دے خلاص شو — پرے یکباره د فلک مهربانی وه
لکه څارے چه وباز وته ځان ځیر کا — هغه هسے د فلک پرآفشانی وه
کهٔ زهٔ روغ په ځائے ولاړ وے غلیم څهٔ وو — د پرهار په کار م درسته ویرانی وه
کهٔ طالع م په طاهر مدد ونهٔ کړ — توجه ئے په ما دیره نهانی وه
زهٔ د عمر د بنادئ دواړه اُمید کړم — د غلیم کهٔ م څو ورځے بنا دمانی وه
داځهٔ مړهٔ ځما خوانان نهٔ دی په جنګ کښے — داځما د ننګ په کار کښے مهمانی وه
کهٔ م خپل کهٔ م دشمن مړی په دا کار کښے — په هر توکی م حاصله کامرانی وه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مخالف مِ په داکار کښے پاتے نۀ شو — چه فاسده اندیښنے وجدانی وه
سل څلویښت ځوانان مِ قتل په میدان شول — د اختر په عرفه کښے قربانی وه
دَهجرت دَکال ۱۰۸۶ غفو وو په حساب کښے — په غرۀ واوره وریدله نسانی وه
چه بے زخمه له میدانه ځی نامردوی — زۀ زخمی لاسم د ځان ټکهبانی وه
یوه تیښته نامردی بله مردی وی — وداناوته دا دواړه عیانی وه
انتقام وَته مِ تیښت وو له میدانه — نۀ مِ یاده د دُنیا زندکانی وه
تل خونی مزری هم جنګ کاهم څاڼ ژغوری — د مزری د تیښته څۀ بدګمانی وه
پیغمبرؐ چه له کافرو نه فرار کړ — وکافر تنے په زړۀ کښے تیغ رانی وه
کۀ ظفر کۀ هزیمت بیا مِ میدان دے — چه د پلار نیکۀ مِ بخره میدانی وه
کۀ ژوندے په دُنیا پاتے خوږ به کورے — چه په تیغ مِ څۀ ورانی څۀ ودانی وه

د خوشحال اختیار تر واړه بنګش تیردے
کۀ بنه ننګ د خټک د کرلانی وه

یا سردار لره خپل عقل — یا وزیر صاحب تدبیر
کۀ هرڅوئے عقل پیر وی — بیا هم بویه بنۀ وزیر
کۀ دا نۀ وی نۀ هغه وی — په ژوندون ئے بویه ویر
بنۀ سردار لره دوه کاره — دایم بویه په ضمیر
یو دِ هسے رنګ بخښش کا — چه پکښے نۀ وی تبذیر
چه بے ځایه تربیت شی — د تبذیر لری نذیر
د تازی دِ تربیت کا — په کوته دِ نۀ شی خیر
باز د چرګ چرګ د دانودے — بنۀ دِ پوهه شی په دا ځیر
بل چه ننګ ته تیاری کا — په دشمن دِ شی خبیر
کۀ لښکرئے یکانه وی — بیا دِ کا د جنګ تدبیر
کله جنګ وته هوس کا — چه آشتی مومی بشیر
کۀ په صلح کښے روزکار شی — څۀ حاجت د تیغ و تیر
په دُنیا دِ سرشندل شی — یا چه حکم وی د پیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یاچه کار د ناموس پیښ شی هورته هم نۀ شی تقصیر
کۀ نۀ څوک نیسی ځان تیغ ته نۀ شلغم دے نۀ پنیر
چه نیولے په عقرب کښے نوے باز وی بے نظیر

یا وه میر شکارئے مړ کا
وائی مړ شو په تقدیر

چه لاف وهی د شعر نن په دا دور دی ډیر
خدائے دِ نۀ کا چه به وایم حال د دویو تیرو بیر
څوک پاوے څوک نیم پاوے دے قلندر پکښے نیم سیر
زمونږ ه په حساب دے هیڅ م نۀ دے واصل هیر
بل دولت فقیر درے پاوه زۀ ترے څو سرشاهی تیر

چه په سزائے کښے به پیدا شی
پس له قرنه پوره سیر

په داهومره قباحت اشرف عاق نشو چه بهرام داهسے عاق شو څۀ حکمت دے
چه وعقل ته د دواړو نظر وکړے پروت د دواړو په وجود کښے حماقت دے
د بهرام تیرے په دادے په بدئ کښے چه لږے د دُنیا په محبت دے
خدائے دِ داعلت نصیب د هیچا نۀ کا د دُنیا محبت سر د هر علت دے
لکه نیت د بهرام څۀ وو هسے وشو د سړی د چارے کل مدار په نیت دے
په داهسے وخت چه دور د فساد دے پلار ناحقه د فرزند په تربیت دے
چه خپل پلار شړی په ټورو په لښکرو په داهسے څوی سل ځله لعنت دے
کۀ څوک شته چه په داچارو نظر وکا ځائے د پند د نصیحت ځائے د عبرت دے

څوئے له پلاره نه ویزارشی پلار له څوی
قباحت دے قباحت دے

چه مِ نښۀ په زړۀ کښے فهم فکر وکړ احمقان را ته بنکاره شول په خویونو
یو هغه سړے احمق بللے بویه چه باورکا د غلیم په سوکندونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه پاڑه وشی د لږمو د مارونو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بل هغه سړے احمق بللے بویه چه په سپینه ږیره خیال کاندی دَجونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه دَ بنځو سره پاسی په جنګو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه دَ خسرکړه به اوسی په کالو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه ویښته به تورَوی په خضابو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بزرګانو سره خیر شی په جنګو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه یک لخت به اعتبار کا په تربرو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه په هر طبیب دارو کا دَ رنځو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به بے ځورے دعوٰی کا د ملکو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به جنګ و ته پریکړے ځی ترملو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه لوئی کا په لباس په کسوتو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به دے غواړی لوئی په نسبو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه دَ تیښتو کمان ورک کړه له مریو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به مال دَ دُنیا نه خوری په کورو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بد خواه سړے به پریږدی په رویو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بے ځایه زغلول کا دَ اسو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه پیران به کښینوی په خپلو خونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بیحده تکلف کا په ځانو نو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه خبرے کا په سترګو په لاسونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به لوړی دَ سړیو په سردونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه دَ غوښتو کر به کاندی په داګونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه به سُود اوسودا کاندی دَ باندونو
بل هغه سړے احمق بللے بویه چه بربنډه کونه لامبی په سیندونو

بل هغه سړے احمق بللے بُویه!
چه غوږ نه کا دَ خوشحال په داحرفونو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پریږد ده کورا و ودانیه راته څه ستائے ته ښځه
سر د هغے ښځے وږو وږو کړئ په تر ښځه

نیک وبد به هر څوک فکر کا د خپلے چارے
فهم کړه خوشحاله که څوک بد درومی ته نه ښه څه

که په مینه د صدیقؓ ولاړ صادق یم هسے ما کنړه په مهر د عمرؓ
په عثمان باندے به څه وایم چه څو یم په هزار رنګه مئین یم په حیدرؓ
محبت د خاندان لرم په زړه کښے دولس واړه امامان م دی بصر
پاکیزه سنی مذهب یم نور څه نه یم چه م نور څه کنړی خاورے په سر
رافضی خارجی دواړه توکه نه دی د یوه سترګے په شیخ د بل ځیګر

زه خوشحال چار یاری یم خوښ له خدایه
چه سنی راغلم په دین د پیغمبرؐ

په ژړا ژړا سیلاب دے یا دریاب دے قرارے مه کړه یودم څائے د ژړا وو
سترګو تاسو په شاره څاڅکی راتوئے کړه د نظام د آشنایئ درد خو دا وو
د اورنګ په تفرقه کښے چه غوغا وه په ارمان ومړ له پلاره نه جدا وو
خدایه وبخښے نظام څائے ئے جنت کړے که د پلار په رضا شی څنے رضا وو

په دریمه خور کښے ومړ کال غفو وو
شپږ ویشت کاله ئے د عمر وو برنا وو

په بناس ندئ چه راغلم په نظر راغله سارس
په بل لوری م نظر کړ راته ژغ وکړ طاوس
وے ئے غم بنادی خوشحاله دواړه توکه دی تس پس
پرون ورځ د مخ په کړ وو نن د بیا په خپل اولس

حکایت شو څنے پاتے
نه ماهی شته نه یونس

آفرین دے په انصاف د عالمګیر چه په دا هنر کښے نه لری نظیر
نه په غله نه په رهزن نه په پاسبان دے څوک د وی چه ئے کښیوزی په زنځیر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مورزادی کم عقل هیڅ نۀ هوښیاریږی کۀ په یادلولی څلور واړه کتابه
کۀ هزار زمئی صابون وربانډ مړے د تورووالی رنګ به نۀ ځی له غرابه

لکه رنګ چه دَچا بنۀ شی دَچا بد شی
عقل هم هسے عطا ده له وهابه

یوتازه دولت موندلے بل ځوانی دے یم شراب
چه دا هسے کس حاکم شی عالمونه کا خرابـــ
بهتر سړے هغه دے چه ئے هیڅ نۀ کاجواب
چه خلاص کړے خدائے لربنده اوس خوشحاله څۀ شتاب
اَعدادِ شرمنده شوه لوئے کرم وکړو وهاب
اشرفِ دِپه ځائے کښیناست خدائے تل لړه کامیاب
تۀ ناست ئے په آګره کښے دا هم بویه په حساب
کړته ګرځه یوځو ورځ سیرځۀ وُکا شهاب
خودا درے دی بله نشته اوس آخردے پیچ وتاب
یاخواه ناخواه منصب دے یا یوګنج په لاس کتاب

یا ژغ دَ سپینے تُورے
کوهستان مرجع مآب

دوه پرهاره بنۀ دی پرے لوئی دَ مردو زن
یو پرهار غیږ بل پرهار دَ غابښ په مخ

زۀ خووایم بند شوم اوس نۀ داشته نۀ هغه
چه دواړه ورته جوړ وی دَهغوځلمیو سخ

چه له خلقه لرے وُوزے وخالق ته نزدے کیږی
زړۀ له واړو خلقو پریکړه
ایمان دا دے کۀ پوهیږے

پس له بنده دِ دا عزم دَخوشحال دَخاطرجزم
یا نیولے مخ مکے ته یا مغلو سره رزم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یا یو کُنج د غرهٔ نیولے
نمونځ روژه د لوستو بزم

مولانا عبد الحکیم د دُنیا د دین حکیم
د جوګیانو وګروه ته په تعظیم وو په تسلیم
چا انکار ورباندِ وکړ وے ئے هیڅ نهٔ یم فهیم
د هرچا سره سلوک کړهٔ
دا صراط دے مستقیم

چا په وخت د ځنکدن وے محمدن ته وخت آخردے په زړهٔ یادلره خپل خدائے
ده وے زړهٔ م د لیلی په یادو ډک دے
پکښے نشته دے د نورو یادو ځائے

تهٔ لا اوس د الف بے سبق آخلے تکی هم په دروغژنو غشیو وُلے
بے هوده لائے د کنز د قدوری کړے
په ناحقه د کا وزو په بنکار نه غلے

کهٔ دِ مکر مکارت شته خود به وویني خپل حال
را بنکاره دی ستا مکرونه راځرګندے ستا تپیتال
تهٔ ګرم نهٔ ئے په سیرونو
زهٔ ګرم نهٔ یم په مثقال

کهٔ بنے دی خو فرښتے دی چه نس نهٔ لری خوشحاله
هرچه نس ئے وچا ورکړ خلاص به نهٔ وی له جنجاله
چه هرڅوک سره ویزار کا دا دُنیا ده بے مآله
کهٔ پخوا تر دا اخلاص وو اوس څهٔ نشته بے تپیتاله
قیامت رانزدے کیږی بد تر یسنه کال تر کاله
باور هیڅ نشته په ځویه وایم څهٔ د بل له حاله
چه په خولهٔ کلمه لولی زړهٔ ئے درست په قهر ځاله
چه احوال د خلقو دا دے ولے نهٔ پاسے دجّاله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یا خو تلے له خلقو تشے یا څه نه کړے بے قتا له
که شیخان که عالمان دی
نور څه نه دی بے له قا له

نن م وکړه له اُستاده نه څو سوال سرفرازئے په جواب کړم دَهر سوال
وے م څوک دے چه همیش په یوه حال دے وے ئے تل په یوه حال دے ذوالجلال
وے م څوک دے چه همیش په بل بل حال دے وے ئے خوار بنی آدم لری دا حال
وے ئے سرد فراغت دی دا درے څیزه تند رستی او ایمنی دُدنیا مال:
وے م کوم سړے لائق دے دَ یا رئے وے ئے هرچه دروغ نه لری تیښتال
وے م خوان دِ په څوانئ کښے کومه چار کا وے ئے هر زمان دَعلم اشتغال
وے م زوړ دِ په زوړوالی کښے کوم کار کا وے ئے جور دِ کاله علمه خپل اعمال
وے م کوم سړے به تل وی په حرمت کښے وے ئے هرچه له چا نه کا ندی هیڅ سوال
وے م طمع قطع نه بویه له چا نه وے ئے هرچه بنه ئے اصل بنه خصال
وے م څه دی دَدُنیا دا ښے ښے چارے وے ئے واړه افسانے دی خواب وخیال
وے م کوم بحث وجدل دے چه تل بنه وی وے ئے دا دَ علم بحث دے جدال
وے م کوم ښځتیا چه ووائی پرے سپک وی وے ئے خپل هُنرچه وائی دم درحال
وے م کوم یوبے نوا بللے بویه وے ئے هرچه نے په غاړه ډیر عیال
وے م کوم سړے نیک بخت بللے بویه وے ئے هرچه سخاوت کا په اموال
وے م کوم سړے لائق دے دَ ستائنے وے ئے هرچه په بخښلو شی خوشحال
وے م خلاص به شم په څه له بده یا ره وے ئے تل څنے پوښتنه کا کړه دَمال
وے م دار او ترس له کومه شخصه بویه وے ئے هرچه ورته یو حرام حلال
وے م څه څیز و نه گران په مردترخان دی وے ئے دین او بل دانش دے درجال
وے م څه دی چه دانش پرے ضائع کیږی وے ئے لاف دَ دروغو قیل و قال
وے م لاف هوډ په څه تر سره کیږی وے ئے زر بویه څوانان بویه قتال
وے م څه دے چه نشان دَ څوان مرد دے وے ئے عفوه په هنگام دَ استقلال
وے م څه رنگه به والوزم آسمان ته وے ئے دا شی دَهمت په پروبال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وے م کومه چار بهتره ترهرڅهٔ ده — وے ئے هرچه نیک عمل کړے نیک افعال
وے م څهٔ کړم چه محتاج د طبیب نشم — وے ئے لږ خوره لږ دخول کړه لږ مقال
وے م څهٔ کړم چه هرڅوک په ما مئین شی — وے ئے مهٔ وایه دروغ مهٔ کړه جنجال
وے م چا سره تدبیر کوم په کار کښے — وے ئے هرچه رسیدے تر کمال
وے م چا سره یاری د کړلو نهٔ ده — وے ئے هرچه ابلهان دی غیر سال
وے م کوم سړے دشمن بللے بویه — وے ئے هرچه په بنادئ د شی ملال
وے م چا سره خویښی دوستی د کړه ده — وے ئے هرچه ترتا کوز لری احوال
وے م کوم سړے مؤمن بللے بویه — وے چه هرچه راضی نه وی په وبال
وے م کومه چار جنت ده په دُنیا کښے — وے ئے بنځه چه هم ئے خوښ وی هم جمال

وے م څهٔ دی د خوشحال خټک خبرے
وے ئے وارِه دُر کوهدی عقیق لال

کهٔ بد کناه څوک وکا — ته کناه ورته معاف کړے
نشان د مردئ دا دے — چه زړهٔ درست ورسره صاف کړے

کهٔ بیا دِ په زړهٔ بد وی
نور ناحق د مردئ لاف کړے

یا زړهٔ څهٔ لیونے شوم — یا د خلقو روش نور شو
څوا نمرد په څوا نمردئ کښے
د هرچا د ستر کو تور شو

زر په بده ورځ پکاروی — هوښیار څکه ساتی زر
د زر دار بلا په زړو — د نا دار بلا په سر

چه سپروی گذار په سپرشی
چه سپر نهٔ وی لاس شی سپر

په بهار کښے رنګارنګ تاروکی گورهٔ — چه په کلو را پیدا شی لور د لوره
خود بخود له یوهٔ لوریه را پیدا شی — نهٔ اثر د دوئ له پلاره نه له مورهٔ
چه دا هسے رنګه حال په ستر کو وینے — په دوم زوندون څهٔ شک کړے څا ره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داځوځیږه کۀ ونۀ خوری هم څربیږی پرسړی
چه بنۀ جمال ته ګوری بل دانا سره ناستے
بنۀ بوئ جامے مهینے
چه دَجنګ راوړی برے
سرود هورته دے سړوا چه نۀ غاړ وی نۀ غوغا
سامعان ئے صاحب دل وی نۀ ئے نفس وی نۀ هوا
اوکۀ نۀ داهسے نۀ وی
آوریدل ئے دی خطا
دَ شرعے حکم دوه دی یو جواز دے بل افضل
کۀ مردئے له جوازه واَفضل ته وهه زغل
کۀ دواړه سره نۀ وی
سړے نه ئے تۀ بیتل
راشه وغړوه ستړګے دَجهان نندارہ ګورہ
چه بنائست لری په ستوریو دَ آسمان نندارہ ګورہ
دَدے خپل وجود په باغ کښے په هر شان نندارہ ګورہ
چه هرګل وته نظر کړے
دَ باغوان نندارہ ګورہ
مادَخپل بابا هډونه په مړو پټ کړۀ په هرهډ به ئے شل شل وی ما غوښتلی
کۀ دَ چاله لاسه ومرم ګمان مۀ کړہ چه بهرام سدوبه روغ کا دَچا څلی
چه نۀ ننګ نۀ ئے غیرت په داحیران شوم چه خدائے څۀ لره پیدا کړۀ دا غوولی
چه حیات په دُنیا ګرځی هم اموات دی
دَ ژوندیو نه مړۀ لږ نۀ دی زوولی
په خویونو کښے دیر فرق دے کۀ سړے پرے خبردار شی
څنے هسے خوئ آغاز کا چه خپل هم څنے ویزار شی
څنے هسے خوئ آغاز کا چه پردی ئے خدمتګار شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ څوک خپل خصلت د بنسو کا
ترسرو زړو به روئید ارشی
خپل شاګرد وَته طبیب دا نصیحت کړ رنګ ئے کوره چه رنځور د دارو خوری
دَهغه رنځور دارو کړه چه رغیږی
دَهغه رنځور دارو مۀ کړه چه مړی
چا ته سهل نظر مۀ کړه په هرسړکښے سړ دَخدائے شته
دَ مزړی څخه کۀ زور دے دَ لومبړے څخه رائے شته
زیرکی دَ کارغۀ کوره کروفر کۀ دَ هما ئے شته
هیڅ مکان ترے خالی نۀ دے
په هرلوری کتخدائے شته
دَ هرچا دَ زړۀ مرهم شه کۀ نیکان دی کۀ بدان
خپل عمل وته ئے پریږده
تۀ به څۀ کړے تردا میان
خوچه خولۀ کا سره وازه حال دَ دواړو شی څرګند
کۀ جاهل دَکوهستان دے کۀ دَ بشهر دانش مند
په وئیل کښے یو پریشان څۀ بل وئیل کا بند په بند
دَجاهل وئیل خوند نۀ کا دَدانا وئیل کا خوند
دَجاهل وئیل سرکه دی د دانا وئیل دی قند
خاموشی ورلره سُود ده
کۀ جاهل ئم منی پند
په باران چه ودانی دَدرست عالم ده په باران سره کۀ خونه دَ چا څاڅی
دَ باران په وریدلو راضی نۀ وی کۀ دا نورعالم همه په باران پاڅی
په هرڅۀ کښے د سړی داخپل غرض دے
چه په زړۀ کښے ئے جنبش دَزړۀ راپاڅی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خبردار شه په ابدالو کهٔ په ویښ دی کهٔ په ناست دی
په حواس ئے زیست روزګار دے
ترحواس وتلی ناست دی
بے تاوانه ودانئ دی ویرانئ دریغه دریغه بیا به رانشے ځوانئ
په پیرئ کښے فکرونه اندیښنے دی
چرته لاړے د ځوانئ نادانئ
یوه بیړه دویم قهر په سړی پریباسی قهر
کهٔ څوک داخویونه ورک کا تل به خوښ اوسی په دهر
داهرچالره بلا دی
لا ملوک لره دی زهر
اندیښنه کهٔ په غړهٔ کښیږدے غر به هم لکه ویښتهٔ کا
خوار سړے ملامت نهٔ دے
کهٔ په غم کښے ځان اوبهٔ کا
د ملک اود دولت څښتن خطا کا چه په مخ نیسی په خمر په خمار
چه خدائے په چا د چاحکم روان کا څهٔ آسان وسهل نهٔ دے دغه کار
کهٔ یوه پښه د ګوډ ماته شی په لار کښے
خدائے به دے پوښتی په ورځے د شمار
وهغهٔ وته په قهر نصیحت کړه چه په نوم نوی پند و نهٔ بندکیږی
چه پخپله سر وملونی وته اوږد کا
هغه آس رم کله بند په کمند کیږی
هرڅوک د خپل یون کا کهٔ کارغهٔ دے کهٔ کوتره
څوک چه خپل هنر بدل کا خپله چار کاندی اوتره

بسهٔ ده دا خبره کهٔ ئے پند کړے د خوشحال
داد په خروارو کړه حساب وکړه په مثقال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په هرچارکښے عقل قاضی کړه ورځنے غواړه سره وایتو نه
دَهرے چارے چه فتوٰی درکا
تر خولهٔ وُباسه هغه حرفونه

څلویښت کاله کښے چینی شی پرے شندلے شی سرے سپینے
کودی منګی په ورځ سل شی
خودئے قدر قیمت وینے

خوشحال ختګ کهٔ زور شو عیبونه کوم دے ګیدی خرو
د آسمان په دَور نوری بوئی د مشکو د عنبرو
چه د پرکاله پرے تیر شی بوئی لاښهٔ شی د اګرو
چا پرے ګوته ایښی نهٔ ده دَ نورو والی په ګوهرو
په هر بازار چه وړشی
قدر نهٔ ځی دَ سړو زړو

دَ سیالانو په جرګه دِ ناستے نهٔ کا چه له سیاله نه ئے نهٔ دَ ځپل ګټلی
چه ونهٔ وهی په دواړو لاسو تُوره چا ملګرنه په میراث نهٔ دی موندلی
چه ترسړو ترمال تیرنهٔ شی په عشق کښے
څوک دَ جُونو په پالنګ نهٔ دی ختلی

چه دَ بل قاضی مفتی دَ کتاب نهٔ دے دَ خوشحال سبق له چا دے له منصورهٔ
په سولئے کښینوه په اورئے سیزه
انا الحق وینا به نهٔ شی ځنے دُوره

دَ جهان په حال اول خبردار نهٔ وُم دایم اوس په سپینه ږیره خبردار شوم
چه هرچا به راته لاف دَ یارئ کړے په اخلاص به تر هغه سړی ځار ځار شوم
چه مِ ولیدل چه واړه دَ ځپل زړهٔ دی دَهمه واړه جهانه نه ویزار شوم
چه مِ یار دے یا قلم دے یا کتاب دے اوس له دے یارئ پاتے په ابصار شوم
دَ بازونو بنکار مِ هم دمه دَ زړهٔ وه دَ نظر په کمی کم دَ باز په بنکار شوم
په طاعت په عبادت کهٔ څهٔ حاصل وی شکر دا چه وطاعت وته وزکار شوم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زهٔ خوشحال خټک حیران یم نهٔ پوهیږم چه د چرخ د لاسه څه وم په څه شمار شوم
یو ستم د اورنګ زیب بله پیړی شوه په دا دوه توکه داهسې خوار و زار شوم
کهٔ د خوی وم لښکر دے هیڅکاره دی
لا د دوئ له غمه هسې تار په تار شوم

ترهغهٔ نه به بل بد په جهان نهٔ وی چه تهٔ راز د زړهٔ ودهٔ ته کړے آغاز
دے دستا په کمی پاسی ستا بدخواه ته یکا یک واړه بیان کا هغه راز
په قیامت به چه جزا د خپل عمل وی
دواړه لوری به مخ تور وی د غماز

په هر کار کښے مصلحت شته کهٔ د ستړګو اړول وی
نادان پرے نهٔ پوهیږی پرے پوهیږی چه عاقل وی
هرچه کار په مصلحت کا هغه هر کله خوش دل وی
کار چه کا بے مصلحته په غمونو کښے بنخ تل وی
فرض واجب سنت شته نفل مراتب ته ئے کتل وی
د دین کار په سرشته دے چه به وحی پرے نازل وی
هسې کار د دُنیا هم دے چه په عقل ئے موندل وی
چه ئے عقل پوهه نهٔ وی د هغو چارے باطل وی
یا د نفس په هوا دروی یا ګمراه ګرځی جاهل وی
راته څهٔ وائے خوشحاله
دا د چا وته وئیل دی

تر مشرقه تر مغربه درست جهان واړه خبر دے
زیست روزګار د واړو خلقو چه راوخیژی په نمر دے
بنا پیړک وړځنے تښتی د نمر کوم خلل خطر دے
ږوندے نهٔ وینی په ستړګو
وینی نمر چه ستړګه ور دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه مغل وته م وتړله تُوره — درست پښتون م وعالم وته ښکاره کړ
څتک کله په شماره په حساب یاد وو — څتک ما د اُولسونو په شماره کړ
اتفاق په پښتانهٔ کښے پیدا نهٔ شو — کړه ما به د مغل کړیوان پاره کړ
څهٔ په عقل په تدبیر په تُوره نهٔ ده — حواله م مرشد کار په ستاره کړ
خپل تدبیر تُوره م کښیښوه په کنډُو کښے — دا دے ځان م له عالمه کناره کړ
اوس م نور غمونه نشته غم م دا دے — چه اولاد م خدائ داهسے هیڅکاره کړ
سره یو تربل اخته دی په خپل کور کښے — په نفاق ئے غم وماته اِجاره کړ
د مغل په منصبونو غوسه کړئ — یکباره ئے مخ په نفس اَمّاره کړ
ما دولت ورته کتلے وو په تُوره — داځما د تُورے نقش ئے اَ واره کړ
خو د خدائ فضل وکرم وته اُمید دے — کړه حال م د ځامنو نندارہ کړ

په منصب چه غلول نهٔ کا نور په څهٔ کا
مغل خدائ وپښتنو ته بیچاره کړ

بنائسته عالم خانه ده — پرے ټکه ئے واړه ستا دی
ورته کوړی حیرانیږی — چه د چا سترګے بینا دی

په هغهٔ م رحم کیږی
چه هیڅ نهٔ وینی اَعما دی

چه وماته نصیحت کړی چه زړښهٔ دی — ټولول به کا د زړو چه خبر دے
چه په کور کښے خزانے لری د زړو — هغه کس چه یک تنهاڈے زورَور دے
هر بادشاه چه خزانه ورڅخه نهٔ وی — عاقبت ورڅخه تار په تار لښکر دے
هر سړے چه په نام لوئے په دولت کم وی — په معنیٰ بدرنګه بنځه سپین څادر دے
په مثال ئے د هغ مرغئ مثال کړه — چه سینه ئے کشاده تن ئے لاغر دے
کوره ما د هغهٔ څهٔ رنګ جواب ورکړ — چه به پوهشی هر سړے چه دانشور دے
ما وے مرد لره خو نام بویه نادانه — نهٔ د زړو ټولول چه بد هنر دے
که هندو څخه انبار انبار مُهران وی — په مُهرانو به بنهٔ نهٔ شی مختصر دے
که په خرهٔ باندِ د زړو صندوق بار کړے — خر به هیڅ په دا بنهٔ نهٔ شی خر خر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه هُنرئے د لویئ ونیو په لاس کښے
د هغهٔ وجود پارس شو واړه زر دے

یو د بله زده کوی د دُنیا دود دے — چه شاګرد نشی اُستاد نهٔ شی سړے
زبونی به ئے په دین کښے پیدا نهٔ شی — کهٔ زبون په اعتقاد نهٔ شی سړے
خواست دُعا په آسانئ کله قبلیږی — د تقوٰی په کار څوراد نهٔ شی سړے
د زحمت علاج ئے کله طبیبان کا — څو په آه و په فریاد نهٔ شی سړے
کهٔ لږ خوری لږے خبرے لږ دخول کا — په زحمت به هرګز یاد نهٔ شی سړے
کهٔ ئے زړهٔ نهٔ دے په خپلے رسوایئ — راضی من دِ په فساد نهٔ شی سړے
زمانه به ئے د باد په ستنه نهٔ کا — کهٔ شنا زغوندِ پُرباد نهٔ شی سړے
په خالی وئیل به نهٔ آدم زاد کیږی — په عمل چه آدم زاد نهٔ شی سړے
کهٔ په عمر صد ساله شی لا آدم دے — چه سیّاح د هر بلاد نهٔ شی سړے
په اولاد کښے ئے اثر د اصل وشی — د بد اصلو دِ داماد نهٔ شی سړے
لکه بنهٔ غنم چه وکړے جودر شی — په دُنیا دِ بد اولاد نهٔ شی سړے
د رورئ به ئے هیڅ حلاوت نهٔ وی — چه و رورته په سداد نهٔ شی سړے
چه مدد ئے آسمانی نهٔ وی له بخته — لوئے په اصل په اجداد نهٔ شی سړے
بیدا دی به د هیچا باندِ ونهٔ شی — په خپل ځان کښے کهٔ بیداد نهٔ شی سړے
کهٔ کوشش کا په اخلاص زهٔ ئے ضامنیم — کهٔ کامران په خپل مراد نهٔ شی سړے
لا به چارے د ځوانئ ترے پیدا کیږی — چه په عمر کښے هفتاد نهٔ شی سړے

بهتری د خوئ خصلت بویه خوشحاله
خام طمع دِ په نژاد نهٔ شی سړے

کهٔ ژوندے شی افلاطون — سوات کښے و نسی سکون
اکوزیو ته بیان کا — کتابونه د فنون
هدایه کفایه دواړه — په پښتو کاندی موزون
دوئ به وائی چه داخهٔ دی — مخزن بنهٔ دے د اخون
نیشکر به غوایهٔ څهٔ کا — په وابنهٔ ئے دے ژوندون

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دروکه په ملک کښے بنهٔ پښتون یادیږی نن مهمند بنگش ورکزی آفریدی دی
د مهمندوسپی بهتردی تر بنگشو کهٔ هزار خاله مهمند بتر ترسپی دی
چوهړی د افریدیو نه ورکزی دی آفریدی کهٔ همه واړه چوهړی دی
هرچه بنهٔ د پښتونخوادی حال نے دا دے هغو بدو ته څوک وائی چه سړی دی

له ژوندیو پښتنو بشیګړه نشته
هرچه بنهٔ ووهغه کل د ګور بندی دی

نن د واړو پښتنو بهتر مهمند دی هغه هم د واړه خلقو ته څرګند دی
چه مغل ورته ووائی دولتخواه امیت نور حرام شه کهٔ په خپله کونه بند دی

پښتانهٔ د ننګه وباسی له دله
اوس تړلی د مغل د آش په خوند دی

کهٔ آزاد دی هغه مرغونه دی چه هم بے رنګ دی هم بے الحانه
په بند بندی دی خو هم هغه دی
چه هُنرنے پاسیدهٔ له خپله ځانه

چه تا نهٔ وینم په کور کښے اور به پورے په درست کور کړم
کهٔ م لاس په ځان رسیږی
ځان به هم تر بلا هور کړم

خوئ د هاتی دا دے چه خرورشی د وړاندِ
کهٔ نهٔ غږیږی له دهٔ نه
دے ترے ځان کناره کاندی

یو کانړے د بیدیا ترتندی لاندِ کړ عیسیٰؑ
چه بنهٔ فهم نے وکړ
هم ترے بوئ تهٔ د دُنیا

شریعت د ونے بیخ دے طریقت لکه بناخونه
حقیقت د ونے پانړے
معرفت میوه کلو نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه کښل کا سپینه ټوره دُنیا لونی بازینه
تیمُر غوندِ کهٔ نهٔ شی
دَ عنبر غوندِ دِ شینه
کهٔ ټورے کهٔ توبری دی کهٔ مزری دی کهٔ مارونه
داهمه وارِه آفت دی
ژبه لاده ګُونا کُو نه
یو بنهٔ مخ دے بل بنهٔ آواز دے چه ځان له تنه صبر له زړهٔ وی
چه دا دوه توکه سره سره شی
ځان او زړهٔ مِ دواړه سره وړی
مجنون چه ومړ په کورکښے پریوت فرښتو ترسوال کړچه څوک دِ خدائے دے
دهٔ وے په نورځهٔ خبردار نهٔ یم
دَ لیلیٰ خیال مِ په زړهٔ کښے ځائے دے
چه نادان چیرے غلط شی ورته ووائی نادان دے
خدائے به وارِه چارے بنے کا
دَ هرچا سره شیطان دے
چه اَشرف میربازِ دِهم غلوی خوشحاله ورسره لا دَ یحییٰ غوندِ دهمن
کار دَ بلے هوښیارئ پاتے نهٔ شو
اوس یا مرګ دے یا مکّه ده یا دکن
چه مِ ولیدهٔ وکړی دَ دُنیا ترقضا پورے اَصم وی هم اَعما
دانائی عقل دَ هرچا حبطه شی
په هرچا باندِ چه رائیشی قضا
څهٔ کم عقل نادانان دی دا ساندهٔ بے بصارته
نعمتونه په خپل کورکښے
مری له لوږے له هیبته
بهرام غرد خیرآباد په حماقت دے آب سیند دَ خیرآباد دے په دروغ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا نړۍ دَخرونونۀ دہ پورے خاندی چہ پہ خوسرہ پیوند کا سروغ نارِوغ
دَخبروئے فروغ نشتہ دَ کار ئے لکہ پښې دَاوښانو واړہ دوغ
پہ خبرو کښے ئے کچ دَ رشتیا نشتہ هم پہ داسبب اصلاً نشتہ فروغ
پہ داهسے قباحت چہ دے پیدا دے دَسړی نہ بہ هم بل پیدا وی بوغ
دَدۀ سر دَ سرداړئ دَ دستارنۀ دے دَدۀ سرلړہ پیدا شوے لچوغ
بیکانہ غلیم پروا. وړخہ نۀ کا خو پہ خپلو باندِ دانکی دَدۀ توغ

خوځمالہ ځانہ نۀ وے پیدا شوے
زۀ خوشحال ئے پہ جهان کړمہ تور وروغ

چہ څارِبہ مړونہ جغدی کیږدی مردان دی توپوی پہ سپینو وریژو زیږغوړی
مربّہ اچار شربت پہ څو څو رنګہ ومیلمہ تہ مهتیا ګړی ګړی
مرد بہ تل دَ میلمانۀ خدمت پہ ځان کا تفقد بہ باندِ کا ګړی ګړی

څوک پہ زور میلمہ وخونے وَتہ بیائی
څوک پہ زور میلمہ لہ خونے نہ شړی

بدخوئی راسرہ یار شوہ خدائے دِ امن څنے را کا
چہ تش وګورم وچاتہ نور څما جزا سزا کا
کۀ لږ وُوے وبلہ وکړم پہ ما نړی شی راتہ شا کا
مګر بخت پہ میان کښے راشی چہ ئے ماسرہ پخو لا کا
هیڅ څما پہ رضا نۀ وی څو چہ شی خپلہ رضا کا
چہ مئین شوے قبلوہ ئے کۀ هرڅو جور و جفا کا

دادِ یار نۀ دے خوشحالہ
داخپل زۀ چارے پہ تا کا

خپل مزاج دے ګوښے ګوښے هرڅوک کار پہ خپل انداز کا
چہ قدرت لری دَ پرو نو پرندہ هومرہ پرواز کا
مجال نۀ رسی دَ چتی هغہ ځائے چہ دورے باز کا
سپے دُرمہ چیچی دَ غشی پرانګ حملہ پہ تیر انداز کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لکه غشے ترسپر پریوزی ترهوسئ کهٔ هسے پریوزی
لوئے مقصود به دِ حاصل شی
په عجب خوبئ به کښیوزے
کهٔ څوک دا وینا وتا ته کا معلومه چه د نوح د طوفان مآء راغے له کومه
ورته وایهٔ نه د ارض نهٔ د سماوے
هغه مآء د نوح د اوښکو وے مخدومه
چه په کورکښے دِ گمان د مار لړم وی له هیبته به دِ خوب چیرے رضا شی
د دوزخ مار ولړم دِ به یاد نهٔ دی
په قراره قراری دِ نموښ قضا شی
د مجنون په نظر کښیوته آرهنډه سر تر پایه سره درسته کنډه کنډه
وآرهنډے وته ډنګ په سجود پریوت په دا حال کښے د عالم په نظر کښیوت
ورته ئے ووے چه داځهٔ کړے لیونیه مجنون ورکړ دا جواب چه اے ځلمیه
دا آرهنډه په ما ونه د جنت ده کهٔ سجود کړم ورته ځائے د عبادت دے
یوه ورځ په لارے تلم له خپله کوره
لیلیٰ ناسته وه د دے ونے تر سیوره
سودا قرض له چا غوښتل تاخت و باخت رهزنی غلا
دا تا واړه نا روا کړل ما هم پریښول نا روا
وائے زهٔ د رزق ضامن یم
خود به وګورو چا رستا
یو یوځوان د سپینے تورے حق په ځائے کا
کهٔ نهٔ هرګیدی ئے وتړی په ډوډی
وایه څوبه برابر نهٔ دی زوولی زیات کهٔ وګورے اورنګ دے د مورچوډی
ځان د خلق سره خلق کړه خوشحاله
دا زیاتی خبرے ومنډه په ګوډی
ملائی په ډیر تحصیل شی شاعری ده له حکمته
ملکی خو بادشاهی ده خانی هم له سلطنته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پیری لا لویه پایه ده ده له ډیره ریاضته
مفت آسان ګټې داواړه پښتانۀ له جهالته
هر سړے ورته ملا وی چه په یادکا څو آیته
چه پیرو هغه شاعردے قافیه غلطه کته
هغه سګ ورته ملک دے چه کلے وړی له محلته
خان هغه چه توکس پریوزی په زانګو کښے وهی لته

پیر هغه چه پسے درومی
څو سر توری په دا لته

آفریدی په خوئ پردی دی په یارئ ئے نفرین
څۀ تیراه څۀ ئے وکړے څۀ ئے ملک څۀ ئے آئین
دوه درے ستے غله واخلی څوک چه بنۀ وکا سا دین
نۀ ئے مونځ نۀ ئے روژه شته د شیطان لری تلقین
څکه هسے اولجئ دی چه نۀ رزق لری نۀ دین
یو لعنت په آفریدی شه سل لعنت ئے په دے شین
آفریدی لاځۀ په رنګ دی دیشین لادی ترے بے دین

خدائے دِ دواړه قومه ورک کا
په دا نړۍ ورځے آمین

چه زمونږ دَ چا ژوندے وی هغه مینه کا په بنکار
له بنکاره ئے څۀ کار دے چه په زړۀ نۀ وی بیدار
کۀ بنکار کا د مرغونو د باز دونو دے پکار
د سپی بنکار هم درومه کۀ میدان دے کۀ کوهسار
د غشی بنکار ډیر بنۀ دے کۀ باتور دے په ګذار
کۀ بنکار دے د توپک دے کۀ پرے تۀ وکړے تلوار
نن خوشحال په دا دوه کاره په جهان کښے دے اوخار
د بازد توپک دواړه هم په دا دے مینه دار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لویه چارد پښتانهٔ له لاسه نشی — مګر چارئ آسمانی ده کمه کوزه
که هرڅوئ سموم رانهٔ سمیږی — چه کارهٔ دی د بدبختو څو وربوزه
په فساد کښے هیڅ فائده نشته خوشحاله — د فساد په اور کښے سیزی واښهٔ دروزه
هغه چارچه عاقبت لره بنهٔ نهٔ وی — دهوښیار وپه مذهب ده لایجوزه
یوسفزئ ننګیالی پښتانهٔ نهٔ دی — د بے ننګو پښتنو له مینځه وُوزه
یادَ بنو په لور درومه تولهٔ وکړه — ترخوشابه پورے ملک کړه شنه پدوزه

یا په کُنج کښے د عزت کښینه طاعت کړه
یا مکے لره خُه پس دا درے رموزه

دایم راغلم په دا عمر — چه م سپین شو تور ویښتهٔ
یا خاورے دی یا کانړی — راته واړه سپین او سرهٔ
هیڅ کارنهٔ شی بے له زړو — چه پرے وپوهیدم زهٔ
کرم نهٔ دے دا وګړے — چه پرے وباسے لیمهٔ
چه سپین وسرهٔ پرے ورکا — هغه کښل کا سپینه خولهٔ
هم زردی کهٔ ئے کورے — چه په غرهٔ بیائی اوبه
که هرڅوله تا زهٔ بدوی — بیا په زر ے غیږی زهٔ

خدائے رسولؐ سره خپلیږی
په زر نورے چارے څهٔ

کنی کبر، مزرے یاره، وږے هم، دا دوه شهره
صحبت مکړه له هغے که په رنګ ده بنځه حُوره
که لیندهٔ ده، که ورغوے، دا دوه شهره هم څاڅغوره
چه پیدا د نرګس ګل شی، له سینے ئے مئ کړه دُوره
څولا ګل شته په ګلزار کښے نے وے معشوقه واړه
که دِ لاس باندِ رسیږی لحظه مئ شه بے سروره
ستا به څهٔ یاد کړم تیراهٔ — چه د زهٔ وکړم پریښه
هر بیګاه به دِ باران وو — په شیبو شیبو دیر کښه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د ورکزیو آفرید یو — په هیواد باندِ درونہ
لوئے نښتر لوئے خیرئ — بے میوے نا بُودہ بنر
د پوزیو کمے خونے — سپی سری پکښے سجنہ
د زنجرو د بویہ دکے — پمن والے پکښے کنہ
خسی ورغومی پکښے کویتے — خاورے سرے درست انگنہ
چہ په شک پکښے سری وُو — یو احمد وو بل چند نہ

چینے د تیراہ بنے دی
لا اوبۂ دہ د پتنہ

زلفے ستا نافۂ ناب دی — لب شراب دی د فرنگ
کُنبلے مخ دِ نسترن دے — ستا باڼۂ تازہ خدنگ
په مخ دیرہ بناشتہ ئے — لږ دی کُنبلی ستا په رنگ
تل تل غم باندِ نایاب دے — خائے د خواب دے ستا یالنگ
بنا پیرئ م کنړلے — د څرئ دِ بنۂ ژرنگ
په تا بنائی چه آخلے — د پریو نه قلنگ

بدن سیمه خوبا تۂ ئے
قلب دِ نۂ دنے، دے دسنگ

خټک چه په آس سورشی — درسته وتړی په کونه
شملہ د دستار پریږدی — په تندی کښے اوږدہ پلنه
سایه د شملے کوری — د خپل آس په ترپونه
جنجو ته کا بنسکټلے — په کولک کاندی پوښتنه
دعوی د خانئ واخلی — په فساد کاندی جستنه
حسد بده بلا دہ — د سری په ورکونه

د هیچا څۂ ونۂ کا
حاسد شنه کا څله ینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناکاه به دِ په کور باندِ غوغا شی — چه فلانه ترجهان تیرشو فلانه وخت
دَغسل دَ کفن زیرمه ئے کانړئ — وکفن لره ئے راولئ بنهٔ رخت
په کورکښے به دِ کښیږدی څویه رونړه — بیا به کوره وته رائشی یک لخت
حساب به دِ دَ مال کاندی په زړهٔ کښے — په دا کارکښے گرفتار وی واړه سخت
ملګیری به دِ په کورکښے څوک ونهٔ کا — کهٔ دِ مل خوبه عمل وی هغه وخت

خپل عمل به دِ په کورکښے پکار کیږی
په عمل کښے کهٔ نیک بخت وے کهٔ بد بخت

دَ بادشاه دَ سره لعل په بنکارکښے پریوت — چه شعلے ئے څلیدے تر بله اوره
ناګهانه دَ شپانهٔ په لاس کښے کښیوت — زړو مورلره شپانهٔ راوړ تر کوره
یوګډورے ئے په خونه کښے عادت وو — دَګډوری ئے په غاړه کړهٔ اے روره
هغه لعل دَ جوهری په نظر کښیوت — په بهائے څنے یوړ په یوه توره
لک روپئ دَ هغه لعل قدر وقیمت وو — نادیده عالم په توره وسکر کوره

دا دَ سر په ستر کومهٔ کوره څوشحالته
دَ باطن ستر کے پیدا کړه تهٔ ئے کوره

سړے وباسی له کاره — پکارنهٔ دے ډیرخربښت
ناقابل څویه لوئے مهٔ شه — لاتر ډیرخربښت دے زښت
تربیت دَ قابل بنهٔ دے — په بنه مزکه بنهٔ شی کښت
ناقابل دَ بنورے کښت دے — تربیت ئے دے کا هښت
چه ناکس ډم تربیت کړ — ماخپل ځان ته آفت غوښت
دواړه توکه ئے بلا شوه — هم ساتنه هم نوشت

بل علاج نشته بے صبره
اوس ډم صبر دے بالښت

څهٔ خوش رنګ ز یبا ګلونه — له دیو خاورو نه پیدا شی
بیا په څو ورځو معدوم شی
په داخاورو کښے فنا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حبش په مکه راغے چه مکه کاندی ویرانه
قریشو جنګ ونهٔ کړ تار په تار لاهل له میانه
چه وخت د محمدؐ شو عرب سلوم شول په مرانه
مدار په بنهٔ سردار دے نورخهٔ مه وایه اے خوانه
چه میرد لښکر مرد وی گرانه چارشی پرے آسانه
کهٔ صبر کهٔ همت دے
فتح یوسی له میدانه

حمل ثور دا دواړه فروردین اُردی بهشت دی
پښتو به درته وایم اول ورځے دویم غوځکے
جوزا سرطان خرداد وتیر دی په حساب کښے
پښتوئے څیښور او کُنی کبر حساب دے
اسد سنبله دواړه امرداد شهر پور دی
پښتو سنبله ویږے اسد وکنړه زمرے
میزان عقرب دا دواړه مهرآبان سره حساب کړه
پښتو تله لړم دی دا د یاد لری سړے
لیندہ ورغوے څهٔ دی لادا واوره درته وایم
یو قوس دویم جدی دواړه دادی آذر دے
چه دلو حوت ووائی یو بهمن بل اسفندیار کړه
پښتوله مانه واوره یو بوکه دویم ماهے

کدوم د چنار په ونه وخوت وچنار ته ئے آغاز کړهٔ دا مقال
چه تهٔ د څو کالونو ئے چنار ه راته ووایه خپل عمر خپل احوال
چنار ووے چه د دوه سو کالوزهٔ یم په حساب کښے کوند کم وی یونیم کال
کدو ووے هائے خوته پیمُدت لوئے شوے دایم زهٔ درسره سم شوم دم درحال
چنار ووے چه وخت سخت د څله راشی
زهٔ او ته به سره زده کړو هالهٔ حال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هوښیار به پرے پوهیږی هیڅ باور نشته په بخت
کۀ په بخت کله باور وے تل به یوناست وو په تخت
بخت باران دے چه وریږی چرته نرم چرته سخت
کله وُوَری په کانړی کله وُوَری په درخت

بخت خوشحال سره غلیم دے
چه لری دَ هُنر رخت

درست عالم تیرسو شپیتۀ بخړے حساب کړه
هغه تیرسو بخړے واړه ناکسان دی
په شپیتۀ کښے پنځوس بخړے هوښیاران دی
په داهومره کښے لس بخړے غازیان دی
درست جهان په ناپوهانو سره ډک دے
ولے نړیات کۀ پکښے وګورے افغان دی
هوښیاران یکان یکان په هرمکان شته
چه کثرت ئے دے په ملک دَ خراسان دی
چه داخل حه جمع خرڅ نۀ دی په دا کښے
هغه واړه جټ هندکی دَ هندوستان دی

کۀ فرزند غواړے له خدایه چه لری حیا وفا
چه حیضه پاکه نۀ شی دخول مۀ کړه دَ نسا
کۀ له حیضه پاکه نۀ وی بد فرزندشی ترے پیدا
کۀ دلیل غواړے له ما نه لاس په لاس دے دلیل دا

وبهرام وته نظر کړه
هم ئے وفا هم ئے حیا

په یوۀ باران کښت ورک کا خلقے کا سره خواړے
رهزنان باندِ تعیین کا مسافر وژنی په لاړے
یسیران کا تندی اوبکی چه له لوږے وهی نارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ناوی ژنړے سره بیل کا د مرګوټي په چیغارے
خدائے عادل دے ظالم نۀ دے
نۀ په ظلم کا دا چارے

په ډیرړ ګله فضیلت شته په جهان کښے دایوځو به درته یاد کړم زۀ خوشحال
فضیلت د بنۀ نسب د اصالت دے فضیلت دے د بنۀ حسن د جمال
فضیلت د شجاعت د مړنتوب دے فضیلت د سخاوت دے د ډیر مال
فضیلت د ډیر هُنر دے د ډیر علم فضیلت د ډیر اولاد دے د عیال
نۀ دا کل فضیلتونه منونه منونه
نۀ چه بخت د چا څخه وی یو مثقال

لږ خوراک تنګے کلمے بویه د بنځے مرد هغه چه ډیر خوراک کا ډیر خړی
چه څارنۀ مړ ونه جغدی کښیږ د مردان دی تو یوی په سپینو وریژو زیږ غوړی
د هغو دُنیا نابوده نۀ ده څۀ ده چه پیسے په کور کښے ږدی اوګرے لړی
مرتبے د هر چا راغلے بیلے بیلے سره نۀ دی برابر واړه سړی
څوک په زور میلمه وخونے لره بیائی
څوک په زور میلمه له خونے نه شړی

په اُتم د سنبلے! منتهی شی دوه څیلے
اَباسین په ته کښے کښینی په تن وچے شی خولے
وَږی وخیږی د شولو کار بنکاره شی د غلے
هونډائی وغرۀ ته جوړشی د خپل بنکار په مشغلے
زانړے ووهی غږ ټکے
لور په لور هوړے دے

کۀ ئے کښینوے په باغ کښے مرد به ونۀ کا آرام
څو پوره په غلیم نۀ کا هره چار د انتقام
فراغت کا خبر نۀ دی نامردان په ننګ و نام
بهرام و ته وګوره درست بنده دے د خپل کام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَصورت په زور قوت غرنۍ ماتیږی کهٔ خبرهٔ دَکوهکن په زور قوت

چه دَروح قوت پیدا شی قمرشق کا
په هرلوری ئے په مخ دروښی نصرت

کهٔ هرځو باندِ باران دَبهار وُوری گل سنبل به ترې پیدا نهٔ شی له سنگه
امتحان لره خاورے کړه وگورهٔ
چه گلزار له تا پیدا شی په څو رنگه

کهٔ واړه جهان په لاسو راوړے دَقارون ترخزانو دِ گنج بسیار شی
دا کل واړه م تردا پورے هیڅ نهٔ دی
چه دَلاسه دِ ناحق سړے آزار شی

پلار هرگز په بد دَځوی راضی نهٔ وی ولے بد ځویه آخر دَپلار بدخواه شی
چه دَ پلار په بد راضی شی هغه ځوئے
په محشر به ئے بیشکه مخ سیاه شی

نن چه په جهان باندِ لاس ستادے دَنیکئ تخم کړه خودِ په دست شی
ستا پخوا دَدے دُنیا صاحبان نور وو
پس له تا به هم دَنورو بندوبست شی

په کوم گرداب کښے گرځے گردابونه صد هزار دی
په هسے دریاب ډوب ئے چه موجونه ئے خونخوار دی
راشه ځُنے وونړه ! دا واتهٔ ځُنے پکار دی
نهٔ ئے غم نهٔ ئے اندوه شته
چه وتلی په کنار دی

دَمغلو سره گډ په زیست روزگار کښے غوریه خیل دی یاترین دَ قندهار
کهٔ سودا ده کهٔ خوښی کهٔ نوکری ده نور پښتون دے له مغلو نه ویزار
په دا دورچه کوتونه پکښے ساز شول یوسف زئ تردا دواړو دی مردار
کشمیری به هم دا هسے رنگه نهٔ وی
چه نر نښځے دَ مغلو خدمتکار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د یوے بنیښے شراب دی سره کړځی دست په دست
چه اصیل سړے ئے وڅښی نۀ بدکوئے شی نۀ بدمست
سل ناسازے په لاس واخلی چه بد ذات شی مئے پرست
د شرابو ګناه کوم دے
ګناه ستا دے هرچه هست

څو نړۀ پایم په دُنیا کښے دا دوه خواست کوم له تا
یوم روغے لرے سترګے بل م تهینګه لره ملا
بنائسته ؤ لره غوارم دواړه توکه هغه دا
کۀ دا دواړه توکه نۀ وی ما هم بیایه له دُنیا
هرڅوک پلار د لونړومۀ شه په ډیر غم شی مبتلا
څوچه لونړے وی په کور کښے په کور وی هومره بلا
څما په کور کښے دیرش دی کۀ تر دیرش دی ډیرے لا
کۀ غم وهم د دے وو راسره صبا بیګا
پخپله خدائے وادۀ کړے چه له سرایه شوم جدا
چه تۀ کړے واړه بنۀ کړے یوه خدایه ربّنا
ترکار دِ نۀ ر سیږی عقل فکر د هیڅ
کۀ چار ده هم هغه ده
هرچه پسندے وی په تا

د نړے بنځے په کوس کښے دا جلاب جمال کوته وی
بند په بند ئے سره بیل کا غوئے رغښتۀ تر کوته وی
په کمر دِ درد پیدا کا پکښے دا هومره تروته وی
رنګ ئے مۀ ګوره په سترګو
کۀ ډنګره کۀ موته وی

مُسلمان سړے به څۀ لره دروغ کا چه په کفر کښے دروغ دی هم نا روغ
کۀ دِ سړئی کۀ دِ مال ځی دروغ مکړه اعتبار د سړی لاړشی په دروغ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ په هره کوخه کړځے پکښے دروے پهر پهر
لابه هم پرے خبر نۀ شے بے رهبره تلۀ دی زهر
کۀ ځما په نغوته دروے لویه لار نیسه دَ بنهر
درویشان لکه ماران دی هم مهره لری هم زهر
په آزارۀ راضی مۀ شه
چه اخته نۀ شے په قهر

میاشت دَ وُمړۀ خور وه چه داخل شوم په میدان
کال څۀ وو هیڅ دو بیا تحویل دَ سرطان
هسے شان ساړه وو لکه نرم زمستان
سړے اوربشے کَوے
غنم پاڼه تنکی شان

چه دَ پلار دَ مړک م تیرشو پوره قرن دَ صفرے په میاشت وم څه مور
پوره زر اتیا کلونه دَ هجرت وو چه دَ مور په خوا م وم مشر کور
چه دَ مور تر مړک م وم څه وراندِ روستو یوه لور دَ شاه بانو وه پسے خور
خدائے دِ باغ دَ جنت ځائے کا ندَ دَ واړو
چه به باغ دَ دُنیا نۀ وُوینی نور

په جهان کښے څو سړی دی څلور قسمه دی پیدا
زده ۓ زده ۓ چه مۀ زده وے دا فریق دی مقتدا
زده ۓ نۀ زده چه ۓ نۀ زده خبردار کړه دَ ایذا
زده نۀ زده م مونږه نۀ زده دَ تعلیمه دی پیدا
زده نۀ زده چه زده م
ترشیطان بتردے دا

حمزه خان دَ رستم باد دے چه په څو رنګه پیرے کا
کله هسے خوبه راپاسی چه مشکی کوڅے ډیرے کا
کله هسے راپیدا شی چه عالم وته ښیرے کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آخر یاد دے په دا څۀ شی
کۀ په ګرد ږیرے سپیرے کا

ګلے د سړی خوږ شی هم ئے نۀ پریوزی خر
شودۀ د څښنی د میږے چه په نس کښے ئے شی اړ
دارو د ثنا بویه یاد د حنظل جړ
کۀ زر دارو ونۀ کا د مور رنګ به ئے شی زیر

اړچه لرغونے شی
پریکوی د ګلے سر

لګړ د بنارونیو په سیل ګډ شو له هیبته ئے درست سیل شو تار په تار
تپوس له بله لوریه سړ اپیدا شو په یوۀ باند دۀ هم وکړ ګذار
خوشحال خټک حیران شو ورته پاتو چه ئے ولیدۀ داهسے رنګه کار
په څنګ کښے یو هوښیار سړے ولاړ وو دا خبره ورته وکړه غه هوښیار

چه هیڅ ورته حیران مۀ شه خوشحاله
تل په مات لښکر سوپرے کاندی ګذار

د تیراه په ملک کښے نشته د اذان الله اکبر
د خپل غیږ منت راباند چه م وینې کاندی سحر
چه بهرام ځنے پیدا شو ماوے غیږ م دے کافر
هم د یر کافر هم نۀ دے
په تیراه کښے شۀ په چر

د دُنیا د دولت ویش د چا په لاس دے چه ئے ورکا په اړاؤ ګیدی خر ته
کۀ ځما په لاس ودست د دولت ویش وے
ما به ورکړے یو چونګ خاورے بے هُنر ته

په هر فن کښے چه م غواړے هغه زۀ یم قرینه م به بیا رانشی په قرنه
په دا هومره د یر هنره لکه زۀ یم
یو هُنرئے فلک ورنۀ کړ هُنر نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نا دیده ګواهی مله هم له حقه نه ویزار یم
حلال نه دی زهٔ ئے خورمه د فتنوئے مینه دار یم
دا څلور کاروونه کړمه خدائے دِ نه کاچه بدکار یم

که په ما باندِ څه وائے
زهٔ هم تا وته تیار یم

چه وُزیږی له تانه بیائے تاته درځی عیب
له ځانه دِ پیدا شی په ګندګئ ګوښی حیات

دخل د ساعت په طبیعت دے د سړیو
چه بد زیږی له نیکه له نیک ذاته نه بد ذات

که نهٔ دی که څلور دی کارئے چاته بشکاره نشو
سر در کُم دریاب دے دا آبا و امهات!

قدرت د هغه خدائے دے چه قادرِ برکمال دے
خاموش وُسه خوشحاله تر دادمهٔ وهه زیات

که دِ توان رسی خوشحاله تقوٰی مهٔ پریږده له لاسه
اوکه نهٔ په فتوٰی کار کړه مخ له شرعه مهٔ جارباسه

که دا دواړه توکه نهٔ وی
سکه بترئے ترکناسه

که بادشاه له تخته پریوزی ګدائی واخلی په لاس
که د خدائے سره آشنا وی زهٔ به نهٔ کاکوزو پاس
ترغنا نه فقر بنهٔ دے نهٔ ئے غم نهٔ ئے هراس
د ژوندون اساس په باد دے څهٔ ژوندون څهٔ ئے اساس

که ژوندون دے هم هغه دے
چه ئے نهٔ وی هیڅ وسواس

ما په عمر مدح نهٔ ده د چا کړے چه د مدح څښتن یونهٔ وو پیدا
په غندلم پوست د ډیرو دے وکښلے چه د هجو لائق ډیر وو هویدا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په صفت م د هغوکړه ږیره سپینه
چه ئ زهٔ وُم په سپین مخ باندِ شیدا

خدایه مهٔ وے هسے ذکر چه ئ خلق سر هوا کا
درویشان د "لا" په تُوره همیش لَودما سوا کا
دیو د "لا" تُوره وکښلی
پوو د غیلو یاد غوا کا

عمر ډیر وو عقل لږ وو عمر لږ شو عقل ډیر شو
یو ژوندون وو په جهان کښے په دا شان سره تیر بیر شو
د خُوانئ ساعت خوشحاله
خوب وو ولیدهٔ شو تیر شو

زهٔ چه زوړیم حال م دادے د خُوانانو به څهٔ حال وی
درسته شپه د غیږ له لاسه درازی په ما محال وی
ورځ وشپه م دا فکرونه کهٔ وادهٔ م کال په کال وی
تر اویا کالونو تیر شوم
واویلا م په جمال وی

راشه هومره جور ظلم ستم مهٔ کړه د درد منو آه سرد د خدائے بلا دے
څوک چه درد رسوی چاته درد وردومی چا ته مهٔ رسوه درد د خدائے بلا دے
چه انصاف عدل تمیز ورځخه نهٔ وی
رنگ ئے ورک شه هغه مرد د خدائے بلا دے

عیسیٰؑ یونادان هوښیار نهٔ کړه په عمر په اعجاز ئے کهٔ راندهٔ بینا کول
څوک چه خدائے په ازل نهٔ وی بینا کړے کار د چا دے د نادان دانا کول
چه نادان په سبق زده کا حال ئے څهٔ وی
په خضاب سره زاړهٔ برنا کول

مار په مثل دے د بنځے دے په سوړه کښے بهتر
چه له سوړے نه بیرون شی خلاص به نهٔ وی له خطر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه له ستر کو بنځه ووځی
نور پرے وار شی د ذکر

۱۰۸۹
د نوروز په دولسم : میاشت صفر کال د غفط وو
غله ګرانه کښت زبون وو په عالم نازل سخط وو

لوئے باران وشو په خلقو
د وګړی وار غلط وو

هیڅ ناکس به په تعلیم سره کس نۀ شی داخبره د داناشوه راپه یاد ه
سراغزے به نورځۀ نۀ شی سراغزے دے کۀ په باغ کښے ئے پیوند کړے له فرصاد ه
اوم دیوال به په کهکل سره پوخ نکړے کۀ هرڅو باندِ هُنر کوے اُستاد ه
د نادان د غلطئ عیب کوم دے غلطی خود هوښیار بده بلا ده
لا د حرف د عبارت غلطی پریږ د ه رسوائی په زیر او زور کښے د ملا ده

چه حاذق طبیب په چارکښے تیرو بیرشی
پښیمانی د نړۀ اندوه ئے په دا لا ده

ما تازه ګلونه ولیدۀ په باغ کښے همکی په رنګ وبوئ سره زیبا
ما وے تاسے غوندِ هسے بنۀ ګلونه له دیو هسے تورو خاورونه پیدا

وے ئے هرچه خپسر خاورے کا خوشحاله
مرتبه به بهه بیا مومی تر دا

کۀ همه عالم په عقل زیست روزګار کړی هیڅ بدی فتنے به نۀ وی په دامیان کښے
حماقت جهل کنده خویونه بد دی شور غوغا بلا پیدا کا په جهان کښے

وارِه نفس دے چه په مونږ کا فساد و نه
ګنډه کومه ګمراهی ده په شیطان کښے

چه سړی له وردرومی عیب عار په هیڅ رنګ دِ سړے نۀ کا هغه کار
چه سړے له عیبه ځان ساتی کۀ بنۀ کا لا دِ وی د دین په کار کښے استوار

د دُنیا چارے فانی دی باقی نۀ دی
همیشه به تل باقی وی د دین کار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے د خولے د کلمے تفاوت کوم دے په دا دور په هندو په مسلمان کښے
سل دانے تسبیح په لاس زر کناهونه د هغو به څهٔ بنادی وی په ایمان کښے

په توبه په استغفار په پینځه وخته
ورځ او شپه د معصیت فکر په خان کښے

په بائین کښے زیست روزگار شی اوس خو پاتے یو طلاق دے
کجی بنه ده په لاس پوهـ شوم نور څما له تا فراق دے

وهغهٔ ته ورکړه کونه
چه دے تل د تا مشتاق دے

نن دا پند په خاطر راغے زهٔ ے وایم څوک کهٔ پند څما منی کهٔ نهٔ منی
د کم ذات په آشنایئ کښے سود نشته په دُرمے کښے کله خوندوی د کنی
د توپک گوله په خوله خوړے بنه ده نهٔ چه وخوری څوک نمړئ د دنی

بیوفا سړے بتر تر کوټه سپی دے
چه ژغړئ کا دروغ د لیونی

د آسمان په کجروئ چار په ما وه ونشینه
غر فرهاد په تیشه غوځ کړ خسرو بیامونده شیرینه

یو لاشهٔ خوری د مچئ
بل خوا بړهٔ له انکبینه

یو دولت ته رسیدل دی بل دولت تر سرؤل دی
د نادان سره گډ ودشی دواړه توکه د عاقل دی

بخت خو آس وسړی ورکا
گران د آس تیزل ساتل دی

په ذره کښے روغ رنځورے په لحظه کښے بناد غمژن
بځن ستا په کبر خیال شهٔ په داهومره بادی من

درست غفلت خود ستائی
لاف وشاف د دروغژن

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بهرام بنځه دے بد رنګه رنګارنګ زیور پرے پورے
کهٔ زیور وهڅنے واخلے نوربه نهٔ پیرے په تورے
کهٔ احمق په دولت بنهٔ شی
کهٔ ترے لاړه شی خود به ګورے

څوک چه سپینه ږیره رنګ کا بیا ځوانی غواړی په زوره
په مثال کښے غلګے سپے دے په ګټوه وربوز توره
کهٔ قوت د مرد په ځائے وی
سپینه ږیره څهٔ پیغوره

د دے دور شیخان ډیر دی لور په لور اورنګ زیب بادشاه د واړو دے انځور
په هغه چارهٔ قلم ساز کا قرآن کښے په هغه چارهٔ شهرګ پریکا د رور
په رکوع کښے تسبیحات د پلار د مرګ کا
په سجود کښے نوری خپله مشره خور

خدایه واخلے هسے ذکر آلوده په ډیر غفلت
خدائے دځان دپاره بولی په عالم کا ندی منت
په الله الله وئیلو
تاخت تاراج کا درست محلت

کهٔ نه دمنه چه لولی دانایان کښے خپل ځان
که په داکښے څهٔ فائده وے بند به نهٔ وو شاه جهان
چه آسمان فتنے برپا کا
هورته څهٔ کا دانایان

منجم کهٔ درته نحسه آدینه کا یا طبیب وتاته بدے کا شکرے
په جمعه به ومانځهٔ ته ونهٔ ووزے له شکرو به هم ګرځے لرے لرے
په قرآن کښے چه شراب دی منع شوی
تهٔ ئے وے لکه پټی د مور نغرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَمغل په طباخ دیر یوسف مندړ دی
لکه وښی مچ دیر یښی درنګ تر درنګ
کهٔ کعبه کهٔ ئے قبله ده خو تنګه ده
په پیسه پسے به درومی تر فرسنګ
کهٔ پیسه دَ ملنګئ په لباس مومی
مصلے به دَ ګیدړ کا پسے لنګ
چه بنهٔ وخوری بیا بنهٔ کښینی بنهٔ خوب وکړی په پالنګ
کهٔ په اصل نامرد نهٔ وی تل به لوند لری خپل لنګ
کهٔ دِ دا صحت نصیب شی
دَ طبیب مهٔ ګورهٔ رنګ
کافری لکه بیزو دے دا متل دے دیرینه
چه جفتی شی له ناجنسه ضائع کیږی قرینه
چه اولاد له بیزو وشی
نیم آدم نیم بوزینه
چه نظر م دُ دنیا په روزګار وکړ بل خصلت م بنهٔ و نهٔ لیدهٔ ترجُوده
ورپسے م بنهٔ وئیل دَ عقل خوښ شوهٔ دا هغه دواړه بے خایه دی بے سُوده
جود هغه وی چه اسراف ورسره نهٔ وی
بنهٔ وئیل هغه چه نهٔ وی بے مقصوده
چه اوبهٔ په خاٹے حصار شی نور خاشی صفائی ئے هم په داده چه بهیږی
کانړی زرکهٔ سره وګوری یکرنګ دی فرق ئے دا دے چه په زړو زړه رغیږی
هغه زر تر کانړی لوټے لا بهتر دی
چه ئے وُمنډی په مزکه نهٔ خرڅیږی
آل اولاد چه دَ آدم دے بنهٔ ئے خوئ دے بنهٔ ئے روئ
هندکے آل اولاد دَ کوم دے چه نهٔ روئ لری نهٔ خوئ
خودَ طمع یا دَ پیار دی دوفائے نشته بوئ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د دے دور روش دا دے چه په مړۀ پسے تاپ نشی
نۀ خوښی شته نۀ خپلوی شته په خپل سود د هرچا زړۀ شی
نۀ حیا شته نۀ وفا شته
تاپ په چا پسے په څۀ شی

کۀ اوبۀ سړے په تنده په خواړۀ څښی د باړے اوبۀ خونړ ناحقه وځښی
پسته ونے پلوسین باړه ماتړے د تیراه د پاره غابنی مابنی وُمښی
یوجوزا دویم خرچنگ مزړے بل وړے
پکښے هومره مدت تیر کړی نور تړے تښتی

خدائے کم ذات سړے د علم څښتن مکړه د کم ذات د علم چارهسے لیدۀ شی
چه کم ذات ته څوک ښئینه کا د علم
په خمتا باندِ د زړو کشیده شی

مشکے چه لږ سُورے شی وار په وار کا اوبۀ توئے
په کور کښے فتنه لږه
را پیدا کا فتنے لوئے

چه بَل څراغ سړے په ساهه سره وژنی د کدائے د کچکول توک خوری لږ بسیار
یو اودس په چا رچوبئ کښے څوک چه کاندی
درے څلور کا روپۍ منع دی په شمار

نمړۍ اوخیژی صبا بیکاه پریوزی چالوئی خوبی ترسره نۀ ده وړی
چه کمال لری زوال ورلره تل دی
اوښ مکه کله پوسره کله نیمګړی

یا یاری له هیچا مۀ کړه یا چه یار شے د چا تۀ
بنۀ خوبنۀ دی کۀ یار بد کا
هم ئے ونیسه په بنۀ

کۀ په مال د مالدار زړۀ نۀ ډے ترلے په داځۀ کۀ کوته کوته سره پریوزی
تربیړئ لاندِ نۀ دی اوبۀ بدے بدی داکۀ د بیړئ په مینځ کښے کښیوزی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ملحد سړے مالدارشی مال به خرڅ کا په فساد
مُسلمان څخه مال بنهٔ دے
چه ئے مال شی دَ دین زاد
کهٔ عزیز دے کهٔ ذلیل دے په خپل خوئ کښے دے مدار
په خپل خوئ دَ باز قیمت دے په خپل خوئ دے تپوس خوار
یو په لاس دَ بادشاه ناست دے
دویم کرځی خوار بے کار
کهٔ دَ سرم دستار نشته کهٔ دَ آس م نشته زین
هومره مال هومره م څویه
دا په چا باندِ نفرین
برائی په ما آواز وشوله غیبه چه پیرمهٔ شه په فکرونو ممتحن
چه دَ دوست سره دِ دوست دے هغه دوست دے
چه دَ دوست سره دشمن هغه دشمن
سړی پیری کهٔ کل تورے نیزے شی کهٔ همه وارهٔ جهان شی دیو و دَد
چه تا نهٔ وی دَ چا سره بد کړی
له تا به هم څوک نهٔ وکاندی بد
رسم دَ دوستئ شرط دَ یارئ نهٔ دے داچه تهٔ م عیب راته هُنر کړے
شرط دَ یارئ دا دے کهٔ څهٔ عیب م وویني
تهٔ به راته ووائے په غه عیب م خبر کړے
ربستیا کړه له هیڅا نه مهٔ ویریږه ربستیا سړے له هرے بلاخلاص کا
شب کرد دے چه ئے دارشی له عسسه
خونیان دی چه به ویره دَ قصاص کا
اے چه دَ سرو بخملو په ځالیو پروت ئے دَ بنو زر بفتو په بالښتو نه
پاسه له خوبه وینې شه سر په سجو کړه
کهٔ دا راحت غواړے په بهشتو نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ بنهٔ دی خو هغه مرغونه بنهٔ دی چه نئے رنګ شته نهٔ آوازشته نهٔ مړانه
په بلاکهٔ ګرفتار دی خو هم هغه دی چه هُنرئے پاخیدهٔ له خپله ځانه
چه زور لری دَ لیچو زوردِ نهٔ کا په ناتوانو
اوکهٔ نهٔ ترهرچا لوئے دے
سیال نهٔ دے دَضعیفانو
میلمانهٔ وته یا شا کړه یائے بنهٔ وکړه خدمت
یا په تُورو ورتلهٔ مهٔ کړه
یا بنکاره کړه شجاعت
سرِم خوږشی له کمینه مهٔ کمین وے مهٔ ئے مینه
دَ دمړئ ورکول کا دَ مهرانو منت بد دینه
مګر سګ وی سړے نهٔ وی چه به دا منت څوک وړینه
دَ مردانو روش نهٔ دے
چه خپل ورکړه یادوینه
چه صبا صبا اوبهٔ څښی دَ انارو زهٔ حیران یم چه هغه سړے به څهٔ مری
کهٔ له مرګه چاره نشته وبه مرینه
باور وکړه په زحمت خوبه ونهٔ مری
ژبه بند کړه له ګفتاره لاس خوندی کړه له آزاره
نورغم نشته نهٔ اندوه شته
فراغت ګرځه بے پاره
چه تور مُشک راپاتے نهٔ شول سپین کوهر نهٔ شول راپاتے
نور به هیڅ نهٔ شی راپاتے
قصئ نشته کهٔ نه یاتے
هسے خوئ مکړه خوشحاله چه خپل هم له تا ویزار شی
ولے هسے سلوک نهٔ کړے
چه پردی دِ خدمتګار شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هم دا ژبه ده چه غم ده هم دا ژبه ده بنادی
کهٔ څوک خپله ژبه بنه کا
نورئ هیڅ نشته بدی
چه څهٔ غم شدت رارسی همکی شامت ځما دے
چه څهٔ عیش فرحت مومم واړه فضل وکرم ستادے
په خپل زړهٔ کهٔ سازیدے دَ هر چا کار
هیڅ حاجت نهٔ وو په مینځ دَ کردکار
په زمان په سړی هسے چارشی پیښه
چه دَ چا په فکر نهٔ وی هغه چار
کهٔ کیدلے په خپل زړهٔ دَ هرچا کار سکه حاجت نهٔ وو په مینځ دَ کردکار
چه رضا دَ کردکار وی هغه کیږی
دَ سړی فکر تدبیر کنړه بے کار
هیڅ زار دِ ځنے نهٔ کا چه له غیره څوک آزارشی
دا هم دَ مینے کار دے چه له یاره نه پیر زارشی
واړه سپی خوږونی بد دی چه دِ وُخوری څهٔ بدکار شی
چه خپل سپی دِ سپینه پرے کا
هغه لا یو کُوت کوپار شی
چه په هو په نهٔ پوهیږی پوره مرد کنړه هغه
هو دِ هو وی نه دِ نه وی
یاره نهٔ وی هو دِ نه
خواست په هیڅ توکی بنهٔ نهٔ دے چه ئے ځوئ کاندی له پلاره
چه په خواست سره څهٔ موے
تر دا بخره نشته خواره
تهٔ په کوم توکی دماغ کړے خپسر وکوره چه څهٔ ئے
چه ئے حیض و بول بوے هغه وینه زوه تهٔ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه هاتیان ساتی پیدا کا لویه خونه چه هاتیان پرے نوزی هسے ور
ګیدړ هرچرته خپل وخت ساعت بدل کا لوئے څنګل بویه مزری لره یا غر
لوئے ځنګ لره عمان وقلزم بویه په بیله کښے ئے تمام شی او بهٔ خور
هر مهتر چه حاجت مند شی د کهتر که با ور کړے دغه مړک دے د مهتر

که حاجت ئے پوره نهٔ شی ورته شاکا
دغه کار کنړه تر مرګه لا بستر

د احمق سړی زړهٔ نهٔ دے په ګوکل کښے زړهٔ ئے ځائے لری په ژبه کښے تر تلو
چه ئے څهٔ په زړهٔ کښے وشی یا څهٔ واوړی
خپل پردی وته نور سړشی په وئیلو

بادامے دی راالوزی په هر لوری د بد یو
چه په خپلو زړهٔ بنهٔ نهٔ شو بنهٔ به نهٔ شی په پردیو

خپل پردی واړه وهلی
که یاران وی د غدیو

اصیلتوب په نورڅهٔ نهٔ دے اصیلتوب دے په خویونه
په مریونو کښے اصیل شته
په اصیلو کښے مریو نه

د فرعون د جادو ماران باطل وو د موسیٰ د معجزے د مار د وړاندِ
عاقبت به فضیحت اوشرمنده شی
دروغژن چه له ربستینو ځجت کاندی

له هیڅا نه طمع مهٔ کړه که هوښیار ئے چه طامع سړے ترهرچا پورے خواردے
طمع درے حرفه لری واړه بے تکیه
هر یو حرف ئے غږوندی وته تیاردے

د بخیل سړی کار بد دے په دوه رنګه که په زړهٔ کښے فکر وکا نړۍ یا رانو
په هغه جهان حساب د تا نګرانو
او په دا جهان معاش د نادارانو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عاقلان بہ پہ وئیل کښے زړۂ رهبر لری د ژبے
اول فکر د زړۂ وکا بیا قصے کا عجائبے

د هوښیارو ژبه پته وی په زړۂ کښے راز به نۂ وائی اشنا ونا اشنا ته
لږ او ډیر وئیل به نۂ کاندی بے ځایه
هیڅ باطل وئیل به نۂ وائی وچاته

د هندکی په زړۂ کښے مکر حرکت لکه پیاز پکښے د پیاز کنده نکهت
لکه خوند د هریړے په هریړه کښے هسے کاردے د افغان د جهالت
کۂ هرخو پکښے د نیکو بوئ پیدا شی
له مغلو نه به لاړ نشی ظلمت

چه لښکرئے یکانه نۂ وی په جنګ کښے هغه کس به و دشمن ته وی مقهور
چه لښکرئے یکانه وی غم د نۂ کا
په غلیم باندِ به دے وی تل منصور

ونا پوهه ته داد ډیر و رکړه په غم کښے عاقلان په خپله پوهه مردانه وی
وهلک چه د لاسه ورکړے قرار شی
بیائے بل زمان ژړا په بهانه وی

غم ئے هیڅ مۂ کړه خوشحاله کۂ هرخو په کناه ډک ئے
آدم ئے نفس درپورے
نه چه پاک پیدا ملک ئے

چه د چا سره فلک په کمی پاسی واړه چارے په لاس واخلی بے تدبیره
د تړئ چه د خوارئ ساعت راشی
د هلکو په پرکه کښینی په ځیره

کهریالی د شپے له حاله خبر نۂ دی چه کهر بال وهی بے وخته بے هنګامه
د خوشحال د ستر کو کړۂ د شپے پوښتنه
چه بے خوبه پرے تیر یږی شپه تمامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ شیخان کهٔ زاهدان دی تورے خاورے ئے په سر
کهٔ قدم کښیږدی بے شرعے
په خلاف د پیغمبرؐ!
هر نعمت د خدائے له لوریه په سړیو عنایت دے
تندرستان دِ شکر کاندی
تندرستی یو لوئے نعمت دے
کهٔ شیخان کهٔ عالمان دی واړه بنهٔ راته بنکاره دی
په هرځهٔ کښے عشق بازی کا عاشقان گریوان پاره دی

دوه بنادئ د جهان دی یا بنهٔ خوئیه یا یاران
چه دا دوه بنادئ نهٔ وی څهٔ نر بنځه څهٔ آسمان

هغه یار چه بے وفا وی رنگ نے ورک شه تریاری نه ئے بنه ده نهٔ یاری
سپے چه څان سره آشنا کړے له تا نهٔ څی بے وفا په لږ ما نړه کا ویزاری

کهٔ هر څوچه مړنے وی چه وسله نهٔ لری مرد
د بنځو سره ناست وی نندارهٔ کا د نبرد

عاقلان چه د دُنیا خصلت وُوینی د دُنیا دولت و دوئ ته لکه بادشی
دا دُنیا لکه زندان ورته بنکاریږی په واتهٔ له دے زندانه په زړهٔ بنادشی

د بهرام په لښکر مهٔ څه په ورتللو کښے درنگ نهٔ کا
خوچه څهٔ خو تور بریښ وُشی نور د تیښتے نه ننگ نهٔ کا
مگر هورته ئے برے وی!
چه څوک هیچړے جنگ نهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هسے غلهٔ راکړ شول په دا دَور آخرین کښے !
چه فیل له اَنبالئ پتوی په خپل آستین کښے

زر دانے تسبیح لری شملے د روستو پریږدی
لوئے کتاب په لاس کښے بل سیال نهٔ کنړی په دین کښے

دَ پردے په پریکوْنه دَ پردے شی پتهید نه
یا خُما تبر پخ نهٔ وو یا خو سخته نهٔ وه وُنه
هسے رنګ په وُنه لاړشو چه ئے نهٔ وه کشرید نه

داچیستان عجب چیستان دے
کهٔ ئے حل کړے عقل منه

په جهان کښے ګرځیدلم په طلب دَ یوهٔ یار
بنهٔ چه رنځ م ضائع نشو په لاس راغے بنهٔ نګار

دَمزری غوندِ ځان ژغورہ مهٔ سرژه شه سرغنده
مزرے ځان په وقار ژغوری سرژه تیښت ته پرنده

ملک په مثل لکه غوادے چه تندان وربانډِ جنګ کا
هریو تند چه زورَور شی تند غیمه هغه ترځنګ کا

تر دیوال د ننه بنے وی چه په کور کښے لکه خم شی
چه بیرونه تر دیوال شی بنهٔ نور زن دَ مردم شی

اول بنے له پسه بدے
خو دِ رنګ دَ واړو کم شی

داحدیث دَ پیغمبر دے لکه کر هسے دروه شی
څوک چه بد نهٔ دے پخپله
هیڅ بدی به پرے ونهٔ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ په ملک چیرے پیدا شی هنرور د هغهٔ په کمی سرشی بے هنر
کهٔ د تخت د پاسه کښینی بادشاهی کا
آخر بیا د بے هُنر خاورے په سر

د خوشحال دیوان دوکان د جوهری دے پکښے واړه لعل و دُر یا قُوت الماس دی
د جوهرو قدر چا زده جوهری زده
نهٔ هغه چه مرغیچیے ئے په لاس دی

اورخو هومره چه د چا پرے زیست روزگار شی چه په هر لورئے لږے شی خیر کوم دے
د خانا نو خُو یه رونړه واړه اور دی خُو د اور لږے ډیر بیرې کار معلوم دے
چه غږیږی له بلا نه له بلا نه امن مومی
هغه سړے دا ډهٔ شی
چه په پرانک باندِ ور دروی

د سړی چه قضا نهٔ وی د غلیم په زهرو نهٔ مری
چه قضا د سړی راشی
د طبیب په دارو وُمری

د خُوا نمردئ روش دروښیم کهٔ ته خُوا نمردے پرے به عمل کړے
چه دِ په کف دی هغه په کف دی
چه یوسر بل سر شوخهٔ پسے زغل کړے

د غفا[۱۰۸۱] په بوکه پریوتے په غرو نو ترکابله ترا تکه سپینے واوړے
شکر زر به درست جهان سره کلزار شی
د بدکال په سرخو بیا شوے تورے خاورے

خوژوندے په جهان کرځی خوری خورل کا د چیرو
د مزری دستور دا نهٔ دے
چه جوته خوری د کیدړ و

کهٔ دُعا ده کهٔ توبه ده کهٔ دارو وخوشحال خمک ته خدائے ورکړه شفا
په دوه کاله د اسمال په رنځ اَخته وو ترے خلاص په ذوالحجه وو د غفا

[۱۰۸۱]

ketabton.com - The Digital Library

په جهان کښے دی دوه توکه بنهٔ آواز دویم بنهٔ مخ
چه لری دا دواړه توکه
د هغو کسانو سخ
کهٔ ته هرځوکینه کښ ئے د غلیم وهے ورمیږ.
وګردش وته ئے پریږده سره ګوره لیونه میږ.
لکه زلفے د دلبرے پیچ در پیچ دی په صفت ئے زهٔ هم هسے پیچ در پیچ یم
نهٔ پخوا د پښتو شعر وونه اوس شته
په دا کار کښے خو یوازهٔ لعنت په هیچ یم
کهٔ یار غواړے خوشحاله چه درست سرتر پایه بنهٔ وی
ورځه بے یاره ګرځه سکه دا هسے یار به نهٔ وی
په وریځ م کار نشته کهٔ آسمان وریځ وریځ شی
له باران سره م کار دے
کهٔ په شپه شی کهٔ په ورځ شی
د صحرا بنهٔ دی دوه توکه یو ژوره دویم لوړه
په لوړه نسدارهٔ کړه
په ژوره کښے ئے رغړه
په سپین مخ باندِ تورخال آرائش دے د جمال
په تور مخ باندِ چه خال وی هغه نهٔ لری هیڅ حال
د بنهٔ مخ ترسیری څهٔ وی
لکه تندر د هلال
چه په حکم د حکیم کاندی انکار ترهغهٔ نه به بل نهٔ وی ناپکار
د نادان د هوښیار فرق وی په دوه رنګه چه نادان به محتاج نهٔ وی د هوښیار
د هوښیار څخه کهٔ ډیره هوښیاری وی
بیا به دے د نصیحت وی طلبګار

... ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خساجوته مردار هډو نه سپے ګیدړ شرمخ کفتار خوری

دَمزریو هُنر دا دے

چه یا صبر یاخپل بنکارخوری

چه ئے واخلے ورته کښینے درته ګوری ورته ګورے

دالذت په جنت نشته

چه هم شوری هم پرے شورے

اوس دوه څیزه له تاغواړی یو ساتنه دویم سور

چه دا دواړه توکه نهٔ وی

نهٔ په غړهٔ ښهٔ نهٔ په کور

خُوانه ښځه لکه باد د نوبهار ده دَبهار په باد دننه زړهٔ خوښیږی

زړه ښځه په مثال د مُنی وخت ده

چه علت او رنځوری ترے حاصلیږی

رنځوران مری په درے رنګه خُنے وُمری بے طبیبه

څوک ناقص طبیبان وژنی

دَچا مرګ وی له نصیبه

نهٔ دَپیندے برکت شته دَهندکیو نهٔ دَتُورے برکت دَ ایرانیو

دواړه توکه مسلم دی کهٔ ئے ګورے

په دا ملک کښے په افغان په تورانیو

خدائے دِ سترګے دَبدخواه سړی رندے کا ستا ګلونه به اَغزی ورځرګندیږی

کهٔ په باغ کښے دِ یوګل وی زرخارونه

دَ نیکخواه به دِ په ګل سترګے لګیږی

چه لباس کاچه تقلید کاچه تمیتال رابنکاره شو وارپه وار دَهرچا حال

کهٔ شیخان کهٔ عالمان کهٔ زاهدان دی

له هیڅا نه زړهٔ روغ نهٔ دے دَخوشحال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لاڼے د هُنر کړه چه ترهرڅهٔ ښهٔ هُنر
څو وائے له زړاو
کانړے مهٔ وهه په سر
هغه یوڅهٔ مړ نتوب کا دغه دوه دی دَدهٔ ملے
یو حیوان دے په تورتم کښے باندِ تل وهی حملے

چه ئے وُوینی په ستړکو دَخوړونی حرص زیات شی
چه وُوته له خونے تودَ ښځے اودس مات شی

ښځه چه زړه شوه ور په لاس کړه نور څمڅه
وایه چه دا تهٔ ئے دا نغرے دے دا اوکړه

صغیره کبیره هرګناه چه وُشی هرګناه لره راځی پکار توبه
هم توبه له بدو وکړم هم ګناه کړم
له دے هسے شان توبه هزار توبه
یو حریص بل دروغژن دے هم احمق هم ترسمنده
داخلورکسه سړی دی دَ یارئ په کار ګنده
کهٔ یاری ورسره وکړے
زر به تاکا شرمنده
دَ دے زمانے څویه چه بے بدو نور څهٔ نهٔ کا
کهٔ ئے وګورے له پلاړه دَ مور غو ګتې کهٔ څهٔ کا

یو باز چه ښهٔ اَلوزی نهٔ ګنده بازونه لس
یو باز چه ښهٔ اَلوزی
هم هغه درلره بس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په قلم م رضانۀ دہ چه خبریږی ذ رازمنو به رازونه روبرو شی
په زړۀ هومره پرتے نۀ دی چۀ ئ شمارشته
اوس ئ بیا ورته سپرنه موبه مو شی
چه اصیل سړے کم ذاته ښځه کاندی په مثال سره ګډیږی غوړی تیل
بل دلیل به ترډاډه درلره راوړم
ذسرو زرو سره ویلے کړه سرویل
هیڅ باور پرے نشته ترین وارۀ منافق دی
ذ پخو سپینو توره و
وارۀ تور او سپین لایق دی
چه پرے رائشی حیران شی داروګر داسے و ذ چا کا
ذ دے کلی سسم دا دے
روغ ښځور وارۀ زکیروا کا
چه ئ تولہ کا په کور کښے پریشانی به ئ هغه وی
عاقلانو نۀ کړۀ جمع
پریشانی به ئ په څۀ وی
بنګ شراب دربانډ ځکه ناروا شول چه په بدو چارونۀ شے مبتلا
نۀ بنګ خوړے نۀ شراب څښے بے مستئ
آلودہ ئ په هزار آلا بلا
دویم ذ محرم ورځ ذ شنبه کال ذ غفج ۱۰۸۳ نۀ غشی وو نۀ تورے چه مغلو وکړ بج
شنوارو آفریدیو ذ ډکے خوارو مهمندو
روپئ په خروار یوړے مهران وارۀ په بج
آفریدیو، شنواریو زړۀ په الجه بنۀ کړ ایمل خان مهمند په ننګ په الجه دوارۀ
ذ خوشحال ختک په بخره خویونګ دے
ترنظر پورے ئ هیڅ ده دنیا وارۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ماله عقل له تمیزه بنهٔ بد بیاموندل دوه څیزه
بنهٔ تروکړو نورځهٔ نشته بد تر غوښتو اے عزیزه
واړه سرچټان دی کهٔ واړهٔ دی کهٔ غټان دی
شرم ننګ ئے نشته د لوړ دی د وندرے

کوم دے چه اقرار دے چه ځما شنوے تروے دی
څوک به هسے وائی چه وئیل م خاورے سرے
ځان په ځان ویزار دی یا لیوان دی یا کفتار دی
لویه چارئے نهٔ زده د اړخی دی د څورے

لنډ ورمیږ اوږدے پنډئ لویه ځوړنده لکئ
نوربه څهٔ کورم و تاته د بازونو لانکی تهٔ ئے

چه ئے سر ترپایه درست په غم کښے لیو کړم
راته وائی اوس خوشحال وُسه څهٔ غم کړے
د هجران ورځے چه کښے په شمار د عمر
د قضا کاتبه عدل کهٔ ستم کړے

ابدال په داخلورخویه ابدال دی کم وئیل کاکم د چا سره کنډون
کم ناستے کا په خوراک کا کمه مینه
په داشان ئے په عالم کښے وی ژوندون
هرڅوک هسے وائی چه کهٔ بنهٔ وی ځما کار
کار د هغهٔ بنهٔ شی چه خپل بخت ورسره یار
نیت د هرچا سره بنهٔ لره خوشحاله د خپل نیت نتیجه رسی و هرچاته
شمشیرخان ترین چه تا سره بدی کړه
خپل نیت وجوړیدهٔ دهٔ ته ستا و ماته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حلاوت دے دَجهان په بنو سړیو حلاوت دَ جهان واخلی بدسړی

بنهٔ کچړی لره غوړی پاکیزه بویه
دَ کچړی لذت ګنده کا بد غوړی

دَ بدانو سره کم کښینه کهٔ بنهٔ کړے دَ بدانو صحبت پاک سړے پلید کا

راشه نمر وته نظر وکړه چه نمرم
په څیو ذره ئے ابر ناپدید کا

میږی لا په بلا یادی چه ورپورے شی وزر
هنج خوهنج دے مشک به نشی کهٔ څوک سل وائی کهٔ زر

خو به نهٔ رسی ترآسه
کهٔ هرڅو دردمی نرنرد

شیطانان لکه مچان دی چه ناستے په چرکین ځائے کا
په پاکانوئے کار نشته
حفظ ئے تل کړم دَخدائے کا

کهٔ بدخوئی له مزکے لاړشی وآسمان ته په آسمان ئے دَ فرښتو سره روزګار کا
نهٔ به څنډ نهٔ به لاړغهٔ وی چه بدخوئے
هورے هم په سل غمونو گرفتار کا

کهٔ دَ نظم کهٔ دَ نثر کهٔ دَ خط دے په پښتو ژبه م حق دے بے حسابه
نه پخوا پکښے کتاب وو نهٔ ئے خط وو
دا دی ما پکښے تصنیف کړل څوکتابه

کهٔ هرڅو دَ صفت دے کهٔ مخ بنهٔ لری ګلشن
دَ مورتر کُس دِ تیرشی یا رچه نهٔ وی مهرژن

کهٔ تهٔ په ګور دَ مهرو یوراشے بلچیئے واخلے دَ لحدونو
نورڅهٔ به نهٔ موے دَ دوئ په ګور کښے
بے توره خاورو سپینو هډو نو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سپے چه وږے وی ډیر بدوی شوکوی وایږه مردارهٔ
څو چه مور وی هومره بنهٔ وی
بله نهٔ کا بده غاړه
د مجلس بنائست په څهٔ دے په نغمه او په شراب
له شرابو مِ توبه ده
زهٔ ماهی یم نغمه آب
چیرے نهٔ وی چه دلګیرشے وارخطا کړے کهٔ په تاباندِ محنت د سفر ډیر شی
کهٔ سفر د ډیرو کالو وی غم مهٔ کړه
د سفر عمر کوتاه دے زړبه تیر شی
چه وبرینبی سپینکئ د لنډ پریو شورهار شی
پویو مرد بویه خوشحاله
چه په ځائے باندِ قرار شی
چه څغ شی فلانه ومړ خلق ژاړی زهٔ خندا کړم
ډیر غم مِ د ځان وکړ
څهٔ به اوس اندوه د ځاکړم
هغه کارچه غړه توب وی تهٔ ئے دوست پریږده له لاسه
په خپل ځان غلطی مهٔ کړه
نور به هم وی ستا دپاسه
خپل کار وسپاره وخدائے ته نور خوشحال کښینه خوشحال
د هغوچه وکیل خدائے شو
لاهِل خلاص شول له جنجاله
دوه کاره دی په سوات کښے کهٔ خفی دی کهٔ جلی
مخزن د درویزه دے یا دفتر د شیخ ملی
دا دوه نشته په سوات کښے خوک چه وائی یاعلی
اَلصَّالِحُوْنَ لِلّٰهِ وَالطَّالِحُوْنَ لِیْ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه وهرسړی ته وګورے نظر کړے چه تر واړو پښتنوئ دی ډیر کلی
درے څلور تکبیره ووایه ترے تیرشه
دَمړدہ ژ هدیرے دی دَسوات کلی

کله مار وکه حمله په سمسارہ ترے پیدا شی مار بخړی په انګارہ
ولے نهٔ ئے مار مهره وی نهٔ ئے زهر نهٔ ئے توان دَ نمړدَ باد نهٔ دَ واؤرهٔ
چه دَ پلار نشان ئے نهٔ وی هوئے دَخهٔ وی لکه مار په سمسارہ جوهر سپارهٔ
عشقه تهٔ ئے کهٔ څهٔ نور عیب وعلت دے چه په مړد کړے رنړا ورځ تورہ تیارهٔ
لکه مار په زور په هرڅهٔ باندِ سورشی
دَ خوشحال غوندِ هم شته څنے سوارهٔ

مُسَدَّس

مکړہ روخ دِ نهٔ دے دَ غمزے په تیغ خونونه خون دَ عاشقانو خون بهالری لکونه
تهٔ چه را بنکارہ شے په وربل ایښی کلونه نرناحقه لاڅ دَ بنائست کا نورے جونه
تهٔ چه په کلرنګر جامو درسته شے کلګونه
سرے لمبے کړے بلے دَ حیران عاشق په خونه

خولهٔ دِ غنچه کل ده تیار یرې شګفتن ته تور بانړهٔ نیزے لرے دَ زهرونو وسفتن ته
مهٔ پریږده زلفینے په عذار وآشفتن ته ورځ دَ عاشقانو نزدے کیږی وخفتن ته
تهٔ چه پلو واخلے دَ جمال ونهفتن ته
ولے هسے کار کړے چه بے اوړه سیزے زړونه

ستړے دِ دَ بازدی وخپل بنکارو ته نیولی شونډے دِ مهرے دی وبیمارو ته نیولی
زلفے دِ زندئ کرفتار و ته نیولی زنه دِ منډه ده وخپل یارو ته نیولی
سپینے لیچے تورے وګذارو ته نیولی
سرهٔ دِ دَ عاشق په وینولاس ترمړوندو نه

ketabton.com - The Digital Library

هیڅ گناه م نشته ویره وکړه له آزاره
واچوه له مخه بیا پلو د خدائے دپاره
برنده راته کښینه چه دِ بنه کړمه ننداره
ته څه هسے نه ئے چه جفا کوے له یاره
واړه غمازان دی چه بلائے کړه دوچاره
مه لیدے په ستر کو د غمازو تور مخ نه

ورځے دِ محراب دی د عاشق ور ته سجود دے
مخ دِ سپین کاغذ دے د خط کښلے پرے درود دے
خال دِ چه د وروځو په پیوند باندِ نمود دے
واړه د آهونو په لوګیو تور کبود دے
درست دِ سر تر پایه ننداره سره وجود دے
ونه د جا ئفلو واړه کنج وږی ویخونه

نازدِ عاشق کُش وواوس دِ خال باندِ ثانی شو
رنګ دِ ودانی کا خوئ دِ خیر په ویرانی شو
تاکیسو پریشان کړ درست جهان په پریشانی شو
تاچه مخ بنکاره کړ درست جهان په حیرانی شو
خلق ځان ځانی شو د خپل ځان په آسانی شو
څوک دے چه به آخلی د خوشحال ختک غمونه

ترکیب بند

دل آرامه کهٔ ځما د درد دوا کا
سکه اول دِ هم د مهر دارو را کا
د دلدارو هوا دار له درد و دوکه
ځمادم د آهِ سرد سره وا وا کا
د وصال سودا سودا د سرومال ده
هرکدا کله دا سودا او دا سودا کا
د آدم د آل اولاد سره ګل مکر
کهٔ د دور رسم دا وواوس هم دا کا
درومه درومه کله مهٔ کوه له دوسره
کله کله دور هم مراد ادا کا
دا مهر و ملوکه وګورہ له اصله
کله دے و مرد مراد ورکړهٔ له وصله

دل آزارے کهٔ دِ څهٔ له ربه دار دے
زهونه مهٔ آزار وه روئ د دا دار دے
ته چه ژاړے په زار زار ژړا دِ آورم
دا دِ واړه درد او دُوک زړهٔ دِ آزار دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه اول دِ د زړهٔ داغ وَته آ رزو وه — اوس وردرومه زړهٔ دِ بنهٔ شئ چه داغدار دے
د زړهٔ دردکهٔ په زاړئ په زوراو زر وے — اے د زړهٔ له دردہ روغ په دا چار دے

چه د زړهٔ له دردہ روغ دے په زړهٔ روغ
داچه ژاړی ژړابنهٔ دہ په دروغ

تاچه کړے له هرچا سره یاری دہ — بنکاره کړی دِ له یاره طراری دہ
تهٔ چه خان کړے دلداره دلداره اے — کله چا له تا لیدلی دلداری دہ
ستا د قهر طاقت هیڅ راڅخه نشته — راشه قهر له زړهٔ لرے کړه زاری دہ
داچه کله عاشق خاندی کله ژاړی — دائے تللی له خاطره قراری دہ
کهٔ د سرشندنه کړانه تر هرڅهٔ دہ — چه له یاره سرساتهٔ شی اغیاری دہ

تهٔ چه سرساتے له یاره اَغیارے کړے
شیرین خان تر آشنا خار کړه کهٔ یاری کړے

زهٔ زایریم خانه ستا تر تله تله — تر تا خارشم خانه دِ یربنهٔ ئے تر بله
چه د غم په کڑهٔ دِ زهٔ زهیر شمید یم — تل تل خانده تل تل خانده تهٔ قا تله
چه تل تل په قهقهه خاندے زهیر یږم — څونا نرخه تویوے د خوږو تله
یو په شله بنائسته د جونو خانه — تا به ستایم تا به ستایم یو په شله
تهٔ جانا تره تازه تر نسترنه — زهٔ زهیر خسته جلیا یم تر بلبله

تر بلبلے جلیا زهٔ زهیر خسته یم
چه بلبله په غوغا نه زهٔ بسته یم

نن ئے لوئے څنړے کج کړے څوخوخمه — لوئے څنړے ئے خم خم تر قامت سمه
عاشق کله یو ساعت بے جانا پائے — کج لوکه ماهی هم پائے بے یمه
مخ په مخ شه ماته خانده چه خاطر م — هوسی شی په خوبنئ شی بے غمه
څوخوبئ لرے کل برے قد عرعرے — په بنهٔ مخ لکه لاله ئے لا پر نمه
کل ومل چه مخ په مخ شی پرے خوبنی شی — طوطا کله کویائے کا بے موسمه

کل خوبنی شی په موسم کلِ نرکس
څولاله بالا لولوکا عالم کس

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترجیع بند

ستاله لوریه کۀ هزار جور وجفا وی
له عاشقه به په سل رنګه وفا وی

په عاشق باندِ معشوقه عنایت کا
ستا مدام په خپل عاشق باندِ عنا وی

بنه ما وُمنل چه تۀ بے حد زیبائے
په جهان به کم څوک تاغوندِ زیبا وی

ولے خدائے چه بنۀ جمال وچا ته ورکا
نۀ په داچه دے بے مهره کبریا وی

کۀ قضا په ما زړۀ سوے کاهم به وُمرم
کۀ یوځو ورځے دِ جنګ وفتنے دا وی

کۀ تل ما سره غوغا جنګ وجدل کړے
خدائے دِ نۀ کا چه له تا به تلۀ ځما وی

ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره بنۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم بنۀ نۀ یم

هومره ډیره بدی مۀ کوه بدموړه
هومره ډیره جفا بنه نۀ ده بد موړه

کوم مُلا درته بنیلے دا سبق دے
چه بدی کوه له یار سره بد موړه

چه م زړۀ ساتی هغۀ ته به زړۀ ورکړم
تا دَ زړۀ ساتنه هیڅ نۀ زده بدموړه

خو فتنے او خرخشے دِ دی په ملک کښے
کۀ بے دا دِهم څۀ نورځۀ شته بد موړه

دَ عاشق سره تل جور هم بنۀ نۀ دے
کله کله څۀ خو مهر کړه بدموړه

ستا دَ در په خاورو پروت بے قدره بنۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم بنۀ نۀ یم

په چشمانو دِ مئین یم راته ګوره
دَ زلفینو دِ هندویم مۀ م پلوره

په دا شکل شمایل چه لکه تۀ ئے
لا عجب کۀ څوک زوولے وی له موره

په بنائست کښے دِ مخے دَ بنائست نشته
حیف خودا دے چه بے مهره ئے هر ګوره

چه زۀ ستاله دوکه مرم راته دِ شاکړه
مکر مینه دِ دَ زړۀ شوه له ما توره

ستاله دره له دربارِه به لاړ نۀ شم
کۀ هر څومِ په جفا سیزے بے اوره

کۀ هزار جور وجفا کړے ګمان مۀ کړه
چه له تا به م دَ زړۀ مینه شی نوره

ستا دَ در په خاورو پروت بیقدره بنۀ یم
په بل لوری کۀ په تخت کښینم بنۀ نۀ یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ پہ ما باندِ څوک زړۀ سیزی بنائینہ
نۀ پہ حال مِ رحم کاندی ځائے لرینہ

کلہ څوک لہ خپلہ یارہ هسے کا ر کا
چہ هلک ئے لہ مرغئ سرہ کو ینہ

تړئے ولے لہ آزارہ نۀ ویریږے
مبتلا خاطر مِ ستا لہ غمہ مرینہ

خبردار دِ پہ وفا پہ جور نۀ یم
درست صورت مِ آغشتہ شوستا پہ مینہ

پہ جفا پہ جور دِ هسے رنګ عادت دے
چہ خاطر مِ ستا بے جَورہ نۀ پائینہ

چہ دِ زړۀ هسے جفا جور پہ ما کړہ
اوس ځمادہ ستا دَ ورځبتہ بالینہ

ستا دَ در پہ خاورو پروت بیقدرہ بنۀ یم
پہ بل لوری کۀ پہ تخت کښینم بنۀ نۀ یم

تۀ هم څۀ خو فهم کړہ ځما لہ آهہ
هسے جور پہ ما مۀ کړہ بے ګناهہ

یکبارہ پہ خپل بنائست غلطی مۀ کړہ
کۀ پہ حسن کښے تیرے لرے ترماهہ

کۀ پہ تا باندِ زۀ نۀ وے مئین شوے
خلقہ بہ پہ تاهم نۀ وہ آ ګاهہ

چہ مجنون باندِ مئین شو نوم ئے وشو
ګنړہ نۀ وہ لیلیٰ تورہ خانہ سیاهہ

محبت مِ دم پہ دم پہ تا نړیا تیږی
پہ داحال مِ دا دہ زیړہ ګونہ ګواهہ

پہ دربار دِ درویز کړدَ دیدن پروت یم
یو قدم بہ دِ وانخلم لہ درګاهہ

ستا دَ در پہ خاورو پروت بیقدرہ بنۀ یم
پہ بل لوری کۀ پہ تخت کښینم بنۀ نۀ یم

دَ رقیب پہ وئیل مۀ وځ نہ ما یارہ
دَ یاری حق پہ تا ګښړم بسیارہ

کۀ مِ وځے بل ګناہ پہ ما ثابت کړہ
چہ رابنۀ دَ رقیب زړۀ نۀ شی یکبارہ

کۀ زۀ ستا لہ لاسہ ومرم بختور یم
خو وینادہ دَ رقیب پہ ما د شوارہ

ستا دَ مخ محبت هسے پہ ما پیر دے
لکہ مینہ دَ بلبل پہ ګل بسیارہ

تل جفا دَ بنائستہ ډیرہ مل وی
پہ جهان کښے بہ هیڅ ګل نۀ وی بے خارہ

کۀ تۀ هر څو جفا کار او دل آزار ئے
زۀ خوشحال بہ دِ لاړہ نۀ شم لہ دربارہ

ستا دَ در پہ خاورو پروت بیقدرہ بنۀ یم
پہ بل لوری کۀ پہ تخت کښینم بنۀ نۀ یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مُخَمَّس

کورہ مونږ بہ څہ شو هیڅ خبر نۀ یو لہ حالہ ورځ او شپہ چہ در ومی خالی نۀ یو لہ جنجالہ
مونږ بہ پہ مرګ ومروکۀ مو عمر شی زرکالہ کور لرہ بہ ور شو پک لرلی لہ وبالہ
بلہ تکیہ نشتہ خو هم ستاده ذوالجلالہ

شی د مرګ لہ لاسہ پہ هر لوری طوفانونہ درومی پہ ساعت کښے د کالو نو سامانونہ
پاتے شی پہ زړۀ کښے پہ زرګونہ ارمانونہ کا نړی یو کۀ څۀ یو بلا سخت لروځا نو نہ
حال مو بدل نشی نۀ څۀ کم لہ خپلہ خیالہ

کلہ خیال د پولو د پتیو د باغونو کلہ خیال د دشتو د الګډیو د راغونو
کلہ خیال د زرو د کوهرو د لالونو کلہ خیال د عیش د عشرت د ا یاغونو
کلہ خیال د کښلیو د جمال لہ خط وخالہ

لږ خیالونہ نۀ دی کۀ ئے وایم پہ زرګونہ هر زمان را زیږی واړہ ستالہ اندرونہ
ورځ و شپہ پرے درومی د خیالونو کاروانونہ هم پہ بیدارئ هم پہ شپہ وینے خوبونہ
ستاده د زړۀ مینہ پہ خیالونو مالامالہ

کلہ کوز پہ مزکہ کلہ پاس پہ آسمان شے کلہ کدائی کړے کلہ خان لرہ سلطان شے
کلہ شینے واخلے پہ حلقہ د درویشان شے کلہ دانشمند ملا دانا د درست جهان شے
سر شے پہ وئیلو پہ خورنګہ قیل و قالہ

خورنګہ ستاینہ د خپل علم کړے آغازہ هم لہ خپلہ علمہ هم لہ زهدہ لہ نمازہ
تۀ کۀ غلیواز ئے خپسر واړہ کړے تر بازہ نور ے بازئ څۀ دی بازی د خدائے سرہ انبازہ
شرم حیا نۀ کړے نۀ نادم شے لہ افعالہ

ما روی هغہ علم چہ پہ تن د چا لګیږی یار وی هغہ علم چہ و زړۀ و تہ رسیږی
درست تحصیل حاصل کړہ چہ خصلت دِ نۀ بدلیږی خرڅ ئے کتابونہ پہ تا کښلی سر وانیږی
هیڅ دے هغہ علم چہ خالی دے لہ اعمالہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کله درویشان دی چه د خدائے په نامه غواړی درپه درجار وزی لکه خرونه هسے ناړی
هیڅ پوښتنه نۀ کا چه څۀ مومی واړه نغاړی کوم ته چه څۀ وسی په خندا خندا وویاړی
تش خالی چه ورشی خوب ئے نۀ کیږی په ساله

بنۀ سړے هغه دے چه ځان کم ګڼی تر بله مکر دروغ نۀ کا په ریښتیا کښے وی هر کله
چا رچه باندِ ورشی بله لابنۀ کا تر خپله شکر په نعمت کا په بلا صبر تر بله
زړۀ ئے خالی نۀ وی همیشه له اشتغاله

عقل آسمانی دے ته ئے مۀ غواړه په مزکه ځائے د ګومی راغے په حکیم په پنډت ځکه
خپله پوهه واړه شریعت وته کړۀ ور کله سپک به شی بے شکه څوک چه شرع کوړی سپکه
لاړد شریعت ده بے آفتابه بے زواله

څو رنګه عالم دے خوښ خورم په خپل روزګار هرچا ته چه ګورم واړه ښځ دی په خپل کار کښے
واړه خپل مراد غواړی په صبر په تلوار کښے سود ګوری مقصود ګوری په هڑ هره چار کښے
واړه خپل قسمت خوری د دنیا له ملک و ماله

ولے کناس نۀ دے چه مالک د زړو پوښی کبر لوئی واخلی عجب خیال باندِ نزول شی
دے کۀ نا قبول دے په هرچا باندِ قبول شی کله ئے نظر د چا په فرع په اصول شی
څۀ به درته وایم زۀ د زړو له احواله

خدائے کوکۀ خبر وم چه دا زر هسے بلا دی اوس چه پرے خبر شوم راته بد تر اولا دی
څکه راته بد شول چه د هر سفله ترملا دی مخ د هغو تورشه چه په زړو مبتلا دی
نام لره پکار دی کۀ نه کم دی ترسفاله

پاک دی کۀ نا پاک دی د خپل ځان ثنا صفت کا خوښ له خپله ځانه په خپل کار کښے فراغت کا
هیڅوک محتاج نۀ دی چه به غور په نصیحت کا خپل غرض ته ګوری کار د زړۀ په مصلحت کا
ولے فضولی کړے دم په خود اوسه خوشحاله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ترکیب بند ذوالقافیتین

څۀ د بد وخوب ووچه م وُلید و سحر
ستړکے م رنړے کړے نا قرار شوم په بستر

پاسیدم له کټه لکه خوب شی د چا سر
هسے شان اوتر شوم نۀ م لیر لیده نۀ ور

لاړم ترمبرزه هسے راغلمه اوتر
غُسل م په ځائے کړ په سنت د پیغمبر

درست خلق اودۀ وو واړه وخوب کاوۀ خرخر
هیڅوک خبر نۀ وو اشرف خان م کړ خبر

هرچه نصیحت وو لکه بویه د پدر
ما په کتابت ورته ادا کړ مختصر

جوړ شوم پیښور ته چه راوا م خست جدر
ونږل سرو نازه په دوه ځایه مکرر

ورځ وه د جُمعے رجال الغیب وو برابر
ټلۀ مغرب رویه وو په داما نۀ کړ نظر

څوک به وجار باسی مبرم حکم د داور
پیر د فراست لری هُنر کنج و لښکر

لاړم ترمسجده نمونځ م وکړ پکه تر
سور شوم په سیلئ نور م واچوۀ په لیر

هسے په هوا تلم لکه باد درومی صرصر
کوښے تنها تلمه په نوښار وخوت نهر

نۀ وو لا دوپهر چه م ځائے شو پیښور
واستوۀ مغل ته ما هغه ساعت نفر

وے م دایم راغلم ستا په خطستا په خاطر
کوم ساعت حاضر شم په ما کومه لړے چر

داځواب ئے راغے چه راتلۀ د وو بهتر
ګاندۀ په دیوان د رابنکاره کړه خپل پیکر

درے ورځے شوے تیرے دیوان نۀ کړ کیدی خر
دے په څو وماته زۀ له ځانه بے خبر

شیخ د ګجرات دَدۀ پیشدست وو یو بشر
سر تر پایه واړه په دیدن کړیه نظر

دۀ وے ترما راشه چه کنګاش کړو مقور
بیا به د نواب ته ویل کړو زیر و زبر

ورغلم تردۀ پورے زۀ پاک په خپل باور
تړونه م نا اهل مغلی شوی په داشر

لور په لور مغل ترما چا پیر شو په هُنر
مفت ئے په لاس کښیوتم په حکم د قدر

ژغ وشو په شهر داخبر شو منتشر
هیڅ انۀ پسندل په خدائے پسنده وو مګر

کُوزئے کړم له کوټه چه ئے کښیوتم په جال
زرئے را په پښو کړے پنج سیرئ بیړئ کوتوال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خورشو په ملکونو د اخبر په درست دیار — درست عالم دلګیر شو لا پښتون یار او اغیار
هرچه اُمرا کان وو په صوبه کښے منصب دار — کل عالم حیران شو چه ئے ولیعهد دا کار
لاړل په صبا د وخته تول شول په دربار — وئے وے دا هسے رنګ نیک خواه د شهریار
دا رنګه نیوهٔ شی نواب بنهٔ کنړی داچار — چپه خولهٔ شو پاتے هیڅ ئے ونهٔ کړ کفتار
پاسیدل له ځایه اُمرا کان شول تار په تار — درے ورځ شوے تیر ځما تر ونه نا پکار
ورغلل مغل لره قبول ئے کړل مدار — آس او خلعتونه مغل ورکړل په اقرار
ملک ئے ځما ورکړ نالایق ئے کړل سردار — کور او خیلخانه اُولس همه شو خبردار
درست ختک د دیو وکشتن ته شو تیار — روح د دیو والوت په بلا شو کرفتار
ما وخیلخانے وقام ته وے په زنها ر — مړک کشتن نهٔ بویه نهٔ څهٔ نور شر و اشوار
یو به دشمن بنا د شی چے ئے ورک کړ خپل تبار — بل به فساد کړ شی د بادشاه دروهی اعتبار
دوئ او درست اُولس په زیارت و شیخ رحمکار — تول شول له دے کاره په قریب شول توبه کار
څو یم نادان وو په خطا لاړل بسیار — مړک کشتن که نهٔ وی د دے مهٔ پریښوے وقار
بل فکرے نهٔ وو ورپیدا شو د څا ر — مړک وته م کښینا سته په لیل و په نهار
دوئ په زړهٔ کښے داوے چه که سل کروکه هزار — هر کله چه خلاص شی فلانه مونږه یو به دار
تیر شوے په بند کښے څا دوه میاشتے په شمار — ملک واړه ویران شو خلقه شوه په کهسار
وغوښتے پنځوس زره روپئ صوبه دار — ما وے دربه نهٔ کړم یو پوچک نهٔ یو دینار
دواړه لوریه وکړهٔ سره دا قول اقرار — یو مغل بے پته بل م ترونه شر مسار
اوس خو باندهٔ دادی چے ځلے وهند وبار — زرے فکر بویه په تعجیل او په تلوار
زر په دا لاخوښ وُم چه کهٔ ورشم تر دربار — د عمر دولتخواه وُم د عزت وُم طمع دار

هند ته ئے روان کړم بدرقه م مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوری ارباب

زهٔ ئے کړم له بناړه په شتاب شتاب روان — راغلم نرم نرم په رباط د شابیګ خان
درسته شپه څوکئ د محب خیلو په خپل ځان — بل وو مصری خان داؤد زے یو تول احدیان
راغلم تر نوبناړه په صباهم په داشان — خلق په ژړا په نندارهٔ راته حیران
څهٔ به د نوبنار د شپے زهٔ کوم بیان — درسته شپه زلزل وو په هند و په مُسلمان

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

صبح ئے کوچ وکړ پښتانهٔ مغل لرزان
لوړپه لورفوځونه ووځاتوله ترمیان

ماووپیغام کړے په اولس په اشرف خان
نهٔ بویه دجنګ دخرخشے فکر سامان

مونږه دبادشاه یو قدیمی دولتخواهان
یوم نام بدیږی بل ستهیږی افغانان

راغلمه ترسرایه سرائے یک لخته وویران
تابه وے هرګزنهٔ وومیشتهٔ دلته انسان

څهٔ به درته وایم څهٔ پیرے لری آسمان
څوک ورته توانیږی چه شدت کاندی عیان

دیرے ګرانے راشی په سرپیو په جهان
خدائے وسړی ورکا بیادهرے چارے توان

ګران ساعت هغه ووچه م ولیدهٔ عثمان
بیاراغے زینو دخیلخانے یوځوځوانان

راغلهٔ په ارمان خُلهٔ جداشو په ارمان
زهٔ او دوئ د سرائی جوشجروړه کړیان

راغلو په ټرئ ننداړچی مردان زنان
هسے رنګ ولاړوو لکه بے روحه بُتان

راغلو په ګړئ دخیرآباد پیچان پیچان
پورے کهٔ راپورے خلق واړه ننداړچیان

هرچه راسړه ووهغه واړه وو ترسان
چاوے چه ختمک به حاضرنشی په میدان

ماخوپیغام کړے ووهم دام ووګمان
اوس به راځرګندشی له یوهٔ لوریه نشان

هسے جنګ به وشی په دا آخرالزمان
ګوره څوبه شمارشی دواړه لوریه کُشتکان

جنګ جنګ جدل ونشوحکم داوو دیزدان
پورے شوم ترسیندهٔ په اتک شوم نګران

درست اولس م واړه په غوغاپریشان حیران
ویرم په کورونو په هلے هلے م فرزندان

راغے په ختمکو باندِ هسے یو ساعت
تابه وے نازل شو په جهان کښے قیامت

زهٔ ئے له اتکه نه روان کړم په داحال
ورئے وړم په پړه په باباحسن ابدال

بیاله هغه ځایه په پنډئ په استعجال
بیاله هغه ځایه تر رباطه وشو چال

راغے په رباط کښے له نوابه یو مثال
بیائے بیرته یوړم ترپنډئ دم درحال

راغے په پنډئ کښے یوخط په دا منوال
وانږی ئے په وړاندِ ودربارته بے اهمال

لاړم له پنډئ شپه ترمینځ د ګڼړتال
لاړم ترلاهوره کوچ په کوچ په ارتحال

خُویه سعادت باقی میرباز پریشان احوال
راغلهٔ په لاهور کښے راپسے دوئ په دنبال

وړاندِ ترما لاړل و دربارته په ارغال
وئے کړه بخشی تر له دے حاله قیل وقال

خُوئے دمیرجمله دے میربخشی په استقلال
ډیرمهرئے وکړ د لاسا جوال جوال

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وے ئے راورسی دربار وته خوشحال — نور به سرفراز شی غم ئے نشته یو مثقال
زهٔ هم په وسط د رمضان کوچال کوچال — ورغلم دربار ته زرخلور اویا وو کال
دیرورد وبدل شو په دامینځ کښے څواب سوال — حکم د خلاصی په ضمان وشو په اجمال
څائے په حویلئ کښے ترخپل څنګ راکړ کوتوال — جوړ شو ضمانی ته سید شمس د جلال
مونږ په دا فکرت ووچه په میاشتے د شوال — راغے عرض داشت د سید میر په دامقال
مهٔ پریږده خوشحال د دهٔ پرینبول دی اختلال — بیا په مینځ کښے پریوت د خلاصی دیر جنجال
ملک منصب جاګیر څما تغیر شو مال محال — دولس منصبدارم تابینی شول پائمال
نرناحق په کښل د بدوئیل د بدسګال — وپسندهٔ ظالم بادشاه په ما باندِ اشکال
زهٔ دلے په بند هورے څا اهل وعیال — تار په تار په غرونو په عذاب او په وبال
هسے چارے وشوے چه د چا نهٔ وے په خیال — نشته د اورنګ بادشاه په عدل اعتدال
لور په لور خورے شوے رالښکرڈے د دجال — نشته یو مهدی چه رابسکاره کا خپل جمال

دورد آخر دے فساد کړ شو لور په لور
یو تر بل اخته شو جهان واړه کور په کور

خدائے راباندِ راوست داهمه واړه محنت — څوچارے سبب شوے درته وایم حکایت
یوچه زهٔ مغرور وُم په راستئ په خدمت — بل د مغل طمع څما نهٔ ورکړل عادت
بل م ناشکری بل د رونړ وحماقت — بل چه فرز ند انو م خطا کړ مصلحت
یو څله هم نه خطا خطا کرت کرت — واړه مشرانو اشرف خان بهرام سعادت
وم کړ اشرف وته د تورے اشارت — هیڅ عمل ئے نهٔ وکړ څما په نصیحت
څهٔ خدا یار خلیل څهٔ ئے حیا څهٔ ئے حرمت — څهٔ جګرام هندو څهٔ د هندوانو برکت
یو یو څوان پوهیږی د غلیم په حرکت — زهر ګډ وُل شی د شکرو په شربت
څوبه هغه څوبه چه هُنرلری حکمت — پوه وی د دښمنو په فریب په خدیعت
ونیسی په لاس کښے سخاوت وشجاعت — نهٔ صرفه په څان نهٔ په جهان اعلیٰ همت
دریغه اشرف خانه دستیاری هومرهٔ قوت — درست اولس په لاس کښے هیڅ درونشو جرأت
وراغلل مغل ته د اشرف وو قباحت — هم څما آفت وو هم هرچا لره آفت
څوچه ملک ویران وو د مغل وو د پیر هیبت — وشوه ودانی د ملک پوره ئے شو حاجت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وئے کښل بادشاه ته دجګرام مجرا عزت
بوت ئے ووکابل ته اشرف خان په شرارت

پاسیدهٔ بهرام ته په دامینځ کښے یوغیرت
درست اُولس ئے تول کړ په نړئ را اوخت

تشے سرهوا غوښتے دبازنهٔ وی خصلت
بازنهٔ ووباز رنګ ووچه شکاره ئے شوحالت

زهٔ وُم په دهلی کښے گرفتار په دازحمت
تیرے شوے په بند کښے پنځه میاشتے زیادت

بیا دمیرجمله خویه بادشاه نهٔ په خلاصت
غرض ئے خُما وکړ دمیرخان په کفالت

داووے بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت
زن بچه کهٔ راولی و هند ته په سرعت

حکم ئے داوکړا میرخان ته وشول کښل
زهٔ په بند بندی خُما کوروته راوستل

واوریدهٔ داحکم سعادت باقی میرباز
راغلهٔ یکایک ئے حقیقت کړ را آغاز

میاشت وه دصفر چه درے واړه لکه باز
وئے کړ وطن ته په رخصت خُما پرواز

لاهل تروطنه په شل ورځے یکه تاز
یو په ځائے را نغے چه زمونږ ووسړه راز

غرب وته قبله وه ومشرق وته نماز
تلهٔ ووکربلا ته دحج لورے وو حجاز

خهٔ به درته وایم له دے حاله دور دراز
کوتے کوتے حال دے مختصر بویه ایجاز

واړه لوئے هلک چه م ساتلی ووپه ناز
واړه په نعمت کښے پرورده مملوک شیراز

تارپه تارخوارهٔ شول مبتلا په ډیر نیاز
دُور دګردون کړل دُ بلا سره آ نباز

هره ورځ فلک لری تازه تازه طراز
هیڅ باورے نشته په نواخت او په نواز

وولی په مزکه یو ساعت کښے سرفراز
پروت په توروخاورو په زمان ئے کامتاز

ډوب کا په دریاب کښے چه محکم لری جهاز
وباسی له مینځه چه ئے نه زده وی شناز

خهٔ کړم چا ته آه کړم هیڅوک نهٔ لرم دمساز
چاوته ناره کړم څوک م نهٔ آوری آواز

دروم په بل لوری په فلک راشم بازباز
مهٔ وے دا فلک مهٔ ئے داهسے امتیاز

اهل په خواری کښے نا اهل په اعزاز
خیرے خط میرمنے خدمتګارے په پیشواز

هرچه آبلهان دی روغنئ خوږ دُ خُباز
هرچه دانایان دی نان خورش نهٔ لری پیاز

نشته دَ ربستینو کره یوکُهنه پلاز
سرهٔ تغر په کورکښے دروغژن لری غماز

نورمرغونه کرځی په باغونو په طناز
بندی دی هم هغه چه یلے رنګ شته یا آواز

آس واړه شاخوږی په نشیب او په فراز
خروهی خر تیزے په آخور کښے په رباز

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوبه درته وایم حقیقت دے کهٔ مجاز .. بس کړه داخبره مختصره هم ایجاز

څهٔ کړم نهٔ پوهیږم دا فلک سفله پرور
لاس رسیدے دریغه چه پرے سوړ کړے تټر

دوه ځله سرائے مات شو یوځا په بندیدل
بل د سعادت باقی میرباز په رسیدل

یوځله په ماتے ترهنګاله ورغلل
بل دا کوزیو په سیکری ننه وتل

نهٔ ئے تورهٔ سره وه نهٔ د سرو ماتیدل
څویه م له ملکه له اوله وو تل

زهٔ په هند کښے بند وُم اشرف خان وو په کابل
وارهٔ زن بچه م په سیکری کښے داغیدل

راغلل و بادشاه ته د کابل د صوبے کښل
ملک د سرائے ویران شو پرے بیحد و شور زلزل

ځائے په ځائے فوځونه په څوکئ کیناستل
لار د سرائے نیولے مسافرئے چلول

جوړشول یوسفزئ څنګ سرائے ته په وهل
څو تنو ان ئے بوتلل په سحر ترے وختل

بارے څهٔ وختل وو نهٔ وختل وو نهٔ مستل
بارے څهٔ وهل وو نهٔ وهل وُو نهٔ مهل

نام ناموس م لاړ شو چه اعتبار وو د مغل
نوم م د بدخواه وو چه نیکخواه وُم تل تر تل

ملک ئے وو راکړے په پنجاب کښے متصل
حکم د بادشاه وو صادر شوے په پرینبول

لیږدے کهٔ محنت دے کهٔ کشتن دے کهٔ شړل
وارهٔ په قسمت کښے په سړی باندِ نازل

داچارے چه وشو بیا ترمینځ شو فکر بل
څوک ئے په چا نهٔ کا د سړی دے نصیب خپل

زهٔ د یوسفزی په ځان زهر وُم قاتل
بل مقصود م نهٔ وو په خدمت کښے د مغل

دیر شاهان څوانان م یو د بله وُوژل
تیر ساعت ارمان دے پښیمانی نشته حاصل

دا په خیال د چا وو یا په فکر جار و تل
خواست رضا د خدائے وه په هر شان چه شوے شول

شاباش په هغهٔ شه چه د ننګ و کا پالل
راغله یوسفزئ لکه پیښ شو کار مشکل

یو وو ها ئیزے را نریزے ورسره مل
لوئے هلک م وارهٔ تر دریاب پورے وتل

لاړل ترسیکرئ ورسره مل کور و نه سل
نور څنګ م وارهٔ په خپل ځائے وُدریدل

څهٔ بلا د خدائے ده د وطن جدا کیدل
رونړه عزیزان خویشان و بله بیلیدل

یوهے هائے هائے وو په ژړا وو لوئے هلک
درست عالم حیران شو چه څهٔ کار شو په څنګ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خدائے خوخبردار دے کہ بنکارہ نۀ دی پہ چا
بندیم خلاص دِ نشم کہ دروغ وایم پہ ذا

خپل ووکۀ پردی ووکۀ آشنا کہ نا آشنا
چاسرہ م نیت دبدو نہ وو د جفا

ھرچہ مخامخ وُم ھسے شان وُم پسے شا
بل فکر م نۀ وو نہ د روئی نہ د ریا

ھیڅکلہ پہ ظلم سرہ وادار نہ وُم اصلا
ھرچہ ظلم کار وو لہ ھغہ م وہ بلا

ھرچہ رعیت ووڅۀ غریب ووڅۀ غربا
دام ووپہ نیت کښے چہ آزار نشی لہ ما

زرکۀ زرینہ کۀ مال وملک وود دُنیا
واړہ م پیرزو پہ خیلخانہ وود آشنا

بدوُم لہ ھغوچہ مبتدع وو ناصفا
درست پہ زړہ مئین وُم پہ فضلا پہ عُلما

قصد م لہ ھغو ووچہ مفسد ووبے وفا
غم م لہ ھغو ووچہ غلیم وود بادشا

عمر م چہ تیر شو پہ راستئ پہ ریښتیا
نۀ م وہ پہ کار کښے د مغلو ھیڅ دغا

پلار نیکۀ م ځان کړد نمک پہ کار فدا
بل پښتون م نہ وو پہ راستئ کښے ھمتا

ځویہ م پہ بندشۀ لہ وطنہ شوم جلا
څوچارے راوشوے نۀ گناہ نۀ م خطا

تار پہ تار م لاړے خیلخانے کجا کجا
واړہ پہ ډیر غم کښے مبتلا جدا جدا

ملک واړہ برھم ودان بنھرونہ پو پنا
تار پہ تار لہ ملکہ درست عالم پہ واویلا

څو میاشتے پہ بند وُم پہ دھلی کښے پہ عنا
اوس پہ رنتنبور کښے بندی پروت یم یکتنھا

ھیڅ د اورنگ زیب بادشاہ پہ دانشتہ پروا
خلق کۀ د دۀ لہ ظلمہ کاندی تل ژړا

گونبی پہ مانۀ دہ ډیرہ وشوہ پہ ھرچا
شل صوبے د ھندی پہ ھرلوری ډغوغا

ھرچہ کتکان دی پہ صوبہ کښے کد خدا
څوک پہ بند بندی دی څوک لاکړی ناویسا

یو پہ رنتنبور کښے دوہ سو ناست دی مبتلا
څوکو ټونہ نوردی پکښے بند دی بے احصا

ډومبئ ئے تر واړہ پہ خپل پلار سرہ کړہ خوا
بیا درپسے نور وھی چہ دی اعلیٰ ادنا

رنگ د ھغو ورک شہ چہ آوتہ وائی دروغ
نشتہ څوک پہ ملک کښے چہ لہ ډوی پہ زړہ روغ

دہ چہ لہ دکنہ نہ راھسک کړ خپل علم
ورک ئے کړ پہ ظلم ھم پہ مکر دیر عالم

وئے کړ اول لہ مراد بخش سرہ قسم
راغے پہ اُجین جسونت سنگھ ئے کړ برھم

بیا پہ آګرہ راغے پہ دارائے کړ تورتم
بند ئے شاہ جھان کړ ترے بیل کړد رستم حشم

بیائے مراد بخش د شاھجھان سرہ کړ سم
یورئے ترملتانہ پہ دارا پسے برچہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیا راغے په بیړته په شجاع نے وروست غم
جنګ وو په کجوه کښے چه شجاع شئ منهزم

بیا داراجنګ وکړ په اجمیر کښے بیش وکم
مخ په مغرب وتښ داراشا برهم درهم

ونیوهٔ جیونړ پنړی په کور کښے په خپل چم
رائے وست دهلی ته دَدهٔ سرے کړ قلم

بیا سلیمان شکوه د دارا خوئ مکرم
راوست راجپوتانو گرفتار شو په اَلَم

لاړ شو شاه شجاع ته مشر خوئ شو دَدهٔ رم
بیائے خُنے بیل کړ په ډیر مکر په ډیر دم

بیا په شاه شجاع پسے دلیر وو معظم
وئے یوست له بنګله گوره چرته ځکوی دم

رائے وست په خونه دَخپل پلار هسے ماتم
کارته نے حیران شو همګی عرب عجم

دا تَردُد وارهٔ په دوه کاله بیش وکم
وشوهٔ د دهلی سلطنت پرے مسلّم

وشوهٔ اوهٔ کاله زرا دیا کاله دوه کم
دهٔ چه د دهلی په سریر کیښودهٔ قدم

یا آزار د پلار دے یا اثر دے د قسم
یائے له غروره مبدل شو خوئ شیم

یو هے هائے هائے دے په انواع انواع ستم
خو کاله کهٔ نوروی درست عالم به کا عدم

هسے په ظاهر صورت په مکر دے محکم
ولے چه پیدا شو ثانی براهیم اَدهمؒ

فعل نے چه گورے هلاکو دے یا اظلم
چادی آوریدلی په اولاد کښے د آدمؒ

پلار په بند ترلے قتل کړی ذی رحم
وارهٔ نے د خپلے خود کامنی لا په غم

هیڅ د خوار مظلوم په حال پوښتنه نهٔ کوم
دوارهٔ ورته یو په تفحص کښے گرم نا گرم

داهسے بادشاه دے دا انصاف دائے تمیز
خدائے به نا انصاف په جهان نهٔ لری عزیز

واوره داخبره درته وایم ممتحن
وارهٔ کار په بخت دے په طالع دے نور سخن

چیرے داراشاه چیرے دَدهٔ جاه و مخزن
چیرے دَدهلی زمزمه زغرے جوشن

چیرے اورنګ زیب څهٔ نے پایه څهٔ نے دکن
څهٔ دَدهٔ سامان څهٔ نے لښکر خچن مچن

راغے په آګره دَدهٔ په سر اَیښے کفن
تار په تار فوځونه دَدهلی برهم زن دن

بخت چه چاته مخ کا دهغهٔ چمن چمن
ګل شګفته کیږی په بنوړ کښے په ګلخن

بخت چه چاته مخ کا وردِ بند کا په آهن
ګنج ورنسوزی تر دیواله تر روزن

بخت چه چاته شاکا کهٔ دانا وی د زمن
خپله دانائی نے سړے لمبے شی دَخرمن

بخت چه چاته شاکا مرغلرے دَعدن
نهٔ پیری دَدهٔ دَمر غیچو په ثمن

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کارِ دے اُود په هیڅا نه دے مبرهن
دولس ځایه کړئ په ځائے نه لری مسکن

هرلوری ته ګرځی هم پاسبان دی هم رهزن
څوک نه خوف تیر کا دَ چا وو هی ګردن

څۀ به درته وایم چه نے ځو دے مکر و فن
خلاص نے له آسیبه نۀ دے هیڅ نو اوکهن

اړه یو نفس دے نتیجه نے ما و من
واړه په ټکۍ دی چه نے وُخی له دهن

ورک شو دَ یزید په هغه څوکاله دیدن
پا توشۀ پرے لعن دَ حسینؓ او دَ حسنؓ

تل به دَ اورنګ نۀ وی دا کر و فر و فن
پا توبه په دۀ شی تل نفرین دَ مرد و زن

څۀ شوکۀ دولت نے آویزاند شی په دامن
بیا کله سفله دے دَ اعلیٰ پائے څښتن

هرچه په فطرت کښے پیدا شوے دے خیرن
پاک اوصاف به نشی کۀ نے تل و نخے بدن

څۀ شوکۀ دَ بازله ځاله والوزی زغن
بیا زغن زغن دے کۀ هر څو دے پنجه زن

هرچه پاکیزه لری خپل اصل خپل ګوهر
مۀ کړه خدائے چه راضی شی په آزار دَ خپل پدر

خدائے وکړے دا چا رے په ما واړه وکړے زړه
څو چا رے غلط شوم چه م لوئے کړا احمق ترۀ

بل چه دَ دۀ لور م امرا ته کړه وادۀ
بل چه م په کور کښے څۀ کښے نښتو سپین اوسۀ

بل م چه کوټ محکم بنا نۀ کړۀ په غرۀ
بل چه م په تُوره په خدمت غرور کا وۀ

بل چه م مغل په ورکړ مرکړ نۀ غلاوۀ
بل چه م په وخت دَ نیو و ملک نه ولاړۀ

بل م چه قوت دَ یوسف زئ ورکا وۀ
بل م چه په اصل غوریه خپل پښتون کا نړۀ

وائی چه له ځانه په اولاد وی پیرزو بښۀ
خدائے به کا روانے په اصلی ویلوا وبۀ

دا یو څو خبرے چه ما راوړے په خولۀ
بویه چه همه واړه وکښلے شی په زړۀ

نرد دے کۀ شطرنج دے کۀ چوپړ دے وایم زۀ
دا واړه چه نے زده شی نوئے لوبه شی هالۀ

هرچه په دا کار کښے څوک اومۀ دے کۀ پاخۀ
وکاندی پاخۀ په زمان چا رے په ومۀ

هیڅ په خپله پوهه هُنرمۀ شه غرۀ ته
هرچه تر تا بهه دے عقل زده کړه له هغۀ

وائی چه په پوهه بوعلیؒ چا وویشتۀ
بیا په دیرے چا رے خَلقو احمق بالله

هیڅ سړے هغه دے چه برخی په هره خولۀ
کار په توکّل بویه نۀ خلقو ته کا تۀ

یار چه هسے بښۀ وی چه نے ځائے کړے په لیمۀ
بیائے په یارئ مۀ کړه هیڅ غلطیدۀ

څۀ بلا دے ربښۀ دی دَ دوۀ و ستر کو تور بانړۀ
ستر کے دِ رندے کا مشه ستر کو ته کا بړۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مل هغه بالۀ شی چه تیر بیر نۀ ځی ترملۀ — مل دَ خپل مقصود دے چه ئے وړاندِ روستو تلۀ
نۀ وی دَ چا ترستونی تیر چیرے ترخۀ — بوتی دَ سپلمئ دَ کندیری کنړی خوابۀ
څوک چه په لوستو لوستو ملامه زده کا څۀ — څوک دَ مور په نس کښے زدۀ کا وزیږی هالۀ

دوه سوشل بیتونه دی یوولس بنده بنۀ
ما په رنتنبور کښے دَ زړۀ تاؤ پرسراوۀ

مربع

POHA

دَ شمئ تورو سنبلو — په سپین مخ ئے تسلسلو
پرے غوغا کا نړئ بلبلو — تل به وخت نۀ وی دَ کلو

له ما گرځئ دُوره دُوره — نظر نۀ کا له غروره
نور کۀ مری په تیره تُوره — زۀ ئے مرم په تغا فلو

زۀ هغه اخلاص لرمه — ستا په ستر کو سوگند خورمه
چه ما نړے کړے له ما مرمه — مخ دِ تورشی دَ چُغلو

راته نۀ خاندے غمگین شم — ستا له جوړه په زړۀ خوږین شم
نۀ به باز نۀ به شاهین شم — نۀ به راشے په منکلو

خپل انداز ورلره بس دے — خوښ په خپل هُنر هرکس دے
څان ته کل وائی کۀ خس دے — هر یو مست دَ خپلو ملو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ م زړهٔ کهٔ م دماغ دے نهٔ ئے باغ پکار نهٔ زاغ دے
په دا بوئ م زړهٔ فراغ دے چهٔ ئے راشی له کاکلو

همیشه ورپسے ژاړم په موندنه بهٔ ئے ویاړم
کهٔ ئے مومم زهٔ ئے غواړم په اوراد د څلور قلو

شکرداچه په پرواز یم وښکارونو وته باز یم
زهٔ خوشحال د غرونو باز یم چه په بند وُم د مغلو

POHA

معشر

تهٔ خپل خوب کوه بُتا کهٔ زهٔ درسته شپه بے تا
سترګے سرے کړم په ژړا نارے وهم په واویلا
چه ترکانړی سخت دے لا هغه هسے زړهٔ دے ستا
څولا پایم په دُنیا کهٔ زړهٔ سوے دِشی په ما

نورځهٔ پهٔ غواړم له تا
مکړه دا هومره جفا

کهٔ تیره تُوره وکښلی راشے تهٔ قهر نیولی
رقیبانو سند وُلی دواړه لیچے دِ غښتلی
بیا یو څو کلے وهلی وکُشتن ته جوړیدلی
مادِ دا جفا منلې خون بهادِ م دربخښلی

هومره مهر وکړه کښلی
رابنکاره کړه خپل لِقا

هغه ورځ چه مئین کیږی عاشقان تر سر تیریږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ عالم ورته وٹیږی نۀ ئے ننګ وی نۀ شرمیږی
نصیحت پرے نۀ لګیږی له کُشتنه نه ویریږی
لا یعقل شی نۀ پوهیږی خو مجنون شی ودریږی
پورے خلق حیرانیږی
له هرچا وی شا په شا

نورئے هیڅ نۀ وی په دِل کښے په سکوت او په ویل کښے
په خوږلو په نوشل کښے په خلوت او په محفل کښے
په میدان او په ځنګل کښے په لیدل او په کتل کښے
په فروخت په پیرؤل کښے په ولاړ په پریوتل کښے
په آسان او په مشکل کښے
دَ خپل یار لرې هوا

کۀ هجران وی کۀ وصال وی دواړه دۀ وته یو حال وی
کۀ هزار غرونه جبال وی دِ پرسیندونه ډیر اطلال وی
تر دا مینځ پرده محال وی وریښکاره دَ یار جمال وی
جلوه ګرئے خط وخال وی خوښ خورم دَ یار په خیال وی
هم په دالیدۀ خوشحال وی
نۀ کا بله تمنّا

مُسَدَّس

محبوبا پرې رخسارے سرتر پایه قلم کارے
دوه دِ سترګے دی کټارے تل په لاس تیرے کټارے
چه ئے وا وے بیمارے
خونریزی کاندِ خونخوارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دوہ د وړوځے دی مہینے دوہ دِ زلفے عنبرینے
دوہ دِ شونډے شکرینے نازنینے مہ جبینے
سروِ قدے تن سیمینے
جفا جوئے دل آزارے

تور کیسو دِ مشک افشان دی په سپین مخ دِ پریشان دی
تار په تار پیچان پیچان دی په هر تارئے آویزان دی
کۂ شیخان کۂ زاهدان دی
په هر چا دِ وکړے چارے

ډیر په تا پسے افکار دی په فریاد او په کوکار دی
ستا دَ وصل طلبگار دی صبر نۂ کا ناقرار دی
عاشقان دِ صدهزار دی
ما به چا سره وشمارے

بیا دِ ولے مهر نور شو چه نظر دِ په بل لور شو
په کوکل کښے مِ بل اور شو فراق ډیر را باندِ زور شو
رود دَ اوښکو دِ راخور شو
زۂ ئے څو لرم حصارے

څۂ خو مهر تۂ دلبر کړہ نۂ تل جور سراسر کا
په ما خوار باندِ اختر کړہ له برقع نه مخ بدر کا
ځما اوښکو ته نظر کا
چه په مخ ځی لاړے لارے

چه مِ یار کنړۂ یار نۂ وو بیهوده مِ زړۂ پرے بنۂ وو
په خپل رائے وو په خپل زړۂ وو ځما ډیر امید په دۂ وو
دے دَ هر غما زه په خولۂ وو
تل په ما پسندی دشوارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے بیا ترکش په میان کړ چه ئے عزم د میدان کړ
چه سمندئے په جولان کړ واړه خلق ئے حیران کړ
ژغ ئے کړ په درست جهان کړ
خلقے ئے کړے هموارے

آرائش د خط وخال کا ستائش د خپل جمال کا
تل تل کبر تل تل خیال کا تل تل پیچمے تل ناخوال کا
څو نا سازے په خوشحال کا
سل فتنے لړی تیارے

مخمس

وعاشق ته دوه قدمه بحر وبر دے نه ئے کړد په لمن پروت نه دامن تر دے
په فریاد نارے وهی په نارو سر دے چه د عشق په کرانه لار کښے ډیر خطر دے
هر قدم چه پکښے اخلے دارد سر دے

عاشقان د شاه د خولے په جامے سپینے قلندر دی نه لباس جامے رنګینے
اندرون م واړه پک شو درست په مینے که سینه م سره چاک کړے وبه وینے
چه م ستاله غمه وینے درست ځیګر دے

بنائسته چه په بنائست کښے دلنشین شی د عاشق سره ډیر مهر لرئے کین شی
نه چه تاغوندِ آفت د دل ودین شی ستاد مهربان نه ووری چه شین شی
ما په زړه کړے ستاد مینے کر دے

عاشقان په عشق کښے نه کا د سر ویره د سر ویره اندیښنه ده مختصره
که دراز پیالے هر څوده تیز تره ستا په راز به ژبه هم نه کړم خبره
تل تر ژبے رسیدلے راز سمر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نتیجے ئے سورسور آہ سپینے اوبۂ وی آبلہ دننہ زرۂ لیمۂ ئے سرۂ وی
مشقت ئے هم په ځان هم ئے په زرۂ وی زۂ خبرنۂ یم له عشقه چه عشق څۀ دی
هومره آوزم چه له ځسنه ئے اثر دے

عاشقان په غم خوشحال دلګیر بے غم دی په هوا د یار د زلفو پیچ وخم دی
فارغ شوی له وجوده له عدم دی چه ئے عشق ترسره کړے هغه کم دی
په دا کار کښے لاف وهلے یوۂ هر دے

د بلبلے خوشحالی وی په ګلزار کښے د عاشق د زرۂ خوښی وی په دیدار کښے
څو به عمر تیروم په انتظار کښے صبر مۂ غواړه له ما د عشق په کار کښے
جودا نه صبر په ما باندے لوئے غر دے

اول مینه د یوسف[۳] په زلیخا وه بیا له پسه د مجنون او د لیلیٰ وه
له غه پسه د وامق او د عذرا وه عاشقی لازۂ تۂ نۂ ووچه پیدا وه
نۂ چه ما او تا ګډ کړے دا هنر دے

کۂ پلو له مخے لرے محبوبا کا بیدلان به پروانه په خپل لقا کا
تل له ما سره فتنے جنګ وغوغا کا خو ځما طالع بنۂ نۂ دے یا رجفا کا
ګنډه کوم یو په وفا ترما بهتر دے

یوزمان م خالی مۂ وُسه له خیاله په خپله ګونګ اوسه د عشق له قیل وقاله
په ناله دِ کۂ بترشی تن ترنالهٔ د عشق غم له خلقه پټ لره خوشحاله
څۀ ئے پټ کړم چه عالم څۀ خبر دے

تل دِستائی په درست ملک کښے کښلی سل څوک یوبه نۂ وی په دا شکل وشمایل څوک
حد د چادنے چه دِ پل ږدی په بورجل څوک کۂ زۂ نۂ وے تاپه ځان لره بلل څوک
په پالنګ به دِ دا هسے راختل څوک

خدائے ځما په زرۂ کښے ځائے محبت ستا کړ نۂ چه ما پخپله زرۂ په تا شیدا کړ
کور په کورم د زرۂ راز مینے رسوا کړ وا ړه عشق دے چه ئے سر را ته کیا کړ
ګنډه زۂ په ځان مئین د سرښندل څوک

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عاشقان په عشق کښے خوار و بیچاره شی لور په لوری په جهان کریوان پاره شی
آواره د یار د مخ په نندارہ شی چه پتنګ ته روښنائی د چراغ ښکاره شی
نو له چراغه د ډډۀ غواړی جار و تل څوک

که په زړۀ کښے م د مینے ذره نۀ وے هومره ستا په مهر مینه غوره نۀ وے
لکه زر د اور په تاؤ کښے سره نۀ وے بدرقه که محبت راسره نۀ وے
یک تنها به په خونخوار و لار د تلل څوک

راته وائی د رندئ په کار کښے سست ئے دروغژن په میخورئ کښے نادرست ئے
ما په سر د دروغژ نو خاورے لوستے د دیو میو پیالے د پیرو دی اخیستے
ولے ماغوند به نۀ وی لا یعقل څوک

عاشقان د چشمانو مے پرست دی همیشه د بیخودئ پیالے په دست دی
په مستئ کښے له بلا سره پیوست دی د زلف په چاه د بند د شونډو مست دی
روغ هوښیار به په کوهی کښے پریوتل څوک

چه نا ترسه بے پروا سړی له خایه نوره نشته لکه ته ئے خود آرایه
خود آرایه خود پسنده خود نما یه ته ئے پخپله راته وائے چه ئے وا یه
کنړه زۀ د مینے راز ښکاره وئیل څوک

د مجنون او د لیلیٰ وئیل یا دیږی څما ستا وئیل په هر لوری زبا دیږی
همیشه م زړۀ په دا وینا بنا دیږی بنۀ خو داچه د چا نوم پکښے یاد یږی
په فانی دُنیا به نۀ وی ژوندے تل څوک

واړه تازده درته نۀ وایم چه زده کړه لون لون طور طور کرشمه کړه
د غمزے توره لاښه په څرخ تیره کړه ته ئے م وژنه د قصاص اندیښنه مکړه
د خپل خون په تور به ونیسم یو بل څوک

بے له تا به د نورچا هسے شمشیر وی چه ئے بے قتل وکشتنه نور څۀ هیر وی
په دا کار کښے ئے نظر ترهرچا تیر وی د سرونو شمار حساب بویه چه ډیر وی
نور د مړی په دا میدان کښے پردی خپل څوک

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خلقه دِ همګی واړه تر پښې شوه ماوے اوس دِ د غمزے ټوره یکښې شوه
بیا دِ جنګ وَته خونریزه شمله پریښوه چه دِ ټوره دَ غمزے په غاړه کښیښوده
حق ناحق به دِ په دا ټوره وژل څوک

ډیرے سمے کړے آوُرم ځنے مرمه چا ته دم وهلے نۀ شم غصے خورمه
چه دَ واړه وخواب وکړم توان لرمه دَ وګړی جفا ستا دپاره وړمه
کۀ نۀ زۀ دارنګ وګړے دا زغمل څوک

په دا شکر چه نے هومره خوبی درکړه تۀ هم تل په خوار عاشق باندے نظر کړه
دَ رقیب او دَ غما زخاورے په سر کړه تا پخپله سپینه خولۀ خوشحال ته وړکړه
ګنډه دے دا هسے شونډے کښبلول څوک

مربع

دریغه بیا مودوه په دوه وبله رازوے لایو راز وئیلے نه دَ بل آغاز وے
ستاله لوریه واړه ناز له مانیاز وے
په مزه مزه خواږۀ وئیل باز باز وے
همیشه په هغه خوئ کښے چه دِ خپل وو هغه خیال چه دِ دَ زلفو دَ وربل وو
داخسته خاطر م هسے لکه تل وو
فراغت بے غمه تاسره دمساز وے
چه به تا پیاله دَ میو سره اکوله ستا دَ شونډو دَ بوسے سره م څښله
زۀ هم مست وے تۀ هم مسته لایعقله
میخوری دِ په سر تور په ګریوان واز وے
له همه واړه عالمه وَر ترلے ستاله لاسه دما دم بادۀ خورلے
صراحئ خندا کړے شمع ژړلے
په جهان کښے خو دا دوه توکه اَنباز وے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دماغ کښے یرنده ناسته وے مخ برنده التفات دِ له خودئ نه کړے وما ته
د خواب په ځائے چه سوال وکړے وتامه
زهٔ خسته دِ په بنکنځلو سرفراز وے
بنهٔ آواز که د بربط د موسیقار دے یا د جنګ د مغنی یا د مزمار دے
د رباب د چارتار ے یا د بل تار دے
مهٔ وے دا ستا د چوراؤ بنهٔ آواز دے
د وصال په کامرانئ دست رس وے لکه وه ترهغهٔ مینه یو په لس وے
په نیک خواه باندِ بنادی هوا هوس وے
په دِیر غم کښے څهره زرده د غماز وے
چه ئے ولیدے د یار په خط وخال کښے په هزار رنګه خوښی ئے په وصال کښے
هومره غم بیلتانهٔ کښیښو په خوشحال کښے
مهٔ بیلتون وے مهٔ ئے داسوز وګداز وے

قطعات

راشه مهٔ کړه په دُنیا تهٔ اعتماد دا دُنیا ده سرله سره بے بنیاد
په یوهٔ ساعت کښے هسے رنګ تیر یږی لکه تیرشی په یوهٔ ساعت کښے باد
شیرین عمر په هوس راځنه دروی لکه سرهٔ زرچه څوک . . . . . .
نفس شدید څرګند غلیم راته پیدا شو شیطان ګرځی دشمنی ئے پټ په غلا د
د غفلت له خوبه زر پاسه بیدار شه
د همت نمری د تول کړه . . . . . .
له لسو پورته تر شلو پورے بنځے دغه دی چه څوئے ګورے
له شلو پورته تر دیرشو پورے دغه هم بنے دی که نهٔ وی نورے
تر دیرشو پورته څلویښتو پورے زهرِ قاتل دی که څوځان ژغورے
تر شپیتو پورے ورله آنا ده د لحد ورکړه ورپسے پورے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ په مذهب دَخوشحال خټک دی
کښینه دَ تورو زلفو په سیورے
دَمزریونه خالی نۀ وی هیڅ ور خدائے به دیر پکښے پیدا کاشیرِ نر
دَ بی بی اولاد همه کیدرمیدر دی په افضل په مَعظم لګی نظر
کۀ طالع ورسره مل شی خان څرکند کا
بیا به هاله تهتریخ کا دَ پدر
څوم دوه اویا مذهب وته شا نۀ کړه هومره نۀ شوم خبردار دَعشق لکیشه
تۀ به چیرے دَخوشحال په خوږ خبرے
چه دِ بوئ تر سپیرے تیرنۀ دَله ریشه
په څو دیرشوے دَدُنیا پریشانه غمه په هرزرۀ دِ سیاهی پرے یسته محکمه
دَهجران دَلمبو تاؤ ترخلقو وخوت
دریغه دریغه دَبهار سره شبنمه
په سردِ سُور سالو دے هم دِ کوره سره لمن
په څوسره سُور اور ئے
لکه کل دَ لالله نن
چرک چه بانګ کا په خپل وخت څوک ئے نۀ بولی کم بخت
چه بے وخته بانګ آغاز کا
سیخ ته ورولی خپل رخت
رسؤل دَطالب څوک کا ترمطلوبه درئے وښیم په کوته هغه شوق دے
عاشق ځکه دَدلبر له چمه نۀ ځی چه په غاړه ئے دَشاه دَزلفو طوق دے
چه دِ زرۀ دَیکرنګئ په ملک پرے میشت کۀ څیره دِ شره کۀ زیره واړه ذوق دے
په هرچرته چه نظر کړم یو یار وینم
په یمین کۀ په شمال کۀ تخت وفوق دے
اور دے سره سکروته پرے سینه کباب ځما شوه
زۀ عذاب دَخیلخانے شوم خیلخانه عذاب ځما شوه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه لیندئ ئے دی په غشی خورنده وی په خوارهٔ
جامے اغوندی سپینے بدئے نهٔ وُځی تر خولهٔ
دورنګئ پکښے نهٔ وی لکه خولهٔ هسے په زړهٔ
په خپلوئے نظر وی په پردئ نهٔ کا کاتهٔ
په ستر سحر بیدار شی مشغولا کا په نمانځهٔ

جهان ترما قربان شه
زهٔ قربان شم ترهغهٔ
واوُرئ یارانو چه خوشحال ختک خهٔ وئ
د سپی آشنائی بنه ده نهٔ یاری د یوسفزئ

چه چا سره آشنا شی یا له ویرے یا له طمعے
چه ځانے د ګوتے مومی غبرګ لاسونه پکښے بیائی

د بادشاه د ژمی شپه وه په سموکښے لیونی کړه درسته شپه په دوهه تیره
چه محنت په سړی راشی هسے تیر شی د راحت ساعت هم نهٔ کا میشته ډیره

د ستر کو په څنبلو یا سپاهی یا ناسپاهی دَ خولے په پرزولو یا واهی یا ناواهی

جهان پک دے له اغیارو نندارہ کړه یو کهٔ یو یار په جهان شته رائے بنکارهٔ کړه

یا یوزهٔ د درست جهان په لار فقط یم یا دا درست جهان په لار زهٔ غلط یم

چه رنځور درته محتاج نهٔ دے طبیبه خهٔ دَدهٔ د رنځ علاج کړے بے تقریبه
درویشان لکه ماران دی هم مهره لری هم زهر
په آزارے راضی مهٔ شَه چه اَخته نهٔ شے په قهر
یو شان راته بنکاره شو کارد شعر د شهرت
کهٔ دا دے کهٔ هغه دے دواړه غواړی بنهٔ صورت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه بنۀ حسن بنکاره شی شکفته شی طبیعت
بل چه بنۀ صورت ووینی نور آنکیز وکا آلت
عزل بے غزاله نۀ وی
جلق واهۀ شی ضرورت
په کاغذ به خط باقی په ډیرمدت شی تار په تار به د کاتب شیرین صورت شی
آه افسوس ارمان ارمان دے چه په مرګ به
د قالب د روح بیلتون په څۀ زحمت شی
عادل بادشاه پیدا شو اورنګ شاه د دین غم خور
عملۀ په کتاب دے له علماؤۀ بیوور
خپل پلار تړی په عدل په فتوی وژنی خپل رور
بنۀ حق په ځایونه تار په تارۀ کړ خپل کور
د دین طلبۀ دا دے د دنیاۀ په سرتور
د نګولی حاجت نشته امرګان کۀ مومی سپور
چه پښۀ په رکیب کړه له دکنه شو راسور
له مخۀ بلا تله په جهان ۀ بل کړ اور
کۀ قحط کۀ وبا وه کۀ جهان شو شور ماشور
د دۀ د نیت اثر دے
چه په درست جهان شو خور
مونږ محمدی یو نحوست زمونږ نه نشته
تَوَکَّلْتُ عَلَی اللّٰه هم په داکښے موهرڅۀ شته

مونږ هغه کسان یو چه ژوند ون موډ په سور نه
نن په کورستان دلستان وکښلے تور نه

زرکۀ هرڅوبنۀ دی ننه کار ورلره بویه لورکۀ د بادشاه وی هم ردز کار ورلره بویه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَدوستانو په دوستئ نشته اُمید
دَ دښمن په تملق څهٔ اعتمید

په هر رنګ چه مِ لرے هسے به اوسم
بَنَه خو دا چه خپل خواهش له مینځه یوسم

کهٔ حساب شی کهٔ کتاب شی کهٔ پوښتنه
حال به څهٔ کړے دَخوشحال خټک څښتنه

POHA

مثنوی

له هرچا سره چه یو نفس قرین شوم
دَ هغوله خُویه بُویه په زړهٔ شین شوم

زړهٔ مِ خوږ په هیڅ انډ شو په عالم کښے
له عالمه سره زیست کړم په ډیر غم کښے

خودَ سُود له مخه څوک را سره یار شو
چه ئے خپل مقصود پوره شو نور ویزار شو

چه ئے مخ په مخ له تا سره وفا وی
په قفا د سره خیر په سل جفا وی

چه ئے بنهٔ کنړے هغه د سره بد شی
تل له تا سره په رخه په حسد شی

هرچه تا سره یاری کا نهٔ یاران دی
همکی وارهٔ لړم دی یا ماران دی

خُویه وارهٔ دَ زړهٔ رنځ دَخپل بابا دی
لونړه کل دَ زړهٔ ژورے دَ ماما دی

کهٔ دِ یار دے کهٔ دِ خویښ دے کهٔ دِ رور دے
دَخپل ځان دے دَخپل سُود دے دَخپل کور دے

تش دَ خولے لباس مباس دے سره کیږی
دَ هرچا خاطر خپل سُود وته پرکیږی

دَ راحت په وخت سل لاڅے دَ یارئ کا
دَ محنت ساعت چه راشی ویزارئ کا

شاه جهانؒ بادشاه څهٔ لږ نهٔ وو نمنځلی
چه په بند شو همکی وو خُنے تللی

هے توبه! له دے جهانه تښے تښے
په صحرا کښے یک تنها کړخیدے کوښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پینځم توک

POHA

فارسی کلام

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پیرازمے پرستی توبہ فرماید مرا — اللہ اللہ وقت گل این توبہ میشاید مرا
ہرکہ از نظارۂ روئے بتان منعم کند — پند او گیرم بدل در دل نمے آید مرا
شوقِ زلفِ یار دارم برجنونِ خویشتن — خود گواہی میدہم زنجیرمے باید مرا
غم چو آتش دل سمندر وار میر قصد در و — راستی جز عم کنون فاطر نیاساید مرا

از جفائے خار بلبل بر نمیگردد زگل
چون جفایش پیش بینم مہر افزاید مرا

نامِ لبت گرفتن شیرین کند دہن را — خوش وقت آنکہ بوسد پیوستہ آن لبان را
دردِ درون دِل را گر درکشم بہ پوشم — لیکن چہ چارہ سازم این چشمِ خونفشان را
از لولو دو گوشش کامے ہر آنکہ دارد — از ما رسان سلامے آن نیک اختران را
آن گفتگو کہ باشد جز ذکر روئے آن بت — نامردم از نہ بندم زین گفتگو زبان را
برخالِ آن نگارے شہرے دہم دیارے — آن عاشقم کہ بازم برخالِ او جہان را
مجنون و ذکر لیلےٰ فرہاد و یاد شیرین — درپیش شان چہ خوانی صد گونہ راستان را
درکارِ عشق بازی مجنون وقتِ خویشم — جز خونِ دل چہ آرم بیوقت مہمان را
در دل خیال رویت مہمان یم لیلےٰ — در دہ زعشقِ لیلےٰ برباد خاندان را

در ہر رہے کہ بینند کوہی سگانِ کویت
برچشم خود گذارد پائے آن سگان را

نوبہار و مئے و معشوقہ و جام ست اینجا — زہد و پرہیز و ورع را چہ مقام است اینجا
قصہ کوتاہ کہ در مذہب ما اے صوفی — غیر مئے ہرچہ بود جملہ حرام است اینجا
یارب آن مغبچہ را ہیچ گزندے مرسان — کہ برویش نگران خاص و عوام است اینجا
شاہ من تند بران رخش کہ بس مردم شہر — بہر نظارۂ تو بر در و بام است اینجا
پیشم از مشک خطا دم مزن اے مشک فروش — کہ پراز نکہتِ آن زلفِ مشام است اینجا
می نوازم نئے خوش لحن بجادوئے نفس — آہوئے کوہ و بیابان ہمہ رام است اینجا
یا نوائے سخن ننگ مگوئید دگر — مست عشقست نہ ننگ است نہ نام است اینجا

... * ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ازو دل برگرفتن کار من نیست — که از جان سیر گشتن کار من نیست
چمن را گرچه گلها بس شگرف است — ولے همچون رخت گل در چمن نیست
مرا گوئی بگو وصفِ دهنم! — چگونه چون درو جائے سخن نیست
من و سودائے رویت تا که هستم — اگرچه خود ترا پروائے من نیست
غمت تا در دل و جانم وطن کرد — مرا در کوچهٔ شادی وطن نیست

چرا خوشحال را پرسی که چونی
مگر از چهرهٔ او مبرهن نیست

این زر و زلفِ سیه خم بخم است — دستهٔ سنبل و نسرین بهم است
لاله هرچند که زیباست بباغ — پیش رخسارِ تو بسیار کم است
غم از آن ست که میرم به اجل — گر ز تیغ تو بمیرم چه غم است
بجز از من بکسے جور مکن! — زانکه جور تو سراسر کرم است

از جفاهائے بتان گر میرم
تا نگوئی که نکوئے کرم است

پیر فرتوت وضعیفم دیده بر خوبانِ وقت — یا منم سلطان وقت ویا منم شیطانِ وقت
میرسد صیتِ به گوش اهل دل شام وسحر — اینکه درمانم نشیند عاقبت چندانِ وقت
آه واویلا که دیدم بے ثبات وبے بقا — عمر چون باد وبهار وعیش چون پیمانِ وقت
نالهٔ مرغانِ این گلشن بمن معلوم شد — آه و فریاد وفغان دارند بر بستانِ وقت
دشمنِ وقت خودیم وخود روا داریم ما — صد ستم از دست خود در ساعت جانانِ وقت
چون ز دستت شد بدر مانند تیرے از کمان — باز در دستت نیامد هیچگه تاوانِ وقت

میزنم خوشحال خرم هر زمان بریاد دوست
گرچه از ما برده نقد وصل را هجران دوست

بیرون زیادِ لعل تو گر لاله در دل است — داغِ دلِ خراب از آن لاله حاصل است
باران دیده را به تردد همے دهم — خلقے بگشتِ باغ ومرا پائے در گل است
از گشته پشته درین ره بهر طرف — یا رب نگاه دار چه خونخوار منزل است
ماندن زیار دور وشب و روز زندگی! — یک لحظه دور بودن من زهر قاتل است

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سیر آمدن زجان خود آسان بود بسے — سیر آمدن ز روئے بتان سخت مشکل است
انگشت عیب جوئے بجائے نمیرسد — درحسن و درجمال بغایت مکمل است
مستور گشت شاہد و معلوم شد شراب — افغانِ من زدستِ شہنشاہ عادل است

از دست دِل خجل شدہ ام آہ چون کنم
پیرانہ سر جنون جوانی کہ در دل است:

دلم ربودۂ آن زلف وخال و ابروست — چہ خوش ہلال چہ خوش دام و دانہ دلجوست
لبت مسیح صفت مردہ را روان بخشد — عجب طبیب طبیعت شناس ہر خوست
مرا کہ دل بشد از دست اے نصیحت گوئے — گذر ز بیہودہ گفتن بیا دم آن کوست
گذر ز قصۂ فردوس وجنت طوبے — کہ این متاع گرامی بہائے یک موست

اگرچہ تیر عدو جانستان بود خوشحال
مرا خدنگِ بلا آن دو چشم جادوست

شاہِ مرغان شکاری باز است — آنکہ محبوب شماری باز است
آنکہ بر دست شہان دارد جائے — بوالعجب صنعت باری باز است
کوہسید بحری و شنقارِ ترا — گر بما باز گذاری باز است
ہمہ مرغانِ شکارند بکار — راستی از ہمہ کاری باز است
آنکہ از چنگل خود نگذارد — دلِ این خستہ بخواری باز است
مال و اسباب جہان جملہ ترا — بو مِن تحفہ گر آری باز است
دِل بہ مرغانِ ہوا نسپاری — اے پسر ورنہ سپاری باز است

شاد و خوشحال در آندیم باشم
بینم از ورکہ در آری باز است

وصل او با محنت ہجران خوش است — در غمت گر این بود گر آن خوش است
چون مراد ما نشد حاصل ز وصل — از وصالش حاصلم ہجران خوش است
در جہان چون راز دار کیمیا ست — راز او در سینہ ام پنہان خوش است
اشک را غماز میدانیم ما — چند گوئی دیدۂ گریان خوش است
مشک سلطان و منم درویشِ او — مہر شاہان ہان بدرویشان خوش است

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

گه عتاب وگاه صلح وگاه جنگ — این همه از جانب خوبان خوش است
ناصحا از ما نصیحت وا بگیر — درد سر دادن لعاشق لن خوش است
زخم تیغ عشق را درمان مجو — زخم تیغ هجر بے درمان خوش است
در فراق روئے او خوشحال را
روز و شب با ناله وگریان خوش است

ایزو چو چشم شوخ بتان را بیافرید — جادوئے بردنِ دل وجان را بیافرید
تا صید عاشقان کند از بهر دلبران — زانروئے پلک تیر وکمان را بیافرید
نازم بقدرتش که چو آئینهٔ حلب — صافئ جان سنگدلان را بیافرید
بنگر که باغبان قضا در ریاضِ حسن — سرو روان غنچه دهان را بیافرید
گویا برائے خاطرِ عشاق در ازل — سیمین برآن و موے میان را بیافرید
میخواست تا که قدرتِ خود را عیان کند — فصل بهار وفصل خزان را بیافرید
کوهی اگر زمانه فرستد هزار غم
از غم چه غم چو رطل گران را بیافرید

باش تا امروز را فردا کند — عیب پیری عیب ما پیدا کند
مرگ مے پوشد خدا خیرش دهاد — ورنه پیری شخص را رسوا کند
برسر ما هرچه راند گو بران — عقل کامل کارکے اینجا کند
من بهمان مرغم که از شاخے لشاخ — برخیزند بر پرو ماوا کند
درمیان خرقه پوشانیم ما — چون شه کز خود لباسے واکند
برفراز نه فلک پرواز ماست — باز تا شهباز ما پردا کند
آمدم خوشحال وخوشحالم هنوز
بخت با من مرحبا اهلا کند

چشم مخمور تو آخر کار کرد — زاهد صد ساله رامے خوار کرد
من مگر از حالِ عشق آگاه نیم — شیخ صنعان را ز دین بیزار کرد
سخت مے پیچد برو عشقِ بتان — هرکه امروز از بتان انکار کرد
باز را در بند عشق آورده است — شیر را در بیشه عشق آشکار کرد

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

در درونِ عاشقان راز نہان — عشق اندر کوچہا اظہار کرد
عاشقِ بیچارہ اندر عاشقی — بر جنون خویشتر اقرار کرد

روئے زرد و آہ سرد و چشم تر
عشق کوہی را چنین بیمار کرد

حدیث روئے او با من بگوئید — بہ بلبل از گل و گلشن بگوئید
بہ آن چشم و نہ آن مژگان نہ ابروست — بلائے دین و جان و تن بگوئید
زسیل اشک من پروا ندارد — دلست این سنگ یا آہن بگوئید
شب وصل است مو آنجا نمانده — تو کے گنجی بہ پیراہن بگوئید

زلعل شکرینِ او نباتے
بکوہی میرسد من من بگوئید

خال مشک آسائی تو آسایش جانم ربود — ترک چشمان تو غارت کرد پیشم ہرچہ بود
صورت چین ہر کجا بینم بسانِ برہمن — مے برم بر یاد رویت پیش آن ہر دم سجود
عاقبت خود را زشاخ افگند از شرم رخت — گردد از وے در چمن گل رنگ و بوئے خود نبود
ما بدشنامے زتو خرسندم و خرم زیخت — صد سعادت از زبانت ہر کہ دشنامے شنود
با وجود وسعتِ کامِ دل و جمع بتان — زاہد افسردہ دل در کنج تنہائی غنود
ما زیانِ عاشقے بگزید زاہد سود زہد — آن زیان را دوست میدارم زیں بیہودہ سود

قتل کوہی را بہ تیغ غمزہ خواہد آن نگار
کاش باشد این کرم ایدوستان زانشوخ زود

لالہ در موسمِ بہار بود — عیش با روئے گلعذار بود
با رخ و زلفِ او سرد کارم — در شب و روز روزگار بود
آہوئے چشم تو چہ آہوئیست — کہ در اشیر نر شکار بود
رخِ تو ہمچو نو شگفتہ گلیست — عندلیبان او ہزار بود
قدِ تو در میانِ دیدہ ما — ہمچنان سرو جوئبار بود
وقت آن خوش کہ بعد ہجرانت — یار ہمچون تو در کنار بود
قصہ درد ما چہ مے پرسی — حالم از چہرہ آشکار بود

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

همچو خوشحال عاشق رخِ تو
نیست ممکن که در دیار بود

مرا بدور لبت باده یاد مے ناید
بیاد روئی تو گل در فواد مے ناید

چرا بشهر دگر پا برهنه نگریزم
که در ولایتِ تو داد مے ناید

مرا ز روئے بتان سوئے خلد میخوانی
برو برو که زمن این فساد مے ناید

چه جائے قاصد و پیغام و نامه و مکتوب
زکاتب تو بسویم جو باد مے ناید

بحق زلف دل آویزت اے پری پیکر
که غیر خالِ تو ام در سواد مے ناید

اگر بگشتنِ خوشحال مائلی برخیز
کزو بغیر رضایت عناد مے ناید

هرکه در کوچهٔ آن ماه مکانے دارد
کفر محض است اگر میلِ جنانے دارد

کامِ دل یافت که از چشمهٔ خضر افزون است
آنکه از لعل لبت روح روانے دارد

شانه را وصفِ دو زلفین سیاهت شاید
که بهر موئے ازین شیوه زبانے دارد

اے نسیمِ سحری غنچه دل را بکشائے
بلبل سوخته دل باز فغانے دارد

کنج وصلش که در و هر دو جهان زان گنجے
نیست این گنج که اکسیر بیانے دارد

گر نیم اهل ورع عیب من اے شیخ مکن
هر کسے در دلِ خود زعم و گمانے دارد

چند پرسی که ترا تیر ز شصتِ که رسید
آنکه او ز ابرو مژه تیر و کمانے دارد

تو مپندار که تنها دلِ خوشحال ربود
کیست که او عاشقِ او نیست که جانے دارد

با تو خلوت برگزینم در تو بینم سیر سیر
گرچه وقتِ نوبهار ست با وجودت هیر هیر

پنجروزے بیش نبود صحبت گل با هزار
اے دریغا در گلستان گر بماندے دیر دیر

آهوئے چشمِ تو از شیران عالم دل ربود
گرچه با شیران ندیدی هیچ آهو چیر چیر

گفتم اے ایجان جهان از من گهے یاد آیدت
گفت وقت قتل مے آئی پیادم ڈیر ڈیر

مے نیاساید دمے خوشحال بیدردت بلے
لشکر درد تو اکنون کرد دل را زیر زیر

خه خه بخ بخ دلداره وفاجویه غمگساره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه کنم چه چاره سازم — چه دِ زړهٔ کړم راکناره
بکه گویم از فراقت — چه مِ زړهٔ شهٔ پاره پاره
نکنه بدل سرایت — کهٔ زاری کوم بے شماره
گر از فرقتت بمیرم : — لا به خوبن شے له دے کاره
تو چه سنگدل نگارے — چه مِ ستا وکړه ننداره
بعشاقِ بے سرو پا : — ستم مکړه ستمکاره
به نگاه گا گاهے — مهر کړه دَ خدائے دپاره
اے نگارِ من حذر کن — دَ دیشتلیو دَ آزاره
نه رود ز در گهے تو
کهٔ خوشحال شے سل واره

بکامِ دل نرسیدم ببوئه زلبش — اگرچه جانِ من آمد بلب درین طلبش
نگارِ من غضب آلوده من زساده دلی — بقهر خندوے اگر نگشتم از غضبش
دو هفته شد که درون پر زکین من دارد — از ینکه ماه تمامے نهاده ام لقبش
زحور زاده پرے شکل کار آدم نیست — چه حاجت ست که پرسم زنسل و زنسبش
بکوئے آن صنمے رفت دل نیامد باز — زباز نامدنش شد دو زلفِ او سببش
گهے بروئے ربابد گهے بزلف کشد — بدل ندارد کارے جزاین بروز شبش
زتیغ غمزهٔ او سرمتاب خوشحالا :
فزون زکشتنِ عشاق مے شود طربش :

یارِ من یار زاغیار نمیداند حیف — قدر یاران وفادار نمیداند حیف
جز جفا و ستم و جور که میداند خوب — مهر را اندک و بسیار نمیداند حیف
آنچنان بیخبر از بادهٔ دوشین دیدم — کین زمان هست زهشیار نمیداند حیف
رنج و بیماریم از نرگس بیمار و یست — سنگدل پرسش بیمار نمیداند حیف
روز و شب در غم او خون ثره میرانم — حالتِ دیدهٔ خونبار نمیداند حیف
یکدم از گوش کنے باتو دو حرفے دارم — دلبران حالِ دل زار نمیداند حیف
لطفهائے که زمعشوق به عشاق سزاست — روهیا جمله بیکبار نمیداند حیف

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه برچشم نشین اے شاہِ خوبانِ چگل — لمعۂ خورشید را برچشم باشد جائے تل
تاویل قند و نبات و شہد یکجا دیدہ ام — آرے آرے آن دہن وآن لبان وآن ویل
سرد ہم تا ہرچہ فرمائی ترا فرمان رواست — از توحکم اے بادشاہ مہوشان وزما منل
زار وقربان تو گردم گر بہ تیغ خود کشی — نے بہ تیغ دیگران خونم ترا باشد منال
نن بمن میگفت درکوتیو میرفتم رقیب — شوخ چشمی برنمی گردی ازین کو بر شمل
چون بہ تن گشتم ضعیف ولاغر وخوار ونحیف — نیست اندر فرقتت خوبا مرا خواب وخورل
تاجفا وجور از حد نہایت بیش کرد — من نیاز وعجز وزارے مینمایم یوپہ سل
تل صبا بیگاہ آہ ونالہ وفریاد ماست — بردلِ سختت نشد تاثیر زاری وشر دل

ہیچرے مثل تو دلبرے نیاید در نظر
زان سبب خوشحال میل دل نمیارد بہ بل

بہ پیش رویت اے نازکبدن گل راچہ یاد آرم — بہ پیشِ لعلِ میگونت می ومل راچہ یاد آرم
بہ پیش قامت دلجوی وپیش زلف شبگونت — نگارما درختِ سروسنبل راچہ یاد آرم
چو شد یکبارگی درعشقِ مہرویان دل ازوستم — دگر اے پند گو صبر وتحمل راچہ یاد آرم

چو روہی درحدیث آید نبات وشکرافشاند
درآندم طوطی خوشگوئے بلبل راچہ یاد آرم

چون نظر برحال خوبان داشتم — تخم غم را در دلِ خود کاشتم
تا شدم مفتون زلفِ آن نگار — خود بر سوائی علم افراشتم
حوبرویان را وفا کمتر بود — برغلط بود آنچہ من پنداشتم
گوش ازآن کردم بقول پند گو — از تو میگوید سخن انگاشتم

روہی ام از پیشی خوبانِ چگل
میروم دل پیش شان بگذاشتم

شمع سان سوختن آموختہ ام — چہرۂ خویش برافروختہ ام
تاسحر آہ کشان نالہ کنان — فرق تا پائے بدل سوختہ ام
نیست یک لحظہ زعیشم خبرے — ہمہ اسباب غم اندوختہ ام
نام خوشحال وخوشے نادیدہ — واژگون نعل مثل دوختہ ام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زلطافتِ رویت چو لالہ در بستان — زہے طراوت حسنت چو گل ترو تا بان
زہے قدت کہ بسر و التفات او نبود — زہے چہ ذقنت چاہِ یوسفِ کنعان
زہے دو زلف کجت تیرہ روزگاران را — سلاسل ست ہمہ اُفتادہ اند در آن
بگاہ خندہ چو لبہائے خویش بکشائی — دروجواہر و یاقوت می شود آرزان
کرشمہ کن و بخرام و طرف بستان آئے — کہ در ہوائے تو گلہائے گلشن اندگران
زحسن دلبری و خوبی و کرشمہ و ناز — ہمہ تو داری اے دلبری وشاہِ بتان
بہ این لطافت و خوبی دریغ و افسوس ست — کہ نیست در دل سنگین تو زمہر نشان

بزلف وخال تو روہی مگر سرے دارد
کہ شد شکنجِ پریشان و تیرہ و ژولان

ہرکرا یار وفادار گزید این دلِ من — غیر نومیدی ازو ہیچ ندید این دلِ من
از غم وغصہ ہرناکس وکس ہیچ نشد — ہست از آہن و فولاد پدید این دلِ من
ترک مقصود بمقصود رسیدن باشد — شکر للہ کہ بمقصود رسید این دلِ من
عاشقی چیست غم و درد و بلا ربودن — سالہا شد کہ زروئے تو کشید این دلِ من
اہل نایاب چو عنقا شدہ در دورِ قمر — زین سبب از ہمہ افاق برید این دلِ من
سینہ را کرد تہی از غم ہجران شب و روز — از رہِ دیدہ بدامان بچکید این دلِ من
شاہبازست کہ مرساعتِ شہ را شاید — گرچہ بیہودہ بہر گوشہ پرید این دلِ من

سینہ را چاک کنم حالِ دلِ خود بینم
ہمچو خوشحال چہ در گوشہ خزید این دلِ من

دل طلبگار تو چندانست چو مطلوبی تو — جان خریدار تو چندانست چو محبوبی تو
کانِ حسنی و لطافت ہمہ سرشتہ ناز — چشم بد دور زشائستگی خوبی تو
سرو در باغ سرافگندہ از آن ست کہ او — قامتِ راست ترا دید وخوش اسلوبی تو

روہیا یوسف عہدست نگارِ تو ولے
نیست آگاہ ز دردِ دلِ یعقوبی تو

مارا چو دل بعشق نگارینہ شد گرو — اے ناصح این چہ درد سرے میدہی برو
مامست ساغرِ مئے عشقیم پیش ما — این وعظ واین نصیحتِ عالم بہ نیم جو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چشم و چراغ دیدهٔ غمدیدہ چون توئی — بہر خدا کہ لحظہ ز چشمم نہان مشو
ہان اے دلِ رمیدہ صیاد چشم او — چون صید زخم خوردہ اگر میدوی بدو
با ہر دو دیدہ آفت دین و دل آمدے — با ہر دو لعلِ آفتِ جان و تنم مشو
روھی قماش شعر تو نو کہنہ زا صفے
فرق معین آمدہ از کہنہ تا بنو

اے شیخ این چہ حجت و برہان نمودۂ — این دلقِ رقعہ رقعہ کہ بر خود فرو دۂ
پیوند غصہ ہائے تو بس نیست ای عجب — پیوند ہائے دلق بر آن بر فزودۂ
این دلق طیلسان تو چندان بکار نیست — چون واقف از رموز محبت نبودۂ
ما زہد خشک از تو بیک جو نمے خرم — ور زہد خشک خویش ز اجناس بودۂ
بیرون بر آ ببین کہ جہان بر تو تنگ نیست — تا کے درون گوشۂ خلوت غنودۂ
عفو خدا ز جرم من و تو زیادت است — لا تقنطوا از آیتِ قرآن شنودۂ
مخمور عشق باش چو خوشحال تا بکے
مغرور زہد و شیوهٔ شیطان ربودۂ

بخط نو رسید آن نو رسیدہ — بقتل عاشقان خط بر کشیدہ
بدین غنج و دلال او را چہ خوانم — درون تن روان و نور دیدہ
ز آب و گل نظیر او چہ جویم — کہ رضوان اینچنین حورے ندیدہ
بکام ہر دو عالم دست دارد — ہر آن کو آن لب میگون گمیدہ
ہمہ روح و ہمہ لطف ست و خوبی — بنامِ ایزد چہ نیکو آفریدہ
ز روھی میرود آن گلشن حسن
ز گلزارِ رخش وردے نچیدہ

لبت از آب حیوان آب بردہ — رخت نور از رخ مہتاب بردہ
ندانم در دو چشمِ او چہ جادوست — کہ از چشمانِ عاشق خواب بردہ
بتاب زلف و پیچ جعد مشکین — صبوری از دلِ بے تاب بردہ
گر آن بت را چو محراب ست ابرو — منم چون سجدہ در محراب بردہ
بعارض دل بچشمان دین بلب روح — سلامت را ہمہ اسباب بردہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نہ تنہا دل زخوشحال خٹک برد
کہ زہد از دستِ شیخ و شاب بردہ

اول بہ تیرِ غمزہ دلم را بدوختی — آنگہ کرشمہ کردی و جانم بسوختی
ما بر سر آمدیم چو پروانہ جانفشان — چون شمع چہرۂ رخِ خود را فروختی
گفتی کہ بوسۂ رخ خود را بجان دہم — وایوسفِ جمال بہ ارزان فروختی

آثار غمزۂ تو اثر برہمہ نکرد
از تاب غمزۂ دلِ روھی بسوختی

اے دلبرِ لاھوری باللہ کہ برخ اوری
خوبان جہان پیشت چون پیش مہ ستوری
پروائے شکر دارد آنرا کہ تومے زوری
خواہی کہ کنی شادم یکخندہ بدین لوری
غمہائے تو برجانم چون ابر اسد اوری
عالم بہ تو مے بینم در دیدۂ من توری
مے جنگی و میخندی اینہا ست زخمسوری
سودائے رخِ خوبت اندر دلِ من شوری

درکوئے تو چون کوہی
صد شیفتہ بسر توری

برو عالم عیان بودے چہ بودے — برایم یک زمان بودے چہ بودے
وصال او کہ چون عمر عزیز است — دریغا جاودان بودے چہ بودے
دریغا دائما پے کان تیرش — مرا در تن چو جان بودے چہ بودے
لب لعلش چو کانِ انگبین است — نصیبم زان دوکان بودے چہ بودے
برغم مدعی گہ گہ نگاہے — بسوئے عاشقان بودے چہ بودے
خدا در دل بتان را مہر دادے — وی اصبر از بتان بودے چہ بودے

بکوئے او کہ رہ دارند روہی
زخیل آن سگان بودے چہ بودے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بگرد کوئے تو کشتن مراد ما دے
بود کہ روئے تو بینم کہ کعبۂ ما دے

من این جمال ترا خود مثال کے یابم
کہ خود جمال تو از مہر و ماہ پیدا دے

منم کہ غیر ترا در جہان نمے بینم
خلاف نیست خبردار حقتعالے دے

نمے شوم متحمل بروز وعدۂ وصل
بیا بیا کہ دلم خوار و زار بے تا دے

بہ آرزوئے تو چونم بگویم اے مہ من
چنانچہ تشنہ و آبوتہ ناشکیبا دے

گمان مبر کہ زعشق تو بگردد خوشحال
چرا کہ بر رخ خوب تو دیر شیدا دے

بہار گشت در افغان ہمان کہ میدانی
بنوش مے برخ آن ہمان کہ میدانی

برائے دفع گزندِ پری رخان خوانم
شوم بر آتش سوزان ہمان کہ میدانی

بغیر وصل تو ما را قرار حاصل نیست
رسد ز شصت تو بر جان ہمان کہ میدانی

مرا کشی و بدل ناورے ز کشتن من
کہ عدل باشد و میزان ہمان کہ میدانی

نظر بروئے تو روحی ز دور میدوزد
تو خوش نشین بحریفان ہمان کہ میدانی

خود را بروئے خوب چو مفتون کند کسے
وانگاہ یاد محنتِ مجنون کند کسے

کائی بچشم آدمیان آن پری نہ!
از بہر دیدنِ تو چہ افسون کند کسے

ساقی بیار بادہ کہ فرداست آن ظہور
دل را ز بہر نسیہ چہ محزون کند کسے

بیگانگیست مذہب خوبان بہ آشنا
با او ز بعہد و قول بتان چون کند کسے

با داغ دل چو لالہ درین باغ زادہ ایم
از ماست ہر کہ زاویہ در خون کند کسے

دارم متاع دُرِّ گرانمایہ کے دہم
سوداگر بملک فریدون کند کسے

دیدم عطائے چرخ از آن تو بہ کردہ ام
با شد روا کہ منت گردون کند کسے

آدم صفت ز روضۂ رضوان بدر شوم
ما را اگر ز کوئے تو بیرون کند کسے

اول وفا نکرد بہ خوشحال بینوا
رسم وفا بجاست گر اکنون کند کسے

دلم بردی کنون در قصد جانی
بکن بسم اللہ اینک ہر چہ دانی

بہ تیغ غمزۂ تو گر بمیری
بیابم از تو عمرِ جاودانی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لبانت را چه گویم در دو زلغت میان ظلمت آن زندگانی
وصالِ آن پری رو رایگان نیست بیاید باختن جان رایگانی
اگر روهی ترا در دل اَلم نیست
چرا از دیدگان خون میچکانی

لطفِ بیحد وبیعدد کردی اینکه قتلم به تیغ خود کردی
تیغ تو آب زندگانی داشت کشتی وزندهٔ اَبد کردی
هرجفائیکه از تو بر دل ماست صد وفا را بر و حسد کردی
فارغست از سریر وافسر وجاه کز گدایانش نامزد کردی
دل زمن خواستی وجان دادم جانمن باز گو که بد کردی
چه شرابیست اینکه روهی را
به یکے جرعه بیخرد کردی

من آن صیدم که بر فتراک بستی به تیرِ غمزه جانم را بخستی
غبارِ بودم ودامان بدستم تو چون بادے زدستِ من بجستی
نخواهم یکزمانے زیست بے تو که در چشم بجائے جان تو هستی
چسان زین جور جان تسکین بیابد مرا کشتی وبے پروا نشستی
نمکدانِ دلم از خون تهی ماند نمک خوردی نمکدان را شکستی
بجان مشتاقِ دیدار تو هستم یکے بنگر همے دانم که مستی
ترا خوشحال این دولت پسند است
که پیش پائے او چون خاک هستی

من مظلوم را بر هر نگاهے تظلم میکند آن کج کلاهے
چه مے پرسی که چونی در غمِ دوست دو چشمِ خونفشان دل پر ز آهے
دلم چون بلبل شوریده در وے دلم چون جالهٔ خاشاک وکاهے
دلاور عاشقے بنگر بعالم که دارم همچو من حالِ تباهے
نظر بر روئے خوبان گر گناهست ندارد طاقتے پس جز گناهے
بر آن لب خال مشکین را چه خوانم دوکان قند وهندوئے سیاهے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ندارم طاقت روز جدائی فغان گر بگذرد این سال و مابے
تو اے بر راہ او افتان و نعیزان
ز دور بر متاب از داد خواہی

چشم ظاہر بین مردم مردم چشم سراست عاشقان را در درونِ چشم چشم دیگر است
سوسن آزادہ دارد دہ زبان در حمد او راستی در باغ و صحرا بر گلے پیغمبر است
دل کہ قانع گشت اورا گنج قارون گو مباش گر بنا رد ز آسمان باران غم نیلوفر است
من غلامِ ہمت آن کو طمع را سد بہ بست گرچہ نان جو ندارد جانمن اسکندر است
شیوۂ جود و کرم ہر کس کہ دارد حاتم است آنکہ نستاند نخواہد او ز حاتم خوشتر است
شاہ باش و میر باش و عاقبت ہیچ است و ہیچ از برائی عشرتِ دہ روز این شور و شر است
برفراز چرخ بالا برشدن دشوار نیست ترک دنیا در زبالا برشدن را شہپر است
نفس نافرمان درونم دیو بیرونم غنیم از کجا یابم رہائی من کہ ہر سو چنبر است
دار گون جامے ست چرخ نیلگون ہمچون حباب تا نہ پنداری کہ در جامِ نگون شربت درست
دل منہ بر دنیاؤ برجاہ و بر اقبال او بیوفائیہائے دُنیا پیش دانا اظہر است
ملک سنجر از حدود کاشغر تا شام بود ملک از آنِ دیگران ماندہ و نام سنجر است
در درون گور او باشد مگر عظمِ رمیم گرچہ گور بادشاہ ملک از خشتِ زر است
عاقبت بر خاک خسپی زیر سر بالین خشت گر ترا بلغار بالین وز بریشم بستر است
بگذارند در دل این اندیشہ خواہم شد ضعیف ہر کہ در ناز و نعیم دہر رون تن پرور ست
زہر در کاست بریزد زینہار از وے حذر با تو از راہِ خدیعت خصم شیر و شکر ست
یار آن کز وے ترا یاری رسد در وقت کار ورنہ منگر روئے او ہمچون درخت بے بر ست
باغبانا از خزانِ وے یکے اندیشہ کن گرچہ در وقت حمل باغ تو پا زیب و فر ست
حرف خاص از بہر خاصان حرف عام از بہر عام گوش نامحرم سروش غیب را کے در خور ست
معصیت مقبول طاعت رو چہ استغناست این کس ندارد دم زدن اینجا کہ حکم داور ست
قاصد آمد از دیار یار من آورد خط گوئیا ہر حرف او خوشبو ز مشک و از فر ست
یار در عالم نماند از ہیچکس یاری مخواہ در چنین عہدے کسے کو یار میخواہد خبر ست

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

عهد بے تدبیر و بیداد و دهش انصاف تو — حُبّذا ووا به میزد چه صاحب افسر است
تا چه بازی رخ نماید تا چه آید از فلک — ماه بختم در محاق و مهره ام در شش در نست
شاه عالمگیر را باید ثبات عدل و داد — گر ندارد این دو چیز آخر زوالِ کشور ست
قیمت گوهر نمیداند مگر گوهر شناس — از زبان مرد صاحبدل سخن چون گوهر ست

راستی را پیشه کن وانگه دمے مردی بزن
مرد گرمے بود درعالم چو شاه خیبر است

منکه خوشحال ختمکم زچه رُو — منت سفله و رزاله کشم
وقتِ مردن زدستِ هر دونے — شربتِ آب زندگی بچشم

یک نیمه بلهو عمر باطل بگذشت — برخے بغمِ شکل و شمائل بگذشت
اے دل پس ازین مباش چون بیخبران — از بهر خدا که عمرت از چل بگذشت

امروز به از قصر شهان خانهٔ ماست — چون آن بتِ بگذیده بکاشانهٔ ماست
گنجے که بکنجِ ویران طلبند — اینجا بطلب که کنجِ ویرانهٔ ماست

پیرے که در وقوت و اورا کے نیست — وز عشق بتان دردلِ او چاکے نیست
ریش پدرم سیاه در عمر دراز — ریش من اگر سفید شد باکے نیست

..... * .....

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شپږم توک

فضل نامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ۝

کل ثنا په شغهٔ شائی چه ثنائے هرځوک وائی
کهٔ څوک کوز دی کهٔ څوک پاسدی دَدهٔ واړه په سپاس دی
چه موجود ترماهی ماه دی په وحدت دَدهٔ ګواه دی
کهٔ مومن دی کهٔ کافر دی په خدایئ دَدهٔ مُصر دی
هسے لوئے عظیم بادشاه دے چه آسمان دَدهٔ مزکاه دے
مزکه فرش ور باندِ غروله ځائے په ځائے لکه میخونه
دا همه دَدهٔ صفت دے چه دَملک زیب وزینت دے
په سجود ورته حجر دے په قیام ورته شجر دے
دهٔ آفتاب هسے رخشان کړ دهٔ مهتاب هسے تابان کړ
دے دَمزکے مخ زیبا کا پرے زیبا کلونه وا کا
خولے ته خوند ورکړے دهٔ دے توان دَشخوند ورکړے دهٔ دے
تکړه غوبنه دے ګویا کا قطره وازده دے بینا کا
دے شیخان مناجاتی کا دے رندان خرابا تی کا
دے بنا نست ورکا وکل ته دے پرے عشق ورکا بلبل ته
دے آواز کښیږدی په نے کښے دے مستی کښیږدی په مے کښے
دے افسر ورکا خروس ته بنهٔ منظر ورکا طاوس ته
دے آهو ته نافه ورکا له غوایهٔ پیدا عنبر کا
دے آواز ورکه رباب ته دے ګداز ورکا ګلاب ته
دے پیدا که نازنینے آهو چشمه مه جبینے
دے عاشق باندِ شیدا کا عاشقی باندِ پیدا کا
دے باران وکا یا واورے مرغزار کهٔ سپیرے خاورے
اول شنهٔ بوټی پیدا که بیا ګلونه باندِ واکه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیادے بوئی کښیږ دی په کل کښے
بنائسته، کاندی باغونه
څو ډ باغ ډ بوستان وئے
وار و ونو ته بار ورکه
وښی پوڑ په انګور کی
چه باران ئے ډ احسان شی
لکه کل خوږم تازه شی
چه ډډه ډ احسان خوان خوږ
هم عاصی باندې مهربانی
چه په تخت کښینوی دے دے
که کوم په عزازیل کی
که آدم اچوی اور ته
بادشاهی که په منی دے
نه ډډه ډ ملک زوال شته
سلطنت ئے لا یزال دے

بښکلی پانړو یا سنبل کے
په ګلونه هم مراغوږے
لوئے کے نوی پاڼی
لون لون اشهار ورکه
تورو سپین په لذت پوڑ کی
په خندل په سیب پکښ شی
هسے بناد په نم تازه شی
واړه خلق ئے یکسان خوږ
هم تقی باندې رسیږی
چه له تخت لوړوی ډډه دے
نشته څوک چه قال وقیل کی
څوک به سرنډ کا ورپورته
ذات ډډه دے چه غنی دے
نه ئے مل نه ئے څوک سیال شته
لایزال دے ذوالجلال دے

صفت ډ پاک رسولؐ

مشک ګلاب دواړه سره کړه
ورک ډ خپل خولے بوئی بد کړه
چه ډ دوه کونو بادشاه دے
ډډه حکم په هرجنس دے
دے په خان ډ علم کان دے
دے منذر دے، دے بشیر دے
که تورنیت که انجیل بنکلی
په وار وار په زابره بنکلی

خولۍ صفا په غږ غږ کړه
بیا ثنا ډ محمدؐ کړه
محمدؐ ډ عبدالله دے
که ملک که جن که انس ډ
نازل شوے پرے قرآن دے
شریعت ئے بے نظیر دے
په وار وار په زابره بنکلی
نجم نجم شان شان راځے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا په داچه دے کامل وو
درست قوت دَدۀ حاصل وو

هر آیت به چه نازل شۀ
درست به ځائے دَدۀ په دل شۀ

دَنسیان ویره ئے نۀ وه
دَنقصان ویره ئے نۀ وه

دَموسیٰؑ کۀ دا قوت وے
دَعیسیٰؑ کۀ دا فطرت وے

څله تورات و انجیل دواړه
کښلی ولے را تلۀ دواړه

درست قرآن واړه اعجاز دے
چه تر بے تر سینه ساز دے

چه هوښیار دَدرست جهان دی
په قرآن پورے حیران وی

تَتَبّع کۀ دَ قرآن کا
په آیت به رسوا ځان که

محمّدؐ په علم ډیر وو
تر موسیٰؑ تر عیسیٰؑ تیر وو

دَدۀ علم ډک قلزم وو
درست وشیش علم ترے کم وو

ترلکهٔ زیات پیغمبرانؑ دی
ریزه خوار دَدۀ دَخوان دی

په هرشان محمّدؐ ستایه
خو یوخدائے ورته مۀ وایه

بیان دَ چارِ یارؓ

چار یاران ئے برگزین دی
څلور ستنے ئے دَدین دی

اول یار ئے یارِ غار دے
دویم یار ئے دُره دار دے

دریم یار دَدۀ عثمانؓ دے
څلورم شاهِ مردانؓ دے

دوه سخران دوه ئے زومان دی
په بزرګئی کښے په یکشان دی

بزرګه لور ئے فاطمهؓ ده
دَ بزرګئی پرے خاتمه ده

مرتضیٰؓ دَدے شوهر دے
چه تربورَ پیغمبرؐ دے

امامان دی ترو زوی
پاک نبیؐ واړه ستائیلی

شواهد دَ نبوّت دی
ښائسته دَ امامت دی

صلوات له ما په وارد
تحیّات له ما په واړو

زۀ دوستدار دَدۀ دَآل یم
په دوستئی کښے ئے خوشحالیم

چه دښمنۀ ئے دَ اولاد دی
هغه کل په بلا یاد دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ذِکر اَسامی د امامانو

د جهان دولس امام دی
په حدیث کښے نام په نام دی

یو علیؓ دویم حسنؓ دے
بل حسینؓ پاکیزه تن دے

چارم زین العابدینؒ دے
بل باقر ستنه د دین دے

بل جعفرؒ ورپسے هم دے
بل امام موسیٰ کاظمؒ دے

بل امام، علی رضاؒ دے
محمد تقیؒ بل بیا دے

بل امام، علی نقیؒ دے
بل حسن عسکریؒ دے

بل امام، امام مهدیؒ دے
چه د درست جهان هادی دے

د بی بی زهراؓ اولاد دی
پشت په پشت داهسے یاد دی

پاک سُنی هغه آدم دے
چه د آل په عشق محکم دے

ذکر تالیف د کتاب

دا سر کال چه د غفط دے
یو کتاب م په نمط دے

چه ئے نوے بنیاد کښیږدم
یو دا کار په جهان پریږدم

ساده نظم بے دِقته
بے اشکال بے لُغته

په خفیف بحر وئیلی
تکلّف څنے وتلی

چه آسان په یادؤل وی
مختصر بنکلی په کښل وی

چه هر څوک ورته وګوری
نیک عمل وته و شوری

چه لاندے مسئلے دی
د رسولؐ د پاکے خولے دی

له حدیثه له آیته
له توحیده له طاعته

زهٔ یاری غواړم له خدایه
چه حرف ونهٔ کښم بے ځایه

خاص اخلاص راکه و مانه
بل غرض وُځی له میانه

کار پرے ساز اول ځماشی
د هرچا په غرض بیا شی

د حکمت له کتابونو
راوتلی له بابونو

د دُنیا د زیست خبر
پکښے هم شته دی نادر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دین دُنیا به پکښے مومی — کهٔ په حکمۍ څوک دروی
دا کتاب چه درست زیادے — سراسر فضل عطا دے
چه عطا نهٔ وی له غیبه — کار خالی نهٔ وی له عیبه

باب دَ معرفت دَ پیغمبرانوؑ

ترلکه نریات پیغمبران دی — څوک نبیؑ څوک مرسلانؑ دی
همه واړه نیک کردار دی — امینان دی وفادار دی
عالمان دی راست گویان دی — دَ وګړی نیک خواهان دی
نهٔ ئے نفس نهٔ ئے هوا وه — هره چارئے په ربښتیا وه
یا به وحی یا الهام وو — چه ئے چا وته کلام وو
زیات وکم ویل ئے نهٔ کړهٔ — چه ئے کړهٔ واړه ئے بنهٔ کړهٔ
محمّدؐ پکښے افضل دے — هم آخر دے هم اول دے
دَ دین کار په دهٔ تمام شهٔ — خاتمت دَ دهٔ په نام شهٔ

فصل ذکر دَ موت

ولاړ په دا قلم مطلق دے — مرګ په واړه و باندِ حق دے
هرچه وُزیږی له مورهٔ — بیا به وری شی ترګوره
عزرائیلؑ په دا مامور دے — چه هرخوک وژنی دستور دے
ترقیامته شر و شور دے — له اول منزل دَ ګور دے
سوال جواب دَ ګور دے یاره — نیک و بدئے حق وشماره
په نیک بخت به ګورګلزار وی — په بد بخت به غرد ناروی

فصل-ایمان راوړنه په حشر

حشر حق دے و به شینه — نیک و بد به مو تلینه
اویزانده به کا تله — عدالت به کا پخپله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جبرائیل به وزن کاندِ
حکم دادے په دۀ باندِ

چه کفی دَ ترازو دی
برابره په هر سودی

چه دا درسته دُنیا واړه
څوارلس ځله به وی دواړه

دَ هرچا چه څۀ کردار وی
دَ اخیارکۀ دَ اشرار وی

همګی به وزن کیږی
جبرائیلؑ به پرے خبریږی

کۀ نیکی زیاته وی څومره
چه دَ ژدنو دانه هومره

هغه کس به جنتی شی
په حساب به فرحتی شی

چه ئے تله سپکه شینه
ودوزخ لره به ځینه

باب - خلق درے ګروهه پیدا دے

په قرآن کښے حکم دا دے
خلق درے ګروهه پیدا دے

مومنان منافقان دی
بیاله پسه کافران دی

لارښیونے دَ هرچا دے
ضلالت کۀ دَ هدیٰ دے

هدایت کۀ ضلالت دے
کل دَدۀ په مشیت دے

مَنْ هَدَی اللّٰهُ ته نظر کړه
مَنْ یُّضْلِلْ هسے باور کړه

دَ طاعت توفیق له دۀ دے
دَ عصمت توفیق له دۀ دے

معصیّت دَ کافرانو
ضلالت دَ کافرانو

په قضا په تقدیر وینه
داهیڅ بے حکم نۀ شینه

امادا نۀ حجت کیږی
هرسړے دِ د پوهیږی

کۀ مومن طاعت ته شاکه
په تقدیر حواله دا که

دا په شرعه ناروا دی
چه دا کا لاړ په خطا دی

کافران کۀ دا حجّت که
واړه کار په ضلالت که

په دا باب قرآن ګویا دے
لارښیونے دَ هدیٰ دے

په قرآن دِ عمل کاندِ
پل دِ نۀ بردی روستو وړاندِ

په قرآن چه عمل نۀ که
ودوزخ وته به تلۀ که

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په خپل عقل څوک دروی
په دا لار زوال به مومی

دا څانے کار دَ هیڅا نهٔ دے
کهٔ هرڅو دانا په زړهٔ دے

په قضا په قدر جانه
مرسلان دی بے سامانه

په بلال عنایت وشهٔ
په بوجهل باندِ ننهٔ شهٔ

جَاهِدُوا فِيْنَا وار وکړه
نور غلط فکرونه مهٔ کړه

مدعی کهٔ مبتدع دے
فلسفه کهٔ مخترع دے

د پرکروهونه کمراهان دی
چه دَ دین مخالفان دی

څنے لرے لرے کرځه
دَ ښه ندو غوندِ مهٔ پرزه

په قرآن باندِ نظر کړه
چه غلط نهٔ شے باور کړه

دا قلزم خونی قلزم دے
تل په موج په تلاطم دے

دَ قضا دَ قدر جانه
الحذر الحذر جانه

چه په دا قلزم کښے غرق شی
هم بے پائ هم بے فرق شی

درست وشرع ته تسلیم شه
په دا بحر کښے بے بیم شه

فصل - ذکر دَ پُلِ صراط دَ گذر

مومنان دِ وگروهیږی
په صراط به گذر کیږی

صراط جسر په سقر دے
ترتیرے تُورے تیز تر دے

تر الماسه برنده دے
جهنده دے خیزنده دے

تر ویښتهٔ باریک ښکاریږی
تور تر تورے شپے یادیږی

په زرگونه کروهه لوړ دے
بے حسابه ئے تیغ جور دے

خلقے به پرے تیریږی
له هیبته به لرزیږی

په ایمان به تیریدهٔ وی
په طاعت به خلاصیدهٔ وی

څوک به برق غوندِ تیریږی
څوک به باد غوندِ بهیږی

څوک به یے لکه مرغونه
یا تیز پر یا سُست پرونه

څوک اَس غوندِ پرے زغلی
څوک به یون کاندِ د پلی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوک به تیر په ورځ نه شی
څوک به کال وربانډ درومی
په پینځه ویشت زره کاله
ورښنائی به ډ ایمان وی
مومنان چه په صراط ځی
فرښتے به ورسره ځی
بشارت به بانډ کانډ
په صراط مشکلی ګرانه
هسے رنګ به ډډۀ تلۀ وی
په جنت کښے به داخل شی
په صراط فرښتے یاره
یو توحید ایمان صلوٰة هم
شپږم حق ډ مورویلاردے
چار ډ غسل ډ وضو ده
کۀ په دا کښے ډ کارسازوی
کۀ په دا کښے لرو برے
مؤمنان چه ګذران شی
په صراط چه ګذر کانډ
فریادونه به آغاز کا
حجابونه به پیدا شی
و دوزخ ته به پریوزی
ډ بد بختو به مخ تور وی
و دوزخ ته به روان شی
په عذاب کښے به تل اوسی
مصاحب به ئے شیطان وی

څوک به تیر په ماهیانه شی
په رنګ رنګ به خلاصے مومی
حال به دا وی ځما لا له
په طاعت به کار آسان وی
همکی به په نشاط ځی
خوښ به دے په بدرګه ځی
ورسره ډ روستو وړانډ
په مومن به شی آسانه
چه په هیڅ به خبر نۀ وی
یو نشاط به ئے په سل شی
له تاغواړی یو څو کاره
روزه حج پینځم زکوٰة هم
هم ډ خویش و ډ تبار دے
چه پاکی ئے مو په مو ده
په صراط به دواړه ساز وی
خود به خود ډ جان خطرے
بیا به وار په کافران شی
تاریکی به وی پرے بانډ
پریوتو ته به ځان ساز کا
ځائے په ځائے پرے ډزا شی
په آتش کښے به کښیوزی
واړه تن به ئے تورسکوروی
غم به ساز ډ دوئ په ځان شی
کل بنادی به ځنے یوسی
په دوزخ کښے به حیران وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے کړے معصیت وی — هغه دم به فضیحت وی
خپل دفتر وته به ګوری — شرمنده به وی مخ توری
جاودان به ئے عذاب وی — په دوزخ کښے به کباب وی

فصل - دَ بعث یعنی پس دَ مرګه ژوندون

لکه ګوروته چه یون شته — پس له مرګه بیا ژوندون شته
خدائے په هرچاره قادر دے — بل ژوندون تروالا زر دے
چه په دا باندِ څوک شک کا — ځان به درست له کفر ډک کا
په آواز دَ صور له ګوره — پاسیدل دی ځما سره
صور شپیلئ دَ اسرافیل ده — لوئ دَ پونسو لکهه میل ده
فراخی ئے ځما لاله — چه سړے ځی په زر کاله
څلور بنکرئ دَ صور یا دیږی — هریو بنکرئ جهان کیږی
دَ عمل نامے به واشی — په هرلوری به غوغا شی
څوک نیک بخت څوک به بدبخت وی — دَ بدبخت حساب به سخت وی
چه نامه په ښی لاس ورکه — نور قیامت به پرے اختر که
چه نامه په کینږ لاس مومی — ورد وزخ لره به درومی
دَ دۀ مخ به واړه تور وی — درست وجود به ئے تورسکور وی
دَ نیک بخت مخ به تابان وی — ترمهتاب به لا رخشان وی
راضی من به ځنے خدائے شی — جنتونه به ئے ځائے شی
تل به اوسی په جنت کښے — په خوشئ په راحت کښے
ورسره به وی تل حورے — په هردم ورته حضورے

فصل - دَ دوزخ او دوزخیانو

داحدیث دَ مصطفیٰ دے — دوزخ څو رنګه پیدا دے
دی اُوۀ درکه کل واړه — تۀ امان له واړو غواړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جهنم اول دوزخ دے
بیا لظیٰ دے بیا حطمیٰ دے
بیا پینځم سقر اے یاره
قعر هومره د هریک دے
عرض وطول ئے په حساب کښے
هرهر کروه چه کافران دی
هریو کروه به سره یک کا
دوزخیان به وی مخ توری
په کردن کښے ئے طوقونه
د قطران جامے د واړو
چه خوراک ئے تل زقوم وی
د اوبو به تل مشتاق وی
چپ و راست د روستو وراندِ
هم به پوست د دوئ رژیږی
په دا رنګ به پرے تیریږی

په عذاب هرکوره شخ دے
څلورم ئے هاویه دے
بیا سعیر جهنم وشمارہ
چه حساب ئے لکه درلکه دے
دیر یاد یږی په کتاب کښے
مشرکان که فاسقان دی
هردوزخ به باندِ پک کا
سترګے شنے بد بد به کوری
په زنځیرئے پښے لاسونه
ترے به بوئ خئ د مردارو
بنهٔ څیزونه به معدوم وی
یا غسلین یا به غسّاق وی
سرے لمبے به وی پرے باندِ
هم به بیا ور باندِ کیږی
جاودان به عذاب یږی

فصل - تعریف د جنتو نو د جنت د نعمتونو

د جنت صفت به وایم
د جنت لائق نیکان دی
څو فراخ دی جنتونه
څو آسمان مزکه دا واړه
اتهٔ ورونه د جنت دی
دی لوئ لوئ ئے قصرونه
په هر لور بنکلی باغونه
سنګریزے به ئے کوهر وی

نعمتونه به ئے ستایم
پرهیزګاردی مطیعان دی
په صحیح روایتونه
اُوهٔ څله تهٔ دا واړه
وبله پاس په درجت دی
د یا قوتو محلونه
مشک عنبر مزکه راغونه
د دیوال خښتے به زر وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مخامخ به شی تختونه — په هرلوری نعمتونه
تل ترتله به بهار وی — په هرلوری به گلزار وی
واړه ونے ئے باردارے — تل ترتله میوه دارے
که ئے خوند دَ میو کښم — ترے به کله ورسم
په هرلور به څۍ جویونه — په څلور رنګه تویونه
یو عسل بل به شراب وی — بل به پئ بل به آب وی
تل به وی دَ ونو سُوری — رنګا رنګ میوے بر پورے
څو صفت ئے کړم له خوندہ — ترمړئ به څۍ بے شخوندہ
نهٔ به رنځ نهٔ به زحمت وی — نهٔ به غم نهٔ به محنت وی
نهٔ به تاؤ نهٔ به غارمهٔ وی — نهٔ به باد نهٔ به سارهٔ وی
نهٔ به ترس وی نهٔ به بیم وی — نهٔ بد خواه نهٔ به غلیم وی
نهٔ به مرګ نهٔ به فنا وی — تل ترتله به بقا وی
جنتی به تل ځوانان وی — زور قوت به ئے چندان وی
شائسته به ترمهتاب وی — دَ تخرګ بوئ به ئے دَ ګلاب وی
هر ثمر ته ئے چه زړهٔ وی — بے تکلیفه به خوله وی
چوښهٔ اَس څۍ په سل کاله — دَ کمتر مومن اے لا له
ملک به هومره دَ جنت وی — مُلتبب به په نعمت وی
که دَ حور وصفت غواړے — په قرآن کښے به وویاړے
نظر وکړه په قرآن کښے — په سورهٔ الرّحمٰن کښے
غټے غټے سترګے واړه — مکلّل مِنیٰ په غاړه
سترګے قاصرات الطّرف — په سپین والی لکه برف
رنګا رنګ حُلّی مهینے — زرغونے زیړے سرے سپینے
تر اویا حُلو دَ لاندے — دَ دوئ تن به بریښنا کاندِ
هم به حُور هم به غلمان وی — بنائسته به په دا شان وی
په مړوند وَ شی دَ زړو — مرصّع په څو ګوهرو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مخامخ به وی تختونه
خوښ به ناست پرے مومنان وی
تحیّت به سره وائی
نندارہ به د دیدار کا

فرش فروش بنکلی رختونه
خادمان به ئے غلمان وی
په سلام به سره پائی
حمد به وارہ ددے کار کا

دریم باب

ذکر عبادت ومعرفت چه سره لازم وملزوم دی

عبادت بے معرفته
اول پوه په معرفت شه
ځان ساته له معصیته
که خبر په معرفت شی
په ایمان کښے د خلل وی
کافران په خدائے خبر دی
حقیقی مومن هاله ئے
که د شناخت هم د طاعت شته
کبیره د ایمان زیان دے
زد کړه شه له مابے درنګه
هرچه کم دی صغیره دی
که سړے کبیره نه کا

وارہ هیڅ دی پر غفلته
بیا خبر په عبادت شه
موافق شه له طاعته
لت په امر په طاعت شی
شناخت طاعت سره الول وی
چه طاعت نه کا کافر دی
ګنړه زده کړه مومن نه ئے
هم د ترس د معصیت شته
هر طاعت لره نقصان دے
ګناهونه دی دوه رنګه
هرچه لوئ دی کبیره دی
صغیره به ئے خدائے بنه کا

فصل د اهل کبائرو او کبیره ګناهونه چه څودی

کبیره وارہ اته دی
چه په ژبه شی یازده دی
کبیره د نفس اوه دی
په لاس درے دی نه څلور دی

شپږ ویشت هم په آوریده دی
بنه ئے زده کړه که د زده دی
زیات وکم تر اوه نه دی
یو په پښو په فرج دوه نور دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دوه په درست واړه ازام دی — شپږ ویشت وشماره تمام دی
چه په ژبه یازده یاد دی — تعداد کړی م اُستاد دی
دروغ کل واړه ناروغ دی — کبیره هغه دروغ دی
چه پرے زیان د مُسلمان شی — لس درمه دَچا زیان شی
کله شه د هغهٔ نه بیره — چه دروغ وائی په بیره
بل چه چا وته دشنام کا — په زنا سره ئے بدنام کا
بل غیبت دے بل بهتان دے — سخن چین هم په دا شان دے
چه لقب په مومن ساز کا — چه مومن په غم گداز کا
بل سوګند په دروغ شماره — بل ګواهی په دروغ یاره
چه دَخدائے شریک پیدا کا — بل چه سحر په عمدا کا
چه په نفس وی هغه دا دی — تهٔ ئے ومنه ړ بښتیا دی
چه مالونه د یتیم خوری — سوائی خمر بے بیم خوری
چه ستم په مُسلمان کا — مال ئے خوری ناحق ئے زیان کا
چه دَکوس غوښے څوک خوری — یا مردارے پخو یی
چه کشتار د کافران دی — چه ئے غوښے خوری داشان دی
چه په لاس کبیره کیږی — هغه دا ر نګه یادیږی
اول قتل په ناحق دے — بل د غلا نقل مطلق دے
بیا چه ظلم بیدادی که — بنکاره خلق فریادی که
چه په پښو کبیره یاد دی — هغه یو داهسے زیاد دی
چه په جنګ کښے له کافره — پښه عقب که له مقره
چه په فرج دی یو زنا ده — لواطت بده بلا ده
چه په درست اندام ئے شمار دے — یو آزار د مور و پلار دے
بل چه فرض دخدائے قضا که — کبیره ګناه هم دا که

فصل خلود د اهل نار چه تل په دوزخ کښے وی

چه ظالم دے یا فاسق دے — د دوزخ د اور لائق دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که کافر د حقیقت دے
نمونځ پرے روغ په شریعت دے

جنازه دِ نۀ وشینه
چه ترکوره ورنۀ شینه

د لحد کانے پرے کیږ دی
دے عمل دوبله پریږ دی

شرمنده به گور ته درومی
خود به خپله جزا مومی

چه په خولۀ کلمه گوئ دے
ظن پرے بنۀ کړه که بدخوئ دے

په دا باب قرآن ناطق دے
خلاص به نشی چه فاسق دے

جاودان به ئے عذاب وی
په دوزخ کښے به کباب وی

څوک چه امر د خدائے نۀ کا
په خلاف د رسولؐ تلۀ کا

په دُنیا به ئے مخ تور وی
په قیامت به ئے ځائے اور وی

دا یوځو فرقے نامردے
یادے شوی دی لا بدے

هر سړے چه ناحق خون کا
په دوزخ به ئے درون کا

چه دوزخ لره رخت یوسی
همیشه به پکښے اوسی

څوک چه مال د یتیم خورینه
په سفر کښے به تل وینه

څوک چه مال د رباخورینه
دوزخی دے چه وُمرینه

داخبر د پیغمبرؐ دے
تواتر دے معتبر دے

چه عاصی د موروپلار وی
له هغۀ به خدائے ویزاروی

ترجنته به ورنۀ شی
هگۀ هرڅو په عمل بنۀ شی

سخن چین په داحساب دے
بل چه مخ ئے په شراب دے

بل چه څان پخپله مړ کا
په چاړۀ یا په لوړ کا

ترکمر کۀ څان پریباسی
یا په اور ئے ننه باسی

اغلامی غمازی دواړه
خُلد حرام دی په دا واړه

دے وعید ئړه هغه دی
چه مصر په کبیره دی

خلاص کړه څان له کبائره
مکړه غم له صغائره

صغیره د آدم زاد دی
کبیره د بد نهاد دی

فصل۔ ذکر د خیر او د شر

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خیراو شرچه له چا کیږی — کفرظلم پیدا کیږی
په بنهٔ ویاړه په بد ژاړه — د سړی فعل دے واړه
کهٔ وخدائے ته ئے نسبت کړے — دا خطا په شریعت کړے
څوک چه ظلم معصیّت کا — خدائے ولے عقوبت کا
کهٔ دا فعل د دا داردے — سکه دا دار د ظلم کار دے
چه پخپله فعل و کا — حواله په تا بد بنهٔ کا
کهٔ وخدائے ته ظالم وائی — صریح کفر به و نمائی
چه بدی کړے ته ظالم ئے — کهٔ ظالم د مظالم ئے
مشیّت واړه د دهٔ دے — مشیّت چه کل د دهٔ دے
فعل کړونے ئے سړے دے — په بنهٔ بد نیولے دے دے
دا څائے، څائے د ښوید و دے — فکر دوب په اندیښنو دے
څان لازم بوله په بد و — مکړه نور فکر در د و

فصل - ذکر د کناه او په کناه باندِ توبه

کبیره کناه چه و کا — خوارشه دے کهٔ توبه نهٔ کا
کهٔ توبه ئے په اخلاص وی — له دوزخه نه به خلاص وی
د عاصی توبه قبلیږی — مغفرت ور باندِ کیږی
څان چه چرک د کناه مومی — د توبے په صابون دروی
چه توبه ئے د نصوح وی — د توبے به ئے فتوح وی
د توبے شرطه څلور دی — پښیمانی په زړهٔ درنوردی
استغفار وئیل په ژبه — بیا کناه مهٔ کړه تائیبه
تپنګیدل په توبه جانه — چه بیانهٔ کړه توبه وراته
په دا رنګ کهٔ توبه کا رشے — له توبے به برخوردار شے
کهٔ قضا دِ وی نه نخوُنه — یا عشرونه زکوٰ تونه
په قضا چه روژے ستا وی — یا د خون دعوٰی په تا وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ علاج د واړو وکړی
په توبه به نور زړۀ بنۀ کړی

ستا توبه ده د خاصانو
ئے له خاصو مُسلمانو

کۀ توبه دِ په غرض ده
دا توبه نه د مرض ده

تعریف د اخلاص د طاعت نه د ریا د عبادت

راشه واوره هسے دین
مُخۡلِصِیۡنَ لَهُ الدِّین

په عمل کښے پیچا پیچ دے
طاعت بے اخلاصه هیچ دے

هر طاعت چه په ریا وی
د سړی د ځان بلا وی

په پینځه رنګه ریا ده
داخبره په ښتیا ده

اول داچه طاعت کاندِ
چه عالم ِم صفت کاندِ

داطاعت ئے هم خراب دے
څوئے کاندِ لا ثواب دے

په قیامت به روسیاه وی
داطاعت به ئے ګناه وی

بل چه هسے طاعت کاندِ
بله خلق ِم خدمت کاندِ

بل دُنیا په طاعت غواړی
چه دُنیا مومی ویاړی

بل چه مټ په طاعت ډیر کا
خپل شهرت په زړۀ کښے تیر کا

هغه هم څۀ طاعت نۀ دے
چه ئے کاندی کله بنۀ دے

بل چه خلق وی طاعت که
چه تنها وی معصیّت که

داریا ده ډیره بده
ترے ِم وساتے اَحده

د اخلاص طاعت هغه دے
چه غرض ترے په ستنه دے

بے غرضه وی اے یاره
خاص ئے کړه د خدائے دپاره

له ریا نه زړۀ خلاص بنۀ دے
یوسجود په اخلاص بنۀ دے

د ریا طاعت اے جانه
لږ و ډیر دے له نقصانه

فریضه طاعت سړکند کړه
پټ دِ نفل کا پسند کړه

فصل - صفت د علم او د علم د فضیلت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زده کول د علم فرض دے
په میړو په ښځو فرض دے

صد رحمت په هغهٔ باندِ
چه طلب د علم کا نـدِ

پیغمبرؐ دی فرمائیلی
دهٔ تر پاکے خولے ایستلی

کهٔ تر منځ دریاب یا اوروی
په بل لور د عالِم کور وی

وَ عالِم ته به هورے ځی
کهٔ غرقیږی یا کهٔ سوزی

علم واړه عبادت دے
څوچه کیږی سعادت دے

یو ساعت له عالما نو
ناستے څو دے مُسلمانو

چه یو کال په کعبه تیر که
څوک طاعت پکښے ډیر که

چه د علم په طلب ځی
کهٔ په ورځ ځی کهٔ په شب ځی

په هر کام به ثواب مومی
چه تر کور تر مکه دروی

چه یوه مسئله زده کا
خدائے به دے آمرزیدهٔ که

نه هزار رکعته نفل
نهٔ یوه مسئله نقل

چه عالم نهٔ وی په کلی
هغه کلے دِ وهلی

د عالِم مرتبه څویه
تر شهیده لاده لویه

فضیلت د علم ډیر دے
تر حساب تر شماره تیر دے

چه د شرعے بندوبست دے
دا همه د علم دست دے

کهٔ حلال کهٔ حرام دواړه
علم زیاد کړه ورته واړه

کهٔ کفتن کهٔ شنیدن وی
کهٔ رفتن کهٔ نشستن وی

کهٔ خواړهٔ که اوښنل وی
کهٔ د ستر کو اړول وی

کهٔ سجود دے کهٔ طاعت دے
کهٔ ادب دے کهٔ خدمت دے

کهٔ غزا ده کهٔ زکوٰة دے
کهٔ حاجی دے عرفات دے

کهٔ عابد د عبادت دے
کهٔ زاهد کُنج وَ خلوت دے

کهٔ بادشاه د مملکت دے
کهٔ دهقان د زراعت دے

کهٔ نکاح کهٔ زیست روزگار دے
کهٔ صائم کهٔ نمازگذار دے

کهٔ زکوٰة کهٔ مزکی دے
یا کهٔ فعل د زکی دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داچه ډیر داهسے کاره
نۀ شی بے علم اے یاره

چه بے علمه طاعت کیږی
کۀ هزار کا نۀ قبلیږی

چه بے علمه قیل وقال کا
هغه کل د جان وبال کا

چه کرم با ندِ د خدائے شی
زړۀ هاله د علم ځائے شی

فصل۔ اِثبات د نبوّت

محمّدؐ چه پیغمبر دے
ستا په کوم دلیل باور دے

دلیل دا چه معجزات
لری دے بے نهایات

معجزۀ ئے قرآن دے
چه راغلے په ښۀ شان دے

عرب ډیر فصیح زبان وو
دانشمند د خپل اوان وو

اتفاق ئے په دا کار وو
له قرآنه نے انکار وو

مُدعی د مصطفیٰ وو
په بطلان ئے په غوغا وو

څۀ کۀ دین د ده باطل کړو
سحر کر یائے چه بل کړو

جدلونه ئے برپائے کړۀ
کوششونه ئے په رائے کړه

یو آیت لکه قرآن وو
چا ونه وی هسے کران وو

په دا کار کښے سرګردان شول
آخر خاورے د قرآن شول

همکی واړه عاجز شول
د رسولؐ په دین فائز شول

قرآن درست واړه متین دے
معجزه تر بے وسین دے

د عیسیٰؑ معجزه دا وه
د مړو ئے په احیا وه

د موسیٰؑ عسا یه مار شوه
یا به ونه په اثمار شوه

معجزه د محمّدؐ شته
یو قرآن دے کښے سرمد شته

کۀ تر شرق تر غربه واړه
قصیحان سازه کا غاړه

یو آیت لکه قرآن دے
را به نۀ وی هسے کران دے

په اعجاز ئے کړه دوه نیمه
هومره اوزمکے جسیمه

بل کویا ورته کباب شۀ
بل ئے لاس چشمه د آب شۀ

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بل سوسمار ورنه خبر — په بنکاره وکړهٔ نا در
په اعجازئ وبله پور — اوبهٔ بنے شوے تلخی شور
په فراق د دهٔ نالانه — د مسجد ستنه شوه جانه
په هوا وو اوهٔ پاسه — غرد دهٔ د سر دپاسه
چه ئ و بلله ونه — ورته را غله لویه پلنه
دهٔ به وښئیل څیزونه — چه به ورک شول په ملکونه
معجزے ئ وے بے شماره — زهٔ ئ څوکښم درته یاره
کهٔ ئ کښم کتاب اوږد یږی — دانایان به خود پوهیږی

فصل

فضایل د رسولؐ د اصحابو او خلاف په مرا تبود دوئ

د رسولؐ چه لوئ اصحاب دی — خدائ یادکړی په کتاب دی
سَابِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ — راشه واوره په غوږ ونه
فضیلت د واړو ډیر دے — ترشماره ترحساب تیر دے
کهٔ د دوئ فضیلتونه — غواړے کوره آیتونه
هر اصحاب ئ چه په نوم دے — لار بنیونے کالنجوم دے
چه اصحاب ته ئ دشنام که — په لعنت به ځان بدنام که
د شیخینو سب چه کاندِ — صد لعنت په هغو باندِ
د اجماع په حکم یاره — کُشتنی هغه وشماره
لس یاران ئ صحبتی وی — شک ومهٔ کړه جنتی دی
یو بوبکرؓ بل عمرؓ دے — بل عثمانؓ دے بل حیدرؓ دے
پینځم سعدؓ دے اے یاره — بیا شپږم سعیدؓ وشماره
ورپسے طلحهؓ زبیرؓ دے — خپل وجود ئ دے نهٔ غیر دے
بیا ابوعبیدهؓ نهم دے — بیا عبدالرحمانؓ لسم دے
دا یاران د دهٔ عشره دی — چه عشره مُبشّره دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خلافت د چا ریا نو
بیا د پسه بادشاهی شوه
اول بغی سرا پیدا شول

په دیرش کاله وو یارا نو
په سپیدئ کښے سیاهی شوه
څوک بادشاه څوک اُمرا شول

فصل- تعریف د امام اعظمؒ او دهغهٔ د مذهب

له کتابه له اخباره
چه مذهب د دهٔ مذهب دے
چه له خدایه ډیر ویریږی
ډیر په ویره په اخلاص وو
د رسولؐ انسؓ اصحاب وو
چه نعمانؒ بن ثابت دے
د رسولؐ د خولے خبر دے
چه نعمانؒ به را پیدا شی
دالفظ درے څلے منهاج دے
د اجماع دلیل معلوم دے
په مذهب د لوئے امام دی
بادشاهان کهٔ امیران دی
د امامؒ د مذهب ډیر دی
د امامؒ مذهب ماهتاب دے
د امامؒ علم وافر وو
زر دلیل زرے حجته
دائے داب وو څلویښت کاله
په یوهٔ اودس ئے نماز وو
درست قرآن ئے په رکعت لوست
په طاعت کښے بے نظیر وو

په اجماع د اُمت یاره
د امام اعظمؒ مذهب دے
امامت باندِ ژغیږی
امام څکه خاص الخاص وو
سرایت ئے باصواب وو
د دین کار په دهٔ ثابت دے
شک ومکره معتبر دے
څما دین به پرے رښا شی
دے سراج سراج سراج دے
ترکستان کهٔ هندکهٔ روم دے
دلیلونه لا کلام دی
کهٔ قاضیان کهٔ عالمان دی
ترحساب ترشماره تیر دی
نور هر یو لکه شهاب دے
زیات ترکښلو تر دفتر وو
دهٔ راوړه له سرایته
تر بامداد له عشا لاله
کوره هسے سرفراز وو
دهٔ به درست آیت آیت لوست
په جمله علم خبیر وو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ورځ کهٔ پارسائی وه — همکی دَ دهٔ ځائی وه
کهٔ زړکونه سره ټول شی — عالمان واړه غول غول شی
په حجت تر واړو تیر وو — دَدهٔ زبان تیرهٔ شمشیر وو
دَ امام جعفرؒ تلمیذ وو — واړه کار دَ دهٔ لذیذ وو
تابعین ئے وو لیدلی — په تقوٰی په دین بناغلی
دَهارونؒ په خلافت کښے — دَ دهٔ کار وو په رفعت کښے
پلار نیکهٔ ئے دَ کابل وو — بیا په بلخ کښے مقابل وو
په کوفه کښے ئے میلاد وو — په مکتب کښے دَحمادؒ وو
بیا دَدهٔ وطن بغدادشهٔ — هومره خلق ځنے بنادشهٔ

څلورم باب

ذکر دَ طهارت او دَ فرض واجب او سنت

چه ایمان په خدائے راوړینه — فرض واجب دِ کذارینه
دَ رسولؐ سنت دِ کاندِ — چه لازم دی دا پرے باندِ
څوچه شته معصیّت واړه — چه دَدهٔ نه شی په غاړه
په توحید چه ایماندار شی — کهٔ هرڅوطاعت بسیارشی
اول مونځ بیانورطاعت دے — دَ نمانځه هومره قوت دے
اَلَّذِیْنَ یُؤْمِنُوْنَ: — هسے دیر دی آیتونه
دَ نمانځه په باب راغلی — په قرآن کښے خدائے وئیلی
دَ اودس سره مونځ بنهٔ دے — بے اودسه مونځ هیڅ نهٔ دے
بے اودسه چه مونځ کاندِ — کفر ورشی په دهٔ باندِ
طهارت دے په دوه رنګه — له دانشه له فرهنګه
له حدث طهارت دے — طهارت دَجنابت دے
دَحدث چه وضو وکړے — پاک شوے نوربه نماز تهٔ کړے
چه درست تن په اوبو ترشی — دَجنب طهارت وشی

فصل - ذکر دَ نمانځه دَ فرضیت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نمونځ په دا په سړی فرض شۀ
په معنی کښے لکه قرض شۀ

سړے نۀ ووخدائے پیدا کړۀ
مکرم ئے په دُ نیا کړۀ

په صورت کښے سر تر پائے
نعمتونه دی له خدائے

سر په تن سورکړے دۀ دے
مخ ته نور ورکړے دۀ دے

ستر کے وزوئے بانړۀ کوړه
زیبائی لری هر کوړه

کۀ دِ تورد ستر کونۀ وی
ستا به زړۀ له غمه چوی

پوزے خولے وَته نظر کړه
پکښے خیر لعل وگوهر کړه

دوه غوږونه دوه رُخساره
دَ زنځ وکړه ننداره

لاس و پښے درکړی چا دی
بند په بند جوړ کړی چا دی

هر ویښتۀ دَ صورت کوړه
په وجود کښے نعمت کوړه

درست ظاهر باطن نعیم ئے
تۀ یو احسن التقویم ئے

کۀ په زړۀ دِ دانائی ده
کۀ دَ ژبے گویائی ده

دائے واړه وَتا درکړۀ
شۀ ئے واړه وتا درکړۀ

په هرځۀ ئے مکرم کړے
خلیفه ئے دَ عالم کړے

یو سجود له تا نه غواړی
په یوه سجده دِ ویاړی

دے دِ رب دے، دے معبود دے
ځکه فرض په تا سجود دے

دَ نعمت شکر بائیدۀ دے
ناسپاس سړے بنۀ نۀ دے

مونځ چه فرض شۀ پینځه وخته
په وخت وختئے کړه نیکبخته

چه له فرضه نما نځه دورئے
بد بنده دے ناشکورئے

هر بنده چه ناشکور شی
دَ صاحب له فهمه دور شی

دَ صاحب اندوه ئے کوم
چه بنده لری تر سره وم

په طاعت دَ بنده سود دے
خدائے غم نۀ لری معبود دے

په طاعت بنده مانځه شی
په عناد سره شکانجه شی

په قیامت به دا مونځونه
دَ سړی شی براتونه

وار په وار به پرے سوریږی
وجنت ته به رسیږی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل- ذکر علامت د بلاغت

چه په عمر دوازده شی — دَ هلک دِ هومره زده شی
دے دِ مینه په نمانځه کا — وتنبیه ده که نمونځ نه کا
نمونځ هاله وربانده فرض شی — چه بالغ په طول وعرض شی
د بلوغ نخښې څلور دی — احتلام دے درے دا نور دی
چه په سال هڅوه ساله شی — یا ترے بنځه حامله شی
چه لذت د دخول مومی — جُهند منی ترے درومی
بلوغت د نجلۍ دا دے — حیض نخښه د نسا دے
یائے وی اُوتس کاله — یا چه حمل واخلی لا له
څلورم دا روایت دے — احتلام ئے بلاغت دے
هرسړے چه مکلف شی — په مانځه دِ مشرف شی
د اودس په کار دِ پوهه شی — چه دے بیرته له اندوه شی

فصل- د فرض د واجب د سنت د ادبونو

هرسړے چه ایماندار وی — په اخلاص به نمونځ کذاروی
پس له شناخته له توحیده — د نمانځه دے په سر تاکیده
فرض واجب زده کړه دادواړه — وسنت ته کیږ ده غاړه
موافق په شرعه کار کړه — په ادب کښے زیست روزکار کړه
په ولاړ په ناست په تلهٔ کښے — ادب بویه په هرځهٔ کښے
د سړی چه ادب نهٔ وی — ترسړی نه څاروے بنهٔ وی

فصل- ادب د خلاچه چارچوبئ یا صحرا له تلهٔ کا

چه حاجت دِ د خلاشی — لرے څائے ترد تلهٔ ستا شی
پټ له خلقه لرے کښینه — ورکړه زور وکینړے پښے نه
وقبلے و ته مخ مهٔ کړه — په قمر په نمر هم زده کړه
څان جامه ساته له بو له — ښائط ورسره له هو له
په صحرا مهٔ کړه خبرے — کنه غول خورے چه نغرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یاچه ونے وی باردارے
یا سایه لری د لارے

یا دیوال چه سایه داروی
یا د رود غاړه یالاروی

داخوځایه غائط مه کړه
که سړے ئے ادب زده کړه

په غایط په بولِ ځوانه
حذر کړه له کمورستانه

بول مه کړه په سوراخ کښے
یا په ورخ کښے یاپه کاخ کښے

هورته خونے د پیریان وی
خپل مکان په هرچاکران وی

چه فارغ شے له صحرا نه
ته دِ نه وے بے دُعا نه

که پوهیږے خدائے پرستلے
ته به دا دُعا وولے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَخْرَجَ عَنِّیْ مَا یُؤْذِیْنِیْ

ځان به پاک کړے په درلوطِ
یا درے کانړی شو که غوطِ

که درے کانړی نه وی یوبس
خود پوهیږی په خپل ځان کس

خو پاکی د وجود بویه
لوته کمه وی که لویه

وچے پانړے وچ وابنه هم
استنجا لره دی بسنه هم

پشم جیره خاورے پاکے
استنجا ته وی بے باکے

بیاچه واخلے یو خو کامه
استبراء وکړه تمامه

چه وسواس لرے په زړه کښے
هیڅ تعطیل مه کړه پرولهٔ کښے

په بنی لاس اوبهٔ اخله
په کیڼ و نیځه پټے خپله

په ولهٔ کار مکړه د سستو
ځان بنهٔ پاک کړه وړاندِ روستو

که ککړ تر درم کم ئے
اوبهٔ مه اخله بے غم ئے

چارچوبئ لره که دروے
دا ادب بویه چه موے

اول کیڼړه پښه درون کړه
په وا ته کښے بنئ بیرون کړه

د دُعا د هغه دم ده
د دانا ده د اَعلم ده

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الرِّجْسِ النَّجَسِ الْخَبِیْثِ الْمُخْبِثِ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

اهل کار د دین پاکی ده
په پاکئی کښے بے باکی ده

له درے توکه پاک صورت کړه
هاله مخ په عبادت کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

له اوله معصیت دے — بل حدث بل نجاست دے
د ګناه پاکی توبه ده — تل پاکی د توبه بنه ده
د حدث پاکی آبدست دے — د هوښیار دے که د مست دے
نجاست په غسل درومی — ځان جامه پرے پاکی مومی
پاکی درے اوبهٔ هم درے دی — د باران که د چینے دی
بیا د ستر ګو اوبهٔ جا نه — چه پرے پاک شے له عصیانه
چه دا درے پاکی لرینه — غم د هیڅ نهٔ کا که مرینه
په صحیح چه دوست د خدائے دے — د پاکو جنت ځائے دے
په قرآن کښے دا آیت دے — راشه واوره چه آیت دے

قولهٔ تعالیٰ: اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیْنَ وَیُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِیْنَ.

پینځم باب
د ذکر د وضو هره کاره

هر سړے چه اودس کا ندِ — تسمیه بویه د ورانده
بیا د نیت د اودس وکه — مونځ د یاد په زړه پرخولهٔ که
بیا د واخلی اوبهٔ پاکے — نهٔ بد بوئے بد خوراکے
پرے د وو ینځی لاسونه — بیا د وینځی اندامونه
په کینړ لاس د طهارت که — لاس د پاک په سرکوت که
بیا د خولهٔ په درے کرته — په اوبو کهٔ لته پته
بیا مسواک بویه په نغته — که لرګے نهٔ وی په ګوته
بیا د پوزے استنشاق دے — په درے ځله اتفاق دے
بیا د مخ ولنه درے ځله — بیا بنے لاس دے له اوله
بیا کینړ لاس دے ترځنګله — بیا به مسح لره نه غلے
بیا اوبهٔ وروره ترغوړه — مسح دا ده وئے نغوړه
د سر مسح ربع سر ده — د درست سر هم اولیٰ تر ده
بیا د پښو ولنه اے یاره — تر ښنګریه نه بسیاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

درست کامل اودس هم دا دے
چه م ووے په رښتیا دے

په اودس کښے یو څل ولنه
فریضه ده په پوښتنه

دویم څل چه اندام ولے شی
د واجب په نام بوے شی

دریم څل ولنه سنت ده
داوینا په روایت ده

فصل - فرائض د وضو

د اودس دی څلور څیزه
فریضه د ما عزیزه

اول وله د مخ چه کنج دے
بیا لاسونه تر ارنج دے

ورپسے مسح د سر ده
د پښو ولنه پس داچرده

که په داکښے څه نقصان شی
نهونځ په تا باندِ تاوان شی

فصل - ذکر د وضو د سنتونو

د اودس سنت چه زده دی
درته ووایم دوازده دی

تسمیه د اودس نیت دے
بیا د لاسو طهارت دے

استنجاهم په دا شمار ده
چه د حکم په مقدار ده

بیا مسواک اوبهٔ د خولے دی
بیا اوبهٔ د پوزے ملے دی

بیا د غوږ مسحه هوښیاره
بیا خلال د ښیرے یا ره

بیا ساتنه د ترتیب ده
وله د وچولی نصیب ده

وله د هر اندام درے واره
دولس وشو وے شماره

فصل - د اودس مکروهات

د اودس مکروه شش دی
ترے حذر کړه چه ناخوښ دی

یوچه مخ په قبله میږی
یا تطهیر غایت ترے خیږی

بل چه خپل عورت ښکاره کړه
نامحرم ئے ننداره کړه

بربنډ څان چه د بل ګوری
بول که په ماء کښے شوری

استنجا چه په بنی لاس کا
اوبهٔ ډیرے توئے ناس کا

فصل - د وضو د دعوات

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په اودس کښے دا دُعا ده — په حدیث د مصطفیٰ ده
ته چه نیت د اودس وکړے — په خپل لاس توئے اوبه کړے
په اودس کښے له اوله — دُعا دا ده وئے لوله

الحمد لله الّذی جعل الماء طهورًا وجعل الاسلام نورًا دلیلًا قابلًا الی الجنة

هغه وخت چه استنجا کړے — بویه داچه دا دُعا کړے

بسم الله العلی العظیم

والحمد لله علیٰ دین الاسلام الاسلام حق والکفر باطلٌ

چه فارغ له استنجا شے — ته به سر په دا دُعا شے

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنْ عِبَادِكَ الصَّالِحِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ لَاخَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَاهُمْ یَحْزَنُوْنَ ۝

چه اوبهٔ دِ په دهان کړے — دا دُعا دِ په زبان کړے

اَللّٰهُمَّ اَسْقِنِیْ مِنْ حَوْضِ نَبِیِّكَ كَاْسًا لَاظَمَأَ بَعْدَهٗ ۔

چه اوبهٔ دِ کړه په پوزه — دا دُعا تر ژبه بوزه

اَللّٰهُمَّ اَرِحْنِیْ رَائِحَةً مِّنْ رَائِحَةِ الْجَنَّةِ وَارْزُقْنِیْ نَعْمَاؤُهَا

ته چه مخ وینځے مومنه — یوداهُدعا دِ ده سودمنه

اَللّٰهُمَّ بَیِّضْ وَجْهِیْ بِنُوْرِكَ یَوْمَ تَبْیَضُّ وُجُوْهٌ وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۔

چه بنے لاس وینځے داوایه — مزد به بیاموے له خدایه

اَللّٰهُمَّ اَعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِیَمِیْنِیْ وَحَاسِبْنِیْ حِسَابًا یَّسِیْرًا ۔

چه کینۍ لاس وینځے دالوله — نه یوځل په څوځو لوله

اَللّٰهُمَّ لَاتُعْطِنِیْ كِتَابِیْ بِشِمَالِیْ وَلَامِنْ وَّرَاءِ ظَهْرِیْ وَلَا تُحَاسِبْنِیْ حِسَابًا عَسِیْرًا

بیاچه مسحه دخپل سر کړے — دا دُعا به مکرر کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ بِرَحْمَتِكَ عَلٰی رَأْسِیْ

بیا چه ما وروړی ترغوږه دا دُعا لوله ونغوږه

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ الَّذِیْنَ
یَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَیَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ

بیا چه مسحه ډکردن کا دا دُعا دِ مرد وزن کا

اَللّٰهُمَّ اعْتِقْ رَقَبَتِیْ وَ
رَقَبَهٗ آبائِیْ وَاُمَّهَاتِیْ مِنَ النَّارِ

بیا په وخت د پښو وللو دا دُعا ده د وئیلو

اَللّٰهُمَّ نَجِّنِیْ مِنْ غَضَبِكَ
یَوْمَ یُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِیْ وَالْاَقْدَامِ وَجَاوِزْنِیْ
عَلَی الصِّرَاطِ وَاَدْخِلْنِی الْجَنَّةَ یَا ذُوالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ

بیا چه وینځې پښه دویمه دا دُعا لوله دا یمه

اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْ قَدَمِیْ عَلَی الصِّرَاطِ
یَوْمَ تَزِلُّ فِیْهِ اَقْدَامُ الْمُنَافِقِیْنَ فِی النَّارِ

چه فارغ شے له اودسه دا دُعا لوله له پسه

سُبْحَانَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ
اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَاَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَیْكَ

چه اودس اوکړے روان شے دا دُعا وایه مرخان شے

اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

په مسجد چه قدم کښیږدے دا دُعا وایه چه پسے ږدے

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَاَبْوَابَ کَرَمِكَ یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ

فصل-ذِکرد هغو څیزونو چه اودس تباه کوی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه اودس تباه کوینه — کل اتهٔ ویشت توکه دینه
اول بول غایط زده کړه — بیا مذی ودی شمیره کړه
بیا چینجی تر دوه سوراخه — بادهم دے تر دوه سوراخه
د پرهار وینے یا نروے — کهٔ جاری زیړے اوبهٔ وے
د حلق وینے لږے ډیرے — د ناف وینے تیر وبیرے
ټے د خولے وینے د پوزے — د اوړئ وینے دی بدرروزے
کهٔ اوبهٔ وځی له نافه — اودس مات که بے خلافه
چه له مغزه بلغم بیل شی — بیا ترحلق وځی دماغل شی
د نامهٔ اوبه هم هسے — د سړی دی بے اودسے
د ذکر چینجے هم بد دے — دے په دے شمیره نامزد دے
وینے نروے کهٔ زرد آب دے — د بینی په دا حساب دے
نروے زیړے اوبهٔ وینے — کهٔ د خولے د پوزے وینے
کهٔ خندا په قهقهه وکړه — په مانځه کښے هم بنهٔ نهٔ کړه
بیهوشی که لیونتوب دے — بل تکیه و هلے خوب دے
بنځه نرچه سره ورشی — بسوده فرج او ذکر شی
یا بربنډ سره کنار شی — سره دواړه نا قرار شی
چه جاری پرهر لرینه — اودس مات شهٔ چه وقت ځینه
په دا شان استحاضه ده — مبرهنه مسئله ده
زک وهل هم اودس مات که — یا کهٔ کم یا ئے څوک زیات که

فصل - د اتو مسئلو د وضو د نمانځه په کار

دا اتهٔ مسئلے بنے دی — په نمانځه په اودس کښے دی
په درے نمونځ اودس ماتیږی — په درے نمونځ د کس ماتیږی
په دا درے توکه نمونځ مات شی — د اودس کله آفات شی
اول توک خندا قهقهه ده — د اودس چار په عمدا ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بیهوشی د سویدا دہ — د نمانځه د اودس دا دہ
یو د پوڑے وینه جانه — د اودس دی دانقصانه
چه خواړه وخوړے نمونځ مات شی — بیا ویل چه کم وزیات شی
بل کثیر فعل اے ناسه — یعنی کار په دواړه لاسه

فصل۔ ذکر د تیمم

کهٔ اوبهٔ نهٔ پیدا کیږی — تیمم په تا فرضیږی
تیمم په خاورو روغ دے — دا خبر نه په دروغ دے
روغ په ګچ هم په آهک دے — هم په سنګ هم په نمک دے
په کالی کهٔ پروت غبار وی — باندِ درست د تیمون کار وی
چه اوبهٔ په نظر کښیوزی — نور تیمون له تنه پریوزی
چه اودس په څهٔ ماتیږی — په هغهٔ تیمون ورکیږی
په اودس کښے نیت سنت دے — په تیمون کښے فرض نیت دے
د سړی چه اودس نهٔ وی — یاجنب غسل په دهٔ وی
کهٔ حائض نفساء وی — تیمم باندِ روا وی
کهٔ ئے توان د اودس نهٔ وی — تیمم کا رنځور بنهٔ وی
یاچه رنځ د چا زیاتیږی — په دا هم تیمون رغیږی
کهٔ سړے د اودس نهٔ وی — تیمم کا مریض بنهٔ وی
کهٔ اوبهٔ ترنزدے تهٔ ئے — تیمون کړه کهٔ خبر نهٔ ئے
حد یو میل د تیبا نهٔ دے — کهٔ څهٔ کم دے روا نهٔ دے
کهٔ اوبهٔ دی ترمیل کمے — یا په غړهٔ وی یا په سمے
په ورتلهٔ کهٔ وخت تنګیږی — په ضرور تیمون رغیږی
وخت د نهٔ پریږ دی له دسته — بیا د کا د قضا مرسته
چه تیمون وهے هوښیاره — پاکه خاوره کړه اختیاره
دواړه لاس په خاورو کښیږ دہ — بیا ئے پاس په مخ درپریږ دہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دویم حُل دواړه لاسونه وُمړه دواړه ساعدونه
هر سړے چه نمونځ گذاروی خبردارہ په داکار وی
نیت ئے پټ نۀ دے آشکار دے کار د نظم اختصار دے

فصل- په موزه مسح کول

په موزه مسحه روا ده معتبره دا ویناده
درست تمام اودس چه وکړه بیا په پښو په موزه تۀ کړه
بیاکۀ تۀ شے بے اودسه په موزه کړه مسحه کسه
د مقیم شبانه روز ده مسافر لره سه روز ده
په حساب ئے هغه دم دے چه حدث شی نۀ بل دم دے
کۀ موزه له پښو بدر کړے بے حدثه پښے به تر کړے
مسح درے خط چکول دی موزه باندِ لاس منبل دی
کۀ موزه شی هومره ځیرے چه درے گوتے ځی پرے ځیرے
نور پرے مسح ناروا ده د موزے خبره دا ده
کۀ د لاسو پښو پرهار وی خو لته تر پرهر جار وی
کۀ صورت ته زیان رسیږی مسح هم باندِ رغیږی
کۀ ئے زیان په وله کښے نشته تۀ ئے پرے وینځه اوبۀ شته

فصل- لس څیزه سنت د ابراهیمؑ پیغمبر

په اوبۀ په خولۀ په پوزه بل مسواک کول به روزه
بل د سر ویښتۀ خرڅیل دی زیر ناف دی د بغل دی
بل ختنه کول اے جانه استنجا په اوبۀ څوانه
بل اخستل د سبریتونو بل اخستل د نوکونو
د نساء د سر ویښتۀ دی چه ئے نۀ کلوی بنۀ دی
دا سنت لس د خلیل دی د مومن دی د اصیل دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په ځانځ که دالس څیزه اولیاء دی اے عزیزه

فصل - ذکر د نارینه د عورتنی د اوبو

که د مرد که د نساء دی څلور رنګه اوبه دا دی
اول بول بیا مذی وی بیا ددی وی بیا منی وی
کار د بولو خود څرګند دے کار د نوروپه بند بند دے
مذی پاڅی له شهوته منی وځی له آلته
ترمذی ودی وی زیات وځی پس له بوله پات
اودس مات په دا درماشی لږ وړ یرځه چه پیدا شی
په منی غسل لازم شی که دخول که محتلم شی
په لذت چه را پیدا شی په هر رنګ غسل رواشی
که مخفی وی په ذکر کښے غسل نشته په داچر کښے
د نساء حکم جدا دے په پیدا په ناپیدا دے
دوه پردے د بنځے فرج وی دروني بیروني درج وی
اعتبار د دروني وی چه مدار په بیروني وی
احتلام دخول د دواړو حیض نفاس د څلور واړو
چه دروني ئے آلوده وی نهونځ بے غسله بیهوده وی
اول بنځے لره بویه پرے د بوزی ګوته لویه
پاکیزه د خپل اندام کا بیا د درست غسل تمام کا

فصل - د غسل په څونوع

څوارلس غسل فریضه دی په کتاب کښے عریضه دی
یو دخول د مرد وزن دے کارئے پټ نه دے روشن دے
په منی په نامنی هم غسل بویه که منی هم
د شیطان غلطوئ نه د منی په تویو نه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بښځه نر چه سره ورشی — بے منی ئے حشفه ورشی
د نفاس غسل لازم دے — بیا د حیض غسل هم دے
چه نظر وکړه په بښځه — په انزال غسل ته ته ځه
که څوک یا د په زړه کښے ته کړے — په انزال به غسل وکړے
یو دخول پست ورسا دے — که څه غسل دے هم دادے
بل صحبت د مرد له زنه — داهم چار ده مبرهنه
که جُنب شے خوب ونه کړے — نه پیشاب غسل زر وکړے
بیا منی له تا جدا شی — دوباره غسل سره وا شی
که دوه بښځے سره ورشی — فرج په فرج ئے برابر شی
په انزال په نا انزال هم — که د غسل دم درحال هم
چه انزال شی له چارپایه — مرد لانبه ورته وایه
غسل نشته بے انزاله — له چارپائے د ما لاله
چه حشفه په دبر لاړه — غسل ورغے په دواړه
چه له خوبه سړے ویښ شی — په منی کښے په تشویش شی
که ئے خوب په پاد هیڅ نه وی — دا ځائے هم غسل بایدده وی
په کندګی چه ناپاک تن شی — غسل فرض په مرد وزن شی
د جُمعے غُسل سنت دے — د عیدین په دا نیت دے
د مُرده غسل واجب دے — دا د ښه ده کا چه طالب دے
چه کافر مومن په دین شی — نفل غسل پرے تعیین شی

فصل - صفت د غُسل

غسل فرض د جنابت دے — په قرآن کښے روایت دے
چه جُنب شے دخول وکړے — بویه داچه ځان اوده کړے
یا پیشاب وکړه اے ځوانه — منی لرے کړه له ځانه
بیا وغُسل ته ځان ساز کړه — غسل دا رنګه آغاز کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اول ولنه د لاس بویه
له لاس وللوچه وزګارشے
نجاست له تنه دور کړه
کهٔ دیوال کهٔ خاورے پاکے
لاس پرے ومړه خوارہ
ماء په خولهٔ کړه له اوله
بیا و پوزه اوبهٔ ورکړه
کهٔ تمام اودس تهٔ وکړے
وچ کهٔ پاتے تار دموئ شی
چه کوځئ د سر وو دوی
چه ترتهٔ ئے اوبهٔ یوسی
د کوځیو بیخ چه ترشی
جنابت دے کهٔ نفاس دے
د جُنب غسل چه شان دے
کار د درے واړو یکسان دے
چه په خولهٔ اوبهٔ اندر کړه
په وضو کښے داسنت دی
تهٔ چه غسل کړے اے ځویه
د تنها طهارت من دے
کهٔ ئے زیات کړے تبذیر شی
کهٔ په کور کښے ئے دا دود دے
تر څلورو منو کمے
کهٔ جنب په سیند کښے ډوب شی
کهٔ باران باندِ وریږی
بویه دا چه اودس وُکا

بنهٔ کوزه کړه باندِ تویه
استنجا له به تیار شے
بیا لاس نورعلی نور کړه
وچے خشک یا نم ناکے
لاس بنهٔ پاک کړه یارد یاره
غرغره وکړه درے ځله
بس دا غسل دے باور کړه
غسل بیا وکړه هم بنهٔ کړے
جُنب پاتے ژنو شوی شی
کهٔ بے شماره ډیر هرڅو وی
نورِ دهسے وچے وُسی
وچ ویښتهٔ ئے هم بهتر شی
کهٔ د حیض کوز وپاس دے
د نفاس غسل آن شان دے
پرے به پوهشی چه انسان دے
یا و پوزه اوبهٔ ورکړه
په تغسیل کښے فریضت دی
څلور منه اوبهٔ بویه
هغه نورد درست تن دے
کهٔ ئے لږ کړے تقصیر شی
هیڅ اسراف نشته که زود دے
بدے زیاتے شی وی سمے
کار د دهٔ د غسل خوب شی
تن ئے لوند شی غسل کیږی
بیاد نمونځ سره هاله کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کارچه ستا د جنابت وی — ته ئے زده کړه چه سنت وی
یوچه لاس په دیوال پاک کړے — بیاچه مشته ئے په خاک کړے
یوچه واړه اودس وکړے — بیا تمام غسل هاله کړے
بیاچه پاسی پریږدی خپل ځائے — پښے پښے پریونځی بل ځائے
په هنګام د غسل یاره — ورد دا سود لری بے شماره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَ لَا فِی السَّمَاءِ وَ هُوَ سَمِیْعُ الْعَلِیْمُ ط رَبِّ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّیٰطِیْنِ وَ اَعُوْذُ بِكَ رَبِّ اَنْ یَّحْضُرُوْنَ وَ اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ كُلِّهَا مِنْ شَرِّ ذِیْ شَرٍّ وَ ضِدِّ كُلِّ ذِیْ خَیْرٍ
یَا مُجِیْبَ الدَّعْوَاتِ الْمُضْطَرِّیْنَ بِرَحْمَتِكَ
یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ط

چه تمام غسل ادا کړه — بویه دا چه دا دُعا کړه
اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْاَلُكَ
تَمَامَ الْوُضُوْءِ وَ تَمَامَ النَّحْرِ وَتَمَامَ الْغُسْلِ وَتَمَامَ الصَّلٰوةِ
بِمَغْفِرَتِكَ وَ رِضْوَانِكَ یَا اِلٰهِیْ بِفَضْلِكَ وَ بِرَحْمَتِكَ
یَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ ط

چه د ښځے وینے وینے — په درے رنګه به ئے وینے
حیض نفاس استحاضه دے — سره و زیړ وبیاضه دے
د زنانو له زه دانه — راځی نه له پاسه جانه
داقل ئے دی درے ورځے — واکثر ئے لس چه خوځے
که تردریو ورځو نه کم وی — ترلس ورځو افزون دم وی
کم له دیر استحاضه دے — تیرو بیر استحاضه دے
چه ایام ئے خطا نه وی — پرے اودس په هرنمانځه وی
چه ایام ځنے خطا شی — په هروخت غسل روا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د نفاس اقل پاکی ده
څلویښت ورځې بیباکی ده

تر څلویښت کې زیاده وی
هغه هم استحاضه وی

یو دخول د حیض عار وی
نور سره واړه روزګار وی

لکه حیض چه د نساء دے
هسے کار د نفساء دے

نمونځ روزه نشته په دواړه
هم لوستل تلاوت واړه

د سر وزے قضا د کاندی
د نمانځه نشته پرے باندِ

چه نساء مستحاضه وی
حکم دا وی کې د زده وی

دا د کار که لکه پاکه
په دخول کښے ده بیباکه

د حیض وینے دی سرے غوږے
پاکبود تورے زیړے

د پاکئ دی اوبهٔ سپینے
پاکیزه په رنګ مهینے

چه عادت د ښځې څخه وی
هغه وخت سپینے اوبهٔ وی

حیض کې کم شی له عادته
نشته غم له طهارته

دا د ځان په غسل پاک کا
نمونځ سر وزه دِ په تپاک کا

یو دخول د هله کاندِ
چه عادت ورشی د وراندِ

فصل - ذکر د څلورو پاکیو

مونږ ګذار لره مسطوردی
د اخلور پاکئ ضرور دی

اول پاکے اوبهٔ بویه
د آسمان دی کې له جویه

تن جامے څلورم څائے دے
واړه پاک حکم د خدائے دے

کې اوبهٔ شی مستعملے
په پاکئ کښے شی در غلے

چه پرے غسل اودس وکړه
مستعملے دا اوبهٔ کړه

بیا پرے غسل نارواد ے
اودس هم باندِ خطا دے

چه خیرن نمری پریول شی
رنګ و بوئ د اوبهٔ بل شی

هغه هم دی مستعملے
شی د زیات تر درے څلے

مستعملے اوبه یاره
پلیدی سره وشماره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ کثیر فاحشے نهٔ وی
کاروبارے څهٔ خوښهٔ وی

په صابون په شخا رچه نور
کهٔ زعفران وی یا سرهٔ تور

د اوبو چه رنګ بل شان شی
اودس غسل ته نقصان شی

کهٔ ئے بوی، طعم بدل شی
هغه هم هسے خلل شی

همګی وینه سوانه
پلیدی لری اے جانه

د پرهار کهٔ د بسمل وی
د څاروی کهٔ د څهٔ بل وی

هغه واړه دی ناپاک
پس د غوښو دی بے باک

د امام اعظمؒ په قول
پلیدی لری هر بول

اِلّا بول د څاروی
چه ئے غوښے خوری سړی

چه په داګنے اختلاف دے
په اندک سړے معاف دے

غُشایهٔ واړه پلید دی
پرے پوهیږی چه سعید دی

هر مارغهٔ چه د خوراک دے
د همه و پنچال پاک دے

یو د چرګ پنچال ناپاک دے
بل د بطخے هم پُرباک دے

هر مارغهٔ چه بنکار کوینه
چه خوراک ئے غوښے وینه

د هغهٔ پینځال مکروه دی
پرے خبر بویه چه پوه دی

یا چه قے په ډکه خولهٔ وی
د هغهٔ بلغم اوبهٔ وی

دا همه واړه پلید دی
چه ئے بنهٔ ګنړی کور دیدی

پس خوردے په درے سلوک دی
پاک. پلید، مکروه مشکوک دی

د سړی پس خورده بنهٔ ده
د کافر هم پاکیزه ده

د جُنب د نفساء هم
لا د حیض د نساء هم

چه ئے غوښه سړے خورینه
کهٔ څاروی کهٔ مارغهٔ وینه

پس خورده ئے ګنړه پاکه
مګر چرګ بطخه بد ژواکه

چه ګندګی منډکی سړګندخوری
هاله بنهٔ له علف بندخوری

پس خورده د سپی سعیده
دهر دوه ګنړه پلیده

چه مکروه ئے پس خوردے دی
مار د موش ګربه دا درے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ د شلاندې کهٔ د نول سره یوځنې دا قول
چه د مزکې څښنده دے همکی د موش سره دے
چه پیشو وے مڑک خوړلے اوبهٔ څښې اوربوز لړلے
تهٔ ئے وځنې پلیده لایجوز نا مفیده
پس خور دے دی چه مشکوک نهٔ پلیدی نهٔ ملوک
کهٔ په ماءِ پوره خولهٔ ده د قحرے ده د خرهٔ ده
هم اودس باندِ رغیږی کهٔ تیبون وکړه مونځ کیږی
کهٔ عرق کهٔ ئے لعاب دے په مشکوکو ئے حساب دے
چه ئے نهٔ وی جاری وینه لکه مچ مچئ چه وینه
کهٔ د دوئ غوندِ څهٔ نوروی تاروکے کهٔ ګونګټ تور وی
په اوبوکښے کهٔ دا ومړی څوک د بدګمان پرښهٔ وړی
کهٔ چیندخه کهٔ ماهے دے چه په ماءِ سره ژوندے دے
په اوبوکښے کهٔ پراتهٔ وی مړه، ږ واهغه اوبهٔ وی
کهٔ اوبهٔ د خُم د چاه وی یا د حوض پرے تباه وی
مڑک، مرغئ یا چرمښکئ چه کم زیات وی تر مرغئ
کهٔ په چاه کښے ومړی پریوځی د سړی په نظر کښیوزی
ترے بیرون د بوتے شل که هم وضوء هم د څښل که
کهٔ یو نهٔ وی پکښے دوه وی مړه، هاله چهل دلوه وی
کهٔ پکښے اما سیده شی واړه چاه د پاکیزه شی
کهٔ سرکه ده کهٔ ګلاب دی کهٔ د ونو پئ آب دی
کهٔ خوړے شی شودهٔ پئ کهٔ ګنی وی کهٔ مولئ
په دا واړه جامه وله شی کهٔ جامه د آلوده شی
نجاست کهٔ د په تن وی په دا واړه د شُستن وی
هغه ځائے چه د سجود وی یا تر پښو لاندِ موجود وی
کهٔ نجس د درم زیات وی مسئله ده، نمونځ ئے مات وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که کشتا روی که مردا روی — چه ئے پوست د چا پکار وی
په بسمل سره پاکیږی — بے بسمله نه رغیږی
مګر پاک په د باغت شی — هاله زړه ترے فراغت شی
په سپی ووچه تکبیر وکړه — دے به پاک په بسمل تړکړه
نمونځ پرے کړه بے د باغته — وایم زه له روایته
د سړی د کوشت پوست دواړه — نا روا سړوا نور واړه
شرط په مینځ کښے د باغت دے — چه بسمل شی بے آفت دے

شپږم باب

ذکر د نمانځه د هر باب

د نمانځه نه مِ آغاز دے — په څلور قِسمه نماز دے
فرض، سنت، واجب دا درے دی — تطوّع هم ور پسے دی
لکه فرض په مراتب دی — ترسنت هسے واجب دی
درجه د فرض بالا ده — تر واجب، مسئله دا ده
تطوّع نفل نماز دے — چه ئے کړے هومره جواز دے
سود ثواب ئے دے په کړه کښے — عذاب نشته په نه کړه کښے
په قرآن کښے چه صادر دی — یا ثابت په تواتر دی
هغه کل نمونځونه فرض دی — پګذارل ئے لکه قرض دی
چه له فرضه څوک منکر شی — په تحقیق هغه کافر شی
چه ئے زده نه ګذارینه — له فاسقه شماره دینه
چه ادا کا قضا واړه — پرے خلاصیږی د ده غاړه
چه قضا که درے مونځونه — د امام په قول ځونه
د هغه قتل روا شی — که دا کارے په عمدا شی
نه واجبه که انکار کا — کافر نه شی نور بدکار کا
که واجب د چا قضا شی — اعاده د واجب بیا شی
سنت مونځ دِ زر ادا شی — قضا نشته که قضا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فریضه نمونځونه پنج دی
په پینځه وخته پنج ګنج دی

د صبا دی دوه رکعته
چار د ظهر بے سنته

بیا څلور د ماښکر دی
د ماښام درے مقرر دی

بیا څلور د ماسختن دی
بے سنت واجب په تن دی

نمونځ د وتر د عیدین
جنازه ګنړه بیا عین

د طواف بل نمونځ د نذر
واجب دا دی شپږ په جهر

سنت واړه ګنړه دولس
چاوئیلی دی اتلس

د بامداد د فرض پخوادی
دوه څلور د ظهر دا دی

دوه د ظهرتر فرض پس دی
بیا د عصر څلور بس دی

دوه په وخت د ماښام بیا دی
ورپسے دوه د عشا دی

تحیّت د مسجد دوه دی
دا حرام دوه په مکه دی

دا د عصر څلور جد دی
تحیّت چه د مسجد دی

که ګدازئ ثواب پیردے
ګنړه حکم ئے تیر بیردے

فصل - د مانځه د نیت

په مانځه کښے لازم نیت دے
فریضه دے که سنت دے

نیت د وخت نیت د امام دے
په څلور نیت تمام دے

تطوّع چه ګذارینه
بس چه نیت د مانځه وینه

په قیام پښه لرو بر کړه
سجده ګاه ته د نظر کړه

په رکوع کښے د پښے ګوری
له نورځه د نظر ژغوری

په سجود نه په بل لوری
هغه وخت د پوزه ګوری

شل سرونه دی د ګو تو
په قبله بویه د بخته

چه پاسینه چه کښینینه
په بنئ پښه د آغاز وینه

تحیّات چه ابتداء کا
په زانو د نظر وا کړ

هغه وخت چه مونځ تمام کا
انتها د په سلام کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په سلام کښے دا نیت بنائی — په فرښتو د سلام وائی
په هغوچه څوک شریک دے — په نمانځه کښے په تحریک دے
په نمانځه کښے تسبیحات — خود بنکاره دی تکبیرات
چه درست مونځ وایۍ ادا کا — بویه دا بیا دِ دُعا کا
اول بویه چه ځان ژاړی — مور و پلار دِ بیا وغواړی
مومنان دِ وایۍ یاد کا — په دُعادِ هرڅوک شاد کا
دا حدیث دَ پاک رسول دے — پس له نماز ه خواست قبول دے

فصل - دَ نمانځه دَ فرضونو

په نمانځه کښے دولس څیزه — فریضه دی اے عزیزه
شپږ بیرون شپږ اندرون دی — درته وایم چه بیرون دی
دَ لاسونو دَ مخ وللی وی — په جامه ځان پټول دی
چه پرے مونځ کوی پاک ځائے دے — بل په وخت دَ نمانځه رائے دے
وقبلے ته مخ کول دی — نیت دَ مونځ په ځائے راوړل دی
دَ تکبیر وئیل اے یاره — درونی سره وشماره
بیا په پښو ودریدل دی — وروسے قرآن لوستل دی
بیا رکوع دے بیا سجود دے — دَ قعدے روستئ نمود دے
چه په دا کښے یونقصان شی — وایۍ نمونځ دَ سړی وران شی
چاچه نۀ زده دا وایۍ — خلاصه نۀ وی دَ دۀ غایۍ

فصل - دَ نمانځه دَ واجبات

دَ نمانځه چه واجبات دی — اُوۀ څیزه دی. نۀ زیات دی
فاتحه ضم له سورته — په اول دوه رکعته
دویم سم چه ودریږی — په رکوع سجود کوزیږی
تشهد ناستے دریم دے — آخرین ئے څلورم دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پینځم لوستل د قنوت دی — چه په وتر کښے ثبوت دی
د عید دینو تکبیرونه — واجب وشول شپږ خیزونه
اوم لوستل د امام دی — په سرګند چه صبح وشام دی
بیا سرګند د ماسختن دی — دوه نمونځونه یې خواندن دی
که په قصد که په نسیان وی — فرض چه پاتے شی درست زیاو ی
که واجب پاتے عمدا شی — نمونځ نقصان سره ادا شی
که په هیر وی عمل نه وی — سجده سهوه وکړه بنده وی
که سنت پاتوله چا شی — قضا نشته نور بلا شی

فصل- د نمانځه د سنتونو

څلیریشت خیزه د نمانځه دی — چه سنت دی زیاتی نه دی
قولی دولس دی عزیزه — بیا فعلی دی دولس خیزه
چه قولی دی درته وایم — واړه بنده دی چرته وستایم
یو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ — بیا اَعُوذُ ده دویمه
بیا وئیل د بسم الله دی — بیا وئیل سَمِعَ الله دی
لِمَنْ حَمِدَه پینځم شی — رَبَّنَا لَكَ شپږم شی
په رکوع کښے تکبیرا ته — د سجود وایم و تا ته
په رکوع کښے تسبیحا ته — د سجود غوږ کړه و ما ته
فاتحه لوستل یوولس — تحیات لوستل پس دولس
چه فعلی دی سنتونه — په اکثر روایتونه
چه تکبیر تحریمه کړے — هسک لاسونه تراوږه کړے
چه برحال د انګشتان وی — بنے په کینږ پسے عیان وی
هم قومه ده هم جلسه ده — بیا په دا پسے سجده ده
بیا سلام داستا چپا دے — ګستردن پسے د پا دے
د امام متابعت دے — د قنوت تکبیر سنت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په قعده کښے ناستے بیادے په دویم هم احصا دے

فصل- د نمانځه د ادبونو

دا پینځلس دی آداب په نمانځه کښے اے احباب
په تکبیر کښے لاس ترغوږه وروستنه ده ونغوڑه
پښے چه بیرته سره کښیږدے یوځپک ئے ترمنځ پریږدے
په تکبیر کښے چه لاس کوز کړے بیا سر پورته سم وربوز کړے
په رکوع کښے چه ئے کوز کړے په ادب کښے دا یمجوز کړے
پښے اول په زانو کښیږدے په اخسته کښے کینږ پریږدے
چه رکوع وکړے بیا سم شے لاس اوږدهٔ کړه سینه خم شے
وسجود ته چه کوزیږے ادب دا دے که پوهیږے
اول کښیږ ده زنګونه ورپسے کښیږ ده لاسونه
پښے زنګون پښے لاس اول ږدهٔ خپل اندام ورسره مل ږدهٔ
په اخستل کښے کینږ آخله که زنګون که لاس اے دِله
له سجدے ئے پورته بوزه اول وُچوله بیا پوزه
بیا کینږ لاس ورپسے پښے دے په کیښو کښے که پرمبے دے
تمام قدچه ودریږی قرأت ته وجوړیږی
لوستل زیات تردرے آیته تسبیح زیات تردرے کرته
تشهد دسازویل دی داځو توکه فضایل دی

فصل- د نمانځه د مکروهات

د نمانځه چه مکروهات دی دولس څیزه دی نه زیات دی
په تکبیر چه لاس بالا کړے تهٔ ئے پورته ترسر لاکړے
قرأت لوستهٔ په بیړه خولهٔ بے رنګه پټه ویړه
بیا د ستړکو پټول دی یو سر بل سره غړول دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په رکوع کښے سر کوز پاس کړے
یکلخت کوز مروند د لاس کړے

بښئ پښه په تشهد کښے
کښینے تهٔ په تردد کښے

منکل ټوله کړه په نماز کښے
لاس کړه ټول د نماز په راز کښے

ترسلام پخوا چه وکړه
سجده سهوه هم بنه نه کړه

دولس دادی چه انشاء دی
اتهٔ نور موضوع هم دادی

څوک چه نمونځ کاندِ سر تورووی
چه نمونځ کا مخ ئے په اورئے

یا چه نمونځ وی سر برهنه کا
دا مکروه دی کهٔ سجده کا

چه ملا وتړے نمونځ کاندِ
جامه نغښتے روستو وړاندِ

چه نمونځ کاندِ مخ صورت ته
چه نمونځ کاندِ مخ تربت ته

نمونځ چه کا په شاهراه کښے
په حمام یا په پاڼیکاه کښے

نمونځ چه کاندِ په آسیا کښے
یا چه کا په استبرا کښے

رودخانه چه ځائے نمناک وی
احتمال دے چه ناپاک وی

فصل۔ فرق د مردانو د زنانو

په څو توکه د مردانو
کارچه نوردے د زنانو

په تکبیر کښے لاس تردوش
وړی د بنځه، نرتر کوش

ټولے پښے د وُدرینه
چه کښینی یا چه پاسینه

نشته بانګ نماز په بنځو
د قامت جواز په بنځو

نهٔ پرے بانګ نهٔ پرے قامت شته
نهٔ پرے نمونځ په جماعت شته

نهٔ پرے نمونځ د جمعے دین دے
نهٔ په دوئ نمونځ د عیدین دے

کهٔ ئے که ثواب به مومی
پوشیده د صف ته درومی

لاس د کوز کښیږ دی تر تیو
پټ لاسونه تر وشیو

رو پرے لوسته د نمانځ شته
پرے بلند قرأت نشته

په قیام کښے چه درینه
پښے د وصلے سره ږدینه

چه ئے ناست په تشهد وی
ناست په کینږ سرین لاندے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بښئ پښه دِ نژدے ږدی
خُان دِ ټول وبله کښیږدی

سرترپایه دِ خُان پټ کا
نامحرم و ته دِ چت کا

کهٔ هلک ئے په دوش ناست وی
یا وَدهٔ په غیږ کښے نماست وی

کهٔ جامے ئے پاکیزه وی
دَ نمانځه کله بزه وی

کهٔ جامه ئے وی چرکینه
یو دم نمونځ ئے نهٔ شینه

پئ دَ تی کهٔ هلک روی
په نمانځه کښے نمونځ ئے نهٔ وی

مخ وږغوے، تلے نهٔ دی
عورت - نور عورت هرځهٔ دی

کهٔ سینه وی کهٔ پهلو وی
کهٔ ورمیږ کهٔ دَ سرمو وی

کهٔ ئے لیچے کهٔ ئے ساق وی
په دا کار کښے اتفاق وی

چاږ ویک چه برهنه شی.
نمونځ دَ ښځے حبطه شی

کهٔ کمتر تر چاږ ویک وی
سکه ږوائے نمونځ په شک وی

کهٔ ئے کیږه یائے لنډه
کوز دَ پرتا کهٔ تر ګنډه

کهٔ برښډ تر دوم زیات شی
اتفاق دے نمونځ ئے مات شی

مګر دیر ضرور پرے پیښ شی
حادثه وی یائے ریش وی

چه میږو شی دی میر منے
پرهیزګار ے پاک لمنے

مخ تلی دَ پښو رخصت وی
ورته نور وارهٔ عورت دی

نابالغ جینئی یا وینځه
داغوک توک ځنے وینځه

کهٔ برمنډ ئے سر یا مُو وی
یائے ساق کړدن باهو وی

باک ئے نشته نمونځ ئے کیږی
په دا کار دِ و پوهیږی

فصل دَ هغه فعل چه خلل دَ نمانځه لری

په لږم په مارکهٔ وکړے
په نمانځه کښے ګذار بنهٔ کړے

دَ یوهٔ ګذار غم نشته
کهٔ دوه درے وی باک هله شته

کهٔ دَ خدائے له ترسه ژاړی
په نمانځه کښے به دے ویاړی

کهٔ ته ژاړے له ماتمه
یادوے جهان له غمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نمونځ دِ مات په دا ژړاشی
که ته یو سر بل سر ګورے
یا ویښته نمویږه په ګوتو
دا شان هرفعل چه شینه
یائے نمونځ شی بے ثوابه
که سرفه وی که عطسه وی
که اَخ اُخ پکښے پیدا کړے
که ته حرف پکښے پیدا کړے
که څوک باد دَخولے پوکینه

که په ړوند کښے نه ښاشی
په جامه لوبے کړے شورے
یا څان ته نمونږے په ګوتو
دا نمانځه خلل لرینه
یائے درسته چار خرابه
لکه حق دی هسے بنهٔ وی
خپل نمانځه لره بلا کړے
نمونځ دِ مات په دا ادا کړے
په آواز سره نمونځ ځینه

فصل- دَ نمانځه دپاره شناخت دَ قبلے

چه ئے شناخت دَ قبلے نه وی
دَ قبلے تحقیق دِ وکا
که څوک نه وی دَ پوښتنے
خپل یقین ته دِ وکوری
په نمانځه کښے که خبر شی
په نمانځه کښے دِ څرخ وکا
که ئے شک وی تحرّی کا
که څلور لوریه څرخیږی
په تحرّی چه نمونځ ادا کا
په بیړۍ کښے نمونځ روا دے
په هرلورچه بیړۍ غورزی
که ترلی سره درومی
اقتدا پسے روا ده
نفل نمونځ که سورپه آس کا

مسافر وی که نورڅه وی
بویه داچه نمونځ هالهٔ کا
وخت ئے درومی په مرستنے
نمونځ دِ کا په هغه لوری
چه ئے نمونځ په بل مقرشی
وقبلے ته دِ مخ بنهٔ کا
مخ په کینږ کله په بنی کا
لازم نه دی نمونځ ئے کیږی
چه خبرشی نمونځ دِ بیا کا
که ولاړ که ناست برجا دے
وقبلے ته دِ دے ګرځی
دوبیړۍ امام څوک مومی
داخبره په ربښتیا ده
مسافر به څه وسواس کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فرض واجب سنت دِ دواړه — په ضرورئ جواز غواړه
کهٔ دشمن یا بادباران وی — مونځ دِ که کهٔ ساعت گران وی

فصل - ذکر دَ سجده سهوه

فرض واجب چه پیش وپس کړے — یائے زیات وکم ته کس کړے
یا سورة ورځنه هیر شی — یوالحمد ورته دیر شی
لوست په رو یائے بلند کړے — یا بلند په ړو سرگند کړے
قرأت تحیّات دواړه — پیش و پس کړه په دا واړه
سجده سهوه شی واجبه — کهٔ تهٔ سهوه شے طالبه
کهٔ دا کار تهٔ په عمدا کړے — نمونځ دِ مات شهٔ نمونځ به بیا کړے
کهٔ په سهوه په عمدا وی — کهٔ سنت پاتے له تاوی
سجده سهوه نشته جانه — مونځ دِ کیږی له نقصانه

فصل - ذکر دَ مانځه دَ موافقت یعنی وختونه

شب و ړوزچه فریضه وی — په کتاب کښے عریضه دی
همکی نمونځونه پنج دی — په پینځه وخته پنج گنج دی
اول نمونځ، نمونځ دَ مداد دے — حکم هسے دَ اُستاد دے
چه ربستینے صبح کیږی — گذاره شی چه نمر خیژی
چه زوال دَ آفتاب وشی — نمازپښین گذارهٔ هالهٔ شی
چه دَ خیز سایه دوچند شی — ترهغهٔ گذاره سرگند شی
نماز دیگر دِ گذارینه — چه لا نمر په غرونو وینه
چه شفق دے تر غروبه — چار دَ شام ده هومره خوبه
چه سرخی دَ شفق ولاړه — ماسختن ړوا په واړه
کهٔ ترنیمے شپے گذارهٔ شی — گذارل دَ عشا نښهٔ شی
گنړے وخت ئے همدمه — دَ صبا تر صبحدمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وتر نمونځ هم د عشا دے　　د کتاب روایت دا دے

فصل

چه م یاد کړهٔ پینځه وخته　　فضیلت لری نیک بخته
که په ژمی په ترتاب کښے　　بامداد نمونځ کړه شتاب کښے
ظهر نمونځ په غارمۍ مات شی　　په کذارل ئے ثواب زیات شی
میانه وخت مازیګر بنهٔ دے　　څو زیرشوے نمر لا نهٔ دے
خوما بنام اول ادا کړه　　فضیلت لری سود دا کړه
درنګ باندهٔ په ماسختن دے　　بنهٔ په پهر کذشتن دے
وتر نمونځ هاله بهتر وی　　چه چرک بانګ وکا سحر وی
په آسمان کښے میغ باران وی　　کرد غبار چه په دا شان وی
مازیګر وی که عشا وی　　په وخ د نر ادا وی

فصل په دا درے وخته چه نمونځ پکښے روا نهٔ دے

په دا درے وخته هوښیار　　نشته نمونځ له نماز کذاره
یوچه نمر علم سرکند که　　سر د مزکے نه بلند که
بل چه تکنړه غرمه شی　　لاڼے لږ سایه کړه شی
بل چه نمر ترغړهٔ پنهان شی　　بے له عذره بل نمونځ کران شی
نمونځ د عصر یا د شام دے　　تردا منځ سجود حرام دے

فصل- درے وخته چه نفل نمونځ نهٔ کیږی

په دا درے وخته کښے زده کړه　　کذارل د نفل مهٔ کړه
یوچه وخت د صبحدم شی　　د بام داد د نمانځه غم شی
بل چه وخت د استواء شی　　نفل هورته ناروا شی
هرچه نمونځ د عصر وکړه　　چرے نفل نمونځ به نکړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نو دا درے وخته روا دی کهٔ قضا کذارل دَچا دی

فصل - ذکر دَ اذان دَ اقامت

بانګ اقامت ویل سنت دی په ښهٔ صوت په ښهٔ نیت دی
مؤذن چه بانګ آغاز کا غوږ دِ هرڅوک په آواز کا
دَدُنیا وئیل دِ ښهٔ کا دَحق ذکر دِ په زړهٔ کا
کهٔ تنها سړے نماز کا بانګ نماز دِ په آواز کا
کهٔ ئے نهٔ کاهم کفتار دے قامت بویه کهٔ بیدار دے
بے اودسه اذان روغ دے دا وانه په دروغ دے
کهٔ مجنون دے کهٔ کودک دے یا جنب له کنډکئ پک دے
لا بانګ وائی نساء وی په مکروه ئے بانګ روا وی
کهٔ په لاره ځی اذان کا یا څوک نابست اذان عیان کا
یا چه مخ په قبله نهٔ وی دا مکروه اذان دَ دهٔ وی
کهٔ اذان دے کهٔ قامت دے په دا دوه ځایه سنت دے
یو لازم په فریضه دے ورپسے هم په جمعه دے
کهٔ سنت کذاری کهٔ نفل پرے آذان نشته په نفل
په قضا باندِ اذان شته روایت بنکاره عیان شته
یو سړے په تمام بنهر کهٔ سړے واوری په جهر
بس کافی هغه اذان دے په قامت ئے نمونځ روان دے
مسافر دَ اَس دپاسه کهٔ اذان کهٔ روا نا سه
نهٔ په دهٔ باندِ اذان شته نهٔ قامت په دهٔ روان شته
کهٔ په مزد بانګ نماز کا روا نهٔ دی لاجواز کا
کهٔ بے مزده عطا مومی ښهٔ کهٔ دے ئے له چا مومی
کهٔ هلک کهٔ بالغ نهٔ وی بانګ نماز روا دَ دهٔ وی

فصل - ذکر دَ امام چه حق لری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دریږی څوک د وړاندِ امامت دِ هغه کا نـــد
چه لوستل د قرآن بنهٔ کا مدوشدنے خطا نهٔ کا
یا هغه چه فقیهه تر وی یانے زهد معتبر وی
چه په داکښے واړه سم وی په قامت دِ مقدم وی
چه عالم راضی په دهٔ وی د هغهٔ امامت بنهٔ وی
کهٔ امام کنده نعل وی امامتے په خلل وی
چه سر وړاندِ ښه دی یا روستو یا تلوار کا په اخستو
بڼه کارشی نهٔ پوهیږی کهٔ فتوی ده نمونځ به کیږی
نمونځ بنهٔ سبک گذارل بویه کهٔ امام شی چرے څو یه
قرأت صحیح ادا کړه خلق سبک خلاص کړه هم داکړه
شام خفتن صبا درے واړه جهر دادی په درو واړه
په فرښتو د سلام نیت که هم سلام په جماعت که
کهٔ امام عورتینه وی مامـوم ښځے نرینه وی
نمونځ د ښځو پسے کیږی د مردانو نهٔ رغیږی
کهٔ څښتن د جراحت وی وړاندِ کیږی قباحت وی
کهٔ امام ترلے نیت وی فرض گذاری به قرأت وی
تهٔ په دهٔ پسے نیت وکړه تطوع گذاره بنهٔ کړه

فصل - د نمانځه د قرأت

د نمانځه قرأت فرض دے په میړهٔ په ښځه فرض دے
په اول دوه رکعته واجب شوی دی آیته
فرض خو یوآیت دے یا ره دیر سنت سـره وشماره
کهٔ په وتیا وکښے خطا شی لوست آیت په تشی بیا شی
یوآیت کهٔ دراز وی چه ئے ولولی نمونځ ساز وی
کهٔ کوتاه وی درے آیته د الحمد له سورته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په صبا کښے چه آګاه دی
یا چهل دی یا پنجاه دی
دیرش په وخت ماسپښین دے
شل دیګر عشا تعین دے
سورتونه چه کوتاه دی
دَ مانښام په وخت دلخواه دی
دادِ زده کا چه طالب دی
قرأت لوستل واجب دی
په آخر تشیو روشن دی
چه الحمد لوستل سنن دی

فصل - دَ قضا نمونځونو

چه یو نمونځ په قصد قضا کا
کبیره ګناه عمدا کا
هغه کس ترخدائے عاصی شی
کهٔ ئے بیا وکا خلاصی شی
نوردِ هسے توبه کار شی
چه نمانځه ته تل تیار شی
څوک چه درے شبانه روزه
نمونځ قضا کا نورئے بوزه
سرئے ووهه بے درنګه
مکره غم دَ دهٔ له جنګه
حکم دا دَ لوئے امام دے
دَ بے نماز څر وندون حرام دے
روایت په تحقیق دا دے
دَ بے نماز قتل روا دے
کهٔ یو نمونځ سړے قضا که
شافعیؒ روایت دا که
په هغهٔ قتل روا دے
کهٔ بنده دے کهٔ مولا دے
کهٔ په عذر نمونځ قضا شی
اعاده دَ نمانځه بیا شی
عذر څهٔ دے عذر خواب دے
یا کهٔ اور وباد وآب دے
یا په بند هسے بندی وی
چه اوبهٔ څنے خوندی وی
یا بیهوش یا دیوانه وی
یائے سهوه په خانه وی
یا په رنځ هسے بیمار وی
چه سجود باندِ دشوار وی
په دا هسے شان عذرونه
کهٔ قضا شی شپږ نمونځونه
دَ ترتیب فکرئے نشته
کهٔ پینځه وی باندِ څهٔ شته
فوت نمونځونه دِادا کا
ورپسے دِ وقتی بیا کا
کهٔ قضا وی دیر نمازه
واړه شمار کړه له آغازه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په هرهر نمانځه دوه منه
غنم ورکړه ده ړوشنه

د نمانځه قضا په دا شی
د سړی غاړه ادا شی

عالمانو دی وئیلی
چه دوه منه دی پسندلی

چه قضا شبانه روز وی
په اداکښے ئے فیروز وی

که وارث ئے کړدن خلاص که
په داکارکښے بنهٔ اخلاص که

فصل - چه په نمانځه کښے اودس مات شی

که حدث شی په نماز کښے
غلطمهٔ شه په دا راز کښے

که امام ئے حُما جانه
خلافت ورکړه له چا نه

ړ ر اودس وکړه بیا ړ اشه
مقیّد په اقتداء شه

خلیفه چه نمونځ تمام که
نمونځ تمام په بنهٔ سلام که

هله پاسه نمونځ تمام کړه
هم ماموم هم څان امام کړه

که تنهائے نمونځ تنها کړه
که حدث شے هم ته دا کړه

په راتلهٔ په تلهٔ کښے بویه
مهٔ څهٔ وایه مهٔ څهٔ ژویه

مهٔ څهٔ کارکړه مهٔ وئیل کړه
مهٔ عورت وته کتل کړه

که په داکښے څهٔ پیدا کړے
نمونځ دِ مات شهٔ نیت به بیا کړے

فصل - د بیمار د نمانځه

که بیمار پاسیدے نه شی
بل سړے دِ یار د دهٔ شی

که ولاړنهٔ وُ د ړ یښه
بل سړے دِ ئے ساتینه

که څهٔ توان لری اقدام که
فریضه دِ په قیام که

که سنت نشسته کاندِ
ملامت نشته ور باندِ

که ئے توان نهٔ وی په ناستے
گذاری دِ نمونځ په ملاستے

د قبلے په لور دِ ړوکه
اشارت دِ په ابرو که

که ئے توان د ایما نهٔ وی
گذارل دِ ئے په زړهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَصبا دوه رکعته — دَمانبام درے له سنته
داچه دی وارهٔ کذارل شی — فرض سنت وترِ دِتل شی
کهٔ پینځلس ورځے نیت که — چه په بنهر اقامت که
هورته قصر نارروا ده — چارګانی نماز روا دے

فصل دَ سجدهٔ تلاوت

تلاوت چه کړے اے ځویه — څوارلس ځا یه سجده بویه
کهٔ بل کس تلاوت کاندِ — ته ئے آورے ستا دَ وړاندِ
په سجده باندِ چه راشی — په تاهم سجده روا شی
کهٔ اودس دِ په ځائے نهٔ وی — په اودس دِ بیا هالهٔ وی
په سجده کښے تسبیح وایه — درے کرته صحیح وا یه
په قهقهه کهٔ ته وخاندِ — په سجده کښے سجده غاندِ
سجده نهٔ وشوه کهٔ ښهٔ کړے — بیا به بله سجده وکړے
کهٔ ته سورپه اوښ په آس وے — یا په خرهٔ په غوایهٔ پاس وے
کهٔ سجده په اشارت کړے — ته دا کار په روایت کړے

فصل دَ جُمعے دَ نمانځه

په پینځه شرطونه فرض دے — دَ جمعے صلوٰة چه قرض دے
اول وخت سُلطان دویم دے — دَ خُطبے حکم دریم دے
څلورم جماعت یاره — پینځم بنهر جامع شماره
وخت دَ دے دَ ماسپښین دے — په بل وخت کله تعیین دے
یا سُلطان یائے نائب وی — یائے حکم کهٔ غالب وی
جماعت کهٔ یوامام وی — درے ماموم حکم تمام وی
کهٔ اقل وی حکم دا دے — دَ اکثرو لا احصیٰ دے
خطبه څوچه حمل ادا کا — په منزل دَ خدائے ثنا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شرط د شهر جامع دادے
چه حاجت پکښے روا دے
په څلور کروه فرض نۀ ده
جمه نور په هرچا ښه ده
په زنانو بسنډ کانو
مسافر په روستایانو

فصل د عید د نمانځه

ادینه چه څوک کذارینه
د عید نمونځ پرے واجب شینه
د کتاب له روایته
د عید نمونځ دے دوه رکعته
په څلور شرطه کذارۀ شی
کۀ تر کم دی کذارۀ شی
اول بنهر جامع څوانه
بل سلطان بویه اے جانه
کۀ سلطان پخپله نۀ وی
کۀ نائب ئے وی هم ښۀ وی
بل چه جمع جماعت وی
بل په وخت قدوقامت وی
درے شرطونه هم هغه دی
لکه یاد په ادینه دی
امّا وخت د عید داحال دے
چه نمر وخوت تر زوال دے
کۀ څوک څملی نمونځ پرے نشته
چه بیدار وی په هغۀ شته
خطبه پس له نمانځه بویه
مختصره وی کۀ لویه
کۀ خطبه په نساء وی
مکروهات سره روا وی
له نمانځه پخوا روا ده
خطبه پس له نماز زیبا ده
کۀ بے عذره نمونځ قضا شی
فطر نمونځ په صبا بیا شی
کۀ د لوئے اختر قضا وی
نمونځ په درے ورځے روا وی
تکبیرونه ئے بنکاره دی
په حساب دی په شماره دی
په اول رکعت اوۀ دی
په دویم رکعت پینځه دی

فصل ذکر د کسوف وخسوف د نمانځه

خدائے په هرچارے قادر دے
چه پرے شک راوری کافر دے
چه نمر تندر وُکمارینه
تندر او ژمکه هم وریښه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا په داچه هرڅوک زده کا
وخپل خدائے وته سجده کا

وُدریږی په طاعت شی
دَخپل ځان په مغفرت شی

نمرچه تندر وُنیسینه
دوه رکعته سنت دینه

په مسجد دِ امام ړاشی
ورسره دِ انام ړاشی

نمونځ دِ رکا له امامه
ترآغازه تر انجامه

ترهغه چه نمرخلاصیږی
بس دُعا زاری دِ کیږی

کهٔ امام دَ مسجد نهٔ وی
نمونځ تنها ګذارهٔ بنهٔ وی

کهٔ سخت با دکهٔ زلزله وی
هورته هم زاری لابنهٔ وی

فصل دَ استسقاء دَ نمانځه

څوک چه نمونځ داستسقاء کا
په زاړۍ دِ ئے ادا کا

کهٔ تنها کهٔ جماعت وی
له امامه برکت وی

په صحرا دِ امام ولاړ شی
نوردِهم درپسے ولاړ شی

دوه رکعته نمونځ فروغ دے
قرأت په ژوره ړوغ دے

چه امام نماز ادا کا
مخ وقوم وته بیا کا

په خطبه دِشی په مزکه
بے منبره خطبه ځکه

له خطبے نه چه ساکت شی
په ړداء رُوپروت شی

ترخپل سر دِ ئے جارباسی
په رِداء دِ لاس کښیباسی

په بنی کینږ پهلو پس وراندِ
استغفار دُعاء دِ کاندِ

په دا رنګ دِ باران غواړی
په توبه زاری دِ ژاړی

په خطبه کښے کهٔ تکیه لی
په لنده په توره بنه لی

په درے ورځے دِ دا کاندِ
ګوندِ رحم شی وربانډِ

خدائے باران په خلق وُکا
دَ وګړی نه پرونه بنهٔ کا

دَامام حکم هم بویه
په دا کار کښے ځما حُویه

دَ امام حکم کهٔ نهٔ وی
یک تنها ګذارل بنهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دُعا په زاری بویه جد وجهد څما څویه

فصل دَ تراویح دَ نمانځه

واړه شپږ لمودی رکعته تراویح دی تیرسونیته
کهٔ زنان دی کهٔ مردان دی تراویح باندِ تاوان دی
شل رکعته هره شپه دی دَ روژے سره همره دی
دوه رکعته چه تمام کا بیا دِ دوئ هله سلام کا
کهٔ ضرور باندِ قائم شی یونیت لس رکعته هم شی
په رکعت لس لس آیته یوهم شته له روایته
چه په ورځ روژه لرینه تراویح په شپه پریدینه
په معنیٰ هغه طعام شی چه نمک سره تمام شی
دَ روژے طاعت مرغهٔ دے دواړه پرونو سره بنهٔ دے
یوځانګ سپین دویم تور دے صدق اخلاص ئے قوت زور دے
چه سپین ځانګ هغه روزه ده چه تورځالګ هغه ئے شپه ده
چه یوځانګ دَ مرغهٔ نهٔ وی په یوه به ئے تلهٔ څهٔ وی
چه ادا فرض دَ عشا شی تراویح هله روا شی
تر سحر پورے ئے وخت دے پرته پوهه وی چه نیک بخت دے

فصل دَ نفل دَ نمانځه

مکروهات لری لس وخته نفل نمونځ لره نیک بخته
قضا نمونځ پکښے گذارهٔ شی نفل نمونځ گذارهٔ نهٔ شی
یوچه وخت دَ صبحدم شی ترصبا دِ نفل تم شی
بل چه نمونځ دَ صبا وکړه زر به نفل پسے نهٔ کړه
بل چه نمونځ دَ عصر وشی ترمابنامه نفل نهٔ شی
بل چه بانګ دَ جُمعے وشی بے جُمعے دِ نور څهٔ نهٔ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بل چه نمونځ په ادینه کا
چه قامت د جمعے او کا
چه خطبه د عید شروع شی
چه خطبه د عرفے کاندِ
چه خطبه د تراویح شی
چه خطبه د استسقاء شی

په منبر خطیب خطبه کا
تطوّع دِ هیڅوک نه کا
نفل هورته نامشروع شی
نفل نه شی هورے باندِ
نفل هورته ناصحیح شی
نفل هورته ناروا شی

فصل ذکر د نفل نمونځونو

تطوّع که فضائل دے
دا نه فرض دی نه واجب دی
که ګذاری ډیرے ثواب دے
په الحمد په سورة ده
یوئے نیت څلور رکعته
نفل نمونځ هسے هم کیږی
رکعتونه که اته وی
تراته چه زیاتی کیږی
چه ورځ زیات ترځلور نشته
څوک چه نیت د نفل وکا
پرے قضا لازمه کیږی
چه تازه اودس څوک وکا
دوکانه دِ ګذارینه
پیغمبر ګذارل اے یاره
نفل نمونځ سهوه لرینه
نمونځ د چاشت ګذارئ یا رانو
چاشت چه نه ګذاری غافل وی

نفل واړه یو وئل دے
نه سنت دی نه راغب دی
او که نه کله عذاب دے
دوکانه په یوه نیت دے
هر رکعت ئے له سورته
مُصلّی به پرے پوهیږی
یوئے نیت که کړی هم ښه وی
د مکروه سره یادیږی
په یوه سلام نور نشته
کار پرے پیښ شی وئے نه کا
که ئے نه کا ماخوذ یږی
په مسجد ورشی که ښه کا
د مسجد تحیت دینه
ثواب ډیر لری بے شماره
که څوک سهوه پکښے شینه
چه لازم دی په بزرګانو
غافلان واړه باطل وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دوه څلور اتهٔ شته دولس
دا رکعت دی نیت یؤلس

په یوهٔ سلام کهٔ چار کا
هم مختار دے چه بنهٔ چار کا

چه کذاری دولس رکعته
خوش به ورشی ترجنته

کهٔ قضا وی فرض نمونځونه
څانے ونیسی نفلونه

پرے به پوه وی چه عاقل وی
خدائے ته قرب په نوافل وی

فصل - د نفل نمانځه وختونه

درته وشمارم وختونه
کهٔ څوک کا نفل نمونځونه

یوئے وخت د ماسپښین دے
د نمانځهٔ په خواه تعیین دے

بل چه نمونځ د دمابنام وکړے
اختیار لرے چه تهٔ کړے

بل چه نمونځ د عشا وشی
کهٔ څوک نفل کا هم بنهٔ شی

بل چه وخت د سحر راشی
تهجد په تاروا شی

تهجد اَتهٔ رکعته
دی په شمار له روایته

په څلور نیته رغیږی
چارکا نه هم ادا کیږی

فضائل لره چه بنے وی
میاشتے ورځ پاکے شپے وی

درست رجب تمام شعبان هم
ورځ شپے د رمضان هم

د شبقدر شپه تمامه
د حاجیانو ده عامه

ورځ وشپه د جمعے درسته
ورځ وشپه د عرفے درسته

فصل د شپے د نمونځونو فضیلت

چه کذاری د شپے نمونځونه
خدائے به ورکا نهٔ خیزونه

شک په دا کښے ناروا دے
چه حدیث د مصطفیٰ دے

پینځه خیزه په دُنیا کښے
څلور خیزه په عقبیٰ کښے

له بلا به ئے امان وی
تل به زړهٔ د دهٔ روښانه وی

مینه دار به پرے عالَم وی
په دوستئ به ئے محکم وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فیض به مومی له نیکانو غم به نهٔ کا له بدانو
پارسائی به ئے نصیب وی له نیکانو به قریب وی
پس له مرګه به له ګوره رونړ مخ پاسی حُما رورہ
په صراط به غم نهٔ مومی لکه برق هسے به درومی
واړه دا حدیث صحیح دے پوشیده نهٔ دے صریح دے
ګناهونه به ئے پټ وی تهجد به ورته خټ وی
په بنی لاس به نامه ورکا په بنادئ به ئے سر کا
تردا درسته دُنیا واړه کهٔ دُنیا ما فیها واړه
بنهٔ دَ نیمو شپو سجود دے دوه رکعته ډیر لاسود دے
خوَ دَ شپو نمونځونه خومره درجے دَجنت هومره
دَجنت چه درجات دی سکه دلیل په صلوات دی
رونړه وی دَ شپے نمونځونه په صبا په ورځ مخونه
تحیّت دَ وضو بویه چه تهجد ګذار دے څو یه
وتر نمونځ چه تهجد وکړے ورپسے به ئے بیا ته ګړے

فصل - ثواب دَ نمانځه چه بنهٔ ئے ادا کا

نمونځ چه بنهٔ سره ادا کا خدائے به خلد ورته عطا کا
په دُنیا به ئے مخ رونړ وی ونیکا نوته به چونړ وی
کام به مومی له نیکانو په دُعا دَ بزرګانو
چه ئے بنهٔ له لاسه کیږی په درګاه به ئے قبلیږی
برکت به ئے په مال وی په دُنیا به کلان سال وی
په دُعا چه لاس بلند کا اجابت به پرے خرګند کا
له دُنیا نه چه روان شی ځنګدن به پرے آسان شی
هم به مور هم به سیراب وی نهٔ به دے په غم دَ آب وی
سوبښنائی به ئے په ګور وی ګور به دهٔ ته لکه کور وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په بنادئ به پکښے وینه
نوجنت لره ورځینه

په قیامت به ئے مخ روښانه وی
ترمهتابه به لاجونړه وی

پرے به بند د دوزخ وروی
پرے به واز د جنت وروی

دا به هیڅ د هغه نۀ وی
چه ترک کړونے د نمانځه وی

فصل- عذاب عقوبت د تارک نماز

چه ترک کړونے د نمانځه وی
دهغهٔ به بنادی نۀ وی

په دُنیا په دین به خواروی
خدائے رسولؐ به ترے ویزاروی

رزق روزی به باندِ تنګ وی
د مخ رنګ به ئے بدرنګ وی

بد ژوندون به ئے نصیب شی
له بدانو به قریب شی

کهٔ ئے بنهٔ له لاسه کیږی
د دهٔ بنهٔ به نۀ قبلیږی

کهٔ ئے تل زاری دُعا وی
د دهٔ خواست به ناروا وی

چه سفر که له جهانه
د مرګ چا به وی پرے ګرانه

چه د مرګ په خُوږو کښیوزی
د غم غږ به باندِ پریوزی

هغه شپه چه ئے په ګور وی
د دهٔ ګور به لکه اور وی

همیشه به عذابیږی
تر قیامته به خُوږیږی

په قیامت به کار پرے سخت وی
شمار به سخت په دهٔ بخت وی

چه له ګور نه به پاسینه
د چا پائے په خیر به وینه

په صراط به په شکم خی
تر میږی به په تلهٔ کم خی

د خدائے خشم به پرے ووری
مؤمنان د خدائے ترے ژغوری

فصل- ثواب د جماعت او د تکبیر اولے

چه پخوا پیغمبرانؑ وو
چه د دیو اُمتیان وو

نمونځ د دوئ تنها تنها وو
جماعت پرے ناروا وو

یو نمونځ بنهٔ دے له امامه
نهٔ تنها پونسو اے عامه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا کرم په نبیؐ و شو — جماعت حکم په دۀ شو
جماعت چه ترلس تیر شی — ترهرځۀ ئے ثواب ډیر شی
کۀ سیا هی شی کل سیندۀ — کاغذ مزکے آسمانونه
قلمونه شی دا وئے — همه ئے پانړے وړے پلنے
دا ثواب به تمام نۀ شی — کۀ سړی فرښتے په کښۀ شی
دَ امام له جماعته — کۀ نمونځ وشی دوه رکعته
له امام سره چه نماز شی — له اول تکبیر دَ ساز شی
تردُنیا چه پکښے شته څۀ — دے تکبیر اولیٰ لا بنۀ
چه ثواب دَ جماعت دے — دَ تکبیر اولیٰ نیت دے
چه امام تکبیر کوینه — ستا تکبیر دِ پسے وینه
کۀ ترنیم الحمد رسینه — هم تکبیر وُدِ شینه
کۀ په دا کښے هم درغل شی — په اول رکعت کښے مل شی
دا لاهم اولیٰ تکبیر دے — روایت مِ په ضمیر دے

فصل- عذاب عقوبت دَ تنها کذار

دَ سرورؐ دَ خولے حدیث دے — چه نمونځ کوونکی که خبیث دے
کۀ ئے عذر وی بے باک وی — کۀ بے عذره وی هلاک وی
جماعت چه ترک کوینه — کۀ تل نمونځ کا نمونځ نۀ شینه
چه تارک دَ جماعت دے — تل په دۀ باندِ لعنت دے
ترهغۀ خونی بهتر دے — چه خونی دَ خپل پدر دے
پیغمبرؐ څنے ویزار دے — دے بتو تر شراب خوار دے
نوحه کړ بهتر تر دۀ وی — جادوګر و رڅنے بنۀ وی
عیادت دِ ئے نۀ کیږی — جنازه ئے نۀ رغیږی
دَ سړیو زړۀ ترے شین وی — دَ فرښتو باندِ نفرین وی
کۀ مسجد کۀ جماعت دے — کۀ اذان کۀ اقامت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

داهمه شعار دَدین دے
دَ اسلام زینت آئین دے

داچه هرچرته نهٔ کیږی
په هغو قتل رغیږی

کهٔ څوک جنګ ورسره کاندِ
هیڅ بدی نشته وربانده

کهٔ توبه کاله دے کاره
بیاخلاصیږی له آزاره

ګنړه هیڅ دَ پریښونهٔ دے
کهٔ نابود شی واړه ښهٔ دے

دَدوئ مرګ دے دَ دانو
دے په شمار دَ مشرکانو

اُوم باب

ذکر دَ زکوٰة دَعشر دَ هرباب

په اُوهٔ نوعه زکوٰة دے
فرض زکوٰة لکه صلوٰة دے

زروسیم دا واړه څیزه
دَ سودا په مال عزیزه

آس واوښ غوئین بیاغیله
اَتهٔ توکه شول ولویله

فصل - شرطونه دَ زکوٰة

دَ زکوٰة چه څوک طالب شی
په اتهٔ توکه واجب شی

پینځه شرطه په مالدار دی
دا په مال باندِ په شمار دی

کهٔ دَ مال څښتن آزاد وی
بیا هاله زکوٰة پرے زباد وی

دویم شرط دَ بلاغت دے
نابالغ ترے فراغت دے

مُسلمان دِ وی اے یاره
څلورم شرط دا وشماره

پینځم شرط ئے دوامدار دے
کهٔ بے قرض دُنیادار دے

چه په مال دی درے شرطونه
دَ ما یاد دی له اخونه

اول داچه درست نصاب وی
کم نصاب په څهٔ حساب وی

بل چه تیر وربانده کال شی
هاله فرض زکوٰة په مال شی

بل چارپائے چه همکی وی
اخوری نه رمکی وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ئے نهٔ وی دا شرطونه زکوٰة نشته په مالونه

فصل د زکوٰة

کهٔ د مال څښتن بنده دے د بنده زکوٰة ګنده دے
کهٔ د مال څښتن مجنون دے په هغهٔ هم زکوٰة چون دے
کهٔ کافر دے یا وام دار دے ترے ساقط د زکوٰة کار دے
زرکهٔ هومره تروام زیات وی څونصاب فرض پرے زکوٰة وی
چارپایان چه تیر ترکال شی صحراچر وی هاله مال شی

فصل ذکر د زکوٰة

د زکوٰة مقدار اے جانه ثابت نهٔ دے له قرآنه
چه مقدار پرے مقرر دے په حدیث د پیغمبر دے
د طلا نصاب اے یاره په فتویٰ دی شل دیناره
د نقره دوه سو دیناره په نصاب یادیږی یاره
کهٔ سیم زر تردا اندک وی زکوٰة کله باندِ لک وی
زروسیم چه د نصاب شی کال پرے تیر په شمار حساب شی
هاله فکر د زکوٰة کړه په وکیل ئے مهابات کړه
کهٔ زرکم وی تر نصابه سیم هم کم وی ترحسابه
دواړه توکه سره شمار که بیا هاله د زکوٰة چار کړه
کهٔ نصاب شی دواړه توکه زکوٰة ورکړه وچار وکه
کهٔ په دوه سوچل زیاتی شی هغه چل هم زکوٰتی شی
چه څلوینت پرے زیاتیږی ترهغهٔ چه چونسو کیږی
شمار کوه زکوٰة وُباسه کهٔ پوهیږے پوهه شه ناسه
کهٔ مضروب کهٔ نامضروب دے زروسیم په زکوٰة خوب دے
کهٔ د زروسیم سودا کړے یا حلی یائے عصا کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یا زیور وی د زنانو — یا وینی د کودکانو
زر وسیم که دیګ ابلق وی — که د زین د یرق وی
همه وارِه سره شمار کړه — بیا هاله د زکوٰة کار کړه
که د درم بیرون ترشارشی — په درم په بزه کار شی
په مضروب باندِ زکوٰة شته — د شیعه ؤنه په مات شته
شافعی هم په دا ولاړ دے — شیعه ځکه پرے ولاړ دے
که نهٔ زروی نهٔ نقره وی — نور چه مال د تا کره وی
په سودا په تجارت ځی — پرے پلوری په قیمت ځی
په هرکال وارِه حساب کړه — په زکوٰة ئے ځان مثاب کړه
چه قیمت د متاع څو وی — زکوٰة هومره د یستو وی
چه قماش د سودا نهٔ وی — فرش فروش جامه یاخهٔ وی
که ستاے زرد آلات شته — د روزګار لوبنی یامات شته
د روزګار خیمے تنبوان وی — توشکونه فراوان وی
د سواری لری اسونه — غواد لویغ لرے پخسونه
که غوایهٔ د زیست روزګار دی — که اوښان د کاروبار وی
میږے بزے د دوشیدن دی — چه په کور د شیر دادن وی
که وی و ینځے که مریونه — چه خدمت کا ستا په خونه
که غله که حبوبات وی — که خوراک لره کم زیات وی
که د ملک که د ضیاع وی — که څهٔ نورد کار متاع وی
که د فروخت د پاره نهٔ وی — تر نصاب کم تر دا څهٔ وی
په دا وارِه زکوٰة نشته — د یو بستے حاجت نشته
که زکوٰة د پخوا ورکړ — که د عشر و چا ورکړ
دا بدکار نهٔ دے بنهٔ کار دے — چے وقت راشی بیا شمار دے

فصل - زکوٰة د اوښانو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ اوښان دَچا پینځه وی — صحرا چر وی دَکور نهٔ وی
یوګوسفندئ زکوٰة کیږی — چه نصاب باندِ رغیږی
کهٔ ډیر کور لږ په صحرا وی — پرے نه زکوٰة کله روا وی
تراتهٔ پورے یو مڑ وی — کهٔ همه ستا په دروڑ وی
په هرکال چه اوښان لس شی — باندِ دوه مڑونه پس شی
چه اوښان پوره پانزده شی — درے ګوسفنده دِ درزده شی
ترپینځلس کهٔ یو کم وی — دوه ګوسفند باندِ رقم وی
کهٔ اوښان دَ سړی شل وی — څلور مږونه ورکول وی
کهٔ په دا باندِ نر یا تیږی — زکوٰة بنت مخاض کیږی
چه په شپږ دیرش ورسیږی — هورته بنت لبون کیږی
چمل اوښ چه په شمارهٔ شی — زکوٰة اوښه سه ساله شی
شپږ او یا چه اوښان چون شی — هله دوه بنت لبون شی
دوه حقے په نوَ یاسهٔ — ترسل شلئے بیا وشمارهٔ

فصل - زکوٰة دَ غوا وُ

دَ بقرے نصاب په سی دے — پس له کاله په سړی دے
یکساله خوسے دِ ورکا — په صحرا چه کار دَ چر کا
ترڅلویښت څاروی چه تیرشی — په دا باب قولونه ډیر شی
آسان تر قول هم دا دے — تر شپیتهٔ یو یو روا دے
دوه څاروی ئے تر شپیتهٔ شی — کهٔ څاروی په زیاتیدهٔ شی
دوساله دِ په چهل وی — داحساب دِ په زړهٔ تل وی
کهٔ دَ میښے کهٔ دَ غوا وی — دوارهٔ توکه لره دا وی
اوښ کتې کهٔ ګوساله وی — معاف دا هم برغاله وی
کهٔ یوکم څلویښت بره وی — یوګوسفند زکوٰة سره وی

فصل - زکوٰة دَ پسونو دَ بزو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ مړئ کهٔ بزکهٔ پسونه
بنځے نرکهٔ بزه کهٔ مږونه

په نصاب کښے برابر وی
کهٔ دکال شی صحراچر وی

په څلویښت پسونو یوپسهٔ وی
بیاهغه چه پکښے بنهٔ وی

کهٔ سل یو ویشت په شماره شی
بیا زکوٰة پرے دوباره شی

چه دوصدشی یو دپاسه
باندِ درے پسونه شی نا سه

کهٔ رمه شی چونسو پسونه
څلور پسونه باندِ شونه

چه پانصد باندِ پینځه وی
په هر صد یو ورکړه بنه وی

کهٔ څلویښت پسونه دیرش غواوی
یا پینځه اوښان دَ چا وی

په شرکت ئے څښتن دوه دے
سود وزیان دَدوئ سره دے

پرے زکوٰة نهٔ واجب کیږی
چه ئے اخلی نهٔ رغیږی

کهٔ دَدوو تنو اتیا وی
رمه غوائے شته سره وی

یو پسهٔ یوځاروے پرے کیږی
په هر دو زکوٰة رغیږی

کهٔ همه آسان نران وی
له زکوٰة خلاص آسان وی

کهٔ همه واړه ماده وی
یانر بنځے گډ سره وی

په هرسر باندِ دینار دے
دَ امامْ دَ خولے گفتار دے

په اکثر روایتونه
زکوٰة نشته په آسونه

فصل - دَعُشر دَخراج

را شه واوره له خطکه
دوه حکمونه لری مزکه

یا عشری یا خراجی ده
دا فتوٰی دَ سراجی ده

عشری مزکه ده شپږ رنګه
چه نیولی وی بے جنګه

دَعربو ملک درست یاره
تهٔ عشری سره وشماره

نور په جنګ امام نیولی
په غازیانوئے ویشلی

چه په چاه په باران کیږی
هغه هم عشری یادیږی

خراجی مزکه چه یاد شی
په احیاءِ عشر زیات شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مُسلمان چه بستان ساز که — په هغه عشر جواز که
چه تردا مزکه هوا دی — خراجی سره احصا دی
چه غازیانو دی نیولی — مزکه دوئ نهٔ وی ویشلی
خراجی ده هغه واړه — کهٔ آبی کهٔ للمه دواړه
خراجی ده د هند مزکه — چه ویشلے نهٔ د ه ځکه
ترنیمکی کهٔ نریات اخلی — د خراج د ملک بد زغلی
چه د مزکے نه څهٔ زیږی — وچ لامدهٔ چه پیدا کیږی
په همه عُشر واجب دے — په لږ ډیر بیا چه طیب دے
اول کار د عشر بنهٔ دے — کهٔ په لوکهٔ په ریشه دے
بیا سند باندِ نظر کړه — بنه غله په عشر ورکړه
کهٔ غله ده کهٔ میوه د ه — کهٔ تره کهٔ خربوزه ده
کهٔ پنبه کهٔ توت کهٔ نورڅهٔ — کهٔ ووزی سپین وتور څهٔ
واجب شوی پرے همه وی — لږ یا ډیر کهٔ تاڅهٔ زده وی
په وابنهٔ په لرگی نشته — په کیاه نور په هرڅهٔ شته
کهٔ کلونه د بوستان وی — کهٔ ترے نفع د انسان وی
په هغه هم عُشر کیږی — نور به څهٔ څنے خلاصیږی
کهٔ ویلئ کهٔ سبزه ده — په هرلس دستی یوه د ه
لس کیډئ کنی اے څویه — یو کیډئ ترے عُشر بویه
کهٔ مولئ دی کهٔ کاځرے — په هرلس یوه د ه غورے
په وام دارشته په کودک شته — د مجنون په بیش اندک شته
کهٔ ئے باغ په چاه ودان وی — عشر نیم درست په باران وی
کهٔ په خواست وغواړی مزکه — یا په اجر اے هلکه
کار د عشر په تا نهٔ دے — ملک د چا دے په هغهٔ دے
چه عسل په مزکه کیږی — په عسل عشر رغیږی
کهٔ د مزکے کنجینه وی — زر و لیم یا مسینه وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ تاسره دمُسلمان ده کهٔ ئے ورنکړه تاوان ده
دځبنتن طلب ئے وکړه حواله ئے په هغهٔ کړه
ګنجینه کهٔ دکافر وه لرغونئ پټه مضمر وه
پنځ ویک ځنے بدر کړه درویشانو ته ئے ورکړه
نور همه په تا حلاله خلاص ئے ته له قیل وقاله
کهٔ یاقوت کهٔ جواهر دی واړه ستا کهٔ لک کهٔ زر دی
په دریاب کښے کهٔ ته دروے واړه ستا دی چه څهٔ موے

فصل - ذِکر دَ هغوچه مستحق دَ زکوٰة دی

دَ زکوٰة دی اُوهٔ ګروهه چه پرے روغ دے بے اندوهه
اول روغ په فقیران دے دویم روغ په درویشان دے
دویم روغ په عاملین دی په تحصیل ئے تعیین دی
بیا مؤلف القلوب دی کهٔ اوس نهٔ اخلی هم خوب دی
بیا هغه چه فی الرقاب دی ځان ئے وپیرود کړیاب دی
شپږم ګروه ئے عازمین دی چه ترفرض لاندِ غمګین دی
اُوم فی سبیل الله دی چه غازیان دَحق دَ راه دی
بیا دَ لارے مسافر دی چه خوردن وته ناظر دی
کهٔ صدقه وی کهٔ زکوٰة وی پرے روا په روایات وی
نهٔ په پلار زکوٰة روغیږی نهٔ په خوئ روا کیږی
کهٔ نمسے وی کهٔ نیکهٔ وی روغ زکوٰة په واړونهٔ وی
کهٔ درهم وی کهٔ دینار وی په دا واړه ناروا دی
کهٔ عورته زکوٰة ورکه وه میړهٔ ته بده چرکه
کهٔ څښتن ورکه برده نه زکوٰة نهٔ دروے له دهٔ نه
دا وئیل نهٔ په دروغ دے په سنید زکوٰة ناروغ دے
هرچه کل بنی هاشم دی په زکوٰة کڅلی هم دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ کفن دَ مړ ده وکړه — دَ زکوٰة په مال بنهٔ نهٔ کړه
کهٔ مسجد کهٔ خانقاه دے — دَ زکوٰة په مال تباه دے
کهٔ میلمه په زکوٰة تیر کړه — یا تهٔ عشر تیر و بیر کړه
کهٔ زکوٰة کهٔ عشر یاره — مستحق ته ئے وسپاره
هاله ستا غاړه خلاصیږی — په بل رنګ نهٔ ادا کیږی
په زکوٰة کښے نیت باندے دے — زکوٰة بے نیته روغ نهٔ دے
په تونګر زکوٰة روغ نهٔ دے — کهٔ ئے ورکړه کله بنهٔ دے
په خطا کهٔ زکوٰة ورکړه — دَ تونګر نور به حذر کړه

فصل - ذِکر دَ هغود ثواب چه زکوٰة بنهٔ وُباسی

داوئیل دَ پاک رسولؐ دی — کل وئیل دَ دهٔ قبول دی
چه زکوٰة بنهٔ ورکوینه — درے بنادئ به پرے ورځینه
خاندان به ئے آباد شی — رزق روزی به ئے زیاد شی
برکت به ئے په مال شی — ډیرهٔ به ئے هر کال شی
په قیامت به پرے سایه وی — کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی
دے به خلاص وی له زحمته — دَ غارمهٔ له حرارته
بل به پټ په اغوستن وی — پوشیده به دَ دهٔ تن وی
بل به هسے پرده وشی — چه دوزخ به لیدهٔ نهٔ شی
دے به خلاص وی له هیبته — دَ دوزخ له قباحته
هول وترس به باندِ نهٔ وی — هر احوال به دَ دهٔ بنهٔ وی

فصل - ذِکر دَ هغود عذاب چه زکوٰة نهٔ ورکوی

هر سړے چه لا زکوٰة دے — کهٔ صلوٰة کهٔ لاصلوٰة دے
داوعید دے په قرآن کښے — هغه خوار دے په ایمان کښے
چه زکوٰة نهٔ ورکوینه — په دوزخ کښے به سیزینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ روپئی کۀ مهران وی په دوزخ کښے به تابان وی
دَ دوئ مخ به پرے داغینه په درست خان به ئے کیژدینه
په قیامت به ئے کټ کوټ کا لاس وپښے به ئے سوټ بوټ کا
کۀ ئے غوادی کۀ ئے غیله پرے به پاس خیژی خو ځله
درست به دے په پښو پائمال کا په وهل به ئے بد حال کا
وار په وار به باندِ خیژی پرے به رغړی پرے به میژی
چا رپایان به زبان پیدا کا دوئ به وارِه وئیل دا کا
چه قرآن درته کویا وو په زکوٰة کښے غفلت ستاوو
اوس پیچه دا عذابونه ورکوه دا حسابونه

اَتم بَاب

ذکر دَ روژے دَ هره بابه

روژه فرض ده اے یارانو په همه مُسلمانانو!
کۀ مردان دی کۀ زنان دی کۀ آزاد کۀ بندګان دی
چه بالغ په طول وعرض شی دیرش روژے وربانِدِ فرض شی
میاشت ئے میاشت دَ رمضان په بزرګئ ده په هر شان
واورۀ تۀ له سره وایته سره روژه نۀ کیږی بے نیته
کۀ بے نیته روژه دارے ئ دَ قضا روژے فرضدار ے
کۀ څوک پوهه په مسئله شی روژه دوه لونه درله شی
یو روژه درله شی عین دویم رنګ درله شی دین
عین روژه ماهِ رمضان ده تطوع هم په داشان ده
بیا روژه دَ نذر یاره دا درے عین دی وشماره
نذر ستاهغه سره روژه ده چه دِ ورځ یا میاشت وعده ده
چه به دا سره روژه لرم بے سره روژے نۀ ودرڅم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه سوا تر دا لرینه هغه واړه دین دینه
کۀ ئے نیت په شپه ونکړۀ روژه عین وی ښځے نکړۀ
په صبائے تر زوال له نیت راروغ ګنړه اے لا له
تر زوال کۀ وخت تیر بیر شی نور نیت نشته وخت ئے تیر شی
د نیولو وخت ئے کوم دے صبحدم په تامعلوم دے
چه آفتاب له تا پناه شی د کشایلو وخت هغه شی
د شعبان چه دیرش پوره شی کۀ میاشت میغ وی هم روژه شی
دیرش پوره د رمضان کړه نوراختر شۀ ورک ګمان کړه
کۀ سحر وخوری صبا شی یا افطار وکړه نمر واشی
کۀ دا کار په عمدانه وی اندوه مۀ کوه چه ښۀ وی
کفارت نشته قضا ده یوه ورځ روژه په تا ده

فصل - روژه د کفارت

مسئله به درته وایم ښځۀ ئے واوره نیکخواه ستایم
کۀ معتاد خواړه په ورځ خوری یا اوبۀ کشته ترحلق وُری
په روژه کښے کفارت دے منکرمۀ شه روایت دے
کۀ دارو کۀ زعفران خوری مشک دانورچه په داشان خوری
کۀ دا کار دِ په عمدا شی کفارت په تا روا شی
کۀ دا کاردِ په نسیان وی خو قضا ده کار آسان وی
کۀ لږکی خوری کانی مانی کفارت نشته په کانړی
په دا جنس قضا روژه ده باور وکړه مسئله ده
کۀ جماع په دبر فرج وی چه حشفه دِ پکښے درج وی
کفارت په مرد وزن دے روایت ئے مبرهن دے
کۀ په ښځه زور ستم وی یاله عقله بیګانه وی
په دا هم کفارت نشته په مرد شته په عورت نشته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَچار پلۍ دخول ډیر بد دے
چه دا کار که هغه رد دے

په انزال ئے قضا بویه
کفارت نشته اے خویه

که انزال ونهٔ شهٔ نشته
هم قضا غسل چه خهٔ شته

که دخول کاندی له نره
راشه واوره دا خبره

که رضاوی په دا غاړه
کفارت ساغے په دواړه

که په ظلم وجوروضرب وی
د مظلوم کفارت سلب وی

که په بنځه بنځه خیژی
کفارت باندِ سغیږی

کفارت چه واجب کیږی
قضا هم باندِ رغیږی

فصل- ذکرد هغوچه خوراک پرے رغیږی

که روژه خوری پنځه کروهه
کاردِ کاندی بے اندوهه

خبردارئے خدائے فتاح دے
په ضرور افطار مباح دے

مسافر که سروژه خورینه
باندِ هیڅ بدی نهٔ وینه

د بیمارا فطار سروا دے
په کتاب کښے حکم دا دے

که باردارهٔ عورتینه وی
که روژه خوری چارئے بنهٔ وی

که هلک دَدے شیرخوردی
که روژه خوری بنهٔ ئے موروی

وزارهٔ وته سرخصت دے
که روژه خوری روایت دے

په څلور کروهه قضا ده
چه روژه وخوری فتوٰی ده

که طاقت د زارهٔ نهٔ وی
نیمکی صاع غنم په دهٔ وی

دیرش روژے پنځلس صاع شی
خودکاشته که ابتیاع شی

مستحق ئے درویشان دی
که د کلی که خویشان دی

که بیمار ومری په رنځ کښے
مسافر وی که په ونج کښے

پرے قضا نهٔ واجبیږی
پرے دِ هر څوک وپوهیږی

که بیمار له رنځه روغ شی
مسافر په کور فروغ شی

نیم نیم صاع غنم پرے شینه
ودرویش دِ ورکوینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ نفل روژه وینه په افطار قضا پرے شینه

فصل- چه د روژو د کفارت غاړه خلاصیږی

کفارت چه په چا واوړی دے د خلاص کردن په دا کړی
یا د یو بنده آزاد کا چه آزاد شی زړهٔ د بناد کا
کهٔ دا نهٔ وی دی دوه میاشتے پیاپے سره روژے پیوستے
یا شپیتهٔ وږی ماړهٔ کا چاشت وشام هسے خواړهٔ کا
آزادی د بنده بنه ده تر روژے مسئله ده
روژه بنه ده تر طعامه مسئله زده کړه تهٔ عامه

فصل- ذکر د نذر د روژے نیت

کهٔ د نذر نیت څوک وکا پیوسته د خوراک نهٔ کا
کهٔ د میاشتے روژه وینه پیوسته د ئے لرینه
کهٔ تر پاتو هغه ماه شی بله میاشت د ئے په راه شی
کهٔ درست کال ئے وی یاد کړے پیوستون ئے وی نو مړے
په درست کال باندے وړینه پیوسته د ئے لرینه
پنجشنبه کهٔ دوشنبه وی واجب کړی سره روژه به وی
کهٔ ئے وخوری کفارت دے د سوکند کهٔ ئے عادت دے
تطوّع په رمضان کښے د روژے نشته په آن کښے
رجب میاشت د شعبان دواړه فضائل لره شی واړه
بنه ده د ذوالحجه ده بیا دهه د عاشوره ده
بیا ایام بیض اے یاره د هر ثواب لری بے شماره
د شوال ششه هم بنه ده پس له عیده چه ششه ده

فصل

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

راشه واوره دماجُونده
روژه نهٔ ده لوبه تنده

ورسره دی ډیرے چارے
له ما واوره یوځو بارے

چه روژه ئے یاده کړی
د الصوم ئے نومړی

په "اَنَا اَجزِیٰ" ده یاده
دا وئیل دی له اُستا ده

دَ روژے اجر په ما دے
خدائے په دا وئیل کویا دے

روژه خاص طاعت دَخدائے دے
دا کلام خُما په خُائے دے

پیغمبرؐ هسے وئیلی
په کتاب کښے ما لیدلی

کهٔ بنده وی کهٔ آزاد وی
چه په حقه روژه شاد وی

درسته میاشت روژه ادا کا
نیت سنت واړه پرجا کا

هرانداز لکه یو باب دے
دَ وبال یادئ ثواب دے

دَ وبال وربانډِ بند کړه
دَ ثواب په لوری پندکړه

کنړه تهٔ دَ غوبل ستورے
خولهٔ ترلے په څهٔ شورے

دا روژه نهٔ ده صرفه ده
درته پاتو سیر غله ده

دَ ثواب نصیب روژه
راځکوه تنده یا لوږه

چه په خولهٔ نهٔ ده تمام
روژه ده په هفت اندام

لکه خولهٔ دَ خوړو نیسی
فرج له نور وخیزو نیسی

سترګے غوږ داهسے نیسه
مهٔ بدآوره مهٔ بد کسه

له کفتاره ژبه ژغوره
له غیبته له پیغوره

خولهٔ ساته لهٔ مُسکراته
دَ حرامو له آفاته

زړهٔ له بدو اندیښنو نه
له آشوبه له فتنو نه

لاس له بدو هسکیدلو
پسے له بدو کړځیدلو

هرا عضاء له بدو ژغوره
په روژه کښے خُما رسوره

فصل - دَ روژے دَ ثواب

خدائے بےلس خیزونه ورکا
شک په دا مکر کافر که

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لکه اوزیږی له مورہ تازہ وړوکے ځما ږورہ
له ګناہ به هسے خلاص وی چه روژہ ئے په اخلاص وی
کهٔ شُبه وی کهٔ حرام وی تل به خلاص دَدهٔ ترکام وی
بل به تل رحمت پرے وُوری له بلابه ئے خدائے ژغوری
بل په هره روژہ جانه دے به ورشی تر جنا نه
دَ یاقوت محل به مومی له جهانه به خوش درومی
بل کهٔ تنده وی کهٔ لوږه دَ قیامت به وی پرے لږه
بل به خلاص وی له هیبته غم به نهٔ کاله قیامته
بل چه وږیشی تر ګورہ خوش خورم به وی اے رورہ
بل په ګور کښے ډیرے حورے تل به دهٔ ته وی حضورے
بل به هسے مشال ورکه په صراط چه ترے ګذر که
بل تیار به ورته خوان وی چه فراخ تردا جهان وی
ترعرش لاندِ به ئے ویشی دے به کښینی باندِ ګویشی شی
کهٔ ئے شمار کړم نعمتونه مګر وکښم دفترونه

فصل- دَ روژے دَ اعتکاف

په روژہ کښے اعتکاف شته فکرذ کر حق انصاف شته
اعتکاف دے په دوہ شانه تهٔ ئے ونغوڑہ له مانه
یو واجب بل فضایل دی پرے به پوهه وی چه عاقل دی
چه په ځان ئے نذر کاندی شی واجب په هغهٔ باندِ
چه په ځان ئے نذر نهٔ کا کهٔ ئے که نفل دِ بنهٔ کا
دَ روژے سره روا دے نذر بے روژے خطا دے

فصل- دَعید فطر سرسایه وغیرہ

دَ اختر په ورځ عزیزہ له تا بویه اُوهٔ خیزہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اول غسل بیا مسواک دے — بنهٔ پوشاک دے بنهٔ خوراک دے
خوشبوئی کا په ځان پورے — سرسایه ده کهٔ ئے کورے
بیا به نمونځ د اختر وکړے — دا سنت به په ځائے ته کړے
سرسایه په تا واجب ده — لاد وخته مناسب ده
لوئے هلک سره وشماره — کهٔ آزاد کهٔ بنده یاره
په هر سر نیم صاع غنم دی — پوره صاع اوربشے هم دی
کهٔ خرما دی کهٔ مویز دی — د اوربشو غوندِ نیز دی
سرسایه په تا هاله شته — کهٔ نصاب دے د کالهٔ شته
نهٔ دِ ئے وام وی نهٔ دِ پور وی — سرانجام دِ د خپل کور وی
چه زکوٰة وربانده شینه — سرسایه دِ ور کوینه
شوی وزن په سرسایه کښے — سره بیل دی په مایه کښے
کهٔ مجنون مالک نصاب وی — یا هلک په دا حساب وی
په زکوٰة کښے کهٔ معاف وی — په صدقه کله معاف وی
د سودا په مال هم نشته — سرسایه نور په هرځهٔ شته
کهٔ د عید په خوائے ور کا — سرسایه هم دا بنهٔ چر کا
په اختر ئے کهٔ ور نهٔ کا — په هر وخت چه ور کا بنهٔ کا
کهٔ غله نهٔ ور کوینه — په حساب ور کوکه هم شینه
صاع اته رتل حساب دے — رطل نیم من په کتاب دے
د مکے من دا جائے بویه — نهٔ شهنگ پیمانه لویه

فصل. ذکر د مال چه حج پرے فرض کیږی

په اُوهٔ شرطه فرض کیږی — حج په دا کهٔ څوک پوهیږی
په عاقل دے په بالغ دے — چه بنده نهٔ دے فارغ دے
بل کافر نهٔ وی دیندار وی — بل تندرست بل چه مالدار وی
چه خطر نهٔ وی د لارے — اُوهٔ وشول کهٔ ئے شمارے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ ئے نهٔ وی دا شرطونه ورته بنه ده خپله خونه
کهٔ وج لره سړوان شی گرفتار به په تاوان شی
دوه شرطونه د زنانو زیات یادیږی ترمړد انو
خپل محرم دِ ورسره وی بے محرمه کله بنهٔ وی
بل عدت دِ تیر په ځان کا بیادِ ج ته ځان سړوان کا

فصل- د عید د قربانئ!

اختلاف په دا کښے پیدے د مال حکم تیر وبیر دے
اما هومره مال بائد هٔ وی چه د لاسے زاد د دهٔ وی
چه خپل وام وارِه ادا کا نفقه کور ته مهیا کا
څوچه درومی څو رادرومی لوئے هلک ئے هرچه مومی
لاپه کورئے هومره مال وی چه دوئ راشی پرے خوشحال وی
فراغت پرے کشت و کار کا لاپرے دے د سودا کار کا
چه محتاج په هیڅ کښے نشی چه په کور د دهٔ سړاتله شی
سورِدِځئ سور دِ رادرومی چه راحت د سفر مومی
کهٔ داهسے مال لرینه ج پرے فرض دے دِ ځینه
کهٔ علت لری معذور دے ج ئے حکم په مزدور دے
بنهٔ دین دار تدِ مُزد ورکا د ج کار دِ ورته سر کا
یا کهٔ څوک د دهٔ دپاسه ج په ځائے راوړی اے یاره
پرے خلاصیږی د دهٔ غاړه کهٔ دے نهٔ وو کا دا دواړه
پس له مړکه تاوان دار دے د دهٔ مال په څهٔ مقدار دے
د دهٔ مال دِ په قسمت وی کهٔ ئے کړے وصیت دے
دوه حصے د وارثانو یوه شی د درویشانو
وصیت کهٔ ناصادر وی په درست مال وارث قادر وی
کهٔ معلول ج گذارینه تطوّع دِ ج نهٔ شینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه تندرست شی ج دِ بیا کا خپله غاړه دِ ادا کا
کهٔ درویش وی چه ج وُکا په غنا کښے دِ بیا نهٔ کا

فصل - ذکر د کشتا ریعنی د مذبوح

واجب شوے قربانی ده په شهری بیابانی ده
چه بالغ وی چه مقیم وی دُنیا دار په زروسیم وی
سرسایه چه وړ کوینه هغه هومره مال لرینه
قربانی دِ هغه کاندی چه واجبه ده پرے باندِ
مسافر کهٔ دیر مالدار وی په قربان ناتوان دار وی
هلک څوئے د بابا دے په قربان کښے لوئے جدا دے
ورځ د عید دوه ورځے نورے د قربانئ دی کهٔ ئے کورے
په درے ورځے روغ قربان دے تردا تیرشوندون تاوان دے
د قربان په نیت کهٔ پسهٔ وی و درویشئے ورکړه بنه وی
کهٔ لنډئ کډوډ وی یا ډنګر چه پوست وهډ وی
کهٔ یک چشم وی یا لنګ وی قربانئ لره ننګ وی
په اوهٔ تنه کهٔ غوا ده قربانئ لره روا ده
یوهٔ تن لره کوسفند دے یا اُوز بزه دا کار پسند دے
غوا کهٔ اوښ په اُوهٔ تنه مسئله ده مبرهنه
اُوهٔ واړه دِ نیت یو کا په قربان دِ هله رو کا
کهٔ په نیت کښے یو ناساز شی قربانی دِ واړه باز شی
کهٔ میړهٔ قربان د څڅے کا کار بیرون ترمسئلے کا
کهٔ د شوئ په نیت قربان کا داکار بد نهٔ دے په کار کا
د قربان کهٔ غوښے خورینه په میلمه په ځان بنهٔ کړینه
له کشتاره درته وایم ذبح کړونے درته ستایم
کهٔ هلک کهٔ مست که لال وی چه بسمل کا چه حلال وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لیونے وی کہ نساء وی
یا جُنب جھود ترسا وی

د دیو واړو بسمل روغ وی
دا وائی کلہ دروغ وی

کہ کافر مشرک کہ گبر
لہ کشتارہ ئے کړہ صبر

خواجہ سرائے کہ څوک لرینہ
ھیڅ کشتار دِئے نہ خورینہ

کہ تیرہ کانړے کہ نے وی
کہ ھډوکے کہ لرگے وی

پہ دا واړو کشتار شینہ
چہ رګونہ ئے پریکوینہ

د کشتار دی څلور ړکہ
د حلقوم سرہ اے ډکہ

څلور واړہ رګہ پریکړہ
او کہ نہ بریدہ درے کړہ

کہ تر دا بریدہ کم وی
د کشتار خوړنہ غم وی

فصل - ذکر د شکار د جواز

د ګذار پہ وخت چہ شکار کړے
کہ پہ تیر تکبیر آشکار کړے

کہ پہ ځائے پریوزی ولاړشی
یا پہ ځائے باندِ مردار شی

پہ تکبیر سرہ حلال دے
خورہ ئے ستا کلہ وبال دے

لہ طلبہ ئے کہ پریوزے
کہ ئے خورے پہ وبال کښیوزے

کہ تکبیر دِلہ زړہ ھیر شی
خورئ تر چہ پہ شپہ چیر شی

کہ عمدًا تکبیر ونہ کړے
بد کہ غوښہ ئے پہ خولہ کړے

کہ د سپی دے کہ د باز دے
پہ تکبیرے کار جواز دے

کہ مجروح کہ نامجروح وی
صید د بازکشتہ فتوح وی

څود شکار مرغونہ دینہ
حکم باز غوندِ لرینہ

نامجروح کہ د سپی مړ وی
د خوړلو نہ دے نغر وی

کہ څہ وینہ ترے جدا وی
پہ تکبیر سرہ ړوا وی

پہ اوبو کښے چہ چوریږی
پہ دخول کښے چہ بښیږی

ھر لیوہ ګیدړ کہ تروړ دے
بد کہ غوښتہ ئے جوړ دے

چہ چنګال لری اے پوھہ
لکہ باز شاهین دا ګروھہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

غوښے بدے وی د واړو
د کور چرګه که چارپائے وی
چه خوراک ئے نجاست وی
مګر بندشی علف وخوری
که په اور پرطشت ئے نسی
که مرغۍ دی که ماهی دی
چه ماهی په سرود کښے ومری
که څاروی په چاه کښے پریوزی
که بسمل ئے ممکن نۀ وی
پرے تکبیر وئیلے بویه
نورکۀ ومری هم حلال دے

ناروا دی تر مردارو
چه ئے کشت په کنده څائے وی
که ئے خورے کراهیت وی
بشۀ سړے د هله وخوری
په حیلت سره لوغسی
چه ئے خور وربانډی دی
بے سببه بدچه وخوری
په نظر د سړی کښیوزی
په سلاح سره مړښۀ وی
چه ئے وینے شی چه تویه
سرتر پایه لا وبال دے

نهم باب

ذکر د جهاد وغزا ثواب د غازیانو وشهیدانو

په قرآن کښے د غازیانو
په غازیانو خدائے مئین دے
چه پسندلی د واحد دی
چه د تیغ روشنائی نۀ وی
د غزا ثواب که کښم
څو غازی په غزا درومی
چه له کوره نه روان شی
له عذابه غازی خلاص وی
تر بهشته به ورشینه
څو چه ج وی د حاجیانو
تر دا واړو چه بالا دے

صفت شوے دے یارانو
په غازیانو دین روشن دے
نۀ سوګند خورم مجاهد دی
د جهان صفائی نۀ وی
په کښل کښل به نۀ رسم
په هر پله به ثواب مومی
ګناهونه ئے پریشان شی
آمرزش ئے په اخلاص وی
ګمان مۀ کړه چه ورشینه
څو کوشش د عالمانو
د غازیانو کوروالا دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څوطاعت واړه جهان کا بنے بنے چارے مومنان کا
ورسره غازیان شریک وی کهٔ ترکان وی کهٔ تاجیک وی
چه غازی له چا آزار شی په دُنیا په دین به خوار شی

فصل
ذکرد شهیدانو چه دوه رنګه دی

شهیدان دی په دوه رنګه سره بیل دی له فرسنګه
یو په غسل بنخاوهٔ شی بل بے غسله وسپارهٔ شی
چه شهید شی په غزا کښے نشته هیڅ شُبه په دا کښے
بے کفنه دے بنخیږی غسل هم پرے نهٔ رغیږی
د شهید کفن پوشاک دے څهٔ حاجت د غسل پاک دے
په خپل مال چه په تیغ ومری حقیقت وی شهید بنهٔ مری
بنخاوهٔ دِ شی بے وللو مغفرت ئے دے تر تلو
هرچه مړوی په خپل ځائے کښے دارالحرب سره په سرائے کښے
د خپل رخت سره بنخ بنهٔ دے هیڅ حاجت د غسل نهٔ دے
د اسلام په دار کښے مړے چه په تیغ وی چامړ کړے
هغه هم د غسل نهٔ دے د جامو سره بنخ بنهٔ دے
چه شهید وصیت وکه پیا هاله د دم واتهٔ کا
مسئله ده د وُلو نهٔ دے روایت دے وللے بنهٔ دے
کهٔ په خولهٔ ذکر د حق کا د هغهٔ جهان نطق کا
د هغهٔ غسل نهٔ بویه مرتبه ئے ده لا لویه
کهٔ لږی هسے زخمونه پټه خولهٔ وسے په خونه
مړشی دے په بیخودئ کښے کار د وُلو دے په بدئ کښے
شهیدان چه د ثواب دی هغه دا رنګه حساب دی
حقیقی شهیدان نهٔ دی په ثواب شهیدان مړهٔ دی
څوک چه لاندِ تر دیوار شی مړ د نفس په بد آزار شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یا په اورکښے لولپه شی | یا په بحرکښے غرقه شی
یا په وخت د لنګون ومری | ښځه یا په حد چه ومری
چه مقتول د حرامی وی | په زندان صمصامی وی
که ئے او سپنے څوک ومری | په ناحق شهید دے ښه مری
که مجروح داخلی له ځایه | په لار دمری ورته وایه
په دا واړو غسل روغ دے | شهادت ئے نه دروغ دے
حرامی چه مال د بل خوری | تیره ټوره غشے بل خوری
هغه هم د وللونه دی | عقوبت لره نه ښه دی
نه د مونځ وربانډ کیږی | بلکه دے د نه ښخیږی

فصل
ذکر د مرده د غسل

د مرده غسل ثواب دے | خبر هسے په دا باب دے
چه مرده ته غسل ورکا | په ښه رنګ ئے وجود تر کا
څو په تن د مړه ویښته وی | مزد به دا هومره د ده وی
چه بنده سړے آزاد کا | په ثواب ئے خاطر ښاد کا
هسے رنګ د مرده وله وی | چه ئے عیب ښکاره نه وی
شرمګاه ئے پوشیده دی | نور غاسل آمرزیده وی
که ئے عیب آشکاره کا | غاسل ځان لره بلا کا
مزد ئے واړه حبطه دے | دیر کنده کاندی کنده دے

فصل
ذکر د جنازے د نمانځه د ثواب

د ښه خدائے په قول اے یاره | نمونځ واجب په مړه وشماره
څوک چه نماز جنازه کا | باید دادی دادِ نرده کړه
د قبلے په لور دِ کښیږدی | مرده درے صف دپلیږی
برابر په سیلنه څویه | د امام دسیدل بویه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه صغیر وی کهٔ کبیر وی — جنازه په چار تکبیر وی
تکبیرونه چه ادا کا — په آخر دِ سلام بیا کا
په اول تکبیر لاسونه — دروړه بویه تر غوږونه
چه اول تکبیر دوائے — بیا سُبْحَانَ هم ووائے
تَحِیَّات پسے ولو له — په دویم تکبیر دا لو له
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ — تا حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ ط
په دویم تکبیر داوایه — په حاضر خاطر ترځا یه
اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَمَیِّتِنَا وَشَاهِدِنَا
وَغَائِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَ ذَکَرِنَا وَاُنْثَانَا
اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ وَ
مَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ ط
چه څلور تکبیره وشی — سنا سلام دِ بیا هاله شی
په اول تکبیر لاس بو یه — چه تهٔ هسک کړے ځما ځویه
یا امیر یا قاضی بویه — چه امام شی راضی بو یه
یا امام جُمعے یاره — یا خطیب پنځم وشماره
کهٔ داهیڅوک حاضرنهٔ وی — هر سړے چه پرے لوست بنهٔ وی
یائے خویش یا اقربا وی — یا چه حکم پرے دَ چا وی
چه امام جنازه کاندی — یا چه لولی په دهٔ باندِ
مقتدی چه ورپسے وی — په لوستن دِ هم هسے وی
کهٔ سړی په شمار اندک وی — هم په درے صفه دِ لک وی
داحدیث دَ پاک رسولؐ دے — چه هغه مرده قبول دے
چه دَ دهٔ جنازه کیږی — پرے درے صفه ودریږی
کهٔ حاضر پرے دیر عالم وی — په مرده دَ خدائے کرم وی
جنازه چه شی خبرے — څوک دِ نهٔ کا نزدے لرے
دَ نمانځه چه تکبیر چار وی — په څلور رکعته شمار وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه داخل په هر تکبیر شی — له امامه دِ خبیر شی
چه امام سلام وکا ندی — تر روستی ماموم دَ وړاندِ
دے دِ پاتے تکبیر درست کا — د سلام دِ هاله لوست کا
کهٔ مرده خلق په ګور کا — بے نمانځهٔ نه ئے نسکور کا
پس له درے ورځو کهٔ کاندی — نمونځ پرے کیږی روستو وړاندِ
چه تر درے ورځو نه تیرشی — نمونځ پرے نهٔ کیږی نور دیرشی
کهٔ پریوزی له مـوږه — کهٔ مرده وی وئے ګورِه
په جنین باندِ نمونځ نشی — بے نمانځه دِ بنخه وشی
کهٔ دیر مړهٔ سره انباردی — نمونځ په واړه ویوکذاروی
کهٔ دیر نر بنځ ګډ وډ وی — هلک هم ورسره ګډ وی
دَ مردانو صف اول وی — ورپسے دَ بنځو بیل وی
بیادِ وړوکے پسے کښیږدی — جنازه دِ ئے ویلیږی
نمونځ په واړو یوکذاروی — نهٔ په هر مُرده بار بار وی
کهٔ ولی ئے حاضرنهٔ وی — دوباره پرے نمونځ هاله وی
جنازه چه په لار درومی — چه ئے بنهٔ سړے بیا مومی
کهٔ نماز ورباندِ کاندی — صد رحمت په هغهٔ باندِ

فصل

له رسول ﷺ روایت دے — په مشکوٰة کښے په صحت دے
جنازه چه دَ مړهٔ وکا — پس له دفنه سړے تلهٔ کا
درے قیراطه مزد به مومی — پس له دفنه کورته درومی
هر قیراط په حساب څومره — لکه غر دَ اُحد هومره
په مرده باندِ سل تنه — مسئله ده مبرهنه
چه حاضرشی نمونځ وکاندی — مغفرت ورشی ورباندِ
چه پرے زیات سړی حاضر وی — مغفرت دَ مرده زر وی
په تورلیت کښے روایت دے — چه ربستینے حکایت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

موسیٰ خواست وکړله خدایه — څما خدایه راته وا یـه
چه دَعرش تر سایه لاندِ — څوک به وی چه راحت کاندی
دَموسیٰ وینا بنهٔ آغله — دا ندا په موسیٰؑ راغله
دَ بیمار چه عیادت کا — تعزیت دَ مصیبت کا
په مړده باندِ حاضریږی — چه ئے ګور جنازه کیږی
چه دا درے چارے څوک کاندی — څائے دے دَ عرش دَ لاندِ
ګور په کچ په چونه بد دے — بدکهٔ پوخ دَ چا لحد دے
پخه خښته هم ګنده ده — کهٔ په ګور کښے دَ مړده ده
تابوت هم کراهیت دے — نهٔ روا په روایت دے
کهٔ دَ کانړی ګور څوک کاندی — بدی نشته په دهٔ باندِ
کهٔ په مړهٔ سړی ژړا کا — بنهٔ کهٔ پیره ئے لالا کا
چه ژړا نا روغه وینه — آشنائی دروغه وینه
په فراق دی سترګے ګرمے — کهٔ په عمر شی بے نمے
چه مٹین سره بیلیږی — پسے نول پسُونه کیږی
په فراق چه ژړا نهٔ کا — دروغژن وی نور به څهٔ کا
چه لرګی سره ماتیږی — دَ لرګیو طراق خیږی
دَ لرګیو لا بتر دے — چه بیلیږی بے اثر دے
څوچه ژړے ژاړه ژاړه — ولے نهٔ چه ویر یا غاړه
څوک چه مخ وهی دا بد کا — چه کوجئ شلوی دا بد کا
چه جامے پاره کوینه — یا خپل سر په ډاک وهینه
یا فریاد نعرے فزع کا — یا افغان نوحه جزع کا
دا په شرعه ناروا دی — چه دا چارے کا خطا دی

فصل - ثواب دَ صبر په مُصیبت کښے

داحدیث دَ پیغمبرؐ دے — تواتر دے معتبر دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مصیبت چه په چا ورشی — دے په صبر بهره ورشی
اِنَّا لِلّٰهِ دِ وُوائی — تر څلویښت کاله څو بائی
خدائے به هومره ثواب ورکا — چه مخ رونړے په محشر کا
په جنت کښے به ئے ځائے وی — راضی من به څنے خدائے وی
وَ جنت لره احبا به — صابران څی بے حسابه
نۀ ئے سوال نۀ ئے حساب وی — نۀ په دۀ باندِ جواب وی
مصیبت په مړۀ په مال وی — یادَ ملک دَ تن زوال وی
په هرڅۀ صبر بائدۀ دے — په هر غم کښے صبر بنۀ دے

POHA

فصل۔ عذاب چه په مرده پسے جزع فزع کوی

دا حدیث دَ محمدؐ دے — ناصبور په غم کښے بد دے
رور عزیز چه دَ چا مړ شی — بویه داچه غم دِ نغړ شی
کۀ نارے فریاد غوغا کا — وایۀ څان لره بلا کا
یا جامے کۀ پسے تورے — یائے نۀ اغوندی نورے
یا جامے څیری کوینه — نۀ دستار په سر تړینه
یا خپل کور پسے ویران کا — دغه وایۀ دَ دین زیان کا
په قیامت به شرمنده وی — په عذاب کښے به اخته وی
په دوزخ کښے به ئے ځائے وی — همیشه به پرے هائے هائے وی
په مردن به ئے تور رنګ وی — ګور لحد به باندِ تنګ وی
څوئے تورے جامے و ینه — عبادت به ئے نۀ شینه
په محشر چه حساب شمار وی — حساب شمار به پرے دشوار وی
کل فرښتے به پرے لعنت کا — همګی به ترے نفرت کا
چه له ګوره نۀ پاسینه — برهنه به وُ دریښه
په صراط چه ګذر کاندی — درمانده به شی پرے باندِ
نوحه ګر چه مړۀ ستائی — په رنګ رنګ ئے ثنا وائی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په قیامت به دا پیشو وی — یا به سپے یا به بیزو وی
دَ قطران جامے اغوستے — پلیتی په سر اخستے
تن پاره پاره دَ دوئ — ترلړمون بنکاره دَ دوئ
دَلعنت چادر پرے باندِ — چه دَ اورلښے به کاندی
فرښتے به دا ونمائی — دوزخیان به په ویرستائی
چه بدبختو اوس راځئ — دوزخیان په ویرستایئ

فصل- عذاب دَ هغو بنځو چه په مُرده باندِ ویرکوی

پیغمبرؐ دی فرمائیلی — دهٔ تر پاکے خولے ویستلی
چه په ویرکښے مخ وهینه — په محشر به تور مخ وینه
زرلعنته به پرے وُوری — خلق به وړته گوری
دا به وی لکه زنا گره — یویو زنا دَ ویر سندره
دا دوه بنځے به اوچار وی — په قیامت چه گیرودار وی
یوچه خپل میړهٔ پریږدینه — دا په نورو پسے ځینه
بله بنځه چه میړهٔ ستائی — په صوتونو دَ ویر وائی
خلاص به نهٔ وی له عذابه — دَ دوزخ دَ اور له تابه
په ژوندون کهٔ توبه وکا — خدائے به کارد واړونهٔ کا

فصل - دَکفر دَ کلمات

کهٔ جنت دے بنهٔ خصلت دے — کهٔ دوزخ دے بدعادت دے
مُسلمان دِ ژبه ژغوری — چه غضب پرے نهٔ وُوری
چه وئیل کا څوک بے ځایه — پرے لعنت وُوری له خدایه
په زبان وی چه ایمان وی — کفرهم په دا زبان وی
کهٔ ځما نغوڑی څوک بنهٔ کا — مسخره دِ هیڅوک نهٔ کا
مسخره چه په زبان ځی — په خندا خندا ایمان ځی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زده کړه تهٔ له روایات
دا د کفر کلمات

په درے څیزه کافر کیږی
هر سړے د وپوهیږی

اول کار د اعتقاد دے
بل د ژبے اقرار یاد دے

بد عمل په درست اندام دے
درست اسلام په دا تمام دے

دا نیت کهٔ مُسلمان دے
چه په کفر داخل ځان کا

پس په دا نیت کافر شی
په دا نیت ترکفره ورشی

چه کافر وی نیت دا کا
چه ایمان قبول صبا کا

په دا نیت مُسلمان نهٔ وی
اعتقاد د کافر څهٔ وی

د اسلام شرطونه بویه
چه په یوځائے راوړے ځویه

د مومن کفر کهٔ غواړے
چه کافر شوے په دا ویاړے

په دا کار نهٔ کافر کیږی
دا کار مکړه کهٔ پوهیږی

چه ګوندی د کافر کاندی
کافری ده په دهٔ باندِ

چه له فرضو څوک منکر شی
په انکار سره کافر شی

چه ئے نهٔ زده وی فرضونه
یا چه نهٔ کا فرض نمونځونه

مسلمان نهٔ دے کافر دے
تر کافر نه لا بتر دے

چه حلال حرام ګڼینه
یا حرام حلال شمیرینه

یا خوتونه په ناحق کا
کبیره ګناه مطلق کا

یا زنا یا لواطت کا
یا په ظلم مال غارت کا

کهٔ حرام ئے نهٔ ګڼینه
په دا کفر پرے ورځینه

چه د خدائے په وعدهٔ شک کا
په دا کفر په ځان کاک کا

عزرائیل کهٔ بد ګڼینه
په هغهٔ کفر ورځینه

مؤذن چه بانګ نماز کا
استحقاق په سړی ساز کا

څوک چه علم زده کوینه
بد هغهٔ ته څوک وائینه

یا قرآن و پاندِ آلت کا
باندِ چار د معصیت کا

د قرآن چه آیتونه
لولی څوک په سر و دونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دا واړه چې ئے کاندی
کفر ورئے شی پرے باندِ

کهٔ ارمان وکه ووائی
چه حلال وے شراب ستائی

یا فلانه حرام حلال دے
یا حلال دَ ولجے مال دے

دا ویل دَ کفر دینه
ترے دِ ځان مومن سا تینه

کهٔ څوک وائی چه نمونځ کړم
ولے هیڅ ترے نهٔ مومم

یا نمونځ نهٔ کا ورته وائی
چه نمونځ کړه ورته ئے ستائی

دے جواب ورکړه نمونځ نهٔ کړم
کهٔ نمونځ نهٔ کړم هم دا بنهٔ کړم

کافرشی په دا خبرے
مُسلمان دِ وی ترے لرے

چه دَ شرع استخفاف کا
چه فرمان دَ خدائے ځذاف کا

کفر ورغے پرے باندِ
مؤمنان دِ حذر کاندی

کهٔ ظالم دَ مظلوم مال خوری
خوش خرم ئے په وبال خوری

مظلوم ووائی و دهٔ ته
مال م مهٔ خوره وکړه نغته

کهٔ نهٔ حق به له تا غواړم
په قیامت به خدائے ته ژاړم

ظالم هیڅ پرواه و نهٔ کا
بلکه لاظلم په دهٔ کا

داهم کفر دے چه کیږی
له قیامت چه نهٔ ګروهیږی

کهٔ څوک ووائی عیب دان یم
هسے شیخ دَ خپل زمان یم

دا ویل دَ کفر دینه
چه ئے وائی کافر شینه

چه غیبت دَ پیغمبرؐ کا
شک ومهٔ کړه ځان کافر کا

کهٔ څوک ووائی له خدایه
وویریږه دی بے ځایه

ویل وکا نهٔ ویریږم
داهم کفر شی پوهیږم

چه عالم وته بد وائی
په شدت ورسره پائی

کهٔ بے ځایه دا کار کاندی
کفر ورغے پرے باندِ

کهٔ عالم فاجر فاسق وی
دَ بدئ خودے لایق وی

کهٔ څوک ووائی بالغ یم
نمونځ کهٔ نهٔ کړم خوش فارغ کړم

یا څوک ووائی وچا ته
په نمانځه کړه مینه زیاته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دے جواب وهغهٔ ور کا
نمونځ وتاوته څهٔ در کا

نمونځ به هله ګذارم
ګنړه څهٔ دی نهٔ ئے کړم

داویل د کفر دینه
منکری له فرضو شینه

کهٔ زینار کهٔ څوک پهغاړه
یا سجده د بُت دا دواړه

چه ئے کا هغه کافر دے
له کافره برابر دے

کهٔ غلول کا دا کارونه
یاضرور وی یا پجو نه

کافرنهٔ شی واړه بد کا
چه کارونه د مرتد کا

فصل - کلمات د کفر د زور د مخه نور مکروه کارونه

کهٔ په لاس د کافر کښیوزی
مومن غم وربانډِ پریوزی

ورته وائی چه کافر شه
یا وتیغ ته ترک د سر شه

یا نقصان قبول وجود کړه
یا بت وته سجود کړه

یا شراب راسره وخوره
یا ړوژه ړا کړه وخوره

کهٔ څهٔ داغوندِ نور ګران وی
چه آفت د دین د ځان وی

کهٔ غم خورئے هیڅوک نهٔ وی
دا دِ کار ورلره بنهٔ وی

کهٔ دا کار کراهیت دے
هم ړوا په شریعت دے

له ضروره هرڅهٔ کیږی
کهٔ په ژړئے نهٔ رغیږی

کهٔ د سر ضرورئے نهٔ وی
په څِه نورچه زیان د دهٔ وی

نهٔ دِ کفر قبلو ینه
نهٔ دِ خمرو روژه خوریه

کهٔ په بنځو ریښمین بنهٔ دی
په مردانو ړوا نهٔ دی

په هلک په لوئے په دواړه
مکروهات دی ریښمین یاره

کهٔ بالښت وی یا بستروی
لوئے هلک لره بهتر وی

د جامے کهٔ تار ریښمین وی
پود نورچه کار مهین وی

چه بوسے سره لاسونه
یا بوسے سره مخونه

په مردانو ړوا نهٔ دی
مګر شیخ ملا داخهٔ دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د تعظیم د پاره ناسه تهٔ ئے کښل کړه دواړه لاسه
ابتدا کهٔ د سلام کړے یا لاس ورکړه په اکرام کړے
کهٔ جهود وی یا ترسا وی دواړه توکه ناروا وی
مے فروش چه د مے مال خوری دے دا مال کله حلال خوری
په وارث ئے هم حرام دے په درویش بنه کهٔ انعام دے
کهٔ د خوئ زر خلخال کا یا وښی مکروه په قال کا
حامله کهٔ رنگ وهینه په دا کار مکروه کوینه
چه بچه ئے وشوریږی فصد هاله باندِ رغیږی
چه نزدے شی لنگیدو ته فصد هم بد هم بدے عورتینوته
کهٔ تر سر لاندِ کتاب کا د بالښت په څائے عذاب کا
مګر ویره وی پرے باندِ نگاهداشت د کتاب کاندی
چه پاڼزار سره بدل شی یا څادر سره درغل شی
په دا کار دِ نهٔ خوښیږی کهٔ لری ئے مکروه کیږی
کهٔ څښتن ئے نهٔ مومینه ودرویش ته دِ ورکړینه
چه ویښتهٔ کلوی بنځه یا ویښتهٔ لنډ وی بنځه
دواړه توکه ناروا دی کهٔ بے عذره یا پیدا دی
د قرآن لوستل روا دی تر لوړ نوم لوستل زیبا دی
چه نوسیلی په قرآن وی یا پرے ثبت نوم د سبحان وی
کهٔ زیور کهٔ زر کهٔ نور څهٔ پکښے مهٔ ساته سپین تور څهٔ
کهٔ د خونے نه وتښتی زلزله شی بنهٔ ورغښتی
چه د علم بحث کیږی سکوت بویه چه ئے نغویږی
چه تکیه ولی طعام خوری یا مکروه خوری یا حرام خوری
څوک چه چاکره میلمه وی چه وچا ورکه کنده وی
سړی څهٔ چه سپی پیشو نه ورکړه بد دی د خوړو نه
د یوے نمړئ رخصت دے نه یات تر دا کراهیت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که آوند د سیم و زر وی
پکښے خوری د دین ضرر وی

درس بهتر تر نوافل دے
پرے به پوهه وی چه فاضل دے

تلاوت مکړه تعلیم کړه
په دا کار کار د رحیم کړه

په پینځه ځایه خبرے
مکروهات د شه ترے لرے

یو چه وخت د تلاوت وی
بل چه وخت د صحبت وی

بل چه مړۀ په جنازه ځی
بل چه څوک په آوازه ځی

بل چه وخت د استنجا وی
په خطبه کښے ناروا وی

نظر مه کړه پینځه ځایے
چه دا کار وی د بد رائے

د نمانځه په وخت کښے کړے
چپ و راست به نظر نه کړے

د هرچا کړه چه وړ شے
بد کوهر ته بدنظر شے

په عورت د چا دا پند کړه
چه برېنډ وی نظر بند کړه

بل چه بنځے تر دا حال وی
یائے کم تر تا نه مال وی

په دا دواړه نظر بد وی
چه ئے کړے، مکړه حسد وی

آوریدۀ دا پینځه څیزه
مکروهات لری عزیزه

اول لهوه باندی یاره
بل سرود وسرود وشماره

بل نوحه شیون مه واوړے
بل باطل فضول چه آورے

بل چه څوک د راز ویل کا
غوږ داری چه ورته بل کا

دا خبره له ما زده کړه
پینځه ځایه خندا مه کړه

څو په کور باندِ حاضر وی
په تابوت باندِ ناظر وی

چه حاضر په مصیبت شی
چه قادر په تلاوت شی

چه مجلس د علم وینه
یا چه ذکر د خدائے شینه

دا ویل دی د بزرګانو
نصیحت دے مومنانو

چه بے روخ سړے خاندی
خپل حرمت سره وغاندی

چه بے ځایه څوک خندا کا
لیونے بویه چه دا کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لسم باب

ذکر د کفارتونو په څو نوعه

په څو رنګه کفارت دے — چه ثابت په شریعت دے
یو د صوم بل د ظهار دے — د یمین ورسره شمار دے
بل د قتل دے اے جانه — د ایلا دے له قرآنه
چه م ویلشه دا طرحه — درته ووایم په شرحه
کفارت د یمین کوم شی — چه سوګند ترخولهٔ معلوم شی
په دے رنګه یاد سوګند دے — کفارت ئے ناخرګند دے
چه دیده دانسته لوړی — کارکړی دے بیا لو خوری
کفارت د غموس نشته — په توبه ئے خلاصیدهٔ شته
بل سوګند لغو بالهٔ شی — چه لو وخوری یا دهاله شی
چه سوګند م په دروغ وو — پریشان شی چه ناروغ وو
چه سوګند په لغو وشی — سوګند خورئے وباخښهٔ شی
کفارت چه د یمین دے — هغه دارنګ تعیین دے
هر سړے چه سوګند وکا — بیائے مات کار نور دخهٔ کا
یا دِ لس وړی ماړهٔ کا — یا دِ پټ لس په واړهٔ کا
یا غنم په دوه دوه منه — چه ئے خوار واخلی لس تنه
یا دِ یو بنده آزاد کا — نور به خلاص شی زړهٔ دښمن کا
که دانهٔ وی روژه بویه — پیوسته درے ورځے څویه
که په لس ورځے یوموړ کا — هم به کار د سوګند جوړ کا
کفارت د سوګند وشی — دروغژن خو به بالهٔ شی

فصل د ظهار د کفارت

د ظهار کفارت بل دے — پرے به پوهه وی چه عاقل دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وظهار د روژے یا ره
کار یکرنگ سره وشماره

د روژے کفارت څۀ دے
کفارت هسے د دۀ دے

ظهار چه دے درته وایم
لږ وډیر په دا دانا یم

کۀ عورتے ته ووائے
چه د مور لنډه په مائے

یائے ګیډه یا ورنو نه
یا سرین هسے ځایونه

په دا واړو مظاهر شی
کفارت وته جور زر شی

کۀ ځے خورکړی یائے مورکړی
یا عمه کړے یائے ترور کړے

یائے خوابنے یائے نیاکړے
یائے لور یائے چه دا کړے

چه سره وربانډ نۀ وی
هغه رنګ ترخولۀ واتۀ وی

تۀ په دا مظاهر کیږی
دخول مۀ کړه کۀ پوهیږے

کفارت اول ادا کړه
نزدیکی له بیځے بیا کړه

په قرآن کښے دا آیت دے
ثابت شوے کفارت دے

آزادی د بنده بنه ده
کنړه دوه میاشتے روژه ده

کۀ دا نۀ وی بیا طعام دے
په فقراء په چاشت په شام دے

فصل- کفارت د ایلاء

کفارت بیا د ایلا دے
کۀ پوهیږے ایلا دا دے

کۀ سوګند وخوری اے روره
چه به ښځۀ نۀ ملم له کوره

یا سوګند داهسے وکړی
چه دخول ورسره نۀ کړی

یا به زۀ او دا سرونه
په بالښت سره نۀ ږدونه

کۀ صحبت ورسره وکا
په څلورمیاشتے کۀ ښځه کا

کفارت پرے د سوګند دے
دغه کار د دۀ پسند دے

کۀ څلورمیاشتے شی تیرے
و نزدے نۀ شی یا چیرے

یوطلاق باندِ پریوزی
قباحت پکښے کښیونږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوولسم باب

ذکر د نکاح د استبراء

کهٔ پیدا شی پرستاره — آهوچشمه ګل رخساره
څوک ئے خپله په بها کا — یوه میاشت دِ ئے رها کا
چه پوره ئے استبراء شی — بیائے هره چار روا شی
کهٔ بنکلول وی کهٔ جماع وی — ګنړه هومره امتناع وی
چه یوځل دِ وینی وینه — بیاله حیضه پاکه شینه
هغه حیض کله شمار شینه — چه په وخت د بها ځینه
داهم عین استبراء ده — نور پرے هره چار روا ده
کهٔ د دووخو بیدوسودا کا — دواړه خپلے په بها کا
په دخول یوه رغیږی — بله کله روا کیږی
کهٔ له وینځے فرزند وشی — کهٔ مرده کهٔ زنده څهٔ شی
کهٔ خواجه ئے نهٔ پسندینه — وینځه هم آزاده شینه
نهٔ روا په فروختن ده — نهٔ روا په بخشیدن ده
کهٔ دخول ورسره کاندی — روا کیږی په دهٔ باندِ
بیائے بل میړهٔ ته ور کا — په نکاح هم دابنهٔ چر کا
کهٔ اولاد ورځنے کیږی — کار خدمت باندِ رغیږی
چه څښتن ئے په مړک یادشی — نور آزاد وینځه اولاد شی
چه آزاده شوه مملوکه — ورنزدے مهٔ شه ملوکه
کهٔ دخول کا بے نکاح — ددهٔ چار ده نامُباح
په ژوندون هم آزادیږی — کهٔ خواجه پرے رضا کیږی
چه ئے بل ته ور کوینه — چه له حیضه پاکه شینه
ورسره دِ دخول نهٔ کا — د بل زمهٔ دِ باندِ بنهٔ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ ئے بیا ورته زړۀ وشی
په طلاق به بیا دَ دۀ شی

چه عدت دَ طلاق تیرشی
بیا صحبت ئے په څۀ خیرشی

عدت درے میاشتے باندۀ دے
استبراء غوندِ دا نۀ دے

کۀ دخول کا بے عدته
خلاص به نۀ وی له شدته

مدبّره پرستاره
خلاصه مۀ کړه له کاره

کۀ دخول ورسره کیږی
روایت دے چه رغیږی

کۀ مال ورکا مکاتبه
نورئے مۀ نیسه په تبه

کۀ عاجزه شوه له ماله
بیا پرے ستاحکم دے لاله

دَ بنده غوندِ پرے کار کړه
چه دِ زړۀ پرے هره چار کړه

فصل

ذکر دَ نکاح دَ ایجاب و قبول وغیره

بنځه نر چه سره یار شی
په نکاح سره لوئے کار شی

سره یو تن شی دوه تنه
دا وینا ده مبرهنه

لکه دوه ونے پیوند شی
ترے پیدا دَ میوے خوند شی

چه حلال نکاح مهر شه
وی ترجان ترهرچه خوشه

چه نعمت ترے پیدا کیږی
چه فرزند ورځنے زیږی

فرزندان دی چه شاهان دی
اولیاء هم فرزندان دی

صد رحمت پرے شی میرمنے
چه درے راوړی په لمنے

نکاح فرض دے څما یاره
له قرآنه له احباره

کۀ څلور میرمنے کاندی
په نکاح رحمت وربانِدِ

کۀ یوه که یوه بنه وی
چه یوه ئے اندیښنه وی

په دولت به ورک پیغور کا
چه دوه درے کا یا څلور کا

کړه ولاړ ترکمر پریوت
چه د ډیرو په غم کښیوت

کۀ څوک ما پوښتی له حاله
یوه هم مۀ وے اے لاله

چه دوران دَ عالمګیر شۀ
درست جهان اخته په ویرشۀ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل باور نۀ شی په کوئیتې
خوک به څۀ کاندی نور پیتې

چې بادشاه په عقل پور وی
پریشانه تر خلق جوړ وی

کۀ بالغه حره غواړی
پینځه شرطه دی د غاړے

یو حضور د خواهنده دے
بل حضور د دهنده دے

بیا رضا د مرد اے یاره
بیا رضا د ژړن و شماره

بیا حضور د ګواهان بویه
یا یو نر دوه ښځے ځویه

کۀ څنډا وکا رضا ده
کۀ ژړا وکا رضا ده

کۀ خاموشه وی خوله پټه
هم رضا ده غټے پټے

کۀ ولی ئے حاضر نۀ وی
درست جواب د ښځے ښۀ وی

یا چه هسے څۀ څرګند کا
چې رضا غوندِ پیوند کا

کۀ د کونډے ګنډه کیږی
په ښکاره دِ ووئیږی

د کابین طلب دِ وکا
د رضا دلیل دِ ښۀ کا

په زبان د مرد رضا ده
هسے نه چه په ایما ده

کۀ د بیع په لفظ کیږی
هم ایجاب قبول رغیږی

په سرود کۀ درته وائی
چې فلان کی تۀ ځمائے

ښځه هسے چې څرګند کا
چې رضا غوندِ پیوند کا

دا لاهم ایجاب قبول دے
چې ئے نۀ منی فضول دے

د هلک حکم نور دے
د دوئ واک د پلار و مور دے

کۀ دا نۀ وی بیا نیکۀ دے
کۀ داهم نۀ وی بیا ترۀ دے

یا ئے مور بویه حاضره
چې پرے غوټه شی خبره

کۀ داهم نۀ وی اے یاره
نیا وراړۀ ولی وشماره

چې د دے ذوالارحام دی
د مور پلار قائم مقام دی

کۀ عمه وی کۀ خاله وی
چې دا کار پرے حواله وی

دَدے واړه رضا شینه
چې غم خور د جینئ وینه

کۀ یو بل مصلح ولی کا
د نکاح کار دِ جلی کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه نکاح ئے منعقد شی
بنځه نر سره نا مزد شی

نور په نور چا نهٔ رغیږی
کهٔ ئے کاندی حرامیږی

بنهٔ د شرع نکاح دا دے
چه په هر توکی روا دے

چه دا لور د فلان فلانه
په نکاح درکړه ما تانه

مرد ووائی په ژبه
چه قبوله نور د دهٔ ده

هم په داکښے کار د مهر
په ویل دِ کا په جهر

چه دا هسے نکاح وشی
غوږیدهٔ ئے په بل رنګ نهٔ شی

یا په خلع یا طلاق دے
په دا دوه توکه فراق دے

کهٔ کابین ترلس درمه
کم وی بد شی مکرمه

یاچه نه یات وی له دینارهٔ
یا ترلس درمه یاره

چه نکاح شی بے کابینه
شک و مکړه کابین شینه

کهٔ دعوٰی وکا پرے باندِ
مهرالمثل به ورکاندِ

کهٔ نکاح ورسره وکا
بے دخوله بیائے نهٔ کا

پرے مُتعه واجبه شینه
متعه درے خرچوړی وینه

یوځادر بل پیراهن دے
بل مقنع چه مبرهن دے

مُسلمانه کهٔ کافره
روانهٔ ده برابره

کهٔ جهود کهٔ ترسا کا
عیب هیڅ نشته روا کا

کتابی کهٔ کا مومنه
بده چاره ده عیب ژنه

کهٔ جهود کهٔ ترسا وی
یا کهٔ کبر څوک نساء وی

په نکاح ئے کړه عورته
بویه دا له روا یسته

چه اسلام ورته عرضه شی
هراحکام ورته عرضه شی

اول دین به دِ قبول کړه
بیادِ دے سره دخول کړه

کهٔ په خپل ملت آشنا وی
کهٔ جهوده کهٔ ترسا وی

بیاچه بنهٔ مناکحت شی
نور د دهٔ سره صحبت شی

کهٔ په کار کښے وی ابتره
په خپل دین نهٔ وی خبره

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا د اهل کتاب نهٔ ده چه د سوال وجواب نهٔ ده
په نکاح نهٔ روا کیږی که اسلام را وړی رغیږی

فصل

د محارمو چه نکاح ئے نهٔ رغیږی

چه حرامے په نکاح دی محارے نامباح دی
اول مور دویمه خور ده نیا و لور ورپسے ترور ده
بیا نمسئ ده بیا وریره ده بیا خورزهٔ هم ورسره ده
میره هم لکه مادر ده میرهنه بنکاره چر ده
خوابنے نږدورهم په داشان دی خبردار پرے مُسلمان دی
چه د هرچا وخوری پټئ څوئے د رور د هغوتهٔ ئے
نهٔ ئے لُور په تارغیږی خورئے هم نا روا کیږی
چه دخول ورسره وکړے بدکهٔ لور به ئے بیاتهٔ کړے
کهٔ ئے وکړے بے دخوله د میرے لور ده قبول
کهٔ و دے ته طلاق ورکړے لورئے وکړه همه چر کړے
کهٔ د چا سره عقد وکړے کهٔ صحبت ورسره نکړے
مورئے شوه په دا حرامه چه ژوندئ ده لا کلامه
په حلال کهٔ په حرام وی چه په چا د ولاړ تمام وی
یا بوسه په شهوت ورکړے یائے فرج و ته نظر کړے
هم ئے مورشوه لکه خوابنے لورئے لور پوهشه کهٔ واشے
ستا د څوئ هغه مور شوه پرے حرامه نور ترکور شوه
کهٔ د خور وی د عورتے کهٔ د ترور وی د عورتے
کهٔ د دے خاله وریره وی په یوه نکاح کنده وی
کهٔ طلاقه کړی عورته یا په مرګ شی لته پته
روا وی پس له عدته
له دیو هرچه کړے عورته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل

دا یه چه په پیړۍ محارمے دی

له نسبه چه حرام دی
له شیرهم هسے په نام دی

پیځۍ کهٔ کال روی یا کوټ وی
په نکاح وبله تروټ وی

د رضاع حکم مسطور دے
په دود نیم کاله منظور دے

چه ئے وړوده مادر شوه
لور د دے د دهٔ خواهر شوه

دهغے میړهٔ ئے پلار شهٔ
کار خدمت باندے بار شهٔ

چه د پیو د پسر دے
شه کهٔ شوئ د دخواهر دے

چه د پیو برابر دے
شه کهٔ شوئ د د مادر دے

په نسب کښے دی حرام
د شیر نهٔ دی بد فرجام

په قرآن کښے هسے دینه
واوړه قل للمؤمنین

یغضوا یحفظوا یاره
تهٔ ساته دواړه ابصاره

په څلور ړنګه نظر دے
پرے به پوهه وی چه خبر دے

چه نظر کړه بربنډ تن ته
مرد و مرد ته زن وزن ته

بل چه مرد بنځے ته ګوری
بل چه بنځه مرد ته ګوری

یو نظر ضروری شینه
بل نظر اختیاری وینه

ضروری نظر د چا دے
د جراح طبیب دا دے

په هرڅائے چه نظر کا نده
اجازت دے په دهٔ باندِ

کهٔ نظرئے په شهوت وی
په اختیار شی قباحت وی

په عورت د نظر نهٔ کا
په هرڅائے چه نور کا بنهٔ کا

کوز تر ناف تر زانو پاسه
دا همه عورت دے ناسه

مرد چه مرد و ته نظر کا
په شهوت ناروا چر کا

بنځه بنځے ته ګوری
په شهوت غم به پرے ووری

ضروری نظر روا دے
د طبیب کهٔ په نساء دے

کهٔ نظرئے په شهوت دے
په هرڅائے چه شی آفت دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ نظر کا څوک مور ته یا وخورته یا وترور ته
یا میرهٔ یا څوک محرمه په نکاح له مورهٔ سمه
کهٔ ویښتهٔ کهٔ ئے باهو وی کهٔ ګردن وی کهٔ ئے رُوی
نور کاتهٔ بده بلا وی دا یوځایه روا دی
په شهوت کهٔ نظر کاندِ بدګمان وی په ځان باندِ
سکه مور ته دِ نهٔ ګوری چه ئے زهٔ وته وشوری
نور دَ دهٔ معشوقه کیږی په پدرئے نهٔ رغیږی
کهٔ نظر په میرهٔ کاندِ په شهوت لعنت پرے باندِ
میرهٔ نهٔ شوه ناروا شوه دَ پدرد َ دهٔ بلا شوه
نهٔ په دهٔ باندِ رغیږی نور په پلار نهٔ رواکیږی
کهٔ نظر په وینځه وینه چه په بیع شرا شینه
چه محرم ته نظر وکړے داهم هسے کهٔ باور کړے
مخ مروند ویښتهٔ ئے ګوره ساق سینه په شهوت روره
اول ښه وکړه نندارهٔ بیا سودا کا آشکاره
کهٔ مرئیے دے یا خادم دے بیکانه دے نامحرم دے
په خاتون کهٔ نظر کاندِ دے دِ لاډ یرحذر کاندِ
کهٔ میرهٔ نظر په زن کا سرتر پایه بربنډ تن کا
واړه ښهٔ چه روا کار کا هسے نهٔ چه سړے خوار کا
کهٔ وفرج وته ئے کسی کهٔ په ګوتو کښے ئے ونیسی
داهمه واړه روا دے کهٔ دوه تنه خوش په دادے
کهٔ دَ ښځے شرم شینه بویه داچه دانهٔ وینه
په هر رنګ چه نهٔ شرمیږی هسے رنګے زیست دِ کیږی
بیکانه عورته څوا نه نامحرمه ده اے جانه
لاس ئے مهٔ نیسه په لاس کښے ځنے اوسه په هراس کښے
کهٔ زهٔ دَ مور په ځائے وی لاس نیول ئے نور په ځائے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ ئے ړک وهی جحام دے
په بل ځائے نظر حرام دے

مګر هومره قمیص بڼه کا
د ړک ځائے برهنه که

هم په لچ کۀ ړک نمائے وی
ضروری نظر په ځائے وی

ړک ښځه نۀ دے د زنانو
ښے ژوړے دی یارانو

کۀ ژوړے نۀ کوینه
عورتینے د سره وینه

یارکۀ یارکړه وردرومی
بیا هاله کۀ رخصت مومی

بے رخصته کۀ قدم بډی
یارئے یارکړه ماسم بډی

نابینا کۀ ورتلۀ کاندِ
نشته عیب په دۀ باندِ

عورتینه دِ سترګے ژغوری
نابینا ته دِ نۀ ګوری

فصل- ذکر د طلاق

روایت په اتفاق دے
په څلور رنګه طلاق دے

یوسنت دے بل بدعت دے
بل بائن په شریعت دے

بل رجعی دے وُئے نغوړه
پُښبه وکاږه له غوښه

په دا باب قرآن ګویا دے
څلور رنګه طلاق دا دے

چه سنت دے ځما جانه
تۀ ئے ونغوړه له مانه

کۀ دِ بنځه شوه بد ژواکه
چه بنه شی له حیضه پاکه

نزدیکی ورسره مۀ کړه
یو طلاق ورکړه دازده کړه

چه عدت ورباندِ تیرکړه
بل طلاق به هله ویر کړه

چه دویم حیض پرے تیرشی
په دویم طلاق به ویرشی

چه دویم طلاق هم ویر کړ
بیا به بل حیض پرے تیر کړ

نور په درے طلاق ولاړه
نامحرمه شوه مردارہ

کۀ دِ زړۀ ورته بیا وشی
بویه داچه په میړۀ شی

کۀ هغه ئے کا طلاقه
نور دِ بیا شی ورته حاقه

بیا پرے نوے نکاح وکړه
چه پوهیږے هسے تۀ کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حلاله داکار بالهٔ شی
چه عدت تیر کا هاله شی

کهٔ عورته حامله وی
حکم دادے کهٔ دِ زده وی

چه فارغه شی له باره
داعدت سره وشمـــاره

دَ بدعت طلاق دا شینه
چه په حیض ئے ورکوینه

یا چه درے طلاقه ورکا
یوځل داهم بده چر کا

دَ بائن طلاق پوهیږے
خبردار شه کهٔ خبریږے

چه طلاق سړکند ورنکړے
کارپه رمزکنایت تهٔ کړے

چه مِ لاس په تا پرانستے
نهٔ ئے نور راسره نشتے

یا ځما په ملک کښے نهٔ ئے
یا دَ مور وَ د پلار ته ئے

مامور پلار وته بخښلے
یا نورګرځه مخ پوشلے

یا مِ ته آزاده کړے
بیګانه مِ ئے نومورے

یا نکاح موسره نشته
یا مُباح مو سره نشته

یا مِ ته عورته نهٔ ئے
یا پردئ دَخپل زهٔ ئے

کهٔ داهسے څهٔ سړکند کا
چه په زهٔ کښے طلاق بند کا

چه بائن طلاق وی دا وی
دوه کهٔ نیت که یوادا وی

کهٔ په نیت کښے درے لرینه
واړه درے طـلاقـه شینه

کهٔ ته ووائے اے عامه
چه په مائے ته حرامه

یا نور زهٔ حرام په تا یم
په داځهٔ شی درته وایم

کهٔ دِ نیت دَ طلاق وینه
شک ومهٔ کړه طلاق شینه

کهٔ ته وائے مادروغ وے
طلاق نشی دا تا روغ وے

کهٔ په زهٔ دِ طلاق وینه
یوبائن طلاق دا شینه

داطلاق بائن طلاق دے
دخول بویه کهٔ مشتاق دے

یا دِ لُمس ورسره وکا
په بوسه دِ ئے زهٔ بنهٔ کا

کهٔ حلال دَخدائے ووائی
چه په ماحرام ونمائی

داهم هسے رنګه کاردے
ستا په نیت سره مدار دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ نکاح میرهٔ ته پریږدی
یا پُل زر وربانډ کیږدی

کهٔ په دانے کا طلاقه
بائن شی له اتفاقه

بائن یو طلاق کهٔ دوه وی
په عدت عورتینه وی

کهٔ عدت وربانډ تیر شی
تر عدته پیرلا تیر شی

د بائن نکاح مباح دے
کهٔ ئے کا نوے نکاح دے

حلاله د بائن نشته!
مسئله ده بے کاهشته

چه بائن طلاق صادر شی
په دا کار دِ مرد حاضر شی

ژکه مور د خُما دله
بَیوه کالنے د خپله

چه په یو طلاق واقع شی
نوردِ دے خُنے دافع شی

کهٔ ئے بیا شوه چرے یاده
حلاله ده له اُستاده

بل طلاق رجعی دے یاره
تر بائن سپکے وشماره

کهٔ تهٔ ووائے ناچاقه
خپلے ژکے ته طلاقه

یادِ لفظ تر خولے بدر کړو
چه م تا ته طلاق درکړو

کهٔ دا هسے خهٔ ظاهر کړی
یو رجعی طلاق ظاهر کړی

کهٔ دِ درے طلاقه دینه
په زړهٔ هم یو طلاق شینه

چه عدت باندِ تیرنهٔ وی
رجعت وکړه رجعت بنهٔ وی

یا دخول ورسره وکړه
په خبره ئے زړهٔ بنهٔ کړه

وایه تهٔ م ئے عورته
یائے کښل کړه له بنهٔ نیته

یاکنار ورسره وکړه
یا درست کار ورسره وکړه

یائے تن ته نظر بویه
رجعت دادے خُما خُویه

کهٔ عدت پرے گذاران شی
بویه کار دِ په داشان شی

نوے عقد نوے کابین دے
کار دا هسے شان یقین دے

اونساء وی په عدت کښے
نشته شک په روایت کښے

نفقه دِ ورکوینه
په بنهٔ خائے دِ ئے ساتینه

رنګ وبوئ جامے رنګینے
کهٔ ګ... ګینے کهٔ ریښمینے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آرائش د ځان څورنګ
زیب زینت په څو آهنګ

په عدت کښے کهٔ ئے کاندِ
نشته دا په ښځه باندِ

ځان دِ خوار حیران ساتینه
چه ونهٔ شی ورته مینه

په رجعی طلاق کښے بویه
چه جدا نهٔ ده له شویه

آرائش دِ ورته کاندِ
ګندِ باندِ شی پرے باندِ

په رجعت کښے رجعت وی
د ګواهانو څهٔ حاجت وی

د هلک طلاق هیڅ نهٔ دے
کهٔ ئے ورکاندِ هم څهٔ دے

لیونے هم په داشان دے
چه طلاق ئے بے نقصان دے

کهٔ د خمر مست مخمور دے
د هغهٔ طلاق منظور دے

فصل- ذکر د طلاق د نکاح

د رسولؐ د خولے حدیث دے
دهٔ یاد کړے داتثلیث دے

کهٔ نکاح دے کهٔ طلاق دے
دوه شول دا دریم عتاق دے

په ربښتیا کهٔ په دروغ وی
کهٔ په هزل وی هم روغ وی

کهٔ بنده وته ووائے
چه تهٔ یار خدائی ځمائے

کهٔ ئے څوئے یائے رورکړے
کهٔ بنده ئے ګنړی زورکړے

کهٔ د چا مریونه سل وی
یا لږه یردائے وئیل وی

چه آزادِم بنده واړه
نور د دواړو خلاصه غاړه

مکاتب پکښے خلاص نهٔ وی
نور کل خلاص شی څو د دهٔ وی

کهٔ وینځے ته ووائی
چه میرمن مِ په ربښتیائے

کهٔ دروغه دا وینا وی
آزادی ئے په ربښتیا وی

کهٔ ئے خورکا یائے لور کا
بندګی دِ دور کا

کهٔ مور وینځه پلار آزاد وی
کهٔ ئے پلار په بندګی یاد وی

کهٔ هلک فرزند پیدا کا
څوک دِ وینځه ناروا کا

کهٔ ئے پلورے یوځائے بویه
چه بهائے شی اے څویه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل- د طلاق د حلالے

چه پردئ په طلاق شی
سړے بیا د دے مشتاق شی

چه په درے حیضه صفاشی
بیا نکاح باندِ روا شی

کهٔ زړه وی نا بالغه
حکم دا لری دا لغه

کهٔ درے میاشتے شی پرے تیرے
د نکاح شی بنے لا پیرے

کهٔ په ذات وی پرستاره
د دے دوه حیضه وشماره

کهٔ هلک وی یا پسره
وینځه اے روشن ضمیره

یو نیم حیض د عدت دے
چه پرے تیرشی نور رخصت دے

کهٔ میړهٔ نه پاتو کنډه
زړه ځوانه پیغله غونډه

په روزګار کښے زړه ځوانه
یا تنکئ جینئ نادانه

څلور میاشتے ئے عدت دے
لس ایام پرے زیادت دے

کهٔ عورته حامله وی
کونډه یا مطلقه وی

په عدت اُمُّ الولده
په دے حیضه ده نامزده

کهٔ آزاده په شیوه شی
له خواجه نه کهٔ بیوه شی

کهٔ درے حیضه په ځان تیرکه
نورئے زړهٔ کهٔ ځوان کهٔ زور کا

کهٔ په حیض کښے طلاق ورکا
تر عدت دِئے بدر کا

کهٔ چنغول لیدلی نهٔ وی
د چا هسے چنغله وی

کهٔ طلاقه ئے کا ځویه
د هغے عدت هم بویه

نیم کا بین ئے هم رسیږی
پرے دِ هر څوک وپوهیږی

فصل- لقطه چه څوک بیا مومی

کهٔ سړے په لارے درومی
ناکهانه چه بیا مومی

دوه سړی دِ شاهدان کا
د زړهٔ حال دِ ورعیان کا

چه داخیز څکه ساتم
چه څښتن ته ئے ورکړم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

قیمت چه د هغه مال وی
هم د درست څرګند احوال وی

مال د وساتی درے کاله
کهٔ ئے څوک پیدا شی لا له

مال د ورکا وهغهٔ ته
هرچه ورکاندِ ودهٔ ته

کهٔ هیڅوک ئے پیدا نهٔ شی
په درے کاله نور د دهٔ شی

کهٔ مال درست واړه په ځاخوری
کهٔ ئے درست په درویشانو خوری

دے کهٔ وی له توانګرانو
به کهٔ ئے خوری په ناتوانو

مال کهٔ دیر ترسل درم وی
ترهزار درمه کم وی

پوره کال دِ ئے ساتینه
هغه پس دِ ئے خورینه

کهٔ ترلس درم تا صد وی
ترهفته ساتل په ید وی

کهٔ ګواهان نیولی نهٔ وی
درست تاوان د مال په دهٔ وی

کهٔ لقطه هسے ناچیز وی
چه ساتل ئے سهل نیز وی

په فقراء دِ ئے قسمت کا
خان دِ خلاص په روایت کا

فصل - ذکر د بیع و شراء

پوهه د شرع په هرکار شه
چه سودا کړے خبردار شه

ورته وایه چه څهٔ پیری
په څرګند وایه چه جیری

چه داخیز پیرم له تا نه
په سل رائے کړه و مانه

چه د مال څښتن ووائی
چه درکړی دا نهٔ بنائی

مشتری دِ هم ووائی
چه ما و پیرود دا بنائی

مګر دواړه وُخوښیږی
نور د بیع نهٔ غوږیږی

کهٔ په لاړه څی دوه تنه
مسئله ده مبرهنه

بیعه نهٔ کیږی په لارے
په دا وپوهیږے بارے

مشتری کهٔ ووئینه
چه ما و پیرود په سپینه

بیا څښتن د مال ووائی
چه خرڅ کړی بها بنائی

کهٔ څوک هسے ووائینه
چه لنده لرم مهینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ما په تا ده خرڅه کړی
بها هم وی د نومړی

مشتری که نور وئیل کا
پس له دے رنګ جامائل کا

پیرودنے وائینه
زده کړه دا بهانه شینه

ولے درنګ په مینځ کښے تیرشۍ
لفظ د بیع تیروبیر شۍ

فصل. د حلال د حرام د بیع

یوه بیعه ده حلاله
پاکیزه د خپله ماله

که ډیر سود پکښے پیدا شی
په فرمان د خدائے روا شی

څوچه سود د ربا وینه
هغه واړه حرام شینه

چه په ټله څۍ تلل شی
یا په اوږی پیمائل شی

په دا دوه توکه کښے شینه
ربا نور چرته نۍ وینه

پس علت د ربا دله
یا په کیل وی یا په ټله

په یوجنس وی دوه خیزونه
که کیلی کا که وزنونه

راس په راس چه برابروی
خرڅول د دوئ بهتر وی

که تفسیرے له ما غواړے
وایم واوره که پرے ویاړے

د کوږوی غنم اوربشے
دوه کړوی که پوهتۍ شے

دستا دستے که څوک پلوری
کارے روغ دے چه نے کوری

په نسیا نۍ روا کیږی
مومنان د و پوهیږی

په دا شان یومن شکرے
په سودا دوه منه کړے

دست په دست سودا رادہ
په نسیا ناروا بیا ده

چه په کیل په تول څۍ وینه
واړه کار دا هسے شینه

که یومن غنم څوک ورکا
بیا یومن واخلی بهتر کا

که یو سیر پرے زیات اخلی
دا ربا کیږی بد زغلی

که غنم په اوړه د پلوری
دا ربا کیږی بد شوری

که په پور نغن ورکوینه
هم ربا غوندے دا شینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ دُنیا رورکا وه چا نه ځهٔ چه زیات راکړه ومانه
سوائی کیږی بد کار دے چه ئے خورینه حرام خواردے
کهٔ څوک سیم په زر بدل کا لاس په لاس ورکا اول کا
کهٔ نسیه ئے سودا کیږی په بها سره غوریږی

فصل- دَ ګواهی دَ شاهدی

قضیه چه چرته کیږی څوک ګواهان پرے ودریږی
کهٔ قاضی په عدل کار کا نهٔ دِ عیب نهٔ دِ دوئ عار کا
په ربښتیا دِ ګواهی وُلی وثواب وته دِ نړ غلی
کهٔ قاضی کار په رشوت کا په څرکنده قباحت کا
شاهدان دِ ګواهی نهٔ لی قباحت دے کهٔ ئے وُلی
چه عادل قاضی پیدا شی بیا دِ هاله پکار دا شی
چه ګواهی په دروغ لینه پاک رسولؐ وئیلی دینه
په قیامت چه ژوندے شینه دَ دهٔ ش به به نهٔ وینه

فصل- ذکر دَ ایمان دَ شپږ وحصارونو

چه بزرګانو دی وئیلی هغه واړه ما منلی
دا وئیل دی دَ بزرګانو تاسے واورئ اے یارانو
ایمان چه دے لکه شهر شپږ حصاره لری جهر
دوه دَ سرو دَ سپینو زرو بل حدید بل دَ مرمرو
بل دَ خښتو بل دَ ګل دے پرے به پوهه وی چه عاقل دے
چه ئے کوټ دَ ګل محکم وی کوټ دَ خښتو مسلم وی
کهٔ دَ خښتو کوټ ویران شی وبل کوټ وته نقصان شی
په هر کوټ چه رخنه شینه خلل بل لره ورځینه
په شپږم باندِ چه ورشی خلل درست شهر اوتر شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ایمان هم په هسے شان دے
پرے به پوهوی چه پردان دے

اول کوټ د تایقین دے
سراسر واړه د دین دے

بیا اخلاص دے بیا فرضونه
بیا واجب بیا سنتونه

بیا په دا پسے آداب دی
شپږ پوره په داحساب دی

په آداب چه څوک محکم وی
د سنت به ئے څۀ غم وی

کۀ شیطان په سنت څیرشی
ستا واجب خلل پذیر شی

په واجب کۀ خلل کړ کا
فریضه به بیا کړود کا

فریضه چه خلل مومی
غم اخلاص لره وردرومی

د اخلاص په رخنه کرشی
په یقین با ندِ به ورشی

په یقین پسے ایمان دے
خدائے د هرچا نگهبان دے

فصل- ادب د طعام د خوراک

په طعام کښے څلور څیزه
فریضه دی اے عزیزه

بیا څلور پکښے سنت دی
آداب هم څلور شهرت دی

دوه څیزونه دارو دینه
دوه مکروه پکښے شمارینه

فریضه څلور څیزونه
په طعام کښے داچه شونه

چه روزی له خدایه شماره
تل حلال خوره بزرګواره

چه توانیږے قناعت کړه
چه قوت لرے طاعت کړه

په طعام کښے سنت دا دی
چه څلور درته پیدا دی

تسمیه اول وو ایه
بیاله پسه لقمه بنا یه

چه فارغ شی له طعامه
بیا الحمد وو ایه عامه

کۀ بسم الله نه وائی
نۀ الحمد لله نمائی

چه څۀ خوری واړه کنده خوری
یا حرام یا افکنده خوری

بیا اول آخر اے عامه
د لاس وُله پس له طعامه

بیا په کیږ نشستن دے
ښۀ پښه برا فراختن دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ادب دادے څما جا نه
نمړئ کمه خوره له خوا نه

په خپل لوری خواړه اخله
مهٔ وبل لوری نه اخله

نمړئ ښه سره وژویه
بیائے ونغړه اے څویه

بل نمړئ د چا مهٔ کوره
داځلور آدا به ژغور ه

چه د خوان څوزی خورینه
یا کاسه طباخ څټینه

چه دارو دی هغه دا دی
په هرچا باندِ روا دی

چه طعام څوک بویوینه
یا نمړئ پو کوینه

یاچه کرم طعام خورینه
دا څو توکه مکروه دینه

ابتداء په نمک یاړه
انتها په نمک یاړه

دا داړو سره وشماړه
فوائد لری دلداړه

د صبا طعام اے څویه
په تلوار خوړلے بویه

درے فائدے دی پکښے یادے
لاتر درے نه هم زیادے

یوصفراء له دله وړینه
بد بوئ د خولے نهٔ وینه

مروّت د سړی ډیر کا
نغن د نورو خوراک هیر کا

چه د بل په خوراک شوری
هغه خپل مروّت پلوری

چه د چا په دعوت ورشی
چرے نه چه لکه خرشی

ترهرچا د وړاندِ مټ کا
درست بل برسره چټ پټ کا

چه اسراف کا هغه ردے
اسراف لاتر بخله بد دے

وبزرکانو وته کوره
چه دوئ څهٔ کاهسے شوره

چه څوک لاس پهطعام کیږدی
یا نور نهٔ خوری طعام پریږدی

په هرڅهٔ موافقت کړه
زړهٔ پس شه مهٔ سبقت کړه

یک خوره کهٔ سړے خورینه
رنځ علت به ئے نور څینه

فصل - ادب د اوبو د څښلو

ادب دادے چه اوبهٔ څښے
په درے دمه به ئے تهٔ څښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے نوش په یوه دم دے
هغه اوبس دے نهٔ آدم دے

بسم الله اول ووایه
دَ اوبو په څښه خوش رایه

کهٔ دِ پوهه په لار ولاړ ے
اوبهٔ مهٔ څښه په ولاړ ے

څوک چه کښینی اوبهٔ څښینه
رنځ زحمت به نهٔ ورځینه

بیا الحمد لله ژده کړه
په اوبو سینه سره کړه

بښے سړے اوبهٔ په اُوړی
پسے ژهٔ یم بوړی بوړی

دا نعمت کهٔ سړے مومی
چه یخ آب په اُوړی شومی

په هرکوټ چه سپاس نهٔ کا
ناسپاس دے کله بښهٔ کا

کهٔ دَ ماتے کوزے ماء خوری
سراسر واړه بلا خوری

چه په مات لوښی کښے څښینه
بد کهٔ څښینه یا کهٔ خورینه

فصل دَ خلال

چه خوارهٔ وخورے پسره
بیا خلال ترغاښو وروړه

چه خلال سړے کوینه
فائده ډیره سره شینه

یا دَ ولے خلال خوب دے
یا دَ توت خلال مرغوب دے

چه خلال دَ هرد رخت کا
خود بخود رخنه دِ بخت کا

چه په ژبه ئے راوُزی
بښهٔ کهٔ نفس وته پریوزی

په خلال چه جدا کیږی
په خوراک نهٔ روا کیږی

توکول هم هسے بویه
چه ئے نهٔ وینی څوک څویه

چه خلال وکا دَ وړاندِ
بیا زولنه دَ لاس کاندِ

آفتابه چه راکښیباسی
پښے لاس دِ ئے جاړباسی

اول حق دے دَ پیرانو
بیا دے حق دَ عالمانو

په لاس وله هرځهٔ چه کاندِ
کارد دوئ بویهٔ وړاندِ

فصل۔ دَ مهمان دَ ادبونو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مهمانی کول سنت دی
ضیافت چه د کریم دے
چه اول ئے میلمه سیرکړ
چه اولاد د ابراهیمؑ وی
په اولاد کښے ئے هاشم وو
میلمنو و ته ډوډئ
هشم چه دے په لغت کښے
پیغمبرؐ بنی هاشم دے
څوک چه کا ضیافتونه
اول دا ادب پرے شینه
بل څو توان دډئ رسیږی
بل چه نهونځ ئے ناوخت نشی
په میلمه دی څلورخیزه
هغه ځائے دِ دے کښینینه
نورچه څئ ورلره ړا شی
بل چه اذن باندِ وشی
بیاچه څئ د چا له کوره
په میزبان دی درے شرطونه
تکلّف دِ هومره نهٔ کا
چه په کور کښے څئ لرینه
ضیافت هم ناروا دے
پټ ئے مهٔ کړه له مهمانه
چه میلمه ته خواړه کیږدی
چه عیال د چا محروم شی
ومیلمه ته چه ولاړ وی

د مرد کار بنهٔ ضیافت دے
دا سنت د ابراهیمؑ دے
دهٔ په نغنوئ میلمه تیر کړ
ترقیامته به کریم وی
د میلمه په کار قائم وو
ماتوله ده په پئ
ماتول د نغن په ست کښے
په انام ئے فخر هم دے
باندِ وی درے ادبونه
چه حلال دِ پخوینه
پخول دِ هومره کیږی
مقیّد دِ په نمانځه شی
ادب اے ځما عزیزه
چه میزبان ئے کښینوینه
په هغهٔ دِ اکتفا شی
بیا دِ چا کره ورتلهٔ شی
بنهٔ دُعا دِ وکا ړوره
څوک چه ورئے شی په خونه
چه یا پور یا د یرخواړهٔ کا
په مقدار دِ ئے پخوینه
کهٔ میلمه وته په غلا دے
چه په کور کښے لرے جانه
وعیال ته دِ هم پریږدی
هم بیداد دے هم په شوم شی
په خدمت دِ ئے جوړجاړ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ میلمه ئے یو یا دوه وی
په خوراک دِ ورسره وی

نهٔ دِ قهر کا پسر ته
نهٔ دِ قهر که دختر ته

کهٔ بنده کهٔ خدمتکار وی
چه داخل په کاروبار وی

په هیڅا دِ غصه نهٔ کا
چه ملول د میلمه زړهٔ کا

د خوږو پخلے آسان دے
راضی توب د میلمه کران دے

چه په څهٔ ئے زړهٔ رغیږی
هم هغسے کار دِ کیږی

چه په کور کښے څهٔ حاضر وی
ماخضر راوړل دِ زړه وی

بیا پخلے د خوږو بو یه
چه په وخت ئے وکړ ځویه

ومیلمه وته کم بخت وی
چه خواړهٔ د چا ناوخت وی

یوځل دوه ځله ووایه
دیر خوره خوره ورته مهٔ وایه

په میلمه چه الحاح کیږی
د خښت نخښه بنکاریږی

میلمانهٔ لره هم بو یه
ادب دا دے ځما ځویه

چه وهر چرته نهٔ کوری
چه خوږل کاندِ وشوری

په خپل لور طعام دِ خورینه
لاس دِ کوژ نهٔ اچوینه

کهٔ اوبهٔ کهٔ مالګه غواړی
په نور غوښته به نهٔ ویاړی

کهٔ غوښتل کا میلمه نهٔ دے
تاراجی یا نور نوځهٔ دی

کهٔ ځهٔ بل منګ یا چه شوخوری
یا اوګړه د چا د کورخوری

په خوشی ئے خوره مهمانه
آزار مهٔ شه له میزبانه

فصل د مهمانی د ثواب

حکم دا د شریعت دے
چه درے ورځے ضیافت دے

که چه دِ یر پاتو میلمه شی
چه خوری واړه صدقه شی

میلمانهٔ دوه رنګه وینه
پرے دِ پوهه و پوهیږ ینه

یو خوانده بل ناخوانده وی
چه په خوان ئے نشانده وی

ناخوانده میلمه د خدائے وی
چه خوانده وی ستا برائے وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دَخپل میلمه عزت کړے
دَخدائے به لاحرمت کړے

په هرکورچه ورځ شینه
سړے خپل قسمت کهٔ خورینه

دَکالهٔ څښتن نیکنام کا
په لقمه چهٔ خوږ کام کا

تردا بله بِه به کوم وی
نیکنامی ئے ورمعلوم وی

راشه واوره له ثوا به
روایت له بو ترا به

هرسړے چه میلمه دوست وی
چه دَدهٔ په هډ وپوست وی

په امان بویه له نارهٔ
کهٔ گناه لری بے شماره

گورستان به ئے جنت وی
چه ژوندون ئے په قیامت وی

چه له گوره نه پاسینه
دَدهٔ مخ به روشن وینه

روښنائی به ئے ترماه
دَمخ پیر به وی آگاه

جنتی براق به راشی
چه دَدهٔ صفت په چاشی

دَجنتی سرو پایو نه
دَجنت کښلی تاجونه

تاج په سر حلّی اخستے
دَبراق واګے اخستے

وجنت ته به روان شی
په څورنګ به داشان شی

اویا زره روستو وړاندِ
فرشتے به جلب کاندِ

په داشان به دَدهٔ تلل شی
په جنت کښے به داخل شی

په محشر کښے به غوغا شی
داویل به دَهرچا شی

چه ئے هسے کروفر دے
مګر دا یو پیغمبرؐ دے

فرښتے به جواب ورکا
په دا رنګ به ئے خبر کا

چه دا مرد پیغمبرؐ نهٔ دے
میلمه دوست ووځکه بنهٔ دے

په دُنیائے چه بخښلی
اوس دانه دانه اخلی

نن ئے کار په کرامت دے
پرے بنائی ځائے جنت دے

چه دَچا کره ورځینه
میلمه واوره هسے وینه

چه آوازئے دَپښو آوری
یا نظرئے په دیدار وی

دَکالهٔ څښتن پرے خوش شی
نور حرام په دهٔ آتش شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په میلمه چه څوک خوښیږی
هومره نور باندِ وریږی

چه میلمه ته بښهٔ نظر کا
هومره بخره به خدائے ور کا

څوئے شاد وی په وزتلنه
هومره غم به څئ له دهٔ نه

څو دَدهٔ په خدمت شوری
برکت به باندِ وُورې

څو دَدهٔ کړه چه خورینه
ګناهونه به ترے څینه

څو دَدهٔ په دیدار شاد وی
په نیکئ به دَ خدائے یاد وی

چه میلمه سره لاس نیسی
په خنداشی ورته کسی

چه کنار ورسره کا نندِ
خورمی شی په دهٔ باندِ

کهٔ ګناه ئے ترشمار تیر دے
پاک شی دے کهٔ هرخومره پیر دے

چه میلمه له تا نه څینه
ورسره وکړه تهٔ مینه

ورسره څه اُوهٔ کامه
مسئله ده له کلامه

په هرکام چه مقرر شی
باندِ بندَ دوزخ ورشی

خو چه دیر کیږی کامونه
دیر به دیر مومی کامونه

دَ خلد ورونه به پرے واشی
په اُوهٔ کامه سود داشی

پیغمبرؐ دی فرمائیلی
په میلمه چه وی بناغلی

په جنت کښے به تحقیق وی
بیا به ماسره رفیق وی

چه خالی وی له مهمانه
اُوهٔ ورځ کوراے جانه

له فرشتونه به خالی وی
پکښے څائے دیوا وپری وی

فصل - آداب له کوره واتهٔ په چرته تلهٔ

چه له کوره نه واتهٔ کړے
بنئ پښه به بیرون تهٔ کړے

لکه بنئ پښه وُباسی
هم به بنئ ننه باسی

په واتهٔ کښے ستړے ژغورہ
یو سر بل سرته مهٔ کوره

چه څوک ووینی اے عامه
پرے نے مهٔ ږده بے سلامه

په خوشئ بښهٔ وُموسیږه
لاس نے ونیسه تیر پیږه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کنارہ ورځنے تہ څہ
کہ پہ مخہ درشی ښځہ
مہ نظر ورتہ کشا یہ
مَہ وَ دے وَتہ څہ وایہ
دا بہ خودلہ مزدہ دور وی
کہ دَ ښځے څہ شعور وی
دا بہ نہ ګوری خپل پلار تہ
پہ ګوشہ بہ کښینی بیا رتہ
دَ دے تلہ بہ بیا ھالہ وی
چہ مردان پہ لارے نہ وی
پرے دِ ھر څوک وپوھیږی
لعنت څوځایہ وریږی
پہ شھوت ورتہ وشوری
یوچہ مرد ښځے تہ ګوری
ښځہ بے حجا بہ تلہ کا
بل چہ مرد وتہ کاتہ کا
ناست دَ ښځو سرہ نہ کا
عاقلان سړی کہ ښہ کا
چہ بازی کا لہ باغکو
نہ دِ ناست کہ لہ کود کو
نہ ناستے لہ فاسقانو
نہ ناستے لہ لونډانو
نہ یارئ لہ بے باکو
نہ ناستے لہ حرص ناکو
ډیرے شندے بہ پرے شینہ
چہ لہ دیو فرقو کښینینہ
چہ مشھور پہ زمانہ دے
دا مثل دَ فرزانہ دے
کہ بد نہ کا بد بہ یوسی
چہ دَ بدو سرہ وُسی
لہ پاکانو پرھیزکار و
ناستے ښہ دے لہ ھوښیارو
تاوښے لارے تہ بیائی
چہ څہ پند وتاتہ وائی
کہ قضائے کړے ارمان دے
دَ ھغہ صحبت درمان دے
ښہ صحبت بہ بیا رانشی
دَ نمانځہ قضا بہ وُشی
دَ مښک بوئی دروی لہ پُشکو
پُشک کہ ګډ کا څوک پہ مښکو
مِس دِ زرکا بے نظیر دے
دَ دانا صحبت اکسیر دے
مِس دِ زرکا بے ھمتا دے
دَ دانا صحبت کیمیا دے

فصل - آداب دَ نماستی

پہ نماستی کښے دا ادب دے
ترک ئے مہ کړہ مستحب دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بے اودسه نماستے مکړه
په اودس سمله اِزده کړه

کهٔ نماستے دِ په آبدست وی
کهٔ شیطان دِ په قسمت وی

فرشتے به په هر لوری
درته کښینی تا به څرغوری

درسته شپه به تر بامداده
آمرزش غواړی سا سهاده

همیشه په اودس وُسه
ډیر ثواب ورسره یو سه

په اودس چه مومن مړشی
په حدیث شهید نومړشی

په اودس چه مومن خواب کا
دَ دهٔ ځان پورته شتاب کا

دَ آسمان دپاسه کرځی
په سجود پریوُزی غورزی

خواب مکروه دے په درے وخته
تهٔ ئے یاد لره نیک بخته

یوصبا بل پس له ظهره
قیلوله ده تر منځ ظهره

بل چه نهونځ دَمابنام وکړی
تر خفتنه به خوب نهٔ کړی

قیلوله دَ ورځے خوب دے
نیمه ورځ فراغت توب دے

قیلوله ده مستحبه
په جواز ده لا عجبه

خوب په دے رنگه یادیږی
چه درے ورځے نماستی کیږی

خوب دَ خلق چه قیلوله دے
وهرچاته ستوده دے

خوب دَ خلق چه دَ صباوی
دیوانه لره سزا وی

خوب دَ حمق دَ آخر ورځ دے
واحمق دے دَ بدسوز دے

فصل - جواب دَ ونړی دَ عطسی

دَ عطسی جواب واجب دے
په هغهٔ چه مصاحب دے

چه سپاس باندِ ووائی
چے وار وی جواب بنائی

کهٔ عطسه دَ زکامی وی
کهٔ جواب ئے کړه خامی وی

دَ یوهٔ جواب کافی دے
نور مجلس په معانی دے

پیش دستی په عطسه یاره
دواړه و سره وُشماره

درد دَ کوش کهٔ دَ دندان وی
درد دل لره درمان وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل

ادب د سلام

په آیت په حدیث یاره — سلام فرض په ځان وشماره
چه سلام وکا د تا ته — راشه غوږ باسه د ما ته
د سلام جواب ښه ورکړه — لا تردۀ ئے ته ښه ورکړه
تر رحمت که د اثبات کړی — پوهے اوژد تر برکات کړی
سور که پلی ته سلام کا — حبّذا کار د اسلام کا
که سلام کا استاده ته — رَوِنده ښه نشسته ته
ډیر و لږ و ته سلام کا — ځان دِ شاد په دا اکرام کا
چه خپل کور لره ور درومے — په سلام به ثواب مومے
ښځی پښه کښیږ ده د وړاندِ — که څوک نه وی په تا باندِ
هم سلام دے چه ووایه — برکت غواړه له خدایه
که مسجد خالی له چا وی — هم لازم سلام په تا وی
که ډیر ناست وی یو پرے وژنی — هم سلام ورباندِ زبر شی
په سلام ئے معافی وی — یو جواب ورکا کافی وی
د دانا د ژبے پند دے — تر شکروئے ښه خوند دے
څوک چه ناست وی سلام وله — ورسره کښینه اے دله
که د بنسو خبرے کاندِ — برکت ووری پرے باندِ
په صحبت ئے بهره مند شه — په خبروئے خورسند شه
که د شر کاندِ خبرے — څنے پاسه زر شه لرے
په اُوه څایه اے یاره — ته سلام مکروهه شماره
یوچه لوستل د قرآن کا — چه قامت کا یا آذان کا
په نمانځه چه څوک ولاړ وی — د خطبے په فکر ولاړ وی
یا په کار د استنجا وی — یا طعام خوری په غوغا وی
لیونی ته سلام مکړه — مست د میوه هلک زده کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه له دے نه بیکانه وی
کهٔ په عقل فرزانه ړی
و هغو ته سلام بد دے
لا په تیره چه مرتد دے
دَ سلام جواب ئے نیک دے
هم دا هومره یوعلیک دے

فصل
وجوب دَ کسب

هم واجب دے هم مباح دے
کسب کله ناصلاح دے
چه حلال کسب څوک کا ندِ
صد رحمت په هغو باندِ
چه له خپله کسبه نهٔ خوری
کهٔ ولی دے کله بنهٔ خوری
دَ ضرور په وخت واجب دے
کسب بویه چه دستوب دے
چه عیال ئے بے نوا شی
په وبال به مبتلا شی
څهٔ په کسب چه حاصل کا
خپل عیال واړه خوشدل کا
دا تالاش ئے کا خبر دے
له جهاده برابر دے
په حلال کسب چه کړځی
بشکته پورته سره غورزی
چه هرپل په مزکه ږدینه
دے به بے مزده نهٔ وینه
هره شپه چه سملی ستړے
په صبا پاسی خوب وُړے
چه له خوابه را بیدار شی
دَ بخشلیو سره شمار شی
چه حلال کسب نهٔ کا ندِ
پریشانی بویه پرے باندِ
چه لهٔ کسبه بے حاصل وی
دا درے چارے بهٔ ئے تل وی
له هرچا به طمع خواست کا
کس ناکس سره به نادت کا
مسرّت به څنے ولاړ شی
برکت به څنے ولاړ شی
خوشامد به دَ هرچا کا
یا به خوار شی یا به غلا کا
دَهغهٔ کسب مُباح دے
کهٔ صباح دے کهٔ رواح دے
چه ئے قوت دَ ورځے وینه
عبادت دِ دَ خدائے کړینه

جن وانس چه په دُنیا دی
عبادت لره پیدا دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل

مذکور د صحبت د ادبونو

د صحبت ادب هم بویه
چه دا چار ده پیره لویه

دا وئیل د شهسوار دی
د زاړهٔ د ځوان پکار دی

څوک چه نوے وادهٔ وکړه
ناوے راوړی دے دِځهٔ کا

وُدِ کړ له سر وایسته
تطوّع دوه رکعته

چه فارغ شی له نمازه
بیا دِ بر وُخوری له رازه

په ادب دِ دخول وکا
سره دواړه دِ زړهٔ بنهٔ کا

کهٔ روزی نے خدائے فرزند کا
خدائے به دے سعادتمند کا

مرتبے به لوئے مومی
د مور پلار په لار به دروی

اول شپه صحبت نهٔ بویه
نوے میاشت چه وی اے ځویه

کهٔ فرزند نے کښے پیدا شی
دے به تالره بلا شی

د زند یقو خوئ به کاندِ
درست به غم وی لاندِ باندِ

په میانه د میاشتے جانه
هم آخر واوره له مانه

په دا هم صحبت نهٔ بویه
چه بدی ده پکښے لویه

چه له حیضه پاکیزه شی
بنهٔ غسل وکا بنه شی

بیا هاله دخول بائدهٔ دے
د اولاد دپاره بنهٔ دے

په خصلت په خوئ بیکار شی
مور و پلار لره آزار شی

اِستاده صحبت هم بد دے
د دوابو دے یاد دے

چه صحبت سره وُشینه
زوړ دیو سره نهٔ وینه

چه پرے ځان پاکیزه وینه
کنړه ډیر آفت لرینه

جنګ نفاق به ترمیان شی
یا طلاق به ترمیان شی

د اختر په شپه اے جانه
د صحبت چار ده ویرانه

کهٔ د عید قربانه شپه ده
په صحبت باندِ نابنه ده

کهٔ فرزند پیدا د چا شی
دے به شوم بخیل پیدا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه باردارہ ونہ وینہ ترسایہ ئے صحبت شینہ
چه فرزند ئے پیدا شینہ یو جلاد خونی به وینہ
بربنډ ځان صحبت بنځہ نۀ دے په څۀ پټ شه هالہ بنځہ دے
درویشی وی په داچار کښے هم په ځان هم په تبار کښے
چه اذان دَچا ترغوږ شی دَ صلوٰة دَ قامت زوږ شی
هغه وخت هم صحبت بدوی زیان دَځان زیان دَولدوی
بے وضو صحبت بنځہ نۀ دے له وضو سره ډیر بنځہ دے
کۀ وضو نۀ وی قبول کا تیښون وکړہ بیا دخول کا
کۀ په ځائے دِ دا ترتیب وی سعادت به دِ قریب وی
کۀ صحبت په تابستان وی سراسر دَ صورت زیان وی
تیرہ ماه کۀ په خزان وی دواړہ وخته صحبت زیان وی
ځان په ډیر غارمۀ کښے نیسه بل دَ بنځے رنګ مۀ کسه
صحبت بنځہ دے په بهار کښے چه ئے کاندِ په ګلزار کښے
په پسرلی وینه زیا تیږی په جماع سره کمیږی
دَ سحر په وخت صحبت کړہ په مړه ګیډه نفرت کړہ
چه ترحلقه سړے موړوی هغه وخت صحبت ناجوړوی
چه ئے کاندِ کا ژخر دے کا ژخر په څۀ خبر دے
ناسته ګیډه صحبت روغ دے ډکه ګیډه نا فروغ دے
چه په ورځ په شپه دخول کړے په داشان به کار قبول کړے
هرسړے چه صحبت وکا پاسیدل دِ هم زړ نۀ کا
په بنی لوری دِ زور وکا یو زمان دِ ځان اُودۀ کا
چه صحت دَ وجود تل وی په تودو اوبو لامبل وی
په تودو اوبو لامبل کړہ اوړے ژے صحبت خپل کړہ
دَ سړو اوبو لامبنہ دَ وجود نۀ دہ ساتنه
په جماع پیغمبرا نو ځکه مینه کړہ یارانو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

سخت دلی دے رومی له دله — زړهٔ پرے نرم وی هرکله
چه د زړهٔ په آرزو درومی — سخت شی زړهٔ چه آرزو مومی
د صحبت په آرزو جانه — زړهٔ نرمی مومی څو شانه
په صحبت فاسده وینه — له صورته کمه شینه
د شیطان وسواس له دِله — په صحبت درومی عاقله
چه حلال صحبت دِ نهٔ وی — په زنا ته دِ نه زړهٔ چوی
څهٔ چه دی حلال صحبت دے — چه په قدر په قیمت دے
صحبت واړه کل شکر دے — په افراط کښے ئے ضرر دے
چه حلوا وخوری بے رنګه — رنځ ترے بیائی تر دے ننګه
څوان چه ستړے په یلغار شی — نور دخول وکا بیمار شی
چه په حیض کښے ئے صحبت شی — ترے پیدا کنده زحمت شی
زرد ژیړه مشک کافور کا — څوک چه ډیر دخول منظور کا
ډیر دخول سړے رنځور کا — د بصر پیدا فتور کا
څوان کهٔ څان وساتے نیسی — په پیرئ کښے به زور کسی
تر پنځوس کاله چه تیر شی — نور بیا نهٔ کا دخول ډیر شی
زور سړے کهٔ ډیر دخول کا — د بصر زیان دِ قبول کا

فصل - آداب د عورتِ د میړهٔ د زیست روزګار کښے

وصیت د مرتضیٰ دے — چه ساوی ئے مرتضیٰ دے
چه دِ ناوے په کور راشی — نصیحت دِ ورته داشی
په اول هفته عزیزه — دا دِ نهٔ خوری پینځه څیزه
یو تریو سیو بله سره کړه — یو کشنیز بله کنده ده
پینځم څیز دوډئ سپورۍ — چه سرحم سور کا اے سورۍ
له فرښته شی مایوسه — حمل نهٔ اخلی عروسه
کهٔ په کور کښے زور بوریا وی — بنهٔ ترشنډے بنځے لاوی
پکار نهٔ ده بنځه شنډه — کهٔ د وازدو لری لنډه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَجماع په کار ده جانه
لکه نوش ده ښځه ځوانه

دَ زړې صحبت زحمت دے
دماروش دَدے صحبت دے

چه دَ څوارلسو تیریږی
ښځه شلو ته رسیږی

په دا منځ لکه نبات ده
نبات څخه آب حیات ده

چه بی بی پنجاه ساله شی
نوردَ کور په حواله شی

چه تر دیرشو کالو ورشی
نبات نه ده نور شکر شی

ترځلویښتو چه تیریږی
نور دَ کړو په نرخ کیږی

خصمانه دِ دَ اولاد کا
نندارِه دِ دَ داماد کا

هسے رنګ دِ سپین سرلوب کا
چه نور که ګنده آشوب کا

چه سپین سر پریوزی وتاته
ته مولئ کړه پکښے ماته

په جماع سره تن سپک شی
بدوسواس له دِله ورک شی

په جماع عقل زیاتیږی
حرارت دَ تن کمیږی

دَ سیری تر ګرم سیره
ښځه بهه ګنده ډیره

فصل

تعریف دَ عورتینے

وصیت دَ پاک رسولؐ دے
چه ئے حکم په قبول دے

دَ امت نیک زنه واړه
په داکار دِ کیږدی غاړه

چه میړهٔ لره عورته
دا دِ نهٔ وی بے طبیعته

تل دِ وُسی خنده رویه
دَ میړهٔ سره خوش خویه

خدائے دِ ډیر ډیر یادوینه
پاکیزه دِ ځان ساتینه

همیشه دِ غُسل کا ندِ
چه هیڅ چرک نهٔ وی پرے باندِ

په نمانځه دِ وی حاضره
په ربستیا دِ کا خبره

چه ئے واړه دَ زړهٔ رازدی
خپل میړهٔ ته دِ آغاز وی

تن دِ تل خوشبوئ لرینه
چه بنهٔ بوئ ورځنے ځینه

په رنجو دِ کاندِ شینه
چه ئے زیب دَ ستر ګو وینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چې ئے هرو بښتهٔ بربښنا کا — سر دِ هسے جوړ صفا کا
چې دَ ښځے سر صفا وی — دَ شیطان وَ دے تهٔ شاوی
چه نظر ورته شوهر کا — دا دِ مزکے ته نظر کا
چې نظر کا په بل لوری — دا دِ مخ دَ میړهٔ ګوری
چې نظرئے په خپل یار وی — عبادت سره په شمار وی
چې میړهٔ ئے پرے خوښیږی — هسے رنګه دِ کار کیږی
مسخرے خندا بازئ — څوځو رنګه طنازئ
دَ میړهٔ سره دا بویه — څوځو کیږی چاردہ لویه
چې شهوت ئے پرے زیاتیږی — هم هغه چارے دِ کیږی
چه طلب دَ صحبت وکا — نور دِ هیڅ عذر ونهٔ کا
چې رضائے دَ شوهر وی — هسے رنګ دِ دے چر وی
کهٔ میړهٔ ئے عیب ناک وی — تر نظر دِ دَ دے پاک وی
چه څوک کا څنے پوښتنه — بد دِ نهٔ وائی دَ دهٔ نه
کهٔ میړهٔ ئے جفا کار وی — هم دِ دے ته وفادار وی
لکه فرض دَ خدائے طاعت دے — هسے فرض دَ شوئ خدمت دے
مرد چه ښځے ته هوس کا — دَ وادهٔ هوا هوس کا
یکبارہ دَ شهوت جله — پسنده نهٔ ده اوله
دَ اولاد اندیښنه بویه — حفظ دَ مال چه چاردہ لویه
صالحه ښځه صاحبه — دَ مال ملک ده هم نائبه
دَ میړهٔ دَ کور غم خواره — کور په دے خوندی دے یاره
په حاضر غائب یکرنګه — زړهٔ ئے خلاص له هره ژنګه
ښځه کومه ده بهتره — چه عفت لری پسره
د یانت حیا لریږنه — عقل وهوش ورڅخه وینه
زړهٔ ئے ډک وی له اخلاصه — له قلبئ له ټکئ خلاصه
فهمیده کوته ژبانه — قاصرات الطرف جانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د میړهٔ په مینه مسته
خپل میړهٔ ته نیسته هسته

که بل کس وی لکه کسی
نهٔ ئے کوری نهٔ ئے کسی

په رموز په هُنر پوهه
زړهٔ ئے خلاص له مکره روهه

په ادب په ستړے ستړے
کوز کاتهٔ په سړو خبرے

بښه آزاده حره شماره
نهٔ کم ذاته پرستاره

هسے جن وجان ته کوره
له بښهٔ ځایه له بښهٔ کوره

چه ئے پلار نیکهٔ نامدار وی
هم دیندار وی هم کامکار وی

لکه نیانه د فرزند وی
یا نیکانه د فرزند وی

فرزند هم په هسے شان شی
په هغه فطرت عیان شی

بښځه کړه له خپله ذاته
نهٔ ناجنس ته بدصفاته

ترځان کوزه کړه یا سمه
نهٔ ترځان لویه اعظمه

په کالونو ترځان کشره
نهٔ په عمر ترتا مشره

هر بهار نوے نګار
کم نهٔ دے تر ګلزار

که په دا هومره صفته
بنایسته وی خوش صورته

مُبارک دِ دا دولت شه
مبارک دِ دا جنت شه

که په رنګ کِهٔ وی که مِهٔ
تربیوه وی بکره بِهه

چورچه غابن د بل په سیب شی
هغه سیب لکه آسیب شی

له بښهٔ ځایه له بښهٔ کوره
کوره دا بله مهٔ کوره

په دُنیا کښے بښه عورته
کمه نهٔ ده تر جنته

حکیمانو دی وئیلی!
دُر و لعل ئے دی پیئلی

بښځه مهٔ کړه پینځه کروهه
چه تل خلاص وے له اندوهه

حنّانه منّانه یاره
انانه ورسره شماره

بیا کَیْتُ الْقَفَا پُر دانه
بیا خِضْرُ الدَّامَن جانه

چه اولاد لری له بله
حنّانه ده هغه دِله

مال د نوی میړهٔ خورینه
ځوئ لونړه پرے لرینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

مٓنانه ده هغه کُنډه
چه لری خزانه غُنډه

غړه توب په زړ په مال کا
میړهٔ وکا باندِ خیال کا

اَنّانه عورته دا وی
چه ئے بنهٔ میړهٔ په خواوی

بل میړهٔ ورته هیڅ نهٔ وی
خو په ذکر دَ هغهٔ وی

په مخ ستا دَ بل په شا ده
زده کړه دا کَیْتُ الْقَفَا ده

چه حاضر وی درته باغ وی
چه غائب شی نورِ داغ وی

مخامخ درته خندا کا
چه تهٔ نهٔ وے بل آشنا کا

اوس خَضْرَاءُ الدَّامن واوره
دَ دا ناکیسه په وار وه

بنائسته صاحب جماله
آهنګړه - د م - کلاله

یا نیل ګړه یا چمیاړه
یا قصابه یا مالبارِه

لنډکی ماره نیکور که
بد تباره په خوئ سپکه

مے فروشه بوزه ګړه
زکوتی درویزه ګړه

بے حجابه ګرځیدلے
لړه بړه غوږ یدلے

چه په ذات وی نا اصیله
په جمال کښے وی جمیله

کهٔ په مخ کښے لکه ګل ده
بیا په ذات په اصل غُل ده

په بنائیست کښے چراغ بل ده
بیا سبزه دَ مزا بل ده

کهٔ په مخ بنه وی ترماهه
چه په ذات نهٔ وی دلخواهه

حُما پند تر دِله یوسه
دا وُمکړه غرب وُسه

نهٔ یوه په خوئ بناغلے
نهٔ دوه درے بدخویه کښلے

بنځے تولے خرخشے دی
دوئ تر وکله تولے بنے دی

ملوکان کهٔ بنځے کاندِ
دیرے بنائی په دوئ باندِ

بنځے دوئ وته بنده وی
په خدمت سرفګنده وی

لا ملوک لړه هم بویه
چه یوه بنه وی دلجویه

فصل
تعریف دَ حمام

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ حمام دہ ډیرہ نفعہ
تن دِ سپک کا نرم طبعہ

ما زغۂ صاف کہ مشام وا کا
تن لہ چوکہ نہ صفا کہ

ستومانی لہ تنہ دور کا
زہۂ دننہ پہ سُرور کا

پاکیزہ کړہ زہۂ وینہ
صاف کا درست کوکل دننہ

خلط جدا کاندِ لہ تنہ
دَ سود چارئے دہ روشنہ

پہ ساہۂ دَ برد دافع دے
پہ غارمۂ کښے لا نافع دے

چہ حمام لرہ ورځینہ
مړہ کیږہ بنہ نۂ وینہ

دے دِ لوکوتی وخورینہ
چہ حمام لرہ ورځینہ

پہ حمام کښے چہ تودځان کا
کۂ زر وُخی دَځان زیان کا

مۂ سړے اوبۂ بیا کوړہ
خان لہ بادہ نہ وژغورہ

طعام وخورہ بیا اوبۂ څښہ
مۂ ماء هیچا مۂ طعام څښہ

چہ بیرون شے لہ حمامہ
هغہ ورځ هم شپہ تمامہ

دخول مۂ کوہ اے خُوانہ
کنړہ نۂ بہ وی بے زیانہ

کۂ جُنب وی آهنګ مۂ کړہ
مسئلہ دہ دا هم زدہ کړہ

کۂ جُنب آهنګ یا کل کا
ویښتۂ دین لرہ خلل کا

نۂ دِ نوک جدا کو ینہ
جنابت چہ پکښے وینہ

فصل
ذکر دَ ادویات

پہ دارو کښے چہ بنۂ نیت وی
دارو نۂ وی عبادت وی

عبادت پہ روغ صورت شی
کنړہ کلہ عبادت شی

ما دَ طب پہ کتابونہ
نظر وُکړہ پہ بابونہ

چہ هر رنځ لرہ فائدہ دہ
هلیلہ دہ هلیلہ دہ

کۂ درست عمرئے څوک خوږینہ
هیڅ علّت بہ نۂ ورځینہ

هم دَ مرد دہ هم دَ زن دہ
هلیلہ شفا دَ تن دہ

پہ ترتیب ئے خورہ هوښیارہ
مصالح ورسرہ یارہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ماهی په حمل خویه — له عسل ئے خوراک بویه
په غوایهٔ په جوزا یاره — مله ئے کړه ګړه اختیاره
کهٔ سرطان وی کهٔ اسد وی — له نمکه سود بے حد وی
سنبله وی کهٔ میزان وی — د شکرو سره جان وی
په لړم په لیندۀ بنهٔ وی — کهٔ بنهٔ سوند ورسره ملهٔ وی
جدی دلوه چه ئے مړه کړی — بویه بنه غنیه خشته کړی
نیمائی مصالح بویه — نیمائی هلیله رسویه
دواړه توکه سره تهٔ کړه — هر صبائی خوړل تهٔ کړه
هلیله ده اوهٔ قسمه — خبرئے تهٔ له اسمه
کهٔ ئے کشم ویل اوږ دیږی — هوښیاران به خود پوهیږی
هلیله چه خو څربه وی — پاس په ونه بنهٔ پخه وی
بنه درنه په وزن ګوره — هم هغه بنهٔ وی اے ګوره
چه دوه درے کاله زړه شی — تازه نوے دِ خوړه شی
هلیله کهٔ پرورده شی — په عسل کښے هم لا بنهٔ شی

فصل
د سترګو د دارو

کرکمن فلفلین ورورہ — بیا د کانړی مالکه ګورہ
یا بیرنګ سوند وکوتہ هم — پاڼهئی بج و چتره هم
د نیم پانړے موته ویاړه — دا دارو د سترګو غواړه
داهمه برابر جانه — واخله نوله شه دوکانه
ورسره د بزے مستیازے — نورځهٔ هیڅ نهٔ خویوازے
د مستیازوئے تهٔ آس کړه — ترګولئی سازے په قیاس کړه
په سایه کړه ګولئی اوچے — چه کمتړے وی تر پچے
سائیده کهٔ له اوبو شی — ستا په سترګو پورے تروشی
د نزول مرض به ورک کا — په فرصت به بیمار سپک کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ شهد له سره غسه
پورے کیږی ده سروشنه

د تپل مرض به دوز کا
خوش په زهرهٔ به دارنخور کا

له هندی سرکے اے یاره
کهٔ نے پورے کا څو واره

چه د باد یا یرقان وی
د بیمار به ورک آسان وی

کهٔ ئے پورے که له بوله
خلاص به شی د سریش له هوله

د بنګرے له اوبو یاره
شبکوری وهی له بیماره

کهٔ د بنځے پئ پرے کړ کا
د لیمو کل به کړ وړ کا

کهٔ یوه پوړئ وخوری
د منکور په وش به نهٔ مری

کهٔ پوړئ وخوری څوک څوارلس
سم خوړلی لره دی بس

ایضاً

کهٔ رانجهٔ سرے تاودهٔ کا
اطریفل سره اوبهٔ کا

پکښے دوب تاودهٔ رانجهٔ کا
اوهٔ څله دا رنګ وکا

په دا رنګ د بنځے پئ
اوهٔ څله دوب په دے

بیا دواړه بنه میده کا
په لیمه د سائیدو کا

چه د ستړکو هر زحمت وی
په رانجهٔ به ئے صحت وی

ایضاً

غوړ د غواچه زاړهٔ پیروی
ده ساله یا تر ده تیروی

هغه هم بنهٔ دی هر ګوره
د لیمو زحمت ته سروره

مامیره هم په داشان ده
چه د دوو ستړکو درمان ده

دارو د ستړکو د کدورت

کهٔ سرے په ستړکو تت وی
د نظر ئے تفاوت وی

اول سنګ بصری یاره
مهلطی دویم وشمارهٔ

بیا دریم غنیه ئے خشته وته
څلورم دارچینی بنهٔ وی

بیا پینځمه آمله ده
فلفل کړد بیا سلیله ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بلیله چه بنۀ پخته وی — چه ماغزۀ ئے دَخسته وی
دا اُوۀ واړۀ سره کړه — بیائے بنۀ سره میده کړه
چه په وزن په تول سم وی — نۀ دِ زیات وی نۀ دِ کم وی
له سړو اوبوئے کړه کړه — بنۀ ئے تۀ سره کړه وړه کړه
څو حبه ګولئی کړه سازے — واړه ګردے نۀ دراز ے
څۀ حاجت دَ هغه کس وی — خو یوه ګولئی ئے بس وی
له اوبو دِ حل شی — چه په ستر ګو کښے ئے تل شی
داعمل دِ په عشا کا — دَ بصر وُلۀ دِ صبا کا
ورته بنے سړے اوبۀ وی — چه دَ ستر ګو ولۀ پرے بنۀ وی
کدورت به ئے اوبۀ کیږی — بنۀ دی دا دارو څو کیږی

د دارو دَ ستر ګو دَ نزول چه آب مروارید ئے بولی

دَ نزول علت بلاوی — دَ چامۀ شه لا دوا وی
چه جراح ئے پرده وا کا — مګر هاله څوک بینا کا
مایو نقل دے لیدلے — په "شفاء علیل" کښے کښلے
هغه نقل درته کښم — زۀ له خپلو نۀ وایم
دَ دوهو وازده حاصل کړه — فراشتک مرغئ بسمل کړه
دوه سر وازده ګذار کړه — چه بنکاره شی بیائے ساز کړه

دارو دَ نزول یعنی آب مروارید

دَ نزول دا بنه ډول دی — کۀ دَ رنځ په ابتدا ده
بنه توتیا نیلا توتا وی — چه بنۀ شنه وی بے هتاوی
چه تول سم سره میده کړه — په بصر کښے ئے سیده کړه
تل دوه درے میله آخله — بیا پرے خوب وکړه سمله
چه دَ درست زحمت وُرکیږی — په بصر دِ پوره کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تر دا پورته دارو نشته — په دُنیا کښے که هر څهٔ شته

دارو د یرقان

دارو د یرقان دا دی — که ئے وګورے آسان دی
پښتانهٔ ئے زیړه بولی — سړے زیړ پریوزی له غولی
اوسپین خړے چه ډیر زوړوی — دے علاج ته هغه جوړوی
ته ئے واچوه په اور کښے — بنهٔ سوړ کړه په تنور کښے
واخله بیا د غوا متیازے — نورځهٔ هیڅ نهٔ خویوازے
په متیازو کښے ئے جوړ کړه — اوهٔ څله ئے تود سوړ کړه
چه بنهٔ سوړ شی بیائے آس کړه — یو درم څنے په لاس کړه
چه ناشته ئے په هفته خوړه — اوهٔ وسځے ئے پوره خوړه
بیائے بله هفته جانه — خوړه له شهده له روغانه
شنوبے هم ورسره بویه — غوړ شنوبے د غوا اے څویه
د صحت طمع اُمید کړه — بنهٔ دارو دی اعتمید کړه

علاج د پشک

د پشک دارو دی جانه — ته ئے وُنغوزه له مانه
کنبیله تور وا نجو دواړه — سره آس کړه وُئے نغاړه
هره ورځ ترے لږ واخله — د کنځلو تیل هم دله
دا دارو ورسره کهٔ کړه — بیائے بنهٔ سره کهٔ وړکړه
په پشک ئے کړه تهٔ پورے — نفع سُود به ئے وُګورے
هغه د رنګ ناستے په نهر کړه — یوځو ورځے دا اکثر کړه
خدائے دِ روغ کړه له علته — پا تو بنهٔ شے بے صحته

دارو د ګنده دانے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ دَ چا کنده دانه وی — چه زرداب ئے نشانه وی
چه ئے زیړے اوبه دروی — زیاتیدهٔ کاخارښت موی
واړکونه اغزی لرینه — شته بوټے هرځائے شینه
په هند کو اَیُرت کنده دے — فارسی خار واړکونه دے
چه ولی ئے دی ترے لاندِ — ملوکان ترے مسواک کاندِ
دَدهٔ پانړے ښے میده کړه — بیائے پورے په دانه کړه
مجرب دارو دی جانه — تهٔ دا وُمنه له مانه
چه څوځله ئے کړے پورے — رنځ به ورک شی خودبه کورے
کهٔ دَ چا کنده دانه وی — دَ نښتر ژاولهم ښه وی
دَ مولو تخم هم ښهٔ دے — دے زحمت لره بدنهٔ دے
دَ اوبو سره ئے آس کړه — په دانه ئے پورے پاس کړه

دارو دَ توخی

ښه پخه کرکنړه کوره — څنے زهری ئے واخله روره
هغه زهری ئے بیا وراتهٔ کړه — آس ئے کهٔ له کبینه کړه
دَ هر توخی دارو دا دی — چه آسان دارو دی دا دی

ایضًا هه

پان ئے بیخ واخله دیڅی — چه ورته ئے کرځو ورځی
دا داروخوره په نهاره — شهد هم ورسره یاره

نور هم

دَ سیارِ دوا دوا ده — تجربه ئے په هرچا ده
دَ خرے پټی خښه په نهاره — خودِ رنځ دروی بیماره

دارو دَ استسقاء

استسقاء دَ چا وهٔ شه — کهٔ ئے وشی دائے زده شه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تل دِ خښی د اوبو پئ ورځو شپه تته تښئ
نۀ خواړۀ نۀ دِ اوبۀ خښی خو دا پئ د ناڑه خښی
استسقاء هغه زحمت دے چه ګنده تر هر علت دے
د سړی ګیډه مشکے شی ډک په زیړو اوبو دے شی
لاس وپښے ئے وپرسیږی په رنګ زیړ بلا بښکاریږی
دا روهم د استسقاء شته خو د اوبو پئ رسا شته

دارو د نۀ چرولو

واخله سخاوڑه بیماره پلپل دراز ورسره یاره
دواړه سم شیږ شیږ درمه هنجه هم درواخله همدمه
زنجبیل دولس درمه جوائن پا نزده اکرمه
هلیله ا تلس زر ده حبّه یو درم باور ده
کته شل څلور درمه واړه یوځائے کړه پرغمه
واړه بنۀ سره میده کړه په تودو اوبو دازده کړه
دوه درمه هر صباخوره پرے لطیفه غذا بیاخوره
ګُنډِ وی چه رنځ دِ ورک شی په صحت دِ وجود سپک شی

بل رنګ

لونګ ویَشوه جانه دوه درمه اے پردانه
د لونګو اوبۀ نوش کړه بنۀ دارو دی له ماکوش کړه
نۀ څړدل په دا ورکیږی قے لاهم په دا کمیږی
شوه په دوه درے رنګه آس پرے ګډ دے له فرهنګه
کۀ ناشته ئے هر صباخوری بنۀ اعلیٰ کۀ تل داخوری
په زوړوالی په برنا وی
خورنده به تر هر چا وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دارو دَ قوت باہ

واړہ سوند غنیہ خشتہ وی — چہ دَ تی دپارہ بنہٴ وی
دواړہ سم دوہ دوہ درمہ — کنډ کپرئے کړہ ھمدمہ
پہ اوبو کښے ئے پہ جوش کړہ — پرے شیر کړے اوبہٴ نوش کړہ

دارو دَ قوتِ باہ مباشرت

نک چھکنی ادرک دلدارہ — دَ غوا پئی سرہ کړہ یارہ
تاودہٴ نہ پئی دِ اومہٴ وی — چہ ئے څښے قوت تہ بنہٴ وی
سوند جائفل کبابہ جانہ — دارچینی واخلہ پردانہ
داخلور دوہ دوہ درمہ — چارکد واړو پہ تول سمہ
بیالونگ عاقر قرہ ھم — یویو داکړہ ورسرہ ھم
کُندروچو پنځہ درمہ — بیل بیل آس کړہ داھمدمہ
دا داروشی اُوہٴ څیزہ — چہ ئے وشمارے عزیزہ
پہ عسل کښے ئے معجون کړہ — وایم تہٴ ئے خوراک چون کړہ
دوہ درمہ پہ صبا خورہ — دوہ درمہ پہ مسا خورہ
ذوق بہ دِ یرمومے خوشورے — څہٴ بہ وایم خود بہ کورے
کہٴ دِ یرسوړے داھالہٴ کړہ — غم خوری دَ خپل کالہٴ کړہ

داھم دَ قوتِ باہ دارودی

دارچینی لونگ اے یارہ — بیا عاقر قرہ دلدارہ
زعفران داخلور څیزہ — برابر سرہ عزیزہ
څہٴ خومشک ھم ورسرہ کړہ — واړہ بنہٴ سرہ میدہ کړہ
کبینہٴ سرہ ئے کنډ کړہ — تہٴ ئے بنہٴ سرہ کنډ وړ کړہ
کولہ سازہ کړہ څو بیرے — پہ حساب یا تیرو بیرے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په ساعت د صحبت رورہ
یوہ وخورہ ګوله ګورہ

دا دارو دی بے آفته
خالی نۀ دی له لذته

بنځه نر سره راضی شی
بنځه لا متقاضی شی

چه تر دانه ډیره بنده ده
که نے خورے فلاسفده ده

معجونِ نبیؐ

فلفلین واخله اے جانه
فلفل مول د خولنجانه

زنجبیل وقرنفل هم
پکهر مول دیبا کهل هم

برابر په وزن وارہ
ګڼے ګڼے ونغارہ

چه بیل بیل سره آس کړے
بیا یوځائے به ئے تاس کړے

که ئے په تول دا اته توکه
شر شاهی شی دماره کړه

قند څلور شیر شاهی بویه
سره کړئے کړه اے څویه

اوۀ ورځے نکاه کړه
پرے عمل صبا بیکاه کړه

دوه درمه په خفتن خوره
دوه درمه په خواستن خوره

دا دارو لکه سرۀ زر دے
هر زحمت لره بهتر دے

هم صحت د تن پیدا کړه
هم قوت د تن پیدا کړه

علاج مرد بسته

که دِ سسته شی خنډه
واخله بیخ د مرونډه

په بنی لاس کښے ونیسه
ورنزدے شه بیا کسه

په څلمی چه شرم زور شی
له حجابه ډکه خور شی

دارچینی په خولۀ کښے ژوبیه
په ذکر کړه وژکه توبیه

ستا ذکر دِ ستا نکاره
په خپل لاس وُنیسی یاره

دارچینی دِ باندِ مړی
ګُندِ ګرم شی ستا شزی

دا دِ کا بوس و کناره
په هوس کا له یاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل ذکر ورکړه په خولهٔ کښے
چه ځشی عشق په زړهٔ کښے

چه حجاب شرم ورکیږی
هسے رنګه دِ څهٔ کیږی

چه ځلمے حجاب زده وی
په دا مرد شی کهٔ چازده وی

معشوقه بویه طنّازه
چه دَ مرد سره شی سازه

دارو دَ بواسیر

یو څمڅوټے دَ شجر دے
په خنسر یو کښے مضمر دے

په خنسر یو کښے روان ځی
جنس چا پیړه دوه ترجان ځی

کهٔ هغه واخلی بیماره
لږ ژور وکړه اے یاره

پکښے واچوه سکروټه
کهٔ وړی وی که چه غټه

په سکروټو څمڅئ کیږده
ومقصد ته ئے ورپریږده

باندِ کښینه تر ساعته
مویشی کا لټه پټه

په څو ورځُ داعلاج کړه
له زحمته ابتهاج کړه

دارو دَ نفس دَ خلط دَ هر خلط واشتها وپیرول

دَ رنګ دَ بنهٔ کیدل

هلیله څلور درمه
په حساب نهٔ بیش وکمه

پترج لس درمه څویه
ناګ کسیر هم هومره بویه

دوه درمه زیره توره
شل درمه دَ هنیه ګوره

فلفل دراز انباله بیدهم
شل شل دا سیه سفید هم

شل درم دَ کلوی وی
شل شل دَ نورسماق پرتوی وی

داهمه شی اتهٔ څیزه
چه ئے وشماری عزیزه

داهمه سره میده کړه
بیا همه سره پُخته کړه

دوه سوځُل درمه ګړه
نهٔ چه بیش و یا کم ګُړه

څُنے سازه کړه ګوله
په مقدار دَ بهلو له

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هره ورځ په ناشته خوره
په آغاز ئے دشتا خوره

طبیعت به دِ صفا کا
خلط به لرے واړه ستا کا

که دِ رنګ په زحمت زردوی
یا د نور د ګیډے درد وی

دا به واړه ځنے دور شی
په صحت به دِ مخ سور شی

اشتها به دِ شی ډیره
خورنده به شی تر سیره

د نفس خوبی دارو

بنهٔ دارودی دا د ګیډے
که دِ درد شی دا د ګیډے

انګزه سپرکه چوکهار هم
نمک سنګ واخله اشخار هم

بنهٔ څربه هلیله ګوره
پوست ئے واخله دما روره

دا پینځه توکه همدمه
سره واړه دوه درمه

اوبهٔ واخله څلور سیره
پرے د اورلنبه کړه تیره

سره واړه جوشیده کړه
نرم اور پسے سیده کړه

چه نیم سیر اوبهٔ شی پاتے
اوبهٔ نهٔ وی کم و زیاتے

بیا پرے ګډے کړه شکرے
په ناشته به ئے ونغرے

ایضاً هه

اطریفل زنجبیل یاره
څلور توکه شی وشماره

سره واړه دوه درمه
برابر واخله همدمه

بیا اوبهٔ څلور آثاره
پکښے جوش کړه څما یاره

چه نیم سیر شی اوبهٔ پاتے
په حساب نه کم و زیاتے

تهٔ ئے وُنوشه شیر ګرم
پر کوله شی ترم ترم

څود نفس ګوله ورکیږی
دا دارو دِ هومره کیږی

دارو دیګر

د ګهیل ولے اے ځویه
چه بنهٔ نفع لری بویه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نۀ ئے کیږے لږه بیائے
خس ئے مۀ نغره خوش رائے

چه دَ کیږے درد علت وی
په دا کار به ئے صحت وی

دَ نفس کاهلی په دا درومی
بیمار زر صحت بیا مومی

فائده

کۀ سپیر کئے شکرے سمے
سره آس کړه پیش و کمے

یو یو کف په هر صبا خورے
په درست کال همیشه دا خورے

هر نهمت په دا ورکیږی
پرے قوت دَ مرد زیاتیږی

دا ویل با ور له ما کړه
بیائے تۀ تجربه بیا کړه

جلاب

هلیله نسوت دا دواړه
دَ نیلتی تخم وغواړه

سره واړه دوه درمه
سم میده کړه اے همدمه

له تودو اوبوئے نوش کړه
نور خوراک پرے فراموش کړه

چه فارغ شے یوځو لاسه
بهت شوروا وُخوره پرے پاسه

چه خوږه شوروا دَ مزۀ وی
نۀ دَ غوا نۀ دَ نورځۀ وی

دارو دَ جاونی دَ تبے

چوب ناز چرپته دواړه
پانسه سونډ کشنیز دا دواړه

سره سم دوه دوه درمه
چار سیر ماء واخله همدمه

سره واړه جوشیده کړه
چه نیم سیر اوبه بښے زده کړه

اوبۀ کړے کړه په شهد
په خوراک ئے وکړه جهد

څو رغیږی دا دارو کړه
دَ شفا په لوری رو کړه

دَ جاونی تبه به دور کا
بیماران به پرے سُرور کا

دا دارو هم مسهل دی یعنی جلاب

هلیله کابلی مرده !
واخله بیا هلیله زرده

ورپسے هلیله توره
بیا دهنیا واخله اے روره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

تج کاږهٔ ویلنی دواړه
د نیلی تخم وغواړه

کلِ لعل اے اکرمه
هرکدام پینځه درمه

مصبّر نسوت دا دواړه
هر یو هفت درم وغواړه

دا دارو واړه وشماړه
لس څیزونه شی اے یاره

واړه ګډی ګډی آس کړه
د غلبیل نے کوزو پاس کړه

بیانے ګډ په ګبینه کړه
سره بنډ نے خمیر ته کړه

لکه زړے د کرکنړے
ګولئ وکړه ګردے پلنے

چه د شپے په وخت څملے
په دهن به یوه وے

پرے اوبهٔ ګوته شیر ګرمے
چه ګولئ کا ترے ترے

یوخو شپے داهسے کا رکړه
د ګولئ خوراک وار وار کړه

دا ګولئ به یوخو دسته
داخلاط بلا کا پسته

کهٔ زحمت دِ د سودا وی
پرے به څی کهٔ د صفرا وی

دا جلاب مفید جلاب دی
صفت شوی د هرباب دی

پرے خوراک وریژے ماسته خوړه
نمک سنګ ورسره ته خوره

ورته کړی زیره سپینه
د مستو سره دِ وینه

کهٔ اثر د اسهال کم وی
پرے نسوت د زیات درم وی

د وجود د باد دارو

ګورهٔ لویه مرونډئ
نهٔ تازه نوے لنډئ

د دے پا نړے کړه نچوړے
اوبهٔ بیلے کړه ترے جوړے

په مقدار پینځه درمه
اوبهٔ بس دی اے همدمه

پرے اوهٔ درمه پئ
د غوا ګډ کړے په دوئ

درے درمه غوړ د غوا هم
ګډ دا خوره په هرصبا هم

خودِ باد د تن ورکیږی
دا دارو دِ دایم کیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دارو د باد لقوه

کهٔ د چا پیدا لقوه شی — مخ ئے کوږ خوله ئے کږه شی
د بیمار ساتنه بویه — کرم خائے تاریک اے خویه
آغوستن دِ پوستین وی — خورد دِ نان وانکبین وی
درست جائفل دِ په غابن نیسی — د خدائے فضل ته دِ کسی

دارو د خفته باد

د بنکر ولے هم بنه ده — خفته باد لره فائده ده
کهٔ په سیوری ئے کړے وچه — په مقدار کښے لکه پچه
له تودو اوبوئے نغرے — هرصبا زحمت کا لرے

فائده د سپیلنو

سپیلنی دارو دی جانه — نشته بنهٔ تر دا درمانه
کهٔ د سُوده ئے خبر شے — په خوراک به ئے تل سر شے
برص پسے د چا ومهٔ شه — کهٔ ئے وشی دائے زده شی
یومثقال دِ ئے تل خورینه — چه زحمت ئے لرے شینه
کهٔ ئے تل سیزی په اوکښے — تل به نهٔ وی په شرشور کښے
چه دیوان وی یا پیران وی — همیشه به دے امان وی
په خوږلو هم په سولو — سودائے دِ یر دے تر ویلو

دارو د بول بسته

د خِنی کل درے درمه — د باد رنګ زړهٔ ئے اکرمه
د اخلور درمه تول کړه — همه واړه سره تول کړه
واړه بنهٔ سره میده کړه — اوبهٔ کړمے ور سره کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه ئے بنکته کړے تر کومی
پرے به بول بسته درومی

دارو د سنګ مثانے

سها که څوکړ کور زهی
له تودو اوبو چه نغړی
که ځلوینښت ورځے څوک خوری
رنځ د سنګ مثانه وهی
دے زحمت لره یوسنګ دے
لکه پچه تور په رنګ دے
چه ئے حجر الیهود بولی
د طلا په نرخ ئے تولی
چه بیمارئے سولوینه
په صبا صبا ئے خورینه
چه ئے سنګِ مثانه وی
توئ په دے دانه دانه وی

دارو د پرمیو د زحمت

اطریفل کورکمن یاره
چوب ناز مشک دلدار ه
بیا کلوی ، کته ، پاپړه هم
د منړے ولے ترخه هم
داهمه برابر بویه
واړه بنهٔ سره ورسویه
کبینهٔ سره ئے تهٔ خوره
پرے لطیف لطیف خواړهٔ خوره
تردا به به دارونهٔ وی
د پرمیوکهٔ هرڅو بنهٔ وی
په څوقسم پرے دینه
رنځ د واړو په دا ځینه

ایضًا

واړه تورهٔ بنګړه لوی
آمله زرچوب هم به وی
داهمه سره میده کړه
له نبا تو سره ئے سرهٔ کړه
په دا هم د پرمیو درد ځی
هم د بنځو هم د مرد ځی
د دارو یوکف نهار خوره
پرے خوراک روستو په وار خوره

دا رو

دا درے څیزه ډیر مفید دی
د دانا دی د سعید دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یو جد وار خطائی دی — چه داروئے عطائی دی
نربسیئے هندوان بولی — دَ طلا په نرخ ئے تولی
بل تل تل کهٔ دارچینی خوری — نفع سُود به ترهنی خوری
مصطکی هم تنها شربه — نفع ډیره لری څو یه

علاج دَ دردِ سر

کهٔ تازه ماهی څوک واخلی — کهٔ روهی وی لا بهتر
اندرون ئے درست خالی کا — آلایش ئے کا بدر
دَمروه په پانړوئے ډک کا — دَ دهٔ کیډه درست جگر
بیائے کیډه سره کوک کا — چه محکم شی لرو بر
دَ کُنجد په تیل ئے پوخ کا — چه بنهٔ پوخ شی سراسر
بیادِ پوخ ماهی سره واخلی — له روغنه کرم تر
په طباخ کښے دِئے کیږی دی — چه غوړی شی ترے بدر
بیادِ صاف هغه غوړی کا — په شیشه دِئے کا در
په صماخ کښے یوځو څاڅکی — یا په پوزه کښے اندر
چه دَ درد څښتن دا وکا — پرے ورکیږی درد سر
کهٔ هغه ماهی څوک وخوری — سود دَ باد لری بیشتر

فصل

فائده دَ وینے دَ وُښکو

فصد سړی لره نافع دے — دَ هزار علت نافع دے
کهٔ سرسام کهٔ برصام دے — کهٔ دَ شنجیو دا نوم نام دے
کهٔ سکته ده کهٔ سنپات دے — کهٔ دَ تپ څهٔ آفات دے
پمن والی کهٔ جُثه وی — کهٔ دَ خولے بده مزه وی
بد بوئ دَ خولے یا وینے — چه ئے پاس یا کوزے وینے
کهٔ خُناق کهٔ مفاجا وی — له فاسد و وینو دا وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه وکابدی له قیفاله
وینے لابنے وی اے لاله

هفت اندام وی کهٔ قیفال وی
فصد دِ هرکله هرکال وی

تر پنځوس چه عمر تیر شی
د فصد کارد نه لږ ډیر شی

په پسرلی په منی بنهٔ دے
فصد په بل آوان بنهٔ نهٔ دے

درد و کام آماس د کومی
په هرځائے علت د سپومی

فصد جلاب دا دواړه څیزه
لازمی کنړه عزیزه

بل غشیان ورسره هم دے
هره میاشت غشیان لازم دے

څوک چه کا دا دوه درکاره
تل به خلاص وی له آزاره

چه د هر زحمت دوا دے
فصد جلاب غشیان هم دا دے

په ډیر رنګه جلاب کیږی
هوښیاران به پرے پوهیږی

بنهٔ جلاب د هلیلے دی
د تروی هم ورپسے دی

عام وخاص لره چه بنه ده
بنه تازه جمال کوټه ده

فصل

ذکر د عورت د حمل

بارچه ولخلی عورتینه
د فرزند شی خزینه

نهٔ دِ مار په ستړکو کوری
نهٔ دِ لوړ په ژور شوری

نهٔ دِ دروند پیټی آخلی
نهٔ دِ زور کا نهٔ دِ زغنی

نهٔ دِ پاس په بام وخیژی
نهٔ دِ قهر غصه کیږی

نهٔ دِ درومی وحمام ته
نهٔ دِ زړهٔ کا تریو طعام ته

چه ترخه یا باد انګیز وی
له هغو دِ ئے پرهیز وی

دارچینی دِ هم ډیر نهٔ خوری
هرطعام دِ هم سیر نهٔ خوری

په جماع کښے دِ ځان ژغوری
چه پرے نه ورنهٔ شی نهٔ شوری

زک وهل کهٔ حجامت وی
دا هم دے لره زحمت وی

کهٔ لطیفه غذا خورینه
خوږ څیز هم فائده لرینه

کهٔ فرزند ځنے جدا شی
هم د دے دِ دا دوا شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

معجونات دِ کرم خورینه
له هوا دِ ځان ساتینه

زعفران دِ له عسل خوری
هم دِ ماء دَ سپین بصل خوری

په خپل وخت چه لنګه شینه
په اوبوکښے دِ کښینینه

اوبهٔ ښے دَ بنفشه دی
مزز نجوش دَ پودینه دی

کهٔ ملخوزے کهٔ بادیان دی
دا همه راحت دَ ځان دی

چه اوبهٔ کا دَ دوئ کړے
کښینی رنځ کا ترے ترے

موم روغن دِ په ځان مړی
چرک حلوان دِ ځان ته کوژی

واکهٔ وهیرنهٔ کا له فکره
ځان به بیا کا لکه بکره

دَ مور پلار په کار دِ ویاړی
مصلحت دِ ځنے غواړی

خوئ دِ واړه هغه کار کا
چه پرے حکم مور وپلار کا

کهٔ ئے ملک وی کهٔ ئے مال وی
مور و پلار دِ پائمال وی

چه فرض شوی په هرچا دی
حق دَ خویش دَ اقربا دی

حق دَ زن په شوهر باندِ
دے لازم په خبر باندِ

ورپسے حق دَ مهمان دے
دَ مملوک دَ زیرستان دے

فصل

حق دَ خدائے په بنده باندِ

حق دَ خدائے په بنده دا دے
چه دا وائی خدائے یکتا دے

یکتائی په ذهٔ ښائینه
یکانه دے تل به وینه

نهٔ شریک نهٔ ئے انباز شته
نهٔ ئے عجز نهٔ نیاز شته

دَ خدائے امر دِ منی نه
پر طاعت دِ کاندِ مینه

نواهی کهٔ معاصی وی
له همه ؤ دِ حلاصی وی

کهٔ داحق دَ خدائے په ځانے کا
خلد به ځانے دَ دهٔ خدائے کا

وربه نهٔ شی تر دوزخه
دَ دیوخوا به نشی یخ

حق دَ مور و پلار چه یاد دے
په قرآن کښے اسناد دے

په اولاد باندِ داشان دے
چه ویلی په عیان دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

هر فرمان دِ ئے منینه
چه ترخولے ئے څهٔ وُځینه

نامشروع امر دِ نهٔ کا
نور دِ جزوکل هرڅهٔ کا

چه ئے مور و پلار زاړه شی
کهٔ غارمهٔ ئے کهٔ ساړه شی

مظلمه ئے په اولاد ده
داخبره د استاد ده

په خپل ځان دِ ئے خدمت کا
ځان د دوئ دِ په رحمت کا

کهٔ خوراک وی کهٔ پوشاک وی
د دوئ کار دِ پر تپاک وی

مګر امر نامشروع وی
په هغهٔ دِ ځان ممنوع وی

نور دِ هرڅهٔ قبلوینه
اطاعت دِ ئے منینه

د مور پلار په کار دِ ویاړی
مصلحت دِ ځنے غواړی

ځوئ دِ واړه هغه کار کا
چه پرے حکم مور و پلار کا

کهٔ ئے ملک وی کهٔ ئے مال وی
مور و پلار ته دِ پامال وی

حق د مشر سور بسیار دے
مشر دور هم لکه پلار دے

کهٔ حرمت کوی د مشر
ستا به هم حرمت کا کشر

فصل

حق د خویش واقربا

چه فرض شوی په هرچا دی
حق د خویش واقربا دی

چه صله رحم څوک بناد کا
خدائے به دے په بناد کا

چه الفت له اقرباء کا
د دهٔ ځلئے به خدائے ماوا کا

چه شلوون کا له خویشانو
هغه دے له دوزخیانو

چه مئین په اقرباء وی
دیر به دے په دا دُنیا وی

د رسول د خولے وینا ده
شک پرے مکړه په ربستیا ده

چه د عرش ترسایه لاندِ
به هغه وی چه دا کاندِ

یوچه خوش ترے اقربا وی
بل چه مال ئے د دُنیا وی

دے خوروی په درویشانو
خیرخیرات کاندِ یاسرانو

بله کُنډه فرزند داره
د شوهرهٔ نه ویزاره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

لونړه څوئ خپل ساتینه — بل میړهٔ نهٔ یادوینه
په قیامت به دا درځ کړوهه — خلاص فارغ وی له اندوهه

فصل
حق دَ یتیمانو

دَ یتیم په حق خبر شه — له ثوابه بهره ور شه
کهٔ یتیم څښتن دَ مال وی — مال په دهٔ باندِ حلال وی
کهٔ ئے نور په ظلم زور خوری — څوئے خوری دَ دوزخ اور خوری
دَ یتیم نمنځنه فرض ده — په درست کلی لکه قرض ده
چه ئے لاس په سر څکوینه — تفقّد باندِ کوینه
یا ثمر یا شکر ورکا — زړهٔ ئے خوش په ماحضر کا
دَ یتیم په خوش نودئ — خدائے به ورکا بهبودئ
له دُنیا به په ایمان څئ — وجنت ته به خندان څئ

فصل
حق دَ درویشانو

فرض دے حق دَ درویشانو — په همه توانګرانو
خدائے چه مال وچاته ورکا — په نادارو دِ نظر کا
دَ درویش چه څهٔ حاجت وی — پرے دِ هومره سخاوت وی
کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی — کهٔ خیرات کهٔ نفقه وی
دَ درویش چه څهٔ حاجت وی — پرے دِ هومره سخاوت وی
کهٔ زکوٰة کهٔ صدقه وی — کهٔ خیرات کهٔ نفقه وی
چه درویش وڅهٔ رسیږی — دولتمند دِ هو سیږی
چه محتاج دَ درویش نهٔ شهٔ — بل درویش محتاج دَدهٔ شهٔ
بل چه ورکړه په درویش کا — څان داخل دَ خدائے پرویش کا
ورکړه کله حبطه وی — لس دلے هورے اوبهٔ وی
درویشان هدیه دَ خدائے دی — په سایه لکه همائے دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَ همائے سایه نادره
کوره چرته شی حاضره

ورکوه زاغ وزغن ته
هرمارغهٔ سایه ګکن ته

ګوندِ وی چه ستاپه لومه
همائے رائے شی له کومه

دَ درویش دَ زړهٔ ساتنه
غنیمت ګڼره لا لـنه

دَ درویش خاطر که شاد کا
درست حاصل دَ زړهٔ مراد کا

چه درویش له چا آزار شی
په دُنیا په دین به خوارشی

څوک چه یو درویش آزار کا
قبل غام ملک هزار کا

فصل

حق دَ همسایه کانو

حق دَ چار دَ همسایه دی
پرمایه کهٔ بے مایه دی

په بنادئ دَ دهٔ بنادمن شه
په غمونوئے غمژن شه

چه هرکارلره دِ بولی
قدم ږده دَ دهٔ په غولی

په رنځورئے کړه پوښتنه
مهرمهٔ نیسه دَ دهٔ نه

حجاب وباسه له میانه
کهٔ وام پورغواړی له تانه

ورکوه زړهٔ ئے خوشحال کړه
دستګیری ئے په خپل مال کړه

دَ شادی ئے تهنیت کړه
دَ ماتم ئے تعزیت کړه

کهٔ خالی ئے درخانه کړه
دَ کالهٔ ئے خصمانه کړه

کهٔ سفر لره روان شی
دَ دهٔ پا تو فرزندان شی

خصمانه دَ دویو تل کړه
لوئے هلک واړه خوشدل کړه

عزم کش دَ همسایه شه
په ثواب بلند پایه شه

قبلوه دَ دهٔ ږ نځو نه
په دهٔ مږده خپل غمونه

چه دَ تا دَ دهٔ ترمیان وی
کهٔ دیوال وی کهٔ دالان وی

لوړول دِ ئے هاله وی
هغه وخت چه دَ دهٔ زړهٔ وی

فصل

حق دَ مرد په عورت

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

حق دَ مرد په زن بسیار دے
لزم تاو ته په شمار دے

په خدمت دِ وی تیاره
لکه وینځه پرستاره

چه میړهٔ ورباندِ راشی
دا دِ خوښه په خندا شی

کهٔ ئے زړهٔ غمونه غاندی
هم ښهٔ ورته وُخاندی

دا دِ زر پاسی له ځایه
په خندا دِ شی له ورایه

ځان دِ شوئ وته تیار کا
په بستر دِئے قرار کا

کهٔ موزے وی کهٔ پاڼزار وی
په خپل لاس دِئے داچار وی

په هر رنګ چه خوشی مومی
دَ میړهٔ په رائے دِ دروی

په رومال دِئے مخ پاک کا
په ډیر رنګ دِ پرے تپاک کا

څوچه زیر مه دَ طعام کا
په میوه دِئے خوږ کام کا

ناست ولاړ دِ هسے کاندِ
لکه حکم وی پرے باندِ

کهٔ پرے حکم هسے وینه
ورسره دِ طعام خورینه

ګنډه کاروبار دِ کاندِ
یا دَ روستو یا دَ وړاندِ

کهٔ میړهٔ ئے خندا غواړی
دا دِ خاندی هم دِ ویاړی

کهٔ غزل وی کهٔ بیتونه
کهٔ سندرے کهٔ صوتونه

مسخرے دِ کا آغازے
موافقے دل نوازے

کهٔ میړهٔ ئے خشمناک وی
دا دِ هم ځنے په باک وی

کار دِ نهٔ کا دَ بے باکو
سیب حنظل وی په غمناکو

دا ویل دَ پیغمبرؐ دی
په مشکوٰة کښے معتبر دی

چه په ژبه میړهٔ خوږ کا
خدائے به کل شادی په زوږ کا

لویه ورځ چه دَ محشر وی
دَ دے ژبه به لوئے غر وی

ترقفا به وی وُکښلی
غوټه سخته پرے وهلی

ځان دِ جوړ ساتی شوهر ته
بچ دِ نهٔ پریږدی خپل سر ته

کهٔ تنهائے خپل پدروی
هم دَ دے دِ ترے حذر وی

مجالس دِ له هغو کا
چه دَ نیکو ګفتګو کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زړه ځوانه هرزه کاره
لا په تیر بوډۍ مکاره
دا دنۀ پریږدی خپل ځان ته
چه آفت وی ځان ایمان ته
چه میړۀ چرته ولاړ وی
آرائش دِ تر ولاړ وی
دَ غمژن غوندِ دِ وُسی
هر هوس دِ له زړه یوسی
دَ میړۀ خونه دِ ژغوری
نامحرم ته دِ نۀ ګوری
لوړ آواز نۀ چه چیغار کا
په ادب دِ هره چار کا
پَل دِ نۀ آخلی له کوره
نۀ په ورځ نۀ په شپه توره
دَ میړۀ بے اجازته
نۀ دَ پلار کره رخصته
دَ میړۀ له ډکه کوره
که ضائع کا یوه توره
هغه توره به ماران شی
حواله به ئے په ځان شی
هره چار دِ په رخصت کا
ګنړه واړه خیانت کا
دَ میړۀ حکم دِ ژغوری
وفرمان و ته دِ ګوری
که خپل مال هومره لرینه
چه په کار دَ میړۀ شینه
په خندا دِ واړه ور کا
مال ځۀ ځان دِ هم ترے زار کا
که میړۀ ئے عیب ناک وی
هم دِ دے ته لکه پاک وی
مړدان هیڅ نۀ دی کړلی
تور سپین واړه دی بناغلی
چه پرے نوم دَ مرد وی پورے
واړه بنۀ دی که ئے ګورے
که دروغ کا که ریښتیا کا
دا دِ واړه آمنا کا
دا حدیث دَ محمدؐ دے
چه ئے نۀ منی مرتد دے
سجود خدائے وتہ کاوۀ شی
بے له خدایه سجود ئے
که نور چا وته روا وے
خپل میړۀ ترَ نساوے
چه عاصی وی له شوهره
په اسلام کښے ده کافره
که روژے کا که نمونځونه
خیر خیرات دُعا نفلونه
دا به واړه نۀ قبلیږی
که هر څوئے دیر ډیر کیږی
که جنت غواړی نیک زن
پری روځ سیمین تن

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په رضا کښے د شوهر دی
درته ایښی برابر دی

له بنځۀ ځایه بنځ عورته
خالی نۀ وی له حکمته

د دے چار هنر ورزی وی
هم دوبی وی هم درزی وی

هم لا وینځه وی همدمه
هم د خونے وی حاکمه

چه خوراک پخوی دا وی
باورچی وی هم سقا وی

کۀ ربښتیا وایم اے ناسه
لامیړۀ ته وی کناسه

مصاحبه وی حبیبه
دارو کړه وی طبیبه

باور وکړه بنځ عورت
په دُنیا کښے وی جنت

فصل

حق د عورتے په خپل میړۀ

د عورتے حق هم فرض دے
په مردانو لکه قرض دے

امانت دی د عورتے
د بنځۀ خدائے دی امانتے

په مردانو دی سپارلی
په خدمت دی کمارلی

بنځے مرد لره پیدا دی
د جنت پخے حلوا دی

په عزت ساتلے بویه
د دوئ چار ده پیره لویه

انبیاءؑ کۀ اولیاءؒ دی
له عورتو نه پیدا دی

بادشاهان ترے پیدا کیږی
بنځۀ خوانان ترے پیدا کیږی

بنځے محبوبے لکه گل وی
بنځۀ خوانان باندِ بلبل وی

کۀ ئے زۀ صفت ثناء کړم
مګر بل دفتر انشاء کړم

دوئ به څۀ وتاته ستایم
له حقونو به ئے وایم

نفقه کۀ اغوستن وی
دواړه توکه دِ د زن وی

لکه بنځۀ د خپل ځان غواړے
په بنځه به ئے ویاړے

په خوراک په پوشاک واړه
کل اختیار ورکړه ویاړه

کۀ مشئ کۀ دے کۀ چاروی
زیست روزګار دِ ئے په واروی

کۀ مئین په یوۀ نۀ وی
نۀ چه غم پرے باندِ تۀ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یائے بنۀ ساته تربنے نه
یا طلاق ورکړه دَدے نه

چه کابین ئے څۀ رسیږی
خیانت ئے نۀ رغیږی

څودَ تا په نکاح وینه
باندِ تل کړه دَ زړۀ مینه

تحمل ئے په جفا کړه
خشم کین له زړۀ رها کړه

چه دَ بنځو سره کین کا
مردی نۀ ده بد آئین کا

لکه زور دَ بنځے کم وی
دَدے عقل هم درهم وی

چه نۀ عقل نۀ ئے زور وی
دَهغو سره چه شور وی

کۀ عصمت عفّت لرینه
تورہ هم کنړه تۀ سپینه

په دشنام ئے صبوری کړه
مۀ زړۀ بدمۀ ترے دوری کړه

کۀ ئے وینے ډیر عیبونه
ورته مۀ کړه پیغورونه

په هل کۀ ورته خیر شی
په پرهر به ئے دلگیر شی

په اندام ئے پرهارمۀ کړه
دا په پوست کښے مالیدۀ کړه

تل پرے کار اندرونی کړه
نۀ پرے چار بیرونی کړه

چه دَ خونی کاروبار کړه
کاروبار دِ په مقدار کړه

چه ئے توان ونۀ رسیږی
هسے کار دِ پرے نۀ کیږی

مسئلے دِ زده کوینه
په نمانځه دِ کاندِ مینه

ورته دین بنا ئیلے بویه
چه دین زده کړه چاردِه لویه

نفقه چه ورکوینه
پرے دِ تل حلاله خورینه

کۀ لقمه ورکړی حرامه
پرے نیولے تۀ ئے عامه

کۀ ئے ملک وی یائے مال وی
تصرّف باندِ وبال وی

مګر حکم وتا درکا
یادَ تا په لاس چه زر کا

څو به بنځے پسے درومی
مرد به هومره ثواب مومی

فصل

حق دَ بنده کا نو په خپل څښتن

دَ بنده په څښتن باندِ
حق هم ډیر دے کړے کاندِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ خوراک وی کهٔ پوشاک وی — دا دواړه په بښهٔ ژواک وی
چه نهٔ دُلای نهٔ بر بند وی — کار خدمت وته به غوند وی
هسے کار دِ باندِ کیږی — چه ئے توان ورته رسیږی
بیهوده کهٔ بد وئیل کا — نهٔ دِ دهٔ وته کنځل کا
کهٔ بد خوئ کهٔ بد نهاد وی — بیادِ دی په مهر شاد وی
هر خواجه چه عبد لرینه — دے دِ تل شکر کوینه
چه خواجه دے بنده نهٔ دے — نور عالم بنده دَدهٔ دے
په مریونو چه ستم کا — هغه کس به خدائے په غم کا

فصل
حق دَ شاګرد په اُستاد باندِ

په اُستاد د شاګرد حق دے — چه اخستے ئے سبق دے
په معنیٰ لکه فرزند دے — چه دَدهٔ په حکم بند دے
شفقت چه په پسر کا — په شاګرد دِ لا بهتر کا
تل دِ بنه چه ورکوینه — چه آغوندی یا ئے خورینه
شریعت دِ ور بنئینه — عبادت دِ ور بنئینه

فصل
حق دَ پیر اُستاد په مرید په شاګرد باندِ

حق دَ پیر دَ اُستاد دواړه — دَ خپل پلار ترحق زیات غواړه
شیخ په قوم کښے کالنّبی دے — به ترآ به نسبی دے
چه حرمت دَ پیر نهٔ کاندِ — خود به خوار شی روستو وړاندِ
چه وینستهٔ په دین کښے سپین کا — هغه پیر دے کهٔ یقین کا
لکه حق دَ پیر اُستاد دے — دَ اُستاد هسے لازیات دے
کهٔ په رائے دَ هغے درومی — دین دُنیا به واړه مومی
چه دِ خلاص کاندِ له جهله — تهٔ دا کار مهٔ کنړه سهله
جهل لرے کا له تا نه — دانائی درکا اے جانه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث په حکم یاره
اول پلار چه د میلاد دے
دریم پلار دِ لا عزیز دے
چه ئے پوه په شریعت کړے
که په حق د اُستاد کورئے

هر سړی لره درنے پلاره
دویم سخر دریم اُستاد دے
چه درکړے ئے تمیز دے
د دے پلار به پیرمنت کړے
په دُنیا په دین مختورئے

فصل
حق د فرزند په پلار

دولس حقه د فرزند دی
اول بنه پاکیزه مزکه
بل چه ډکه شی عورته
چه فرزند ئے پاک پیدا شی
بل چه نوم باندِ کیږ. دینه
بل حلاله لقمه بویه
بل ختنه دِ ئے زر کاندِ
بل قرآن چه وُلولینه
بل حلال کسب دِ زده کا
بل دِ غشے زده کوینه
بل د آس سواری لازم ده
نور دِ زده کا ادبونه
خط دِ هم زده کا اے جانه
نور حصه له ماله 'ورکړه
بل له بنهٔ پاکیزه کوره
داحقونه ئے په خُائے کړه
پرے خوښیږ. ه که صالح دی
له فرزنده حیا غواړه

په خپل پلار باندِ څرګند دی
چه مایه ئے نهٔ شی ورکه
خُان دِ نیسی له صحبته
نهٔ ککړے باک پیدا شی
نوم دِ بنهٔ ورباندِ ږدینه
ترهرڅهٔ ده دا چار لویه
لازمی ده دا پرے باندِ
مسائیل دِ زده کوینه
چه خپل قوت لره هغه کا
چه پرے بنهٔ و پوهیږ. ینه
آب بازی ورسره هم ده
ناست ولاړ په مجلسونه
چه ژوندون کا بے آرامه
په دولت ئے بهره ورکړه
ورته بنه ناوے وګوره
ورته نور پیناهی خدائے کړه
خدائے ئے بنهٔ کړه که طالح دی
که حیا لری پرے ویاړه

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ په ستړکو کښے نو وی تل به دے سخن شنو وی

فصل

ثواب دَ قرآن چه فرزندۀ لولی

هر فرزند چه قرآن خوان وی دَ مور پلار دِ هم دَ ځان وی
په هر حرف به کونا کونے نیکئ بیاموے نه رکونے
په هر حرف ئے له دفتره څئ بدئ ئے لس لس زره
چه لس زره وُړی سیر کا بربند پت تردانه پیر کا
په فرزند چه څۀ خرخیږی چه قرآن دَدۀ زده کیږی
په دُنیا به مومی څومره لکه غر دَ اُحد هومره
مزد ثواب به هومره مومی لکه ج لره څوک دره می
یا جهاد کا یا غزا کا لس لس زره ئے بیا بیا کا
مزد ثواب دَ قرآن پیر دے ترحساب ترشماره تیر دے
په قیامت به ځئ دَ وړاندِ چه په خلد ئے داخل کا ندِ
چه کودک په دبستان شی دے اول تسمیّه خوان شی
مور و پلار دی دا درے تنه مسئله ده مبرهنه
هغه درنګ آمرزیده شی له اُستاده کۀ دِ زده شی
چه افضل دَ عبادت دے شک ومۀ کړه تلاوت دے
اِستاده چه قران لولی په نمانځه کښے قرآن لولی
سل نیکی به ئے وکښینه په هر حرف چه ئے لولینه
شل نیکی به دَ هغۀ وی په قرآن چه غوږ دَدۀ وی
کۀ ئے لوستل په ناستے وینه په نمانځه کښے ئے لولینه
دَ هغۀ به پنجاه بس وی دَ نغتونی به ئے لس وی
بے نمانځه چه تلاوت کا په هر حرف چه سل روایت کا
لس نیکی به دَ دۀ وینه دَ سامع به یوه شینه
چه درست ختم سړے وُکا دَ هغۀ بخره به څۀ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په جنت کښے یوه وُنه
سایه دار ه لویه پلنه

څوچه دا واړه دُنیا ده
ترڅنګه لویه لا ده

دَهغے ونے تر سریره
دے به کښینی خُما ړوره

رنګا رنګ میوے خوندونه
څوڅو رنګه نعمتونه

هرطعام چه ئے ړضا وی
زر به دهٔ ته مهیّا وی

رنګا رنګ به وی فرشونه
لون لون پوششونه

نور فراخ ارت قصرونه
بنګلی بنګلی محلونه

رنګا رنګ بنګلی اَسونه
مرصّع واړه زینونه

خادمان ښائسته حورے
په خدمت به وی حضورے

دَ قرآن له رویه خدایه
مکړه ماب هسے ځایه

مور و پلار خیلخانه واړه
دَجنت په خوشئ ویاړه

څوارلسم باب

ذکر خوارج دَباغی ذمی دَخراج وغیره

دانایان به په دا پوهه وی
خوارج هغه ګروه وی

چه خروج په امام وُ کا
دَامام اطاعت نهٔ کا

اهل بغی هم هغه دی
کهٔ باغی دی هم هغه دی

چه سر واخلی له امامه
ده بنادی په دوئ حرامه

مُسلمان بللی بویه
کلمه لولی حق ګویه

کهٔ بادشاه عادل داناوی
جنګ له دوئ سره ړواوی

چه په جنګ کښے ورته شا کا
کهٔ پسے درومی خطا کا

کهٔ ئے مومی پرهار ژلی
په تپاک بویه ساتلی

اَس وسله دِ ئے ساتینه
کاړوبار دِ پرے کوینه

چه آشتی وکا جنګ پریږدی
مال دِ واړه ورته کیږدی

چه باغی سره جنګ کاندِ
کهٔ مری صدرحمت ورباندِ

کهٔ بے شماره مقتولان وی
هغه واړه شهیدان وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل
ذکر د جزیه د غنیمت

په جهود جزیه سره وا ده — په هندو ده په ترسا ده
چه په ملک د اسلام اوسی — له هغو د جزیه یوسی
په درویش دولس درمه — چه ئ واخلی نورې غمه
په میانه بست و چهار وی — څلویښت په دنیادار وی
په زنانو کود کانو — په پیرانو بندګانو
جزیه هیڅ نه ده واجبه — څنې مه غواړه نائبه
غنیمت له دار الحربه — مواشی د نه کړی چربه
رخت لباس که بندګان دی — زر وسیم که اس اوښان دی
چه په دار اسلام راشی — ویش د ګډ په دا اشیاء شی
پنجک بخره د امام ده — نور د درست لښکر تمام ده
که په دا کښے څه نقصان کا — زیان د دین و د ایمان کا
د سوارۀ دوه بخره بویه — د پیکه یوه ده څویه

فصل د خراج

که آفت په مزکه کښیوزی — له هرچا نه خراج پریوزی
ملک چه فتح شی په توره — پرے خراج دے څما پوره
په هرګز د کښت د مزکے — یو درم قفیر بے کړکے
کزئ لوئ ارش نه پس دے — هرارش ئ شصت درشصت دے
په سبعه وزن درم دے — نه څه زیات وی نه څه کم دے
هر درم هفتاد دینارہ — داحساب لره وشمارہ
قفیز څه دے قفیز صاع دے — صاع اته رطل اوضاع دے
چه انګور په مزکه کیږی — لس درمه پرے سره غیږی
په سبزه پینځه درمه — نور پرے مه کړه زیات وکمه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه زعفران په ملک کرینه — خراج هومره څو زغمینه
میوه داره مزکه یاره — په حساب ئے هسے شماره

فصل
حکم د مرتد

خدائے دِ هیڅوک مرتدنۂ کا — کۂ مرتد شی تر وِدِځۂ کا
ورته زر عرضه ایمان کړه — په ایمان ئے په امان کړه
کۂ بدبخت ایمان رانۂ وړی — تیغ ورواچوه چه وُمری
دَ دۂ مال ساتلے بویه — دَ وارث ور کړے بویه
مرګ د ښځے روا نۂ دے — بند زندان ورلوه ښۂ دے
چه داخله په اسلام شی — نور دِ خلاص په اکرام شی

فصل
ذکر د مورث د فلاکت دے

چه مورث د فلاکت دے — هغه دا په روایت دے
چه ئے کا هغه به خوار شی — په دُنیا کښے به نیستکار شی
څوک چه مخ په لمن پاک کا — بیا لاسونه کنده ژواک کا
په ولاړے چه بښۂ نۂ وی — پوشیدن د پرتاکۂ وی
چه د غنړے پریږ دی څالہ — څوک په کور کښے څما لاله
چه پاره جامه اندر وی — څوک اخستی شړئ زر وی
چه په ناستے څوک ترینه — دستار دا هم بدوائینه
چه په شپه بربنډ سملی — نوک په هر سکین اخلی
چه د ورځۂ په درشایۂ — کښینی بد کا وُوایه
چه په کور کښے کا مُتیازے — یا تل خوری خوارۂ یوازے
چه بربنډ لامبی بدکار کا — د پیغور دی څان به خوار کا
چه مور پلار په نامۂ بولی — برکت ئے څئ له غولی
چه ادب د اُستاد ننۂ کا — بے دولت دے کله بښۂ کا

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په نام بولی عورته — خپل میړهٔ وی بے دولته
موردِ هم په نام نهٔ بولی — ځکه غم وړئ په غولی
چه په مات لونبی کښے خورینه — فلاکت نیسی ورځینه
په طعام باندِ چه پښے ږدی — چه لږ ډیر ښادی به پریږدی
په انګړ کښے چه پریږدینه — خس رخا شاک غم به ورځینه
څوک چه پرے کا په غابنونو — نوک دا کار کا دَ غمو نو
چه په مات ږمنځ سر ږیره — ږ منځوی بد کا په ږیره
په شرکت چه ږ منځ کوینه — فلاکت به پرے ورشینه
په ولاړ چه ږ منځ کوینه — دا هم بده ویلرینه
چه په شپه جارو جار باسی — په کور خیر ترے و باسی
چه دَ نغن پو تکی خورینه — منځ پریږدی نیستی ورځینه
په څرګند چه څوک دخول کا — غم اندوه به پرے نزول کا
دخول هسے رنګه بو یه — چه پرے شک نهٔ شی څوک څو یه
چه دخول کښے څوک ویل کا — واړه بد کا شرمول کا
چه زنا کا آخر خوار شی — ځوانی مرګ نا برخوردار شی
چه خوراک کوی په ملا ستے — دَ دولت په کم و کا ستے
چه خوارهٔ خوری په ولاړے — وَ دولت له ملکه ولاړے
کهٔ په کټ باندِ خوارهٔ خوری — زده کړه دا خوارهٔ بښهٔ نهٔ خوری
چه په پښو کښے دِ پا ئزار وی — خوارهٔ دا هم بد کار وی
دَ ځُنب سره چه خورینه — فلاکت به پرے ورځینه
پوست دَ هوړے پیازمهٔ خیزه — دَ نیستئ په لارمهٔ خویځه
په جامه جارو کوُ نه — دَ ځائے بَنه نهٔ ده لالنه
چه خلال په هرهرچوب کا — کنده کار دے کنده توب کا

دَ چا رپا یو په ګوا رے
ګډیدهٔ مهٔ کړه په لا رے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

فصل

ذکرد ایام منحوسه

هره میاشت وی دوه ایامه — نحس اے نیکو فرجامه
پکښے کارکۀ زیات وکم وی — کړۀ ئے نۀ بویه چه غم وی
څلورم د محرّم دی — ورپسے ئے بیا پینځم دی
د صفر غرّه ده یاره — ورپسے شلم وُشماره
د ډومبئ خورځوارلسم دے — ورپسے پوره شلم دے
د دویمے خور غرّه ده — اتلسم هم نۀ ښۀ ده
د دریمے خور لسم دے — ورپسے ئے یولسم دے
څلورمه خور وایمه — څلورمه بیا لسمه
په رجب کښے ده دویمه — ورپسے بیا دیارلسمه
د شعبان ده څلورمه — ورپسے ده بیا شلمه
په روژے کښے ورځ دریمه — ورپسے ده بیا شلمه
د شوال شپږم اتم دے — ذی قعده دویم انم دے
ذوالحجه شپږم اے یاره — ورپسے شلم وُشماره
بیا په هره میاشت نابه ده — چه روستئ چهارشنبه ده
داحساب دِ بیا دستاشی — چرے نۀ وی چه خطا شی

فصل

ذکرد رجال الغیب

داهم زده کړه کۀ تورزن ئے — په پرکاش په ښکارمیئن ئے
د جهان کۀ څوک آګاه دی — یا سبانان رجال الله دی
په اتۀ کُنجو نه کرځی — یا سبانی کا څکه غورزی
مخامخ کۀ څوک پرے درومی — فیروزی به بیا نۀ مومی
چه د دیو په کین څنګ وی — یا ترشا نور دِ آهنګ وی
استمداد دِ ځنے غواړی — د نصرت په کار دِ ویاړی

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کنجغ باشم کوره　　کنجغ بشم اے روره
کنجغ باشم زده کړه　　کنجغ اشم شماره کړه
دوئ به وی په دامکان کښے　　فکرښۀ بویه په ځان کښے

فصل

فالنامۀ مصحف

لون لون دی فالو نه　　طورطور دی قالونه
درمال د منجم دی　　د جفری د نور هم دی
هرسړے چه مُسلمان دے　　د هر کار پیشوا قرآن دے
چه هر کار په مومن راشی　　په قرآن د ِ ا لتجاء شی
په قرآن د ِ ئے نظر شی　　کا د ِ هسے چه فال ورشی
اول هسے رنګه بویه　　کۀ فال اچوے اے خُو یه
اول شرط ئے طهارت دے　　په وضو کښے برکت دے
فاتحه یو خُل وُلو له　　اخلاص ولوله درے خُله
دا آیت بیا له پسه　　تۀ ئے ولوله اے کَسه

وَمَنْ یَّتَوَکَّلْ عَلَی اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ اِنَّ اللّٰهَ
بَالِغُ اَمْرِهٖ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِکُلِّ شَیْءٍ قَدْرًا ط

دا آیت ورپسے بیا دے　　درے ځله چه زیبا دے

فَاِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِیَ اللّٰهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط
عَلَیْهِ تَوَکَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ ط

ورپسے بیا دا دُعا ده　　درے ځله په لوست روا ده

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ تَوَکَّلْتُ عَلَیْكَ وَتَفَاوَلْتُ بِکِتَابِكَ
فَاَرِنِیْ هُوَ الْمَکْتُوْبُ فِیْ سِرِّكَ الْمَکْنُوْنِ فِیْ غَیْبِكَ

مصحف بیرته کړه وګوره　　حرف د سطر روره!
بیا اُوۀ ورق شمار کړه　　په اُومه سطره کار کړه
چه ئے حرف په سر کښے ورشی　　په نیک بد ِ بیا نظر شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ الف ورشی په فال کښے ستا خوبی ده په هرحال کښے
په غلیم به دِلاس بر شی کامرانی شادی به درشی
بَ په فال هر کوړه ښه ده دَغلیم چه اندیښنه ده
هرمراد به دِ حاصل شی بخت دولت به دِحاصل شی
تَ په فال کښے ده کړ له توبه کار شه کهٔ عاقل ئے
په هر کار چه عزم ستا دے ترے په شاشه چه خطا دے
ثَ په فال کښے برکت ده مبارک په هر نیت ده
ښهٔ دولت ده ښهٔ نعمت ده سعادت ده عنایت ده
جَ په فال کښے جهد بویه چه مراد بیا مومی حُو یه
په کوشش به مقصود مومے کنړه تش خالی به دروے
حَ په فال کښے ښه ده ډیره نرحساب ترشماره تیره
هم به ستا غلیم نابود شی میسّر په هر مقصود شی
خَ په فال کښے کامرانی ده ولے لږ پکښے گرانی ده
تصدّق خیرات ئے روره بلا آړوی له کوړه
دَال په فال کښے حُما لاله بهتری ده کال تر کاله
تل به تهٔ مومے بے دیبه خورمی شی له غیبه
ذَال په فال خواری ستا لږه په حاسد خواری شوه ویاړه
کهٔ دِ کار وبار پریشان وی سرانجام به په هرشان وی
رَ په فال حاجت روا ده ویاړه هره شادی ستا ده
تهٔ به زر صاحب دَجاه شے یا به خان یا به بادشاه شے
زَ په فال نهٔ ده زیان منه سودئے هم نشته لالنه
کهٔ په زړهٔ دِ څهٔ مقصود شته نهٔ ئے زیان شته نهٔ ئے سود شته
سَ په فال کښے سعادت دے دَخوشئ هم بشارت دے
بدخصلت له څانه دور کا همیشه خوشی سرور کا
شَ په فال کښے شقاوت دے مکړه کار چه دِ په نیت دے

POHA
پوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که په زړهٔ د شوروشر دے
د غلیم سره خطر دے

ص په فال کښے صبوری کړه
له تلوارے نه دوری کړه

که تړ کار په صبر غواړے
صبر ښهٔ دے و به ویاړے

ض په فال ضامنی مهٔ کړه
نورچه ستا رضا هغه کړه

په هر کار چه عزم وکړے
کړه اندوه مکړه چه ښهٔ کړے

ط په فال طهارت وکړه
د هر زړهٔ زیارت وکړه

په توبه کښے چه ستا مرګ وی
تردا به به نورځهٔ برګ وی

ظ په فال مراد حاصل ده
د غلیم دعوی باطل ده

و هر کار و تړ چه مخ کړے
سخ دے ستا چه بل به سخ کړے

ع په فال ښهٔ علامت دے
له غلیمه سلامت دے

نهٔ اندوه نهٔ به ئے غم وی
په غلیم به ئے ماتم وی

غ په فال کښے غمګین مشه
په خوشئ کښے زړهٔ روشن شه

صدقه خیرات چه ورکړے
په غلیم به بیا ظفر کړے

ف په فال کښے حکم دا دے
چه هر کار پکښے روا دے

یو سفر پکښے نهٔ بویه
اندیښنه ده پکښے لویه

ق په فال کښے د چا کار دے
کړه ئے نورځهٔ انتظار دے

تړ به مرد معتبر شے
سخاوت کړه چه لاسر شے

ک په فال کښے سود من نهٔ دے
کاف فیروز په دښمن نهٔ دے

که ځهٔ پیرے که ځهٔ پلورے
سود د نشته زیان به ګورے

ل په فال دے د پیر ښا غلے
په خوبئ د دے راغلے

چه خصلت د فرخنده وی
خانده ستا دښمن بنده وی

م په فال نهٔ دے ښا غلے
پورا نهٔ دے راغلے

که غلیم لرے د وړاندے
مکړه قصد په غلیم باندے

ن په فال خوبی لرینه
غم اندوه له دله وړینه

په مانځه کښ د دل مائل کړے
لا به کام دولت حاصل کړے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

واؤ په فال دولت وصال دے — درست کمال اندر کمال دے
حاجتمند به د چا نۀ شے — که هرڅو معمر تۀ شے
ۀ په فال چه د چا راشی — نور به غم د ډډه له چا شی
په دُنیا به وی بے غمه — خوش به ورشی ترا رمه
لا په فال کښے که پوهیږے — نفۀ حرف دے که پوهیږے
واګشت بویه له غرضه — چه پاتیږی بے مرضه
ۍ په فال غم د اعدا شه — تل خندا کړه عشرت ستا شه
که خپل یار له تاجداوی — نشته غم چه وصال بیاوی

پینځلسم باب

ذکر د تسابیح د حاجت د نماز

که ئے واورے تسابیح دی — په خبر سره صحیح دی
بل تسبیح تردا به نشته — تسبیحات چه هرهرڅۀ شته
هم تسبیح شی هم تحمید شی — هم تهلیل تکبیر تمجید شی
څوک چه دا تسبیح ادا کا — آمرزش په دم پیدا کا
که ئے ډیروی کناهونه — واړه ځی په غاړه غرونه
دا تسبیح که څوک په ځله — هره ورځ لولی سل ځله
د دۀ تن به چه هنګام شی — د دوزخ پرے اور حرام شی

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ
اَکْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ

بل تسبیح دے تل ئے وایه — آمرزش غواړه له خدایه
سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ
وَبِحَمْدِهٖ

بل تسبیح هرکوره بنۀ دے — چه لائق د دۀ هغۀ دے
سُبْحَانَ اللّٰهِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ رَبِّ الْمَلٰئِكَةِ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وَالرُّوحِ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلٰئِكَةِ وَالرُّوحِ ط

بل تسبیح دے حُما جانہ نازل شوے لہ رحمانہ

سُبْحَانَ الدَّائِمِ الْقَائِمِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْقَائِمِ
الدَّائِمِ سُبْحَانَ الْحَيِّ الْقَيُّومِ سُبْحَانَ الْحَيِّ
الَّذِي لَا يَمُوتُ وَلَا يَنَامُ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ط

بل تسبیح ھر کورہ بنۂ دے چہ ئے لولے دھغہ دے

سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ ط سُبْحَانَ اللّٰهِ الشَّدِيدِ
الْاَرْكَانِ ط سُبْحَانَ مَنْ يَّذْهَبُ بِاللَّيْلِ وَ يَأْتِي
بِالنَّهَارِ ط سُبْحَانَ الْمَنَّانِ ط سُبْحَانَ فِي كُلِّ مَكَانٍ ط
لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
الْكَبِيرُ الْمُتَعَالُ ط

بل تسبیح دے مُسلمانہ تہ ئے لولہ تسبیح جانہ

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَقُّ الْمُبِينُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
الصَّادِقُ الْعَدْلُ الْيَقِينُ ط لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ
سُبْحَانَكَ اِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ۔ اَلتَّحْمِيدُ اَلْحَمْدُ
لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ حَمْدَ الشَّاكِرِينَ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا
مُبَارَكًا اَبَدًا ط دَائِمًا بِجَمِيعِ الْمَحَامِدِ كُلِّهَا عَلٰى جَمِيعِ
نَعْمَائِهِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ قَبْلَ كُلِّ حَالٍ ط وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ
حَالٍ وَ بَعْدَ كُلِّ حَالٍ اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ
وَ اَتُوبُ اِلَيْهِ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ط

داصلوٰۃ د تسابیح دے پہ کتاب کښلے صحیح دے
پہ څلور رکعته کیږی فاتحہ سورت رغیږی
ھر سورت چہ وی ادا کړہ اِستادہ بیا ادا دا کړہ

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ
وَاللّٰهُ اَكْبَرُ ط

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا تسبیح پینځلس ځله
په قیام کښے تهٔ ولوله
بیا رکوع لره روان شه
په رکوع کښے تسبیح خوان شه
پس لس ځله ئے وُلوله
په قیام وکړه بیا ځله
بیا به لس ځله وُلوله
و سجود ترچه به چلے

فصل
دَ حاجت دَ نمانځه

کهٔ مهم دَ سړی پریوزی
یا په غم په اندوه کښیوزی
دانماز دَحاجت بنهٔ دے
هرحاجت لره لیمه دے
لکه نمونځ دَ تسبیحات دے
داهم هسے رنګ صلوٰة دے
قل هوالله کهٔ وُوائی
دَ تسبیح په ځائے هم بنائی
په سلام چه نمونځ ادا کا
دادِ زده کا چه بیا دا کا
مخ دِ کښیږ دی په بنی لوری
په سجود لکه نسکوری
قل هوالله پا نزده ځله
دِ وُلولی له او له
بیا دِ مخ کا په کینږ لوری
دَ اخلاص په لوستِ شوری
داهم څو پینځلس یاره
نور دِ غواړی حاجت یاره
هرحاجت کهٔ مسئلت کا
خدائے به درست هغه حاجت کا

فصل
دَ نمونځ دَ شب برات

دَ برات په شپه لازم دے
سل رکعته نمونځ داهم دے
په هرهر رکعت اے یاره
فاتحه اخلاص لس واره
همګی پنځوس سلامه
دَ نمانځه شی چارتمامه
قل هوالله چه ئے شمارشی
همګی واره هزار شی
چه دا نمونځ سړے ګذارینه
دیرے بے حد ثواب لرینه

نمونځ دَ شبقدر

دَ شبقدر په شب زده کړه
دوه رکعته نمونځ په شپه کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

وِتر وُکذاره بیا دا کړه — کهٔ توانیږے هرشب دا کړه
هر رکعت فاتحه خوان شه — اُوهٔ خُله اخلاص دان شه
بیا سلام دَ نمانځه وکړه — استغفار دِ شروع تهٔ کړه

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَیُّ الْقَیُّوْمُ
غَفَّارَ الذُّنُوْبِ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ

استغفار اُوهٔ کړته — چه آخر کړے پرے همته
تهٔ به وُ باخشهٔ شے یاره — تنها نهٔ له مور و پلاره
دیر ثواب دَ دے نمانځه دے — څوئ کښم چه هومره نهٔ دے

فصل
دَ نمونځ دَ اختر په شپه

دَ اختر په شپه اے جانه — پس له ماه ر مضانه
نفل نمونځ څلور رکعته — دی په تا له روایته
قل هوالله پنځوس خُله — په رکعت رکعت ولوله

فصل
دَ لوئ اختر په شپه

چه دَ لوئ اختر شپه راشی — بویه دا چه نمونځ دِ داشی
نمونځ دے څلور رکعته — دَ الحمد له سورته
بیا آیته الکرسی جانه — اخلاص درے خُله اے خُوانه

... ...

چه مهم لری دَ وړاندِ — په هفته دِ دا ورد کاندِ
دَ اتمام هفت نماز دے — دَ حاجت دپاره ساز دے
هم ثواب لری بے حده — کهٔ ئ تل کُذاری لابنهٔ دده

نمونځ دَ جُمعے په ورځ

په جُمعے څلور رکعته — نمونځ دے اے صاحب حاجته

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه لانمونځ دِ کړے نۀ وی
دَ نمانځه پخوا لا بنۀ وی
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس خله

نمونځ دَ شنبے په ورځ

دَ شنبے په ورځ چه سازشی
څابنت څلور رکعته نمازشی
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس خله

نمونځ دَ یکشنبے په ورځ

یکشنبه دولس رکعته
نمونځ دے اے صاحب حاجته
هر رکعت فاتحه لوله
قل هو الله پنځوس خله

نمونځ دَ دوشنبے په ورځ

دوشنبے په ورځ بیا بویه
شل رکعته نمونځ اے خویه
فاتحه په رکعت جانه
بیا آیة الکرسی خوانه
بیا اخلاص بویه لس خله
په دا رنګ دا نمونځ ولوله

نمونځ د سه شنبے په ورځ

سه شنبه لس رکعته
نمونځ دے اے صاحب حاجته
هر رکعت فاتحه بویه
بیا آیة الکرسی خویه
بیا چه ورځ دَ سه شنبے وی
دَ زوال په وخت دا به وی
نمونځ کړه اتۀ رکعته
هر رکعت له روایته
په اول کښے فاتحه ده
بیا اُوۀ خله سوره ده
په روستی چار کښے درے خله
اِذَا زُلزِلَتْ وُلوله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نمونځ د چارشنبې په ورځ

چارشنبه دیرش رکعته — په شپه نمونځ کړه په څونیته
یوځل سبع مثانی ده — یوځل آیة الکرسی ده
یوځل آمن الرّسول دے — قل هو الله بیا قبول دے
بیا په ورځ څلور رکعته — نمونځ دے اے صاحب حاجته
نماز پیشین چه وګذاری — بیا به دا همت وګماړے
فاتحه ده له اول له — قل هو الله بیا شل ځله

نمونځ د پنجشنبې په ورځ

پنجشنبه څلور رکعته — نمونځ دے اے صاحب حاجته
فاتحه ده له اول له — قل هو الله پینځه ځله
بیا نود ۹۹ ونه نام یاد کړه — بیاحاجت غواړه زړه بناد کړه

نود ۹۹ ونه نومونه د باری تعالیٰ

نود ونه نام د باری دینه — مندرج په کتابونه
غور چون پکښے نه نوی دی — چه په قول د نبیؐ دی
هر مومن چه ئے لولینه — ترجنته به ورشینه

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمَلِكُ الْحَقُّ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ
یَا اَللّٰهُ یَا رَحْمٰنُ یَا رَحِیْمُ یَا مَالِكُ یَا قُدُّوْسُ
یَا سَلَامُ یَا مُؤْمِنُ یَا مُهَیْمِنُ یَا عَزِیْزُ یَا جَبَّارُ
یَا مُتَكَبِّرُ یَا خَالِقُ یَا بَارِئُ یَا مُصَوِّرُ یَا غَفَّارُ
یَا قَهَّارُ یَا وَهَّابُ یَا رَزَّاقُ یَا فَتَّاحُ یَا عَلِیْمُ
یَا قَابِضُ یَا بَاسِطُ یَا خَافِضُ یَا رَافِعُ یَا مُعِزُّ
یَا مُذِلُّ یَا سَمِیْعُ یَا بَصِیْرُ یَا حَكِیْمُ یَا عَدْلُ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

يَالَطِيفُ يَاخَبِيرُ يَاحَلِيمُ يَاعَظِيمُ يَاغَفُورُ
يَاشَكُورُ يَاعَلِيُّ يَاكَبِيرُ يَاحَفِيظُ يَامُقِيتُ
يَاحَسِيبُ يَاجَلِيلُ يَاكَرِيمُ يَارَقِيبُ يَامُجِيبُ
يَاوَاسِعُ يَاحَكِيمُ يَاوَدُودُ يَامَجِيدُ يَابَاعِثُ
يَاشَهِيدُ يَاحَقُّ يَاوَكِيلُ يَاقَوِيُّ يَامَتِينُ
يَاوَلِيُّ يَاحَمِيدُ يَامُحْصِي يَامُبْدِئُ يَامُعِيدُ
يَامُحْيِي يَامُمِيتُ يَاحَيُّ يَاقَيُّومُ يَاوَاجِدُ
يَامَاجِدُ يَاوَاحِدُ يَااَحَدُ يَاصَمَدُ يَاقَادِرُ
يَامُقْتَدِرُ يَامُقَدِّمُ يَامُؤَخِّرُ يَااَوَّلُ يَااٰخِرُ
يَاظَاهِرُ يَابَاطِنُ يَاوَالِيُ يَامُتَعَالِيُ يَابَرُّ
يَاتَوَّابُ يَامُنْعِمُ يَامُنْتَقِمُ يَاعَفُوُّ يَارَؤُفُ
يَامَالِكَ الْمُلْكِ يَاذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ
يَارَبُّ يَامُقْسِطُ يَاجَامِعُ يَاغَنِيُّ يَامُغْنِيُ
يَامُعْطِيُ يَامَانِعُ يَانُورُ يَاهَادِيُ يَابَدِيعُ يَا
بَاقِيُ يَاوَارِثُ يَارَشِيدُ يَاصَبُورُ يَاصَادِقُ
يَاسَتَّارُ بِرَحْمَتِكَ يَااَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ط

خاتمه

شکرانه د کتاب څوبیته

شکر دا چې په آخر شۀ
دا کتاب م تمام زر شۀ

په ۷ روژه کښې التیام شۀ
د اختر په ورځ تمام شۀ

چه تمام م په خامه کړه
مالۀ نوم فضل نامه کړه

ترجمه ئے هم یو نوم دے
کۀ ئے بولے څوک موسوم دے

څوم توان څوم مجال وو
دام حال دام مقال وو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کارمدار په استعداد دے — یوشاکرد دویم استاد دے
دست بالائے دست یادیږی — په خپل کارهرڅوک ښادیږی
ماته خپلے شړوبے ښے دی — کهٔ خوږے دی کهٔ تروے دی
وردِ نیشی دوه لاسه — نهٔ ترخط نهٔ تر قرطاسه
یوچه خام بیهوده خط کښی — بل کهٔ ښهٔ کښی چه غلط کښی
دَ کاغذ مخ توره وینه — خط چه خام بیهوده کښینه
خدائے واخله کهٔ ښهٔ خط کښی — کهٔ ئے ځائے په ځائے غلط کښی
دَ خبرو پیوند کړونے — دَ جگړ وینے خورے وینے
چه هرحرف سره پیوند کا — دَ جگړ په وینو شخوند کا
په مثال لکه جولا دے — چه په خپل قماش آگاه دے
په شماره ئے دی تارونه — زیات وکم ئے دی عارونه
کهٔ یوتارئے زیات وکم شی — په وودنے ئے ساز غم شی
څوک دیبا اوکم خواب ووبی — څوک شړئ اوخمتا ووبی
په وودل کړه سر په څړیکی — پکښے کا دَ زړو لیکی
تنستے ږدی دَ ململو — کشیدے کا په بخملو
چه م حکم باندِ رائے کړ — ما دا هومره کارنمائے کړ
کهٔ تردا څوک ښهٔ ووائی — مړک ئے مهٔ وه تل دِ پائی

والسّلام خبره تم شوه
کهٔ په بیش وه کهٔ په کم شوه

په ورځ دَ دوشنبے ۲۵/ ماهِ رمضان المبارک غفط سنه ۱۰۸۹ھ
- ختمه شوه -

کاتب : غلام لطیف "چپرهارے" ۲۹/۱/۱۹۹۹ء

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اُوم توک

POHA

بازنامه

پوهه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

خدایه تهٔ په زړهٔ کښے اچوے دا مینے
چه پښے کینږم پیژندلی دی دا مینه
په طفلئ م د چمنو د چتو بنکار کړ
په غرځهٔ پسے به تلم په سم په غرونه
ورپسے م له مرغونو سره یکار شو
هم م کړهٔ د دُنیا خورنګه کاروونه
په داسن چه تر شپیتهٔ م زیاتی دوه دی
اورنګ زیب له هند وباره دی راغلی
داخلور پینځه کالونه د فتور دی
مغل واړه په ارمان د انتقام دی
د مغل تکیه په زر په ملک په مال ده
بے وطنه بے اولسه تنها کښی
په دا تور کښے کهٔ دوه نوردی دریم زهٔ یم
نوره هم په مخکښے شته کهٔ کم و زیاته
کتابونه د هر فن راسره نور شته
په هر زړهٔ کښے چه میشتهٔ وی هغه مینه
زهٔ څهٔ لوے هلک م سل څوئ اونسی دی
څوک بنکارونکا په غشی تیر اندازدی
څوک په غرهٔ په صحرا کړئ بنکار د سوکا
څوک په بنکار د تازی سپی هوس لرینه
خدائے د واړه لری تل په ډیر دولت کښے
پلار نیکهٔ م هم د بنکار هوس ووکړے
کهٔ د تورے کهٔ د بنکار دا دوه هنره
نهٔ م کار په زرداری نهٔ په ساتل دے

چه په بنکار د مبتلا کړم ته م وینے
تا څما په زړهٔ کښے څائے کړله قرینه
څلمیتوب م له هوسیو سره یکار کړ
په تو پکو م ویشتلی دی زرګونه
څان او هوش م همکی د باز د بنکار شو
هم م هیڅکله ناغه نهٔ وو بنکار و نه
پښتانهٔ مغل په څو سره اخته دی
د اتک حسن ابدال ټے دی نیولی
چه مغل د پښتانهٔ په تیغ چور چور دی
د خوشحال د سر په فکر صبح وشام دی
د خوشحال خټک تکیه په ذوالجلال ده
غرهٔ په غرهٔ لکه غرځهٔ په غرونو تښتی
خلاص په هسے وخت د بنکار له کاره نهٔ یم
د باز ونو مینے راوستم تر سوا ته
خو څما له بازنامے سره سرورشته
کفتګوئے همکی له هغے شینه
همکی د بنکار د مینے هوسی دی
څوک څما غوندِ عاشق په بنکار د باز دی
په تو پک سره د غرهٔ د غرځنو کا
هر یو خوښ په هغه بنکار وی چه ئے مینه
تل د ژوی په عشرت په فراغت کښے
دا هنر دے په میراث مونږه راوړے
راته پاتے له آبا دی له پدره
کاروبار م په بخښل او په خوړل دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کۀ سخا دہ اوکۀ ټورہ کۀ خامہ دہ
پہ دا درے توکہ ځما تللی نامہ دہ

وَاولاد وَتہ مِ پاتے شوہ دا واړہ
کۀ مردان وی ترے بہ نۀ غړوی غاړہ

پہ فارسی مِ بازنامہ دَ هُنر کښلی
پہ پښتو مِ ورتہ وکښۀ نظم کښلی

پہ نهۀ سوہ اونولس بیتہ تم شوہ
خا تمہ دَدے بنۀ نظم پرستم شوہ

کۀ بنسټینہ کۀ علاج کۀ غزلونہ
همکی لری اوۀ څلویښت فصلونہ

زر پینځہ اتیا کالونہ دَ هجرت دی
دَ رجب ورځے آخر شوے نهایت دی

پہ لړم کښے مِ شروعہ بازنامہ کړہ
پہ شپږ ورځے مِ تمامہ پہ خامہ کړہ

چہ ځما ژبہ ګویا پہ شاعرئ شوہ
تۀ بہ ولے چہ ګویا پہ ساحرئ شوہ

طبیعت مِ پہ مثال دَ باتور باز دے
کۀ ئے ګورے دَ هرشی وښکارتہ سازدے

لهومبے فصل پہ بیان دَ پیژندګلئ دَ باز کښے

بازکۀ لوئے وی هم تیز پروی بے بهادی
دَ نورچا غرض پرے نشتہ دَ بادشاه دی

پہ بازونو کښے کتهٔ باز نیسہ غوره!
رنګ ترکیب وَتہ ئے مۀ ګوره پسره

کتهٔ ئے سر اوږے ئے پلنے ستړکے کراغے!
کتهٔ ورمیږ لنډه لکئ پرے نیسہ کاغے

اوږدمار سر غاړہ اوږده اوږده لکئ
بازهم دا دے سینہ ور غونډے پنډئ

ستړکے سرے دَ باز نشان دَ شجاعت دے
کهرباستړکے دلیل دَ بنۀ خصلت دے

کۀ دَ باز دَ پوزے سر کبود نمائے وی
پہ لکئ کبود دلیل ئے دَ بنۀ رائے وی

څودَ باز پنډئ لنډئ وی پر قوت وی
څودَ باز مبنوکہ لویہ بے همت وی

دَاوږو ترمینځ دَ باز پرونہ بنکاریږی
لکہ سیب همغه بهتر شماریږی

چہ دَ باز ستړکہ وتلی وی څۀ ږده
دانشان ئے دَ شوخئ دے کړہ ترے ږده

بازچہ ډیر خریطه دم وی دَ خندا وی
لږ لم څوری دَ لوئے بنکار دَ نیوو دا دی

زورند لم لنډه ئے غاړہ سپینے ستړکے
لینګور نری بتر کنډہ تر چرګے

کۀ تیز پروی دلاور وی چار دانګی
بد دی نہ ترے صدقہ نامرد لانګی

زیړے پښے دَ یارهم نۀ دی خوش نمایہ
ډیر اوږده شاه پرکۀ بنائی کۀ نۀ بنایہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دویم فصل په بیان د رنګ د باز کښے

د بازونو رنګ ته مهٔ غږ وه ستر کے
که تیغون دی مګر نشته سپینے چرګے

تیغون باز ځکه په قدر په قیمت دی
چه کمیاب شو نه چه ښهٔ په شجاعت دی

تر تیغون نه قیر خیشن بهادران دی
په میر شکار باندِ دا دواړه لکه ځان دی

بال د قیر د تقدری غوندِ نمود وی
خوشین سُور په سینه پاس په رنګ کبوډ دی

بیا په دا پسے سُور باز چه سیاه فام وی
تور منقاد تور ه ئے ژبه تور ئے کام وی

زیر سُور فام لوئے کنجکی دیبا پر
په هُنر په خوئ بهتر وی تر چهر

سیه پشت کهٔ څهٔ سختی لری په ځانه
که ئے ساز کړی نور ئے وګور ه مړانه

تر دا څو رنګه ښهٔ نهٔ دی نور رنګونه
کهٔ پوهیږے خو منه مکړه جنګونه

تور زری کهٔ په سارهٔ کښے مستحکم وی
په هُنر په خوئ خصلت تر نور وکم وی

زیر باز ونه کهٔ شوده کهٔ ګل بادام دی
په سارهٔ کښے تر تور باز پورے بدنام دی

دریم فصل په بیان د اشیان د باز

چا اشیان چرے د باز نهٔ دی لیدلے
د اسپین غر چه له قافقاسه را روان دے

په میزان کښے راخوارهٔ شی له شماله
د اسپین غر تر حساب ډیر لری بناخونه

د هر غرهٔ چه وُنے ډیرے هوا بنهٔ وی
ابتدا په سپینو غرونو باندِ راشی

چه په غرونو کښے سارهٔ د ژمی ډیر شی
په میزان کښے په عقرب کښے ډیر نیول شی

باز هغه چه بنهٔ هوښیار دام دار نیولے
د هوښیار دام دار باز نهٔ وی پرکیدلے

چه هوښیار دام دار ئے ونیسی په تله
د اشیان ئے خو یو نوم دے اوریدلے

لکیدلے په خطا په هندوستان دے
د ظلمات په نواحی کښے لری جاله

په بناخونو کښے رائیشی باز ونه
هغه غرونه ئے مکان په ورځ په شپه وی

خوښ له واؤرو وریدلو په هوا شی
تار په تار سره خوارهٔ په کوم سیر شی

په لیندهٔ کښے خال خال تیز پرنیول شی
بل هغه چه نا پکار دام دار نیولے

دا نادان وی پرکیدلے ترهیدلے
په سپینو کښے ئے پرانزه اے دله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دام دار څخه په تور کښے و تور یږی
خو ژوندی وی هغه خوئ نۀ هیریږی

د نا دان دام دار نیولی باز په صبر
په روږو پرانزه مکړه بیړه جبر

په بنۀ ځائے کښے ساته تماغه ورکړه
بیړکیدل خواږی واړه ترے بدر کړه

په خوراک د بنو طمعو چه بنۀ دوناب شی
بیا د هله د کشادو د طناب شی

د عقرب نیولی لا ساتلی بو یه
د لیندے نیولی تنده دی وئے سو یه

د یږ باز ونه په خطا دی یا په دوم دی
په شیروان په ترکستان کښے هم هجوم دی

څکه سپین تیغون راځی له ترکستانه
د یږے نیسی تول پرے راشی له آشیانه

نۀ چه کښی په باز و نو کښے باز سپین شته
سپین چرغونه سپین شنقار او هم شاهین شته

مالیدلی دی په ستر کو شکرے سپینے
څو بانے سپینے تیغون په رنګ مهینے

ابلق باز ابلق جړه م دی لیدلی
چه دما په غړۀ دما دام دار نیولی

په کار غانو په تمځرو کښے تیغون شته
په چمنو او په سپیر کنډو کښے داګون شته

څلورم فصل په بیان د ترناک باز کښے

چوز باز ونه په عزت قیمت لاشک دی
هنرمند د بنکار په کار کښے داشتولک دی

داشتولک بوزم تولک نۀ وی بے خال
لالیدلی مرغئ نۀ وی په خال

داشتولک لړه هوښیار سړی بائدۀ دے
چه ئے واکه کار د هر هوسناک نۀ دے

داشتولک شنقار کۀ چوز واړه سړۀ زړۀ دی
دلاور دی هنر ور دی هم نیک پر دی

داشتولک چه په توپئ کښے وویږیږی
نور ئے لرے کړه په پچه نۀ پیریږی

چرغ خو چوز وی په کار نۀ دی ترناک
مګر جاړے مارے و نیسی بد څواک

داشتولک شاهین د چا په حساب شمار دی
چوز دامے ئے په هزار حیله پکار دی

کۀ شاهین دی خو پسندلی اشیانی دی
کۀ ئے موے لا بهتر شاه جهانی دی

ترناکه با بنه بنه په غم لوړه
چه بهیری درته نیسی نور په څو ده

کۀ لګړکۀ ترمیته کۀ بیسره ده
د دے واړه په چوزئ کښے چاره بنه ده

اشیانی شکره بهتره تر دامی ده
ترناکه چه ساتلے شی خامی ده

اشیانی لګړ خومۀ پیره په تۀوره
ترمیته اشیانی کۀ ګوری ده کمسوره

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په هند کښے اشیانی خیژی کوکجال وی
په تیرا د ترمیته جالے هرکال وی

کهٔ شکره ده کهٔ بیسره ده کهٔ دونئے
دیر وئیل ئے په مانهٔ شی خبر نهٔ ئے

په خپل حُائے واړه پکار دهرسناک دی
په دیدن په تماشائے تریناک دی

پینځم فصل په بیان د بندونو د باز کښے

بند د باز د بابنے نهٔ بویه چه سرهٔ وی
سرهٔ بندونه باز بابنے لره ښهٔ نهٔ وی

غوښتخوارهٔ مرغونه نور وربانډ راشی
سرهٔ بندونه باز بابنے لره بلاشی

سپین او تور په رنګ بندونه د باز ښهٔ دی
موافق د باز ۰ پښو سره سازښهٔ دی

چغاول د هرګز نهٔ وی په خُنګل کښے
تیار مړک دے د تمځی په نیول کښے

څارپر چوزو لره ښه ده جغاولئ
یا بټیری یا چه نیسی پرے هیلئ

جرس هله چه یا غږوی یا خُنګل وی
اوکهٔ نهٔ خو بیهوده زیاتی خلل وی

بے توپئ د باښه نهٔ وی میر شکاره
مګر هله چه کریز وخوری څو واړه

د شاهین د چرغ خوخود توپئ په خاوی
د شنقار او د باز ئ هم په داشان وی

له اوله توپئ باز لره ضرور ده
چه ئے لرے شوه له سره نوره دورده

په همه واړه مرغانو صاحب دے
باز په داچه بے توپئ هم مصاحب دے

شپږم فصل په بیان د پیژندلو د پینځال د باز کښے

چه د باز پینځال کتهٔ وی لرے درومی
په اوبو کښے لامبی رغړی فرحت مومی

څان چه وُخنډی آوازئے څی د پرونو
یکپائی کا پر ردغن کا تر نو کونو

هم ښهٔ خوری ښهٔ هُنر مومی په سینه پرې
آسائش کا فراغت په لوبو کښے وزی

په پینځال کښے آلوده نهٔ کهٔ خپل پرونه
نهٔ ئے ناست وی پکښے نهٔ وی د باد غونډونه

په ځجوړه کښے آواز د قرقر نهٔ کا
سر ونغاړی په پرونو څان اوده کا

دائے واړه علامت د خیریت دے
کهٔ ئے دا نهٔ وی نشان ئے د زحمت دے

اُوم فصل په بیان د نوی باز کښے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نوے بازچه په جال کیباسے دام دا سره
باندِ هیڅ مکړه ناره دخدائے دپاره

خپل وربوز په څادر وُ نغاړه رووړشه
بنڈئے ونغاړه په جال کښے پرے خبرشه

بندئے واچوه په پښو کښے ستړکے دواړه
بنڈئے وګنډه په مزی وئے نغاړه

یوځوځاځکی اوبڼ واچوه وباز ته
هیڅوک مه پریږده سړی ولوړآواز ته

بیائے کښینوه په لاس آواز پرے مکړه
اوبڼ غوښے په بنڈ طور وریښکاره کړه

کوزئے کښینوه په مزکه چه ځان ساز کا
زړه په ځائے له ډیرے ویرهغه باز کا

که ئے وخوری کله ئے نه خوری په خپل طور
په رضا سره ئے پریږده مکړه جور

نوی بازلره یا نر رکه یا کوتره
یا دچرګ یا د تراج غوښه ده غوره

هم داهسے رنګ دِ خوری غوښه پیرو
ترهغه چه په خربښت کا سینه سخته

پرمهره دِ خوری تلخه دِ خوری له دله
کُچ نا نبات سره کډودِ هم کله کله

وازده بیله ځُنے توګه تورے غوښے
ورکوه باز ته نه وللے کښنه کښے

اتم فصل په بیان د اموخته کولو د باز کښے

په څورنګه نوی بازباز دار پرانزی
باز پرانتی د تو پئی بنه دے ترمزی

د تو پئی په سوراخو نو باز واکیږی
په سوراخو به ئے وا کا چه پوهیږی

اول فعل خوئ خصلت د باز معلوم کړه
بیا په هسے دستکشئ هُنر مخدوم کړه

ځُنے درسته شپه پهره غواړی ډیر سخت وی
ځُنے دوه پهره بس په خوئ نیک بخت وی

خوتلوار وربانِدِ مه کړه خوئ ئے کوره
په خپل ځائے کښے قرار ناست وُسه مه شوړه

په شپه شپه ئے طماغه اخله له سره
که دِ ولیدهٔ چه لاړه د دهٔ ویره

هرسحر ئے مړوه په چرګ ئے بوله
چه بنهٔ رام شی نور ئے خلاص کړه له آشوله

نور تکلیف د تماغی وربانِدِ مه کړه
چه ورځنے عالم کوړے ځان کوښه کړه

بلکه ننه ئے آرام کړه په خپل کور کښے
کاه بیکاه ئے ګډوه په شراو شور کښے

غوښه ځان څخه ساته که بے آرام شی
خهٔ بنو ورکړه چه ئے لرے فکر خام شی

په داشان ئے بنهٔ له خلقو سره ګډ کړه
سړی خهٔ چه سپی اوادس سړ ګډ وډ کړه

طعمه هومره ورکوه چه درنه نهٔ وی
نوی بازلره داهومره خوراک بنهٔ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چې ئې تړ دننه ډک پاسه خالی وی
درسته شپه د باز آرام او خوشحالی وی

باز کړ نه وی که بنکاری خوسپک سیر بنډ وی
لاخو نوی باز چه سپک موړشی ډیر بنډ وی

په تناب ئې د ویښتو په حلقه ساز کړه
په شپه شپه ئې بنډ آشنا د تبل باز کړه

هنکامو لړه ئې تل صبا بیکا وړه
نوره ئې بنکار ورته بیکاه نه چه په کاه وړه

نوے باز چه په غرمه په چاشت الوزی
په باز دار به ئې آخر کانړی پریوزی

اول لاس په هسے بنکار هوړ کړے بویه
چه د بل مرغۍ یونډ وی یا په سویه

چه یکه یکه څلویښت لاسونه خیرشی
بیا د ډهله بنکار په نوی مرغۍ ډیرشی

نوے باز چه ډیر لاسونه مړ وینه
د باز وچه شی دننه د زړۀ وینه

چه حواس کښے ئې خلل ضرر پیدا شی
د کریز تر وخته نه رسی فنا شی

نوے باز د په بیکا بیکا الوزی
په هیلیو د په وخت په کاه الوزی

د پرواز ویړه ئې نه وی دا دوه وخته
عصر فجر دواړه یاد لړه نیک بخته

د صافی مالکه وچوز لړه خواری ده
بس د چوز خو پرمهړه طعمه داری ده

په خالی نبات که صاف شی باک ئې کوم دے
د صافی سودئے بے مالکے خو معلوم دے

یوئے لری له درونه خلط اخلاط شی
بلئے رنګ تر و تازه وی په نشاط شی

د صافی سړه هاله مالکه لازم شی
چه لوئے بنکار و ته د زړۀ وی یا سالم شی

که په بنکار کښے لړه بره که اظهاره
مست د وناب وی هاله مالکه بویه یاره

د صافی د اُوۀ چنی نبات وی
نه څه وزن د نمک د چنی زیات وی

که د وزن د نمک چړے زیات کم کړ
په خپل لاس د باز د مړک یاد الم کړ

په صافی کښے ئې ډیر کار دے تلوار مکړه
لکه حکم د اُستاد دے هم هغه کړه

نهم فصل په بیان د اموختہ کولو د باز په بنکار د مرغابئ

که تړ غواړے چه د باز مرغابئ گیرشی
بیړه مه کړه چه دا کار به په تدبیر شی

په دنګ دنګ چه بنے بنے وُوهی باولئ
اول ورکړه پیش پرانه مرغابئ

بیا پلی ورته نژدے شه پله کوړه
چه ئے نسی هسے رنګ ئے هیله ژغوړه

په پله ئے پیاده مورکړه یوځو لاسه
بیا ئے هله مړوه د اس د پاسه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

قواعدد میرشکارئ هنرئے دا دے
هرهُنرد قواعدسره زیبا دے

ګنی ما په باز جوړه ډیرے هیلئ
څو نیولی په خپل لاس دی بے باولئ

چه یوځلے په بنکار کښیوزی بنهٔ باز وته
په خپل زړهٔ کښے خود د بنکار لری رازونه

مرغابئ او باز کهٔ پریوزی په اوبو کښے
په اوبو کښے ئے هم دے لری په پښو کښے

هسے شان په قرارئ راشه ورباندِ
چه ورتک څنے دِ باز ویره نهٔ کاندِ

کهٔ ئے پریښوه مرغابئ دا به بنهٔ خوئ که
د اوبولهٔ مرغابئ نه به کوږ روئ که

کهٔ ئے پرے نښوه لاسونه کړه ترے لاندِ
مرغابئ او باز غوټه کړه لاندِ باندِ

چه په ویره څنے وکاږی نو کارے
چه منکر شی له دے فعله کړه پرچارے

چه په وچه مرغابئ نیول عادت کا
نور د باز په دود د نوی بنکار جرأت کا

لرے لرے ئے پریږدہ چه سینه کښ شی
په ډیر تبل مرغابئ نیسی ستا خوښ شی

خوډ په خود به د مرغئ په رس عادت شی
څهٔ حاجت چه په دا کار به مشقت شی

لسم فصل په بیان د بنکار کولو د نور و مرغانو په باز باندِ

د باز بنکار خو مرغابئ ده کهٔ ئے کورے
بیا سونا بنا ئسته غاړه ستړے تورے

زړے هم په الوتلو تقصیر نهٔ کا
باز چه څان ورپسے جوړ که چغار بنهٔ کا

تور تار وچه شه قندیل شی هم بدنهٔ دے
چه ئے واخلی باز نشاط وکا ډیر بنهٔ دے

نداره کهٔ د تمځی هر څو بنه ده
یا جره دی یا تمځی یا بابنه ده

د تمځی کور دِ وران شی باز په څان کا
په هر بوټی ئے وهی پرونه ئے وران کا

چه بتیری نیسی بنے نیسی سیسئ
تیز پری د باز په دا ده نور کیسئ

بنهٔ میرشکار به په تمځی تلوار نهٔ که
څان چه ساز که بیا به ساز پسے مرغه که

کهٔ د باز معراج دے څاړے میرشکاره
امّا بند د پښے ئے وباسی له کاره

چوزه باز وته آسمان کښه ترڅاړی
بنهٔ باز ونه چوز هیلئ غوندِ رانغاړی

د سرخاب نیولے جره لره هُنر دے
ترهیلئ لا د باز وته بهتر دے

قاز قلنګ چه څوک په باز نیسی ستم کا
بنهٔ شیرین باز ونه په الم کا

یکساله طاؤس هم بنهٔ دے څنګ ئے نهٔ وی
چه آزار د باز د پرونو د جنګ نهٔ وی

POHA
بوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کهٔ په بازدے خودَ سرئے نیول بویه ترینـاک لره بدی نهٔ لری سـویه
ترینـاک څخه چل ول وی دَ نیولو چوز دلاوره پرے حمله که دَ وهلو
ترینـاک بوزم تولک ترچوز بهتر دی بدخوداچه بنهٔ کریزنهٔ خوږی شوخ پردی

یوولسم فصل په تشویق دَ بازونو دَ بنکار کښے دَ غزل په طرز

دَ بازونو بنکار کچادے دَ زر دار هم زردارهم بے پروا قلندر وار
کهٔ ئے غم دَ هوس کا دَ زیان ئے نهٔ کا کهٔ ئے مری په قوش خانه کښے څودینار
دَ هغهٔ سړی څهٔ کار وی په بازونو چه بنده وی دَ درم او دَ دینار
دَ بنکار کار په مصلحت په سیالئی نهٔ دے دا یو عشق دے چه ئے ورکه کړد کار
چه بادر باذل باسل عالی فطرت دی دَ هغهٔ په زړهٔ کښے حب پریوزی دَ بنکار
قمار باز به له قماره صبر وُکا مست به هم شی له شرابو توبه کار

زهٔ خوشحال به دَ بازونو بنکار پرے نږدم
څوژوندے یم دا م کار دا م روزکار

دولسم فصل په بیان دَ تعریف دَ جُرهٔ کښے

جُرهٔ څهٔ دے د باز نږدے کهٔ پوهیږے په تعلیم کښے ترباز زردے کهٔ پوهیږے
ترپینځه کریزه باز الواتهٔ بنهٔ کا چه جرهٔ سه کریزه شی پرش نهٔ کا
په کریز کښے قابو چې شی کوته پر دے ترکریز لاهورته تلهٔ دَ دهٔ هُنر دے
لوئے کتهٔ جره دَ باز پردود کریز که په پرش دوردوی لکه باز تیز که
سینه ورلنډه لکئی جره پکار دی کتهٔ سرئے کړاغے سترګے دَ لوئے بنکار دی
غاړه ور کتهٔ کتهٔ مبنوکه وړے سترګے هم هغه جره وهی دَ غرونو چرګے
یا ډیر کتهٔ وباز تهٔ څوږ جره هغه دے یا بنهٔ جوړ هرګوره وړ جره هغه دے
لکه رنګ ترکیب دَ باز هغه جره دے لکه باز پهن دراز جره هغه دے
کهٔ دَ باز مینه په بنهٔ جره ماتیږی عراقی چرے ترکی سره سمیږی
لکه باز پرونه ساز کا خوش روی که جره کله هغه هسے دور دوی که

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه د باز علاج دا روهسے د دۀ کړه
طبیعت نے د پیر نازک دنے لانے بنۀ کړه

چرے نۀ وی چے د پیر په بنکار کښے خوب کړے
حلاوت نے دے په داچه بنکار پرے لږ کړے

مرغابئ درے خلور زرکے دا هومره
په تارو تمځری څۀ وایم چه څومره

د یارلسم فصل په بیان د بنکار د بابنے کښے

بابنه هم د باز د کوره یو مرغے دے
پرورش نے کۀ څوک ۀ کا عجب شے دے

بابنه څۀ ده په لیدل سره محبوبه
کۀ ئے ۀ کورے مطبوعه ده مرغوبه

لکه کل په نزاکت هسے نازکه
په هنر په لطافت هسے نازکه

په رنګونو لکه باز هومره رنګونه
په نیولو په وهلو شوخ و شنګه

ترهیلئ و ترسرخابه د دے بنکار دے
په دا هومره جوسه دومره د د ۀ کار دے

باز جوړه بابنه یوشان اموخته کیږی
د بابنے ته باولئ شے اندوخته کیږی

اشیانی بابنه تحفه ده کۀ مونده شی
دامی لا تراشیانئ پرش نے بنۀ شی

کۀ د زړۀ وی چه بابنه شی کلان کیږه
چرے نۀ شی خام کشاده بے تدبیره

باز جوړه بابنه کۀ بنکار که خام کشاد
په حساب د هوښیار څۀ دے لکه باد

کۀ ئے څۀ خو وینه زیاته د وجود شی
یائے کمه دست کشی کړے نو رنا بود شی

له اوله زیره مۀ بنیه بابنے ته
زاغ دراج زرکے ئے اچوه د پښے ته

چه یو څولا سونه سیره په لوئے بنکار شی
هوسناک د بیا هیلیو ته تیار شی

چه یو دوه چرکے پرے ونیسے په مینه
نور پرے نیسه مرغابئ لوئے کهینه

بیا له پسه چه کیږه شی په لوئے صید
دریزه نۀ ئے هم مۀ لره په قید

کلان کیږه ریزه کیږه بابنه بنه ده
چه ناموس که په هر بنکار بابنه هغه ده

د محصول چرچنړے لا ورله بنے دی
د بابنے په سیل چرچنړو تماشے دی

چه په کړ چنده څوک بنۀ کا بابنه سازه
تیز پرے باند بنکاره کا څوځو نازه

چه بابنه د خوب کیږی وکه نور سیره
کشاله ورباند مۀ پسنده تر ډیره

بازبابنه چه خوب کیږی وکه سیر یږی
هم هغه ئے خوئ خصلت شی نه هیریږی

چه په غږ د لږه راشی بابنه ستا ده
چه په غږ د شیدا نۀ وی د هوا ده

POHA
بوهه
Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په طلب ئے هسے خپله په هُنر کړه
چه دَ ځان سره ئے تهٔ شیر وشکر کړه

رنځ علاج علت دارو لکه دَ باز دی
دَ بانسے هم هغه هسے ورته ساز دی

څو مسهل دَ نبات ورکړه بے نمکه
مالکه زیان لری بانسے لره بے شکه

دَ بانسے چه سینه سره وی په شا تورہ
سرفرازه منکلوره بانسه کوره

سره زیړه بانسه سنه ده کل بادامه
بده کومه لکی وره بد اندامه

کهٔ بانسه تر ډیره کریزه وُرسیږی
دَجره په طور به نهٔ قابو چې کیږی

څو کریز باندِ تیریږی لا بنهٔ کیږی
کال په کال په خو بګیر یو کښے زیاتیږی

دَ بانسے په بتوله کښے لا ډیر کار دے
چه بانسه ډنګره نهٔ کا نهٔ خیر نه

چه بانسه ئے دست روکړه میر شکار دے
هم هغه سړے به کاندی پرے نیونه

څوارلسم فصل په بیان دَ نیولو اودَ ساتلو د نوی باز کښے

کهٔ په نوی باز بیګا بیګا څوک بنکار کړه
دَ پرواز ویره ئے لږه ده بنهٔ کار کړه

څا بنت غرمه چه څوک په نوی مرغهٔ بنکار کړه
دَ پرواز ویره ئے ډیره ده بد کار کړه

هر غرمه په څا بنت غرمه تر نماز پښینه
وآسمان ته په پرواز په دور ځینه

دَ صبا په وخت ئے فکر دَ طعمے وی
دَ بیګاه په وخت ئے غم آرام دَ شپے وی

باز کهٔ هر څو په پهره په هنر ساز کړے
څولا اوم دی لا به تهٔ ترے احتراز کړے

چه پخته شی په هر کار به اموخته شی
په باز دار دَ بنکاری باز نظر دوخته شی

چه ډیر څورب بے پروشی کهٔ بنکاری دے
هم ورک شوے په کوهسار په هواری دے

ډیر بنکاری خانه کریزدی مالیدلی
له مستئی نه وآسمان وته ختلی

باز چه پاس په پرواز وخیژی آسمان ته
په سل کروهه ځی په دم وهر مکان ته

دَ بد خوئی دَ لمکهٔ وُتړی څو پرونه
باز به پریږدی دَ پرواز دور خو یونه

کهٔ بد فعله باز دَ چا وُځی له دسته
بیلے بیا مومی سړی په ډیره مرسته

چه له ورایه ځنے تښتی نیول نهٔ کا
درته وایم په دا کار دِ علاج څهٔ کا

ورته واچوه تا رو زرکه تمځرے
ورته ګوره بیا له ورایه لکه ځرے

باز چه ورشی په خورل په شوکول شی
ورنژدے دِ نور په فکر دَ نیول شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یادِ وبولی بل باز په چرګه مرګه
دَهغهٔ په قصد به هم ورشی په چرګه

یادِ صبر ورته وُکاچه تیارهٔ شی
په رنړا به دَچراغ باندِ نیوهٔ شی

کهٔ دِ ورک شی چرے باز په لویه درګه
بوله باز په لوړ آواز دَ چرګ وچرګه

پاپه هر لوری دَ درګے کړه اور پورے
را به والوزی دَ درګے خود به ګورے

ورک باز موهے په پوښتنه په پوښتنه
لس پینځلس ورځے کړه دَ باز پوښتنه

په شلمه ورځ کهٔ باز په نظر کښیوزی
ښکاری باز په چرګ دَ چرګ په آواز پریوزی

یادِ بیا ورته کوزک جوړکه په تور کښے
یادِ وتړی چرګ مرګ ورته په ډور کښے

زنګوله دَ باز غماز دے په ځنګل کښے
جائزنهٔ دی دَ هیلیو په نیول کښے

پیرهُنر دے دَ باز و نو په ساتل کښے
مګر داهنر پیدا شی په کابل کښے

کهٔ په هره طعمداری دَ باز په ځائے وی
هم ښهٔ ښکار کا هم ئے ورک دَ بدنی رائے وی

یاورځهٔ دَ باز و ښکار ته حلق ترینځ کړه
یا خپل ځان په ورځ په شپه ورته په سینځ کړه

ورته وایم دَ باز و نو ساتل چون دی؟
جګر خون دی جګر خون دی جګر خون دی

هوسناک ئے کهٔ زر زور شی هم بنائینه
کهٔ په عقل هنر جوړ شی هم بنائینه

پینځلسم فصل په غزل سره په بیان دَ صافولو دَ باز کښے

چه مرغونه دَ آسمان ساتی دا کار
دَ هوښیار دی دَ بیداردی خبردار

زهٔ دانهٔ وایم چه زهٔ هوښیار بیداریم
ځما هم له لاسه لاړ دی څو دینار

په صافی کښے ښهٔ باز و نه را نه مړه دی
خام کشاد م کړهٔ باز و نه په تلوار

نادان خطا لاهسے ګرانه نهٔ وی
کهٔ خطا ده خو خطا ده دَ هوښیار

خو دا هومره تفاوت ترمنځ لیدهٔ شی
چه هوښیار سړی پوهیږی په خپل کار

سرشته دَ میرشکارئ ورسره نهٔ وی
بیهوده مرغی ضائع کړه نا میرشکار

نه مرغهٔ دَ نامیرشکار ترلاس ورمشه
اوکهٔ ورشی یا به خاورے شی یا خوار

دَ خوشحال خبره نغوښه پرے عمل کړه
تجربے ئے دی لیدلی دَ روزګار

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شپارسم فصل په بیان د مهرې ورکولو باز لره

باز جوړه لره کله مست شي صافي ورکړه
په صافئ ئې د کولمو علت بدر کړه

چه لوئے ښکار ته هوس نه کا باز باز داره
مالکه هله د نبات سره کړه یاره

اوکه نه خوتش نبات ورلره ډیر دی
ورکول د مالکے عین لکه زلیر دی

د صافئ دپاره دوه چنڅے نبات وی
مالکه نه چه تر یوے چنڅے نه زیات وی

تر بادام د جوړه کم د بازده لویه
تر بادام د جوړه کم د بازده لویه

نوی چوز لره کولئ ترلی بویه
ډنګر چوز لره که تش دی هم آفات دی

نوی چوز لره مسهل خوتش نبات دی
تر نبات څخه لا دا مسهل اول دی

د ښبرو د شکرو ښه مسهل دی
دریے لفظونه دی دا واړه یو حساب دی

که صافی ده که مسهل دی که جلاب دی
په جلاب جمال کوته ئے زړه فروغ شی

لکه نس د سړی و بهیږی روغ شی
تر سړی نه لا مرغۀ لره ډیر ښه دی

هسے باز لره جلاب مسهل بائده دی
بل بد پریږ دی د نیولو په کار چست شی

یوئے لوړه حرص ډیر شی بل تندرست شی
چرغ منقار باښه شکره چه څۀ د ښکار دی

باز شاهین و هر مرغۀ لره پکار دی
کلاب چشم تداوبۀ ورکړه په جام کښے

کلاب چشم تداوبۀ ورکړه په جام کښے
سیه چشم ته نازه ورکړه په کام کښے

د شاهین مالکه یو حب نبات دوه حبه
چه شاهین به په داجوړ شی کړه دا لبه

باز شاهین چه مسهل وخوری دام کوش کړه
په لوئے ښکارئے برابر په هغه جوش کړه

هر مرغۀ چه مسهل وخوری ښکار پرے نکړی
د د ۀ لوړه به ضائع شی کله ښۀ کړی

د نبا تو سره هله مالکه بویه
که په زړه د باز د ښکار لری چا رلویه

یا د باز خانه کریزوی یا دوناب وی
چه د ښکار په کار کښے دے په پیچ وتاب وی

خپله لوړه اوخپل جوش باز له کافی دی
د نمک له غمه چوز په معاینه دی

د کولئ سره سود څۀ خود نمک دے
ډیر نمک خوله آفته سره پک دے

مګر هله که بیمار د خلط د رنج دے
د هغۀ شیر و شکر مالکه لوئے کنج دے

پرمهره د هر مرغۀ اکثره بویه
د ورمیږ ماغزۀ پرمهره پر مهره بویه

دارچینی هم کاه کاه ورسره وینه
پرمهره سره داچار کنړه مهینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د چینجی علاج هم نۀ پریږدی وبازته
باد اغیږ زحمت هم نۀ پریږدی وبازته

نوائلد دارچینی د خورو ډیر دی
درته څوکښم څوک م یاد دی څوک م هیر دی

د هر بنکار تریخے د خورۍ د باز صحت دے
لاد چرک تریخے دافع د هر علت دے

که د ډیرے تریخے خوری په زمستان کښے
څو خشخاش د باز علت نۀ وی په ځان کښے

پرمهره که تینګه کلکه راوړی سخته
بنۀ ئے مۀ کنړه دارو کوه د وخته

باد باد و ګولئ ورکړه چه تندرست شی
یا تقلیل د طعمے بویه چه باز چست شی

پرمهره که باز وانۀ چوی بد کار دے
په دارو بۀ ئے راواچوی بیمار دے

یا بوه دانه اوربشه مشک باندۀ دی
چه ئے وخوری کنړه هو مره هنډ م بنۀ دی

څۀ خو صبر سقوطوی که باز ته ورکړے
پرمهره بۀ ئے په دا هُنر بهر کړے

داعلت چه باز پیدا کا ورته نۀ شی
د چار پائے د قاز قلنګ دی لوئے غوښے

پرمهره که ګل ولائ راوړی پریشانه
بیماری که د پیخال سره عیا نه

که مس نرم په سوهان سره مصعد شی
یو نخود برابر ورکړے سود بے حد شی

که درانۀ دواړه هډوکی نیسی بیا رته
یائے خلط دے یائے ضرب دے وهو بنیا رته

اولسم فصل په بیان د رایستلو د باز له کریزه

په دا ملک کښے چه څما وطن مسکن دے
درته وایم د بنکار وخت چه معین دے

باز اخست شی له کریزه په میزان کښے
بنۀ شی بنکار د باز شاهین په دا آوان کښے

په تحویل د سنبلے را شی بتیرے
مرغابئ او زانړے هم شی را برخیرے

څاړے هم په میزان را شی که ئے وینے
په اول د لړم را شی قازے سپینے

که را تلل د مرغابیو په خوشه دی
بنے د بنکار لائقے عین په لیندۀ دی

پسرلی کښے ابتدا په دلو را شی
بنے ئے نیسی په دا وخت چرے سوناشی

د هیلیو بنکار موندۀ شی تر نوروزه
تر حمل ئے هو رته نۀ وی نوره روزه

تر غوایۀ پورے د زانړو بنکار موندۀ شی
د بتیرو بنکار په دا موسم کښے بنۀ شی

تورتارو زرکے سیسئ په حوت د بنوشی
په دا وخت د دۀ نیول په کرشنو شی

د تمځری بنکار تر تلے تر حمله
کیږی بنه د میږے چارئے د ده اوله

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په کریز کښے باز تازه شی په جوزا کښے
نهٔ شی نور د مرغو بنکار په داهوا کښے

اتلسم فصل په بیان د کښینولو د بازونو په کریز

بازچه وخت د کریز راشی بنهٔ صاف کړه
فاسد خلط ورځنے لرے په انصاف کړه

ورته وګوره بنهٔ کور نوے پسند لے
چه بد بوئ نهٔ وی لوګی نهٔ وی وهلے

نهٔ د ونو باندِ سورے وی نهٔ سرے
بد بوئ ورځنے ورچنے هم لرے

پکښے پاس روښنائی نهٔ وی د بخړی
خو یو ور لری ترے لرے چړی پړی

د شمال په لورکهٔ کمه دریچه وی
چه رڼائے ډیره نهٔ وی هم به بنهٔ وی

نشیمنه دِ ورته وتړی بنهٔ پلنه
بازدِ وتړی بازدار په کور دننه

څوک دِ بے بازداره نهٔ ورځی وباز ته
یو باز دار دِ تنها بنهٔ ورځی وباز ته

څوک دِ پاس د دغه کورد پاسه نهٔ څی
یو قدم کهٔ باندِ کیږدی کله بنهٔ څی

لمبیدل د باز بنهٔ نهٔ دی په کریز کښے
تل دِ صاف اوبهٔ څښی په یوهٔ څیز کښے

کهٔ کله کهٔ لمبیدل کا هم دِ کاندِ
ډک تغار اوبهٔ دِ وړدی د باز د وړاندِ

سپیلنی دِ همیشه وباز ته سول شی
کهٔ کله دِ عود کشته نجور کول شی

بنے طعمے دِ ورکوی پاکیزه پاکے
نهٔ بد بویه کنده شوے بد خوراکے

کله چرګ کله مرغئ کله کوتره
د حلوان دورے د زرکے غوره غوره

همیشه یوه طعمه ورته علت ده
هره هره طعمه باز لره صحت ده

په کریز کښے باز دیر خورب مست پریږدی
په داکار به خبردار چه باخرد دی

چه مستی په باز کښے نهٔ وی بنهٔ آرام وی
هغه هومره پرے نهٔ اچوی آرام وی

په کریز کښے کهٔ د خلط زحمت پیدا کا
شودهٔ هم شکرے مالکه دِ دوا کا

غوږ د تورے غوا خرفه سره پاخهٔ کړه
کله کله ئے طعمه سره ترخولهٔ کړه

کهٔ د زیت غوړی داشان ورکوی بنهٔ وی
په کریز کښے نور دارو ورته بنهٔ نهٔ وی

مشتکی کهٔ په کریز کښے خوری باز ونه
نهٔ لمدیږی په اوبهٔ د باز پرونه

هم به رنګ د باز د پښو په اصلی رنګ وی
هم به جوړ د دهٔ نوکونه د دهٔ جنګ وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نولسم فصل په بیان د دارو کولو د باز په سبب د خلط په کریز کښے

که ضرورشی چه دارو ورلره بویه
دا یوځو دارو دی نفع لری لویه

که د خلط په سبب روغ نه وی بیماروی
بیمار باز پرونه ونیسی آزار وی

اول ورکړه په اوبو نمجنے غوښے
یوځو ورځے بنے بنے غوښے خوښے

داځو وختے آرام په دستکشئ کړه
د علت داروئے هله په خوشئ کړه

قند بوره دا دواړه توکه بنه میده کړه
دا د غواد شودو پیو بیا سره کړه

په پخه کښے د باز ترستونے تیر کړه
چه یوځو پیخاله وکه اوبه ویر کړه

د باز خلط به هم په دا علاج بیرون شی
پاک اوصاف به ئے له خلطه اندرون شی

په کریز کښے که بیمار شی هم دازده کړه
هم داهوبره تر دانریات دارو نور مکړه

که بدخوئ یا ترناک یا خام کشادوی
د هغه دِ دادارو که که اُستاد وی

د غواید غدود نژدے وذبح گاه ته
یا د مرغ غدود نژدے وذبح گاه ته

غدود بنه په خپلو گوتو کښے ومروړه
چه زرد آب ورځنے لاړشی چاردهجوړه

چه بنه وُچ شی دوه عدده څلور ورځے
ورکړه بازته په طعمه کښے بچے بچے

وچے غوښے د ارنب واخله میده کړه
بیائے واخله د مرغ غوښو سره کړه

د بنبرو بچکان په تهنکی کښے
جوشیده کړه بنے د غواؤ په غوړی کښے

د طعمے سره که باز هغه غوړی خوری
داغوړی د باز پرونه لوئے نری خوری

سپین چینجی د وُنے هم بنه دی تورغاړی
سازونه د بنبرو غوندِ غواړی

خوږ وله هم که وچه د سایه شی
له طعمے ئے میده کړی خوری فائده شی

شلانده هم که په غوړیو کښے ورتیه کړی
چه طعمه هغه غوړی که په طعمه کړی

په کریز کښے بنه مرغے د بنا پیرک دے
کم مرغے د تو تکئ هم بهترک دے

پروړده په خوابړه تیل د شکانړه غوښے
په کریز کښے ډیرے باز لره دی خوښے

بنه خو داچه خبردار په هر علاج شے
علاجونه کړه هله که ته محتاج شے

ګنړه کار په طبیعت بنه دے هوښیاره
د دارو چار همیشه ده نا پکاره

پاکیزه طعمے چه باز وهر زنده خوری
زه ضامن که جانور کریز کنده خوری

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شلم فصل په بیان د رایستلو د بازله کریزه

چه خپل باز په وخت اخلے له کریزه
له ما یاد لره پرورکړه داخو څیزه

لس پینځلس ورځے ورکړه غوښے وللے
چے سست که د درون د وازدوولے

دستکشی د باز کوه چه بنهٔ آرام شی
بیائے صاف کړه چے لرے خلط تمام شی

له کریزه ئے را واخله بنهٔ ئے ساز کړه
چه عمل ئے آراسته شی بنکار په باز کړه

که د باز بے وخته واخست له کریزه
چے وازده لری بنهٔ نهٔ شی عزیزه

د کریز محنت د واړه ابته دے
د کریز په اخستو تلوار کنده دے

که هرڅو د وخته باز که بنړه تویه
آخسته ئے د میزان په آخر بویه

چه هوا د غار مونهٔ وی ساړهٔ راشی
د کریز په باز هاله مسهل روا شی

په مقدار کرکنړے زړی مالګه بویه
په حساب نبات د مالګے سره څویه

اوهٔ بخرے د نبات وی یوه مالګه
تردا زیات وکم دنهٔ وی ذره مالګه

د انار په اوبو سازے کړه کولئ!
ورکوه ئے صبحدم که خبر ته ئے

د کریز د باز مسهل په احتیاط کړه
چرے نهٔ چه باز ضائع شی څان بقراط کړه

که بیمار وی نور مسهل ورته نهٔ وی
تر هرڅهٔ د شود و پیو مسهل بنهٔ وی

که ئے وازده وی په ته کښے پرش نهٔ کا
پلیته ورلره بویه چه بنکار بنهٔ کا

څورب باز چه له کریزه نه اخست شی
که آرام نهٔ وی پرکیږی پرے سست شی

چه د باز وازده پاره په پرکیدل شی
په اصلاح بنے رانهٔ وړے نور کهٔ سل شی

د کریز دی که د کور دی که د توردی
کا رد هرے چار مرغئ دادی نور نهٔ دی

څورب باز په پرکیدلو څلور ځایه
رنځ زحمت مومی که غوږ باسی خوش رایه

یا په ته یا په لړمون یا په مغزو کښے
رک وپئے سست شی وشلیږی په پښو کښے

په شلیدلی باز که فصل تلینه تیرشی
بیائے هله کوند رنګ د باز په څیر شی

په کریز واړه مرغونه سره سم دی
باز شین شنقار که لوئے دے اوکه کم دے

سنګریزه د نرډے اچوی شاهین ته
چے وخوری خیری نهٔ پریږدی لاچین ته

د شنقار کریز د یخ د پاسه شینه
په کریز کښے پاس په یخ باندے کښینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

جاله هم دیخ دپاسه دشنقار وی
تل ددۀ له یخ له برفه سریکار وی

په کریز کښے منع شوے آبداره ده
که د خلط زحمت لری چارے بنکاره

تر پینځه تر شپږ کریزه پورے جوړوی
چه تردا دپاسه کیږی نور باز زوړ وی

په هیلیو کۀ باز زوړشی هم الوزی
قابو چی شی د تراج د بنکاره وزی

دجره خوبی تردے یا تر څلور وی
چه تردے نه زیات کریز خوری کارنے نور وی

بابنه څو کریزه کیږی لابنه کیږی
کال په کال بابنه څوانیږی نۀ زړیږی

شاهین لا تر باز چه زیات خوری کریزونه
خو بکیری خوبی ددۀ شی لا افزونه

باز هغه شاهین هغه چه کریزی شی
په چوزی کښے ددۀ بنکارے تمیزی شی

یوویشتم فصل په بیان د بتوله کولو د باز او د بابنے

لکه کارد تیراند از د برتوله دے
هسے رنګه کار د باز د بتوله دے

باز دِ هسے بتوله وخوری له دسته
لکه غشے سم ثابت وزی له شسته

لس پینځه ګزه چه ولاړشی پرونه واکه
په قوت د بتوله پرونه پیدا کۀ

څوک چه مشک د بتوله صفا هوار که
د بابنے پرۀ ترلی وی پرے بنکار که

نهایت د میرشکارئ هنرۀ دا دے
کۀ میرشکار په بتوله کښے په خطا دے

بتوله دِ د مرغۀ نۀ وی په بیره
په قابو په بتوله ۀ کړه تۀ ویره

د بابنے په بتوله کښے لاډیر کار دے
چه بابنۀ ئے بنه دست رو کړه میرشکار دے

مشتکی دِ یا شکره یا دِ بیره وی
چه بابنۀ ئے مشتکی کړه مخسره وی

د میرشکار سازکړے بازهم د میرشکار وی
د بنۀ باز د بدسړی سره څۀ کار وی

چه بنۀ باز د بدسړی تر لاسه ورشی
کۀ یو لاس ۀ بتوله که هم ابتر شی

دویشتم فصل په بیان د څورب کولو د ډنګر باز کښے

کۀ تۀ غواړے چه دِ څورب باز ډنګر شی
په داشان به زر تازه څورب بهتر شی

کۀ ګمان دِ پرے د خلط د خیرن وی
خلط ۀ لرے په مسهل کړه مبرهن وی

کۀ د باز نشته طاقت په خط ذلیل دے
د پیوری غوا شوده عجب سبیل دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یا بوره یا مالکه د دۀ حبه میده کړه
درے مثقاله د غوا پئ هم ورسره کړه

په نچه ئے چه د باز ترحلق فرو کړے
د خلط ولی به په ته کښے په ویستو کړے

چه ئے خلط له خانه ووزی برطرف شی
په بنو بنو طعمو به بیاد بشکار د صف شی

مسهل خکه وروغ باز ته ورکول شی
چه له خلط سلامت شی په نیول شی

د مسهل په خوراک باز وی بے علت
چه مسهل نۀ خوری پرے ورشی د پیر زحمت

د چینجی په سبب هم مرغۀ د نګریږی
د مرغۀ خوراک غذا د چینجی کیږی

یادِ باز وته څۀ ضرب وی رسیدلے
په هغه سبب د نګر اوسی څیلے

یا ئے د پیروی په کرمی کښے پرے بشکار کړے
یا باز دار په پرکیدل کښے وی خوار کړے

کۀ آزار ئے وی د خلط حرص ئے وُمری
خور درهم پیخال به کۀ طعمه به نۀ وری

چه پیخال سره چینجی په مزکه پریوزی
د چینجی زحمت په دا په نظر کښیوزی

کۀ آزار ئے له کرمئ نه وی موندلے
هم اوبۀ څښی هم وی رنګ د باز وهلے

کۀ آزار لری د ضرب ملول دلګیر وی
کۀ طعمه خوری هم د خان په کاهش خیږوی

کۀ په د پیرو پرکیدلو وی شلیدلے
کۀ ئے کورے تل ملال اوسی زپلے

په هر رنګ چه باز د نګر شی داخو بیه
د دۀ ځائے د ننه کونج دے لکه سویه

چه په د پیرے ورځے باز شی د نګر پاتے
هم له بشکارۀ ئے موقوف کړه ورځے زیاتے

د مبرۀ زړۀ د غواد پیو سره تل خوری
پانړے پانړے ئے کړه زړۀ چه باز ئے بشۀ خوری

کله کله په مسکه غوړه طعمه کړه
چه ئے خورینه بنه فائده لری دا زده کړه

کله کچ نبات کډ دواړه برابر کړه
په مقدار د یوۀ جوز ئے باز ته ورکړه

کله یو بادام ماغزه ورکړه د وری
چه ئے وته ته تازه غوښے سره وری

د بټیری تازه غوښے هم زیبا دی
د مبر کوری غوښے سود منے لا دی

کۀ د سوئے غوښے غوړی په غوړی خوری
یا چرچنړے مامولہ ترڅ مړے خوری

چه ئے غوښے د بسمل په دم لمدیږی
تجربه ده د نګر باز په داخر بیږی

د نګر باز چه وږے پاتے شی د نګر یږی
بویه داچه په وخت وخت د ډمیږی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دویشتم فصل په بیان د طعمه کښے چه د کوم څناور ښه ده

درته وایم چه ښے دی غوښے کومے
کومے سړے کومے گرمے خشکے کومے

چه به باز پکښے تندرست فراغت اوسی
په خوښئ ئے له مجبوری نه نه یوسی

په څارویو کښے اول د مږه غوښے
د تندست ویکساله د خوسی غوښے

د حلوان غوښے هم ښے دی سړے ترے
که د بزے دی که د غوا دی چرچرے

هر غړۂ څاروے چه زور غوښے ئے بدے
که ضرور وی که ناکام وی نه دی ردے

سړے خشکے دی غلیظے د غوا غوښے
هاضمے لره ترغوا دی د خوسی خوښے

د اُشتر د پسهٔ د غوښے یو مثال دے
گرمے خشکے د فالج د رنځ قتال دے

د فرس د نیله گا وُ غوښے یو شان دی
گرمے خشکے په عمل سره یکسان دی

غوښے بدے دی د خرے د گورهٔ خرے
هم غلیظے هم بدهضمے گرمے ترے

څوا نه چرگه هم کوتره ده بهتره
لا ترچرگے نه بهتره ده کوتره

که تمځرے که سیسئ ده او که زرکه
که فاخته ده که چرچنړه ده که گرگه

د دے واړو غوښے ښے دی گرمے خشکے
لا په تیره غوښے ښے دی د کنجشکے

د ماهی غوښے د بطے د هیلئ
گرمے ترے دی خبرکهٔ په دا تهٔ ئے

هغه غوښے چه د باز دی درته وایم
د تارودی د دراج دی څوئے ستایم

یا د زرکے د سیسئ یا د زاغچه دی
یا خو غوښے د څوان چرک د بودنه دی

د گوسپند یا د آهو یا د خرگوش دی
یا د زانړے یا د بطے بیا د اوش دی

نهٔ د مږهٔ کوتره غوښے د چرچنړے
د شاهین که، که د دهٔ فلاکت سکنے

د اوړی مرغئ د چا دی د بانے دی
له هر څو دارو مرغونو لره ښے دی

که فاخته که چرگه ده که موسیچه ده
د دوئ غوښه د باریئ د پاره ښه ده

څلیریشتم فصل په بیان د آبدارے د غوښے ورکړلو

آبداره بنکاری مرغۂ لره لازم ده
سیه چشم لره ډیره د باز هم ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنکاری بازچه مستی وکړه کله کله
بنهٔ بازدار به لته کشه ورکوله

لته کشه غوښه باز لره کهٔ بنه ده
لمده کړے نه چه سپینه آبداره ده

آبداره خو چرغ شاهین لره واجب ده
کلاب چشم لره څهٔ خو مناسب ده

د شاهین کهٔ لږ څرب دوم غوزے وی
لږ او برئے بیا په بنکار باندِ غوټے وی

چه د سپینے آبدارے په غوښو بنکار که
په لوئے صید باندِ هله شاهین کار که

له سرو غوښو سپینه وازده پیدا کیږی
په کوشتاب سره ئے توره غوښه ریږی

آبداره د بارئ مړ کړه ډیره سپینه
نیمائی نیمکوره پریږ ده پکښے وینه

بارئ ډیره په علت د قبل قورت مری
قبل قورت ئے شی چه سپینه آبداره خوری

خپل شاهین په آب وتاب څوږب دوناب کړه
نهٔ په سرو غوښو فربه ئے په کوشتاب کړه

د شاهین چه دا دوه لوږه قوت نهٔ وی
په لوئے صید باندِ د دهٔ برے په څهٔ وی

چرغ شاهین لره خو لوږه د بنکار بس ده
آبدارے سره سره غوښه نور عبث ده

بازچه ونیسی خپل بنکار غوښه ئے خورینه
څومره یږی باز دِ وخوری غوښے وینه

شوکوی دِ په زور غوښے کمے لوئے
چه اوبهٔ د بازله پوزے شی راتوئے

یو د غټے لقمے بویه چه خوراک که
رهکذر به د دماغ له خراشکی پاک که

چه سړے د باز په بنکار کښے بنهٔ میر شکار شی
هنرونه ورته ډیر ښکاره اظهار شی

باریکئ د میر بنکارئ دِ هنرونو
هومره نهٔ دی چه ئے کښم په دفترونو

په داکار کښے هنرونه بالا پست شته
که ئے کورے رورهٔ دست بالائے دست شته

زهٔ خوشحال د دغه فوځ تهٔ سوار یم
پس مانده ورپسے څم د دوئ د شمار یم

پینځویشتم فصل په صحیح تعریف او تشویق د میر شکارئ په طرز د غزل

په جهان کښے لویه چار د میر شکار ده
چه داچار کورے هر کار لره پکار ده

څو قابو تالاش دا دواړه دی په بنکار کښے
چار د جنګ د مړ نتوب هم په داکار ده

په هر کار کښے ئے حکمت هنر حاصل شی
چا چه بنهٔ په لاس نیولے چار د بنکار ده

هره چار د نیکو بدو چه د باز ده
د میر شکار تر ئے په ستر کو کښے آشکار ده

آلوده په ډیر غم ورځ د عمر راز ده
چه په شمار د عمر نهٔ ده ورځ د بنکار ده

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ورته هیڅ د بنکار د ذ خبرے مکړه د هغه سړی چه طبع د بے کار ده

خوشحال باندِ د بنکار هر اړخ وندون شوه
مرده دِله که په تا باندِ بیکار ده

شپږ ویشتم فصل په بیان د بنکار د شاهین کښے

څوک چه بنکار د شاهین وویني په ستر کو
نور مرغونه شی وده ته لکه چرګے

په خوانئ کښے م هوس د شاهین وکړ
چه فارغ شوم ورته باز فرصت را نکړ

اوس په سپینه ږیره بنکار د شاهین څه کړم
بیا دا هومره کشالے تالاش نه کړم

که م خو یه شاهین چین شی نو پرے خوښ یم
شاګردی که له ما کاندِ بنده دستکش یم

د شاهین ګیرا کوونه درته وایم
یکا یک نے له ما واوره چه نے ستایم

که د زړه وی چه شاهین د زمین دوزشی
دا هنر له ابتدا په نوا موز شی

د بابنے غوندِ نے واچوه په مزکه
په دلبه نے نژدے و بوله په مزکه

په ورورئ هسے بوله ناست په مزکه
په دلبه چه درتله زده که زغابنت په مزکه

په دلبه ستا په ناره چه بنده آشنا شی
پرېږه واکه چه حرص پکښے پیدا شی

په دا رنګ یا په رنګ شاهین یار کړه
غرض داچه په دلبه نے استوار کړه

چه و مزکے ته نژدے په دلبه راست شی
برابر په دلبه ځی نه چپ و راست شی

دلبه نے بوله تل زنده د خور ینه
آبداره د زنده زړه د زنده وینه

یوه میاشت یا څلویښت ورځے هنر دا کړه
بیا باولئ د کوترو ورته دا کړه

چه یو دوه باولئ وخورى د کوترے
نور د کاندِ په ریزه مرغیو چرے

په ریزه پسے نے پریږده بیا نے بوله
چه کوهی په بیرته راشی سم نے توله

په زنده نے سیروه آبداره سپینه
چه په بنده حرص نے خودی ورسره وینه

بیاله پسه مرغابئ یو خو لاسه
چه بنے وُنیسی شاهین د اس د پاسه

چه شاهین د په ریزه نیول اُستاد شی
په نیول به نے د ځان نے چه اُستاد شی

آبداره د هر زنده ورته ضرور ده
که د بنکار ده که د کور ده چه مذکور ده

اکه شاهین کلوخ نشین شی عیب نے کوم دے
چه په دا به نے عیب کاندِ هغه اوم دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بنۀ خو داچه لکه حئ هسے را درومی
زړۀ فرحت دَ دۀ په تلۀ په راتلۀ مومی

په شاهین کۀ همیشه هیلئ را نیسے
لا به بنۀ پرش پیدا که خو به کسے

په هرځۀ ئے سیروه شاهین بے درنګ
زاغ، کامرغ، څاړی، لګ لګ، قازو کلنګ

کۀ دِ زړۀ په بنکار کښے نۀ یو ست بنۀ ئے صاف کړه
په داکار په میر میرشکار کښے ئے خلاف کړه

چرے نۀ وی چه شاهین درځنه سو رشی
نور به هیڅ درته اونۀ نیسی کۀ زور شی

همیشه ورکوه سپینه پنبه پاکه
چه هم دائے پرمهره ده له خورا که

په څو ورځ دِ خوری هډو کی دَ پرونه
چه ئے لرے کثافت کا له درونه

آبداره دَ تازه غوښے هیڅ بنه نۀ ده
آبداره دَ تازه غوښے هیڅ بنه نۀ ده

اول غوښه په بنۀ شان سره برګ برګ کړه
یا وُرک په اوبۀ وللَ دوینو ورګ کړه

بیائے وُنغاړه دَ شویو په رویمال کښے
درست به رنګ دَ دوینو ورک شی په داحال کښے

آبداره به سپینه پاتے شی یک لخته
عیب ئے څۀ کۀ درځنه وی یو څو وخته

دَ زنده سره ئے ورکړه چرغ شاهین ته
منګرمۀ شه دَ میرشکار و دے آئین ته

اُوۀ ویشتم فصل په بیان دَ دستکشئ دَ چرغ کښے

دستکشی دَ چرغ شاهین سره نژدے ده
دَ باری دستکشی هم په دا پسے ده

لکه چرغ چه دستکشی غواړی له تا نه
لګړهم په هسے شان واوره له مانه

لګړهم دَ چرغ په اصل کښے یو ذات دے
مساوات لری له چرغه له کجات دے

دَ میرشکار په دستکشئ کښے کا ربنکاره شی
هر مرغۀ په دستکشئ کښے آواره شی

چرغ شاهین دِ میرشکار نۀ پریږدی له لاسه
ورځ شپے دِ یو دم نۀ کیږدی له لاسه

چه ئے هر فعل معلوم شی بنۀ بنکاری شی
بیا مختار وی چه مرغۀ ئے اتباری شی

دَ شاهین په باب هر څو مبالغه ده
څوئے ډیره دستکشی شی هومره بنۀ ده

دم غوزه بغل سینه دواړه ورنونه
دَ شاهین مړه لکئ دنبال پرونه

دَ شاهین دِ په توپئ کښے دستکشی شی
بے توپئ دستکشئ ے بدمستی شی

دستکشی دَ سیه چشم په داشان ده
دستکشی دَ کلاب چشم تر دا میان ده

نوے باز لکه دَ دۀ فعل خصلت دے
دستکشی دِ ئے په اصل په فطرت وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

څنې دوه دوینم پهره پهره غواړی
دهغهٔ چه سرپه پرونوکښې پېرنغاړی

څنې غواړی پهره درسته شپه تمامه
درسته ورځ نه هم په لاس لره ترشامه

کهٔ هرڅوپه بنکارکښې سازوی بې هراس
تړے هراس کړه خومورنشی څلویښت لاس

نوے بازچه درته وکاځلویښت بنکاره
بیاهاله باندِ باوروکړه اے یاره

یوه ورځ دِ نوے بازوبنکارته وړ شی
بله ورځ دِ د بلبلو کار پرے کړ شی

چه دَ چرګ په آواز راشی خوغږ آوری
هغه بازکهٔ څوک پرے بنکارکاندِ دبنکاروی

نوے بازدِ واوبو وته پرے ایښ شی
تل دِ ذهٔ ته پک تغارداوبوکیښ شی

دَ اوبو په چشمه سار وی دَ بازجاله
په اوبو دَ باز ژوندون دے دما لاله

همیشه دِ اوبهٔ څښنی هم دِ تغسیل که
په داکاربه ځان تندرست فعل جمیل که

دم غوزه لره ئے مهٔ وروړه لاسونه
هم ئے تل لره دَ څانګ دَ لګئ پرونه

چه شهپر لګئ دَ باز سره یوځائے وی
چه تیره ناستے عادت کاخوشنمائے وی

دواړه پښے دِ پریشانے خطا نهٔ وی
په بهله باندِ دِجور ناستے دَ دهٔ وی

په سینه باندِ مهٔ وهه لاسونه
لویولوته ئے مهٔ پریږده نوکونه

هرباز دارچه بازخیرن که دَ سزادے
چه هر پرئے درته بربښی هنردا دے

نوے بازچه طعمه وُخوری آرام ورکړه
بیاهاله دَ دستکشئ باندِ هنر کړه

بازچه بنهٔ په بنکارکښې سازشی باورشی
بیاهاله دِ دَ دهٔ دستکشی شی

داهاله کهٔ بازخوشحوئ وی بنهٔ پرانتی
دَ بدخوئ په دستکشئ دِ اوسے تښتی

په چکس ئے کښینوه تغار دَ وړاندِ
چه آرام که فراغت که غسل کاندِ

نوے بازکهٔ یوه ورځ کښینی دننه
بیل له خلقو نورخوبی لاړه له دهٔ نه

هغه ځائے ئے کښینوه چه عالم ګوری
نور په لاس اخستے بویه چه وُښوری

په سارهٔ کښے باز ساته په ګرم ځائے کښے
په غارمهٔ کښے ئے ساته په سرد نمائے کښے

دستکشی دَ بابنے هم لکه دَ باز دهٔ
دَ شکری دَ بیسری لازیاته جواز دهٔ

چه بازدار سړے دَ باز دِ دستکشی کاندِ
روستونه عالم دِ څئ دَ بازدَ وړاندِ

کهٔ دَ بازدَ روستو تیرځوک په هلے هرځے شی
چه په ترس پرکیدل کاندِ نوبد خوئ شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اتهٔ ویشتم فصل په بیان د رنګونو د مارغانو کښے

رنګا رنګ پاسی له جالے نه مرغونه
لکه بازهسے شاهین لری رنګونه

د مرغانو ها په جاله کښے ځلور وی
په یوه جاله کښے زیړ وی سپین وی تور وی

چه رنګونه ورکوی پروردګار دے
یو د بل په څیره نۀ وی عجب کار دے

ابقازی شاهین په ملک د ګرجستان وی
یا په غرونو د سنبل د هندوستان وی

تردا نورو په قیمت په وزن ګران وی
سینه سره په شا د تور کارغۀ په شان وی

د سپین باز لاهومره ډیره بهانه وی
ترسپین باز نه لا افزون قدر د ده وی

د کوترے باولئ وُخوری وهی زانرے
تر اشیان خیژی چه تورے شی مهانرے

د کابل د قندهار چه اشیانی دی
دا همه واړه په نام خراسانی دی

د شاهین مرغے پیدا که په حمل شی
راوکښنه ئے د ټور په اول شی

چه شاهین خراسانی وی څنے څنے
د باړئ غوندِ لوئے روغ وی اوبدے پلنے

ترډامی نه آشیانی شاهین بهتر دے
که ډامی شاهین بنکاری بلند پردے

که شاهین دِ له نیولونه منکرشی
بویه داچه په زنده دِ څورب زرشی

دوباره ئے لکه نوے هسے ساز که
بنکار پرے هرکله بامداد وخت د نماز کړه

په ریزه ئے سیروه ډنګر دِ اوسی
تر هغۀ چه قاز کلنګ په ډکه یوسی

که شاهین دِ بلند پرد رومی میرشکاره
ته ئے مه نیسه هرګز له ریزه بنکاره

په شاهین سره هیلئ ډیرے نیسه
هسے رنګه به تیز پرشی بیائے کسه

شاهین ګرد لنډه لکئ سینه ورښۀ دے
اوبد ورمیږ. مبنوکه ورتنه ورښۀ دے

د مبنوکے سورے ارت کټه ساری
که ئے موے بل به نۀ وی د دۀ ساری

د مبنوکے سورے لوئے مبنوکه لویه
باز شاهین څۀ دا د هرجانور بویه

نهۀ ویشتم فصل په بیان د رنګونو د چرغ کښے

چرغ هم ډیرلری د باز غوندِ رنګونه
پکښے ډیر د مړ نتوب دی آهنګونه

چه له جالو الوتلی دی مرغونه
خو چرغونه دی چرغونه دی چرغونه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دمرغونو مزرے چرغ دے کڼے کورے
په تعلیم کښے دمیر بنکار وینے کا تورے

هم ئے چاردہ د تعلیم ډیرہ آسانه
هم دچرغ د تعلیم چاردہ ډیرہ گرانه

په دلبه ورلرہ زرراشی تیارشی
مټ په دابویه چه بنڼه ورسره یارشی

زورور دے مړنے دے دماغی دے
تڼه به وائے چه اوس ایل شولایاغی دے

بنکارد بازکڼه د شاهین کڼه دبانبے که
چه بنڼه سازشی عجائبے چارے بنے که

نقره دم وی هم چهره وی بورسوم فام وی
سپین شودڼه وی سیه پشت وی گلبادام وی

پکښے غوره چرغ سورفام وی توره ژبه
تورهم بنڼه وی بادابښتے وی په شبه

شنقارهم اصل دچرغ دے خما یاره
دسیری دے جاله نڼه که بے کهساره

څنے چرغ اشیان په غرهٔ کښے څوک په سم
دلاور پکښے د سنے دی له فهم

یوشنقارچه تل په واوړو کښے اشیان کړ
قیمتی دے بنکارئے څوک که بادشاهان کړ

یونرے پشم لری ترویخ د پرونو
څنے څنے موزه پائے دی تر نوکونو

چرغ شنقارچه سره پیژنی هوښیارہ
بنڼه میربنکارته ئے بنکارہ دی یوځوکارہ

اشیانی شنقارهیڅا لیدلے نڼه وی
لکه باز هسے نایاب اشیان دڈهٔ وی

دشنقار پیژندګلی دهرچا نڼه دہ
چه شنقارئے لیدلی د هغهٔ دہ

اشیانی چرغونه ډیردی په هرلوری
دامی هم عالم په هره کوڅه کوری

اشیانی چرغونه بنے نیسی هوسئ
دامی زانرے قازی څاړی هم هیلئ

تماشه دادامی چرغ خو د قتال دہ
دلوئے فوځ دځښتن دہ د ډیرمال دہ

دیرشم فصل په بیان د تیا رولو د چرغ کښے

چرغ په اصل دلاورسرکش مرغهٔ دے
چه اُستاد دده بنکاری وی دهغهٔ دے

اول بویه چه ډیرچرک په دلبه وخوری
په طلب ډډهٔ درسته هوا ومری

آبداره د ورکوی زړهٔ د چرګونو
لرے لرے دئے بولی په ملکونو

چه عاشق د دادلبه شی باولئ بویه
زاغ کلموغ ریزه میزه باوائی نه لویه

بیاد مورشی په عقاریه څاړی ماړی
بیاد دهٔ لره د زانرے ، اولئ غواړی

هسے رنګ د باولئ خوری چه تاوئے زورشی
نهٔ د هسے باولئ خوری چه باولئ خورشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په باولئی دِ په دوه زانړے تیار که
نوردِ څی چه د صحرا زانړے پرے بنکار که

درد سر د چرغ د ځاړی ترحد تیر دے
ما دا هومره درته ووے داهم ډیر دے

ما په چرغ سره نیولی دی ډیر ځاړی
چرغ خوځاړی د بټیری غوندِ نغاړی

پرے م نور د زانړو قازو فکر نۀ وُ و
که م فکر پسے وکړے کار ئے څۀ وو

چه هوا د یوے چارے څوک پیدا کا
هم پخپله هغه چار سړے دانا کا

شنقار هم د چرغ په څیر اموخته کیږی
ترسپین باز په بهادران فروخته کیږی

که نیول شی په خطا په ترکستان کښے
خال خال کښیوزی په ملک د هندوستان کښے

د اورنګ په وخت هم بنۀ تیغون شنقارُ
په یورپ کښے رانیولی چا دام دار وو

یوځما دام دار نیولے بنۀ شنقار وو
شاه جهان بادشاه لیدلے د ده بنکار وو

یو په سوات کښے پریوتلے وو پښه کال وو
عجائب په رنګ کبود شنقار آل آل وو

په دا ملک په پیښور کښے چرے چرے
یا په سوات کښے بنۀ شنقار کښیوزی د غورے

یو دیرشم فصل په بیان د اصل په باړئ کښے

باړئ اصل کښے کوهی ده نورځۀ نۀ ده
د اشیان په بحرکۀ کوهی د غړۀ ده

د دریاب په جزیره د عود په وُ نه
څکر خون کۀ د مرغیو په ساتنه

مګر کرځی دیو پری په هغه مزکه
اشیانی بحری موندله نشی څکه

په چوزئ کښے باړئ ډیر داد و بیداد که
چه په کور کښے کریزی شی نرخ کساد که

باړئ توره ده کۀ سپینه څمار وره
خو په ډیرو کښے یکرنګه باړئ کوره

چه دوه رنګه چه درے رنګه چه قشقه وی
ترے حذر کړه خو یکرنګه باړئ بنه وی

باړئ هم لکه شاهین په دلبه بوله
چه په تاؤ په دلبه راشی سمه ټوله

آبداره ئے څۀ خوسړه بویه نۀ سپینه
چرغ شاهین ته غوښه سپینه ورکوینه

چه بحری په دلبه راسته شوه تیاره
زرئے یوسه نورئے مۀ نیسه له بنکاره

چه باړئ له بنکاره وُ نیسے سړه شی
نور به بنکار درته ونۀ که کۀ زړه شی

د یاړئ دارو خواصل پرمهړه ده
پرمهړه د پوست، مغز د هډ سړه ده

په باړئ چه مرغابئ ډیرے شکار کړی
بیا هاله په زانړو قازونو تلوار کړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د باریٔ د بنکار هم لویه نندارهٔ ده
کهٔ ریزه ته میل ونهٔ کا نو بنکاره ده
د باریٔ د چرغ ترمیان څنګ څنګ پیدا شی
ترشنقاره هغه لانوره بلا شی

دوه دیرشم فصل په بیان د جفت کیدلو د غیر جنس کښے

باز خوشحور مرغۂ مزرے دا درے اقوامه
غیر جنس سره جفتی که دا ده عامه
د مزری د پرانګ ترمینځ ببر پیدا شی
کهٔ انکار ورځنے نکړی هسے دا شی
ذات په ذات چه اصل باز دے هغه قیرے
چه باز ونه رنګا رنګ شو دا تاثیر دے
چرغ شاهین شنقار چه باز سره جفتی که
دا په لعلو په یاقوتو درسفتی که
زاغ تپوس لمچے باز رنګ چه ورسره شی
د هغهٔ نتاج نا بوده مسخره شی
نهٔ ے فعل نهٔ ے خوئ نهٔ ے هنر وی
کهٔ په رنګ کښے باز لیدهٔ شی هم بتروی
له شنقاره چه پیدا شی ترس ے کم وی
زرکه زانهٔ ده واړه توکه ورته سم وی
یوه پښه خپله لری د بنکار د پاسه
بله پښه ورځنے بیله نیسی نا سه
چه له چرغ نه چه پیدا شی دلا دروی
له شاهینه چه پیدا شی دیر تیز پروی
له لګړه چه پیدا شی ریزهٔ کیر وی
په چستئ په چالاکئ کښے بے نظیر وی
د تپوس زوولی اصل هیچکاره وی
هم په رنګ هم په عمل هر څهٔ بنکاره وی
پرونه دیرلری د څان تنه ے لرهٔ
نهٔ هنر نهٔ هومره پرنهٔ هومره لوړه
د کارغهٔ زوولی وائی چه زړهٔ ور وی
اما دیر په خوئ کښے خوار کنده ے پروی

درے دیرشم فصل په بیان د راویستلو د بچوله هانه

خلق ها د چرګے کیږ دی په غله کښے
ترے چرګوړی راپیدا شی په چله کښے
هغه تاو د غلے ورسی تر هوئ
هغه واړه ها مرغے کهٔ کے لوئ
چه مرغونه تر سینے ترسینے که هوئ لاندِ
تو دوی ے اړوی ے لاندِ باندِ
دا هُنر دے چا مرغونو ته بنسټیلے
په بند بندئ هسے بند ورته ویلے
دا همه واړه بنسټینے کړد کار که
راشه واوره باز مرغی سره چه کار که
چه ے وباسی له هانه لا هلک وی
هسے شان چه درکوی خوراک ے سپک وی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اول غوښے په مجموعه کښے ورستے کا
بیا هغه لکه خشخاش دلے دانے کا
چه مرغے د باز قوت پیدا کوینه
له ښینے نه چه پیدا تورہ ښزه که
بال و پر د الوتلو چه پیدا که
چه په جاله کښے ریزه مرغے وُوینے
زرکے مرکے په چنگال سره زده که
بیائے وُباسی له جاله وکهسار ته
ترمرغیو اول باز په شکار غوټه که
بیائے پریږدی و مرغی ته دے ئے کسی
چه مرغی د باز شکاری شی باز ته شاکه
چه ئے زړهٔ وی هسے شکار د کوهستان که
چه مرغی د باز په باز پروا دار نهٔ وی
په داکار کښے حیرانی ده غرض کوم دے
باز ته چا ورکړه داهومره پوهه مینه

بیلائے وکاږی جدا څنے پستے کا
په حکمت ئے د مرغے په تهٔ خانے کا
په غذائے هغه هسے شان ساتینه
د غذا نواله مئی اویا چنړه که
اول حال ئے په ریزه مرغے شید اکه
ولوئے شکار وته مرغے شی پینزړه وینے
چه نیول د باز مرغئ په هغوزده که
چه مرغی پرونه ساز کاندِ و شکار ته
هغه شکار ورته زبون او نیم مرده که
له مرغئ نه هم خلاصیږی هم ئے نیسی
په دروکښے درومی شکار نیسی هوا که
نه مور پلار بیا یادوی نهٔ یاداشیان که
هغه هومره مشقت د باز په څهٔ وی
مګر پوخ په دا پوهیږی نهٔ چه اوم دے
خپل مرغی هسے ساتی نور مرغے خورینه

څلورديرشم فصل په بیان د ابتدا د میرشکارئ کښے

ابتدا د میرشکارئ مشق په جکړدے
داځو توکیه چه ښهٔ روسره شکاری که
لګړدیر په دا ملکونو پیدا کیږی
په دلبه چه ښهٔ تیار په ستونو شی
که علت دے که داروډی که تعلیم دے
شکار د زاغ عجب په شوق ذوق کاندِ
بوتیار سویه عنقار نیسی څو رنګه
شکرے هم په رنګ ترکیب لکه د باز دے

بیا شکره با ښه بیسره ده بیا لګړدے
بیا هاله دِ باز شاهین ته تیاوی که
شکاری نهٔ دے چه له دے چیرے ترهیږی
تلهٔ را تلهٔ ئے عجیبه په کرشنو شی
په هرځهٔ کښے اتیالک سره سهیم دے
په سلګونو ستونے خوری لاندِ باندِ
بلکه وریشی ترقازو تر کلنګه
عینه د باز په شان په خپل بیاض دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دا ملک کښے اشیانے شته هم دا ګشته
خو نریزه نۀ بنګالی غوندِ نامے شته

یا شکره د بنګالے یا د پنجاب ده
یا شکره د کلابست یا د مرغاب ده

د بلبنے غوندِ شکره اموخته کیږی
د شکری غوندِ بابنه اموخته کیږی

په تعلیم کښے له اوله بدفعلی که
چه عادت شی شکره ځان لکه اهلی که

خو پرونۀ د لکئی سا تلی بویه
چه پرونۀ سلامت وی چا رده لویه

بنه شکره درته کارغۀ نیسی شین کوسی
تور تارو تمځرے هم په ډکه یوسی

بیسره څۀ ده نۀ شکره ده نه بابنه ده
تر بابنے نه کمینه تر شکری بنه ده

په بل ملک کښے جاله نۀ لری بے هنده
نام نشان ئے رسیدلے دے ترسنده

تر شکری نه په لیدلو ده خوشر ننګه
ستر ګے سرے لری تور سر او کبود چنګه

د نیولو ئے عجیبه نندارہ ده
نۀ دِ ولی بیسره بنځه وی بنکاره ده

په خورنګه دے جفتی چرچنړے نیسی
په خپل کور ئے ملوکان نندارہ کسی

پینځه دیرشم فصل په بیان د دخلط د باز په سبب د غوښے

یا د خلط په سبب باز غوښے خطا که
یا ئے زده کۀ له تر طعمه خا که

یا چه تل تل همیشه خوری هغه غوښے
له ججورے نه سرے قی که هغه خوشے

یا ئے رګ وپے چه وشلوی په کام کښے
په قح قح ئے راجار باسی په ناکام کښے

یا چه وخوری طعمه ډیر وی پرکیدلی
په کرمۀ کښے پرکیدلی وی شلیدلی

یا ئے تۀ په بلغم پوروی یاله باده
چه زر زر پرمهره نۀ خوری له استاده

یا جوشش د عقلو دے لری په خولۀ کښے
یا ئے درد وی یا نور څۀ نه په زړۀ کښے

په هرشان طعمه ردہ کۀ باز داره
هغه ورځ ورته طعمه مکړه آشکاره

په اوبو کښے مستکی کړه مضمحله
چه ئے باز پخپله وخښی یوځو ځله

اوبۀ ترمے مستکی چه نوش جان که
کثافت له تنه لرے په هرشان که

بله ورځ د امتحان دپاره غوښے
د چرچنړو څۀ خوورکړه کۀ شوے خوښے

تر بیګاه پورے ورکړه دوه مرغئ
په وار وار نۀ یکباره کۀ خبر تۀ ئے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

بله ورځ په وار وار ورکړه څو چرچنې
پـه دا شان به رنځ علت ډباز وسکنړې

اوکه نۀ ځړوی طعمه خوا اچول کا
بویه داچه مقید شی علاج بل که

بازکۀ هرکله طلب ډ اوبو کاندِ !
داعلاج دے لازمی په بازدار باندِ

هلیله مائکه نبات برابر واړه
داجلاب وبازته ورکړه بنۀ وغواړه

چه یوځو پیخاله وکه طلب کارشی
ډ تر ړیه دریزه طعمه پکار شی

چرګه مرګه دِ وبازته چغوینه
چه ئے فهم پرے غلط شی طعمه وړینه

کۀ طعمه ئے تِه ته یوړه خیریت دے
بیا دِ کاندہ بنه څۀ ورکه چه صحت دے

ډمبرکوری یو طعمه ورلړه بنه ده
چه دوه درے طعمے قبولے که ولجه ده

نور په هره ورځ چه بنے طعمے پیداشی
ورکوی دِ چه قوت بهئے په داشی

کۀ په داهم اسانی ډباز وُ نشی
درته وایم اسانی به ئے په څۀ شی

ډمبرکه زړۀ دِ بنۀ ریزه تنک تنک که
رګ ریشه څربښت مربښت ورځنې ورک که

تلخ لونګ دِ ډ نساله پیوګډ که
سائیده دِ ډ لقمے سره ګډ وده که

چه ئے وخوری کۀ تازه په داعلاج شو
بنۀ ګنړه چرے ډبل علاج محتاج شو

په مقدار ډ مهے مئ کښے لونګ ورکړه
په صبائے ډ ریزه په لقمه سر که

کۀ په داداروبنۀ نۀ شو یوه مهه
کۀ ئے صبر سقوطوی ورشی تر تهه

اُمید کړه چه بازبه روغ په داروشی
اوکه نۀ ډ مړک دے پریږده چه یکسوشی

کۀ پاره کړے ډ تمځری ترحلق کارته
په صبائے غوښے ورکړے شی وباز ته

ډ سنګدان پردِ ډ زرکو کړه شی وُچے
له طعمے دِ خوری مقدار ډ بزو پچے

ډ سینے ډګونګی غوښے هم لابنے دی
ترهرځۀ وبازته بدے وچے پښے دی

ډغمو ډ نغن مورګه نوی سوی
ډاوبوسره چه داشی اوبۀ شوی

په هغه اوبو ډ مړۀ غوښه لمده کړه
چه ئے وخوری کۀ ئے هضم کړه غم مکړه

دے زحمت لړه هم بنۀ ډمیږے پئ دی
چه ئے خوری ورسره غوښے ډمرغئ دی

بیا ترکیب ډ سوند وهلم ډعسل دے
مجرب دے آزموده دے ډیرا ول دے

په هدف چه غشے تیر ډ تیرانداز شی
یوخو وی چه ډهدف په سینه سازشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

شپږ دیرشم فصل په بیان د رحمت د قبل قورت او د مه کښے

دوه زحمته په کتاب کښے اندراج دی
قبل قورت نړی چینجی لکه ویښتۀ وی
واړه غټ د باز شیند چینجی نورهم وی
په لید لوسړه د چینجی لیدل شی
د هغو علاج به وایمه د وهانډ
د اوبو نه نزله دومی هم هرڅۀ دی
د دومی څۀ دومی سیاره ده کۀ پوهیږے
کۀ د مه د توخی دومی یا د زور کله
دا هم واړه علاج لری هو بنسیاره

قبل قورت د مه دا دواړه لاعلاج دی
یوه لویشت وی یا څۀ کم وی اولوے نۀ وی
نۀ واړه قبل قورت غوندِ لړم وی
په درون کښے حواله د باز په دل شی
ناقلان په خپل محل خبرے کا نډ
چه دا واړه سړه بیل کۀ پوخ هغه دی
هیڅ دارو د دومے نشته کۀ کروهیږے
یائے رنځ دے یا عقله دے چه دے شور کله
رنځ علتے په دارو څی له میر شکاره

اُوۀ دیرشم فصل په بیان د چینجی د باز کښے

یو چینجے د قبل قورت غوندِ دراز وی
هیڅ آزار د دے چینجی وباز ته نۀ وی
چه خیرنے طعمے باز وخوری بدشری
قنبیله د خولے اوبۀ سړه ممزوج کړه
چه بینځال سړه ئے واړه چینجی پریوزی
دا رچینی چه پرمهرے سړه باز خوری نه
ډے زحمت لړه چه باز د غواغوړی خوری

لاځۀ غټ په دا چه غم الم د باز وی
په دا روئے برطرف کړه بدکۀ بنۀ وی
دا چینجی شی ترے پیدا لکه ژوری
د طعمے سړه ئے ورکړه داخروج کړه
یا په دا اویا په نورو دارو ووزی
د چینجی علت په ځان کښے نۀ پریږدینه
د غواغوړهم په ډکه سړه چینجی وری

اتۀ دیرشم فصل په بیان د توخی د دومی

کۀ په توخی دومی باز دمه کوینه
یا دمه د ډنګر توب یا د جوشش که
دا هم واړه علاج لری باز دارہ

یائے ګرد خاورے سپیرمولړه ورشینه
یا دمه د حرب د ضرب د ډیر کوشش که
فارغ مۀ شه د علاج له کار وبارہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

معطسات نسوارضرور ورلره بویه
چه په لاړ د سپیږ. موکړۀ شی داروځویه

تر سپیږ. موئے چه اوبۀ خراشکی بیرون شی
نور به بنۀ د بازماغزۀ د بازلړمون شی

اول مرچ بیا انګوزه دریم حنظل وی
وار په وار نسوار د درے وارو اول وی

تل د لنګے غوا پئ وځکوه میرشکاره
چرے نۀ وی چه فارغ شے له دے کاره

د بازځائے بویه همیش په کرم ځائے کښے
څورغیږ. ی غلط مۀ شه په دارائے کښے

که دے یو نفس له ځایه نه بیرون کړے
بیا به سرد وباره غوڅ د بازلړمون کړے

څوچه باد ورباندنۀ لګی سود دادے
چه په ځائے کښے کرم ناست وی بهبود دادے

ځائے که سوړوی پکښے اچوه سکروټه
چه د ژمی سوړسارۀ شی ځنے وټه

توخے دروی ترے له ډیر د نوی باز شی
ناګهانه نۀ میشتی په هوا ساز شی

په میشتی کښے کرد غبار لوګے موکے وی
په صحرا کښے کله اور کله لوګے وی

په صحرا کښے بنۀ بنړونه چشمه ساروی
د باز و نود ذوق هوا په مرغزاروی

ځکه چوز په اول کال کښے تمامیږ ی
په رنګ رنګ به ئے ساتی که ځوک پوهیږ ی

چه د کورخانه کریز وی بازهاله وی
چوز مرغی نۀ د سارۀ نۀ د غارمۀ وی

نسوارونه په ډیر رنګه ورکول شی
په یوۀ نسوار که نۀ شی بیا دِ بل شی

ونسوارلره بنۀ صبر سقوطوی دی
یا بهتر ے بنے اوبۀ د آهوری دی

د باد اموغور نسوارو له هم بنۀ دی
که ئے ناس کړے ورته بنے تود اوبه دی

که په داهومره دارو ئے فائده نۀ شی
سکه علاج به ئے په داغ په پلیته شی

یائے واخله د سرپاسه کپړۍ
که په علم جراحئ کښے اُستاد تۀ ئے

د حلوان د پیه د مو موساز مرهم کړه
پریږ. ده څۀ خو پرهار ئے فراهم کړه

چه زرداب زوے ترے څو مره فائده ده
که دِ زده وی داهم بنۀ معالجه ده

که د ډیر ے تریخ باز په هر صباخوری
څود موتو دانے داهم بنه دواخوری

په دارنځ کښے د چارپائے غوښے کنده دی
د چرچنړو د ریزه غوښے فائده دی

پرمهره دِ باز هم کله کله خورینه
یو نیم برګ دِ دارچینی ورسره وینه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

نهه دیرشم فصل په بیان د علاج د سپږو د باز کښے

په اغیر مغیر چه شی باز په لوړے
د خوارئ د مخه وشی د باز سپږے

فلفل مول یا فلفل دانه بنډ میده کړه
د باز پرونه پرے ترویخ پورے گنده کړه

د باز سپږے به په دا داروشی لږے
کڼۍ گورے بنے خوندی شی د باز سپږے

یا یوه لته خامتا د باز په غاړه
اندرون ئے په پرونو کښے وغاړه

د باز سپږے به راتولے په خامتا شی
باز به خلاص له هغو سپږو نه په داشی

څلویښتم فصل په بیان د عقلی د باز کښے

چه علت له عقله باز لره پیدا شی
په داشان بهئ علاج دارو دواشی

په کریاس سره د مات د باز جوشش کړه
پرے د مالکه مالیده په ډیر کوشش که

چه سپین والے برطرف شی له آزاره
پتکړے سماق دوه دا او یوجوکاره

دا درے توکیه که یوځائے سره میده که
هغه ځائے د د جوشش پرے آلوده که

هم د ژبه د مرغۍ که پرے ککړه
باز د بنډ ساتی له باده له جکړه

د چرچنړے د ریزه غوښے د خورینه
د چارپائے غوښے وباز ته زیان لرینه

که د تورے غوا په پیو اول پاک کا
باز لا بنډ چه دا داروئ فرح ناک که

که د باز عقلی د خولے دوائے دا ده
که د پښو د کف پادی دا روا ده

یا روغن د بلا وی یا زنکار بنډ دی
پرے ئے کیږ ده نور دارو مناسب نه دی

چه ئے فاسده غوښه واړه برطرف شی
زرد چوبه موم پرے تړه چه بنډ ئے کف شی

دا نخود پئی د رنځ لره دارو دی
که د پښے په کف پاکه ئے په پرو دی

یوځلویښتم فصل په بیان د علاج د پردے د سترګو د باز کښے

چه د باز پرده د سترګو شی ظاهره
د رته وایم که غوږ باسے دا خبره

دا علت ئے د عقلئ له بد اثر دے
یا په بنکار کښے سیخ د د ئه په سترګو پرے

یا خیرنے غوښے خوری له زړه ئے ردے
دا آزار ئے شی چه نه کا غوښے ردے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پټکړے مشک ونبات کافور دا واړه
برابرئے سره واخله وئے نغاړه
په اوبوکښے ئے تمامه شپه لامدۀ کړه
په صبائے تف په ستړکو دبازتۀ کړه
یوځو ورځے داعمل چه په باز وکړے
بویه داچه ترخانه ئے بیرون نۀ کړے
دَچارپایوغوښے بازلره ضرر دی
دَچرچنړو دَ ریزے ورته شکر دی
رس چه واچوی په اورکښے چه بنه سړه شی
هغه دس دِ ساړۀ شوے په اوبۀ شی
بیائے واخله له اوبو بنۀ ئے میده کړه
دَبازستړکوته ئے تف تۀ نیچه کړه
دا دارو هرکوره ډیربنۀ دی عجب دی
څو بازونه په دۀ سروغ دی مجرب دی

دوه څلویښتم فصل په بیان دَعلاج دَخشکئ دَبازکښے

کۀ دَبازدِ دَخشکی علت ظاهرشی
بائدۀ دادی چه دارو دَدۀ هم زرشی
کنړه یوځله چه دا علت ځائی شی
نورئے مړک دے دازحمت لادوائی شی
مګربنۀ میرشکارپیدا شی چه ئے چاک کا
چه دَبازدَدے علته نه باز پاک کا
بازچه بدے کنده غوښے خوری چرکینے
په اوبوسره ئے نۀ وینځی مهینے
یائے اچوی وښکارته ډیرے رُخه
باز بیخال دانے دانے که تیرے رخه
دَ پیخال ئے هسے رنګ هسے کونه وی
تۀ به وائے عینه لکه چونه وی
څۀ خومالکه ډیرنبات کړه دَغوا پئ
صاف کړه بازکۀ په داکارفهمیدۀ تۀ ئے
یا نبات له کوچوکړ کړه کله کله
څوبادام ورکوه بازله دما دِ له
یا برګ برګ کړه زړۀ دَمرۀ په پیوتړکړه
یوځو ورځے دا په وخت وبازته ورکړه
دے زحمت لره ماغزۀ دَ وزے بنۀ دی
دَ پاچوماغزۀ دَغواغوړی بدنۀ دی
په اوبوسره لمدے غوښے کۀ خورینه
همیشه په دا زحمت کښے سود لرینه

دریے څلویښتم فصل په علاج دَبازکښے چه وچے غوښے ئے خورلی وی

بازچه غوښے بے اوبو خوری کلکے وُچے
هغه غوښے ئے شی غوته پکښے غوچے
یاچه ډیره طعمه وُخوری بے حسابه
وړے نۀ شی نۀ قے کیږی شی کریابه
تۀ ئے کښته تِه ته وړی نۀ ئے جاریاسی
بنۀ بازدار دِ ئے په داهُنر وُباسی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دَکوترے دَتارویا دَ تمځری
په مرغۂ دِ درسته روغه پینه ونغری

هغه پینه چه مرغۂ روغه وی نغرلی
هغه پینے دِ بنۂ په مزی وی تړلی

په رو رو دِ هغه مزے راځکوینه
بند طعمه به هم له پینے سره راځینه

داعمل چه یو ځله بنۂ تکرار شی
همکی به برطرف دَ باز آزار شی

نور دِ نۂ ورکوی هیڅ تر صبحدمه
بله ورځ دِ طعمه ورکه بیش وکمه

باد اوبۂ علاج دَ باز دَدے زحمت دے
په نیچرے ورکړه باز ته چه صحت دے

بیا دَ باز بجوړه ونموړه په کوتو
په اوبو نوره طعمه نۂ وی دَ نښتو

انګوزه کۂ په اوبو کښے که څوک تړه
په سپیرو موئے ورته ناسکه هم دے غوړه

کۂ دَ مچے برابر کند رڅوک ورکه
له بجوړے به دَ باز طعمه بهر که

څلورڅلویښتم فصل په علاج دَ سستئ دَ باز کښے

دَچا باز چه سست کاهل شی نۂ که بنکار
درته وایم علاج څۂ کړه دَدے کار

شپیر اوۂ ورځے وتړه دننه
ورکوه بنے بنے طعمے ورته بنادمنه

مۂ پرے بنکار مۂ دستکشی کړه یوځو ورځے
وائے مۂ خله کۂ غار مۂ وی اوکۂ وریځے

بیائے وباسه وبنکار وته روان شه
نور باز ونه دِ بنکار که پرے نګران شه

کۂ حرص وکه دَ بنکار ته ځے ورپریږدہ
چه بنکار وُکه هغه ځائے ځے ورته کیږدہ

چه یکه یکه یوځو ورځ باز سیر شی
دَ سستئ دَ کاهلئ خوئ به ځے هیر شی

کۂ کهے دِ دَ چرچنړے لقمے خورینه
په لقمه دِ څۂ خو مشک پورے کوینه

کۂ لږ صبر سقوطوی ورکه خو مهه
کاهلی به ځے بهر کا ندِ له ځانه

کۂ ضرور وی دَ تندرست هلک متیازے
په لقمه سره فائده لری وکازے

پینځه څلویښتم فصل په علاج دَ پرکردان دَ باز کښے

کۂ علت دَ پرکردان چرے عیان شی
دَهغۂ علت علاج دِ په داشان شی

کله اچوی باز پرونه بے محله
کله پرونه په کال واچوی دوه ځله

څوک چه څورب باز به لاس واخلی له کریزه
باز په بنکار نۂ که پیدا کا ندِ داچیزه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یائے څاړی د وزرپه بیخ پیدا شی
یا پرکیږی په کریزکښے ډیر په دا شی

یا په ښکارکښے خبردار پرے بازدار نشی
شلانډه ملانډه مړک کړ بوړے تے ترخوله شی

یا ناغړشی په کریزکښے یوځو ورځے
له خوارئ شی د باز پرونه تګے تګے

کهٔ علت ئے د څرښت وی چه ډنګړشی
بے دارو به ئے په داکښے محکم پرشی

کهٔ دچارے په علت وی غذا بویه
نورغلیظه غذا مهٔ ورکوه لویه

کهٔ درون په کامبیله د مرغهٔ پاک کړے
کوچ نبات ئے یودوه درے ورځخوراک کړے

دازحمت به ئے له ځانه تاریه تارشی
پرګردان د شلانډے سهل وی نوردارشی

شپږ څلویښتم فصل په بیان د علاج د بادو د باز کښے

قرقرباد د باز نشان دے د خشکئ
یاچه ونیسی لوئے ښکارکه خبرته ئے

تیزلونګ د ښځے پئ سره امیز کړه
په نهاره ئے مرغهٔ په خوراک تیز کړه

یا لږ صبر سقوطوی ورکړه مرغهٔ له
په لقمه کښے چه زحمت لری هغهٔ له

یا ریشه د دارچینی نفع لرینه
چه ئے باز د پرمهرے سره وخورینه

د رونج هلم سوندهم فائده لرینه
کهٔ میده ئے باز له غوښے سره خورینه

د چارمغزغوړی هم ډیره لری نفع
کهٔ له غوښے ئے بازخوری رنځ ئے شی دفع

په دارنځ کښے د چارپائے غوښے کنده دی
غوښے ښے د عصافیر ریزه میره دی

اوه څلویښتم فصل په بیان د متفرقاتو کښے

نوے باز په چرک په غوښه په کشته
په طلب ئے آراسته کړه سرکشته

ښکارچه ونیسے زړه وینه سینه ورکړه
مړول ئے نور په لاس باندِ اکثر کړه

په آس سورشه کړځوه ئے مړوه ئے
بدخوئ ئے څو هیریږی هیروه ئے

بازلږخوری دوه خواړهٔ عادت ښهٔ نهٔ دی
چه عادت په یک خوره شی ښهٔ هغه دی

دوه خوره خود بابنے د باز ښهٔ نهٔ دے
بازعادت په یک خوره همیشه ښهٔ دے

که د باز یاد بابنے بازدار شفیق دے
باز بابنے لره لازم څهٔ خوملهق دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

متفرقه

چه دَ غوښے په ځالۍ بازله ورکوینه — ها، ماهے، کُچ دا درے توکیه دِ خورینه
خمیره ډوډۍ بے مالکے منځ ئے ښۀ دے — ورسره کۀ ښۀ صاف کړے کښینه دے
دَ سړی دَ مخه بازکۀ څۀ ترهیږی — چه په خولۀ نیولے غوښه خوړی ښۀ کیږی

متفرقه

بازکۀ ښکارله ورایه ووینی پرځیرکه — په دا حال کښے دے بازدار نودے دلګیر که
کۀ تودے اوبۀ دَ باز په خولۀ اندرکه — پرمهره به دَ باز هم په دا بهر که

متفرقه

پاکیزه اوبه کۀ واخلے دوه درے کوته — پکښے واچوے توده دَ نغری لوښته
څۀ خوښه غوښه په دا اوبۀ لمده کړه — دَ اغیر دارو داغوښه ده تۀ زده کړه

متفرقه

په طعمه کۀ باز رغبت نۀ کړه بازداره — قنبیله ښه ده دَدے زحمت دپاره
په لقمه کښے څو دانے قنبیله ورکړه — په ساړۀ ښۀ ده په اوړی ترے حذرکړه
نایوه حبه نمک نبات دوه حبه — دم درحال ورکړه په بازدَ مسهل لبه
بیادِ خوری طعمه دَ غوا په غوږ ککړه — باز ساته ګوښه له باده له جګړه

متفرقه

دَ کوکړے غوښے کۀ باز په ژمی خورینه — هر زحمت لرې پیرسود فائده لرینه
څۀ شو بازکۀ ګه ګهے فریاد بنیاد که — بد هغه چه وړے مور درته فریاد که

... ... * ... ...

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

متفرقه

د سهپړ دلم کهٔ پر په ویخ کښے ماشی په دارو د هغه مات څنے براته شی

دغه رنګه

باز بابنه کهٔ د بازدارچرے کوږ پرشی سفید نفط کهٔ پکښے واچوی سر بر شی
یائے وکنه غازه څنے بیرون کړه موم روغن ورباندِ تکے کړه لدون کړه
په توده پوډئ کښے نوک د باز نغاړه کهٔ کوږ شوے وی په دائے سمون غواړه

متفرقه

د چا باز کهٔ بدخوئ که حکم نهٔ وری بنهٔ آشنا به شی کهٔ داګولیه وخوری
مښک لونګ مصری نبات دارچینی عود برابر ورسره هم د مړهٔ غدود
برابر دِ هممګی سره بنهٔ آس که په صاف کړی ګبینه دِئے ګډ ناس که
د انارو اوبهٔ هم ورسره بویه په مقدار حبه ګولئ یا څنے لویه
ګرزوی دِ تل په بنګار کښے داګولئ ورکوی دِ تل په بنګار کښے داګولئ
باز کهٔ غوښے د بنګار خوړئ څهٔ وینه مینه ورسره دِ داګولئ هم ورکوینه
هم به باز په الوتو کښے بے خطا شی هم به کار د خوشخوئ پکښے پیدا شی
کهٔ د باز شهپر په زور چرے ګنډه شی کهٔ ئے زر علاج ونهٔ کړے نو ژغنډه شی
میده کړی مالکه غوږ د غوا دا دواړه په سوری کښے ئے د پرکیږده پرے غواړه
باز کهٔ ډیره بدفعلی کاندِ آغاز ه تداوی ورته د صاف شهد کړه سازه

د باز د تاؤ دارو

قند بوره کافوردا درے توکیه سره کړه مسکه هم د غوا په قدر ورسره کړه
کهٔ هر څووی باز ځوره ګرمئ و هلے
داعلت به ئے په دا دارووی تللے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

متفرقه

موخوری لره داخو توکیه پیدا کړه
تورو انجو خنظل نظرون را پیدا کړه
د بازونو رنځ آفت دے په کمان کښے
زیات هاله چه کړد غبار وی په آسمان کښے

متفرقه

په تورتم کښے چه باز ناست وی ورو ورو لاس
زهٔ ورتوب دے کهٔ ئے نهٔ وکه هراس

ایضًا

د ساړهٔ وهلے باز تریخے د یرے
یادِ داخوری یادِ خورئ د مخے لږے
زیړ د هوئ ماهی تلخه ساړهٔ ته بنه ده
که په قدر د خشخاش د غوښت دانه ده
بنهٔ د بازد پاره مشک او مومیائی دی
د هرځهٔ د پاره دا دارو څائی دی

ایضًا

د چار پائے د غوښو رګ وپلے کړه لرے
مرګ د بازدے رګ وپلے که په باز نغرے
بازچه وُنیسی بنکار وخوری وینه مینه
سورشی هله دے بیا بنکار ترے خلاص نه

ایضًا

که د بازد قولنج درد چرے پیدا شی
په طلب په بنکار په هرځهٔ سست نما شی
که په قدر د بادام ورکړے کاځړه
د قولنج د باد هیڅ نشته نوره ویره
که د زهٔ وی چه د باز خوږ الوزی
په اول چه خوږ ساز خوږ الوزی
باز د لویو غرونو لوئ وی د کم کم وی
د تیراه باز و نه خراری سره سم وی
که په دا خبره کاند څوک دعوه
نهٔ ده نیکه د ده غهٔ سره جګړه
په جُسه په تنه فرق تفاوت ډیر که
څوک اشیان په سیوری څوک په کوم سیر که
بازچه لوزه خواری راځکوی بدحال شی
عیب علت مرض پیدا که خو نا پیژندل شی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

درته وایمه اگر نه ے دانی
بازته بده ده طعمه د زندانی

بانگی بازکهٔ دیرفریاد نارے غوغاکه
لوئے لاچی چه میده کړه په غوږ د غواکه

په لس ورځ کښے درے ځله کهٔ داوخوری
دیرفریاد به باز پرے کم کهٔ داروښهٔ خوری

متفرقه

سوند لونګ مستکی عود سړه میده کړه
د لقوی داروهم دادی له مازده کړه

پرے وخوروه ککړه پرے لقمه کړه
چے ئے هضم کا ندِ ورلږه طعمه کړه

سازوه د باز نوکونه چه خوشرنګ وی
د بادا موغوږ پرے مږه چه خوشرنګ وی

کهٔ ناخن د باز بهر شی له غلافه
د بادا موغوږئے جوړکه بے خلافه

کهٔ د باز چنګونه سست شی پرش نهٔ کا
دا زحمت لکه فالج دے تر ودے څهٔ کا

دهتوره کړم اوبه واخله دا دواړه
د سړی متیازے ګډے کړه په دواړه

کهٔ سونا وی کهٔ بورچی وی تبل وروکړه
المان باش سرخ سرخوشرنګ لږه څوځوکړه

هغه تبل چه سیخ پره مرغابئ خوری
هغه هسے کله هره مرغابئ خوری

کهٔ چرګی دی کهٔ ابلق واړه دا نابود دی
په آواز د تبل هیڅ دی بے مقصود دی

په ارکه په لای خوره چه ستا رضا وی
لکه بنکار هسے د تبل پرے ادا وی

بادهم بویه مخامخ نهٔ چه ترشا وی
مخامخ د باد د باز غوټه زیبا وی

باد بنے کینږ ترڅنګ د باز غوټه خطاکه
کهٔ ضرور وی ضرور هره چار روا که

ایضًا

هرصبا د باز پیخال پرمهره ګوره
هسے رنګ ئے مړوه هسے ئے ژغوره

د پیخال ئے کهٔ په ځلے واړه تورسپین دی
دغدغه وریا ندِ مهٔ کړه کهٔ مهین دی

کهٔ ئے تورلړلے نه نرسوے رنګ وی
داهمه د خلط اغیږ د زحمت زنګ وی

پرمهره نرمه هم نخښه د زحمت ده
سخته توله پرمهره د باز صحت ده

کهٔ په خولهٔ کښے عقلی د باز پیدا شی
کهٔ په بله دوانهٔ شی بیادِ دا شی

د غواغوږ د غواشودهٔ سره تاودهٔ کړه
په هنرسره داغ ځلے د جوشش تر کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

متفرقه

کهٔ د باز مجبوره خیری شی بازداره
اندرتل ئے ضروری دی له تلواره

په پرهار کښے ئے رانجهٔ سکارهٔ اندر کړه
هغه ځانے ئے د سمن په غوږ وغور کړه

کهٔ جوشش د باز پیدا شی په چنگال کښے
روغن داغ ورلره ښهٔ دے په داحال کښے

یا جوشش په مالګو بے سره ښهٔ پاک کړه
بیا میده نکار پرے پورے په تپاک کړه

په جُسه کښے کهٔ جره د باز په رنګ دے
امتحان ئے په مښوکه یا په چنګ دے

باز چه کوز په مزکه کښینی له چګسه
په چګس دِ بیا په خپله کښینی کسه

په چګس کهٔ ئے تهٔ کښینوے بدکار دے
په داهسے کار څوک نهٔ که چه میرشکار دے

په ساړهٔ دِ چګس نغښتے په نمد وی
سوه چګس په ژمی باز لره پیریدوی

د باز پر د بانس په ستن سیب کړے ښهٔ دے
کهٔ د پره په تبل سیب شی هم بد نهٔ دے

کهٔ د باز منګل اماس وکه له ضربه
یا د ځاړی د سرخاب د قاز له جربه

پریکړه نوک د دهٔ د کمے کوتے نخچے
چه ترے توئے تورے وینے شی بیا وچے

نور هاله دارو مارو ورلره سویه
بیا هاله تر بند مربند ورلره بویه

چه د باز فاسدے وینے ورکے نشی
کهٔ هزار دارو پرے کیږدے په داخهٔ شی

باز په ژمی ښهٔ ساته په گرم ځائے کښے
اوړے هم چه معتدل وی په رستلئے کښے

په کلک ژمی په نوروز مسهل ښهٔ نهٔ دی
نور په هر موسم مسهل ورکوه ښهٔ دی

چه ئے اخلے له کریزه هوا کوره
په غارمهٔ کښے جلاب بِه وی ترے ئے ژغوره

په لږم کښے باز اخلی له کریزه
مسهل هم په داآوان ورکړه عزیزه

مستکی کهٔ په کریز کښے خوری بازونه
د باز ونو په نم نهٔ لګی پرونه

بل پرونه د باز ونو خوشنمائے وی
بل به رنګ د باز د پښو واړه به ځائے وی

بل به هیڅ اشتها نقصان ونهٔ کا
بل به لږے ځنے عیب د غارمهٔ کا

باز څو رام څو آرام وی کریز ښهٔ کا
چه نهٔ رام وی نهٔ آرام کریز نهٔ کا

چه د خلط علت د باز وی زنده نهٔ خوری
په نا بوده طعمه کله کریز ښهٔ خوری

اول باز له خلط پاک کړه مسهل ورکړه
د کریز په کور کښے بیا هاله اندر کړه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

که ئے وتړی په کورکښے چه انسان وی
بیل له خلقه په باز لا کریزآسان وی

دست گردان کریزهم بنهٔ دے چه خوښکارکه
په سیرئ کښے باز درست اوړے خپل کارکه

باز کهٔ رنځ لری له باده له جکړه
په سنګ تاؤ سره دِ خوری غوښه ککړه

کهٔ د غواله شود وګډے کړے شکرے
یوچونګ ورکړه خلط د باز شی په دالړے

کهٔ بوره یا مالګه خو خو درسره وی
د شودو پیروے ورکړه چارلابنهٔ وی

چه د باز ته خالی شی غوښه ورکړه
ګنډه رنځ زحمت به بیاموهی حذرکړه

چه په لاک باندِ باز نهٔ شی په نوکونه
په خپل ښکارکښے ئے واز نهٔ کړونه

باز به چرے خوبګیری یا تیزپری که
الوتل نیول به واړه سرسری که

د ښبرو د شکرو بنهٔ مسهل دے
اختراع د مصنف ده پیر اول دے

که یوچونګ وباز ته ورکړے زیاتے نشته
پکښے لوبه خوش فعلی صحت هرڅهٔ شته

بازچه ګرم باد ته وباسی بازدار
توخی دومی ورته اینبی وی تیار

باز د توخی د نزلے دمه پیدا که
مګر بنهٔ میر شکار ددے زحمت دواکه

درته وایمه چه درسته میرشکاری ده
میرشکاری طعمه داری شب بیداری ده

که دارو والے داروخو پرمهره ده
د اوبوسره لمده خهٔ خو قطره ده

چه ضرور نهٔ وی دارو لره ترے لرے
نور به ختم کړم په دے خپلے خبرے

POHA
پوهه

ختم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

اتم توک

POHA

سوات نامه

پوهنه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

په دوران د شاه جهان بادشاه خوانی وه
میسّره د زړه هره کامرانی وه

سرائے له سواته فاصله لری دیرش کروه
چه ورکوزشی تر دریا د سوات تر کوه

درے خیزونه م د سوات د زړه په یاد وو
نورے هرځۀ په حیات وماته باد وو

یوخسران چه په حضور د وادۀ کار وو
بل ے بوئی د نرګس زار دریم شکار وو

زۀ نوکروم، یوسف زی روګردان وو
ځکه ورغلۀ ترسواته ځما ګران وو

ملوخان د وادۀ کار دِما په زړه کړه
زۀ په کور د صدر مورے، را وادۀ کړه

تماشا د نرګس زار وه کۀ د شکار وه
په پیرئ کښے را پیرزو د کرد کار وه

سوات م واړه لکد مال کړۀ سرتر پایه
خبر دارے شوم له هره هره ځایه

ملک د سوات د ملکانو د نشاط دے
په دوران د یوسفزیو وران رباط دے

وشمال وته ے غر بلورستان دے
شرق کشمیر، غرب ے کابل او بدخشان دے

هندوستان وته تور غر لری بدغا شی
پرے خاتۀ به د لشکرو په غوغا شی

ترکابل نه ے هوا د اوری بنه ده
د کابل هوا ترخه د ده خوږه ده

په هوا کښے د کشمیر په آب و رنګ دے
حیف دے دا چه کشمیرارت، دے تنګ دے

طولانی دره تر دیرشو کروهه دیره
عرض ے دوه کروهه یا یو یا تیرو بیره

له مشرقه ے دریاب درومی مغرب ته
په کج راست ے ویل مۀ کوه کاتب ته

په هر کلی په هر کور کښے ے وَلے څۀ
هم ے خوری هم ے هر لوری ته غلے څۀ

نۀ پرے لار شته نۀ بل کار نۀ ے بل سُود دے
خو یو کُنج ګوشه له خلقو غله بود دے

کله کله پکښے هسے ارزانی شی
چه په دوه تورۀ د شلو مهمانی شی

هم سړے اوبۀ چینے لری هم واورے
نۀ په سوات باد سموم شته، نۀ ګرد خاورے

هر هر ځائے د سوات د ملک ملوکان دے
بے سردارۀ بے حاکمه کوه خانه دے

ملوکانو عیش عشرت دے پکښے کړے
په هغه هنر کښے نۀ دے دا وګړے

پکښے لوئے منارے شته، بتخانے شته
لوئے کوتونه حویلئی د زملنے شته

د میوو دے د ګلونو د بستان دے
د ملوک لائق په وخت د تابستان دے

دوه خیزونه دی د سوات تحفه تر واړه
ګل رخسارے ے کافر، باز، دا دواړه

د سوات ملک چه پکښے روغ حویلئی دی
په هر کور کښے ګلزارونه سهیلئی دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د سوات ملک چه درست لائق دے د باغونو
یوسف زیو برابر کړله سراغونو

په هر لور کښے فوارے دی آبشارونه
ښۀ شهرونه ښۀ سرایونه بازارونه

هسے ملک هسے هوا هسے جویونه
نۀ څایونه۔ نۀ باغونه۔ نۀ بویونه

کال په کال د ملک په هسک کاندِ باختونه
بے شکرو په خپل څان کاندِ تاختونه

یوسف زئ د پیرچرکین لری څایونه
آلوده کنده بد بوئ لکه سرایونه

کۀ په سوات کښے په نظیر دی ورځے ماشی
د منگورو د بروړو ویل په چاشی

پکښے دوه څله تبژن په بروړو شوم
هرهر څائے دانے دانے په څومړو شوم

څوسړی هومره ئے سپی په هره څونه
په انگنړ کښے ئے چرکان کړزی سلگونه

درسته خونه ئے نیولے په کندوانو
په کنده روزگار بتردی ترهندوانو

بائے زی ئے روزگار کا چه سیالان دی
خواجوزی ئے نورځۀ نۀ دی بقالان دی

په هرکال ئے دوصو تیرصوبازنیول شی
کافر کۀ ئے په شکل شمائیل شی

کۀ بل شکار د سوات په ملک کښے په مقدار
په هرلوری تل دل د زرکو شکار دے

مرغاوئی ئے د سیند ترسروپا شته
دنا اهل د توپکو پرے غوغا شته

هم کاوز بزونه سرژے هم کوتهه پائے
امّا وړکے کړے توپچیانو څۀ به ولائے

چه د سوات سره تړلے دے ملک پیر دے
د یوۀ سردار ترسروپایه تیر دے

د چترال سرحد د سوات سره قریب دے
غر او سم ئے آبادان جریب جریب دے

وچترال و ته ئے لار د کوهستان څی
ترچترالہ په پینځه ورځے کاروان څی

درے څلور میاشتے دالار وی بنه روانه
پیرآفت لری له برفه له بارانه

تلۀ راتلۀ د خلائق په دالارکم شی
مګر کار په بدرقه د ملک سم شی

یوه لار د هندوکوه وه ترکستان ته
بله لار د چترال ده بدخشان ته

بله لار کۀ په مورنگ څی لرۀ بره
داځو لارے په سرحد د هندوستان دی

نورے لارے په سرحد د خراسان دی
یوسفزی په شماره ترحساب تیر دی

اما واړه کاؤ خروند دی کۀ پیردی
د مغل نمکرم وخوړ شپیڑ پیړۍ

د زرد پکښے سروغے کړے پیړۍ
رعیت م یوسفزی درست څلویښت وو

په حرمت او په عزت کښے م څۀ شک وو

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د مغل دپاره ما تورے وهلے
پښتنو به راته کړے ډیرے شکنجے

که ورکزی که بنګش اوکه یوسف ځی
دِیو همه دِما د تیغ په تأسف دی

پښتانهٔ م په زرګونو دی وژلی
په سرونو بهٔے خرهٔ غوایهٔ وو لشلی

لا تراوسه د سرونوئے انبار دے
په اتک په پیشور کښے ئے مینار دے

په دوران د اورنګ زیب بادشاه په بند شوم
بے تقصیره بے ګناهه دردمند شوم

درے ځلور کاله په بند د اورنګ زیب شوم
خدائے چه خلاص کړم انتقامهٔ شکیب شوم

د مغلو زیست سر وزګار راباندِ اوروو
په صحبت ئے دِما رنګ لکه تورسکور وو

راپه غاړه د مغل منصب په زور وو
تړ به وائے چه منصب نهٔ وو سوراوروو

ناګهانه په دا ملک فساد بنیاد شهٔ
دِما هم د تلافی کار په یاد شهٔ

د فساد که یو بخړے ووما اور کړهٔ
اورنګ زیب بادشاه پیرانه کړه پخپله

دریاخان م د خپئ ګوتے ځلے دے
خود په خودئے په ځان وکړلے داشندے

چه تنبے م د ختک د وړاندِ تللے
د مغل راسره ملے وے شوړے پلے

د خپل وُچولی په کار دِما باور دے
پښتانهٔ چه واړه خوش له ځانه نن دی

دا آسمان چرخ فلک وو دا به شوله
چه وما ته څهٔ خایش څهٔ ئے خبر دے

یکباره ئے په لاس ونیوے ناپسندے
خدائے خبر دے که پښتون له ما نه خلاص دے

داهمه واړه دِما ظاهر باطن دی
داچه هسے په هر در هر درنګ ولاړ یم

که مغل سره دِما د زړهٔ اخلاص دے
نور م خدائے مړ کړه مغل وایم په خیره

نن د واړو پښتنو په ننګ ولاړ یم
همکی واړه په مادی خاورے خړے

چه پښتون شوم په داهسے سپینه ږیره
تراول به لا په چاره کښے بهتر شم

که مغل وما ته سل وائی خبرے
پسے شا به حرام خور کیدی شکانجه شم

دا پوهیږم که مغل لره که ورشم
اُمرا کان به د مغلو خوشی کاندِ

مخامخ به یوځو ورځ شه نمانځه شم
پښتانهٔ چه سره وژنی دیو پرے ویاړی

په تعظیم چه ورته وُدرم مخ وړاندِ
چه ئے لاڼے په ناحق د ننګ وهلے

په ورتلهٔ به بیا خدمت راشمه غواړی
پښتانه به راته هم کاندِ شکنجے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په زړهٔ کړم دا یو خوخبرے یا دے
نور ے واړه اندیښنے شی را نه بادے

ومغل ته به خبرے په ورځو کړم
سرم پریږده که به سر ورته بیا کوز کړم

نهٔ په خپل نهٔ په پردی یم خو په ننګ یم
په دا ننګ کښے ځوئی پلار سره په جنګ یم

که د ننګ پښتانهٔ شته ساعت هم دا دے
په دا ننګ کښے سرومال وملک فدا دی

داهم شکر چه م و ترله ټوره
دِما ټوره په جهان شوه مشهور ه

ورځ په ورځ فتح ونصرت تازه تازه شی
کال په کال د ښو مغلو جناز شی

ترکابله تر اټک په سم په غرو نو
انبارے دی د مغلو د سرونو

اورنګ زیب بادشاه پخپله رایت راوړے
که ئے زد ووکهٔ ئے زور دوړے پرچاوړے

په غرزی له هندوستانه را ولاړ شهٔ
حبطه خاورے په سر په بیارته لاړ شهٔ

پینځه شپږ کالونه تیر د دے فتور دی
پښتانهٔ په زړهٔ خوشحال مغل رنځور دی

عاقبت وهیڅا ته سړکند نهٔ دے
کوره څهٔ شی کار د خدائے دے د سند نهٔ دے

که حیات په دا دُنیا یم بخت مدد کا
یوسف زئی د نفاق خوینه رد کا

اُوهٔ میاشتے یم په سوات کښے گرځیدلے
همه واړه دی عظیم سوکند خوړلی

ملکان به ئے وخپل سوکند ته کوری
په لشکر به جملگی سره وشوری

ومغل وته س نن کړم اټک پُوله
ملک به خلاص کړم د مغل له غالهٔ غوله

د اټک د پیښور د کابل کوټ څی
لوئے هلک کوتو نه واړه یه دا چوټ څی

په دا کار که یوسفزئ بے وفا شی
الوداع ده چه دما به وته شا شی

نورم ځائے په خوشحاله لوحانی دے
که څوک وی که نهٔ نا کام د کړلانی دے

څوڑوندے یم وابه نهٔ وړم لږ ځوده
مړدکی به په وار وار ورشی تر کوړه

که پیوند د ایمل خان د دریاخان شته
د خوشحال خټک سیلوئ تر دا میان شته

ورځ په ورځ به کار بهتر د پښتانهٔ وی
د نن کار به د مغلو صبا نهٔ وی

که نور واړه پښتانهٔ د مغل آش خوری
چه د موڅه ورته شاده واړه شاش خوری

خدائے دِ نهٔ کا که له موڅه یو کنډ وشی
بیا به هله په چاجوړ د مغل بوُوشی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

دا دَخان کلان قصیدہ دہ پہ احوال دَجنګ جدل چہ دَمغل لہ مخالفتہ وو

پہ دا کارکښے چہ چا ووهلے تُورے
پہ مهمندو باندِ مڑ شرمیندے بورے

پہ شنواری آفریدی باندِ رحمت شہ
پہ صافیو پہ غلجیو برکت شہ

چہ مغل دَجګدلی تانړہ نیولہ
غلجئی پہ پوند تُورہ وُوهلہ

دَ ختګو نہ یولک ختګ داخل دی
نورختګ واړہ تراوسہ لاباطل دی

پہ ورکزئ پہ بنګش باندِ نفرین دے
لہ دیو واړو اولسونوم زړہ شین دے

یوسفزئ کڅ وهلے نڅ دہ تُورہ
پہ هاهُو شرکت لری بلائے دُورہ

کڅ فرصت وی تراولہ تر آخرہ
دَدے کار بہ درتہ نظم کړم خبرہ

بیل پہ بیل کتاب څوجزہ سرہ سازکړم
حال بہ شرح ترانجامہ ترآغاز کړم

چہ پہ دافتو رکښے شوی دی جنګونہ
ترکابلہ خرابی پہ فرسنګونہ

اوس بہ حال دَسوات دَملک درتہ بیان کړم
دَدے خلق کاروبار بہ درعیان کړم

چہ دَجنګ پہ کارکښے شی پیدا داچارے
دَناکس دَکس هموارے ناهموارے

پښتانڅ واړہ نادان دَجهل کان دی
کڅ ئے واوڑے یوسفزئ پہ بل شان دی

مادَ سوات دَعالم بنہ نندارہ وُکړہ
وهرهر فریق ہم پتہ بنکارہ اوکړہ

خو پہ خولڅ کلمہ لولی مُسلمان دی
پہ وعدہ پہ عهد قول بے ایمان دی

دَلږ سُود دَلږ بهبود دَلږ مقصُود دی
پہ اندک لہ تاخوشنود هم ناخشنود دی

دَخپل سُود دپارہ کړم یاری کاندِ
چہ ئے سُود نڅ وی بے شرم یاری کاندِ

خبردار کلہ پہ شرم پہ کرم دی
همګی عبد الزوجہ عبد الدرهم دی

هم ئے کبر، هم ئے حکم، هم ئے نازوری
پہ هرڅڅ کښے دَعورتوساز ناساز وړی

یائے شیخ ملا پہ مکر پہ افسون خوری
یائے مال پہ خپل پردی مکرخاتون خوری

سیوائی بڅی دَلور پہ لونړہ پلوری
پہ داڅو توکوکښے غرق دی مختوری

پہ کم اصل پہ بداصل نظر نڅ کا
دَتهګو پہ لالچ خوراولورواډڅ کا

آشنائی درسرہ کا دَخړہ دپاسہ
خپل ساتی طمع بہ کاندی ستالہ لاسہ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

زر روپئی به د نقصان کا په روپئی
په تمیز کښے سراسر واړه مبهوت دی
که په کور کښے خزانے لری د زر رو
د ادب په کار کښے هسے ناهموار دی
درست عالم ئے د کوار په شماره دی
کور په کور گوندی گوندی او بد نیتی
نصیحت به درته وایم له ما زده کړه
مخامخ ئے نورځۀ نشته بے اقراره
که باورئے یا په هو یا په کرم کړے
په درست کال ئے گوتے نۀ خیژی له کاره
یا د سوات خاورے گنده په کار د کشت دی
ویش قسمت چه د وفا د مروت وو
پول پیسه پکښے د واړو دین مذهب دے
چه یوه پیسه په څۀ انواع دوه کیږی
د دُنیا په کاروبار کښے هسے غرق دی
یو عالم دے پرے صبا شی یا بیگاه شی
پکښے نۀ چه یوسفزے په دا طریق دے
ومیلمه وته ست بربر راشه نشته
اصیلان پکښے بنده غوندِ خرځیږی
که مظلوم چرے ملک وته دادخواه شی
که په خولۀ کلمه لولی مُسلمان دی
تولا که تبرا که د دین ننگ وی
که هندو کلمه ولولی مُرتد شی
هسے خلاص دی له ادبه له تمیزه
په هر کار کښے ناهموار نا فهمیده دی

آواره کا درسته غوا د غوا په پیځ
چه بدلئی ورته گوهر شۀ یا یا قوت دی
بیا خواړۀ خوری په شر شمو په د نبرو
کشر مشر تور وسپین په یوۀ شمار دی
تر تاجکو لا په زیست کښے آواره دی
بیهوده له ځانه خوش بے برکتی
چه په نۀ ئے باور کړه په هوئے مۀ کړه
بے شائے نورځۀ نشته بے انکاره
د سقه سړی په ځان باندِ ستم کړے
بوتیمار دی د اوبو په شالی زاره
یاله ځایه یوسفزئ بدسرشت دی
یوسف زئ په دا کښے بدقسمت وو
اندیشه ئے خو د سیم او د ذهب ده
هم هغه کاهیڅ په بله نۀ پوهیږی
نۀ د یو بیځے لوئے هلک ئے تابه فرق دی
که په خوب ئے له بند گئی لاس کوتاه شی
چه په سوات کښے موندۀ نشی کوم فریق دے
نۀ د ژبے چارنۀ شناخت مهر د زړۀ شته
هیڅ څوک نۀ وی چه په دادئے ورسیږی
چه یوه روپئی بل ورکا روئ سیاه شی
په عمل کښے یوسفزی لکه ددان دی
په دا واړه کښے د هر یوۀ زړۀ سنگ وی
څوک به نۀ وائی چه دا په دین کښے بدشی
لکه داهِ عربی هندی کنیزه
نادیده دی نادیده دی نادیده دی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

پکښے نشته میوه دارے باغی وُنے
همکی د غرهٔ پلوسے دی یا غنے

په وعده په عهد قوله بے وفا دی
بے اَدبه بے تمیزه ناصفا دی

دُر سیپه کانړی یاقوت ورته یوشان دی
سیب شلغم انار بهی ورته یوشان دی

نهٔ مردانو غوندِ مُخی شهنکی کا
سپینے ږیرے سره ټول مسهوکی کا

نهٔ ئے قول نهٔ ئے عهد نهٔ ئے بول شته
خودَ دیو ریش فش د بنگړو پول شته

نهٔ پرے حکم وو نهٔ چا څهٔ ورکوینه
واړه خان لره کتې په خان ئے خورینه

آشنائی خواب وخیال غوندِ لیدهٔ شی
یا په مثل لکه باد چه وریدهٔ شی

مبتلا په څورنګونه پلیدی دی
مزیدی دی، غسیدی دی، ندیدی دی

چه نیکان پاکان ئے داوی دائے حال وی
له بدانو نه ئے وایه کوم مقال وی

دَ بابا دَ مال یوازے میراث خور دی
نهٔ په تړور دی، نهٔ په مورډ نهٔ په خوردی

چه دَ رورے جنازه په کور کښے کښیوزی
که رضا که بے رضا په ورندار پریوزی

له قاتله خان غلط کا په قصاص کښے
دَ مقتول په خائے بل ووژنی په خاص کښے

هر مُلا په دا صحبت ورسره مل وی
په ثنا دَ یوسف زئ وی که غل وی

دالاخهٔ دی څنے نور قباحتونه
کور په کور سره اخته په شدّ تونه

هومره ملک هومره اولس برکت هیڅ
که مال که ئے دولت سخاوت هیڅ

که پالیز دَ څتکو څوک ودان کا
پخیدو ته ئے پرے نږدی اُوم ئے وران کا

کومه ملک ئے هومره زړهٔ هومره خواړهٔ کا
چه څلور ورځ څلور سړی ماړهٔ کا

که سړی ئے په صورت لکه آدم دی
په روزګار په خوئ خصلت له دیوسم دی

په غلط غلط خویونو مبتلا دی
په بدخوئ په بدخصلت دَ خان بلا دی

نهٔ سزا دَ بدکارانو پکښے کیږی
نهٔ په خپل عقل پښهٔ سړی پوهیږی

چه څوک ووائی دا بنهٔ دی هغه بنهٔ دی
چه څوک ووائی دا بد دی کله بنهٔ دی

که په مکر څوک خپل خان پکښے طبیب کا
څوک به نهٔ هیڅ چه بشکاره دَ دهٔ تکذیب کا

که په مکر څوک مُلا شی یا درویش شی
څوک به نهٔ وی چه خبر دَ دهٔ په کیش شی

هر سړے ئے ومنصب ته اماده شی
هر مغل چه په سوات راشی شهزاده شی

که دَ کلی دَ اولس دَ تومن بزرګ دے
ومیلمه وته ئے کتر مکرر چرګ دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خبردار کله په ننګِ افغانی دی
کشمیری او پکلی وال دی لغمانی دی

دَهغوچه زړه دَچرګ په مړک ریژدی
مصلحت دَتورو سپینو ورته بلیژ دی

خکه هسې په هرجنګ باندِ برے کا
بیاله ترسه جنګ ته نه ځی خان مزرے کا

دائے واړه نامردی ده هیچکاره دی
خیراتی دَجنګ په کار په څه شماره دی

آسوده په مال په ملک په زرد ینار دی
دَدُنیا روزګارئے نه زده بدروزګار دی

نه ئے خوان نه دستارخوان نه چراغران اشته
درسته شپه ئے دَشونتینو بد دُخان شته

چه په تیل په دستارخوان ئے څه خرځیږی
که زردار وی هم ئے غوښے اوبه کیږی

فصل

ملکان خانان ئے کل واړه خران دی
عالمان شیخان ئے واړه جاهلان دی

چه عبدل عبدل بالله شی پکښے کت دے
اوس بسانډ کوطه دَکلی کټوی چت دے

دَجهان عیبونه واړه سره ټول کړه
هغه واړه دَهُنړه دَغار پسول کړه

دَتالی که درته وایم یو کالے دے
دک شحنک دے دَاوګړے که یا تالے دے

دَکاچو نمسے نه خان دے نه ملک دے
کالګرچن دروغژن غښے دَهلک دے

ملکی ئے په کرم نه ده په ټوره
په دا واړه توکه مورو وه باندِ بُوره

کارئے څکه مسخره حبطه سپک دے
څوک چه زیات دے په تپه هغه ملک دے

سود حاصل ئے یادَ بډ یو یادَ خواست وی
په هرکلی په هرچم باندِ ئے زغابست وی

دَملک ئے دَ دفتر پولے پټی وی
نورے تورے خاورے توئے په کښتی وی

دَملک ئے که درے نور سره نږه سکه وی
پدری پټے ئے درست ریشه ریشه وی

یوه بخره دَملک وی درے دَ نور سره
په کم زیات ئے سره جنګ وی په لشکور و

چه نیکان پاکان ئے دادی حال ئے دادے
شیخ میاں نُور پکښے تر واړو لا والا دے

اول حال دَعالمانو درته وایم
بیاله پسه میاں نُور درته وستایم

عالمان ئے همکی واړه سفیهه دی
نه عالم دی نه فاضل دَی نه فقیهه دی

چه دَکنز دَ قدوری شی خان مُلا کا
هرحلال حرام په خان باندِ سره وا کا

نه دَکنز دَ دقیقوخه خبر شوی
نه په مخ دَ قدوری مبصر شوی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

کتابونه په سرکیږ دی ځان مُلا کا
په هر کلی محلت کړځی ټکی غلا کا

کښینی شرع پریکوی په رشوتونو
ځان قاضی کا په غلط روا بیتونو

وهر چا ته مسئلے د سخاوت کا
خپله خونه ډکوه بله غارت کا

په مسجد راځه پینځه وخته آذان کا
چه زکوٰة سرسایه نۀ وی مسجد وران کا

د میراث مالونه خوره له ظالمانو
نوم په ځان باندِ کیږ ده د عالمانو

په داهسے علم برند کښینی مُلا شی
وعالم ته میراث خور د انبیا شی

نۀ ئے کښل زده وی نۀ لوستل تل ټکل کا
تعویذ ونه ورکوی په دروغ کښل کا

په ناروغ ئے خوشی لا زیاته تر روغ
طشت تعویذ دُعا هیکل کښی په دروغ

لا رنځور غریب صحت نۀ وی موندے
چه اخون وی اخستو ته ورنیولے

که په ورکړه کښے څۀ درنګ څخ تعطیل وی
په غوغا په شور وشر ئے قال وقیل وی

چه دما په خلقو قدر قیمت نشته
د رنځور م بے تعویذه صحت نشته

چه رنځور له رنځه خلاص شی راته شا کا
نور بیادِ ما تعویذ د چا بلا کا

داچه زر هسے ناساز کا آغازے
خپل مقصود مطلب حاصل کا په ناسازے

وائی موژ ته چه نظر د ستر کو سپک کا
خپل ایمان به په دا هومره چار ورک کا

په داعام وګړی هسے هیبت کیږ دی
چه د دیو په رضاځی هرڅۀ به پریږ دی

که ترس له خدایه نۀ کاندی غلول کا
اس به پریږ دی زین به باندِ په جاهل کا

چه مُلا د میا نور په حکم درومی
هم هغه د سوات په ملک کښے سیرئ موی

میاں نور کۀ د څنزیر غوښے روا کا
مُلایان به باندِ زر جوړه فتوٰی کا

د میاں نور مفتیان د سوات په ملک کښے دوه دی
الله داد او دوست محمد دواړه یاوه دی

لږ ئے علم لږ ئے لوسته دیر تقریر کا
چه میاں نور ئے لمسوی هغه تزویر کا

اوس به وایم د میاں نور له حقیقته
چه تر نور ونۀ دے لادے بد خصلته

راشه واوره په دا هومره قباحت
چه په ما باندِ ئے جوړ کړۀ تهمت

زۀ چه څون په اعتقاد کښے پاک سُنی یم
په کندن د رافضی د بیخ کنی یم

رافضی ئے په دا هسے اعتقاد کړم
په درست سوات ئے په تکفیر په رفض یاد کړم

د صدیقؓ او د فاروقؓ په عشق کښے طاق یم
د عثمان او د حیدر بنده قلماق یم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

آل اولاد د پاک رسولؐ واړه منمه
امامان نبیان هم ټول واړه منمه
د یزید پلید په کاربانډ لعنت دے
چه د آل سره ئے کړے شرارت دے
د بد ذات مکر په علم کښے لا بد شی
حبشی چه په مخ خال کیږدی لا بد شی

فصل

یو کتاب دے درویزه سره جوړ کړے
د سوات خلق ئے کل عالم مور کړے
نامعقول مجهول بیان پکښے بے ځایه
بکښے بد د سیّد وایه یزید ستایه
دا احوال به په بل فصل کښے آشکار شی
په مطلب نظر لرم چه در آشکار شی
ناکهانه چه د ما په نظر کښیوت
په دا حرف په داوئیل م نظر پریوت
چه لعنت به په یزید باندِ وائینه
چه په رفض کښے غړه بے حده وینه
د حسینؓ په مرګ یزید کله راضی وو
بلکه دے د ده د خون متقاضی وو
امرکان ئے د حسینؓ په مرګ قصاص کړل
زه حیران شوم د یزید په هسے خاص کړل
بیائے دا وو پکښے کښلی ده له دینه
چه په آل به رافضی درود وائینه
بنهٔ جاهل مُلا چه دا کتاب وو کښلے
ما په دا خبرو دے وو پیر شکنجلے
مخامخ ئے دا خبرے کړے نمائے
چه تهٔ هم سکه رافضی ئے چه دادد ئے
رد بدل د دے خبرے د پیر مذکور شهٔ
دا مذکور په واړه سوات کښے مشهور شهٔ
هغه نیم مُلا روان شهٔ و میانور ته
خس خاشاک ئے مره ولوستل تنور ته
سړے لمبے د میاں نور په کور شوے بللے
نهٔ وو خوک چه ئے اوبهٔ کړے باندِ تللے
ملایان شیخان ئے واړه سره ټول کړهٔ
گلهٔ ئے واړه په دا ویر په دا کچ کول کړهٔ
میاں نور وے چه اخون د موژ امام دے
درست مخزن پرے نازل شوے په الهام دے
په مخزن باندِ چه بد وائی کافر دے
د کافر قتل په شرع معتبر دے
چا به دا وے چه لعنت په یزید وائی
رافضی دے دوازده امام هم ستائی
چا به دا وے نهٔ په تُوره د کشتن دے
رافضی په سرو لمبر کښے د سوختنی دے
چا به دا وے چه د ملکه د ویستو دے
چا به دا وے چه توبه ه د ویشتو دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

یوه لویه هنکامه شوله برپا یه چه ئے زړهٔ هسے خبرے په ما وا یه
ملکان دَ یوسفزیو لکه خرونه په کندګی سره لړلی خولے سرونه
نړئے علم نهٔ دانش نهٔ فهم پوهه خو دوستی دِ درویزه باندِ انبوهه

په وئیل دَ درویزه عقیده ځومره
لکه عینِ په آیت په حدیث هومره

درویزه چه بیان کړے خپل کتاب دے نوم ئے مخزن الاسرار کړے جناب دے
هر بیان ئے ناموزون مجهول بے رنګه خالی پاتوله دانشه له فرهنګه
که یوه مصرعه په شل بله په سل ده نامربوطه ناموزونه په وئیل ده
قافیه ئے لام و دال سره وهلی په ردیف کښے ئے نون واو سره پیټلی
قصیده دَ بوصری ترجمه کړی عربی ئے تر پښتو مضحک راوړی
هر هر بیت دَ قصیدے چه دُر مرجان دی په پښتو کښے تر اوربشو لا ارزان دی
معما دَ آزری ترجمه کړئیے تصوف ئے وعالم و ته نومورئیے
ترجمه دَ شاه ناصر یوځواشکاله وعالم ته جوړه کړی له مقاله
مسئلے ئے نظم کړی په پښتو دی درته څهٔ وایم چه څهٔ دی دَ بستردی
په داهے شان کتاب ئے مها بات دے دَ جامی ترهفت اورنګ ورته نادیات دے
کنده پرد کنده خورسره جوړیږی خاص په خاص اوعام په عام ویل خوښیږی
په حیرت به واړه کوتے وچیچلے دَ اخون په مخزن چا کوتے کښیښولے
هرسړے چه په مخزن باندِ څهٔ وائی په دُنیا کښے ترساعته به څوک پائی
ملکان شیخان ئے واړه سره تول کړهٔ په خپل سحر په افسون ئے کړ اوکول کړ
یومیاں خان وو بل مانکئی وو بل سنګر وو یوسنګر څهٔ خو په پوهه کښے بهتر وو
دَ لنګر خټک په کلی کښے زهٔ ناست وُم فراغت دَ توت ترسیوره لاندِ ناست وُم
داسکان رالړه راغلهٔ زهٔ ئے ویش کړم په لیدهٔ او په راتلهٔ ئے په تشویش کړم
په خندائے راته ووے دا خبره اوس تروپاسه خوشحال خانه زوروره
په درست سوات دِ غوغا کړه کړه ته خوب کړے نهٔ دِ غم نهٔ دِ پروا نهٔ طلاطوب کړے
میاں نور درلړه راغے ناست په رود دے خبرو لولړه راغلو دِ موڅ دود دے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه دعوی دَچا په مینځ کښے شی بنیادہ
ملکان ئے سره ژغوری له فساده

یا ورځه ومیان نوروته جواب کړه
یا قبول دَ درویزه مخزن کتاب کړه

دَ درست سوات دَ ملایانو دا رضاده
چه قبول دِ کا دا کار فائده هم داده

ما وے دین دَ محمدؐ دے ما منلے
بے قرآنه بل کتاب دے چا منلے

درویزه نهٔ مجتهد دے نهٔ امام دے
دے هم خام تاسے هم خام مخزن هم خام دے

مُلایان دَ سوات همه زکوٰة خوارهٔ دی
په دانش په دین په علم خبر څهٔ دی

وے ئے داځواب دَغشی دَ ناوک دے
سکه تر وپاسه میان نور هم درته پک دے

ملامِ وترله زهٔ هم ورسره وان شوم
یک تنها مواجهه په ډیر خصمان شوم

چه غریبی ورته وغریبره له سکه
کهٔ خلاصے ورځنے نهٔ وی باندِ لکه

مخامخ وبله کښینا ستو په قهر
په خبرو مه شکاره کړو سره زهر

ملکان شیخان علمان واړه سره شول
دَخپل لوری ننګ ئے واخست مسخره شول

چه به ما ورته ویل کول دَ مشکو
ابلهانو به وئیل کول له پشکو

نهٔ ئے علم نهٔ ئے عقل نهٔ ئے پوهه
فضیلت ورځنے لرے په ډیر کروهه

څوک حَکَم منصف حاضر نهٔ وو په میان کښے
چه په حق په باطل پوهه شوے په بیان کښے

ملکان په ننګ دَخپل لوری ولاړ وو
عالمان شیخان په نور عضو ولاړ وو

خدائے دَخپلو صادقانو سره مل وی
ترهرچا دَ صادقانو کار افضل وی

شیخ میان نور پخپله کښیوت په تقریر کښے
ما و دهٔ ووچوت ورکړے په تحریر کښے

کتابت ئے لا پخوا وو راته کُشلے
مشتمل په جهالت وو ناپسندلے

نهٔ ئے خط نهٔ ئے املا نهٔ ئے انشا وه
فضولی ئے خپله کُښلی په ملا وه

دَ سلوک دَ تصوف واړه لافونه
په املا دَ کاف په ځائے واړه قافونه

همګی ثنا صفت له خپله ځانه
طرهات ئے په خورنګه په خوشانه

ما ځواب دَ کتابت وو ورته کښلے
په هغه ځواب دے درست وو پوهیدلے

ما وے ته لکه ګیدړ په خُم کښے شین ئے
خوهم بیا هغه ګیدړے کهٔ رنګین ئے

شاپرک غوندِ په شپه په هوا دروے
چه صبا په تا راځی هزیمت موے

په خطو نو کښے چه ځان وماته ستایئ
ماهم پیژنے چه څوک یم داځهٔ وائے

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

خپل صفت دِ یوسفزیو و ته وایه
زهٔ دِ پیژنم چه څنۍ ځان مهٔ ستایه

چه دا هسے احول چشم بدخصال ئے
د یزید د در دربان یا د دجال ئے

کهٔ څهٔ شرم څهٔ حیا د کیدی خر وے
بس وو دا هومره ویل کهٔ ئے جوهر وے

د عروض د علم فن م وو هم کښلی
په مخزن د مغلظ قسم وو کښلی

د دانش وئیل م دهٔ ته لکه باد وو
له هوائے واړه خپل وئیل په یاد وو

د ائے واړه ترعالم پورے شهرت کړهٔ
دانسته ئے هومره مکر خدیعت کړهٔ

چه دا هومره دعوی نهٔ کړمه پرمایه
د مخزن به دا خبره شی بے ځایه

چه خبره د مخزن بے ځایه کیږی
نور دما قدر قیمت په ملک کمیږی

درست دِ نفس په هوا غرق و وسر تر پایه
کنه ولے به دعوی کړه ده بے ځایه

چه انصاف ئے له ازله په نصیب وی
په دعوے کښے راضی کله په تکذیب وی

کار د خصم د خپل خپسر د حق کړئی ته
دواړه یودی جوړوی د حق سوئی ته

ناحقژن په خپل غرض باندِ ولاړ وی
حق انصاف حساب ئے واړه له زړهٔ ولاړ وی

مگر خدائے ئے په سر سازه کړه څپیړه
د کاذب له خولے نه وځی وینا غوپړه

الغرض چه ئے خبره کړه آغازه
دیرئے ووئیل د خپلے نیاله نمازه

بیائے وستایهٔ نیکهٔ په څو څو رنگه
مستمع شه درست عالم ورته تر درنگه

خدائے ئے وتړله ژبه له افسونه
دا وینا د دهٔ د ژبے شوه بیرونه

مُوژه کله وایو دا چه یزید شهٔ دے
په مخزن کښے درویزه ستایلے نهٔ دے

بل دِ موژ مخزن نهٔ شعر نهٔ بیان دے
بیان شوے نظم نهٔ دے په بل شان دے

کهٔ ئے کوړے درست په شان د صحیفو دے
چه راتلے به له آسمانه له هغو دے

یو پښتو کلام موزون دے بیان شوے
په معنیٰ کښے د کرکون دے بیان شوے

هغه ځائے چه د رښتیا مهتاب بنکاړه شی
د کتانو تارو پود پاره پاره شی

د رښتیاؤ کرامت لکه باران دے
د دروغو سحر دوړے د بیابان دے

چه د دهٔ د خولے نه دا خبرے وشوے
تهٔ به ولے چه په هرچا توئے اوبهٔ شوے

پوهیدم دِما ستاره وه پرے غالبه
له هیبته ئے دا وُوته له ژبه

کهٔ ئے بیا کړه د افسون شیوه آغازه
سود ئے نهٔ وو دِما ژبه شوه پرے سازه

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

ماوے بس دما مقصود مراد هم دادے
مدعی په دا خبرو خود آگاه دے

د یزید ستائینه کوړئ په مخزن کښے
هم مخزن نهٔ دے د شعر په هر فن کښے

زهٔ هم دا خبره وایم خلقه خامه
خودے وویل خبره شوه تمامه

چه هر څوک په داخبره خبردار شو
چه کینه وُځی د روغے طلبګار شوو

چه ترمیان د مومنانو شدت بد دے
بل ستانو رغرض تردا دعوی ارشد دے

تهٔ په ننګ د پښتانهٔ راغلے ترسواته
غوږ کانړهٔ کړه د عالم په کم و زیاته

په دعوی به درست عالم سره کډوشی
د لښکر په تولول به فساد کډ شی

د ماهم په دا مطلب باندِ نظر وو
بل مقصود م ونظرته مختصر وو

کنه دا پردے به ما کړے واړه څیرے
یو ویشتهٔ م به ئے پرے نشهٔ په ژیرے

چه خبرئے شوم له نقشه له ترازه
مائے هم په ژیره ووژل څو پیازه

ومغلو وته کښل چه شیخ میان نور کړهٔ
ماوے نور دا هسے مئے کړه دهٔ منظور کړهٔ

وے ئے نور م له مغلو نه تویه ده
هرچه ننګ د پښتانهٔ چار م هغه ده

د دُنیا خبره نهٔ وه کار د دین وو
د ما زړهٔ د مؤمنانو سره سپین وو

د ما روغه په رښتیا، د دهٔ دروغه
د میان نُور سره م وشوه هسے روغه

فضیحت رسوا تر کوره پورے ولاړ شهٔ
د وګړی اعتقاد څُنے ولاړ شهٔ

چه م ولیدهٔ یوهسے کژ زبان وو
چه په مکر په تزویر لکه شیطان وو

په اَعُوذُ م د خدائے په حکم خوار کړهٔ
د شیطان تولے م واړه تار په تار کړهٔ

ماوے دے به د مخزن غلطی دور کا
دے لاناست دے د مخزن سره سرور کا

بیا په څورنګے تعظیم د مخزن کا ندِ
غلطی ئے ترے ونهٔ کشه لاندِ باندِ

مدعی سره د خدائے دپاره بد یم
آلوده نهٔ په غرض اونهٔ په حد یم

کهٔ په داطور اوږے په درست سوات شی
مګر هاله د ما سیله مکافات شی

شیخ بنیادئے په جهان کښے د دوکشو دے
په جهان کښے پاتو کله د پریشو دے

چه دا هسے عالمان هسے شیخان شته
په جهان کښے بدان د پیردی لږ نیکان شته

د دُنیا حلال حرام و بله وُنغاړی
هغه واړه مدعی دی چه خدائے غواړی

په دروغ په بے شرمئ عمر تیر کړی
په روش د ګدائی مال د پیر کړی

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د هغوبه څهٔ طاعت څهٔ عبادت وی
هغه کرم به ئے د علم برکت وی!

مونځ روژه چه د دریا دپاره کیږی
له آسمانه به لعنت باندِ وریږی

چه د خلق قبولیت ئے په غرض وی
د هغهٔ طاعت طاعت نهٔ وی مرض وی

چه په صدق په اخلاص سره اداشی
په یوهٔ سجود جنت باندِ روا شی

که هزار ساله سجود کړے بے اخلاصه
په داهسے نما نځهٔ نهٔ وی غاړه خلاصه

شیخ میاں نور چه خجل ورغے ترکوره
په داخپل ویل پښیمان شهٔ راشه کوره

هرملک سره خواب د دے مکار دے
په کمی په قصد دما د کاروبار دے

د لښکرو په وتلو اولس ساز شی
بیا د دهٔ له فعله بل فعل آغاز شی

دا ناقص چه بیش همیش وهی په کار کښے
کوره څهٔ شی د لښکر په کاروبار کښے

یوسف زئی خود ننګ وناموس نهٔ دی
څوک چه نهٔ کا د هغه سړی په خولهٔ دی

که په خولهٔ د میانور نهٔ کا لښکرے
سکه په سرے د لښکروخاورے سرے

فصل

هغه وخت چه پیر روښان فساد بنیاد کړ
پښتنو ورسره تهینګ کار د فساد کړ

پښتانهٔ په هغه دور پیر پرست وو
څوک مرید د شاه عیسیٰ څوک سرمست وُ

د روښان بخره ورک زی افریدی شول
هغه خوښ په رهزنی په عنیدی شول

د قاسم په بخره واړه غوریه خیل وو
د نګر پیروته د بنو شیتک ایل وو

ختک واړه بوبکری پیر منصوری وو
له بدعته له فساده په دوری وو

په مذهب کښے درست ختک سنی مذهب دی
امّا پیر ورته له جهله لکه رب دے

که په دا سبب کافر وی کوندِ وینه
کنه واړه په مذهب کښے سُنی دینه

یوسف زئی همه واړه عیسائی وو
ملکانو سره کله په سوائی وو

قاسمے شاه عیسیٰ ئے سر په جنګ وو
روشانے پیر منصورے سره دارنګ وو

درویزه له یوهٔ لوریه راپیدا شهٔ
په لږ علم په دا ملک کښے لوئے ملا شهٔ

چه ئے حال د دے عالم مشاهده کړ
خپل کتاب ئے په کاغذ مسوده کړ

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

د روښان خیرالبیان ئے وو لیدلے
هغه هم مجهول بیان وو ناپسندلے

دۀ چه خوشے میدان بیاموند سخنگوئے شۀ
په وئیل کښے ئے چه زهۀ وو هسے تونے شۀ

هغه وخت په پښتنو کښے علم نۀ وو
درویزه تر مجتهد ورته لابنۀ وو

په مذهب سُنی مذهب ووخارجی شۀ
د یزید په ستائش کښے مارجی شۀ

ملنکانو به یزیدته کړے شکنجلے
درویزه به د یزید ډوزے بللے

خودَ نفس و د هوا په کارئے مخ شۀ
ملنکان چه ورکیدل په دۀ به سخ شۀ

ملنکان ئے واړه ویستل له سواته
دم ئے اوواهۀ له کشف وکراماته

په دافن ئے د درست سوات عالم مطیع کړ
وعالم وته ئے خپل کتاب بدیع کړ

هیڅ ئے نۀ کاتۀ د بدو وفساد ته
نقش ئے کشینا وۀ په مکر خپل اولاد ته

درویزه د درویزے اوکړه خوږلی
په دا مکرئے حلوا سره لږلی

چه توره وینځه هم نۀ وه د وړاندِ
قحبے قحبے یوسف زی شو تر لاندِ

یوسف زی په دا کارکښے بدکیشی کا
چه د هریو کم ذات سره خویشی کا

په هغۀ آوان اکبر بادشاه بادشاه وو
واړه خلق د بادشاه سره گمراه وو

شاه عیسیٰ ته به ئے وړے د زړوبدرے
وبلوټ لره ورتلے د خلق صدرے

مریدی په کلاه په شجره دۀ
کۀ پیری مریدی دا دۀ مسخره دۀ

درویشان مریدبه وران شه په تعین کښے
نسل فتنے به ئے پیدا کړے په دین کښے

درویزه د ناکشیسینو دین برپائے کړو
خارجی ئے یوسف زئ ځائے په ځائے کړو

عام عالم قرآن حدیث په سترګو وینی
لا په نورو کوخوګرځی خاورے پینی

عام وګړے په معنیٰ لکه دواب دے
په دوّابو کښے د گډو په حساب دے

چه یوه گډه سوانه شی د وړاندِ
هغه نورے گډے تلۀ ور پسے کاندِ

حقیقت د هر ابله د نادان نۀ دے
چه د خدائے باندِ پیرزوئے د هغۀ دے

څوک په پیراوپه مرشدځۀ لره ویاړی
خپل مراد دِ همګی له علمه غواړی

شکر داچه په دا وقت عالمان پیردی
مدعی شیخان کۀ هم ترشماره تیر دی

خدائے دِ ما له مدعی شیخانو ژغوری
تل د ما وی عالمان د سترګو توری

هر عالم چه ربّانی دے ترے ځاریږم
نفسانی وته غلیم غوندِ بنسکاریږم

Poha Foundation
A.S.KB

ketabton.com - The Digital Library

چه په علم عمل جوړ دے ریانی دے — بے عمله علم واړه شیطانی دے
نیم ملا بلاد دین او د ایمان دے — نیم طبیب خطر د تن دے هم د ځان دے
مدعی ملاکه ډیر علم حاصل کا — دے چه علم په دُنیا پلوری باطل کا
چه په زړه کښے ئے ذره د دُنیا عشق دے — د درویش درویشی نشته واړه فسق دے

یوسف زئ سارهٔ کړهٔ له سیّده
ملنگان ئے اوشړل واړه له ضده

تمّت بالخیر

مونږ دا نشو وئیلے چه دا مجموعه په هر لحاظ مکمله ده
او په دے کښے د خوشحال خان بابا ټول منظوم کلام راټول
شوے دے. ولے موجوده وخت کښے د دے ضخامت د ومره
زیات شوے دے چه د نورسوا کولو کنجائش پکښے نشته.
په دے وجه مونږ داجلد بندوو اوخپل کوشش
د لټون جاری ساتو۔ هرکله چه څهٔ مستند
مواد مو په لاس راغلو نو هغه به د دویم
جلد په شکل کښے مونږ د ناظرینو په
خدمت کښے پیش کړو
(ناشرین)

یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پیښور

کتابت :- غلام لطیف "چپرهارٹ" / کال ۱۹۹۹ / ۳ فروری

Poha Foundation
A.S.KB

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English